الدر المنضود

علی

سنن ابی داود

افادات

حضرت مولانا محمد عاقل صاحب

صدر مدرس مظاہر العلوم سہارنپور ہند

خصوصیات



الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صيب

صدرمدرّس مظاهرالعلوم سهارنپور(هند)

مترجمين:

[رفقاء] دار التصنيف والتحقيق

زير نگراني

مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس

پښتو..........................پنځم جلد

خصوصيات

① دكتاب په اول كښي د اصول حديث مفيده مقدمه.
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربي شرحي خلاصه اونجوړ
③ د متن ټولو احاديث ته اعراب وركول
④ د هركتاب په اول كښي هغې سره متعلقه ضروري مباحث.
⑤ د هر حديث تخريج د مصدر، كتاب او رقم په حوالې سره.
⑥ د مشكلولغاتو حل.
⑦ په فقهي مباحثوكښي د مذاهبو بيان.
⑧ دفريق مخالف دلائل
⑨ د فريق مخالف ددلائلو ښخه جوابونه.
⑩ د مذهب حنفي دلائل او وجوه ترجيح

خورونكى

فيصل كتب خانه محله جنگى پيښور

د کتاب نوم: الدر المنضود فی حل سنن ابی داؤد

مؤلف: حضرت مولانا محمد عاقل صاحب دامت برکاتهم

زیر نگرانی:- مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

خورونکی : فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

دملاویدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائنده فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه گردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- گودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپرونکي

فیصل کتب خانه

مدینه ټاور محله جنگی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب جلد سوم

باب الصَّدَاقِ ۲۵
د مهر شرعی حیثیت : ۲۵
توضیح الحدیث ۲۶
د مهر فاطمي مقدار : ۲۶
باب قِلَّةِ الْمَهْرِ ۲۸
اقل مهر عند الائمه : ۲۸
توضیح الحدیث ۲۸
لبس مزعفر للرجل : ۲۹
(د حدیث الباب نه جوابات) ۲۹
د وزن نواة من ذهب په تفسیر کښي اقوال : ۲۹
د صاحب البدائع رائي : ۲۹
باب فِي التَّزْوِيجِ عَلَى الْعَمَلِ يُعْمَلُ ۳۱
په مسئلة الباب کښي مذاهب ائمه : ۳۱
په خاتم حدید کښي مذاهب علماء : ۳۲
باب فِيمَنْ تَزَوَّجَ وَلَمْ يُسَمِّ صَدَاقًا حَتَّى مَاتَ ۳۳
په مسئلة الباب کښي مذاهب ائمه : ۳۴
الحدیث فی غیر محله : ۳۶
باب فِي خُطْبَةِ النِّكَاحِ ۳۶
د خطبه نکاح روایات : ۳۸
باب فِي تَزْوِيجِ الصِّغَارِ ۴۰
په مسئلة الباب کښي مذاهب ائمه : ۴۰
باب فِي الْمَقَامِ عِنْدَ الْبِكْرِ ۴۱
په حق الزفاف للمزفوفه کښي اختلاف ائمه : ۴۱
د احنافو د طرف نه د حدیث الباب جواب : ۴۳
باب فِي الرَّجُلِ يَدْخُلُ بِامْرَأَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَنْقُدَهَا شَيْئًا ۴۴
شرح الحدیث ومذاهب العلماء : ۴۶
د ښځي د خپلوانو سره حسن سلوک : ۴۶
باب مَا يُقَالُ لِلْمُتَزَوِّجِ ۴۷
د نوی واده کونکی دپاره دعا : ۴۷

باب فِي الرَّجُلِ يَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ فَيَجِدُهَا حُبْلَى ٤٧
باب فِي الْقَسْمِ بَيْنَ النِّسَاءِ ٤٩
د حديث سره متعلق فقهی اختلافی مسئله : ٥٢
باب فِي الرَّجُلِ يَشْتَرِطُ لَهَا دَارَهَا ٥٣
مسئله مترجم بها کښې د علماء کرامو اختلاف ٥٣
باب فِي حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْأَةِ ٥٤
توضيح الحديث ٥٥
باب فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا ٥٥
باب فِي ضَرْبِ النِّسَاءِ ٥٧
توضيح الحديث ٥٨
باب مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنْ غَضِّ الْبَصَرِ ٥٨
شرح الحديث کښې د حضرت شيخ رائې : ٦٢
باب فِي وَطْءِ السَّبَايَا ٦٣
غزوه اوطاس : ٦٤
د سبايا متعلق څو مسائل فقهيه : ٦٤
باب فِي جَامِعِ النِّكَاحِ ٦٧
وطی فی الدبر کښې د مسلک ابن عمر تحقيق: ٦٩
باب فِي إِتْيَانِ الْحَائِضِ وَمُبَاشَرَتِهَا ٧٢
باب فِي كَفَّارَةِ مَنْ أَتَى حَائِضًا ٧٤
باب مَا جَاءَ فِي الْعَزْلِ ٧٤
د روايات عزل تشريح او مذاهب ائمه : ٧٥
استرقاق العرب مسئله : ٧٧
باب مَا يُكْرَهُ مِنْ ذِكْرِ الرَّجُلِ مَا يَكُونُ مِنْ إِصَابَةِ أَهْلِهِ ٧٧
کتاب تفريع أبواب الطلاق ٨١
د مشروعيت طلاق حکمت ٨١
بحث اول : (طلاق لغوی او اصطلاحی معنی) ٨٢
دويم بحث : (د طلاق اقسام) ٨٢
١: طلاق احسن : ٨٢
٢: طلاق حسن : ٨٣
طلاق فی الحيض نه د رجوع امر : ٨٤
د طلاق په قسمونو کښې د ائمه ثلاثه مسلکونه : ٨٤

(عند الشوافع) ۸۵
(عند المالکی) ۸۵
(عند الحنابله) ۸۵
د جمع الثلاث د حلت او حرمت دلائل : ۸۶
باب فِيمَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا ۸۶
باب فِي الْمَرْأَةِ تَسْأَلُ زَوْجَهَا طَلاَقَ امْرَأَةٍ لَهُ ۸۷
د حديث الباب مکمل شرح : ۸۷
باب فِي كَرَاهِيَةِ الطَّلاَقِ ۸۸
د طلاق د مکروه کيدو او مبغوض کيدو تشريح : ۸۹
باب فِي طَلاَقِ السُّنَّةِ ۹۰
د ابن عمر رضي الله عنه په زمان حيض کښې د طلاق ورکولو قصه او د دې متعلق مسائل : ۹۱
طلاق حامل او آيا حاملې ته حيض راځى؟ : ۹۲
د عدت په مصداق کښې د فريقين رائې توضيح او تشريح : ۹۳
طلاق فی الحيض او طلاق ثلاث په وقوع کښې اختلاف : ۹۶
بابٌ فِي نَسْخِ الْمُرَاجَعَةِ بَعْدَ التَّطْلِيقَاتِ الثَّلاَثِ ۹۸
باب فِي سُنَّةِ طَلاَقِ الْعَبْدِ ۱۰۰
په طلاق کښې د سړى حالت له اعتبار دې يا د زنانه حالت له؟ ۱۰۱
باب فِي الطَّلاَقِ قَبْلَ النِّكَاحِ ۱۰۲
د حديث په شرح کښې مذاهب ائمه مفصلا : ۱۰۲
باب الطَّلاَقِ عَلَى غَيْظٍ ۱۰۴
طلاق مکره کښې اختلاف ائمه : ۱۰۵
باب الطَّلاَقِ عَلَى الْهَزْلِ ۱۰۵
باب بَقِيَّةِ نَسْخِ الْمُرَاجَعَةِ بَعْدَ التَّطْلِيقَاتِ الثَّلاَثِ ۱۰۶
د طلاق ثلاث په وقوع او عدم وقوع باندې مفصل بحث : ۱۰۶
توضيح الحديث ۱۱۲
باب فِيمَا عُنِيَ بِهِ الطَّلاَقُ وَالنِّيَّاتُ ۱۱٤
(يو اشکال او دهغې جواب) ۱۱۵
باب فِي الْخِيَارِ ۱۱۷
په مسئلة الباب کښې اختلاف علماء : ۱۱۷
باب فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ ۱۱۸
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۱۱۸

شرح السند : ١١٩
باب فِي الْبَتَّةِ..................... ١٢٠
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ١٢٠
په متن کښې يو غلطي او د هغې تصحيح : ١٢٢
باب فِي الْوَسْوَسَةِ بِالطَّلاَقِ..................... ١٢٢
باب فِي الرَّجُلِ يَقُولُ لاِمْرَأَتِهِ يَا أُخْتِي..................... ١٢٣
توضيح الحديث ١٢٣
مسئله فقهيه : ١٢٣
د كذب اطلاق په نبي باندې : ١٢٦
باب فِي الظِّهَارِ..................... ١٢٨
د ظهار سره متعلق مباحث اربعه : ١٢٨
بحث اول : ١٢٨
بحث ثانی : ١٢٨
بحث ثالث : ١٢٨
بحث رابع : ١٢٩
توضيح الحديث ١٣٠
باب فِي الْخُلْعِ ١٣٦
د خلع تعريف او د هغې حقيقت کښې د فقهاء کرامو اختلاف : ١٣٦
مضمون حديث : ١٣٨
باب فِي الْمَمْلُوكَةِ تَعْتِقُ وَهِيَ تَحْتَ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ١٤٠
په نکاح کښې د خيار قسمونه : ١٤٠
په خيار عتق کښې اختلاف ائمه : ١٤١
عتق بريره کښې اختلافات روايات : ١٤١
مضمون حديث : ١٤٢
باب مَنْ قَالَ كَانَ حُرًّا..................... ١٤٣
باب حَتَّى مَتَى يَكُونُ لَهَا الْخِيَارُ..................... ١٤٤
باب فِي الْمَمْلُوكَيْنِ يُعْتَقَانِ مَعًا هَلْ تُخَيَّرُ امْرَأَتُهُ..................... ١٤٤
شرح حديث : ١٤٥
باب إِذَا أَسْلَمَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ ١٤٥
په تباين دارين کښې د جمهورو او احنافو مسلک : ١٤٦
توجيه الحديث على مسلک الحنفية : ١٤٦

باب إِلَى مَتَى تُرَدُّ عَلَيْهِ امْرَأَتُهُ إِذَا أَسْلَمَ بَعْدَهَا.......................... ۱۴۷
په احنافو باندې اشکال او د هغې جواب :.......................... ۱۴۸
د اسلام احد الزوجين په مسئله باندې تفصيلي بحث :.......................... ۱۴۹
ست سنين او سنتين توجيه :.......................... ۱۵۰
باب فِي مَنْ أَسْلَمَ وَعِنْدَهُ نِسَاءٌ أَكْثَرُ مِنْ أَرْبَعٍ أَوْ أُخْتَانِ.......................... ۱۵۱
توضيح الحديث.......................... ۱۵۱
د حديث تشريح د فقهاء کرامو د مسلک پيش نظر :.......................... ۱۵۱
د امام محمد او شيخينو يو اصولي اختلاف :.......................... ۱۵۲
باب إِذَا أَسْلَمَ أَحَدُ الأَبَوَيْنِ مَعَ مَنْ يَكُونُ الْوَلَدُ.......................... ۱۵۳
حديث الباب د احنافو دليل دې.......................... ۱۵۳
مضمون حديث :.......................... ۱۵۴
باب فِي اللِّعَانِ.......................... ۱۵۵
د لعان په حقيقت کښې د جمهورو او احنافو اختلاف :.......................... ۱۵۵
د لعان کيفيت :.......................... ۱۵۵
د لعان په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف :.......................... ۱۵۶
د احاديث الباب تجزيه او تشريح على اتم وجه :.......................... ۱۵۷
د آيات لعان نزول په کومه قصه کښې شوې دې؟.......................... ۱۵۸
توضيح الحديث.......................... ۱۶۱
د حديث توجيه على مسلک الطرفين :.......................... ۱۶۲
د رجل نه څه مراد دې؟.......................... ۱۶۵
باب إِذَا شَكَّ فِي الْوَلَدِ.......................... ۱۷۱
مسئلة الباب کښې اختلاف ائمه :.......................... ۱۷۱
مضمون حديث :.......................... ۱۷۲
باب التَّغْلِيظِ فِي الاِنْتِفَاءِ.......................... ۱۷۳
باب فِي ادِّعَاءِ وَلَدِ الزِّنَا.......................... ۱۷۳
د حديث د عبارت حل :.......................... ۱۷۵
د اهل جاهليت غلط عادت :.......................... ۱۷۶
باب فِي الْقَافَةِ.......................... ۱۷۶
مضمون حديث :.......................... ۱۷۷
د جمهورو د دې حديث نه استدلال :.......................... ۱۷۷
باب مَنْ قَالَ بِالْقُرْعَةِ إِذَا تَنَازَعُوا فِي الْوَلَدِ.......................... ۱۷۸

مضمون حديث : ۱۷۹
په مسئلة الباب کښې د ائمه کرامو اختلاف : ۱۷۹
باب فِي وُجُوهِ النِّكَاحِ الَّتِي كَانَ يَتَنَاكَحُ بِهَا أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ ۱۸۱
باب الْوَلَدِ لِلْفِرَاشِ ۱۸۳
د فراش قسمونه : ۱۸٤
مضمون حديث : ۱۸٦
باب مَنْ أَحَقُّ بِالْوَلَدِ ۱۸۷
مسئلة حضانة کښې ائمه مذاهب : ۱۸۷
توضيح الحديث ۱۸۸
د حديث توجيه د احنافو په نزد : ۱۸۹
اشکال او جواب : ۱۹۲
باب فِي عِدَّةِ الْمُطَلَّقَةِ ۱۹۳
توضيح الحديث ۱۹۳
د عدت په باره کښې د تولو مخکښې آيت : ۱۹۳
باب فِي نَسْخِ مَا اسْتُثْنِيَ بِهِ مِنْ عِدَّةِ الْمُطَلَّقَاتِ ۱۹۳
د ترجمة الباب د عبارت حل : ۱۹٤
باب فِي الْمُرَاجَعَةِ ۱۹۵
د ترجمة الباب غرض : ۱۹۵
توضيح الحديث ۱۹۵
باب فِي نَفَقَةِ الْمَبْتُوتَةِ ۱۹۵
دلته درې مسائل دی : ۱۹۵
د امام احمد دليل : ۱۹٦
د مالکيانو او شوافعو دليل : ۱۹٦
د احنافو دليل : ۱۹٦
د فاطمه بنت قيس د حديث تخريج او د هغې مرتبه : ۱۹۷
د رواياتو خپل مينځ کښې فرق او د هغې تشريح : ۲۰۲
توضيح الحديث ۲۰۳
د فاطمه د کلام تشريح : ۲۰٤
د کلام مصنف تشريح : ۲۰۵
باب مَنْ أَنْكَرَ ذَلِكَ عَلَى فَاطِمَةَ ۲۰۵
توضيح الحديث ۲۰۷

باب فِي الْمَبْتُوتَةِ تَخْرُجُ بِالنَّهَارِ ۲۰۸
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۲۰۸
د احنافو د طرف نه د حديث توجيه : ۲۰۹
باب نَسْخِ مَتَاعِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا بِمَا فُرِضَ لَهَا مِنَ الْمِيرَاثِ ۲۰۹
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۲۰۹
توضيح الحديث ۲۱۰
باب إِحْدَادِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا ۲۱۰
توضيح الحديث ۲۱۲
ايا په کتابيه باندې هم احداد واجب دې؟ ۲۱۳
باب فِي الْمُتَوَفَّى عَنْهَا تَنْتَقِلُ ۲۱۵
مضمون حديث : ۲۱۶
باب مَنْ رَأَى التَّحَوُّلَ ۲۱۶
د جمهور او ابن عباس مسلک تشريح او کيفية استدلال : ۲۱۷
باب فِيمَا تَجْتَنِبُهُ الْمُعْتَدَّةُ فِي عِدَّتِهَا ۲۱۸
په ثوب عصب کښې روايات او د علماء کرامو اختلاف : ۲۱۸
باب فِي عِدَّةِ الْحَامِلِ ۲۲۲
په دې مسئله کښې مذاهب ائمه : ۲۲۲
باب فِي عِدَّةِ أُمِّ الْوَلَدِ ۲۲٤
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۲۲٤
توضيح الحديث ۲۲۵
په حديث الباب باندې د محدثينو نقد : ۲۲۵
د حديث الباب امکانی توجيه : ۲۲۵
باب الْمَبْتُوتَةِ لاَ يَرْجِعُ إِلَيْهَا زَوْجُهَا حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۲۲۶
د حلاله متعلق بعض اختلافی مسائل : ۲۲۷
باب فِي تَعْظِيمِ الزِّنَا ۲۲۷
توضيح الحديث ۲۲۸
کتاب الصيام ۲۳۰
باب مَبْدَإِ فَرْضِ الصِّيَامِ ۲۳۰
مباحث خمسه مفيده : ۲۳۰
بحث اول : ۲۳۰
بحث ثانی : ۲۳۰

بحث ثالث : مبدا المشروعية ٢٣١
بحث رابع : ٢٣١
ايا روژه د دې امت د خصوصياتو نه ده؟ ٢٣١
بحث خامس : ٢٣٢
مضمون حديث : ٢٣٤
په حديث ابن عباس او حديث البراء كښې اختلاف او د هغې توجيه : ٢٣٥
باب نَسْخِ قَوْلِهِ { وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ } ٢٣٦
د ابن عباس او جمهور علماء كرامو په مسلک كښې فرق ٢٣٦
توضيح الحديث ٢٣٧
وعلى الذين يطيقونه كښې اختلاف قراءة : ٢٣٧
باب مَنْ قَالَ هِيَ مُثْبَتَةٌ لِلشَّيْخِ وَالْحُبْلَى ٢٣٨
شيخ كبير، حبلى او مرضعه په حكم كښې اختلاف : ٢٣٩
باب الشَّهْرِ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ٢٤٠
د حديث په شرح كښې درې اقوال ٢٤١
په شرح حديث كښې متعدد اقوال : ٢٤٤
باب إِذَا أَخْطَأَ الْقَوْمُ الْهِلَالَ ٢٤٤
توضيح الحديث ٢٤٥
په شرح حديث كښې متعدد اقوال : ٢٤٥
باب إِذَا أُغْمِيَ الشَّهْرُ ٢٤٧
توضيح الحديث ٢٤٨
باب مَنْ قَالَ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَصُومُوا ثَلَاثِينَ ٢٤٨
توضيح الحديث ٢٤٩
د تقديم صوم د منع حكمتونه : ٢٤٩
باب فِي التَّقَدُّمِ ٢٥٠
شرح السند : ٢٥٠
په روايات مختلفه كښې تطبيق : ٢٥٢
باب إِذَا رُؤِيَ الْهِلَالُ فِي بَلَدٍ قَبْلَ الآخَرِينَ بِلَيْلَةٍ ٢٥٣
مسئله اختلاف مطالع بحث او ائمه مذاهب : ٢٥٣
د فخر الدين زيلعى رائې : ٢٥٤
مضمون حديث : ٢٥٦
باب كَرَاهِيَةِ صَوْمِ يَوْمِ الشَّكِّ ٢٥٧

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۲۵۸
باب فِيمَنْ يَصِلُ شَعْبَانَ بِرَمَضَانَ ۲۵۸
د ترجمة الباب غرض : ۲۵۹
باب فِي كَرَاهِيَةِ ذَلِكَ ۲۵۹
توضيح الحديث ۲۶۰
د نصف شعبان نه روستو د نهی عن الصوم والا حديث توجيه : ۲۶۰
د حديث الباب په تصحيح او تضعيف کښې اختلاف : ۲۶۱
باب شَهَادَةِ رَجُلَيْنِ عَلَى رُؤْيَةِ هِلَالِ شَوَّالٍ() ۲۶۲
د رمضان او اخترونو د هلال په ثبوت کښې د مذاهب اربعه ؤ تفصيل ۲۶۲
د مطلع په صفا کيدو او نه صفا کيدو کښې فرق : ۲۶۳
د صاحب بحر الرائق رائې : ۲۶۳
د فرق بين الصحو والغيم دليل : ۲۶۳
مضمون حديث : ۲۶۵
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت : ۲۶۵
توضيح الحديث ۲۶۶
د اختر د مونځ قضاء شته يا نه؟ : ۲۶۶
باب فِي شَهَادَةِ الْوَاحِدِ عَلَى رُؤْيَةِ هِلَالِ رَمَضَانَ ۲۶۶
باب فِي تَوْكِيدِ السُّحُورِ ۲۶۸
سحور د دې امت خصوصيت دې : ۲۶۸
باب مَنْ سَمَّى السَّحُورَ الْغَدَاءَ ۲۶۸
سحری مبارک خوراک دې : ۲۶۹
باب وَقْتِ السُّحُورِ ۲۶۹
توضيح الحديث ۲۷۰
د پيشمنى اخرى وخت : ۲۷۰
اخر مستحب وخت : ۲۷۰
باب فِي الرَّجُلِ يَسْمَعُ النِّدَاءَ وَالإِنَاءُ عَلَى يَدِهِ ۲۷۳
باب وَقْتِ فِطْرِ الصَّائِمِ ۲۷۴
باب مَا يُسْتَحَبُّ مِنْ تَعْجِيلِ الْفِطْرِ ۲۷۶
توضيح الحديث ۲۷۶
باب مَا يُفْطَرُ عَلَيْهِ ۲۷۷
توضيح الحديث ۲۷۷

د افطار على التمر حكمت: ۲۷۷
توضيح الحديث ۲۷۸
شرح حديث وما يستفاد منه : ۲۷۸
باب الْقَوْلِ عِنْدَ الإِفْطَارِ ۲۷۹
توضيح الحديث ۲۷۹
د كيرې شرعى مقدار : ۲۷۹
د روژه ماتى دعا : ۲۷۹
باب الْفِطْرِ قَبْلَ غُرُوبِ الشَّمْسِ ۲۸۰
توضيح الحديث ۲۸۰
په حديث الباب كښې اختلاف روايتين : ۲۸۱
په حديث الباب كښې اختلاف روايتين : ۲۸۱
په مسئلة الباب كښې د عمر رضي الله عنه مسلک : ۲۸۱
باب فِي الْوِصَالِ ۲۸۲
توضيح الحديث ۲۸۲
د صوم وصال حكم شرعى : ۲۸۲
باب الْغِيبَةِ لِلصَّائِمِ ۲۸۳
باب السِّوَاكِ لِلصَّائِمِ ۲۸۵
توضيح الحديث ۲۸۵
په سواک للصائم كښې مذاهب ائمه : ۲۸۵
په دې مسئله كښې د شوافع استدلال : ۲۸۶
باب الصَّائِمِ يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ مِنَ الْعَطَشِ وَيُبَالِغُ فِي الاِسْتِنْشَاقِ ۲۸۷
اصل كلى مستفاد من الحديث : ۲۸۸
باب فِي الصَّائِمِ يَحْتَجِمُ ۲۸۹
بحث اول : ۲۸۹
بحث ثانى : كلام على الدلائل، ۲۹۱
حديث ثوبان او حديث ابن عباس تخريج : ۲۹۱
د جمهورو د طرف نه د افطر الحاجم والمحجوم جوابات : ۲۹۲
باب فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ ۲۹۳
توضيح الحديث ۲۹۴
باب فِي الصَّائِمِ يَحْتَلِمُ نَهَارًا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ ۲۹۵
توضيح الحديث ۲۹۵

باب فِي الْكُحْلِ عِنْدَ النَّوْمِ لِلصَّائِمِ ۲۹۵
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۲۹۵
باب الصَّائِمِ يَسْتَقِيءُ عَامِدًا ۲۹۶
مسئلة الباب : ۲۹۷
مضمون حديث : ۲۹۷
باب الْقُبْلَةِ لِلصَّائِمِ ۲۹۸
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۲۹۸
توضيح الحديث ۳۰۰
باب الصَّائِمِ يَبْلَعُ الرِّيقَ ۳۰۰
توضيح الحديث ۳۰۱
په حديث باندې اشکال : ۳۰۱
باب كَرَاهِيَتِهِ لِلشَّابِّ ۳۰۱
باب فِيمَنْ أَصْبَحَ جُنُبًا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ ۳۰۲
باب كَفَّارَةِ مَنْ أَتَى أَهْلَهُ فِي رَمَضَانَ ۳۰٤
(د رجل تعيين) ۳۰۵
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۳۰٦
افساد صوم بالاکل والشرب کښې اختلاف ائمه : ۳۰٦
يو تحقيق انيق : ۳۰۸
باب التَّغْلِيظِ فِي مَنْ أَفْطَرَ عَمْدًا ۳۱۰
توضيح الحديث ۳۱۰
باب مَنْ أَكَلَ نَاسِيًا ۳۱۰
توضيح الحديث ۳۱۱
باب تَأْخِيرِ قَضَاءِ رَمَضَانَ ۳۱۱
د رمضان ثانی پورې که ئې تاخير اوکړو : ۳۱۲
باب فِيمَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ ۳۱۲
مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه : ۳۱۲
د جمهورو د طرف نه د حديث توجيه : ۳۱۳
په کومو عباداتو کښې نيابة عن الغير جائز دې؟ ۳۱۳
توضيح الحديث ۳۱۳
اختلاف نسخ او د صحيح نسخه تحقيق : ۳۱۳
ايا په ولی باندې د مړی د طرف نه فديه ورکول واجب دی : ۳۱٤

باب الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ.......... ۳۱٤
صوم فی السفر کښې مذاهب ائمه :.......... ۳۱٤
مصلحت حرب د وجې نه روژه افطار کول :.......... ۳۱۸
باب اخْتِيَارِ الْفِطْرِ.......... ۳۱۸
یو بل سوال او د هغې جواب:.......... ۳۲۰
باب فِيمَنِ اخْتَارَ الصِّيَامَ.......... ۳۲۱
باب مَتَى يُفْطِرُ الْمُسَافِرُ إِذَا خَرَجَ.......... ۳۲۲
د ترجمة الباب شرح :.......... ۳۲۲
ایا د مسافر دپاره د روژې د نیت کولو نه پس افطار کول جائز دی؟.......... ۳۲۲
په حدیث باندې کلام من حیث الفقه :.......... ۳۲٤
باب قَدْرِ مَسِيرَةِ مَا يُفْطِرُ فِيهِ.......... ۳۲۵
باب مَنْ يَقُولُ صُمْتُ رَمَضَانَ كُلَّهُ.......... ۳۲٦
توضیح الحدیث.......... ۳۲٦
رمضان وئیل پکار دی یا شهر رمضان :.......... ۳۲٦
باب فِي صَوْمِ الْعِيدَيْنِ.......... ۳۲۷
توضیح الحدیث.......... ۳۲۷
باب صِيَامِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ.......... ۳۲۸
مذاهب ائمه :.......... ۳۲۸
د ایام تشریق وایام نحر تعیین :.......... ۳۲۸
د ایام تشریق وجه تسمیه :.......... ۳۲۹
صوم عرفه باره کښې اختلاف روایات ومذاهب علماء :.......... ۳۲۹
باب النَّهْيِ أَنْ يُخَصَّ يَوْمُ الْجُمُعَةِ بِصَوْمٍ.......... ۳۳۱
صوم جمعه بانفراده کښې مذاهب ائمه :.......... ۳۳۱
توضیح الحدیث.......... ۳۳۱
باب النَّهْيِ أَنْ يُخَصَّ يَوْمُ السَّبْتِ بِصَوْمٍ.......... ۳۳۲
په صوم یوم السبت کښې د مذاهب ائمه تحقیق :.......... ۳۳۲
توضیح الحدیث.......... ۳۳۳
حدیث الباب کوم چه د جمهورو دلیل دې په هغې باندې د مصنف او امام مالک نقد :.......... ۳۳۳
باب الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ.......... ۳۳٤
د باب د امام مالک په تائید کښې دې :.......... ۳۳٤
د حدیث د ترجمة الباب سره عدم مطابقة او د هغې تحقیق :.......... ۳۳۵

د "هذا حديث حمصي" شرح :........ ۳۳۵
باب فِي صَوْمِ الدَّهْرِ تَطَوُّعًا........ ۳۳۶
توضيح الحديث........ ۳۳۷
باب فِي صَوْمِ أَشْهُرِ الْحُرُمِ........ ۳۴۱
د اشهر حرم تعارف :........ ۳۴۱
مضمون حديث :........ ۳۴۲
باب فِي صَوْمِ الْمُحَرَّمِ........ ۳۴۳
توضيح الحديث........ ۳۴۳
د حديث الباب متعلق بعض سوال او جواب :........ ۳۴۳
د فضيلت په لحاظ سره د مياشتو ترتيب :........ ۳۴۴
په رواتب او تهجد کښې افضل څه دی؟........ ۳۴۴
د صوم رجب په فضيلت کښې حديث شته يا نه؟........ ۳۴۵
باب فِي صَوْمِ شَعْبَانَ........ ۳۴۵
توضيح الحديث........ ۳۴۶
باب فِي صَوْمِ شَوَّالٍ........ ۳۴۶
توضيح الحديث........ ۳۴۶
باب فِي صَوْمِ سِتَّةِ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ........ ۳۴۷
د شوال د شپږو روژو متعلق د علماء کرامو اختلاف :........ ۳۴۷
د دې روژو په مشروعيت کښې مصلحت :........ ۳۴۸
باب كَيْفَ كَانَ يَصُومُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم........ ۳۴۹
د مصنف يو عادت :........ ۳۴۹
مضمون حديث :........ ۳۴۹
باب فِي صَوْمِ الاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ........ ۳۵۰
مضمون حديث :........ ۳۵۱
د رفع العمل الى السماء په باره کښې مختلف روايات :........ ۳۵۱
باب فِي صَوْمِ الْعَشْرِ........ ۳۵۲
التفضيل بين العشرة الاولى من ذى الحجة والعشرة الاخيرة من رمضان :........ ۳۵۳
باب فِي فِطْرِ الْعَشْرِ........ ۳۵۳
د حديث تشريح او توجيه :........ ۳۵۴
باب فِي صَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ........ ۳۵۴
په بخاری کښې د صوم عرفه حديث شته يا نه؟........ ۳۵۴

توضيح الحديث ٣٥٥
باب فِي صَوْمِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ........................ ٣٥٦
د دې مقام مكمل توضيح وتنقيح من كلام الشراح والشيخ الجنجوهي : ٣٥٧
باب مَا رُوِيَ أَنَّ عَاشُورَاءَ الْيَوْمُ التَّاسِعُ........................ ٣٥٩
د عاشوراء متعلق څو بحثونه : ٣٥٩
توضيح الحديث ٣٦١
باب فِي فَضْلِ صَوْمِهِ........................ ٣٦٢
باب د عاشوره د روژې د فضيلت بيان ٣٦٢
صوم عاشوراء به څنګه نيولې شي؟ : ٣٦٢
توضيح الحديث ٣٦٣
صوم عاشوراء ابتداء واجب وه : ٣٦٣
باب فِي صَوْمِ يَوْمٍ وَفِطْرِ يَوْمٍ........................ ٣٦٣
توضيح الحديث ٣٦٣
باب فِي صَوْمِ الثَّلاَثِ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ........................ ٣٦٤
توضيح الحديث ٣٦٤
باب مَنْ قَالَ الاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ........................ ٣٦٥
باب: د دوشنبې (پير) او جمعرات (زيارت) د ورځو د روژو بيان........................ ٣٦٥
د ترجمة الباب تشريح : ٣٦٥
توضيح الحديث ٣٦٥
باب مَنْ قَالَ لاَ يُبَالِي مِنْ أَيِّ الشَّهْرِ........................ ٣٦٦
توضيح الحديث ٣٦٦
باب النِّيَّةِ فِي الصِّيَامِ........................ ٣٦٧
توضيح الحديث ٣٦٧
مسئله ثابته من الحديث كښې مذاهب ائمه : ٣٦٧
باب فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ ٣٦٨
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت : ٣٦٩
باب مَنْ رَأَى عَلَيْهِ الْقَضَاءَ ٣٧٠
توضيح الحديث ٣٧٠
مسئلة الباب كښې مذاهب ائمه : ٣٧٠
باب الْمَرْأَةِ تَصُومُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا ٣٧١
توضيح الحديث ٣٧١

په حديث باندې اشكال او د هغې جواب : ۳۷٤
باب فِي الصَّائِمِ يُدْعَى إِلَى وَلِيمَةٍ............ ۳۷٤
توضيح الحديث ۳۷٤
د باب په حديثين كښې تعارض او د هغې توجيه : ۳۷۵
باب مَا يَقُولُ الصَّائِمُ إِذَا دُعِيَ إِلَى الطَّعَامِ............ ۳۷۵
باب الِاعْتِكَافِ............ ۳۷٦
(د اعتكاف لغوى او اصطلاحى معنى)............ ۳۷٦
د اعتكاف اقسام ثلاثه او احكام : ۳۷٦
المسئلة الاولى : ۳۷٦
المسئلة الثانية : ۳۷۷
توضيح الحديث ۳۷۸
د اعتكاف په باره كښې يو روايت د امام مالك : ۳۷۸
د رسول الله ﷺ د اعتكاف په باره كښې روايات مختلفه او په هغې كښې تطبيق : ۳۷۸
د پوره رمضان د مياشتې د اعتكاف حيثيت : ۳۷۹
توضيح الحديث ۳۸۰
د آخرى عشرې د اعتكاف ابتداء په څه وخت وى؟ : ۳۸۱
د جمهورو د قول يو لطيف دليل : ۳۸۲
د رسول الله ﷺ د نقض اعتكاف روايت او د هغې تشريح : ۳۸۲
ما يستفاد من الحديث : ۳۸۳
ايا په اعتكاف قطع كولو سره د هغې قضاء لازميږى؟ : ۳۸۳
د مصنف رائې او په دې د محدثينو نقد : ۳۸٤
باب أَيْنَ يَكُونُ الِاعْتِكَافُ............ ۳۸٤
د رسول الله ﷺ د معتكف د محل تعيين : ۳۸۵
اعتكاف چرته او په كوم مسجد كښې صحيح دې : ۳۸۵
اعتكاف چرته او په كوم مسجد كښې صحيح دې : ۳۸٦
رسول الله ﷺ په خپل اخرى رمضان كښې دوه عشره اعتكاف اوكړو : ۳۸٦
باب الْمُعْتَكِفِ يَدْخُلُ الْبَيْتَ لِحَاجَتِهِ............ ۳۸۷
توضيح الحديث ۳۸۷
د كومو كومو حاجتونو دپاره معتكف د مسجد نه وتلې شي: ۳۸۸
باب الْمُعْتَكِفِ يَعُودُ الْمَرِيضَ............ ۳۹۱
د جاهليت د نذر پوره كول واجب دى يا نه؟............ ۳۹۳

توضيح الحديث ۳۹٤
باب فِي الْمُسْتَحَاضَةِ تَعْتَكِفُ ۳۹۵
د معذور صاحب حدث اعتكاف صحيح دې : ۳۹۵
كتاب الجهاد ۳۹۶
د جهاد متعلق درې مباحث ۳۹۶
بحث اول : د جهاد لغوی اوشرعی معنی ۳۹۶
د جهاد قسمونه، جهاد اصغر او جهاد اكبر ۳۹۷
د مامور به قسمونه حسن لعينه او لغيره ۳۹۸
بحث ثاني : د جهاد حكم ۳۹۸
د عهد نبوی نه روستو زمانو كښې د جهاد حكم ۳۹۹
په عهد نبوی كښې د جهاد حكم ٤۰۰
دريم بحث : د جهاد فضيلت ٤۰۱
د افضل الاعمال په باره كښې روايات مختلفه ٤۰۲
(څلورم بحث: اشكال او جواب) ٤۰۳
باب مَا جَاءَ فِي الْهِجْرَةِ وَسُكْنَى الْبَدْوِ ٤۰۳
اول اية نزلت فی القتال ٤۰٤
د حديث تفصيلی تشريح ٤۰۶
باب فِي الْهِجْرَةِ هَلِ انْقَطَعَتْ ٤۰۷
باب فِي سُكْنَى الشَّامِ ٤۰۹
د باب د كتاب الجهاد سره مناسبت ٤۰۹
باب فِي دَوَامِ الْجِهَادِ ٤۱۳
باب فِي ثَوَابِ الْجِهَادِ ٤۱٤
عزلت اولی دې يا اختلاط؟ ٤۱٤
په دې مسئله كښې د جمهورو دليل ٤۱۵
باب فِي النَّهْيِ عَنِ السِّيَاحَةِ ٤۱۶
باب فِي فَضْلِ الْقَفْلِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى ٤۱۶
باب فَضْلِ قِتَالِ الرُّومِ عَلَى غَيْرِهِمْ مِنَ الأُمَمِ ٤۱۷
د حديث ترجمة الباب سره مطابقت ٤۱۷
باب فِي رُكُوبِ الْبَحْرِ فِي الْغَزْوِ ٤۱۸
باب فَضْلِ الْغَزْوِ فِي الْبَحْرِ ٤۱۹
د حديث دوه مطلبونه ٤۲۰

په حدیث کښې دوه سمندری غزواتو ذکر ۴۲۱
ایا د یزید په باره کښې د مغفرت زیرې ثابت دي؟ ۴۲۱
هل یجوز لعن یزید؟ ۴۲۲
د حدیث متعلق څو سوالونه او د هغې جوابات ۴۲۳
باب فِي فَضْلِ مَنْ قَتَلَ كَافِرًا ۴۲۶
باب فِي حُرْمَةِ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ ۴۲۶
باب فِي السَّرِيَّةِ تَخْفِقُ ۴۲۷
باب فِي تَضْعِيفِ الذِّكْرِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى ۴۲۸
د ترجمة الباب شرح : ۴۲۸
باب فِيمَنْ مَاتَ غَازِيًا ۴۲۹
باب فِي فَضْلِ الرِّبَاطِ ۴۲۹
په دوه متعارض حدیثونو کښې دفع تعارض ۴۳۰
باب فِي فَضْلِ الْحَرْسِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى ۴۳۱
د حدیث مضمون ۴۳۲
د رسول الله ﷺ په مانځه کښې التفات فرمائیل ۴۳۳
باب كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ ۴۳۴
باب فِي نَسْخِ نَفِيرِ الْعَامَّةِ بِالْخَاصَّةِ ۴۳۵
باب فِي الرُّخْصَةِ فِي الْقُعُودِ مِنَ الْعُذْرِ ۴۳۶
مضمون حدیث ۴۳۷
باب مَا يُجْزِئُ مِنَ الْغَزْوِ ۴۳۸
باب فِي الْجُرْأَةِ وَالْجُبْنِ ۴۳۹
باب فِي قَوْلِهِ تَعَالَى { وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ } ۴۴۰
باب فِي الرَّمْيِ ۴۴۲
باب فِي مَنْ يَغْزُو وَيَلْتَمِسُ الدُّنْيَا ۴۴۴
باب مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا ۴۴۵
د اخلاص فی العمل مراتب ۴۴۶
باب فِي فَضْلِ الشَّهَادَةِ ۴۴۷
د حدیث مضمون ۴۴۷
د حدیث نه د ملحدینو استدلال او د هغې جواب ۴۴۸
باب فِي الشَّهِيدِ يُشَفَّعُ ۴۴۹
باب فِي النُّورِ يُرَى عِنْدَ قَبْرِ الشَّهِيدِ ۴۵۰

د حديث الباب په شان نور روايات مختلفه ٤٥١
باب فِي الْجَعَائِلِ فِي الْغَزْوِ ٤٥٢
اخذ الاجرة على الجهاد كښې مذاهب ائمه ٤٥٣
باب الرُّخْصَةِ فِي أَخْذِ الْجَعَائِلِ ٤٥٣
د شرح حديث تحقيق ٤٥٣
باب فِي الرَّجُلِ يَغْزُو بِأَجِيرٍ لِيَخْدُمَ ٤٥٤
د حديث مضمون ٤٥٥
يو اشكال او د هغې توجيه ٤٥٥
باب فِي الرَّجُلِ يَغْزُو وَأَبَوَاهُ كَارِهَانِ ٤٥٦
باب فِي النِّسَاءِ يَغْزُونَ ٤٥٧
مضمون حديث ٤٥٧
باب فِي الْغَزْوِ مَعَ أَئِمَّةِ الْجَوْرِ ٤٥٨
باب الرَّجُلِ يَتَحَمَّلُ بِمَالِ غَيْرِهِ يَغْزُو ٤٥٩
د ترجمة الباب شرح ٤٥٩
مضمون حديث ٤٦٠
باب فِي الرَّجُلِ يَغْزُو يَلْتَمِسُ الأَجْرَ وَالْغَنِيمَةَ ٤٦٠
د حديث مضمون ٤٦١
باب فِي الرَّجُلِ الَّذِي يَشْرِي نَفْسَهُ ٤٦٢
باب فِيمَنْ يُسْلِمُ وَيُقْتَلُ مَكَانَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ ٤٦٢
باب فِي الرَّجُلِ يَمُوتُ بِسِلَاحِهِ ٤٦٤
باب الدُّعَاءِ عِنْدَ اللِّقَاءِ ٤٦٥
باب فِيمَنْ سَأَلَ اللَّهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ ٤٦٦
باب فِي كَرَاهَةِ جَزِّ نَوَاصِي الْخَيْلِ وَأَذْنَابِهَا ٤٦٧
باب فِيمَا يُسْتَحَبُّ مِنْ أَلْوَانِ الْخَيْلِ ٤٦٨
د حديث ترمذی شرح ٤٦٩
باب هَلْ تُسَمَّى الأُنْثَى مِنَ الْخَيْلِ فَرَسًا ٤٧١
باب مَا يُكْرَهُ مِنَ الْخَيْلِ ٤٧١
باب مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الْقِيَامِ عَلَى الدَّوَابِّ وَالْبَهَائِمِ ٤٧٢
د حديث مضمون ٤٧٣

باب فِي نُزُولِ الْمَنَازِلِ ۴۷۵
باب فِي تَقْلِيدِ الْخَيْلِ بِالأَوْتَارِ ۴۷۵
باب إِكْرَامِ الْخَيْلِ وَارْتِبَاطِهَا وَالْمَسْحِ عَلَى أَكْفَالِهَا ۴۷۶
باب فِي تَعْلِيقِ الأَجْرَاسِ ۴۷۷
باب فِي رُكُوبِ الْجَلاَّلَةِ ۴۷۸
باب فِي الرَّجُلِ يُسَمِّي دَابَّتَهُ ۴۷۸
باب فِي النِّدَاءِ عِنْدَ النَّفِيرِ يَا خَيْلَ اللَّهِ ارْكَبِي ۴۷۹
باب النَّهْيِ عَنْ لَعْنِ الْبَهِيمَةِ ۴۸۰
باب فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ ۴۸۰
باب فِي وَسْمِ الدَّوَابِّ ۴۸۱
په وسم الدواب کښې مذاهب ائمه ۴۸۱
باب النَّهْيِ عَنِ الْوَسْمِ، فِي الْوَجْهِ وَالضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ ۴۸۲
باب فِي كَرَاهِيَةِ الْحُمُرِ تُنْزَى عَلَى الْخَيْلِ ۴۸۲
د حديث مضمون ۴۸۲
په ترجمة الباب والا مسئله کښې فقهی بحث ۴۸۳
د بغله مذکوره فی الحديث متعلق کلام ۴۸۳
باب فِي رُكُوبِ ثَلاَثَةٍ عَلَى دَابَّةٍ ۴۸۴
باب فِي الْوُقُوفِ عَلَى الدَّابَّةِ ۴۸۵
باب فِي الْجَنَائِبِ ۴۸۶
باب فِي سُرْعَةِ السَّيْرِ وَالنَّهْيِ عَنِ التَّعْرِيسِ، فِي الطَّرِيقِ ۴۸۷
باب فِي الدُّلْجَةِ ۴۸۸
باب رَبُّ الدَّابَّةِ أَحَقُّ بِصَدْرِهَا ۴۸۸
باب فِي الدَّابَّةِ تُعَرْقَبُ فِي الْحَرْبِ ۴۸۹
د ترجمة الباب شرح ۴۸۹
د جمهورو د مسلک تائيد د يوې واقعې نه ۴۹۰
باب فِي السَّبْقِ ۴۹۱
په کومو کومو ځيزونو کښې مسابقت جائز دې په دې کښې د ائمه کرامو مذاهب بالتفصيل والتحقيق ۴۹۲

مراهنه على المسابقة ٤٩٤
باب فِي السَّبْقِ عَلَى الرِّجْلِ ٤٩٥
باب فِي الْمُحَلِّلِ ٤٩٦
د قمار تعريف ٤٩٧
باب فِي الْجَلَبِ عَلَى الْخَيْلِ فِي السِّبَاقِ ٤٩٧
باب فِي السَّيْفِ يُحَلَّى ٤٩٨
باب فِي النَّبْلِ يُدْخَلُ بِهِ الْمَسْجِدُ ٤٩٩
باب فِي النَّهْيِ أَنْ يُتَعَاطَى السَّيْفُ مَسْلُولاً ٤٩٩
باب فِي النَّهْيِ أَنْ يُقَدَّ السَّيْرُ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ ٥٠٠
باب فِي لِبْسِ الدُّرُوعِ ٥٠٠
باب فِي الرَّايَاتِ وَالأَلْوِيَةِ ٥٠١
په رايه او لواء کښې فرق ٥٠١
باب فِي الاِنْتِصَارِ بِرَذْلِ الْخَيْلِ وَالضَّعَفَةِ ٥٠٢
باب فِي الرَّجُلِ يُنَادِي بِالشِّعَارِ ٥٠٣
د ترجمة الباب تشريح ٥٠٣
باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا سَافَرَ ٥٠٥
باب فِي الدُّعَاءِ عِنْدَ الْوَدَاعِ ٥٠٦
باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا رَكِبَ ٥٠٧
باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا نَزَلَ الْمَنْزِلَ ٥٠٧
باب فِي كَرَاهِيَةِ السَّيْرِ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ ٥٠٨
باب فِي أَيِّ يَوْمٍ يُسْتَحَبُّ السَّفَرُ ٥٠٩
باب فِي الاِبْتِكَارِ فِي السَّفَرِ ٥١٠
باب فِي الرَّجُلِ يُسَافِرُ وَحْدَهُ ٥١٠
د ځانله سفر په باره کښې مختلف روايات او د هغې توجيه ٥١١
باب فِي الْقَوْمِ يُسَافِرُونَ يُؤَمِّرُونَ أَحَدَهُمْ ٥١١
باب فِي الْمُصْحَفِ يُسَافَرُ بِهِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ ٥١٢
باب فِيمَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الْجُيُوشِ وَالرُّفَقَاءِ وَالسَّرَايَا ٥١٢
باب فِي دُعَاءِ الْمُشْرِكِينَ ٥١٣

د اوږد او جامع حديث مکمل او جامع تشريح ٥١٥
په مال فئ کښې د اعراب المسلمين حصه شته يا نه؟ ٥١٦
د احنافو د طرف نه د حديث توجيه ٥١٦
په حديث باندې اشکال او د هغې جواب ٥١٧
باب فِي الْحَرْقِ فِي بِلَادِ الْعَدُوِّ ٥١٩
په ترجمة الباب والا مسئله کښې اختلاف د علماء کرامو او د ائمه کرامو مذاهب ٥١٩
باب بَعْثِ الْعُيُونِ ٥٢٢
باب فِي ابْنِ السَّبِيلِ يَأْكُلُ مِنَ التَّمْرِ وَيَشْرَبُ مِنَ اللَّبَنِ إِذَا مَرَّ بِهِ ٥٢٣
د حديث په شرح کښې اشکال او جواب ٥٢٣
باب مَنْ قَالَ إِنَّهُ يَأْكُلُ مِمَّا سَقَطَ ٥٢٤
د سند تحقيق ٥٢٥
باب فِيمَنْ قَالَ لَا يَحْلِبُ ٥٢٥
د حديث شرح ٥٢٦
باب فِي الطَّاعَةِ ٥٢٦
د آيت کريمه د نزول مقصد ٥٢٧
باب مَا يُؤْمَرُ مِنَ انْضِمَامِ الْعَسْكَرِ وَسِعَتِهِ ٥٢٩
باب فِي كَرَاهِيَةِ تَمَنِّي لِقَاءِ الْعَدُوِّ ٥٣١
د حديث شرح ٥٣٢
باب مَا يُدْعَى عِنْدَ اللِّقَاءِ ٥٣٢
باب فِي دُعَاءِ الْمُشْرِكِينَ ٥٣٣
د سيده جويريه د عتق او نکاح واقعه ٥٣٤
باب الْمَكْرِ فِي الْحَرْبِ ٥٣٥
باب فِي الْبَيَاتِ ٥٣٧
باب فِي لُزُومِ السَّاقَةِ ٥٣٧
باب عَلَى مَا يُقَاتَلُ الْمُشْرِكُونَ ٥٣٨
باب النَّهْيِ عَنْ قَتْلِ، مَنِ اعْتَصَمَ بِالسُّجُودِ ٥٤٢
باب فِي التَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ ٥٤٣
باب فِي الْأَسِيرِ يُكْرَهُ عَلَى الْكُفْرِ ٥٤٨

باب فِي حُكْمِ الْجَاسُوسِ إِذَا كَانَ مُسْلِمًا ٥٥٠
په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه ٥٥٠
د حديث مضمون ٥٥٣
باب فِي الْجَاسُوسِ الذِّمِّيِّ ٥٥٤
د جاسوسی کونکی حکم ٥٥٤
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت ٥٥٥
باب فِي الْجَاسُوسِ الْمُسْتَأْمَنِ ٥٥٦
د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت ٥٥٨
باب فِي أَيِّ وَقْتٍ يُسْتَحَبُّ اللِّقَاءُ ٥٥٨
مضمون حديث ٥٥٨
باب فِيمَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الصَّمْتِ عِنْدَ اللِّقَاءِ ٥٥٩
باب فِي الرَّجُلِ يَتَرَجَّلُ عِنْدَ اللِّقَاءِ ٥٥٩
باب فِي الْخُيَلَاءِ فِي الْحَرْبِ ٥٦٠
باب فِي الرَّجُلِ يُسْتَأْسَرُ ٥٦١
د ترجمة الباب شرح : ٥٦١
د حديث الباب شرح ٥٦٢
د سيدنا خبيب رضی الله عنه قصيده ٥٦٤
باب فِي الْكُمَنَاءِ ٥٦٦
باب فِي الصُّفُوفِ ٥٦٧
باب فِي سَلِّ السُّيُوفِ عِنْدَ اللِّقَاءِ ٥٦٨
باب فِي الْمُبَارَزَةِ ٥٦٩
د ترجمة الباب شرح او مذاهب ائمه ٥٦٩
باب فِي النَّهْيِ عَنِ الْمُثْلَةِ ٥٧١
باب فِي قَتْلِ النِّسَاءِ ٥٧٢
شرح حديث او مذاهب ائمه ٥٧٤

....

باب الصَّدَاق

د مهر د احکامو بیان

په صداق کښې دوه لغتونه دی بفتح الصاد لکه سحاب، او بالکسر لکه کتاب او د دې جمع صدق بضمتين راځی، په دې کښې نور هم لغات دی لکه صدقه چه د هغې جمع صدقات راځی ففی التنزيل : واتوا النساء صدقاتهن... او په يو لغت کښې په دې کښې صدقه دې چه د هغې جمع صدقات راځی دې، يعنی مهر، د مهر وجه تسميه د صداق سره علماء کرامو دا ليکلې ده چه هغه په صدق رغبت فی النکاح باندې دلالت کوی چه دا سړې واقعی د نکاح طالب دې پس د دې دپاره د مال د انفاق دپاره هم تيار دې.

د مهر مشروعيت د کتاب الله، حديث او اجماع نه ثابت دې، قال الله تعالى ﴿واحل لكم ما وراء ذلكم ان تبتغوا باموالكم ﴾هم دغه شان ﴿واتوا النساء صدقاتهن نحلة﴾ او احاديث خو بيشماره دی ﴿التمس ولو خاتما من حديد ﴾وغيره وغيره

د مهر شرعی حيثيت :

بيا ځان پوهه کړئ چه د مهر په نوعيت کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې چه ايا هغه د نکاح د صحت دپاره شرط دې يا نه؟ د احنافو په نزد دلته شرط صحت نه دې بلکه د هغوی په نزد مهر د احکاماتو نکاح نه دې نو په هدايه کښې دی ﴿ويصح النكاح وان لم يسم فيه مهرا، وكذا اذا تزوجها بشرط ان لا مهر لها ﴾، هم دغه شان په هدايه کښې ئې په دې کښې د امام مالک اختلاف نقل کړې دې چه د هغه په نزد د نفی په صورت کښې نکاح صحيح نه ده، زه وايم ځکه چه د مالکيانو په نزد مهر د ارکان نکاح نه دې كما قال الدروير : اركان النكاح اربعة ولی، وصداق ومحل وصيغة. هم په دې وجه باندې د هغوی په نزد د نفی صداق په صورت کښې نکاح باطل ده، اوس دا چه ذکر صداق هم د هغوی په نزد ضروری دې يا نه پس په دې کښې د هغوی په نزد تفصيل دې (ففی الاوجز ۲۴۶/۴ : قال الدسوقی الاقسام فيه اربعة الاول ما ينعقد به النكاح مطلقا سوا سمی صداق او لا. وهو انكحت وزوجت. والثانی ما ينعقد به ان سمی صداقا والا فلا وهو وهبت فقط الى اخر ما قال) او په کتب شافعيه کښې دی ﴿سن ذكره فی العقد وكره اخلاؤه عنه كذا فی حاشية الجمل على المنهج ﴾او اوس دا چه د شوافعو په نزد د مهر د نفی کولو په صورت کښې نکاح صحيح ده يا نه، د دې تصريح خو ماته د شوافعو په کتابونو کښې ملاؤ نه شوه خو د قياس تقاضه دا ده چه د نفی په صورت کښې دې نکاح صحيح نه وی ځکه چه نکاح د هغوی په نزد عقد معاوضه دې د بيع په شان او ظاهره ده چه د ثمن د نفی کولو په صورت کښې بيع باطل ده. فكذا النكاح والله تعالى اعلم

[۲۱۰۵]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْ صَدَاقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "ثِنْتَا

[1]: صحيح مسلم/النكاح ۱۳ (۱۴۲۶)، سنن النسائي/النكاح ۶۶ (۳۳۴۹)، سنن ابن ماجه/النكاح ۱۷ (۱۸۸۶)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۳۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۴/۶)، سنن الدارمي/النكاح ۱۸ (۲۲۴۵) (صحيح)

عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشٌّ"، فَقُلْتُ: وَمَا نَشٌّ؟ قَالَتْ: نِصْفُ أُوقِيَّةٍ.

ترجمه: حضرت ابوسلمه نه روايت دې فرمائي چه دام المومنين عائشه رضي الله عنها نه مې تپوس اوکړو دنبي عليه السلام دمهر دمقدار متعلق چه څومره ئې مقرر کړې وو؟ ام المومنين عائشې رضي الله عنها اوفرمائيل دولس اوقيه اوتې اويو نش وو ماتپوس اوکړو چه نش څه شې وی؟ نو ام المومنين اوفرمائيل نيمه. اوقيه.

تشريح: ﴿ عن ابی سلمة قال سالت عائشة رضی الله تعالی عنها عن صداق رسول الله ﷺ فقالت ثنتا عشرة اوقية ونش فقلت وما نش قالت نصف اوقية ﴾: يو اوقيه د څلويښتو درهمو وی په دې حساب سره د دولسو اوقيو څلور سوه او اتيه درهم شو او نش يعنی نصف اوقيه شل درهم شو دا مجموعه پنځه سوه درهم شو، خو د دې حکم نه ام حبيبه بنت ابی سفيان رضي الله عنها مستثنی ده چه د هغه مهر څلور سوه ديناره يعنی څلور زره درهم وو لکه چه په راروان روايت کښې به راشي، والحديث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۱۰۶]([۱]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي الْعَجْفَاءِ السُّلَمِيِّ، قَالَ: خَطَبَنَا عُمَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ، فَقَالَ: "أَلَا لَا تُغَالُوا بِصُدُقِ النِّسَاءِ، فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا أَوْ تَقْوَى عِنْدَ اللَّهِ لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا أَصْدَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِهِ، وَلَا أُصْدِقَتِ امْرَأَةٌ مِنْ بَنَاتِهِ أَكْثَرَ مِنْ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً".

ترجمه: دحضرت ابوجعفاء السلمی رضي الله عنه نه روايت دې چه عمر رضي الله عنه په خطبه کښې فرمائيلی وو: خبردار اوسئ دښځو په مهرونوکښې زياتوالې مه کوئ ځکه که چرې دمهر زياتوالی په دنيا کښې دعزت علامه وې يا د الله تعالی په نزد دتقوی سبب وې نوپه تاسو کښې به نبي عليه السلام ددې زيات حقدار وو (يعنی دهغه به زيات راه مهر مقرر شوې وې) نبي عليه السلام دخپلولونړو او بيبيانو دپاره ددولس اوقيو نه زيات مهر نه وو مقرر کړې.

توضيح الحديث

سيدنا عمر رضي الله عنه فرمائي چه د زنانو مهرونه ډير مه زياتوئ ځکه چه د مهر زيادت که څه د دنيوی عزت يا تقوی څيز وې نو بيا د دې زيات مستحق رسول الله ﷺ وو حال دا چه رسول الله ﷺ خپلې يوې بی بی ته هم د دولس اوقيه نه زيات مهر نه دې ورکړې او هم دغه شان د هغه په لونړو کښې هم چاته د دې مقدار نه زيات مهر نه دې ورکړې شوې.

د مهر فاطمی مقدار:

د دې نه معلومه شوه چه د ازواج مطهرات او مهر فاطمی برابر وو يعنی پنځه سوه درهم، زمونږ په عرف کښې دې مهر ته مهر فاطمی وئيلې شی چه د هغې په مقدار کښې د مفتيان کرام څه قدر اختلاف دې ([۲]) په دې کښې مونږ د حضرت مفتی شفيع صاحب رحمه الله تحقيق

[۱]): صحيح مسلم/النكاح ۱۳ (۱۴۲۶)، سنن النسائي/النكاح ۶۶ (۳۳۴۹)، سنن ابن ماجه/النكاح ۱۷ (۱۸۸۶)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۳۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۹۴)، سنن الدارمي/النكاح ۱۸ (۲۲۴۵) (صحيح)

[۲]) پس په عزيز الفتاوی کښې دی چه د ازواج مطهرات او لوريانو مکرمات مهر دولس نيم اوقيه په حديث شريف کښې راغلې دې... پس پنځه سوه درهم د انګريزی سکې نه ماله ۱۳۰ وی،......۶

مونږ دلته نقل کوو ، مفتی صاحب لیکی چه د زنانه د مهر کم از کم مقدار د احنافو په نزد لس درهم دي چه هغه دوه تولې او اووه نیم ماشه چاندی ده او د مهر فاطمی مقدار منقول پنځه سوه درهم دي د هغې مقدار په موجوده روپئ سره (چه د روپئ وزن یولس نیم ماشه دي) یو سل یودیرش روپئ او پنځلس انې درې نیم پائی (ډک) چاندی شوه او د تولې په حساب سره چه (توله دولس ماشه وی) یو سل یو دیرش توله او درې ماشه سپین زر شو. اهـ لهذا که مهر فاطمی مقرر کړی نو د سپینو زرو مذکوره مقدار دې مقرر کړی او د هغه سپینو زرو د مقدار قیمت به هغه وخت معتبر وی چه کله مهر ادا کولې شی ()

والحدیث اخرجه ایضا باقی الاربعة والبیهقی والدارمی والحاکم وقال حدیث صحیح الاسناد قاله فی المنهل وقال الشیخ احمد شاکر فی حاشیته علی مختصر المنذری، الحدیث رواه احمد فی المسند مطولا ومختصرا الخ.

[۲۱۰۷]() حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ فَمَاتَ بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ فَزَوَّجَهَا النَّجَاشِيُّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمْهَرَهَا عَنْهُ أَرْبَعَةَ آلَافٍ، وَبَعَثَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ شُرَحْبِيلَ ابْنِ حَسَنَةَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: حَسَنَةُ هِيَ أُمُّهُ.

ترجمه: دحضرت ام حبیبه رضی الله عنها نه روایت دي چې هغه دعبیدالله بن جحش په نکاح کښې وه اوهغه دحبشې په خاوره کښې مړشونو نجاشی بادشاه نبی علیه السلام ته په نکاح ورکړه اوددی مهر ئې څلور زره درهمه مقرر کړل اونبی علیه السلام ته ئې ولیږل په لاس دشرحبیل بن حسنه، ابوداود وائی حسنه دشرحبیل موروه.

[۲۱۰۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، "أَنَّ النَّجَاشِيَّ زَوَّجَ أُمَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ أَبِي سُفْيَانَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى صَدَاقِ أَرْبَعَةِ آلَافِ دِرْهَمٍ، وَكَتَبَ بِذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبِلَ".

ترجمه: دحضرت یونس دزهری رحمه الله نه روایت کوی فرمائی چه نجاشی بادشاه ام حبیبه بنت ابی سفیان نبی علیه السلام ته : دڅلور زره درهمو مهر په مقابل کښې په نکاح ورکړه اودا مضمون ئې نبی علیه السلام ته تحریراً اولیږلو اونبی علیه السلام دامنظورکړو.

..... او په امداد المفتیین کښې ٥٦٤ کښې داسې دي، او چه کله دینار او درهم وزن په حساب د توله او ماشه معلوم شو نو د سرو او سپینو زرو وقتی نرخ معلوملو سره سکه رائج الوقت د هغې قیمت راویستل هیڅ مشکل نه شو مثلاً د مهر فاطمی مقدار پنځه سوه درهم دي چه د هغې وزن رائج الوقت یو سل پنځه څلویښت تولې او لس ماشه شو.

[1])منقول ازحاشیة بهشتی زیوراختری حصه ۴ ص ۱۲)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۵۵) (صحیح)

[3]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۵۵، ۱۹۴۰۰) (ضعیف)

بَابُ قِلَّةِ الْمَهْرِ

د مهر د کم مقدار بیان

اکثر د مهر څه مقدار متعین نه دې البته د مهر په اقل مقدار کښې اختلاف دې.

اقل مهر عند الائمه :

د احنافو په نزد اقل کم مهر لس درهم دې ‹دوه تولې او اووه نیمې ماشې سپین زر› او د امام مالک رحمه الله په نزد ربع دینار او د امام شافعی او امام احمد په نزد مطلق مال متقوم یعنی هر هغه څیز چه د هغې په بیع کښې ثمن جوړیدل صحیح وی، د احنافو دلیل د سیدنا جابر رضی الله عنه حدیث مرفوع دې ﴿لا مهر اقل من عشرة دراهم ﴾رواه الدارقطنی لکن فیهمبشر بن عبید وهو متروک قاله الدارقطنی. والجواب : قال العینی القاضی رواه البیهقی من طرق فانجبر ضعفه.

[۲۱۰۹](۱)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، وَحُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ وَعَلَيْهِ رَدْعُ زَعْفَرَانٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَهْيَمْ"، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً، قَالَ: "مَا أَصْدَقْتَهَا؟" قَالَ: وَزْنَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ، قَالَ: "أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: النَّوَاةُ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ، وَالنَّشُّ عِشْرُونَ، وَالأُوقِيَّةُ أَرْبَعُونَ.

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام عبدالرحمن بن عوف په داسې حال کښې ولیدو چه به زعفران وربانديې لګیدلی وو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل داڅه دی؟ عبدالرحمن عرض اوکړوای دالله رسوله زمادیوی زنانه سره نکاح شوې ده نبی علیه السلام ترې تپوس اوکړو چه مهر ئې څومره دې؟ عبدالرحمن اووئیل دانواة په مقدار سره زر نبی علیه السلام ترې تپوس اوکړو ولیمه وکړه اګرکه په یو بیزه وی ‹بعضوئیلی دی چه نواة دپنځودرهموپه مقداروي›.

توضیح الحدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ سیدنا عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه اولیدو په داسې حال کښې چه په هغه باندې د زعفران رنګ لګیدلې وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه نه تپوس اوکړو چه دا څه دی؟ ‹او بعض د مهیم مطلب لیکلې دې ما شانک؟ چه په تا څه شوې دی؟ هغه عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم خبره دا ده چه ما واده کړې دې، رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو ایا هغې ته دې مهر ورکړې دې؟ هغه عرض اوکړو ﴿وزن نواة من ذهب ﴾مې ورکړېدې. (۲)

---

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۳۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ۱ (۲۰۴۹)، مناقب الأنصار ۳ (۳۷۸۱)، ۵۰ (۳۹۳۷)، النكاح ۷ (۵۰۷۲)، ۴۹ (۵۱۳۸)، ۵۴ (۵۱۵۳)، ۵۶ (۵۱۵۵)، ۶۸ (۵۱۶۷)، الأدب ۶۷ (۶۰۸۲)، الدعوات ۵۳ (۶۳۸۳)، صحيح مسلم/النكاح ۱۳ (۱۴۷۲)، سنن الترمذي/النكاح ۱۰ (۱۰۹۴) البر والصلة ۲۲ (۱۹۳۳)، سنن النسائي/النكاح ۷۵ (۳۳۷۵)، سنن ابن ماجه/النكاح ۲۴ (۱۹۰۷)، موطا امام مالك/النكاح ۲۱(۴۷)، مسند احمد (۳/۱۶۵، ۱۹۰، ۲۰۵)، سنن الدارمي/الأطعمة ۲۸ (۲۱۰۸)، النكاح ۲۲ (۲۲۵۰) (صحيح)

۲) قال في النهاية : النواة اسم لخمسة دراهم كما قيل للاربعين اوقية والعشرين نش وقيل اراد قدر نواة من ذهب كان قيمتها خمسة دراهم ولم يكن ثم ذهب وانكره ابو عبيد، قال الازهري لفظ الحديث يدل علي انه تزوج المراءة علي ذهب قيمة خمسة دراهم، الا تراه قال نواة من ذهب، ولست ادري لم انكره ابو عبيد اهـ والنواة في الاصل عجمة التمرة. (حاشية السيوطي علي النسائي)

په دې حديث کښې دوه مسئلې دي يوه د ترجمة الباب والا او دويمه د کتاب اللباس والا.

لبس مزعفر للرجل:

يعنى لبس مزعفر چه کومه کپړه په زعفرانو باندې رنګ کړې شوې وى يا پرې د زعفران والا خوشبوئى لګيدلې وى، د ائمه ثلاث په نزد د سړى دپاره د دې اچول مکروه تحريمى دى. او د امام مالک مسلک دا دې چه د دې قسم کپړې استعمال خو جائز دې خو په بدن کښې د دې زعفران يا زعفرانى رنګ استعمال جائز نه دې، لهذا په ظاهره کښې داحديث د جمهور خلاف او د امام مالک موافق دې، دجمهورو استدلال د هغه احاديث صحيحه نه دې چه په هغې کښې په لبس زعفران باندې نهى راغلې ده،

(د حديث الباب نه جوابات)

او د قصه عبد الرحمن علماء کرامو مختلف توجيهات کړې دى،اول جواب. قيل ان ذلک کان قبل النهى چه د هغې تائيد د دې نه کيږى چه د سيدنا عبدالرحمن ﷺ د قصې سياق نه دا معلوميږى چه دا کار د هجرت په ابتداء کښې شوې وو،دويم جواب او اکثر د نهى رواة هغه دى د چا چه هجرت موخر دې. يو دريم جواب دا ورکړې شوې دې چه دا اثر صفرة قصدا نه وه بلکه دا رنګ د هغه د ناوې د خوشبويئ وو کوم چه په هغه باندې اولګيدو. يو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه هغه اثر ډير معمولى وو په دې وجه پرې رسول الله ﷺ نکير او نه فرمائيلو،څلورم جواب او وئيلې شوې دى چه د لبس مزعفر نهى د تحريم دپاره نه ده بلکه د تنزيه دپاره ده وغيره ذلک من الاجوبة. نو دا اوله مسئله شوه او دويمه مسئله يعنى د قلت کم مهر باقى ده، شوافع وغيره د وزن نواة من ذهب والا حديث نه استدلال کوى.

د وزن نواة من ذهب په تفسير کښې اقوال:

خو د دې لفظ په تفسير کښې هم اختلاف دې بعض خو دا وائى چه د نواة نه مراد هم دا د کهجورو تخم دې يعنى نواة مشهوره معنى، او دا چه د دومره وزن سرو زرو قيمت هغه وخت پنځه درهم وو، او وئيلې شوې دى چه ربع دينار وو، او په دې کښې دويم قول دا دې چه د نواة نه د هغې معنى معروف مراد نه ده بلکه ﴿نواة من ذهب﴾ دا عبارت وى د هغه څيز نه چه د هغې قيمت پنځه درهم وى وبه جزم الخطابى ونقله عياض عن اکثر العلماء. او يو قول په دې کښې دا دې چه وزن نواة من ذهب نه مراد د پنځو درهمو برابر سره زر دى چه د هغې مقدار درې نيم مثقاله جوړيږى (۱) د وزن سبعه په لحاظ سره، دا اقوال ثلاثه قسطلانى په شرح د بخارى کښې ذکر کړې دى په دې کښې که اخرى قول واخستلې شى نو بيا دا حديث د يو خلاف هم نه وى.

د صاحب البدائع رائې:

او صاحب بدائع د حديث النواة په باره کښې فرمائى چه وزن نواة خو څه چه عامه وزن دينار نه زائد وى او هغه فرمائى او که څوک دا وائى چه د وزن نواة قيمت خو ثلاثة دراهم بيانولې

(۱) او يو دينار د يو مثقال وى، لهذا د وزن نواة مصداق درې نيم دیناره شو او د احنافو په نزد اقل مهر يو دينار دې)

شی نو مونږ به وایو چه مقوم معلوم نه دې چه کوم سړې دې چه ترڅو پورې د هغه معلومات اونشی نو د دې قول په بل باندې حجت څنګه کیدې شی، بیا وړاندې فرمائی بلکه بعض حضرات لکه ابراهیم نخعی فرمائی چه د وزن نواة قیمت لس دراهم ته رسیږی، هم دغه شان دا هم کیدې شی چه دا محمول شی په مهر معجل باندې لکه چه هغه وخت دستور وو نه اصل مهر، او دا هم احتمال دې چه دا د هغه وخت واقعه وی چه کله بغیر د مهر نه نکاح جائز وه تردې چه رسول الله ﷺ د شغار نه منع اوفرمائیله. اه

قال : اولم ولو بشاة... رسول الله ﷺ اوفرمائیل! ولیمه اوکړه اګر که د بیزې د ذبح سره وی، قسطلانی فرمائی : دا ﴿لو﴾ د تقلیل دپاره دې یعنی د یو وس والا سړی دپاره دا ده چه کم از کم ولیمه په یوې بیزې سره اوکړی، او د غریب دپاره حسب استطاعت وقدرت، پس د رسول الله ﷺ نه بعض وخت ولیمه په مد شعیر سره او د سیده صفیه په نکاح کښې کهجورې او غوړی او اقط سره ثابت ده، او په کوکب کښې لیکلی شوې دی چه ﴿لو﴾ دلته د تکثیر دپاره دې چه د هغې تشریح ئې داسې کړې ده چه چونکه عبدالرحمن بن عوف مالدار حضراتو نه وو پس هم د دې په وجه باندې رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائیل چه ته به ولیمه اوکړه په هغې کښې بیزه ذبح کړه، او په دې کښې څه د اسراف خبره نشته.

﴿اولم﴾ صیغه د امر ده چه د هغې تقاضه وجوب ده پس ظاهریه د وجوب ولیمه قائل دی او هم دا یو روایت د امام شافعی بلکه ائمه ثلاثه نه دې، خو په مشهور قول کښې ولیمه د ائمه اربعه په نزد سنت ده. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۱۱۰](۱) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ جِبْرَائِيلَ الْبَغْدَادِيُّ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ، أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ مُسْلِمِ بْنِ رُومَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَعْطَى فِي صَدَاقِ امْرَأَةٍ مِلْءَ كَفَّيْهِ سَوِيقًا أَوْ تَمْرًا فَقَدِ اسْتَحَلَّ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ صَالِحِ بْنِ رُومَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ مَوْقُوفًا. وَرَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ رُومَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنَّا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَمْتِعُ بِالْقُبْضَةِ مِنَ الطَّعَامِ عَلَى مَعْنَى الْمُتْعَةِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَلَى مَعْنَى أَبِي عَاصِمٍ.

ترجمه: دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روایت دې چه نبی علیه السلام فرمائیلی دي: که چرې به یو کس یوې ښځې ته په مهر کښې یو ه لپه ستوان یا کهجورې ورکړی نویقینا ده دا ښځه خپل ځان ته حلاله کړه. ابوداود فرمائی چه دا روایت عبدالرحمن ابن مهدی د صالح بن رومان نه هغه دابوزبیرنه اوهغه دجابرنه موقوفًا نقل کړی دی او همدارنګی ابوعاصم دصالح بن رومان نه هغه دابوزبیرنه اوهغه دجابرنه روایت نقل کړی دی فرمائی چه مونږبه دزنانونه دنبی علیه السلام په زمانه کښې په یو موټی دوډۍ فائده اخستله (یعنی مهر) ابوداود فرمائی چه دا روایت ابن جریج دابو الزبیرنه هغه دجابرنه هغه دعاصم ننه در وایت په شان بیان کړی دي.

تشریح: ﴿ من اعطی فی صداق امراءة ملا کفیه سویقا او تمرا فقد استحل﴾ کوم سړی چه د خپلې

۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۲۹۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۵/۳) (ضعیف)

ښځې په مهر کښې يو موټې سويق يا تمر ورکړل نو هغه دغه زنانه د خپل ځان دپاره حلاله کړه، دا يا خو په مهر معجل باندې محمول دې او يا په متعه باندې محمول دې لکه چه په راتلونکې روايت کښې د دې تصريح ده چه په متعه کښې به داسې کيدل، او متعه منسوخ شوې ده لهذا دا هم. والحديث اخرجه ايضا احمد والدارقطنى والبيهقى قاله فى المنهل.

بَابٌ فِي التَّزْوِيجِ عَلَى الْعَمَلِ يُعْمَلُ

کار يا مزدوری د مهر عوض کرځول

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

په کومه مسئله باندې چه مصنف ترجمه قائم کړې ده هغه اختلافي دې د احنافو په نزد د مهر مالک کيدل ضروری دی د زوجې خدمت وغيره د هغې مهر نه شي مقرر کيدې، او د امام شافعی او احمد په نزد د زوجې خدمت مثلا تعليم صناعت يا تعليم د علوم شرعيه داسې تعليم چه په هغې باندې اجرت اخستل جائز دی د هغې مهر مقرر کيدل جائز دی خو په تعليم القرآن باندې اجرت اخستل د امام احمد رحمه الله په نزد د هغه د مشهور قول مطابق جائز نه دی په دې وجه د هغه په نزد تزويج على تعليم القرآن جائز نه دې او! د امام شافعی رحمه الله په نزد اخذ الاجرة على تعليم القرآن جائز دې لهذا د هغه په نزد په دې باندې تزويج هم جائز دې كما فى حديث الباب:

[۲۱۱۱] (۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي حَازِمِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي قَدْ وَهَبْتُ نَفْسِي لَكَ، فَقَامَتْ قِيَامًا طَوِيلًا، فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، زَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا إِيَّاهُ؟" فَقَالَ: مَا عِنْدِي إِلَّا إِزَارِي هَذَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّكَ إِنْ أَعْطَيْتَهَا إِزَارَكَ جَلَسْتَ وَلَا إِزَارَ لَكَ فَالْتَمِسْ شَيْئًا"، قَالَ: لَا أَجِدُ شَيْئًا، قَالَ: "فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ"، فَالْتَمَسَ فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَهَلْ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ؟" قَالَ: نَعَمْ، سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا، لِسُوَرٍ سَمَّاهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَدْ زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ".

ترجمه: دحضرت سهل بن سعد الساعدی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه يوه زنانه دنبی عليه السلام په خدمت کښې و حاضره شوه او عرض ئې اوکړو چه ما خپل ځان تاته ښخلې دې (يعنی زما د طرف نه تاته دنکاح اجازت دې) هغه زنانه تر ډيره وخته خاموشه ولاړه وه ليکن و نبی عليه السلام ورته په دې حقله جواب نه ورکوو په دې وخت کښې يو صحابی اودريدو او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله که چرې تاته ددې ښځې سره دنکاح کولو ضرورت نه وی نوزما نکاح ورسره وکړه نبی عليه السلام ترې تپوس اوکړو آيا څه مال درسره شته؟ چه دې ته ئې په مهر کښې ورکړې هغه اووئيل زماسره زماددې لنګ نه علاوه نور هيڅ نشته نبی عليه السلام اوفرمائيل که

(۱): صحيح البخاري/الوكالة ۹ (۲۳۱۰)، وفضائل القرآن ۲۱ (۵۰۲۹)، ۲۲ (۵۰۳۰)، والنكاح ۱٤(۵۰۸۷)، ۳۲ (۵۱۲۱)، ۳۵ (۵۱۲٦)، ۳۷ (۵۱۳۲)، ٤۰ (۵۱۳۵)، ٤٤ (۵۱٤۱)، ۵۰ (۵۱٤۹)، ۵۱ (۵۱۵۰)، واللباس ٤۹(۷۱۱۷)، سنن الترمذي/النكاح ۲۳ (۱۱۱٤)، سنن النسائي/النكاح ٦۹ (۳۳٦۱)، (تحفة الأشراف: ٤۷٤۲)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/النكاح ۱۳(۱٤۲۵)، سنن ابن ماجه/النكاح ۱۷(۱۸۸۹)، موطا امام مالك/النكاح ۳ (۸)، مسند احمد (۳۳٦/۵)، سنن الدارمي/النكاح ۱۹ (۲۲٤۷) (صحيح)

چرې لنګ ورته په مهر کښې ورکړې نوته به بربند پاتې شي دمهر دادا و کولو دپاره بل کوم شي ولټوه او راشې ورته هغه اووئيل هيڅ مې اونه موندل نبي ﷺ ورته اووئيل چې وګوره که هغه د دوسپينې يوه ګوته دې نه وی، هغه اووئيل هيڅ راته ملاو نه شول چه راشې ورم نبي ﷺ اوفرمائيل آيا دقرآن پاک څه حصه دی زده ده؟ هغه اووئيل هو، فلانې فلانې سورت مې ياد دې اودسورتونو نومونه ئې واخستل نبي ﷺ ورته اوفرمائيل ددې سورتونو په عوض کښې مې درته دا په نکاح درکړه (يعنی ددې سورتونو تعليم به ورته ورکوي).

توضيح الحديث

مضمون حديث واضح دې، بيان ته احتياج نه لری د هغه زنانه په نوم کښې اختلاف دې، حافظ خو فرمائی ﴿ لم اقف علی اسمها ﴾ خو بعض نورو شارحينو وئيلې دی چه د هغې نوم خوله بنت حکيم يا ام شريک ده.

﴿قال فالتمس ولو خاتما من حديد ﴾د دې حديث نه شوافعو د لبس خاتم حديد په جواز باندې استدلال کړې دې خو خپله حافظ فرمائی ﴿ولا حجة فيه ﴾ځکه چه په جواز اتخاد سره جواز لبس نه لازميږی ځکه چه د دې منفعت په لبس کښې منحصر نه دې بلکه انتفاع بالقيمة هم کيدې شی.

په خاتم حديد کښې مذاهب علماء :

په اوجز کښې ليکی چه د شوافعو اصح قول هم دا دې چه خاتم حديد مکروه نه دې، امام نووی رحمه الله فرمائی والحديث الوارد فی النهی ضعيف. د دې نه روستو په اوجز ۲۴۸/۴ کښې د حنابله او مالکيانو مذهب کراهت ليکلې دې لکه چه د هغوی په کتابونو کښې د دې تصريح ده، هم دغه شان خاتم نحاس ورصاص کښې هم دا اختلاف دې چه صرف د شوافعو په نزد مکروه نه دې د نورو امامانو په نزد مکروه دې، هم دغه شان د احنافو مذهب هم دا دې چه د سپينو زرو نه علاوه د حديد او نحاس وغيره ګوتمه مکروه ده، للرجال والنساء جميعا. چه د هغې دليل حديث د بريده رضی الله عنه دې کوم چه په ابوداود کتاب الخاتم کښې راروان دې ﴿ان رجلا جاء الی النبی ﷺ وعليه خاتم من شبه فقال له ما لی اجد منک ريح الاصنام فطرحه ثم جاء وعليه خاتم من حديد فقال ما لی اری عليک حلية اهل النار ﴾او بيا په اخر کښې دی ﴿اتخذه من ورق ولا تتمه مثقالا﴾ واخرجه الترمذی ايضا فی اخرکتاب اللباس وقال هذا حديث غريب.

قد زوجتکها بما معک من القران... په ﴿بما معک ﴾باء د احنافو په نزد د سببيت دپاره ده يعنی د قران کريم کوم چه يو عظيم نعمت تاسو ته حاصل دې په دې وجه باندې ستا نکاح د هغې سره کولې شی او د شوافعو په نزد للعوض. هم دا جواب د احنافو د طرف نه د دې حديث دې، او دويمه خبره دا ده چه دا حديث دَ خپل ظاهر په اعتبار سره بالاتفاق متروک دې ځکه چه سورة من القران مهر کيدل د چا په نزد هم صحيح نه دی او په دې کښې د تعليم قران ذکر شته نه په کوم چه ئې شوافع محمول کوی، او يو جواب هغه دې کوم چه وړاندې په کتاب کښې د مکحول نه منقول دې، والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۱۱۲](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَفْصِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي أَبِي حَفْصُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ الْحَجَّاجِ الْبَاهِلِيِّ، عَنْ عِسْلٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، نَحْوَ هَذِهِ الْقِصَّةِ، لَمْ يَذْكُرِ الْإِزَارَ وَالْخَاتَمَ، فَقَالَ: "مَا تَحْفَظُ مِنَ الْقُرْآنِ؟" قَالَ: سُورَةَ الْبَقَرَةِ، أَوِ الَّتِي تَلِيهَا، قَالَ: "فَقُمْ، فَعَلِّمْهَا عِشْرِينَ آيَةً وَهِيَ امْرَأَتُكَ".

ترجمه: عطاء بن أبي رباح دابوهريره رضي الله عنه نه دتيرشوی روايت په شان روايت نقل کړې دې او دلنګ اوډګوتی ذکرئې په کښې نه دې کړې اودا اضافه ئې کړې ده چه دقرآن څه حصه دې ياده ده؟ هغه اووئيل سورة بقره ياهغه سورة کوم چه دې ته نژدې دې هغه مې ياد دې نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل پاڅه اودشلو آيتونو تعليم ورته ورکړه او دا ستا ښځه شوه.

[۲۱۱۳](٢)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ، عَنْ مَكْحُولٍ، نَحْوَ خَبَرِ سَهْلٍ، قَالَ: وَكَانَ مَكْحُولٌ يَقُولُ: لَيْسَ ذَلِكَ لِأَحَدٍ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: حضرت محمد بن راشد دمکحول نه دسهل دروايت په شان روايت نقل کړې دې او وئيلې يې دی چه مکحول به وئيل چه دا حکم ددغه صحابی نه علاوه دنبی عليه السلام نه پس دبل چادپاره نه دې (داپه هغه پورې خاص وو).

بَابٌ فِيمَنْ تَزَوَّجَ وَلَمْ يُسَمِّ صَدَاقًا حَتَّى مَاتَ

که څوک نکاح وکړی اود مهر تعين ونکړی تردې چه مړ شی

[۲۱۱٤](٣)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ فِرَاسٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، فِي رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً فَمَاتَ عَنْهَا وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا الصَّدَاقَ، فَقَالَ: لَهَا الصَّدَاقُ كَامِلًا وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ وَلَهَا الْمِيرَاثُ، فَقَالَ مَعْقِلُ بْنُ سِنَانٍ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَضَى بِهِ فِي بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ".

ترجمه: دحضرت مسروق دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت نقل کوی فرمائی چه عبدالله دهغه کس په باره و کښې وئيلی ووچه يوې داسې زنانه سره ئې نکاح وکړه او وفات شو اودخول ئې ورسره نه ووکړې او مهرئې ورلره هم نه وو مقرر کړې نوعبدالله ووئيل دازنانه دپوره مهر حق داره ده اودې دپاره عدت تيرول لازمی دی اودميراث حقداره هم ده، په دې وخت کښې معقل بن سنان اووئيل ماد نبی عليه السلام نه اوريدلی دی چه دا فيصله ئې دبروع بنت واشق دپاره کړې وه.

[۲۱۱۵](٤)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَابْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، وَسَاقَ عُثْمَانُ مِثْلَهُ.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤١٩٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/النكاح (٥٥٠٦) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٤٧٨) (ضعيف)

[3]: سنن الترمذي/النكاح ٤٤(١١٤٥)، سنن النسائي/النكاح ٦٨(٣٣٥٨)، والطلاق ٥٧(٣٥٥٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٨ (١٨٩١)، (تحفة الأشراف: ١١٤٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤٨٠، ٤/٢٨٠)، سنن الدارمي/النكاح ٤٧(٢٢٩٢) (صحيح)

[4]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٤٦١) (صحيح)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن ابن مسعوده نه ددې روايت په شان روايت نقل شوی دی اوباقی حديث ئې دتيرروايت په شان بيان کړو.

[۲۱۱٦](١)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خِلَاسٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ أُتِيَ فِي رَجُلٍ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: "فَاخْتَلَفُوا إِلَيْهِ شَهْرًا، أَوْ قَالَ: مَرَّاتٍ، قَالَ: فَإِنِّي أَقُولُ فِيهَا: إِنَّ لَهَا صَدَاقًا كَصَدَاقِ نِسَائِهَا لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ، وَإِنَّ لَهَا الْمِيرَاثَ وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ، فَإِنْ يَكُ صَوَابًا فَمِنَ اللهِ، وَإِنْ يَكُنْ خَطَأً فَمِنِّي وَمِنَ الشَّيْطَانِ، وَاللهُ وَرَسُولُهُ بَرِيئَانِ، فَقَامَ نَاسٌ مِنْ أَشْجَعَ فِيهِمُ الْجَرَّاحُ وَأَبُو سِنَانٍ، فَقَالُوا: يَا ابْنَ مَسْعُودٍ، نَحْنُ نَشْهَدُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَاهَا فِينَا فِي بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ، وَإِنَّ زَوْجَهَا هِلَالُ بْنُ مُرَّةَ الْأَشْجَعِيُّ كَمَا قَضَيْتَ، قَالَ: فَفَرِحَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ فَرَحًا شَدِيدًا حِينَ وَافَقَ قَضَاؤُهُ قَضَاءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: حضرت عبدالله بن عتبه بن مسعود نه روايت دې فرمائی چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته ديوسړی واقعه راوړلی شوه وه راوی وائی چه دوی په دغه مسئله کښې يوه مياشت اوکه داسې ئې ووئيل ډيرکرته ئې پکښې اختلاف کړی وو عبدالله ووئيل زه ددې واقعی په باره کښې داسې وايم چه دا زنانه دمهرداسې حق داره ده لکه څنګه چه ددې دقوم نوری ښځې حقداری دی (يعنی دهغوی دمهر په مقدار به ددې، مهروی ددې نه، نه کم اونه زيات اوددې دپاره عدت ثابت دی اوعدت به هم تيروی که چرې زما دافيصله، حقه وی نودابه دالله تعالی مهربانی وی په ما باندې وی اوکه چرې خطاء وی نودابه زما دنفس دطرفه او دشيطان دطرفه وی او الله اودهغه رسول به ددې نه پاك اوبری وی، په دې وخت داشجع قبيلې يوخو کسان چه پکښې جراح او ابوسنان هم اودريدل وئی وئيل اې ابن مسعود مونږ ګواهی ورکووچه نبی علیه السلام هم داسې فيصله کړی وه دپاره دبروع بنت واشق کومه چه دهلال بن مره ښځه وه نو په دې وخت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ډير خوشحاله شوچه دده فيصله د نبی علیه السلام د فيصلې مطابق ثابته شوه.

تشريح: د دې باب د لاندې مصنف د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دا حديث ذکر کړې دې چه د هغه نه تپوس اوکړې شو چه يو سړی د يوې زنانه سره نکاح اوکړه او د نکاح کولو نه څو ورځې پس هغه مړ شو په داسې حال کښې د هغه د طرف نه دخول بيا نه موندلې شو او نه تسميه مهر نو په داسې صورت کښې به د متوفی عنها زوجها (زنانه) دپاره څه وی؟ د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه دا تپوس سائل بار بار اوکړو او هغه په دې مسئله کښې غور کولو، د يو مياشت غور کولو نه پس هغه دا جواب ورکړو: ﴿لها الصداق کاملا وعليها العدة ولها الميراث﴾

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

مسئله مختلف فيه ده د امام ابوحنيفه او امام احمد مذهب خو هم دا دې او امام مالک رحمه الله فرمائی چه په دې صورت کښې د هغه زنانه دپاره صرف ميراث دې مهر وغيره هيڅ هم نشته، د امام شافعی يو قول خو هم داسې دې. او بل قول د هغه نه دا منقول دې چه هغه

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٢٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤٣٠، ٤٣١، ٤٤٧، ٤٤٨) (صحيح)

فرمائی: لو صح حديث بروع لقلت به... په بذل المجهود کښې دی: قال الحاكم قال شيخنا ابو عبدالله لو حضرت الشافعی لقمت علی رؤس الناس وقلت قد صح الحديث فقل به.

فائده: ځان پوهه کړه چه د دې مسئلې مختلفې حصې دی چه د هغې تفصيل دا دې: ان طلقها قبل الدخول (والخلوة الصحيحة فی حکم الدخول) ولم يسم لها مهرا فليس لها مهر بل المتعة فقط والمتعة هی الکسوة، الدرع والخمار والملحفة وان کان سمی لها المهر ولم يدخل بها حتی طلقها فحينئذ لها نصف المسمی. قال تعالی: ﴿ وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن وقد فرضتم لهن فريضة فنصف ما فرضتم ﴾ ولو لم يسم المهر لکن دخل بها او مات عنها فلها مهر مثلها کاملا، فالحاصل ان فی صورة الدخول او موت الزوج (۱) کمال المهر وان لم يسم المهر وان لم يوجد الموت ولا الدخول بل الطلاق فحينئذ فی صورة التسمية نصف المسمی، وفی صورة عدم التسمية لا مهر مطلقا بل المتعة فقط. (ملخصا من مختصر القدوری)

امام ترمذی د دې حديث د تخريج نه پس فرمائی: حديث حسن صحيح والعمل علی هذا عند بعض اهل العلم من اصحاب النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وغيرهم وبه يقول الثوری واحمد واسحاق، وقال بعض اهل العلم منهم علی بن ابی طالب وزيد بن ثابت وابن عباس وابن عمر اذا تزوج الرجل امراءة ولم يدخل بها ولم يفرض لها صداقا حتی مات قالوا لها الميراث ولا صداق لها وعليها العدة وهو قول الشافعی وقال ولو ثبت حديث بروع بنت واشق لکانت الحجة فيه وروی عن الشافعی انه رجع بمصر عن هذا القول وقال بحديث بروع بنت واشق. اه

[۲۱۱۷](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ الذُّهْلِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَصْبَغِ الْجَزَرِيُّ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحِيمِ خَالِدِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ: "أَتَرْضَى أَنْ أُزَوِّجَكَ فُلَانَةَ؟" قَالَ: نَعَمْ، وَقَالَ لِلْمَرْأَةِ: "أَتَرْضَيْنَ أَنْ أُزَوِّجَكِ فُلَانًا؟" قَالَتْ: نَعَمْ، فَزَوَّجَ أَحَدَهُمَا صَاحِبَهُ، فَدَخَلَ بِهَا الرَّجُلُ وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا صَدَاقًا وَلَمْ يُعْطِهَا شَيْئًا وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ الْحُدَيْبِيَةَ وَكَانَ مَنْ شَهِدَ الْحُدَيْبِيَةَ لَهُ سَهْمٌ بِخَيْبَرَ، فَلَمَّا حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَوَّجَنِي فُلَانَةَ وَلَمْ أَفْرِضْ لَهَا صَدَاقًا وَلَمْ أُعْطِهَا شَيْئًا، وَإِنِّي أُشْهِدُكُمْ أَنِّي أَعْطَيْتُهَا مِنْ صَدَاقِهَا سَهْمِي بِخَيْبَرَ، فَأَخَذَتْ سَهْمًا فَبَاعَتْهُ بِمِائَةِ أَلْفٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَزَادَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَحَدِيثُهُ أَتَمُّ فِي أَوَّلِ الْحَدِيثِ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَيْرُ النِّكَاحِ أَيْسَرُهُ"، وَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلرَّجُلِ، ثُمَّ سَاقَ مَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: يُخَافُ أَنْ يَكُونَ هَذَا الْحَدِيثُ مُلْزَقًا، لِأَنَّ الْأَمْرَ عَلَى غَيْرِ هَذَا.

ترجمه: دحضرت عقبة بن عامرنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ يوکس ته اوفرمائيل

(۱) د دې په باره کښې فقهاء کرامو ليکلې دی (کما فی الکوکب الدري) الموت منه للشيء... مرګ يو ځيز لره د هغه انتهاء او کمال ته رسونکې دې يعنی د انسان په څه حال او صفت باندې مر کيدل دا د هغه صفت کمال دې نو چه کله د زوج وفات د زوج کيدو د صفت سره وی نو دا د صفت تزوج او نکاح کمال شو، پس چه کله نکاح د خپل صفت کمال سره بيا موندلې شوه نو په دې صورت کښې مهر هم کاملا واجب دې. ۱۲)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۹۶۲) (صحيح)

ایاخوښه دی نه ده چه فلانی زنانه درته په نکاح کړم؟هغه ووئیل هو ، بیائی ښځي ته ووئیل ایاخوښه دی نه ده چه فلانی ته دی په نکاح ورکړم؟هغې ووئیل هو ، نونبی ﷺ دوی په مینځ کښې نکاح وتړله نوسړی ورسره خلوت اوکړو اومهرئی ورله معین کړې نه وواوهیڅ شی ئې ورته ورکړی هم نه وواودا دهغه،کسانونه ووځوك چه په بیعت الرضوان کښې شامل وواوپه غزوه حدیبیه کښې هم حاضر شوی وواوپه غزوه خیبر کښې دده حصه هم وه نود وفات په وخت کښې ئې وصیت اوکړو اووئ وئیل چه فلانی ماته نبی ﷺ په نکاح کړې وه اوما ورله مهرنه وومقرر کړی او څه شی مې ورکړی هم نه دی اوس زه تاسو ګواه کوم چه ماد خیبرخپله حصه دیته په مهر کښې ورکړه نوهغې دده حصه واخسته او په یولاك درهمه ئې خرڅه کړه، امام ابوداود فرمائی چه دعمربن الخطاب رضی الله عنه نه روایت دی فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی بهترینه نکاح هغه وی کومه چه اسانه وی او ددوی حدیث دټولو نه زیات کامل دې اوپه دیکښې ان رسول الله قال للرجل په ځائې قال رسول الله للرجل دې، اوددې نه پس ئې دنبی ﷺ نه دتیرشوی روایت په شان روایت بیان کړو امام ابوداود وائی چه زما خیال دی دا روایت ددغه بل روایت سره خلط شوی دی ځکه چه اصل مسئله ددې نه علاوه ده.

تشریح: وکان من شهد الحدیبیة لهم سهم خیبر : راوی وائی چه کوم خلق په غزوه حدیبیه کښې شریک وو د هغوی دپاره په غنائم خیبر کښې سهم یعنی حصه وه، زه وائم چه د دې وجه دا ده چه غزوه خیبر د حدیبیه نه فورا روستو پیښه شوې وه او په دې کښې ټول هغه صحابه کرام شریک وو کوم چه په حدیبیه کښې هغه سره وو، دا خبره په روایاتو او تاریخ کښې مشهوره ده.

﴿قال ابوداود : وزاد عمر فی اول الحدیث قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خير النكاح ايسره ﴾ د عمر نه مراد د صنف استاذ دې کوم چه په سند کښې مذکور دې یعنی د مصنف بل استاذ محمد بن یحیی دا زیادت په دې حدیث کښې ذکر نه دې بلکه عمر کړې دې.

الحدیث فی غیر محله :

دا حدیث مرفوع ﴿خیر النکاح ایسره ﴾دلته د ابوداود په دې باب کښې ﴿فی غیر محله ﴾دې او چه کوم حدیث غیر محل کښې وی د دې تلاش کول ډیر مشکل دی هم په دې وجه مونږ په دې باندې تنبیه کړې ده، چه کوم مضامین غیر مظان کښې وی او ډیر وی د دې تپوس کول او لټون کول یو لوئې کار دې.

بَابٌ فِي خُطْبَةِ النِّكَاحِ

باب د نکاح د خطبې بیان

[۲۱۱۸](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ فِي خُطْبَةِ الْحَاجَةِ فِي النِّكَاحِ وَغَيْرِهِ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ الْمَعْنَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ،

(١): سنن الترمذي/النكاح ١٧ (١١٠٥)، سنن النسائي/الجمعة ٢٤ (١٤٠٥)، والنكاح ٣٩ (٣٢٧٩)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٩ (١٨٩٢)، مسند أحمد (١/٣٩٢، ٤٠٨، ٤١٣، ٤١٨، ٤٢٣، ٤٣٧)، سنن الدارمي/النكاح ٢٠ (٢٢٤٨)، (تحفة الأشراف: ٩٥٠٦، ٩٦١٨) (صحيح)

عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، وَأَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "عَلَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَةَ الْحَاجَةِ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا سورة النساء آية ۱، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ سورة آل عمران آية ۱۰۲، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ۷۰ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ۷۱ سورة الأحزاب آية ۷۰-۷۱ "، لَمْ يَقُلْ مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ أَنْ.

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود د نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام مونږ ته دخطبه حاجت تعليم راکړې : وو اوهغه داسي وه : «أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ» «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا»، يعني ټول تعريفونه خاص دالله تعالی دپاره دی، مونږ دهغه نه مدد غواړو اودهغه نه بخښنه غواړو اوپه هغه پورې پناه غواړو د خپلو نفسونو دبدوالی نه، چاته چه الله تعالی سمه لار وښائی نونشته هغه لره څوك بې لاری کونکی اوڅوك چه هغه بې لاری کړی نونشته دغه کس ته څوك لارښودونکې، زه ګواهي ورکوم چه دالله نه علاوه بل څوك حقداردبندګئ نشته او زه ګواهي ورکوم چه محمد دهغه بنده اورسول دې،اې ايمان والو دالله تعالی نه ويره اوکړئ و دچادنوم په وصيله باندې چه تاسو غوښتل کوئ اودريشتو دماتولونه ځان وساتئ يقينا الله تعالی ستاسو نګهبان دې، اې ايماندارو خلقو دالله تعالی کم نه ويريږه څرنګه چه دهغه نه ديريدلو حق دې اوهيڅ کله دې تاسوته مرګ رانشی په داسې حال کښې ث چه تاسو مسلمانان نه ئې اې ايمان والا خلقو دالله نه يره اوکړئ په باره دانصاف کولو کښې هغه به ستاسو کارونه سم کړی اوستاسو ګناهونه به او بخښی چاچه دالله اودهغه درسول تابعداری اوکړه نوهغه لويه کاميابی حاصله کړه (د محمد بن سليمان په روايت کښې دالحمدلله نه مخکښې لفظ د ،انّ، نشته).

توضيح الحديث

د حاجت نه مراد په ظاهره کښې حاجت نکاح دې، او په يو بل روايت کښې دی ﴿في خطبة الحاجة في النكاح وغيره﴾ چه د هغې نه د شوافعو تائيد کيږی ځکه چه د هغوی په نزد خطبه چه څنګه د عقد نکاح دپاره مسنون دې هم دغه شان عقد بيع وغيره نور عقود کښې هم مسنون دې. كذافي المنهل.

وړاندې په روايت کښې د تشهد نه پس داسې دی ﴿يَاأَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ﴾ حال دا چه مشهور قراءت داسې نه دې بلکه دا ده ﴿يَاأَيُّهَاالنَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ﴾ دا روايت په ترمذی کښې هم دې، په دې کښې د تشهد نه پس داسې دې، قال ويقراء ثلاث ايات قال عبثر ففسرها سفيان الثوری اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن الا وانتم

مسلمون، اتقوا الله الذی تساءلون به والارحام ان الله کان علیکم رقیبا. اتقوا الله وقولوا قولا سدیدا.
پوره آیت خو د ترمذی په روایت کښې هم نشته خو چه څومره ذکر دي هغه د مصحف مطابق دي په خلاف د ابوداود چه په هغې کښې دی ﴿یَاأَیُّهَاالَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْ تَسَاءَلُوْنَ بِهٖ وَالْأَرْحَامَ﴾ په دې کښې په بذل المجهود کښې د ملا علی قاری نه نقل دی ﴿هکذا فی نسخ المشکاة ﴾ والاذکار وتیسیر الاصول الی جامع الاصول، وبعض نسخ الحصن. بیا وړاندې دا دی چه علامه طیبی فرمائی ممکنه ده چه د ابن مسعود په مصحف کښې هم دغه شان وی، د دې نه روستو حضرت په بذل کښې لیکی اولی او مناسب دا ده چه په خطبه کښې آیت لره د قراءت متواتره موافق لوستل پکار دی.

دا مخکښې تیر شو چه د نکاح خطبه مسنون ده شرط نه ده، حافظ فرمائی : وقد شرطه فی النکاح بعض اهل الظاهر وهو شاذ (بذل) او امام ترمذی رحمه الله د خطبه نکاح د حدیث ذکر کولو نه پس لیکی وقد قال بعض اهل العلم ان النکاح جائز بغیر خطبة وهو قول سفیان الثوری وغیره من اهل العلم.

د خطبه نکاح روایات :

د دې نه پس ځان پوهه کړه د خطبة النکاح حدیث په صحیحین کښې په یو کښې هم نشته، البته امام بخاری ترجمة الباب ضرور قائم کړې ده، باب الخطبة. خو په هغه حدیث کښې ئې دخطبې تخریج نه دې کړې، حافظ فرمائی: وورد فی تفسیرخطبة النکاح احادیث من اشهرها ما اخرجه اصحاب السنن وصححه ابو عوانة وابن حبان عن ابن مسعود مرفوعا.اوبیا حافظ هم هغه حدیث ذکر کړې دې کوم چه دلته په ابوداود کښې دې، او امام طحاوی په شرح مشکل الاثار کښې په ډیر اهتمام سره د دې سلسې ډیر روایات راجمع کړې دی، هغه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنهما نه علاوه د یو بل صحابی نبیط بن شریط رضی الله عنه روایات ذکر کړې دی.

فائده : خطبه نکاح د کلام پاک په درې ایتونو باندې مشتمل وی چه په هغې کښې د هر یو شروع د امر بالتقوی نه ده. ﴿ یَاأَیُّهَاالنَّاسُ اتَّقُوا رَبَّکُمْ ، یا ایها الذین امنوا اتقوا الله حق تقاته، یا ایها الذین امنوا اتقوا الله وقولوا قولا سدیدا ﴾د خطبه مسنونه دا اسلوب قابل غور او قابل توجه دې چونکه په نکاح سره گویا یو مستقل ژوند شروع کیږی او هغه د تکثیر امت ذریعه ده په دې وجه خاص طور سره د نکاح په شروع کښې د تقوی او طهارت تعلیم فرمائیلې شوې دې د دې دپاره چه دا نکاح د اتقیاء په وجود کښې د راتلو ذریعه وی، بلکه دا چه په واده ښادئ لګیدلو سره انسان په عشرت او لهو لعب کښې اخته نه شی. والله الموفق

[۲۱۱۹] ( )حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ، عَنْ أَبِي عِيَاضٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا تَشَهَّدَ"، ذَكَرَ نَحْوَهُ، وَقَالَ بَعْدَ قَوْلِهِ: "وَرَسُولُهُ أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ، مَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ، وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَإِنَّهُ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ وَلَا يَضُرُّ اللَّهَ شَيْئًا".

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۶۳۶) (ضعیف)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به کله تشهد لوستلو بیا راوی حدیث داسې ذکر کړې دې، لیکن د ورسوله، نه پس ئې دا الفاظ زیات کړل أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيرًا تر آخره پورې یعنی لیږلې دې خپل رسول په رښتیا سره زیرې ورکونکې دې په جنت باندې و بیره ورکونکې دې ددوزخ نه، چاچه دالله اودهغه درسول تابعداری اوکړه نوهغه هدایت حاصل کړو اوچاچه دالله اودهغه درسول نافرمانی اوکړه نوهغه دخپل ځان نه علاوه دبل هیڅا نقصان ونکړو اودې الله ته هیڅ ضرر نشی ورسولې.

[۲۱۲۰]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا بَدَلُ بْنُ الْمُحَبَّرِ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْعَلَاءِ ابْنِ أَخِي شُعَيْبٍ الرَّازِيِّ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ، قَالَ: "خَطَبْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَامَةَ بِنْتَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَأَنْكَحَنِي مِنْ غَيْرِ أَنْ يَتَشَهَّدَ".

ترجمه: حضرت اسماعیل بن ابراهیم په بنی سلیم قبیله کښې دیو کس (یعنی عباد بن سلیم نه) نه روایت کوی چه وئیلې ئې وو چه مادنبی علیه السلام ترور امامه بنت عبدالمطلب ته دنکاح پیغام اولیږلو نبی علیه السلام بغیر دخطبی نه دهغې نکاح زماسره اوکړه.

توضیح الحدیث

د رجل نه مراد عباد بن شیبان السلمی رضی الله عنه دې کما فی تهذیب التهذیب... په دې حدیث کښې ﴿خطبت خطبة﴾ بکسر الخاء دې، عباد بن شیبان فرمائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې امامة بنت عبدالمطلب ته د نکاح پیغام اولیږلو نو هغه بغیر د خطبې نه زما نکاح د هغې سره اوکړه، معلومه شوه چه د نکاح خطبه ضروری نه ده.

تنبیه : دا امامه بنت عبدالمطلب په اصل کښې بنت ربیعه بن الحارث بن عبدالمطلب ده دلته په دې حدیث کښې د هغې نسبت د جد اعلی طرف ته کړې شوې دې کذا فی البذل. لهذا دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره د ځوئی لور شوه، صاحب منهل هم دا لیکلې دی، او صاحب عون المعبود لیکلې دی چه ﴿عمته صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾ گویا د هغه په نزد د عبدالمطلب طرف ته د هغې نسبت حقیقی دې نه دا چه د جد اعلی طرف ته نسبت دې، خو دا د حافظ وغیره د کلام خلاف ده، لهذا دې ته به د صاحب عون وهم وئیلې شی، بلکه دا چه صحیح دا ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تروریانو کښې سوا د صفیه بنت عبدالمطلب نه یوې هم اسلام نه دې قبول کړې، نو د اختلاف ملت په صورت کښې نکاح څنگه کیدې شی؟

د دې نه پس په مختصر د منذری کښې دا ملاؤ شوه : والحدیث اخرجه البخاری فی تاریخه الکبیر وذکر الاختلاف فیه وذکر فی بعضها خطبت الی النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمته، وفی بعضها الا انکحک امامة بنت ربیعة بن الحارث. او د هغې په حاشیه کښې شیخ احمد محمد شاکر لیکی چه دا حدیث د بیهقی په سنن کبری کښې هم دې او د هغه تحقیق هم دا دې چه دا امامة بنت ربیعه بن الحارث بن عبدالمطلب دې، په بعض روایاتو کښې هغه د جد اعلی طرف ته منسوب کړې شوې ده.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۳۰) (ضعیف)

بَابٌ فِي تَزْوِيجِ الصِّغَارِ
د نابالغه جينکو د نکاح بيان

[۲۱۲۱]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَأَبُو كَامِلٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا بِنْتُ سَبْعٍ، قَالَ سُلَيْمَانُ: أَوْ سِتٍّ. وَدَخَلَ بِي وَأَنَا بِنْتُ تِسْعٍ".

ترجمه: حضرت ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام زماسره نکاح اوکړه او په دې وخت کښې زما عمر اوه ۷ کاله وو اودسليمان په روايت کښې دی چه شپږ کاله او د نهو ۹ کاله په عمر کښې واده شوم

توضيح الحديث

رسول الله صلى الله عليه وسلم د عائشې رضي الله عنها سره نکاح د يو قول په بناء باندې د سيده خديجه رضي الله عنها د مرګ نه پس قبل هجرت، د هجرت والا په کال ئې اوفرمائيل او رخصتي ئې په شوال ۱ھ کښې اوشوه، دويم قول دا دې چه په ۲ هجرى کښې. د دې حديث د ترجمة الباب يعنى تزويج الصغار ثابته شوه چه دسيده عائشه رضي الله عنها نکاح دهغې پلار دشپږوکالو په عمر کښې اوکړه.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

د تزويج الصغيره په مسئله کښې اختلاف دې چه د هغې تفصيل دا دې چه صغيره که باکره ده، د هغې تزويج د پلار دپاره بالاتفاق جائز دې، او که هغه صغيره ثيبه ده نو په هغې کښې د ائمه اختلاف دې، د امام ابوحنيفه او امام مالک په نزد د پلار دپاره د هغې تزويج جائز دې، د امام شافعي رحمه الله په نزد ناجائز دې ځکه چه د صغر په وجه باندې خپله د هغې اجازت معتبر نه دې، او په وجه د ثيوبة پلار ته په هغې باندې د مجبوره کولوحق نشته لهذا د دې ترويج د هغې د بلوغ نه روستو کيدې شي. باقي پاتې شو مسلک حنابله نو د هغوی نه په دې کښې درې روايات دی، عدم الجواز مطلقا، الجواز مطلقا کما في المغني. او په دريم روايت کښې دا دی چه که صغيره د نهو کالو نه د کم عمر وه نو بيا خو د پلار دپاره د هغې نکاح جائز دې، او که نهه کاله يا د هغې نه زيات وی نو بيا د هغې نکاح بغير د هغې د اجازت نه جائز نه دی د حنابله مشهور قول هم دا دې، امام ترمذي رحمه الله د حنابله د دې مسلک دا دليل هم ليکلې دې، جامع ترمذي اوګورئ، ګويا د نهو کالو جينئ د بالغې په حکم کښې ده او د هغې اذن معتبر دې او کومه چه د نهو کالو نه کم دې هغه صغيره ده په هغې باندې پلار ته ولاية اجبار حاصل دې د دې نه معلوميږی چه د امام احمد رحمه الله په نزد صغر هم علت اجبار دې وقد اشرنا اليه في باب الولي. وهذا غاية التنقيح لهذه المسئلة والله اعلم بالصواب. دلته دوه مذاهب نور دی کما في البذل وغيره من الشروح.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۱۰۶، ۱۶۸۷۱)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/النكاح ۳۸ (۵۱۳۳)، ۳۹ (۵۱۳۴)، ۵۹ (۵۱۵۸)، صحيح مسلم/النكاح ۱۰ (۱۴۲۲)، سنن ابن ماجه/النكاح ۱۳ (۱۸۷۶)، سنن النسائي/النكاح ۲۹ (۳۲۵۷)، مسند احمد (۱۱۸/۶)، سنن الدارمي/النكاح ۵۶ (۲۳۰۷) (صحيح)

ابن شبرمه فرمائی چه دصغیره نکاح مطلقا ثیبه وی یا باکره چه ترڅو پورې بالغه نه شی د پلار جائز نه دی، او د دې بالمقابل د حسن بصری او ابراهیم نخعی مسلک دا دې چه د پلار دپاره د جینئ نکاح مطلقا جائز ده که وړه وی او که لویه وی، که باکره وی یا ثیبه وی که رضا وی او که رضانه وی والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْمَقَامِ عِنْدَ الْبِكْرِ

دباکرې ښځې سره د نکاح نه پس د تقسیم نه علاوه څوورځې تیرول پکاردی؟

مقام بضم المیم بمعنی الاقامة، او کوم چه ﴿مقام﴾ بفتح المیم دې هغه ظرف دې په ترجمة الباب کښې مصنف چه کومه مسئله ذکر فرمائی هغه دا ده چه که یو سړې دویم واده اوکړی د اولنئ زوجې په موجودګئ کښې نو اوس به دې نوې ناوې سره څومره وخت تیروی؟ نو د حدیث د ظاهر نه معلومیږی چه که هغه نوې ناوې باکره وی نو ابتداء دې د واده نه پس هغې سره اووه شپې تیرې کړی بغیر د قضاء نه، یعنی په دې اووه شپو کښې به عدل او برابری نه وی بلکه دا خالص د هغه حق او حصه ده، او که هغه ناوې ثیبه ده نو هغې سره دې په شروع کښې درې ورځې تیرې کړی یعنی دا شپې به د هغې حق وی، بیا د هغې نه روستو هم هغه عدل بین الزوجات واجب وی، او برابری کول به ضروری وی. دا د باکرې دپاره چه کومې اووه شپې دی او د ثیبه دپاره درې شپې دی دې ته حق الزفاف للمزفوفه وئیلې شی، بیا د بعض روایاتو نه دا معلومیږی چه دویمه ښځه کومه چه ثیبه ده که په درې شپو باندې راضی نه وی بلکه هغه هم د باکره په شان د خاوند نه د اووه شپو مطالبه کوی نو صحیح ده د هغې سره دې هم اووه ورځې قیام اوکړی خو په دې دویم صورت کښې به قضاء واجب وی، یعنی بیا به د قدیمه سره هم اووه شپې تیروی ګویا هغه درې ورځې کومې چه خاص د هغې دپاره وې هغه به ساقطې شی.

په حق الزفاف للمزفوفه کښې اختلاف ائمه :

کومه تشریح چه مونږ بیان کړې ده هغه د امام شافعی او امام احمد مسلک دې د حدیث د ظاهر پیش نظر، امام مالک اګر چه د شوافع په شان د حق زفاف قائل دې خو هغه د ثیبه په حق کښې د تخییر قائل نه دې، بلکه د هغه په نزد چه څنګه د باکره دپاره اووه شپې بغیر د اختیار نه دی هم دغه شان د ثیبه دپاره هم درې شپې بغیر د اختیار نه دی، د دې اختیار ذکر په بعض روایاتو کښې راځی او په بعض کښې نه راځی نو ګویا د شوافع او حنابله عمل خو په ټول احادیث الباب باندې شو او د امام مالک په نزد په احادیث الباب کښې په بعض باندې عمل اوشو او په بعض باندې نه، او حضرات احناف د دې حق زفاف یعنی فضیلت دنوې په زړه باندې بالکل قائل نه دی، احناف د احادیث الباب دا توجیه فرمائی چه په کومو احادیثو کښې فضیلت دنوې په زړه باندې ثابتیږی هغه صرف د ابتداء په اعتبار سره دې یعنی بیتوتت (شپې تیرولو) په ابتداء کښې د دې نوې ناوې سره اوکړی، پس که هغه باکره وی نو اووه شپې دې مسلسل هغې سره تیرې کړی یعنی بیا دې د بقیه ازواج سره هم دغه شان اووه شپې تیرې کړی، او که هغه بله ثیبه ده نو په شروع کښې

دې د هغې سره درې ورځې تيرې کړې يعنی بيا دې د نورو ازواجو سره هم دغه شان درې درې شپې تيرې کړې. نو ګويا د هغوی په نزد دا تفضيل د دورې د ابتداء په اعتبار سره دې مطلقا نه دې، يعنی د شپې تيرولو ابتداء به د دې جديده نه وی فقط. نه دا چه دومره شپې هغه د هغې مستقل حق دې. والله تعالی اعلم. په ترجمة الباب کښې اګر چه مصنف صرف عند البکر بيان کړې دې خو مراد عند البکر والثيب دې ځکه چه په احاديث الباب کښې بکر او ثيب دواړو حکم مذکور دې، او په داسې موقعو باندې داسې وئيلې شی چه دا تعبير د ﴿سرابيل تقيکم الحر﴾ د قبيل نه دې يعنی ﴿والبرد﴾ احد الضدين، په ذکر باندې اکتفاء کوی ځکه چه د يو ضد په ذکر کولو سره د ضد اخر طرف ته په خپل ذهن منتقل کيږی.

[۲۱۲۲] (¹) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: "لَيْسَ بِكِ عَلَى أَهْلِكِ هَوَانٌ، إِنْ شِئْتِ سَبَّعْتُ لَكِ وَإِنْ سَبَّعْتُ لَكِ سَبَّعْتُ لِنِسَائِي".

ترجمه: حضرت ابوبکر رضی الله عنه دخپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام کله دام سلمه رضی الله عنها سره نکاح اوکړله نودری شپی ئې ورسره تيری کړی او بيائی اوفرمائيل زما ستاسره دری شپی تيرول ستا اوستادقوم ' دپار دشرم خبره نه ده که چرې ستاخوښه وی نو اوه شپی به درسره تيری کړم اوکه چرې ستاسره اوه شپی تيری کړم نو بيا به دنورو بيبيانوسره هم اوه اوه شپی تيروم.

شرح الحديث

د سيده ام سلمه رضی الله عنها سره چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم نکاح اوفرمائيله نو چونکه هغه ثيبه وه په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم په شروع کښې هغې سره درې شپې پاتې شوې وو او هغې ته ئې اوفرمائيل چه ته زما په نزد د کمې مرتبې والا نه ئې لهذا د باکره په شان زه تا سره اووه شپې هم ايساريدې شم، خو د دې تسبيع (اووه شپو) په صورت کښې به د دې اووه شپو قضاء وی يعنی د نورو کره به هم اووه اووه شپې ايساريږم.

په دې حديث کښې دثيبه په حق کښې تخيير مذکوردې چه دهغې امام احمد اوامام شافعی قائل دی، دا په ظاهره کښې د امام مالک خلاف دې، ﴿ليس بک علی اهلک﴾ کښې د اهل نه څه مراد دې؟ په دې کښې دوه اقوال دی يو هغه کوم چه پورته ذکر شو، دويم دا چه ددې نه دام سلمه رضی الله عنها د کور خلق مراد دی. والحديث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۱۲۳] (²) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ هُشَيْمٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "لَمَّا أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفِيَّةَ، أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا". زَادَ عُثْمَانُ: "وَكَانَتْ ثَيِّبًا". وَقَالَ: حَدَّثَنِي هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، أَخْبَرَنَا أَنَسٌ.

---

¹): صحيح مسلم/الرضاع ۱۲ (۱۴۶۰)، سنن ابن ماجه/النكاح ۲۶ (۱۹۱۷)، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۲۹)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى/ عشرة النساء (۸۹۲۵)، موطا امام مالك/النكاح ٥(١٤)، مسند احمد (۲۹۲/٦، ۲۹٦، ۳۰۷)، سنن الدارمي/النكاح ۲۷ (۲۲٥٦) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۸٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۹/۳) (صحيح)

ترجمه: دحضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي كله چه نبي عليه السلام صفية رضي الله عنها سره نكاح اوكړه نودرې شپې ئې ورسره تيرې كړې، دعثمان په روايت كښې ورسره دا اضافه ده چه هغه كونډه وه.

[٢١٢٤](١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، وَإِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "إِذَا تَزَوَّجَ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا، وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا"، وَلَوْ قُلْتُ: إِنَّهُ رَفَعَهُ لَصَدَقْتُ، وَلَكِنَّهُ قَالَ: "السُّنَّةُ كَذَلِكَ".

ترجمه: دحضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه كله به يوكس دخلوت شده ښځې با وجود د باكره جينئ سره نكاح اوكړه نو د باكره جينئ سره به ئې اوه شپې تيرولې. اوچه كله به ئې خلوت شده ښځه په خلوت شده ښځه و باندې اوكړله نوتردرې شپوپورې به ورسره وو، راوي وائي كه چرې زه ووايم چه دا حديث أنس رضي الله عنه مرفوع بيان كړې دې نورښتيابه وي ليكن انس ووئيل چه سنت عمل همداسې وي.

توضيح الحديث

په دې حديث كښې د ثيبه دپاره اختيار مذكور نه دې، د مالكيانو پيش نظر هم دا حديث دې، په دې وجه هغوی د اختيار قائل نه دی.

د احنافو د طرف نه د حديث الباب جواب:

د دې نه پس تاسو په دې ځان پوهه كړئ چه حضرات احناف په دې مسئله كښې ظاهر حديث لره نه دې اختيار كړې ځكه چه جمهور علماء كرام چه د دې احاديث كوم مطلب اخلي دا احاديث په هغې كښې نص او صريح نه دی، او دا انصاف د بيبيانو په منځ كښې مسئله ډيره اهم او نازكه ده د نص قطعي نه د عدل وجوب ثابت دې. قال تعالى: ﴿ولن تستطيعوا ان تعدلوا بين النساء ولو حرصتم فلا تميلوا كل الميل فتذروها كالمعلقة﴾دغه شان ډير حديثونو كښې برابر والې نه كول او دبيبيا نو په منځ كښې د انصاف (برابری) پرينښودلو باندې سخته زورنه راغلې ده په دې وجه احنافو احاديث الباب كوم چه محتمل وو احتياطا په دې معنى باندې محمول نه كړل چه په كوم باندې ئې دا جمهور حضرات كوی بلكه په هغه معنى باندې ئې محمول كړل كوم چه د باب په شروع كښې تير شو، امام طحاوی د جمهورو په مسلك باندې سوال كړې دې او هغه دا چه په ثيبه كښې كه درې ورځې د هغه خپل حق وو نو د تسبيع په صورت كښې هغه ساقط ولې شو، او قضاء پوره د اووه ورځو ولې وی، بلكه درې ورځې مستثنى كيدو سره قضاء صرف د څلورو ورځو كيدل پكار دی، حال دا چه داسې نه ده.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم وابن ماجة قاله المنذری (٢)

(١): صحيح البخاري/النكاح ١٠٠ (٥٢١٣)، ١٠١ (٥٢١٤)، صحيح مسلم/الرضاع ١٢ (١٤٦١)، سنن الترمذي/النكاح ٤٠ (١١٣٩)، سنن ابن ماجه/النكاح ٢٦ (١٩١٦)، (تحفة الأشراف: ٩٤٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النكاح ٥(١٥)، سنن الدارمي/النكاح ٢٧ (٢٢٥٥) (صحيح)

(٢) الحديث الاول من افراد مسلم وفيه ذكر التخيير بخلاف هذا الحديث المتفق عليه.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَدْخُلُ بِامْرَأَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُنْقِدَهَا شَيْئًا

د نکاح نه پس ښځې ته د خلوت نه مخکښې څه ورکول پکار دي

يعنى د نكاح نه روستو د مهر د ادا كولو نه مخكښې خاوند د خپلې بى بى سره وطى كولې شى يا نه؟ قال الشوكانى اتفقوا على انه لا يحب على الزوج تسليم المهر الى المراءة قبل الدخول، په دې كښې د احنافو مسلک دا دې چه دا خو صحيح ده چه په خاوند باندې د مهر ادا كول قبل الدخول واجب نه دى، خو للمراءة حق المنع عن تمكين الزوج قبل اداء المهر... يعنى كه زنانه غواړى نو د مهر ادا كولو نه مخكښې ورته د مهر ادا كولو حق حاصل دې هغه خاوند لره د وطى نه منع كولې شى.

[٢١٢٥]()حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا تَزَوَّجَ عَلِيٌّ فَاطِمَةَ، قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطِهَا شَيْئًا"، قَالَ: مَا عِنْدِي شَيْءٌ، قَالَ: "أَيْنَ دِرْعُكَ الْحُطَمِيَّةُ".

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى فرمائى چه كله على رضي الله عنه دفاطمي رضي الله عنها سره نكاح اوكړله نونبى عليه السلام ورته اوفرمائيل څه شى ورته وركړه على رضي الله عنه ووئيل هيڅ راسره نشته، نبى عليه السلام ورته او فرمائيل ستاحطمى زغره چرته ده؟

توضيح الحديث

يعنى كله چه د سيدنا على رضي الله عنه د سيده فاطمه رضي الله عنها سره نكاح اوشوه او د رخصت كيدو وخت راغلو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم على رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه دې ته څه وركړه، هغه عرض اوكړو ما سره هيڅ نشته. په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه تا سره چه كومه حطمى زغره وه هغه چرته ده؟ هغه حطمى زغره خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته وركړې وه د غنائم بدر نه، او وړاندې په روايت كښې راځى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائيل : ﴿اعطها درعک فاعطاها درعة ثم دخل بها﴾

دلته دا شبه راځى چه د واده په شپه كښې او د رخصت كيدو په موقع باندې د زغرې وركول څه مناسبت لرلو، زغره خو د جنگ په موقع باندې په كار راتلونكې څيز دې؟ د دې جواب دا دې چه د درع نه مراد ثمن درع دې، او په منهل كښې ليكلې دى د درع د قيمت په باره كښې چه هغه څلور سوه اتيا درهم وو، او د مولانا يوسف صاحب په حياة الصحابه ص ٦٦١ كښې مې څه وخت كتلې وو په هغې كښې دى چه هغه زغره على رضي الله عنه په عثمان باندې خرخه كړې وه، او هم دغه شان د مولانا ادريس كاندهلوى صاحب په سيرة المصطفى ١٧١/٢ كښې هم دا مضمون دې، اصل كښې روايات د هغې په ثمن كښې مختلف دى ترديې چه يو روايت دا هم دې ﴿لا تساوى اربعة دراهم﴾او د ظاهر حديث نه دې دا خيال اونكړې شى چه د فاطمه رضي الله عنها مهر معين نه وو ځكه چه دلته چه د كوم مهر ذكر دې دا

(): سنن النسائي/النكاح ٧٦ (٣٣٧٨)، (تحفة الأشراف: ٦٠٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨/١) (حسن صحيح)

خو هغه دې کوم ته چه مهر معجل وئيلې شي (١) يعنی د مخ ښکاره کولو چه کومې پيسې خاوند ته په اوله شپه ورکوی (كرامة وتانيسا) د خپل قرب او مانوس کولو دپاره. والحديث اخرجه النسائی قاله المنذری.

[٢١٢٦](٢)حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ الْحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو حَيْوَةَ، عَنْ شُعَيْبٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي حَمْزَةَ، حَدَّثَنِي غَيْلَانُ بْنُ أَنَسٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ عَلِيًّا لَمَّا تَزَوَّجَ فَاطِمَةَ بِنْتَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَأَرَادَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا فَمَنَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى يُعْطِيَهَا شَيْئًا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَيْسَ لِي شَيْءٌ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطِهَا دِرْعَكَ"، فَأَعْطَاهَا دِرْعَهُ ثُمَّ دَخَلَ بِهَا.

ترجمه: حضرت عبدالرحمن بن ثوبان په صحابه کرامو کښې د يو کس نه روايت کوی فرمائی چه علی رضی الله عنه کله دفاطمه بنت رسول الله ﷺ سره نکاح اوکړه او اراده ئې اوکړه چه خلوت ورسره اوکړی نو نبی علیه السلام منع کړو تردې چه څه شی ورته ورکړی، هغه عرض اوکړو اې دالله رسوله هيڅ شی راسره نشته، نبی علیه السلام ورته اوفرمائيل هغه زغره دی ورته ورکړه، نو هغه ورته خپله زغره ورکړه او بيائی ددې نه پس ورسره خلوت اوکړو.

[٢١٢٧](٣)حَدَّثَنَا كَثِيرٌ يَعْنِي ابْنَ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو حَيْوَةَ، عَنْ شُعَيْبٍ، عَنْ غَيْلَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، مِثْلَهُ.

ترجمه: حضرت عکرمه دابن عباس رضی الله عنهما نه دتيرشوی روايت په شان روايت نقل کړی دی.

[٢١٢٨](٤)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ طَلْحَةَ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُدْخِلَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا قَبْلَ أَنْ يُعْطِيَهَا شَيْئًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَخَيْثَمَةُ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عَائِشَةَ.

ترجمه: دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام راته حکم وکړو ديوې زنانه په باره کښې چه خپل خاوند ته ئې ورسوه، مخکښې ددې نه چه دهمبسترئ نه مخکښې ئې ورته څه ورکړی وی. امام ابوداود وائی چه دخيثمه سماع دعائشې رضی الله عنها نه ثابته نده.

[٢١٢٩](٥)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ الْبُرْسَانِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ نُكِحَتْ عَلَى صَدَاقٍ أَوْ حِبَاءٍ أَوْ عِدَةٍ قَبْلَ عِصْمَةِ النِّكَاحِ فَهُوَ لَهَا، وَمَا كَانَ بَعْدَ عِصْمَةِ النِّكَاحِ فَهُوَ لِمَنْ أُعْطِيَهُ، وَأَحَقُّ مَا أُكْرِمَ عَلَيْهِ الرَّجُلُ ابْنَتُهُ أَوْ أُخْتُهُ".

ترجمه: حضرت عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه

(١) خو که د دې زغرې قيمت څلور سوه او اتيا درهم اومنلې شی نو بيا به دا وئيلې شی چه په مهر معجل به هم دا وه او ټول مهر هم دا وو.
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٦٨) (ضعيف)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١٨٤) (ضعيف)
(٤): سنن ابن ماجه/النكاح ٥٤ (١٦٠٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٦٩) (ضعيف)
(٥): سنن النسائي/النكاح ٦٧ (٣٣٥٥)، سنن ابن ماجه/النكاح ٤١ (١٩٥٥)، (تحفة الأشراف: ٨٧٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٨٢) (ضعيف)

نبي ﷺ فرمائیلي دي هره یوه ښځه چه په عطیه یامهریاپه وعده باندې نکاح اوکړي دنکاح نه وړاندې میلاویدونکې ځیز دښځې به وي او دنکاح نه پس کوم ځیز چې ملاو شونو دهغه چا به وي چاته چې میلاو شي (انعام وغیره) سړې چې دکوم ځیز په وجه باندې دځپل عزت یا اکرام مستحق دې هغه دده لور یا خور ده سړي ته دخور یا لورپه وجه ورکړي شي.

توضیح الحدیث

دا حدیث په ابن ماجه کښې هم دی هغه په دې باندې ترجمه قائم کړې ده "باب الشرط فی النکاح" او په بیهقی کښې هم دی او د دې ترجمه ده "باب الشرط فی المهر"

شرح الحدیث ومذاهب العلماء :

او حاصل معنی د دې حدیث دا ده چه د عقد نکاح نه مخکښې زنانه یا د زنانه اولیاء د طرف نه د مهر سره چه نور بعض شرطونه هم لګولې دي ورکړه وغیره، مثلا سړي ته اوئیلې شو چه د زنانه فلانۍ عزیز ته به دا ورکولې شي او فلانۍ ته به دا ورکول وي مثلا کپړه، پیزار او دغه شان ځیزونه نو په دې حدیث کښې دي چه د داسې لین دین چه کومه وعده وي نو هغه ځیز به د هغه سړي دپاره نه وي د کوم دپاره چه نامزد کړې شوې دي بلکه دا ټول ځیزونه به د زنانه دپاره وي ځنګه چه مهر صرف د زنانو دپاره دي، او که دا د لین دین خبره د عقد نکاح نه روستو وي نو د چا په نوم چه ورکولې شي هم د هغه به وي، دا خو ده د حدیث معنی. اوس دا چه فقهاء کرام څه فرمائی او په دې حدیث باندې د چا عمل دې پس د هغه په باره کښې په شروع کښې دا لیکلې دي چه د جمهور علماء کرامو په دې باندې عمل نه دې. او! سفیان ثوری، عمر بن عبدالعزیز او امام مالک هم د دې قائل دی کوم چه په دې حدیث کښې دی، او د امام احمد مسلک دا دې چه هم دغه شان به کیږي چه ځنګه په دې حدیث کښې دی، خو د دې نه پلار مستثنی دې یعنی د جینۍ د پلار دپاره تسمیه صحیح ده هغه به هم هغه ته ملاویږي او د امام شافعي رحمه الله په نزد په داسې صورت کښې (چه هر کله د مهر سره نور ځیزونه شرط کړې شوې وي) تسمیه مهر به باطل شي لهذا صرف مهر مثل به باقي پاتې شي، د احنافو په نزد چه د مهر سره کوم شرط لګولې شي هغه شرط هم صحیح او لازم دې او تسمیه هم صحیح ده، دا حدیث په بلوغ المرام کښې هم دې په هغې کښې دی رواه احمد والاربعة الا الترمذی او د هغې په شرح سبل السلام کښې ئې په دې حدیث باندې ښه کلام کړې دې، مذاهب ائمه ئې هم لیکلې دی، د احنافو او شوافعو مذهب ئې هم هغه لیکلې دې کوم چه پورته مذکور شو، د تشریح مذکور نه معلومه شوه چه دا حدیث د احنافو او شوافعو خلاف دې، جواب دا کیدې شي چه دا حدیث د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده په سند سره دې چه په هغې باندې کلام مشهور دې.

﴿واحق ما اکرم علیه الرجل ابنته واخته﴾ او هغه ځیز چه د هغې په وجه باندې انسان د اکرام او احسان زیات مستحق کیږي هغه د هغه لور او خور ده.

د ښځې د خپلوانو سره حسن سلوک :

یعنی د کوم سړي په نکاح کښې چه د کوم سړي لور وي یعنی د انسان سخر، یا د هغه خور

وی یعنی د زنانه نسبتی رور او اوښې، دا ډیر قابل اکرام او قابل احسان دی، د دې حدیث نه معلومه شوه چه انسان لره د خپل سخر او اوښی سره د اکرام او احسان معامله کول پکار دی، ځکه چه د هغه دواړو کسانو ډیر لوئې احسان دې، پس متل مشهور دې چه چا خپله لور ورکړه هغه خپل هر څه ورکړل، نو بیا به هغه د احسان مستحق ولې نه وی، د اکرام نه مراد صرف تعظیم نه دې بلکه ورکړه ده، په دې حدیث کښې د حسن معاشرت په بهترین شکل کښې تعلیم او تلقین دې پس چه کله د ښځې د پلار او رور سره د حسن سلوک او احسان دومره تاکید دې نو خپله د ښځې سره د دې موکد کیدل ظاهر دی. والله الموفق

بَابُ مَا يُقَالُ لِلْمُتَزَوِّجِ

نکاح کونکی ته به مبارکبادی څنګه ورکولې شی؟

[٢١٣٠](¹)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَّأَ الْإِنْسَانَ إِذَا تَزَوَّجَ، قَالَ: "بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ".

ترجمه: حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دخلقودنکاح په وخت کښې ورته وئیل چه دادعاوائی: قال«بارك الله لك وبارك عليك وجمع بينكما في خير»

د نوی واده کونکی دپاره دعا :

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم نوی واده کونکی ته مبارکی په دې الفاظو سره ورکوله، او په زمانه جاهلیت کښې مشرکین عرب "بالرفاء والبنين"دعا به ئې ورکوله. د رفاء معنی التهام او اتفاق یعنی جوړ او یوځائې کیدل، او په بنین سره اشاره وه د کراهت بنات طرف ته، مطلب دا شو چه الله پاک دې ستاسو ترمینځه تعلق قائم ساتی او نارینه اولاد دې درکړی، په اسلام کښې د دې په ځائې مذکوره مسنون دعا مشروع کړې شوې ده.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة وقال الترمذی، حسن صحيح قاله المنذری.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ فَيَجِدُهَا حُبْلَى

دهغه کس بیان چه دچا سره نکاح وکړی او خپله ښځه په داسې حال کښې ووینی چه حامله وی

[٢١٣١](²)حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبِي السَّرِيِّ الْمَعْنَى، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، قَالَ ابْنُ أَبِي السَّرِيِّ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ مِنَ الْأَنْصَارِ، ثُمَّ اتَّفَقُوا، يُقَالُ لَهُ: بَصْرَةُ، قَالَ: تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً بِكْرًا فِي سِتْرِهَا، فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا فَإِذَا هِيَ حُبْلَى، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَهَا الصَّدَاقُ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَالْوَلَدُ عَبْدٌ لَكَ، فَإِذَا وَلَدَتْ، قَالَ الْحَسَنُ: فَاجْلِدْهَا، وَقَالَ ابْنُ أَبِي السَّرِيِّ: فَاجْلِدُوهَا، أَوْ قَالَ: فَحُدُّوهَا". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ قَتَادَةُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ الْمُسَيِّبِ، وَرَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، وَعَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، أَرْسَلُوهُ كُلُّهُمْ، وَفِي حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، أَنَّ

¹): سنن الترمذي/النكاح ٧ (١٠٩١)، سنن ابن ماجه/النكاح ٢٣ (١٩٠٥)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٢٥٩)، (تحفة الأشراف: ١٢٦٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨١/٢)،سنن الدارمي/النكاح ٦ (٢٢١٩) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٢٤ و ١٨٧٥٦) (ضعيف)

بَصْرَةَ بْنَ أَكْثَمَ نَكَحَ امْرَأَةً، وَكُلُّهُمْ قَالَ فِي حَدِيثِهِ: جَعَلَ الْوَلَدَ عَبْدًا لَهُ.

ترجمه: د بصرة رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه دیوی پرده داری پیغلی جینئ سره مې نکاح اوکړه زه و چه کله ورنزدې شوم نوهغه حامله وه، مانبی ﷺ ته ددې خبری تذکره اوکړله هغه اوفرمائیل هغه زنانه دمهر حقداره ده ځکه چه تادهغې فرج ځان ته حلال کړی دی، کله چې ددې څوی اوشی هغه به، ستاغلام وی اوکله چه ددې ولادت وشی نودحسن په روایت کښې دی چې په کوړه ئې اوهه (دواحد صیغې سره) او دابن سری په روایت کښې دی چې په کوړو سره ئې اوهې دجمع صیغې سره یا نبی ﷺ خره ائیلې دی چې حد پرې جاری کړې. امام ابوداود وائی چه دا حدیث قتاده دسعید بن یزیدنه هغه دابن المسیب، نه اوهمدارنګی یحی بن أبی کثیردیزیدبن نعیم نه هغه، دسعید بن المسیب اوعطاء خراسانی نه اوټولومرسل بیان کړی دی او په حدیث دیحی بن أبی کثیر کښې دا اضافه ده چه بصره بن اکثم دیوی زنانه سره نکاح اوکړه اودټولو راویانوپه روایتونوکښې داسې الفاظ دی چه دهغې بنځې څوی ئې دده غلام کړو.

تشریح: ﴿عن رجل من الانصار يقال له بصرة قال تزوجت امراة بكرا فى سترها الخ﴾

بصره بن اکثم فرمائی چه ما د یوې پیغلې او نا واده کړې جینئ سره واده اوکړو په داسې حال کښې چه هغه لا تر اوسه پورې په خپله پرده کښې وه یعنی نکاح کولو سره به د یو سړی مخې ته نه راتله خو چه کله زه د هغه خواته راغلم نو ما اوکتله چه هغه حامله ده، دا قصه رسول الله ﷺ ته اورسیده نو هغه اوفرمائیل ﴿لها الصداق بما استحللت من فرجها﴾ یعنی نکاح چونکه صحیح شوه نو زنانه ته به مهر ورکولې شی، هم دغه شان اوفرمائیل ﴿والولد عبد لک﴾ دا کلام په خپل ظاهر باندې نه دې ځکه چه ولد حره بالاتفاق حر وی اګر چه هغه ولد زنا وی په دې وجه علماء کرامو د دې مطلب دا لیکلې دې چه دې پیدا کیدونکی ماشوم نه د ولد زنا کیدو د وجې نه تاته په دې وجه نفرت نه دی کیدل پکار بلکه د هغه سره د احسان معامله کول ځنګه چه انسان د خپل غلام سره د احسان معامله کوی.

﴿فاذا ولدت فاجلدها﴾ د جلد ثبوت بغیر د زنا د ثبوت نه نه کیږی او د زنا ثبوت بغیر د اعتراف یا شهادت نه نه کیږی لهذا مطلب دا شو چه که هغه زنانه د زنا اعتراف اوکړی نو په هغې باندې دې حد زر جاری کړې شی، د جمهورو قول هم دا دې په دې کښې د امام مالک رحمه الله اختلاف دې، د هغه په نزد ثبوت حد او زنا دپاره وجود حمل کافی دې لهذا دا حدیث د هغه په نزد په خپل ظاهر باندې دې تاویل ته محتاج نه دې او د جمهورو په نزد یا خو په اعتراف زنا باندې محمول دې او یا دا په خائې د حد په تعزیر او تادیب باندې محمول کول پکار دی والحديث اخرجه البيهقى قاله فى المنهل.

[٢١٣٢] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَلِيٌّ يَعْنِي ابْنَ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ: بَصْرَةُ بْنُ أَكْثَمَ نَكَحَ امْرَأَةً، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، زَادَ: وَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا، وَحَدِيثُ ابْنِ جُرَيْجٍ أَتَمُّ.

(١). تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢١٢٤، ١٨٧٥٦) (ضعيف)

ترجمه: حضرت سعید بن مسیب نه دتیرشوی روایت په شان روایت نقل کړی شوی دی مګر ددې اضافی سره چه بیانی ددوی په مینځ کښې جدائی راوستله (طلاق) اوحدیث دابن جریج ډیرکامل دې.

تشریح: ﴿ فذكر معناه زاد : وفرق بينهما ﴾ په دې دویم روایت کښې دا زیادت دې چه د دې دواړو ښځې او خاوند ترمینځه ئې جدائی راوستله د دې زیادت د ظاهر نه خو دا معلومیږی چه دا نکاح صحیح نه وه حال دا چه بالاتفاق نکاح خو صحیح ده د زانیه سره هم په دې وجه باندې هغه د مهر فیصله هم اوفرمائیله. پس ممکنه ده چه رسول الله ﷺ د هغوی ترمینځه تفریق د هغوی په طلب او خواهش باندې راوستلې وی. یعنی خاوند د رسول الله ﷺ نه د دې طلاق اجازت غوښتلې وی او هغه ورته اجازت ورکړو. او یا دا اوئیلې شی چه دلته د تفریق نه مراد په اعتبار د وطی دې ځکه چه هغه زنانه د زنا نه حبلی وه، فوری او موجوده حالت کښې د خاوند دپاره د هغې قربان کول جائز نه وو (بذل)

وهذه التعاليق اخرجها البيهقي قاله في المنهل.

بَابٌ فِي الْقَسْمِ بَيْنَ النِّسَاءِ

د ښځو په مینځ کښې دا نصاف کولو او دشپود تقسیم بیان

د قسم نه مراد عدل او نمبر مقرر کول دی د تعدد ازواج په صورت کښې.

[۲۱۳۳](۱) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ".

ترجمه: حضرت ابوهریره (رض) نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دچاچه دوه ښځې وی او دیوی طرف ته ورکوږ شی (یعنی توجه ورته زیاته کړی اودبلې خیال نه ساتی نودقیامت په ورځ به په داسې حال کښې راشی چه دجسم یوه حصه به ئې شله وي.

تشریح: ﴿من كانت له امراتان فمال الى احدهما جاء يوم القيامة وشقه مائل ﴾

په دې حدیث کښې په ترک عدل باندې وعید دې چه کوم سړې په دوه ښځو کښې برابری نه کوی بلکه د یوې طرف ته مائل وی نو هغه ته په سزا هم دا قسم ورکولې شی یعنی میدان حشر ته چه کله هغه راشی نو د هغه د بدن یوه حصه به ښکته شوې وی.

والحديث اخرجه الترمذي والنسائي وابن ماجة قاله المنذري.

[۲۱۳۴](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ فَيَعْدِلُ، وَيَقُولُ: "اللَّهُمَّ هَذَا قَسْمِي فِيمَا أَمْلِكُ، فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: يَعْنِي الْقَلْبَ.

---

(۱): سنن الترمذي/النكاح ۴۱ (۱۱۴۱)، سنن النسائي/عشرة النساء ۲ (۳۹۹۴)، سنن ابن ماجه/النكاح ۴۷ (۱۹۶۹)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۱۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۹۵، ۳۴۷، ۴۷۱)، سنن الدارمي/النكاح ۲۴ (۲۲۵۲) (صحيح)

(۲): سنن الترمذي/النكاح ۴۱ (۱۱۴۰)، سنن النسائي/عشرة النساء ۲ (۳۳۹۵)، سنن ابن ماجه/النكاح ۴۷ (۱۹۷۱)، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۹۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۴۴)، سنن الدارمي/النكاح ۲۵ (۲۲۵۳) (ضعيف)

ترجمه: حضرت ام المومنين عائشة ﷺ روايت دي فرمائي چه نبي ﷺ به زمونږ په مينځ کښې دشپو تقسيم کولو او دخپلو بيبيانو په مينځ کښې به ئې انصاف کولو او فرمائيل به ئې اې الله زما دا تقسيم په داسې کارکښې دې دکوم چه زماسره اختياردې اوزه ئې مالك يم خودکوم کارچه ته مالك ئې اوزما په اختيارکښې نشته نوپه هغې باندې ما ملامت نکړې يعني دکوشش باوجود که چرې کمی بی بی ته رغبت زيات شی نوهغه راته معاف کړې).

توضيح الحديث

په دې باندې خو د ټولو اتفاق دې چه د رسول الله ﷺ عادت شريفه او معمول د زوجات ترمينځه برابری کول وو خو په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دې چه په هغه باندې دا برابری واجب وه يا که هغه به په خپل اختيار سره فرمائيلو. بهرحال د عدل او برابرئ باوجود به رسول الله ﷺ دا دعا کوله کومه چه په حديث کښې ذکر شوې ده چه د هغې مطلب دې يا الله! په کومو څيزونو کښې چه برابری کول زما په اختيار کښې دی هغه خو زه کوم او په کوم څيز کښې چه برابری زما په اختيار کښې نه ده يعني غير اختياری طور د يوې ښځې سره محبت کول ته په هغې کښې ما معاف کړه.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۱۳۵]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ: "يَا ابْنَ أُخْتِي، كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُفَضِّلُ بَعْضَنَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْقَسْمِ مِنْ مُكْثِهِ عِنْدَنَا، وَكَانَ قَلَّ يَوْمٌ إِلَّا وَهُوَ يَطُوفُ عَلَيْنَا جَمِيعًا، فَيَدْنُو مِنْ كُلِّ امْرَأَةٍ مِنْ غَيْرِ مَسِيسٍ حَتَّى يَبْلُغَ إِلَى الَّتِي هُوَ يَوْمُهَا فَيَبِيتَ عِنْدَهَا، وَلَقَدْ قَالَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ حِينَ أَسَنَّتْ وَفَرِقَتْ أَنْ يُفَارِقَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، يَوْمِي لِعَائِشَةَ، فَقَبِلَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا، قَالَتْ: نَقُولُ فِي ذَلِكَ أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى، وَفِي أَشْبَاهِهَا أُرَاهُ، قَالَ: وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا [سورة النساء آية ۱۲۸]".

ترجمه: حضرت عروه روايت دې فرمائي چه ام المومنين عائشه ﷺ فرمائيلی دی اې زما د خور بچيه نبي ﷺ به دشپو په تقسيم کښې پخپلو بيبيانوکښې يوی ته په بلی فضيلت نه ورکولو يعني زمونږ سره په وخت تيرولوکښې. اوداسې به ډيرکم وو چه هغه به مونږ ټولو ته نه راتلو اود لاس وړلو نه بغير به نبي ﷺ ټولو ته نزدې ووکومې بی بی ته به ئې چه لاس ونه لږولو تردې پورې چه نبي ﷺ به کله هغه بی بی ته ورغې دچا چه به دشپې نمبر وو نوهمبستری به ئې اوکړله. کله چه سوده ﷺ بوډئ شوه اودا وېره ورسره پيدا شوه هسې نه چه نبي ﷺ مې پريږدی نوپه دی وجه هغې خپل نمبر عائشه ﷺ ته اوبخښلو نبي ﷺ داخبره منظور کړه او ددې معاملې په شان نور معاملات په دې آيت کريمه: («وان امرأة خافت من بعلها نشوزا») کښې نازل شول که چرته ښځې ته د خپل خاوند د بد مزاج ويره وه.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۰۲٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/النكاح ۹۹ (۵۲۱۲)، صحيح مسلم/التفسير ۱ (۳۰۲۲)، مسند احمد (٦/۱۰۷) (حسن صحيح)

[۲۱۳۶]()حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ مُعَاذَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْذِنُنَا إِذَا كَانَ فِي يَوْمِ الْمَرْأَةِ مِنَّا بَعْدَمَا نَزَلَتْ: تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ سورة الأحزاب آية ٥١"، قَالَتْ مُعَاذَةُ: فَقُلْتُ لَهَا: مَا كُنْتِ تَقُولِينَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَتْ: كُنْتُ أَقُولُ: "إِنْ كَانَ ذَلِكَ إِلَيَّ لَمْ أُوثِرْ أَحَدًا عَلَى نَفْسِي".

ترجمه: حضرت ام المومنین عائشة رضی الله عنها روایت دي: فرمائی چه دذکرشوی آیت: («ترجي من تشاء منهن وتؤوي إليك من تشاء») د دنازليدونه پس یعنی دچادپاره چه ته وغواړې چه شاته ئي پريږدی (نوستادپاره اجازت دي) اودچادپاره چه وغواړې چه دځان سره ورته ځائې ورکړې (نوستادپاره اجازت دي) اګرچه ددې ایت په وجه نبی علیه السلام ته اختیار ورکړې شوې وولیکن ددې باوجود به هم نبی علیه السلام دنمبر خیال ساتلو اوچه دانمبر به وو دهغې په اجازت به پنې دبی کره شپه تیروله معاذه وائی ما دعائشې رضی الله عنها نه تپوس اوکړو چه تابه داجازت غوښتلو په وخت کښې څه وئیل هغې ووئیل مابه داسې وئیل که چرې دازماپه اختیارکښې وی نوزه به هیڅوك پخپل ځان باندې غوره نکړم.

شرح الحديث:

سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوې بی بی په نمبر کښې بلې زوجې ته تلل غوښتل نو د هغې نه به ئې اجازت غوښتلو بغیر د اجازت نه نه. حال دا چه دا آیت کریمه نازل شوي وو ﴿ترجی من تشاء﴾ د سیده عائشه رضی الله عنها د دې حدیث نه د دې آیت کریمه تفسیر هم معلوم شو هغه دا چه په دې کښې الله پاك رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اختیار ورکړې دې چه د خپلو بیبیانو نه چه کله غواړې او کومه یوه غواړې خپل ځان ته راغوښتلې شی او چه څوك غواړې د ځانه ئې لرې کولې شی، د ارجاء اصل معنی د تاخیر ده او دلته ددې نه مراد ترك بیتوتت دې او ایواء د دې مقابل دې یعنی بیتوتت او شپه تیرول. د دې آیت کریمه په تفسیر کښې نور هم ډیر اقوال دی مجامعت او ترك مجامعت کښې اختیار، او یو تفسیر د دې دا دې چه په دې کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اختیار ورکړې شوې دې د امساك او تطلیق ترمینځه چه په دې ازواج کښې چه هغه چاته غواړې طلاق ورکولې شی او چه څوك په نکاح کښې باقی ساتل غواړې هغه دې باقی اوساتی و غیره.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی قاله المنذری.

[۲۱۳۷]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مَرْحُومُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنِي أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ بَابَنُوسَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ إِلَى النِّسَاءِ تَعْنِي فِي مَرَضِهِ فَاجْتَمَعْنَ، فَقَالَ: "إِنِّي لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَدُورَ بَيْنَكُنَّ، فَإِنْ رَأَيْتُنَّ أَنْ تَأْذَنَّ لِي فَأَكُونَ عِنْدَ عَائِشَةَ فَعَلْتُنَّ"، فَأَذِنَّ لَهُ.

ترجمه: حضرت ام المومنین عائشة رضی الله عنها روایت دي فرمائی چه نبی علیه السلام په مرض موت

[1]): صحيح البخاري/تفسير القرآن ٧ (٤٧٨٩)، صحيح مسلم/الطلاق ٤ (١٤٧٦)، سنن النسائي/ الكبري/ عشرة النساء (٨٩٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٧٦، ١٥٨، ٢٦١) (صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٦٨٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الجنائز ٦٤ (١٦١٨)، مسند احمد (٦/١٨٧٣١، ٢٩١) (صحيح)

کښې خپلې بيبيانې راوغوښتلې ټولې راغلې نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل زماطاقت ختم شوې دې چه زه په و تاسوټولوباندې وګرځم که ستاسو اجازت وی نوزه به دعائشې رضي الله عنها سره داشپې ورځې تيرې کړم هغوی ورته اجازت ورکړو او تروفات کيدو پورې دعائشې رضي الله عنها سره او اوسيدو اوهم ددې په کور کښې وفات شو.

توضيح الحديث

يعنی رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل مرض وفات کښې ټولې بيبيانې راجمع کړې او ورته ئې اوفرمائيل چه اوس په ما کښې دومره طاقت نشته چه تاسو ټولو کره دې په نمبر نمبر شپه تيره کړم، پس که تاسو مناسب ګڼړئ نو ماته د دې خبرې اجازت راکړئ چه زه د عائشې رضي الله عنها کره يم، نو داسې ضرور اوکړئ په دې باندې هغوی ټولو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته اجازت ورکړو. دا مضمون حديث حضرت شيخ په خصائل نبوی ص ۲۴۱ کښې داسې ليکی: د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مرض ابتداء د سر درد نه اوشوه هغه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم د عائشې رضي الله عنها په کور کښې وو، د هغې نه روستو د سيده ميمونه رضي الله عنها د نمبر په ورځ کښې په مرض کښې شدت پيدا شو، په دې حالت کښې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بيبيانو د نمبرو تقسيم پوره کولو خو چه کله ئې په مرض کښې زيات شدت پيدا شو نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وينا باندې ټولو بيبيانو د عائشې رضي الله عنها په کور کښې د بيمارئ د ورځو تيرولو اختيار ورکړې وو، هم دا وجه وه چه د عائشې رضي الله عنها په کور کښې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شو الی اخره.

[۲۱۳۸](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ، أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ، وَكَانَ يَقْسِمُ لِكُلِّ امْرَأَةٍ مِنْهُنَّ يَوْمَهَا وَلَيْلَتَهَا، غَيْرَ أَنَّ سَوْدَةَ بِنْتَ زَمْعَةَ وَهَبَتْ يَوْمَهَا لِعَائِشَةَ".

ترجمه: حضرت ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام به کله دسفر اراده اوکړه - نودخپلو بيبيانو په مينځ کښې به ئې قرعه اندازی کړه قرعه اندازی چه به د چاوختله نوهغه به ئې دځان سره بوتله اود هرې يوی بی بی دپاره به ئې يوه شپه اويوه ورځ مقرروله مګر سوده بنت زمعه رضي الله عنها نه خپله ورځ عائشې رضي الله عنها ته بخلی وه نونبی عليه السلام به دهغې سره په اوسيدو دهغې په نمبر کښې به هم دعائشې رضي الله عنها سره اوسيدو.

د حديث سره متعلق فقهی اختلافی مسئله:

د حديث مضمون واضح دې خو مسئله اختلافی ده. د رسول الله صلی الله عليه وسلم په باره کښې خو اختلاف دې چه په هغه باندې چې تقسيم د بيبيانو په منځ کښې واجب وو يا نه خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د غير دپاره د امام شافعی او امام احمد مذهب دا دې چه د کوم سړی ډيرې بيبيانې وی او هغه په هغوی کښې صرف د بعض سره سفر کول غواړی نو په دې صورت کښې د دې

(1): صحيح البخاري/الهبة ١٥ (٢٥٩٣)، والنكاح ١٧ (٥٠٩٢)، (تحفة الأشراف: ١٦٧٠٣، ١٦٦٧٨)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٣ (٢٤٤٥)، سنن ابن ماجه/النكاح ٤٧ (١٩٧٠)، سنن النسائي/ الكبرى/ عشرة النساء (٨٩٢٣)، مسند احمد (٦/١١٧، ١٥١، ١٩٧، ٢٦٩)، سنن الدارمي/الجهاد ٣١ (٢٤٦٧) (صحيح)

دوارو امامانو په نزد قرعه اندازي واجب ده او د احنافو او مالکيانو په نزد واجب نه ده. د هغوی دوارو په نزد د سفر په حالت کښې تقسيم واجب نه دې، او افضل او سنت ضرور دې، بيا د امام شافعي او احمد په نزد که ئې قرعه اندازی نه وی کړې او يو ئې د خپل ځان سره واخستلو نو د سفر د مودې قضاء به واجب وی او که د قرعه اندازئ نه پس ئې واخستلو نو بيا به قضاء واجب نه وی، د احنافو او مالکيانو په نزد به مطلقا قضاء واجب نه وی (منهل)

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَشْتَرِطُ لَهَا دَارَهَا

که چرې خاوند پخپله ښځه دا شرط ولګوی چه بل کور کښې به وی ملک ته به دې نه بوځم

يعنې که د نکاح په وخت زنانه د سړی په مخکښې دا شرط کيخودلو چه ته ما د خپل کور نه يا ښهر نه بهر نه شې بوتلې او سړی هغه شرط قبول کړو نو ايا په دې سړی باندې شرعا د دې شرط پوره کول واجب دې؟

[۲۱۳۹](١)حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ، أَخْبَرَنِي اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِنَّ أَحَقَّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ".

ترجمه: حضرت عقبة بن عامر نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ وفرمائيل په ټولو شرطونو کښې په تاسو باندې مستحق هغه شرطونه پوره کول لازم دی دکوموپه وجه چه تاسو ته شرمګاهونه حلال کړې شوی د.

توضيح الحديث

قوله: عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "إِنَّ أَحَقَّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا (٢)بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ":

يعنې په ټولو شرطونو کښې د دې شرط پوره کول ډير ضروری دی کوم چه د نکاح د عقد په وخت اولګولې شی، دا حديث خو د يو قاعده کليه په درجه کښې دې، د دې قاعدې په جزئيات کښې دا مسئله هم راځی کومه چه په ترجمة الباب کښې مذکور ده يعنی شرط کول دکور، د مصنف په ترجمه کښې څه د استنباط شان دې، دا په خپل مقام کښې مونږ سره تير شو، چه د سنن ابی داود تراجم د ترمذی د تراجم نه اوچت دی، پس امام ترمذی په دې باندې دا ترجمه تړلې ده باب ما جاء في الشرط عند عقدة النكاح.

مسئله مترجم بها کښې د علماء کرامو اختلاف

د دې نه پس تاسو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه د شرط دار ايفاء په ائمه کرامو کښې صرف د امام احمد رحمه الله په نزد واجب دې اګر چه امام ترمذی رحمه الله خو د امام شافعي رحمه الله قول

(١): صحيح البخاري/الشروط ٦ (٢٧٢١)، والنكاح ٥٣ (٥١٥١)، صحيح مسلم/النكاح ٨ (١٤١٨)، سنن الترمذي/النكاح ٢٢ (١١٢٧)، سنن النسائي/النكاح ٤٢ (٣٢٨٣)، سنن ابن ماجه/النكاح ٤١ (١٩٥٤)، (تحفة الأشراف: ٩٩٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٤/٤، ١٥٠، ١٥٢)، سنن الدارمي/النكاح ٢١ (٢٢٤٩) (صحيح)

(٢) توفوا دوارو طريقو سره ضبط کړې شوې دې، ﴿توفوا﴾ بالتخفيف، ﴿توفوا﴾ بالتشديد، په اول صورت کښې د باب افعال نه او په دويم صورت کښې د باب تفعيل نه دې.

هم دا ليکلي دي خو حافظ په دې باندې تعقب کړې دې او دا ليکلي دي. النقل فی هذا عن الشافعی غریب... امام ترمذی د بعض صحابه کرامو هم دا مسلک لیکلي دې، هغه فرمائی ﴿منهم عمر بن الخطاب قال اذا تزوج الرجل امراءة وشرط لها ان لا یخرجها من مصرها فلیس له ان یخرجها ﴾بیا وړاندې امام ترمذی رحمه الله فرمائی ﴿وروی عن علی بن ابی طالب انه قال شرط الله قبل شرطها کانه رای للزوج ان یخرجها وهو قول سفیان الثوری وبعض اهل الکوفة ﴾.

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه دا حدیث په خپل عموم باندې د چا په نزد هم نه دې، فقهاء کرام او شارحین حدیث دا لیکلي دی چه شرطونه درې قسمه کیدې شی، اول قسم الشرائط التی فیها نفع محض للمراءة مثلا اشتراط دار یا عدم التزوج بالغیر... یا عدم التسری (چه زنانه دا شرط اولګوی چه زما په موجودګئ کښې به ته وینزه د خپل ځان سره نه شی ساتلې) او د دې په شان شرطونه، د دې قسم شرطونو پوره کول صرف د حنابله په نزد واجب ده د نورو ائمه کرامو په نزد نه، او دویم قسم الشرائط التی فیها ضرر محض للمراة، مثلا د عدم مهر شرط لګول یا عدم النفقه والسکنی شرط، د دې پوره کول د چا په نزد هم جائز نه دی، او دریم قسم الشرائط التی یقتضیها العقد، کوم شرطونه چه د مقتضاء عقد موافق دی لکه عشرت بالمعروف (د ښځې سره په ښه طریقه باندې پیش کیدل او مهر هم دغه شان نفقه او سکنی وغیره) د دې شرطونو پوره کول د ټولو په نزد واجب دی، بلکه دا څیزونه بغیر د شرط نه هم ضروری دی

بَابٌ فِي حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْأَةِ

په ښځه باندې د خاوند د حق بیان

[٢١٤٠](1)حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ، فَقُلْتُ: رَسُولُ اللَّهِ أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَهُ، قَالَ: فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: إِنِّي أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ، فَأَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَحَقُّ أَنْ نَسْجُدَ لَكَ، قَالَ: "أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِي أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ؟" قَالَ: قُلْتُ: لَا، قَالَ: "فَلَا تَفْعَلُوا، لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ النِّسَاءَ أَنْ يَسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ، لِمَا جَعَلَ اللَّهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنَ الْحَقِّ".

ترجمه: حضرت قیس بن سعد رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه د کوفې سره نزدې حیره ښار ته لاړم ما هلته خلق اولیدل چه خپل سردار ته ئې سجدې کولې نو په خپل زړه کښې مې اووئیل چه ددوی ددې سردارنه خو نبی علیه السلام زیات حقدار دې چه سجده ورته اوکړې شی کله چه زه واپس شوم او دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم نوعرض مې ورته اوکړو و چه زه حیره مقام ته تلې وم ماهلته خلق اولیدل چه خپل سردارته ئې سجدې کولې نوددې دسردار په نسبت خوته زیات حقدار ئې چه مونږ درته سجده اوکړو نبی علیه السلام اوفرمائیل لږ سوچ خو اوکړئ که چرې تاسو زما په قبرباندې تیریږئ نوایاتاسوبه ورته سجده کوئ؟ ماعرض اوکړو نه نبی علیه السلام اوفرمائیل سجده مه کوئ ځکه که ماچاته دا اجازت ورکولې چه څوک دې چاته سجده اوکړی نو اول به مې ښځوته اجازت ورکړې وو چه خپلو خاوندانوته

---

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠٩٠)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصلاة ١٥٩ (١٥٠٤) (صحيح)

سجدې اوکړئ دهغه حق په وجه باندې کوم چه الله تعالی په ښځو باندې دخاوندانو دپاره مقرر کړې دې.

توضيح الحديث

قیس بن سعد رضی الله عنه فرمائی چه زه مقام حیره ته لاړم، حیره بکسر الحاء د عراق د یو ښهر نوم دې نو د هغه ځائې بعض خلق ما اولیدل چه هغوی خپل سردار ته سجده کوی، ما په خپل زړه کښې سوچ اوکړو چه رسول الله ﷺ د دې مرزبان په مقابله کښې زیات مستحق دې چه مونږ هغه ته سجده اوکړو، هغه چه کله د سفر نه واپس شو نو رسول الله ﷺ ته ئې د دې خبرې تذکره اوکړه او د خپل گمان تذکره ئې ورته هم اوکړه چه ته زیات مستحق ئې د دې خبرې چه تاته سجده اوکړې شی، هغه د دې ډیر حکیمانه جواب ورکړو چه ښه دا راته اوايه چه کله زه مړ شم او خپل قبر ته اورسیږم نو آیا ته به هغه وخت هم زما قبر ته سجده کوې؟ ما ترې صفا انکار اوکړو چه نه! رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیا داسې خبره ولې کوې؟ بیا وړاندې چه په حدیث کښې دی هغه ظاهره ده کوم چه د ترجمة الباب سره متعلق دی.

[۲۱۴۱](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَلَمْ تَأْتِهِ، فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا، لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ".

ترجمه: دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی کله چو یوکس په تاسوکښې خپله ښځه خپلې بسترې ته را اوغواړی اوهغه انکار اوکړی او خاوندئې په داسې حال کښې شپه تیره کړی چه دې ته غصه وی نوپه داسې ښځه باندې فرښتې لعنت وائی ترڅوچه صبا شوی نه وی.

بَابٌ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا

په خاوند باندې د ښځې دحق بیان

[۲۱۴۲](²) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو قَزَعَةَ الْبَاهِلِيُّ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ قَالَ: "أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ أَوِ اكْتَسَبْتَ، وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا تُقَبِّحْ، وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَا تُقَبِّحْ، أَنْ تَقُولَ: قَبَّحَكِ اللَّهُ.

ترجمه: حضرت حکیم بن معاویه قشیری دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه ما عرض اوکړو اې دالله رسوله په مونږ کښې په یوکس باندې دخپلې ښځې څه حق دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل کله چه خوراك کوئ نودوی ته هم خوراك ورکوی اوکله چه لباس اغوندئ نودوی ته هم لباس میسر کوئ او په مخ باندې ئې مه وهئ اوبد الفاظ ورته مه وائی اوکله ترې جداکیږئ نوپه کور کښې ترې جداکیږئ (دجداکیدو دپاره ورته کور مه پریږدئ)، ابوداود

---

¹): صحيح البخاري/بدء الخلق ۷ (۳۲۳۷)، والنكاح ۸۵ (۵۱۹٤)، صحيح مسلم/النكاح ۲۰ (۱٤۳٦)، (تحفة الأشراف: ۱۳٤۰٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/٤۳۹، ٤۸۰)، سنن الدارمي/النكاح ۳۸ (۲۲۷٤) (صحيح)

²): سنن ابن ماجه/النكاح ۳ (۱۸۵۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۹٦)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ عشرة النساء (۹۱۷۱)، مسند احمد (٤/٤٤۷، ۵/۳) (حسن صحيح)

وائی د (ولاتقبح) مطلب دا دې چه داسې ورته مه وائی قبحك الله. (الله دی هلاکه کړه).

تشریح: قلت یا رسول الله ما حق زوجة احدنا علیه؟

د حدیث مضمون واضح دې، وړاندې په حدیث کښې دی ﴿ولا تضرب الوجه ولا تقبح ﴾یعنی په مخ ئې مه وهه، په مخ باندې د وهلو هسې خو مطلقا ممانعت راغلې دې، ﴿ولا تقبح ﴾او نه هغې ته څه سخته خبره کوه لکه کنځل او بد دعا، ﴿ولا تجهر الا فی البیت ﴾ یعنی که تادیبا واصلاحا تو د هغې نه دې جدائی اختیار کړې نو صرف په کور کښې، یعنی دا نه چه د کور نه دې هم بهر لاړ شی بلکه زیات نه زیات دا اوکړې چه په کور کښې اوسیدو سره هغې نه لاړ نه شی

[۲۱۴۳]()حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، نِسَاؤُنَا مَا نَأْتِي مِنْهُنَّ وَمَا نَذَرُ؟ قَالَ: "ائْتِ حَرْثَكَ أَنَّى شِئْتَ، وَأَطْعِمْهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَاكْسُهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، وَلَا تُقَبِّحِ الْوَجْهَ وَلَا تَضْرِبْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى شُعْبَةُ تُطْعِمُهَا إِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ.

ترجمه: دحضرت بهز بن حکیم دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی چه فرمائیلی ئې وو ماعرض اوکړو اې دالله رسوله مونږ خپلو ښځوته دکوروالی دپاره په څه طریقه راتګ اوکړو او په څه طریقه ئې ونکړو؟نبی علیه السلام اوفرمائیل خپل فصل ته راتګ اوکړئ څنګه چه موخوښه وی اوکله چه خوراك کوئ نودوی ته هم خوراك ورکوئ اوکله چه لباس اغوندئ نودوی ته هم لباس میسرکوئ اودمخ بی عزتی ئې مه کوئ اومه ئې وهئ، ابوداد وائی چه دشعبه په روایت کښې داسې دي: «تطعمها إذا طعمت وتكسوها إذا اكتسيت». او بد الفاظ ورته مه وائی اوکله ترې جداکیږئ نو په کور کښې ترې جداکیږئ (دجداکیدو دپاره ورته کور مه پریږدئ)، ابوداود وائی د ولاتقبح مطلب دادې چه داسې ورته مه وایئ: قبحك الله.

تشریح: ﴿ بهز بن حکیم حدثنا ابی عن جدی قال قلت یا رسول الله! نساؤنا ما ناتی منها وما نذر ﴾
د بهز بن حکیم د نیکه نوم دې معاویه بن حیده، هغه وائی چه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه مونږ د خپلو ازواجو د کومې حصې نه فائده واخلو او کوم پریږدو؟ په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿ائت حرثک انی شئت ﴾یعنی د خپلې ښځې د محل حرث نه فائده اوچته کړه که کیفیت ئې هر څه وی، د ﴿انی شئت﴾دوه معنې راځی ﴿کیف شئت﴾او ﴿من این شئت﴾ دلته اوله معنی مراد ده چه د هغې قرینه لفظ حرث ده ځکه چه د پټی محل متعین ده یعنی قبل، دبر، محل حرث نه دې په دې وجه دویمه معنی مراد نه شې کیدې، پس د خپلې بی بی سره وطی دشاه طرف کښې حرام دې، په دې کښې د ابن عمر رضی الله عنه اختلاف نقل کولې شی لکه چه وړاندې په کتاب کښې دی باب فی من جامع النکاح کښې روایت راروان دې فانتظروا
قوله: ولا تقبح الوجه... یعنی د هغې مخ مه خرابوه په وهلو باندې، او یا ئې دا مطلب دې چه ﴿لا تقل قبح الله وجهک ولا تضرب ﴾یا خو په مخ باندې وهل مراد دی یا مطلق ضرب، که مخ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٣٨٥)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/ عشرة النساء (٩١٦٠)، مسند احمد (٥،٣،٥) (حسن صحيح)

مراد وی نو بیا خو ظاهره ده او د مطلق په صورت کښې بغیر د څه معقول وجې نه وهل مراد دی. په بذل المجهود کښې د فتاوی قاضي خان نه نقل کړې دی چه خاوند ښځه په څلورو خبرو باندې وهلې شی. د زینت په ترک کولو، که خاوند هغې ته د زینت حکم کوی او هغه ئې نه منی. ۲: ترک الاجابة اذا اراد الجماع وهی طاهرة،(ترک کول دصحبت حالانکې هغه پاکه وی) ۳. ترک الصلاة فی بعض الروایات،(ترک دمانځه په بعض روایاتو کښې راځی) او د امام محمد نه یو روایت دې چه په ترک صلاة باندې د هغه د وهلو حق نشته. او د زنانه غسل جنابت یا غسل حیض ترک کول دا په منزله د ترک صلاة دی، ۴: الخروج عن منزله بغیر اذنه، (دخاوند دکور نه دهغه داجازت نه بغیر وتل).

[۲۱۴۴](۱)أَخْبَرَنِي أَحْمَدُ بْنُ يُوسُفَ الْمُهَلَّبِيُّ النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَزِينٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ دَاوُدَ الْوَرَّاقِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَقُلْتُ: مَا تَقُولُ فِي نِسَائِنَا؟ قَالَ: "أَطْعِمُوهُنَّ مِمَّا تَأْكُلُونَ، وَاكْسُوهُنَّ مِمَّا تَكْتَسُونَ، وَلَا تَضْرِبُوهُنَّ وَلَا تُقَبِّحُوهُنَّ".

ترجمه: حضرت معاویه قشیری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم اوتپوس مې اوکړو چه زمونږ دښځو په مونږ باندې کوم کوم حقونه دی؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل څه چه تاسوخورئ هغه دوی ته هم ورکوئ اوڅه چه اغوندئ دهغې په شان دوی ته هم ورکوئ اودوی مه وهئ اوبد رد ورته مه وائې.

بَابٌ فِي ضَرْبِ النِّسَاءِ

د ښځو دوهلوبیان

[۲۱۴۵](۲)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي حُرَّةَ الرَّقَاشِيِّ، عَنْ عَمِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فَإِنْ خِفْتُمْ نُشُوزَهُنَّ فَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ"، قَالَ حَمَّادٌ: يَعْنِي النِّكَاحَ.

ترجمه: حضرت ابوحرة الرقاشي دخپل تره نه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائلی دی که چرې ستاسو سره ددوی دنافرمانئ په حقله اندیښنه وی نو ددوی نه جدائی اختیار کړئ په خای دارخونولګولو کښې. حماد وئیلی دی ددې نه همبسترئ کول مراد دې.

تشریح: ﴿فاهجروهن فی المضاجع﴾ قال حماد یعنی النکاح، یعنی د نشوز د ویرې په وخت کښې سړی له څه کول پکار دی چه هغې سره جماع ترک کړی.

[۲۱۴۶](۳)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي خَلَفٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: عَنْ إِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَضْرِبُوا إِمَاءَ اللَّهِ"، فَجَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ، فَرَخَّصَ فِي ضَرْبِهِنَّ، فَأَطَافَ بِآلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ، فَقَالَ النَّبِيُّ

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۹۵)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الکبری/عشرة النساء (۹۱۵۱) (صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۷۲/۵) (حسن)
(۳): سنن ابن ماجه/النکاح ۵۱ (۱۹۸۵)، (تحفة الأشراف: ۱۷۴۶)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الکبری/ عشرة النساء (۹۱۶۷)، سنن الدارمي/النکاح ۳۴(۲۶۶۵) (صحيح)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ، لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ".

ترجمه: دحضرت اياس بن عبدالله بن ابی ذباب نه روايت دي فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی دالله تعالی بندګانی مه وهی (خپلي ښځي) نو په دی وخت کښي عمرفاروق دنبی ﷺ په خدمت کښي حاضرشو اوعرض ئي اوکړو ښځي په خپلو خاوندانوباندي غالبی اوزړوري شوی دی نوددی په اوريدوسره نبی ﷺ دوی ته دوهلو اودتنبيه ورکولو اجازت ورکړو بيا ددي نه پس ډيری زنانه دنبی ﷺ ببيانوته دخپلو خاوندانونه شکايتونه اوکړل نبی ﷺ اوفرمائيل زما ببيانوته ډيرو زنانوو د خپلو خاوندانونه شکايتونه کړی دی اودائي اوفرمائيل چه داسي کسان په تاسوکښي ښه خلق نه دي.

[۲۱۴۷]([1]) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَوْدِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُسْلِيِّ، عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَا ضَرَبَ امْرَأَتَهُ".

ترجمه: دحضرت عمر فاروق بن الخطاب نه روايت دي فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی چه دخپلو ښځو دوهلو په حقله دانسان نه (دقيامت په ورځ) تپوس نشی کيدي (يعنی کوم وهل چه داداب دپاره وی دهغي نبی ﷺ عامو مسلمانانو ته اجازت ورکړي دي).

توضيح الحديث

يعنی که يو سړی خپله ښځه د څه وجي نه اووهله نو هغه د وهونکی نه يعنی د خاوند نه دا تپوس نه دی کول پکار چه تا هغه په څه وجه باندي وهلي ده يعنی د کور او ژوند تيرولو په څه مسئله کښي ورله دخل نه دی ورکول پکار خاص طور دا قسم ناخوشه خبره، خو دا صرف په هغه صورت کښي ده چه کله خاوند د حد نه تجاوز نه کوی کذا في البذل. او دويم مطلب د دي حديث دا کيدي شی چه د سړی نه به د قيامت په ورځ د ښځي د وهلو تپوس نه کيږی، ځکه چه د حاجت په وخت د ضرب اجازت د قران کريم نه ثابت دي.

بَابُ مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنْ غَضِّ الْبَصَرِ

باب: نظر د لاندي ساتلو حکم

[۲۱۴۸]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَظْرَةِ الْفَجْأَةِ، فَقَالَ: "اصْرِفْ بَصَرَكَ".

ترجمه: دحضرت جرير نه روايت دي فرمائی چه دنبی ﷺ نه مي دناڅاپی نظر په باره کښي تپوس اوکړو هغه راته وفرمائيل خپل نظر (دنامحرمه زنانوو نه) واړه وه.

---

[1]: سنن ابن ماجه/النكاح ٥١ (١٩٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٠٤٠٧)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ عشرة النساء (٩١٦٧)، مسند احمد (٢٠/١) (ضعيف)

[2]: صحيح مسلم/الآداب ١٠ (٢١٥٩)، سنن الترمذي/الأدب ٢٨ (٢٧٧٦)، (تحفة الأشراف: ٣٢٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٨/٤، ٣٦١)، سنن الدارمي/الاستئذان ١٥ (٢٦٨٥) (صحيح)

[۲۱۴۹](1)حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي رَبِيعَةَ الْإِيَادِيِّ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ: "يَا عَلِيُّ، لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ، فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ".

ترجمه: دحضرت ابوبریده نه روایت دې فرمائي چه نبي علیه السلام علي ته وفرمائيل اې علي په نظرپسې نظر مه اچوه ځکه چه ستاد پاره صرف اولنې نظر درست دې او دويم نظر ستاد پاره جائزنه دې.

تشریح: ﴿یا علی لا تتبع النظرة النظرة فان لک الاولی ولیست لک الاخرة﴾
یعنی که په یو نامحرم باندې بغیر د قصد نه نظر پریوځی نو د هغې نه روستو دې بیا قصدا هغې ته نه ګوری، وړاندې د هغې وجه ذکر شوې ده ځکه چه ستا دپاره اول ځل کتل خو جائز وو (یعنی د عدم قصد د وجې نه) او دویم ځل باندې کتل جائز نه دی (یعنی د قصد د وجې نه) بعض علماء کرامو لیکلې دی ﴿لک الاولی﴾کښې جواز خو راغلو بلکه په دې کښې د نفع طرف ته هم اشاره ده ځکه چه لام د نفع دپاره راځی لهذا که د یو سړی په نامحرم باندې نظر پریوتلو نه پس فورا خپل نظر بدل کړی نو د هغه دپاره په دې کښې فائده دې، ما په یو کتاب کښې لوستلې دی چه د دې احتیاط او تقوی په صله کښې الله پاک په هغه باندې دا انعام فرمائی چه هغه ته په عباداتو کښې حلاوت نصیب کیږی.

[۲۱۵۰](2)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ لِتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّمَا يَنْظُرُ إِلَيْهَا".

ترجمه: دحضرت عبد الله بن مسعود نه روایت دې فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائیلي دی یوه زنانه دې دبلې زنانه دجسم نه ځان نه لګوی په دې وجه چه چرته خپل خاوند ته ددې شکل اوصورت بیان نکړی دا داسې ده لکه چه ددې ښځې خاوند دابله ښځه وینی.

تشریح: ولا تباشر المراة المراة لتنعتها لزوجها... مباشرة په معنی د مس البشرة، بشره په معنی د څرمن یعنی د بدن د بدن سره لګیدل. مطلب دا دې چه یوه زنانه دې د بلې زنانه سره دومره زیات تعلق نه جوړوی چه بیا خپل خاوند ته لاړه شی او هغه ته د هغې حلیه بیانوی او داسې به ئې هغه په ذهن کښې نقشه راکاږی ګویا چه هغې ته ګوری، په بعض زنانو کښې داسې عادت وی په دې وجه د دې نه منع کولې شی، دې بې عقلې ته دا خبر نه وی چه که د خاوند ئې خوښه شوه نو د دې به څه انجام وی.

[۲۱۵۱](3)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى امْرَأَةً فَدَخَلَ عَلَى زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَقَضَى حَاجَتَهُ مِنْهَا، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى أَصْحَابِهِ، فَقَالَ لَهُمْ: "إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ، فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَلْيَأْتِ أَهْلَهُ، فَإِنَّهُ يُضْمِرُ مَا فِي نَفْسِهِ".

[1]: سنن الترمذي/الأدب ۲۸ (۲۷۷۷)، (تحفة الأشراف: ۲۰۰۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱۵۹، ۵/۳۵۱، ۳۵۷) (حسن)
[2]: صحيح البخاري/النكاح ۱۱۸ (۵۲٤۱)، سنن الترمذي/الأدب ۳۸ (۲۷۹۲)، (تحفة الأشراف: ۹۲۵۲)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/عشرة النساء (۹۲۳۱)، مسند احمد (۱/۳۸۷، ٤٤۰، ٤٤۳، ٤٦۲، ٤٦٤) (صحيح)
[3]: صحيح مسلم/النكاح ۲ (۱٤۰۳)، سنن الترمذي/الرضاع ۹ (۱۱۵۸)، (تحفة الأشراف: ۲۹۷۵)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/عشرة النساء (۹۱۲۱)، مسند احمد (۳/۳۳۰) (صحيح)

ترجمه: حضرت جابر ﷺ نه روایت دی فرمائی چه نبی ﷺ یوه زنانه اولیدله نوزینب بنت جحش ته ورغی اوخپل حاجت ئې ترې پوره کړواوبیا خپلو ملګروته راووتو اوهغوی ته ئې اوفرمائیل یقینا ښځې دشیطان په شکل کښې خلقوته رامخامخ کیږی نوکله چه دچاپه زړه کښې څه راشی نوخپلې ښځې ته دی ورشی ځکه چه دده په زړه کښې چه کومه وسوسه پیداشوی وی هغه په دې سره ختمیږی.

شرح الحدیث:

سیدنا جابر ﷺ فرمائی چه یو ځل د رسول الله ﷺ نظر په یوه زنانه باندې پریوتلو (رسول الله ﷺ ته هم هغه ښه ښکاره شوه کما فی روایة فاعجبته) د دې نه پس رسول الله ﷺ په خپل ازواج کښې زینب بنت جحش ﷺ ته تشریف یوړلو او د هغې نه ئې خپل حاجت پوره کړو د هغې نه پس ئې بهر مجلس کښې صحابه کرامو ته تشریف راوړلو او وې فرمائیل چه زنانه د شیطان په شکل کښې مخې ته راځی، چه دا کوم سړی ته مخامخ شی یعنی هغه وینی نو هغه له پکار دی چه خپلې ښځې ته راشی او د هغې نه دې خپل خواهش پوره کړی ځکه چه داسې کولو سره به د هغه په زړه کښې چه پردئ ښځې ته د کتلو کوم خواهش پیدا شوې وی هغه به ختم شی.

دا مضمون حدیث په روایت د ابن مسعود ﷺ په دارمی کښې هم دې په دې کښې د یو لفظ زیاتوالې دې، ﴿رای رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امراة فاعجبته﴾ دلته په دې خبره ځان پوهه کول دی چه د یوې زنانه ښه لګیدل نقص نه دې بلکه په دې کښې د نقص شبهه هم نشته، الله پاک فرمائی ﴿لا یحل لک النساء من بعد﴾ او بیا په اخر کښې دی ﴿ولو اعجبک حسنهن﴾ بیا دلته دا سوال راځی چه راوی دا خبره څنګه کوی هغه زنانه د رسول الله ﷺ خوښه شوه او راوی د دې پټ امر جراءت څنګه اوکړو، د دې جواب دا دې چه ظاهره ده چه دا خبره هغه ته رسول الله ﷺ خپله بیان کړه د تعلیم امت دپاره چه که ستا امت کښې چاته داسې خبره پیښه شی او پیښیدل ضروری هم دی، نو بیا په داسې وخت کښې انسان لره څه کول پکار دی، اصل کښې د هغه بعثت تعلیم فعلی دپاره وو د دې دپاره چه د امت په مخکښې د هر یو څیز نمونه راشی، د دې ډیر مثالونه دی په لیلة التعریس کښې د مونځ قضاء کیدل، په مونځ کښې دننه مختلف قسم سهوه پیښیدل چه د هر قسم سهوه حکم جدا جدا معلوم شی، د قضاء مونځ د لوستلو طریقه معلومه شی، هم دغه شان د نکاح او طلاق واقعات، د هغې هم صادریدل یعنی کیدل په رسول الله ﷺ باندې اوکړې شو. وغیره وغیره... والله تعالی اعلم

[۲۱۵۲] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ ثَوْرٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَشْبَهَ بِاللَّمَمِ مِمَّا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا أَدْرَكَ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ، فَزِنَا الْعَيْنَيْنِ النَّظَرُ، وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ، وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِي، وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَلِكَ وَيُكَذِّبُهُ".

¹): صحیح البخاري/الاستئذان ۱۲ (۴۲۴۳)، والقدر ۹ (۲۶۱۲)، صحیح مسلم/القدر ۵ (۲۶۵۷)، (تحفة الأشراف: ۱۳۵۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۷۶) (صحیح)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ما قرآن کښې لفظ دلمم يعنی وړه ګناه په شان هغه اعمالونه زيات يوڅيز نه دې موندلې چې هغه ابوهريره رضي الله عنه دنبی عليه السلام نه نقل کړی ده هغه دا چه الله جل جلاله چه دهرکس په: حصه کښې څومره زنا ليکلی ده هغه به دې ضرور: موی اودسترګوزنا کتل دی (غير محرم ته چه سړې وی اوکه ښځه په نظر د شهوت سره کتل او د ژبې زناخبرې کول دی دغير محرم سره چه سړې وی او که ښځه شهوت سره خبرې کول ځکه چه په دې سره په زړه کښې خواهش پيدا کيږی او شرمګاه ددې تصديق کوی يا تکذيب کوي.

توضيح الحديث

قوله: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَشْبَهَ بِاللَّمَمِ[1] مِمَّا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په رائې او اجتهاد سره، د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه حديث مرفوع لره د آيت کريمه په تفسير کښې پيش فرمائی.

اول تاسو د حديث مرفوع په مفهوم باندې ځان پوهه کړئ هغه دا چه الله پاک د هر انسان دپاره زنا مقدر فرمائيلې ده کومه چه به هغه په څه نه څه درجه کښې ضرور کوی برابره خبره ده که د بد نظر په ذريعه وی که د استماع په ذريعه وی يا د قدم په ذريعه وی، په مظاهر حق کښې ليکلې دی دلته د زنا نه عام مراد دې که زنا حقيقی وی يا مجازی يعنی مقدمات زنا (بد نظری وغيره) لکه چه وړاندې په حديث کښې ذکر دی، پس بعض خلق په زنا حقيقی کښې ګرفتار او اخته کيږی او بعض په زنا مجازی کښ، خو چاته چه الله پاک په خپل فضل سره بچ کول غواړی هغه محفوظ وی ګويا دا حکم په اعتبار د اکثر دې. اهـ او حضرت په بذل المجهود کښې ليکلې دی چه د ابن ادم نه مراد هر هر فرد نه دې بلکه جنس مراد دې او يا داسې اوايئ چه انبياء عليهم السلام د دې نه مستثنی دی. اهـ او وئيلې شوې دی چه د زنا مراد سبب زنا وموجب زنا دې يعنی شهوة وميل الی النساء کوم چه په هر يو انسان کښې دننه الله پاک پيدا کړې دې، هم دغه شان هغه حواس او قوی چه د هغې په ذريعه خوند محسوس کوی او دا ظاهره خبره ده چه دا څيزونه په ټولو کښې دننه موجود دی، بيا د الله پاک په فضل سره ډير خلق د دې زنا نه محفوظ وی بعض د زنا حقيقی او مجازی دواړو نه او بعض دواړو کښې اخته او ګرفتار وی او بعض د زنا حقيقی نه خو بچ شی او په مقدمات زنا کښې اينخلی. دا خو شو د حديث مرفوع مفهوم

اوس د دې نه روستو د ابن عباس رضي الله عنه په رائې باندې ځان پوهه کړئ د قران کريم په سورة والنجم کښې الله پاک فرمائی ﴿الذين يجتنبون كبائر الاثم والفواحش الا اللمم﴾ په دې آيت کريمه کښې د نيکانو اوصاف بيانولې شی چه دا هغه خلق دی کوم چه د لويو او فاحش

[1]) اصل اللمم والالممام الميل الى الشئ وطلبه من غير مداومة، يعنی کله کله د يو څيز طرف ته مائل کيدل او هغه طلب کول د مواظبة دپاره، فمعني الايتين ان اجتناب الكبائر يسقط الصغائر وهي اللمم وفسره ابن عباس، بما في هذا الحديث من النظر واللمس ونحوهما وهو الصحيح في تفسير اللمم وقيل ان يلم بالشئ ولا يفعله، وقيل الميل الى الذنب ولا يصر عليه قاله النووي. اهـ من المنهل)

ګناهونو نه ځان ساتي البته واړه او معمولي ګناهونه کله کله اوکړي ګويا د صغائر په کله کله ارتکاب باندې انسان د نيکانو نه خارج شي، د ابن عباس رضي الله عنهما مقصود د ابوهريره رضي الله عنه حديث مرفوع نقل کولو سره د لمم تفسير بيانول دي، او د ابوهريره رضي الله عنه د حديث نه معلوميږي چه د انسان سترګې هم زنا کوي او هغه د سترګو زنا نظر دې او د انسان ژبه هم زنا کوي او هغه ناجائز د زنا وغيره سره متعلق خبرې دي، او نفس دننه د زنا خواهش کوي، دا د نفس زنا شوه نو ابن عباس رضي الله عنهما دا فرمائي چه په دې حديث کښې چه د زنا کوم مختلف قسمونه بيان کړې شوې دی کوم چه وړه قسم زنا ده يعنی مقدمات زنا هغه د لمم مصداق کيدې شي او پاتې شوه هغه لويه زنا چه د هغې تعلق د شرمګاه سره دې د هغې خو د فواحش او کبائر نه کيدل بديهي دي، د دې آيت کريمه په تفسير کښې نور هم اقوال دي کوم چه مونږ په حاشيه کښې ليکلې دي.

ددې نه روستو تاسو په دې ځان پوهه کړئ چه د حديث اخری جمله ﴿الفرج يصدق ذلک ويکذبه﴾ د دې شرح عام طور سره خو دا کولې شي او فرج د پورته ذکر شوې ټولو اسباب زنا، يا خو تصديق کوي يعنی د هغې زنا کيدل محقق کوي[1] او زنا بالفرج کښې که انسان اخته شي يا ئې تکذيب کوي يعنی هغه اسباب زنا لره د زنا نه منع کړي چه په کوم صورت کښې انسان په زنا بالفرج کښې اخته نه شي، حاصل دا چه په نظر او نطق وغيره کښې د افعال نه روستو کوم ته چه زنا وئيلې شي که د زنا حقيقی صدور اوشو نو بيا خو د دې افعال زنا کيدل ثابت شو او دا افعال د کبائرو نه شو، او که زنا حقيقی لره ترک کړې شي نو د دې افعال د زنا کيدو ترديد او تکذيب اوشو پس دا دکبائر کيدو په ځائې صغائر پاتې شو. او ظاهره ده چه په دې صورت کښې به دا د افعال لمم مصداق جوړيږي کوم چه ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي ګينې په اول صورت کښې خو د هغې په کبائر کښې کيدل بديهي دي. غرض دا چه شارحين دا فرمائي چه په تصديق فرج سره اشاره د وقوع الزنا بالفرج طرف ته ده، او تکذيب سره عدم وقوع طرف ته.

شرح الحديث کښې د حضرت شيخ رائې:

او زمونږ حضرت شيخ به فرمائيل چه زما په نزد د تصديق فرج نه مراد انتشار اله ده او د تکذيب نه عدم انتشار يعنی د بد نظر نه پس که په شرمګاه کښې حس وحرکت او انتشار وی نو پوهه شه چه هغه نظر زناء العين دې او که انتشار نه وی نو د دې نه معلومه شوه چه هغه نظر بالشهوت نه وو لهذا زناء العين هم نه وو، **والله تعالی اعلم**. ما د دې حديث شرح د شارحينو په کلام کښې د ځو کرته غور کولو نه پس ليکلې ده. **والله الموفق. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی قاله المنذری.** (عون)

---

[1] ، او ملا علی قاری د ﴿يصدق ذلک﴾ تعلق صرف د اخری جملې والنفس تمني وتشتهي سره منلې دې يعنی نفس د زنا خواهش کوي، او صرف فرج د دې خواهش تصديق کوي يا ترديد، يعنی دې تمنا ته عملی جامه اغوستل دا عمل دې د فرج، کله هغه دې ته عملی جامه اغوندي او کله نه،

[٢١٥٣]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لِكُلِّ ابْنِ آدَمَ حَظُّهُ مِنَ الزِّنَا"، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: "وَالْيَدَانِ تَزْنِيَانِ فَزِنَاهُمَا الْبَطْشُ، وَالرِّجْلَانِ تَزْنِيَانِ فَزِنَاهُمَا الْمَشْيُ، وَالْفَمُ يَزْنِي فَزِنَاهُ الْقُبَلُ".

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي نبي ﷺ فرمائيلي دی چه مې دهر انسان دپاره دزنا نه څه حصه ضرور وی لاسونه هم زنی کوی ددوی زنانيول دی اوخپې هم زنا کوی اوددوی زنا تلل دی اوخوله و هم زنی کوی اوددی زنا خکلول دي.

تشريح: ﴿والفم يزني وزناه القبل﴾قبل د قبله جمع ده يعنی د انسان د خولې زنا تقبيل دي.

[٢١٥٤]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: "وَالْأُذُنُ زِنَاهَا الِاسْتِمَاعُ".

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه باقی حديث ئي د تيرشوی روايت په شان بيان کړو ٠ مګرددې اضافي سره چه دغوږونو زنا اوريدل دی.

بَابٌ فِي وَطْءِ السَّبَايَا

د قيديانو ښځو سره همبستری کول

سبايا، جمع د سبية ده. فعيلة په معنی د مفعولة، قيد شوې زنانه. (وينزي)

[٢١٥٥]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ صَالِحٍ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ الْهَاشِمِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بَعَثَ يَوْمَ حُنَيْنٍ بَعْثًا إِلَى أَوْطَاسَ، فَلَقُوا عَدُوَّهُمْ فَقَاتَلُوهُمْ فَظَهَرُوا عَلَيْهِمْ وَأَصَابُوا لَهُمْ سَبَايَا، فَكَأَنَّ أُنَاسًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّجُوا مِنْ غِشْيَانِهِنَّ مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فِي ذَلِكَ: وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ سورة النساء آية ٢٤، أَيْ فَهُنَّ لَهُمْ حَلَالٌ إِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ".

ترجمه: دحضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه نه روايت دی چی نبی ﷺ فرمائی چه دغزوه حنين په ورځ اوطاس مقام ته يوورو کی لښکر وليږلودوی د خپل دښمن سره مخامخ شول او ورسره وجنګيدل اووربانديې غالب شول اوددوی ښځې ئي ونيولې په صحابه کرامو کښې بعضې کسانوددوی سره همبستری کول جائزنه ګڼړل ځکه چه ددوی ژوندی خاوندان کوم چه کافران وو موجود رونو په دې وخت کښې الله تعالی دا آيت کريمه: («والمحصنات من النساء إلا ما ملکت أيمانکم»)(سورة نساء ٢٤) (او حرام کړې شوې دی)خاوندانو والا ښځې ليکن هغه چه ستاسو په ملکيت کښې راشی نازل کړو، يعنې دوی ستاسو دپاره حلالې دی کله چه عدت تيرکړي.

---

[١]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٦٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٣/٢، ٥٣٦) (حسن)

[٢]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٨٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧٩/٢) (حسن صحيح)

[٣]: صحيح مسلم/الرضاع ٩ (١٤٥٦)، سنن الترمذي/ النكاح ٣٦ (١١٣٢)، تفسير سورة النساء (٣٠١٦)، سنن النسائي/النكاح ٥٩ (٣٣٣٥)، (تحفة الأشراف: ٤٤٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧٢/٣، ٨٤)، سنن الدارمي/الطلاق ١٧ (٢٣٤٠) (صحيح)

ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعث يوم حنين بعثا الى اوطاس.

غزوه اوطاس :

حنين يوه وادى ده د مكې مكرمې او طائف ترمينځه على بضعة عشر ميلا من مكة. چرته چه مشهوره غزوه شوې ده، غزوه حنيين د فتح مكه نه روستو په شوال ٨ هجرى كښې شوې ده. او اوطاس يوه وادى ده په هوازن مقام كښې او وئيلې شوې دى، وهو موضع عند الطائف وهو غير وادى حنين على الراجح، يعنى رسول الله ﷺ يو لښكر اوليږلو موضع اوطاس ته چه د هغې وجه دا وه چه رسول الله ﷺ كله د غزوه حنين نه فارغ شو كوم چه د قبيله هوازن سره شوې وو نو يوه دسته (مختصر جماعت) د هوازن په اوطاس كښې راغلل او راجمع شو او هلته په قبيله ثقيف كښې شامل شو، رسول الله ﷺ د هغوى د مقابلې دپاره يو جماعت اوليږلو (لكه چه دلته د ابوداود په روايت كښې ذكر شوې دى) دا جماعت په هغه كفارو باندې بحمد الله غالب شو او د مشركانو ډيرې زنانه هغوى قيديانې كړې چه په هغې كښې بعض داسې هم وې چه واده شوې وې او د هغوى خاوندان هم ژوندى او موجود وو، د تقسيم نه روستو چه د كومو مجاهدينو په حصه كښې داسې قسم زنانه راغلې نو هغوى ته په وطى كولو كښې اشكال راغلو چه د هغوى خو مشرك خاوندان ژوندى او موجود دى بيا د هغوى سره وطى څنګه اوكړې شى؟ لكه چه راوى وائى ﴿تحرجوا من غشيانهن﴾ نو په دې باندې دا آيت كريمه ﴿ والمحصنات من النساء الا ما ملكت ايمانكم ﴾ نازل شو يعنى كومې زنانه چه د چا په نكاح كښې وى نو هغه د خپل خاوند نه علاوه د نورو دپاره حرامې دى خو هغه منكوحه زنانه چه د دار الحرب نه قيد كولو سره راوستلې شوې وى نو هغه چه د چا په حصه كښې راشى د هغه دپاره به حلال وى د انقضاء عدت (يو حيض) نه پس.

د سبايا متعلق څو مسائل فقهيه :

دلته څو مسئلې دى بعض په هغې كښې اختلافى دى.

١ : د كومې مسبيه چه په دې آيت كريمه كښې استثناء كړې شوې ده د هغې نه مراد هغه كافره زنانه ده كومې ته چه يواځې (بغير د خاوند نه) قيد كولو سره دار الاسلام ته راوستلې شوې وى په دې وجه د احنافو په نزد په تباين دارين سره جداوالې واقع كيږى په نفس قيد سره نه واقع كيږى، په دې مسئله كښې د شوافعو وغيره اختلاف مشهور دې د هغوى په نزد كه زوجين مشركين دواړه قيد كولو سره راوستلې شى بيا به هم هغه مسبيه د سبائى (قيدى) دپاره حلاله وى ځكه چه د هغه په نزد په نفس سبى سره جداوالې واقع كيږى.

٢ : مسبيه مشركه كومه چه كتابيه نه وى هغه د مسلمان دپاره حلاله نه ده چه ترڅو پورې اسلام قبول نه كړى البته كه هغه كتابيه وى نو حلاله ده دا مسئله د احنافو او شوافعو په نزد اتفاقى ده او په دې حديث كښې چه د كومو سبايا ذكر دې هغه ټولې مشركانې وې يعنى د مځكښې نه لهذا دلته به دا تاويل كولې شى چه هغوى به اسلام راوړې وى، امام نووى رحمه الله فرمائى دا تاويل او توجيه دلته ضرورى دې. (بذل)

٣ : دريمه مسئله دلته دا ده چه په دې آيت كريمه كښې چه د كومې مملوكې استثناء

کړې شوې ده د هغې نه مراد د جمهورو او ائمه اربعه مملوکه یا سبی دې یعنی منکوحة الغیر چه د هغې څوک مسلمان مالک شی هغه لره د قید کولو وجه او کومه منکوحة الغیر چه مملوکه بالشراء وی د هغې دا حکم نه دې یعنی هغه به د مشتری دپاره حلال نه وی ځکه چه په شراء امت سره به د هغې نکاح فسخ شی، په خلاف د قید چه د هغه په نکاح سره عند الجمهور فسخ شی، خو په دې مسئله کښې د سیدنا ابن عباس رضی الله عنه اختلاف منقول دې د هغه په نزد د مملوکه بالشراء هم دا حکم دې. (بذل) والحدیث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی اهـ عون عن المنذری

[٢١٥٦]([1])حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مِسْكِينٌ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي غَزْوَةٍ فَرَأَى امْرَأَةً مُجِحًّا، فَقَالَ: "لَعَلَّ صَاحِبَهَا أَلَمَّ بِهَا"، قَالُوا: نَعَمْ، فَقَالَ: "لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَلْعَنَهُ لَعْنَةً تَدْخُلُ مَعَهُ فِي قَبْرِهِ، كَيْفَ يُوَرِّثُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ، وَكَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ".

ترجمه: دحضرت ابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام په یوجنګ کښې وو دنبی صلی الله علیه وسلم نظر په یوه حامله ښځه پریوتلو نوهغه اوفرمائیل شاید ددې سره ددې مالک همبستری کړې وی صحابه کرامو عرض اوکړو،هو نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه ما اراده اوکړه، زما زړه وغوښتل چه په ده باندې داسې لعنت ووایم کوم چه به دده سره ترقبره پورې وی خوبیابه دده څوی څنګه دده وارث جوړشی اوهغه به دده دپاره حلال نه وي، او څنګه به دپردوځامنو سره ملاویږی اوهغه به دده دپاره حلال نه وي، اوڅنګه به دهغوی نه خدمت اخلی اوهغه به دده دپاره حلال نه وي.

شرح حدیث:

﴿مجح﴾هغه حامله زنانه کومه چه قریب الولادة وی، د حدیث مضمون دا دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه غزوه کښې یوه زنانه اولیده چه حامله قریب الولادة وه (په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې څه طریقې سره ظاهره شوه) او وې فرمائیل چه کیدې شی د دې وینزې مالک دې سره المام (جماع) کړې ده یعنی قبل الاستبراء، په دې باندې بعض حاضرینو د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق اوکړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه زما زړه غواړی چه دې سړی ته داسې بد دعا اوکړم چه د هغې اثر هغه سره قبر ته لاړ شی، هم دغه شان ئې اوفرمائیل ﴿کیف یورثه الخ﴾د دې تشریح دا ده چه موجوده صورت حال یعنی بغیر د استبراء نه وطی کولو نه پس اوس دوه احتمالات دی یو دا چه د دې وطی نه پس د شپږ میاشتو تیریدو نه مخکښې ماشوم پیدا شی یا د شپږو میاشتو نه پس په اول صورت کښې نو دا خبره متعین ده چه دا پیدا کیدونکې ماشوم به د زوج اول وی او د دې واطی به غلام وی، او په دویم صورت کښې دوه احتمالات دی یو دا چه هغه ماشوم د زوج وی، دویم احتمال دا چه خپله د هغه واطی وی، یقین د یو طرف هم نه دې، لهذا اوس به دا واطی څه کوی؟ که هغه خپل بچې منی او

---

[1]: صحیح مسلم/النکاح ٢٣ (١٤٤١)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٥/٥، ٤٤٦٦)، سنن الدارمي/السیر ٣٨(٢٥٢١) (صحیح)

خپل وارث ئې جوړوی نو بيا اشكال شته او كه د زوج اول بچې ئې منی او د هغه نه خپل غلام او خادم جوړوی نو بيا ناجائز ده، ځكه چه په دې دواړو خبرو كښې يو هم يقينی نه دې پس د احد المحظورين ارتكاب لازميږی كومه چه نتيجه ده د عدم استبراء، حاصل دا چه په دې حديث شريف كښې د قيد كړې شوې وينځې سره قبل الاستبراء وطی كولو باندې سخت وعيد اوفرمائيلو، او استبراء غير حامله څو يو حيض دې او د حامله وضع حمل، وهذا امر متفق عليه بين الائمة الاربعة قال المنذری، واخرجه مسلم بنحوه. (عون)

[٢١٥٧]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ قَيْسِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ أَبِي الْوَدَّاكِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَرَفَعَهُ، أَنَّهُ قَالَ فِي سَبَايَا أَوْطَاسَ: "لَا تُوطَأُ حَامِلٌ حَتَّى تَضَعَ، وَلَا غَيْرُ ذَاتِ حَمْلٍ حَتَّى تَحِيضَ حَيْضَةً".

ترجمه: ابو الوداك دابوسعيد خدری رضی الله عنه نه يو مرفوع روايت نقل كړې دی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی داوطاس دقيديانو په باره كښې چه په دوی كښې به دحاملې سره جماع نشی كولی ترڅوچه وضع دحمل نه وی شوی او بغير حاملوسره به هم جماع نشی كولی ترڅوچه وربانډې يوحيض نه وی راغلی.

[٢١٥٨]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي مَرْزُوقٍ، عَنْ حَنَشٍ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: قَامَ فِينَا خَطِيبًا، قَالَ: "أَمَا إِنِّي لَا أَقُولُ لَكُمْ إِلَّا مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَوْمَ حُنَيْنٍ، قَالَ: لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْقِيَ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ، يَعْنِي إِتْيَانَ الْحَبَالَى، وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَقَعَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنَ السَّبْيِ حَتَّى يَسْتَبْرِئَهَا، وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَبِيعَ مَغْنَمًا حَتَّى يُقْسَمَ".

ترجمه: دحضرت حنش صنعانی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رويفع بن ثابت الانصاری رضی الله عنه اودريدو او مونږ ته ئې خطبه راكوله اوداسې ئې اوفرمائيل زه تاسوته نه بيانوم مګرهغه څه كوم چه مې دنبی عليه السلام نه اوريدلی دی، مادهغه نه دحنين په ورځ داسې اوريدلی ووچه وئې فرمائيل حلال نه دی دداسې يوكس دپاره څوك چه په الله تعالی اوپه ورځ دآخرت باندې ايمان لری چه د خپلې اوبه دبل چاپه فصل كښې واړوی يعنی حاملې سره هم وطی كول حلال نه دی دداسې يوكس دپاره څوك چه په الله تعالی اوپه ورځ د آخرت باندې ايمان لری چه كومه قيدی ښځه وطی كړی ترڅوچه ددې رحم نه وی پاك شوی حلال نه دی دداسې يوكس دپاره څوك چه په الله تعالی اوپه ورځ دآخرت باندې ايمان لری چه دغنيمت يوڅيز مخكښې د تقسيم نه خرڅ كړي

تشريح: ﴿يعنی اتيان الحبالی﴾حبالی جمع ده د ﴿حبلی﴾، د اتيان نه مراد جماع يعنی كومه زنانه چه د دويم سړی په وطی سره حامله ده هغې سره وطی كول مخكښې د وضع الحمل نه حرام دی

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٩٩٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨/٣، ٦٢، ٨٧) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/النكاح ٣٤ (١١٣١)، (تحفة الأشراف: ٣٦١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٨/٤)، سنن الدارمي/السير ٣٧ (٢٥٢٠)، ويأتي هذا الحديث في الجهاد (حسن)

[٢١٥٩]( )حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ "حَتَّى يَسْتَبْرِئَهَا بِحَيْضَةٍ"، زَادَ فِيهِ: حَيْضَةٍ وَهُوَ وَهْمٌ مِنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ، وَهُوَ صَحِيحٌ فِي حَدِيثِ أَبِي سَعِيدٍ، زَادَ: "وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيهِ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَلْبَسْ ثَوْبًا مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَخْلَقَهُ رَدَّهُ فِيهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: الْحَيْضَةُ لَيْسَتْ بِمَحْفُوظَةٍ، وَهُوَ وَهْمٌ مِنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ.

ترجمه: ابومعاويه دابواسحاق نه دمذكوره روايت په شان ا روايت نقل كړې دى مگرددى اضافى سره چه ترڅو پورې ددې رحم نه وى پاك شوى په يوحيض تيريدوسره، رابوداود وائى دحيضة اضافه د ابومعاويه وهم دى او څوك چه په الله تعالى اوپه ورځ دآخرت باندې ايمان لرى نوسورلى دى نه كوى دمسلمانانودغنيمت په څاروى باندې چه خوارئى كړى او بيائى بيرته په نوروكښې واپس كړى او څوك. چه په الله تعالى او په ورځ دآخرت باندې ايمان لرى نو د مسلمانانو د غنيمت دمال نه دى جامې نه اغوندى چه زړې ئې كړى اوبيرته ئې په غنيمت كښې شاملې كړي.

تشريح: ﴿فلا يركب دابة من فئ المسلمين﴾ مطلب دا دې چه په مال غنيمت كښې د تقسيم نه مخكښې تصرف كول مثلا دا چه د څاروى نه د سورلئ نبه ډير كار واخلى او چه كله هغه كمزورې كړى نو هغه په مال غنيمت كښې كيږدى يا د مال غنيمت نه څه كپړه د استعمال دپاره واخلى او د هغې د استعمالولو نه پس هغه خراب او زړه شى او بيا ئې واپس كړى دا ټول كارونه ناجائز او حرام دى. دا حديث په كتاب الجهاد كښې راروان دې ﴿حتى اذا خلقها﴾ اى جعلها خلقا ﴿خلق﴾ په معنى د زوړ. ﴿اذا اعجفها﴾ يعنى كله چه ئې نبه كمزورې كړو ﴿عجف﴾ په معنى د كمزورى، ﴿اعجف﴾ كمزورې والانثى عجفاء چه د هغې جمع عجاف راځى كما فى قوله تعالى سبع عجاف... والحديث سكت عنه المنذرى. اه عون وفى تكملة المنهل وهذه الرواية اخرجها البيهقى من طريق المصنف مختصرة. اه

بَابٌ فِي جَامِعِ النِّكَاحِ

د نكاح د متفرقو احكامو بيان

يعنى په دې باب كښې متفرق احاديث جمع كړې شوې دى.

[٢١٦٠]( )حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ يَعْنِي سُلَيْمَانَ بْنَ حَيَّانَ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا تَزَوَّجَ أَحَدُكُمُ امْرَأَةً أَوِ اشْتَرَى خَادِمًا، فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَمِنْ شَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، وَإِذَا اشْتَرَى بَعِيرًا فَلْيَأْخُذْ بِذِرْوَةِ سَنَامِهِ وَلْيَقُلْ مِثْلَ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: زَادَ أَبُو سَعِيدٍ: ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا وَلْيَدْعُ بِالْبَرَكَةِ فِي الْمَرْأَةِ وَالْخَادِمِ.

ترجمه: حضرت عمرو بن شعيب دخپل پلارنه اوهغه دد دنيكه : عمروبن العاص رضي الله عنه نه

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣٦١٥) (حسن)

[2]): سنن ابن ماجه/النكاح ٢٧ (١٩١٨)، (تحفة الأشراف: ٨٧٩٩)، وقد أخرجه: سنن النسائي/اليوم والليلة (٢٤٠) (حسن)

روایت بیان کړی، دی اوهغه دنبی علیه السلام نه روایت کوی چه فرمائیلی ئې ووکله چه په تاسوکښې یوکس دیوی ښځې سره نکاح اوکړی یاخادم واخلی نو دا دعاء دې هم اووائي: («اللّٰهُمَّ إني أسألك خيرها وخير ما جبلتها عليه وأعوذ بك من شرها ومن شر ما جبلتها عليه») ترجمه اوکله چه اوښ واخلی نودهغه په کوب دی لاس کیږدی او مذکوره دعادی اووائی، ابوداود وائی چه دابوسعید په روایت کښې ددې الفاظو اضافه منقول ده چه بیادی ددې په تندی باندې لاس کیږی او دبرکت دحصول دپاره دی دعاوغواړی اوحکم دښځی اوخادم په باره کښې دی۰

[۲۱۶۱](۱)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ، قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا، ثُمَّ قُدِّرَ أَنْ يَكُونَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِي ذَلِكَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ أَبَدًا".

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی کله چه یوکس په تاسوکښې دخپلې کور ودانې سره دکور والی اراده اوکړی نوداسې دی وائي: «بسم الله اللّٰهُمَّ جنبنا الشيطان وجنب الشيطان ما رزقتنا» بیاکه چرې ددوی دپاره په دې ورځ بچی ورکړی شی نوشیطان به ورته هیڅ قسم ضررنشی رسولی.

تشریح: ﴿لو ان احدكم اذا اراد ان ياتى اهله﴾ یعنی که انسان د جماع د ارادې په وخت (د عورت ښکاره کولو نه مخکښې) دا دعا اولولی(۲) او الله پاک ته د دې وطی نه ماشوم پیدا کول منظور وی نو د هغه دعا په برکت سره هغه مولود ته شیطان ضرر نه شی ورکولې، په اشعة اللمعات ص ۲۷۱ جلد ۲ کښې لیکلې دی او په دې وخت کښې چاته د دعا او ذکر توفیق ملاویږی؟ او هم په دې وجه باندې د اولاد د احوال فساد او خرابوالې او د هغې تباهی ده. د کوم ضرر نفی چه په دې حدیث شریف کښې کړې شوې دې، وئیلې شوې ده چه د دې نه مراد ضرر جسمانی مراد دې ﴿صرع﴾(مرګی) کوم ته چه ام الصبیان وئیلې شی د دې مرض نه محفوظ وی، او وئیلې شوې دی چه دینی ضرر مراد دې، یعنی د دین لوئې نقصان او نقصان عظیم یعنی خروج عن الاسلام، ګویا شیطان په دې باندې داسې بدې طریقې سره نه شی مسلط کیدې چه هغه د دائره اسلام نه خارج کړی، او په دې کښې یو قول دا هم دې چه په دې جماع کښې د شیطان شرکت نه شی کیدې ځکه چه بعض علماء کرام (مجاهد) نه منقول دی چه کوم سړې د جماع په وخت بسم الله پریږدی نو د هغه په احلیل باندې شیطان اونخلی او په جماع کښې شریک شی. والله تعالی اعلم.. قال المنذری واخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة اهـ عون.

(۱): صحیح البخاري/الوضوء ۸ (۱٤۱)، بدء الخلق ۱ (۳۲۸۳)، النكاح ٦٦ (٥١٦١)، الدعوات ٥٥ (٦٣٨٨)، التوحید ۱۳ (۷۳۹٦)، صحیح مسلم/النکاح ۱۸ (۱٤۳٤)، سنن الترمذي/النكاح ۸ (۱۰۹۲)، سنن ابن ماجه/النكاح ۲۷ (۱۹۱۹)، (تحفة الأشراف: ٦۳٤۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۱۷، ۲۲۰، ۲٤۳، ۲۸۳، ۲۸٦)، سنن الدارمي/النكاح ۲۹ (۲۲٥۸) (صحیح) [۲۱٦۲] (۲)، او د انزال په وخت هم یوه دعا راغلې ده کما في الحصن الحصين: اللهم لا تجعل الشيطان فيما رزقتني نصيبا، یعنی په زړه کښې به دا دعا کوی (حاشیة کوکب)

(۱)حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ الْحَارِثِ بْنِ مَخْلَدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَلْعُونٌ مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا".

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي دلعنتي دى هغه كس څوك چه دخپلې ښځې سره په دبر (شاته طرف) كښې جماع اوكړي.

[۲۱۶۳](۲)حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرًا، يَقُولُ: "إِنَّ الْيَهُودَ يَقُولُونَ: إِذَا جَامَعَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ فِي فَرْجِهَا مِنْ وَرَائِهَا كَانَ وَلَدُهُ أَحْوَلَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ سورة البقرة آية ۲۲۳". (۳)

ترجمه: دحضرت محمد بن المنكدر روائی چه دجابر رضي الله عنه نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې يهوديانوبه وئيل چه كوم كس دخپلې ښځې سره په فرج كښې دشاد طرف نه جماع اوكړي نوددوى چه كوم بچې پيدا كيږي هغه به كاڼره وي نوددوى باطل عقيدې په رد كښې الله تعالى دا آيت: («نساؤكم حرث لكم فأتوا حرثكم أنى شئتم») نازل كړو. (سورة بقره ايت ۲۲۳)

ترجمه: ستاسو ښځې ستاسو دپاره پټى دي چه څنګه مو خوښه وى راځئ ورته.

تشريح: ﴿ان اليهود يقولون الخ ﴾يعني يهود دا وائي چه كوم سړې د خپلې زوجې سره په قبل كښې د شا طرف نه (هغه پرمخې سملولو سره) وطى اوكړي نو د هغې نه چه كوم ماشوم پيدا كيږي هغه احول (چغر) وى، د دې په ترديد كښې دا آيت شريفه نازل شو چه په دې كښې هيڅ باك نشته چه انسان په شرمګاه كښې وطى د دبر د طرف نه اوكړي، د جمهورو رائې دا ده چه دا آيت د عموم احوال وكيفيات دپاره دې، د عموم مواضع دپاره نه دې او د ﴿انى شئتم ﴾معنى كيف شئتم ده، ﴿من اين شئتم ﴾نه ده، د سيدنا جابر رضي الله عنه په دې حديث كښې او د ابن عباس په راتلونكى روايت كښې د دې تصريح ده.

وطى فى الدبر كښې د مسلك ابن عمر تحقيق:

خو د ابن عمر رضي الله عنه رائې د دې خلاف منقول ده لكه چه په كتب حديث وشروح حديث كښې مشهور دى او خپله دلته په ابوداود كښې په وړاندې روايت كښې ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه ﴿ان ابن عمر الله يغفر له اوهم ﴾ (۴) چه ابن عمر رضي الله عنه دې الله پاک معاف كړي د هغه نه په دې كښې وهم واقع شوې دې. او هغه وهم دا دې چه هغه فرمائي چه دا آيت كريمه د وطى فى الدبر په باره كښې دې لكه چه د دارقطنى او طبرانى په روايت كښې د ابن عمر رضي الله عنه نه صراحة روايت شوې دې كوم چه ابن جرير طبرى په خپل تفسير كښې ذكر كړې دې، او امام

(۱): سنن ابن ماجه/النكاح ۲۹ (۱۹۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۳۷)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ عشرة النساء (۹۰۱۵)، مسند احمد (۲/۲۷۲، ۳۴۴، ۴۴۴، ۴۷۹)، سنن الدارمي/الطهارة ۱۱۴(۱۱۷۶) (حسن)

(۲): صحيح البخاري/تفسير سورة البقرة ۳۹ (۴۵۲۸)، صحيح مسلم/النكاح ۱۹(۱۴۳۵)، (تحفة الأشراف: ۳۰۲۲)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/التفسير ۳ (۲۹۷۸)، سنن ابن ماجه/ النكاح ۲۹ (۱۹۲۵)، سنن الدارمي/الطهارة ۱۱۳ (۱۱۷۲)، النكاح ۳۰(۲۶۶۰) (صحيح)

(۳) وحديث جابر هذا اخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري اهـ عون)

(۴) حديث ابن عباس سكت عنه المنذري اهـ وفي المنهل والحديث اخرجه ايضا البيهقي اهـ)

بخاری رحمه الله هم په کتاب التفسیر کښې د ابن عمر رضي الله عنه دا روایت ذکر کړې دې، خو ﴿ یاتیها فی ﴾ لیکلو سره ئې وړاندې بیاض پریخودلې دې د لفظ ﴿فی ﴾مجرور ئې نه دې ذکر کړې، یا خو د دې لفظ د قباحت او شناعت د وجې نه (کما فی تقریر الجنجوهی) یا په قول د بعض شارحینو د عدم تحقیق او تردد د وجې نه بنا بر اختلاف روایات.

د دې نه پس خان پوهه کړئ چه د محدثینو په دې کښې اختلاف دې چه د ابن عمر رضي الله عنه طرف ته د اباحت دبر نسبت صحیح دې یا نه؟ پس بعض علماء چه په هغوی کښې ابن حجر رحمه الله هم شامل دې د دې د صحت قائل دی (۱)کما یظهر من کلامه فی الفتح او بعض نور حضرات چه په هغوی کښې حافظ ابن القیم (فی تهذیب السنن) او حافظ ابن کثیر وړاندې وړاندې دی هغوی د دې په سختئ سره انکار کوی هغوی وائی چه ابن عمر ته وهم نه دې راغلې بلکه خلقو ته د هغه په مسلک باندې پوهیدو کښې وهم راغلې دې، د هغه اصل رائې خو د آیت په تفسیر کښې هم هغه ده کومه چه د ابن عباس رضي الله عنه ده یعنی اتیان فی الفرج من ناحیة الدبر، د علامه قسطلانی میلان هم د حافظ د رائې خلاف هم دې طرف ته دې پس هغه د حافظ ابن حجر کلام نقل کولو نه پس د دې استدراک د حافظ ابن کثیر د کلام نه کړې دې او د ابن عمر نه ئې صریح روایات د دې په عدم جواز کښې ذکر کړې دی، ابن قیم په حواله د نسائی یو روایت دا هم ذکر کړې دې عن سعید بن یسار قال قلت لابن عمر انا نشتری الجواری فنحمض لهن قال وما التحمیض؟ قال ناتیهن فی ادبارهن. قال اف! او یعمل هذا مسلم؟ اهـ علامه انور شاه کشمیری رحمه الله رائې هم دا ده چه د دې فاحشه د اباحت نسبت د ابن عمر رضي الله عنه طرف ته بالکل غلط دې، وړاندې فرمائی چه دا وطی فی الدبر داسې فاحشه ده التی تدع الدیار بلا قع اهـ (فیض الباری) (۲) د حضرت اقدس گنگوهی رحمه الله رائې هم په لامع الدراری کښې هم دا ده چه د ابن عمر رضي الله عنه مسلک دې هم د جمهورو د مسلک مطابق او منلې شی د هغې خلاف نه

هم دغه شان دې دا هم واضح وی چه څنګه د ابن عمر رضي الله عنه نه په دې مسئله کښې د ناقلینو اختلاف موندلې شی هم دغه شان د فقه دوه لوئې امامان یعنی د مالک بن انس او امام شافعی هم په دې کښې اختلاف نقل کولې شی کوم چه د حدیث په شروح کښې مذکور دې او حضرت سهارنپوری هم په بذل المجهود کښې دا نقل کړې دې او دا چه تحقیق دا دې چه دا دواړه امامان د جمهورو سره دی پس وطی فی دبر المراءة باتفاق ائمه اربعه حرام ده، البته حافظ ابن حجر په دې کښې د بعض صحابه او نورو علماء اختلاف ثابت کړې دې. والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب.

(۱) په ظاهره کښې د ابن عمر د روایت مقتضی هم دا ده او هم په دې وجه هغه دا مبهم ساتلې دې، او دابوداود موجوده روایت خو په دې کښې تقریبا صریح دی (۲) دا داسې گناه ده چې ښارونه او آبادې دبیخه وتونکې او تباه وبرباد کونکې ده . قلت وفي الحدیث الیمین الفاجرة تذر الدیار بلاقع،۱۲

(۲) دا داسې گناه ده کومه چه ښهرونو او ابادو لره تباه کونکې ده، قلت وفی الحدیث الیمین الفاجرة تذر الدیار بلاقع)

[٢١٦٤]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى أَبُو الْأَصْبَغِ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "إِنَّ ابْنَ عُمَرَ وَاللَّهُ يَغْفِرُ لَهُ أَوْهَمَ إِنَّمَا كَانَ هَذَا الْحَيُّ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُمْ أَهْلُ وَثَنٍ مَعَ هَذَا الْحَيِّ مِنْ يَهُودَ وَهُمْ أَهْلُ كِتَابٍ، وَكَانُوا يَرَوْنَ لَهُمْ فَضْلًا عَلَيْهِمْ فِي الْعِلْمِ فَكَانُوا يَقْتَدُونَ بِكَثِيرٍ مِنْ فِعْلِهِمْ، وَكَانَ مِنْ أَمْرِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَنْ لَا يَأْتُوا النِّسَاءَ إِلَّا عَلَى حَرْفٍ وَذَلِكَ أَسْتَرُ مَا تَكُونُ الْمَرْأَةُ، فَكَانَ هَذَا الْحَيُّ مِنَ الْأَنْصَارِ قَدْ أَخَذُوا بِذَلِكَ مِنْ فِعْلِهِمْ، وَكَانَ هَذَا الْحَيُّ مِنْ قُرَيْشٍ يَشْرَحُونَ النِّسَاءَ شَرْحًا مُنْكَرًا وَيَتَلَذَّذُونَ مِنْهُنَّ مُقْبِلَاتٍ وَمُدْبِرَاتٍ وَمُسْتَلْقِيَاتٍ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ الْمَدِينَةَ تَزَوَّجَ رَجُلٌ مِنْهُمُ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ فَذَهَبَ يَصْنَعُ بِهَا ذَلِكَ فَأَنْكَرَتْهُ عَلَيْهِ، وَقَالَتْ: إِنَّمَا كُنَّا نُؤْتَى عَلَى حَرْفٍ، فَاصْنَعْ ذَلِكَ وَإِلَّا فَاجْتَنِبْنِي، حَتَّى شَرِيَ أَمْرُهُمَا، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ سورة البقرة آية ٢٢٣، أَيْ مُقْبِلَاتٍ وَمُدْبِرَاتٍ وَمُسْتَلْقِيَاتٍ، يَعْنِي بِذَلِكَ مَوْضِعَ الْوَلَدِ.

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه الله تعالى دى ابن عمر رضي الله عنهما ته مغفرت اوکړی هغه ته په انى شئتم کښې اوهم پيداشوى وو چه دښځې سره په شاته طرف کښې جماع کول درست دي، بلکه اصل واقعه داسې ده چه په انصاروکښې يوه قبيله وه چه دبتانوعبادت به ئې کولودوى سره يوه بله قبيله و کوم چه اهل کتاب وو او ديهوديانوبه دانصارونه ځان افضل ګڼړلوځکه چه ديهوديانو سره دتورات علم وواونصرانيانو به دبتانو عبادت کولونوپه ډيرو امورو کښې به انصارو ديهوديانواتباع کوله اوبله خبره داهم وه چه يهوديانوبه ديوى طريقې نه علاوه په بله طريقه باندې دخپلوبيبيانوسره کور والى نه کولويعنى ښځه به ئې څملوله اوکور والى به ئې ورسره اوکړوځکه چه په دې طريقې سره به دښځې شرمګاه پټ پاتى شو، نوانصارو به په دې کارکښې هم ديهوديانو و تقليد کولو اوقريشيانوسروبه دخپلو ښځونه په مختلفو طريقوسره مزى اخستلى او برينډولې به ئې کله دمخکښې طرف نه اوکله دشا طرف نه، اوکله به ئې څملوله کله چه مهاجرين مدينې ته راغلل نو په دوى کښې يوکس يه ديوى انصارى زنانه سره نکاح اوکړله اودخپل رسم ورواج مطابق ئې ورسره کوروالې شروع کړونوښځې ئې دغسې کوروالې کول بدوګڼړل او اوئې وئيل داسې طريقې استعمالول په مونږ کښې بدګڼړلې شى اوداعمل مونږ صرف په يوه طريقه کوو، نه به هم داسې کوى ګنې زمانه جدائى اختيارکړه بهرحال ددوى په مينځ کښې دې نزاع ډير کړکيچن صورت اختيارکړوتردې چه نبى ﷺ ته هم دا معامله ورسيدله نو په دې وخت کښې الله تعالى دا آيت : («نساؤكم حرث لكم فأتوا حرثكم أنى شئتم») نازل کړو يعنى که دمخامخ طرف نه کور والى کوئ اوکه شاطرف نه اوکه څملوئ ئې ليکن ولادت ددخول په ځاى کښې کوئ.

شرح حديث

د پورته آيت کريمه ﴿نساءكم حرث لكم﴾ د شان نزول د لاندې ابن عباس رضي الله عنه د ابن عمر رضي الله عنهما رائې لره رد کولو سره فرمائى چه د هغې حاصل دا دې : په مدينه منوره کښې ابادى په شروع کښې مشترک وه هلته به اهل وثن (مشركين) کوم چه د اسلام قبلولو نه روستو

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٣٧٧) (حسن)

انصار اوبللې شو هم اوسيدل او يهود کوم چه اهل کتاب وو هغوی هم هلته اوسيدل، او دا خبره هم وه چه دې مشرکانو به يهوديانو ته د هغوی د اهل کتاب کيدو د وجې نه د خپل ځان نه افضل ګڼړلو او د هغوی بعض خصلتونه به ئې د هغوی نه زده کول (د دې تمهيد نه پس اوس پوهه شئ) په مدينه منوره کښې د اوسيدونکو يهودو د جماع طريقه متعين وه وذلک استر ما تکون المراة يعنی هغه طريقه د جماع ډيره مناسب او د پردې وه (په ظاهره کښې ترې مراد يعنی ألتهه ده) په خلاف د مشرکين مکه او قريشو چه هغوی به جماع په مختلف طريقو سره کوله کله يو شان او کله بل شان (کله زنانه نيغه سملولو سره او کله پړمخې سملولو سره خو بهر حال کولو به ئې په شرمګاه کښ) چه کوم مشرکان به په مدينه کښې اوسيدل هغوی هم د يهوديانو والا طريقه زده کړې وه او هغوی په دې باندې عادت شوې وو. ﴿فلما قدم المهاجرون المدينة ﴾بيا چه کله مهاجرين (مشرکين مکه) اسلام قبلولو سره په قلاره قلاره مدينې ته راتلل شروع شو نو دا قصه ورته راپيښه شوه چه يو مهاجری د انصاری زنانه سره نکاح اوکړه، د نکاح نه پس چه کله په اوله شپه باندې هغه مهاجری دې انصاری زنانه ته راغلو نو هغه د هغې سره په داسې طريقه باندې جماع کولو اوغوښتل ځنګه چه به هغوی (اهل مکه) کوله (هغه ئې پړمخې سملوله) نو دې انصاريه خپل خاوند اور ټولوکلو چه دا څه کوې زمونږ په نزد خو د جماع هم دا يوه طريقه ده که داسې ئې کوې خو صحيح ده ګينې لرې شه﴿حتی شری امرهما ﴾تردې چه د هغوی دا خبره خوره شوه (ښه کافی پوره قصه ترينه جوړه شوه فضيحة اوشو) او خبره رسول الله ﷺ ته اورسيده ﴿فانزل الله عزوجل نساءکم حرث لکم ﴾ګويا مطلب دا شو چه دا هيڅ ضروری نه ده چه جماع دې په يو خاص طريقې سره اوکړې شی (ځنګه چه يهود کوی) بلکه هر قسمه ګنجائش دې ځنګه چه مهاجرين کوی او داسې هم کولې شی انتهی کلام ابن عباس. اوس کتل دا دی چه په دې شان نزول کښې چرته هم د وطی دشاه طرف نه ذکر نشته بلکه دا دې چه قريش چه ځنګه جماع کوی په هغه ټولو طريقو سره جماع کولې شی چه په هغې کښې په بعض کښې ستر زيات دې او په بعض کښې کم.

بَابٌ فِي إِتْيَانِ الْحَائِضِ وَمُبَاشَرَتِهَا

باب د حائضه ښځې سره جماع اور هغې سره مباشرت (بدن سره د بدن ملاوولو) بيان

دا ترجمه الباب او مسئله او هم دغه شان د دې نه روستو راتلونکې ترجمة الباب کتاب الطهارة کښې ابواب الاستحاضة کښې تير شوې دې.

[۲۱٦٥](1)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ الْيَهُودَ كَانَتْ إِذَا حَاضَتْ مِنْهُمُ امْرَأَةٌ أَخْرَجُوهَا مِنَ الْبَيْتِ وَلَمْ يُؤَاكِلُوهَا وَلَمْ يُشَارِبُوهَا وَلَمْ يُجَامِعُوهَا فِي الْبَيْتِ، فَسُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ سورة البقرة آية ۲۲۲ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " جَامِعُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ

[1]: انظر حديث رقم (۲۵۸)، (تحفة الأشراف: ۳۰۸) (صحيح)

وَاصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ غَيْرَ النِّكَاحِ"، فَقَالَتِ الْيَهُودُ: مَا يُرِيدُ هَذَا الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ شَيْئًا مِنْ أَمْرِنَا إِلَّا خَالَفَنَا فِيهِ، فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ الْيَهُودَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا، أَفَلَا نَنْكِحُهُنَّ فِي الْمَحِيضِ؟ فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا، فَخَرَجَا فَاسْتَقْبَلَتْهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمَا، فَظَنَنَّا أَنَّهُ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا.

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی فرمائی چه کله به د په یهودیانو کښې دیوی ښځې حیض راغی نودکورنه به ئې وخکله اوخوراك څکاك اوناسته پاسته به ئې ورسره نه کوله نو په دې باره کښې دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړی شونو په دې وخت کښې حق تعالی دا آیت نازل کړو: «يسألونك عن المحيض قل هو أذى فاعتزلوا النساء في المحيض» الآية، نبی علیه السلام اوفرمائیل په کورونو کښې ورسره ناسته پاسته کوئ اوددوی سره ستاسو دپاره هرڅه جائز دی مګرعلاوه دکوروالی نه، په دې وخت کښې یهودیانوو وئیل چه داسړی (نبی علیه السلام) نه غواړی چه زمونږ ددین یوشی یوحال نه پریږدی مګرپه هریو کښې ئې زمونږ: مخالفت کړې دې نو په دې سلسله کښې اسید بن حضیر اوعباد بن بشر رضی الله عنهما نبی علیه و السلام ته راغلل اوعرض ئې اوکړوچه اې دالله رسوله و یهودیان داسې داسې وائی آیا مونږ دښځوسره په حیض کښې کور والی ونکړو؟ ددې په اوریدوسره دنبی علیه السلام دمخ رنګ بدل شوتردې چه مونږ ګمان اوکړوچه دوی دواړونبی علیه السلام غصه کړوپس دوی روان شول ددې نه پس نبی علیه السلام ته دپیوتحفه پیش کړی شوه نونبی علیه السلام دوی را اوغوښتل مونږته داسې نه ښکاریدل چه نبی علیه السلام دوی ته غصه شوی دی بلکه یهودیانوته غصه شوی وو.

تشریح: قوله: ﴿افلا ننکحهن فی المحیض﴾ د دې دواړو حضرات مقصود دا وو چه د یهودو نور هم مخالفت اوکړې شی او نه صرف دا چه مونږ خلق د حائضه سره خوراک څکاک او یو شان وی بلکه د دې سره جماع هم کوی که ستاسو اجازت وی، په دې باندې مفصل کلام په مواکلة الحائض کښې تیر شوې دې. قال المنذری واخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة اهـ عون

[٢١٦٦] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ جَابِرِ بْنِ صُبْحٍ، قَالَ: سَمِعْتُ خِلَاسًا الْهَجَرِيَّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، تَقُولُ: "كُنْتُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيتُ فِي الشِّعَارِ الْوَاحِدِ وَأَنَا حَائِضٌ طَامِثٌ، فَإِنْ أَصَابَهُ مِنِّي شَيْءٌ غَسَلَ مَكَانَهُ وَلَمْ يَعْدُهُ، وَإِنْ أَصَابَ، تَعْنِي ثَوْبَهُ، مِنْهُ شَيْءٌ غَسَلَ مَكَانَهُ وَلَمْ يَعْدُهُ وَصَلَّى فِيهِ".

ترجمه: خلاس ابن عمرو هجری وائی چه دعائشې رضی الله عنها نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل ئې مااونبی علیه السلام به په یوه جامه کښې شپه تیروله اوزه به حائضه وم: که چرې دنبی علیه السلام په بدن څه غلاظت پریوتونوهغه به ئې وینځلو، نه چه ددې نه زیات، اوکه چرې دنبی علیه السلام کپړی به ګنده شوی نوهم هغه هومره ځای به ئې وینځلو څومره چه به ګنده شوی وو ددې نه زیات نه اوبیابه پې په دې جامو کښې مونځ هم کولو.

(١): انظر حديث رقم (٢٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٦٧) (صحيح)

[٢١٦٧] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ خَالَتِهِ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا أَرَادَ أَنْ يُبَاشِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِهِ وَهِيَ حَائِضٌ، أَمَرَهَا أَنْ تَتَّزِرَ ثُمَّ يُبَاشِرُهَا".

ترجمه: حضرت عبدالله بن شداد رضي الله عنه دخپلې ترورميمونة بنت الحارث رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه كله به نبي عليه السلام دخپلې يوې بي بي سره د څملاستو اراده اوكړه اوهغه به حائضه وه نوهغې ته به ئې حكم اوكړو چه لنګ وتړي اوبيابه ورسره څملاستو.

بَابٌ فِي كَفَّارَةِ مَنْ أَتَى حَائِضًا

باب: حائضه ښځې سره د جماع كولو د كفارې بيان

[٢١٦٨] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، وَغَيْرُهُ، عَنْ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي الْحَكَمُ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِي يَأْتِي امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، قَالَ: "يَتَصَدَّقُ بِدِينَارٍ أَوْ بِنِصْفِ دِينَارٍ".

ترجمه: دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دهغه چاپه باره كښې څوك چه دخپلې ښځې سره په حيض كښې كور والى اوكړي فرمائيلي دي چه يودينار يانيم دينار دي صدقه كړي(په طور دكفارې).

[٢١٦٩] (٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ يَعْنِي ابْنَ سُلَيْمَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَكَمِ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَبِي الْحَسَنِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "إِذَا أَصَابَهَا فِي الدَّمِ فَدِينَارٌ، وَإِذَا أَصَابَهَا فِي انْقِطَاعِ الدَّمِ فَنِصْفُ دِينَارٍ".

ترجمه: دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي وه كه چرې څوك دوينو په موجودګئ كښې كوروالى اوكړي نوپوره ديناربه صدقه كوي اوكه چرې دوينودقطع كيدو په وخت كښې يعنى دحيض اختتام په وخت كښې ئې كوروالى اوكړو نونيم ديناربه صدقه كوي(يعنى كفاره ده).

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَزْلِ

باب: د عزل بيان

عزل دا دي چه انسان د وطى په وخت چه كله د انزال وخت راشي نو فورا خپل اندام بهر راوباسى د دې دپاره چه حمل رانشى. د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كښې زيات تر خو صحابه كرامو ته د دې ضرورت د وينځو سره راتلو چه د هغې وجه دا وه چه يو طرف ته خو به حاجت وو د صحبت كولو او دويم طرف ته فديه يعنى د وينزې قيمت چه د ضرورت په وخت هغه خرڅ كړې شى او هغه دا خرڅولو سره د هغې قيمت حاصلول هم دغه شان ممكن ده چه

(١): صحيح البخاري/الحيض (٣٠٣)، صحيح مسلم/الحيض ١ (٢٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٣٥، ٣٣٦) (صحيح)

(٢): انظرحديث رقم: ٢٦٤، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٠) (صحيح)

(٣): انظر حديث رقم (٢٦٥)، (تحفة الأشراف: ٦٤٩٨) (صحيح)

کله د هغه په دې وطی سره بچې پیدا نه شی ځکه چه د ولادت په صورت کښې هغه وینزې ام ولد جوړه شی چه د هغې بیع ناجائز دې.

[۲۱۷۰]()حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ قَزَعَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، ذُكِرَ ذَلِكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَعْنِي الْعَزْلَ، قَالَ: "فَلِمَ يَفْعَلُ أَحَدُكُمْ، وَلَمْ يَقُلْ: فَلَا يَفْعَلْ أَحَدُكُمْ، فَإِنَّهُ لَيْسَتْ مِنْ نَفْسٍ مَخْلُوقَةٍ إِلَّا اللَّهُ خَالِقُهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَزَعَةُ مَوْلَى زِيَادٍ.

ترجمه: دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دا عمل یعنی عزل نبی علیه السلام ته ذکرکړې شونو وئی فرمائیل په تاسوکښې یوکس داسې ولې کوی، اوداسې ئې ونه وئیل چه داعمل مه کوئ. ځکه چه الله چې کوم نفس پیدا کول غواړی نو هغه به هم هغه پیدا کړی. امام ابوداود فرمائی چه قزعه دزیاد آزاد کړی شوی غلام وو.

[۲۱۷۱]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ حَدَّثَهُ، أَنَّ رِفَاعَةَ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي جَارِيَةً وَأَنَا أَعْزِلُ عَنْهَا، وَأَنَا أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ وَأَنَا أُرِيدُ مَا يُرِيدُ الرِّجَالُ، وَإِنَّ الْيَهُودَ تُحَدِّثُ أَنَّ الْعَزْلَ مَوْءُودَةُ الصُّغْرَى، قَالَ: "كَذَبَتْ يَهُودُ، لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَخْلُقَهُ مَا اسْتَطَعْتَ أَنْ تَصْرِفَهُ".

ترجمه: دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوکس نبی علیه السلام ته عرض اوکړو چه اې دالله رسوله زما یوه وینځه ده زه چه ورسره کوروالی کوم نوعزل کوم اوداېدګڼړم چه حامله شی اوزماهغه څه پکاروی کوم چه دنوروسړویکاروی او یهودیان وائی عزل په شان د ماشوم دخښولودی نبی علیه السلام چې اوریدل نو اوفرمائیل یهودیان دروغ وای که چرې الله اوغواړی چه پیدائی کړی نوځوك ئې مخه نشی بندولی.

د روایات عزل تشریح او مذاهب ائمه:

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه تقریبا ټول روایات حدیثیه نه د عزل جواز خو غیر مفید کیدل ثابتیږی(۳)، دلته په ابوداود کښې چه څومره روایات دی د ټولو حاصل دا دې.

په صحیح بخاری کښې د عزل سره متعلق یو مختصر شان باب دې چه په هغې کښې دوه درې روایات دی ﴿کنا نعزل والقران ینزل﴾ د کراهة یا منع هیڅ قسم روایت په دې کښې نشته، البته په صحیح مسلم کښې یو روایت دې یعنی حدیث جدامه بنت وهب چه په هغې کښې دا دی ﴿ذلک الواد الخفی﴾ چه د هغې په وجه باندې مشکلات پیدا شو یو حکم د عزل په باره کښې ځکه چه د حدیث جدامه تقاضا دا ده چه هغه ممنوع دې او د باقی ټولو

(۱): صحيح البخاري/ والتوحيد ۱۸ (۷۴۰۹) تعليقًا، صحيح مسلم/النكاح ۲۲ (۱۴۳۸)، سنن الترمذي/النكاح ۴۰ (۱۱۳۸)، سنن ابن ماجه/النكاح ۳۰ (۱۹۲۶)، (تحفة الأشراف: ۴۱۴۱، ۴۲۸۰)، وقد أخرجه: سنن النسائي/النكاح ۵۵ (۳۳۲۹)، موطا امام مالك/الطلاق ۳۴ (۹۵)، مسند احمد (۳/۲۲، ۲۶، ۴۷، ۴۹، ۵۱، ۵۳، ۵۹، ۶۸)، سنن الدارمي/النكاح ۳۶ (۲۲۶۹) (صحيح)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۴۰۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۳، ۵۱، ۵۳) (صحيح)

(۳) غیر مفید په دې وجه چه سره د عزل او اخراج ذکر نه یو دوه قطرې د منی هلته غورځیدلې شی او هم هغه د حمل دپاره کافی کیدلې شی، پس داسې هم شوې دی کله چه په بعض روایاتو کښې موجود دی چه بعض صحابه کرامو عزل اوکړو خو د هغې باوجود ئې حمل شو چه د هغې خبر هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: مونږ خو مخکښې دا خبره کړې وه)

روایاتو نه اباحت مستفاد کیږي.
دویم دا چه دا روایت په حدیث الباب کښې چه په هغې کښې دی ﴿كذبت يهود﴾ خلاف دي يهودو خو به هم دا وئيل چه عزل واد دې، د دې دويم اشكال جواب حافظ ابن القيم رحمه الله دا وركړې دي چه الواد الخفی مطلب دا دې چه ﴿ان العزل نوع من الواد ای صورة وليس بواد حقيقيا﴾ بلکه هغه واد دې من وجه يعنی قصدا د واطی لحاظ سره چه دا غواړی چه استقرار حمل نه وی، په خلاف د يهوديانو چه هغوی دا واد حقيقی منی خو واد صغير يعنی هغوی به يقين سره دا وئيل چه په دې کښې قطع نسل دې او رسول الله ﷺ د دې ترديد اوکړو چه الله پاک که په دې وطی نه يو انسان پيدا کول غواړی نو هغه به يقينا پيدا کيږي. لهذا د اثبات او نفی تعلق د شئ واحد سره نه دې چه دې ته تعارض اوئيلې شی.
او اباحت او منع کوم چه تعارض دې د هغې مختلف توجيهات کړې شوې دی، قال البيهقی النهی محمول علی التنزيه لا علی التحريم واحاديث الجواز علی نفی التحريم، ومنهم من رجح رواية المنع کابن حزم کما هو مسلکه وبعضهم بعکس ذلک.
(دعزل حکم): د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د عزل په حکم کښې د فقهاء کرامو ترمينځه دا تفصيل دې.
عند الجمهور والائمة الثلاثة د حره سره عزل کول بغير د هغې د اجازت نه مکروه دې او د شوافعو په نزد دوه روايتونه دی کراهت او عدم کراهت وهو الراجح عند المتاخرين. او که زنانه وينزه وی نو که هغه خپله مملوکه وی نو بيا خو د هغه سره بالاتفاق جائز دې مطلقا ولو بغير الاذن. او که هغه امة مزوجه ده نو هغه په حکم کښې حره ده. لهذا د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد بغير د اذن نه مکروه دې او په دې کښې معتبر اذن د سيد دې عند الائمة الثلاثة علی الراجح عندهم وعند الصاحبين المعتبر اذن الامة او د ابن حزم ظاهری مسلک دا دې چه عزل مطلقا حرام دې برابره خبره ده که حره وی يا امة. (من الاوجز)

[۲۱۷۲]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ، قَالَ: دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَرَأَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْعَزْلِ، فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ، فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ فَاشْتَهَيْنَا النِّسَاءَ وَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ وَأَحْبَبْنَا الْفِدَاءَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَعْزِلَ، ثُمَّ قُلْنَا: نَعْزِلُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ عَنْ ذَلِكَ، فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "مَا عَلَيْكُمْ أَنْ لَا تَفْعَلُوا، مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ".

ترجمه: دعبدالله ابن محيرزنه روايت دې فرمائی چه جومات ته داخل شوم نو ابوسعيد خدری رضی الله عنه مې اوليدونوزه ورسره کيناستم اودعزل په باره کښې مې ترې پوښتنه اوکړه ابوسعيد خدری رضی الله عنه ووئيل مونږ دنبی عليه السلام سره غزوه بنی المصطلق - ته لاړونوهلته

---

[1]): صحيح البخاري/البيوع ۱۰۹ (۲۲۲۹)، العتق ۱۳ (۲۵٤۲)، المغازي ۳۲ (٤۱۳۸)، النکاح ۹٦ (۵۲۱۰)، القدير ٦ (٦٦۰۳)، التوحيد ۱۸ (۷٤۰۹)، صحيح مسلم/النکاح ۲۲ (۱٤۳۸)، (تحفة الأشراف: ٤۱۱۱)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الکبري/العتق (۵۰٤٤)، مسند احمد (۳/٦۳، ٦۸، ۷۲، ۸۸) (صحيح)

موعربی قیدیان ولیدل چه وینځی اوغلامان وو نو زمونږ زړه وغوښتل چه حاصل ئې کړواولونړتوب مونږ تنګ کړی وو اودحامله کیدودویری نه به مونږه عزل کولو، مونږ ووئیل مونږه خو مخکښې دتپوس کولونه عزل کوو اوحال دادی چه نبی علیه السلام په مونږ کښې موجود دې نومونږ ترې تپوس اوکړو، نبی علیه السلام اوفرمائیل عزل مه کوئ ځکه تاسو ته څه نقصان دې چه دقیامته پورې چه کوم روح پیدا کیدونکې وی هغه به ضرور پیدا کیږي.

﴿فاصبنا سبايا من سبي العرب﴾راوی وائی چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کښې د بنو المصطلق سره غزوه اوکړه او په دې کښې مونږه ډیر عرب قیدیان قید کړل.

استرقاق العرب مسئله:

په دې باندې شارحینو لیکلې دی چه بنو المصطلق خالص عرب وو، پس د دې نه معلومه شوه چه عربو لره په جنګ کښې قید کول جائز دی ځنګه چه عجمیانو لره قید کول جائز دی، لکه چه د جمهورو مذهب دې په خلاف د امام ابوحنیفه چه د هغه په نزد استرقاق عرب جائز نه دې، د دې جواب په بذل المجهود کښې دا ورکړې شوې دې چه مسئله دا ده چه د احنافو په نزد سړی عرب لره قید کول جائز نه دی، نساء وصبیان لره قید کول جائز دی او سیاق حدیث د نساء سره متعلق دې. اهـ قال المنذری واخرجه البخاری ومسلم والنسائی. اهـ عون زاد فی المنهل والترمذی.

[۲۱۷۳](۱)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ لِي جَارِيَةً أَطُوفُ عَلَيْهَا وَأَنَا أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ، فَقَالَ: "اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا"، قَالَ: فَلَبِثَ الرَّجُلُ، ثُمَّ أَتَاهُ، فَقَالَ: إِنَّ الْجَارِيَةَ قَدْ حَمَلَتْ، قَالَ: "قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا".

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوانصاری دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشواوعرض ئې اوکړو چه زما یوه وینځه ده اوزه ورسره جماع کوم اوزه دابدګنړم چه هغه زمانه حامله شی نبی علیه السلام اوفرمائیل عزل ترې کوه که دی خوښه وی یقینا پیدابه شی هغه شی کوم چه الله تعالی ددې دپاره لیکلی وی راوی وائی چه دغه سړی انتظار اوکړواوبیا ورته دوباره راغی او اوئی وئیل چه هغه جینۍ خوحامله شوی ده، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ماخوتاته خبردرکړی ووچه چه دی په تقدیرکښې لیکلی شوی وی هغه به ورته ضرور ورسیږی

بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنْ ذِكْرِ الرَّجُلِ مَا يَكُونُ مِنْ إِصَابَةِ أَهْلِهِ

باب: ښځې سره د جماع حال خلقوته دوئیلو د کراهت بیان

اصابة اهل یعنی جماع، کوم کار چه انسان د شپې یواځې خپلې ښځې سره کوی، بیا د ورځې په مجلس کښې چا سره د هغې تذکره کول، د دې د کراهة بیان، کراهة د دې ظاهر دې اولا په دې وجه چه دا سراسر بې حیائی ده او دویم په دې وجه چه دا احمقانه حرکت دې چه قابل

(۱): صحیح مسلم/النکاح ۲۲ (۱۴۳۹)، (تحفة الأشراف: ۲۷۱۹)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۰ (۸۹)، مسند احمد (۳/۳۱۲، ۳۸۶) (صحیح)

اخفاء کار د اخفاء (پټ) د کولو باوجود روستو هغه ظاهروی ګویاد اخفاء مصلحت لره ضائع کوی، بیا د اخفاء (پټ کول) ضرورت څه وو، شارحینو لیکلي دی چه دا کراهت هغه وخت دي چه کله دا ذکر تفریحا بغیر د ضرورت او مصلحت نه وی ګیني په وخت د حاجت او مصلحت په ذکر کولو کښي هیڅ باک نشته چه د هغي مثالونه په احادیثو کښي موجود دی.

[۲۱۷٤](¹)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ، حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ. ح وحَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، كُلُّهُمْ عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، حَدَّثَنِي شَيْخٌ مِنْ طُفَاوَةَ، قَالَ: تَثَوَّيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ بِالْمَدِينَةِ، فَلَمْ أَرَ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ تَشْمِيرًا وَلَا أَقْوَمَ عَلَى ضَيْفٍ مِنْهُ، فَبَيْنَمَا أَنَا عِنْدَهُ يَوْمًا وَهُوَ عَلَى سَرِيرٍ لَهُ وَمَعَهُ كِيسٌ فِيهِ حَصًى أَوْ نَوًى وَأَسْفَلَ مِنْهُ جَارِيَةٌ لَهُ سَوْدَاءُ وَهُوَ يُسَبِّحُ بِهَا حَتَّى إِذَا أَنْفَدَ مَا فِي الْكِيسِ، أَلْقَاهُ إِلَيْهَا فَجَمَعَتْهُ فَأَعَادَتْهُ فِي الْكِيسِ فَدَفَعَتْهُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَلَا أُحَدِّثُكَ عَنِّي وَعَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: بَيْنَا أَنَا أُوعَكُ فِي الْمَسْجِدِ، إِذْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَقَالَ: "مَنْ أَحَسَّ الْفَتَى الدَّوْسِيَّ" ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هُوَ ذَا يُوعَكُ فِي جَانِبِ الْمَسْجِدِ، فَأَقْبَلَ يَمْشِي حَتَّى انْتَهَى إِلَيَّ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيَّ، فَقَالَ لِي: "مَعْرُوفًا"، فَنَهَضْتُ فَانْطَلَقَ يَمْشِي حَتَّى أَتَى مَقَامَهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ، فَأَقْبَلَ عَلَيْهِمْ وَمَعَهُ صَفَّانِ مِنْ رِجَالٍ وَصَفٌّ مِنْ نِسَاءٍ، أَوْ صَفَّانِ مِنْ نِسَاءٍ وَصَفٌّ مِنْ رِجَالٍ، فَقَالَ: "إِنْ أَنْسَانِي الشَّيْطَانُ شَيْئًا مِنْ صَلَاتِي فَلْيُسَبِّحِ الْقَوْمُ وَلْيُصَفِّقِ النِّسَاءُ"، قَالَ: فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْسَ مِنْ صَلَاتِهِ شَيْئًا، فَقَالَ: "مَجَالِسَكُمْ مَجَالِسَكُمْ"، زَادَ مُوسَى هَا هُنَا، ثُمَّ حَمِدَ اللَّهَ تَعَالَى وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: "أَمَّا بَعْدُ" ثُمَّ اتَّفَقُوا، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى الرِّجَالِ، فَقَالَ: "هَلْ مِنْكُمُ الرَّجُلُ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ فَأَغْلَقَ عَلَيْهِ بَابَهُ وَأَلْقَى عَلَيْهِ سِتْرَهُ وَاسْتَتَرَ بِسِتْرِ اللَّهِ؟" قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: "ثُمَّ يَجْلِسُ بَعْدَ ذَلِكَ، فَيَقُولُ: فَعَلْتُ كَذَا فَعَلْتُ كَذَا؟" قَالَ: فَسَكَتُوا، قَالَ: فَأَقْبَلَ عَلَى النِّسَاءِ، فَقَالَ: "هَلْ مِنْكُنَّ مَنْ تُحَدِّثُ؟" فَسَكَتْنَ، فَجَثَتْ فَتَاةٌ، قَالَ مُؤَمَّلٌ فِي حَدِيثِهِ: فَتَاةٌ كَعَابٌ عَلَى إِحْدَى رُكْبَتَيْهَا، وَتَطَاوَلَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَرَاهَا وَيَسْمَعَ كَلَامَهَا، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُمْ لَيَتَحَدَّثُونَ وَإِنَّهُنَّ لَيَتَحَدَّثْنَهُ، فَقَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا مَثَلُ ذَلِكَ؟" فَقَالَ: "إِنَّمَا مَثَلُ ذَلِكَ مَثَلُ شَيْطَانَةٍ لَقِيَتْ شَيْطَانًا فِي السِّكَّةِ فَقَضَى مِنْهَا حَاجَتَهُ وَالنَّاسُ يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، أَلَا وَإِنَّ طِيبَ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَلَمْ يَظْهَرْ لَوْنُهُ، أَلَا إِنَّ طِيبَ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَلَمْ يَظْهَرْ رِيحُهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَمِنْ هَا هُنَا حَفِظْتُهُ عَنْ مُؤَمَّلٍ وَمُوسَى، أَلَا لَا يُفْضِيَنَّ رَجُلٌ إِلَى رَجُلٍ وَلَا امْرَأَةٌ إِلَى امْرَأَةٍ إِلَّا إِلَى وَلَدٍ أَوْ وَالِدٍ، وَذَكَرَ ثَالِثَةً فَأُنْسِيتُهَا، وَهُوَ فِي حَدِيثِ مُسَدَّدٍ، وَلَكِنِّي لَمْ أُتْقِنْهُ كَمَا أُحِبُّ، وقَالَ مُوسَى: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنِ الطُّفَاوِيِّ.

ترجمه: دابونضره نه روایت دي چه ماته د طفاده قبیلي یو کس وئیلی دی چه زه یوځل په مدینه کښي دابوهریره سره میلمه شوم، ماد نبی ﷺ په صحابه کرامو کښي ددنه هیڅوک زیات عبادت ګذار او مهمان نواز نه وو لیدلی، څومره چه ابوهریره وو، زه یوه ورځ دهغه سره ناست وم اوهغه په یوتخت باندي ناست وو اویوه ګوتئ ئي په لاس کښي نیولی وه کومه چه دګیټونه ډکه وه اولاندي یوه توررنګی وینځه ناسته وه ابوهریره نه به په دي ګیټو باندي سبحان الله وئیل کله چه به ټولي ګیټئ ختمي شوی نووینځي به دوباره جمع کړی او به دغه ګوتئ کښي به ئي واچولی او ده ته به ئي ور پورته کړی او وربه ئي کړی نوده به

¹): سنن الترمذي/الأدب ٣٦ (٢٧٨٧)، سنن النسائي/الزينة ٣٢ (٥١٢٠، ٥١٢١)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٨٦)ويأتي هذا الحديث في الحمام (٤٠١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٤١/٢) (حسن لغيره)

وربانديِ بياتسبيح وئيلي شروع کړل، ماته ئې اوفرمائيل چه ايه تاته دخپل حالت متعلق دنبي ﷺ يو واقعه بيان نکړم؟ ما ورته اووئيل ضرور ئې راته بيان کړه هغه اوفرمائيل يوځل زه په مسجد نبوی کښې تبې نيولې ووم اولرزيدم کتل مې چه په دې وخت کښې نبي ﷺ جومات ته تشريف راوړو او ويې، فرمائيل په تاسو کښې چا ددوس قبيلې نوجوان رابوهريرة رضي الله عنه ليدلې، دې دا جمله ئې درې ځله اوفرمائيل په دې وخت کښې يو کس عرض اوکړو اې دالله رسوله هغه دلته په مسجد کښې دې اودتې نه لړزيږي ددې په اوريدو سره نبي ﷺ زماخواته راغې اوخپل لاس مبارك ئې په ما باندې راښکلو اوشفقت خبرې ئې راسره اوکړلې نوزه پاځيدم اونبي ﷺ روان شو تردې چه هغه ځائې ته ورسيدو چرته چه به هغه مونځ کولو اوخلقوته ئې خپل مخ ورستون کړو اودهغه سره دنارينوو دوه صفونو وو اويو صف دزنانوو وو اوکه دزنانوو دوه صفونه وو اودنارينو يو صف وو او وئې فرمائيل که چرې زه په مونځ کښې سهوه کيږم نونارينه به راته سبحان الله اواز راکوی اوزنانه به صرف لاس پړقوی، راوی وائي چه بيانبي ﷺ مونځ اوکړو اوکوم ځائې ترې هيرنشو ددې نه پس ئې اوفرمائيل تاسو پخپل خپل ځائې باندې ناست وسئ اوهغه دالله تعالى حمد او ثنا بيان کړه اوبيائې وفرمائيل پس دحمد اوصلاة نه تاسوته معلومه ده اودنارينوو طرف ته متوجه شو او ويې وئيل ايا په تاسو کښې څوك داسې شته چه خپلې بي بي ته ورغلی وی او دروازه ئې بنده کړې وی او پرده ئې اچولې وی او د الله تعالى په پرده کښې پټ شوی وي؟ خلقو عرض اوکړو، هو، نبي ﷺ اوفرمائيل اوبيادغه کس خلقوته وائي چه ما دخپلې ښځې سره داسې اوداسې اوکړل خلقو چه دا واوريدل نوخاموش شول، ددې نه پس بيا نبي ﷺ زنانووته متوجه شو او اوئې فرمائيل آيا په تاسو کښې څوك داسې زنانه شته چه نورو ښځوته دخپل خاوندداسې داسې خبرې کوی (يعنې دخاوند دجماع کيفيت ورته بيانوي) زنانووچه دا واوريدل نوخاموشه شوې نو په دې وخت کښې يوې زنانه خپل زنګنونه په زمکه ولګول اوځان ئې پورته کړو ددې دپاره چه نبي ﷺ ئې ووينې اوددې خبرې واورې، عرض ئې اوکړوچه اې دالله رسوله نارينه هم ددې خبرې خلقوته تذکره کوی او زنانه هم نبي ﷺ اورفرمائيل آيا تاسوته معلومه ده چه ددې کس مثال څه شې دې، بيائې اوفرمائيل ددې مثال دادې چه يو شيطان دشيطان سرې سره په لاره کښې ملاوشي اوهغه خپل نفسانی خواهش پوره کړې اوخلق ئې وينې خبردار دنارينودپاره خوشبوهغه ده چه بوئې خوريږي اورنګ ئې نه ښکاری اودزنانوو دپاره هغه خوشبوحلاله ده چه رنګ ئې ښکاری اوبوئې نه لري. امام ابوداود وائي چه دا مؤمل اوموسی دروايت الفاظ دی چه خبردار يونارينه دې دبل نارينه سره همبستری نه کوی اونه دې يوه ښځه دبلې ښځې سره بستره کښې نه څملی داسې کوی مګرچه خپل پلار سملاستې شی راوی وائي چې د ځوئې او پلار نه علاوه دوئم کس تذکره نبي ﷺ کړې ده او هغه ما هيره کړې ده اوددريم ذکر رانه هير شوی دې. دمسدد په روايت کښې دی ليکن زما په نزد باندې يقينی نه دی چه موسی وئيلی دی داروايت حماد الحريری دابونضره طفاوی نه نقل کړی دې

شرح الحدیث :

مصنف په دې باب کښې صرف يو حديث ذکر کړې دې کوم چه لږ شان اوږد دې، چه د هغې مضمون دا دې، ابو نضره د يو شيخ طفاوی نه د هغه واقعه ذکر کوی (چه د هغه په باره کښې تحقيق اونشو چه څوک دې هغه وائی چه د يو ځل قصه ده چه زه په مدينه منوره کښې د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه ميلمه جوړ شوم د هغوی خواته زما قيام وو، ما د ابوهريره رضی الله عنه نه زيات په عبادت کښې کوشش کولو والا نه دې ليدلې او نه مې د هغه نه زيات د ميلمه خدمت کولو والا ليدلې دې. يوه ورځ زه د هغه سره ناست اوم او هغه په خپل تخت باندې ناست وو هغه سره يوه تهيلئ وه چه په هغې کښې کانړی يا د کهجورو هډوکی پراته وو چه په هغې باندې هغه تسبيح (ذکر) شمار کولو سره لوستلو. د تخت د لاندې يوه وينزه د تور رنګ والا ناسته وه، چه کله به د تهيلئ هغه ټول هډوکی ختم شو نو هغه به هغه تهيلئ هغه وينزې ته ورکړه هغې به دا هډوکی بيا په هغه تهيلئ کښې واچول او هغه ته به ئې واپس کړل (هغه به پرې بيا تسبيح شروع کړې) فقال الا احدثک عنی وعن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم په دې دوران کښې د تسبيح لوستلو دوران هغه اوفرمائيل چه ايا زه تاته خپله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم قصه اونکړم؟ ما اووې ضرور راته واوروئ. وې فرمائيل چه يوه ورځ زه د تبې د شدت په وجه باندې د مسجد په يو ګټ کښې پروت اوم، رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد ته تشريف راوړلو او زه ئې په مسجد کښې په خپل ځائې کښې نه موندلو سره اوفرمائيل چه چا زمونږ دوسی ځوان ليدلې دې؟ (ابوهريره رضی الله عنه د دوس قبيلې وو) درې کرته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې تپوس اوکړو، يو سړی ورته اووې او جی يا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه دا دې د مسجد په ګټ کښې په سخته تبه کښې پروت دې، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اوريدلو سره زما خواته راغلو، او خپل لاس مبارک ئې زما په بدن باندې لاس کيخودلو او زما په حق کښې ئې يوه ښه خبره اوفرمائيله (دعا والا جمله) زه فورا پاسيدم اودريدم (د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک کيخودلو سره په ما کښې طاقت پيدا شو) او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان شوم، رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل مونځ کولو ځائې ته راغلو، دې وخت کښې په مسجد کښې دوه صفونه د سړو او يو صف د زنانو وو يا د دې عکس (دوه صفونه د زنانو او يو صف د سړو) رسول الله صلی الله علیه وسلم د مونځ شروع کولو نه مخکښې اوفرمائيل که (بالفرض) زما نه په مونځ کښې څه هيره شوې وی نو که سړی راته لقمه راکړی نو د تسبيح په ذريعه دې راکوی او که زنانه لقمه ورکونکې وی نو هغه دې تصفيق کوی (لکه چه د لقمه ورکولو طريقه ده) وړاندې راوی فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونځ ورکړو خو څه سهو پکښې پيښه نه شوه، بهرحال مونځ نه فراغ باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيلو ﴿مجالسکم، مجالسکم ﴾(ټول په خپلو خپلو ځايونو کښې ناست وی) او د حمد او ثناء نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم اولا د سړو طرف ته متوجه کيدو سره اوفرمائيل چه ايا په تاسو کښې څوک د خپلې زوجې سره صحبت کول غواړی نو هغه وخت دروازه بندولو سره د پردې انتظام نه کوی؟ حاضرينو عرض اوکړو او جی! پرده وغيره کوی، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل او بيا روستو څه کوی په دوستانو کښې کيناستلو سره دا

پټ فعل خورول کوي چه ما د شپې د خپلې زوجې سره داسې اوکړل او داسې مې اوکړل، په دې باندې ټول خاموشه پاتې شو، د دې نه پس رسول اللهﷺ د زنانوته طرف ته متوجه شو او د هغوی نه ئې هم د ناراضتیا په انداز کښې سوال اوفرمائیلو، هغوی هم ټول خاموش پاتې شوې ﴿ فجثت فتاة على احدى ركبتيها ﴾(خو يوې زنانه ورته د جواب اراده اوکړه) او هغه په زنګونانو باندې کیناستلو سره او لږ شان سټ راوړدلو سره رالوړه شوه چه رسول اللهﷺ ئې ويني او د هغه خبره په آسانۍ سره واوریدلې شي هغې عرض اوکړو یا رسول اللهﷺ! انهم ليتحدثون وانهن ليتحدثنه... بیشکه داسې ده کوم چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل دا سړي هم داسې تذکره کوي او زنانه هم داسې کوي، په دې اوریدلو سره رسول اللهﷺ د دې فعل قباحت په مثال سره بیان کړو چه دا خو داسې ده لکه چه د ټولو خلقو په وړاندې په کوڅه کښې جماع اوکړي.

جزى الله سيدنا ومولانا محمدا عنا ما هو اهله، صلوات الله وسلامه عليه وعلى اله... رسول اللهﷺ واقعي د رسالت حق پوره پوره ادا اوفرمائیلو د کامل نګرانۍ سره هره وړه خبره په ښه طریقې سره پوهه کړې ده، ماته معلومه شوه چه په دې زمانه کښې دا مرض عام طور موندلې شي د ځوانانو په دې کښې عام امتحان دې خصوصا د چا چه نوې واده کیږي که هغه ئې خپله ذکر نه کړي نو د هغه ملګري په اصرار د هغه نه تپوس کوي. فانا لله وانا اليه راجعون والى الله المشتكى. قال المنذري اخرجه الترمذي والنسائي مختصرا لفقهة الطيب اهـ وزاد في تكملة المنهل احمد والبيهقي.

وهذا اخر كتاب النكاح والحمد لله اولا واخرا.

....

كتاب تفريع أبواب الطلاق

د طلاق فروعي احکام او مسائل

د مشروعيت طلاق حکمت

څنګه چه الله پاک نکاح مشروع کړې ده، د مصلحت بندیانو دپاره ځکه چه د نکاح په ذریعه د بندګانو ديني او دنيوي مصلحتونه پوره کیږي (كما تقدم في مبدا كتاب النكاح) هم دغه شان الله پاک طلاق هم مشروع کړې دې هم د دې مصالح د تکمله په طور ځکه چه بعض وخت انسان لره چه کومه نکاح هغه کړې ده هغه موافق نه راځي نو هغه د دې نه خلاصې غواړي، پس الله پاک د هغې حل طلاق بیان کړو هم دغه شان الله پاک د طلاق هم درجات کیخودلې دی او د هغې ئې څو عدد مقرر کړې دی د دې دپاره چه نکاح ئې فورا ختم نه شي او طلاق ورکونکې خپل نفس باندې ازمیښت اوکړي چه د ښځې نه به ئې جدائي غوره وي یا نه بلکه د دې کیدل غوره دی د نه کیدلو نه، خو د طلاق د عدد پوره کیدلو نه پس که هغه دوباره په نکاح کښې ساتل غواړي نو د خاوند د اصلاح دپاره دا ناښوښه شرط مقرر شوې دې چې اوس ترڅو پورې دا ښځه دبل چا په نکاح کښې راغلې نه وي او د هغه د خوانه را نه شي تر

هغه وخته پورې هغه د هغې سره نکاح نه شي کولې (زيلعي على الكنز) گويا د حلاله قيد تنبيها او سزا لګولې شوې دې. سبحان الله! په احکام الهيه کښې کوم کوم حکم او مصالح دی.

د دې نه پس اوس مونږ دلته د اختصار په طور صرف دوه خبرې نورې بيانوو. ۱: د طلاق لغوی او شرعی معنی، ۲: د طلاق قسمونه سره د اختلاف ائمه، د شرح حديث دپاره د هغوی د بيان احتياج زيات دې.

بحث اول : (طلاق لغوی او اصطلاحی معنی)

طلاق اسم مصدر دې او مصدر تطليق دې لکه سلام او تسليم، د طلاق لغوی معنی حل الوثاق (غوټه پرانستل) مشتق دی د اطلاق نه په معنی د ارسال او ترک، وئيلې شی ﴿اطلق الاسير﴾ قيدی ئې پريخودلو، اطلق الناقة د اوښې رسئ ئې پرانستله، په نکاح کښې د دې استعمال د باب تفعيل نه کيږی يعنی تطليق او غير نکاح کښې د باب افعال نه.[1]

او اصطلاحی معنی ئې ده ﴿ رفع الصيد الثابت شرعا بالنكاح ﴾هغه تعلق او تړون ختمول[2] د کوم ثبوت چه شرعا د نکاح په ذريعه وی، د شرعا په قيد سره قيد حسی خارج شو يعنی حل الوثاق (غوټه پرانستل) او د بالنكاح په قيد سره احتراز اوشو د عتق نه ځکه چه اګر چه په عتق کښې هم د دې قيد رفع کيږی کوم چه شرعا ثابت دې خو د دې ثبوت په نکاح سره نه دې (بلکه شراء وغيره سره وی) (زيلعی)

دويم بحث : (د طلاق اقسام)

د طلاق اول دوه قسمونه دی، سنت طلاق[3] او طلاق بدعت. بيا د اولنی دوه قسمونه دی طلاق حسن او طلاق احسن

۱: طلاق احسن :

دا دې چه خاوند مدخول بها ته يو طلاق ورکړی په داسې طهر کښې چه په هغې کښې د هغې سره وطی نه وی کړې تردې چه د هغې عدت پوره شی، او بس! يعنی د هغې نه روستو دويم او دريم طلاق ورنکړی.

---

[1] هم په دې وجه باندې په ﴿انت مطلقة﴾ بتشديد اللام کښې د نيت حاجت نه وی په خلاف د انت مطلقة بسکون اللام. او په دې کښې د نيت حاجت شته) ۱۲

[2] برابره خبره ده که هغه رفع فی الحال وی كما في الطلاق البائن او يا فی المال وی كما في الطلاق الرجعي بعد انقضاء العدة)

[3] دلته دا سوال مشهور دې چه طلاق خو د الله پاک په نزد مبغوض دې كما في الحديث، بيا د طلاق د سنت کيدو څه معنی ده؟ جواب دا دې چه ګويا طلاق فی حد ذاته مبغوض څيز دې خو بهرحال د ضرورت په وخت شريعت د دې اجازت ورکړې دې، بيا د واقع کيدلو دطلاق بعض طريقې خو صحيح دی او بعض غلط، پس د طلاق واقع کولو چه کومه طريقه د حديث نه ثابت ده هم هغې ته طلاق سنت وئيلې شی، يعنی د طلاق مشروع طريقه پس مسنون په معنی د مشروع (د قاعده شرعيه موافق) والله اعلم)

۲: طلاق حسن: (۱)

دا دې چه خاوند مدخول بها ته د طهر په زمانه کښې په داسې طهر کښې چه وطی ئې نه وی کړې یو طلاق ورکړی، بیا ورته هم دغه شان په دویم طهر کښې دویم او په دریم طهر کښې دریم طلاق ورکړی تردې چه عدت پوره شی.

د پورته ذکر شوې تعریف نه معلومه شوه چه د سنیة طلاق دارومدار په دوه څیزونو باندې دې په عدد او وقت یعنی په طهر واحد کښې د یو طلاق نه دې زیات ورنکړې شی دویم دا چه د طهر په زمانه کښې دې ورکړې شی، پس که د یو نه زیات ئې ورکړل یا ئې د حیض په حالت کښې ورکړل نو هغه به طلاق بدعی وی ځکه چه د یو نه زیات، زائد از حاجت دې، حاجت په یو طلاق سره هم پوره کیږی او د طهر قید په دې وجه دې چه د حیض په طلاق کښې احتمال دې د دې خبرې چه د ضرورت او مصلحت د وجې نه به نه وی بلکه د نفرت د وجې نه وی ځکه چه د حیض حالت د ګندګئ حالت دې او بله خرابی په هغې کښې دا ده چه د حیض په حالت کښې ورکولو سره اوږدوالي عدت لازمیږی ځکه چه په کوم حیض کښې طلاق ورکولې شی هغه حیض خو په عدت کښې نه شمارلې کیږی د هغې نه علاوه به درې حیضونه عدت وی.

او دا چه کوم د عدم وطی قید دې د دې وجه دا ده چه د وطی په صورت کښې به دا احتمال راشی د علوق (حمل) چه هغې سره به مسئله د عدت مشتبه شی، ځکه چه د حامل په دعدت کښې وضع حمل دې او د غیر حامل حیض، نو اوس دا زنانه به د ظهور حمل نه وړاندې متردد وی په دې کښې چه زما عدت څه دې؟ بله دا چه د وطی نه روستو چونکه رغبة (مینه) بنځې ته فی الحال باقی نه وی په دې وجه هغه وخت طلاق ورکولو کښې احتمال دې د دې خبرې چه دا طلاق د ضرورت د وجې نه نه وی بلکه د عدم رغبت د وجې نه وی، حال دا چه طلاق سنی هغه دې کوم چه د ضرورت او مصلحت په بنیاد وی.

د دې نه پس ته په دې باندې ځان پوهه کړه چه د طلاق سنی په تعریف کښې چه دا کوم د عدد قید دې چه د یو نه زیاتی نه وی دا قید خو عام دې د مدخول بها او غیر مدخول بها دواړو په حق کښې دې، خو دا دویم قید کوم چه د وخت په لحاظ سره دې چه د طهر په زمانه کښې وی په حیض کښې نه وی دا قید صرف د مدخول بها په حق کښې دې. که یوه زنانه غیر مدخول بها وی نو بیا د طهر قید نشته. د غیر مدخول بها د حالت حیض طلاق هم طلاق سنی دې، چه د هغې عقلی دلیل دا دې چه چونکه سړې د هغه زنانه نه اوسه پورې شهوت نه شی پوره کولې په دې وجه به د هغه طرف ته رغبت په هر حال کښې وی هلته د نفرت احتمال نشته، لهذا چه کله سړې سره د رغبت نه طلاق ورکوی نو دا علامت دې د

---

(۱) طلاق حسن ته طلاق سنت هم ونیلې شی، دلته دا سوال واردیږی چه طلاق احسن خو د طلاق سنة فرد دې نو بیا د طلاق حسن نوم ولې طلاق سنت کیخودلې شوې دې؟ جواب دا دې چه په دې کښې تعریض دې د امام مالک په مسلک باندې چه هغه درې طلاقونو ته چه په داسې طریقه ورکړې شی سنت نه منی بلکه هغه ورته بدعت وائی، طلاق سنی د هغه په نزد منحصر دې په طلاق واحد کښې، د یو نه زیات طلاق ورکول د هغه په نزد مطلقا خلاف سنت دې. ۱۲)

ضرورت او مصلحت وعليها مدار السنية.
هم دغه شان دې دا هم واضحه وی (١) چه پورته ذکر شوې تعريف د طلاق سنی د هغه زنانو په لحاظ سره دې کوم چه ذوات الحيض وی او کومې زنانه چه خاونده دمياشتو دی (چه په چا باندې حيض نه راځی لکه صغيره، کبيره، نااميده او حامله) د هغوی طلاق سنی دا دې چه په هره مياشت کښې يو طلاق ورکړې شی، درې طلاقه په درې مياشتو کښې ورکړې شی هم دغه شان د صحبت نه کول قيد هم نه دې، ذوات الحيض کښې عدم الوطی قيد په دې وجه وو چه د وطی په صورت کښې هلته د حمل لريدل دې چه هغې سره د عدت مسئله مشتبه کيږی او ذوات الاشهر کښې دا احتمال نشته، په صغيره او نااميده کښې خو ظاهر دې او د حامله نه مراد ظاهر الحمل دې، چه کله ئې حمل ظاهر شو نو بيا اشتباه چرته باقی پاتې شوه. والله تعالى اعلم. بحمد الله د طلاق سنی تعريف مع فوائد قيود پوره شو وهذا کله ماخوذ من الزيلعي... شرح الکنز ٢: د طلاق قسم ثانی يعنی طلاق بدعی تعريف د طلاق سنی تعريف کښې غور کولو سره فهم کښې راتلې شی، ابن الهمام فرمائی (کما فی هامش شرح الوقاية) طلاق بدعی هغه دې چه کوم طلاق د سنت دواړو قسمونو خلاف وی په داسې طريقه چه د يو نه زائد دوه يا درې طلاقونه ورکړې شی بکلمة واحدة يا متفرقا فی طهر واحد، يا يو طلاق چه ورکړې شی د حيض په حالت کښ، يا هغه طلاق چه ورکړې شی په داسې طهر کښې چه په هغې کښې وطی وی. اهـ

طلاق فی الحيض نه د رجوع امر :

د دې نه پس په دې ځان پوهه کول پکار دی چه طلاق په حيض کښې ورکړې شی د هغه ځائې نه د هغه د کمې زياتې پوره کول دپاره رجوع کولو حکم دې قيل على الوجوب وهو الاصح وقيل على الاستحباب... بيا د هغې نه پس که غواړی نو په طهر کښې ئې طلاق ورکړو که نه غواړی نو په نکاح کښې دې باقی اوساتی، اوس دا چه که طلاق ورکړی نو په کوم طهر کښ! د حيض نه پس متصلا راتلونکې طهر کښې يا په طهر ثانی کښې په دې کښې دحديث روايات هم مختلف دی او په روايات فقهيه کښې هم په بعض روايات ابن عمر کښې طهر اول مذکور دې او په بعض کښې دا دی چه د طهر اول د راتلو نه پس په دويم کښې طهر ورکړې شی، د صاحبين رائې د طهر ثانی ده او په ظاهر الرواية کښې هم دا ده او د امام صاحب په نزد په طهر اول کښې هم ورکولې شی، کما قال الطحاوی وقيل الاظهر ان الامام مع الصاحبين، دا اوسه پورې د طلاق په سلسله کښې چه څه ليکلې شوې دی د مذهب حنفی په رڼړا کښې او د هغې مطابق ليکلې شوې دی.

د طلاق په قسمونو کښې د ائمه ثلاثه مسلکونه :

اوس د باقی ائمه کرامو مسلکونه واورئ.

---

(١) ففي الکنز وفرق علي الاشهر فيمن لا تحيض وصح طلاقهن بعد الوطي اهـ

(عند الشوافع)

د امام شافعي رحمه الله په نزد سنية طلاق مدار عدد باندې نه دې صرف په زمانه باندې ده، طلاق سنت د هغوی په نزد دا دې چه طلاق ورکړې شی د طهر په زمانه کښې داسې طهر چه په هغې کښې زوج وطی نه وی کړې، برابره خبره ده که طلاق یو وی یا درې وی په یو وخت! ففی متن ابی شجاع فالسنة ان یوقع الطلاق فی طهر غیر مجامع فیه، والبدعة ان یوقع الطلاق فی الحیض او فی طهر جامعها فیه. اه او دا چه د هغه زنانو په باره کښې چه کومې ذوات الحیض وی او کومې چه ذوات الاشهر دی د هغوی په باره کښې د هغوی په کتابونو کښې دا لیکلې دی چه د هغه زنانو په طلاق کښې سنت او بدعت هیڅ تقسیم نشته چه څنګه هم طلاق ورکړې شی هغه به مباح وی.

(عند الموالک)

او د مالکیانو په نزد طلاق سنت دا دې چه انسان یو طلاق ورکړی په طهر کښې داسې طهر چه په هغې کښې هغه وطی نه وی کړې تردې چه انقضاء عدت اوشی یعنی دویم او دریم طلاق ته خبره اونرسیږی، دغه شان د هغوی په مسلک کښې دا قید هم دې چه دا طهر داسې وی چه د هغې نه مخکښې والا حیض کښې طلاق ورکولو سره ئې رجعت نه وی کړې (یعنی که چا د حیض په حالت کښې طلاق ورکولو سره رجعت اوکړو بیا ئې د هغې نه پس راتلونکې طهر کښې متصلا طلاق ورکړو نو دا طلاق به طلاق سنت نه وی لهذا په حیض کښې طلاق ورکونکی ته پکار دی چه هغې ته رجعت کولو سره دوباره که طلاق ورکړی نو په طهر اول کښې دې نه ورکوی بلکه په طهر ثانی کښې دې ورکړی لکه چه د حدیث ابن عمر په بعض طرق کښې دی، الحاصل عند المالکیة طلاق سنت هغه دې کوم ته چه مونږ طلاق احسن وایو او کوم ته چه مونږ طلاق حسن وایو (چه درې طلاقه په درې طهرونو کښې ورکړې شی) دا طلاق د هغوی په نزد طلاق بدعت دې ګویا درې طلاقونه اګر چه په طهر واحد کښې ورکړې شی یا په متعدد طهرونو کښې دواړه برابر دی په بدعت کیدو کښې (په خلاف د شوافع چه د هغوی په نزد درې طلاقه طهر واحد کښې هم بدعی نه دې کما تقدم) دغه شان لکه چه د شوافعو په مسلک کښې تیر شو چه سنت او بدعت فرق په هغه زنانو کښې دې کوم چه ذوات الحیض وی په ذوات الاشهر کښې نه دی هم دغه شان مالکیان او حنابله په کتب کښې هم موجود دی.

(عند الحنابلة)

پاتې شو د حنابله مسلک پس د هغوی په اکثر کتب لکه الروض المربع، نیل المآرب، زاد المستنفع، جمع الثلاث ته طلاق بدعت او حرام لیکلې دی اګر چه متعدد اطهار کښې وی. او ابن قدامه په مغنی کښې د امام احمد په جمع الثلاث کښې دوه روایتونه نقل کړې دی اول دا چه هغه هم طلاق سنت دې (اګر چه خلاف اولی او خلاف مختار وی) وقال اختار هذه الروایة الخرقی. او دویم روایت دا دې چه جمع الثلاث حرام او بدعت دې، د ابن قدامه د کلام نه معلومیږی چه د هغه په نزد ترجیح حرمت ته حاصله ده هم

دا هغوی روایة او درایة ثابت منلې ده او جمع کول ددو اګر چې په ي، طهر کښې وی ولو فی طهر واحد لره په کتب حنابله کښې طلاق سنت منلې دې خو مکروه غیر حرام.

د جمع الثلاث د حلت او حرمت دلائل:

حنفیه ومالکیه واحمد فی روایةد جمع الثلاث حرمت باندې د دې احادیثو نه استدلال کړې دې چه په هغې کښې په دې باندې وعیدونه راغلې دی، کوم چه په شروح حدیث وکتب فقه کښې مذکور دی، هم دغه شان په شریعت کښې چه د کومو مصالحو په بنیاد په طلاق کښې څو عدد کیخودلې دی. (کما تقدمت الاشارة الیها فی مبدا کتاب الطلاق) یو ځل درې طلاقه ورکولو کښې دې مصالحو لره یکسر ضائع کول دی کوم چه انتهائی ناپوهه او ناشکری کیدو په بناء حرام او معصیت دې. او حضرت امام شافعی واحمد فی روایة کوم چه جمع الثلاث جائز کوی هغه په استدلال کښې عویمر عجلانی قصه لعان لره پیش کوی چه هغه د لعان نه روستو د رسول اللهﷺ په مجلس کښې خپلې بی بی ته درې طلاقه ورکړې وو په یوځل کما فی روایة الصحیحین. او د دې باوجود رسول اللهﷺ په هغوی باندې هیڅ قسم یعننی انکار نه دې فرمائیلې، هم دغه شان د ﴿امراءة رفاعة﴾ په حدیث کښې چا چه د رسول اللهﷺ په وړاندې حاضریدو سره دا اعتراف اوکړو چه رفاعه ماته طلاق البته راکړو هم دغه شان د قاطمه بنت قیس رضی الله عنها هم د طلاق ثلاث قصه ده، په فریق اول کښې لعان والا حدیث دا جواب ورکړې دې چه لعان خو بذات خود موجب فرقت دې د هغې نه پس طلاق ورکول غیر مؤثر دی، د دې نه علاوه چه د طلاق ثلاثه نورې قصې دی هغه ټول دنبی ﷺ په وړاندې کله پیښې شوې دی یا ورکونکی د رسول اللهﷺ په وړاندې راتلو سره د دې خبرې اقرار کړې دی چه ما هغه ته درې طلاقونه ورکړې وی او بیا د رسول اللهﷺ په ترک نکیر باندې د دې په جواز باندې استدلال کړې شوې دې، هم دغه شان د څه مصلحت نه تاخیر نکیر هم احتمال دې چه د نکیر په وخت ئې فرمائیلې نه وو روستو ئې څه وخت نکیر کړې وی. والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب.

الحمد الله د طلاق ابتدائی بحثونه پوره شو، البته دلته یو اهم اختلافی بحث بل باقی دې او هغه دا چه جمع الثلاث اګر چه ناجائز او طلاق بدعت دې خو درې واړه واقع کیږی هم یا نه؟ دا بحث وړاندې څو بابونه پس راروان دې.

بَابٌ فِيمَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا

باب ښځه د خاوند په خلاف راپاره کولو اود نفرت پیدا کونکی حکم

[۲۱۷۵](۱) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا أَوْ عَبْدًا عَلَى سَيِّدِهِ".

ترجمه: دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی څوک چه

(۱): ● تخریج: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱٤۸۱۷)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/ عشرة النساء (۹۲۱٤)، ويأتي هذا الحديث في الأدب (۵۱۷۰)، مسند احمد (۲/۳۹۷) (صحیح)

دچاښځه ولمسوی یعنی دهغې په زړه کښې دهغې دخاوند بدوالې واچوی یا غلام دخپل مالك په خلاف ولمسوی نودغه کس زمونږ دامت نه نۀدې

تشریح: دا ترجمه بلفظ الحدیث ده، د حدیث مطلب دا دې چه کوم سړې د یو سړی ښځې لره د هغه د خاوند خلاف تیار کړی، (که تیاروونکې سړې وی یا زنانه) هغه زمونږ نه نه دې، په تیارولو او خرابولو کښې دوه صورتونه دی یو دا چه د یوې زنانه په وړاندې د هغه خاوند بدئ بیان کړې شی د هغه عیوب اوشمارلې شی او دا چه هغه په تا باندې ډیر ظلم کړې دې وغیره وغیره. دویم صورت دا دې چه د یو پردی سړی تعریفونه د هغې په وړاندې اوکړی د دې دپاره چه هغه د خپل خاوند په ځائې د هغه سړی طرف ته راغبه شی په بعض خلقو کښې دا مرض وی، په زنانو کښې زیات وی. والحدیث اخرجه ایضا النسائی والحاکم وصححه اهـ تکملة المنهل.

بَاب فِي الْمَرْأَةِ تَسْأَلُ زَوْجَهَا طَلَاقَ امْرَأَةٍ لَهُ

باب: ښځه په د خپل (کیدونکی) خاوند نه دا مطالبه کوی چه هغه خپلې ړومبنې ښځې ته طلاق ورکړی (نو دهغې حکم)

[۲۱۷۶] (۱)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا وَلِتَنْكِحَ، فَإِنَّمَا لَهَا مَا قُدِّرَ لَهَا".

ترجمه: دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی هیڅ یوی ښځې لره پکار نه دی چه هغه دخپلې خور (بن) دپاره طلاق اوغواړی ددې دپاره چه دهغې حصه هم واخلی اونکاح هم اوکړی او څه چه دهغې په قسمت کښې دی هغه دې ته ملاو شي

د حدیث الباب مکمل شرح

د حدیث الباب مطلب دا دې چه یو سړې چه د هغه په نکاح کښې یوه زنانه ده هغه دویم واده کول غواړی نو د کومې زنانه سره چه ئې کول غواړی (هغه مخطوبه) د هغه سړی نه مطالبه کوی چه اول ته خپلې ړومبئ ښځې ته طلاق ورکړه هله به زه تا سره نکاح کوم، نو رسول الله ﷺ نه د دې مطالبې مذمت داسې ظاهر شوې دې **﴿لتستفرغ صحفتها﴾**[۲] چه د دې ړومبئ ښځې پلیټ لره د خپل ځان دپاره فارغ کړی. یعنی کوم څیزونه د هغې په حصه کښې راځی د خوراک او څکاک او نور څیزونه هغه ټول د دې مخطوبه په حصه کښې راشی. وړاندې رسول الله ﷺ فرمائی **﴿ولتنکح فانما لها ما قدر لها﴾** بلکه هغه له پکار دی چه بغیر د هغې د مطالبې نه نکاح اوکړی څومره چه د چا په مقدر کښې وی هغه ته به ملاویږی.

د دې حدیث مزید تشریح دا ده چه په دې کښې د **﴿امراءة﴾** نه څه مراد دې په دې

---

[۱]: صحیح البخاري/البیوع ۵۸ (۲۱۰٤)، والشروط ۸ (۲۷۲۳)، والنکاح ٤٥ (٥١٤٤)، سنن النسائي/النکاح ۲۰ (۳۲٤۲)، (تحفة الأشراف:۱۳۸۱۹)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/النکاح ٤ (۱٤۰۸)، سنن الترمذي/الطلاق ١٤ (۱۱۹۰)، سنن ابن ماجه/النکاح ۱۰ (۱۸٦۷)، موطا امام مالك/النکاح ۱(۱)، مسند احمد (۲/۲۳۸، ۲۷٤، ۳۱۱، ۳۱۸، ۳۹٤) (صحیح)

[۲]: د استفراغ معنی یو څیز لره فارغ یعنی خالی کول او دلته مراد دا دې چه کوم څیزونه او نعمتونه د نورو خلقو په پلیټ کښې دی یعنی د هغه په حصه کښې دی هغه ټول دا مخطوبه په خپله قبضه کښې واخلی.

کښې دوه احتمالات دي هم دغه شان په ﴿ولتنكح ﴾ کښې هم دوه احتمالات دادي، د ﴿امراءة﴾ دوه احتمالات دي. ۱: د دې نه مراد مخطوبه ده يعني هغه دويمه زنانه د چا سره چه دا زنانه واده کول غواړي. ۲: د دې نه مراد ضره ده يعني د شخص مذکور دوه ښځو کښې يوه ښځه، ولتنكح کښې يو احتمال دې چه هغه لره منصوب اولوستلې شي ﴿لتستفرغ﴾ باندې عطف منلو سره. دويم احتمال دا دې چه دا په صيغه امر مجزوم اولوستلې شي او د دې عطف په ﴿لا تسئل ﴾باندې اومنلې شي. اوس دا ټول څلورو صورتونهشو.

۱: لتنكح لره منصوب اولوستلې شي او د مراءة نه مخطوبه اومنلې شي.

۲: لتنكح لره منصوب اولوستلې شي او د مراءة نه ضرة مراد واخستلې شي.

۳: لتنكح لره مجزوم اولوستلې شي او د مراءة نه مخطوبه مراد واخستلې شي.

۴: لتنكح مجزوم اولوستلې شي او د مراءة نه مرد ضره مراد واخستلې شي.

اوس په دې کښې د هر صورت په مطلب باندې ځان پوهه کړئ، بالكل په شروع کښې چه کوم مطلب ليکلې شوې دې هغه په دې صورتونو کښې د دريم صورت مطلب دې، د څلورم صورت مطلب به دا وى. يو ښه که د بلې ښځې په باره کښې د خپل خاوند نه د طلاق مطالبه اونکړي، د هغې د حصې د څيزونو اخستلو دپاره بلکه هغې لره پکار دى چه په موجوده حالت کښې دې د هغې په نکاح کښې قائم پاتې شي د چا په تقدير کښې چه څه وى هغه به ورته ملاويږي. په دې صورت کښې به د نکاح نه مراد تثبت في النكاح وى يعني په نکاح کښې باقى پاتې کيدل. او د ټولو نه په اول صورت کښې به ئې مطلب دا وى، چه مخطوبه سوال اونکړي د اولې ښځې د طلاق د دې دپاره چه د هغې د حصې څيزونه خپله واخلي او د دې دپاره چه هغه خپله نکاح د هغه سړي سره اوکړي، او په دويم صورت کښې به ئې مطلب دا وى، چه يوه ښه د بلې ښځې د طلاق سوال اونکړي د هغه په حصه کښې راغلې څيزونو لره د اخستلو دپاره او د دې دپاره چه هغه ښه خپله نکاح په بل ځائې کښې اوکړي، الله پاک دې شارحين حديث ته بهترين جزاء خير ورکړي چه دا حضرات د حديث د شرح حق ادا کړي، او هم دا حال د فقهاء کرام دې چه هغوى د مسائلو په استنباط کښې هيڅ کمې نه پريښودي، فجزاهم الله تعالى عنا ما هو اهله وحشرنا يوم القيامة معهم. وحديث الباب اخرجه ايضا البخارى والنسائي واخرجه مسلم من حديث محمد بن سيرين عن ابى هريرة اهـ عون ومنهل.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الطَّلَاقِ

باب د طلاق مکروه کيدو بيان

[۲۱۷۷](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا مُعَرِّفٌ، عَنْ مُحَارِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَحَلَّ اللَّهُ شَيْئًا أَبْغَضَ إِلَيْهِ مِنَ الطَّلَاقِ".

ترجمه: دحضرت محارب رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي دالله تعالى په نزد باندې په ټولو جائزو څيزونو کښې دټولونه زيات بد څيز طلاق دې ددې نه

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۴۱، ۱۹۲۸۱) (ضعيف)

ورته زيات مبغوض څيز بل نشته.

تشريح: ﴿ما احل الله شيئا ابغض اليه من الطلاق﴾ دا حديث مصنف په دوه طرق سره ذکر کړې دې اول د هغې نه مرسل دې او دويم مسند. قال المنذری واخرجه ابن ماجة والمشهور فيه المرسل وهو غريب اهـ (عون)

طلاق سره د جائز او حلال کيدو مبغوض دې د الله پاک په نزد، معلومه شوه هر حلال څيز محبوب نه وی بلکه بعض حلال مبغوض وی.

د طلاق د مکروه کيدو او مبغوض کيدو تشريح :

په دې حديث باندې امام خطابی رحمه الله ليکی، د طلاق کراهيت د نفس طلاق په اعتبار سره نه دې بلکه د دې بد خلقی او سوء عشرت په لحاظ سره کوم چه سبب طلاق دې ځکه چه طلاق خو مباح دې، رسول الله ﷺ سيده حفصه رضی الله عنها لره يو ځل طلاق ورکړې وو بيا ئې روستو رجوع فرمائيلې وه، هم دغه شان د ابن عمر رضی الله عنه يوه زوجه وه چه د ابن عمر رضی الله عنه خو ورسره مينه وه خو د هغه د پلار سيدنا عمر رضی الله عنه هغه خوښه نه وه هغه نه غوښتل چه هغه دې د ابن عمر رضی الله عنه په نکاح کښې وی، د دې خبرې شکايت ابن عمر رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته اوکړو نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل : ته هغې ته طلاق ورکړه. په دې باندې ورته هغه طلاق ورکړو.

پس ظاهره ده چه ته چاته د يو داسې څيز حکم نه شې کولې کوم چه د الله پاک په نزد مکروه وی. اهـ زه وائم هم دغه شان زمونږ فقهاء کرام ليکلې دی، علامه زيلعی فرمائی بعض خلق وائی چه طلاق بغير د ضرورت نه مباح نه دې (بيا وړاندې هغه د دې په تائيد کښې څه احاديث ذکر کړې دی) د دې نه پس فرمائی او زمونږ دليل د الله پاک قول ﴿اذا طلقتم النساء فطلقوهن لعدتهن﴾ هم دغه شان د الله پاک قول ﴿لا جناح عليکم ان طلقتم النساء﴾، ﴿ وطلق رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حفصة والصحابة رضی الله عنهم کانوا يطلقون من غير نکير الخ ﴾

شيخ ابن همام فرمائی چه د هغې حاصل دا دې چه په حديث کښې د طلاق مبغوضيت سره د هغې د حلال کيدو هم تصريح کړې ده. لهذا د طلاق کراهت، کراهت بالمعنی الاصطلاحی نه دې، که په صفت د بغض سره د حلت تصريح نه وی نو بيشکه طلاق به شرعا مکروه وې او په دې باندې به هم هغه څيز مرتب کيدو کوم چه په مکروه اصطلاحی باندې کيدو.[1] واذ ليس فليس د دې نه زيات نه شی وئيلې کيدې چه طلاق د الله پاک په نزد مبغوض او ناخوښه دې. اهـ علامه قسطلانی شرح بخاری کښې فرمائی ځنګه چه الله پاک نکاح مشروع اوفرمائيله هم دغه شان ئې طلاق مشروع اوفرمائيلو او بيا وړاندې فرمائی او هغه چه په سنن ابوداود کښې حديث دې چه په هغې کښې طلاق ته مبغوض وئيلې شوې دی هغه محمول دې په هغه طلاق باندې کوم چه بغير د څه وجې نه ورکړې شوې دې، بله دا چه هسې هم په حديث کښې علة در اليرلې سبب مونډلې شی د دې نه پس بيا هغه د ابن الهمام کلام مذکور نقل فرمائيلې دی، ابن عبدالبر کتاب الکافی کښې

[1] يعنی که مکروه تنزيهی دې د ملامت مستحق او که مکروه تريمی وی نو عقاب يعنی سزا.

کتاب الطلاق په شروع کښې تحریر فرمائی، طلاق مباح دې اګر چه زنانه ته ناخوښه وی اګر چه زنانه پرې ناخوښه وی یا خوښه وی، قبل الدخول وبعد الدخول، خو کثیر الطلاق شخص مذموم (قابل مذمت) دې او دا څیز د محاسن اخلاق نه نه دې، بیا وړاندې فرمائی چه په شریعت کښې د طلاق ورکولو یوه طریقه ده چه د هغې نه تجاوز کول جائز نه دی، د الله پاک معصیت او په خپل نفس باندې ظلم دې. اهـ الحاصل که طلاق ضرورة او مصلحة وی نو بیا د دې په جواز کښې د چا هم کلام نشته او که بغیر د ضرورت نه وی نو بیا هم د جمهورو په نزد جائز دې په دې شرط چه د قاعده شرعیه مطابق [۱] او د ټولو حقونو د ادا کولو سره وی چه په هغې باندې یعنی ښکلې طریقې سره پرېښودل صادق راځی. کذا یستفاد من تصریحات الفقهاء. دا ټول څیزونه لیکلې شوې دی هغه د مصنف ترجمه په باب کراهیة الطلاق پیش نظر دې د دې دپاره چه معلومه شی چه طلاق کراهیة څه حده پورې دې. [۲]

[۲۱۷۸] [۳] حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ مُعَرِّفِ بْنِ وَاصِلٍ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَبْغَضُ الْحَلَالِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى الطَّلَاقُ".

ترجمه: د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: د الله تعالی په نزد باندې په ټولو حلالو څیزونو کښې زیات یعنی ناخوښه کړې شوې څیز طلاق دې.

بَابٌ فِي طَلَاقِ السُّنَّةِ

باب د سنت مطابق د طلاق بیان

[۲۱۷۹] [۴] حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا، ثُمَّ لِيُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ ثُمَّ تَطْهُرَ، ثُمَّ إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ بَعْدَ ذَلِكَ وَإِنْ شَاءَ طَلَّقَ قَبْلَ أَنْ يَمَسَّ، فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ أَنْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ".

ترجمه: د نافع نه روایت دې فرمائی چه ابن عمر رضی الله عنهما خپلې ښځې ته طلاق ورکړل او هغه د بیمارۍ په حال کښې وه د نبی علیه السلام په زمانه کښې عمر بن الخطاب به د نبی علیه السلام نه په دې باره کښې تپوس اوکړو نبی علیه السلام اوفرمائیل حکم ورته اوکړه چه رجوع دې ورته اوکړی او بیا دې ئې د ځان سره اوساتی ترڅو چه پاکه شی او بیا بیماره شی او بیا پاکه شی نو که چرې

[۱] کوم ته چه طلاق سنی وئیلې شی او چه کوم طلاق خلاف شرع وی کوم ته چه بدعی وئیلې شی هغه ناجائز او حرام دې.

[۲] طلاق بعض حالاتو کښې صرف مباح او بعض کښې مستحب او بعض کښې واجب کیږی. او بعض حالات کښې مکروه چه د هغې تفصیلات کتب فقه او شروح حدیث کښې مذکور دې.

[۳]: سنن ابن ماجه/الطلاق ۱ (۲۰۱۸)، (تحفة الأشراف: ۷۴۱۱) (ضعيف)

[۴]: صحيح البخاري/تفسير سورة الطلاق (۴۹۰۸)، والطلاق ۲ (۵۲۵۲)، ۳ (۵۲۵۸)، ۴۵ (۵۳۳۳)، والأحكام ۱۳ (۷۱۶۰)، صحيح مسلم/الطلاق ۱ (۱۴۷۱)، سنن النسائي/الطلاق ۱ (۳۴۱۹)، ۵ (۳۴۲۹)، ۷۶ (۳۵۸۵)، (تحفة الأشراف: ۸۳۳۶)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطلاق ۱ (۱۱۷۵)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۲ (۲۰۱۹)، موطا امام مالك/الطلاق ۲۰ (۵۲)، مسند احمد (۴۳/۲، ۵۱، ۷۹، ۱۲۴)، سنن الدارمي/الطلاق ۱ (۲۳۰۸) (صحيح)

بیائي خوښه وه نو دځان سره دې وساتي او که خوښه ئې وي طلاق دې ورته ورکړي مخکښې دمسه کولو نه، دا هغه عدت دې کوم چه الله تعالی مونږ ته حکم کړې دې چه په دې کښې دې ښځو ته طلاق ورکړې شي او هغوی دې دا عدت پوره کړي.

د ابن عمر رضی الله عنه په زمان حیض کښې د طلاق ورکولو قصه او د دې متعلق مسائل:

مصنف رحمه الله په دې باب کښې د ابن عمر رضی الله عنه په زمانه حیض کښې خپلې زوجې ته د طلاق ورکولو واقعه ذکر فرمائیلې ده په پوره باب کښې صرف هم دا یوه قصه په متعدد طرق سره بیانولې شي چه دا حدیث مشهور دې په ټولو صحاح سته کښې موجود دې، مصنف د دې ټول طرق ډیر اهتمام سره ذکر کړې دې او د هغې په یو طریق باندې چه په هغې کښې یو زیادت دې کوم چه د ټولو مذاهب اربعه خلاف دې په دې باندې ئې په سختئ سره نکیر فرمائیلې دې.

د هغه د دې زوجې نوم د چا چه دا قصه بیان کړې شوې ده چه امنه ده وقیل النوار او چا وئیل چې نوار ده. ممکنه ده چه نوم ئې امنه وی او النوار ئې لقب وی. طلاق فی زمن الحیض بالاتفاق (۱) طلاق بدعی دې یوځائې متعدد طلاق ورکول په دې کښې خو اختلاف دې د شوافعو اواحمد په یو روایت کښې داسې طلاق بدعت نه دې بلکه سنی دې (کما تقدم التفصیل)لکه وړاندې تفصیل ذکر شو خو طلاق فی په حالت دحیض کښې طلاق بدعی دې، ابن عمر رضی الله عنه ورته صرف یو طلاق ورکړې وو لکه چه په بعض طرق کښې د دې تصریح ده.

﴿ فقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مرة فليراجعها ثم ليمسكها حتى تطهر ثم تحيض ثم تطهر﴾

سیدنا عمر رضی الله عنه چه کله د دې تذکره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوکړه نو هغه عمر رضی الله عنه ته حکم اوکړو (دلته یوه مسئله اصولی ده هل الامر بالامر بالشئ امر بذلک الشئ ام لا؟ یعنی که یو سړی ته دا امر اوکړې شي چه هغه فلانی سړی ته د یوې خبرې امر اوکړي! نو دا فلانې سړې امر اول طرف نه مامور اوګڼړلې شي یا نه؟ بلکه د دې درمیانی سړی طرف نه مامور وی، د دې طرف ته اشاره جلد ثانی کښې مروا اولادکم بالصلاة... الحدیث... کښې تیر شوې دې. (۲) چه هغه ابن عمر رضی الله عنه ته د دې طلاق نه د رجوع امر اوکړي، دا امر بالرجوع د وجوب دپاره دې یا صرف د استحباب دپاره په دې کښې دواړه قول دی، علامه قسطلانی فرمائی ۱۲۶/۸ دا امر د شوافعو او حنابله په نزد د استحباب دپاره دې او هم دا یو روایت د احنافو دې او د مالکیانو په نزد د وجوب دپاره دې وصححه صاحب الهدایةمن الحنفیة. د مالکیانو په نزد خو به هغه په رجوع باندې مجبور کولې شي بالضرب والسجن والتهدید. اه او وړاندې بیا د دې حدیث په دې طریق کښې دا دی چه د رجوع کولو نه پس د طهر ثانی پورې ایسار وی، په طهر ثانی کښې دې ته اختیار دې، اګر چه طلاق دې او که غواړی نو په نکاح کښې باقی اوساتی. مطلب دا شو چه په طهر اول کښې طلاق ورنکړی که ورکول دې نو طهر ثانی کښې دې ورکړي، دا طهر ثانی والا امر استحباب دپاره دې یا د وجوب دپاره په دې کښې فقهاء

(۱) په دې کښې څه قیود او تفصیل دې کوم چه به وړاندې معلوم شي.

کرامو اختلاف دې د احنافو مسلک په دې کښې مخکښې «د طلاق بدعی تعریف کښې» تیر شوې دې چه ظاهر الروایة د احنافو په دې کښې د وجوب دې او غیر ظاهر الروایة د استحباب اصح الوجهین للشافعیه هم د وجوب دې کما قال الحافظ او امام مالک او امام احمد په نزد د استحباب دپاره دې. کما قال الدر ۳۶۳/۲ والموفق.

روایات حدیثیه هم په دې کښې مختلف دی د باب د حدیث په طریق اول کښې کوم چه طریق نافع دې، طهر ثانی ذکر دې او د دې نه پس چه کوم طریقه راروان دې یعنی طریقه سالم په دې کښې صرف طهر اول مذکور دې.

بیا د علماء کرامو په دې کښې مختلف روایات دی چه طهر ثانی پورې د انتظار څه مصلحت دې. ۱: د دې دپاره چه رجعت صرف د طلاق دپاره نه وی نو څنګه چه د طلاق په نیت سره نکاح کول مکروه او ناجائز دې هم دغه شان د طلاق په نیت سره رجعت هم نه دی کیدل پکار، لهذا د رجعت کولو نه پس څه زمانه داسې تیریدل پکار دی چه په هغې کښې طلاق ورکول جائز وی خو ور دې نه کړې شی. ۲: د دې دپاره چه د رجعت فائده ظاهره شی وهو الوطی، او چه په کوم طهر کښې وطی کولې شی په دې کښې طلاق ورکول بدعت دی. ۳: هغه سړی د تلوارې په طلاق ورکولو کښې چه په حیض کښې ئې ورکړو او د طهر انتظار دې اونکړې شی څکه چه سزا او عقوبة دا حکم کړې شوې دې چه په طهر اول کښې هم مه ورکوه او د هغې نه روستو په طهر ثانی کښې ورکول.

[۲۱۸۰]([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ طَلَّقَ امْرَأَةً لَهُ وَهِيَ حَائِضٌ تَطْلِيقَةً، بِمَعْنَى حَدِيثِ مَالِكٍ.

ترجمه: دنافع نه روایت دې فرمائی چه ابن عمر رضي الله عنهما خپلې ښځې ته یو طلاق ورکړو اوهغه دبیماری په حال کښې وه باقی حدیث دمالك دروایت په شان دې.

[۲۱۸۱]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَوْلَى آلِ طَلْحَةَ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، فَذَكَرَ ذَلِكَ عُمَرُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا إِذَا طَهُرَتْ، أَوْ وَهِيَ حَامِلٌ".

ترجمه: دسالم نه روایت دې فرمائی چه ابن عمر رضي الله عنهما خپلې ښځې ته طلاق ورکړل اوهغه دبیماری په حال کښې وه عمر رضي الله عنه دا واقعه رسول پاك ته بیان کړه نبی عليه السلام اوفرمائیل چې ورته اووایه چه رجعت اوکړی کله چه پاکه شی یاحامله شی نو پیادی ورته طلاق ورکړې.

طلاق د حاملې او ایا حاملې ته حیض رازی

قوله: ﴿ ثم لیطلقها اذا طهرت او وهی حامل ﴾

په ظاهره کښې مطلب دا شو چه دې وخت کښې په حیض کښې چه کوم طلاق ورکړې دې د دې نه که ته رجوع اوکړې نو بیا دې راروان وخت کښې یا خو طلاق ورکړی په طهر کښې

[1]: صحيح البخاري/الطلاق ٤٥ (٥٣٣٢)، صحيح مسلم/الطلاق ١ (١٤٧١)، (تحفة الأشراف: ٨٢٧٧) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/ الطلاق ١ (١٤٧١)، سنن الترمذي/الطلاق ١ (١١٧٦)، سنن النسائي/الطلاق ٣ (٣٤٢٦)، سنن ابن ماجه/الطلاق ٣ (٢٠٢٣)، (تحفة الأشراف: ٦٧٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٦، ٥٨) (صحيح)

(که حمل ظاهر نه شي) او که حمل ظاهر شي نو بيا د طهر قيد نشته، د دې روايت نه دوه خبرې نوې ثابت شوې اول دا چه حامله لره حيض راتلې شي دويم دا چه حاملې لره په هر حال کښې طلاق ورکولې شي اګر چه په حالت د حيض کښې وي، کذا قال الطيبي والنووي، ملا علي قاري د طيبي نقل کولو نه پس فرمائي : وعندنا ان الحامل لا تحيض وما راته من الدم فهو استحاضة. اهـ امام نووي رحمه الله فرمائي د امام شافعي رحمه الله په نزد صحيح دا ده چه حاملې حائض لره طلاق ورکول جائز دي ځکه چه غير حامل لره حيض کښې طلاق ورکولو نه مانع اور د عدت دې او د حاملې عدت بهرحال وضع حمل دې فلا فرق فيها بين الطهر والحيض. اهـ خو په بذل المجهود کښې حضرت د دې جواب ليکلې دې چه هلته او کتلې شي، والظاهر عندي ما قال النووي کما لا يخفى.

هم دغه شان په کتب مالکيه او حنابله کښې هم دا ذکر دي چه غير مدخول بها او هغه زنانه چه د هغې حمل ظاهره شوې وي هغه ته چه په کوم حال کښې هم طلاق ورکړې شي جائز دې.

فتلک العدة التي امر الله تعالى ان تطلق لها النساء : رسول الله ﷺ ابن عمر رضي الله عنه ته او فرمائيل چه د حيض په طلاق سره رجوع کولو سره د طهر په زمانه کښې طلاق ورکړه، پس دا حالت طهر هغه عدت دې چه په هغې کښې د طلاق ورکولو الله پاک حکم فرمائيلې دې.

د عدت په مصداق کښې د فريقين رائې توضيح او تشريح :

خطابي وائي د دې نه معلومه شوه چه کومه زمانه د طلاق ده هم هغه زمانه عدت دې او زمانه طلاق بالاتفاق زمانه طهر دې لهذا زمانه عدت هم طهر شو (د دې نه مخکښې هغه دا هم وئيلې دي چه ان تطلق لها النساء کښې لام په معنى د في دې) پس ثابته شوه چه په قران کريم کښې ﴿ثلاثة قروء﴾ نه مراد ثلاثة اطهار دي کما هو مسلک الشافعية. [1]

امام طحاوي د دې جواب دا ورکړې دې دلته په دې حديث کښې لفظ عدت سره عدت اصطلاحيه مراد نه دې کوم چه د کتاب الله نه ثابت دې يعنى ﴿ثلاثة قروء﴾ بلکه د عدت نه مراد د طلاق النساء عدت يعنى د طلاق وخت پس ضروري نه دى چه کوم د طلاق عدت دې يعنى د طلاق په وخت هم هغه عدت وي د کومې د تيرولو چه زنانه مکلف دى ځکه چه د لفظ عدت ډيرې معنى راځي. اهـ (عون المعبود) پس په قاموس وغيره کتب لغت کښې د عدت معنى متعدد ليکلې دى فليراجع... لهذا د حديث د دې جملې مطلب دا شو پس دا وخت د طلاق ورکولو کښې (چه په هغې کښې مونږ وايو) هم هغه وخت دې چه په هغې کښې د طلاق ورکولو امر الله پاک فرمائيلې دې في قوله تعالى ﴿فطلقوهن لعدتهن﴾ ګويا رسول الله ﷺ امر بالطلاق في زمان الطهرلره مؤيد فرمائي د دې آيت کريمه نه. سبحان الله! څومره ښکلې تشريح ده.

د دې نه روستو ځان پوهه کړه چه ﴿فطلقوهن لعدتهن﴾ په تفسير کښې اختلاف دې بين

[1] د مالکيانو مسلک هم دا دې او د امام احمد دواړه روايتونه، ابن قدامه په المغني کښې حيض ته ترجيح ورکړې ده او هم دا ني دراية او رواية ثابت منلې ده او هم دا د احناف مسلک دې.

الحنفية والشافعية... کوم چه مفسرين او محدثين ټولو ليکلي دي په اصل کښې په دې آيت کريمه کښې يو قراءة دا دی کما سياتی فی المتن ايضا. فطلقوهن فی قبل عدتهن، بيا احناف او شوافعو د لفظ قبل په مفهوم کښې اختلاف دې، هغه دا چه شوافع د عدة بالاطهار قائل دی او احناف د عدة بالحيض قائل دی. شوافع وائی د دې معنی ابتداء او اول ده [۱] يعنی زنانو ته طلاق ورکړئ د هغوی د عدت په شروع کښې او د هغې په شروع کښې [۲] او احناف فرمائی د دې نه مراد راتلل او استقبال دې، يعنی طلاق ورکړه داسې وخت کښې چه کله هغه زنانه د استقبال کولو والا وی د عدت يعنی داسې وخت کښې طلاق ورکړئ چه د هغې نه روستو زمان عدت راتلو والا وی او طلاق بالاتفاق ورکولې شی په زمان طهر کښې، معلومه شوه د طهر نه پس راتلو والا زمانه د عدت زمانه ده وهو الحيض، احناف د خپلې رائې ترجيح داسې ثابتوی چه قران کريم دا وائی چه عدت ثلاثة قرؤ دې، پوره درې قرؤ تيريدل پکار دی، او که عدت طهر اومنلې شی [۳] کما قالوا او حال دا چه طلاق هم په طهر کښې ورکولې شی نو اوس د خلط کيدو په وجه باندې د عدت په حساب کښې ګړبړ کمې يا زياتې واقع کيږی چه په کوم طهر کښې طلاق ورکړې شوې دې که دا مستقل شمار کولې شی نو عدد ثلاث (ثلاثة قرؤ) کښې کمې واقع کيږی (کما هو مسلک الشافعية) او که دا نه شمار کوې او د هغې نه علاوه درې طهرونه تير کړې شی نو په دې صورت کښې زيادت لازميږی په خلاف د دې چه عدت حيض اومنلې شی او طلاق طهر کښې ورکړې شی په دې کښې د عدت حساب بغير د تردد نه صحيح وی. والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب

[۲۱۸۲]([٤]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، فَذَكَرَ ذَلِكَ عُمَرُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَغَيَّظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: "مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا، ثُمَّ لِيُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ، ثُمَّ إِنْ شَاءَ طَلَّقَهَا طَاهِرًا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّ، فَذَلِكَ الطَّلَاقُ لِلْعِدَّةِ كَمَا أَمَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ".

ترجمه: دسالم نه روايت دې فرمائی چه ابن عمر رضی الله عنهما خپلې ښځې ته طلاق ورکړل اوهغه دبيمازی په حال کښې وه عمر رضی الله عنه دا واقعه رسول پاک صلی الله علیه وسلم ته بيان کړه نبی علیه السلام په غصه شو اوبيائې ورته اوفرمائيل ورته اووايه چه رجوع اوکړی اوبيادی ئې دځان سره اوساتی تردې چه پاکه شی اوبيابيماره شی اوبياپاکه شی ددې نه پس که دده خوښه وه نوطلاق دی ورته په پاکوالی کښې ورکړی مخکښې دمسح کولونه دا عدت دطلاق دې دکوم چه الله تعالی مونږ ته حکم کړې دې.

---

[۱]) اي طلقوهن في اول عدتهن ونحن نقول طلقوهن مستقبلات عدتهن)

[۲]) او طلاق بالاتفاق په طهر کښې ورکولې شی لهذا د عدت زمانه هم طهر شوه)

[۳]) ابن قدامه په دې باندې په معنی کښې تفصيلی کلام کولو سره ليکی چه طلاق خو په هيڅ طريقه هم د عدت په وخت نه شی کيدې ځکه چه عدت خو په طلاق باندې مرتب کيږی طلاق به ضرور په عدت باندې مقدم وی، طلاق سبب دې او عدت مسبب، سبب په مسبب باندې هميشه مقدم وی. ۱۲)

[٤]): صحيح البخاري/الأحكام ۱۳ (۷۱٦۰)، (تحفة الأشراف: ٦۹۹٦) (صحيح)

[۲۱۸۳]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ بْنُ جُبَيْرٍ، أَنَّهُ سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ، فَقَالَ: "كَمْ طَلَّقْتَ امْرَأَتَكَ؟" فَقَالَ: "وَاحِدَةً".

ترجمه: د یونس بن جبیرنه روایت دې فرمائی چه دابن عمر ﷺنه مې تپوس اوکړو چه خپلې ښځې ته دې څو طلاقه ورکړی وو؟ هغه راته اووئیل یو طلاق.

[۲۱۸۴]([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، حَدَّثَنِي يُونُسُ بْنُ جُبَيْرٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، قَالَ: قُلْتُ: رَجُلٌ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، قَالَ: تَعْرِفُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَإِنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، فَأَتَى عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: "مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا فِي قُبُلِ عِدَّتِهَا"، قَالَ: قُلْتُ: فَيَعْتَدُّ بِهَا، قَالَ: فَمَهْ، أَرَأَيْتَ إِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ.

ترجمه: دیونس بن جبیرنه روایت دې فرمائی چه دابن عمر ﷺنه مې تپوس اوکړو چه یوکس خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی اوهغه بیماره وه ابن عمر ﷺ ورته اوفرمائیل آیا ابن عمر پیژنې ماعرض اوکړو هو، ابن عمر اووئیل عبدالله بن عمر خپلې ښځې ته طلاق ورکړی وو اوهغه دبیمارئ په حالت کښې وه نوعمر دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د مسئلې تپوس ئې اوکړو نو نبی ﷺ اوفرمائیل ورته اووایه چه خپلې ښځې ته رجعت اوکړې او بیا ورته دعدت په شروع کښې طلاق ورکړی (یعنی دطهر دشروع کیدو سره) ما ورته اووئیل کوم طلاق چه ئې په بیماری کښې ورکړې وو آیا هغه به حسابیږی؟ ابن عمر ﷺ اوفرمائیل ولې نه، که چرې دغه کس خپله ښځه نه وې واپس کړې او بې وقوفی ئې کړې وې نو آیا داطلاق به نه حسابیدل؟..

تشریح: ﴿فقال مره فلیراجعها ثم یطلقها فی قبل عدتها﴾یعنی ابن عمر ته اووایه چه هغه وخت د طلاق نه رجوع اوکړه کوم چه عین د عدت په زمانه کښې ورکړې شوی دی بیا د دې نه پس چه کله طلاق ورکړی نو په داسې وخت کښې ورکړی چه په هغې کښې استقبال عدت (او دا هم احتمال دې چه د سائل مراد دا دې چه دا طلاق فی الحیض به شرعا معتبر وی یا نه؟ په دې صورت کښې به د ابن عمر ﷺ د جواب مطلب دا وی چه بیان کړه که یو سړې څه ضروری کار لره د خپل حماقت او جهالت په وجه ترک کړی نو ایا هغه به معذور منلې شی؟ وی([3]) (د دې دپاره چه د عدت حساب صحیح دې)

﴿قال فیعتد بها قال فمه ارایت ان عجز واستحمق﴾سائل تپوس اوکړو چه ایا د رجوع کولو نه پس به دا طلاق شمارلې شی؟([4]) (یا که کالعدم به شی) هغه جواب ورکړو چه څه به وی چه شمار نه کړې شی (او بیا ئې وراندې اوفرمائیل) اوایه چه هغه یعنی مطلق فی

---

[1]): انظر حدیث رقم: ۲۱۷۹، (تحفة الأشراف: ۸۵۷۳) (صحیح)

[2]): انظر حدیث رقم: ۲۱۷۹، (تحفة الأشراف: ۸۵۷۳) (صحیح)

[3]) هذا التشریح علی مسلك الحنفیة)

[4]) اودا احتمال هم شته چه دا سائل مراد دا وی چه دا طلاق فی الحیض به شرعًا معتبروی اوکه نه؟ په دې صورت کښې به د ابن عمر ﷺ مطلب دا وی چه: اې دا خو اووایه چه که څوک سړې یو ضروری کار په خپل بې وقوف توب او جهالت سره پریږدی نو آیا هغه معذور ګڼرلې کیدې شی

الحيض كه عاجز شي او د حماقت كار اوكړي (يعنى رجوع اونكړي) نو ايا بيا به هم دا طلاق شمارلې شي كه نه؟ مطلب دا دې چه طلاق په رجوع كولو سره نه كالعدم كيږي، ظاهره ده چه طلاق خو واقع شو.

طلاق فى الحيض او طلاق ثلاث په واقع كيدو كښې اختلاف :

د دې نه پس ځان پوهه كړئ چه طلاق فى الحيض اگر چه د جمهورو په نزد ناجائز او حرام دى خو د دې باوجود واقع كيږي، عند جماهير العلماء سلفا وخلفا ومنهم الائمة الاربعة وعلى هذا ايقاع الثلاث دفعة، امام بخارى رحمه الله دوه مستقل ترجمة الباب د دې مقصد دپاره تړلې دى. ۱: باب اذا طلقت المراءة الحائض يعتد بذلک الطلاق. ۲: باب من اجاز الطلاق الثلاث. د اول باب د لاندې علامه قسطلانى فرمائى چه د ائمة فتوى په دې باندې اجماع ده (د حالت حيض د طلاق د وقوع نه پس) په خلاف د ظاهريه روافض، خوارج چه هغوى دا وائى چه دا طلاق نه واقع كيږي ځكه چه يعنى منع كړې شوې دې فلا يكون مشروعا. او مونږ دا وايو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ابن عمر رضى الله عنه ته د دې طلاق نه روستو د رجوع حكم فرمائيلې دې، او ظاهره ده چه رجوع عن الطلاق بدون الطلاق رجوع دطلاق بغير دطلاق نه محال دې، او دويمه وجه دا ده چه خپله د ابن عمر رضى الله عنه نه نقل دى چه هغه دې طلاق ته اعتبار وركړې دې لكه چه د دې تصريح وړاندې په حديث كښې راروانه ده. اهـ صاحب د عون المعبود ليكى چه حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد كښې ډير اوږد كلام كړې دې په دې خبره باندې چه طلاق حائض نه دې واقع شوې. اهـ او شاه صاحب په فيض البارى كښې فرمائى هم دا هغه مسئله ده چه د هغې ابن تيميه نه انكار كړې دې چه د حالت حيض طلاق نه دې واقع شوې حال دا چه ابن عمر كوم چه صاحب واقعه ده هـ د دې طلاق د وقوع اقرار اوكړو الى اخر ما ذكر. زه وايم هم دغه شان ابن القيم په دې مسئله باندې تفصيلى كلام د سنن ابوداود په شرح "تهذيب السنن" كښې هم كړې دې او د جمهور د مسلک خلاف ئې فضول زور لګولې دې. اوس پاتې شوه مسئله د ايقاع الثلاث يعنى دريو وقعې كيدل فى مجلس واحد پس د هغې په وقوع كښې خو د ائمه اربعه هيڅ اختلاف نشته البته په دې كښې اختلاف دې چه هغه طلاق سنى دې يا بدعى؟

د شوافعو په نزد خو دا طلاق خلاف سنت هم نه دې د نورو ائمه كرامو په نزد خلاف سنت دې كما تقدم الخلاف فى ذلک فى مبدا كتاب الطلاق، البته د بعض نورو علماء كرامو د دې په وقوع كښې اختلاف دې چه د هغې دپاره مصنف وړاندې مستقل باب قائم فرمائيلې دې په دې باندې كلام به هم په هغه باب كښې راشى.

[۲۱۸۵] (۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَيْمَنَ مَوْلَى عُرْوَةَ يَسْأَلُ ابْنَ عُمَرَ وَأَبُو الزُّبَيْرِ يَسْمَعُ، قَالَ: كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ حَائِضًا؟ قَالَ:

(۱): صحيح مسلم/الطلاق ۱ (۱۴۷۱)، سنن النسائي/الطلاق ۱ (۳۴۲۱)، (وليس عندهما قوله «لَمْ يَرَهَا شَيْئًا») (تحفة الأشراف: ۷۴۴۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶۱/۲، ۸۰، ۸۱، ۱۳۹) (صحيح)

طَلَّقَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلَ عُمَرُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَرَدَّهَا عَلَيَّ وَلَمْ يَرَهَا شَيْئًا، وَقَالَ: "إِذَا طَهُرَتْ فَلْيُطَلِّقْ أَوْ لِيُمْسِكْ"، قَالَ ابْنُ عُمَرَ: وَقَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ فِي قُبُلِ عِدَّتِهِنَّ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ يُونُسُ بْنُ جُبَيْرٍ وَأَنَسُ بْنُ سِيرِينَ وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وَزَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ وَأَبُو الزُّبَيْرِ وَمَنْصُورٌ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، مَعْنَاهُمْ كُلُّهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ إِنْ شَاءَ طَلَّقَ وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَمَّا رِوَايَةُ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، وَنَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ ثُمَّ تَطْهُرَ ثُمَّ إِنْ شَاءَ طَلَّقَ وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرُوِيَ عَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، نَحْوَ رِوَايَةِ نَافِعٍ وَالزُّهْرِيِّ، وَالْأَحَادِيثُ كُلُّهَا عَلَى خِلَافِ مَا قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ.

ترجمه: دعبدالرحمن بن ایمن (دعروه آزاد کړي شوي غلام) نه روایت دي فرمائي چه دابن عمر رضي الله عنه نه مې تپوس اوکړو او ابوزبیر اوریدل ستاځه خیال دي دهغه سړي په باره کښې چه طلاق ئې ورکړی وی خپلې ښځې ته دبیمارئ په حالت کښې هغه اووئیل عبدالله بن عمر رضي الله عنه دنبی علیه السلام په زمانه کښې خپله ښځه دبیمارئ په حالت کښې طلاقه کړې وه نو په دې باره کښې عمرفاروق نه دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو او عرض ئې اوکړو چه عبدالله بن عمر رضي الله عنه خپله ښځه دبیمارئ په حال کښې طلاقه کړې وه په دې وخت کښې ابن عمر رضي الله عنه اووئیل چه نبی علیه السلام هغه ښځه ماته واپس کړې وه یعنی رجعت مې ورته کړې وو او طلاقوله ئې اعتبارنه وو اورکړئ اونبی علیه السلام فرمائیلي وو چه کله داپاکه شي نوطلاق ورته ورکړه اویائې دځان سره . وساته عبدالله ابن عمر رضي الله عنه اووئیل بیانبی علیه السلام دا آیت: «یا أیها النبي إذا طلقتم النساء فطلقوهن» تلاوت کړو ابوداود وائی داحدیث ابن عمرنه، یونس بن زبیر دهغه نه انس بن سیرین دهغه نه سعید بن جبیر دهغه نه زید بن اسلم دهغه نه ابوزبیر او دهغه نه منصور وغیره نقل کړي دي اوپه دې تماموروایاتوکښې دا بیان دي چه نبی علیه السلام تر پاکیدو پورې درجعت حکم فرمائیلې دې، بیا د پاکیدونه وروسته اختیاردي که خوښه ئې وی ز نوطلاق دی ورکړی اوکه خوښه ئې وی نو دځان سره دې وساتي، همدارنګې احمد بن عبدالرحمن اوسالم دابن عمر رضي الله عنهما نه روایت کړې دې او د زهری روایت دسالم نه اوهغه دنافع نه اوهغه دابن عمر رضي الله عنه نه هم داسې دې چه نبی علیه السلام درجعت حکم کړې وو ترهغه وخته پورې چه دا پاکه شوی نه وی بیاچه بیماری راشی اوبیاپاکه شي نویادی طلاق ورکړی اویادی وساتي، اودعطاء خراسانی رضي الله عنه نه روایت دې هغه دحسن نه نقل کړی دی اوهغه دابن عمرنه دنافع اودزهری دروایت په شان او د ابو زبیر تمام روایات دروایت (لم یَرها شیئًا) په خلاف دي

تشریح: ﴿ ولم یرها شیئا ﴾ د دې حدیث په سند کښې یو راوی دې ابو الزبیر، دا زیادت صرف د هغه په روایت کښې دې [1] او دا دلیل دې د هغه علماء کرامو کوم چه دا وائی چه طلاق

---

[1] د ابو الزبیر روایت په مسلم کښې هم شته خو هلته دا جمله نشته دا جمله په ابوداؤد او نسائی کښې ده.

حائض نه واقع کيږي، خطابی فرمائی چه محدثین دا فرمائی چه ابو الزبیر کله هم په يو روايت کښې د دې لفظ نه زيات منکر يو لفظ نه دې ذکر کړې. خپله مصنف هم وړاندې تلو سره دا فرمائيلې دی ﴿والاحاديث كلها على خلاف ما قال ابو الزبير اهـ﴾دويم صورت دا دې چه د دې جملې تاويل اوکړې شی ای لم يرها شيئا مشروعا او دا مطلب نه دې چه ﴿لم يرها شيئا معتبرا واقعا﴾يعنی د معتبر کيدو نفی مقصود نه ده بلکه د جائز او مباح کيدو نفی مراد ده.
﴿قال ابوداود روى هذا الحديث عن ابن عمر الخ﴾دا چه کوم حديث ابن عمر رضی الله عنه روان دې طلاق الحيض والی په دې کښې د راويانو دا اختلاف دې چه بعض په دې کښې صرف يو طهر ذکر کړې دې او بعض دوه طهرونه چه د رجوع کولو نه پس که طلاق ورکول غواړی په طهر اول کښې نه بلکه په طهر ثانی کښې ورکړی. هم دا اختلاف مصنف دلته ذکر فرمائيلې دې په دې کښې د فقهاء کرامو هم اختلاف دې کوم چه مونږ په شروع کښې بيان کړې دې.

بَابٌ فِي نَسْخِ الْمُرَاجَعَةِ بَعْدَ التَّطْلِيقَاتِ الثَّلَاثِ[1]

باب د دريو طلاقونو نه پس د رجوع د منسوخ کيدو بيان

د دې باب حديث ثانی د ترجمة الباب مطابق دې، خو حديث اول مناسب نه دې كما لا يخفى، هم دغه شان په بعض نسخو کښې دلته ترجمة الباب بالكل شته دې نه، په دې صورت کښې به خو به حديث اول د ترجمه سابقه يعنی طلاق السنة مطابق وی، خو حديث ثانی به ورسره مطابق نه وی فهذا من تصرف الناسخين.

[۲۱۸۶](۲) حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ، أَنَّ جَعْفَرَ بْنَ سُلَيْمَانَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ يَزِيدَ الرِّشْكِ، عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ سُئِلَ عَنِ الرَّجُلِ يُطَلِّقُ امْرَأَتَهُ ثُمَّ يَقَعُ بِهَا وَلَمْ يُشْهِدْ عَلَى طَلَاقِهَا وَلَا عَلَى رَجْعَتِهَا، فَقَالَ: "طَلَّقْتَ لِغَيْرِ سُنَّةٍ وَرَاجَعْتَ لِغَيْرِ سُنَّةٍ، أَشْهِدْ عَلَى طَلَاقِهَا وَعَلَى رَجْعَتِهَا، وَلَا تَعُدْ".

: سنن ابن ماجه/الطلاق ۵(۲۰۲۵)،(تحفة الأشراف: ۱۰۸۶۰)(صحيح)

ترجمه: د مطرف بن عبد الله نه روايت دې چه دعمران بن حصين رضی الله عنه نه دهغه سړی په باره کښې تپوس اوکړې شو چه خپلې ښځې ته طلاق ورکړی اوبيا جماع اوکړی اونه ئې دطلاقو په وخت کښې څوک گواه کړې وی اونه ئې درجعت په وخت کښې څوک گواه کړې وی هغه ورته اوفرمائيل چه داطلاق هم خلاف سنت دی اودارجعت هم خلاف سنت دی تاسو به دطلاق ورکولو په وخت کښې اودرجعت کولو په وخت کښې هم گواهان قائموئ اوپه اينده کښې به داسې نه کوئ.

تشريح: ﴿ان عمران بن حصين سئل عن الرجل يطلق عن الرجل يطلق امراته ثم يقع بها ولم يشهد على طلاقها الخ﴾د دې روايت نه معلوميږی چه انسان لره په طلاق باندې هم گواهان جوړول پکار دی او په رجوع باندې هم، اشهاد يعنی په طلاق گواه کول على الطلاق خو د

[1]) نوټ: په حمصی نسخه کښې ددې باب عنوان داسې ذکر دې: باب الرجل يراجع ولا يشهد
[2]): صحيح مسلم/الطلاق ۱ (۱۴۷۱)، سنن النسائي/الطلاق ۱ (۳۴۲۱)، (وليس عندهما قوله «لم يرها شيئا») (تحفة الأشراف: ۷۴۴۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۶۱، ۸۰، ۸۱، ۱۳۹) (صحيح)

چا په نزد هم واجب نه دي صرف مستحب دي خو اشهاد على الرجعة والا مسئله مختلف فيه يعنى اختلاف دي پکښې ده، د احنافو په نزد خو غير واجب ده صرف مستحب ده او د شوافعو مسلک په شرح اقناع کښې سنت کيدل ليکلي دي او په هغې کښې دا هم دي ﴿خلافا لمالک ﴾د هغه په نزد واجب دي او ليکلي ئې دی چه قول قديم د شافعی هم دا دي كما في الام... وعن احمد روايتان الوجوب والاستحباب. اهـ

زه وايم چه شوکانی هم د امام مالک مسلک وجوب الاشهاد على الرجعة ليکي دي خو په کتاب الکافی (لابن عبدالبر) کښې ليکلي دی چه ﴿يستحب الاشهاد على الطلاق وكذا على الرجعة وقيل الاشهاد على الرجعة اوكد اهـ ﴾هم دغه شان په تکمله د منهل کښې هم استحباب ليکلي دي، لهذا صحيح دا ده چه څنګه د احنافو په نزد مستحب دي دغه شان د مالکيانو په نزد هم مستحب دي او د امام شافعی دوه اقوال دی قول جديد د استحباب او قديم د وجوب، او د امام احمد نه هم دواړه اقوال منقول دی. (١) او اشهاد على الطلاق د چا په نزد هم واجب نه دي بلکه صرف مستحب دي) والله تعالى اعلم بالصواب.

والحديث اخرجه ابن ماجة قاله المنذری... اهـ عون

(٢)(٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلاثَةَ قُرُوءٍ وَلا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ سورة البقرة آية ٢٢٨ الآيَةَ، وَذَلِكَ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ، فَهُوَ أَحَقُّ بِرَجْعَتِهَا، وَإِنْ طَلَّقَهَا ثَلاثًا فَنُسِخَ ذَلِكَ، وَقَالَ: الطَّلاقُ مَرَّتَانِ سورة البقرة آية ٢٢٩".

ترجمه: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وائي: د الله فرمان دي: «والمطلقات يتربصن بأنفسهن ثلاثة قروء ولا يحل لهن أن يكتمن ما خلق الله في أرحامهن» " او کومو ښځو ته چه طلاق ورکړې شوي دي هغوی دي درې حيضو پورې انتظار اوکړی اوهغوی دپاره حلال نه دی چه الله تعالی دهغوی په رحم کښې کوم څه پيدا کړی دی هغه پټ کړی" (سورة البقرة: ٢٢٨) دا په دې وجه چه کله به سړي خپلې ښځې ته طلاق ورکولو نو د رجعت به هغه زيات حقدار وو اګرچه هغه به درې طلاقه ورکړی وو، نو دا منسوخ کړې شو او ارشاد اوشو: «الطلاق مرتان» يعنى د طلاق اختيار صرف دوه ځله دي.

تشريح: وذلک الرجل كان اذا طلق امراته... دا د باب حديث ثانی دي چه د هغې مضمون دا دي چه د جاهليت په زمانه کښې د طلاق عدد محدود او متعين نه وو بلکه انسان که هر څومره طلاقونه ورکړی په عدت کښې دننه رجوع کولې شوه، د آيت کريمه ﴿الطلاق مرتان ﴾د نزول

(١) خلاصه دا شوه چه اشهاد علي الرجعة د امام ابوحنيفه، مالک او شافعی في قوله الجديد مستحب دي (عن احمد روايتان)

[٢١٨٧] (٢) ددې تشريح تعلق دې حديث سره وو خکه دا حديث دلته ذکر کړې شو او نمبر ورنکړې شو خکه چه دا حديث روسته بيا راروان دی هلته نمبر ورکړې شوی دې. مترجم

(٢): سنن النسائي/الطلاق ٥٤ (٣٥٢٩)، ٧٥ (٣٥٨٤)، (تحفة الأشراف: ٦٢٥٣) ويأتي هذا الحديث برقم (٢٢٨٢) (حسن صحيح)

نه د طلاق تحدید شوي دي دا حدیث په ترمذی شریف کښې هم دې، په روایة د عائشې رضي الله عنها چه په هغې کښې د دې نه زیات تفصیل دې هغه دې اوکتلې شي.

بَابٌ فِي سُنَّةِ طَلَاقِ الْعَبْدِ

باب: د غلام په طلاق کښې د سنت بیان

(۱)حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ مُعَتِّبٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أَبَا حَسَنٍ مَوْلَى بَنِي نَوْفَلٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ اسْتَفْتَى ابْنَ عَبَّاسٍ فِي مَمْلُوكٍ كَانَتْ تَحْتَهُ مَمْلُوكَةٌ فَطَلَّقَهَا تَطْلِيقَتَيْنِ ثُمَّ عُتِقَا بَعْدَ ذَلِكَ، هَلْ يَصْلُحُ لَهُ أَنْ يَخْطُبَهَا؟ قَالَ: "نَعَمْ، قَضَى بِذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: دابوحسن (دبنی نوفل آزاد کړې شوې غلام) روایت دې فرمائی چه دابن عباس نه مې دهغه غلام په باره کښې تپوس اوکړو دچاپه نکاح کښې چه وینځه وی او هغه ورته دوه طلاقه ورکړی دطلاق ورکولونه پس دواړه آزاد کړې شی، نوایادده دپاره جائزدی چه ددې سره دوباره نکاح اوکړی هغه اووئیل هو، نبی علیه السلام هم داسې فیصله کړی وه.

[۲۱۸۸](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، أَخْبَرَنَا عَلِيٌّ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ بِلَا إِخْبَارٍ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "بَقِيَتْ لَكَ وَاحِدَةٌ، قَضَى بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ لِمَعْمَرٍ: مَنْ أَبُو الْحَسَنِ هَذَا؟ لَقَدْ تَحَمَّلَ صَخْرَةً عَظِيمَةً، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو الْحَسَنِ هَذَا رَوَى عَنْهُ الزُّهْرِيُّ، قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَكَانَ مِنَ الْفُقَهَاءِ، رَوَى الزُّهْرِيُّ، عَنْ أَبِي الْحَسَنِ أَحَادِيثَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو الْحَسَنِ مَعْرُوفٌ وَلَيْسَ الْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ.

ترجمه: عثمان بن عمر وائی چه مونږ ته علی خبر راکړې دې وریسې په تیرشوی سند سره هم ددې مفهوم روایت ذکردې خو د عنعنه په صیغې سره دې د أخبرنا صیغې سره نه دې، په هغې کښې دی چه ابن عباس رضی الله عنهما اووئیل: ستا دپاره یوطلاق باقی پاتې دې، دالله رسول صلی الله علیه وسلم هم دغسې فیصله فرمائیلې ده. ابوداؤد وائی چه ما د احمد بن حنبل نه واؤریدل چه عبدالرزاق وائی چه ابن مبارک د معمر نه تپوس اوکړو چه دا ابو الحسن څوک دې؟ هغوی یو دروند کاڼې اوچت کړې دې، ابوداؤد وائی ابوالحسن هغه دې دچا نه چه زهری روایت کړې دې، زهری وائی چه دهغه فقهاؤ څینې وو زهری د ابوالحسن نه ډیر حدیثونه روایت کړی دی. ابوداؤد وائی: ابوالحسن معروف دې او په دې حدیث باندې عمل نشته دې.

تشریح: د حدیث الباب مضمون دا دې چه یو سړی د ابن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوکړو چه یو مملوک چه د هغه په نکاح کښې مملوکه وه دې مملوک (خاوند) خپلې ښځې ته دوه طلاقونه ورکړل د هغې نه روستو ئې هغوی دواړه ازاد کړل، نو ایا د هغه زنانه خاوند د ازادیدو نه پس هغې سره بغیر د حلالې نه نکاح کولې شی؟ هغه اوفرمائیل او نکاح کولې شی.

---

(۱): سنن النسائي/الطلاق ۱۹ (۳۴۵۷)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۳۲ (۲۰۸۲)، (تحفة الأشراف: ۶۵۶۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۲۹، ۳۳۴) (ضعیف)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۶۵۶۱، ۱۸۹۳۴) (ضعیف)

په طلاق کښې د سړي حالت لره اعتبار دې یا د زنانه حالت لره؟

دا حدیث د ائمه اربعه خلاف دې البته د ابن حزم ظاهری مسلک هم دا دې ونسب الی ابن عباس ورواية احمد، خلاف په دې وجه دې چه د جمهورو په نزد خو د طلاق مدار په رجال باندې دې که سړې ازاد وی نو د هغه د طلاق نصاب درې طلاقه دې او که هغه عبد وی نو بیا ئې نصاب دوه طلاقه دې او احناف دا وائی چه څنګه په عدت کښې بالاتفاق زنانه لره اعتبار دې هم دغه شان په طلاق کښې هم زنانه لره اعتبار دې که هغه حره وی نو د هغې طلاقه به درې وی او که وینزه وی نو بیا به ئې صرف دوه وی، په دې مسئله کښې دوه غیر حر دی لهذا بالاتفاق به د طلاق نصاب صرف دوه طلاقه وی، لهذا بغیر د تحلیل نه دوباره د هغه سره نکاح نه شی کولې

د دې جواب دا دې چه دا حدیث ضعیف دې د عمر بن معتب د وجې نه، یا به داسې وئیلې شی چه دا حدیث منسوخ دې دا د هغه زمانې خبره ده چه کله به طلاق ثلاثه یو شمارلې شو. (كما سيأتي في الباب الاتي) وحديث ابن عباس هذا اخرجه احمد والنسائي والبيهقي اهـ تكملة المنهل.

[۲۱۸۹](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَسْعُودٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ مُظَاهِرٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ، وَقُرْؤُهَا حَيْضَتَانِ". قَالَ أَبُو عَاصِمٍ: حَدَّثَنِي مُظَاهِرٌ، حَدَّثَنِي الْقَاسِمُ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ حَدِيثٌ مَجْهُولٌ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: الْحَدِيثَانِ جَمِيعًا لَيْسَ الْعَمَلُ عَلَيْهِمَا. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: مُظَاهِرٌ لَيْسَ بِمَعْرُوفٍ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا حَدِيثٌ مَجْهُولٌ.

ترجمه: د ام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې: فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی دوینځی دپاره طلاق دوه دی اوددی عدت هم دوه حیضه دی. ابوعاصم دمظاهر نه اوهغه دقاسم نه اوهغه دعائشه رضي الله عنها هغې دنبی صلی الله علیه وسلم نه ددې روایت په شان روایت نقل کړی دی مګردا اضافه ئې کړې ده، چه عدت ئې دوه حیضه دی. ابوداود وائی دا روایت مجهول دې۔

تشریح: ﴿عن عائشة عن النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال طلاق الامة تطليقتان وقرؤها حيضتان﴾ حضرت شیخ الهند په تقریر ترمذی کښې لیکلې دی چه په دې حدیث کښې دوه مسئلې ذکر شوې دی او هغه دواړه د احنافو موافق دی. اول دا چه په طلاق کښې زنانه لره اعتبار دې څنګه چه په عدت کښې دې لره اعتبار دې (کما سبق انفا) دویم دا چه دا عدت بالحیض دې نه بالاطهار خو دا حدیث ضعیف دې د دې په سند کښې مظاهر بن اسلم راوی ضعیف دې، اکثر محدیثنو د هغه تضعیف کړې دې، البته ابن حبان هغه په ثقات کښې ذکر کړې دې.

تنبیه: خو د تعجب خبره دا ده چه د دې حدیث د ذکر کولو نه پس امام ترمذی رحمه الله فرمائی والعمل على هذا عند اهل العلم من اصحاب النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وغيرهم وهو قول سفيان الثوری والشافعی واحمد واسحاق. اهـ حال دا چه د امام شافعی رحمه الله خو په دواړو مسئلو کښې دا حدیث خلاف دې صاحب الکوکب الدری د دې توجیه دا کړې ده چه په دې حدیث

(۱): سنن الترمذي/الطلاق ۷ (۱۱۸۲)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۳۰ (۲۰۸۰)، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۵۵)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطلاق ۱۷ (۲۳۴۰) (ضعيف)

کښې دوه اجزاء دي يو طلاق او دويم عدت، د امام ترمذي رحمه الله اشاره على هذا نه صرف جزء ثاني يعنې د عدت د مسئلې نه دې چه په دې کښې چه په دې کښې د ټولو په نزد د زنانه حالت لره اعتبار دې ګيڼې د طلاق مسئله کښې خو د علماء کرامو اختلاف دې د شوافعو په نزد وغيره... الطلاق بالرجال وعندنا الحنفية الطلاق بالنساء اهـ په دې توجيه سره څومره په يعنې اعتراض کښې کمې راغلو خو بيا ئې هم اشکال باقي دې [1] ځکه چه د وينزې عدت اګر چه بالاتفاق دوه قرء دې خو د قرء مصداق د شوافعو په نزد طهر دې نه حيض او دلته حديث کښې د حيض تصريح يعنې وضاحت دې ، والله تعالى اعلم... وحديث عائشة هذا اخرجه البيهقي والدراقطني وابن ماجة والحاكم وصححه الترمذي. اهـ منهل.

بَابٌ فِي الطَّلَاقِ قَبْلَ النِّكَاحِ

بابد نکاح نه مخکښې د طلاق ورکولو بيان

[۲۱۹۰] ([2]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ، قَالَا: حَدَّثَنَا مَطَرٌ الْوَرَّاقُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا طَلَاقَ إِلَّا فِيمَا تَمْلِكُ، وَلَا عِتْقَ إِلَّا فِيمَا تَمْلِكُ، وَلَا بَيْعَ إِلَّا فِيمَا تَمْلِكُ، زَادَ ابْنُ الصَّبَّاحِ: وَلَا وَفَاءَ نَذْرٍ إِلَّا فِيمَا تَمْلِكُ".

ترجمه: عمرو بن شعيب د خپل پلار نه هغه دده دنيکه نه عبد روايت کوی فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلی دی طلاق هغې ښځې ته ورکول کيدې شی دکومی چه ته مالك ئې اوهمدارنګی ازادول هم په هغه مملوك کښې کيدې شی دکوم چه ته مالك ئې. ابن الصباح په روايت کښې دومره زياتی ده چې ستا په ذمه هغه پوره کول دی دکومې چې ته قدرت لرې، ابن الصباح زياتی دا وئيلی دی چه: اونذر پوره کول ضروری نه دی کله چه دقدرت نه بهر وي.

د حديث په شرح کښې مذاهب ائمه مفصلا :

د دې حديث صرف اول جزء د دې باب سره متعلق دې، يعنې طلاق قبل النکاح، الا فيما تملك کښې د ملك نه ملك متعه مراد دې کوم چه د نکاح په ذريعه سره حاصليږی پس مطلب هم داشو چه طلاق قبل النکاح يعنې دنکاح نه وړاندې معتبر نه دې، مسئله اختلافی ده، شوافع او حنابله هم دا وائی، احناف وائی چه د طلاق قبل النکاح دوه صورتونه دی.

---

[1]) د دې اشکال جواب په څه درجه کښې دا هم کيدې شی چه په اصل کښې د امام ترمذي رحمه الله معمول تقريبا هر ځائې کښې دا دې چه هغه د احنافو، شافعيه وغيره ټولو مذاهبو بيانوی او ډير کرته د دويمې ډلې د دليل طرف ته اشاره هم کوی چه کله دلته مصنف دا حديث ذکر کړو کوم چه د احنافو موافق او د شوافعو خلاف دې نو د مصنف ذهن د شوافعو د دليل طرف ته لاړو خو تر اوسه پورې ئې هغه دليل په ذهن کښې وو خو د ليکلو موقع ئې نه وه راغلې چه د هغې طرف ته مصنف اشاره کولو سره اوفرمائيل ﴿والعمل علي هذا عند اهل العلم الخ ﴾امام ترمذی چه کله د حديث الباب د ذکر کولو نه پس ﴿والعمل علي هذا ﴾فرمائی په هغې کښې ئې اکثر ځايونو کښې ډير د توسع نه کار اخستلې دې، ډيرځله د هغې د حديث الباب سره تعلق نه وی بلکه د جانب مخالف د دليل سره ئې تعلق وی. کمالا يخفي علي من امعن النظر في کتابه. ۱۲)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۳۶، ۸۸۰٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۸۹، ۱۹۰)، سنن الترمذي/الطلاق ٦ (۱۱۸۱)، ق ۱۷ (۲۰٤۷) (حسن)

۱: چه پردئ ښځې ته اوائی انت طالق ۲: یوې زنانه ته اوائی چه ان نکحتک فانت طالق، یعنی که چرته تاسره مې نکاح اوکړه نو ته دې طلاق ئې یعنی نکاح خو اګر چه تر اوسه پورې نه ده شوې خو طلاق ئې معلق کړو اضافة الی النکاح سره، اول صورت زمونږ په نزد هم باطل دې او احناف حدیث لره هم په دې باندې محمول کوی، دویم تعبیر د دې داسې هم کولې شی چه د تطلیق دوه صورتونه دی تنجیزاً او تعلیقایعنی فوراً او مشروط کول، په حدیث کښې د اول نفی ده چه فی الواقع طلاق قبل النکاح یعنی واقع کیدل وړاندې دنکاح هم هغه دې نه ثانی ځکه چه په دې کښې طلاق قبل النکاح چرته دې. د امام مالک رائې هم دا ده خو زمونږ او د هغوی په مسلک کښې فرق دې هغه وایی چه اضافة الی النکاح په صورت کښې د طلاق د واقع کدیو دپاره دا هم شرط دې چه په دې کښې عموم نه وی بلکه څه قسم تخصیص وی مثلاً یوې زنانه ته خطاب کولو سره اوائی چه ﴿ان نکحتک فانت طالق﴾ یا د یو ښهر یا قبیلې نوم اخستلو سره اوائی چه د فلانی ښهر یا قبیلې زنانه سره نکاح اوکړم نو هغه دې طلاقه وی یا د زمانې لحاظ سره تخصیص اوکړی چه ان نکحت الیوم فهی طالق، که ما چرته نکاح اوکړه نو هغه دې طلاقه وی او که عموم وی لکه ﴿ایما امراءة نکحتها فهی طالق ﴾ هریوه زنانه چې زه ئې په نکاح واخلم هغه دې طلاقه وی دا باطل دې ځکه چه په دې صورت کښې هغه د خپل ځان دپاره د نکاح دروازه بالکل بنده کړې ده کومه چه د شارع د مرضئ بالکل خلاف ده، د احنافو په نزد دا د تخصیص قید نشته په تعمیم او تخصیص دواړو صورتونو کښې د هغه دا کلام معتبر دې، په بذل المجهود کښې لیکلې دی چه ومذهبنا مروی عن عمرو بن مسعود وابن عمر. اهـ

وړاندې په حدیث کښې د عتق مسئله ذکر شوې ده په هغې کښې د احنافو او شوافعو هم دا اختلاف دې خو امام احمد [۱] د عتق په مسئله کښې د احنافو سره دې، او د طلاق په مسئله کښې د شوافعو سره دې، بیا په حدیث کښې د دې نه روستو د بیع مسئله مذکور ده چه ملک د غیر بیع جائز نه دې، کوم ته چه بیع فضولی وئیلې شی، د احنافو او مالکیانو په نزد د نفی جواز تعلق بیع بات یعنی قطع بیع نه دې ګینې بیع موقوفا علی اجازة المالک صحیح ده، د مالکیانو په نزد خو بیع او شراء دواړه جائز دی او د احنافو په نزد صرف بیع جائز ده نه شراء، او د امام شافعی په قول جدید کښې بیع فضولی ناجائز ده او قول قدیم کښې جائز ده ورجح النووی. په حاشیه د کوکب کښې دی چه ابن الهمام د امام مالک او احمد دواړو لره د احنافو نه شمار کړې دې. اهـ خو په نیل المآرب او الروض المربع (فی فقه الحنابله) کښې د عدم جواز تصریح ده، د احنافو دلیل د حکیم بن حزام د شراء اضحیه قصه ده (وسیاتی فی البیوع) د دې نه پس په حدیث کښې د نذر مسئله ده که نذر فیما لا یملک تنجیزا یعنی نذر په هغه څه چې فورا مالک نه جوړیږی نو بیا خو بالاتفاق

---

[۱] په دې کښې د هغه نه درې روایتونه دی، یو د احنافو په شان، یو د شوافعو په شان او دریم الفرق بین الطلاق والعتق ورجح الموفق الروایة الثانیة، والخرقي لروایة الثالثة لهـ من الابواب والتراجم ۲۶۳/۵)

باطل دي او که تعليقا دې په اضافة الى الملک سره په دې کښې هم هغه مذاهب دی کوم چه په مسئله د طلاق کښې تير شو (کذافي الابواب والتراجم ١٩٧/٦، وص ٢٠١)

قال المنذری واخرجه الترمذی وابن ماجة بنحوه الى اخر ما قال.

[٢١٩١](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ الْوَلِيدِ بْنِ كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، زَادَ: "مَنْ حَلَفَ عَلَى مَعْصِيَةٍ فَلَا يَمِينَ لَهُ، وَمَنْ حَلَفَ عَلَى قَطِيعَةِ رَحِمٍ فَلَا يَمِينَ لَهُ".

ترجمه: دعمرو بن شعيب نه دتير شوى روايت په شان روايت من نقل شوې دې مګر په دې کښې دا اضافه ده چه که څوک دګناه په کاربانديې قسم اوکړى نودده قسم نه کيږى او څوک چه درشتې د ختمولو قسم اوکړى نودده قسم هم نه کيږي.

تشريح: ﴿ ومن حلف على معصية فلا يمين له ﴾د احنافو په نزد په دې کښې کفاره واجب ده که مطلق يمين وى يا په طريق د نذر وى، خطابى د شوافعو مسلک دا ليکلې دې چه که مطلق يمين وى نو بيا خو به کفاره وى، او که د نذر صورت وى نو بيا په دې کښې کفاره واجب نه ده ځکه چه نذر معصيت نه منعقد کيږى، اهـ د نذر معصيت مسئله مشهور اختلافى مسئله ده چه د دې پوره کول خو د چا په نزد هم جائز نه دى اوس دا چه کفاره هم واجب ده يا نه؟ په دې کښې د احنافو مسلک دا دې چه نذر معصيت خو منعقد کيږى خو د دې ايفاء جائز نه ده لهذا کفاره واجب ده او هم دا يو روايت د امام احمد نه دې او د شوافعو او مالکيانو په نزد کفاره واجب نه ده، کذافي المغني وفيه وعن احمد ما يدل على انه لا کفارة عليه. اهـ د مغنى نه معلومه شوه چه په دې کښې امام احمد دوه روايتونه دى خو په نيل المارب او الروض المربع کښې د وجوب کفاره تصريح ده، دويم روايت ئې نه دې ذکر کړې.

[٢١٩٢](٢)حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ الْمَخْزُومِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي هَذَا الْخَبَرِ: زَادَ: "وَلَا نَذْرَ إِلَّا فِيمَا ابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُ اللَّهِ تَعَالَى ذِكْرُهُ".

ترجمه: عمرو بن شعيب دخپل پلارنه هغه ډده دنيکه نه روايت کوى فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى دپورتنى حديث په شان البته په دې کښې دا اضافه ده چه نذرنه صحيح کيږى مګر په هغه کارکښې په کوم چه الله تعالى رضاکيږى (يعنى دګناه دکارنذرمنل جائز نه دى).

بَابُ الطَّلَاقِ عَلَى غَيْظٍ

باب دغصې په حالت کښې د طلاق ورکولو بيان

اکثر نسخو کښې په ځائې د غلط غيظ دې، او د حديث الباب تقاضه هم دا ده، او يو شارح دغلط تفسير داکړې دې چه په داسې حالت کښې دغلطئ امکان وى يعنى فى حال الغضب. طلاق فى حال الغضب عند الجمهور واقع دې امام احمد فى رواية نه واقع کيږى، په ظاهره کښې د مصنف ميلان هم دې طرف ته دې.

(١): سنن لبن ماجه/الطلاق ١٧ (٢٠٤٧)، (تحفة الأشراف: ٨٧٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٥/٢) (حسن)

(٢): انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ٨٧٣٦)، ويأتي هذا الحديث في الأيمان برقم: (٣٢٧٣) (حسن)

[۲۱۹۳]() حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدٍ الزُّهْرِيُّ، أَنَّ يَعْقُوبَ بْنَ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ الْحِمْصِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ الَّذِي كَانَ يَسْكُنُ إِيلِيَا، قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ الْكِنْدِيِّ حَتَّى قَدِمْنَا مَكَّةَ فَبَعَثَنِي إِلَى صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ وَكَانَتْ قَدْ حَفِظَتْ مِنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ، تَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا طَلَاقَ وَلَا عَتَاقَ فِي غِلَاقٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: الْغِلَاقُ أَظُنُّهُ فِي الْغَضَبِ.

ترجمه: محمد بن عبيد بن ابوصالح (چه په ايلياء کښې اوسيدو) وائي چه: زه د عدى بن عدى کندى سره اووتلم تردې چه زه مکې ته راغلم نو هغوى زه صفيه بنت شيبه ته اوليږلم، هغوى د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه احاديث ياد کړي وو، هغه وائى: ما دعائشې رضي الله عنها نه واوريدل چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه: د زبردستئ په صورت کښې به د طلاق ورکولو او آزادولو اعتبار نه وى،، ابوداؤد وائى: زما خيال دې چه د غلاق مطلب غصه ده.

تشريح: قوله: ﴿لا طلاق ولا عتاق فى اغلاق﴾ يعنى نشته دې نه آزادول او نه طلاق په غصه کښې مصنف د اغلاق تفسير په غضب سره کړې دې چه د امام احمد نه هم دا تفسير منقول دې. په دې باندې دا نقد کړې شوې دې چه طلاق خو د غضب په بناء ورکولې شى چه د امام احمد نه هم دا تفسير منقول دې، په دې باندې دا نقد کړې شوې دې چه طلاق خو د غصې په وجه باندې ورکولې شى، د دې مطلب خو دا شو چه هيڅ قسم طلاق هم واقع نه شى خو اکثر علماء د دې تفسير په اکراه سره يعنى زبردستى سره کړې دې او په ليونتوب سره هم کړې شوې دې.

طلاق مکره کښې اختلاف ائمه:

بيا په طلاق مکره کښې هم اختلاف دې د احنافو په نزد واقع کيږى، د ائمه ثلاثه په نزد نه واقع کيږى، لحديث رفع عن امتى الخطاء والنسيان وما استكرهوا عليه، د احنافو استدلال د عمومات نصوص نه دې كقوله عليه السلام كل طلاق جائز الا الطلاق الصبى والمعتوه. او دليل عقلى دا دې چه د اکراه په صورت کښې د زوج د طرف نه ايقاع طلاق خو بهرحال موندلې شى اګر چه طبعى رضا ئې نه ده او د رضا موندلې کيدل د طلاق دپاره شرط نه دى کما فى الهازل (بذل)

قال المنذرى والحديث اخرجه ابن ماجة وفى اسناده محمد بن عبيد بن ابى صالح وهو ضعيف. اهـ (عون) زاد فى المنهل احمد والبيهقى والحاكم وقال صحيح على شرط مسلم ورد بان فى سنده محمد بن عبيد بن ابى صالح. اهـ

بَابُ الطَّلَاقِ عَلَى الْهَزْلِ

باب: په ټوقو ټوقو کښې د طلاق ورکولو بيان

[۲۱۹۴]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَبِيبٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ ابْنِ مَاهَكَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ:

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٥٥)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطلاق ١٦ (٢٠٤٦)، مسند احمد (٦/٢٧٦) (حسن)

(): سنن الترمذي/الطلاق ٩ (١١٨٤)، سنن ابن ماجه/الطلاق ١٣ (٢٠٣٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٥٤) (حسن)

النِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالرَّجْعَةُ".

ترجمه: دابوهريره نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی دری څيزونه داسې دی چه په توقه کښې يا په رشتيا سره اوکړې شی نو هغه درست دی يو نکاح دويم طلاق دريم رجعت.

تشريح: ﴿ثلاث جدهن جد وهزلهن جد﴾ طلاق هازل يعنی په توقه کښې په اتفاق سره واقع دې پس امام ترمذی د دې حديث نه پس فرمائی چه ﴿والعمل على هذا عند اهل العلم من اصحاب النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وغيرهم اه﴾ په بذل المجهود کښې د علامه شوکانی نه د طلاق په مسئله کښې د امام احمد او امام مالک اختلاف نقل کړې دې چه د هغوی په نزد طلاق هازل نه واقع کيږی، خو دا خبره صحيح نه ده، د ائمه اربعه په نزد په دې مسئله کښې هيڅ اختلاف نشته، پس خپله په بذل المجهود کښې وړاندې تلو سره د قاضی عياض نه په دې کښې د علماء کرامو اتفاق نقل کړې دې، حضرت شيخ هم په حاشيه بذل کښې په دې باندې تنبيه فرمائيلې ده. والحديث اخرجه ابن ماجه والترمذی والحاكم وصححه اه ملخصا من المنهل.

بَابُ بَقِيَّةِ نَسْخِ الْمُرَاجَعَةِ بَعْدَ التَّطْلِيقَاتِ الثَّلَاثِ

د طلاق ثلاثه نه پس د رجعت د منسوخ کيدو بيان

د دې مضمون باب د دې نه مخکښې هم تير شوې دی هم په دې وجه مصنف دلته لفظ د بقيه زياتوالې فرمائيلې ده.

خو په دې باب کښې او تير باب کښې فرق دې هغه دا چه په تير شوی باب کښې خو دا بيان کول پکار دی چه په زمانه جاهليت کښې په طلاق کښې حد نۍ نه وو يعنی په دريو کښې د دې انحصار نه وو د دريې نه په زيات کښې د طلاق ورکولو باوجود زوج د خپلې ښځې نه په عدت کښې دننه رجوع کولې شوه، اسلام راتلو سره دا د جاهليت طريقه ختمه کړه، او په دې دويم باب سره مقصود دا دې چه ابتداء اسلام کښې طلقات ثلاث يو طلاق شمار کيږی يعنی که يو سړې دفعة درې طلاقونه ورکړی نو هغه درې واړه نه واقع کيږی بلکه صرف يو واقع کيږی، روستو دا منسوخ شوه او درې واړه به شمارلې شی.

د طلاق ثلاث په وقوع او عدم وقوع باندې مفصل بحث:

د جمهور علماء او ائمه اربعه مسلک دا دې چه اگر چه ائمه په دې کښې خو اختلاف دې چه دفعة درې طلاقه ورکول د سنت خلاف دی يا نه؟ خو په وقوع کښې هيڅ اختلاف نشته البته د بعض نورو علماء کرامو په دې کښې اختلاف دې. ۱: لا يقع اصلا عند الرافضة وبعض الظاهرية وعند بعضهم لا يقع كل طلاق منهی عنه كطلاق الحائض. ۲: يقع واحد رجعی عند عكرمة وغيره ونسب الى ابن عباس. ۳: للمدخول بها ثلاث ولغيرها واحدة بائنة عند اسحاق بن راهوية.

د دې اختلافاتو وجه دوه روايتونه دی. ۱: قصه طلاق ركانة کوم چه په دې باب کښې اولنې حديث دې. ۲: حديث ابن عباس کوم چه حکما مرفوع دې، او هم د دې باب په اخر کښې راروان دې، په هر يو روايت باندې کلام وړاندې راروان دې.

[۲۱۹۵] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ سورة البقرة آية ۲۲۸ الْآيَةَ، وَذَلِكَ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ، فَهُوَ أَحَقُّ بِرَجْعَتِهَا، وَإِنْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فَنُسِخَ ذَلِكَ، وَقَالَ: الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ سورة البقرة آية ۲۲۹".

ترجمه: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وائی: د الله فرمان دي: «والمطلقات يتربصن بأنفسهن ثلاثة قروء ولا يحل لهن أن يكتمن ما خلق الله في أرحامهن» " او کومو ښځو ته چه طلاق ورکړي شوي دي هغوی دي درې حیضو پورې انتظار اوکړي اوهغوی دپاره حلال نه دی چه الله تعالی دهغوی په رحم کښې کوم څه پیدا کړی دی هغه پټ کړي" (سورة البقرة: ۲۲۸) دا په دې وجه چه کله به سړې خپلې ښځې ته طلاق ورکولو نو د رجعت به هغه زیات حقدار وو اګرچه هغه به درې طلاقه ورکړی وو، نو دا منسوخ کړې شو او ارشاد اوشو: «الطلاق مرتان» یعنی د طلاق اختیار صرف دوه ځله دي.

[۲۱۹۶] (٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي بَعْضُ بَنِي أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ عِكْرِمَةَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: طَلَّقَ عَبْدُ يَزِيدَ أَبُو رُكَانَةَ وَإِخْوَتِهِ أُمَّ رُكَانَةَ وَنَكَحَ امْرَأَةً مِنْ مُزَيْنَةَ، فَجَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: مَا يُغْنِي عَنِّي إِلَّا كَمَا تُغْنِي هَذِهِ الشَّعْرَةُ لِشَعْرَةٍ أَخَذَتْهَا مِنْ رَأْسِهَا فَفَرِّقْ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، فَأَخَذَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَمِيَّةٌ فَدَعَا بِرُكَانَةَ وَإِخْوَتِهِ، ثُمَّ قَالَ لِجُلَسَائِهِ: "أَتَرَوْنَ فُلَانًا يُشْبِهُ مِنْهُ كَذَا وَكَذَا مِنْ عَبْدِ يَزِيدَ، وَفُلَانًا يُشْبِهُ مِنْهُ كَذَا وَكَذَا؟" قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَبْدِ يَزِيدَ: "طَلِّقْهَا"، فَفَعَلَ، ثُمَّ قَالَ: "رَاجِعِ امْرَأَتَكَ أُمَّ رُكَانَةَ وَإِخْوَتِهِ"، فَقَالَ: إِنِّي طَلَّقْتُهَا ثَلَاثًا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "قَدْ عَلِمْتُ، رَاجِعْهَا"، وَتَلَا: يَأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ سورة الطلاق آية ١". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ نَافِعِ بْنِ عُجَيْرٍ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ بْنِ رُكَانَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رُكَانَةَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ الْبَتَّةَ، فَرَدَّهَا إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَحُّ، لِأَنَّ وَلَدَ الرَّجُلِ وَأَهْلَهُ أَعْلَمُ بِهِ إِنَّ رُكَانَةَ، إِنَّمَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ الْبَتَّةَ، فَجَعَلَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدَةً.

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائي چه عبد یزید ځوك چه درکانه پلاردې خپلې ښځې ام رکانه ته طلاق ورکړو اودمزینه قبیلې دیوزنانه سره ئې نکاح وکړه هغه زنانه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوه اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله ابورکانه زما دکار سړې نه دې هغه نه دې مګر دويختې په شان دې اودخپل سرنه ئې يوويخته وويستلونبی عليه السلام چه دا واوريدل نوخفه شو اورکانه اودهغه رونړه ئې را اوغوښتل اياتاسوفلانئ فلانئ جينئ وينئ دابورکانه سره څومره مشابهت لرې؟هغوی وونيل هو نبی عليه السلام اوفرمائيل ته دې ښځې ته طلاق ورکړه نوهغه ورته طلاق ورکړل نبی عليه السلام اوفرمائيل چه ام رکانه اودهغې رونړوته رجعت اوکړه، ابورکانه عرض اوکړو اې دالله رسوله ما ورته درې طلاق ورکړي دي ماته پته ده څوته ورته رجعت اوکړه او ددې نه پس ئې دا ايت تلاوت کړو: «يا أيها النبي إذا

(١): سنن النسائي/الطلاق ٥٤ (٣٥٢٩)، ٧٥ (٣٥٨٤)، (تحفة الأشراف: ٦٢٥٣) ويأتي هذا الحديث برقم (٢٢٨٢) (حسن صحيح)
(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٦٢٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٦٥) (عنده «داود بن حصين» مكان «بعض بني أبي رافع») (حسن)

طلقتم النساء فطلقوهن لعدتهن» (سورة الطلاق: ۱)، امام ابوداود فرمائی چه دا روایت نافع بن عجیر دعبدالله بن علی بن یزید بن رکانه اوهغه دخپل پلارنه بیان کړې دي هغه دده دنیکه نه نقل کړی دی چه رکانه خپلې ښځې ته طلاق ورکړل اونبی علیه السلام ورته هغه ښځه بیا ور واپس کړه اوداقول اصح دې چونکه اولاد او اهل رکانه به ددې واقعې نه ښه واقف وي ځکه چه هغه خپلې ښځې ته درې طلاق ورکړې ووا و نبی علیه السلام هغه یوطلاق حساب کړو.

تشریح: ﴿ عن ابن عباس قال طلق عبد یزید ابو رکانة واخوته ﴾یعنی عبد یزید کوم چه د رکانة او د هغه د نورو رونړو پلار دې (عبد یزید د یو سړی نوم دې اضافی معنی مراد نه ده) او د ابو رکانه دا کنیت نه دې بلکه اضافی معنی مراد ده) حاصل دا دې چه عبد یزید کوم چه صاحب اولاد سړې وو هغه خپلې ښځې ام رکانة [1] ته طلاق ورکړو او د هغې نه روستو ئې د قبیله مزینه د یوې زنانه سره واده اوکړو، د هغې نه روستو داسې اوشوه چه هغه نوې ښځې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو او د خپل خاوند عبد یزید شکایت ئې اوکړو چه هغه زما د کار نه دې، نامرده دې (حال دا چه د هغه صاحب اولاد کیدل مخکښې معلوم شو) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغې په خبره باندې ډیر غیرت او غصه راغله، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبد یزید اولاد رکانه وغیره لره راوبلل او د حاضرین مجلس په وړاندې تپوس اوکړو چه دا اوګوره دا د خپل پلار سره په دې څیز کښې مشابه دې او دې په دې څیز کښې مشابه دې (مطلب دا چه د مشاهدې نه معلومیږی چه دا ټول فی الواقع د عبد یزید ځامن دی، لهذا دا زنانه په خپله دعوی کښې دروغژنه ده) بهرحال رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد یزید ته اوفرمائیل چه دې زنانه ته طلاق ورکړه هغه دې ته طلاق ورکړو هغه عبد یزید ته اوفرمائیل چه اوس ته خپلې سابقه ښځې ته رجوع اوکړه، عبد یزید عرض اوکړو چه ما خو هغې ته درې طلاقه ورکړې دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ماته معلومه ده بیا هم ته هغې ته رجوع اوکړه.

وړاندې اوس امام ابوداود د دې روایت په باره کښې تحقیق ذکر کوی ﴿قال ابوداود وحدیث نافع بن عجیر وعبدالله بن علی بن یزید بن رکانة عن ابیه عن جده الخ ﴾ د دې حدیث د کومو طریقه طرف ته چه مصنف اشاره فرمائیلې ده هغه په راروان باب کښې یقینا راځی، مصنف رحمه الله دلته دوه خبرې کړې دی اول دا چه دا قصه طلاق د عبد یزید سره متعلق نه دې بلکه د هغه ځوئې رکانة دې، بله خبره چه په دې قصه کښې درې طلاقه نه وو بلکه طلاق بته وو، او بیا د دې دواړو خبرو دلیل دا بیان فرمائیلې دې لانهم ولد الرجل واهله... یعنی زه چه وایم هغه په دې وجه اصح دې چه دغه شان بیانونولو والا د صاحب واقعه اهل او د هغه اولاد دې اوظاهره خبره ده چه دانسان کوروالا دهغه خبره زیاته پیژندلو والادې په نسبت د نورو خلقو.

زه وائم هم په دې وجه مصنف وړاندې په باب فی البتة کښې دا قصه دوباره ذکر کړې ده، هم دغه شان امام ترمذی رحمه الله هم دا حدیث من طریق عبدالله بن علی بن یزید بن رکانة په باب فی البتة کښې ذکر فرمائیلې دې، معلومه شوه چه امام ابوداود او امام ترمذی دواړو حضراتو تحقیق کښې دا قصه د طلاق بته ده د طلاق ثلاث نه ده، هم دغه شان امام بیهقی

[1] قیل اسمها عجلة بنت عجلان)

۳۳۹/۷ هم د دې قصې تخريج کړې دې او بيا اخر کښې هغوی دا هم وئيلې دی چه صحيح هم دا ده چه رکانة طلاق واحده ورکړې وو ځکه چه اولاد رکانة د رکانة نه هم داسې روايت کړې دې. والحديث اخرجه النسائي وفي اسناده علي بن حسين بن واقد وفيه مقال. اهـ عون.

مونږ د باب په شروع کښې وئيلې وو چه کوم خلق طلاق ثلاثه ته يو وائی د هغوی د دې قول مطلب دوه روايتونه دی يو قصه رکانة، د قصه رکانة خو دا جواب شو، دويمه وجه د دې حديث ابن عباس دې، کوم چه وړاندې په کتاب کښې داسې راروان دې.

(١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَرْوَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ، عَنْ طَاوُسٍ، أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ: أَبُو الصَّهْبَاءِ، كَانَ كَثِيرَ السُّؤَالِ لِابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا، جَعَلُوهَا وَاحِدَةً عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ إِمَارَةِ عُمَرَ؟" قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "بَلَى، كَانَ الرَّجُلُ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا، جَعَلُوهَا وَاحِدَةً عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ إِمَارَةِ عُمَرَ، فَلَمَّا رَأَى النَّاسَ قَدْ تَتَابَعُوا فِيهَا، قَالَ: أَجِيزُوهُنَّ عَلَيْهِمْ".

ترجمه: طاوس ديوسړي نه روايت کوی ځوك چه په ابوالصهباء باندې ياديږی، او وئيلې شوی دی چه دا به دابن عباس نه ډير تپوسونه کول دې وائی اياتاته پته نشته کله چه به يوسړي خپلې ښځې ته درې طلاق ورکړل مخکښې ددخول نه نوصحابه کرامو به دغه يوطلاق ګرځولو (يعنی دنبی ﷺ په زمانه کښې به يرطلاق ګڼل شود ابوبکرصديق رضی الله عنه په دور کښې اودعمر فاروق ددور په شروع کښې هم، ابن عباس رضی الله عنه اووئيل. کله چه به يوسړي خپلې ښځې ته مخکښې ددخول نه درې طلاق ورکړل نوهغه به يو طلاق شماريدو نبی ﷺ اوصديق اکبرنه اودعمرفاروق رضی الله عنه دابتدائی دور پورې کله چه فاروق اعظم اوليدل چه خلقو طلاق ورکول زيات کړل نووئې فرمائيل چه زه دادرې واړه په دوی باندې نافذوم.

توضيح الحديث

قوله: عَنْ طَاوُسٍ، أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ: أَبُو الصَّهْبَاءِ، كَانَ كَثِيرَ السُّؤَالِ لِابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا، جَعَلُوهَا وَاحِدَةً:

د ابن عباس په دې روايت کښې دی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چه به کوم سړي غير مدخول بها ته درې طلاقه ورکول نو هغه به يو شمار کيدل، د صديق اکبر په زمانه کښې به هم داسې کيدل او د خلافت فاروقی په شروع کښې هم داسې کيدل بيا روستو چه کله عمر رضی الله عنه اوکتل چه خلق مسلسل طلاقونه ورکوی (په طلاق ورکولو کښې جری شو) نو هغوی درې طلاقونه نافذ کړل.

د دې حديث چه څومره حصه مرفوع ده هغه خو هم دا ده چه طلاق ثلاث به يو شمار کيدلو، او د ابن عباس رضی الله عنه په دې طريق کښې دا قيد هم دې چه دا حکم هغه وخت د مدخول بها وو، د دې نه پس دا حديث په يو بل طريق سره راروان دې په هغې کښې د مدخول بها او

(١) داحديث روسته بيا راروان دې په دې وجه دلته نمبر ورنکړې شو مترجم

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٧٦٣) (ضعيف)

غیر مدخول بها هیڅ تعرض نشته، دا حدیث په صحیح مسلم کښې هم په متعدد طرق سره دې په دې کښې هم د غیر مدخول بها قید نشته.
لهذا یو جواب خو د جمهورو د طرف نه دا کیدې شي چه دا حکم د غیر مدخول بها وو، د دې نه پس ځان پوهه کړه چه غیر مدخول بها ته د طلاق ورکولو درې صورتونه دی. ۱: بکلمة واحدة، انت طالق ثلاثا، په دې صورت کښې خو د ائمه اربعه په نزد درې واړه واقع کیږی. ۲: متفرقا، انت طالق، انت طالق، انت طالق... په دې صورت کښې د جمهورو په نزد صرف یو طلاق واقع کیږی او هم په دې سره بینونة کیږی د دې نه پس بیا هغه زنانه د طلاق محل نه پاتې کیږی په دې وجه روستو کلام لغو کیږی. لهذا د ابن عباس دا حدیث هم په دې صورت باندې محمول دې، بل جواب د دې دا ورکړې شوي دي چه دا حدیث طلاق ثلاث په یو خاص صورت باندې محمول دې هغه دا چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چه کله یو سړې د خپلې ښځې سره وئیلې وې ﴿انت طالق، انت طالق، انت طالق﴾ او زوج د دې نه تاکید یا تاسیس هیڅ اراده نه وې نو په وجه د دې حضراتو سلامتی صدور د هغه دې کلام لره په تاکید باندې محمول کوی یو طلاق منلې شي، خو بیا روستو د خلقو په احوال یعنی حالاتو کښې چه کله تغیر پیدا شو او په طلاق ورکولو کښې خلق بیباکه شو نو په ځائې د تاکید کښې دې کلام لره په تاسیس باندې محمول کوی درې طلاقونه واقع کیږی، امام نووی رحمه الله په شرح مسلم ص ۴۷۸ کښې هم دا جواب خوښ کړې دې، امام نووی رحمه الله د دې یو جواب دا هم نقل کړې دې چه د ابن عباس مراد تغیر فی الحکم لره بیانول مقصود نه دی بلکه تغیر عادت لره بیانول دی چه په شروع زمانه کښې چه په کوم حالت کښې خلق یو طلاق ورکولو اوس په دې حالت کښې په ځائې د یو درې طلاق ورکوی، هم دا هغوی داسې تعبیر اوفرمائیلو چه د زمانې په شروع کښې درې طلاقه یو طلاقه وو. یعنی د درې په ځائې په یو باندې اکتفاء کولو (نه دا چه د درې ورکولو باوجود هغه یو وو) حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې د دې حدیث اته توجیهات د شراح حدیث نه نقل کړې دې پورته والا درې په هغوی کښې شامل دی، حضرت ډیرپه تفصیل سره په دې باندې کلام فرمائیلې دې.
د دې نه پس ځان پوهه کړه چه ابن عباس دا حدیث صحاح سته نه صحیح مسلم او سنن ابی داود کښې راغلې دې، امام بیهقی په السنن الکبری ۳۳۷/۷ کښې فرمائی چه دا حدیث د هغه احادیثو نه دې چه په هغې کښې امام بخاری او امام مسلم مختلف دی، امام مسلم د دې تخریج کړې دې، امام بخاری د دې تخریج نه دې کړې چه د هغې وجه ظاهره دا ده چه دا حدیث د ابن عباس د باقی ټولو روایاتو نه خلاف دې (یعنی د هغه د فتوې خلاف دې) او بیا هغه په متعدد طرق سره د ابن عباس رضی الله عنه فتوی د وقوع الثلاث بیان کړې ده، زه وائم هم دا رائې د امام ابوداود ده هغه هم په ډیر طرق سره د ابن عباس فتوی ډیره په زور دار طریقې سره د هغه فیصله وقوع ثلاث په متعدد سندونو سره بیان کړې ده، او په کوم طریق کښې چه وقوع واحده راغلې دې یعنی طریق عکرمه مصنف په هغې کښې اضطراب ثابتولو سره هغه غیر معتبر منلې دې لکه چه وړاندې د هغې تفصیل راروان دې.

[۲۱۹۷](۱) حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ، فَجَاءَ رَجُلٌ، فَقَالَ: إِنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا، قَالَ: فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ رَادُّهَا إِلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: "يَنْطَلِقُ أَحَدُكُمْ فَيَرْكَبُ الْحُمُوقَةَ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، وَإِنَّ اللهَ قَالَ: وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا سورة الطلاق آية ۲، وَإِنَّكَ لَمْ تَتَّقِ اللهَ، فَلَمْ أَجِدْ لَكَ مَخْرَجًا، عَصَيْتَ رَبَّكَ وَبَانَتْ مِنْكَ امْرَأَتُكَ، وَإِنَّ اللهَ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ سورة الطلاق آية ۱ فِي قُبُلِ عِدَّتِهِنَّ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ حُمَيْدٌ الْأَعْرَجُ وَغَيْرُهُ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَيُّوبُ، وَابْنُ جُرَيْجٍ، جَمِيعًا عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. وَرَوَاهُ الْأَعْمَشُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، كُلُّهُمْ قَالُوا فِي الطَّلَاقِ الثَّلَاثِ: "أَنَّهُ أَجَازَهَا"، قَالَ: "وَبَانَتْ مِنْكَ" نَحْوَ حَدِيثِ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ كَثِيرٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "إِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ، ثَلَاثًا بِفَمٍ وَاحِدٍ، فَهِيَ وَاحِدَةٌ". وَرَوَاهُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، هَذَا قَوْلُهُ، لَمْ يَذْكُرِ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَجَعَلَهُ قَوْلَ عِكْرِمَةَ.

ترجمه: د مجاهد نه روايت دي فرمائی چه زه دابن عباس رضی الله عنهما سره موجود وم يوکس دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه ما په يوځل باندې خپلې ښځې ته درې طلاق ورکړی دی ابن عباس چه دا واوريدل نوخاموش شودده دخاموشۍ نه ما دا وګنړل چه عبدالله بن عباس دې سړی ته دا ښځه واپس کوی يعنی د رجعت خبره به ورته کوي، بيا هغه اوونيل په تاسوکښې چه يوکس پاځي اوپه حماقت باندې سورشي اوبيا اوازونه کوي اې ابن عباس اې ابن عباس (يعنی ددې مشکل نه نجات تدبير وښايه) الله تعالی فرمائی څوك چه دالله نه ويريږي نوهغه به د مشکلاتونه وويستلی شي خو تاسو دالله نه نۀ ويريږئ (چه درې طلاقه په يوځائې ورکوئ زماسره ستاد پاره هيڅ لارنشته چه درته ئې وښايم تادالله تعالی نافرمانی کړې ده ستا ښځه ستانه جدا شوله الله تعالی فرمائي: (يا ايها النبی اذا طلقتم النساء ..الخ) يعنی اې خلقو کله چه تاسو خپلو ښځولره طلاق ورکوئ نو دعدت په شروع کښې ورکوئ. حميد دشعبه نه اوهغه دايوب نه هغه دابن جريج نه اوهغه دابن عباس نه ددې روايت په شان روايت نقل کړې دې، اوحماد بن زيد هم دابن عباس رضی الله عنهما نه روايت بيانوي چه کله يوسړې خپلې ښځې ته په يوه ساه کښې اووائی چه ته په درې طلاق طلاقه شوې نو دده په ښځه يوطلاق واقع شو. امام ابوداود وائی حميد الأعرج وغيره دمجاهد او ابن عباس په واسطه نقل کړې دې، او ايوب دابن جريج نه هغه دعکرمه بن خالد نه اوهغه دسعيد بن زبيرنه اوهغه دابن عباس نه هم داسې روايت بيان کړې دې او ابن جريج دعبدالحميد بن رافع نه اوهغه دابن عباس نه، اعمش دمالك بن حارث نه اوهغه دابن عباس نه، ابن جريج دعمرو بن دينار نه اوهغه دابن عباس نه ټولو راويانو روايت بيان کړې دې چه په يوه ساه کښې درې طلاقو ورکولوسره درې واړه طلاق واقع کيږی اوفرمائيلي ئې دي چه ښځه دې درنه جدا شوه. لکه څنګه چه اسماعيل دايوب نه اوهغه دعبدالله بن کثير نه

---

(۱): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٦٤٠١)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى/التفسير (١١٦٠٢) (صحيح)

بیان کړې دي، امام ابوداود فرمائي حماد بن زید دایوب نه اوهغه دعکرمه نه اوهغه دابن عباس نه هم روایت بیان کړې دي لیکن ددې روایت مضمون داسې دی چه په یوه ساه کښې په درې طلاقو ورکولوسره یو طلاق واقع کیږي، او اسماعیل بن ابراهیم هم دایوب نه روایت بیان کړې دي چه دعکرمه قول دې په دې کښې دابن عباس ذکرنشته دې امام ابوداود وابی ابن عباس قول په بله صفحه کښې مذکوردي۔

[۲۱۹۸] () وَصَارَ قَوْلُ وَصَارَ قَوْلُ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيمَا حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، وَهَذَا حَدِيثُ أَحْمَدَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَمُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِيَاسٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَأَبَا هُرَيْرَةَ، وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ سُئِلُوا عَنِ الْبِكْرِ يُطَلِّقُهَا زَوْجُهَا ثَلَاثًا، فَكُلُّهُمْ قَالُوا: "لَا تَحِلُّ لَهُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَى مَالِكٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي عَيَّاشٍ، أَنَّهُ شَهِدَ هَذِهِ الْقِصَّةَ حِينَ جَاءَ مُحَمَّدُ بْنُ إِيَاسِ بْنِ الْبُكَيْرِ إِلَى ابْنِ الزُّبَيْرِ وَعَاصِمِ بْنِ عُمَرَ، فَسَأَلَهُمَا عَنْ ذَلِكَ. فَقَالَا: اذْهَبْ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ، فَإِنِّي تَرَكْتُهُمَا عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، ثُمَّ سَاقَ هَذَا الْخَبَرَ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَقَوْلُ ابْنِ عَبَّاسٍ هُوَ: "أَنَّ الطَّلَاقَ الثَّلَاثَ تَبِينُ مِنْ زَوْجِهَا مَدْخُولًا بِهَا وَغَيْرَ مَدْخُولٍ بِهَا، لَا تَحِلُّ لَهُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ". هَذَا مِثْلُ خَبَرِ الصَّرْفِ، قَالَ فِيهِ: ثُمَّ إِنَّهُ رَجَعَ عَنْهُ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ.

ترجمه: د محمد بن ایاس نه روایت دې فرمائي چه دابن عباس اوابوهریرة اوعمروبن العاص رضی الله عنهم نه دپیغلې جینۍ متعلق تپوس اوکړې شوچه کله ورته خپل خاوند درې طلاق ورکړي نو دوی ټولو وئیلی دی چه ترهغه پورې خپل خاوند ته نه شي حلالیدې ترڅوچه دې دبل خاوند سره نکاح نه وی (اوبیائې هغه طلاقه کړي او اولنې ئې دوباره په نکاح کړي). امام ابوداود فرمائي داحدیث مالك یحیی بن سعید نه یحیی بن بکیر نه او بکیر دمعاویه بن أبی عیاش نه بیان کړې دي اوهغه په دې واقعه کښې موجود وو په کوم وخت کښې چه کله محمدبن عیاش، ابن زبیر اوعاصم بن عمرو ته د تپوس دپاره ورغلې ووهغه اووئیل چه ابن عباس او ابوهریره ته لاړ شئ اوما هغوی دام المومنین عائشې (رضی الله عنها) خواته پریخودل باقی روایت ئې تراخره بیان کړو. ابوداؤد وائي: او د ابن عباس رضی الله عنه دا قول چه درې طلاقو سره ښځه په خپل خاوند باندې بائنه کیږي، که هغې سره ئې دخول شوی وی یا ئې تر اوسه پورې دخول نه وی شوې، اوهغه به دده دپاره ترهغه وخته پورې حلال نه وی چه ترڅو پورې بل چا سره نکاح اونه کړی ددې مثال د «صَرْف» والا حدیث په شان دې په هغې کښې دی چه بیا هغوی یعنی ابن عباس رضی الله عنه ددې نه رجوع اوکړه.

توضیح الحدیث

دا ده هغه فتوی د ابن عباس، کومه چه هغه ډیره په زور او شور او مبالغې سره بیان فرمائي، مجاهد فرمائي چه یوه ورځ زه د ابن عباس سره ناست اوم چه هغه ته یو سړې راغلو او عرض ئې اوکړو چه ما خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې دی (مطلب ئې دا وو چه د دې حل څه دې)، د هغه په دې سوال باندې هغه خاموش وو، مجاهد فرمائي چه زما دا خیال وو چه کیدې شي د رجوع اجازت به ورکړي. (خو د هغې خلاف اوشوه او د خفګان

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٤٣٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المغازي ١٠ (٣٩٩١ تعليقًا) (صحيح)

اظهار ئې اوفرمائيلو، ورته ئې اوفرمائيل چه په تاسو کښې د بعض حال دا دې چه روان وی او د کم عقل توب په سورلئ باندې سور شی، او بيا وائی يا ابن عباس يا ابن عباس (اوس ابن عباس څه اوکړی) الله پاک فرمائی ﴿ومن يتق الله يجعل له مخرجا ﴾، د نجات لاره خو د هغه سړی دپاره وی کوم چه د الله پاک نه ويره کوی، او تا د تقوی خلاف کار کړې دې لهذا ستا دپاره اوس بالکل کاميابی نشته ستا زوجه ستا نه جدا شوې ده او په هغه باندې طلاق بائن راغلو. ﴿قال ابوداود وهذا الحديث ﴾مصنف دا ثابتول غواړی چه د ابن عباس رضي الله عنه دا فتوی ډيره مشهوره ده د هغه ډير شاګردان د هغه نه روايت کوی پس د مجاهد نه علاوه سعيد بن جبير، عطاء، مالک بن الحارث، عمرو بن دينار دا څلور واړه هم د ابن عباس نه دا روايت کوی. ﴿قال ابوداود روی حماد بن زيد ﴾مصنف فرمائی چه د ابن عباس په شاګردانو کښې صرف عکرمه داسې دې چا چه د دې خلاف نقل کړې دې يعنی دا چه په ﴿انت طالق ثلاثا﴾ سره صرف يو طلاق واقع کيږی، خو مصنف فرمائی چه د عکرمه روايت په دې وجه معتبر نه دې چه د راويانو اختلاف واقع شوې دې، پس بعض راويانو دا ابن عباس ته د رسولو په ځائې خپله دې ته د عکرمه قول وئيلې دې لهذا د عکرمه روايت د تعارض په وجه باندې کالعدم شو. او د ابن عباس فتوی هم دا پاتې شوه چه هغه د وقوع ثلاث قائل دې.

[۲۱۹۹]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَرْوَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ، عَنْ طَاوُسٍ، أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ: أَبُو الصَّهْبَاءِ، كَانَ كَثِيرَ السُّؤَالِ لِابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا، جَعَلُوهَا وَاحِدَةً عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ إِمَارَةِ عُمَرَ؟" قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "بَلَى، كَانَ الرَّجُلُ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا، جَعَلُوهَا وَاحِدَةً عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ إِمَارَةِ عُمَرَ، فَلَمَّا رَأَى النَّاسَ قَدْ تَتَابَعُوا فِيهَا، قَالَ: أَجِيزُوهُنَّ عَلَيْهِمْ".

ترجمه: طاوس ديوسړي نه روايت کوی څوک چه په ابو الصهباء باندې ياديږی، او وئيلې شوی دی چه ده به دابن عباس نه ډير تپوسونه کول دې وائی اياتاته پته نشته کله چه به يوسړي خپلې ښځې ته درې طلاق ورکړل مخکښې ددخول نه نوصحابه کرامو به دغه يو طلاق ګرځولو يعنی دنبی عليه السلام په زمانه کښې به يو طلاق ګڼړل شود ابوبکرصديق رضي الله عنه په دور کښې اودعمر فاروق ددور په شروع کښې هم، ابن عباس رضي الله عنه اووئيل. کله چه به يوسړي خپلې ښځې ته مخکښې ددخول نه درې طلاق ورکړل نوهغه به يو طلاق شماريدو نبی عليه السلام اوصديق اکبرنه اودعمرفاروق رضي الله عنه دابتدائی دور پورې کله چه فاروق اعظم اوليدل چه خلقو طلاق ورکول زيات کړل نوونې فرمائيل چه زه دادرې واړه په دوی باندې نافذوم.

تشريح: پس فرمائی ﴿وصار قول ابن عباس فيما حدثنا ﴾يعنی وړاندې چه کوم روايت مونږ ذکر کوو د هغې نه دا خبره صفا معلوميږی چه د ابن عباس مسلک وقوع ثلاث دې.

﴿حدثنا محمد بن عبدالملک ﴾ اوس مصنف د ابن عباس هغه روايت مرفوعه ذکر

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۷۶۳) (ضعيف)

کوی چه د هغې حواله مونږ سره په شروع کښې ډیر کرته راغلې ده او د هغې توجیهات هم تیر شوې دی. د ابن عباس د دې روایت مرفوعه راوی د هغه په شاګردانو کښې هغه دې کوم ته چه ابو الصهباء وئیلې شی.

[۲۱۰۰] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ أَبَا الصَّهْبَاءِ، قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ: "أَتَعْلَمُ أَنَّمَا كَانَتْ الثَّلَاثُ تُجْعَلُ وَاحِدَةً عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَثَلَاثًا مِنْ إِمَارَةِ عُمَرَ؟" قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "نَعَمْ".

ترجمه: طاوس د خپل پلارنه روایت کوی چه ابو الصهباء ابن عباس ته اووئیل چه نبی ﷺ اوابوبکر صدیق اوعمرفاروق رضی الله عنهما په دور خلافت کښې تردرې کالو پورې درې طلاق به یوشمارید و ابن عباس رضی الله عنهما اووئیل هو.

تشریح: الحمد لله د وقوع طلاق یعنی واقع کیدو دطلاق ثلاث بحث پوره شو کوم چه انتهائی مرتب او منقح دې دا په غور سره اولولئ. والله الموفق

بَابٌ فِيمَا عُنِيَ بِهِ الطَّلَاقُ وَالنِّيَّاتُ

په نیت باندې داحکامود مرتب کیدو او د کنایی طلاقو بیان

د ﴿والنیات﴾ عطف په ﴿ما عنی﴾ باندې دې لهذا د ﴿فی﴾ ماتحت کیدو د وجې نه به دا مجرور لوستلې شی، یعنی د دې الفاظو په بیان کښې چه د کوم نه طلاق مراد کولې شی او د نیات په بیان کښې، چونکه کنایات طلاق کښې نیت لره اعتبار وی په دې وجه دې مناسبت سره په ترجمة الباب کښې ئې هغه هم ذکر کړو.

[۲۲۰۱] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ".

ترجمه: د علقمه بن وقاص اللیثي نه روایت دې چه دعمر فاروق رضی الله عنه نه مې واوریدل چه فرمائیل ئې نبی ﷺ فرمائیلی دی داعمالو (دصحت اوفساد) دارو مدار په نیت باندې دې اوهریو کس ته به هغه شې ملاویږي دکوم شي چه هغه نیت کړې وي نو د چاهجرت چه دالله اودرسول دپاره وي نودهغه هجرت دالله اودرسول دپاره شو اودچاهجرت چه ددنیا یادیوې ښځې دحصول دپاره وي چه دهغې سره نکاح اوکړي نودده نیت دهغه شي دپاره شو دکوم شي چه ده نیت کړې دې.

(۱): صحيح مسلم/الطلاق ٢ (١٤٧٢)، سنن النسائي/الطلاق ٨ (٣٤٣٥)، (تحفة الأشراف: ٥٧١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٤/١) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/بدء الوحي ١ (١)، الايمان ٤١ (٥٤)، العتق ٦ (٢٥٢٩)، مناقب الأنصار ٤٥ (٣٨٩٨)، النكاح ٥ (٥٠٧٠)، النذور ٢٣ (٦٦٨٩)، الحيل ١ (٦٩٥٣)، صحيح مسلم/الإمارة ٤٥ (١٩٠٧)، سنن الترمذي/فضائل الجهاد ١٦ (١٦٤٧)، سنن النسائي/الطهارة ٦٠ (٧٥)، الطلاق ٢٤ (٣٤٦٧)، الأيمان والنذور ١٩ (٣٨٢٥)، سنن ابن ماجه/الزهد ٢٦ (٤٢٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٦١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥/١، ٤٣) (صحيح)

تشریح: ﴿انما الاعمال بالنیات وانما لامرئ ما نوی﴾ د اعمالو اعتبار شرعا په نیت باندې دې وجود مراد نه دې، وجود خو بغیر د نیت هم کیږی، لکه چه یو سړې د استیشن په لاره باندې روان شی او قصد د هغه استیشن ته رسیدل نه وی بلکه صرف سیر او تفریح مقصود وی نو دا سړې په تلو تلو کښې استیشن ته رسیږی حال دا چه د هغه مقصود ستیشن ته تلل نه وو. هم دغه شان که یو سړې د اودس ټول اندامونه وینځی د تنظیف یا تبرید په نیت سره نو د جمهورو په نزد د هغه اودس اونشو هم د دې حدیث په وجه باندې په دې کښې د احنافو اختلاف مشهور دې کوم چه په خپل مقام باندې تیر شو د هغې د دوباره ذکر کولو حاجت نشته. ﴿وانما لامرئ ما نوی﴾ نه مقصد یا خو د ماقبل تاکید دې یا دا تاسیس دې وړاندې خبره بیانوی چه هر کله دا معلومه شوه چه بغیر د نیت نه عمل معتبر نه دې نو انسان لره پکار دی چه خپل نیت متعین کړی، یعنی تعیین منوی یعنی چی څه ئې نیت کړې وی ضروری دې. لهذا کله چه انسان مثلا مونځ کوی نو مطلق د مونځ نیت کافی نه دې بلکه د دې تعیین دې هم اوکړی چه کوم مونځ کوی د ماسپحین یا د مازیګر. هم دغه شان د قضاء مونځ مسئله هم ده په دې کښې هم تعیین ضروری دې، او وئیلې شوې دی چه په دې جملې سره مقصود د تعدد منوی یعنی ډیرو څیزونو نیت کولو طرف ته اشاره کول دی چه مکلف چه د کوم څیز نیت هم کوی هغه ته به هغه څیز ملاویږی. که په یو عمل سره ډیر نیتونه اوکړې شو نو د ټولو ثواب به ورته حاصلیږی چه د هغې مثال په مظاهر حق کښې لیکلې دی یو مثال ئې د دې مسجد ته د تلو لیکلې دې چه اوګورئ دا یو عمل دې په دې کښې ډیر نیتونه کیدې شی او بیا په کښې هغه د دولسو اعمالو نیتونه لیکلې دی پس په اخر کښې لیکی چه دا دولس نیتونه صرف مسجد ته د راتلو کیدې شی چه د هر یو به جدا جدا ثواب بیا مومی. اهـ

(یو اشکال او دهغې جواب)

﴿ فمن کانت هجرته الی الله ورسوله فهجرته الی الله ورسوله ﴾ دلته د شرط او جزاء د اتحاد یعنی دیووالی اشکال مشهور دې، او جواب ئې هم مشهور دې هغه دا چه دلته په دواړو جملو کښې فرق اعتباری لحاظ ساتلې شوې دې، په اوله جمله کښې نیة او په دویمه جمله کښې ثوابا وحکما وشرعا... یعنی د کوم سړی هجرت چه د خپل نیت د لحاظ نه د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ طرف ته وی نو د هغه دا هجرت به حکما، شرعا او د اجر او ثواب په اعتبار سره د الله پاک طرف ته وی، یعنی یقینا به هغه د ثواب مستحق وی.
بله توجیه ئې دا کړې شوې ده چه بعض وخت تکرار د افاده یعنی فائده پوره کیدو کمال دپاره وی، لکه ﴿انا ابو النجم شعری شعری﴾ په دې دواړو مثالونو کښې هم د مبتدا او خبر اتحاد دې خو د دې باوجود جائز دې، د فصحاء په کلام کښې موندلې شی ځکه چه مقصود په دې سره کمال لره بیانول دی، یعنی زه واقعی ابو النجم او اسم بامسمی یم هم دغه شان دویم مثال چه زما شعر واقعی شعر دې یعنی شعر مې د وئیلو مستحق دې نو مطلب دا شو چه کوم سړې په اخلاص سره هجرت کوی نو د هغه هجرت واقعی قابل تعریف او مقبول یعنی قبول دې.

﴿ومن كانت هجرته لدنيا يصيبها او امراءة يتزوجها فهجرته الى ما هاجر اليه﴾بعض شارحينو ليکلي دی چه د شرط او جزاء او کله کله د مبتدا او خبر اتحاد د مبالغې دپاره وی یا خو مبالغه فی التعظیم یعنی دپاره دلوئې والی لکه دلته په حدیث کښې په اوله جمله کښې او یا مبالغه فی التحقیر یعنی سپکوالې، لکه د حدیث په دې جمله کښې، پس مطلب دا شو چه چا د دنیوی غرض د حصول دپاره یا یوې زنانه سره د واده کولو دپاره هجرت اوکړو نو د هغه د هجرت ډیر بیکاره درجه ده (دا د هغه هجرت برابر نه شی کیدې کوم چه خالص د الله پاک دپاره شوې وی) او بعض لیکلې دی چه ﴿فهجرته﴾ترکیب کښې مبتدا او ﴿الى ما هاجر اليه﴾جار مجرور د هغې متعلق او خبر د دې مبتدا محذوف دې ای قبيحة غير مقبولة. ترجمه به دا وی چه د داسې سړی هجرت د کوم طرف ته چه هغه کړې دې غیر مقبول او مردود دې. خو په دې باندې بعض نورو شارحینو اعتراض کړې دې چه داسې هجرت لره مطلقا غیر مقبول منل صحیح نه دی، ځکه چه کوم سړې خپل وطن لره ترک کوی د هغه د دار الکفر کیدو د وجې نه او په دې وجه باندې چه هغه بل ځائې کښې واده کوی دا هجرت غیر مقبول او مردود نه دې. او دا جدا خبره ده چه دا هجرت د هغه هجرت نه کوم چه خالص د الله پاک دپاره وی د هغې نه کمتر دې ډیر زیات کم. (كذافي القسطلاني)د دې حدیث نه د نیت ډیر لوئې اهمیت معلومیږی، لهذا انسان لره د هر عمل نه مخکښې خپل نیت ته کتل پکار دی چه په هغې کښې څه نقص خو نشته، بعض وخت په شروع کښې نیت یو څه وی او روستو په هغې کښې د نفس او شیطان په تصرف سره تغیر راشی، په دې وجه چه کوم عمل داسې وی چه په هغې کښې امتداد وی هلته دې په مینځ کښې تجدید نیت کوی، د دې حدیث په تشریح کښې شارحینو ډیر تفصیلی کلام فرمائیلې دې مونږ د خپل عادت مطابق مختصر شان لیکلې دې، زمونږ حضرت شیخ رحمه الله به فرمائیل چه د دې حدیث حاصل تصحیح نیت دې کوم چه د تصوف ابتداء ده، او د تصوف انتهاء هغه ده کوم چه په حدیث جبرائیل علیه السلام کښې راغې یعنی احسان چه د هغې تفسیر داسې کړې شوې دې ﴿ان تعبدالله كانك تراه﴾چه مونږ به د الله پاک عبادت داسې کوو ګویا مونږ هغه لره وینو. والله الموفق والميسر

والحديث اخرجه الجماعة اهـ (عون)

[۲۲۰۲] (¹)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِوبْنِ السَّرْحِ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ كَعْبٍ وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ مِنْ بَنِيهِ حِينَ عَمِيَ، قَالَ: سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ، فَسَاقَ قِصَّتَهُ فِي تَبُوكَ، قَالَ: "حَتَّى إِذَا مَضَتْ أَرْبَعُونَ مِنَ الْخَمْسِينَ، إِذَا رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَعْتَزِلَ

¹): صحيح البخاري/الوصايا ٢٦ (٢٧٥٧)، والجهاد ١٠٣ (٢٩٤٧)، ١٩٨ (٣٠٨٨)، وتفسير سورة البراءة ١٤ (٤٦٧٣)، ١٧ (٤٦٧٧)، ١٨ (٤٦٧٧)، ١٩ (٤٦٧٨)، والاستئذان ٢١ (٦٢٥٥)، والأيمان والنذور ٢٤ (٦٦٩١)، والأحكام ٥٣ (٧٢٢٥)، صحيح مسلم/التوبة ٩ (٢٧٦٩)، سنن النسائي/المساجد ٣٨ (٧٣٢)، والطلاق ١٨ (٣٤٥٣)، والأيمان والنذور ٣٦(٣٨٥٤)، ٣٧ (٣٨٥٧)، (تحفة الأشراف: ١١١٣١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/تفسير سورة التوبة (٣١٠١)، مسند احمد (٤٥٥/٣، ٤٥٧، ٤٥٩، ٣٨٨/٦)، سنن الدارمي/الصلاة ١٨٤ (١٥٦١) (صحيح)

امْرَأَتَكَ، قَالَ: فَقُلْتُ: أُطَلِّقُهَا أَمْ مَاذَا أَفْعَلُ؟ قَالَ: لَا، بَلِ اعْتَزِلْهَا، فَلَا تَقْرَبَنَّهَا، فَقُلْتُ لِامْرَأَتِي: الْحَقِي بِأَهْلِكِ فَكُونِي عِنْدَهُمْ حَتَّى يَقْضِيَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ فِي هَذَا الْأَمْرِ.

ترجمه: دعبدالله بن کعب چاچه به کعب بن مالك دروند والی په وخت کښې ګرځولوفرمائی دکعب بن مالك نه مې اوریدلی دی چه دغزوه تبوك واقعه ئې بیان کړه او وېې فرمائیل کله چه په پنځوس ورځوکښې خلویښت تیرې شوې اونبی ﷺ کعب بن مالك هلال بن امیه وغیره خلق څوك چه ورسره تبوك ته نه ووتلې هغوی ته نبی ﷺ دا سزا ورکړې وه چه خلق به ورسره خبرې نه کوې، دنبی ﷺ قاصد راغې اووئې وئیل چه نبی ﷺ حکم کړې دې چه ستاسونه دې خپلې ښځې جدا شې ماعرض اوکړو چه ایا طلاق ورته ورکړم او که بل حکم دې چه پوره ئې کړم؟ هغه اووئیل نه دښځوسره یوځائې کیږئ مه او ددوی نه جدا جدا شئ، کعب وائی ماخپلې ښځې ته اووئیل چه دمورکره لاړه شه اوهلته اوسیږه ترڅوچه الله تعالی ددې معاملې فیصله نه وې کړې.

تشریح: ددې نه روستو مصنف د سیدنا کعب بن مالک رضی الله عنه د روایت یوه ټکړه ذکر فرمائیلې ده چه په هغې کښې دی ﴿الحقی باهلک﴾دا لفظ کنایه ده د طلاق نه خو چونکه هغه دا د طلاق په نیت سره نه وه وئیلې په دې وجه طلاق واقع نه شو.

بَابٌ فِي الْخِيَارِ

ښځې ته د طلاق د اختیار ورکولو بیان

[۲۲۰۳](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "خَيَّرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرْنَاهُ، فَلَمْ يَعُدَّ ذَلِكَ شَيْئًا".

ترجمه: دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ مونږ ته اختیار راکړو نومونږ هغه غوره کړو بیانبی ﷺ ددې څه شمار اونه کړو(یعنی طلاق ئې ونه ګڼړل).

په مسئلة الباب کښې اختلاف علماء :

که یو سړې خپلې ښځې ته اختیار ورکړی، هغه سره د اوسیدو یا نه اوسیدو، نو په دې سره طلاق واقع کیږی یا نه؟ عند الجمهور لا طلاق فی التخییر اذا اختارت الزوج خلافا لعلی وزید بن ثابت (۲) امام ترمذی په دې باب کښې اختلاف علماء بالتفصیل بیان کړې دې، د سیدنا علی رضی الله عنه نه ئې نقل کړې دی چه که زنانه خپل نفس لره اختیار کړی نو بیا خو به بائنه واحده واقع کیږی او که زوج اختیار کړی نو واحده رجیعه، او د سیدنا زید بن ثابت رضی الله عنه نه نقل کړې شوې دی چه که زوج اختیار کړی نو واحده بائنه او که نفس اختیار کی نو بیا به درې طلاقه واقع وی، په دې حدیث کښې سیده عائشه رضی الله عنها په دې خلقو باندې رد کوی کوم چه

۱): صحیح البخاري/الطلاق ۵ (۵۲۶۲)، صحیح مسلم/الطلاق ٤ (۱٤۷۷)، سنن الترمذي/الطلاق ٤ (۱۱۷۹)، سنن النسائي/النكاح ۲ (۳۲۰٤) والطلاق ۲۷ (۳٤۷٤)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۲۰ (۲۰۵۲)، (تحفة الأشراف: ۱۷٦۳٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٥، ٤٧، ۱۷۱، ۱۷۳، ۱۸۵، ۲۰۲، ۲۰۵، ۲۳۹)، سنن الدارمي/الطلاق ۵ (۲۳۱۵) (صحیح)

۲) او که خپل نفس لره اختیار کړی نو په دې کښې تفصیل دې کوم چه په راروان باب "امرك بیدك" د لاندې راروان دې)

وائي چه نفس تخيير طلاق دي، په دې حديث کښې چه عائشه رضي الله عنها کوم تخيير لره بيان فرمائي دا هم هغه تخيير دې چه د هغې ذکر په قران کريم کښې په دې آيت کريمه کښې مذکور دې ﴿يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ۝ وَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا۝﴾

د دې تخيير وجه څه وه؟ په دې کښې روايات مختلف دی، د مسلم په روايت کښې تصريح ده چه د دې سبب په نفقه کښې زيادت طلب کول وو چه په هغې باندې رسول الله ﷺ د خپلو ازواجو نه يوه مياشت لرې والې کړې وو، د مسلم په رويت کښې دی ﴿ثم نزلت هذه الاية، يا ايها النبى قل لازواجک الاية ﴾ والحديث اخرجه ايضا احمد مطولا، وباقى الستة بلفظ المصنف، قال الترمذى: هذا حديث حسن صحيح. (قاله فى المنهل)

بَابٌ فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ[1]

باب: ښځې ته دا وئيل چه: ستا معامله ستا په لاس کښې ده

په باب سابق والامسئله کښې اوپه دې مسئله کښې څه فرق دې هغه په حاشيه کښې اوګورئ د دې نه روستو ځان پوهه کړئ چه د خاوند خپلې ښځې ته دا وئيل چه ﴿امرک بيدک﴾ دتوکيل يعنى وکيل جوړول او تفويض يعنى سپارل دقبيل نه دې اودا تطليق نه دې. [2]

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

لهذا چه ترڅو پورې چه هغه خپل نفس لره اختيار نه کړی نو طلاق به واقع نه وی، د ائمه اربعه په نزد البته په دې کښې د ربيعه الرائى اختلاف دې، او چه کله خپل نفس لره اختيار کړی نو کوم طلاق به واقع کيږی؟ مسئله اختلافى ده، د جمهورو په نزد که هغه څه نيت نه وو کړې يا ئې د يو طلاق نيت کړې وو نو په دواړو صورتونو کښې به يو طلاق واقع شوې وی، د ائمه ثلاثه په نزد رجعيه او د احنافو په نزد بائنه، او که زنانه د يو نه زيات نيت

[1] دې طريقه تطليق نه فقهاء کرام په تمليک سره تعبير کوی، او کومې زنانه ته چه دا اوئيلې شی هغې ته مملکه وئيلې شی. بيا پوهه شئ چه په باب سابق کښې مسئله تخيير مذکور ده او په دې کښې مسئله تمليک، په ظاهره کښې دې دواړو کښې هيڅ قسم فرق نه معلوميږی، خو د فقهاء کرامو په نزد دې دواړو کښې فرق دې، علامه ابن رشد مالکى په بداية المجتهد کښې په دې باندې کلام کړې دې، په دې کښې هغوی د مالکيانو او شوافعو اختلاف بيان کړې دې او دا چه د مالکيانو په نزد په دې دواړو کښې فرق دې په خلاف د امام شافعى چه هغه په ﴿اختاری﴾ او په ﴿امرك بيدك﴾ کښې د هيڅ قسم فرق قائل نه دی، د هغوی د کلام نه معلوميږی چه د امام مالک رحمه الله په نزد په دې دواړو کښې فرق دا دې چه تمليک (امرك بيدك) کښې تعدد طلاق او عدم تعدد دواړو ګنجائش او احتمال دې هم دا وجه ده چه په دې کښې زوج د زوجه سره اختلاف کولې شی ما فوق الواحده کښې. او په تخيير کښې دا ده چه زنانه يا خو زوج لره اختيار کړی يا بيا بالکل د عصمة نکاح يعنى پاکدامنې د نکاح نه جدا شی، د درې طلاقو په ذريعه.

[2] قال الفقهاء ان لفظ "أمرك بيدك" "وطلقي نفسك" و "انت طالق ان شئت" من الفاظ التوكيل لا التطليق فيقع الطلاق بعد اختيار المرأة، وذكرها في الكنايات يوهم انها من الكنايات، واختلف ابوحنيفة والشافعي في ارادة الثنتين (من العرف الشذي)

اوکړی نو دا هم صحیح ده په شرط د موافقة نیة الزوج، برابره خبره ده که د دوه نیت کوی یا د دریو، او دا د ائمه ثلاث په نزد دې، او د احنافو په نزد لکه چه د هغوی مسلک مشهور دې لا یصح نیة الاثنتین، البته که د درې نیت کول درست دې کما تقرر فی اصول الفقه،اوکه چرې د دواړو په نیتونو کښې اختلاف شی مثلا ښځه د دریو طلاقو نیت اوکړی او سړې د یو طلاق، نو په دې صورت کښې د ائمه ثلاث په نزد چه په هغې کښې احناف هم دی د القضاء ما قضی الزوج یعنی د زوج نیت لره په اعتبار وی، وعند احمد القضاء ما قضت المراءة. (اهـ ملخصا من الاوجز)

[۲۲۰۴]([1])حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: قُلْتُ لِأَيُّوبَ: "هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا قَالَ بِقَوْلِ الْحَسَنِ فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ؟" قَالَ: "لَا، إِلَّا شَيْئًا حَدَّثَنَاهُ قَتَادَةُ، عَنْ كَثِيرٍ مَوْلَى ابْنِ سَمُرَةَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِنَحْوِهِ". قَالَ أَيُّوبُ: فَقَدِمَ عَلَيْنَا كَثِيرٌ فَسَأَلْتُهُ. فَقَالَ: مَا حَدَّثْتُ بِهَذَا قَطُّ. فَذَكَرْتُهُ لِقَتَادَةَ، فَقَالَ: بَلَى، وَلَكِنَّهُ نَسِيَ.

ترجمه: سلیمان بن حرب وائی چه حماد د ایوب نه تپوس اوکړو ایا داسې کس درته معلوم دې چه هغه د أمرك بيدك قول دحسن نه نقل کړې وي؟ هغه جواب ورنکړو لیکن دکثیر نه قتاده روایت نقل کړې دې اوهغه دابوسلمه نه اوهغه دابوهریره فه نه اوهغه دنبی ﷺ نه، ایوب اووئیل کثیر ماته راغې ما ترې تپوس اوکړو هغه اووئیل داحدیث ماهیڅ کله نه دې بیان کړې ماچه دا واوریدل نودقتاده نه مې تپوس اوکړو داحدیث ماته کثیر بیان کړې دې لیکن دهغه نه هیر شوې دې.

شرح الحدیث :

د ابوداود په دې روایت کښې اختصار دې د ترمذی روایت په دې کښې صفا او واضح دې، چه په هغې کښې تصریح ده چه د امام حسن په نزد ﴿امرک بیدک﴾کښې درې طلاقونه دی نو په دې روایت کښې حماد د ایوب سختیانی نه تپوس کوی چه ایا د حسن نه علاوه هم څوک د دې قائل دې؟ هغه انکار اوکړو چه د هغه نه علاوه ئې څوک هم قائل نه دې، بیا هغه ته یو روایت رایاد شو کوم چه هغه ته د قتاده نه رارسیدلې وو چه د هغې نه معلومه شوه چه ﴿امرک بیدک ﴾سره درې طلاقه واقع کیږی نو ګویا هغه د قتاده استثناء اوکړه چه هغه د درې کیدو قائل دی.

قوله: قَالَ أَيُّوبُ: فَقَدِمَ عَلَيْنَا كَثِيرٌ فَسَأَلْتُهُ. فَقَالَ: مَا حَدَّثْتُ بِهَذَا قَطُّ. فَذَكَرْتُهُ لِقَتَادَةَ، فَقَالَ: بَلَى، وَلَكِنَّهُ نَسِيَ:

شرح السند :

د دې شرح دا ده چه پورته ایوب چه د ابوهریره رضی الله عنه کوم حدیث د قتاده نه روایت کوی، او قتاده د کثیر نه روایت کوی، اوس ایوب فرمائی چه روستو ما دا حدیث براه راست د کثیر نه تپوسلې وو نو هغه د دې نه انکار اوکړو چه ما دا حدیث قتاده ته بیان کړې وو، ایوب

[1]: سنن الترمذي/الطلاق ۳ (۱۱۷۸)، سنن النسائي/الطلاق ۱۱ (۳۴۳۹)، (تحفة الأشراف: ۱۴۹۹۲) (ضعیف)

فرمائی چه بیا ما قتاده ته د دې ذکر اوکړو نو هغه اوفرمائیل چه نه! کثیر ماته دا حدیث بیان کړې وو، د هغه نه هیره شوې ده.

فائده : ځان پوهه کړه چه دا حدیث د ﴿من حدث ونسی﴾ د قبیل نه دې، کوم چه د اصول حدیث یو مستقل قسم دې، د محدثینو مسلک دې باره کښې دا دې چه د شیخ انکار د خپل مروی نه که بالجزم یعنی یقین سره دې نو بیا خو هغه حدیث معتبر نه دې، او که د دې انکار احتمالا وی نو بیا به قابل قبول وی، په اصح قول کښې.

د ابوداود خو په دې روایت کښې انکار بالجزم دې، خو د ترمذی او نسائی الفاظ په دې کښې مختلف دی په هغې کښې د صریح انکار په ځائې داسې دی ﴿فسالته فلم یعرفه﴾ لهذا په دې صورت کښې به دا معتبر وی.

تنبیه : دا حدیث کوم چه د ابوهریره رضی الله عنه نه مرفوعا روایت دې دا غیر صحیح دې، صحیح دا دې چه دا حدیث په ابوهریره رضی الله عنه باندې موقوف دې، پس امام ترمذی رحمه الله فرمائی ﴿هذا حدیث لا نعرفه الا من حدیث سلیمان بن حرب عن حماد بن زید، وانما هو عن ابی هریرة موقوف﴾ هم دغه شان امام نسائی رحمه الله فرمائی : هذا حدیث منکر. (من المنهل)

[۲۲۰۵](1) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ، قَالَ: "ثَلَاثٌ".

ترجمه: قتاده دحسن نه نقل کړي دي چه په داسې وئیلو سره ستامعامله ستاپه لاس کښې ده، درې طلاق واقع کیږی.

بَابٌ فِي الْبَتَّةِ

باب د طلاق بته (یعنی د قطعی طلاق) بیان

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

که یو سړې خپلې ښځې ته داسې اوائی چه ﴿انت طالق البتة﴾ نو په دې کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې، د امام مالک رحمه الله په نزد په دې سره درې طلاقه واقع کیږی او هم دغه شان د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په نزد هم. پس امام مالک په موطاء کښې د هغه نه نقل کړې دی چه هغه ورته اوفرمائیل ﴿من قال لامراته انت طالق البتة فقد رمی الغاية القصوی﴾ هغه طلاق خپل اخری حد ته اورسولو، او د امام شافعی رحمه الله مذهب دا دې ﴿ان نوی فما نوی والا فواحدة رجعية﴾ چه څنګه ئې نیت وی هم هغه شان به طلاق واقع کیږی، او که څه نیت ئې نه وی نو واحده رجعیه به واقع کیږی، او د احنافو په نزد به واحده بائنه واقع کیږی، وان نوی الثلاث فصحیح ولا یصح نية الاثنین. او د امام احمد نه په دې کښې دوه روایتونه دی، یو د امام مالک په شان، او دویم دا چه په دې کښې نیت لره اعتبار دې (کذا فی العدة) او خطابی د امام احمد نه نقل کړې دی ﴿ اخی ان یکون ثلاث ولا اجتری افتی به ﴾ یعنی ماته خو د درې طلاقو ویره ده اګر چه د دې فتوی د ورکولو جراءت نه کوم. (منهل)

(1): تفرد به أبو داود وانظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۴۹۹۲، ۱۸۵۳۷) (صحیح)

[۲۲۰۶](۱)حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ الْكَلْبِيُّ أَبُو ثَوْرٍ فِي آخَرِينَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِدْرِيسَ الشَّافِعِيُّ، حَدَّثَنِي عَمِّي مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ شَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ نَافِعِ بْنِ عُجَيْرِ بْنِ عَبْدِ يَزِيدَ بْنِ رُكَانَةَ، أَنَّ رُكَانَةَ بْنَ عَبْدِ يَزِيدَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ سُهَيْمَةَ الْبَتَّةَ، فَأَخْبَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ، وَقَالَ: وَاللَّهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَاللَّهِ مَا أَرَدْتَ إِلَّا وَاحِدَةً؟" فَقَالَ رُكَانَةُ: وَاللَّهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً، فَرَدَّهَا إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَطَلَّقَهَا الثَّانِيَةَ فِي زَمَانِ عُمَرَ، وَالثَّالِثَةَ فِي زَمَانِ عُثْمَانَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: أَوَّلُهُ لَفْظُ إِبْرَاهِيمَ وَآخِرُهُ لَفْظُ ابْنِ السَّرْحِ.

ترجمه: دنافع بن جبير بن عبديزيد بن ركانه نه روايت دي فرمائي چه ركانه بن عبديزيد خپله ښځه سهيمه په طلاقو البته اوكړې وو اوبيائې نبي ﷺ په دې باندې خبركړو ركانه اووئيل په الله مې دې قسم وي چه زما ديوطلاق نيت وونبي ﷺ اوفرمائيل په الله قسم ستانيت نه وو مكرديو ركانه بيا اووئيل په الله قسم ماديوطلاق نيت كړې وو نونبي ﷺ ورته دغه ښځه واپس كړه دويم طلاق ئې ورته دعمرفاروق رضي الله عنه په دور كښې وركړو او دريم طلاق ئې ورته دعثمان بن عفان نه په دور كښې وركړو. امام ابوداود فرمائي په دې روايت كښې اولنې لفظ دابراهيم دې او اخرنې لفظ دابن السرح دې۔

تشريح: بيا د دې نه پس ځان پوهه كړئ چه مصنف رحمه الله د طلاق ركانة روايت ذكر كړې دې چه په هغې باندې تفصيلي كلام مونږ سره دلته تير شوې دې چه د مصنف علام تحقيق دا دې چه دا قصه د طلاق ثلاث نه ده بلكه د طلاق بته ده، هم په دې وجه باندې مصنف دا واقعه دلته په دې باب كښې راوړې ده.

[۲۲۰۷](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُونُسَ النَّسَائِيُّ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُمْ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِدْرِيسَ، حَدَّثَنِي عَمِّي مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ ابْنِ السَّائِبِ، عَنْ نَافِعِ بْنِ عُجَيْرٍ، عَنْ رُكَانَةَ بْنِ عَبْدِ يَزِيدَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ.

ترجمه: نافع بن عجير دركانه بن عبديزيدنه ددې په مثل يومرفوع روايت بيان كړې دې۔

[۲۲۰۸](۳)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، عَنْ الزُّبَيْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ بْنِ رُكَانَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ الْبَتَّةَ، فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مَا أَرَدْتَ؟" قَالَ: وَاحِدَةً، قَالَ: "آللَّهِ؟" قَالَ: آللَّهِ؟ قَالَ: "هُوَ عَلَى مَا أَرَدْتَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَنَّ رُكَانَةَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا، لِأَنَّهُمْ أَهْلُ بَيْتِهِ وَهُمْ أَعْلَمُ بِهِ. وَحَدِيثُ ابْنِ جُرَيْجٍ رَوَاهُ عَنْ بَعْضِ بَنِي أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: دعبدالله بن على بن يزيد بن ركانه دخپل پلارنه روايت كوى چه هغه خپلې ښځې ته بته طلاق وركړو اودنبي ﷺ په خدمت كښې حاضرشونبي ﷺ ترې تپوس اوكړو چه دطلاق وركولوپه وخت كښې دې نيت څه وو؟ هغه عرض اوكړو ديوطلاق نبي ﷺ

(۱): سنن الترمذي/الطلاق ۲ (۱۱۷۷)، ق / الطلاق ۱۹ (۲۰۵۱)، (تحفة الأشراف: ۳۶۱۳)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/ الطلاق ۸(۲۳۱۸) (ضعيف)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۶۱۳) (ضعيف)

(۳): انظر حديث رقم (۲۲۰۶)، (تحفة الأشراف: ۳۶۱۳) (ضعيف)

اوفرمائیل ستادي په الله قسم وي واقعي تادیوطلاق نیت کړې وو؟ هغه عرض اوکړو زما دې په الله قسم وي زماصرف دیوطلاق نیت وو نبی علیه السلام اوفرمائیل بیاخو ستا په ښځه باندې یو طلاق واقع شوې دې، امام ابوداود فرمائی داروایت دابن جریج دروایت نه زیات صحیح دې، دابن جریج په روایت کښې داسې دي چه رکانه درې طلاقه ورکړل، داځکه چه دکور افراد دداسې معاملاتونه زیات واقف دي اودابن جریج روایت دبنورافع دبعضو افرادونه منقول دی، او د عکرمه اوابن عباس نه.

په متن کښې یو غلطی او د هغې تصحیح

ځان پوهه کړه چه په حدیث الباب کښې دا دی چه رکانه خپلې ښځې ته طلاق بته ورکړې وو، او حدیث ابن جریج کوم چه په "باب نسخ المراجعة بعد التطليقات الثلاث"کښې تیر شوې دې په هغې کښې دا دی چه ابو رکانه یعنی عبد یزید خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې وو، د مصنف تحقیق چونکه دا دې چه طلاق ورکولو والا رکانه دې لکه چه په حدیث الباب کښې دی نه ابو رکانه. په دې وجه مصنف دلته د ابن جریج د تیر شوی روایت په باره کښې فرمائی چه هغه غلط دې یعنی ﴿ان ابا ركانة طلق﴾خو زمونږ په دې نسخه کښې د مصنف د کلام په ځائې ﴿ان ابا ركانة طلاق امراته ثلاثا﴾په ځائې ﴿ان ركانة الخ﴾واقع دې، دا د نسخې غلطی ده كما هو ظاهر بین، په دې باندې حضرت په بذل المجهودکښې تنبیه فرمائیلې ده او هم دغه شان صاحب منهل هم، د مصنف د رائې کامل وضاحت دې په باب سابق کښې اوکتلې شی.

بَابٌ فِي الْوَسْوَسَةِ بِالطَّلَاقِ

باب: په زړه کښې د طلاق خیال راتلو بیان

د طلاق په وسوسیې سره طلاق نه واقع کیږی، کما هو مقتضی حدیث الباب، یعنی لکه څنګه چې حدیث الباب تقاضا کوی خو بعض علماء کرام د طلاق د وقوع قائل دی، پس امام زهری رحمه الله فرمائی چه ﴿اذا طلق زوجته فی نفسه ولم يتكلم به لزمه الطلاق﴾په بذل او منهل کښې لیکلې دی چه د اشهب روایت هم د امام مالک نه هم دا دې، ابن العربی هم دې قول ته ترجیح ورکړې ده، هغه دا په کفر بالقلب او اصرار علی المعصیت یعنی چې زړه کښې کفر او همیشوالې په ګناه عمل طور نه کول او مراءاة بالعمل وغیره کارونو باندې قیاس کړې دې چه اوګورئ دلته صرف عمل بالقلب موندلې شوې دې دون اللسان. قال الخطابی والحديث حجة عليهم، لهذا حدیث الباب د جمهورو دلیل دی.

[۲۲۰۹](1)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ لِأُمَّتِي عَمَّا لَمْ تَتَكَلَّمْ بِهِ أَوْ تَعْمَلْ بِهِ، وَبِمَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا".

ترجمه: دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی الله تعالی خیالات

[1]: صحيح البخاري/العتق ٦ (٢٥٢٨)، والطلاق ١١ (٥٢٦٩)، والأيمان والنذور ١٥ (٦٦٦٤)، صحيح مسلم/الإيمان ٥٨ (١٢٧)، سنن الترمذي/الطلاق ٨ (١١٨٣)، سنن النسائي/الطلاق ٢٢ (٣٤٦٤، ٣٤٦٥)، سنن ابن ماجه/الطلاق ١٤ (٢٠٤٠)، (تحفة الأشراف: ١٢٨٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٩٣، ٣٩٨، ٤٢٥، ٤٧٤، ٤٨١، ٤٩١) (صحيح)

اوتصورات زما امت ته معاف کړي دي کوم چه په زړه کښې تیریږي ترڅوچه ئې په ژبه وئیلي نه وي اوعمل ئې ورباندې نه وي کړې.

والحديث اخرجه ايضا باقي الستة، وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح. (كذا في المنهل)

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَقُولُ لِامْرَأَتِهِ يَا أُخْتِي

باب: د سړي خپلې ښځې ته خورونیل څنګه دي؟

[۲۲۱۰] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، وَخَالِدٌ الطَّحَّانُ الْمَعْنَى، كُلُّهُمْ عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ الْهُجَيْمِيِّ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِامْرَأَتِهِ: يَا أُخَيَّةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُخْتُكَ هِيَ"، فَكَرِهَ ذَلِكَ وَنَهَى عَنْهُ.

ترجمه: دابوتمیمه هجیمي نه روایت دي یو کس خپلې ښځې ته اووئیل اې خورې نبي عليه السلام داخبره بده وګڼړله اوددې الفاظو وئیلو نه ئې منع اوفرمائیله.

توضيح الحديث

﴿اختية﴾ تصغير دي د ﴿احت﴾ رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې ښځې ته د خور وئیلو نه منع کړې ده ځکه چه قرابت اخوة محرم دي لهذا خپلې ښځې ته داسې وئیلو کښې مظنه تحریم یعنی د حراموالي ګمان دي، هم داوجه ده چه دبعض علماء کرامو په نزد په دې باندې ظهار واقع کیږي.

مسئله فقهيه:

اصل کښې په دې کښې تفصیل دي، که یو سړې خپلې ښځې ته داسې اوائی چه انت کاختی نو په دې کښې څو صورتونه دي، که د هغه دا وینا د ظهار په نیت ده نو بیا خو به د اکثرو په نزد ظهار واقع شي، او که د کرامت په نیت اوائی نو په دې کښې هیڅ ضرر نشته صرف د احتیاط خلاف ده او که څه نیت ئې نه وی نو په دې کښې اختلاف دې، د اکثر علماء کرامو په نزد خو په دې کښې هیڅ ضرر نشته، او امام ابویوسف رحمه الله فرمائی چه د هغه داسې وئیل تحریم دې او د امام محمد رحمه الله په نزد ظهار دې. (منهل عن الخطابي) (۲)

[۲۲۱۱] (۳) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ يَعْنِي ابْنَ حَرْبٍ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ قَوْمِهِ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ لِامْرَأَتِهِ: يَا أُخَيَّةُ، فَنَهَاهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۹۹، ۱۸۸٤٦) (ضعيف)

[2] وفي البدائع ۲۳۱/۳: ولو قال لها انت علي كامي او مثل امي يرجع الي نيته، فان نوي به الظهار كان مظاهرا، وان نوي به الكرامة كان كرامة، وان نوي به الطلاق كان طلاقا، وان نوي به اليمين كان ايلاء لان اللفظ يحتمل كل ذلك اذ هو تشبية المراءة بالام فيحتمل التشبيه في الكرامة والمنزلة، ويحتمل التشبيه في الحرمة الي ان قال: وان لم يكن له نية لا يكون ظهارا عند ابي حنيفة وهو قول ابي يوسف، الا ان: عند ابي حنيفة لا يكون شيئا وعند ابي يوسف يكون التحريم اليمين، وعند محمد يكون ظهارا. اهـ د بدائع د دې عبارت تعلق اګر چه د ﴿ام﴾ سره دې خو په باب ظهار کښې د ام او اخت دواړو حکم یو شان دې)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۹۹، ۱۸۸٤٦) (ضعيف)

ترجمه: ابوتميمه دخپل قوم ديوکس نه روايت کوی فرمائی چه دنبی عليه السلام نه ئې اوريدلي وو اونبی عليه السلام ديوکس نه واوريدل چه خپلې ښځې ته ئې اووئيل اې خوري نونبی عليه السلام هغه لره منع کړو، امام ابوداود فرمائی داروايت عبدالعزيز بن مختار دخالد نه اوهغه دابوعثمان نه هغه دابوتميمه نه هغه دنبی عليه السلام نه مرسلاً بيان کړې دې همدارنګې شعبه دخالد نه اوهغه ديوکس نه هغه دابوتميمه نه هغه دنبی عليه السلام نه نقل کړې وو.

تشريح: عن ابی تميمة عن رجل من قومه انه سمع النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :

اولنې سند مرسل وو، ابو تميمه طريق بن مجالد تابعی دې، او دا دويم روايت مسند دې، د ﴿رجل مبهم﴾ نه مراد ابو جری دې کما قال الحافظ فی التقريب فی باب المبهمات، ونقله عنه فی البذل.

قوله: قال ابوداود : ورواه عبدالعزيز بن المختار عن خالد الخ :

مصنف دا روايت په څلور طرق سره ذکر کړې دې(۱) طريق حماد عن خالد(۲) طريق عبدالسلام عن خالد(۳) عبدالعزيز عن خالد(۴) شعبه عن خالد، په دې څلوروو واړو کښې صرف طريق عبدالسلام مسند متصل دې باقی درې واړه مرسل دی، په ﴿قال ابوداود﴾ سره د مصنف غرض د طريق مرسل ترجيح ده، ورسره دلته مصنف د يو بل اختلاف طرف ته هم اشاره کوی، هغه دا چه د حماد او عبدالسلام روايت کښې خالد او ابو تميمه ترمينځه هيڅ قسم واسطه نشته، په خلاف د طريقين اخيرين چه په دې کښې د خالد او ابو تميمه ترمينځه د يوې واسطې زيادت دې، يو د ابو عثمان او دويم د رجل مبهم، کيدې شی چه د دې رجل مبهم نه مراد ابو عثمان وی، حاصل دا دې چه د دې حديث په سند کښې دوه اختلافه شو يو د ارسال او اسناد او دويم د واسطې او عدم واسطې، حضرت په بذل کښې په دې طرق مختلفه کښې تطبيق او عدم تعارض ليکلې دې.

[۲۲۱۲](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّ إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكْذِبْ قَطُّ إِلَّا ثَلَاثًا: ثِنْتَانِ فِي ذَاتِ اللّٰهِ تَعَالَى، قَوْلُهُ: إِنِّي سَقِيمٌ سورة الصافات آية ۸۹، وَقَوْلُهُ: بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا سورة الأنبياء آية ۶۳، وَبَيْنَمَا هُوَ يَسِيرُ فِي أَرْضِ جَبَّارٍ مِنَ الْجَبَابِرَةِ، إِذْ نَزَلَ مَنْزِلًا فَأُتِيَ الْجَبَّارُ، فَقِيلَ لَهُ: إِنَّهُ نَزَلَ هَاهُنَا رَجُلٌ مَعَهُ امْرَأَةٌ هِيَ أَحْسَنُ النَّاسِ، قَالَ: فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَسَأَلَهُ عَنْهَا، فَقَالَ: إِنَّهَا أُخْتِي، فَلَمَّا رَجَعَ إِلَيْهَا، قَالَ: إِنَّ هَذَا سَأَلَنِي عَنْكِ فَأَنْبَأْتُهُ أَنَّكِ أُخْتِي، وَإِنَّهُ لَيْسَ الْيَوْمَ مُسْلِمٌ غَيْرِي وَغَيْرُكِ، وَإِنَّكِ أُخْتِي فِي كِتَابِ اللّٰهِ فَلَا تُكَذِّبِينِي عِنْدَهُ" وَسَاقَ الْحَدِيثَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْخَبَرَ شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ.

ترجمه: ابوهريره دنبی عليه السلام نه روايت بيانوي چه فرمائيلي ئې وو يقينا ابراهيم عليه السلام چرته دروغ نه وو وئيلې مګر درې پيرې دوه ځل هغه دالله تعالی دپاره انی سقيم وئيلي وو او په دويم ځل (بل فعله کبيرهم) ئې وئيلي وو او يوځل هغه ديوظالم بادشاه ملك ته تلې وو (هغه ظالم بادشاه به دخلقونه ښځې په زوره اخستلې) ابراهيم عليه السلام يوځائې ته راغې اوهغه ظالم

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۴۵۳۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/أحاديث الأنبياء ۸ (۳۳۵۷)، والنكاح ۱۲ (۵۰۱۲)، صحيح مسلم/الفضائل ۴۱ (۲۳۷۱)، سنن الترمذي/تفسير سورة الأنبياء (۳۱۶۵)، مسند احمد (۴۰۳/۲) (صحيح)

بادشاه هم راغې خلقو ورته اووئيل چه دلته يو کس راغلې دې او ډيره ښائسته ښځه ئې ده، ځنانچه دې ظالم بادشاه دابراهيم عليه السلام په طلب کولو پسې خپل يو کس اوليږلو ابراهيم عليه السلام چه بادشاه ته ورغې نوونې وئيل چه هغه زما خورده ګله چه ابراهيم عليه السلام واپس راغې نوخپلې بی بی ته ئې ووئيل بادشاه رانه ستا په باره کښې تپوس اوکړو ما ورته اووئيل چه خور مې ده اونن ورځ زما اوستانه علاوه په دنياکښې څوك بل مسلمان موجود نه دې نوپه دې وجه باندې ته زما خورکيږې نو په دې وجه باندې ته ماددې ظالم بادشاه په مخکښې دروغژن مه ګڼړه. امام ابوداود فرمائی همدارنګې شعيب بن أبی حمزه دابوالزناد نه اوهغه اعرج نه هغه دابوهريره نه داروايت مرفوعا بيان کړې دې.

شرح حديث:

دا حديث مشهور دې، د ابوداود نه علاوه په صحيحين او مسند احمد کښې هم دې، او په ترمذی کښې مختصرا دې. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی چه د سيدنا ابراهيم عليه السلام نه په ټول عمر کښې صرف درې کرته د کذب صدور شوې دې چه په هغې کښې دوه خالص د الله پاک دپاره وو، يو د هغه قول ﴿انی سقيم﴾ په آيت کريمه کښې داسې دی ﴿فنظر نظرة فی النجوم فقال انی سقيم﴾ چه د هغې حاصل دا دې چه د سيدنا ابراهيم قوم هغه په خپل څه مذهبی ميله کښې بوتلل غوښتل نو هغه د ستورو طرف ته کتلو سره اوفرمائيل (ځکه چه د هغه قوم د علم نجوم قائل وو) چه زما طبيعت خو صحيح نه دې زه تاسو سره د تلو نه معذور يم، او کذب ثانی کوم چه په دې حديث کښې بيان کړې شوې دې هغه د هغوی قول دې ﴿بل فعله کبيرهم هذا﴾ آيت کريمه داسې دې ﴿وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ بَعْدَ أَنْ تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ ۝ فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ۝ قَالُوا مَنْ فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ ۝ قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ ۝ قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ ۝﴾ شوې داسې وه چه کله د هغه قوم دې خپلې ميلې ته لاړو چه کوم ته هغوی سيدنا ابراهيم عليه السلام بوتلل غوښتل، سيدنا ابراهيم عليه السلام د هغوی د تلو نه روستو د هغوی چه کوم واړه واړه بتان وو هغه ئې په يو تبر باندې مات کړل او هغه ئې د لوئې بت په غاړه کښې زوړند کړو، هم د دې خبرې طرف ته اشاره کولو دپاره چه دا عمل د دې لوئې بت دې، پس اوس د هغوی قوم واپس راغلو نو په دې منظر کتلو سره پريشانه شو او په دې تلاش کښې اولګيدل چه دا د چا حرکت دې تردې چه د ابراهيم عليه السلام نه هم تپوس اوکړې شو چه دا کار تاسو کړې دې؟ هغوی ورته جواب ورکړو چه دا هر څه خو د دې مشر حرکت معلوميږی لهذا تاسو هم د دې (اصنام صغار) نه تپوس اوکړئ که دوی جواب درکولې شی، د دريم کذب بيان وړاندې راروان دې.

په دې روايت کښې دا فرمائيلې شوې دی ﴿ثنتان فی ذات الله﴾ يعنی صرف د دوه په باره کښې وئيلې شی چه په دې کښې دوه کذب د الله پاک دپاره وو، حال دا چه دريم کذب هم د الله پاک دپاره وو، حافظ فرمائی چه د دوه تخصيص په دې وجه دې چه اګر چه قصه ساره هم د الله پاک د ذات دپاره وه، لکن تضمنت حظا لنفسه ونفعا له. يعنی په دې قصه کښې چونکه فی الجملة حظ نفس هم وو يعنی خپله ذاتی فائده، په خلاف د رومبو دواړو چه په

هغې کښې د حظ نفس شائبه نه وه، هم دا وجه ده چه په بعض روایاتو کښې راغلې دی. ﴿الا ثلاث کذبات کل ذلک فی ذات الله تعالی﴾، او د ترمذی په روایت کښې دی ﴿ما منها کذبة الا ما حل بها عن دین الله تعالی﴾ یعنی په دې کذبات کښې یو کذب هم داسې نه وو کوم چه هغه حیله او ذریعه نه وی جوړه کړې د الله پاک د دین د حفاظت دپاره.

د کذب اطلاق په نبی باندې:

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه په دې حدیث شریف کښې د ابراهیم علیه السلام په حق کښې د کذب اطلاق کړې شوې دې چه په هغې باندې دا اشکال ظاهر دې [1] خو تول شارحین په دې خبره باندې متفق دی چه په دې حدیث شریف کښې د کذب نه مراد کذب حقیقی نه دې ځکه چه هغه خو معصیت او حرام دې، هغه د الله پاک دپاره نه شی کیدې بلکه د دې نه مراد معاریض او توریه ده او په توریه کښې صورت کذب موندلې شی. ای من حیث السامع لا من حیث المتکلم. او د توریه مطلب دا وی چه د یو کلام دوه معنی وی یو ظاهری او بله باطنی، یا داسې اوایئ چه یو متبادر او بله غیر متبادر. د متکلم مراد خو غیر متبادر معنی وی او د سامع په ذهن کښې معنی متبادر وی کوم چه د واقع خلاف دی، او غیر متبادر معنی د واقعې مطابق وی، کوم چه متکلم مراد کړې دې، پس دلته که کذب واقع شوې وی نو هغه د سامع په لحاظ سره شوې دې نه د متکلم، لهٰذا د دې توجیه په وجه باندې نظر سقیم چه هغه غیر متبادر معنی کومه چه ابراهیم علیه السلام مراد کړې ده هغه مختلف کیدې شی، یا داسې اوئیلې شی چه هغه د سقیم نه مراد ﴿سقیم الحجة فی خروج مهم﴾ اخستلې وی [2] او دا هم وئیلې شوې دی چه په دې ورځو کښې سیدنا ابراهیم علیه السلام په حمی نوبتی کښې اخته وو خو دا ورځ ئې د تبې نه وه بلکه د راحت وه، پس یو لحاظ سره دروغ شو او بل لحاظ سره نه، هم دغه شان په ﴿بل فعله کبیرهم﴾ کښې توریه خو په داسې طریقه ده چه د سیدنا ابراهیم علیه السلام مراد په ﴿بل فعله کبیرهم﴾ سره دا دې چه په موجوده صورت کښې چه کومه نقشه مخې ته ده هغه دا بیانوی چه دا کار د دې لوئې بت حرکت دې، او د هغه مراد دا نه وو چه واقعة هغه داسې اوکړل. والله تعالی اعلم

وړاندې په حدیث کښې دریم کذب دا بیان کړې شوې دې چه یو ځل ابراهیم علیه السلام د یو جابر او ظالم بادشاه په دور کښې سفر کولو [3] په مینځ کښې په یو منزل باندې کوز شو

---

[1] په دې وجه باندې بعض خلقو د دې حدیث د صحت نه انکار کړې دې کوم چه سراسر غلط دې، ځکه چه دا حدیث په صحیحین کښې موجود دې، د هغې نه علاوه هم د حدیث په ډیرو معتبر او مستند کتابونو کښې په اسانید صحیحه سره مذکور دې، مولانا محمد ادریس کاندهلوی لیکی چه د دې حدیث په صحت کښې تر ننن پورې د حدیث یو امام هم کلام نه دې کړې او نه د کلام گنجائش شته اهـ معارف القرآن)

[2] یعنی زما دپاره تاسو سره وتلو کښې د جواز څه وجه نشته)

[3] دا بادشاه عمرو بن امرؤا القیس د مصر بادشاه وو، ابراهیم علیه السلام چه کله بابل او خپل قوم لره د پریخودلو سره د سفر اراده اوفرمائیله د حران کنعان (د فلسطین علاقه) ته راورسیدل نو په حران کښې د هغه واده د ساره رضی الله عنها سره اوشو، د هغه ځائې نه ئې مصر ته سفر اوکړو چه د هغه ځائې د بادشاه سره دا قصه پیښنه شوه)

هغه سره په دې وخت کښې د هغه حريم سيده ساره رضي الله عنها وه، يو سړي لاړو او هغه جبار ته ئې خبر ورکړو چه دلته يو سړې داسې ديره شوې دې چه هغې سره يوه ښکلې زنانه ده، هغه جابر سړې په ښکلې زنانو باندې مئين وو په هغې باندې ئې قبضه کړې وه چه کله هغه ته خبر اوشو نو هغه ابراهيم عليه السلام ته خپل قاصد اوليږلو او هغه ئې راطلب کړو، د راغوښتلو نه پس بادشاه د ابراهيم عليه السلام نه د هغه زنانه متعلق تپوس اوکړو نو هغه اوفرمائيل: ﴿ اختى ﴾، او د هغه ځائې نه واپس راتلو سره ئې سيده ساره رضي الله عنها ته اوفرمائيل چه هغه جبار زما نه ستا متعلق سوال کړې وو نو ما ورته دا جواب ورکړو چه هغه زما خور ده، او ته زما ديني لحاظ سره خور ئې، لهذا که ستا نه تپوس اوکړی نو ته هم دغه شان اوايه.

د دې حديث د ترجمة الباب سره مطابقت هم د دې جزء په لحاظ سره دې، لهذا د دې نه معلومه شوه چه خپلې ښځې ته بغير د څه ضرورت يا مصلحت نه خو ﴿يا اختى ﴾نه دی وئيل پکار. کما مر فی الحديث السابق، خو که ضرورة يا مصلحة اوئيلې شي نو دا جدا خبره ده.

﴿وانه ليس اليوم مسلم غيرى وغيرک ﴾په دې باندې دا اشکال دې چه د سيده ساره نه علاوه په دې زمانه کښې د ابراهيم عليه السلام سره په ايمان راوړلو والا کښې سيدنا لوط عليه السلام هم وو کما قال الله تعالى ﴿ فامن له لوط ﴾د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه په دې علاقه کښې چرته چه دا واقعه پيښه شوې وه بل څوک مومن نه وو، اګر چه لوط عليه السلام وو خو هغه بل ځائې کښې وو.

شارحينو ليکلې دی چه د دې بادشاه عادت دا وو چه د خاوند والا ښځې ته به ئې تعرض کولو هم په دې وجه ابراهيم عليه السلام هغه پوهه کړه چه ته هغه ته داسې مه وايه چه زه د هغه ښځه يم بلکه وايه چه زه ئې خور يم.

﴿وساق الحديث ﴾ مصنف فرمائی چه زما استاذ خو واقعه د اخره پورې بيان کړې وه خو زه وړاندې اختصار کوم، حضرت په بذل المجهود کښې فرمائی چه ټوله قصه په صحيح بخاری کښې ده چه په هغې کښې دا دی چه بيا هغه جبار بادشاه سيده ساره خپل محل ته طلب کړه چه کله هغه هلته اورسيده نو هغه ورته لاس ور واچولو خو فورا ئې لاس شل شو، بادشاه پوهه شو چه دا د هغې په بد دعا سره داسې اوشو هغه سيده ساره رضي الله عنها ته اووې چه زما دپاره دعا اوکړه زه به تاته ضرر نه درکوم، هغې الله پاک نه دعا اوکړه او د هغه لاس روغ شو، خو بيا ئې دوباره د هغې طرف ته لاس ور اوږد کړو، د هغه لاس دوباره شل شو، او بيا هم دغه شان د هغې په دعا سره صحيح شو، بيا هغې خپل دربان راطلب کړو او وې وئيل چه دا تا ماته څوک راوستلې دی؟ هغه انسان نه معلوميږی کيدې شي چه څوک جن وی، او بيا ئې د سيده ساره رضي الله عنها په خدمت کښې يوه وينزه سيده هاجر رضي الله عنها هبه کړه او شغوی ئې رخصت کړل

والحديث اخرجه ايضا احمد والشيخان، وكذا الترمذی مختصرا، قاله فی المنهل

بَابٌ فِي الظِّهَارِ

باب: د ظهار بیان

ظهار د اهل جاهلیت والا د طلاق نه دې، د اهل جاهلیت په نزد خو ظهار سبب تحریم وو، الله پاک په اسلام کښې نفس ظهار خو باقی اوساتلو خو د هغې په حکم کښې ئې تغیر اوکړو، د تحریم مؤبد نه د تحریم مؤقت طرف ته، یعنی الی اداء الکفارة، د کفاره د ادا کولو نه پس هغه زنانه د مخکښې په شان حلالیږی، په اسلام کښې د ټولو نه وړاندې چه کوم ظهار واقع شوې دې هغه د اوس بن الصامت ظهار دې، کوم چه د باب په دویم حدیث کښې مذکور دې.

د ظهار سره متعلق مباحث اربعه :

دلته څلور بحثونه دی، حقیقت ظهار او په دې کښې اختلاف علماء، دویم حکم ظهار، دریم که قبل التکفیر جماع اوکړه نو د دې څه حکم دې، څلورم توقیت فی الظهار صحیح دې یا نه دې.

بحث اول :

د ظهار تعریف زمونږ په "کنز الدقائق" کښې داسې لیکلې شوې دې : تشبیه المحللة بالمحرمة علی التابید... یعنی خاوند خپلې ښځې ته د داسې څیز سره تشبیه ورکول کوم چه په هغه باندې د همیشه دپاره حرام وی، تشبیه که د ذات سره وی، یا د یو داسې جزء سره وی د کوم نه چه په صبا سره تعبیر کولې شی. لکه ماسپحین مثلاً.
د پورته ذکر شوی تعریف نه معلومه شوه چه د ظهار حقیقت تشبیه بالام کښې منحصر نه دې بلکه چه کومه زنانه هم په هغه باندې د همیشه دپاره حرام وی برابره خبره ده که هغه د حرمت رضاع د وجې نه وی یا د مصاهرت د وجې نه وی، هم دغه شان د امام مالک رحمه الله په نزد هم ظهار د تشبیه بالام سره خاص نه دې، امام شافعی او امام احمد نه دواړه روایتونه دی، د امام شافعی په قول قدیم کښې ﴿ام﴾ سره خاص دې او قول جدید کښې ﴿ام﴾ سره خاص نه دې.

بحث ثانی :

د ظهار حکم دا دې چه د دې وجې نه سړې د خپلې ښځې سره جماع حرامیږی تردې چه کفاره ادا کړی دواعی جماع مس او تقبیل وغیره هم حرام دی یا نه؟ په دې کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد هغه هم حرامیږی هم دا مذهب د امام مالک رحمه الله دې، د شوافعو او حنابله په دې کښې دوه روایتونه دی، حرمت او عدم حرمت. (من الاوجز)

بحث ثالث :

دا دې چه که مظاهر قبل التکفیر جماع اوکړی نو په دې کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد په هغه باندې توبه او استغفار دې، او دا چه د بیا دپاره دې قبل التکفیر جماع نه کوی، امام ترمذی په دې مسئله باندې مستقل باب تړلې دې، باب ما جاء فی المظاهر یواقع قبل ان

يکفر. په دې کښې هغه د اکثر علماء کرامو هم دا مسلک نقل فرمائيلي دي، د ائمه ثلاث مسلک هم دا ليکلې شوې دې، او د عبدالرحمن بن مهدی قول دا ليکلې شوې دې چه په دې صورت کښې د هغوی په نزد په هغه باندې دوه کفارې واجب دی، او په اوجز کښې د حسن بصری او نخعی نه دا نقل کړې دی چه د هغوی په نزد درې کفارې واجب دی، او د مغنی نه ئې نقل کړې دی چه د بعض علماء کرامو نه منقول دی چه په دې صورت کښې به کفاره مطلقا ساقط شی. لانه فات وقتها.

بحث رابع:

يعنی ظهار موقت لکه چه په حديث الباب کښې يعنی سلمه بن صخر په قصه کښې واقع دې، دا مسئله هم مختلف فيه ده د احنافو په نزد ظهار موقت صحيح دې او هم دا د امام احمد رائې ده، او د امام شافعی په دې کښې دوه اقوال دی. الاول يکون ظهارا والاخر لا يکون ظهارا. او د امام مالک رحمه الله په نزد به وخت لره اعتبار نه وی بلکه ظهار به مطلق شی. (کما فی هامش البذل عن الاوجز)

[۲۲۱۳]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، قَالَ ابْنُ الْعَلَاءِ ابْنِ عَلْقَمَةَ بْنِ عَيَّاشٍ: عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ، قَالَ ابْنُ الْعَلَاءِ الْبَيَاضِيِّ، قَالَ: كُنْتُ امْرَأً أُصِيبُ مِنَ النِّسَاءِ مَا لَا يُصِيبُ غَيْرِي، فَلَمَّا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ خِفْتُ أَنْ أُصِيبَ مِنَ امْرَأَتِي شَيْئًا يُتَابَعُ بِي حَتَّى أُصْبِحَ، فَظَاهَرْتُ مِنْهَا حَتَّى يَنْسَلِخَ شَهْرُ رَمَضَانَ، فَبَيْنَمَا هِيَ تَخْدُمُنِي ذَاتَ لَيْلَةٍ إِذْ تَكَشَّفَ لِي مِنْهَا شَيْءٌ، فَلَمْ أَلْبَثْ أَنْ نَزَوْتُ عَلَيْهَا، فَلَمَّا أَصْبَحْتُ خَرَجْتُ إِلَى قَوْمِي فَأَخْبَرْتُهُمُ الْخَبَرَ، وَقُلْتُ: امْشُوا مَعِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: لَا وَاللَّهِ، فَانْطَلَقْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: "أَنْتَ بِذَاكَ يَا سَلَمَةُ"، قُلْتُ: أَنَا بِذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَرَّتَيْنِ، وَأَنَا صَابِرٌ لِأَمْرِ اللَّهِ، فَاحْكُمْ فِيَّ مَا أَرَاكَ اللَّهُ، قَالَ: "حَرِّرْ رَقَبَةً"، قُلْتُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أَمْلِكُ رَقَبَةً غَيْرَهَا وَضَرَبْتُ صَفْحَةَ رَقَبَتِي، قَالَ: "فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ"، قَالَ: وَهَلْ أَصَبْتُ الَّذِي أَصَبْتُ إِلَّا مِنَ الصِّيَامِ، قَالَ: "فَأَطْعِمْ وَسْقًا مِنْ تَمْرٍ بَيْنَ سِتِّينَ مِسْكِينًا"، قُلْتُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ، لَقَدْ بِتْنَا وَحْشَيْنِ مَا لَنَا طَعَامٌ، قَالَ: "فَانْطَلِقْ إِلَى صَاحِبِ صَدَقَةِ بَنِي زُرَيْقٍ فَلْيَدْفَعْهَا إِلَيْكَ، فَأَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا وَسْقًا مِنْ تَمْرٍ، وَكُلْ أَنْتَ وَعِيَالُكَ بَقِيَّتَهَا"، فَرَجَعْتُ إِلَى قَوْمِي، فَقُلْتُ: وَجَدْتُ عِنْدَكُمُ الضِّيقَ وَسُوءَ الرَّأْيِ، وَوَجَدْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّعَةَ وَحُسْنَ الرَّأْيِ، وَقَدْ أَمَرَنِي، أَوْ أَمَرَ لِي، بِصَدَقَتِكُمْ، زَادَ ابْنُ الْعَلَاءِ، قَالَ ابْنُ إِدْرِيسَ: بَيَاضَةُ بَطْنٌ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ.

ترجمه: دابن العلاء البياضي نه روايت دې فرمائی چه زه يوداسې سړې وم چه ښځې به مې ډيرې خوښې وې زما هومره به دبل چا نه وې خوښې (يعنی جماع به مې ډيره کوله) کله چه درمضان مياشت راغله نوزما سره دا انديښنه پيداشوه چه چرې داسې و نه شی چه په رمضان کښې دخپلې ښځې سره دورځې کوروالې ونکړم نوبدقسمتئ زه ترسحره پورې نه خودو اودرمضان تراخره پورې مې ظهاروکړويو شپه هغه ښځه زماپه خوا کښې تيريدله

[1]: سنن الترمذي/الطلاق ۲۰ (۱۱۹۸)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۲۵ (۲۰۶۲)، (تحفة الأشراف: ٤٥٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷/٤، ٤٣٦/٥)، سنن الدارمي/الطلاق ۹ (۲۳۱۹) (حسن صحيح) (ملاحظه هو الإرواء: ۲۰۹۱) ويأتي هذا الحديث برقم (۲۲۱۳)

اوزه مشغول وم اچانك دهغې جسم بربنډ شو اوزمانه صبراونشواوصحبت مې ورسره اوکړو. کله چه سحر شو نوزه خپل قوم ته ورغلم اودغه خلقوته مې پوره واقعه بيان کړه او ورته مې اووئيل چه تاسو زماسره نبي عليه السلام ته لاړ شئ هغوی اوونيل په الله قسم مونږ درسره نه ځونوزه يواځې دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او پوره واقعه مې ورته بيان کړه نبي عليه السلام تپوس اوکړو اې ابوسلمه تا واقعې دا کار کړې دې؟ ماعرض اوکړو هو. دا کار ئې کړې دې، نبي عليه السلام ددې خبرې دوباره تپوس اوکړو نوماورته اووئيل دالله تعالى په حکم باندې صابر يم اوس چه دالله تعالى څه حکم وي هغه صادر کړه نبي عليه السلام اوفرمائيل يرغلام آزاد کړه ماعرض اوکړو دالله په ذات مې دې قسم وي چاچه ته په حقه راليږلې وې زه ددې خپل څټ نه علاوه دبل هيڅ شي مالك نه يم او په خپل څټ مې لاس کيخودونبي عليه السلام اوفرمائيل بيا دوه مياشتې مسلسل روژې اونيسه ماعرض اوکړو په ما باندې دا پريشاني د يوې روژې په وجه راغلې ده شپيته خو درکنار) نبي عليه السلام اوفرمائيل شپيته صاع کجورې مسکينانوته په صدقه کښې ورکړه ماعرض اوکړو په هغه ذات مې دې قسم وي چاچه په حق سره ته په رسالت راليږلې يې مونږ دواړه ښځه خاوند شپه په نهره تيره وو زمونږ سره دخوراك دپاره څه موجود نه وي چه وئې خورې نبي عليه السلام اوفرمائيل دبني زريق قبيلې صدقه کونکوته ورشه هغوی به درته کجورې درکړي ته په هغې کښې شپيته صاع غريبانوته ورکړه اوباقي کجورې ستا اوستادښځې شوې چنانچه زه خپل قوم ته واپس راغلم او ورته مې اووئيل ستاسو سره مې بده مشوره او تنګوالې اوموندو اودنبي عليه السلام سره مې توسع اونيکه مشوره اوموندله اونبي عليه السلام زما دپاره دصدقې حکم اوکړو، ابن العلاء دا اضافه کړې ده چه ابن ادريس وئيلي دي چه قبيله بياضه دبني زريق يوښاخ دې.

توضيح الحديث

مصنف په دې باب کښې دوه احاديث ذکر فرمائيلي دی، اولاً د سلمه بن صخر البياضي حديث کوم ته چه سلمان بن صخر هم وئيلې شی، په دې حديث کښې کفاره ظهار هم بالتفصيل مذکور دې کما هو مذکور فی القران. بيا ئې دويم نمبر کښې د اوس بن صامت حديث ذکر اوفرمائيلو چا چه د خپلې ښځې خويله سره ظهار کړې وو او هم په دې قصه کښې د آيت ظهار نزول شوې وو. په ظاهره کښې د قياس تقاضه دا وه چه دا دويم حديث مصنف اول ذکر کړې وې. زما په خيال ئې د دې برعکس په دې وجه اوکړل چه په دې اول حديث کښې کفاره ظهار کښې مذکور دې کوم چه حکم ظهار دې، او معرفت حکم اهم او مقصود دې، په دې وجه مصنف هغه مقدم کړې دې.

مضمون حديث:

مضمون حديث دا دې چه سلمه بن صخر وائی چه چونکه ما باندې به د جماع مواقع زياتې راتلې چه دومره به کيدې شی په چا نه راتلې (د قوت او شهوت د زيادت د وجې نه) نو کله چه به د رمضان مياشت شروع شوه نو زما د ځان نه دا ويره پيدا شوه چه هسې نه د رمضان په مياشت کښې د خپلې ښځې سره داسې مشغول شم چه د هغې نه جدا نه شم تردې چه

صبا شي «دا ترجمه د ﴿يتابع بي﴾دي چه د هغې معنی لزوم ده، لهذا ما د هغې نه د رمضان د خر پوري ظهار اوکړو، وړاندې د حديث مضمون واضح دې.

د ظهار ظهار موقت يعنی وخت ئې مقرر شو، د دې حکم په ابتدائی مباحث کښې تير شوې دې.

وړاندې دلته په حديث الباب کښې د کفاره ظهار تفصيل مذکور دې يعنی ﴿الاعتاق﴾ يا ﴿صوم ستين يوما يا اطعام ستين مسكينا﴾اعتاق رقبه د احنافو په نزد مطلق دې او د جمهورو په نزد په دې کښې د مومنه قيد دې، بيا د اطعام ستين په مقدار کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد مقدار طعام د هر يو مسکين دپاره د صدقة الفطر برابر دې، من التمر صاع لكل مسكين ومن البر نصف صاع، وعند الشافعي لكل مسكين ربع صاع من كل شئ فالمجموع خمسة عشر صاعا، وعند مالك نصف صاع من كل شئ، فالمجموع ثلاثون صاعا وعند الامام احمد من البر ربع صاع ومن غيره نصف صاع. د دې اختلاف وجه اختلاف روايات دي چه خپله دلته په سنن ابوداود کښې موجود دې.

والحديث اخرجه ايضا احمد وابن ماجة والحاكم وقال هذا حديث صحيح على شرط مسلم، واخرجه البيهقي والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح وصححه ابن خزيمة قاله في المنهل.

[۲۲۱۴]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْظَلَةَ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، عَنْ خُوَيْلَةَ بِنْتِ مَالِكِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، قَالَتْ: ظَاهَرَ مِنِّي زَوْجِي أَوْسُ بْنُ الصَّامِتِ، فَجِئْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْكُو إِلَيْهِ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَادِلُنِي فِيهِ، وَيَقُولُ: "اتَّقِي اللَّهَ، فَإِنَّهُ ابْنُ عَمِّكِ"، فَمَا بَرِحْتُ حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ: قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا سورة المجادلة آية، إِلَى الْفَرْضِ، فَقَالَ: "يُعْتِقُ رَقَبَةً"، قَالَتْ: لَا يَجِدُ، قَالَ: "فَيَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ"، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ شَيْخٌ كَبِيرٌ مَا بِهِ مِنْ صِيَامٍ، قَالَ: "فَلْيُطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا"، قَالَتْ: مَا عِنْدَهُ مِنْ شَيْءٍ يَتَصَدَّقُ بِهِ، قَالَتْ: فَأُتِيَ سَاعَتَئِذٍ بِعَرَقٍ مِنْ تَمْرٍ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَإِنِّي أُعِينُهُ بِعَرَقٍ آخَرَ، قَالَ: "قَدْ أَحْسَنْتِ، اذْهَبِي فَأَطْعِمِي بِهَا عَنْهُ سِتِّينَ مِسْكِينًا وَارْجِعِي إِلَى ابْنِ عَمِّكِ"، قَالَ: وَالْعَرَقُ سِتُّونَ صَاعًا. قَالَ أَبُو دَاوُدَ فِي هَذَا: إِنَّهَا كَفَّرَتْ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْتَأْمِرَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهَذَا أَخُو عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ.

ترجمه: دخويلة بنت مالك بن ثعلبه نه روايت دې فرمائي چه زما خاوند اوس بن الصامت زماسره ظهار وکړو او دشکايت کولو دپاره دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوم اونبی ﷺ زماسره زما دخاوند په باره کښې په جګړه شو وئيل کې داالله نه ويريږه دنره خوي دې زه لاناسته وم چه د قرآن دا آيت («قد سمع الله قول التي تجادلك في زوجها») نازل شو نبی ﷺ اوفرمائيل هغه دې يوغلام آزاد کړي خويله اووئيل ددې طاقت ئې نشته نبی ﷺ اوفرمائيل دوه مياشتې مسلسل روژې دې اونيسي خويله عرض اوکړو اې داالله رسوله هغه بوډا اوکمزورې دې روژې هم نه شي نيولې نونبی ﷺ بيااوفرمائيل چه شپيته مسکينان دې ماړه کړي خويله عرض اوکړو هيڅ ورسره نشته چه صدقه ئې کړي، په دې وخت کښې

---

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٨٢٥)، وقد أخرجه: مسند إحمد (٦/٤١٠) (حسن)

یوه بوجئ کجوري راغلي خویله عرض اوکړو اي دالله رسوله زه به ورته یوه بله بوجئ کجورې ورکړم نبی ﷺ اوفرمائیل ښه خبره دي اوکړه لاړه شه اودهغه دطرف نه ئي شپیته مسکینانوته ورکړه اودتره خوي ته دې واپس شه، راوي وائی عرق په عربو کښې هغه بوجئ ته وئیلې شي په کومه کښې چه شپیته صاع کجورې راځي، امام ابوداود فرمائی چه دغه ښځې دخپل خاوند نه دتپوس کولو بغیر کفاره ادا کړه.

شرح حدیث:

دا هغه حدیث ثانی دې چه په هغې کښې د اوس بن الصامت ظهار مذکور دې چه د هغې نه پس د آیات ظهار نزول شوي دې د هغه د ښځې په نوم کښې اختلاف دې دلته په دې روایت کښې خو د هغې نوم خویله مذکور دې او وړاندې په بل طریق کښې **﴿ان جمیلة کانت تحت اوس بن الصامت﴾** راروان دې چه د هغې نه معلومیږی چه د هغې نوم جمیله دې، **حافظ** فرمائی ابو نعیم دې ته تصحیف وئیلې دې، **حافظ** فرمائی **﴿ولیس کما زعم﴾** ځکه چه دا تسمیه په مسند احمد کښې په حدیث عائشه کښې هم واقع ده خو معروف خویله دې، پس کیدې شی چه جمیله ئي لقب وی.

په دې روایت کښې خویله خپله خپله واقعه بیانوی چه زما خاوند چه کله ما سره ظهار اوکړو نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوم د خپل خاوند د شکایت کولو دپاره، یعنی د هغه د بدو اخلاقو او د سخت طبیعت د شکایت دپاره، خو رسول الله ﷺ به ما سره د هغه په باره کښې بحث کولو او فرمائیل به ئي چه د الله پاک نه اویریږه، ستا خاوند ستا د تره ځوئي دې، په دې روایت کښې وړاندې دا دی چه بیا د دې په باره کښې د قران کریم آیت نازل شو، د ابوداود په دې روایت کښې اختصار دې، د مجموعی روایاتو نه دا معلومیږی چه په شروع کښې خویله رسول الله ﷺ ته د خپل خاوند د بد اخلاقئ شکایت کولو، بیا چه کله رسول الله ﷺ ورته په جواب کښې اوفرمائیل چه **﴿انک حرمت علیه﴾** نو بیا هغه پریشانه شوه او په ژړا شوه او د خپل فقر وفاقه او یواځې والی گله ئې شروع کړه، او وې وئیل **﴿اشکو الی الله فاقتی ووحدتی﴾**، د دې نه پس بیا آیت ظهار نازل شو چه په هغې سره د هغوی مشکل حل شو، ځکه چه په شروع کښې خو په ظهار تحریم مؤبد کیږی هم د دې په وجه باندې رسول الله ﷺ هغې ته فرمائیلې هم وو **﴿حرمت علیه﴾** لکه چه په شروع کښې تیر شو چه په ظهار جاهلیت کښې په تحریم مؤبد یعنی همیشه وو، په اسلام کښې راتلو سره په دې کښې ترمیم یعنی بدلیدل کړې شوي دې.

﴿قال فاتي ساعتئذ بعرق من تمر قلت یا رسول الله فانی اعینه بعرق اخر قال قد احسنت﴾

رسول الله ﷺ سیده خویله رضی الله عنها ته فرمائیلې وو چه ستا خاوند له پکار دی چه هغه د ظهار په کفاره کښې په شپیتو مسکینانو باندې خوراک اوکړی، په دې باندې هغه عرض اوکړو چه زما خاوند سره خو هیڅ هم نشته، وړاندې هغه فرمائی چه هم په دې وخت کښې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې یو لوئې زنبیل د کهجورو راورسیدو، رسول الله ﷺ هغه زنبیل په کفاره کښې د ورکولو دپاره خوله ته ورکړو، هغه فرمائی چه ما عرض اوکړو چه په دې

کښې يو زنبيل نور شامل کړم، رسول اللهﷺ اوفرمائيل غوره خبره ده. او دا يوسه او په شپيتو مسکينانو باندې ئې اوخره، او خپل خاوند کوم چه ستا د تره ځوئې دې هغه ته واپس شه. (او په ارام اوسيږه).

والحديث اخرجه البيهقى من طريق المصنف واخرجه مطولا قاله فى المنهل

﴿ قال : والعرق ستون صاعا ﴾دا مخکښې تير شو چه په مقدار عرق کښې روايات مختلف دى، په دې روايت کښې ﴿ستون صاعا ﴾دې او د دې نه په وړاندې روايت کښې ﴿ثلاثين صاعا﴾ راروان دې کوم چه مصنف فرمائى ﴿وهذا اصح ﴾معلومه شوه چه دستين صاعا روايت صحيح نه دې، ځکه چه که هغه صحيح منو نو بيا په هغې کښې د عرق اخر د شاملولو څه حاجت باقى پاتې کيږى د طعام مقدار خو ستين صاعا نه زائد د چا په نزد هم نه دې د هغې نه په وړاندې روايت کښې راځى قال : يعنى بالعرق زنبيلا ياخذ خمسة عشر صاعا... دې ته د امام شافعىؒ دليل وئيلې شى، په مقدار طعام کښې د علماء کرامو اختلاف مخکښې تير شوې دې

[۲۲۱۵]([۱])حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى أَبُو الْأَصْبَغِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: وَالْعَرَقُ مِكْتَلٌ يَسَعُ ثَلَاثِينَ صَاعًا. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ آدَمَ.

ترجمه: محمدبن سلمه هم دابن اسحق نه ددې په شان روايت بيان کړې دې البته دااضافه ئې کړې ده چه عرق د يوې پيمانې نوم دې په کومه کښې چه ديرش صاع راځي امام ابوداود فرمائى داحديث ديحى بن ادم حديث نه زيات صحيح دې

[۲۲۱۶]([۲])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: يَعْنِي بِالْعَرَقِ زِنْبِيلًا يَأْخُذُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا.

ترجمه: ابوسلمه بن عبدالرحمن وئيلى دى چه عرق دپنځلس صاعو والا يوه ټوکرى وي.

[۲۲۱۷]([۳])حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ لَهِيعَةَ، وَعَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَأُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَهُوَ قَرِيبٌ مِنْ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا، قَالَ: "تَصَدَّقْ بِهَذَا"، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلَى أَفْقَرَ مِنِّي وَمِنْ أَهْلِي؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلْهُ أَنْتَ وَأَهْلُكَ".

ترجمه: دسليمان بن يسارنه هم داروايت نقل شوې دې فرمائى چه نبى ﷺ ته کجورې راوړې شوې اوده ته ئې ورکړى تقريبا پنځلس صاع وې نبى ﷺ ورته اوفرمائيل داپه صدقه کښې ورکړه هغه ووئيل اې دالله رسوله اياهغه غريبانوته ئې ورکړم کوم چه زما اوزمادکورنۍ نه

[۱]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۲۵) (حسن)
[۲]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۵۸۶) (صحيح)
[۳]: انظر حديث رقم (۲۲۱۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۷۹۰) (حسن)

زیات محتاج وي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل بیاخوداکجورې تاسو اوخورئ اوخپل کورنئ ته ئې دخوراك دپاره ورکړه.

تشریح: ﴿قال یا رسول الله اعلی افقرمنی ومن اهلی﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه لاړ شئ دا صدقه کړئ، په دې باندې هغوی اوئیل چه آیا د خپل ځان نه په زیات محتاج ئې صدقه کړم، مطلب دا وو چه زه د ټولو نه زیات فقیر او محتاج یم، رسول الله ﷺ اوفرمائیل ښه دا هم ته اوخوره، د دې مطلب دې دا وانخستلې شي چه د غریبئ او فقیرئ د وجې نه کفاره ساقط کیږی بلکه مطلب دا دې چه فی الحال ته دا خرچ کړه او کفاره به دې په ذمه باندې باقی وی، چه کله دې قدرت اوشی بیا ئې ادا کړه.

قوله: قال ابوداود : هذا انما کفرت عنه من غیر ان تستامره: مصنف فرمائی چه د دې روایت د ظاهر نه معلومیږی چه خویله کفاره ظهار د خپل خاوند د طرف نه بغیر د خاوند د اطلاع نه ادا کړه، خو ظاهره ده چه هر کله د کفارې وجوب په خاوند بدې نو په هغې کښې کم از کم د هغه اجازت ضروری دې، بغیر د هغه نه به کفاره څنګه ادا کیږی، او دا د مصنف خپله رائې ده ګینې شارحینو لیکلې دی چه د روایاتو نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ په مجلس کښې دې وخت کښې دواړه موجود وو لهذا د مصنف رائې تسلیم نه ده.

[۲۲۱۸](۱)قَرَأْتُ عَلَى مُحَمَّدِ بْنِ وَزِيرِ الْمِصْرِيِّ، قُلْتُ لَهُ: حَدَّثَكُمْ بِشْرُ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا عَطَاءٌ، عَنْ أَوْسٍ أَخِي عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَعْطَاهُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَعَطَاءٌ لَمْ يُدْرِكْ أَوْسًا، وَهُوَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ قَدِيمُ الْمَوْتِ. وَالْحَدِيثُ مُرْسَلٌ، وَإِنَّمَا رَوَوْهُ عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ، أَنَّ أَوْسًا.

ترجمه: امام ابوداود فرمائی چه ما محمد بن الوزیر ته اووئیل چه بشر بن بکر اوزاعي دعطاء نه نقل کړی دی اوهغه د عباده بن صامت دورور اوس نه چه نبی ﷺ ورته په شپیته صاعوکښې پینځلس دمسکینانو دخوراك دپاره ورکړی، امام ابوداود فرمائی دعطاء ملاقات داوس سره ثابت نه دې ځکه چه اوس بدری دې دعطاء دپیدائش نه مخکښې وفات شوې وو اوداحدیث مرسل دې.

[۲۲۱۹](۲)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، أَنَّ جَمِيلَةَ كَانَتْ تَحْتَ أَوْسِ بْنِ الصَّامِتِ وَكَانَ رَجُلًا بِهِ لَمَمٌ، فَكَانَ إِذَا اشْتَدَّ لَمَمُهُ ظَاهَرَ مِنَ امْرَأَتِهِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فِيهِ كَفَّارَةَ الظِّهَارِ".

ترجمه: دهشام بن عروه نه روایت دې فرمائی چه جمیله رضی الله عنها داوس بن صامت رضی الله عنه په نکاح کښې وه او اوس یولیونې سړې وو چه کله به ئې لیونتوب زیات شو نودخپلې ښځې سره به ئې ظهار اوکړونو په دې وجه باندې الله تعالی دظهار دکفارې حکم نازل کړو.

قوله: ﴿ان جمیلة کانت تحت اوس بن الصامت وکان رجلا به لمم فکان اذا اشتد لممه ظاهر من امراته الخ﴾: جمیله د اوس بن صامت په نکاح کښې وه او هغه داسې سړې وو چه په هغه کښې لمم

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۴۳) (صحیح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۸۸٤) (صحیح)

وو چه کله به په دغه لمم کښې شدت پيدا شو نو هغه به د خپلې ښځې سره ظهار کولو.

شرح حديث:

دلته د لمم په تفسير کښې د شارحينو اختلاف دې، بعض د دې تفسير په الماُم بالنساء سره کړې دې، يعنی شدة الحرص علی الجماع... خو په دې باندې اشکال دا دې چه هر کله د لمم معنی دا ده نو بيا د دې مقتضی خو ظهار نه ده، د ظهار ترتب خو په دې معنی باندې صحيح نه دې، يو قول دا دې چه د دې نه مراد جنون دې، په دې باندې اشکال دې چه د جنون حالت خو ظهار يا بل يو عمل کول چه هم وی معتبر نه دې، د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه د هغه جنون مطلق نه وو بلکه کله کله به روغ وو او دا د ظهار واقعه د روغ والی په حالت کښې راپيښه شوې وه، او د شاه ولی الله صاحب رائې په دې کښې دا ده چه (ان المراد باللمم سور الفكر الغضب فيما لا يغضب فيه الناس) يعنی د طبيعت غصه او تيزی او د انجام نه بې خبر کيدل، هذا الاثر مرسل وقد اخرجه عن عائشة الحاكم وصححه البيهقي. قاله في المنهل.

[۲۲۲۰]([1])حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، مِثْلَهُ.

ترجمه: عروه هم دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه ددې روايت په شان روايت بيان کړې دې.

[۲۲۲۱]([2])حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ رَجُلًا ظَاهَرَ مِنَ امْرَأَتِهِ ثُمَّ وَاقَعَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ، فَقَالَ: "مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ"، قَالَ: رَأَيْتُ بَيَاضَ سَاقِهَا فِي الْقَمَرِ، قَالَ: "فَاعْتَزِلْهَا حَتَّى تُكَفِّرَ عَنْكَ".

ترجمه: دعکرمه رحمه الله نه روايت دې فرمائی چه يو سړي دخپلې ښځې سره ظهاروکړو اودظهار دکفاري دادا کولو نه مخکښې ئې صحبت اوکړواوددې نه پس دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوټوله واقعه ئې ورته بيان کړه نبی ﷺ تپوس اوکړو تاداسې ولې کړې دې؟ هغه عرض اوکړو اې دالله رسوله ماپه سپوږمۍ کښې دهغې دپندو سپنوالي اوليدو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل ځان ترې جدا کړه ترڅوچه دې کفاره نه وې ورکړې.

[۲۲۲۲]([3])حَدَّثَنَا الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ رَجُلًا ظَاهَرَ مِنَ امْرَأَتِهِ فَرَأَى بَرِيقَ سَاقِهَا فِي الْقَمَرِ، فَوَقَعَ عَلَيْهَا، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَأَمَرَهُ أَنْ يُكَفِّرَ".

ترجمه: عکرمه رحمه الله نه روايت دې فرمائی چه يو سړي دخپلې ښځې سره ظهاروکړو اودهغې دپندو سپنوالي ئې دسپوږمۍ په رڼاکښې اوليدو اوجماع ئې ورسره اوکړه بيا نبی ﷺ ته ورغې نبی ﷺ ورته اوفرمائيل کفاره ادا کړه.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٦٨٨٤) (صحيح)
[2]: سنن الترمذي/الطلاق ۱۹ (۱۱۹۹)، سنن النسائي/الطلاق ۳۳ (۳٤٨٧)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۲٦ (۲۰٦٥)، (تحفة الأشراف: ٦۰۳٦) (صحيح)
[3]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦۰۳٦) (صحيح)

[۲۲۲۳]()حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرِ السَّاقَ.

ترجمه: عکرمه دابن عباس رضي الله عنهما نه ددې روایت په شان روایت بیان کړې دې او دساق لفظ ئې نه دې ذکر کړې.

[۲۲۲۴]()حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، أَنَّ عَبْدَ الْعَزِيزِ بْنَ الْمُخْتَارِ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، حَدَّثَنِي مُحَدِّثٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِنَحْوِ حَدِيثِ سُفْيَانَ.

ترجمه: عکرمه دابن عباس رضي الله عنهما نه دسفیان روایت په شان روایت بیان کړې دې.

[۲۲۲۵]()قَالَ أَبُو دَاوُد: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ عِيسَى يُحَدِّثُ بِهِ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ الْحَكَمَ بْنَ أَبَانَ يُحَدِّثُ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: عَنْ عِكْرِمَةَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: كَتَبَ إِلَيَّ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ بِمَعْنَاهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: معتمروائی ماد حکم بن ابان نه واوریدل چه دا حدیث ئې بیانولو اودابن عباس رضي الله عنهما ذکرئې ونکړو اوداسې ئې اووئیل عن عکرمه. امام ابوداود وائي حسین بن حریث ولیکل چه ماته فضل بن موسی خبر راکړو هغه دمعمر هغه دحکم بن امان او هغه دعکرمه او هغه دعبدالله بن عباس نه او هغه دنبی کریم ﷺ ددې په شان روایت بیان کړې دې.

تشریح: ﴿کتب الی الحسین بن حریث قال﴾دا د سند شروع ده هم په دې وجه په بعض نسخو کښې لفظ ﴿کتب﴾په واضحه حروفو سره لیکلې شوې دې، ﴿حسین بن حریث﴾د مصنف استاذ دې، د کتاب النکاح په شروع کښې هم مصنف د هغه نه یو روایت بیان کړې دې هلته هم داسې دی، ﴿کتب الی﴾ممکنه ده چه مصنف د حسین بن حریث نه مخامخ په مخامخ روایت نه کوی بلکه په طریق د مکاتبت ئې د هغه نه روایات اخستلې وی.

بَابٌ فِي الْخُلْعِ

د خلع داحکامو بیان

د خلع لغوی معنی ﴿النزعه والازالة﴾ده، د خلع استعمال چه کله په باب الطلاق کښې کیږی نو خاء ته ضمه ورکولې شی او کله چه په لباس وغیره کښې استعمالولې شی نو هلته خاء مفتوح وی، تفرقة بین حسی والمعنوی.

د خلع تعریف او د هغې حقیقت کښې د فقهاء کرامو اختلاف:

فی المنهل الخلع لغة النزع والازالة وشرعا ازالة ملک النکاح ببدل بلفظ الخلع ونحوه کالمباراة والبیع والشراء... ابن قدامه فرمائی چه کله د یوې زنانه خپل خاوند خوښ نه وی د څه وجې نه د بد اخلاقئ، عدم تدین یا ضعف وغیره په وجه باندې او د هغې ویره وی د خاوند د حقوق ضائع کولو نو د هغه دپاره خلع بعوض جائز دې لقوله تعالی فان خفتم ان لا یقیما حدود الله فلا

[1]: انظر حدیث رقم : ۲۲۲۱، (تحفة الأشراف: ۶۰۳۶) (صحیح)
[2]: انظر حدیث رقم : ۲۲۲۱، (تحفة الأشراف: ۶۰۳۶) (صحیح)
[3]: انظر حدیث رقم : ۲۲۲۱، (تحفة الأشراف: ۶۰۳۶) (صحیح)

جناح عليهما فيما افتدت به، ولقصة حبيبة بنت سهل وهو حديث صحيح ثابت الاسناد رواه الائمة مالک واحمد وغيرهما ولرواية البخارى قصة امراءة ثابت بن قيس ﴾بيا وړاندې ليکي چه د حجاز او شام فقهاء هم د دې خبرې قائل دی، زمونږ په علم کښې نه ده چه چا د دې مشروعيت انکار اوکړو سوا د بکر بن عبدالله المزنی چه هغه دا جائز نه ګڼړی، هغه دا وائی چه آيت خلع منسوخ دې په يو بل آيت سره يعنی د الله پاک قول ﴿وان اردتم استبدال زوج مکان زوج واتيتم احداهن قنطارا فلا تاخذوا منه شيئا الى اخر ما قال ﴾ واجاب عنه فارجع اليه ان شئت. په بذل المجهود کښې ليکلې دی چه د خلع په ماهيت کښې د علماء کرامو اختلاف دې د احنافو په نزد هغه طلاق دې او د امام شافعی دوه اقوال دی، يو قول د احنافو په شان او دويم قول دا چه هغه طلاق نه دې بلکه فسخ دې او د ثمره اختلاف به دا وی چه د خلع نه روستو که د هغه سره نکاح اوکړی نو صرف د دوه طلاقو اختيار به باقی وی زمونږ په نزد. او د امام شافعی رحمه الله په نزد به د درې طلاقو حق وی، پس زمونږ په نزد د خلع نه پس دوه طلاق ورکولو سره حرمت غليظه واقع کيږی، د هغوی په نزد په دوه سره نه بلکه درې سره کيږی. اه او په اوجز المسالک کښې دی چه خلع د احنافو او مالکيانو په نزد طلاق بائن دې، د امام شافعی او احمد نه دوه روايتونه دی، خو اصح د امام شافعی رحمه الله په نزد دا ده چه دا طلاق دې او د امام احمد رحمه الله مشهور مذهب دا دې چه دا فسخ ده، هم دغه شان يوه بله ثمره د اختلاف د خلع د طلاق يا فسخ نکاح کيدو کښې دا هم ده چه د جمهورو په نزد کوم چه د دې د طلاق کيدو قائل دی د هغوی په نزد به مختلعه عدة ثلاثة قروء دې، او کوم چه د فسخ قائل دی د هغوی په نزد حيضه واحده لکه چه د ابن عباس رضی الله عنه په حديث کښې وړاندې راځی، خو د امام احمد رحمه الله په نزد باوجود د دې چه هغه د فسخ قائل دی مختلعه عدت د هغوی په نزد هم ﴿ثلاثة قروء ﴾دې، صرح به الحافظ فی الفتح، حافظ فرمائی چه د دې نه معلومه شوه چه د امام احمد رحمه الله په نزد فسخ او نقص عدت کښې تلازم نشته، يعنی دا ضروری نه ده چه فسخ د طلاق د عدت نه کم وی.

[۲۲۲۶]([1])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ، فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ".

ترجمه: د ثوبان رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی: هره يوه زنانه چه د خپل خاوند نه د طلاقو مطالبه اوکړي بغير د ضرورته نو په هغې باندې د جنت بوئی حرام دې.

توضيح الحديث

قوله: عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ، فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ".

کومه زنانه چه بغير د څه وجې نه د خپل خاوند نه د خلع مطالبه کوی په هغې باندې

[1]: سنن الترمذي/الطلاق ۱۱(۱۱۸۷)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۲۱ (۲۰۵۵)، (تحفة الأشراف: ۲۱۰۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷۷/۵، ۲۸۳)، سنن الدارمي/الطلاق ٦(۲۳۱٦) (صحيح)

جنت حرام دې، او د ترمذي په روايت کښې داسې زنانو ته منافقه وئيلې شوې ده، ځکه چه د نکاح تقاضه محبت دې او خلع وی د نفرت په بناء، او د ترمذي په روايت کښې چه کوم د ثوبان رضي الله عنه نه مرفوعا روايت دې "المختلعات هن المنافقات" قال الترمذي، هذا حديث غريب من هذا الوجه، د دې نه پس بيا امام ترمذي د ابوداود والا روايت تخرج نه پس فرمائيل : وهذا حديث حسن، والحديث اخرجه ايضا ابن ماجة والترمذي وحسنه والبيهقي والحاكم وقال هذا حديث صحيح على شرط الشيخين. قاله في المنهل

[۲۲۲۷](۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ زُرَارَةَ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ، عَنْ حَبِيبَةَ بِنْتِ سَهْلٍ الْأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، وَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى الصُّبْحِ فَوَجَدَ حَبِيبَةَ بِنْتَ سَهْلٍ عِنْدَ بَابِهِ فِي الْغَلَسِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ هَذِهِ؟" فَقَالَتْ: أَنَا حَبِيبَةُ بِنْتُ سَهْلٍ، قَالَ: "مَا شَأْنُكِ؟" قَالَتْ: لَا أَنَا وَلَا ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ لِزَوْجِهَا، فَلَمَّا جَاءَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ، قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذِهِ حَبِيبَةُ بِنْتُ سَهْلٍ، وَذَكَرَتْ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَذْكُرَ"، وَقَالَتْ حَبِيبَةُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كُلُّ مَا أَعْطَانِي عِنْدِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ: "خُذْ مِنْهَا"، فَأَخَذَ مِنْهَا، وَجَلَسَتْ هِيَ فِي أَهْلِهَا.

ترجمه: دحبيبه بنت سهل انصاريه (ځوک چه دثابت بن قيس په نکاح کښې وه) نه روايت دې فرمائي چه يوه ورځ نبی عليه السلام په تياره کښې دکور نه اووتو او حبيبه بنت سهل ئې ددروازې سره اوليدله تپوس ئې اوکړو چه ځوک ئې؟ هغې ووئيل حبيبه بنت سهل څه خبره ده؟ هغې عرض اوکړو چه ياخوبه زه نه يم يابه ثابت بن قيس نه وی يعنی زمونږ يوځای اوسيدل مشکل دی کله چه ثابت بن قيس راغی نو نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل دا زنا نه حبيبه بنت سهل ده الله تعالی ته چه څه منظور وو هغه ئې ماته بيان کړل حبيبه ووئيل ثابت بن قيس چه ماته څه راکړی دی هغه زما سره موجود دی نبی عليه السلام ثابت بن قيس ته ووئيل څه چه دی ورکړی هغه ورنه واخله چنانچه ثابت ورنه هغه څيزونه واپس واخستل ددينه حبيبه دمور په کور کښې کيناسته (نکاح منسوخ شوه).

مضمون د حديث :

حبيبه بنت سهل رضي الله عنها د خپل زوج ثابت بن قيس رضي الله عنه نه د خلع واقعه خپله بيانوی چه يو ځل زما خاوند زه ډيره اوهلم نو زه د سحر مانځه ته په تياره کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دروازه باندې کيناستلم (چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم د مونځ دپاره په دې دروازه باندې بهر تشريف راوړی نو خپله قصه به هغه ته بيانوم) پس چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم بهر تشريف راوړلو نو هغه ترې تپوس اوکړو چه ځوک ئې؟ هغه فرمائی چه ما عرض اوکړو چه حبيبه بنت سهل دې، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په تپوسلو باندې ما عرض اوکړو چه (لا انا ولا ثابت بن قيس) چه زه د خپل خاوند ثابت بن قيس سره نه شم اوسيدې، بيا چه کله ثابت بن قيس رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم مجلس ته حاضر شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل چه دا ستا ښځه ده چه ستا نه شکايت

۱): سنن النسائي/الطلاق ۳٤ (۳٤۹۲)، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۹۲)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطلاق ۱۱(۳۱)، مسند احمد (٤۳٤/٦)، سنن الدارمي/الطلاق ۷ (۲۳۱۷) (صحيح)

کوی او خلع کول غواړي، حبیبه فرمائي چه ما دا عرض هم اوکړو چه هغه ماته څه مهر راکړې دې هغه ما سره موجود دې، رسول الله ﷺ ثابت رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه دې سره خلع اوکړه او څه چه ستا دې سره دی هغه ترې واخله، «وجلست فی اهلها» پس هغه د هغې نه بدل خلع وصول کړو او د هغه ښځه په خپل کور کښې په ارام سره کیناستله، په منهل کښې لیکلې دی چه د انقضاء عدت نه روستو د هغې سره ابی بن کعب رضی الله عنه نکاح اوکړه. والحدیث اخرجه ایضا الائمة والنسائی والبیهقی وصححه خزیمة وابن حبان قاله فی المنهل. وړاندې په روایت کښې دی «فانی اصدقتها حدیقتین وهما بیدها» چه ما هغه ته په مهر کښې دوه باغونه ورکړی دی کوم چه هغې سره موجود دی.

تنبیه : د ابوداود په دې روایت کښې دا دې چه ثابت بن قیس د خپلې ښځې سره خلع کړې وه هغه حبیبه بنت سهل ده، په دې کښې دوه روایتونه دی، د نسائی په یو روایت کښې خو داسې دی او په یو روایت کښې په ځائې د حبیبه جمیله راغلې دې، پس بعض محدثین خو دا اختلاف په اختلاف فی التسمیة (یعنی په نامه کښې اختلاف) باندې حمل کړې دې، او حافظ د ابن عبدلبر نه د هغه رائې دا نقل کړې ده چه ظاهره ده چه دا دوه قصې دی کومې چه د زنانو سره جدا جدا پیښې شوې وې ، حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې فرمائي چه چونکه د ثابت بن قیس په طبعیت کښې شدت او سختی وه په دې وجه کیدې شی چه هغه د خپلو دواړو ښځو سره جدا جدا وخت کښې خلع کړې وی.

فائده : د ابوداود د دې روایت نه معلومیږی چه سبب خلع په دې قصه کښې د هغه خاوند بد اخلاقی او مزاج سختی ده، او د ابن ماجه د روایت نه معلومیږی چه د دې ظاهری سبب د هغه بد شکله کیدل دی، پس د ابن ماجه په روایت کښې دی من حدیث عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده کانت حبیبة بنت سهل عند ثابت بن قیس وکان رجلا دمیما فقالت والله لولا مخافة الله اذا دخل علی لبصقت فی وجهه... دې باره کښې نور مختلف روایات حضرت شیخ په اوجز المسالک کښې ذکر فرمائیلې دې، د بخاری په یو روایت کښې داسې دې هغه وائی «ما اعتب علیه فی خلق ولا دین ولکنی اکره الکفر فی الاسلام، قال الحافظ ای لکنی اکره ان اقمت عنده ان اقع فیما یقتضی الکفر» (۱)

[۲۲۲۸] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو السَّدُوسِيُّ الْمَدِينِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ حَبِيبَةَ بِنْتَ سَهْلٍ كَانَتْ عِنْدَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، فَضَرَبَهَا فَكَسَرَ بَعْضَهَا، فَأَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الصُّبْحِ فَاشْتَكَتْهُ إِلَيْهِ، فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَابِتًا، فَقَالَ: "خُذْ بَعْضَ مَالِهَا وَفَارِقْهَا"، فَقَالَ: وَيَصْلُحُ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "نَعَمْ"، قَالَ: فَإِنِّي أَصْدَقْتُهَا حَدِيقَتَيْنِ، وَهُمَا بِيَدِهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُذْهُمَا فَفَارِقْهَا"، فَفَعَلَ.

[۲۲۲۹] (۱) ماته غصه نه خو د هغه په اخلاقو ده او نه د هغه په دین باندې بلکه خبره دا ده چه ماته د خپل کفر ویره ده په اسلام کښې یعنې د هغې سره په اوسیدو کښې ماته دا ویره ده چه په یو داسې فعل کښې اخته نه شم چه د هغې نه کفر لازم شی.

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۰۳) (صحیح)

ترجمه: دام المومنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه حبيبه بنت سهل دثابت بن قيس بن شماس په نكاح كښې وه دومره ئې وهلې وه چه هډوكې ئې ورله مات كړې وو، نو دسحرنه پس دنبې عليه السلام په خدمت حاضره شوه او دخپل خاوندنه ئې ورته شكايت اوكړو نو نبې عليه السلام ثابت را اوغوښتو اوورته ئې اوفرمائيل ددې مال نه بعضې واخله او جدا شه ورنه، ثابت عرض اوكړو ايا دا جائز دي ؟ نبې عليه السلام اوفرمائيل هو هغه ووئيل چه دوه باغونه مې ورته په مهر كښې وركړې وو او هغه ورسره دي نبې عليه السلام ورته اوفرمائيل هغه واخله او ددې نه جدا شه نو ده همدغسې اوكړل.

(١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ اخْتَلَعَتْ مِنْهُ، فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَّتَهَا حَيْضَةً". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا الْحَدِيثُ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مُرْسَلًا.

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی فرمائي چه دثابت بن قيس ښځې دخپل خاوند سره خلع كړې وه او نبې عليه السلام دهغې عدت يو حيض تيريدل مقرر كړل. امام ابوداود فرمائي چه دا روايت عبدالرزاق هم دمعمر نه او هغه دعمرو بن مسلم نه او هغه دعكرمه نه او هغه دنبې عليه السلام نه مرسل بيان كړې دی.

[٢٢٣٠] (٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "عِدَّةُ الْمُخْتَلِعَةِ حَيْضَةٌ".

ترجمه: نافع وائي چه ابن عمر رضي الله عنه به فرمائيل د مختلعې (چاچه خلع كړې وی) عدت يو حيض دی.

بَابٌ فِي الْمَمْلُوكَةِ تَعْتِقُ وَهِيَ تَحْتَ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ

باب: دآزاد يا دغلام په نكاح كښې موجوده وينځې دآزادئ بيان

په دې ترجمة الباب كښې چه كومه مسئله مذكور ده د هغې نوم دې خيار عتق، او امام مالک په موطاء كښې باب قائم كړې دې، ﴿ما جاء في الخيار﴾

په نكاح كښې د خيار قسمونه

او حضرت شيخ په اوجز كښې د زنانه د نكاح په باره كښې چه كوم خيار حاصل وی د هغې څو قسمونه ليكلې دی، يو ﴿لاجل العيب في الزوج﴾، او يو خيار هغه دې كوم چه حره ته حاصل وی او د هغې خاوند په هغې باندې د وينزې سره نكاح اوكړی چه د هغې صرف امام مالک قائل دې، او يو قسم دې خيار البلوغ، يعنې خيار الزوجين بعد البلوغ، او يو خيار هغه دې كوم چه اوس نزدې تير شو يعنې تخيير الطلاق، او يو خيار عتق كوم چه مصنف دلته بيانوی، مصنف په دې باب كښې قصه بريره ذكر فرمائيلې ده او چونكه د هغې د خاوند په باره كښې روايات مختلف دی چه هغه د عتق بريره په وخت د هغه نه مخكښې

---

(١): سنن الترمذي/الطلاق ١٠ (١١٨٥)، (تحفة الأشراف: ٦١٨٢) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٣٩٥) (صحيح)

ازاد شوي وو يا نه بلکه روستو شو، هم په دې بناء مصنف دلته په ترجمة الباب کښې ﴿وهی تحت حر او عبد ﴾ فرمائيلي دی.

په خيار عتق کښې اختلاف ائمه :

د دې نه روستو ځان پوهه کړه چه د خيار عتق مسئله د ائمه کرامو ترمينځه مختلف ده، د احنافو مسلک دا دې چه امة مزوجه که ازاد کړې شي نو د هغې د ازاديدو نه پس په هر حال کښې خيار حاصل وی برابره خبره ده که د هغې خاوند حر وی يا عبد وی چه د هغې دليل وړاندې راروان دې، او د ائمه ثلاث په نزد معتقه وينزې ته دا اختيار هغه وخت حاصل وی چه کله د هغې خاوند عبد وی او که ازاد وی نو بيا نه، د جمهورو په نزد د دې خيار علت کفاءت يعنی کفوه برابر نه دې چه هغه زنانه اول وينزه وه اوس حره شوه، او عدم کفاءت هم په هغه صورت کښې موندلې شي چه کله د هغې خاوند عبد وو، او د احنافو په نزد د دې علت د ملک زيادت دې چه د دې وينزې خاوند ته اول صرف دوه طلاقه ورکولو اختيار وو هم د دې نه بينونت واقع کيږی او اوس د هغې د ازاديدو نه پس خاوند ته د درې طلاقه ورکولو اختيار کيږی نو شريعت د زنانه رعايت کولو سره اوئيل چه کيدې شی که هغه ته دا خبره ناخوښه وی ځکه چه هغه ته دا اختيار ورکړو، د سابق خاوند په نکاح کښې د اوسيدو او نه اوسيدو، دا دليل خو نظری او عقلی دې.

عتق بريره کښې اختلافات روايات :

او دليل نقلی د احنافو په نزد قصه بريره ده چه د هغه د ازاديدو نه روستو رسول الله ﷺ هغوی ته خيار يع اختيار ورکړو او د هغې خاوند د احنافو په تحقيق کښې د عتق بريره په وخت حر يعنی اصيل وو او د شافعيه تحقيق دا دې چه د عتق بريره په وخت باندې د هغې خاوند عبد وو نه حر، په دې کښې شک نشته چه روايات په دې کښې دواړه قسمه دی، مصنف په دې باب کښې دوه روايتونه ذکر فرمائيلې دی يو د ابن عباس او دويم د عائشې رضي الله عنها، د ابن عباس رضي الله عنهما مصنف په دوه طريق سره سره ذکر کړې دې، په دې دواړو کښې خو د زوج بريره رضي الله عنها په باره کښې دا دی چه هغه عبد وو او چه د هغه نوم مغيث دې، او د عائشې رضي الله عنها په حديث کښې اختلاف دې د هغه د حديث په يو طريق کښې دا دی چه ﴿کان زوجها عبدا ﴾او په بل کښې دی ﴿کان حرا ﴾

ابن الهام فرمائی چه په حديث عائشه رضي الله عنها کښې راجح هغه دې چه په هغې کښې دی ﴿انه کان حرا ﴾ځکه چه دا روايت د عائشې رضي الله عنها نه روايت کونکی درې کسان دی، اسود، عروه، ابن القاسم، د اسود روايت خو صرف دا دې چه ﴿انه کان حرا ﴾، او د عروه نه دوه روايتونه دی کوم چه دواړه صحيح دی، ﴿احدهما انه کان حرا والاخرى انه کان عبدا ﴾(لهذا د تعارض د وجې نه د عروه روايت خو ساقط شو) او د ابن القاسم نه هم دوه روايتونه دی په يو کښې دی بالجزم انه کان حرا، او دويم روايت شک سره دې، لهذا د جزم والا روايت په مقابله کښې د شک والا روايت ساقط کيږی، اوس نتيجة دا ثابته شوه چه ﴿ انه کان حرا ﴾ (من الاوجز)

حضرت شيخ دا مضمون په اوجز کښې د ابن الهمام نه نقل کولو نه پس ليکى.
وهكذا حكى الشيخ فى البذل عن ابن القيم عن عائشة، د دې نه پس په اوجز کښې په دې باندې مزيد کلام دې د علامه عينى وغيره نه.

[۲۲۳۱](۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ مُغِيثًا كَانَ عَبْدًا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اشْفَعْ لِي إِلَيْهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا بَرِيرَةُ، اتَّقِي اللَّهَ، فَإِنَّهُ زَوْجُكِ وَأَبُو وَلَدِكِ"، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتَأْمُرُنِي بِذَلِكَ؟ قَالَ: "لَا، إِنَّمَا أَنَا شَافِعٌ"، فَكَانَ دُمُوعُهُ تَسِيلُ عَلَى خَدِّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ: "أَلَا تَعْجَبُ مِنْ حُبِّ مُغِيثٍ بَرِيرَةَ وَبُغْضِهَا إِيَّاهُ".

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائى چه مغيث (بريرى خاوند) يو غلام وو عرض ئې اوکړو اى دالله رسوله بريرى ته مې سفارش اوکړه. نبى عليه السلام اوفرمائيل اى بريرى دالله نه ويره اوکړه داخو ستا خاوند دى او ستا دبچو پلار دې بريرى عرض اوکړو اى دالله رسوله ايا ته پدې باندې حکم کوې؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل نه بلکه زه سفارش کوم او مغيث او خکى په مخ باندې رابهيدلې نبى عليه السلام عباس رضي الله عنه ته اوفرمائيل دمغيث محبت ته دې خيال دې دبريرى سره او دبريرى بغض ته دده سره چه دتعجب قابل دې؟

﴿ عن ابن عباس رضى الله تعالى عنهما ان مغيثا كان عبدا فقال يا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشفع لى اليها ﴾

مضمون حديث:

د سيده بريره رضي الله عنها خاوند سيدنا مغيث رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم زما په باره کښې بريره ته سفارش اوکړئ، په دې باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم بريره پوهه کړه، په دې باندې هغې عرض اوکړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا تاسو چه ماته څه وايئ دا ستا حکم دې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل نه سفارش دې، مطلب دا وو چه که حکم وى نو بيا خو ئې پوره کول ضرورى دى، او که صرف د سفارش درجه ده نو بيا ماته اختيار دې.

وړاندې په روايت کښې د مغيث د بې قرارئ حال مذکور دې چه هغه به د بريره په جدايئ کښې ژړل، رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په ليدو باندې عباس رضي الله عنه ته اوفرمائيل: **الا تعجب من حب مغيث بريرة وبغضها اياه**... ايا ته نه ګورې چه د مغيث خو د بريره سره دومره محبت دې او د بريره ترې څومره نفرت دې.

والحديث اخرج نحوه البخارى وابن ماجة والترمذى. (المنهل)

[۲۲۳۲](۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ زَوْجَ بَرِيرَةَ كَانَ عَبْدًا أَسْوَدَ يُسَمَّى مُغِيثًا، فَخَيَّرَهَا يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ".

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائى چه دبريرى خاوند يو تور غلام وو مغيث نوم

(۱): صحيح البخاري/الطلاق ۱۵ (۵۲۸۲)، ۱۶ (۵۲۸۳)، سنن النسائي/آداب القضاء ۲۷ (۵۴۱۹)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۲۹ (۲۰۷۵)، (تحفة الأشراف: ۶۰۴۸)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الرضاع ۷ (۱۱۵۴)، مسند احمد (۲۱۵/۱)، سنن الدارمي/الطلاق ۱۵ (۲۳۳۸) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الطلاق ۱۵ (۵۲۸۰)، (تحفة الأشراف: ۶۱۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۱/۱، ۳۶۱) (صحيح)

ئې وو نبی ﷺ بریرې ته اختیار ورکړې وو (یعنی ستا خوښه ده چه ورته جدا کیږې او که ورسره اوسیږې) چنانچه بریره رضی الله عنها پریخودله او نبی ﷺ ورته دعدت تیرولو حکم اوکړو.

[۲۲۳۳] (¹) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ فِي قِصَّةِ بَرِيرَةَ، قَالَتْ: "كَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا، وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا".

ترجمه: عروه دخپل پلارنه هغه دعائشې رضی الله عنها نه دبریرې په قصه کښې نقل کړې دی چه فرمائیل ئې دبریرې خاوند یوغلام وونبی ﷺ بریرې ته اختیار ورکړې وو (یعنی ستا خوښه ده چه ترې جداکیږې اوکه ورسره اوسیږې) نو بریره رضی الله عنها اختیارقبول کړو په خپل حق (اوخاوند ئې خوښ نکړو) که چرې ددې خاوند ازاد وې نونبی ﷺ به بریرې ته اختیار نه وو ورکړې.

[۲۲۳۴] (²) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَالْوَلِيدُ بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ بَرِيرَةَ خَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا".

ترجمه: دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ بریرې ته اختیار ورکړې وو (یعنی ستا خوښه ده چه ترې جداکیږې اوکه ورسره اوسیږې اودهغې خاوند یو غلام وو.

باب مَنْ قَالَ كَانَ حُرًّا

دهغه خلقو دقول بیان چه دبریرې خاوند ازاد وو

اوګورئ مصنف د زوجه بریره په حر کیدو باندې مستقل باب قائم کوی، دا هم په ذهن کښې ساتئ چه په دې روایات مختلفه کښې یو روایت هم د احنافو د مسلک خلاف نه دې، ځکه چه دا ټول روایات په دې باندې خو متفق دی چه بریره ته د هغې د عتق نه پس خو اختیار ورکړې شوې وو هغه وخت د هغې خاوند څه وو، اوس د احنافو په نزد اختیار په هر حال کښې وی برابره خبره ده که هغه عبد وو یا حر، خو په دې روایاتو کښې به یو قسم روایات د جمهورو خلاف وی، چه په هغې کښې دا دی ﴿كان حرا﴾ او دا جدا خبره ده چه که ﴿كان حرا﴾ ثابتیږی نو د احنافو په حق کښې نوره هم مفیده خبره ده. كما هو ظاهر

[۲۲۳۵] (³) حَدَّثَنَا ابْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ زَوْجَ بَرِيرَةَ كَانَ حُرًّا حِينَ أُعْتِقَتْ، وَأَنَّهَا خُيِّرَتْ"، فَقَالَتْ: مَا أُحِبُّ أَنْ أَكُونَ مَعَهُ وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا.

[1]: صحيح مسلم/العتق ٢ (١٥٠٤)، سنن الترمذي/الرضاع ٧ (١١٥٤)، والبيوع ٣٣ (١٢٥٦)، والوصايا ٧١ (٢١٢٤)، والولاء ١ (٢١٢٥)، سنن النسائي/الزكاة ٩٩ (٢٦١٥)، والطلاق ٢٩ (٣٤٧٧)، ٣٠ (٣٤٨٠)، ٣١ (٣٤٨٣، ٣٤٨٤)، والبيوع ٧٨ (٤٦٤٦، ٧٤٦٤)، سنن ابن ماجه/الطلاق ٢٩ (٢٠٧٤)، والأحكام ٣ (٢٣٢٤)، (تحفة الأشراف: ١٦٧٧٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العتق ١٠ (٢٥٣٦)، والهبة ٧ (٢٥٨٧)، والنكاح ١٨ (٥٠٩٧)، والطلاق ١٤ (٥٢٧٩)، ١٧ (٥٢٨٤)، والأطعمة ٣١ (٥٠٣٠)، والأيمان ٨ (٦٧١٧)، والفرائض ٢٢ (٦٧٥١)، ٢٣ (٦٧٥٤)، موطا امام مالك/الطلاق ١٠ (٢٥)، مسند احمد (٤٦/٦، ١١٥، ١٢٣، ١٧٢، ١٧٥، ١٧٨، ١٩١، ٢٠٧)، سنن الدارمي/الطلاق ١٥ (٢٣٣٧) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/ العتق ٢ (١٥٠٤)، الزكاة ٥٢ (١٠٧٥)، سنن النسائي/الكبري/ الفرائض (٦٤٠٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٩٠) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٩٩٧) (صحيح)

ترجمه: دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دي فرمائی چه دبریري خاوند ازاد وو کله چه دا ازادیدله اودې ته اختیار ورکړې شوې وو اووئې وئیل زما خوښه نه ده چه زه دې دده سره یم اګرچه ماته دومره دومره مال راکړي.

تشریح: عن الاسود عن عائشة رضي الله تعالى عنها ان زوج بريرة كان حرا حين اعتقت.

دا مخکښې تیر شو چه د اسود نه په ټولو روایاتو کښې د زوج بریره حر کیدل روایت شوې دی. وقد اخرج الحديث البيهقي والترمذي، واخرجه النسائي مطولا (المنهل مختصرا)

بَابُ حَتَّى مَتَى يَكُونُ لَهَا الْخِيَارُ

باب دې په بیان ددې کښې چه ښځې سره اختیار څومره پورې وی؟

یعنی خیار عتق کوم چه د عتق نه روستو وینزې ته حاصل وی هغه هغې ته تر کومې وی، په مسئله کښې فی الجمله اختلاف دې چه د هغې خلاصه دا ده چه د ائمه ثلاث په نزد دا خیار علی التراخي یعنی اختیار روسته کول دې تردې چه هغه قدرت ورکړی زوج لره په خپل نفس باندې ﴿فان وطئها فلا خيار لها﴾ او د امام شافعي رحمه الله په یو قول کښې دا خیار علی الفور دې، وعنه الى ثلاثة ايام، او عند الحنفية معتقه ته دا خیار حاصل وی چه ترڅو پورې هغه د مجلس نه اوندریږی، یعنی په مجلس عتق کښې دننه اوسیږی، د هغې نه روستو باقی نه پاتې کیږی مګر دا چه په مجلس کښې یو څیز د زنانه د طرف نه داسې بیا موندلې شی کوم چه په اعراض باندې دلالت کوی نو بیا سره د قیام مجلس به هم خیار باقی نه وی.

[۲۲۳۶](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، وَعَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ بَرِيرَةَ أُعْتِقَتْ وَهِيَ عِنْدَ مُغِيثٍ عَبْدٍ لِآلِ أَبِي أَحْمَدَ، فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ لَهَا: "إِنْ قَرِبَكِ فَلَا خِيَارَ لَكِ".

ترجمه: د ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه بریره آزاده شوه او د مغیث په نکاح کښې وه او مغیث په دغه وخت کښې د أبو احمد په خاندان کښې د یوکس غلام وو نبی علیه السلام ورته اختیار ورکړو او ورته ئې اووئیل که چرې نزدیکت ئې درته اوکړو نو اختیار دې ختم شو.

بَابٌ فِي الْمَمْلُوكَيْنِ يُعْتَقَانِ مَعًا هَلْ تُخَيَّرُ امْرَأَتُهُ

کله چه ښځه خاوند په یو ځائ آزاد شی نو ښځې ته به اختیار وی اوکه نه؟

یعنی که زوجین دواړه مملوک وی او یوه وینزه ده او دویم غلام، که د هغوی مالک یوځائې ازاد کړې شی، نو ایا په دې صورت کښې خیار عتق حاصل وی؟ په تیر شوی باب کښې چه مونږ کومه ضابطه بیان کړې ده د هغې نه دا خبره فهم ته راځی چه عند الحنفية خو به خیار حاصل وی او د ائمه ثلاث په نزد به حاصل نه وی، خو د امام احمد نه په دې صورت کښې دوه روایتونه نقل شوې دی، یو خو دا چه لا خيار لها وهو الاصح، والثانية لها الخيار، قاله ابن قدامة. (تكملة المنهل)

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۱۸٤، ۱۹۲٦۰) (حسن)

[۲۲۳۷]()حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَنَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَ زُهَيْرٌ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَوْهَبٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تَعْتِقَ مَمْلُوكَيْنِ لَهَا زَوْجٌ، قَالَ: فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَأَمَرَهَا أَنْ تَبْدَأَ بِالرَّجُلِ قَبْلَ الْمَرْأَةِ". قَالَ نَصْرٌ: أَخْبَرَنِي أَبُو عَلِيٍّ الْحَنَفِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ.

ترجمه: دقاسم نه روايت دي فرمائي چه ام المومنين عائشه ﷺ دا اراده اوکړه چه خپل غلام او وينځه آزاد کړي کوم چه يخپل مينځ کښي ښځه اوخاوند وو نبي ﷺ نه ئي تپوس اوکړونونبي ﷺ ورته اوفرمائيل چه اول خاوند آزاد کړه (ددې دپاره چه ښځې ته دنکاح د ماتولو اختيار حاصل نه شي) نصربن علي وئيلي دي چه دا روايت ماته ابوعلي الحنفي دعبيدالله نه بيان کړي دي.

شرح حديث :

په دې حديث کښې د ترجمة الباب والا صورت مذکور دې، سيده عائشه ﷺ د دې دواړو د ازادولو اراده اوفرمائيله نو هغه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه د اعتاق شروع د چا نه اوکړم! د غلام نه يا د وينزې نه؟ هغه اوفرمائيل د سړی نه ابتداء اوکړئ، احناف خو د دې مصلحت دا بيانوی ﴿ انما قدم الرجل لشرفه ﴾او جمهور د خپل مسلک د وجې نه مصلحت دا بيانوی چه رسول الله ﷺ د تقديم رجل مشهور په دې وجه ورکړه چه د حره تحت العبد والا شکل بيا نه موندلې شی او نکاح قائم او باقي پاتې شی او زنانه ته خيار حاصل نه وی ګينې د دې برعکس صورت کښې به زنانه ته خيار حاصل وی. دا مصلحت جمهورو د خپل مسلک د وجې نه او د هغې په رعايت او تائيد کښې بيان کړې دې، زمونږ بعض استاذانو د دې جواب دا ورکړې دې چه که دا خبره وې څه چه تاسو وايئ يعنی د تقديم مراة په صورت کښې زنانه ته خيار حاصل وې نو مونږ به وايو چه بيا به رسول الله ﷺ د تقديم رجل مشوره نه ورکوله ځکه چه په دې سره د زنانه حق ضائع کيږی، او رسول الله ﷺ چاته داسې مشوره نه ورکوی چه په هغې سره د چا حق ضائع شی.

والحديث اخرجه نحوه النسائي وابن ماجة (تكملة المنهل)

بَابُ إِذَا أَسْلَمَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ

باب په ښځه اوخاوند کښې يو کس مسلمان شی ددې د حکم بيان

[۲۲۳۸]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَجُلًا جَاءَ مُسْلِمًا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ جَاءَتِ امْرَأَتُهُ مُسْلِمَةً بَعْدَهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا قَدْ كَانَتْ أَسْلَمَتْ مَعِي فَرُدَّهَا عَلَيَّ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس ﷺ نه روايت دې فرمائي چه دنبي ﷺ په زمانه کښې يو کس اسلام قبول کړو اونبي ﷺ ته راغې اوددې نه پس دهغه ښځه مسلمانه شوه ده عرض اوکړو

[1]: سنن النسائي/الطلاق ۲۸ (۳٤۷٦)، سنن ابن ماجه/العتق ۱۰ (۲۵۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۳٤) (ضعيف)
[2]: سنن الترمذي/النكاح ٤۲ (۱۱٤٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ٦۰ (۲۰۰۸)، (تحفة الأشراف: ٦۱۰۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳۲/۱، ۳۲۳) (ضعيف)

اې دالله رسوله زما ښځې زما سره یوځائې اسلام قبول کړې دې نبی ﷺ دهغه ښځه هم هغه ته ورکړه.

په تباین یعنی چې جداجدا دارین کښې د جمهورو او احنافو مسلک :

که احد الزوجین اسلام راوړلو سره د دار الحرب نه دار الاسلام ته راشي نو په دې سره د احنافو په نزد دلته فرقت واقع کیږي، ځکه چه د احنافو په نزد تباین دارین موجب یعنی جداوالي واجب کوی فرقت دې په خلاف د جمهورو چه د هغوی په نزد تباین موجب فرقت نه دې بلکه سبی الزوجین یا سبی احد الزوجین یعنی دواړه یا چې یو کس قیدی کړې شی موجب فرقت دې یعنی مسلمان د زوجین مشرکین نه دواړو لره یا په دواړو کښې یو لره قید کړي نو په دې سره د هغوی په نزد نکاح فسخ کیدو سره فرقت یعنی جدا والي واقع کیږي.

د پورته حدیث مضمون دا دې چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د زوجین مشرکین نه سړې اسلام قبولولو سره د دار الحرب نه دار الاسلام ته راغلو بیا څو ورځې پس د هغه ښځې هم اسلام قبول کړو او هلته لاړه، زوج رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زما ښځې ما سره اسلام قبول کړې وو (خو په هجرت کولو کښې وړاندې روستو شو) رسول الله ﷺ د هغه ښځې لره هم د هغه طرف ته واپس کړو، یعنی نکاح ئې برقرار اوساتله.

توجیه الحدیث علی مسلک الحنفیة :

دلته دا سوال کیدې شی چه په دې واقعه کښې تباین دارین اوموندلې شو خو د هغې باوجود په دواړو کښې فرقت نه واقع کیږي ګویا حدیث د احنافو خلاف شو، د دې جواب دا دې چه دلته تباین دارین صرف صورة اوموندلې شو، صورة او حکما نه دې موندلې شوې، ځکه چه هر کله زنانه هم دخاوند سره اسلام قبول کړې وو نو اګر چه هغه ته مدینې منورې ته رسیدو کښې تاخیر راغلې وو خو د اسلام د قبلولو نه پس هغه علی شرف الهجرة وو، د هجرت موقع ئې کتله پس دلته تباین دارین صورة خو شو خو حکما نه شو، او زمونږ په نزد تباین دارین هغه د جدایئ سبب دې کوم چه صورة او حکما دواړه وی. فلا اشکال.

والحدیث اخرجه ایضا الترمذی (تکملة المنهل)

[۲۲۳۹]([1])حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنِي أَبُو أَحْمَدَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَسْلَمَتِ امْرَأَةٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَزَوَّجَتْ، فَجَاءَ زَوْجُهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي قَدْ كُنْتُ أَسْلَمْتُ وَعَلِمَتْ بِإِسْلَامِي، فَانْتَزَعَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَوْجِهَا الْآخَرِ وَرَدَّهَا إِلَى زَوْجِهَا الْأَوَّلِ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله عنه روایت دې فرمائی چه دنبی ﷺ په زمانه کښې یوې ښځې اسلام قبول کړو اود یو مسلمان سره ئې نکاح اوکړله بیا ددې خاوند نبی ﷺ ته راغې اوعرض ئې اوکړوچه اې دالله رسوله ماهم اسلام قبول کړې وو اوهغې ته زما داسلام پته وه (یعنی ددې معلومات باوجود ئې دبل چاسره نکاح کړې ده) نونبی ﷺ ددویم خاوندنه ازاده کړه او اولني خاوند ته ئې حواله کړه.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦١٠٧)

تشریح: د دې نه روستو چه بل کوم حدیث راروان دې د هغې راوی هم ابن عباس دې د هغې مضمون هم تقریبا دا دې خو هلته د هجرت معامله برعکس ده، یعنی اسلام راوړلو سره زنانه مخکښې مدینې منورې ته راغله او د هغې خاوند روستو راورسیدو، او یو فرق دا هم دې هغه دا چه په اول روایت کښې خو د دې خبرې تصریح ده چه دواړوو په یوځائې اسلام قبول کړې وو او په دې دویم روایت کښې د یو ځائې اسلام قبلولو تصریح نشته، اوس یا خو به دا هم په معیت باندې محمول کړې شي، او که معیت او نه منلې شي نو بیا به دا حدیث د احنافو خلاف وی، خو د جمهورو د مسلک پیش نظر دې دا هم اوئیلې شي چه د سړی اسلام د انقضاء عدت نه مخکښې وو ځکه چه انقضاء یعنی عدت پوره کیدو عدت قبل اسلام الاخر بالاجماع موجب فرقت دې.

باب إِلَى مَتَى تُرَدُّ عَلَيْهِ امْرَأَتُهُ إِذَا أَسْلَمَ بَعْدَهَا

باب: کله چه سړې د ښځې نه پس اسلام قبول کړی نو تر کومې پورې به ښځه هغه ته واپس کولې شی؟

د ترجمې حاصل دا دې چه په زوجین مشرکین که یو د بل نه مخکښې اسلام راوړی یعنی د دواړو په اسلام کښې فصل بیا موندلې شی نو اخر څو پورې به هغه زنانه لره دې سړی ته واپس کولې شی، یعنی ترڅو پورې به د هغه په نکاح کښې باقی وی؟ د دې مسئلې اجمالی جواب خو دا دې چه اسلام اخر قبل انقضاء العدة دې نو د دواړو ترمینځه به نکاح باقی وی، او که اسلام اخر بعد انقضاء العدة دې نو بیا نه.

[۲۲۴۰] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ، ح وحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ الْمَعْنَى، كُلُّهُمْ عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "رَدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَتَهُ زَيْنَبَ عَلَى أَبِي الْعَاصِ بِالنِّكَاحِ الْأَوَّلِ لَمْ يُحْدِثْ شَيْئًا". قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو فِي حَدِيثِهِ: "بَعْدَ سِتِّ سِنِينَ"، وَقَالَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ: "بَعْدَ سَنَتَيْنِ".

ترجمه: عکرمه دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت کوی اوهغه دنبی علیه السلام نه روایت کوی چه نبی علیه السلام خپله لور زینب رضی الله عنها ابوالعاص رضی الله عنه ته په اولنې نکاح باندې واپس کړه اوکومه نوې نکاح ئې ونکړه، محمدبن عمرو په خپل روایت کښې دا اضافه کړې ده چه شپږ کاله پس اوحسن بن علی رضی الله عنه فرمائیلې دې چه دوه کاله پس.

شرح الحدیث:

د پورته ذکر شوی ترجمة الباب د لاندې مصنف د زینب رضی الله عنها د واپس کولو واقعه راوړې ده، د دې واقعې شرح دا ده چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مشره لور سیده زینب رضی الله عنها د سیدنا ابو العاص بن الربیع رضی الله عنه په نکاح کښې وه کوم چه د هغه وخته پورې غیر مسلم وو، او دا قصه قبل الهجرة ده، د اسلام په ابتداء کښې مسلمه تحت المشرک جائز وو، یعنی د مسلمانې زنانه واده د غیر مسلم سره جائز وو، هم په دې بنیاد باندې د سیده زینب واده هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم

¹): سنن الترمذي/النكاح ٤٢ (١١٤٣)، سنن ابن ماجه/النكاح ٦٠ (٢٠٠٩)، (تحفة الأشراف: ٦٠٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٧/١، ٢٦١، ٣٥١) (صحيح)

د ابو العاص بن الربيع رضي الله عنه سره کړي وو بيا د هغې نه روستو د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو د هجرت واقعه پيښه شوه، او بيا د هجرت په دويم کال د بدر غزوه پيښه شوه، د بدر د قيديانو مسئله پيښه شوه چه هغوی سره څه معامله اوکړې شی، د مشورې نه روستو فيصله اوشوه لکه چه مشهور او معروف دی چه د هر يو نه فديه واخستلې شی او هغه پريخودلې شی. ټولو قيديانو د فديه انتظام اوکړو، په دې قيديانو کښې د رسول الله ﷺ زوم ابو العاص بن الربيع هم شامل وو، هغه په فديه کښې د پيش کولو دپاره د خپلې زوجې محترمې زينب رضي الله عنها اميل د مکې مکرمې نه راطلب کړو او هغه ئې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش کړو، دا اميل د سيده خديجه رضي الله عنها وو کوم چه هغې په جهيز کښې سيده زينب رضي الله عنها ته ورکړې وو، رسول الله ﷺ چه کله هغه اوليدو نو ﴿فرق لها رقة شديدة﴾ په رسول الله ﷺ باندې سخت رقت راغلو، د سيده خديجه رضي الله عنها دور ورته راياد شو نو د صحابه کرامو نه ئې د دې خبرې مشوره او اجازت اوغوښتلو چه که تاسو ټول متفق يئ نو زه به دا اميل کوم چه په فديه کښې پيش کوی دا به زه واپس کړم، صحابه کرامو ورته په خوشحالئ اجازت ورکړو، پس هغه دغه اميل ابو العاص رضي الله عنه ته حواله کړو او هغه سره ئې دا معاهده اوشوه چه مکې ته رسيدو سره په زينب رضي الله عنها لره د مدينې طرف ته ليږي، پس ابو العاص رضي الله عنه دا وعده پوره کړه او مکې ته رسيدو سره ئې سيده زينب رضي الله عنها د مدينې طرف ته اوليږله.[1] د دې نه تقريبا شپږ کاله روستو ابو العاص رضي الله عنه اسلام قبول کړو او هجرت کولو سره مدينې ته راغلو، نو اوس په دې حديث الباب کښې په حديث ابن عباس کښې دا دی چه رسول الله ﷺ زينب لره د ابو العاص طرف ته واپس کړو. ﴿ بالنكاح الاول لم يحدث شيئا﴾ يعنی دوباره ئې نکاح اونکړه.

په احنافو باندې اشکال او د هغې جواب :

په دې قصه کښې په احنافو باندې دا اشکال راځی چه اوګورئ په دې واقعه کښې تباين دارين بيا موندلې شو او د هغې باوجود هم فرقت نه دې واقع شوې، زمونږ د طرف نه دا جواب کړې شوې دې چه دا حديث نه صرف زمونږ بلکه ستاسو هم خلاف دې، ځکه چه زينب رضي الله عنها د ابو العاص رضي الله عنه طرف ته شپږ کاله پس واپس کړې شوه نو ايا د شپږو کالو په موده کښې انقضاء عدت نه وو شوې، حال دا چه دا مسئله ده چه اسلام احد الزوجين په صورت کښې که بل د انقضاء عدت نه پس اسلام قبول کړی نو بالاتفاق فرقت واقع کيږی، په دې وجه په دې حديث ابن عباس باندې عمل نه زمونږ دپاره ممکن دې او نه ستاسو دپاره، لهذا د دې سلسلې چه کوم دويم حديث دې کوم چه امام ترمذی روايت کړې دې من حديث عمروبن شعيب عن ابيه عن جده ان النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رد ابنته زينب علی ابی العاص

---

[1] رسول الله ﷺ په يوه موقع باندې د هغه د دې وعدې پوره کولو تعريف فرمائيلې وو، هغه داسې چه يو ځل سيدنا علی رضي الله عنه د سيده فاطمه رضي الله عنها په نکاح کښې د کيدو باوجود د ابوجهل د لور سره د نکاح اراده اوکړه چه په هغې باندې رسول الله ﷺ سخت خفه شو او په دې موقع باندې ئې د علی رضي الله عنه په وړاندې د دې خپل زوم تعريف کړې وو، دا واقعه په ابوداود کښې تيره شوه، هغه فرمائيلې وو ﴿حدثني فصدقني ووعدني فوفالي ﴾... تقدم في باب ما يكره ان يجمع بينهن من النساء. ٢ واخرجه ابن ماجة ايضا)

بن الربيع بمهر جديد ونكاح جديد ﴾(واخرجه ابن ماجة ايضاً) په دې باندې به عمل کولې شي.
د دې مقام د حل کولو دپاره دې په سنن ترمذی کښې دا مقام اوکتلې شي، دې سره حقيقت ښه منکشف شو، امام ترمذی رحمه الله په دې ځائې کښې ښه واضح کلام فرمائيلې دې، امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه اګر چه د عمرو بن شعيب والا حديث د ابن عباس د حديث په مقابله کښې ضعيف دې خو عمل عمرو بن شعيب حديث باندې دې، او د حديث ابن عباس په باره کښې هغه فرمائی چه لا يعرف وجهه، حاصل دا شو چه د ﴿رد زينب على ابى العاص﴾ په باره کښې دوه متعارض احاديث راغلې دی، حديث ابن عباس وحديث عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده. د دواړو مضمون مختلف دې يعنی تجديد نکاح او عدم تجديد والا روايات باندې قوی اشکال کيدو د وجې نه هغه لره ترک کولو سره بل حديث اختيار کړې شی. امام ترمذی رحمه الله خو د قوت اشکال په بناء باندې حديث ابن عباس ترک کړو، خو بعض شراح شافعيه لکه خطابی وغيره هغه حديث ابن عباس لره اختيار کړې دې لقوة سنده. او په هغې باندې چه کوم عقلی اشکال دې د هغې هغه تاويل کړې دې، تاويل دا دې[۱] چه صورت حال دا دې چه د هجرت زينب نه څلور کاله پس نو آيت التحريم ﴿لا هن حل لهم ولا هم يحلون لهن﴾ نازل شو، لهذا دا څلور کاله خو به په عدت کښې نه شی شمارلې ځکه چه تر هغه وخته پورې خو مسلمه تحت المشرک يعنی لاندې دمشرک جائز وه، د عدت ابتداء به د نزول آيت نه روستو وی، وړاندې نزول آيت او اسلام زوج کښې صرف دوه کاله پاتې کيږی، او دوه کاله څه لويه خبره نه ده، بعض وخت د څه عارض د وجې نه د عدة تطاول اوږدوالې تر دومره زمانې پورې ممکن دې، د امام بيهقی ميلان هم د توجيه خطابی طرف ته دې، او د امام ابن عبدالبر رائې دا ده چه عمل خو به وی په حديث د عمرو بن شعيب باندې خو هغه فرمائی چه حديث ابن عباس رضی الله عنه د دې خلاف نه دې بلکه هغه مؤول دې او جمع بين الحديثين اولی دې د يو حديث د مهمل پريخودلو نه، هم دا وجه ده چه هغه فرمائی چه په حديث ابن عباس کښې ﴿بالنكاح الاول﴾ نه مراد دې، اى بشروط النكاح الاول، يعنی کوم شرطونه چه په اوله نکاح کښې کړې شوې وو هم د هغې سره د هغوی نکاح کړې شوې ده، لهذا اوس دلته درې مسلکونه شو، يو د امام ترمذی رحمه الله والا رائې يعنی صرف عمرو بن شعيب والا حديث اعتبار، دويم مسلک خطابی او بيهقی يعنی حديث ابن عباس ترجيح، دريمه رائې د ابن عبدالبر جمع بين الروايتين يعنی ددواړو روايتونو جمع کيدل.

د اسلام احد الزوجين په مسئله باندې تفصيلی بحث:

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د اسلام احد الزوجين والا مسئله ډير تفصيل طلب دې چه په هغې کښې دوه مسلکونه دی، مسلک الاحناف او مسلک الجمهور، احناف دا وائی چه د اسلام احد الزوجين اولا دوه صورتونه دی، هغوی دواړه په د اسلام په وخت په دار الاسلام

[۱] په دې باندې د پوهيدو دپاره دې دا په ذهن کښې وی چه د زينب هجرت د هجرت په دويم کال شوې وو او دا آيت کريمه د هجرت په شپږم کال نازل شوې وو، او اسلام ابو العاص او د زينب واپس کول د هجرت په اتم کال شوې وو قبل الفتح)

کښې وی یا به په دار الحرب کښې وی، که دواړه دار الاسلام کښې وی نو په دویم سړی باندې به اسلام پیش کوی، که هغه اسلام قبول کړو نو صحیح ده وهما علی نکاحهما. او که هغه د اسلام راوړلو نه انکار اوکړو نو د دې انکار علی الاسلام د وجې نه به د واړو ترمینځه جدائی واقع شی، او که دواړه په دار الحرب کښې وی نو د اسلام احد الزوجین نه پس دوه شکلونه دی یو دا چه هغه هم د انقضاء عدت نه مخکښې اسلام قبول کړی فهما علی نکاحهما. او که هغه د انقضاء عدت پورې اسلام قبول نه کړو، یا اسلام راوړلو والا هجرت کولو سره د دار الحرب نه دار الاسلام ته لاړ شی نو په دې دواړو صورتونو (انقضاء عدت او تباین دارین) کښې جدائی واقع کیږی.

او د جمهورو په نزد دا تفصیل نه دې بلکه هغوی وائی چه د اسلام احد الزوجین په وخت به دا کتلې شی چه زنانه مدخول بها ده یا غیر مدخول بها، که غیر مدخول بها ده نو د یو په اسلام راوړلو سره به فورا فرقت واقع شی، او که زنانه مدخول بها ده نو که د انقضاء عدت نه مخکښې بل اسلام قبول کړی فهما علی نکاحهما والا وقعت الفرقة بانقضاء العدة. برابره خبره ده که دواړه په دار الحرب کښې وی یا په دار الاسلام کښې، د هغوی په نزد په دې کښې هیڅ فرق نشته.

بیا د دې نه روستو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه دا خبره مخکښې څو کرته راغلې ده چه د احنافو په نزد تباین دارین موجب فرقت دې د دې بالمقابل د جمهورو رائې داده چه تباین دارین موجب فرقت نه دې بلکه سبی الزوجین یا سبی احد الزوجین دا څیز موجب فرقت دې، اوس دا د احنافو او جمهور علماء کرامو اختلاف لره مخې ته اړدلو سره څلور صورتونه پیدا کیږی، دوه اتفاقی او دوه اختلافی. ۱: سبی بهما : په دې صورت کښې د جمهورو په نزد دلته فرقت واقع کیږی، د احنافو په نزد نه واقع کیږی د عدم تبیان د وجې نه. ۲: جاء احدهما بنفسه یعنی احد الزوجین اسلام قبلولو سره یا امن طلب کولو سره د دار الحرب نه دار الاسلام ته راغلو بغیر د قید نه، زمونږ په نزد په فرقت واقع شی د جمهورو په نزد نه. ۳: انتقال بغیر سبی یعنی زوجین بغیر د قید نه دار الاسلام ته لاړل، ۴: سبی احدهما احد الزوجین لره قید کولو سره دلته راوړلې شو، دا دواړه صورتونه اتفاقی دی، په دریم کښې به بالاتفاق فرقت نه واقع کیږی او څلورم صورت کښې به بالاتفاق فرقت واقع شی، د شروع دوه صورتونه اختلافی وو، دا څلورو واړه صورتونه په بذل کښې د شیخ ابن الهمام د کلام نه منقول دی فارجع الیه ان شئت.

ست سنین او د سنتین توجیه :

د حدیث ابن عباس رضی الله عنهما په اخر کښې مصنف د خپلو استاذانو دا اختلاف د لاندې دا ذکر کړې دی چه په بعض روایاتو کښې دی بعد ست سنین. او د بعض روایت کښې دی بعد سنتین یعنی رد زینب الی ابی العاص، بعض وائی چه شپږ کاله پس شوې وو او بعض وائی دوه کاله پس، د دې اختلاف توجیه دا هم کیدې شی چه چا د شپږ کلونو نه پس اوئیل د هغه مراد بین هجرة زینب واسلام زوجها دې، او چا چه بعد سنتین اووې د هغوی مراد دا دې یعنی بعد

سنتين من نزول اية التحريم، د سابق حاشيه مضمون په ذهن كښې ساتلو سره دا جواب په سهولت سره ذهن ته راتلې شي. والحديث اخرجه ايضا احمد، والحاكم وصححه ابن ماجة والبيهقى، والترمذى (تكملة المنهل) الحمد لله دا حديث پوره شو كوم چه په سبق كښې هميشه ماته ګران معلوميدو.

بَابٌ فِي مَنْ أَسْلَمَ وَعِنْدَهُ نِسَاءٌ أَكْثَرُ مِنْ أَرْبَعٍ أَوْ أُخْتَانِ

باب: د قبول اسلام په وخت سرې سره د څلورو نه زياتې ښځې يا دوه خويندې په نكاح كښې وى نو ددې د حكم بيان

[٢٢٤١](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. ح وحَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ حُمَيْضَةَ بْنِ الشَّمَرْدَلِ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ مُسَدَّدٌ، ابْنِ عُمَيْرَةَ: وَقَالَ وَهْبٌ، الْأَسَدِيِّ: قَالَ: أَسْلَمْتُ وَعِنْدِي ثَمَانُ نِسْوَةٍ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اخْتَرْ مِنْهُنَّ أَرْبَعًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وحَدَّثَنَا بِهِ أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ بِهَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: قَيْسُ بْنُ الْحَارِثِ مَكَانَ الْحَارِثِ بْنِ قَيْسٍ. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: هَذَا هُوَ الصَّوَابُ يَعْنِي قَيْسَ بْنَ الْحَارِثِ.

ترجمه: وهب اسدي وئيلي دي ماچه كله اسلام قبول كړو نوزما اته ښځې وې نبي ﷺ ته مې عرض اوكړو هغه اوفرمائيل چه څلور پكښې منتخب كړه اوباقى پريږده، دابراهيم بن هشيم نه حارث بن قيس په ځائې باندې قيس بن الحارث نقل كړې دې احمد بن ابراهيم وئيلي دي چه داسې درست دې.

توضيح الحديث

په دې طريق كښې حارث بن قيس دې او وړاندې په روايت كښې دى چه صحيح قيس بن الحارث دې، ګويا په دې كښې نوم كښې قلب واقع شوې دې، دا مقلوب الاسماء نه دى مضمون حديث دا دې چه قيس بن الحارث فرمائى چه كله په اسلام كښې داخل شو نو هغه وخت زما په نكاح كښې اته زنانه وې، ما د هغه په باره كښې د رسول الله ﷺ نه ئې تپوس اوكړو، په هغې كښې دې څلور اختيار كړى.

د حديث تشريح د فقهاء كرامو د مسلك پيش نظر

ائمه ثلاث او امام محمد په نزد خو دا حديث مطلق دې او په ظاهر باندې دې، او شيخين (ابوحنيفه او ابويوسف) په نزد په دى صورت كښې حكم دا دې چه دلته به دا كتلې شى چه هغه سړى د څلور نه زيات سره نكاح په عقد واحد كښې كړې دې يا په مختلف عقود كښې كه په عقد واحد كښې كړې دې نو دا ټوله نكاح فاسد او غير صحيح ده، لهذا اوس به د نوى سر نه نكاح ضرورى وى صرف د څلورو سره. او كه نكاح په مختلف عقود كښې شوې وې پرلپسې نو په دې صورت كښې به دا سړې د اسلام قبلولو نه پس د اتو ښځو نه اولنو څلورو لره په خپله نكاح كښې ساتلې شى بغير د تجديد د نكاح نه.

(١): سنن ابن ماجه/النكاح ٤٠ (١٩٥٢)، (تحفة الأشراف: ١١٠٨٩) (صحيح)

د امام محمد او شیخینو یو اصولی اختلاف:

دا اختلاف د دې حضراتو په یو اصولی اختلاف باندې متفرع دې، هغه دا چه د ائمه ثلاث او امام محمد په نزد د مشرکینو هغه معاملات او مناکحات کوم چه هغوی د کفر په حالت کښې کړې دی که هغه زمونږ د شریعت مطابق یا مخالف، د اسلام راوړلو نه پس بهر صورت هغه معتبر وی، او د حضرات شیخین مسلک دا دې چه د مشرکانو سابق معاملات که د شریعت مطابق وی نو د هغوی د اسلام راوړلو نه پس به هغه معتبر وی، او که د شریعت خلاف وی نو بیا هغه لره اعتبار نشته، هغه به فاسد منلې شی ځکه چه دا حدیث د ائمه ثلاث په نزد خو په خپل عموم او اطلاق باندې دې او د حضرت شیخین مسلک خو چونکه په دې کښې مطلق نه دې او حدیث د خپل ظاهر په اعتبار سره مطلق دې ځکه چه د مسلک په وجه باندې به د حدیث معنی دا وی ﴿اختر منهن اربعا للنکاح﴾، یعنی اوس تاسو په هغوی کښې صرف څلور د خپلې نکاح دپاره اختیار کړئ او دا مطلب نه دې چه څلور په نکاح کښې باقی اوساتئ. والله تعالی اعلم بالصواب والحدیث اخرجه البیهقی (تکملة المنهل)

[۲۲۴۲](۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَاضِي الْكُوفَةِ، عَنْ عِيسَى بْنِ الْمُخْتَارِ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ حُمَيْضَةَ بْنِ الشَّمَرْدَلِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ الْحَارِثِ، بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: حمیضة بن شمردل دقیس بن حارث نه ددې روایت په شان روایت نقل کړې دې.

[۲۲۴۳](۲)حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ أَيُّوبَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجَيْشَانِيِّ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ فَيْرُوزَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي أُخْتَانِ، قَالَ: "طَلِّقْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ".

ترجمه: ضحاک بن فیروز د خپل پلار نه روایت کوی فرمائی ما عرض اوکړو اې دالله رسوله ما اسلام قبول کړې دې او زما په نکاح کښې دوه خویندې دی نبی ﷺ اوفرمائیل هره یوه چه پکښې طلاقوې هغه طلاقه کړه ستا خپله خوښه ده.

تشریح: ﴿عن الضحاک بن فیروز (۳)عن ابیه قال قلت یا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انی اسلمت وتحتی اختان، قال طلق ایتهما شئت﴾ضحاک بن فیروز دیلمی د خپل پلار فیروز رضی الله عنه نه روایت کوی چه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه ما په داسې حالت کښې اسلام قبول کړې دې چه زما په نکاح کښې دوه خویندې دی، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته په هغوی کښې یو ته طلاق ورکړه او یوه اوساته.

د طلاق د لفظ نه معلومیږی چه دا دواړه نکاح صحیح وې ځکه چه طلاق خو په صحیح نکاح کښې وی، حال دا چه جمع بین الاختین حرام ده، نو د دې توجیه به دا کولې

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۸۹) (صحیح)

(۲): سنن الترمذي/النکاح ۳۳ (۱۱۲۹)، سنن ابن ماجه/النکاح ۳۹ (۱۹۵۱)، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۶۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳۲/٤) (حسن)

(۳) د ضحاک بن فیروز رور عبدالله هم د خپل پلار نه روایت کوی چه د هغه روایت په ابواب الاستنجاء کښې تیرشوې دې، خوهلته ئې دخپل پلار نه نه دې کړې بلکه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه ئې کړې دې

شی چه دا جمع بین الاختین به هغه په داسې زمانه کښې کړې وی چه کوم وخت په اسلام کښې د جمع بین الاختین تحریم نه وو نازل شوې په دې وجه نکاح صحیح شوه، او دا هم ممکنه ده چه داسې اوئیلې شی چه دلته مراد د تطلیق نه تفریق دې، او مطلب دا دې چه په هغوی کښې یوه جدا کړه او بله په نکاح کښې پریږده.

دا حدیث په سنن ترمذی او ابن ماجه کښې هم دې خو د ترمذی په روایت کښې داسې دی ﴿اختر ایتهما شئت ﴾په دې کښې د ﴿طلق ﴾په ځائې ﴿اختر ﴾دې او د دې تشریح هم علی اختلاف المسلکین داسې کولې شی کوم چه د باب په حدیث اول کښې اوکړې شوه، یعنی د ائمه ثلاثه په نزد خو دا حدیث په خپل عموم باندې دې، او د شیخین په نزد د هغه د مسلک مطابق په یو صورت کښې خو به دواړه نکاحونه فاسد وی لهذا د تجدید نکاح ضرورت به راځی اوبیوصورت صرف اولی لره په خپله نکاح کښې ساتلې شی نه ثانیه لره.والحدیث اخرجه ایضا احمد وابن ماجة والبیهقی،واخرجه الترمذی من طریق ابن لهیعة.(قاله فی تکملة المنهل)

بَابٌ إِذَا أَسْلَمَ أَحَدُ الْأَبَوَيْنِ مَعَ مَنْ يَكُونُ الْوَلَدُ

بیان ددې چه په مورا وپلار کښې چه یو کس مسلمان شی نو بچې به دچا سره وی؟

ځان پوهه کړه چه مسئله حضانت یعنی پرورش هم د علماء ترمینځه مختلف فیه ده چه د هغې تفصیل به په دې باب کښې راشی کوم چه وراندې په کتاب کښې تقریبا لس بابونه پس راروان دې، "باب من احق بالولد"هلته دا حدیث راروان دې چه رسول الله ﷺ د ماشوم مور ته اوفرمائیل : ﴿انت احق به ما لم تنکحی ﴾ پس دا مسئله اتفاقی ده چه ان الام احق بالحضانة ما لم تنکح. خو دلته په مسئله د حضانة کښې یو بل اختلاف دې هل للکافر حق الحضانة علی المسلم، د مسئله مختلف فیه ده. د امام شافعی او احمد په نزد کافرې مور ته په ولد مسلم باندې حق حضانت حاصل نه دې، لان الحضانة ولایة ولا ولایة للکافر علی المسلم، وعن مالک روایتان، او د احنافو په نزد په حق حضانت کښې د مسلمه او کافره هیڅ فرق نشته، د هغوی په نزد مور ته حق حضانت حاصل دې مطلقا ، که مسلمه وی یا کافره وی.

حدیث الباب د احنافو دلیل دې

په دې سلسله کښې د احنافو دلیل حدیث الباب دې یعنی رافع بن سنان والا حدیث چه د هغې مضمون وړاندې راروان دې، هم دا وجه ده چه ابن قدامه د دې حدیث جواب دا ورکړې دې چه فیه مقال.([1])

[۲۲٤٤]([2])حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي رَافِعِ بْنِ سِنَانٍ، أَنَّهُ أَسْلَمَ وَأَبَتِ امْرَأَتُهُ أَنْ تُسْلِمَ، فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: ابْنَتِي وَهِيَ فَطِيمٌ أَوْ شَبَهُهُ، وَقَالَ رَافِعٌ: ابْنَتِي، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْعُدْ نَاحِيَةً"، وَقَالَ لَهَا: "اقْعُدِي نَاحِيَةً"،

[1] په دې باندې مزید کلام د باب په اخر کښې راروان دې.

[2]: سنن الترمذي/الطلاق ٥٢ (٣٤٩٥)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٢٢ (٢٣٥٢)، (تحفة الأشراف: ٣٥٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤٦/٥، ٤٤٧) (صحيح)

قَالَ: "وَأَقْعَدَ الصَّبِيَّةَ بَيْنَهُمَا"، ثُمَّ قَالَ: "ادْعُوَاهَا"، فَمَالَتِ الصَّبِيَّةُ إِلَى أُمِّهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّهُمَّ اهْدِهَا"، فَمَالَتِ الصَّبِيَّةُ إِلَى أَبِيهَا فَأَخَذَهَا.

ترجمه: عبد الحميد بن جعفر دخپل پلار نه اوهغه دده د نيکه رافع بن سنان نه روايت کوی فرمائی چه هغه اسلام قبول کړو و ښځې ئې انکار اوکړو نبی ﷺ ته راغله اووئې وئيل آيا ماته به زما بچې راکړئ؟ اوهغه ماشوم د تی نه پرې کړې شوې وو يا د تی نه د پريکولو قابل وو، رافع اووئيل آيا ماته به زما لور راکړئ؟ نو نبی ﷺ رافع ته اوفرمائيل ته په يو گوټ کښې کينه او ښځې ته ئې اوفرمائيل ته په بل گوټ کښې کينه اوماشوم ئې په مينځ کښې کښنولو بيائې نبی ﷺ دواړوته اووئيل چه ماشومې ته اواز اوکړئ چه کله ئې ورته اواز اوکړو نوهغه دمور طرف ته مائله شوه، نبی ﷺ اوفرمائيل اې الله دې ته هدايت اوکړې نوماشومه دخپل پلارطرف ته راغله نوپه دې شان سره هغه خپل پلار واخستله.

مضمون حديث :

سيدنا رافع بن سنان رضی الله عنه فرمائی چه ما خو اسلام قبول کړو خو زما ښځې د اسلام قبلولو نه انکار اوکړو (د هغوی دواړو ترمينځه يوه وړه ماشومه وه چه د هغې په باره کښې د هغوی دواړو اختلاف شو) د جينئ مور وئيل چه دا ماشومه زما ده ما سره به اوسيږی، او رافع وئيل چه دا زما لور ده دا به ما سره وی، رسول الله ﷺ د هغوی دواړو ترمينځه فيصله داسې اوکړه چه دواړه يعنی مور او پلار ئې يو بل ته مخامخ په فاصله باندې کينول او هغه ماشومه ئې د هغوی ترمينځه کينوله او دواړو ته ئې اوفرمائيل چه تاسو کښې هر دا ماشوم خپل ځان ته راوبلئ (د چا طرف ته چه ماشومه لاړه هم هغه ته به حق حاصل شی) پس هغوی دواړو هغه ماشومه په اشارې سره راوبلله، هغه ماشوم فطرتا د خپل مور طرف ته مائله کيدله (چه غير مسلمه وه) رسول الله ﷺ د الله پاک نه اوغوښتله چه هغې ته هدايت اوکړه د رسول الله ﷺ د دعا نه پس هغه د مور په ځائې د پلار طرف ته مائله شوه او پلار هغه بوتله.

د احنافو طريقه د استدلال د دې حديث نه دا دې چه که قاعده دا وې چه د کافر دپاره حق حضانت نه وی نو رسول الله ﷺ به صفا فرمائيلې وو، د دې تدبير د اختيارولو څه ضرورت وو کوم چه هغه اختيار اوفرمائيلو خو چونکه رسول الله ﷺ مصلحت په دې کښې اوگڼړلو چه هغه ماشومه دې د پلار سره وی په دې وجه ئې دعا اوفرمائيله، هم په دې وجه ابن قدامه ته د دې حديث د جواب ورکولو ضرورت راغلو.

فائده : مسئله حضانت چه د هغې تفصيل او اختلاف بين الائمه په خپل محل کښې راروان دې، هلته به دا هم راشی چه احناف په دې مسئله کښې د تخيير قائل نه دی په خلاف د شوافعو او حنابله چه د هغوی په نزد تخيير دې، او د حديث الباب نه هم په ظاهره کښې تخيير معلوميږی لهذا د دې نه دې دا خيال اونکړې شی چه دا حديث په مسئله د تخيير کښې د احنافو خلاف دې ځکه چه د هغه حضراتو په نزد تخيير د تميز يعنی اختيار د جدا کول عمر ته رسيدلو نه پس د چه کله ماشوم لوئې شی، وههنا ليس کذلک. ځکه چه په روايت کښې دی وهی فيطم او شبهه فتدبر وتشکر، خو تعجب دې چه زمونږ د فقه په مشهور

کتابونو کښې بدائع او فتح القدير او زيلعي على الكنز کښې دا مسئله د مسئله تخير د لاندې راوړلې ده او بيا ئې د احنافو د طرف نه جواب او توجيه ليکلې ده البته ابن قدامه په مغنى کښې دا حديث حضانة كافرة على ولدها المسلم د لاندې ليکلو سره او هغې لره داحنافو دليل منلو سره د دې جواب کړې دې "في سنده مقال"وغيره وئيلو سره. فلله دره.
والحديث اخرجه ايضاً احمد والدارقطنى (تكملة المنهل)

بَابٌ فِي اللِّعَانِ

د لعان د احكامو بيان

عام قاعده خو دا ده چه که يو سړې په چا باندې د زنا تهمت اولګوى نو هغه تهمت لګونکې دې د ګواهانو په ذريعه خپله دعوى ثابته کړى او که ثابته نه کړې شى نو بيا په هغه باندې حد قذف جارى کيږى، خو د زوجين حکم دا نه دې، سړې که په خپله ښځه باندې د زنا تهمت اولګوى او څلور ګواهان پيش نه کړې شى نو بيا د حد قذف په ځائې په خاوندباندې لعان واجب دې، او که هغه د لعان دپاره تيار نه شى نو هغه به قيد کولې شى تردې چه لعان اوکړى يا بيا د خپل نفس تکذيب اوکړى، او د تکذيب نفس په صورت کښې د زنانه په مطالبه باندې به په هغې باندې حد قذف جارى کيږى، نو دلته حد قذف د تکذيب په صورت کښې دې چه زوج خپله خپل تکذيب اوکړى، بهرحال لعان د سړى په حق کښې ګويا د حد قذف قائم مقام دې، او د زنانه په حق کښې د حد زنا قائم مقام دې. كما في الهداية.

د لعان په حقيقت کښې د جمهورو او احنافو اختلاف :

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د لعان د حقيقت په باره کښې د احنافو او جمهورو اختلاف دې، د احنافو په نزد د لعان حقيقت شهادات مؤكدات بالايمان دې، د جمهورو په نزد د دې حقيقت ايمان مؤكدات بلفظ الشهادت دې يعنى زمونږ په نزد خو د شهادت د قبيل نه دې او د جمهورو په نزد د ايمان د قبيل نه دې، هم دا وجه زمونږ په نزد په زوجين کښې اهليت شهادت کيدل ضرورى دى.

"فيجرى اللعان عندنا بين المسلمين الحرين العاقلين البالغين" وعند الجمهور يجرى بين المسلم وامراته الكافرة الكتابية، وبين العبد وامراته وبالعكس. د احنافو تائيد د قران کريم د ظاهر نه کيږى لقوله تعالى والذين يرمون ازواجهم.... فشهادة احدهم اربع شهادات بالله. الاية

د لعان کيفيت :

د لعان کيفيت دا وى چه زوج په شروع کښې قسم اوخورى او داسې ګواهى به ورکړى چه ﴿انه لمن الصادقين ﴾څلور کرته، ﴿والخامسة ان لعنة الله عليه ان كان من الكاذبين ﴾ بيا به دښځې نمبر وى هغه به وائى دخپل خاوند په باره کښې او پنځم کرته باندې به وائى : ﴿ان غضب الله عليها ان كان من الصادقين ﴾دلته چونکه د سړى په کلام کښې د لعنت لفظ وى او د زنانه په کلام کښې د غضب، په دې وجه د سړى کلام ته ترجيح ورکولو سره د دې نوم لعان کيخودلې شو نه غضاب.

د لعان په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف:

هم دغه شان ځان پوهه کړئ چه د لعان نه روستو او جمهورو په نزد په نفس لعان سره جدائی واقع کیږي او د احنافو په نزد په نفس لعان سره فرقت نه واقع کیږي بلکه د لعان نه پس په تطلیق زوج نه یا تفریق قاضي نه، او بیا دویم اختلاف دلته دا دې چه طرفین (ابوحنیفه او محمد) په نزد دا فرقت د طلاق بائن په حکم کښې وی اود جمهور علماء ائمه ثلاث په نزد او امام ابویوسف او امام زفر په نزد په لعان سره فرقت مؤبده پیدا کیږي، د هغوی په نزد دا طلاق نه دي بلکه فسخ دې، جمهورو استدلال کړې دې د دې لفظ نه کوم چه په حدیث لعان کښې راغی (ثم لا يجتمعان ابدا) او احناف وائی چه مطلب دا دې چه ترڅو پورې هغه دواړه په خپل لعان باندې قائم دی نو جمع به نه شی خو په دې کښې یو خپل تکذیب اوکړی نو بیا دا حکم نه دې.

[٢٢٤٥](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عُوَيْمِرَ بْنَ أَشْقَرَ الْعَجْلَانِيَّ جَاءَ إِلَى عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ، فَقَالَ لَهُ: يَا عَاصِمُ، أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ؟ أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ؟ سَلْ لِي يَا عَاصِمُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَسَأَلَ عَاصِمٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلَ وَعَابَهَا، حَتَّى كَبُرَ عَلَى عَاصِمٍ مَا سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا رَجَعَ عَاصِمٌ إِلَى أَهْلِهِ جَاءَهُ عُوَيْمِرٌ، فَقَالَ لَهُ: يَا عَاصِمُ، مَاذَا قَالَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ عَاصِمٌ: لَمْ تَأْتِنِي بِخَيْرٍ، قَدْ كَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْأَلَةَ الَّتِي سَأَلْتُهُ عَنْهَا، فَقَالَ عُوَيْمِرٌ: وَاللَّهِ لَا أَنْتَهِي حَتَّى أَسْأَلَهُ عَنْهَا، فَأَقْبَلَ عُوَيْمِرٌ حَتَّى أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ وَسْطَ النَّاسِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ؟ أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَدْ أُنْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ قُرْآنٌ، فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا"، قَالَ سَهْلٌ: فَتَلَاعَنَا وَأَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا فَرَغَا، قَالَ عُوَيْمِرٌ: كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ أَمْسَكْتُهَا، فَطَلَّقَهَا عُوَيْمِرٌ ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَكَانَتْ تِلْكَ سُنَّةَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ.

ترجمه: د سهل بن سعد الساعدي نه روایت دې فرمائی چه عویمر بن اشقر عجلاني عاصم بن عدي ته راغې او وئې وئیل اې عاصم که چرې څوك دخپلې ښځې سره پردې سړې اووینې ایا وژني به ئې؟ که مرئې کړو نوخلق به بیا ده لره په بدل کښې مړ کړي اوکه قتل کوی ئې نه نوڅه به کوي زما دپاره ددې مسئلې تپوس دنبی ﷺ نه اوکړه نوعاصم دنبی ﷺ نه مسئله معلومه کړه نبی ﷺ داسوال خوښ نکړو اودائې بد وګڼلو عاصم ته هم داخبره ګرانه شوه کله چه کور ته واپس راغې نو عویمر دده خواته راغې اوتپوس ئې اوکړو چه نبی ﷺ درته څه جواب درکړې دې عاصم اووئیل تاماته هیڅ کله خیر نه دې رسولې ځکه چه نبی ﷺ دا سوال خوښ نکړو دکوم چه تا زمانه تپوس کړې وو، عویمر اووئیل په الله مې دې قسم وي ترهغې به

(١): صحيح البخاري/الصلاة ٤٤ (٤٢٣)، تفسير سورة النور ١ (٤٧٤٥)، ٢ (٤٧٤٦)، الطلاق ٤ (٥٢٥٩)، ٢٩ (٥٣٠٨)، ٣٠ (٥٣٠٩)، الحدود ٤٣ (٦٨٥٤)، الأحكام ١٨ (٧١٦٦)، الاعتصام ٥ (٧٣٠٤)، صحيح مسلم/اللعان ١(١٤٩٢)، سنن النسائي/الطلاق ٣٥ (٣٤٩٦)، سنن ابن ماجه/الطلاق ٢٧ (٢٠٦٦)، (تحفة الأشراف: ٤٨٠٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطلاق ١٣(٣٤)، مسند احمد (٣٣٠/٥، ٣٣٤، ٣٣٦، ٣٣٧) (صحيح)

واپس لاړ نشم ترڅوچه مې دنبي ﷺ نه دا مسئله نه وي معلومه کړي، نوددې نه پس عویمر ځله دنبي ﷺ په خدمت کښې حاضر شو په دې وخت کښې رسول پاك و دخلقو په مینځ کښې ناست وو عویمر عرض اوکړو اې دالله رسوله ماته دهغې چاپه باره کښې فتوي راکړه څوك چه دخپلې ښځې سره يوغير محرم اووينې اوقتل ئې کړي نوايادې به په قصاص کښې قتل کیږي اوکه نه بل صورت به اختیاریږي؟ نبي ﷺ اورفرمائیل چه ستا اوستادښځې په باره کښې وحي نازله شوې ده خپله ښځه دې راوله، سهل وئیلي دي چه دواړو لعان اوکړو، اوزه دنورو کسانو په موجودګئ کښې دنبي ﷺ سره وم کله چه دواړو لعان اوکړو عویمر اووئیل اې دالله رسوله که چرې زه دادځان سره وساتم نوایا زه به دروغژن کړې شم اوددې نه پس ئې ورته درې طلاق ورکړل مخکښې ددې نه چه نبي ﷺ ورته امر اوکړي ابن شهاب وئیلي دي ددې نه پس بیادلعان کونکو په مینځ کښې دا طریقه رائج شوه.

د احادیث الباب تجزیه او تشریح علی اتم په پوره وجې سره وجه :

مصنف په دې باب کښې د لعان سره متعلق دوه قصې ذکر کړې شوې دی، اولا د عومیر بن اشقر العجلانی قصه، ثانیا هلال بن امیه قصه. داسې معلومیږی چه عویمر لره د خپلې ښځې په باره کښې مخکښې د څه بعض قرائن د وجې نه شك او شبهه وه خو تر اوسه پورې د فاحشه وقوع نه وه شوې په دې وجه هغه د خپلې ښځې د حال ته کتلو سره نظر يو سړی چه د هغه نوم عاصم بن عدی دی کوم چه د قبیله عجلان د سردارانو نه وو، عویمر د هغه نه د خپل شك او شبهې اظهار اوکړو او دا ئې اووې چه که يو سړې د خپلې ښځې سره څوك په زنا کولو باندې وینی نو اوس که هغه سړې هغه لره قتل کړی نو خلق په قصاص کښې هغه لره قتل کړی چه اوس ئې څه اوکړی نو څه اوکړی، وړاندې په روایت کښې دی چه که هغه سړې څه اوائی نو ته به په هغه باندې حد قذف جاری کړې او که هغه ئې قتل کړی نو ته به ئې قتل کړې، وان سکت سکت علی غیظ. یعنی که خاموش به وو نو هغه دننه ځان خوری.

﴿سل لی یا عاصم رسول الله﴾چه اې عاصم! زما دا مسئله د رسول الله ﷺ نه اوتپوسه نو په دې باندې عاصم بن عدی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د دې مسئلې په باره کښې تپوس اوکړو، په روایت کښې دی چه په رسول الله ﷺ باندې د هغه دا تپوس بد اولګیدو، په ظاهره کښې وجه دا وه چه دا سوال د وخت نه مخکښ، د حاجت پیښیدو نه مخکښې وه، او د دې تعلق هم د يو قبیح څیز سره وو چه په هغې کښې د يو مسلمان بې عزتی او پرده خرابیدل دی، د روایت نه معلومیږی چه هغه د عاصم نه ډیر د خفګان اظهار اوکړو کوم چه عاصم محسوس کړو، چه کله عاصم واپس کیدو سره خپل کور ته لاړو نو عویمر لاړو او د هغه نه ئې تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ څه اوفرمائیل، عاصم جواب ورکړو، تا زما سره ښه معامله نه ده کړې او زما په ذریعه داسې خبره د رسول الله ﷺ نه اوتپوسله چه په هغه باندې بده اولګیده، په دې باندې عویمر اووې چه هر څه چې وی زه خو به دا حکم د رسول الله ﷺ نه تپوسم پس وړاندې په روایت کښې دی چه عویمر هم دا خبره د رسول الله ﷺ نه د تپوسلو دپاره د رسول الله ﷺ په مجلس کښې راورسیدو او هلته نور خلق هم موجود وو، او هلته

تلو سره ئې هم هغه تپوس اوکړو کوم چه ئې د عاصم په ذریعه کړې وو، د دې نه پس په دې روایت کښې دی ﴿فقال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قد انزل فیک وفی صاحبتک قران ﴾ یعنی د عویمر په سوال کولو باندې رسول اللهﷺ تپوس اوکړو چه ستا او ستا د ښځې په معامله کښې قران نازل شوې دې. لهذا ته خپله ښځه راوله.

ځان پوهه کړه چه رسول اللهﷺ باندې د دې نه مخکښې د عاصم تپوس کول بد لګیدلې وو او دې ځل خپله د عویمر په تپوس کولو باندې په هغه باندې بد اونه لګیدو، چه د هغې وجه دا وه چه د عاصم سوال د وقوع فاحشه نه مخکښې وو، او خپله د عویمر سوال وقوع فاحشه نه پس وو.

د ایات لعان نزول په کومه قصه کښې شوې دې؟

بیا د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه دې باره کښې روایات مختلف دی چه د آیات لعان نزول د څه وجې نه شوې دې، د موجوده روایت نه معلومیږی چه د قصه عویمر د وجې نه اوشو، او وړاندې د څو روایاتو نه پس د ابن عباس د حدیث نه معلومیږی چه نزول لعان د هلال بن امیه د قصې د وجې نه اوشو، د دې اختلاف توجیه حافظ ابن حجرؒ داسې بیان کړې ده چه صورت حال دا دې چه اول دې باره کښې د رسول اللهﷺ نه تپوس عاصم کړې وو چه هغه په رسول اللهﷺ باندې بد اولګیدو، د هغې نه روستو د هلال بن امیه د ښځې د زنا قصه راپیښه شوه هغه چه دا قصه اولیده نو د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو، چونکه دې وخته پورې هم د لعان نزول نه وو شوې په دې وجه رسول اللهﷺ هغه ته اوفرمائیل لکه چه وړاندې په روایت کښې راځی ﴿البینة او حد فی ظهرک ﴾ چه یا خو په زنا باندې ګواهان پیش کړه ګینې په تا باندې به حد قذف جاری کیږی، په دې باندې هغه عرض اوکړو چه یا رسول اللهﷺ دا څنګه کیدې شی چه د یو سړی ښځه دې زنا کوی او هغه دې ګواه لټوی د عینی شهادت دپاره، رسول اللهﷺ بیا هم هغه اوفرمائیل : ﴿البینة والا حد فی ظهرک ﴾ په دې باندې هغه عرض اوکړو ﴿والذی بعثک بالحق انی لصادق ولینزلن الله فی امری ما یبرئ ظهری من الحد فنزلت والذین یرمون ازواجهم الخ ﴾ یعنی هلال رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو چه والله زه رشتیا وایم (د ښځې د زنا په باره کښې) او زما د الله پاک د ذات نه دا امید دې چه هغه به دې باره کښې یو داسې حکم نازل فرمائی چه د هغې په وجه باندې به زه دحد قذف نه بری شم، پس فورا آیت لعان نازل شو.

تاسو اوکتل چه په دې روایت کښې تصریح ده چه د هلال تپوس د فاحشه د راتلونه پس شوې وو، او په دې باندې د لعان نزول فورا اوشو، لهذا کوم روایت چه مونږ سره دلته راغلې دې د عویمر د قصې په دې کښې به دا وئیلې شی چه عاصم چه کله د رسول اللهﷺ نه تپوس کولو نو اوس د هغه او دوباره د عویمر د تپوس کولو ترمینځه د هلال واقعه راپیښه شوه چه په هغې کښې نزول حکم اوشو، د دې نه روستو چه کله عویمر په دې قصه کښې اخته شو یعنی د ښځې د زنا کولو او بیا د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شو خپله مسئله راوړلو سره نو په دې باندې رسول اللهﷺ هغه ته اوفرمائیل کوم چه دلته په

روايت کښې دی ﴿قد انزل فيک وفي صاحبتک قران﴾ يعنی ستاسو په شان قصې باره کښې قران کريم نازل شوې دې، حاصل دا چه د عاصم او عويمر دواړو د تپوس کولو ترمينځه د هلال بن اميه واقعه راپيښه شوه چه په هغې کښې نزول لعان اوشو او دا په مينځ کښې راپيښيدلو والا واقعه دلته په رواي کښې اختصاراً د ذکر نه پاتې شوه.

د دې نه پس پوهه شه چه د هلال بن اميه د ښځې د قصې په باره کښې خو تصريح ده چه هغه د شريک بن سحماء سره پيښه شوې وه خو د عويمر بن اشقر د ښځې د زنا په باره کښې د زانی تصريح دلته په يو روايت کښې هم نشته خو د حضرت ګنګوهی په يو تقرير کښې دی چه په دواړو قصو کښې زانی شريک بن سحماء دې. والله تعالى اعلم... بل په دې هم ځان پوهه کړئ چه د عويمر په سوال کښې دا دی ﴿ايقتله فيقتلونه﴾، په دې باندې په بذل المجهود کښې دا ليکلې دی چه که يو سړې خپلې ښځې سره څوک په زنا کولو باندې وينی او هغه دغه زانی قتل کړی نو په دې صورت کښې د جمهورو رائې دا ده چه هغه قاتل دې هم قصاصا قتل کړې شی ځکه چه دا قتل بغير د شهود يعنی ګواهانو نه دې، او! که بينه قائم شی يا د زانی وارثان اعتراف اوکړی د زنا نو بيا په دې صورت کښې قصاص نشته، دا حکم خو قضاءً وو، او ديانة وفيما بينه وبين الله تعالى... په هغه باندې د قتل هيڅ قسم ګناه نشته، د هغه د صادق کيدو په صورت کښې.

﴿فلما فرغا قال عويمر : كذبت عليها يا رسول الله ان امسكتها فطلقها عويمر ثلاث الخ﴾

يعنی د لعان نه د فارغ کيدو نه پس عويمر بن اشقر رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه دا هر څه (زنا ولعان) راپيښيدو نه پس هم که دا زنانه زه د ځان سره ساتم نو د دې معنی به دا شی چه ما پرې د خپلې زنا غلط الزام لګولې وو، مطلب دا دې چه اوس زه دا زنانه د ځان سره بالکل نه شم ساتلې هغه اوس د دې قابله نه ده، پس د دې نه روستو عويمر هغې ته درې طلاقه ورکړل، د دې روايت نه د طرفين تائيد کيږی په هغه مسئله کښې کومه چه په شروع کښې تيره شوې وه چه د جمهورو او ابويوسف په نزد په لعان سره فرقت واقع کيږی، او د طرفين په نزد يا خو به قاضی خپله تفريق کوی يا به زوج خپله طلاق ورکوی. پس امام بخاری رحمه الله په دې حديث باندې باب قائم کړې دې "باب اللعان ومن طلق بعد اللعان" حافظ ليکی چه په ترجمة الباب کښې اشاره ده د هغه اختلاف طرف ته چه په لعان کښې نفس لعان سره فرقت واقع کيږی يا په تفريق حاکم سره يه په تطليق زوج سره؟ امام مالک او امام شافعی فرمائی چه فرقت په نفس لعان سره واقع کيږی، او سفيان ثوری، ابوحنيفه او د هغوی متبعين فرمائی چه بغير د تفريق حاکم نه فرقت نه واقع کيږی، وعن احمد روايتان، او عثمان بتی فرمائی چه فرقت صرف په ايقاع زوج سره واقع کيږی.

په اوجز کښې د بدائع نه ﴿فكانت تلك سنة المتلاعنين﴾ په شرح کښې ليکلې دی يعنی شو د زوج طلاق ورکول د لعان نه روستو د متلاعنين طريقه، ځکه چه عويمر د لعان نه روستو خپلې زوجې ته درې طلاقه ورکړل د رسول الله ﷺ په وړاندې، پس هغه دا تطليق نافذ کړو، لهذا په هر ملاعن باندې واجب ده دا خبره چه هغه طلاق ورکړی او که هغه طلاق

ورنکړو نو په دې صورت کښې به قاضي د زوج قائم مقام وي په تفريق کښې، او دا د قاضي تفريق به په حکم د طلاق کښې وي.

والحديث اخرجه الائمة وباقي الستة الا الترمذي (تکملة المنهل)

[۲۲۴۶](¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي عَبَّاسُ بْنُ سَهْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ: "أَمْسِكِ الْمَرْأَةَ عِنْدَكَ حَتَّى تَلِدَ".

ترجمه: عباس بن سهل رضي الله عنه دخپل پلارنه روايت کوي چه نبي عليه السلام عاصم بن عدي ته اوفرمائيل دولادت پورې دا ښځه دخان سره اوساته.

توضيح الحديث

رسول الله ﷺ عاصم بن عدي رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه زوجه عويمر چا چه لعان کړې دې هغه د خان سره اوساته تردې چه د ولادت نه فارغه شي، رسول الله ﷺ عاصم ته د دې خبرې حکم په دې وجه اوکړو چه هغه د خپل قوم مشر او سردار وو، بله دا چه د هغه زنانه خپلوان وو. والحديث اخرجه احمد مطولا (تکملة المنهل)

[۲۲۴۷](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: حَضَرْتُ لِعَانَهُمَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، قَالَ فِيهِ: ثُمَّ خَرَجَتْ حَامِلًا، فَكَانَ الْوَلَدُ يُدْعَى إِلَى أُمِّهِ.

ترجمه: دابن شهاب نه روايت دې فرمائي چه سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه وئيلي دي ددوی دلعان په وخت کښې زه دنبي عليه السلام خواته حاضرشوي وم اوزه دپنځلسو کالوهلك وم. اوحديث ئې تراخره پورې بيان کړو اوپکښې ئې دا اضافه کړې وه چه اوښځه حامله ثابته شوه او بيا به دبچي نسبت خپل مور ته کيدو.

تشريح: ﴿فكان الولد يدعى الى امه﴾ د لعان نه روستو چه د هغه زنانه نه کوم ماشوم پيدا کيږي د هغه نسب صرف د ملاعنه نه ثابتيږي او د پلار نه ئې نسب نه ثابتيږي هم په دې وجه باندې ورته ولد الملاعنه وئيلې شي، ميراث وغيره هم صرف په دې دوارو کښې جاري کيږي.

[۲۲۴۸](³) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ الْوَرَكَانِيُّ، أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ فِي خَبَرِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبْصِرُوهَا، فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ عَظِيمَ الْأَلْيَتَيْنِ، فَلَا أُرَاهُ إِلَّا قَدْ صَدَقَ، وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أُحَيْمِرَ كَأَنَّهُ وَحَرَةٌ، فَلَا أُرَاهُ إِلَّا كَاذِبًا"، قَالَ: فَجَاءَتْ بِهِ عَلَى النَّعْتِ الْمَكْرُوهِ.

ترجمه: زهري دسهل بن سعد نه دمتلاعنينو په واقعه کښې نقل کړي دي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل که چرې ددې ښځې داسې بچي پيداشي چه رنګ ئې تور وي اوسترګې ئې هم تورې وي اوکوناټي ئې غټې وي نوبيازه عويمررښتوني ګڼړم، اوکه چرې سور رنګې ماشوم

---

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٧٩٦)، وقد أخرجه: (حم ٥/٣٣٥) (حسن)
²): تفرد به أبو داود، وانظر حديث رقم (٢٢٤٥)، (تحفة الأشراف: ٤٨٠٥) (صحيح)
³): انظر حديث رقم (٢٢٤٥)، (تحفة الأشراف: ٤٨٠٥) (صحيح)

پيداشي نوبيا عويمر دروغژن دي بهرحال بياهغه ماشوم په بده طريقه پيداشو(يعنی دعويمر الزام رښتياوو).

توضيح الحديث

د لعان نه د فارغ کيدو نه پس د ملاعنه په باره کښې رسول اللهﷺ بعض خلقو ته اوفرمائيل چه اوس چه کله د هغې ماشوم پيدا شی نو د هغه صورت او شکل وغيره او تپوسه، چه د کوم صورت او شکل ماشوم پيدا کيږی، اول ئې د زانی اوصاف بيان کړل چه که ماشوم داسې وی نو د هغې تقاضه دا ده چه سړې صادق وو، او زنانه دروغژنه، د دې نه پس بعض اوصاف خپله زوج بيان کړل او وې فرمائيل چه که ماشوم دا رنګ لری نو بيا سړې دروغژن شو او زنانه رښتينې) وراندې راوی وائی چه کله ماشوم پيدا شو او هغه اوليدې شو نو هغه په مکروه صفت باندې وو يعنی د زانی په صفت باندې. ﴿ادعج العينين﴾ يعنی اسود العينين، ﴿احيمر﴾تصغير دې د احمر يعنی سور رنګ ﴿وحرة﴾د يو خاروی نوم دې کوم چه د سور رنګ وی، هغه ته ګرګټ وئيلې شی کوم چه د چرمخکې مشابه وی. وهذه الرواية اخرجها الشافعی ايضا، وذکرها احمد رواية فی قصة عويمر العجلانی وکذا البيهقی وقال رواه البخاری. (تکملة المنهل)

[۲۲۴۹](١)حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَكَانَ يُدْعَى يَعْنِي الْوَلَدَ لِأُمِّهِ.

ترجمه: دسهل بن سعد ساعدي نه ددې واقعې متعلق دسابقه روايت په شان يوروايت منقول دې. راوی وئيلې دي بيابه دډغه ماشوم نسبت مورته کيدو.

[۲۲۵۰](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْفِهْرِيِّ، وَغَيْرِهِ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، فِي هَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَطَلَّقَهَا ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَنْفَذَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ مَا صُنِعَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُنَّةً، قَالَ سَهْلٌ: حَضَرْتُ هَذَا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَضَتِ السُّنَّةُ بَعْدُ فِي الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يُفَرَّقَ بَيْنَهُمَا ثُمَّ لَا يَجْتَمِعَانِ أَبَدًا.

ترجمه: دسهل بن سعد ساعدي نه ددې واقعې متعلق دسابقه روايت په شان يوروايت منقول دې، راوی وائی بيائې ورته درې طلاق ورکړل دنبی عليه السلام په وړاندې نو نبی عليه السلام نافذ کړل هريوعمل چه دنبی عليه السلام په وړاندې وشې هغه سنت وي سهل وائی په دې وخت کښې زه موجود وم بيا همداطريقه دلعان کونکو په باره کښې جاري شوه چه ددوی دواړو په مينځ کښې به تفريق کولې شي او دواړه به هيڅ کله د يوبل سره نه شی يوځائې کولې يعنی ددواړو نکاح به هيڅ کله درست نه وي).

١): انظر حديث رقم (۲۲۴۵)، (تحفة الأشراف: ۴۸۰۵) (صحيح)
٢): انظر حديث رقم (۲۲۴۵)، (تحفة الأشراف: ۴۸۰۵) (صحيح)

د حديث توجيه على مسلک الطرفين :

﴿ثم لا يجتمعان ابدا﴾ يعنى متلاعنين ترمينځه هميشه دپاره فرقت واقع كيږى، دوباره د هغه سره نكاح جائز نه ده، لكه چه جمهور فرمائى، او د طرفين په نزد دا مؤول دي ﴿اى لا يجتمعان ابدا ما داما على لعانهما كما تقدم فى اول باب اللعان﴾ والحديث اخرجه ايضا الدارقطنى من طريق يونس بن عبدالاعلى، واخرجه البيهقى من طريق المصنف (تكملة المنهل)

[۲۲۵۱](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَوَهْبُ بْنُ بَيَانٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، وَعَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ مُسَدَّدٌ: قَالَ: "شَهِدْتُ الْمُتَلَاعِنَيْنِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ، فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تَلَاعَنَا"، وَتَمَّ حَدِيثُ مُسَدَّدٍ، وَقَالَ الْآخَرُونَ: إِنَّهُ شَهِدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ، فَقَالَ الرَّجُلُ: كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنْ أَمْسَكْتُهَا، لَمْ يَقُلْ بَعْضُهُمْ: عَلَيْهَا. قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يُتَابِعِ ابْنَ عُيَيْنَةَ أَحَدٌ عَلَى أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ.

ترجمه: دسهل بن سعد رضي الله عنه نه دمسدد په روايت كښې منقول دي چه سهل اوفرمائيل دوى دواړه لعان كونكوته زه دنبى عليه السلام په زمانه كښې دلعان په وخت كښې حاضرشوې وم او په دغه وخت كښې زما عمر پنځلس كاله وو اونبى عليه السلام ددوى په مينځ كښې جدائى راوستله كله چه دوى دواړو لعان اوكړو تردې خائې دمسدد حديث پوره شو، نورو راويانو وئيلي دي چه سهل نبى عليه السلام ته حاضر شوې وو چه جدائى راوستلي وه دلعان كونكوپه مينځ كښې نودغه كس عرض اوكړو كه چرې دابنځه اوس زه ساتم نوګويا دابه داسې وى لكه چه مادروغ وئيلي وي، امام ابوداود فرمائى دابن عيينه هيڅوك متابع نشته چه نبى عليه السلام په لعان كونكو كښې تفريق واقع كړې وو.

تشريح: ﴿ففرق بينهما رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حين تلاعنا﴾ په تيرو تولو رواياتو كښې د تطليق زوج ذكر راغلې دې، د رسول الله صلى الله عليه وسلم تفريق كول نه دى راغلى، هم په دې وجه مصنف په دې باندې لفظ باندې كلام كړې دې.

[۲۲۵۲](۲) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَكَانَتْ حَامِلًا، فَأَنْكَرَ حَمْلَهَا، فَكَانَ ابْنُهَا يُدْعَى إِلَيْهَا، ثُمَّ جَرَتِ السُّنَّةُ فِي الْمِيرَاثِ، أَنْ يَرِثَهَا وَتَرِثَ مِنْهُ مَا فَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهَا.

ترجمه: دسهل بن سعد ساعدي نه ددې واقعې متعلق دسابقه روايت په شان يوروايت منقول دي مګرددې اضافې سره چه اوهغه ښځه حامله وه او عويمر ددې حمل بد وګڼړلو اوددغه ماشوم نسبت به بيا مورته كيدو اوددې نه پس بيا په ميراث كښې دا طريقه جاري شوه چه هلك به دخپلې مور وارث وي اوموربه ددغه هلك وارثه وي څومره چه ورله الله تعالى مقرر كړې وي.

۱): انظر حديث رقم (۲۲۴۵)، (تحفة الأشراف: ۴۸۰۵) (صحيح)
۲): انظر حديث رقم (۲۲۴۵)، (تحفة الأشراف: ۴۸۰۵) (صحيح)

[۲۲۵۳](١)عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: إِنَّا لَلَيْلَةَ جُمُعَةٍ فِي الْمَسْجِدِ، إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: لَوْ أَنَّ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا فَتَكَلَّمَ بِهِ، جَلَدْتُمُوهُ؟ أَوْ قَتَلَ، قَتَلْتُمُوهُ؟ فَإِنْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى غَيْظٍ، وَاللَّهِ لَأَسْأَلَنَّ عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ، أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: لَوْ أَنَّ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا فَتَكَلَّمَ بِهِ، جَلَدْتُمُوهُ؟ أَوْ قَتَلَ، قَتَلْتُمُوهُ؟ أَوْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى غَيْظٍ؟ فَقَالَ: "اللَّهُمَّ افْتَحْ"، وَجَعَلَ يَدْعُو فَنَزَلَتْ آيَةُ اللِّعَانِ: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ سورة النور آية ۶ هَذِهِ الْآيَةَ، فَابْتُلِيَ بِهِ ذَلِكَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْنِ النَّاسِ، فَجَاءَ هُوَ وَامْرَأَتُهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاعَنَا، فَشَهِدَ الرَّجُلُ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ، ثُمَّ لَعَنَ الْخَامِسَةَ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ، قَالَ: فَذَهَبَتْ لِتَلْتَعِنَ، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَهْ"، فَأَبَتْ، فَفَعَلَتْ، فَلَمَّا أَدْبَرَا، قَالَ: "لَعَلَّهَا أَنْ تَجِيءَ بِهِ أَسْوَدَ جَعْدًا"، فَجَاءَتْ بِهِ أَسْوَدَ جَعْدًا.

ترجمه: دعبدالله بن مسعود نه روايت دي فرمائی چه دجمعي په شپه زه په جومات کښې ناست وم ګورم چه يوانصاري جومات ته راغي اوتپوس ئي کولوکه چرې يوکس دخپلې ښځي سره کوم پردي سړي اووينې اوبيادابيان کړي (يعنی داسې اووائی چه زمابنځې د زنا ارتکاب کړې دې؟) نوده اووئيل تاسو دې په کوړو اووهئ (حد قذف ورکړئ نوکه هغه چاله مړ کړو نو تاسوئې هم (په قصاص کښې) مړکړئ اوکه غلې شو نودالله دغصې سره غلې شو زه به خامخادنبی ﷺ نه په دې باره کښې تپوس کوم کله چه بله ورځ سحر شو نودنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوهم ددې خبرې تپوس ئې اوکړو که چرې يوسړي دخپلې ښځې سره ځوك اووينې اوبياخلقو ته ددې ذکر اوکړی تاسو دې په کوړو اووهئ (حد قذف ورکړئ) نوکه هغه چالره مړ کړو نوتاسوئې هم (په قصاص کښې) مړکړئ اوکه غلی شو نودالله دغصې سره غلې شو، نونبی عليه السلام چه کله واوريدلو نو وئې وئيل چه اې الله! ددې معاملې بيان اوفرمائې نو د لعان آيات نازل شو. نبی ﷺ اوفرمائيل اې الله دا مشکل اسان کړې نوپه دې وخت کښې دلعان دا آيت: («والذين يرمون أزواجهم ولم يكن لهم شهداء إلا أنفسهم») نازل شو، دټولونه مخکښې هغه کس راغي ځوك چه په دې مصيبت مبتلا شوې وو اودهغه ښځه هم راغله دواړو لعان اوکړو سړي دالله نوم واغستو او ځلور پيرې ګواهي ئې اوکړه چه زه رينښتونې يم او په پنځم ځل ئې اووئيل که چرې زه دروغژن يم نوپه مادې دالله لعنت وي ددې نه پس چه کله ښځې دلعان اراده اوکړه نونبی ﷺ هغه ديکه کړه په دې وجه باندې که چرې دخاوند بيان رښتياوي نودآخرت درسوايئ نه ويره اوکړه اودګناه په اقرار کولوسره حد قبول کړه مګرښځې اونه منل اولعان ئې اوکړو، اودالله نوم ئې واغستو اوځلور پيرې ګواهي ئې اوکړه چه زه رينښتونې ايم او په پنځم ځل ئې اووئيل که چرې زه دروغژنه يم نوپه مادې دالله لعنت وي کله چه دواړه لاړل نبی ﷺ اوفرمائيل شايد چه ددې ښځې به ګونجې وينښتو والاتور بچې پيداشي اوبياهم داسې اوشول چه ګونجې وينښتو والا او تور ځوي ئې پيداشوه دعبدالله بن عباس ﷺ نه روايت دې فرمائی چه هلال

(١): صحيح مسلم/اللعان ١٠ (١٤٩٥)، سنن ابن ماجه/الطلاق ٢٧ (٢٠٦٨)، (تحفة الأشراف: ٩٤٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤٢١، ٤٤٨) (صحيح)

بن امیه پخپلې ښځې باندې دزنا تهمت اولګونبی ﷺ هلال ته اوفرمائیل که ګواه رانه ولې نو دتهمت حدبه په تاباندې جاري شي، هلال اووئیل اې دالله رسوله ایا که چرې په مونږ کښې یوکس دخپلې ښځې سره څوك اووینې نوهغه به په ګواه پسې ځي او ایادا دګواه دبوتلوځائې دې نبی ﷺ به همدا فرمائیل چه ګواه قائم کړه ګنې حد به په تاجاری کیږي هلال اووئیل په الله مې دي قسم وي چاچه ته په حقه رالیږلې یې په تحقیق سره زه ریښتونې یم الله تعالی به داسې حکم نازل کړي چه په هغې سره به ما دتهمت دحد نه بچ کړي نوپه دې وخت کښې دالله تعالی دطرف دا ایتونه : (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ سورة النور آية ٦) تر (إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ) پورې نازل شول، ددې نه پس نبی ﷺ هلال بن امیه سره دخپلې ښځې راوغوښتو دواړه راغلل رومبې هلال بن امیه اودریدو اوګواهي ئې ورکړه اونبی ﷺ به همداوئیل اوګورئ الله تعالی ته معلومه ده یقینا یو کس په تاسوکښې ضروردروغژن دې ایاپه تاسوکښې کوم یوتوبه کوي، بیاښځه پاڅیده اوګواهیانې ئې ورکړې کله چه دپنځم شهادت نمرراغې چه په دې دې دالله غضب وي که چرې خاوند ریښتونې وي اوخلقو ورته اووئیل چه دالله غضب به ضرور راځي نوهغه ښځه شاته شوه، ابن عباس نه وائي چه مونږ داوګنړل چه ګویا دا ښځه دخپل بیان نه انکار کوي، اوبیائې اووئیل نه زه خپل قوم نه شرموم هیڅ کله اوبله ګواهي ئې هم ورکړه نبی ﷺ اوفرمائیل تاسودې ته خیال کوئ که چرې ددې بچې تور وي اوسترګې ئې هم تورې وي او پیرو کوناتو والا اوپندو والاوي نوداد شریك بن سحماء نه دې اوبیائې همداسې بچې پیداشو، بیانبی ﷺ اوفرمائیل که چرې دالله حکم په دې باره کښې شوې نه وې نو مابه ددې ښځې سره څه کړي وو (یعنی په دې به مې دزنا په سزاکښې حد جاري کړې وو). امام ابوداود فرمائی دا حدیث داهل مدینه دتفرداتونه دې مراد دادې چه دابن بشار حدیث ابوعدي دهشام بن حسان نه نقل کړې دې.

تشریح: ﴿قال ابوداود : لم يتابع ابن عيينة احد على انه فرق بين المتلاعنين ﴾لهذا دا لفظ شاذ شو، خو په ماقبل کښې د زوج د تطلیق په باره کښې دا تیر شوې دی، ﴿فانفذه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وكان ما صنع عند النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنة ﴾لهذا د دې تنفیذ په اعتبار سره د رسول الله ﷺ طرف ته د تفریق نسبت کیدې شي. اخرجه الشافعي صدرها عن سفيان، واخرجه البيهقى من طريق المصنف قوله : لم يتابع ابن عيينة احد وقال يعنى بذلك فى حديث الزهرى عن سهل، الا ما روينا عن الزبيدى عن الزهرى. (تكملة المنهل)

[٢٢٥٤] (١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنِي عِكْرِمَةُ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ بْنِ سَحْمَاءَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَيِّنَةُ، أَوْ حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ"، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذَا رَأَى أَحَدُنَا رَجُلًا عَلَى امْرَأَتِهِ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ، فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "الْبَيِّنَةُ، وَإِلَّا فَحَدٌّ فِي ظَهْرِكَ"، فَقَالَ هِلَالٌ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ نَبِيًّا، إِنِّي

(١): سنن الترمذي /تفسير سورة النور (٣١٧٩)، سنن ابن ماجه /الطلاق ٢٧ (٢٠٦٧)، مسند احمد (١/٢٧٣)، (تحفة الأشراف: ٦٢٢٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري /تفسير سورة النور ٢ (٤٧٤٦)، الطلاق ٢٩ (٥٣٠٨) (صحيح)

لَصَادِقٌ، وَلَيُنْزِلَنَّ اللَّهُ فِي أَمْرِي مَا يُبَرِّءُ بِهِ ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ، فَنَزَلَتْ: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ لَمِنَ الصَّادِقِينَ سورة النور آيه ٦، فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِمَا، فَجَاءَا، فَقَامَ هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "اللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ، فَهَلْ مِنْكُمَا مِنْ تَائِبٍ؟" ثُمَّ قَامَتْ، فَشَهِدَتْ، فَلَمَّا كَانَ عِنْدَ الْخَامِسَةِ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ، وَقَالُوا لَهَا: إِنَّهَا مُوجِبَةٌ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهَا سَتَرْجِعُ، فَقَالَتْ: لَا أَفْضَحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ، فَمَضَتْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبْصِرُوهَا، فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ"، فَجَاءَتْ بِهِ كَذَلِكَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْلَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللَّهِ، لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا مِمَّا تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْمَدِينَةِ، حَدِيثُ ابْنِ بَشَّارٍ، حَدِيثُ هِلَالٍ.

ترجمه: عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وائی چه هلال بن امیه رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته په خپله ښځه باندې د شریک بن سمحاء سره (د زنا) تهمت اولګولو، نو نبی ﷺ اوفرمائیل: ثبوت راوړه ګینی په شا به درته کوړې لګولې شی. نو هلال اووئیل: اې د الله رسوله ﷺ! کله چه په مونږ کښې یوکس څوک سړې د خپلې ښځې اوګوری، نوهغه به ګواه تلاش کولو دپاره ځی؟ په دې باندې هم نبی کریم ﷺ دا اوفرمائیل چه: ګواه راوړه ګینی په شا به درته کوړې لګولې شی.نو هلال اووئیل: په هغه ذات مې دې قسم وی چاچه ته په حقه نبی جوړ کړې ئې او رالیږلې ئې، زه بالکل رشتونې یم او الله تعالی به ضرور زما په باره کښې وحی نازله کړی زما شا به د حد نه بری (خلاصه) کړی.نو دا آیت : («والذین یرمون أزواجهم ولم یکن لهم شهداء إلا أنفسهم») نازل شو، نبی کریم ﷺ دا اولوستلو تردې چه تر (إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ) پورې اورسیدو، ددې نه پس نبی علیه السلام هلال بن امیه سره دخپلې ښځې راوغوښتو دواړه راغلل رومبې هلال بن امیه اودریدو اوګواهي ئې ورکړه اونبی علیه السلام به همدا وئیل اوګورئ الله تعالی ته معلومه ده یقینا یو کس په تاسو کښې ضرور دروغژن دې ایاپه تاسو کښې کوم یوتوبه کوي، بیاښځه پاڅیده اوګواهیانې ئې ورکړی کله چه دپنځم شهادت نمبرراغې چه په دې دې دالله غضب وي که چرې خاوند رېښتونې وي اوخلقو ورته اووئیل چه دالله غضب به ضرور راځي، ابن عباس رضی الله عنه وائی نوهغه ښځه اوتره شوه او شاته شوه، مونږ دا ګڼرل چه ګویا دا ښځه دخپل بیان نه انکار کوي، اوبیائې اووئیل نه زه خپل قوم نه شرموم هیڅ کله اوبله ګواهي ئې هم ورکړه نبی علیه السلام اوفرمائیل تاسودې ته خیال کوئ که چرې ددې بچې تور وي اوسترګې ئې هم تورې وي او پیړو کوناتو والا اوپنډو والاسوې نوداد شریک بن سحماء نه دې اوبیائې همداسې بچې پیداشو، بیانبی علیه السلام اوفرمائیل که چرې دالله حکم په دې باره کښې شوې نه وې نو مابه ددې ښځې سره بل څه کړي وو (یعنی په دې به مې دزنا په سزاکښې حد جاري کړې وو) امام ابوداود فرمائی دا حدیث داهل مدینه دتفرداتونه دې مراد دادې چه دابن بشار حدیث ابوعدي دهشام بن حسان نه نقل کړې دې۔

د رجل نه څه مراد دې؟

قوله:﴿ عن علقمة عن عبدالله قال إنّا ليلة جمعة في المسجد اذ دخل رجل من الانصار ﴾.

د دې رجل نه څه مراد دې؟ په بذل المجهود کښې حضرت لیکلې دی چه ظاهره ده د دې نه

مراد عویمر دي چه د هغه واقعه د مخکښې نه روان دي، ﴿یا هلال بن امیة ﴾چه د هغې قصه وړاندې په کتاب کښې راروان دي. اهـ او صاحب منهل احتمال ثانی لره ظاهر منلي دي د صحیح مسلم د یو روایت په وجه باندې چه په هغې کښې دا دی چه هلال بن امیه د ټولو نه مخکښې هغه سړې دي چا چه په اسلام کښې دننه لعان اوکړو. اهـ

زه وایم چه دا دې هم واضح وی چه اوسه پورې ځومره روایات د لعان په باره کښې تیر شوی دی د دې تعلق عویمر بن اشقر سره وو کوم چه مصنف د سهل بن سعد نه په مختلف طرق سره روایت کړې دي، او روستو چه د هلال بن امیه د لعان کومه قصه راروانه ده هغه د ابن عباس په روایت دې او دا د مینځ والا روایت کوم چه رجل مبهم سره دې دا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دې.

د دې نه روستو ځان پوهه کړه چه د باب اللعان د ټولو نه وړاندې حدیث چه د هغې د لاندې د آیت لعان د نزول په باره کښې اختلاف روایات او بیا د حافظ ابن حجر نه د دې ترمینځه تطبیق بیان کړې شوې دې هلته دا هم تیر شوې دی چه د سیاق روایات نه دا مترشح کیږی (واضح کیږی) چه د عویمر سوال وقوع فاحشه نه مخکښې وو، او دلته په دې روایت کښې هم دا راروان دي ﴿فابتلی به ذلک الرجل من بین الناس فجاء هو وامراته الی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الخ ﴾د دې تقاضه دا ده چه په دې روایت کښې د رجل مبهم نه مراد عویمر بن اشقر دې کما استظهره صاحب البذل. والله تعالی اعلم

والحدیث اخرجه ایضا مسلم وابن ماجة واخرجه احمد مختصرا (وتکملة المنهل)

﴿ عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما ان هلال بن امیة قذف امراته... بشریک بن سحماء ﴾

مونږ سره په شروع کښې تیر شو ﴿عن تقریر الجنجوهی ﴾چه په قصه عویمر کښې هم رجل متهم شریک بن سحماء وو. فتذکر.

شرح الحدیث:

دا خبره ظاهره ده چه کله د لعان قصه پیښه شوې وه هلته سړې او زنانه دواړو کښې یو صادق وی او دویم کاذب، دا خو ممکن نه ده چه دواړه دې صادق وی یا دواړه کاذب، هم په دې وجه رسول الله ﷺ د لعان ترمینځه د شفقت د وجې نه تنبیه کوله چه ګورئ په تاسو کښې یو بنده یقینا کاذب دې لهذا د الله پاک نه اویریږئ، او په تاسو کښې چه چا دروغ وئیلي دی هغه دې د خپلې خبرې نه رجوع او توبه اوکړی هم په دې روایت کښې راځی چه کله زنانه لعان کولو نو چه کله هغې ته تنبیه اوکړې شوه نو ﴿فتلکات ﴾هغه لږه مذبذبه شوه، تردې چه مونږ خیال اوکړو چه کیدې شی هغه رجوع اوکړی، خو بیا په ځائې د رجوع کولو هغې اووې ﴿لا افضح قومی سائر الیوم ﴾ چه الله پاک دې نه کړی زه رجوع کولو سره خپل قوم اوخاندان لره دټول عمر دپاره خو رسوا کولې نه شم، اویا وئیلو سره خپل لعان هغه پوره کړو.

﴿فقال النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لولا ما مضی من کتاب الله لکان لی ولها شان ﴾ یعنی چه کله پیدا کیدونکې بچې د زناکار هم شکل راوتلو بیا رسول الله ﷺ دا خبره ارشاد اوفرمائیلو

چه که د لعان حکم نه وو نازل شوي نو بیا به ما هغه زنانه په خوند پوهه کړې وه، د دې نه مراد حد زنا او رجم دي.

[۲۲۵۵](¹) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ الشَّعِيرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ رَجُلًا حِينَ أَمَرَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يَتَلَاعَنَا أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عَلَى فِيهِ عِنْدَ الْخَامِسَةِ، يَقُولُ: إِنَّهَا مُوجِبَةٌ".

ترجمه: دعبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائی کله چه نبي عليه السلام لعان کونکوته دلعان کولوحکم اوکړونویو کس ته ئي حکم اوکړو چه په پنځم ځل کښي دده په خوله باندې لاس کیږده اودا ئي اوفرمائیل چه دا پنځم ځل ګواهي دعذاب باعث دي.

[۲۲۵۶](²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ وَهُوَ أَحَدُ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ، فَجَاءَ مِنْ أَرْضِهِ عَشِيًّا، فَوَجَدَ عِنْدَ أَهْلِهِ رَجُلًا فَرَأَى بِعَيْنِهِ وَسَمِعَ بِأُذُنِهِ، فَلَمْ يَهِجْهُ حَتَّى أَصْبَحَ، ثُمَّ غَدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي جِئْتُ أَهْلِي عِشَاءً فَوَجَدْتُ عِنْدَهُمْ رَجُلًا، فَرَأَيْتُ بِعَيْنَيَّ وَسَمِعْتُ بِأُذُنَيَّ، فَكَرِهَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا جَاءَ بِهِ وَاشْتَدَّ عَلَيْهِ، فَنَزَلَتْ: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ سورة النور آية ٦، الْآيَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا، فَسُرِّيَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "أَبْشِرْ يَا هِلَالُ، قَدْ جَعَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَكَ فَرَجًا وَمَخْرَجًا"، قَالَ هِلَالٌ: قَدْ كُنْتُ أَرْجُو ذَلِكَ مِنْ رَبِّي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْسِلُوا إِلَيْهَا"، فَجَاءَتْ، فَتَلَاهَا عَلَيْهِمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَّرَهُمَا وَأَخْبَرَهُمَا أَنَّ عَذَابَ الْآخِرَةِ أَشَدُّ مِنْ عَذَابِ الدُّنْيَا، فَقَالَ هِلَالٌ: وَاللَّهِ لَقَدْ صَدَقْتُ عَلَيْهَا، فَقَالَتْ: قَدْ كَذَبَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَاعِنُوا بَيْنَهُمَا"، فَقِيلَ لِهِلَالٍ: اشْهَدْ، فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ، فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ، قِيلَ لَهُ: يَا هِلَالُ اتَّقِ اللَّهَ، فَإِنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ، وَإِنَّ هَذِهِ الْمُوجِبَةُ الَّتِي تُوجِبُ عَلَيْكَ الْعَذَابَ، فَقَالَ: وَاللَّهِ لَا يُعَذِّبُنِي اللَّهُ عَلَيْهَا كَمَا لَمْ يُجَلِّدْنِي عَلَيْهَا، فَشَهِدَ الْخَامِسَةَ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ، ثُمَّ قِيلَ لَهَا: اشْهَدِي، فَشَهِدَتْ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ، فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ، قِيلَ لَهَا: اتَّقِي اللَّهَ، فَإِنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ، وَإِنَّ هَذِهِ الْمُوجِبَةُ الَّتِي تُوجِبُ عَلَيْكِ الْعَذَابَ، فَتَلَكَّأَتْ سَاعَةً، ثُمَّ قَالَتْ: وَاللَّهِ لَا أَفْضَحُ قَوْمِي، فَشَهِدَتِ الْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ، فَفَرَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا، وَقَضَى أَنْ لَا يُدْعَى وَلَدُهَا لِأَبٍ وَلَا تُرْمَى وَلَا يُرْمَى وَلَدُهَا، وَمَنْ رَمَاهَا أَوْ رَمَى وَلَدَهَا فَعَلَيْهِ الْحَدُّ، وَقَضَى أَنْ لَا بَيْتَ لَهَا عَلَيْهِ، وَلَا قُوتَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُمَا يَتَفَرَّقَانِ مِنْ غَيْرِ طَلَاقٍ وَلَا مُتَوَفًّى عَنْهَا، وَقَالَ: "إِنْ جَاءَتْ بِهِ أُصَيْهِبَ أُرَيْصِحَ أُثَيْبِجَ حَمْشَ السَّاقَيْنِ، فَهُوَ لِهِلَالٍ، وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَوْرَقَ جَعْدًا جُمَالِيًّا خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ، فَهُوَ لِلَّذِي رُمِيَتْ بِهِ"، فَجَاءَتْ بِهِ أَوْرَقَ جَعْدًا جُمَالِيًّا خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْلَا الْأَيْمَانُ، لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ". قَالَ عِكْرِمَةُ: فَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ أَمِيرًا عَلَى مُضَرَ، وَمَا يُدْعَى لِأَبٍ.

ترجمه: دعبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه هلال بن امیه راغي اودي یو په هغه دري کسانوکښي چي دتبوك نه پاتي شوي وو اوالله تعالی ئي توبه قبول کړي وه په دغه دوران کښي هلال بن امیه دخپلي زمکي نه دشپي کورته راغي نوهغه دخپلي ښځي سره

¹: سنن النسائي/الطلاق ٤٠ (٣٥٠٣) (تحفة الأشراف: ٦٣٧٢) (صحيح)

²: وانظر حديث رقم (٢٢٥٤)، (تحفة الأشراف: ٦١٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٨، ٢٤٥) (ضعيف)

پردې سرې اولیدو او په غوږونوئې هم واوریدل، هلال ددغه کس سره نه وهل تکول اوکړل اونه ئې ورته دهمکي ورکړه، کله چه سحر شو نودنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله دشپې چه زه کله کور ته راغلم نومایوکس دخپلې ښځې سره اولیدو په خپلو سترګو او په خپلو غوږونو مې واوریدل نبی ﷺ دهلال خبرې بې خونده وګڼړلې (توجه ئې ورته ونه کړه او هلال ته هم داسې رویه اودا مشکل ګران شو نوپه دې وخت کښې دا ایت کریمه : (والذين يرمون أزواجهم ولم يكن لهم شهداء إلا أنهم فشهادة أحدهم) نازل شو کله چه په نبی ﷺ باندې دوحي سختې تیره شوه اوختم شوه نوهلال ته ئې اووئیل خوشحاله شه الله تعالی ستادپاره لار کولاو کړه هلال اووئیل زمادالله تعالی نه هم دا امید وو، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل ښځه دې راوغواړه نبی ﷺ دواړوته دا ایت کریمه بیان کړو اونصیحت ئې هم ورته اوکړو اودالله دعذاب نه ئې ویرول چه داددنیادتکلیف نه ډیر سخت دې هلال عرض اوکړو په الله قسم چه ددې ښځې حال ما په رښتیا سره بیان کړې دې ښځې اووئیل دې دروغژن دې نبی ﷺ صحابه کراموته اوفرمائیل په دوی باندې لعان اوکړه هلال ته اول دا ووئیلې شول چه ګواهیانې ورکړه هغه څلور ځله ګواهیانې ورکړې کله چه دلعان پنځم ځل شو نوهلال ته اوویلې شول اې هلال دالله نه اوویرېږه ددنیا عذاب داخرت دعذاب نه ډیر اسان دې اودا آخرې شهادت دې که چرې ته دروغژن ئې نودا ګواهي به په تا باندې دنیاوي عذاب نافذ کړي، هلال اووئیل په الله قسم ددې ښځې په باره کښې په ما باندې هیڅ کله عذاب نه راځي لکه چه الله تعالی په ما باندې ددې د تهمت په وجه دکوړو حد جاری نکړو بهرحال اخرنی ګواهي ئې هم ورکړه چه که چرې زه دروغژن یم نوپه مادې دالله لعنت وي ددې نه پس ښځې ته اووئیلې شول ته ګواهیانې ورکړه نوهغه ښځې هم دالله نوم واخستل او څلور ګواهیانې ئې ورکړې چه زماخاوند دروغ وائی کله چه دګواهي پنځم ځل شو نوخلقو ورته اووئیل اوګوره دالله دعذاب نه ویره اوکړه ددنیاعذاب دآخرت دعذاب نه اسان دې اوهمدا پنځم ځل اواخرې ګواهي ده کومه چه به په تاباندې عذاب واجبوی ښځې چه دا واوریدل نویوه شیبه متحیره شوه اوبیائې اووئیل په الله مې دې قسم وي زه خپل نوم نه شرموم او پنځم ځل ګواهي ئې هم ورکړه داچه که زما خاوند رېښتونې وي نوپه مادې دالله غضب نازل شوي ددې نه پس نبی ﷺ په دوی دواړوکښې جدائی اوکړه اودافیصله ئې اوکړه ددې ښځې په خیټه کښې چه کوم بچې دې دهغه نسبت دې پلار ته ونه کړې شي لیکن په دې ښځه دې دزنا تهمت هم ونه لګولې شي اونه په دې ماشوم باندې، اوځوك چه په دې ماشوم دزناتهمت ولګوي نوپه هغه باندې به حد قذف جاري کیږي اودافیصله کې هم اوکړه چه په خاوند باندې دا لازمی نه دی چه دې ته به ځائې ورکوي یابه ورته نفقه ورکوي ځکه چه دوی دواړه بغیردطلاق نه جدا شوی دی او همدارنګې بغیردوفات نه جداشوی دی اوبیائې اوفرمائیل که چرې ماشوم خړ رنګ والا خړ رنګ ویښتووالا او اوچ کلک اونرو پنډو والا پیداشو نودابه دهلال نه وي اوکه چرې غنمرنګ ګونجي ویښتو والا اوڅربو پنډو والا او څربو کوناټو والاوي نوبیادا دهغه

کس بچي دي په چاباندي چه تهمت لګيدلي دي، نوبيادغي ښځي بچي په ورستني بيان شوي شکل کښي پيداشو نبي ﷺ اوفرمائيل که چري مخکښي شهادتونه شوي نه وي نو مابه دي ښځي ته دعبرت سزاورکړي وه، عکرمه وائي بيا هغو ماشوم پيداشو اودمصر بادشاه شو ليکن دمور په نوم باندي به ورته اواز نه کيدو.

تشریح: الحديث اخرجه ايضا البخاري وابن ماجة (تكملة المنهل)

﴿وقضى ان لا يدعى ولدها لاب ولا يرمى ولدها﴾يعني د لعان نه پس هغه دا فيصله اوفرمائيله چه د هغي نه روستو پيدا کيدونکي ماشوم صرف د مور نه د هغه نسب ثابتيږي د پلار طرف ته هغه دي منسوب اونکړي شي، او هم دغه شان د راروان زنانه طرف ته يا او د هغه ماشوم طرف ته دي د زنا نسبت اونکړي شي، او که څوک کوي نو په هغه باندي به حد قذف جاري کيږي.

﴿وقضى ان لا بيت لها عليه ولا قوت من اجل انهما يتفرقان من غير طلاق﴾د لعان په ابتدائي مباحث کښي تير شو چه طرفين په نزد لعان د طلاق بائن په حکم کښي دی، دا روايت د طرفين د مسلک خلاف دي، واجيب عنه بان في سنده عباد بن منصور وهو ضعيف، او في نفسه دا مسئله د مطلقه بائنه دپاره د عدت په زمانه کښي نفقه او سکنی دي يا نه؟ مختلف فيه بين الائمه دي، چه د هغي وړاندي مستقل باب راروان دي. (۱)

﴿وقال : ان جاءت به اصيهب اريصح اثيبج حمش الساقين﴾اصيهب تصغير دي د اصهب کوم چه ماخوذ دي صهبة نه، يعني حمرة الشعر د ويښتو سره کيدل، اريصح په معنی د خفيف الاليتين، او اثيبج تصغير دي، اثيبج کوم چه ماخوذ دي د ثبج نه د ملا او سټ ترمينځه حصه چه د کوم سړي دا حصه لږه شان پيره او ډکه وی دې ته اثيج وئيلي شی، حمش الساقين يعني يعنی د نرو خپو والا. ﴿وان جاءت به اورق جعدا جماليا خدلج الساقين﴾... اورق يعني اسمر اللون، د تور رنګ والا، ﴿ جعد ﴾هغه سړي د چا ويښته چه ګلګوتي وی. ﴿جمالی ﴾په ضم د جيم او تشديد ياء سره، الضحم الاعضاء پيړ او مضبوطو اندامونو والا، کانه جمل خدلج بمعنى عظيم.

﴿ فقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لولا الايمان لكان لى ولها شان ﴾په تير شوی روايت کښي په ځائي د ايمان ﴿كتاب الله ﴾لفظ وو چه د هغي نه مراد لعان دي، په دې روايت کښي ګويا د لعان نه په ايمان سره تعبير کړي شوي دي، لهذا وئيلي کيدې شی چه په ظاهره دا روايت د جمهورو مؤيد دي د حقيقت لعان په باره کښې. وقد مر الاختلاف فيه.

﴿ فكان بعد ذلك اميرا على مضر وما يدعى لاب ﴾عکرمه فرمائي چه د دې لعان نه پس پيدا کيدونکي ماشوم لوئيدو سره د قبيله مضر امير شو، خو د دې نسبت د پلار طرف ته نه کيدلو (بلکه د قاعدې مطابق د مور طرف ته منسوب کولي شو) د ابوداود په بعض

(۱) هغه دا چه هغه د احنافو په نزد د هغه دپاره نفقه او سکنی دواړه دی او د حنابله په نزد دواړه نه دی، او د شوافعو او مالکيانو په نزد سکنی ده او نفقه نشته.

نسخو کښې په ځائې د مضر مصر واقع شوې دې. (۱)

[۲۲۵۷](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، قَالَ: سَمِعَ عَمْرٌو سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ: "حِسَابُكُمَا عَلَى اللَّهِ، أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا"، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَالِي؟ قَالَ: "لَا مَالَ لَكَ، إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا، وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَلِكَ أَبْعَدُ لَكَ".

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام لعان کونکوته اوفرمائيل چه ستاسو ددواړو حساب به دالله تعالى په وړاندې کيږي، په تاسو دواړو کښې يوتن خامخا دروغژن دې، سړې ته ئې اوفرمائيل چه په ښځه باندې هيڅ قسم زور نشته ده عرض اوکړو اې دالله رسوله زما دمال به څه کيږي (يعنى مهر) نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل که چرې تادښځې په معامله کښې رښتيا وئيلي وې نوستامال دهغه څيز په عوض کښې لاړو کوم چه تادد شرمګاه دهغې په ذريعه دځان دپاره حلال کړې وو، اوکه چرې تا په دې باندې ددروغو الزام لګولې وې نوستاسره نه ښائي چه دمهر مطالبه اوکړې.

[۲۲۵۸](۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ: رَجُلٌ قَذَفَ امْرَأَتَهُ، قَالَ: فَرَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَخَوَيْ بَنِي الْعَجْلَانِ، وَقَالَ: "اللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ، فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ؟" يُرَدِّدُهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَأَبَيَا فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا.

ترجمه: دسعيد بن جبير نه روايت دې فرمائي چه ابن عمر رضي الله عنهما ته مې ووئيل اوتپوس مې ترې اوکړو که چرې يوکس په خپله ښځه باندې دزنا الزام ولګوي؟ ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل چه نبي عليه السلام دبني عجلان د ورونړو (دعويمر اودهغه دښځې په مينځ کښې جدائي راوستلې وه نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل، الله تعالى ته معلومه ده چه په تاسو دواړو کښې يوتن خامخا دروغژن دې، آيا په تاسو کښې کوم يوتن توبه ويستل غواړي؟ اوداجمله ئې درې پيرې اوفرمائيله ليکن (په ښځه اوخاوند کښې يوتن هم توبې ته تيارنشو او دواړه په خپله خبره ټينګ وو) نونبي عليه السلام په دواړو کښې جدائي راوستله.

[۲۲۵۹](۴) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَجُلًا لَاعَنَ امْرَأَتَهُ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا، فَفَرَّقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا، وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ". قَالَ

---

[1] وكذا عند احمد "اميرا علي مصر" بالصاد المهملة وعند الطيالسي قال عباد سمعت عكرمة يقول لقد رايته اميرا علي، من من الانصار، قال الحافظ وظن بعض شيوخنا انه اراد مصر البلد المشهور وفيه نظر لان امراء مصر معروفون معه ودون ليس فيهم هذا. اهـ (تكملة المنهل)

[2]): صحيح البخاري/الطلاق ٣٢ (٥٣١٢)، صحيح مسلم/اللعان ١ (١٤٩٣)، سنن النسائي/الطلاق ٤٤ (٣٥٠٦)، (تحفة الأشراف: ٧٠٥١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الطلاق ٢٢ (١٢٠٢)، سنن ابن ماجه/الطلاق ٢٧ (٢٠٦٦)، مسند احمد (١٢/٢)، (٤٥٨٧)، سنن الدارمي/النكاح ٣٩ (٢٢٧٧) (صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الطلاق ٣٢ (٥٣٢١)، ٥٢ (٥٣٤٩)، صحيح مسلم/اللعان ١ (١٤٩٣)، سنن النسائي/الطلاق ٤٣ (٣٥٠٥)، (تحفة الأشراف: ٧٠٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٧/١، ٤/٢، ٣٧) (صحيح)

[4]): صحيح البخاري/الطلاق ٣٥ (٥٣٥١)، الفرائض ١٧ (٦٧٤٨)، صحيح مسلم/اللعان ١ (١٤٩٤)، سنن الترمذي/الطلاق ٢٢ (١٢٠٣)، سنن ابن ماجه/الطلاق ٢٢ (٢٠٦٩)، (تحفة الأشراف: ٧٠٥٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطلاق ١٣ (٣٥)، مسند احمد (٧/٢، ٣٨، ٦٤، ٧١)، دي/ النكاح ٣٩ (٢٢٧٨) (صحيح)

أَبُو دَاوُد: الَّذِي تَفَرَّدَ بِهِ مَالِكٌ، قَوْلُهُ: "وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ". وَقَالَ يُونُسُ: عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، فِي حَدِيثِ اللِّعَانِ، "وَأَنْكَرَ حَمْلَهَا فَكَانَ ابْنُهَا يُدْعَى إِلَيْهَا".

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه دنبی ﷺ په زمانه کښې یوکس دخپلې ښځې سره لعان اوکړو اودخپل ځوی د نسب نه ئې انکاروکړو (یعنی داسې ئې ووئیل چه دا زمانه نه دې) نونبی ﷺ ددغه سړي اوددغه ښځې په مینځ کښې جدائی راوستله اوماشوم پې ښځې ته منسوب کړو. ابوداؤد وائی چه کوم روایت کښې چه مالک منفرد دې نو هغه الحق الولد بالمرأة جمله ده او یونس د ظهری نه اوهغه د سهل بن سعد نه د لعان حدیث نقل کړې دې هغې کښې دی چه ده دهغې دحمل نه انکار اوکړو نو دهغې ځوې به هغې ښځې طرف ته منسوب کولې شو.

تشریح: تخریج الحدیث: والحدیث اخرجه ایضاً البیهقی من طریق المصنف، واخرجه احمد والطیالسی مطولا، واخرجه الحاکم. تکملة المنهل.

بَاب إِذَا شَكَّ فِي الْوَلَدِ

کله چه د ماشوم په نسب کښې شک پیدا شي

که یو سړی ته د خپل بچی نه پیدا کیدونکې ماشوم په باره کښې اختلاف لون د وجې نه شک پیدا شی نو ایا د هغه سړی دپاره د دې ماشوم د خپل ځان نه نفی کول جائز دی یا نه؟ بعض علماء کرام [1] بعض علماء کرامو د دې په عدم جواز باندې اجماع نقل کړې ده خو اجماع نقل کول صحیح نه ده ځکه چه په دې مسئله کښې اختلاف دې.

مسئلة الباب کښې اختلاف ائمه:

هغه دا چه د احنافو په نزد خو نفی کول جائز نه دی، او د امام شافعی او احمد په نزد د زوج دپاره د اختلاف لون د وجې نه نفی کول جائز دی په دې شرط چه د اختلاف لون نه علاوه څه دویمه قرینه هم د دې مؤید موندلې شی، د امام شافعی رحمه الله په نزد خو هغه قرینه ثانیه دا ده چه د کوم رنګ ماشوم پیدا شوې دې رجل متهم نه د هغه رنګ ملاویږی، لهذا دا دوه قرینې شوې یو د نفس اختلاف لون، دویم د اتحاد اللون مع الرجل المتهم، او د امام احمد په نزد هغه دویمه قرینه مطلق دې، د اختلاف لون نه علاوه څه دویمه قرینه کیدل پکار دی برابره خبره ده که هر څه وی.

[۲۲۶۰] ([2]) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي خَلَفٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ، فَقَالَ: إِنَّ امْرَأَتِي جَاءَتْ بِوَلَدٍ أَسْوَدَ، فَقَالَ: "هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ؟"، قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: "مَا أَلْوَانُهَا؟" قَالَ: حُمْرٌ، قَالَ: "فَهَلْ فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ؟" قَالَ: إِنَّ فِيهَا لَوُرْقًا، قَالَ: "فَأَنَّى تُرَاهُ؟" قَالَ: عَسَى أَنْ يَكُونَ نَزَعَهُ عِرْقٌ، قَالَ: "وَهَذَا عَسَى أَنْ يَكُونَ نَزَعَهُ عِرْقٌ".

[1] لکه قرطبی او ابن رشد، وتعقبهما الحافظ الي اخر ما في البذل عن الشوكاني)

[2]: صحيح مسلم/اللعان ۱ (۱۵۰۰)، سنن الترمذي/الولاء ٤ (۲۱۲۹)، سنن النسائي/الطلاق ٤٦ (۳۵۸۰)، سنن ابن ماجه/النكاح ٥٨ (۲۰۰۲)، (تحفة الأشراف: ۱۳۱۲۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الطلاق ٢٦ (٥٣٠٥)، الحدود ٤١ (٦٨٤٧)، الاعتصام ۱۲ (۷۳۱٤)، مسند احمد (۲/۲۳٤، ۲۳۹، ٤٠٩) (صحیح)

ترجمه: دابوهریره ﷺ نه روایت دي فرمائي چه دبني فزاره قبیلي والا یوکس دنبی ﷺ په خدمت کښي حاضرشو اوعرض ئې اوکړوچه زما دښځې یوتور هلك پیدا شوې دې نبی ﷺ ورته اوفرمائیل آیا اوښان دي شته؟هغه ووئیل هو، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل څه څه رنګونه ئې دي هغه اووئیل سره نو ورته ئې اوفرمائیل ایا خړ پکښې شته هغه ووئیل خړ هم پکښې شته نونبی ﷺ اوفرمائیل خر دکوم ځائي نه راغلي دي هغه ووئیل کیدي شي چه کوم رګ دارنګ رانیولي وي نونبی ﷺ اوفرمائیل شاید ستاد ځوي رنګ هم کوم رګ رانیولي وي.

مضمون حدیث:

یو صحابی چه د هغه نوم ضمضم بن قتاده دې هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، اوعرض ئې اوکړو چه زما د ښځې په نزد د تور رنګ ماشوم پیدا شوې دې (په تعریض سره نفی ولد لګه چه وړاندې په روایت کښې راروان دی) رسول الله ﷺ د هغه نه تپوس اوکړو چه تا سره څه اوښان دی؟ هغه عرض اکړو او جی دی رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه د کوم رنګ دې؟ هغه عرض اوکړو د سور رنګ دې، یعنی لوئې اوښان داسې دی، هغه تپوس اوکړو چه ایا په دې کښې څه اورق یعنی تور والی ته مائل هم دې؟ یعنی د هغه اوښانو په بچو کښ، هغه عرض اوکړو چه بیشکه بعض د دې قسم هم دی (وروق جمع اوراق) رسول الله ﷺ تپوس اوکړو داسې چه کوم دی نو ته هغه د کوم ځائې نه وینې؟ یعنی د دې رنګ والا د کوم ځائې نه راغلل.

هغوی عرض اوکړو ﴿عسی ان یکون نزعه عرق﴾ چه کیدې شی چه دا قسم رنګ یو رګ راښکلې وی، یعنی موجوده اوښې چه د کومو اوښانو د نسل نه دی کیدې شی چه په هغې کښې یو د دې رنګ وی یعنی ﴿اوراق﴾، او دا رنګ د هغه ځائې نه راغلې وی، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل دلته هم داسې کیدې شی، یعنی ستا په اصول کښې څه تور رنګ وی. الحدیث اخرجه ایضا الشافعي وباقی السبعة الا الترمذی (تکملة المنهل)

[۲۲۶۱](۱) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، وَهُوَ حِينَئِذٍ يُعَرِّضُ بِأَنْ يَنْفِيَهُ.

ترجمه: داروایت دتیرشوی روایت په شان دي لیکن په دې کښې دا اضافه ده چه ده ته به په دغه وخت کښې دا تعریض کیدو چه نسبت نفي کړي.

[۲۲۶۲](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وَإِنِّي أُنْكِرُهُ. فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: دابوهریره ﷺ نه روایت دې دي فرمائي چه یوباندچي نبی ﷺ ته راغې اوعرض ئې اوکړو چه زمادښځې یوتور ځوي پیدا شوې دي اوزه دهغه دنسب نه انکار کوم.

(۱): صحيح مسلم/اللعان ۱ (۱۵۰۰)، سنن النسائي/الطلاق ٤٦ (۳۵۰۹)، (تحفة الأشراف: ۱۳۲۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۳۳، ۲۷۹) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الاعتصام ۱۲ (۷۳۱٤)، صحيح مسلم/اللعان ۱ (۱۵۰۰)، (تحفة الأشراف: ۱۵۳۱۱) (صحيح)

بَابُ التَّغْلِيظِ فِي الِانْتِفَاءِ

باب: د بچی د نسب نه په انکار باندې د راغلی وعید بیان

[۲۲۶۳] (۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يُونُسَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ حِينَ نَزَلَتْ آيَةُ الْمُتَلَاعِنَيْنِ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلَى قَوْمٍ مَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ، فَلَيْسَتْ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ، وَلَنْ يُدْخِلَهَا اللَّهُ جَنَّتَهُ، وَأَيُّمَا رَجُلٍ جَحَدَ وَلَدَهُ وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ، احْتَجَبَ اللَّهُ مِنْهُ وَفَضَحَهُ عَلَى رُءُوسِ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ".

ترجمه: دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې اوریدلي دي چه فرمائيل ئې کله چه دلعان په سلسله کښې آیت نازل شو نبی علیه السلام اوفرمائيل هره یوه ښځه چه یوماشوم په یوقوم کښې ورداخل کړي اوهغه ماشوم دهغوی نه نوي (یعنی چه دزنانه ئې بچې پیداشي اوخاوند ته ئې منسوب کړي نوددې ښځې دالله تعالی درحمت سره هیڅ قسم تعلق پاتې نشو اوالله تعالی به ئې هیڅ کله خپل جنت ته داخل نکړي، اوکه چرې یوکس په قست سره دخپل اولاد نه منکر شي نوداسې کس ته به دقیامت په ورځ دالله تعالی دیدار نصیب نه شی اودتمامی دنیا په وړاندې به ئې ذلیل کړي.

تشریح: دا مخکښې تیر شو چه د لعان په صورت کښې به ضرور په دواړو کښې یو کاذب وی، په دې باب کښې چه کوم حدیث مصنف راوړې دې په دې کښې د داسې کاذب انسان په حق کښې سخت وعید مذکور دې، چه د هغې مضمون ښکاره دې.

وحديث الباب اخرجه النسائي وابن ماجة قاله المنذري.

بَابٌ فِي ادِّعَاءِ وَلَدِ الزِّنَا

باب: د ولد الزنا د مدعی کیدو بیان

[۲۲۶۴](۲)حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، عَنْ سَلْمٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي الذَّيَّالِ، حَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِنَا، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا مُسَاعَاةَ فِي الْإِسْلَامِ، مَنْ سَاعَى فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَدْ لَحِقَ بِعَصَبَتِهِ، وَمَنِ ادَّعَى وَلَدًا مِنْ غَيْرِ رِشْدَةٍ فَلَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: په اسلام کښې په اجرت باندې بدکاري نشته اوچاچه دجاهلیت په وخت کښې په اجرت باندې بدکاري کړې وي اوبیا دهغې ښځې ماشوم پیداشي نوددې ماشوم نسبت به خپل مولاته کیږی، کله چه یوکس دیو ماشوم دنسب دعوی اوکړی داغیر دنکاح اودملکیت نه نونه ماشوم دده وارث جوړیږي اونه دې دماشوم وارث جوړیدې شي

شرح حدیث:

د مساعاة اطلاق په زنا باندې وی او اصمعی دا مختص منی د اماء سره دون الحرائر، ځکه

---

(۱): سنن النسائي/الطلاق ٤٧ (٣٥١١)، سنن ابن ماجه/الفرائض ١٣ (٢٧٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٩٧٢)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/النكاح ٤٢ (٢٢٨٤) (ضعيف)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٦٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٢/١) (ضعيف)

چه د جاهلیت په زمانه کښې به خلقو په خپلو وینزو باندې د زنا په ذریعه ګټه کوله، او په هره یوه وینزه باندې یو مخصوص مقدار اجرت زنا مقرر کړې وو، ورسره به دا وه چه د ولد الزنا نسب د زانی سره منلې شو او هغه به ئې داسې بې تکلفه کول چه دا به ئې عیب نه ګڼړلو، اسلام چه راغلو نو دا څیز ئې ختم کړو لکه چه په حدیث الباب کښې دی.

﴿لا مساعاة فی الاسلام﴾ بیا وړاندې په حدیث الباب کښې دی چه کوم سړی د اسلام نه مخکښې د جاهلیت په زمانه کښې د مساعاة په ذریعه د زانی سره نسب ثابت کړو نو هغه ماشوم به د هغه سره لاحق شی (مونږ به د دې سره تعرض نه کوو) خو چه کوم سړې اوس یعنی اسلام کښې د ولد الزنا په باره کښې دا دعوی کوی یعنی زانی ئې خپل ځوئې اومنی (نو داسې به نه وی) پس د یو بل وارثان به نه وی.

والحدیث اخرجه ایضا احمد فی المسند (تکملة المنهل)

[٢٢٦٥] ([1]) حَدَّثَنَا شَيْبَانُ بْنُ فَرُّوخَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ. ح وحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَاشِدٍ وَهُوَ أَشْبَعُ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: "إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ كُلَّ مُسْتَلْحَقٍ اسْتُلْحِقَ بَعْدَ أَبِيهِ الَّذِي يُدْعَى لَهُ ادَّعَاهُ وَرَثَتُهُ، فَقَضَى أَنَّ كُلَّ مَنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ يَمْلِكُهَا يَوْمَ أَصَابَهَا فَقَدْ لَحِقَ بِمَنِ اسْتَلْحَقَهُ وَلَيْسَ لَهُ مِمَّا قُسِمَ قَبْلَهُ مِنَ الْمِيرَاثِ شَيْءٌ، وَمَا أَدْرَكَ مِنْ مِيرَاثٍ لَمْ يُقْسَمْ فَلَهُ نَصِيبُهُ، وَلَا يَلْحَقُ إِذَا كَانَ أَبُوهُ الَّذِي يُدْعَى لَهُ أَنْكَرَهُ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ لَمْ يَمْلِكْهَا أَوْ مِنْ حُرَّةٍ عَاهَرَ بِهَا فَإِنَّهُ لَا يَلْحَقُ بِهِ وَلَا يَرِثُ، وَإِنْ كَانَ الَّذِي يُدْعَى لَهُ هُوَ ادَّعَاهُ فَهُوَ وَلَدُ زِنْيَةٍ مِنْ حُرَّةٍ كَانَ أَوْ أَمَةٍ".

ترجمه: عمرو بن شعیب دخپل پلار نه هغه دده دنیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ ددې مسئلې په باره کښې اوفرمائیل کله چه یوماشوم د خپل پلار دوفات نه پس پیداشي اودهغه په نسب کښې شامل کړې شي یعنی دکوم پلار په نوم چه دې ماشوم ته اواز کیږي اودده پلار وارثان دا وغواړي چه ده لره په نسب کښې شامل کړي ددې فیصله ئې اوکړه که چرې هغه ماشوم د وینځې نه پیداشوې وي دکوم چه مالك دصحبت په وخت کښې پلار وو نودده نسب به دشاملونکې کس سره شامليږي لیکن دده دشاملیدونه مخکښې چه کومه ترکه تقسیم شوې ده په دې کښې به دده حصه نه وي البته کومه ترکه چه لانه ده تقسیم شوې په دې کښې به یې حصه وي، لیکن هغه پلار دکوم سره چه دده نسب شامليږي اودهغه په ژوند کښې دده دنسب نه انکار کولو نود ورثوپه یوځائې کولوسره دې په نسب کښې نه شامليږي اوکه چرې دغه ماشوم دداسې وینځې نه پیداوې دکوي مالك چه دده پلار نه وو یا دغه ماشوم دازادې ښځې نه پیداوو دکومې سره چه دده پلار زنا کړي وه نوپه دې سره ددغه ماشوم نسب نه ثابتيږي، نه هغه ماشوم دده وارث جوړيږي اګرکه دده پلار پخپل ژوند کښې دعوه هم کړي وي چه دازماځوې دې ځکه چه هغه ماشوم درزنانه پیداشوې دې برابره خبره ده چه دوینځې دخیتې نه وي اوکه دآزادې ښځې دخیتې نه وي.

[1]): سنن ابن ماجه/الفرائض ١٤ (٢٧٤٦)، (تحفة الأشراف: ٨٧١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/ ١٨١، ٢١٩)، سنن الدارمي/الفرائض ٤٥ (٣١٥٤) (حسن)

توضيح الحديث

په دې پوره جمله کښې راوی صرف صورة مسئله د خپل طرف نه بيان کړې ده، څنګه چه مستفتی ليکی : څه فرمائی علماء دين په دې مسئله کښې او بيا هغه مسئله ليکی او دهغې نه روستو چه کوم عبارت راروان دې ﴿فقضی ان کل من کان من امة يملکها يوم اصابها الخ ﴾دا د رسول اللهﷺ د طرف نه جواب مسئله دې، په دې جواب مسئله کښې د صورت مسئوله تفصيلی جواب ارشاد فرمائيلې شوې دې.

د حديث د عبارت حل :

اوس د عبارت حل د شروع نه اوګورئ ﴿مستلحق ﴾هغه نوې پيدا شوې ماشوم دې کوم چه د زنا نه پيدا شوې وی، او د زانی او د سيد د مرګ نه پس د هر يو وارثان د هغه په باره کښې جهګړه کوی او هر يو فريق د هغې انتساب خپل طرف ته کول غواړی، د عبارت ترجمه داسې ده چه هر هغه مستلحق چه د هغه د پلار د مرګ نه پس (د پلار نه مراد په ظاهره کښې زانی) استلحاق کولې شو وړاندې د استلحاق تفسير دې چه د هغې په باره کښې د زانی وارثان دعوی کوی.

دا خو شو صورت مسئله، وړاندې د رسول اللهﷺ د طرف نه د دې فيصله ذکر ده هغه دا چه هر هغه ماشوم کوم چه د واطی د امة مملوکه نه وی چه په کومه ورځ ئې د هغې سره وطی کړې وه نو د چا استلحاق چه د هغه سره کولې شی يعنی د سيد سره هغه به اوشی، او کوم ميراث چه د دې استلحاق نه مخکښې تقسيم شوې وی په هغې کښې به د دې ولد هيڅ حصه نه وی، او کوم ميراث چه داسې وی کوم چه لا تر اوسه تقسيم کړې شوې نه وی (او په دې وخت کښ د هغه ماشوم استلحاق د هغه د سيد سره اوکړې شو) په دې صورت کښې به په ميراث کښې د هغه ماشوم حصه وی.

ولا يلحق اذا کان ابوه الذی يدعی له انکره... دا جمله د ماقبل شرط دې يعنی امة موطوئة (هغه وينزه چه صحبت ورسره شوې وی) مملوکه نه پيدا کيدونکې ماشوم استلحاق (ملاويدل) د مولی نه ثابت په دې شرط باندې وی چه کله هغه په خپل ژوند کښې د هغه ماشوم نه انکار نه وی کړې، او که انکار ئې کړې وی نو بيا به د مولی د وارثانو په دعوی سره استلحاق نه وی.

﴿وان کان من امة لم يملکها ﴾يعنی که هغه نوې پيدا شوې ماشوم د واطی د غير مملوکه وينزې نه وی يعنی د مزنيه (زناکارې) نه يا د داسې ازادې زنانه نه وی د چا سره چه هغه زنا کړې ده نو په دې دواړو صورتونو کښې (امة غير مملوکة مزنيه او حره مزنيه نه) به د دې استلحاق صحيح نه وی (ځکه چه په اسلام کښې د زانی نه نسب نه ثابتيږی)

﴿وان کان الذی يدعی له هو ادعاه ﴾دا ﴿ان ﴾وصليه ده، يعنی اګر چه دې سړی د چا سره چه د هغه ماشوم استلحاق کولې شی په خپل ژوند کښې د هغه ماشوم دعوی کړې وی

﴿فهو ولد زنية من حرة کان او امة ﴾پس دا ماشوم به ولد الزنا وی په پورته ذکر شوی دواړو صورتونو کښ، په احاديثو کښې ثابت النسب ماشوم ولد رشده او غير ثابت النسب

ته ولدزنیه سره تعبیر کولې شی د دې حدیث د لاندې.

د اهل جاهلیت غلط عادت :

امام خطابی رحمه الله په معالم السنن کښې فرمائی : د اهل جاهلیت دپاره به داسې وینزې وې چا چه به د هغوی دپاره ناجائزه ګټه کوله او دا هم هغه ﴿بغایا﴾ دی د کومو ذکر چه الله پاک په دې خپل قول کښې کړې دې ﴿ولا تکرهوا فتیاتکم علی البغاء ان اردن تحصنا الایة﴾ او کیدله به داسې چه د دې وینزو مالکانو به هم دوی سره وطی کوله پرهیز به ئې نه کولو، نو په دې صورت کښې به چه کله د دې وینزې ماشوم پیدا کیدو نو ډیر کرته به داسې کیدله چه د هغه ماشومې به زناکار هم دعوی کوله او سید هم، نو په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ د هغه ماشوم فیصله د سید دپاره اوکړه، ځکه چه امة د هغه سید فراش دې په شان د حره، او نفی ئې اوکړه د هغه زانی نه.

والحدیث اخرجه ایضا احمد (تکملة المنهل)

[۲۲۶۶](۱) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ رَاشِدٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، زَادَ: "وَهُوَ وَلَدُ زِنًا لِأَهْلِ أُمِّهِ مَنْ كَانُوا حُرَّةً أَوْ أَمَةً، وَذَلِكَ فِيمَا اسْتُلْحِقَ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ، فَمَا اقْتُسِمَ مِنْ مَالٍ قَبْلَ الْإِسْلَامِ فَقَدْ مَضَى".

ترجمه: دا روایت دتیرشوي روایت په شان دې مګر په دې کښې دا اضافه ده چه دغه ولد زنا ماشوم دې دمور په نسب کښې داخل شي برابره خبره ده چه دازادې ښځې نه وي او که دوینځې نه، داحکم په هغه معامله کښې دې کوم چه په شروع داسلام کښې وي اوکوم چه داسلام نه مخکښې تقسیم شوي وي هغه تیرشوي دي.

بَابٌ فِي الْقَافَةِ

باب د قیافه پیژندلو بیان

قافه جمع د قائف ده، قائف هغه سړې دې کوم چه اثار او علامات کتلو سره فروع لره د اصول سره لاحق کړی چه فلانې د فلانی رور دې یا د هغه ځوئې دې، مونږ او تاسو داسې خلقو ته قیافه شناس وایو.

په دې کښې اختلاف دې چه د قائف قول شرعا معتبر دې یا نه، لکه چه وړاندې د حدیث په شرح کښې راځی.

[۲۲۶۷](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْمَعْنَى، وَابْنُ السَّرْحِ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ مُسَدَّدٌ وَابْنُ السَّرْحِ: يَوْمًا مَسْرُورًا، وَقَالَ عُثْمَانُ: يُعْرَفُ أَسَارِيرُ وَجْهِهِ، فَقَالَ: "أَيْ عَائِشَةُ، أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ رَأَى زَيْدًا وَأُسَامَةَ قَدْ غَطَّيَا رُءُوسَهُمَا بِقَطِيفَةٍ وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا؟" فَقَالَ: "إِنَّ هَذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ أُسَامَةُ أَسْوَدَ وَكَانَ زَيْدٌ أَبْيَضَ.

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۸۷۱۲) (حسن)

(۲): صحيح البخاري/المناقب ۲۳ (۳۵۵۵)، وفضائل الصحابة ۱۷ (۳۷۳۱)، والفرائض ۳۱ (۶۷۷۰)، صحيح مسلم/الرضاع ۱۱ (۱۴۵۹)، سنن الترمذي/الولاء ۵ (۲۱۲۹)، سنن النسائي/الطلاق ۵۱ (۳۵۲۳، ۳۵۲۴)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲۱ (۲۳۴۹)، (تحفة الأشراف: ۱۶۴۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۸۲، ۲۲۶) (صحيح)

ترجمه: دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه رسول پاک ﷺ و زماخواته يوه ورځ تشريف راوړو دعثمان په روايت کښې دي چه دخوشحالئ نه ئې په مخ کښې کرخې معلوميدي نبي عليه السلام اوفرمائيل اې عائشې اياتاته معلومه نه ده چه مجزز مدلجي (ديو قيافه شناس نوم دې) يوځل زيد بن حارث او اوسامه بن زيد اوليدل چه سرونه ئې په څادر باندې پټ کړي وو اوخپې ئې برښدې وې هغه اووئيل دا دواړه خپې ديو بل په شان دي يعنې يوبل نه تلي دی، امام ابوداود وائي داوسامه رنګ تور وو اودزيد رنګ سپين وو.

مضمون حديث:

سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه يوه ورځ ماته رسول الله ﷺ تشريف راوړلو، ډير خوشحاله وو، تندې مبارک ئې روخانه وو او د خوشحالئ اثار پرې ښکاره وو، او وې فرمائيل اې عائشه! تاته خبره شته چه نن څه واقعه راپيښه شوه؟ هغه دا چه مجزر مدلجی[1] (چه يو مشهور قائف وو) اسامه او زيد په داسې حال کښې چه دواړه په يو څادر کښې ملاست وو او سر او مخ ئې پټ وو، صرف د هغوی خپې ښکاره وې نو د هغوی طرف ته کتلو سره ئې اووې ﴿ان هذه الاقدام بعضها من بعض﴾ چه بيشکه دا قدمونه د پلار او خوئی دی.

وراندې امام ابوداود رحمه الله فرمائي ﴿كان اسامة اسود وكان زيد ابيض﴾ يعنې د پلار او خوئی رنګ بالکل مختلف وو، اسامه بالکل تور وو او زيد سپين وو، ليکلې دی چه د سيدنا اسامه رضي الله عنه مور سيده ام ايمن رضي الله عنها وه چه د هغې خپل نوم برکة وو هغه حبشيه او توره وه، پس په دې وجه به مشرکينو د اسامه په نسب کښې شک کولو او عيب به ئې پرې لګولو.

د جمهورو د دې حديث نه استدلال:

دلته د رسول الله ﷺ د مسرت وجه ظاهره ده هغه دا چه د قائف قول اګر چه شرعا حجت نه دې خو کومو خلقو چه به د اسامه په نسب کښې طعن کولو يعنې مشرکين د هغوی په نزد به د قائف قول حجت وو، خصوصا چه کله به هغه قائف هم د هغوی سړې وو، خو ډيرو شارحين شافعيه وغيره د دې واقعې نه استدلال کړې دې په دې خبره چه د قائف قول د انساب په باره کښې معتبر دې[2] او دا چه په دې قول کښې اثبات نسب لره دخل دې، ګينې رسول الله ﷺ به د هغه په قول باندې ولې خوشحاليدو؟ خو د دې جواب د پورته تقرير نه ظاهر دې، بهرحال د ائمه ثلاثه په نزد د قائف قول معتبر دې، او د امام مالک نه يو

---

[1]) مجزز دميم په ضمې او د جيم په فتحې او د زاء مشدده په کسرې سره دې او په يو روايت کښې د زاء فتحه هم منقول ده يعنې مجزز او ونيلې شوې دی چه دا لفظ محرز د حاء مهمله په سکون او راء سره ده والصواب الاول، او مدلجی نسبت دې د قبيله بنو مدلج طرف ته، په دې قبيله کښې او قبيله بنو اسد کښې د علم قيافه فن د عربو په نزد مشهور او معروف وو اهـ (تكملة المنهل)

[2]) هم دغه شان هغه حضراتو هم د دې نه استدلال کړې دې چه د لعان په قصه کښې د رسول الله ﷺ ارشاد راغلې دې چه که ماشوم د دې رنګ او شکل وی نو زوج دې او که د داسې صورت او شکل وی نو د زانی دې، د دې جواب زمونږ د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه هغه خبره رسول الله ﷺ د علم قيافه په وجه نه ده کړې او نه هغه قائف وو بلکه دا خبره نې د وحی په حکم کړې وه، بله دا چه کله قيافه شرعا معتبر وې نو بيا د لعان څه ضرورت وو بلکه د قائل قول ته به اعتبار وې. (من البذل)

روايت دا دي چه يعتبر في الاماء دون الحرائر. او بل روايت د هغوی نه دا دي ﴿يعتبر مطلقا﴾.

د قول قائف د معتبر كيدو مثال په بذل المجهود كښې د فقهاء كرامو د كلام نه نقل كړي دي، د دې يو مثال خپله په راوړان باب كښې راځي. والحديث اخرجه ايضا باقي السبعة الا الترمذي. (تكملة المنهل)

[۲۲٦۸](¹)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: قَالَتْ: "دَخَلَ عَلَيَّ مَسْرُورًا تَبْرُقُ أَسَارِيرُ وَجْهِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأَسَارِيرُ وَجْهِهِ، لَمْ يَحْفَظْهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: أَسَارِيرُ وَجْهِهِ هُوَ تَدْلِيسٌ مِنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، لَمْ يَسْمَعْهُ مِنَ الزُّهْرِيِّ، إِنَّمَا سَمِعَ الْأَسَارِيرَ مِنْ غَيْرِ الزُّهْرِيِّ. قَالَ: وَالْأَسَارِيرُ فِي حَدِيثِ اللَّيْثِ وَغَيْرِهِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ صَالِحٍ، يَقُولُ: كَانَ أُسَامَةُ أَسْوَدَ شَدِيدَ السَّوَادِ مِثْلَ الْقَارِ، وَكَانَ زَيْدٌ أَبْيَضَ مِثْلَ الْقُطْنِ.

ترجمه: په دې سند سره هم زهری هم په دې طريق سره د تيرشوي روايت په شان روايت بيان كړي دي چه ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها وائي. نبی كريم صلى الله عليه وسلم ماته خوشحاله خوشحاله تشريف راوړو، دهغوی صلى الله عليه وسلم د مخ كرښې خليدلې، ابوداؤد وائي. د «أسارير وجهه» الفاظ ابن عيينه ياد نه كړې شو، ابوداؤد وائي. «أسارير وجهه» الفاظ د ابن عيينه د طرفه تدليس دې، هغوی دا د زهری نه نه دی آوريدلی، هغوی د«أسارير وجهه» په ځائې «لأسارير من غير» الفاظ آوريدلی دی. اود«لأسارير» ذكر د ليث وغيره په حديث كښې دې. ابوداؤد وائی ما داحمد بن صالح نه دا آوريدلی دی چه اسامه رضي الله عنه د تاركول په شان ډير زيات تور وو، او زيد رضي الله عنه د مالوچو په شان سپين وو.

بَابُ مَنْ قَالَ بِالْقُرْعَةِ إِذَا تَنَازَعُوا فِي الْوَلَدِ

كله چه د يو ماشوم مدعيان زيات شي نو قرعه به كولې شي

[۲۲٦۹](²)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ الْأَجْلَحِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْخَلِيلِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْيَمَنِ، فَقَالَ: إِنَّ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ أَتَوْا عَلِيًّا يَخْتَصِمُونَ إِلَيْهِ فِي وَلَدٍ وَقَدْ وَقَعُوا عَلَى امْرَأَةٍ فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ، فَقَالَ لِاثْنَيْنِ مِنْهُمَا: طِيبَا بِالْوَلَدِ لِهَذَا، فَغَلَيَا، ثُمَّ قَالَ لِاثْنَيْنِ: طِيبَا بِالْوَلَدِ لِهَذَا، فَغَلَيَا، ثُمَّ قَالَ لِاثْنَيْنِ: طِيبَا بِالْوَلَدِ لِهَذَا، فَغَلَيَا، فَقَالَ: "أَنْتُمْ شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ، إِنِّي مُقْرِعٌ بَيْنَكُمْ، فَمَنْ قُرِعَ فَلَهُ الْوَلَدُ وَعَلَيْهِ لِصَاحِبَيْهِ ثُلُثَا الدِّيَةِ"، فَأَقْرَعَ بَيْنَهُمْ فَجَعَلَهُ لِمَنْ قُرِعَ، فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَضْرَاسُهُ أَوْ نَوَاجِذُهُ.

ترجمه: دزيد بن ارقم نه روايت دې فرمائی چه مونږ دنبی عليه السلام سره ناست وو كښل موچه ديمن نه يوكس راغې او عرض ئې اوكړو چه په يمن كښې درې كسانو ديو ماشوم په باره كښې جګړه علی رضي الله عنه ته راوړله اودوي درې واړو په يو طهركښې په يوه ښځه باندې واقع شوي وو نودوو ته ئې اووئيل چه په خوشحالۍ سره داماشوم دغه دريم كس ته وركړه دوی انكار اوكړو بياهغه نوردوه كسان جدا كړل او ورته ئې اووئيل چه داماشوم دغه بل كس ته وركړي

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: (١٦٥٨١) (صحيح)
²): سنن النسائي/الطلاق ٥٠ (٣٥١٩)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٢٠ (٢٣٤٨)، (تحفة الأشراف: ٣٦٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٧٣) (صحيح)

هغوی هم ونه منله او ټولي سوري ئې جوړي کړي علي رضي الله عنه اوفرمائيل چه ستاسو په مينځ کښې به زه قرعه اندازي کوم نوقرع اندازي چه دچاوختله ماشوم ئې هغه ته ورکړو نونبي عليه السلام چه دا واوريدل نوونې خاندل تردې چه دنبي عليه السلام غاښونه مبارک ښکاره شول.

مضمون حديث:

مضمون حديث دا دې سيدنا زيد بن ارقم رضي الله عنه فرمائي چه يوه ورځ زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر اوم نو يو سړې د يمن نه راغلو (او هغه د راتلو سره د سيدنا علي رضي الله عنه يوه فيصله نقل کړه ځکه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم سيدنا علي رضي الله عنه لره د يمن قاضي مقرر کړې وو) هغه بيان اوکړو چه درې يمني کسان د سيدنا علي رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر شو چا چه د هغه ماشوم په باره کښې جهګړه کوله کوم چه د دې درې واړو په وطی سره په طهر واحد کښې پيدا شوې وو يعني داسې وينزې نه کومه چه د هغوی درې واړو ترمينځه مشترک وه، سيدنا علي رضي الله عنه د خپلې فيصلې ابتداء داسې اوکړه چه په هغه درې کسانو کښې ئې دوه ته اوفرمائيل چه تاسو دا ماشوم په خوشحالئ سره دريم سړي ته ورکړئ، په دې باندې هغوی غصه شو او راضي نه شو د هغې نه روستو هغه نور دوه واخستل او هغوی دواړو ته ئې هم اووې نو هغوی هم راضي نه شو. د هغې نه روستو په دريم ځل دوه واخستل نو هغوی هم راضي نه شو، سيدنا علي رضي الله عنه اوفرمائيل ﴿انتم شركاء متشاكسون﴾ چه تاسو ټول جهګړمار يئ، اوس زه ستاسو ترمينځه قراندازي کوم د چا نوم چه په قرعه کښې راوځي دا ماشوم به د هغه دپاره وي او په هغه باندې به د خپلو دواړو ملګرو دوه ثلث د وينزې قيمت وي. د هر يو دپاره يو ثلث، پس قرعه اندازي اوکړې شوه، او په قرعه کښې چه د چا نوم راغلې وو هغه ماشوم هغه ته ورکړې شو.

وړاندې په روايت کښې دی چه په دې قصه اوريدلو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ډير اوخندل، يعني د هغه په ذکاوت او پوهه باندې.

په مسئلة الباب کښې د ائمه کرامو اختلاف:

پورته ذکر شوې صورت مسئله اختلافي ده، اسحاق بن راهويه او امام شافعي في رواية، په دې مسئله کښې د قرعه اندازئ قائل دی، او امام مالک او امام شافعي في رواية واحمد په دې مسئله کښې د قيافه قائل دې، د امام احمد نه نقل دی حديث القافه احب الي من حديث ابن ارقم، او احناف خو چونکه د قرعه قائل دی او نه د قيافه ځکه چه د هغوی په نزد په دې صورت کښې هغه ماشوم د درې واړو ترمينځه مشترک وی، دغه شان په دې هم ځان پوهه کړئ چه دا درې واړه کسان به د تعزير مستحق وی ځکه چه دا وطی حرام ده خو د ملک د شبهې د وجې نه به نسب ثابت شي او په يو سړي باندې به هم حد واجب نه وی، د دې حديث جواب د احنافو د طرف نه خو دا دې چه د هغوی په نزد قاعده کليه دا ده چه قرعه منسوخ شوې ده خو جمهور علماء کرام خو د حجيت قرعه قائل دی د هغوی نه دا تپوس کيدې شي چه دې حضراتو دا حديث ولې نه دې اختيار کړې، او دلته دا هم وئيلې کيدې شی چه د سيدنا علي رضي الله عنه دا قضاء اجتهادی وه، پس دا فيصله د هغه د قضايا او فتاوی نه وه په

طریقه د صلح.یشیر الیه ضحکه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، او دا خبره به په خپل مقام راشي چه قاضی ته د خصمین (دوه جګړه کونکو) ترمینځه د صلح کولو هم حق دې او حضرت په بذل کښې د بعض علماء کرامو نه نقل کړې دی چه دا حدیث غیر ثابت دې. اهـ په ظاهره کښې مراد دا دې چه غیر قوی دې ځکه چه مصنف دا واقعه په دوه طریق ذکر کړې ده بطریق الاجلح عن الشعبی او په طریقه د سلمه بن کهیل عن الشعبی، لکه چه دا روایت د هغې نه پس راروان دې، او د دې دواړو د روایت کافي فرق دې، پس په راتلونکې روایت کښې مصنف فرمائی، لم یذکر الیمین والا النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولا قوله طیبا بالولد، لهذا د دې اختلاف د وجې نه په حدیث کښې ضعف راغلو. والله تعالی اعلم بالصواب.

والحدیث اخرجه احمد والنسائی (تکملة المنهل)

[۲۲۷۰](۱) حَدَّثَنَا خُشَيْشُ بْنُ أَصْرَمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا الثَّوْرِيُّ، عَنْ صَالِحٍ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَبْدِ خَيْرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: "أُتِيَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِثَلَاثَةٍ وَهُوَ بِالْيَمَنِ وَقَعُوا عَلَى امْرَأَةٍ فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ، فَسَأَلَ اثْنَيْنِ: أَتُقِرَّانِ لِهَذَا بِالْوَلَدِ؟ قَالَا: لَا، حَتَّى سَأَلَهُمْ جَمِيعًا، فَجَعَلَ كُلَّمَا سَأَلَ اثْنَيْنِ، قَالَا: لَا، فَأَقْرَعَ بَيْنَهُمْ، فَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالَّذِي صَارَتْ عَلَيْهِ الْقُرْعَةُ وَجَعَلَ عَلَيْهِ ثُلُثَيْ الدِّيَةِ، قَالَ: فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ".

ترجمه: د زید بن ارقم نه روایت دې فرمائی چه علی نه ته درې کسان راوستل شول اوهغه په یمن کښې وو او درې کسان په یوطهرکښې په یوه ښځه باندې واقع شوي وو نوهغه دوه کسانوته اووئیل آیا تاسو ددغه بل کس دپاره په ماشوم باندې اقرار کوئ یعنی هغه ته ئې ورکوئ؟ نوهغوی دواړو اووئیل نه تردې چه دټولونه ئې تپوس اوکړو دهرځل تپوس په وخت کښې به ئې دوه کسان ددریم نه جداکړل اوهغوی به انکارکولو بهرحال په دوی کښې ئې قرع اندازي اوکړله اوماشوم هغه چاته حواله شو دچاچه قرع ختلې وه او په هغه باندې دوه ثلثه ددیت لازمی کړل، راوی وائی دهغه داعمل نبی ﷺ ته ئې ذکرکړو نوئې خاندل تردې چه دنبی ﷺ غاښونه مبارک ښکاره شول

[۲۲۷۱](۲) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَلَمَةَ سَمِعَ الشَّعْبِيَّ، عَنْ الْخَلِيلِ، أَوْ ابْنِ الْخَلِيلِ، قَالَ: "أُتِيَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي امْرَأَةٍ وَلَدَتْ مِنْ ثَلَاثَةٍ، نَحْوَهُ، لَمْ يَذْكُرْ الْيَمَنَ، وَلَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا قَوْلَهُ طَيِّبًا بِالْوَلَدِ".

ترجمه: دخلیل یا ابن الخلیل نه روایت دې فرمائی چه علی رضی الله عنه ته درې کسان راوستلی شول دهغه ښځې په معامله کښې چه ددرې کسانونه ئې بچې راوړې وو باقی حدیث دتیر شوي حدیث په شان دي مګر په دې کښې دیمن اودنبی ﷺ ذکر نشته اونه پکښې د (طیبا بالولد) جملې ذکرشته.

(۱): سنن النسائي/الطلاق ۵۰ (۳۵۱۸)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲۰ (۲۳۴۸)، (تحفة الأشراف: ۳۶۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۳۷۳) (صحيح)

(۲): انظر حديث رقم (۲۲۶۹)، (تحفة الأشراف: ۳۶۶۹) (ضعيف)

بَابٌ فِي وُجُوهِ النِّكَاحِ الَّتِي كَانَ يَتَنَاكَحُ بِهَا أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ

د جاهلیت د زمانې د نکاح بیان

[٢٢٧٢] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنِي يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، قَالَ: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ، "أَنَّ النِّكَاحَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ عَلَى أَرْبَعَةِ أَنْحَاءٍ، فَكَانَ مِنْهَا: نِكَاحُ النَّاسِ الْيَوْمَ يَخْطُبُ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ وَلِيَّتَهُ فَيُصْدِقُهَا ثُمَّ يَنْكِحُهَا، وَنِكَاحٌ آخَرُ كَانَ الرَّجُلُ يَقُولُ لِامْرَأَتِهِ إِذَا طَهُرَتْ مِنْ طَمْثِهَا: أَرْسِلِي إِلَى فُلَانٍ فَاسْتَبْضِعِي مِنْهُ، وَيَعْتَزِلُهَا زَوْجُهَا وَلَا يَمَسُّهَا أَبَدًا حَتَّى يَتَبَيَّنَ حَمْلُهَا مِنْ ذَلِكَ الرَّجُلِ الَّذِي تَسْتَبْضِعُ مِنْهُ، فَإِذَا تَبَيَّنَ حَمْلُهَا أَصَابَهَا زَوْجُهَا إِنْ أَحَبَّ، وَإِنَّمَا يَفْعَلُ ذَلِكَ رَغْبَةً فِي نَجَابَةِ الْوَلَدِ، فَكَانَ هَذَا النِّكَاحُ يُسَمَّى نِكَاحَ الِاسْتِبْضَاعِ، وَنِكَاحٌ آخَرُ يَجْتَمِعُ الرَّهْطُ دُونَ الْعَشَرَةِ فَيَدْخُلُونَ عَلَى الْمَرْأَةِ كُلُّهُمْ يُصِيبُهَا، فَإِذَا حَمَلَتْ وَوَضَعَتْ وَمَرَّ لَيَالٍ بَعْدَ أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا أَرْسَلَتْ إِلَيْهِمْ فَلَمْ يَسْتَطِعْ رَجُلٌ مِنْهُمْ أَنْ يَمْتَنِعَ حَتَّى يَجْتَمِعُوا عِنْدَهَا، فَتَقُولُ لَهُمْ: قَدْ عَرَفْتُمُ الَّذِي كَانَ مِنْ أَمْرِكُمْ، وَقَدْ وَلَدْتُ وَهُوَ ابْنُكَ يَا فُلَانُ، فَتُسَمِّي مَنْ أَحَبَّتْ مِنْهُمْ بِاسْمِهِ فَيُلْحَقُ بِهِ وَلَدُهَا، وَنِكَاحٌ رَابِعٌ يَجْتَمِعُ النَّاسُ الْكَثِيرُ فَيَدْخُلُونَ عَلَى الْمَرْأَةِ لَا تَمْتَنِعُ مِمَّنْ جَاءَهَا وَهُنَّ الْبَغَايَا، كُنَّ يَنْصِبْنَ عَلَى أَبْوَابِهِنَّ رَايَاتٍ يَكُنَّ عَلَمًا لِمَنْ أَرَادَهُنَّ دَخَلَ عَلَيْهِنَّ، فَإِذَا حَمَلَتْ فَوَضَعَتْ حَمْلَهَا جُمِعُوا لَهَا وَدَعَوْا لَهُمُ الْقَافَةَ، ثُمَّ أَلْحَقُوا وَلَدَهَا بِالَّذِي يَرَوْنَ فَالْتَاطَهُ، وَدُعِيَ ابْنَهُ لَا يَمْتَنِعُ مِنْ ذَلِكَ، فَلَمَّا بَعَثَ اللَّهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدَمَ نِكَاحَ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ كُلَّهُ، إِلَّا نِكَاحَ أَهْلِ الْإِسْلَامِ الْيَوْمَ".

ترجمه: دعروه نه روایت فرمائی چه دنبی عليه السلام بی بی عائشه رضي الله عنها راته فرمائیلی دي چه دجاهلیت په زمانه کښې به نکاح څلور طریقو کیدله یوه طریقه داسې وه کومه چه نن صباده چه یوسړې دچا خور بالور ته پیغام ولیږي اومهر مقرر کړي اوده ته ئې په نکاح ورکړي، یوه بل قسم نکاح به په دې طریقه کیده چه دیوسړي ښځه به کله دبیمارئ نه پاکه شوه نو ورته به ئې وئیل چه فلانې را اوغواړه اوصحبت ورسره اوکړه اوخپل خاوند به ترې جدا شو اوهمبستري به ئې ورسره نه کوله تردې چه ترڅو پورې چه به ئې دايقين نه وو راغلي چه اوس به ترې حامله شوي وي (دچاسره چه ئې جماع کړي وه) نوچه کله به ئې يقين راغې چه اوس حامله شوي ده نوکه چرې خاوند به ئې ورسره جماع کول غوښتل نو جماع به ئې ورسره اوکړه اوداطريقه به ئې ددې وجې نه اختیاروله چه هلك طاقتور اوښکلي اومزيداروي نو په دې وجه دغه خلقوبه داسې کس ته ښځه ليږله څوك چه به شريف النفس اوښائسته وو اوخانداني اواعلى نسب والابه وو، ددې دپاره چه دهغه نه نطفه حاصله کړي اوددوى په خاندان کښې هم دغسې نسل پيداشي اودې نکاح ته به ئې نکاح استبضاع (دنطفې حاصلول) وئيل، اوددريم قسم نکاح طريقه داوه چه نهه کسان به يوې ښځې ته تلل راتلل او په دغه کسانو کښې به هريوتن ددغه زنانه سره جماع کوله ترڅوچه به ددغه ښځې بچي نه وو پيداشوې کله چه به ئې بچي پيداشو نودغه زنانه به دغه کسان را اوغوښتل او به دوى کښې به يوتن هم انکار نشو کولې کله چه به ټول راجمع شول نودې ښځې به ورته دوئيل چه تاسوته خپل حال ښه معلوم دي او زما بچي پيدا شوى دى او په تاسوکښې داد فلانې بچي دي کله چه به هغه ښځې دچانوم واخستو نودغه بچي به بيا دهغه حسابيدو.

(١): صحيح البخاري/النكاح ٣٦ (٥١٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٧١١) (صحيح)

اودي قسم ښځوته به بغايا وئيلي کيدي (يعني رنډئ يا زانيه) اووداسي قسم ښځوپه کورونوبه جهنډي لګيدلې وې اودابه ددوی علامې وې دچا زړه چه به جماع کول غوښتل نودغلته به ورتلل، کله چه به ددې ښځو حمل پيداشو اوبچې به ئې هم پيداشونو ټول ياران به ئې راجمع شول اوقيافه شناس به ئې راوستو، قيافه شناس چه به کله چاته ووئيل چه دابچې ستاپه شان دې نوداماشوم به همدغه کس منسوب کولې شو، اودغه کس به هيڅ نه وئيل، کله چه الله تعالى نبي ﷺ په حق سره راوليږلونودجاهليت د دور نکاحونه ئې باطل کړل اوصرف هغه نکاح باقي پاتې شوه کومه چه په مسلمانانوکښې مروج ده اوباقي تمام قسم رسمونه دنکاح متعلق په اسلام کښې مردودکړې شول.

شرح حديث:

سيده عائشه رضي الله عنها چه لويه عالمه وه هغه د زمانه جاهليت د احوالو خبره هم لرلو د هغې خورئې حضرت عروه رحمه الله د هغې نه نقل کوی چه د جاهليت په زمانه کښې نکاح په څلور قسمه وه بيا وړاندې د هغه څلورو واړو د تفصيل بيان دې. ۱: يو خو هغه نکاح کومه چه نن صبا په خلقو کښې موندلې شي چه انسان د جينئ د ولي طرف ته د نکاح پيغام اوليږی او د هغې د منظورئ نه پس باقاعده مهر مقرر کولو سره نکاح کيږی اوس وړاندې د دې درې نکاحونو بيان دې کوم چه د جاهليت په زمانه کښې رائج وو. ۲: خاوند به خپلې ښځې ته وئيل چه د فلانئ قبيلې فلانی سړی ته لاړه شه او هغه سره وطی اوکړه، پس هغه به لاړه او داسې به ئې اوکړل، چه ترڅو پورې به استقرار حمل ظاهر شوې نه وو هغه ته به نه تلو، او د ظهور حمل نه پس به که هغه غوښتل نو هغې سره به ئې خپله هم صحبت کولو. ﴿وانما يفعل ذلک رغبة فی نجابة الولد﴾ يعنی د نجابت ولد په حرص کښې به هغه داسې کول ځکه چه کوم سړی ته به ئې د وطی دپاره ليږله هغه په د هغه په نزد د اوچت او ښه خاندان سړې وو. عائشه رضي الله عنها فرمائي چه د دې نکاح نوم په هغه زمانه کښې نکاح الاستبضاع وو. ۳: يو قسم نکاح هغه وه چه د لسو کسانو نه کم جماعت به رايوځائې شو او يوې زناکارې ته به لاړل او د هغې سره به ئې وطی کوله، بيا چه به هغه حامله شوه او د ماشوم ولادت به اوشو او د وضع حمل نه پس به څو ورځې تيرې شوې نو دې مزنيه به هغه خلق راطلب کړل، د چا به هم جراءت نه وو د انکار کولو او ټول به د هغې سره راجمع شو، د هغوی د جمع کيدو نه پس هغه زنانه دې ټولو ته خطاب کولو سره وئيل چه زما او ستاسو ترمينځه چه کوم عمل شوې وو هغه تاسو ته معلوم دې، او دا اوګورئ دا ماشوم پيدا شوې دې، او په دې حاضرينو کښې به ئې د چا دپاره چه هغې غوښتل وئيل چه ﴿هو ابنک يا فلان﴾ بيا به ماشوم هم د هغې شو، د هغې نه روستو به مجلس ختم شو او ټول به لاړل. ۴: څلورم قسم هم دغه شان دې چه ډير خلق (چه په هغوی کښې د لسو نه د کميدو قيد نشته) په طوائف (ډمو) کښې د يوې خواته تلل، د هغې سره به ئې صحبت کولو، د هغې نه روستو به ماشوم پيدا شو نو دې ټولو به يو قائف راغوښتلو، بيا به د قائف د فيصلې مطابق هغه ماشوم په هغوی ټولو کښې يو ته ورکولې شو او په هغې کښې به د چا اختلاف نه وو، د کومې زنانه خواته چه په

دې قسم کښې ذکر دې د هغې په باره کښې سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي ﴿ومن البغايا كن ينصبن على ابوابهن رايات تكن علما لمن ارادهن ﴾بغايا جمع ده د بغي په معنى د زانيه (رنډۍ) فرمائي دا زنانه به د هغه بغايا نه وه چه د هغوی عادت دا وو چه ه هغوی به د خپل کور په دروازو باندې د علامت په طور جهنډې ښخولې د دې دپاره چه هغه علامت ته کتلو سره چه هغوی ته تلل غواړی لاړ شي. ﴿فلما بعث الله محمدا صلى الله تعالى عليه وسلم ﴾رسول الله ﷺ د خپل بعثت نه پس د نکاح دا ټول قسمونه ختم کړل سوا د اهل اسلام د نکاح نه کومه چه اوس کيږي. فالحمد لله الذى هدانا للاسلام واعزنا ببعثة النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

والحديث اخرجه ايضا البخاري والدارقطني. (تكملة المنهل)

بَابُ الْوَلَدِ لِلْفِرَاشِ

باب: بچې به د صاحب فراش وی (يعنى چه دچا ښځه يا وينځه وی بچې به هغه ته ملاويږی)

دا د اسلام بنيادي قاعده او ضابطه ده د ثبوت نسب په سلسله کښ، د جاهليت په زمانه کښې زنا په کثرت سره رائج وه نه هغوی دا حرام ګنړله نه د عيب څه خبره، زاني به ښکاره وئيل چه د فلانئ زنانه که بچې اوشو نو هغه به زما وی او هغه خلقو به د ولد الزنا نسب د زانی نه باقاعده تسليم کولو او هغه به ئې د هغه پلار منلو. اسلام د جاهليت دې طريقې ته باطله اووې او د خپو لاندې ئې کړه او رسول الله ﷺ ته ئې صفا اوفرمائيل ﴿الولد للفراش وللعاهر الحجر ﴾.

شرح حديث:

په زنانه باندې د فراش اطلاق کولې شي برابره خبره ده که د هغه زوجه وی يا امة موطؤة وی، مطلب دا دې چه کله د يو سړی دپاره زوجه يا داسې وينزه وی چه د کومې سره هغه وطی کوی په دې شرط چه هغه زوجه او امة د هغه فراش جوړ شوې وی او بيا د وطی نه پس د امکان ولد په موده کښې چه کم از کم شپږ مياشتې دې د هغې ماشوم پيدا شی نو د هغه ماشوم نسب صاحب فراش نه ثابت وی برابره خبره ده که هغه ماشوم په خپلو والدينو کښې د يو د شکل او صورت سره مشابه وی يا نه وی، اوس پاتې شوه دا خبره چه زنانه ته د سړی فراش کله وئيلې شی دا تفصيل غواړی، مونږ په شروع کښې وئيلې وو چه د فراش نه مراد يا زوجه ده يا امة موطؤة ده، پس د زوجه د فراشيت تحقق خو د نفس عقد سره کيږی د احنافو او جمهورو په عقد سره کيږی په شرط د امکان الوطی والا فلا. او د احنافو په نزد امکان وطی شرط نه دې، د نکاح نه روستو د زوجين ترمينځه د مشرق او مغرب هم که فرق وی او بيا د امکان موده يعنی د نکاح نه شپږ مياشتې پس ولادت ولد وی نو نسب به ئې ثابت شی، او د جمهورو په نزد به بغير د شرط مذکور نه وی، واما فراشية الامة، پس د جمهورو په نزد هغه ثابتيږی په نفس وطی سره، يعنى وطی مولی، او د احنافو په نزد نفس وطی سره نه دې بلکه پس د ولادة الولد والحاقه به يعنى د هغه مولی د وطی کولو نه پس چه کله ماشوم پيدا شی او هغه د هغه په باره کښې اقرار اوکړی چه دا زما ماشوم دې، د دې

دواړو ښځو د مجموعې نه پس د وينزې فراشيت ثابتيږي.

د فراش قسمونه

د زيات تفصيل دپاره ځان پوهه کړه چه فقهاء کرامو د فراش درې قسمونه ليکلي دي، قوی، متوسط او ضعيف. د اول مصداق زوجه منکوحه ده، منکوحه فراش قوی دې، په منکوحه کښې که ماشوم مدة امکان ولد کښې پيدا شوې وی نو پخپله د هغه نسب ثابتيږي او د ادعاء زوج هم حاجت نشته بلکه په نفي سره هم نه منتفي کيږي. مګر دا چه لعان ته حاجت راشي نو بيا به نسب د پلار نه منتفي شي، دويم د فراش متوسط مصداق ام ولد دې چه يو ځل د امة موطؤة نه ماشوم پيدا شو او مولی د دې اقرار هم اوکړو نو دا وينزه د هغه ام ولد شوه اوس که دوباره د هغې ولادت اوشي نو د هغه ماشوم نسب بغير د اقرار نه ثابتيږي خو د نفي کولو نه بغير به لعان منتفي شي، دريم قسم د فراش ضعيف مصداق امة مملوکة موطؤة ده، د چا چه اول ځل ماشوم پيدا کيږي، دلته د ثبوت نسب دپاره د مولی اقرار ضروری دی او په نفي سره منتفي کيږي.

[۲۲۷۳](۱) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، اخْتَصَمَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ وَعَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ابْنِ أَمَةِ زَمْعَةَ، فَقَالَ سَعْدٌ: أَوْصَانِي أَخِي عُتْبَةُ إِذَا قَدِمْتُ مَكَّةَ أَنْ أَنْظُرَ إِلَى ابْنِ أَمَةِ زَمْعَةَ فَأَقْبِضَهُ، فَإِنَّهُ ابْنُهُ، وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِي ابْنُ أَمَةِ أَبِي وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِي، فَرَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَبَهًا بَيِّنًا بِعُتْبَةَ، فَقَالَ: "الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ، وَاحْتَجِبِي عَنْهُ يَا سَوْدَةُ". زَادَ مُسَدَّدٌ فِي حَدِيثِهِ، وَقَالَ: "هُوَ أَخُوكَ يَا عَبْدُ".

ترجمه: دعروه نه روايت فرمائی چه دنبی عليه السلام بی بی عائشه رضي الله عنها راته فرمائيلی دي چه سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه او عبد بن زمعه دزمعه دځوي په سلسله کښې په جګړه اخته وو سعد اووئيل چه زما ورور عتبه وصيت کړې وو چه زه کله مکې ته راشم نودې وينځې بچې به بوځم ځکه چه دا زماځوې دې عبد بن زمعه اووئيل دا زما ورور دې زمادپلار دوينځې نه پيداشوې دې نبی عليه السلام چه کله هلك ته وکتل نوهغه په قطعي طورسره دعتبه هم شکل وو نبی عليه السلام اوفرمائيل ماشوم دبستري والاحق دې (يعنی نسبت به ئې دښځې خپل خاوند ته کيږي اودزناکا ردپاره کانړې دې، اونبی عليه السلام بيا اوفرمائيل اې سودة رضي الله عنها ته ددې ماشوم نه پرده کوه، مسدد دا اضافه کړې ده چه نبی عليه السلام فرمائيلي دی اې عبد بن زمعه دا ستا ورور دې.

شرح حديث:

د دې حديث عائشه شرح او مضمون دا دې چه زمعه کومه چه د سيده سودة ام المومنين رضي الله عنها والد وو چه د هغه اسلام هم ثابت نه دې د هغه يوه وينزه وه چه د هغه سره د سيدنا سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه کافر رور عتبه بن ابی وقاص زنا کړې وه، بيا د فتح مکه په کال باندې سعد بن ابی وقاص مکه مکرمه کښې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض

(۱): صحيح البخاري/البيوع ۳(۲۰۵۳)، ۱۰۰(۲۲۱۸)، الخصومات ٦(۲٤۲۱)، العتق ۸(۲۷٤٥)، الوصايا ٤(۲۷٤٥)، المغازي ٥۳(٤۳۰۳)، الفرائض ۱۸(٤٧٤٩)، ۲۸(٦٧٦٥)، الحدود ۲۳(٦٨۱۷)، الأحکام ۲۹(٧۱۸۲)، صحيح مسلم/الرضاع ۱۰(۱٤٥٧)، سنن النسائي/الطلاق ٤٩(۳٥۱٧)، سنن ابن ماجه/النکاح ٥٩(۲۰۰٤)، (تحفة الأشراف: ۱٦٤۳٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الأقضية ۲۱(۲۰)، مسند احمد (٦/۱۲٩، ۲٧۳)، سنن الدارمي/النکاح ٤۱(۲۲۸۱) (صحيح)

ئې اوکړو چه ماته زما رور عتبه وصيت کړې وو چه کله زه مکې ته راشم نو د زمعه د وينزې چه کوم ځوئې دې هغه واخلم او قبضه پرې اوکړم ځکه چه هغه زما ځوئې دې، مقصد د هغه رسول الله ﷺ ته دا عرض کول وو چه د زمعه د وينزې ځوئې دې هغه ته ورکړې شي، بل طرف ته د سيده سوده رضي الله عنها رور عبد بن زمعه اودريدلو هغه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه دا ماشوم خو زما رور دې زما د پلار د وينزې نه پيدا شوې دې، وړاندې په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ هغه ماشوم ښکاره د عتبه سره مشابه بيا موندلو يعنی د زانی سره مشابه، خو د دې باوجود رسول الله ﷺ د دې مقدمې فيصله دا اوکړه ﴿الولد للفراش وللعاهر الحجر﴾ د فراش نه مراد صاحب فراش چه د مصداق ئې په دې واقعه کښې زمعه دې او د عبد بن زمعه رور لکه چه هغه وئيل چه زما رور دې، خو د دې قانون مطابق د فيصلې نه پس هم رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿احتجبی من يا سودة﴾ په ضابطه کښې خو هغه هلک د سيده سودة رور وو خو د مشاهدې د رعاية او د ظاهری صورة او احتياط په بناء رسول الله ﷺ سيده سودة ته دا اوفرمائيل چه ته د دې هلک نه پرده کوه، د دې نه په اسلام کښې د پردې چه کوم اهميت په نظر راځی هغه ظاهر دې. ﴿زاد المسدد فی حديثه فقال هو اخوک يا عبد﴾ هغه د عبد بن زمعه نه د هغه هلک په باره کښې اوفرمائيل لاړ شه هغه ستا رور دې.

والحديث اخرجه ايضا الشافعي وباقی الجماعة الا الترمذی. (تکملة المنهل)

دا چه په حديث کښې راځی ﴿وللعاهر الحجر﴾ يعنی د زانی دپاره کانړې دی بعضو دا خيال اوکړو چه د دې نه مراد د رسول الله ﷺ رجم دې خو دا صحيح نه ده ځکه چه هر زانی د رجم مستحق نه وی بلکه دا کنايه ده د ناکامۍ او محروميتيا نه، لکه چه په محاوره کښې وئيلې شي چه د فلانی دپاره خاورې.

[٢٢٧٤](¹)حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حُسَيْنٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ فُلَانًا ابْنِي عَاهَرْتُ بِأُمِّهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا دِعْوَةَ فِي الْإِسْلَامِ، ذَهَبَ أَمْرُ الْجَاهِلِيَّةِ، الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ".

ترجمه. عمرو بن شعيب دخپل پلارنه اوهغه دده دنيکه نه روايت کوی فرمائيل ئې چه يوسړې پاڅيدو او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله فلانې زماځوې دې ما دجاهليت په زمانه کښې دده دمور سره زنا کړې ده نبی ﷺ اوفرمائيل اوس په اسلام کښې داخليدونه پس ته په دې هلك دعوې نه شی کولې دجاهليت ددور رسم اوس مات شوې دې اوهلك دصاحب فراش (يعنی دښځې دخاوند يادمالك) دې اودزناکار دپاره کانړې دې.

[٢٢٧٥](²)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُونٍ أَبُو يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ سَعْدٍ مَوْلَى الْحَسَنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ، عَنْ رَبَاحٍ، قَالَ: "زَوَّجَنِي أَهْلِي أَمَةً لَهُمْ رُومِيَّةً فَوَقَعْتُ عَلَيْهَا فَوَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ مِثْلِي فَسَمَّيْتُهُ عَبْدَ اللَّهِ، ثُمَّ وَقَعْتُ عَلَيْهَا فَوَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ مِثْلِي فَسَمَّيْتُهُ عُبَيْدَ اللَّهِ، ثُمَّ طَبِنَ لَهَا غُلَامٌ لِأَهْلِي رُومِيٌّ، يُقَالُ لَهُ: يُوحَنَّهُ، فَرَاطَنَهَا بِلِسَانِهِ فَوَلَدَتْ غُلَامًا كَأَنَّهُ وَزَغَةٌ مِنَ الْوَزَغَاتِ،

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٨/٢، ٢٠٧) (حسن صحيح)
²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٨٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٩/١، ٦٥، ٦٩) (ضعيف)

فَقُلْتُ لَهَا: مَا هَذَا؟ فَقَالَتْ: هَذَا يُوحَنَّهْ، فَرَفَعْنَا إِلَى عُثْمَانَ، أَحْسِبُهُ قَالَ: مَهْدِيٌّ، قَالَ: فَسَأَلَهُمَا فَاعْتَرَفَا، فَقَالَ لَهُمَا: أَتَرْضَيَانِ أَنْ أَقْضِيَ بَيْنَكُمَا بِقَضَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ الْوَلَدَ لِلْفِرَاشِ، وَأَحْسِبُهُ قَالَ: فَجَلَدَهَا، وَجَلَدَهُ وَكَانَا مَمْلُوكَيْنِ".

ترجمه: د رباح رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه زما خاندان زمانکاح د يوې رومي وينځې سره اوکړه ماورسره. صحبت وکړو بيا دهغې زماپه شان يوتور رنګې ځوي پيداشو مادهغه دپاره عبدالله نوم تجويز کړو ماورسره بياصحبت وکړو دهغې زماپه شان يوتور رنګې ځوي بل پيداشو مادهغه دپاره عبيدالله نوم تجويز کړو. بيا زمونږ دخاندان يورومي غلام وو چه نوم ئې يوحنا ووهغه به ورته په رومي ژبه کښې خبرې کولې اودې ددې يوتك سوربګوره بچي پيداشوما ورته اووئيل دا څه دې هغې اووئيل دا د يوحنادې نومونږ دا مقدمه عثمان ته پيش کړه هغه غلام او وينځه راوغوښتل او تپوس ئې ترې اوکړوهغوی اقرار اوکړو او بيائې دواړوته اووئيل آيا ستاسو خوښه ده چه د محمدرسول الله دفيصلې په شان فيصله ستاسو دپاره اوکړم؟ داچه بچي د صاحب فراش حق دې، راوی وائي زماخيال دې چه بياعثمان نه غلام او وينځه دواړه په کوړو اووهل.

مضمون حديث:

د رباح نه روايت دې (دا رباح څوک دې د چا ځوئې دې معلومه نه ده. في التقريب، مجهول) هغه وائي چه زما د کور خلقو د يوې رومي وينزې سره زما واده اوکړو، زما صحبت سره د هغې نه زما په شان يو تور هلک پيدا شو، څه موده پس بل هلک پيدا شو. (دواړه هلکان زما په شان تور وو) ﴿ثم طبن لها غلام لاهلي رومي﴾ بيا داسې اوشوه چه زمونږ د کور خلقو سره يو رومي غلام هم وو چه د هغه نوم يوحنا وو، هغه زما ښځه (امة رومية) اولمسوله او هغه ئې خرابه کړه او هغې سره ئې په خپله ژبه کښې خبرې اوکړې، پس څه موده پس يو ماشوم پيدا شو چه په رنګ کښې د ګرګټ په شان وو يعنې سپين، چه کله ما هغه اوليدو نو د خپلې ښځې نه ئې تپوس اوکړو چه دا څنګه دې، نو هغه اووې چه دا د يوحنا دې، بيا زمونږ دا مسئله د سيدنا عثمان رضي الله عنه دربار ته يوړلې شوه، هغه دا دواړه يعنې رومي او روميه نه تپوس اوکړو، هغوی دواړو د زنا اعتراف اوکړو، وړاندې په روايت کښې دی چه بيا هغه د ﴿الولد للفراش﴾ د قاعدې د لاندې فيصله اوکړه او هغوی دواړو ته ئې کوړې ورکړې حدا او هغوی ئې رجم نه کړل ځکه چه هغوی دواړه مملوک وو. (لهذا غير محصن شو هم په دې وجه ئې رجم نه کړو)

په روايت کښې مذکور دی ﴿فراطنها بلسانه﴾ رطانة وئيلې شی اصطلاحي خبره کولو لره اشارات او کنايات کښې چه په هغې باندې هر سړې پوهه نه شي، ويطلق على لسان العجم، او عجميان خو دا دواړه وو چه هغه رومي وو.

پورته په روايت کښې وو ﴿احسبه قال مهدی قال فسالهما﴾ په دې عبارت کښې مصنف خپله تردد ظاهروی چه د دې تعلق صرف د ﴿قال فسالهما﴾ سره دې، مصنف فرمائي چه زما ګمان دا دې چه زما استاد موسی بن اسماعيل دا وئيلې وو چه زما استاذ مهدی بن

میمون په وخت د روایت په دې روایت کښې ﴿قال فسالهما﴾ هم ذکر کړې وو.
والحدیث اخرجه ایضا احمد (تکملة المنهل)

بَاب مَنْ أَحَقُّ بِالْوَلَدِ

د ماشوم د پرورش حقدار څوک دې؟

د دې باب تعلق د مسئله حضانة سره دې، د دې نه مخکښې د دې سلسله یو بل باب تیر شو اذا سلم احد الابوین لمن یکون الولد؟ هغه دې هم اوکتلې شي.

مسئلة حضانة کښې ائمه مذاهب:

د حضانت تعلق صبی غیر ممیز سره وی، یعنی که په زوجین کښې کوم چه د ماشوم ابوین دی د څه وجې نه جدائی راشي نو اوس هغه صبی د چا په پالنه کښې وی؟ په دې باندې د ائمه اربعه اتفاق دې ﴿الام احق بالولد من الاب ما لم تنکح﴾ یعنی واره، د ماشوم د حضانت استحقاق پلار ته نشته بلکه مور ته دې چه ترڅو پورې هغه دویمه نکاح اونکړی، خو اوس وراندې د مسئلې په تفصیل کښې اختلاف دې، پس د احنافو په نزد حق حضانت د مور دپاره دې غلام یعنی هلک کښې الی سن التمییز او د هغې نه روستو بیا د پلار دپاره دې، او په جینۍ کښې د بلوغ د حده پورې حق حضانت د مور دپاره دې وبعده للاب او د امام شافعی رحمه الله په نزد غلام او بنت دواړه کښې سن تمییز پورې د مور دپاره دې ثم التخییر یعنی سن تمییز ته رسیدو نه پس غلام او بنت دواړو ته اختیار وی د والدینو نه چه چا سره اوسیدل غواړی، او د امام احمد په نزد کما فی کتبهم، په غلام کښې خو هم داسې دی یعنی د سن تمییز نه روستو تخییر او بنت کښې د مور دپاره د سن تمییز پورې او د هغې نه روستو د پلار دپاره ولا تخییر او د امام مالک مسلک دا دې چه په جاریه کښې حق حضانت د مور دپاره دې اگر چه بالغ شی چه ترڅو پورې نکاح اونکړی، او په غلام کښې د مور دپاره حق حضانة د هغه د بلوغ پورې، قاله الخطابی، او د مالکیانو بعض کتب الرسالة لابن ابی زید، کښې داسې دې چه د هلک دپاره حق حضانت د مور دپاره دې د دې د بلوغ پورې، او د جینۍ دپاره د نکاح نه پس د هغه د دخول پورې دې.[1]

[۲۲۷۶](٢)حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ السُّلَمِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو يَعْنِي الْأَوْزَاعِيَّ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ ابْنِي هَذَا كَانَ بَطْنِي لَهُ وِعَاءً، وَثَدْيِي لَهُ سِقَاءً، وَحِجْرِي لَهُ حِوَاءً، وَإِنَّ أَبَاهُ طَلَّقَنِي وَأَرَادَ أَنْ يَنْتَزِعَهُ مِنِّي، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ مَا لَمْ تَنْكِحِي".

ترجمه: عمرو بن شعیب دخپل پلار نه اوهغه دده دنیکه عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت کوی چه یوې ښځې عرض اوکړو اې دالله رسوله دازمابچې دې زماخیټه دده دپاره لوخي دي

[1] بیا د هغې نه روستو تفصیل دا دې چه د مور نه پس درجه د نیا ده د هغې نه روستو د مور د نیا (د پلار د طرف نه) بیا خالة المحضون، بیا خالة ام المحضون، بیا نیا، د هغې نه روستو د پلار درجه ده.
[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۷٤۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۲/۲، ۲۰۳) (حسن)

اوزماسینه دده دځکلو دپاره ده اوزماغیږه دده داوسیدو ځائي دي وس ماته دده پلار طلاق راکړي دي او غواړي چه دابچي زمانه واخلي نبي ﷺ اوفرمائيل ته ددي ماشوم حقداره ئې ترڅوچه دي دبل چاسره نکاح نه وي کړي.

توضيح الحديث

يوه زنانه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې اوکړو دا زما ځوئي دي چه د هغې دپاره زما خيټه د يوې مودې پورې ظرف جوړ شوې وو او زما سينه د هغې دپاره مشک وو او زما غيږ د هغه دپاره د حفاظت ذريعه وه، د هغه پلار زماته طلاق راکړو او هغه زما نه اخستل غواړي، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه هم ته د هغه زياته حقداره ئې چه ترڅو پورې بله نکاح اونکړې.

مسئله حضانت او په هغې کښې د ائمه کرامو مذاهب پورته تيرشو، د دې حديث نه معلوميږي چه د مور حق په حضانت تزوج سره ساقط کيږي، د ائمه اربعه مذهب هم دا دې خلافا للحسن البصرى ورواية لاحمد وابن حزم، بيا دويم اختلاف دلته دا دې چه د شوافعو په نزد دا تزوج چه هغې سره حق حضانت ساقط کيږي مطلق دې او د احنافو په نزد د دې نه مراد تزوج بالاجنبى دې او هم دا مذهب د مالکيانو او حنابله دې، كما فى كتبهم. او که زنانه نکاح د داسې سړي سره اوکړه کوم چه د ولد محضون ذى رحم محرم وى نو بيا حق حضانت نه ساقط کيږي، د هر يو دليل په بذل المجهود کښې مذکور دى، فارجع اليه لو شئت. والحديث اخرجه ايضا احمد والبيهقى، والحاكم وصححه والدارقطنى. (تكملة المنهل)

[۲۲۷۷]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، وَأَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي زِيَادٌ، عَنْ هِلَالِ بْنِ أُسَامَةَ، أَنَّ أَبَا مَيْمُونَةَ سَلْمَى مَوْلًى مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ رَجُلَ صِدْقٍ، قَالَ: بَيْنَمَا أَنَا جَالِسٌ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَارِسِيَّةٌ مَعَهَا ابْنٌ لَهَا فَادَّعَيَاهُ وَقَدْ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا، فَقَالَتْ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، وَرَطَنَتْ لَهُ بِالْفَارِسِيَّةِ، زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي، فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: اسْتَهِمَا عَلَيْهِ، وَرَطَنَ لَهَا بِذَلِكَ، فَجَاءَ زَوْجُهَا، فَقَالَ: مَنْ يُحَاقُّنِي فِي وَلَدِي؟ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: اللَّهُمَّ إِنِّي لَا أَقُولُ هَذَا إِلَّا أَنِّي سَمِعْتُ امْرَأَةً جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا قَاعِدٌ عِنْدَهُ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ سَقَانِي مِنْ بِئْرِ أَبِي عِنَبَةَ وَقَدْ نَفَعَنِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اسْتَهِمَا عَلَيْهِ". فَقَالَ زَوْجُهَا: مَنْ يُحَاقُّنِي فِي وَلَدِي؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ، فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ". فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ فَانْطَلَقَتْ بِهِ.

ترجمه: د ابوميمونه (څوك چه داهل مدينه ازاد کړې شوې غلام او يوريښتونې کس وو) نه روايت دې فرمائي چه زه دابوهريره رضي الله عنه سره ناست وم په دې موقعه کښې دفارس اوسيدونکې يوه ښځه راغله اوددې ښځې سره يوهلك وو او دهغې خاوند هغې ته طلاق ورکړې وو اوهغې داغوښتل چه دا ماشوم ددې سره پاتې شي اوددې ښځې خاوند غوښتل چه هلك دهغه سره وي اوخاوند ورته طلاق ورکړي وو هغې ښځې په فارسئ کښې اووئيل اې ابوهريره زما خاوند غواړي چه زمانه زما بچې واخلي ابوهريره يه اوفرمائيل تاسو دواړه

[۱]: سنن الترمذي/الأحكام ۲۱ (۱۳۵۷)، سنن النسائي/الطلاق ۵۲ (۳۵۲٦)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲۲ (۲۳۵۱)، (تحفة الأشراف: ۱۵٤٦۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/٤٤۷)، سنن الدارمي/الطلاق ۱۵ (۲۳۳۹) (صحيح)

قرع اندازي اوکړه اوښځه ئې په فارسی ژبه کښې پوهه کړه، بیاددې ښځې خاوند راغې او عرض ئې اوکړو چه زما د ځوی په باره کښې زماسره څوك جګړه کوی ابوهریره رضي الله عنه اوفرمائیل په الله قسم دا خو زه ځکه نه وایم چه یوه زنانه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوې وه او زه ورسره ناست وم چه هغې عرض اوکړو اې دالله رسوله زما خاوند غواړي چه زمانه زما بچې واخلی اوحال دادې چه هغه ماشوم به ماته دابوعتبه دکوهی نه اوبه راوړلې اوماته به ئې فائدې رسولې نبی ﷺ اوفرمائیل تاسو دواړه قرعه اندازي اوکړئ په دې وخت کښې خاوند اووئیل چه زماسره زمادجې په باره کښې څوك جګړه کوي نبی ﷺ ماشوم ته اوفرمائیل دا ستا پلاردې اوداستامورده تاته اختیاردې چه دچا لاس نیسې نو ونیسه نو هغه دخپلې مور لاس اونیوو اوهغې ښځې ماشوم دځان سره بوتلو.

مضمون حدیث:

مضمون حدیث دا دې، ابو میمونه وائی چه زه یوه ورځ د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه سره وو، هغه ته یوه فارسی زنانه راغله چه هغې سره د هغې ځوئې وو، او هغه زنانه ته د هغه زوج طلاق ورکړې وو، هه زنانه ابوهریره رضي الله عنه ته په فارسئ ژبه کښې اوئیل چه زما خاوند زما ځوئې اخستل غواړی، په دې باندې ابوهریره رضي الله عنه هغه ته په فارسئ ژبه کښې اوفرمائیل چه قرعه اندازی اوکړه، هم په دې دوران کښې د هغه خاوند هم راغلو او وې وئیل: ﴿من یحاقنی فی ولدی﴾ چه څوک زما د ځوئې په باره کښې د حق دعوی کوی په دې باندې ابوهریره رضي الله عنه اوفرمائیل چه زه چه کومه د قرعه اندازی فیصله کوم د خپل طرف نه نه دې بلکه هم د دې په شان واقعه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې پیښه شوې وه، په دې باندې رسول الله ﷺ هم استهام یعنی د قرعه اندازئ فیصله فرمائیلې وه خو رسول الله ﷺ د فیصلې باوجود د هغه زنانه خاوند هم وئیلې وو ﴿من یحاقنی فی ولدی﴾، د دې نه پس بیا داسې اوشوه چه رسول الله ﷺ هغه هلک ته اختیار ورکړو چه دا ستا مور ناسته ده او دا ستا پلار، په دوی کښې چه دچا لاس نیول غواړې هغه اونیسه، هغه دمورلاس اونیولو، اوهغې ماشوم دځان سره بوتلو.

د حدیث توجیه د احنافو په نزد:

په دې واقعه کښې د رسول الله ﷺ د طرف نه تخییر بیا موندلې شو چه د هغې امام شافعی رحمه الله خو مطلقا قائل دې او امام احمد رحمه الله صرف په غلام کښې، او بهرحال د احنافو خلاف دې ځکه چه هغه د تخییر قائل نه دې، د دې جواب زمونږ د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه د تخیر مسئله په صبی ممیز کښې ده، او دلته په دې قصه کښې هغه ماشوم صبی نه وو بلکه کبیر وو ځکه چه په روایت کښې دی ﴿وقد سقانی من بئرا ابی عنبة وقد نفعنی﴾ بئر ابی عنبة به معلومه نه ده چه څومره لرې وی (1) د کوم ځائې نه په چه دې ماشوم اوبه راوړلې د بالغ کیدو نه روستو خو د ټولو په نزد ماشوم ته اختیار وی چه چا سره غواړی اوسیږی دې.

د دې حدیث متعلق یو سوال خو دا دې چه ابوهریره رضي الله عنه په دې معامله کښې صرف

---

(1) في بعض الحواشي بئر ابي عنبة علي ميل من المدينة ومثله في وفاء الوفاء ج ۲ ص ۹۷۷)

د استهام (قرعه اندازي) فیصله اوکړه او د دې په دلیل کښې چه کوم حدیث هغه ذکر کړو په هغې کښې د استهام نه روستو آخری فیصله خپله د رسول الله ﷺ د تخییر ده نو په دواړو فیصلو کښې موافقت پاتې نه شو، د دې جواب حضرت په بذل کښې دا ورکړې دې چه د ابوداود په حدیث کښې اختصار دې د علامه زیلعی د کلام نه معلومیږی چه د ابوهریره رضی الله عنه په حدیث کښې هم د تخییر ذکر دې، کما فی روایة ابن حبان.

بل سوال دا کیدې شی چه که اصل حکم دلته د تخییر وو نو بیا هغه په شروع کښې د استهام حکم ولې فرمائیلي وو؟ د دې جواب دا کیدې شی چه د استهام مشوره هغه د اصلاح ذات البین په طور ورکړې وه، والله تعالی اعلم.

[۲۲۷۸] ( ) حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ عُجَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: خَرَجَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ إِلَى مَكَّةَ فَقَدِمَ بِابْنَةِ حَمْزَةَ، فَقَالَ جَعْفَرٌ: أَنَا آخُذُهَا، أَنَا أَحَقُّ بِهَا ابْنَةُ عَمِّي وَعِنْدِي خَالَتُهَا وَإِنَّمَا الْخَالَةُ أُمٌّ، فَقَالَ عَلِيٌّ: أَنَا أَحَقُّ بِهَا ابْنَةُ عَمِّي وَعِنْدِي ابْنَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ أَحَقُّ بِهَا، فَقَالَ زَيْدٌ: أَنَا أَحَقُّ بِهَا أَنَا خَرَجْتُ إِلَيْهَا وَسَافَرْتُ وَقَدِمْتُ بِهَا، فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ حَدِيثًا، قَالَ: "وَأَمَّا الْجَارِيَةُ، فَأَقْضِي بِهَا لِجَعْفَرٍ تَكُونُ مَعَ خَالَتِهَا وَإِنَّمَا الْخَالَةُ أُمٌّ".

ترجمه: دعلی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زید بن حارثه نیند مکې ته لاړو اود مکې نه ئې دحمزه لور دځان سره راوستله، جعفر بن ابی طالب اووئیل چه دا ماشومه به زه اخلم ددې حقدار زه یم دازما د تره لور ده او زما په کور کښې ددې ترور ده اوترور دمور په شان وي بیا علی رضی الله عنه اوفرمائیل ددې ماشوې زه زیات حقداریم ځکه چه دا زما د تره لور ده او زما په کور کښې دنبی ﷺ لور ده هغه ددې ماشومې زیاته حقداره ده زید اووئیل چه ددې ماشوې زه زیات حقدار یم ځکه چه زه مکې ته لاړم اوسفر مې اوکړو او دامې راوستله بیانبی ﷺ بهر راووتلو نو علی رضی الله عنه ورته ددې ذکر اوکړو نو نبی ﷺ فرمائیل چه دا ماشومه به دخپلې ترور په پرورش کښې دجعفر په کور کښې اوسیږي ځکه چه ترور دمور په شان وي اودمور نه پس ترور زیاته حقداره وی.

تشریح: والحدیث اخرجه ایضا احمد والنسائی والبیهقی، واخرجه مختصرا الشافعی والترمذی (تکملة المنهل) وزاد المنذی ابن ماجة.

شرح حدیث

د اختصام (جګړه) جعفر وعلی واقعه د سیدنا حمزه رضی الله عنه د لور په باره کښې په عمرة القضاء ۷ هجری کښې پیښه شوې وه، پس په صحیح بخاری کتاب المغازی کښې دننه د باب عمرة القضاء په ضمن کښې دا واقعه په روایت د سیدنا براء رضی الله عنه ذکر ده، د حدیث مضمون دا دې چه سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی چه سیدنا زید بن حارثه رضی الله عنه مکې مکرمې ته لاړو او د هغه ځائې نه ئې د سیدنا حمزه رضی الله عنه لور راوستله په دې کښې اختصار دې په دې وجه د کوم ځائې نه لاړو هغه په روایت مفصله کښې ذکر دې هغه دا چه د رسول الله ﷺ دا قافله د عمرة

( ) تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۲۴۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۸/۱، ۱۱۵) (صحیح)

القضاء نه فارغ کیدو سره او د مکې مکرمې نه د خروج نه پس د مراء الظهران یا بطن یا حج نه راتلو سره راکوز شوې وو بیا د هغه ځائي د څه ضرورت په وجه باندې نظر زید بن حارثه مکه مکرمه ته راغلو(١) په شرح کښې لیکلې دی چه سیدنا زید د سیدنا حمزه وصی هم وو، الغرض چه کله ئې هغه راوستله نو د هغه جینۍ په باره کښې اختلاف شو، سیدنا جعفر رضی الله عنه اوفرمائیل چه دا جینۍ به زه اخلم زه ئې زیات حقدار یم ځکه چه زما د تره لور ده، او دویمه وجه دا ده چه د هغې خاله زما په نکاح کښې ده او خاله په منزله د مور وی، بیا علی رضی الله عنه اودریدو او هغه اوفرمائیل چه د دې زیات حقدار زه یم، یو خو په دې وجه چه زما د تره لور ده، دویم په دې وجه زما په نکاح کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور ده، او خپله زید بن حارثه رضی الله عنه اووې چه د دې زیات مستحق زه یم ځکه چه دا ما د مکې مکرمې نه راوستلې ده.

ځان پوهه کړئ چه دا اختلاف د دې حضراتو خپل مینځ کښې وو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې لا نه وو پیش شوې. فخرج النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فذکر حدیثا قال واما الجاریة فاقضی بها لجعفر یکون مع خالتها وانما الخالة ام.

راوی وائی چه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې موقف نه روان شو، مصنف فرمائی چه وړاندې علی رضی الله عنه د دې سفر په باره کښې اخره پورې ذکر اوکړو (او مدینې ته د رسیدو نه پس چه کله د هغه په خدمت کښې دا مسئله پیش کړې شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فیصله اوفرمائیله) چه د دې جینۍ فیصله یعنی د هغې د حضانت فیصله زه د جعفر رضی الله عنه دپاره کوم چه د خپلې ترور سره اوسیږی او ترور خو په منزله د مور وی.

والحدیث اخرجه البیهقی مختصرا (تکملة المنهل)

[۲۲۷۹] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي فَرْوَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، بِهَذَا الْخَبَرِ وَلَيْسَ بِتَمَامِهِ، قَالَ: "وَقَضَى بِهَا لِجَعْفَرٍ"، وَقَالَ: "إِنَّ خَالَتَهَا عِنْدَهُ".

ترجمه: د عبد الرحمن بن أبی لیلي نه دتیر شوي روایت په شان روایت منقول دې لیکن پوره په پوره نه دې اودا اضافه ئې کړې ده چه نبی علیه السلام دماشومې په سلسله کښې د جعفر په حق کښې فیصله اوکړه او وئې فرمائیل ځکه چه ددې ترورده په نکاح کښې ده راوترور دمور په شان وی).

[۲۲۸۰] (٣) حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى، أَنَّ إِسْمَاعِيلَ بْنَ جَعْفَرٍ حَدَّثَهُمْ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هَانِئٍ، وَهُبَيْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: لَمَّا خَرَجْنَا مِنْ مَكَّةَ تَبِعَتْنَا بِنْتُ حَمْزَةَ تُنَادِي يَا عَمِّ يَا عَمِّ، فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ فَأَخَذَ بِيَدِهَا، وَقَالَ: دُونَكِ بِنْتَ عَمِّكِ فَحَمَلَتْهَا، فَقَصَّ الْخَبَرَ، قَالَ: وَقَالَ جَعْفَرٌ: ابْنَةُ عَمِّي وَخَالَتُهَا تَحْتِي، فَقَضَى بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَالَتِهَا، وَقَالَ: "الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ".

ترجمه: دعلی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی کله چه مونږ دمکې نه ووتو نو دهمزه رضی الله عنه لور په مونږ پسې راپسې شوه او آوازونه ئې راکول چه اې کاکا اې کاکا علی رضی الله عنه دا ماشومه

(١) او کیدې شی چه د هغه جینۍ د راوستلو دپاره تلې وی.

(٢): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۹۷۳، ۱۰۲۲۳) (صحیح)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۰۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۸/۱، ۱۰۸، ۱۱۵) (صحیح)

اوچته کړه او ددې لاس ئې نیولې وو اوفاطمه رضی الله عنها ته ئې حواله کړه او ورته ئې اووئیل دتره لوردې واخله فاطمې رضی الله عنها هغه ماشومه دځان سره کینوله اوباقي روایت ئې دتیر شوي روایت په شان بیان کړو. جعفر رضی الله عنه اووئیل چه دا زما د تره لور ده او ددې ترور زما په نکاح کښې ده نو نبی علیه السلام د ترور په حق کښې فیصله کړې ده چه ترور په منزله د مور ده.

تشریح:﴿عن علی رضی الله تعالی عنه قال لما خرجنا من مكة تبعتنا بنت حمزة تنادی یا عم یا عم الخ﴾

سیدناعلی رضی الله عنه فرمائی چه کله مونږ د مکې نه وتلو نو په مونږ پسې د سیدنا حمزه رضی الله عنه لور([1]) راروانه شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اواز کولو سره یا عم یا عم وئیلو سره، سیدنا علی رضی الله عنه د هغې لاس اونیولو او خپلې بی بی فاطمې رضی الله عنها ته ئې بوتله او وې وئیل واخله د تره لور دې، اصل کښې حضرت حمزه رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم رضاعی رور هم وو په دې وجه هغه د حضرت فاطمه رضی الله عنها رضاعی تره وو.

اشکال او جواب:

دا روایت په ظاهره کښې د روایت سابقه خلاف دې ځکه چه په تیر شوی روایت کښې خو دا ده چه زید بن حارثه هغه د مکې نه راوستله، او په دې روایت کښې دی چه هغه په مونږ پسې شاته راغله، د دې توجیه دا کړې شوې ده چه هغه د مکې نو خو زید بن حارثه رضی الله عنه راوستلې وه خو کله چه هغه دلته په مراء الظهران کښې د خپل غیږ نه کوزه کړه نو د لرې نه ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لیدو باندې د ﴿یا عم یا عم﴾ آواز اوکړو او د هغه طرف ته ئې منډه کړه، او بیا علی رضی الله عنه هغه وقتی طور اوچته کړه او فاطمې رضی الله عنها ته ئې اورسوله او بیا هم په دې حدیث کښې وړاندې دا دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې فیصله د سیدنا جعفر رضی الله عنه دپاره اوکړه ځکه چه د هغه ښځه د جینئ خاله وه.

په دې واقعه کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خاله په باره کښې اوفرمائیل چه هغه د مور په شان ده، زمونږ په نزد په هدایه ۱۴۰/۲ کښې په مسئله د حضانت کښې ترتیب داسې لیکلې شوې دې([2]) چه که مور نه وی نو ام الام اولی دې د ام الاب نه وان بعدت. **لان هذه الولاية تستفاد من قبل الامهات**، بیا وړاندې دا دی چه که ام الام نه وی نو ام الاب به اولی وی د اخوات نه، او د ام الاب نه پس درجه ده د اخوات، اخوات په یو روایت کښې مقدم دی عمات او خالات نه، او په بل روایت کښې دی **الخالة اولى من الاخت لاب لقوله علیه السلام الخالة والدة. اهـ**

والحديث اخرجه ايضا احمد بلفظ تقدم والحاكم وقال: هذا حديث حسن صحيح الاسناد ولم يخرجاه (تكملة النهل)

---

[1]) اختلف في اسمها فقيل عمارة وقيل فاطمة وقيل امامة وقيل امة الله وقيل سلمي، والاول هم المشهور(بذل) دا عبارت حضرت د فتح الباری نه اخستلې دي او په اسد الغابة کښې د عمارة بنت حمزه په ترجمه کښې د واقدی په روایت سره د بنت حمزه دا واقعه ذکر ده، او په هغه روایت کښې د بنت حمزه نوم عماره واقع شوې دې، په دې باندې امام ابن الاثیر جزری د خطیب بغدادی نه نقل کړې دی: انفرد الواقدي بتسمية عمارة في هذا الحديث وسماها غيره امامة وذكر غير واحد من العلماء ان حمزة كان له ابن اسمه عمارة وهو الصواب اهـ)

[2]) قال الحافظ ويوخذ منه ان الخالة في الحضانة مقدمة علي العمة لان صفية بنت عبدالمطلب كانت موجودة حينئذ، واذا قدمت الخالة علي العمة مع كونها اقرب العصبات من النساء فهي مقدمة علي غيرها الي اخر ما ذكر. (تكملة المنهل ۲۹۲/٤)

بَابٌ فِي عِدَّةِ الْمُطَلَّقَةِ
د طلاقې شوې ښځې د عدت بیان

[۲۲۸۱]([1])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ الْبَهْرَانِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ مُهَاجِرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ بْنِ السَّكَنِ الْأَنْصَارِيَّةِ، "أَنَّهَا طُلِّقَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَكُنْ لِلْمُطَلَّقَةِ عِدَّةٌ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ حِينَ طُلِّقَتْ أَسْمَاءُ بِالْعِدَّةِ لِلطَّلَاقِ، فَكَانَتْ أَوَّلَ مَنْ أُنْزِلَتْ فِيهَا الْعِدَّةُ لِلْمُطَلَّقَاتِ".

ترجمه: د اسماء بنت یزید بن سکن انصاریه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائي چه ماته طلاق راکړې شول د نبي علیه السلام په زمانه کښې او په دغه وخت کښې د مطلقې دپاره د عدت تیرولو حکم نه وو نو په دې وخت کښې الله تعالی دا آیت کریمه: ﴿والمطلقات یتربصن﴾ نازل کړو نو اسماء رضی الله عنها هغه اولنۍ زنانه ده د چا په شان کښې چه د عدت طلاق متعلق د آیت کریمه نازل شو.

توضیح الحدیث

د دې روایت حاصل دا دې چه په ابتداء اسلام کښې د مطلقه دپاره عدت نه وو، بیا چه کله د اسماء بنت یزید بن السکن د طلاق واقعه پیښه شوه نو بیا عدت مشروع شو، او د دې په باره کښې آیت کریمه نازل شو، په دې روایت کښې خو د دې آیت کریمه تعیین نشته.

د عدت په باره کښې د ټولو مخکښې ایت:

باقي د دې سلسله د سیاق روایات نه معلومیږي چه هغه اول آیت کریمه دا دې ﴿والمطلقات یتربصن بانفسهن ثلاثة قروء﴾ د عدت په باره کښې دا آیت کریمه بالکل ابتدائي او مجمل دې ځکه چه د ټولو مطلقاتو دا عدت نه دې او هم دغه شان نه د هر مطلقه دپاره عدت دې، هم په دې وجه د مصنف د عدت په باره کښې راروان باب قائم کړو. حضرت په بذل کښې لیکلي دی ولم ار هذا الحدیث لغیر ابی داود. اه په ظاهره مراد دا دې چه په صحاح سته کښې په بل یو کتاب کښې نشته، او په تکمله منهل کښې لیکلي دی، والحدیث اخرجه ایضا البیهقی وابن ابی حاتم وابن کثیر اه خو دا خبره دې واضح وی چه بیهقي دا حدیث د امام ابوداود نه من طریق ابی بکر بن داسه ذکر کړې دې.

بَابٌ فِي نَسْخِ مَا اسْتُثْنِيَ بِهِ مِنْ عِدَّةِ الْمُطَلَّقَاتِ
د طلاقو د عدت په آیت کښې د منسوخ شوي حکم بیان

په تیر باب کښې چه کوم آیت العدة ذکر وو په هغې کښې اطلاق او اجمال دې او د عدت په مسئله کښې د مطلقه زنانو په اعتبار سره تفصیل دې هم د دې د وضاحت دپاره دا باب قائم کړې شوې دې لکه چه پورته مونږ دې طرف ته اشکاره کړې ده.

[۲۲۸۲]([2])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ سورة البقرة آية ۲۲۸، وَقَالَ: وَاللَّائِي

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۷۸) (حسن)
[2]: انظر حديث رقم (۲۱۹۵)، (تحفة الأشراف: ۶۲۵۳) (حسن)

يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ سورة الطلاق آية ۴، فَنُسِخَ مِنْ ذَلِكَ، وَقَالَ: وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ سورة البقرة آية ۲۳۷ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا سورة الأحزاب آية ۴۹.

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه دالله تعالى داقول («والمطلقات يتربصن بأنفسهن ثلاثة قروء») ددي حكم نه هغه زنانه مستثنى شوى دى څوك چه دبيمارئ دراتلونه نا اُميده شوى دى اووئيلې شوى دى كومې زنانه چه دبيمارئ نه نا اُميده شي نودهغې عدت دري مياشتي دي ددې نه مزيد استثنى دا وشوه چه الله تعالى اوفرمائيل او كه چرې تاسو دصحبت نه مخكښې طلاق ورکړې وي نوپه دې ښځه باندې څه قسم عدت تيرول واجب نه دى.

شرح حديث :

په دې روايت كښې عبدالله بن عباس رضي الله عنه د عدت سره متعلق درې قسم آيتونه ذكر فرمائيلي دى اول هغه چه كوم آيتونه مطلق او مجمل دى او د دې نه مخكښې باب كښې تير شوي دي، چه د هغې نه په ظاهره معلوميږي چه د مطلقه عدت ثلاثه قرؤ دې بيا د هغې نه پس ابن عباس د دې سلسله دوه نور آيتونه ذكر اوفرمائيل چه د هغې په ذريعه د آيت اولى تقييدات معلوميږي پس د بل آيت نه معلوميږي [۱] چه دوه مطلقه داسې دى چه د هغوى عدت بالاشهر دې نه بالاقراء، او يوه مطلقه داسې ده يعنى حامله چه د هغې عدت وضع حمل دې لهذا د دې دويم آيت نه د درې قسم مطلقاتو استثناء معلومه شوه د هغې نه روستو بيا ابن عباس دريم آيت ذكر اوفرمائيلو چه د هغې نه يو څلورم قسم مستثنى شو يعنى غير ممسوسه او دا چه په هغه باندې عدت واجب نه دې لهذا اوس د ټولو نه اول آيت د لاندې هغه مطلقه باقي پاتې شوه كومه چه د دې څلورو قسمونو نه علاوه ده يعنى هغه مطلقه چه په هغې كښې څلور صفات موندلې شي، غير آئسه، غير صغيره، غير حامله او ممسوسه.

اوس د مصنف د ترجمة الباب پيش نظر يا خو داسې اوايئ چه د څلور قسم مطلقات د اولنى آيت كريمه نه مستثنى كړې شو او يا داسې اوايه چه آيت اولى د دې څلورو په اعتبار سره منسوخ كړې شو.

د ترجمة الباب د عبارت حل :

خو مصنف چه په ترجمة الباب كښې كوم عبارت اخستلې دې په هغې كښې ئې نسخ او استثناء دواړه اخستلې دى فى نسخ ما استثنى به، حال دا چه د استثناء نسخ نه ده شوې يا ورته صرف نسخ اوايئ يا صرف استثناء، خو يو شارح هم د دې عبارت د حل سره تعرض نه دې كړې كوم چه په ظاهره كښې مشكل دې، اللهم الا ان يقال ان اضافة النسخ الى ما بعده بيانية فالمعنى باب فى بيان ما وقع من النسخ والاستثناء فى عدة بعض المطلقات. والله تعالى اعلم

[۱] دلته په حديث الباب كښې دا ايت پوره مذكور نه دې، د دې آيت كريمه باقي حصه دا ده: واللائي لم يحضن واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن)

بَاب فِي الْمُرَاجَعَةِ
د رجعت د احکامو بیان

د ترجمة الباب غرض :
حضرت په بذل المجهود کښې او هم دغه شان صاحب منهل د ترجمة الباب په شرح کښې ليکلي دی چه مطلب دا دې چه که یو سړې خپلې ښځې ته یو یا دوه طلاقه ورکړې نو په دې صورت کښې هغه رجعت کولې شی ګویا مطلب دا شو چه د درې طلاقو نه پس د رجعت اختیار نه پاتې کیږی خو د دې مضمون باب د کتاب الطلاق په شروع کښې تیر شو لهذا تکرار فی الترجمة نه د بچ کیدو دپاره به دا وئیلې شی چه د مصنف غرض په دې باب سره دا بیانول دی چه د رسول الله ﷺ نه طلاق رجعی یعنی د کوم طلاق نه روستو چه رجعت جائز دې داسې طلاق او بیا رجعت د هغه نه ثابت دې لکه چه په حدیث الباب کښې دی.

[۲۲۸۳](1)حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ الزُّبَيْرِ الْعَسْكَرِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عُمَرَ: "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَّقَ حَفْصَةَ ثُمَّ رَاجَعَهَا".

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه عمر رضی الله عنه اووئیل چه نبی علیه السلام حفصې ته طلاق ورکړل او بیائې ورته رجعت اوکړو.

توضيح الحديث
حضرت په بذل المجهود کښې د شیخ عبدالحق محدث دهلوی د "مدارج النبوة" نه دا مضمون نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ سیده حفصه رضی الله عنها ته یو طلاق ورکړو، چه کله د دې خبر سیدنا عمر رضی الله عنه ته اورسیدو نو هغه په دې سره غمژن شو، پس په هغه باندې وحی راغله چه ﴿راجع حفصة فانها صوامة قوامة وهی زوجتک فی الجنة﴾ بیا وراندې په بذل کښې د مستدرک حاکم نه په روایت د انس رضی الله عنه هم دا مضمون منقول دې.

والحدیث اخرجه ایضا الدارمی. (تکملة المنهل)

بَاب فِي نَفَقَةِ الْمَبْتُوتَةِ
د مطلقه ثلاثه د نفقې بیان

دلته درې مسائل دی :
مبتوتة یعنی مطلقه بائنه دپاره د عدت په زمانه کښې نفقه وی یا نه، مصنف خو په دې باب کښې هم دا مسئله بیانوی او یوه مسئله دلته راغلې دې کوم چه خپله مصنف وراندې تلو سره بیانوی یعنی جواز التحول من بیت العدة یعنی مطلقه بائنه په زمانه عدت بیت العدت نه منتقل کیدې شی یا نه، تردې چه یوه دریمه مسئله هم دې مطلقه معتده دپاره جواز خروج فی النهار للحاجة، دا دریمه مسئله د دې نه پس متصلاً په راتلونکې باب کښې

(1): سنن النسائي/الطلاق ۷۶ (۳۵۹۰)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۱ (۲۰۱۶)، (تحفة الأشراف: ۱۰۴۹۳)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الطلاق ۲ (۲۳۱۰) (صحيح)

راروان دې دا درې واړه مسئلې اختلافی دی اوس دلته په مسئله باندې خان پوهه کړئ چه مطلقه رجعیه دپاره عدت کښې نفقه او سکنی بالاجماع واجب دی لقیام النکاح وجواز الاستمتاع، او د مطلقه بائنه دوه قسمونه دی حامله او غیر حامله، د حامله دپاره دواړه واجب دی بالاجماع لقوله تعالی ﴿ وان کن اولات حمل فانفقوا علیهن حتی یضعن حملهن ﴾ او په غیر حامله کښې اختلاف دې د احنافو په نزد د هغه دپاره نفقه او سکنی دواړه واجب دی، او د امام احمد او ظاهریه په نزد دواړه واجب نه دی، او امام شافعی او امام مالک په نزد صرف سکنی واجب ده نفقه نه ده، په مغنی کښې د امام احمد مسلک دا لیکلې دې چه نفقه خو د هغه دپاره نشته او په سکنی کښې دوه روایتونه دی وجوب او عدم وجوب، د عدم وجوب روایت ظاهر مذهب لیکلې دې او په دلیل کښې ئې د فاطمه بنت قیس حدیث پیش کړې دې چه په هغې کښې د دواړو د نفی تصریح ده.

دا خو شو په مسئله اولی کښې مذاهب ائمه، اوس د هغوی د دلائلو په باره کښې هم څه واورئ.

د امام احمد دلیل :

د امام احمد او ظاهریه دلیل حدیث الباب یعنی فاطمه بنت قیس حدیث دې چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ صفا ارشاد دې ﴿لیس لک علیه نفقة ولا سکنی ﴾خو په مذهب احمد باندې د الله پاک قول ﴿اسکنوهن من حیث سکنتم ﴾سره اشکال واقع کیږی، هغه د دې جواب دا ورکوی چه دا په مطلقه رجعیه باندې محمول دې ځکه چه په آیت کریمه کښې دی ﴿اسکنوهن من حیث سکنتم ﴾چه په کوم ځائې کښې ته اوسیږې هم هغه ځائې کښې هغوی هم اوساته نو دا په اختلاط مطلقه بائنه کښې چرته جائز دې، مطلقه رجعیه کښې کیدې شی، بله دا چه د سکنی فی بیت الزوج یوه فائده دا ده چه په دې کښې رجوع اسانه ده، ولا رجعة فی الطلاق البائن، ففی المغنی، ولان هذه محرمة علیه تحریما لا تزیله الرجعة فلم یکن لها سکنی ولا نفقة، واما الرجعیة فلها السکنی والنفقة للایة الی اخر ما قال، د دې جواب به مونږ ان شاء الله وړاندې کوو.

د مالکیانو او شوافعو دلیل :

او د مالکیانو او شوافعو دلیل وجوب سکنی په باره کښې خو د الله پاک قول ﴿اسکنوهن من حیث سکنتم الایة ﴾دې، او د عدم وجوب نفقه دلیل کښې هغه فرمائی چه د نفقه په باره کښې آیت کریمه د حبلی (حاملې) سره مختص دې، پس پوره آیت کریمه داسې دې ﴿اسکنوهن من حیث سکنتم من وجدکم ولا تضاروهن لتضیقوا علیهن، وان کن اولات حمل فانفقوا علیهن حتی یضعن حملهن ﴾لهذا د مطلقه بائنه دپاره به نفقه نه وی.

د احنافو دلیل :

او د احنافو دلیل د وجوب سکنی په باره کښې خو به هم هغه وی کوم چه د مالکیانو او شوافعو دلیل دې او وجوب نفقه او سکنی د دواړو په باره کښې په آیت مذکوره یعنی

﴿اسكنوهن على قراءة عبدالله بن مسعود رضى الله تعالى عنه اسكنوهن من حيث سكنتم وانفقوا عليهن من وجدكم، واما تخصيص فى قوله تعالى وان كن اولات حمل فانفقوا عليهن، فالجواب انا لا نقول بالمفهوم المخالف، وايضا لو قيل بالتخصيص لوقع التعارض بين القراءتين ﴾هم دغه شان زمونږ دليل د عمر رضی الله عنه قول كوم چه هم په دې كتاب كښې په راروان باب كښې "باب من انكر ذلك على فاطمة"كښې راروان دې، وما كنا لندع كتاب ربنا وسنة نبينا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لقول امراة لا ندرى احفظت ام لا. په دې دليل باندې دا اعتراض كولې شى چه كتاب او سنت كښې سكنى او نفقه هر دواړو ثبوت چرته دې زمونږ د طرف نه دا جواب وركړې شوې دې چه سيدنا عمر رضی الله عنه په دې قول كښې دوه احتمالات دى اول دا چه مراد دا دې چه د دې دواړو مجموعه ثبوت مجموع كتاب وسنت نه دې پس د سكنى ثبوت د كتاب نه دې زمونږ د طرف نه جواب وركړې شوې دې چه د سيدنا عمر رضی الله عنه په دې قول كښې دوه احتمالات دى اول دا چه مراد دا دې چه د دې دواړو د مجموعي ثبوت د كتاب او سنت نه دې پس د سكنى ثبوت د كتاب نه دې دا خو ټول پيژنى، او د نفقې ثبوت د حديث نه دې، او حديث هغه دې كوم چه روايت كړې دې امام طحاوى مطولا بسنده الى عمر رضی الله عنه وفيه سمعت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول : لها السكنى والنفقة، خو د طحاوى په دې روايت باندې حافظ ابن القيم رحمه الله ډير خفه دې، قطعا د دې د منلو دپاره تيار نه دې چه دا صرف د مذهب په نصرت او د هغې دپاره تعصب كښې دې او د حديث هيڅ قسم ثبوت نشته، دا صرف دروغ دى، په بذل المجهود كښې د دې ټولو د نقل كولو نه پس حضرت تحرير فرمائى ﴿قلت وانا متعجب من جراءة الشيخ ابن القيم على رد الحديث المعتبر الثابت الى اخر ما قال فارجع اليه لو شئت ﴾ او بل احتمال دا دې چه د هر يو ثبوت د هر يو نه مراد په دې صورت كښې د كتاب په مصداق كښې سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قراءت پيش كولې شى، او د حديث مصداق كښې هم هغه روايت د كوم چه امام طحاوى رحمه الله تخريج كړې دې.

د فاطمه بنت قيس د حديث تخريج او د هغې مرتبه :

ځان پوهه كړه چه د فاطمه بنت قيس حديث كوم چه امام ابوداود په دې باب كښې متعدد طرق نه ذكر كړې دې چه د هغې متن بعض اجزاء كښې اختلاف هم دې مثلا دا چه هغې ته درې طلاقه يوځائې وركړې شو يا متفرقا د دې باوجود په راروان باب كښې مصنف د دې په رد باندې ډير روايات راجمع كړې دى، پس په راروان باب كښې عنوان دا دې "باب من انكر ذلك على فاطمة"هم دغه شان امام بخارى رحمه الله "باب قصة فاطمة بنت قيس"د ترجمه قائم كولو نه پس د دې تخريج كولو په دې حديث باندې چه كوم ردونه او انكار كړې شوې دې د هغې ذكر فرمائيلې دې، حافظ ابن حجر رحمه الله د ترجمة بخارى د لاندې حديث فاطمه الفاظ نقل كولو نه پس فرمائى ﴿هكذا اخرج مسلم قصتها من طرق قصتها من طرق متعددة عنها ولم ارها فى البخارى وانما ترجم لها كما ترى واورد اشياء من قصتها بطريق الاشارة اليها، ووهم صاحب العمدة فاورد حديثها بطوله فى المتفق ﴾ اهـ د دې نه معلومه شوه چه دا حديث د افراد مسلم نه

دي د دې نه علاوه اصحاب سنن اربعه هم د دې تخريج کړې دې، الحاصل امام بخارۍ دې تخريج کړې دې، زه وايم د صاحب العمدة په شان ابن قدامه په مغنی کښې هم په دې حديث باندې د متفق عليه اطلاق کړې دې او حال دا چه داسې نه ده پس حافظ هم په بلوغ المرام کښې دا حديث اخستلې دې او صرف د مسلم طرف ته ئې هغه منسوب کړې دې، هسې هم په صحيح بخاری کښې دا روايت څنګه کيدې شي او حال دا چه د دې بعض أجزاء کښې اختلاف، هم دغه شان د هغې په خاوند کښې اختلاف لکه چه د ابوداود د روايت نه معلوميږي، هم دغه شان بعض صحابه او صحابيات وغيره په دې باندې سخت انکار، کوم چه خپله امام بخاری هم روايت کړې دې، هم دغه شان ابن قدامه مغنی ۲۸۹/۹ کښې د دې حديث نه مدافعت کولو سره فرمائي واما قول عمر ومن وافقه فقد خالفه علي وابن عباس ومن وافقهما، الى ان قال ولم يصح عن عمر انه قال لا ندع كتاب ربنا وسنة نبينا لقول امراءة فان احمد انكره وقال اما هذا فلا، ولكن قال: لا نقبل في ديننا قول امراءة الى اخر ما ذكر.

فائده : دا مخکښې ډير کرته تير شو چه زمونږ حضرت شيخ رحمه الله فرمائي چه زما په نزد امام ابوداود حنبلی دې په دې وجه هغه د حنابله د دلائلو ډير اهتمام کړې دې وغيره وغيره، او زما خپله رائې هم دا مخکښې تيره شوې ده چه په سنن ابوداود کښې ډير ابواب او د هغې ترتيب د مسلک حنابله خلاف دې پس دلته هم مصنف په خپل باب کښې د فاطمه بنت قيس رضي الله عنها روايت راوړلو نه پس راروان باب د دې خلاف د دې حديث په رد کښې قائم کړې دې. فتامل

[۲۲۸٤]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ مَوْلَى الْأَسْوَدِ بْنِ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ بِشَعِيرٍ فَتَسَخَّطَتْهُ، فَقَالَ: وَاللَّهِ مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ، فَجَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ لَهَا: "لَيْسَ لَكِ عَلَيْهِ نَفَقَةٌ"، وَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ تِلْكَ امْرَأَةٌ يَغْشَاهَا أَصْحَابِي، اعْتَدِّي فِي بَيْتِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ، فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى، تَضَعِينَ ثِيَابَكِ، وَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي"، قَالَتْ: فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَّا أَبُو جَهْمٍ، فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ، وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ، فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ، انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ"، قَالَتْ: فَكَرِهْتُهُ، ثُمَّ قَالَ: "انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ"، فَنَكَحْتُهُ فَجَعَلَ اللَّهُ تَعَالَى فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا وَاغْتَبَطْتُ بِهِ.

ترجمه: د فاطمه بنت قيس رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه عمرو بن حفص ماته درې طلاق راکړل او هغه په دې وخت کښې چرته تلې وو اودې ته ئې خپل وکيل دوربشو سره راولیږلو هغې چه داوربشې وليدلې نو په دې خفه شوه وکيل اووئيل په الله قسم په مونږ ضروري نه وو چه تاته موځه درکړې وې فاطمه بنت قيس رضي الله عنها نبی عليه السلام ته راغله اوعرض ئې ورته اوکړو نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل يقينا ستاخر چه په ده باندې نشته دې اونبی عليه السلام ورته حکم اوکړو

[1]: صحيح مسلم/الطلاق ٦ (١٤٨٠)، سنن النسائي/النكاح ٨ (٣٢٢٤)، الطلاق ٧٣ (٣٥٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٣٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/النكاح ٣٧ (١١٣٥)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٠ (١٨٦٩) الطلاق ٤ (٢٠٢٤)، ٩ (٢٠٣٢)، ١٠ (٢٠٣٥)، موطا امام مالك/الطلاق ٢٣ (٦٧)، مسند احمد (٦/٤١٢، ٤١٣، ٤١٤، ٤١٥)، سنن الدارمي/النكاح ٧ (٢٢٢٣) (صحيح)

چه دام شریك په كور كښې عدت تیركړه بیا ورته نبي ﷺ اوفرمائیل ددغه زنانه كور ته صحابه كرام ډیرتګ راتګ كوي نوپه دې وجه باندې ته دعبدالله بن ام مكتوم په كور كښې عدت تیركړه ځكه چه هغه روند دې كه چرې ته كړې هم وباسې نوبیاهم تاته دپردې كولو ضرورت نشته اوكله چه دې عدت تیرشي نوماته اطلاع راكړه فاطمه وائي كله چه زماعدت تیرشو نومانبي ﷺ ته اطلاع وركړه او عرض مې اوكړو چه معاویه بن ابي سفیان اوابوجهم ماته دنكاح پیغام راكړې دې نبي ﷺ اوفرمائیل ابوجهم خودخپلو اوږونه همساء نه كوزوي (یعنی وهل ډیر كوي اوهرچه معاویه دې هغه نیسمن دې (مال ورسره نشته) ته د اسامه سره نكاح وكړه فاطمه وائي ما اسامه هم خوښ نكړو نبي ﷺ راته بیاوفرمائیل داوسامه سره نكاح وكړه نوبیا مې د اسامه سره نكاح اوكړه الله تعالى په دې نكاح كښې خیر اوبركت واچولو تردې چه نورو ښځوبه په ما باندې كینه كوله.

تشریح: عن فاطمة بنت قیس ان اباعمرو بن حفص طلقها البتة وهو غائب الخ

د فاطمه بنت قیس رضي الله عنها د خاوند كنیت په دې روایت كښې خو ابو عمرو بن حفص مذكور دې او وړاندې په دویم طریق كښې ابو حفص بن المغیره راروان دې، دغه شان په هغه روایت كښې دی چه هغه فاطمه ته طلاق وركړې وو، او وړاندې په بعض طرق كښې راروان دی، ﴿طلقها ثلاثا﴾چه د هغې د ظاهر نه معلومیږی چه هغه ته درې طلاقه مجتمعا وركړې شو، او په یو طریق كښې راځی ﴿فبعث الیها وهو غائب﴾د غیبت نه مراد د هغوی سفر یمن طرف ته دې چه د هغې ذكر په بعض روایاتو كښې راځی چه هغه د سیدنا علي رضي الله عنه سره یمن ته تلې وو، خو د طحاوی د بعض روایاتو نه معلومیږی چه د هغه د تطلیق واقعه د سفر الی الیمن نه مخكښې راغلې وه، د دې توجیه په بذل المجهود كښې دا كړې ده چه كیدې شی هغه طلاق خو د سفر په شروع كښې د كیدو نه مخكښې وركړې وو خو د هغې اظهار ئې سفر كښې د تلو نه پس كړې وی د خپل وكیل په ذریعه چه د هغې ذكر په روایت كښې دې ﴿فارسل الیها وكیله بشعیر﴾د دې وكیل نه مراد عیاش بن ابی ربیعه او حارث بن هشام دې لكه چه وړاندې په یو طریق كښې راځی ﴿وامرها ان تعتد فی بیت ام شریک، ثم قال ان تلک امراءة یغشاها اصحابی﴾

شرح حدیث:

اول رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائیل چه د ام شریک په كور كښې عدت تیرول بیا د هغه رائې بدله شوه او وې فرمائیل چه د هغه په كور كښې نشته ځكه چه ام شریک داسې زنانه ده چه د هغې كره زما د اصحابو تلل راتلل دی، د دې وجه شارحینو دا لیكلې ده چه هغه ډیره میلمه دوسته وه د الله پاک په لاره كښې په كثرت سره خرچ كولو والا وه، هم په دې وجه به ډیر خلق هلته تلل راتلل، لهذا فاطمه رضي الله عنها لره به د هغه نه په پرده كولو كښې تكلیف وی او د هغې په ځائې رسول الله ﷺ د ام ابن مكتوم رضي الله عنه كره عدت تیرول اوفرمائیل چه هغه نابینا وو چرته چه د پردې اهتمام زیات ضرورت نه وو او د مسلم په روایت كښې دا هم دی ﴿فانک اذا وضعت خمارک لم یرک﴾، امام نووی رحمه الله فرمائی ﴿احتج بعضهم بهذا الحدیث

على جواز نظر المراءة الى الاجنبى بخلاف نظره اليها وهذا قول ضعيف الى اخر ما ذكره الشيخ فى اوجز المسالک ۴۱۳/۴﴾ د دې مسئلې تفصيل يعنى نظر الرجل الى المراءة وبالعكس مونږ په الدر المنضود دريم جلد كتاب الحج ص ۴۵۹ فجعل الفضل ينظر اليها الحديث د لاندې ليكلې دې، هغه دې اوكتلې شى، هم دغه شان رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه كله ته عدت تيرولو سره حلاله شې نو په خپله نكاح كښې تندى مه كوه بلكه ماته خبر راكړه، هغه فرمائى چه كله زه د خپل عدت نه فارغه شوم نو د رسول الله ﷺ خدمت حاضره شوم او عرض مې اوكړو چه د معاويه بن ابى سفيان او ابو جهم رضي الله عنهما دواړو د طرف نه جدا جدا ماته د نكاح پيغام راغلى دې، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿اما ابو جهم فلا يضع عصاه عن عاتقه، واما معاوية فصعلوک لا مال له انكحى، اسامة بن زيد ﴾چه د ابو جهم رضي الله عنه حال خو دا دې چه چه هر وخت د هغه په اوګه باندې لرګې پروت وى يعنى د وهلو دپاره د تيزئ او غصې په وجه، او د معاويه رضي الله عنه په باره كښې ئې اوفرمائيل چه هغه كنګال او فقير دې، او بيا ئې هغې ته اوفرمائيل چه زما رائې دا ده چه د اسامه بن زيد رضي الله عنه سره نكاح اوكړه، اسامه چونكه د رنګ نه تور وو (لكه چه په باب القافه كښې تير شو چه كان زيد ابيض واسامة اسود... د دې نه علاوه د غلامانو نه هم وو) او فاطمه قريشيه وه او د ضحاک بن قيس امير خور وه، هم دغه شان ښكلې او عقلمنده وه، د هغې زوج اول يعنى ابو عمرو بن حفص هم قرشى وو، هغه فرمائى ﴿قالت فكرهته ﴾چه د اسامه متعلق ما رسول الله ﷺ ته د ناخوښئ اظهار اوكړو، خو رسول الله ﷺ راته دوباره اوفرمائيل چه هم د هغه سره نكاح اوكړه وړاندې هغه فرمائى چه ما د اسامه سره نكاح اوكړه او په هغې كښې الله پاک ډير خير كيخودلو، او ماته خلق اوپسخيدل.

د دې حديث نه د خطبه على الخطبه جواز معلوميږى، او مسئله دا ده چه خطبه على الخطبه په هغه صورت كښې جائز ده چه كله د مخطوبه ركون الى الخاطب الاول نه وى يا د ركون علم نه وى، د علم بالركون نه پس ناجائز او ممنوع دې، امام ترمذى رحمه الله په جامع ترمذى كښې د دې حديث د لاندې هم دا خبره ليكلې ده، هم دغه شان د حديث پاک نه معلومه شوه چه په يو سړى پسې پټ پناه د هغه عيب بيانول د څه مصلحت او ضرورت په بنياد جائز دى چه كله هغه غرض، غرض صحيح شرعى وى، لكه چه په دې حديث كښې اظهار عيب د فاطمه رضي الله عنها د مصلحت او خير خواهئ په وجه باندې وه، وفى الحديث المستشار مؤتمن.

[۲۲۸۵]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ حَدَّثَتْهُ، أَنَّ أَبَا حَفْصِ بْنَ الْمُغِيرَةِ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا، وَسَاقَ الْحَدِيثَ فِيهِ. وَأَنَّ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ وَنَفَرًا مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّ أَبَا حَفْصِ بْنَ الْمُغِيرَةِ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا، وَإِنَّهُ تَرَكَ لَهَا نَفَقَةً يَسِيرَةً، فَقَالَ: "لَا نَفَقَةَ لَهَا"، وَسَاقَ الْحَدِيثَ. وَحَدِيثُ مَالِكٍ أَتَمُّ.

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۳۸) (صحيح)

ترجمه: دفاطمه بنت قیس رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه ابو حفص بن مغیره ماته دري طلاق راکړل اوبیا ئي همدا تیرشوي حدیث بیان کړو ددې اضافي سره چه خالد بن ولید اودبني مخزوم قبیلي یوڅو کسان نبی علیه السلام ته راغلل اوعرض ئي اوکړوچه اې دالله رسوله یقینا ابوحفص بن مغیره خپلي ښځي ته دري طلاق ورکړي دي اولږه شان نفقه ئي ورته پریښودلي ده نبی علیه السلام اوفرمائیل ددې دپار نفقه نشته اوحدیث ئي تراخره پورې بیان کړو. دمالك حدیث ډیر تمام اوکامل دې.

[۲۲۸۶]() حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو، عَنْ يَحْيَى، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ، حَدَّثَتْنِي فَاطِمَةُ بِنْتُ قَيْسٍ، أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ الْمَخْزُومِيَّ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، وَخَبَرَ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَتْ لَهَا نَفَقَةٌ وَلَا مَسْكَنٌ"، قَالَ فِيهِ: وَأَرْسَلَ إِلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا تَسْبِقِينِي بِنَفْسِكِ.

ترجمه: دفاطمه بنت قیس رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه ابو حفص بن مغیره ورته دري طلاق ورکړي وو اوبیا ئي همدا تیرشوي حدیث بیان کړو اورخبردخالد بن ولیدچه نبی علیه السلام ورته فرمائیلي وو چه ددې دپار نفقه نشته اواوسیدل هم نشته په دې روایت کښي دا اضافه هم ده نبی علیه السلا ورپسي څوك لیږلي ووچه زمانه دتپوس کولونه بغیر ددویم کس سره نکاح مه کوه.

تشریح: ﴿ وارسل الیها رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لان تسبقینی بنفسک ﴾ یعنی د خپلي نکاح متعلق زما نه مخکښي نه شي یعنی زما د مشورې نه بغیر نکاح مه کوه.

[۲۲۸۷]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، قَالَتْ: كُنْتُ عِنْدَ رَجُلٍ مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ فَطَلَّقَنِي الْبَتَّةَ، ثُمَّ سَاقَ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ، قَالَ فِيهِ: "وَلَا تُفَوِّتِينِي بِنَفْسِكِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ الشَّعْبِيُّ وَالْبَهِيُّ وَعَطَاءٌ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَاصِمٍ وَأَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي الْجَهْمِ، كُلُّهُمْ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنَّ زَوْجَهَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا.

ترجمه: دفاطمه بنت قیس رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه زه دقبیله بن مخزوم دیو کس په نکاح کښي وم هغه ماته بنة طلاق راکړل اوبیائي داحدیث بیان کړونبی علیه السلام اوفرمائیل ته خپل ځان زمانه مه ورکوه (دعدت تیرولونه پس زماداجازت نه بغیر نکاح مه کوئ) امام ابوداود وئیلي دي ددې حدیث روایت شعبي او بهي اوعطاء دعبد الرحمن بن عاصم نه اودابوبکر بن أبی الجهم نه کړي دي دوی ټولود فاطمه بنت قیس نه روایت بیان کړي دي چه هغي ته خپل خاوند دري طلاق ورکړي وو.

[۲۲۸۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، "أَنَّ زَوْجَهَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا، فَلَمْ يَجْعَلْ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَقَةً وَلَا سُكْنَى".

[1]): انظر حدیث رقم: ۲۲۸٤، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۳۸) (صحیح)

[2]): انظر حدیث رقم (۲۲۸٤)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۳۸) (صحیح)

[3]): صحیح مسلم/الطلاق ٦ (۱٤۸۰)، سنن الترمذي/الطلاق ٥ (۱۱۸۰)، سنن النسائي/الطلاق ۷۲ (۳۵۸۱)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۱۰ (۲۰۳٦)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۲٥)، وقد أخرجه: دي/الطلاق ۱۰ (۲۲۲۰) ویأتي هذا الحدیث برقم (۲۲۹۱) (صحیح)

ترجمه: دفاطمه بنت قیس رضي الله عنها نه روایت دي فرمائي چه ددې خاوند دي ته درې طلاق ورکړي وو نونبی ﷺ ددې دپاره نه دنفقې حکم اوکړو اونه داوسیدو دپاره ئې کور ورکړو.

[۲۲۸۹](¹) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ، "أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ أَبِي حَفْصِ بْنِ الْمُغِيرَةِ، وَأَنَّ أَبَا حَفْصِ بْنَ الْمُغِيرَةِ طَلَّقَهَا آخِرَ ثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ، فَزَعَمَتْ أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَتْهُ فِي خُرُوجِهَا مِنْ بَيْتِهَا، فَأَمَرَهَا أَنْ تَنْتَقِلَ إِلَى ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمَى، فَأَبَى مَرْوَانُ أَنْ يُصَدِّقَ حَدِيثَ فَاطِمَةَ فِي خُرُوجِ الْمُطَلَّقَةِ مِنْ بَيْتِهَا، قَالَ عُرْوَةُ: وَأَنْكَرَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ، وَابْنُ جُرَيْجٍ وَشُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، كُلُّهُمْ عَنِ الزُّهْرِيِّ. قَالَ أَبُو دَاوُد: شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، وَاسْمُ أَبِي حَمْزَةَ دِينَارٌ وَهُوَ مَوْلَى زِيَادٍ.

ترجمه: دفاطمه بنت قیس رضي الله عنها نه روایت دي فرمائي چه زه دابوحفص بنت مغیره په نکاح کښې وم اوابوحفص راته په درې طلاقو کښې دریم طلاق راکړو فاطمه وائي چه زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم اوددې کور نه دوتلوپه سلسله کښې مې ترې تپوس اوکړو راته ئې اوفرمائیل چه ته دابن ام مکتوم نابینا په کور کښې اوسیږه مروان انکار کړې دي چه دفاطمې ددې حدیث تصدیق اوکړي کوم چه په باره دوتلو د مطلقاتو کښې دي. دکور خپل نه عروه وائی عائشه رضي الله عنها دفاطمه بنت قیس دقول نه انکارکړې دي. امام ابو داود وائی اوهمدارنګې ئې دا روایت صالح بن کیسان او ابن جریج اوشعیب بن أبی حمزه ټولو دزهري نه نقل کړې دي، ابوداود وائی دابن أبی حمزه نوم دیناردې اوهغه دزیاد آزاد کړې شوې غلام دې.

د روایاتو خپل مینځ کښې فرق او د هغې تشریح:

په دې روایت کښې اختصار دې ځکه چه د دې نه مخکښې د مروان هیڅ قسم ذکر نه دې راغلې نه دا چه مروان د فاطمې نه بغیر د واسطې یا بالواسطه څه تپوس کړې وو یا نه، او دا روایت د عقیل عن الزهری دې، هم په دې وجه باندې د دې نه روستو د دې سلسلې روایة مفصله ذکر کوي.

[۲۲۹۰](²) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَرْسَلَ مَرْوَانُ إِلَى فَاطِمَةَ فَسَأَلَهَا، فَأَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ أَبِي حَفْصٍ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّرَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ يَعْنِي عَلَى بَعْضِ الْيَمَنِ، فَخَرَجَ مَعَهُ زَوْجُهَا فَبَعَثَ إِلَيْهَا بِتَطْلِيقَةٍ كَانَتْ بَقِيَتْ لَهَا، وَأَمَرَ عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ وَالْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ أَنْ يُنْفِقَا عَلَيْهَا، فَقَالَا: وَاللَّهِ مَا لَهَا نَفَقَةٌ إِلَّا أَنْ تَكُونَ حَامِلًا، فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "لَا نَفَقَةَ لَكِ إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلًا"، وَاسْتَأْذَنَتْهُ فِي الِانْتِقَالِ، فَأَذِنَ لَهَا، فَقَالَتْ: أَيْنَ أَنْتَقِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ"، وَكَانَ أَعْمَى، تَضَعُ ثِيَابَهَا عِنْدَهُ وَلَا يُبْصِرُهَا، فَلَمْ تَزَلْ هُنَاكَ حَتَّى مَضَتْ عِدَّتُهَا فَأَنْكَحَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ، فَرَجَعَ قَبِيصَةُ إِلَى مَرْوَانَ فَأَخْبَرَهُ بِذَلِكَ، فَقَالَ مَرْوَانُ: لَمْ نَسْمَعْ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنِ امْرَأَةٍ، فَسَنَأْخُذُ بِالْعِصْمَةِ الَّتِي وَجَدْنَا النَّاسَ عَلَيْهَا، فَقَالَتْ فَاطِمَةُ حِينَ بَلَغَهَا ذَلِكَ: بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ كِتَابُ اللَّهِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ حَتَّى لَا تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَلِكَ أَمْرًا سورة الطلاق آية، قَالَتْ: فَأَيُّ أَمْرٍ

¹): انظر حديث رقم (۲۲۸٤)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۳۸) (صحيح)

²): صحيح مسلم/الطلاق ٦ (۱٤۸۰)، سنن النسائي/النكاح ۸ (۳۲۲٤)، الطلاق ۷۳ (۳۵۸۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۳۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤١٤) (صحيح)

يُحِدِثُ بَعْدَ الثَّلَاثِ. قَالَ أَبُودَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيّ، وَأَمَّا الزُّبَيْدِيُّ، فَرَوَى الْحَدِيثَيْنِ جَمِيعًا، حَدِيثَ عُبَيْدِ اللهِ بِمَعْنَى مَعْمَرٍ، وَحَدِيثَ أَبِي سَلَمَةَ بِمَعْنَى عَقِيلٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ قَبِيصَةَ بْنَ ذُؤَيْبٍ حَدَّثَهُ، بِمَعْنًى دَلَّ عَلَى خَبَرِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، حِينَ قَالَ: فَرَجَعَ قَبِيصَةُ إِلَى مَرْوَانَ فَأَخْبَرَهُ بِذَلِكَ.

ترجمه: دفاطمه بنت قيس رضي الله عنها روايت دې فرمائی چه زه دابو حفص په نکاح کښې وم اونبی عليه السلام علی رضي الله عنه لره يمن ته دحاکم په طور ليږلې وو اوزما خاوند هم دهغه سره ملګرې وو هغه. په درې طلاقو کښې چه کوم يوپاتې شوې وو راوليږلو او عياش بن أبی ربيعه اوحارث بن هشام زما دپاره دنفقې حکم اوکړو دوی دواړو اووئيل په الله قسم ددې ښځې دپاره نفقه نشته خوکه چرې ددې وې نوبيا دې ته نفقه ملاويدله، زه دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې ورته اوکړو هغه و اوفرمائيل يقينا ستادپاره څه خرچه نشته مګرکه ته حامله وې اوما ترې ددې کور نه دتلو متعلق اجازت وغوښتو هغه راته اجازت راکړو ما ترې تپوس اوکړو اې دالله رسوله زما دپاره چرته اوسيدل پکاردي، نبی عليه السلام اوفرمائيل دعبدالله بن ام مکتوم سره اوسيږه هغه ړوند دې، فاطمه بنت قيس رضي الله عنها به دهغه په وړاندې کپړې وښکلې اوهغه به نه ليدله دعدت تربوره کيدو پورې هلته اوسيدله اودعدت پوره کيدونه پس نبی عليه السلام اسامه ته په نکاح کړه قبيصه چه واپس شو نوداکيفيت ئې مروان ته بيان کړو مروان اووئيل مونږ داحديث صرف د يوې ښځې نه زباني اوريدلې دې لهذا مونږ به ددې اقتداء کوو په کوم باندې چه خلق قائم دې کله چه فاطمه بنت قيس ته ددې خبرې اطلاع ورسيده نووئې وئيل چه ستاسو اوزمابه مينځ کښې دالله کتاب دې الله تعالى فرمائی اې خلقو کله چه تاسو ښځوله طلاق ورکوې نودعدت دشروع کيدوسره ئې ورکوئ يعنی په طهرکښې اوهغه کس يعنی خاوند خبرنه دې چه الله تعالى به ددې نه پس کوم نوې صورت پيدا کړې نوددرې طلاقونه پس به څه نوې خبره پيداشې، امام ابوداود فرمائی مادزهري نه اوريدلې دې اوهغه ديونس نه نقل کړې دې چه زبيدې دا دواړه روايات دعقيل په طريقه روايت کړې دې، او محمد بن اسحق دزهري نه بيانوې چه قبيصه بن زويب دعبيدالله بن عبدالله په طريقې سره روايت بيان کړې دې چه قبيصه مروان ته واپس شو اودواقعې خبرئې ورته ورکړو.

توضيح الحديث

قوله: حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَرْسَلَ مَرْوَانُ إِلَى فَاطِمَةَ فَسَأَلَهَا، فَأَخْبَرَتْهُ...الخ:

دا روايت د معمر عن الزهری دې اوګورئ په دې کښې دا دې چه مروان خپل يو سړې فاطمه بنت قيس رضي الله عنها لره د هغې د طلاق د قصې معلومولو دپاره اوليږلو، خو د قاصد تصريح په دې روايت کښې هم نشته، په دې لحاظ سره په دې قصه کښې هم اجمال پيدا شو، خو وړاندې هم په دې روايت کښې د قاصد د نوم تصريح ده يعنی قبيصه. ﴿فرجع قبيصة الى مروان فاخبره ذلک ﴾يعنی قبيصه چه مروان فاطمه ته د صورت حال د معلومولو دپاره ليږلې وه هغه راغله او مروان ته ئې د فاطمه جواب نقل کړو، ﴿فقال مروان لم نسمع هذا الحديث الا

من امراءة فسناخذ بالعصمة الذی وجدنا الناس علیها ﴾مروان ورته په جواب کښې اووې چه دا حدیث مونږ صرف د یوې زنانه نه اورو (د هغې نه علاوه مو د بل چا نه نه دې اوریدلې) یعنی دا چه رسول اللهﷺ هغې دپاره دا فیصله فرمائیلې وه چه ستا دپاره نفقه او سکنی هیڅ نشته، او دا چه هغه ته ئې د بیت العدة نه د منتقل کیدو اجازت ورکړې وو د هغه په باره کښې مروان دا وائی چه مونږ دا نه تسلیموو، یعنی دا چه رسول اللهﷺ هغې ته دا خبره اوفرمائیله، لهذا مونږ خو به هم دا امر احوط اختیاروو چه په کوم باندې مونږ خلق موندلې دی یعنی دا چه د مبتوتة دپاره سکنی وغیره ده، او د هغه دپاره انتقال جائز نه دې. (کما هو مسلک الجمهور)

د فاطمه د کلام تشریح :

وړاندې په روایت کښې دی چه فاطمه ته کله د مروان خبره اورسیده نو هغه اووې چه زما او ستا ترمینځه کتاب الله حکم او فیصل دې ﴿قال الله تعالی : فطلقوهن لعدتهن الی... لا تدری لعل الله یحدث بعد ذلک امرا، قالت فای امر یحدث بعد الثلاث ﴾پوره آیت کریمه داسې دې ﴿یا ایها النبی اذا طلقتم النساء... ﴾یعنی د سورة الطلاق د شروع آیتونه چه په هغې کښې دا دی ﴿لا تخرجوهن من بیوتهن ولا یخرجن ﴾چه مطلقات د عدت د کور نه مه اوباسئ، او نه دې هغوی خپله اوځی او بیا وړاندې د هغه آیت کریمه په اخر کښې دا دی ﴿لعل الله یحدث بعد ذلک امرا ﴾د فاطمه د کلام حاصل دا دې چه دا چه د مطلقه په باره کښې قران کریم فرمائی چه د هغې دپاره حق سکنی دې او زوج له پکار دی چه هغه د هغه ځائې نه نه اوباسی، د دې مصلحت په قران کریم کښې خو دا بیان کړې شوې دې ﴿لعل الله یحدث بعد ذلک امرا ﴾چه ممکنه ده الله پاک د دې سکنی د وجې نه او د مطلقه په بیت العدت کښې د اوسیدو د وجې نه څه نوې خبره پیدا کړی یعنی د خاوند په زړه کښې د رجوع شوق، فاطمه فرمائی چه رجوع خو په طلاق رجعی کښې وی. ﴿ای امر یحدث بعد الثلاث ﴾د درې طلاق ورکولو نه پس به څه شوق پیدا کیږی، په طلاق ثلاث کښې خو رجعت نشته، لهذا د دې طلاق تعلق د مطلقه رجعیه سره دې نه د طلاق بائنه سره، او ماته درې طلاقه ملاؤ شوی دی، لهذا زه چه کوم حدیث بیانوم چه په هغې کښې جواز خروج دې په هغه حدیث او دې آیت کریمه کښې تعارض چرته دې؟

د مصنف د کلام تشریح.

قوله: قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ يُونُسُ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، وَأَمَّا الزُّبَيْدِيُّ، فَرَوَى الْحَدِيثَيْنِ جَمِيعًا، حَدِيثَ عُبَيْدِ اللهِ بِمَعْنى مَعْمَرٍ، وَحَدِيثَ أَبِي سَلَمَةَ بِمَعْنى عَقِيلٍ..الخ:

ځان پوهه کړه چه جمهور علماء کرامو د فاطمه رضی الله عنها د دې استدلال دا جواب کړې دې چه دا ضروری نه ده چه په آیت کریمه کښې دې د احداث امر نه مراد هم هغه وی کوم چه فاطمه رضی الله عنها بیان کړې دې یعنی شوق رجوع، بلکه بل څه حکم مراد وی، ځکه چه زمانه د نزول وحی وه، معلومه نه ده چه د حکم مذکور د نزول نه پس الله پاک بل حکم نازل کړی، مثلا نسخ یا تخصیص وغیره، والحدیث اخرجه ایضا مسلم والبیهقی. (تکملة المنهل)

د کلام مصنف تشریح :

د ﴿کذلک ﴾اشاره د معمر عن الزهری طرف ته ده یعنی د موجوده روایت طرف ته چه کوم روان دې او د هغې مقابل د هغې نه پورته روایت دې یعنی عقیل عن الزهری چه د هغې په باره کښې مونږ مخکښې بیان کړې دې چه هغه مجمل دې، اوس دلته ګویا دوه احادیث شو، یو مجمل او یو مفصل، د معمر حدیث کوم لره چه روایت کولو والا عبیدالله دې هغه مفصل او د عقیل حدیث د کوم راوی چه ابو سلمه دې هغه مجمل، عقیل او معمر هر دواړه د زهری شاګردان دی، او دریم شاګرد د هغه زبیدی دې، د هغوی په باره کښې مصنف فرمائی چه دوی د زهری نه دواړه قسمه روایته ذکر کړی دی مجمل هم او مفصل هم بمعنی معمر او بمعنی عقیل دې دپاره ئې وئیلی دی چه زبیدی ددې دواړو روایت بلفظهما ذکرکړې نه دې بلکه بالمعنی لفظونو کښې څه فرق به وی او د زهری څلورم شاګرد محمد بن اسحاق هغه د زهری نه صرف حدیث مفصل روایت کړې دې چه د هغې راوی عبیدالله عن معمر وو، دلته هم مصنف هم دا خبره فرمائیلې ده چه هغه د عبیدالله والا روایت لره ﴿بلفظه ﴾نه دې ذکر کړې بلکه د هغې معنی، حضرت په بذل المجهود کښې د دې ﴿قال ابوداود ﴾تشریح داسې کړې ده ﴿وهکذا ینبغی ان یفهم هذا المقام ﴾ والله الموفق وهو ولی المرام وبیده حسن الختام ﴾.

بَاب مَنْ أَنْكَرَ ذَلِكَ عَلَى فَاطِمَةَ

څوک چه د فاطمه بنت قیس دقول نه انکارکوي

په حدیث فاطمه باندې انکار کونکی سیدنا عمر، سیده عائشه او مروان رضی الله عنهم درې واړه دی، سیدنا عمر رضی الله عنه خو په دې باندې هم هغه انکار فرمائیلې دې کوم چه د مروان دې چه دا صرف د یوې زنانه روایت دې معلومه نه ده چه هغې ته صحیح یاد دې یا نه، په ښه طریقې سره په خبره باندې پوهه شوې ده یا نه، څکه چه حدیث د کتاب او سنت خلاف دې، او د عائشې رضی الله عنها انکار دا دې چه هغه داسې فرمائی لکه چه د دې باب په حدیث ثانی کښې راځی ﴿ان فاطمة کانت فی مکان وحش فخیف علی ناحیتها فلذلک رخص لها رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴾یعنی فاطمې رضی الله عنها ته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خروج کوم اجازت ورکړې وو هغه د یو عارض او مجبورئ د وجې نه وو هغه دا هغه په یو خوشې او څانله کور کښې وه چه د هغې په وجه باندې هغې ته د ضرر رسیدو ویره وه، او د هغې نه روستو په دریم روایت کښې یحیی بن سعید د دې حدیث فاطمه په باره کښې فرمائی ﴿انما کان ذلک من سوء الخلق ﴾او بیا د هغې نه په روستو روایت کښې راځی چه د سعید بن المسیب په وړاندې چه کله حدیث فاطمه پیش کړې شو نو هغه اوفرمائیل ﴿تلک امراءة فتنت الناس انها کانت لسنة ﴾چه هغه د ژبې نه ډیره تیزه په دې وجه ورته د وتلو اجازت ورکړې شو.

[۲۲۹۱](١)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنِي أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا عَمَّارُ بْنُ رُزَيْقٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ مَعَ الْأَسْوَدِ، فَقَالَ: أَتَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ قَيْسٍ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "مَا كُنَّا لِنَدَعَ كِتَابَ رَبِّنَا وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِقَوْلِ امْرَأَةٍ لَا نَدْرِي أَحَفِظَتْ ذَلِكَ أَمْ لَا".

ترجمه: دابواسحق نه روايت دې فرمائي چه زه په جامع مسجد کښې داسود سره ناست وم هغه اووئيل فاطمه بنت قيس عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته راغله اوداحديث ئې بيان کړو عمر رضي الله عنه اووئيل مونږ داسې خلق نه يو چه دالله کتاب او دنبي سنت صرف د يوې ښځې دقول په وجه پريږدو اوهغه هم مونږ ته معلومه نه ده چه هغې ته پوره ياد دي اوکه هيردي.

[۲۲۹۲](٢)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: لَقَدْ عَابَتْ ذَلِكَ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَشَدَّ الْعَيْبِ يَعْنِي حَدِيثَ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، وَقَالَتْ: إِنَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ فِي مَكَانٍ وَحْشٍ فَخِيفَ عَلَى نَاحِيَتِهَا، فَلِذَلِكَ رَخَّصَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: دعبدالرحمن بن أبي الزناد نه روايت دې فرمائي چه عائشه رضي الله عنها به دفاطمه بنت قيس په حديث باندې اعتراض کولو چه کله چرې فاطمي ته ددغه کورنه دوتو اجازت ملاوشوې دې نوهغه په دې وجه دې چه هغه په يوکنډرکورکښې وه هلته ويريدله نوپه دې وجه باندې نبي عليه السلام هغې ته دمنتقل کيدو اجازت ورکړو.

[۲۲۹۳](٣)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ قِيلَ لِعَائِشَةَ: أَلَمْ تَرَيْ إِلَى قَوْلِ فَاطِمَةَ؟ قَالَتْ: أَمَا إِنَّهُ لَا خَيْرَ لَهَا فِي ذِكْرِ ذَلِكَ.

ترجمه: دعروه بن زبيرنه روايت دې فرمائي چه ام المومنين عائشه رضي الله عنها ته اووئيلې شول ايا دفاطمه بنت قيس روايت ته نه ګوري نوعائشه رضي الله عنها اوفرمائيل دهغې دپاره دا پکارنه دې چه داقسم روايت بيان کړي دکوم په وجه چه په خلقوکښې غلط فهمي پيدا کيږي.

[۲۲۹٤](٤)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ فِي خُرُوجِ فَاطِمَةَ، قَالَ: "إِنَّمَا كَانَ ذَلِكَ مِنْ سُوءِ الْخُلُقِ".

ترجمه: دسليمان بن يسار رحمه الله نه روايت دې چه فاطمه بنت قيس رضي الله عنها دخپل کورنه په دې وجه وتلې وه چه ديوبل سره ئې اخلاق ښه نه وو.

[۲۲۹٥](٥)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، وَسُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّهُ سَمِعَهُمَا يَذْكُرَانِ، أَنَّ يَحْيَى بْنَ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ طَلَّقَ بِنْتَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَكَمِ الْبَتَّةَ، فَانْتَقَلَهَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، فَأَرْسَلَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ وَهُوَ أَمِيرُ الْمَدِينَةِ، فَقَالَتْ لَهُ: "اتَّقِ اللَّهَ، وَارْدُدِ الْمَرْأَةَ إِلَى بَيْتِهَا"، فَقَالَ مَرْوَانُ فِي حَدِيثِ سُلَيْمَانَ: "إِنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ غَلَبَنِي"، وَقَالَ مَرْوَانُ فِي حَدِيثِ الْقَاسِمِ: "أَوَمَا بَلَغَكِ

---

(١): انظر حديث رقم (۲۲۸۸) (تحفة الأشراف: ۱۰٤۰٥، ۱۸۰۲٥) (صحيح موقوف)

(٢): صحيح البخاري/الطلاق ٤١ (٥٣٢٦) تعليقاً، سنن ابن ماجه/الطلاق ٨ (۲۰۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۷۰۱۸) (حسن)

(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱٦٣٨٠) (صحيح)

(٤): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۲۳) (ضعيف)

(٥): صحيح البخاري/الطلاق (٥٣٢١)، صحيح مسلم/الطلاق ٦ (۱٤٨۱)، (تحفة الأشراف: ۱٦۱۳۷، ۱۷٥٦٠، ۱۸۰۲۲، ۱۸۰۳٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطلاق ۲۲ (٦٣) (صحيح)

شَأْنُ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ؟" فَقَالَتْ عَائِشَةُ: "لَا يَضُرُّكَ أَنْ لَا تَذْكُرَ حَدِيثَ فَاطِمَةَ"، فَقَالَ مَرْوَانُ: "إِنْ كَانَ بِكِ الشَّرُّ، فَحَسْبُكِ مَا كَانَ بَيْنَ هَذَيْنِ مِنَ الشَّرِّ".

ترجمه: دسليمان بن يسار رحمه الله نه روايت دي فرمائی چه يحي بن سعيد بن العاص دعبدالرحمن بن حکم لورته دري طلاقه ورکړل عبدالرحمن ددغه کور نه خپله لور بوتله عائشه رضي الله عنها مروان بن حکم ته يونس وليږلو اومروان بن حکم په دې وخت کښې دمديني حکمران وو عائشي رضي الله عنها ورته دا جواب ورولیږلو چه دالله نه ویره اوکړه اودغه ښځه خپل مخکني کورته راولیږه ځکه چه دعدت په دوران کښې وتل جائزنه دي، دسليمان په يوروايت کښې دي چه مروان په جواب کښې اووئيل چه زه عبدالرحمن مجبور کړم په بل روايت دقاسم کښې دي چه مروان وئيلی دی تاته دفاطمه بنت قيس روايت رسيدلي دې عائشه رضي الله عنها او وئيل که چرې دفاطمه بنت قيس دروايت ذکر دي نه وې کړې نوڅه خرج وو مروان عرض اوکړو که چرې ته هم اووائی چه هلته دفتني ويره وه نوهغه فتنه دلته هم شته.

توضيح الحديث

عبدالرحمن بن الحکم دا د مروان بن الحکم امير مدينه رور وو، د هغه لور ته د هغي خاوند سعيد بن العاص طلاق بته ورکړو د هغي نه روستو داسي اوشوه چه لور پلار يعنی عبدالرحمن خپله لور خپل کور ته راوبلله، يعنی د عدت په زمانه کښې (او دا ناجائز وه) په دې باندې سيده عائشه رضي الله عنها امير مدينه مروان ته قاصد اوليږو چه د الله پاک نه اويريږه دا زنانه يعنی خپله وربره د هغې کور يعنی بيت العدت ته واپس اوليږه، په دې باندې په يو روايت کښې دی چه مروان دا جواب ورکړو چه عبدالرحمن زما نه منی. ﴿ان عبدالرحمن غلبنی﴾ او په يو روايت کښې دی چه مروان عائشي رضي الله عنها ته دا جواب ورکړو چه ايا تاته د فاطمه بنت قيس قصه نه ده رسيدلې، په دې باندې عائشي رضي الله عنها اوفرمائيل چه د فاطمه قصه پريږده (ځکه چه د هغې منتقل کيدل د يوې مجبورئ او شر د وجې نه وو) فقال مروان ان کان بک الشر فحسبک ما کان بين هذين من الشر... چه که د فاطمه قصه کښې څه شر او مجبوری وه نو ايا دلته په دې قصه کښې شر څه کم دي، والاثراخرجه ايضا الشافعي والبخاری والبيهقی. (تکملة المنهل)

[۲۲۹۶] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ بُرْقَانَ، حَدَّثَنَا مَيْمُونُ بْنُ مِهْرَانَ، قَالَ: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَدُفِعْتُ إِلَى سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، فَقُلْتُ: "فَاطِمَةُ بِنْتُ قَيْسٍ طُلِّقَتْ فَخَرَجَتْ مِنْ بَيْتِهَا"، فَقَالَ سَعِيدٌ: "تِلْكَ امْرَأَةٌ فَتَنَتِ النَّاسَ، إِنَّهَا كَانَتْ لَسِنَةً فَوُضِعَتْ عَلَى يَدَيِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمَى".

ترجمه: دميمون بن مهران نه روايت دي فرمائی چه زه مديني ته راغلم اودسعيد بن المسيب په خدمت کښې حاضر شوم ما اووئيل فاطمه بنت قيس ته طلاق ورکړې شوي وو اوهغه دخپل کورنه وتلې وه داسې ولې اوشو؟ سعيد اووئيل فاطمه بنت قيس يوه داسې زنانه ده چه خلق ئې په فتنه کښې مبتلا کړي وو اصل خبره داده زبان درازه وه نو دعبدالله ابن ام مکتوم په کور کښې وساتلې شوه.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۲۱) (صحيح)

بَابٌ فِي الْمَبْتُوتَةِ تَخْرُجُ بِالنَّهَارِ

په درې طلاقه کړې شوې ښځه به دورځې دکوره وتلې شي

دا ده هغه دریمه مسئله د هغه مسائل ثلاث نه کومه چه د تیر شوی باب په شروع کښې چه د کوم طرف ته اشاره راغلې وه، یعنی خروج المعتدة بالنهار للحاجة.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

پس د احنافو په نزد خو مطلقه رجعیه شوه یا بائنه د هغې دپاره په ورځ کښې د خپل ضرورت دپاره وتل جائز نه دی [۱] او د مالکیانو په نزد مطلقا که هغه رجعیه وی یا بائنه خروج جائز دې، او د شوافعو په نزد صرف د مبتوتة دپاره جائز دې، او د مطلقه رجعیه دپاره د خروج جواز نشته کذا قال ابن رسلان الشافعی وهکذا حکی الزرقانی المالکی مذهب مالك، کما فی الاوجز والابواب والتراجم، او د احنابله مذهب هم ابن قدامه په مغنی نهم جلد کښې جواز خروج المعتدة المطلقة لیکلې دې، خو هغه په دې کښې د رجعیه یا بائنه هیڅ تصریح نه ده کړې او نه په بل یو کتاب کښې د هغه د مذهب تفصیل ملاؤ شوې دې. دا تفصیل خو متعلق دې د معتدة الطلاق نه، کوم چه په ترجمة الباب کښې مذکور دې.

د دې مسئلې ضرورت راپیښیږی د معتدة الوفاة دپاره هم پس ځان پوهه کړه چه د دې دپاره د خپل ضروریاتو دپاره صرف د ورځې وتل او بیا شپه په بیت العدة کښې تیرول بالاتفاق جائز دی په دې کښې د چا هم اختلاف نشته.

[۲۲۹۷] ([۲]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: طُلِّقَتْ خَالَتِي ثَلَاثًا فَخَرَجَتْ تَجُدُّ نَخْلًا لَهَا، فَلَقِيَهَا رَجُلٌ فَنَهَاهَا، فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ لَهَا: "اخْرُجِي فَجُدِّي نَخْلَكِ لَعَلَّكِ أَنْ تَصَدَّقِي مِنْهُ أَوْ تَفْعَلِي خَيْرًا".

ترجمه: جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زما ترور په درې طلاقو طلاقه کړې شوه دعدت په دوران کښې دکجورو دشکولو دپاره دکور نه ووتله په لاره کښې یو کس ولیدله هغه دعدت په دوران کښې دکورنه دوتلو نه منع کړه نوهغه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضره شوه اوتپوس ئې اوکړو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ته دکورنه دضرورت په بناباندې وتل کوه کیدې شي چه ته په دې کښې صدقه ورکړې یا کوم بل یو دنیکی کار اوکړې.

تشریح: قوله: ﴿عن جابر رضی الله تعالی عنه قال طلقت خالتی ثلاثا فخرجت تجد نخلا لها فلقیها رجل فنهاها الخ﴾

سیدنا جابر رضی الله عنه فرمائی چه زما خاله چه هغې ته درې طلاق ورکړې شوې وو هغې

---

[۱]) په بذل المجهود کښې چه دلته د شوکانی نه کوم مذاهب نقل کړې شوې دی هغه داسې دی چه د احنافو په نزد جواز خروج لاجل الحاجة، او د ائمه ثلاث په نزد جواز خروج مطلقا بدون اعتبار حاجة، خو صحیح دا نه ده، امام نووی رحمه الله چه د مسلم په شرح کښې کوم مذاهب لیکلې دی هغه د دې خلاف دی. والصحیح ما ذکرنا والله الموفق)

[۲]): صحیح مسلم/الطلاق ۷ (۱۴۸۱)، سنن النسائي/الطلاق ۷۱ (۳۵۸۰)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۹ (۲۰۳۴)، (تحفة الأشراف: ۲۷۹۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۲۱)، سنن الدارمي/الطلاق ۱۴ (۲۳۳۴) (صحیح)

به د عدت په زمانه کښې د کجهورو د خيال ساتلو او د ميوې راشوکولو دپاره د کور نه وتله، په لاره کښې ورسره يو سړې ملاؤ شو او هغه د وتلو نه منع کړه، هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او د خپل وتلو ذکر ئې ورته اوکړو، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه د هغې حاصل دا دې : صحيح ده د دې کار دپاره ته وتلې شې ځکه چه کيدې شی د دې دپاره ستا وتل د څه خير يا صدقې ذريعه جوړه شی، د دې حديث نه جواز خروج للحاجة معلوميږی لکه چه د جمهورو مسلک دې.

د احنافو د طرف نه د حديث توجيه :

او دا حديث په ظاهره کښې د مسلک حنفيه خلاف دې، خو د دې حديث د شروع حصه چه يو سړی هغه د خروج نه منع کړه د هغې نه معلوميږی چه دا عام مسئله وه د هغې نه روستو چه کله هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغله او هغې د رسول الله ﷺ نه خپله پوره خبره بيان کړه نو رسول الله ﷺ ورته داسې او نه وئيل چه مسئله داسې نه ده بلکه رسول الله ﷺ هغې ته خصوصی خطاب اوفرمائيلو چه ستا دپاره اجازت دې ته وتلې شې، په طور د کليه ئې هغې ته او نه فرمائيل چه د هغې د وجې نه وئيلې کيدې شی چه ﴿واقعة حال لا عموم لها ﴾د قبيل نه ده، او دا رخصت صرف د هغې سره خاص دې، روستو په التعليق المجد کښې اوکتلې شو په هغې کښې مولانا عبدالحی صاحب هم د دې جواب طرف ته اشاره کړې ده. والله تعالى اعلم والحديث اخرجه ايضا احمد ومسلم والنسائی وابن ماجة والبيهقی. (تکملة المنهل)

بَابُ نَسْخِ مَتَاعِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا بِمَا فُرِضَ لَهَا مِنَ الْمِيرَاثِ

باب د کومې ښځې خاوند چه مړ شی هغې ته دآيت ميراث په حکم سره د يو کال خرچ ورکول منسوخ دی

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

په شروع کښې د زوج دپاره حکم دا وو چه د مرګ نه مخکښې د خپلې ښځې دپاره د هغې د نفقه، سکنی او جامې دپاره وصيت اوکړی د يو کال دپاره، د نزول ميراث په وخت دا حکم منسوخ شو، د نفقه په باره کښې خو اتفاق دې چه هغه مطلقا واجب نه ده که زنانه حامله وی يا غير حامله، البته د امام احمد نه يو روايت دې چه د حامل کيدو په صورت کښې نفقه ده، او د سکنی مسئله مختلف فيه ده، د احنافو په نزد خو مطلقا واجب نه ده، د امام شافعی رحمه الله دوه روايتونه دی وجوب او عدم وجوب، خو اظهر الروايتين د هغه نه مطلقا د وجوب دې، او د امام احمد په نزد که غير حامل وی نو نه دې او که حامل دې نو په دې کښې دوه روايتونه دی وحوب او عدم وجوب، کما فی تراجم البخاری عن المغنی، او د امام مالک مسلک دا دې چه که بيت زوج د ميت ملک دې نو بيا خو د زنانه دپاره حق سکنی شته. والا فلا...

[۲۲۹۸]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ سورة البقرة آية ۲۴۰، فَنُسِخَ ذَلِكَ بِآيَةِ الْمِيرَاثِ بِمَا فُرِضَ لَهُنَّ مِنَ الرُّبُعِ وَالثُّمُنِ، وَنُسِخَ أَجَلُ الْحَوْلِ بِأَنْ جُعِلَ أَجَلُهَا أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا".

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه دالله تعالى داقول : («والذين يتوفون منكم ويذرون أزواجا وصية لأزواجهم متاعا إلى الحول غير إخراج») په آيت دميراث باندې منسوخ شوې دې په وجه دفرض كيدو دڅلورمې حصې اود اتمې حصې ددوى دپاره اودكال نيټه په دې حكم سره منسوخ شوې ده چه ددوى دعدت دپاره ئې څلور مياشتې اولس ورځې مقرركړې دي.

توضيح الحديث

﴿ ذلک ﴾اشاره ده د متاع طرف ته چه د هغې نه مراد نفقه او جامې دى ﴿باية الميراث بما فرض لهن من الربع والثمن ونسخ اجل الحول بان جعل اجلها اربعة اشهر وعشرا ﴾د اجل الحول نه مراد سكنى الى الحول ده چه د هغې تقاضه ده چه د عدت موده هم يو كال وى، پس په شروع كښې عدت يو كال وو بيا بل آيت كريمه راغلو كوم ته چه آية تربص وئيلې شى ﴿والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجا يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشرا ﴾اجل الحول لره منسوخ كولو سره څلور مياشتې او لس ورځې د عدت موده مقرر كړې شوه.

فائده : دا چه پورته مونږ كومه تشريح كړې ده دا د جمهورو په رائې باندې ده ګينې د ابن عباس رائې په دې سلسله كښې د مسلک جمهور خلاف ده لکه چه وړاندې په باب من راى التحول كښې به مونږ دا خبره بيان كړو.

الاثر اخرجه النسائى (تكملة المنهل)

باب إِحْدَادِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا

د ښځې دپاره د خاوند په مرګ باندې د ماتم كولو بيان

احداد ([2]) كوم ته چه غم كول وئيلې شى يعنى ترک زينت او د خاوند په مرګ باندې د غم اظهار كول ([3]) يعنى د عدت په موده كښې چه كوم څلور مياشتې او لس ورځې دي، چه په

[1]): سنن النسائي/الطلاق ٦٩ (٣٥٧٣)، (تحفة الأشراف: ٦٢٥٠، ١٩١١٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/التفسير ٤١ (٤٥٣١)، الطلاق ٥٠(٥٣٤٤) (حسن)

[2]) د باب افعال نه او په دې كښې دويم لغت حداد هم دې د مجرد نه د باب نصر او ضرب نه، كذافي الدر المختار، قال ابن عابدين وانكر الاصمعي الثلاثي فاقتصر علي الرباعي)

[3]) الاحداد هو لغة كما في القاموس ترك الزينة وشرعا ترك الزينة ونحوها لمعتدة بائن او موت. په دې باندې علامه شامى ليكى چه : ترك الزينة للعدة مطلقا ولو من رجعي او كانت كافرة او صغيرة فيكون اعم من الشرعي. اهـ يعنى لغوى معنى عام ده هغه مطلقه رجعيه ته هم شامل دې او هم دغه شان كتابيه ته هم په خلاف د معنى شرعى چه هغه خاص ده د مطلقه بائنه مسلمه سره، خو دا د مسلمه او كافره فرق صرف د احنافو په نزد دې كماسياتي)

هغې کښې د داسې رنګين جامو اغوستلو ممانعت دې چه هغې نه مقصود زينت وی (١) او هغه جديده وی، د عدت په زمانه کښې د کومو څيزونو نه بچ کيدل ضروری دی د دې د باب وړاندې راروان دې.

ځان پوهه کړه چه متوفی عنها زوجها باندې د عدت په زمانه کښې احداد واجب دې د جمهورو په نزد ومنهم الائمة الاربعة، او د حسن بصری مسلک دا ليکلې دې چه د هغه په نزد واجب نه دې، او معتدة الطلاق په باره کښې دا ده چه په مطلقه رجعيه باندې خو بالاتفاق واجب نه دې، او د مطلقه بائنه په باره کښې د جمهورو مسلک خو هم دا دې، خو په دې کښې د احنافو اختلاف دې د هغوی په نزد په هغې باندې احداد واجب دې.

[٢٢٩٩](٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ بِهَذِهِ الْأَحَادِيثِ الثَّلَاثَةِ، قَالَتْ زَيْنَبُ: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ حِينَ تُوُفِّيَ أَبُوهَا أَبُو سُفْيَانَ، فَدَعَتْ بِطِيبٍ فِيهِ صُفْرَةٌ خَلُوقٌ أَوْ غَيْرُهُ فَدَهَنَتْ مِنْهُ جَارِيَةً ثُمَّ مَسَّتْ بِعَارِضَيْهَا، ثُمَّ قَالَتْ: وَاللَّهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ، غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا". ثُمَّ دَخَلْتُ عَلَى زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ حِينَ تُوُفِّيَ أَخُوهَا، فَدَعَتْ بِطِيبٍ، فَمَسَّتْ بِهِ، ثُمَّ قَالَتْ: مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ، غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ: «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، تُحِدُّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا» قَالَتْ زَيْنَبُ، وَسَمِعْتُ أُمَّ سَلَمَةَ، تَقُولُ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا، وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنَهَا، أَفَتَكْحُلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا» مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، كُلَّ ذَلِكَ يَقُولُ: «لَا»، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ، وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ» قَالَ حُمَيْدٌ: فَقُلْتُ لِزَيْنَبَ، وَمَا تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ؟ فَقَالَتْ زَيْنَبُ: «كَانَتِ الْمَرْأَةُ إِذَا تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا، دَخَلَتْ حِفْشًا، وَلَبِسَتْ شَرَّ ثِيَابِهَا، وَلَمْ تَمَسَّ طِيبًا حَتَّى تَمُرَّ بِهَا سَنَةٌ، ثُمَّ تُؤْتَى بِدَابَّةٍ، حِمَارٍ أَوْ شَاةٍ أَوْ طَائِرٍ، فَتَفْتَضُّ بِهِ، فَقَلَّمَا تَفْتَضُّ بِشَيْءٍ [ص:٢٠] إِلَّا مَاتَ، ثُمَّ تَخْرُجُ فَتُعْطَى بَعَرَةً، فَتَرْمِي، ثُمَّ تُرَاجِعُ بَعْدُ مَا شَاءَتْ مِنْ طِيبٍ أَوْ غَيْرِهِ»

ترجمه: دزينب بنت ابوسلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه زه ام حبيبه رضي الله عنها ته ورغلم کله چه دهغې پلار ابوسفيان نه وفات شوې وو هغې يوه خوشبو راوغوښتله چه زيړ رنګ په کښې و ددې نه ئې لږه شان راواخستله او په يوماشوم ئې ولګوله او بيائې پخپل مخ ولګوله اووئې وئيل په الله قسم ماته دخوشبو لګولو ضرورت نشته لېکن ما دنبی عليه السلام نه اوريدلې دي چه فرمائيلې ئې وو کومه ښځه چه په الله او په رسول ايمان لری دهغې دپاره حلال نه دی چه په مړي باندې د درې ورځونه زيات ماتم اوکړی او خپل سنګار پريږدي مګردخاوند

(١) ففي الدر المختار : ولبس المعصفر والزعفر، قال ابن عابدين : اي لبس الثوب المصبوغ بالعصفر والزعفران، والمراد بالثوب ما كان جديد التقع به الزينة والا فلا باس به لانه لا يقصد به الا ستر العورة والاحكام تبتني علي المقاصد. اهـ

(٢): صحيح البخاري/الجنائز ٣٠ (١٢٨١)، والطلاق ٤٦ (٥٣٣٦)، ٤٧ (٥٣٣٨)، ٥٠ (٥٣٤٥)، صحيح مسلم/الطلاق ٩ (١٤٨٨)، سنن النسائي/الطلاق ٥٥ (٣٥٣٠)، ٥٩ (٣٥٥٧)، ٦٣ (٣٥٦٣)، ٦٧ (٣٥٦٨)، سنن الترمذي/الطلاق ١٨ (١١٩٦)، سنن ابن ماجه/الطلاق ٣٤ (٢٠٨٤)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٧٦، ١٨٢٥٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطلاق ٣٥ (١٠١)، مسند احمد (٣٢٥/٦، ٣٢٦)، سنن الدارمي/الطلاق ١٢ (٢٣٣٠) (صحيح)

په وفات باندې به څلور میاشتې اولس ورځې ماتم کوي اوعدت به تیروي)، زینب اووئیل زه دزینب بنت جحش خواته لاړم کله چه دهغې وررور عبیدالله بن جحش وفات شوې وو هغې خوشبو راوغوښتله اووئې لګوله اوددې نه پس ئې اووئیل په الله قسم ماته دخوشبو لګولو ضرورت نشته لیکن مادنبی ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائیلي ئې وو کومه ښځه چه په الله او په رسول ایمان لرې دهغې دپاره حلال نه دی چه په مړي باندې د درې ورځونه زیات ماتم اوکړی او خپل سنګار پریږدي مګردخاوند په وفات باندې به څلور میاشتې اولس ورځې ماتم کوي، زینب اووئیل مادخپل مور ام سلمه رضی الله عنها نه اوریدلي دي چه فرمائیل ئې بوه زنانه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله زمادلور خاوند مړشو اودهغې سترګې خوږیږي آیا رانجه په کښې اچولې شي؟ نبی ﷺ اوفرمائیل نه، هغې دا سوال دوه ییرې پادرې پیرې اوکړونبی ﷺ به ورته هر ځل وئیل چه نا رانجه استعمالول منع دي) بیانبی ﷺ اوفرمائیل اوس خوعدت صرف څلور میاشتې اولس ورځې دي او د جاهلیت په زمانه کښې به تاسو پخپلو سرونوکښې پچې اچولې دحدیث راوی حمید عرض اوکړو ما د زینب رضی الله عنها نه تپوس اوکړو چه دپچو اچولوخه مطلب دې هغه اووئیل دجاهلیت په زمانه کښې چه به کله د کومې ښځې خاوند مړکیدو نوهغه ښځه به یوې کوټې ته داخل شوه اوزړې شلیدلې اوخرابې جامې به ئې واغوستلې اونه به ئې خوشبولګوله اونه به ئې دسینګار کوم بل څیز استعمالولو تردې پورې چه یو کال به تیرشو بیابه یوڅاروې راوستلې شو خره پاچیلې یا مرغئ دې ښځې به ددغه څاروی پسې خپل ځان ولګولو نو هغه به اکثر مړکیدو ددې نه پس به بیادې ښځې ته یوه پچه ورکړې شوه هغه به ئې د سر نه تاؤ کړه، اوبه ئې غورځوله بیابه دعدت نه فارغه شوه نوددې نه پس به ئې خوشبو وغیره استعمالوله. امام ابوداود فرمائی الاحفش وړوکي کورته وئیلي شي.

توضیح الحدیث

قوله: عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ بِهَذِهِ الْأَحَادِيثِ الثَّلَاثَةِ..الخ:

زینب بنت ابی سلمة چه د رسول الله ﷺ ربیبه (پرکتئ) ده هغې مسلسل درې احادیث بیان کړل، د درې واړو تعلق د مسئله احداد سره دې، او دا درې واړه احادیث نقل هم په یو سند باندې دی.

﴿قالت زینب : دخلت علی ام حبیبة حین توفی ابوها ابو سفیان ﴾اولنې حدیث دې، سیده زینب رضی الله عنها فرمائی چه کله د ام المومنین ام حبیبه رضی الله عنها والد محترم سیدنا ابو سفیان رضی الله عنه وفات شو نو زه هغې ته ورغلم (په ظاهره کښې د تعزیت دپاره) نو کله چه زه هلته لاړم نو هغه وخت هغې د خپلې یوې جینئ رنګینه خوشبوئی کومې ته چه خلوق وئیلي شی لګوله، چه کله ئې اولګوله نو په لاسونو باندې چه ئې کوم اثر باقی وو هغه ئې په خپل مخ باندې اولګولو، او د مړلو نه پس ئې اوفرمائیل چه والله! ماته دې وخت کښې د دې خوشبوئی لګولو څه حاجت نشته، (۱) او دې وخت کښې ما دا خوشبوئی صرف د دې دپاره

(۱) ځکه چه د هغې خاوند یعنی رسول الله ﷺ وفات شوې وو، او زنانه خو دول د خپل خاوند دپاره کوی)

لګولي ده چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي وو چه د يو ايمان والا زنانه دپاره دا جائز نه دی چه هغه په يو مړی باندې غم اوکړی د درې ورځو نه زيات، سوا د خپل خاوند نه، نو ګويا مطلب دا شو چه چونکه د خاوند په وفات باندې درې ورځې تيرې شی په دې وجه ما قصدا دا خوشبوئی اولګوله چه په هغه حديث باندې عمل راشی، دا د هغه احاديث ثلاثه نه يو حديث شو، اوس هغه وړاندې دويم او دريم حديث بيانوی.

ايا په کتابيه باندې هم احداد واجب دې؟

د دې حديث نه چه يوه مسئله فقهيه مستنبط کيږی هغه دا ده چه د ښځې خاوند وفات شو هغه که ذميه يعنی کتابيه وی نو په هغې باندې احداد واجب دې يا نه دی؟ د احنافو په نزد واجب نه دې وبه قال ابو ثور وبعض المالکية، ځکه چه په دې حديث کښې ﴿تومن امن بالله واليوم الاخر﴾ فرمائيلي دي، پس په دې حديث باندې امام نسائی ترجمه قائم کړې ده. ﴿ترک الزينة للحادة المسلمة دون اليهودية والنصرانية﴾ په دې کښې جمهور علماء او د ائمه ثلاثه اختلاف دې، د هغوی په نزد کتابيه باندې هم احداد واجب دې، هغه د دې وجه په طور د قياس او دليل عقلی دا بيانوی چه په نکاح کښې کوم چه د حقوق مسلمه دپاره حاصل دی هم هغه کتابيه دپاره هم حاصل دې، هم دغه شان چه کوم حقوق په مسلمه باندې واجب وی هم هغه به په کتابيه باندې هم وی. (تکملة المنهل) او دلته بله اختلافی مسئله ده چه هغه کوناړه جينۍ چه د هغې خاوند وفات شوې دې که هغه وړه وی نو د احنافو په نزد په هغې باندې احداد واجب نه دې د هغې د غير مکلف کيدو د وجې نه او د ائمه ثلاث په نزد د هغه په حق کښې هم احداد دې، لهذا د هغې چه کوم ولی وی په هغه باندې به دا واجب وی چه په هغه صغيره باندې احداد اوکړی.

قوله: ﴿قالت زينب ودخلت على زينب بنت جحش حين توفى اخوها فدعت بطيب فمست منه الخ﴾ دا د احاديث ثلاثه نه دويم حديث دې، بيانولو والا خو زينب بنت ابی سلمة ده، او هغه چه اوس د چا قصه بيانوی هغه ام المومنين زينب بنت جحش رضي الله عنها ده، د هغې مضمون هم بعينه د اول حديث په شان د مس طيب دې، صرف فرق ئې دا دې چه په اول حديث کښې ئې د پلار وفات مذکور وو او په دې کښې د رور وفات، د هغه حديث نه دا خبره هم معلوميږی چه د خاوند نه علاوه د بل يو عزيز په وفات باندې د زنانه دپاره غم کول د درې ورځو نه زيات مباح نه دې، فقهاء کرامو هم دا خبره ليکلې ده، هم دغه شان صرف اباحت دې نه وجوب. (بذل)

قوله: ﴿قالت زينب وسمعت امی ام سلمة تقول: جاءت امراة الى النبی ﷺ..الخ: دا د هغه احاديثو نه دريم حديث دې کوم چه سيده زينب رضي الله عنها د خپل مور سيده ام سلمه رضي الله عنها نه بيانوی هغه دا چه ام سلمه فرمائی چه يوه زنانه يو ځل رسول الله ﷺ ته راغله، او راتلو سره ئې عرض اوکړو يا رسول الله! زما د لور خاوند وفات شوې دې او د هغې سترګه خوږيږی ايا مونږ په هغې کښې رانجه اچولې شو؟ نو په دې باندې ورته رسول الله ﷺ دوه درې کرته اوفرمائيل چه نه! بيا وړاندې په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ﴿انما هی

اربعة وعشرا وقد كان احداكن في الجاهلية ترمي بالبعرة على راس الحول الخ ﴾

رسول الله ﷺ د هغې په تپوس باندې خفه شو، چه زنانه د ډول دپاره بهانې ګوري، پس وې فرمائيل چه اوس په اسلام کښې د عدت موده صرف څلور مياشتې او لس ورځې ده (تاسو نه په دې مختصر موده کښې هم صبر نه کيږی) حال دا چه د جاهليت په زمانه کښې به د هغه کونډې زنانه دا حال وو چه کله به يو کال موده پوره شوه ﴿ترمي بالبعرة ﴾نو پچې به ئې غورځولې د عدت په پوره کولو باندې، وړاندې په روايت کښې د دې جملې تشريح مذکور ده هغه دا چه د جاهليت په زمانه کښې به چه کله د يوې زنانه خاوند وفات شو نو د هغې عدت به يو کال وو، او هغه د يو کال عدت به ئې ډير په مشکله پوره کولو چه د کور په يوه وړه شان کوټه کښې به اوسيدله او ډيرې بدرنګې کپړې به ئې اچولې، او نه به ئې څه قسم کپړې اچولې او خپل ټول کارونه به ئې په هغه تياره کوټه کښې کول، بيا به د کال په پوره کيدو باندې هغې ته يو خربيزه راوستلې شوه او په هغې باندې به کينولې شوه بيا به هغې په دې خاروی پورې خپله شرمګاه د بدن بله څه حصه مږله. او هغې ته به د پچو يو موټې ورکولې شو او د هغې په غورځولو سره به د خپل عدت د مقام نه بهر راوتله.

په دې روايت کښې راوی دا هم وئيلې دی چه په کوم څاروی پورې به هغې د خپل بدن حصه مږله هغه به ډير کم بچ پاتې کيدو اکثر به هلاک شو چه د هغې وجه بعض شارحينو دا ليکلې ده چه چونکه هغه کونډې به د دې يو کال په اوږده موده کښې غسل نه کولو نه به ئې جامې صفا کولې، بدن او کپړې به ئې ټولې ګنده شوې، ځائې به ئې هم ګنده وو نو د دې ګندګئ د وجې نه به د هغې په بدن کښې د زهرو اثار پيدا شو په دې وجه به هغه حيوان او مارغه وغيره چه کوم وو هغه به هلاک شو هم دغه شان ﴿ترمي بالبعرة ﴾د تشريح د لاندې هم په شروح کښې ډير څه ليکلې شوې دی، هم دغه شان حضرت شيخ هم په اوجز المسالک کښې تفصيل سره ليکلې دی که څوک غواړی هغه دې اوګوری، په اوجز کښې ئې دا هم ليکلې دی چه د بعض رواياتو نه معلوميږی چه هغې به دغه پچې وړاندې طرف ته ويشتلې، او د بعض نه معلوميږی چه شاته به ئې غورځولې وغيره وغيره. او دا ئې هم ليکلې دی چه رمي بالبعرة اشاره ده د رمی عدت طرف ته چه الله پاک زما نه دا مصيبت لرې کړو، او وئيلې شوې دی چه هغوی به تفاولا داسې کول چه دا ورځې زما نه لرې شوې الله پاک دې دا ورځې ماته دوباره نه بنائی او د پچو خصوصيت د عدت د سپکاوی او د عظمت حق زوج طرف ته د اشاره وه.

قال ابوداود : الحفش بيت صغير... امام ابوداود هم بعض وخت د امام ترمذی رحمه الله په شان چه هغه خو به په کثرت سره داسې کول، يعنی د بعض الفاظ حديث لغوی معنی بيانوی، او په موطاء کښې دننه دی قال مالک : والحفش البيت الردی.

والحديث اخرجه باقي الجماعة (تكملة المنهل)

باب فِي الْمُتَوَفَّى عَنْهَا تَنْتَقِلُ

د کونډې د منتقل کیدو بیان

دا په مسائل ثلاث کښې باقي مسئله ثلاثه ده، په دويم او په دريم کښې فرق دا دې چه د دې نه مخکښې چه څه تير شو هغه خروج المعتدة لقضاء حاجتها فی النهار واما البيتوتة ففی بيت العدة... يعنې د ورځې د څه ضرورت د وجې نه بهر وتل او شپه په بيت العدة کښې تيرول او دا دريمه مسئله چه کومه ده هغه جواز التحول والانتقال من بيت العدة الى مكان اخر، يعنې بيت العدة لره مستقلا پريخودل او په بل يو کور کښې د عدت تيرولو مسئله ده د هغې دپاره مصنف دلته دوه بابونه قائم کړي دی، په دې اولنی باب کښې ئې عدم جواز انتقال لره ثابت کړې دې کوم چه د ائمه اربعه مذهب دې او په راتلونکی باب کښې ئې د دې جواز ثابت کړې دې، د کوم چه بعض صحابه او تابعين قائل وو، وهی علی وابن عباس وعائشة ومن التابعين الحسن وعطاء.

[۲۳۰۰](۱)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنْ عَمَّتِهِ زَيْنَبَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ وَهِيَ أُخْتُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَتْهَا، أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ، فَإِنَّ زَوْجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ أَبَقُوا، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِطَرَفِ الْقَدُومِ لَحِقَهُمْ فَقَتَلُوهُ، فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي، فَإِنِّي لَمْ يَتْرُكْنِي فِي مَسْكَنٍ يَمْلِكُهُ وَلَا نَفَقَةٍ، قَالَتْ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، قَالَتْ: فَخَرَجْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي الْحُجْرَةِ أَوْ فِي الْمَسْجِدِ، دَعَانِي أَوْ أَمَرَ بِي، فَدُعِيتُ لَهُ، فَقَالَ: "كَيْفَ قُلْتِ؟" فَرَدَدْتُ عَلَيْهِ الْقِصَّةَ الَّتِي ذَكَرْتُ مِنْ شَأْنِ زَوْجِي، قَالَتْ: فَقَالَ: "امْكُثِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ"، قَالَتْ: فَاعْتَدَدْتُ فِيهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، قَالَتْ: فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ أَرْسَلَ إِلَيَّ فَسَأَلَنِي عَنْ ذَلِكَ، فَأَخْبَرْتُهُ، فَاتَّبَعَهُ وَقَضَى بِهِ.

ترجمه: د فريعة بنت مالك بن سنان دابوسعيد خدری ﷛ دخورنه روايت دې فرمائی چه زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوم اوتپوس مې ترې کولوچه ايازه خپل خاندان ته لاړه شم کوم چه په بني خدره کښې دي؟ ځکه چه ددې خاوند په تختيدلو غلامانو پسې تلې وو او غلامانوپه قدوم مقام کښې مړکړوفريعه دنبی ﷺ نه تپوس اوکړو چه زماخاوند زما دپاره دخپل طرف نه نۀ کور اونه نفقه پريخودلې ده فريعه ووئيل چه نبی ﷺ اوفرمائيل چه هو، ته خپل خاندان ته لاړه شه فريعه وائی بيازه ددغه ځائې نه روانه شوم اومسجد يا حجرې ته راغلم نونبی ﷺ زه را اوغوښتلم اوراته ئې اوفرمائيل چه تاځنګه واقعه بيان کړه هغې ورته دوباره دخپل خاوند واقعه بيان کړله نبی ﷺ ورته اوفرمائيل ترڅوچه دې عدت نه وي تيرشوي هم دلته په دې کورکښې اوسيږه، فريعه ووئيل چه بياما څلورمياشتې اولس ورځې هم دلته په دې کورکښې تيرکړي، کله چه دعثمان بن عفان دور خلافت راغې نوهغه ماته يوکس راوليږلودمسئلې د معلومولودپاره نوماورته مسئله بيان کړه لهذا هغوی ددې پيروي اوکړله اوددې مطابق فيصله ئې اوکړله.

(۱): سنن الترمذي/الطلاق ۲۳ (۱۲۰٤)، سنن النسائي/الطلاق ٦٠ (۳۵۵۸)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۳۱ (۲۰۳۱)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰٤۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الطلاق ۳۱ (۸۷)، مسند احمد (٦/۳۷۰، ٤۲۰)، سنن الدارمي/الطلاق ۱٤ (۲۳۳۳) (صحيح)

مضمون حديث :

د حديث مضمون دا دي چه د سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه خور فريعه بنت مالک بن سنان رضی الله عنها خپله واقعه داسي بيانوی چه زما د خاوند ځو غلامان وو کوم چه اوتختيدل، هغه وائی چه زما خاوند د هغوی په لټون پسې اووتلو او د مقام قدوم په يو اړخ کښې د هغوی سره ملاؤ شو، خو داسې اوشوه چه هغه غلامانو هغه قتل کړو، هغه وائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اجازت اوغوښتلو چه زه د خپل مور او پلار کور ته لاړه شم، ځکه چه زه خاوند په يو داسې کور کښې نه يم پريخودلې کوم چه د هغه خپل مسکن وی او نه د نفقې څه انتظام شته، هغه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته اوفرمائيل چه ته تلې شې، بيا چه زه د مسئلې د تپوسلو نه روستو روانه شوم نو لا لرې نه اوم تلې چه زه ئې دوباره راطلب کړم او زما نه ئې تپوس اوکړو چه تا زما نه څه مسئله تپوسلې وه؟ ما خپله قصه دوباره عرض کړه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل سابقه حکم نه رجوع اوکړه او وې فرمائيل ﴿امكثی فی بيتک حتی يبلغ الكتاب اجله﴾ته هم په هغه کور کښې اوسيږه ترڅو چه عدت پوره شی، بيا هغې هم هغه شان اوکړل، هغه فرمائی چه سيدنا عثمان رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښې زما نه د دې مسئلې د تپوسلو دپاره يوسړې رااوليږو اوبيا ئې د معلومولو نه پس هم د دې مطابق فيصله اوکړه.

دا حديث د ائمه اربعه د مسلک دليل دې، ابن قدامه هم دغه شان فقهاء کرامو هم په دې مسئله باندې هم د دې حديث نه استدلال کړې دې، دا حديث سنن اربعه دې، رواه بقية اصحاب السنن وقال الترمذی حسن صحيح.

بَابُ مَنْ رَأَى التَّحَوُّلَ

باب په عدت کښې نقل مکانی لره د جائز ويونکو بيان

د دې باب غرض د تير باب په شروع کښې ليکلې شوې دې، او دا هم چه کوم حضرات د دې قائل دی.

[۲۳۰۱]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ مَسْعُودٍ، حَدَّثَنَا شِبْلٌ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، قَالَ: قَالَ عَطَاءٌ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "نَسَخَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: عِدَّتَهَا عِنْدَ أَهْلِهَا فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَاءَتْ، وَهُوَ قَوْلُ اللهِ تَعَالَى: غَيْرَ إِخْرَاجٍ سورة البقرة آية ۲۴۰". قَالَ عَطَاءٌ: "إِنْ شَاءَتِ اعْتَدَّتْ عِنْدَ أَهْلِهِ وَسَكَنَتْ فِي وَصِيَّتِهَا، وَإِنْ شَاءَتْ خَرَجَتْ، لِقَوْلِ اللهِ تَعَالَى: فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ سورة البقرة آية ۲۴۰". قَالَ عَطَاءٌ: "ثُمَّ جَاءَ الْمِيرَاثُ فَنَسَخَ السُّكْنَى تَعْتَدُّ حَيْثُ شَاءَتْ".

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دا آيت منسوخ شوې دې په کوم کښې چه ددې خبرې ذکردې چه متوفي عنها زوجه به په خپل کورکښې عدت تيروي اوس چه هر چرته عدت تيرول غواړې تيرولې شي اوهغه داقول دالله تعالی دې غير اخراج عطاء ورته ووئيل که چرې ښځه غواړې نوپه خپل کورکښې دې عدت تيرکړې دخپل اهل سره اوکه خوښه ئې وې نولاړه دې شي دالله تعالی ددې قول په بناء باندې ﴿فإن خرجن فلا جناح

[1]): صحيح البخاري/التفسير ۴۱ (۴۵۳۱)، الطلاق ۵۰ (۵۳۴۴)، سنن النسائي/ الكبري/ الطلاق (۵۷۲۵)، (تحفة الأشراف: ۵۹۰۰) (صحيح)

عليكم فيما فعلن») عطاء ووئيل هركله چه دميراث آيت راغي نوپه كوركښي عدت تيرول منسوخ شول لكه څنګه چه دكال نفقه منسوخ شوه اوس چه چرته عدت تيرول غواړي تيرولي شي.

د جمهور او ابن عباس مسلک تشريح او كيفية استدلال:

دا مخكښي تير شو چه سيدنا ابن عباس او عطاء د بيت العدت نه د انتقال د جمهور د مسلک خلاف د جواز قائل دی، د هغوی استدلال د آيت الحول نه دې او دا هم مخكښي تير شو چه متوفّى عنها زوجها په عدت سره متعلق دلته په سورة بقرة كښي دوه آيتونه دی، يو آيت التربص چه په هغي كښي دا دی ﴿يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشرا﴾او دويم آية الحول كوم چه په حديث الباب كښي مذكور دې چه د هغي حاصل دا دې چه متوفى عنها زوجها په بيت العدت كښي تر يو كال پورې اوسيږی، څوک دې هم هغه د هغه ځائې نه اوباسی، او كه هغه پخپله اوځی نو جدا خبره ده، ﴿فان خرجن فلا جناح عليكم﴾اوګورئ، د دې آيت كريمه نه جواز انتقال او خروج صاف طور معلوميږی، هم د دې ابن عباس او عطاء قائل دې.

بيا به دلته دا تپوس وی چه آيت الحول نه دوه حكمونه معلوميږی، اول د عدت يو كال كيدل، دويم جواز انتقال، نو چه كله ابن عباس د ﴿اية الحول﴾قائل دې نو بيا د هغه په نزد عدة الوفات هم يو كال كيدل پكار دی حال دا چه هغه د دې قائل نه دې، د دې جواب دا دې چه د سيدنا ابن عباس رضي الله عنه په نزد د آيت الحول مفهوم دا نه دې چه د عدت موده يو كال ده، بلكه د دې مفهوم دا دې چه خاوند له پكار دی چه د وفات نه مخكښي د زوجه دپاره د دې خبرې وصيت اوكړی چه د كور خلق به هغه ښځه د كور نه يو كال پورې نه اوباسی، يعنی كونډې ته تر يو كال پورې حق سكنى حاصل دې، څلور مياشتې لس ورځې خو د عدت په ضمن كښي او باقي اووه مياشتې شل ورځې د مزيد عدت نه علاوه، او دا مطلب نه دې چه مدة العدة هم يو كال دې هغه خو هم هغه څلور مياشتې او لس ورځې، خو حق سكنى هغې ته د يو كال كيدل پكار دی، په داسې طريقه ابن عباس د آية الحول قائل دې، د دې تقرير تقاضه دا ده چه د ابن عباس په نزد آية التربص په نزول كښي مقدم دې لكه چه هغه په تلاوت كښي هم مقدم دې، او آية الحول په نزول كښي د دې نه موخر دې، او د جمهور علماء كرامو رائې دلته دا ده چه اية الحول تعلق د اصل عدت سره دې او هغه په نزول كښي مقدم دې اګر چه په تلاوت كښي مؤخر دې، لهذا د عدت الوفات موده يو كال شوه، بيا روستو آية التربص نازل شو، چه دا راغلو نو اية الحول ئې منسوخ كړو، او د عدت موده په ځائې د يو كال څلور مياشتې او لس ورځې شو، پس چه كله آيت الحول منسوخ شو نو د خپل هر دوه جزونو په اعتبار سره منسوخ شو، مدةالعدة او جواز خروج، په دې وجه جمهور د جواز خروج قائل نه دی، او د هغه په نزد آية الحول نه جواز خروج باندې استدلال صحيح نه شو، بيا وراندې په حديث الباب كښي دا دی چه ابن عباس رضي الله عنه فرمائی بيا روستو چه كله آيت ميراث نازل شو نو په دې سره هغه حق سكنى منسوخ شو، ښه ځان پوهه كړه چه دا مقام دقيق او ګران دې، بلكه من مزال الاقدام دې، پس حضرت په

بذل کښې لیکی چه د صاحب عون المعبود نه د دې مقام په فهم کښې غلطی واقع شوې ده. والحدیث اخرجه ایضا الطبری، واخرجه النسائی مختصرا والبخاری معلقا (تکملة المنهل) په صحیح بخاری کښې دا حدیث تعلقیا په ډیرو ځایونو کښې منقول دې، په کتاب التفسیر کښې او په کتاب الطلاق کښې په باب قول الله تعالی والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجا الایة کښې.

بَابٌ فِيمَا تَجْتَنِبُهُ الْمُعْتَدَّةُ فِي عِدَّتِهَا

باب د عدت تیرونکی ښځې لره چه د کومو څیزونو نه بچ کیدل پکار دی دهغې بیان

[۲۳۰۲](۱)حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْجَرَّاحِ الْقُهِسْتَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ يَعْنِي ابْنَ بَكْرٍ السَّهْمِيَّ، عَنْ هِشَامٍ، وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ الْجَرَّاحِ، عَنْ حَفْصَةَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُحِدُّ الْمَرْأَةُ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ، فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ وَلَا تَكْتَحِلُ وَلَا تَمَسُّ طِيبًا إِلَّا أَدْنَى طُهْرَتِهَا إِذَا طَهُرَتْ مِنْ مَحِيضِهَا بِنُبْذَةٍ مِنْ قُسْطٍ أَوْ أَظْفَارٍ". قَالَ يَعْقُوبُ مَكَانَ عَصْبٍ: "إِلَّا مَغْسُولًا". وَزَادَ يَعْقُوبُ: "وَلَا تَخْتَضِبُ".

ترجمه: دام عطیة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلي دي ماتم به نه کوي هیڅ یوه ښځه زیات د درې ورځونه مګرپه خاوندباندې یعنی چه خاوند تې وفات شي ځکه چه دابه ورباندې څلور میاشتې اولس ورځې ماتم کوي اونه به اغوندی رنګ کړي شوي جامې مګردیمن لکیرداري جامې اونه به رانجه لګوي اونه خوشبو استعمالوي مګر کله چه طهرته نزدې شي نوکله چه پاکه شي نولګه شان خوشبود قسط او اظفار (دخوشبویانو نومونه دی) استعمال کړي. دیعقوب په روایت کښې د عَصْبٍ په ځائې باندې مَغْسُولًا لفظ منقول دې یعنی وینځلي شوي، اودا اضافه ئې هم کړې ده خضاب نکریزې به نه استعمالوي.

تشریح: ﴿ولا تلبس ثوبا مصبوغا الا ثوب عصب، ولا تكتحل﴾او رنګین کپړه دې نه اغوندی یعنی ثوب جدید. رنګین کوم چه قابل زینت وی لکه چه مخکښې تیر شو او فتح القدیر ۲۹۵/۳کښې دی چه د معتده دپاره ﴿ لبس اسود ﴾په اتفاق د ائمه اربعه جائز دې، البته د ظاهریه په نزد جائز نه ده مثل احمر واخضر دپاره. اهـ

په ثوب عصب کښې روایات او د علماء کرامو اختلاف:

په دې روایت کښې د ثوب عصب استثناء ده چه د هغې اغوستل جائز دی، د امام شافعی رحمه الله مسلک خو هم دا لیکلې شوې دې مطلقا، او د امام مالک په نزد هم جائز دې په دې شرط چه غلیظ یعنی سخت نه وی نرې وی، او د احنافو په نزد د ثوب عصب اچول جائز نه دی، کذا فی البذل عن الشیخ ابن الهمام، او علامه شامی د علامه زیلعی نه نقل کړې دی چه لبس ممشق یعنی احمر خو ناجائز دې او د لبس عصب په باره کښې لیکلې دی چه

---

۱): صحيح البخاري/الحيض ۱۲ (۳۱۳)، الجنائز ۳۰ (۱۲۷۸)، الطلاق ٤٧ (۵۳۳۹)، ٤٩ (۵۳٤۲)، صحيح مسلم/الطلاق ۹ (۹۳۸)، سنن النسائي/الطلاق ٦٤ (۳۵٦٤)، ٦۵ (۳۵٦٦)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۳۵ (۲۰۸۷)، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۳٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦۵/۵)، سنن الدارمي/الطلاق ۱۳ (۲۳۳۲) (صحیح)

هغه مکروه دي او بيا ئي د دې نه روستو د دې په تفسير کښې ځو اقوال ليکلي دی، د دې په تفسير کښې د شارحينو اختلاف دې، يو قول په دې کښې دا دې چه ثوب عصب نه هغه کپړه مراد دې چه د هغې د جوړيدو نه مخکښې د هغې په تار کښې غوټې اولګولې شی او بيا دې هغه رنګ کړې شی، د هغې نه روستو د هغې کپړه جوړه کړې شی، نو کومه کپړه چه داسې جوړه کړې شی هغه به ټوله رنګينه نه وی، بعض رنګين او بعض به سپين وی نو ګويا ممانعت د هغې رنګ کړې شوې کومه چه پوره رنګ شی، او يو تفسير د هغې دا کړې شوې دې چه (عصب) هغه يمنی څادر دې کوم چه سپين جوړ کړې شی او بيا روستو هغه رنګ کړې شی. اهـ من البذل. د دې ټولو نه معلومه شوه چه په حديث کښې د ثوب عصب استثناء د احنافو د مسلک خلاف ده.

ددې جواب په بذل وغيره کښې هم نه دې ليکلې خو زما په ذهن کښې دادی چه اولا د ثوب عصب په تفسير کښې اختلاف دې. د نورو راويانو هم په دې کښې اختلاف دې لکه چه مصنف وړاندې بيان کړل، دريم دا چه دا د نسائی روايت دې (ولا ثوب عصب) په ځائې د (الاثوب عصب)، په دې سره خو ټول اشکال رفع شو.

د دې نه پس په روايت کښې د اکتحال هم ممانعت دې قال ابن الهمام: لا من عذر لان فيه ضرورة وهذا مذهب جمهور الائمة وذهب الظاهرية الى انها لا تكتحل ولو من عذر. (بذل)

(ولا تمس طيبا الا ادنى طهرتها اذا طهرت من محيضها بنبذة من قسط واظفار)[1] يعنی خوشبوئی دې هم نه لګوی خو د حيض نه د غسل په وخت په شروع کښې مقدار يسير د قسط او اظفار نه. يعنی معتده به د حيض د غسل نه پس د رائحه کريمه د زائل کولو دپاره لره شان خوشبوئی د بدن په مخصوص حصو کښې استعمالولې شی، قسط او اظفار دا د واړه د خوشبوئی اقسام دی، دې ته قسط اظفار هم وئيلې شی.

ددې حديث د لاندې "بذل المجهود" کښې احاد اد سره متعلق بعض جزئيات ليکلې دی چه په هغې کښې بعض دلته هم مخکښې تير شو، فليرجع اليه من شاء... والحديث اخرجه ايضا باقي السبعة الا الترمذی. (تكملة المنهل)

[۲۳۰۳] ([2]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَمَالِكُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ الْمِسْمَعِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ حَفْصَةَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ. وَلَيْسَ فِي تَمَامِ حَدِيثِهِمَا. قَالَ الْمِسْمَعِيُّ: قَالَ يَزِيدُ: وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ فِيهِ: "وَلَا تَخْتَضِبُ". وَزَادَ فِيهِ هَارُونُ: "وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ".

ترجمه: دام عطيه رضي الله عنها نه دتير شوي روايت په شان روايت نقل شوې دې، يزيد وائی زما خيال دې چه په دې روايت کښې ولا تختضب لفظ هم دې (يعنی نکريزې به نه لګوې اوهارون په دې روايت کښې دا اضافه کړې ده چه رنګ کړې شوې جامې به نه اغوندی مګرهغه يمنی

[1]: په ابواب التيمم کښې تير شوې دی چه هغه ظفار دې د روايت الفاظ دی (من جزع ظفار) هلته جلد اول کښې ظفار (د اظفار دواړو تحقيق تير شوې دې)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۱۳٤) (صحيح)

جامې چه کرخې په کښې وي.

[٢٣٠٤]()حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، حَدَّثَنِي بُدَيْلٌ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا لَا تَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ مِنَ الثِّيَابِ وَلَا الْمُمَشَّقَةَ وَلَا الْحُلِيَّ وَلَا تَخْتَضِبُ وَلَا تَكْتَحِلُ".

ترجمه: دام المومنين ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی چه دکوي ښځې خاوند وفات شي نوهغه دې رنګ کړې شوي جامې نه اغوندی اونه به زيورات استعمالوي اونه به نکريزی او رانجه استعمالوي.

تشريح: قوله:﴿ولا الممشقة ولا الحلی﴾ ممشقة هغه کپړې کوم چه په مشق سره رنګ کړې شوې وی، مشق يعنی الطين الاحمر، سره خاوره کومې ته چه ګيرو وئيلې شی، څنګه چه ګيروا کپړه وئيلې شی، (يعنی سوربخنه کپړا) هم دغه شان د لبس حلی ممانعت دې، په احداد کښې د کالی ټول قسمونه ممنوع دی اګر چه د سرو او سپينو زرو وی يا جواهر يعنی دقيمتی کانړو وی، صرح به الفقهاء والحديث اخرجه ايضا احمد والنسائی والبيهقی. (تکملة المنهل)

[٢٣٠٥]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَخْرَمَةُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ بْنَ الضَّحَّاكِ، يَقُولُ: أَخْبَرَتْنِي أُمُّ حَكِيمٍ بِنْتُ أَسِيدٍ، عَنْ أُمِّهَا، أَنَّ زَوْجَهَا تُوُفِّيَ وَكَانَتْ تَشْتَكِي عَيْنَيْهَا فَتَكْتَحِلُ بِالْجِلَاءِ، قَالَ أَحْمَدُ: الصَّوَابُ: بِكُحْلِ الْجِلَاءِ، فَأَرْسَلَتْ مَوْلَاةً لَهَا إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ فَسَأَلَتْهَا عَنْ كُحْلِ الْجِلَاءِ، فَقَالَتْ: لَا تَكْتَحِلِي بِهِ إِلَّا مِنْ أَمْرٍ لَا بُدَّ مِنْهُ يَشْتَدُّ عَلَيْكِ فَتَكْتَحِلِينَ بِاللَّيْلِ وَتَمْسَحِينَهُ بِالنَّهَارِ، ثُمَّ قَالَتْ عِنْدَ ذَلِكَ أُمُّ سَلَمَةَ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ أَبُو سَلَمَةَ وَقَدْ جَعَلْتُ عَلَى عَيْنِي صَبْرًا، فَقَالَ: "مَا هَذَا يَا أُمَّ سَلَمَةَ؟" فَقُلْتُ: إِنَّمَا هُوَ صَبْرٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَيْسَ فِيهِ طِيبٌ، قَالَ: "إِنَّهُ يَشُبُّ الْوَجْهَ، فَلَا تَجْعَلِيهِ إِلَّا بِاللَّيْلِ وَتَنْزَعِينَهُ بِالنَّهَارِ، وَلَا تَمْتَشِطِي بِالطِّيبِ وَلَا بِالْحِنَّاءِ فَإِنَّهُ خِضَابٌ"، قَالَتْ: قُلْتُ: بِأَيِّ شَيْءٍ أَمْتَشِطُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "بِالسِّدْرِ تُغَلِّفِينَ بِهِ رَأْسَكِ".

ترجمه: دام حکيم بنت اسيد نه روايت دې چه خاوند ئې مړشو اوددې سترګې خوريدلې نوهغې به يوقسم رانجه لګول ام سلمه ته يوه وينځه اوليږله چه رانجه استعمال کړم اوکه نه ام سلمه رضي الله عنها اوفرمائيل ليکن که چرې ضرورت زيات وي نودشپې ئې لګوه او دورځې خپلې سترګې پاکوه ام سلمه رضي الله عنها اوفرمائيل يوځل نبی عليه السلام زماخواته راغې کله چه زما خاوند ابوسلمه وفات شوې وو مارانجه لګولې وو راته ئې اورفرمائيل داڅه دي ماروئيل دا صبر دي (يوقسم رانجه) اې دالله رسوله په دې کښې خوشبو نشته د نبی عليه السلام اوفرمائيل يقينا ددې اثر په مخ پاتې کيږی دا مه استعمالوه مګردشپې او دورځې ئې صفاکوه اوسربه نه ګمنزوي په خوشبوئی سره، اونه به نکريزې استعمالوی ځکه چه دارنګ پريږدي ماورته اووئيل اې دالله رسوله سربه څنګه ګمنزوم راته ئې اوفرمائيل دبيرو په پاڼړوکښې په بشيدلو اوبو باندې به سر وينځې اوګمنزوي به ئې.

(): سنن النسائي/الطلاق ٦٤ (٣٥٦٥)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٢/٦) (صحيح)

(): سنن النسائي/الطلاق ٦٦ (٣٥٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٠٠) (ضعيف)

شریح: (د اکتحال په باره کښې روایات مختلف دی، د بعض نه مطلقا منع معلومیږی او د بعض نه د ورځې او د شپې د فرق سره اجازت معلومیږی، هغه روایاتو لره مخې ته ږدلو فقهاء کرامو اصولاً دا فیصله اوکړه چه د عذر په وخت جائز دې، بغیر د عذر نه جائز نه دې، چه هر کله د عذر په وجه باندې جائز شوه نو په دې کښې د ورځې او شپې فرق نه دی کیدل پکار، خو په دې روایت کښې فرق مذکور دې نو دا وئیلې کیدې شی چه ممکنه ده چه دلته څه قوی عذر نه وی په دې وجه فرق کړې شوې دې. والله تعالی اعلم کذا فی بعض الشروح)

قوله: ﴿فتکتحلین باللیل وتمسحینه بالنهار﴾[۱] د شوافعو مسلک هم دا دې چه زنانه د احداد په زمانه کښې که د څه عذر د وجې نه رانجه لګوی نو هغې له پکار دی چه د شپې ئې اولګوی او د ورځې ئې صفا کړی.

شرح حدیث :

قوله: ثُمَّ قَالَتْ عِنْدَ ذَلِكَ أُمُّ سَلَمَةَ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ أَبُو سَلَمَةَ وَقَدْ جَعَلْتُ عَلَى عَيْنِي صَبْرًا..الخ:

ام المومنین سیده ام سلمه رضی الله عنها پورته دا مسئله بیان کړې وه چه د شپې دې رانجه لګوی او د ورځې دې هغه صفا کوی، د دې په دلیل کښې هغه خپله واقعه بیانوی چه کله زما د مخکښې خاوند ابو سلمه رضی الله عنه انتقال اوشو او ما په خپلو سترګو باندې د ایلوې پوستکې لګولې وو (علاجا د څه تکلیف د وجې نه) نو رسول الله ﷺ ماته په طور د انکار اوفرمائیل چه ﴿انه یشب الوجه﴾ چه دا خو صحیح ده چه په دې کښې خوشبوئی نشته خو دا په مخ کښې چمک پیدا کوی، او بیا ئې اوفرمائیل چه دا د شپې لګوه او د ورځې ئې لرې کوه.

او وې فرمائیل چه په خوشبودار تیلو سره سر مه ګومنځوه، یعنی د امتشاط (سر ږمنځ کولو) په وخت تیل مه استعمالوه او نه په نکریزو سره خضاب کوه، هغې عرض اوکړو چه بیا په څه څیز سره امتشاط کوم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل د بیرې په پاڼړو باندې، د هغې نه د خپل سر غلاف جوړ کړه، یعنی د بیرې پاڼړو لره میده کړه او د نکریزو په شان ئې په سر اولګوه د ویښتو د صفا ستهرا کولو دپاره، او بیا ئې د هغې نه پس د ګومنځ په ذریعه خپل ویښته صفا کړه. والحدیث اخرجه النسائی (تکملة المنهل)

[۱] د اکتحال په باره کښې روایات مختلف دی، د بعض نه مطلقا منع معلومیږی، او د بعض نه د ورځې او شپې د فرق سره اجازت معلومیږی، دې روایاتو لره مخې ته ږدلو سره فقهاء کرامو اصولاً دا فیصله کړې ده چه د عذر په وخت جائز دې، بغیر د عذر نه جائز نه دې، چه هر کله د عذر په وجه باندې جائز شوه نو په دې کښې د ورځې او د شپې فرق نه دی کیدل پکار، خو په دې روایت کښې فرق مذکور دې نو دا وئیلې کیدې شی چه کیدې شی چه دلته عذر قوی نه وی په دې وجه فرق کړې شوې دې. والله اعلم کذا فی بعض الشروح)

بَابٌ فِي عِدَّةِ الْحَامِلِ

د حاملې د عدت بيان

په دې مسئله کښې مذاهب ائمه:

د عدت وفات موده خو څلور مياشتې او لس ورځې ده که زنانه حامله نه وی، که حامله وی نو د جمهورو ومنهم الائمة الاربعة په نزد وضع حمل دې، په دې کښې بعض صحابه لکه سيدنا علی او ابن عباس، ابو السنابل بن بعکک اختلاف دې، د هغه حضراتو په نزد د حامله عدت اخر الاجلين دې يعنی په دې دواړو (څلور مياشتې لس ورځې او وضع حمل) کښې چه کومه خبره هم بيا موندلې شي په دې درې واړو حضراتو کښې اخر دوه ابن عباس او ابو السنابل نه ددې قول نه رجوع منقول ده، بعض شارحينو د سحنون مالکی نه هم دا قول نقل کړې دې.

وړاندې په کتاب د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قول راروان دې چه هغه اوفرمائيل ﴿من شاء لاعنته لا نزلت سورة النساء القصرى بعد الاربعة الاشهر وعشرا﴾ د سورة النساء قصرى نه مراد سورة الطلاق دې چه په هغې کښې دا آيت کريمه مذکور دې، ﴿واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن﴾ يعنی د سورة الطلاق والا آيت کريمه د سورة بقره په آيت کريمه کښې تخصيص پيدا کړو، جمهور خو د تخصيص قائل دی خو د ابن مسعود رضی الله عنه د ظاهری کلام نه دا معلوميږی چه هغه دا په نسخ باندې محمول کړې دې، والصحيح ما عليه الجمهور، په دې باب کښې مصنف د سبعيه اسلميه واقعه ذکر کړې ده چه هغه د سعد بن خوله په نکاح کښې وه، پس د هغه په حجة الوداع کښې په مکه مکرمه کښې وفات شو، هغه دې وخت کښې حامله وه، د هغه د وفات نه څو ورځې پس د هغوی وضع حمل اوشو. ﴿فلم تنشب ان وضعت حملها بعد وفاته﴾ او د بخاری په يو روايت کښې دی ﴿بعد وفات زوجها بليال﴾ [1] او په سنن ترمذی کښې ابو السنابل بن بعکک نه روايت دې ﴿قال وضعت سبعية بعد وفات زوجها بثلاث وعشرين يوما او خمسة وعشرين يوما﴾

[۲۳۰۶] (۱) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، "أَنَّ أَبَاهُ كَتَبَ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَرْقَمِ الزُّهْرِيِّ يَأْمُرُهُ، أَنْ يَدْخُلَ عَلَى سُبَيْعَةَ

---

[1] اصل کښې په بخاری کښې دا روايت دوه ځايونو کښې دې يو په کتاب الطلاق او دويم په کتاب التفسير کښې، په کتاب الطلاق کښې يوځائې کښې خو دی ﴿بعد وفات زوجها بليال﴾ او هم د دې باب په دويم روايت کښې دی ﴿قريبا من عشر ليال﴾ او په کتاب التفسير کښې د سورة الطلاق په تفسير کښې داسې دی ﴿فوضعت بعد موته باربعين ليلة﴾ علامه عينی په دې سلسله کښې نور هم مزيد مختلف روايتونه ذکر کړې دی پس هغه ليکی: وعند احمد: فلم امكث الأشهرين وعند النسائي: بعشرين ليلة وعند ابي حاتم بعشرين او خمس عشرة، بيا هغه ليکی: والجمع بين هذه الروايات متعذر لاتحاد القصة فلعل ذلك هو السر في ابهام من ابهم المدة. اهـ عمدة القاري ۹۲/۱۷)

(۱): صحيح البخاري/المغازي ۱۰ (۳۹۹۱ تعليقًا)، الطلاق ۳۹ (۵۳۲۰)، صحيح مسلم/الطلاق ۸ (۱۴۸۴)، سنن النسائي/الطلاق ۵۶ (۳۵۱۸، ۳۵۱۹)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۷ (۲۰۲۸)، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۹۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۲/۶) (صحيح)

بِنْتِ الْحَارِثِ الْأَسْلَمِيَّةِ فَيَسْأَلُهَا عَنْ حَدِيثِهَا، وَعَمَّا قَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ اسْتَفْتَتْهُ، فَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ يُخْبِرُهُ، أَنَّ سُبَيْعَةَ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ سَعْدِ بْنِ خَوْلَةَ وَهُوَ مِنْ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ، وَهُوَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا فَتُوُفِّيَ عَنْهَا فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهِيَ حَامِلٌ، فَلَمْ تَنْشَبْ أَنْ وَضَعَتْ حَمْلَهَا بَعْدَ وَفَاتِهِ، فَلَمَّا تَعَلَّتْ مِنْ نِفَاسِهَا تَجَمَّلَتْ لِلْخُطَّابِ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا أَبُو السَّنَابِلِ بْنُ بَعْكَكٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ، فَقَالَ لَهَا: مَالِي أَرَاكِ مُتَجَمِّلَةً، لَعَلَّكِ تَرْتَجِينَ النِّكَاحَ، إِنَّكِ وَاللهِ مَا أَنْتِ بِنَاكِحٍ حَتَّى تَمُرَّ عَلَيْكِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ، قَالَتْ سُبَيْعَةُ: فَلَمَّا قَالَ لِي ذَلِكَ، جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي حِينَ أَمْسَيْتُ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ، فَأَفْتَانِي بِأَنِّي قَدْ حَلَلْتُ حِينَ وَضَعْتُ حَمْلِي، وَأَمَرَنِي بِالتَّزْوِيجِ إِنْ بَدَا لِي". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَلَا أَرَى بَأْسًا أَنْ تَتَزَوَّجَ حِينَ وَضَعَتْ وَإِنْ كَانَتْ فِي دَمِهَا، غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَقْرَبُهَا زَوْجُهَا حَتَّى تَطْهُرَ.

ترجمه: دعبيدالله بن عبدالله بن عتبه نه روايت دې فرمائي چه زما پلار عمربن عبدالله بن ارقم زهری ته وليکل اوحکم ئې ورته اوکړو چه سبيعه اسلمي ته ورشه اوتپوس ترې اوکړه دهغه حديث په باره کښې کله چه هغې دنبی ﷺ نه دشرعي حکم تپوس کړې وو عمربن عبدالله عبدالله بن عتبه ته په جواب کښې اوليکل چه سبيعه ماته فرمائيلي دي چه زه دسعد بن خوله په نکاح کښې وم څوك چه دقبيله عامربن لويئ والادې اوپه عزوه بدرکښې شريك شوې وو او بيا په حجة الوداع کښې وفات شو او په هغه وخت کښې زماحمل وو زما دخاوند دوفات نه يوڅو ورځې پس زما يوبچې پيداشو کله چه زه دبيمارۍ نه فارغه شوم نومابه دې عرض سنګار اوکړو چه ماته دنکاح پيغام راشي، چنانچه ماته يوکس چه نوم ئې ابوسنابل بن بعکك وو راغې اوتپوس ئې اوکړو څه وجه ده چه سنګاردې کړې دې شايد د نکاح کولو اراده لرې په الله قسم ترڅوچه څلور مياشتې اولس ورځې نه وې تيرې شوې نوته دويمه نکاح نه شې کولې سبيعه وائی کله چه ماداخبره واوريده ماخپلې کپړې واغوستلې اودنبی عليه السلا په خدمت کښې حاضره شوم اوټوله واقعه مې ورته عرض کړه نبی ﷺ اوفرمائيل دبچې په پيدا کيدوسره ته حلاله شوې يعنی ستاسره بل څوك نکاح کولې شي اوحکم ئې راته اوکړوکه ستاخوښه وي نونکاح اوکړه، ابن شهاب وئيلې دي چه ماته څه بدې نه ښکارې که چرې ښځه دبچې دپيدائش سره فورا نکاح اوکړی ليکن دا ضروري ده چه داسې زنانه به دخپل نوې خاوند.سره جماع نه کوې ترڅوچه پاکه شوې نه وي.

تشريح: ﴿فلما تعلقت من نفاسها تجملت للخطاب﴾ يعنی هغه چه کله د نفاس نه پاکه شوه نو د پيغام نکاح راليږلو والا دپاره ډولی شوه، وړاندې په روايت کښې دی چه هم په دې ورځو کښې ابو السنابل بن بعکک هغې ته لاړو، چه هغه ئې ډولی اوليده نو وې وئيل چه کيدې شی ستا اراده د نکاح کولو وی، والله ته تر هغه وخته پورې نکاح نه شې کولې چه ترڅو پورې څلور مياشتې او لس ورځې نه وی تيرې شوې، بيا وړاندې په روايت کښې دی چه د هغې نه روستو هغه په خپله مسئله کښې رسول الله ﷺ ته حاضره شوه او تپوس ئې اوکړو نو هغه ورته اوفرمائيل چه ته په وضع حمل سره حلاله شوې ئې.

وړاندې په کتاب کښې دی امام زهری فرمائی چه په نکاح کښې هيڅ اشکال نشته هغه د وضع حمل نه روستو فورا کولې شي د نفاس په حالت کښې البته په دې صورت کښې به د زوج دپاره نزديکت جائز نه وی ترڅو پورې چه هغه پاکه شوې نه وی.

په تکملة المنهل کښې دی چه د ائمه اربعه هم دا مذهب دې بخلاف الحسن والشعبی والنخعی فانهم قالوا لا تنکح حتی تطهر من النفاس.... دا حدیث دلته په روایت د سبیعه دې، دې حدیث په باره کښې منذری فرمائی : واخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة، واخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی من حدیث ام سلمة زوج النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

فائده : امام ترمذی رحمه الله دا حدیث په طریق د اسود عن السنابل تخریج کولو نه پس فرمائی : حدیث ابی السنابل حدیث مشهور غریب من هذا الوجه ولا نعرف للاسود شیئا عن ابی السنابل، او د دې نه پس په خپل تائید کښې د امام بخاری نه دا فرمائیل غواړی چه کله د اسود سماع د رسول الله ﷺ نه ثابته نه ده هم دغه شان ظاهره دا ده چه د ابو السنابل نه هم نه ده، او که ابو السنابل رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د مرګ نه روستو ژوندې پاتې شوې وې نو سماع ممکن وه، په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی چه اسود په کبار تابعینو کښې دې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د اصحابو نه دې، او مدلس هم نه دې لهذا حدیث علی شرط مسلم صحیح دې خو امام بخاری د خپل مسلک او قاعدې مطابق هغه خبره کړې ده کومه چه ترې امام ترمذی نقل کړې ده، یعنی معنعن لره په اتصال باندې محمول کولو دپاره کم از کم یو ځل ثبوت لقاء کیدل.

د دې نه پس پوهه شئ چه په دې سلسله کښې د ابن سعد رائې د امام بخاری رحمه الله خلاف ده هغه بالجزم دا خبره کړې ده چه ابو السنابل د رسول الله ﷺ نه روستو ډیر وخته پورې ژوندې وو، تردې چه خپله ابو السنابل د سبیعه اسلمیه سره دې واقعې نه روستو نکاح اوکړه او بیا د هغې نه هلک پیدا شو چه د هغه نوم ئې سنابل کیخودلو، چه د هغې تقاضه دا ده چه ابو السنابل د رسول الله ﷺ نه روستو ډیر وخته پورې ژوندې وو.

[۲۳۰۷](1)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَ عُثْمَانُ: حَدَّثَنَا، وَقَالَ ابْنُ الْعَلَاءِ: أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ مُسْلِمٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ، قَالَ: "مَنْ شَاءَ لَاعَنْتُهُ لَأُنْزِلَتْ سُورَةُ النِّسَاءِ الْقُصْرَى بَعْدَ الْأَرْبَعَةِ الْأَشْهُرِ وَعَشْرًا".

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه که دچاخوښه وي زه ورسره مباهلې ته تیاریم زماسره دې لعان اوکړی چه وړوکې سورت نساء یعنی دسورت طلاق آیت (اربعة اشهر وعشرًا) نه پس نازل شو.

بَابٌ فِي عِدَّةِ أُمِّ الْوَلَدِ

دام ولدې دعدت بیان

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

د ام ولد مولی که وفات شی نو په هغې باندې هم عدت واجب دې، خو د هغې په موده کښې اختلاف دې، د ائمه ثلاث په نزد ﴿تعتد بحيضة﴾او د امام احمد مشهور روایت خو هم

(1): صحیح البخاری/ تفسیرسورة الطلاق ۲ (٤۹۰۹)، سنن النسائي/الطلاق ٥٦ (۳٥٥۲)، سنن ابن ماجه/الطلاق ۷ (۲۰۳۰)، (تحفة الأشراف: ۹٥۷۸) (صحیح)

دا دي کوم چه د شوافعو وغيره مذهب دي، او بل روايت د هغه نه دا دي چه د هغي د عدت موده هم څلور مياشتي او لس ورځي ده، د بعض تابعين لکه سعيد بن مسيب، ابن سيرين، مجاهد او عمر بن عبدالعزيز رحمهم الله هم دا مذهب دي، او د احنافو په نزد د هغي عدت دري حيضه دي، د سيدنا علي او سيدنا ابن مسعود نه هم دا نقل دی، او هم دا قول دي د ابراهيم نخعي، سفيان ثوری او عطاء، صاحب هدايه فرمائي ﴿واما منافيه عمر ﴾چه په دي مسئله کښي زمونږ امام سيدنا عمر رضي الله عنه دي، ثم ذكر اثر ابن عمر، او د ائمه ثلاث دليل اثر ابن عمر دي کوم چه امام مالک په موطاء کښي روايت کړي دي، عن ابن عمررضى الله تعالى عنهما انه قال في ام الولد يتوفى عنها سيدها تعتد بحيضة.

[۲۳۰۸]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جَعْفَرٍ حَدَّثَهُمْ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ مَطَرٍ، عَنْ رَجَاءِ بْنِ حَيْوَةَ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: "لَا تُلَبِّسُوا عَلَيْنَا سُنَّةً"، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: "سُنَّةَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَّةُ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ" يَعْنِي أُمَّ الْوَلَدِ.

ترجمه: دعمروبن العاص رضي الله عنه نه روايت دي هغه به فرمائيل زما نه دهغه سنت مه پټوئ، اوداين المثني په روايت سنة نبينا الفاظ منقول دي،چه نبي عليه السلام به فرمائيل کوم هلك والا وينځي (ام ولده) خاوند چه وفات شي نوڅلور مياشتي لس ورځي انتظاربه کوي.

تشريح: د دې نه روستو حديث الباب اوګورئ:

توضيح الحديث

دا حديث په مذاهب مذکوره کښي د ابن المسيب او ابن سيرين وغيره دليل دي هم دغه شان احمد في رواية، بس داسي اوګنړئ چه دا حديث د ائمه اربعه ټولو خلاف دي.

په حديث الباب باندي د محدثينو نقد:

حافظ ابن القيم رحمه الله په تهذيب السنن کښي په دي حديث باندې د ائمه حديث د طرف نه نقد نقل کړي دي، قال الدارقطني: قبيصة لم يسمع من عمرو، يعنى دا حديث منقطع دي د قبيصه سماع د عمرو بن العاص نه ثابته نه ده او صحيح دا ده چه دا په عمرو بن العاص باندې موقوف دي، ﴿سنة نبينا ﴾لفظ په دي کښي ثابت نه دي، هم دغه شان دارقطني د امام احمد نه نقل کړي دی: هذا حديث منكر، هم دغه شان ابن المنذر فرمائي: ضعف احمد وابو عبيد حديث عمرو بن العاص... هم دغه شان ميمونی د امام احمد نه په دي باندي اظهار تعجب نقل کړي دي، او دا چه څلور مياشتي او لس ورځي خو د حره منکوحه عدت دي الى اخر ما في تهذيب السنن، او دا په شروع کښي تير شو چه د ائمه ثلاث دليل په دي کښي اثر ابن عمر رضي الله عنه دي، او د احنافو مستدل اثر عمر.

د حديث الباب امكانى توجيه:

د دي نه پس په دي ځان پوهه کړئ چه که يو سړي دا سوال اوکړی چه ايا د حديث الباب څه توجيه هم ممکن ده يا نه؟ نو جواب دا دي چه توجيه کيدي شی چه هغي سره دا حديث د

(): سنن ابن ماجه/الطلاق ۳۳(۲۰۸۳)، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۴۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۰۳/٤) (صحيح)

جمهورو خلاف پاتې نه شي او په دې باندې د پوهې دپاره د مسئلې د تفصيل حاجت دې، هغه دا چه د ام ولد دوه قسمونه کيدې شي يوه مزوجه او بله غير مزوجه، د مزوجه مطلب دا دې چه يوه وينزه وه خو ام ولد خو د هغې مولى د هغې د چا سره نکاح اوکړه، پس که په دې حديث کښې د ام ولد نه غير مزوجه مراد کړې شي نو بيا خو د دې هيڅ قسم توجيه ممکن نه ده، که مزوجه مراد کړې شي نو بيا په دې صورت کښې توجيه ممکن ده او په دې صورت کښې بيا مسئله داسې ده چه که ام ولد مزوجه وی نو بيا به د مولى په مرګ پاندې خو عدت واجب نه وی بلکه په مرګ باندې به ئې واجب وی، اوس د زوج د مرګ دوه صورتونه دی، يو دا چه د زوج مرګ د مولى د مرګ نه مخکښې وی، په دې صورت کښې خو د هغه عدت دوه مياشتې او پنځه ورځې دې يعنی د ازادې نه نصف او که مرګ د زوج مولى نه پس وی نو بيا بيشکه په دې صورت کښې به د هغه عدت څلور مياشتې او لس ورځې وی، ځکه چه د مولى په مرګ باندې ام ولد حره (اصيله) شوه، او د حره منکوحه عدت الوفات څلور مياشتې او لس ورځې دې.

حضرت په بذل المجهود کښې ليکلې دی چه مسئله تفصيل طلب ده په دې مختصر شرح کښې د دې ګنجائش نشته. من شاء فليراجع الى بدائع الصنائع وغيره. اهـ په قدر د ضرورت تفصيل مونږ اوليکلو. والحديث اخرجه ايضا احمد والحاكم وصححه، وابن ماجة (تكملة المنهل)

بَابُ الْمَبْتُوتَةِ لَا يَرْجِعُ إِلَيْهَا زَوْجُهَا حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ

مطلقې ثلاثې ته خپل خاوند رجوع نه شي کولې ترڅوچه ئې دبل خاوند سره نکاح نه وې کړې

[۲۳۰۹] [1] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ يَعْنِي ثَلَاثًا، فَتَزَوَّجَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ، فَدَخَلَ بِهَا ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ أَنْ يُوَاقِعَهَا، أَتَحِلُّ لِزَوْجِهَا الْأَوَّلِ؟ قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَحِلُّ لِلْأَوَّلِ حَتَّى تَذُوقَ عُسَيْلَةَ الْآخَرِ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَهَا".

ترجمه: دام المومنين عائشة رضی الله عنها نه روايت دې. فرمائی چه دنبی ﷺ نه تپوس اوکړې شو دهغه کس په باره کښې چه خپلې ښځې ته درې طلاق ورکړې اوبيادهغه نه علاوه دبل خاوند سره نکاح اوکړی اوهغه ورسره خلوت اوکړی اوبيا ئې طلاقه کړې مخکښې دجماع کولونه نو آيا داولنې خاوند دپاره حلاليږې هغې ووئيل نبی ﷺ فرمائيلی دی ترهغه پورې داولنې خاوند دپاره نه حلاليږې ترڅوچه دې ښځې ددويم خاوند ګبين ګوټې نه وی څکلې اوهغه دويم خاوند ددې ګبين ګوټې نه وې څکلې.

تشريح: مبتوتة مطلقا بائنه ته وئيلې شی، خو دلته مراد مبتوتة بالثلاث دې، د دې باب تعلق تحيل سره دې (يعنی حلاله)

[1]: سنن النسائي/الطلاق ۹ (۳٤۳٦)، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۵۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الشهادات ۳ (۲٦۳۹)، والطلاق ٤ (۵۲٦۰)، والساعة ۳۷ (۵۷۹۲)، واللباس ٦ (۵۸۲۵)، والأدب ٦۸ (٦۰۸٤)، صحيح مسلم/النكاح ۱۷ (۱٤۳۳)، سنن الترمذي/النكاح ۲۷ (۱۱۱۸)، سنن النسائي/النكاح ٤۳ (۳۲۸۵)، سنن ابن ماجه/النكاح ۳۲ (۱۹۳۲)، مسند احمد (۳٤/٦، ۳۷، ۱۹۲، ۲۲٦، ۲۲۹)، سنن الدارمي/الطلاق ٤ (۲۳۱۳) (صحيح)

د حلاله متعلق بعض اختلافی مسائل :

د تحليل مدار په نکاح ثاني مع الوطی باندې دې، صرف دويمه نکاح کافی نه ده عند الائمة الاربعة. په دې کښې د سعيدبن المسيب اختلاف منقول دې حيث قال يكفى فيه النكاح اخذا بظاهر قوله تعالى فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره... او جمهور دا وائی چه په دې آيت کريمه کښې د نکاح نه مراد وطی ده کومه چه د نکاح حقيقی معنی ده، او اصل نکاح مستفاد ده د لفظ زوج نه، په دې وجه لفظ نکاح لره د وطی په معنی کښې اخستلې شوې دې.

بيا دويم اختلاف دا دې چه د حلاله دپاره په وطی کښې انزال شرط دې يا نه، فلا يشترط الانزال عند احد خلافا للحسن. په دې حديث کښې جمهور علماء کرامو د "عسيلة" نه د جماع لذت مراد اخستلې دې، او حسن بصری نطفه، په دې وجه باندې هغه انزال لره شرط کړې دې، د دې نه پس پوهه شه چه په دې حديث تحليل کښې بعض مسائل او جزئيات د فقهاء کرامو ترمينځه اختلافی دی. کوم چه د حديث په شروع کښې مذکور دی. مثلاً دا چه په حلاله کښې د دې نکاح ثانی د جمهورو په نزد نکاح صحيح کيدل ضروری دی، وشذ الحكم فقال يكفى النكاح الثانی ولو فاسدا، بله دا چه نکاح ثانی که په قصد د تحليل سره وی نو دا مسئله هم اختلافی ده لکه چه په حديث لعن المحل والمحلل له د لاندې په خپل مقام کښې تير شو، هم دغه شان ابن المنذر استدلال کړې دې حتى تذوق عسيلة الاخر نه په دې خبره باندې که زوج ثانی د هغه زنانه سره جماع د خوب يا بيهوشئ په حالت کښې اوکړه نو هغه به کافی نه وی. د عدم ادراک لذت د وجې نه، او هغوی دې ته د ټولو فقهاء کرامو مسلک وئيلې دې، حال دا چه داسې نه ده د جمهور په نزد به کافی شی، او قرطبی د مالکيانو نه په قولين کښې يو قول دا شمار کړې دې، حضرت شيخ په حاشيه بذل کښې د ابو الطيب سندی د شرح نه نقل کړې دی چه د جمهور په نزد کافی کيږی، مصنف په دې باب کښې د عائشه رضي الله عنها حديث مرفوع کوم چه مشهور حديث دې ﴿ولا تحل للاول حتى تذوق عسيلة الاخر ويذوق عسيلتها﴾ ذکر فرمائيلې دې. والحديث اخرجه النسائی واخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجة من حديث عروة عن عائشة. (قاله المنذری)

بَابٌ فِي تَعْظِيمِ الزِّنَا

باب: زنا ډيره لويه ګناه ده

يعنی دا باب د زنا د عظيم ګناه کيدو په اثبات کښې دې، هم دغه شان يوه بله ترجمه مصنف په کتاب الجهاد کښې قائم کړې ده. باب في تعظيم الغلول.

[۲۳۱۰](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِيلَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ؟ قَالَ: "أَنْ تَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ"، قَالَ: فَقُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟

(1): صحيح البخاري/ تفسير سورة البقرة ٣ (٤٤٧٧)، والأدب ٢٠ (٦٠٠١)، والحدود ٢٠ (٦٨١١)، والديات ٢ (٦٨٦١)، والتوحيد ٤٠ (٧٥٢٠)، ٤٦ (٧٥٣٢)، صحيح مسلم/الايمان ٣٧ (٨٦)، سنن الترمذي/تفسير سورة الفرقان (٣١٨٢)، (تحفة الأشراف: ٩٤٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٨٠، ٤٣١، ٤٣٤، ٤٦٢) (صحيح)

قَالَ: "أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ مَخَافَةَ أَنْ يَأْكُلَ مَعَكَ"، قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: "أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ"، قَالَ: وَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى تَصْدِيقَ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ سورة الفرقان آية ۶۸ الْآيَةَ.

ترجمه: دعبد الله ﷛ نه روايت دي فرمائي چه ماعرض اوکړ واي دالله رسوله کومه گناه ډيره لويه ده؟ راته ئي اوفرمائيل داچه ته دالله تعالى سره شريك پيدا اکړي ماعرض اوکړو په دې پسې بله کومه يوه گناه ډيره لويه ده؟ راته ئي اوفرمائيل چه خپل بچي ددې ويرې نه مړ کړې چه بيابه درسره خوراك کوي، ماعرض اوکړو په دې پسې بله کومه يوه گناه ډيره لويه ده؟ راته ئي اوفرمائيل داچه ته دگاونډي دښځې سره زنا اوکړې راوی وائی الله تعالى دنبی ﷺ دقول دتصديق دپاره دا آيت نازل کړو: ﴿والذين لا يدعون مع الله إلها آخر ولا يقتلون النفس التي حرم الله إلا بالحق ولا يزنون الخ﴾ الآية (سورة الفرقان) ترجمه: کوم خلق چه دالله نه بغير دبل چا عبادت نه کوی اوپه ناحقه څوک نه قتل کوی کوم چه الله حرام کړی دی او نه زنا کوی.

توضيح الحديث

د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو د لوئي گناه په باره کښې نو وې فرمائيل چه د الله پاک سره څوک شريکول حال دا چه الله پاک ته پيدا کړې ئي.

﴿ند﴾ په معنى د شريک چه د هغې جمع ﴿انداد﴾ راځي کما فى قوله تعالى ﴿ويجعلون له اندادا﴾ سائل تري تپوس اوکړو چه د هغې نه روستو کومه گناه؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ته خپل بچې قتل کړې (د دې وړې شان خبرې د وجې) چه هغه به تا سره خوراک کوی، يعنى د دې ويرې د وجې نه چه د هغه نفقه به په تا باندې وی، سائل بيا تپوس اوکړو چه د دې نه روستو کومه گناه ده؟ وې فرمائيل: دا چه ته د خپل گاونډی د ښځې سره زنا اوکړې، د گاونډی قيد د زيات شناعت او قباحت دپاره دې، ځکه چه په دې صورت کښې دوه حقونه ضائع کيږی، د الله پاک حق هم او د گاوند حق هم. فانزل الله تصديق قول النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والذين لا يدعون مع الله الها اخر الاية.

شرح حديث:

د دې آيت کريمه نه د پورته ذکر شوی حديث تائيد او تصديق په ظاهره کښې داسې کيږی چه په دې حديث کښې د سائل په سوال باندې رسول الله ﷺ د لويو لويو گناهونو ترمينځه ترتيب بيان فرمائيلې دې، رسول الله ﷺ په ترتيب کښې د ټولو نه اول شرک لره، د هغې نه روستو قتل ولد، د هغې نه روستو زنا ذکر کړې ده، هم دغه شان په دې آيت کريمه کښې هم دا گناه هم په دې ترتيب سره ذکر کړې شوې دی. والله تعالى اعلم، ولم ار من نبه على ذلک، والحديث اخرجه ايضا احمد وباقى الخمسة (تكملة المنهل)

[۲۳۱۱](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ حَجَّاجٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: وَأَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "جَاءَتْ مُسَيْكَةُ مِسْكِينَةٌ لِبَعْضِ الْأَنْصَارِ، فَقَالَتْ: إِنَّ سَيِّدِي يُكْرِهُنِي عَلَى الْبِغَاءِ، فَنَزَلَ فِي ذَلِكَ: وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ سورة النور آية ۳۳".

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه مسيکه (ديوانصاري وينځه وه) راغله اوعرض ئي اوکړوچه زما خاوندپه ما باندې په زبردستئ سره دزنا کاروبارکول غواړي نوددې په باره کښې دا آيت: («ولا تکرهوا فتياتکم على البغاء») نازل شو. (سورة النور: ۳۳)

توضيح الحديث

قوله: وَأَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "جَاءَتْ(٢) مُسَيْكَةُ مِسْكِينَةٌ لِبَعْضِ الْأَنْصَارِ، فَقَالَتْ: إِنَّ سَيِّدِي يُكْرِهُنِي عَلَى الْبِغَاءِ،

بعض انصار نه مراد عبدالله بن ابی رئيس المنافقين دې، مسيکه د هغه د يوې وينځې نوم دې هغه راغله او رسول الله ﷺ ته ئي عرض اوکړو چه زما مالک ما په زنا باندې مجبوره کوی نو په دې باندې مذکوره آيت نازل شو چه د هغې مضمون دا دې چه خپلې وينځې په زنا باندې مه مجبوره کوئ که هغوی پاکې اوسيدل غواړی، دا اخری قيد صرف د مذمت د اظهار دپاره دې چه ډيره د شرم خبره ده چه هغه وينزه خو دې پاک اوسيدل غواړی او تاسو ئې د هغې په خلاف باندې مجبوروئ. والاثر اخرجه ايضا مسلم (تکملة المنهل)

[۲۳۱۲](٣)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، أَخْبَرَنَا مُعْتَمِرٌ، عَنْ أَبِيهِ وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ سورة النور آية ۳۳، قَالَ: قَالَ سَعِيدُ بْنُ أَبِي الْحَسَنِ: "غَفُورٌ لَهُنَّ الْمُكْرَهَاتِ".

ترجمه: معتمردخپل پلارنه روايت بيان کړې دې چه فرمائيل ئي وو دالله تعالى ددې قول: («ومن يکرههن فإن الله من بعد إکراههن غفور رحيم») مراد دادې چه الله دغه مجبورو وينځوته بخښنه کونکې دې

توضيح الحديث

دا د سعيد بن ابى الحسن بصری رور دې هغه فرمائی چه دا چه کوم آيت کريمه چه کوم خلق په خپلو وينزو باندې د زنا په ذريعه جبر کوی ﴿فان الله غفور رحيم﴾نو الله پاک غفور او رحيم دې د چا دپاره؟ د مجبوره کونکو دپاره نه بلکه د هغه وينزو دپاره کومې چه مجبوره کړې شوې دی ﴿المکرهات﴾په ترکيب کښې بدل واقع شوې دې د ﴿لهن﴾د ضمير مونث نه.

وهذا اخر کتاب الطلاق. (٤)

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۸۳۳) (صحيح)

(٢) بضم الميم وفتح السين المهملة مصغرا، کما في رواية صحيح مسلم ايضا، وفي بعض نسخ ابي داود کما على الهامش بطريق النسخة بدلة "سکينة" وليس بصحيح)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۶۸۹) (صحيح)

(٤) في المدينة المنورة بتاريخ ١٤ شوال ١٤٢١هـ)

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الصيام

د روژو احكام او مسائل

بَابُ مَبْدَإِ فَرْضِ الصِّيَامِ

بابه د روژې فرض کیدو ابتداء

مباحث خمسه مفيده :

دلته پنځه بحثونه دی:

۱: د ماقبل سره مناسبت او ترتيب بين الكتب،

۲: د صوم لغوی او شرعی معنی، ۳: مبداء المشروعية.

۴: وهل فرض قبل رمضان شئ (يعنی آيا د رمضان نه وړاندې څه فرض وو؟)

۵: حكم الصيام (يعنی مصالح صوم).

بحث اول :

په دې باندې كلام د كتاب الصلاة د شروع نه راروان دې، صلاة، بيا زكاة او كتاب الحج په دې ټولو مواقع كښې د اركان اربعه ترمينځه ترتيب باندې كلام شوې دې، هم دغه شان د كتاب النكاح په شروع كښې تقديم النكاح على الصوم د مصلحت طرف ته اشاره تيره شوې ده، د هغې په باره كښې دلته د څه ليكلو حاجت نشته.

بحث ثانی :

صوم او صيام دواړه مصدر دی [1] چه د هغې لغوی معنی الامساک ليكلې شوې ده، يعنی د يو څيز نه منع كيدل كه قول وی يا فعل وی، د اول مثال د الله پاک قول **﴿ انی نذرت للرحمن صوما ﴾ ای امساكا وسكوتا.** او د دويم مثال قول نابغه (د اسونو احوال بيانولو سره):

خيل صيام وخيل غير صائمة :: تحت العجاج واخرى تلک اللجما [2]

امام راغب رحمه الله فرمائی چه د صوم لغوی معنی ده امساک په دې وجه هغه اس ته كوم چه د سير اوحركت نه منع شوې وی هغه ته صائم وئيلې شی،واما شرعا ففی الدر المختار**﴿هو امساک عن المفطرات حقيقة اوحكما فی وقت مخصوص وهو اليوم من شخص مخصوص مع النية﴾** يعنی د مخصوص شخص د مفطرات ثلاثه اكل، شرب او جماع نه بنديدل په ورځ كښې د نيت سره، حكما ئې په دې وجه اووې چه د نسيانا خوراک كولو والا حكم د ممسک دې، د شخص

---

[1]) حضرت شيخ په اوجز المسالک كښې د لفظ صوم د لغوی او شرعی معنی په تحقيق كښې فرمائی **﴿فعلم من ذلك ان لفظ الصيام مشترك بين المصدر والجمع، وعلي الثاني جمع للصائم كما حكاه عامة اهل اللغة والتفسير ويشير كلام الفقهاء الي انه جمع للصوم ايضا كما بسطه ابن عابدين اهـ﴾**

[2]) يعنی څه اسونه داسې دی چه هغه بالكل ساكن ولاړ دی او بعضې داسې هم شته چه هغه ساكن نه دی بلكه په منډه روان دی د جنګ په ميدان كښې په خاورو دوړو كښې اوكوم چه نور دی هغه ولاړ دی واګې ژوچی.

مخصوص نه مراد مسلمان سړي او هغه مسلمانه زنانه کومه چه د حيض او نفاس نه پاکه وي.

بحث ثالث : مبدا المشروعية :

د دې بيان د کتاب الزکاة په ابتدائي مباحث کښې د زکاة د مشروعيت سره تير شوې دې، هلته تير شو چه د زکاة مشروعيت د هجرت په دويم کال شوې دې، او هم دا کال د روژې د فرضيت دې خو په دې دواړو کښې کوم يو مقدم دې زکاة يا صوم؟ په دې کښې دواړه اقوال شته، مال النووی فی الروضة الی الاول، او د اکثرو رائې د دې برعکس ده چه د صوم فرضيت مخکښې دې د زکاة نه، د صوم مشروعيت په شعبان ۲ هجری کښې شوې دې، او د زکاة په شوال ۲ هجری کښې، البته د صدقة الفطر مشروعيت قبل الزکاة د صوم سره شوې دې الی اخر ما ذکر.

بحث رابع :

د صوم رمضان نه مخکښې څه روژه فرض وه يا نه؟ حافظ فرمائي چه د جمهور علماء کرامو رائې دا ده او هم دا د شوافعو مشهور قول دې چه صوم رمضان نه مخکښې يوه روژه هم فرض نه وه، او د شوافعو په يو قول کښې او هم هغه د احنافو قول دې چه اول د عاشورا روژه فرض وه او بيا د صوم رمضان په نزول سره هغه منسوخ شوه، او د علامه عينی په کلام کښې دا دی چه وئيلې شوې دی چه د ټولو نه اول د صوم عاشوراء واجب شوې وو، او دويم قول دا دې چه ثلاثة ايام من کل شهر، يعنی هره مياشت د درې روژو وجوب يعنی د هغې نه روستو بيا صوم رمضان.

زه وائم چه د ابوداود په کتاب الصلاة ابواب الاذان کښې عبدالرحمن بن ابی ليلی نه دا حديث تير شوې دې کوم چه هغه په ﴿ وحدثنا اصحابنا ﴾ وئيلو سره د ډيرو صحابه کرامو نه روايت کړې دې چه ﴿احيلت الصلاة ثلاثة احوال واحيلت الصيام ثلاثة احوال ﴾يعنی په مونځ کښې هم درې تغيرات واقع شوې دی او په روژه کښې هم درې تغيرات واقع شوې دی، په دې روايت کښې چه د صوم کوم تغيرات ثلاثه بيان کړې شوې دی په هغې کښې داسې دی چه رسول الله ﷺ چه کله مدينې ته تشريف راوړلو ﴿امرهم بصيام ثلاثة ايام ثم انزل رمضان ﴾او دويم طريق کښې دی ﴿ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يصوم ثلاثة ايام من کل شهر ويصوم عاشورا فانزل الله عزوجل کتب عليکم الصيام کما کتب علی الذين من قبلکم الاية ﴾

او د حافظ په کلام کښې تير شو چه صوم عاشور چه د هغې مشروعيت په شروع کښې شوې وو هغه د شوافعو په قول مشهور کښې غير واجب يعنی مستحب، او د احنافو په نزد واجب وه، په اوجز کښې د علامه باجی مالکی نه هم دا نقل کړې دی چه په شروع کښې د عاشورا روژه فرض وه بيا په نزول رمضان سره منسوخ شوه.

ايا روژه د دې امت د خصوصياتو نه ده؟

په اوجز کښې يو مستقل بحث دا هم ليکلې دې چه صوم د شرائع سابقه نه دې د دې امت سره خاص نه دې، د دې شروع د ادم عليه السلام نه شوې وه، پس د بعض صوفياء نه منقول دی چه کله ادم عليه السلام په خپله خطاء يعنی اکل شجره (دبوټی دخوراک) نه د الله پاک په دربار کښې

توبه اوکړه، نو د هغه توبه ډیرش ورځې د قبولیت نه ایساره شوې وه ځکه چه د هغه په خیټه کښې د هغه داني چه کومه ئې خوړلې وه اثر باقي وو، بیا چه کله د هغه دننه بالکل صفا شو د اجزاء حنطه (دغنمو حصې) نه نو بیا د هغه توبه قبوله شوه، په دې وجه دهغه په اولاد باندې ډیرش روژې فرض کړې شوې

حافظ ابن حجر د دې روایت د لیکلو نه پس فرمائي چه دا روایت د معتبر کیدو دپاره د ثبوت سند محتاج دې، وهيهات وجدان ذلک (خو د سند ملاویدل بعید دی)

خاص د دې روایت د سند ملاویدل خو اگر چه بعید وی خو د روژې د شرائع قدیمه نه کیدل خو د قران کریم نه ثابت دی. ﴿قال الله تعالی: کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم الی اخر ما فی اوجز المسالک ﴾هم دغه شان په اوجز کښې یو مستقل بحث په دې باندې هم کړې شوې دې چه خاص صوم رمضان په تیرو شوو شریعتونو کښې په یو شریعت کښې وه؟ په دې باره کښې یو قول خو دا دې چه د الله پاک قول ﴿کما کتب علی الذین من قبلکم ﴾په دې آیت کریمه کښې تشبیه مطلق د صوم په اعتبار سره ده د صوم رمضان په اعتبار سره نشته. لهذا صوم رمضان د دې امت د خصوصیاتو نه دې او یو جماعت دا وائی چه د خصائص نه دې بلکه دا روژه په یهودو او نصاری باندې هم فرض کړې شوې وه خو هغه په دې باندې د خپل عادت مطابق د خپل طرف نه ډیر تغییر او تبدیل اوکړو. الی اخر ما فی الاوجز.

بحث خامس :

د روژې په مشروعیت کښې حکمت او مصلحت او د دې دپاره د رمضان د میاشتې انتخاب، هم دغه شان په لیلة الصیام کښې د مشروعیت تراویح د مناسبت په باره کښې حضرت مولانا محمد منظور نعمانی معارف الحدیث کښې فرمائی.

په سورة بقره کښې د رمضان د فرضیت د اعلان فرمائیلو نه پس ارشاد فرمائیلي شوې دې ﴿لعلکم تتقون ﴾یعنی د دې حکم مقصد دا دې چه په تاسو کښې تقوی پیدا شی.

الله پاک انسان ته د روحانیت او حیوانیت یا په نورو الفاظو اووایئ چه د ملکوتیت او بهیمیت نسخه جامعه جوړه کړې ده د هغه طبیعت او جبلت کښې هغه ټول مادی او سفلی تقاضې هم دی کوم چه په نورو حیواناتو کښې هم وی او هم د دې سره د هغه په فطرت کښې د روحانیت او ملکوتیت هغه نورانی جوهر هم دې کوم چه د ملا اعلی لطیف مخلوق فرشتو خاص دولت دې، د انسان د سعادت دارومدار په دې باندې دې چه د هغه دا روحانی او ملکوتی عنصر بیهمی او حیوانی عنصر باندې غالب او حاوی دې او هغه د حدود پابند اوساتی، او دا هله ممکن ده چه کله بهیمی اړخ د روحانی او ملکوتی اړخ فرمانبرداری او اطاعت اوکړی او په دې باندې عادت شی، او د هغې په مقابله کښې سرکشی اونکړې شی.

د روژې د ریاضت خاص مقصد او موضوع هم دا ده چه د دې په ذریعه د انسان حیوانیت او بهیمیت لره د الله پاک د احکاماتو پابندی او ایمانی او روحانی تقاضو د تابعدارئ او فرمانبردارئ سره عادت کړې شی بیا وړاندې لیکی او د روژې په وخت د

سحر راختلو نه تر د نمر پریوتلو پورې کیخودلې شوې دې بیشکه دا موده او دا وخت د پورته ذکر شوې مقصد دپاره انتهائی معتدل موده او وخت دې، د دې نه په کم کښې ریاضت او د نفس تربیت مقصد نه حاصلیږی، او که د دې نه زیات کیخودلې شی مثلاً په روژه کښې د ورځې سره سره د شپې هم شاملولې شی او بس د سحر په وخت به د خوراک او څکاک اجازت وې، یا به په کال کښې دوه څلور میاشتې مسلسل د روژو نیولو حکم وې نو د انسانانو د اکثریت دپاره به ناقابل برداشت او د صحت دپاره به ضرری وی.

بیا د دې دپاره میاشت هغه مقرر کړې شوه چه په هغې کښې د قران کریم نزول شوې دې، او په کومه کښې چه د برکتونو او رحمتونو والا شپه لیلة القدر ده. ظاهره ده چه هم دا مبارکه میاشته د دې دپاره ډیره موزون او مناسب کیدې شی.

بیا په دې میاشت کښې د ورځو د روژو نه علاوه په شپه کښې هم د یو خاص عبادت عمومی او اجتماعی نظام مقرر کړې شو، کوم چه د تراویح په شکل کښې په امت کښې رائج دې.

د ورځې د روژو سره د شپې د تراویح برکات ملاویدو سره د دې مبارکې میاشتې نورانیت او تاثیر کښې هغه اضافه کیږی چه هغه ته د خپل خپل ادراک او احساس مطابق هر هغه بنده محسوس کوی کوم چه د دې خبرو سره څه تعلق او مناسبت لری. اهـ مختصرا

په تفسیر ماجدی کښې دی روژه د الله پاک د حکم په تعمیل کښې د تزکیه نفس، د بدن د تربیت دواړو دپاره یو بهترین دستور العمل دې، د اشخاص انفرادی او د امت اجتماعی هر نقطه نظرسره ﴿لعلکم تتقون﴾ په ارشاد سره د اسلامی روژې د اصل غرض او غایت تشریح اوشوه چه په دې سره مقصود د تقوی عادت اچول او امت او افرادو لره متقی جوړول دی. تقوی د نفس د یو مستقل کیفیت نوم دې څنګه چه د ضرری خوراکونو او ضرری عادتونو نه احتیاط کولو سره بدنی صحت برابریږی او د مادی لذتونو نه د لطف او خوند صلاحیت زیات پیدا کیږی، انسان ښه اوړې کیږی، صحت منده وینه پیدا کیږی هم دغه شان په دې عالَم (مخلوق) کښې تقوی اختیارولو سره (یعنی خومره عادتونه چه د روحانی صحت او اخلاقی حیات په حق کښې مضر دی د هغې نه په بچ پاتې کیدو سره) د عالَم اخرت د لذتونو او نعمتونو نه د خوند اوچتولو صلاحیت او استعداد په انسانانو کښې پوره طریقې سره بیدار وی، او هم دا هغه مقام دې چرته چه د اسلامی روژې افضلیت د نورو ټولو قومونو په پریوتلې روژو پاندې علانیه ثابتیږی، او خیر د مشرک قومونو او د ناقص او نیمګړې او تش په نامه روژو خو ذکر نشته خپله د مسیحی او یهودی روژو حقیقت هم بس دومره دې چه یا خو د چا نه د څه مصیبت د لرې کولو دپاره نیولې شی یا د څه فوری او مخصوص روحانی کیفیت حاصلولو دپاره، په اسلام کښې روژه نوم دې په خپل قصد او ارادې سره د یو معین مودې پورې د خپل جائز او طبعی خواهشاتو د تکمیل نه منع کیدل، او د دې نه یو طرف ته طبی او بدنی او بل طرف ته روحانی او اخلاقی چه کومې فائدې حاصلیږی افراد او امت دواړو لره د هغې د تفصیل لیکلو دلته ګنجائش نشته. اهـ

او په فوائد عثمانيه كښې د آيت كريمه ﴿لعلكم تتقون﴾د لاندې ليكلي دی يعنی د روژې نه نفس لره د هغې د مرغوبات نه د منع كولو عادت راځی نو بيا هغې لره د هغه مرغوبات نه كوم چه شرعا حرام دی منع كولې شې او د روژې نه د نفس په قوت او شهوت كښې ضعف هم پيدا كيږی نو اوس به ته متقي شې، ډير لوئي حكمت د روژې دا هم دې چه د سركش نفس اصلاح اوشی او د شريعت احكامات كوم چه په نفس باندې درانه وی د هغې كول اسان شی او متقی جوړ شې.

ځان پوهه كړه چه په يهود او نصاری باندې هم په رمضان كښې روژې فرض شوې وې خو هغوی د خپلو خواهشاتو مطابق په هغې كښې تغيير او تبديل اوكړو نو په ﴿لعلكم تتقون﴾سره په هغوی باندې تعريض دې، معنی به دا وی چه اې مسلمانانو تاسو د نافرمانئ نه ځان اوساتئ يعنی د يهودو او نصاری په شان په دې حكم كښې خلل مه اچوئ. اهـ

[۲۳۱۳](1)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ شَبُّوَيْهِ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ سورة البقرة آية ١٨٣، فَكَانَ النَّاسُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّوُا الْعَتَمَةَ حَرُمَ عَلَيْهِمُ الطَّعَامُ وَالشَّرَابُ وَالنِّسَاءُ، وَصَامُوا إِلَى الْقَابِلَةِ، فَاخْتَانَ رَجُلٌ نَفْسَهُ فَجَامَعَ امْرَأَتَهُ وَقَدْ صَلَّى الْعِشَاءَ وَلَمْ يُفْطِرْ، فَأَرَادَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَجْعَلَ ذَلِكَ يُسْرًا لِمَنْ بَقِيَ وَرُخْصَةً وَمَنْفَعَةً، فَقَالَ سُبْحَانَهُ: عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ سورة البقرة آية ١٨٧ الْآيَةَ، وَكَانَ هَذَا مِمَّا نَفَعَ اللَّهُ بِهِ النَّاسَ وَرَخَّصَ لَهُمْ وَيَسَّرَ".

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دالله تعالی داقول: («يا أيها الذين آمنوا كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم») خلقوچه به كله دنبی عليه السلام په زمانه كښې (درمضان په مياشت كښې) دماسخوتن مونځ اوكړونوخوراك څښاك اوښځې به ورباندې حرامې شوې او دبلې شپې پورې به ئې روژه نيوله نوپه دوی كښې يو كس دخپل ځان سره خيانت اوكړواودخپلې ښځې سره ئې جماع اوكړه اودماسخوتن مونځ ئې كړې وواو روژه ئې لانه وه ماته كړې، نو الله اراده اوكړه چه په دې كاركښې په خلقوباندې أساني اواجازت ورته وركړي اوفائده ورته وركړي نو په دې سلسله كښې الله تعالى دا آيت: («علم الله أنكم كنتم تختانون أنفسكم») نازل كړو، اودا آيت دهغه نه دې چه خلقوته ئې پرې فائده وركړه او رخصت ئې ورته وركړو او په دوی ئې آساني راوستله.

مضمون حديث:

د دې روايت مضمون دا دې: لكه چه په احيلت الصيام ثلاثة احوال والا حديث په ابواب الاذان كښې تير شوې دې چه د روژې په باره كښې چه كوم درې تغيرات شوې دی په هغې كښې يو تغير دا شوې دې چه په شروع كښې به داسې وه چه روژه دار سړی چه به كله د ماسخوتن مونځ اوكړو نو اوس په هغه باندې طعام او شراب او جماع ټولو څيزونو بنديز اولګيدو د بلې ورځې د ماښام پورې، ګويا د روژې ابتداء به د ماسخوتن د مونځ نه فارغ كيدو سره

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٥٤) (حسن صحيح)

اوشوه، او چه ترڅو پورې به د ماسخوتن نه وو کړې تر هغه وخته پورې به خوراک څکاک وغيره جائز وو، بيا روستو په دې حکم کښې بدلون راغلو چه د هغې ذکر په قران کريم کښې دې.

﴿علم الله أنكم تختانون انفسكم﴾ چه د هغې په اخر کښې دا دی ﴿وكلوا واشرابوا حتى يتبين لكم الخيط الابيض من الخيط الاسود من الفجر﴾ د دې تغيير او نزول آيت مقصد ابن عباس رضي الله عنهما بيان فرمائی، ﴿فاختان رجل﴾ چه يو سړی خيانت اوکړو، د دې رجل نه مراد سيدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه دې چه د هغه واقعه په ابواب الاذان کښې تيره شوې ده، چه د هغې حواله اوس پورته راغله، د هغې دلته د ليکلو حاجت نشته.

والحديث سكت عن تخريجه المنذري وقال في اسناده علي بن حسين بن واقد وهوضعيف. اهـ عون.

[۲۳۱۴] ([1]) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ نَصْرٍ الْجَهْضَمِيُّ، أَخْبَرَنَا أَبُو أَحْمَدَ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: "كَانَ الرَّجُلُ إِذَا صَامَ فَنَامَ لَمْ يَأْكُلْ إِلَى مِثْلِهَا، وَإِنَّ صِرْمَةَ بْنَ قَيْسٍ الْأَنْصَارِيَّ أَتَى امْرَأَتَهُ وَكَانَ صَائِمًا، فَقَالَ: عِنْدَكِ شَيْءٌ؟ قَالَتْ: لَا، لَعَلِّي أَذْهَبُ فَأَطْلُبُ لَكَ شَيْئًا، فَذَهَبَتْ وَغَلَبَتْهُ عَيْنُهُ فَجَاءَتْ، فَقَالَتْ: خَيْبَةً لَكَ، فَلَمْ يَنْتَصِفِ النَّهَارُ حَتَّى غُشِيَ عَلَيْهِ وَكَانَ يَعْمَلُ يَوْمَهُ فِي أَرْضِهِ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَتْ: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ قَرَأَ إِلَى قَوْلِهِ: مِنَ الْفَجْرِ سورة البقرة آية ۱۸۷".

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه (دنمر پريوتونه پس) چه به کله څوک اوده شو نو د را رواني روژې دافطار دوخته پورې به دده دپاره خوراک وغيره جائز نه وو، يوځل صرمه بن قيس انصاري دخپلې ښځې خواته راغې او روژه ئې نيولې وه هغه تپوس اوکړو ايادخوراک دپاره څه شته؟ هغې اووئيل څه خوشته نه ليکن زه ځم اوګورم چه څه پيداکړم نوهغه روانه شوه او د صرمه سترګې دخوب نه ډکې وې اوده شو کله چه ښځه واپس راغله اودې پې اوليدو چه اوده شوې دې نووئې وئيل ته خودخوراک نه محروم شوې راروانه ورځ دماسپخين نه مخکښې صرمه ډېرې ولږې په وجه بې هوشه شو اوهغه به تمامه ورځ پخپله زمکه کښې کارکولو نبی عليه السلام ته ددې واقعې ذکر وشو نو په دې وخت کښې دايت: («أحل لكم ليلة الصيام الرفث إلى نسائكم») تر (من الفجر) پورې نازل شو.

تشريح: په مخکښې روايت کښې چه د روژې د کوم تغير ذکر د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کښې راغلې دې د هغې يو مقصد خو هلته تير شو، او دويم مقصد چه کوم راپيښ شو هغه په دې روايت کښې د سيدنا براء رضي الله عنه بيان فرمائيلې دې او هغه واقعه ده د صرمة بن قيس انصاری، دا هم په ابواب الاذان کښې تير شوې دی، د هغې د اعادې دلته حاجت نشته.

په حديث ابن عباس او حديث البراء کښې اختلاف او د هغې توجيه:

البته يو بل څيز قابل ذکر دې هغه دا چه د خوړلو او څکلو په وخت د ابن عباس په روايت کښې تير شوې دی ﴿اذا صلوا العتمة﴾ د دې نه معلوميږی چه د خوراک څکاک د بنديدلو مدار په صلاة عشاء باندې وو او په دې روايت کښې دی ﴿اذا صام فنام﴾ د دې نه معلوميږی

[1]: صحيح البخاري/الصوم ۱۵ (۱۹۱۵)، سنن الترمذي/تفسيرالبقرة ۳ (۲۹۶۸)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۱)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الصيام ۱۷ (۲۱۷۰)، مسند احمد (۲۹۵/۴)، سنن الدارمي/الصيام ۷ (۱۷۳۵) (صحيح)

چه د بنديدلو مدار په خوب باندې وو چه د غروب نه پس چه ترڅو پورې اوده نه شي نو خوراک څکاک کولې شي، او که اوده شي نو د اوده کيدو د وجې نه خوراک څکاک ممنوع کيږي، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په رواياتو کښې چه مشهوره ده چه د منع دارومدار په نوم باندې وو (قبل النوم جائز وو بعد النوم ناجائز) او بيا وړاندې ليکي: او ممکنه ده چه د منع تعلق د دواړو سره وی چه په دې دواړو کښې چه د کوم يو تحقق هم مخکښې اوشي نو هم هغه د منع سبب کيږي. والحديث اخرجه البخاري والترمذي والنسائي قاله المنذري.

بَابُ نَسْخِ قَوْلِهِ {وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ}

د{ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ} د منسوخ کيدو بيان

[۲۳۱۵]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بَكْرٌ يَعْنِي ابْنَ مُضَرَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى سَلَمَةَ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، قَالَ: "لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ سورة البقرة آية ۱۸۴، كَانَ مَنْ أَرَادَ مِنَّا أَنْ يُفْطِرَ وَيَفْتَدِيَ فَعَلَ، حَتَّى نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ الَّتِي بَعْدَهَا فَنَسَخَتْهَا".

ترجمه: سلمه بن الاکوع نه روايت دې فرمائي کله چه آيت کريمه: («وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين») نازل شو يعنی څوک چه روژې نه شي نيولې نوهغوی دې يومسکين ته خوراك په فديه کښې ورکړي، په موږ کښې چه به دچاړه غوښتل روژه به ئې نه نيوله او فديه به ئې ورکوله تردې پورې چه دا آيت کريمه (فمن شهد منكم الشهر) نازل شو اومخکښې چه کوم اختيار ورکړې شوې وو هغه ختم شو.

تشريح: سيدنا سلمه بن الاکوع رضي الله عنه فرمائي چه په شروع کښې چه کله دا آيت کريمه نازل شو ﴿وعلى الذين يطيقونه ﴾نو د دې په وجه باندې به چه د چا زړه غوښتله روژه به ئې نيوله او د چا چه به غوښتله هغه به د روژې په ځائې فديه ورکوله، بيا چه کله د دې نه روستو آيت نازل شو ﴿فمن شهد منكم الشهر فليصمه ﴾چه څوک په تاسو کښې دې مياشتې ته حاضر شي (مقيم وی مسافر نه وی) نو هغه دې روژه نيسي. نو دې آيت مخکښې حکم منسوخ کړو.

د ابن عباس او جمهور علماء کرامو په مسلک کښې فرق

په دې کښې د جمهور علماء کرامو رائې دا ده، پس په بخاری کښې د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل دی چه هغه فديه والا آيت کريمه لوستلو سره اوفرمائيل ﴿هی منسوخة ﴾په دې باندې حافظ فرمائي ﴿وخالف فی ذلک ابن عباس فذهب الى انها محكمة لكنها مخصوصة بالشيخ الكبير ونحوه﴾ يعنی د ابن عباس رضي الله عنه په نزد د فديه والا آيت کريمه منسوخ نه دې بلکه مخصوص دې د شيخ فاني وغيره سره. اهـ من البذل. زه وايم چه د ابن عباس د جمهورو سره په نفس مسئله کښې هيڅ اختلاف نشته بيا د دې باوجود چه څوک د نسخ قائل نه دی د هغې وجه دا ده چه هغوی د فديه والا آيت کريمه هغه مطلب نه دې اخستلې کوم چه جمهورو اخستلې دې، او کوم مطلب چه ابن عباس رضي الله عنه اخستلې دې د هغې تقاضه هم دا ده چه آيت فديه دې

(): صحيح البخاري/تفسير البقرة ۲۶ (۴۵۰۶)، صحيح مسلم/الصوم ۲۵ (۱۱۴۵)، سنن الترمذي/الصوم ۷۵ (۷۹۸)، سنن النسائي/الصيام ۳۵(۲۳۱۸)، (تحفة الأشراف: ۴۵۳۴)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصوم ۲۹ (۱۷۷۵) (صحيح)

منسوخ نه وي، ښه ځان پوهه کړه والحديث اخرجه البخاري وسلم والترمذي والنسائي قاله المنذري

[۲۳۱۶]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ سورة البقرة آية ۱۸۴" فَكَانَ مَنْ شَاءَ مِنْهُمْ أَنْ يَفْتَدِيَ بِطَعَامِ مِسْكِينٍ افْتَدَى وَتَمَّ لَهُ صَوْمُهُ، فَقَالَ: فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ سورة البقرة آية ۱۸۴ وَقَالَ: فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ سورة البقرة آية ۱۸۵".

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه کله دا آيت کريمه: («وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين») نازل شو نو چا چه به روژه نيول نه غوښتل نو د يومسکين خوراك به ئي په فديه کښي ورکړو او روژه به ئي مکمل ګنړلي کيدله ليکن الله تعالى دا آيت نازل کړو يعني څوك چه دنيکئ په کار کښي مخکښي کيږي نو دا غوره ده اوستاسو دپاره روژه نيول بهتردي بيادالله تعالى دا قول فمن شهد يعني په چاچه درمضان مياشت راشي نوپه هغي کښي دي روژې ضرور اونيسي اوڅوك چه په سفر کښي وي يا مريض وي نوهغه دي په نورو ورځوکښي روژې اونيسي.

توضيح الحديث

د مخکښي حديث د لاندې دا خبره تيره شوه چه د ابن عباس رضي الله عنه رائي په دې آيتونو کښي د جمهور خلاف ده، او هغه د ايت فديه د منسوخ کيدو قائل نه دې.

وعلى الذين يطيقونه کښې اختلاف قراءة:

د دې توضيح دا ده چه ﴿وعلى الذين يطيقونه﴾ کښي دوه قراءتونه دي يو خو هم دا مذکوره او دويم ﴿يطوقونه﴾ او په دې کښي يو دريم قراءت هم بيانولې شي ﴿يطيّقونه﴾ په دې کښي اولنې قراءت د جمهورو دې او دوه اخرې د ابن عباس رضي الله عنه طرف ته منسوب دي، د جمهور د قراءت معنى خو ظاهره ده چه کوم خلق د روژې نيولو طاقت لري او هغوى مطيع او مستطيع دي، هغوى که په ځائي د صوم افطار اوکړي نو په هغوى باندې فديه يعني طعام مسكين واجب دې، جمهورو دا معنى اختيار کولو سره فرمائيلي دی چه دا حکم منسوخ دې ﴿من شهد منكم الشهر فليصمه﴾ په ذريعه، او ابن عباس رضي الله عنه چه کوم قراءت اختيار کړي دې د هغي معنى دا ده چه کوم خلق په تکلف او ډير زور او طاقت لګولو سره روژه نيولې شي هغوى ته د افطار اجازت دې او بيا فديه واجب ده، د دې قراءت او تفسير په صورت کښي د دې مصداق شيخ کبير وغيره شو چه کله داسې ده نو بيا دا حکم منسوخ نه دې، دا حکم خو اوس هم دې، هم په دې وجه هغه د دې آيت کريمه د نسخ قائل نه دې كما هو مشهور من مذهبه، پس په صحيح بخاري کښي دی عن عطاء سمع ابن عباس يقول: وعلى الذين يطيقونه بفتح الطاء وتشديد الواو ومبنيا للمفعول مخفف الطاء ﴿ فدية طعام مسكين ﴾ قال ابن عباس ليست بمنسوخة هو الشيخ الكبير والمراءة الكبيرة لا يستطيعان ان يصوما فيطعمان مكان كل يوم مسكينا، قال الحافظ: هذا مذهب ابن عباس وخالفه الاكثر ﴾

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۲۵۵) (حسن)

د دې تولو نه پس ته په دې باندې ځان پوهه کړه چه مشهور خو دا ده کوم چه اوس تیر شو خو د سنن ابی داود دا روایت کوم چه روان دې د هغې نه خو په ظاهره د ابن عباس رضي الله عنه په نزد د آیت فدیه منسوخ کیدل معلومیږی، یعنی کوم چه د جمهورو مسلک دې هم هغه د دې نه مستفاد کیږی، د دې په باره کښې حضرت په بذل المجهود کښې دا لیکلي دی چه ممکنه ده چه داسې اوئیلې شی چه په شروع کښې خو هغه د عدم نسخ قائل وو د جمهورو خلاف ﴿ثم وافق الجمهور وقال بالنسخ﴾

فائده : پورته مونږ لیکلي دی چه په دې آیت کریمه کښې د ابن عباس رضي الله عنه قراءت د جمهورو د قراءت نه مختلف دې او د هر یو معنی هم مختلف ده، په دې کښې مزید خبره دا ده چه د بعض مصنفین د کلام نه دا معلومیږی چه د ابن عباس رضي الله عنه قراءت هم هغه دې کوم چه د جمهورو دې، خو فرق دا دې چه جمهور خو یطیقونه لره په مثبت باندې محمول کوی یعنی طاقت لرل، او ابن عباس په منفی معنی باندې، یعنی کوم خلق چه مسلوب الطاقة دی، د روژې نیولو په هغوی کښې طاقت نشته ځکه چه ﴿یطیقون﴾ د باب افعال نه دې چه د هغې یو خاصیت سلب ماخذ هم دې. والله اعلم بصحة هذا النقل

بَابُ مَنْ قَالَ هِيَ مُثْبَتَةٌ لِلشَّيْخِ وَالْحُبْلَى

د بعضو په قول د فدیې حکم د بوډا او د حاملې د پاره اوس هم باقی دې

[۲۳۱۷] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، أَنَّ عِكْرِمَةَ حَدَّثَهُ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أُثْبِتَتْ لِلْحُبْلَى وَالْمُرْضِعِ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه په ذکرشوي آیت کښې دفدې حکم ثابت دې دپاره دحاملې اوتې ورکونکې.

[۲۳۱۸] (۲) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَزْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ سورة البقرة آية ۱۸۴"، قَالَ: كَانَتْ رُخْصَةً لِلشَّيْخِ الْكَبِيرِ وَالْمَرْأَةِ الْكَبِيرَةِ وَهُمَا يُطِيقَانِ الصِّيَامَ أَنْ يُفْطِرَا، وَيُطْعِمَا مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا، وَالْحُبْلَى وَالْمُرْضِعُ إِذَا خَافَتَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي عَلَى أَوْلَادِهِمَا أَفْطَرَتَا وَأَطْعَمَتَا.

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کوموبوډاګانو چه روژې نیول شوې دهغوی دپاره رخصت وو چه که ددوی خوښه وي روژې دې ونیسي اوکه نه نیسي نودهرې روژې په عوض کښې دې یومسکین ته د یوې ورځې خوراک ورکړي همدارنګې که چرې کومه حامله ښځه یامرضعه چه بچې ته به ئې دنقصان خطره وه نو هغه دې روژې نه نیسي بلکه فدیه دې اداکړي. امام ابوداود فرمائی د فدیې حکم په هغه وخت کښې دې کله چه یوه ښځه حامله وي یامرضعه وي او بچې ته ئې دنقصان رسید و خطره وي، امام ابوداود فرمائی روژه دې ماته کړي اوددې په بدل کښې دې مسکین ته خوراک ورکړي.

---

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۶۱۹۶) (صحیح)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۵۶۵) (شاذ)

تشريح: په دې باب کښې مصنف د ابن عباس اثر په دوه طريقو سره نقل کړې دې اول په طريق د عکرمه عن ابن عباس او دويم په طريق د سعيد بن جبير عن ابن عباس، اولنې اثر خو مجمل دې او په دويم کښې تفصيل شته، هغه داسې دې :

قوله: وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ سورة البقرة آية ١٨٤، قَالَ: كَانَتْ رُخْصَةً لِلشَّيْخِ الْكَبِيرِ وَالْمَرْأَةِ الْكَبِيرَةِ وَهُمَا يُطِيقَانِ الصِّيَامَ أَنْ يُفْطِرَا، وَيُطْعِمَا..الخ:

﴿وهما يطيقان ﴾ نه مراد په ظاهره دا ده ﴿اى بجهد ومشقة ﴾يعنى په طاقت او زور لګولو سره په مشقت باندې روژه نيسى لکه چه د هغوى د مذهب تشريح مخکښې تيره شوه.

شيخ كبير، حبلى او مرضعه په حكم كښې اختلاف :

په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر شوې ده چه شيخ کبير او حبلى او هم په دې حکم کښې دى مرضعه هم د دې درې وارو دپاره رخصت افطار ثابت دې، په حديث الباب کښې د دې ترجمې مطابق دې، په ثبوت افطار کښې خو ټول فقهاء کرام متفق دى، خو د حبلى او مرضعه په باره کښې يو بل اختلاف دې هغه دا چه د افطار نه روستو په دوى دواړو باندې څه واجب دى؟ د احنافو په نزد خو صرف د روژې قضاء ده روستو فديه نشته، او د ائمه ثلاث په نزد قضاء او صوم مع الفديه، او شيخ کبير چه کله افطار کوى نو په دې باندې د جمهورو په نزد فديه ده او د امام مالک رحمه الله په نزد فديه هم ساقط کيږى، د حامله او مرضعه په باره کښې يو قول دا دې چه په هغوى باندې صرف فديه ده قضاء نشته وهو مروى عن ابن عمر وعن ابن عباس، او يو قول دا دې الفرق بين الحامل والمرضع چه په حامل باندې خوصرف قضاء ده فديه نشته، او په مرضعه باندې قضاء او فديه دواړه دى، كذا فى البذل عن ابن رشد، د حامل او مرضعه په باره کښې يو قول امام ترمذى رحمه الله دا نقل کړې دې چه د افطار نه روستو هغوى دواړو ته اختيار دې د قضاء او اطعام ترمينځه، په هغه دواړو کښې دې يو اختيار کړى، د قضاء په صورت کښې به اطعام نه وى، او د اطعام په صورت کښې به قضاء نه وى.

ځان پوهه کړه چه په ترجمة الباب کښې چه مونږ سره دا مسئله شروع ده هم دا امام ترمذى هم قائم کړې دې او بيا په دې باب کښې هغه هغه حديث مرفوع ذکر کړې دې کوم مونږ سره په باب اختيار الفطر کښې راروان دې هغه دې اوکتلې شى، د هغې په اخر کښې دى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿ان الله وضع شطر الصلاة او نصف الصلاة والصوم عن المسافر وعن المرضع والحبلى ﴾ الحديث... د امام ابوداود دپاره هم اولى دا وه چه هغه د ابن عباس رضي الله عنه د اثر په ځائې هغه حديث مرفوع دلته راوړې وې كما فعل الترمذى، امام ترمذى رحمه الله د دې حديث نه پس فرمائى : قال بعض اهل العلم : الحامل والمرضع يفطران ويقضيان ويطعمان وبه يقول سفيان ومالك والشافعى واحمد، وقال بعضهم يفطران ويطعمان ولا قضاء عليهما، او د دې نه روستو ئې هغه دريم قول ذکر کړې دې کوم چه پورته رانقل کړې شو، د امام ترمذى رحمه الله په کلام کښې چه کوم درميانه قول دې هغه احنافو اختيار کړې دې.

بَابُ الشَّهْرِ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ

باب: مياشت کله ديوکم ديرشو هم وي

[۲۳۱۹](1)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَمْرٍو يَعْنِي ابْنَ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ، لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا". وَخَنَسَ سُلَيْمَانُ أُصْبُعَهُ فِي الثَّالِثَةِ يَعْنِي تِسْعًا وَعِشْرِينَ وَثَلَاثِينَ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل مونږه اميان (ان پړ) خلق يو په حساب اوکتاب نه پوهيږو مياشت داسي اوداسي اوداسي وی (دري پيري) دلاس په ګوتوسره اشاري اوکړی اوسليمان راوی په دريم ځل کښي خپلي ګوتي بندي کړي يعني مياشت کله دنه ويشت ورځو وي.

شرح حديث :

يعني رسول الله صلى الله عليه وسلم د دواړو ګوتو لره پرانستلو سره د هغي طرف ته اشاره کولو سره دري کرته اوفرمائيل چه مياشت د دومره ورځو ده او په دريم ځل ئي يوه ګوته په ځائي د پرانستلو بنده کړه، لهذا په دي صورت کښي دا يو کم ديرش ورځي شوي، او بيا د حديث په اخر کښي دی يو کم ديرش او ديرش ورځي، پس په دي حديث کښي اختصار پيدا شو پوره روايت په صحيح مسلم کښي دي پس په هغي کښي دوباره روستو داسي راځي ﴿والشهر هكذا وهكذا وهكذا ﴾، يعني تمام الثلاثين او په دويم ځل کښي رسول الله صلى الله عليه وسلم دري واره کرته ټولي ګوتي پرانستلي اوساتلي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چه مونږ خلق يعني عرب ﴿وقيل اراد نفسه ﴾اميان يو په حساب کتاب پاندي نه پوهيږو يعني اکثر په هغوی کښ، او که ټول مراد وی نو په دي صورت کښي د نفس حساب کتاب نفي نه وی بلکه د احسان او کمال نفي به وی يعني په هغي باندي ښه طريقي سره نه پوهيږو، د کوم حساب نفي چه په دي حديث کښي کړي شوي ده د دي نه مراد حساب نجوم دي کوم چه ټولو شارحينو ليکلي دي، او علامه قسطلاني ليکی يعني مونږ خپله روژه مونځ او د نورو عباداتو د مواقيت پيژندلو کښي د څه حساب کتاب د زده کولو مکلف نه يو کوم چه باقاعده زدکړي شي بلکه نيغ حساب کوم چه ټولو ته معلوم دي، هغي لره اعتبار دي نور وضاحت رسول الله صلى الله عليه وسلم دګوتو په اشارې سره بغير د تلفظ نه بيان کړو چه هغه ګونګي او عجمی زده کولي شي.

حافظ رحمه الله فرمائي چه ددي وجي نه نبي صلى الله عليه وسلم بل حديث کښي فرمائي فان غمّ عليكم فاكملوا العدة ثلاثين، يعني که دنهه ويشت په شپه سپوږمئ په نظر رانغله نوبيا به ديرش پوره کوي او دا ئي نه دی وئيلی چه د اهل حسابو او حساب دانو نه ئي معلوم کړئ بلکه په خپل حساب باندي د باقی پاتي کيدو ئي اوفرمائيل لهذا په دي حديث کښي د حساب نجوم نفي کړي شوي ده چه په شريعت کښي دي لره اعتبار نشته، او بيا وړاندي ليکي چه بعض خلق د حساب نجوم طرف ته تلي دی او هغه روافض دی، په دي کښي دبعضي فقهاؤ موافقت هم

(1): صحيح البخاري/الصوم ۱۳(۱۹۱۳)، صحيح مسلم/الصوم ۲ (۱۰۸۰)، سنن النسائي/الصيام ۸ (۲۱٤۲)، (تحفة الأشراف: ۷۰۷۵)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ٦ (١٦٥٤)، مسند احمد (۱۲۲/۲) (صحيح)

نقل دي علامه باجی رحمه الله وائی چه په دې باندې د سلف اوخلف اجماع ده، او ابن بزیزه رحمه الله وائی چه دا مذهب باطل دې ځکه چه شریعت د خوض فی علم النجوم نه منع کړې دې، ځکه چه هغه صرف حدس او تخمین د قبیل نه دې قطعي څيز نه دې.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم وابن اماجة هكذا قاله المنذری، امام المزی فی التحفة، فعزاه الى الشيخين والنسائی، وكذا القسطلانی.

[۲۳۲۰](1) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ، فَلَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ ثَلَاثِينَ". قَالَ: فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا كَانَ شَعْبَانُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ نُظِرَ لَهُ، فَإِنْ رُئِيَ فَذَاكَ، وَإِنْ لَمْ يُرَ وَلَمْ يَحُلْ دُونَ مَنْظَرِهِ سَحَابٌ وَلَا قَتَرَةٌ أَصْبَحَ مُفْطِرًا، فَإِنْ حَالَ دُونَ مَنْظَرِهِ سَحَابٌ أَوْ قَتَرَةٌ أَصْبَحَ صَائِمًا، قَالَ: فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُفْطِرُ مَعَ النَّاسِ وَلَا يَأْخُذُ بِهَذَا الْحِسَابِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی علیه السلام اوفرمائيل مياشت كله دنهه ويشت ورځو وي روژې مه نيسئ ترڅو چه مو مياشت ليدلې نه وي او روژې مه ماتوي ترڅوچه مو مياشت ليدلې نه وي، اوكه چرې وريځ وي نوديرش روژې پوره كړئ راوی وائی چه كله به دشعبان نهه ويشت ورځې پوره شوې نوابن عمر به دسپوږمئ دليدوكوشش شروع كړو كه سپوږمئ به ښكاريده خوتيك ده اوكه نه به ښكاريده اواسمان به شين وو وريځ به نه وه) نوصبا به نه روژه كيدو ليكن كه چرې وريځ ياګرد غبار به وو نوصبا له به ئې روژه نيوله، راوی وائی ابن عمر رضی الله عنه به دخلقوسره افطار كولو اودخپل حساب خيال به ئې نه ساتلو.

د حديث په شرح كښې درې اقوال

﴿فان غم عليكم فاقدروا له﴾ په دې كښې د دال ضمه او كسره دواړه لوستلې شوې دی، د دې جملې په تفسير كښې درې اقوال ملاويږی. ۱: قدروا العدة ثلاثين، يعنی كه د يو كم ديرشو مياشت درته ښكاره شی نو د مياشتې ديرش پوره كړئ. ۲: قدروه تحت السحاب: يعنی په وريځ كښې پټيږی. ۳: قدروه بحسب المنازل، يعنی د منازل قمر اعتبار اوكړئ يعنی هم هغه حساب نجوم، اوله معنی اختيار كړې ده جمهور علماء كرامو، او دويمه معنی اختيار كړې ده امام احمد وغيره علماء كرامو، پس د امام احمد رحمه الله قول دا دې چه كه د يو كم ديرشو مطلع صفا نه كيدو د وجې نه مياشت ښكاره نه شی نو بيا دې سحر د رمضان په نيت سره روژه اونيولې شی. (۲) دريم قول اختيار كړې دې په فقهاء كرامو كښې ابو العباس ابن سريج شافعی، پس ابن العربی د هغه نه نقل كړې دی هغه فرمائی چه په دې حديث كښې د ﴿فاقدروا له﴾ خطاب د هغه خلقو دپاره دې كوم چه د علم نجوم نه واقف دی، چاته چه الله

(1): صحيح مسلم/الصوم ۲(۱۰۸۰)، (تحفة الأشراف: ۷۵۳٦، ۱۹۱٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۲) (صحيح)

(2) په نهيشتم تاريخ باندې د وريځ يا خړې په صورت كښې ابن الجوزی رحمه الله فرمائی چه په دې كښې د امام احمد رحمه الله درې اقوال دی، يو خو هم دا چه كوم تير شو او دويم قول دا دې چه لا يجوز صومه لا فرضا ولا نفلا بل قضاء وكفارة ونذرا او نفلا يوافق عادته، وبه قال الشافعي ثالثها المرجع الى راي الامام في الصوم والفطر. اهـ من البذل ۳۴۳/۳

پاک دا علم ورکړي دي، او بل حديث چه په هغې کښې دا دی (فاکملوا العدة ثلاثين) په دې کښې دا خطاب عام خلقو ته دې کوم چه د حساب نجوم نه واقف نه وی، بيا وړاندې تلو ابن العربی د دې قول ترديد کړې دې او پورته د علامه باجی نه دا خبره ذکر کړې شوه چه د حساب نجوم په اعتبار سره د اجماع سلف خلاف دې، هم دغه شان ابن المنذر هم دې ته د اجماع خلاف مقرر کړې دې، علامه شامی د حساب نجوم په اعتبار کونکو کښې د امام سبکی شافعی نوم اخستلې دې هغه فرمائی چه د هغه په دې کښې يو مستقل تاليف هم دې چه په هغې کښې هغوی مائل شوې دی قول منجمين د اعتماد طرف ته او دا چه حساب قطعی څيز دې، شامی فرمائی چه د سبکی د رائې ترديد د هغوی نه روستو اهل مذهب خپله کړې دې. اهـ ملخصاً من البذل.

شرح حديث:

راوی ابن عمر رضي الله عنه معمول بيانوی چه د شعبان په نهيشتم تاريخ باندې که مياشت اوليدې شوه نو بيا خو به هغې لره اعتبار ورکولې شی او نه وې ښودلې شوې او وريځ يا غبار وغيره هم څه حائل نه وې، يعنی مطلع به بالکل صفا وې نو په دې صورت کښې به سحر افطار کولو او روژه به ئې نه نيوله، او په صورت ديگر يعنی وريځ وغيره کيدو په صورت کښې روژه نيوله، وړاندې دی وکان ابن عمر يفطر مع الناس، يعنی روژه خو به هغه يواځې نيوله خو اختر به ئې د خلو سره کولو او دې خپل حساب لره به ئې اعتبار نه ورکولو، يعنی که يو ديرش روژې اوشی، او اوله روژه به نفلی شی. والحديث اخرجه مسلم منه المسند فقط قاله المنذری، وله طرق اخری عن ابن عمر عند البخاری والنسائی وابن ماجة قاله الشيخ محمد عوامة.

[۲۳۲۱] ([1]) حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنِي أَيُّوبُ، قَالَ: كَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ إِلَى أَهْلِ الْبَصْرَةِ بَلَغَنَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، زَادَ: "وَإِنَّ أَحْسَنَ مَا يُقْدَرُ لَهُ أَنَّا إِذَا رَأَيْنَا هِلَالَ شَعْبَانَ لِكَذَا وَكَذَا، فَالصَّوْمُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ لِكَذَا وَكَذَا، إِلَّا أَنْ تَرَوُا الْهِلَالَ قَبْلَ ذَلِكَ".

ترجمه: عمربن عبدالعزيز رحمه الله اهل بصره ته وليکل دابن عمر رضي الله عنه دحديث په شان دنبی عليه السلام نه البته په دې کښې دا اضافه ده که چرې دشعبان دمياشتې سپوږمۍ په فلان فلانۍ ورځ ښکاره شوله نوان شاء الله په فلانۍ ورځ به روژه وي ليکن که چرې ددې نه مخکښې سپوږمۍ اووينئ نود حساب نه مخکښې روژه نيول شروع کړئ

توضيح الحديث

يعنی حضرت عمر بن عبدالعزيز د خپل خلافت په زمانه کښې د اهل بصره طرف ته د ابن عمر رضي الله عنه هغه حديث اوليکلو کوم چه اوس پورته تير شو، او بيا د دې حديث نه روستو دومره زياته کړه چه د هغې مطلب دا دې چه غوره او صحيح خبره دا ده چه که د شعبان مياشت په فلانۍ ورځ باندې په نظر راشی نو د رمضان د روژې ابتداء به د فلانۍ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷٥۳٦ و ۱۹۱٤٦) (صحيح)

ورځ نه وی (یعنی د دیرشو ورځو د پوره کیدو نه روستو) مثلاً که د شعبان میاشت د ګل په ورځ وی نو د رمضان اوله روژه به د چارشنبې په ورځ باندې وی دیرش روژې پوره کولو سره، مګر دا چه تاسو میاشت اووینئ د دې نه یوه ورځ مخکښې نو بیا یوه ورځ مخکښې نو بیا روژه د دې نه یوه ورځ مخکښې یعنی د نهي په ورځ وی.

[۲۳۲۲](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، عَنْ ابْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ عِيسَى بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ بْنِ أَبِي ضِرَارٍ، عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "لَمَا صُمْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ أَكْثَرَ مِمَّا صُمْنَا مَعَهُ ثَلَاثِينَ".

ترجمه: عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائی چه مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د دیرشو روژو په مقابله کښې یوکس دیرش روژې زیات تر نیولې دی.

شرح حدیث:

دا لام دپاره د تاکید دې، او لفظ ﴿ما﴾ موصوله یا مصدریه دې، سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د هغه په زمانه د رمضان چه کومې روژې نیولې دی هغه په نسبت د دیرشو یا یو کم دیرشو ده، ګویا عام طور به د اختر میاشت په نهیشتم وی.

معلومه شوه چه دا چه خبره د خلقو ترمینځه مشهور دې چه د خلقو حال دا دې چه د اختر میاشت چه د اختر میاشت به د یو نه یو ځائې نه راوړی، دا خبره د پورته نه راروانه ده، والحدیث اخرجه الترمذی قاله المنذری.

[۲۳۲۳](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ يَزِيدَ بْنَ زُرَيْعٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "شَهْرَا عِيدٍ لَا يَنْقُصَانِ: رَمَضَانُ وَذُو الْحِجَّةِ".

ترجمه: دابوبکر رضی الله عنه نه روایت دې فرماني چه نبی علیه السلام اوفرمائیل چه داختر دوه میاشتې یعنی رمضان او ذالحجه کې نه وي (یعنی په یوکال کښې دوه میاشتې د ۲۹ ورځونه وي، یاددې مطلب دادې چه دا دواړه میاشتې په اجر اوثواب کښې نه دي بلکه ددې دوو میاشتو ډیرفضائل دي.

توضیح الحدیث

دا حدیث په ظاهره کښې د پورته والا حدیث خلاف ده (۳)، او ځه نه ځه زما په تجربه کښې دا خبره راغلې ده چه مصنف کله په دوه احادیثو کښې فی الجمله تخالف او تعارض ویني نو هغه یو بل ته نزدې ذکر کوی، په ظاهره ځکه چه کتونکی غور کولو سره د هغې حل او توجیه باندې سوچ اوکړی.

(۱): سنن الترمذي/الصوم ٦ (٦٨٩)، (تحفة الأشراف: ٩٤٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤٤١، ٣٩٧، ٤٠٥، ٤٠٨، ٤٤١، ٤٥٠) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الصوم ١٢(١٩١٢)، صحيح مسلم/الصوم ٧ (١٠٨٩)، سنن الترمذي/الصوم ٨ (٦٩٢)، سنن ابن ماجه/الصيام ٩(١٦٥٩)، (تحفة الأشراف: ١١٦٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٨، ٤٧، ٥٠) (صحيح)

(۳) ځکه چه د دې حدیث تقاضه کم از کم دا ده چه رمضان اکثر د دیرشو ورځو وی او پورته حدیث نه اکثریت یو کم دیرش معلومیږی)

اوس د دويم حديث مضمون دا دي چه د هر دوه اخترونو مياشتي يعنی رمضان او ذی الحجة ناقص نه وی، په دې حديث کښې هغه د رمضان په مياشت باندې د اختر اطلاق فرمائيلي دې، يا خو تغليبا او يا د غايت اتصاف د وجې نه چه د رمضان مياشت ختميدو سره د اختر مياشت شروع کيږی.

په شرح حديث کښې متعدد اقوال :

د دې حديث په شرح کښې ډير اقوال دی:

۱: د بعض په نزد دا حديث په خپل ظاهر باندې محمول دې چه رمضان او ذی الحجة دا دواړه هميشه د ديرشو ورځو وی، خو د دې قول ټولو ترديد کړې دې چه دا د مشاهدې خلاف دې، او د دې حديث هم خلاف دې، ﴿صوموا لرؤيته فان غم عليکم فاکملوا العدة﴾

۲: رسول الله ﷺ د څه خاص کال په باره کښې فرمائيلي وو د هميشه د پاره نه.

۳: يعنی دواړه په يوځائې ناقص يعنی د يو کم ديرشو نه وی، چه يوه د يو کم ديرشو وی نو بله به ضرور د ديرشو وی، خو په دې باندې هم اشکال دې، کله يوځائې دواړه د يو کم ديرشو وی.

۴: هم دا مطلب دې کوم چه په دريم قول کښې تير شو خو د اکثر او اغلب په اعتبار سره.

۵: من حيث الفضيلة... يعنی د رمضان مياشت که د ديرشو وی او که د يو کم ديرشو وی، هم دغه شان ذی الحجة هم د فضيلت په اعتبار سره ناقص نه وی، په دې اقوالو کښې قول ثالث لره امام ترمذی د امام احمد نه، او قول رابع لره اسحاق بن راهويه نه نقل کړې دې.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجة قاله المنذری.

بَابٌ إِذَا أَخْطَأَ الْقَوْمُ الْهِلَالَ

کله چه خلق د سپوږمۍ په ليدو کښې غلط شي

[٢٣٢٤] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ فِي حَدِيثِ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ، قَالَ: "وَفِطْرُكُمْ يَوْمَ تُفْطِرُونَ وَأَضْحَاكُمْ يَوْمَ تُضَحُّونَ، وَكُلُّ عَرَفَةَ مَوْقِفٌ، وَكُلُّ مِنًى مَنْحَرٌ، وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ مَنْحَرٌ، وَكُلُّ جَمْعٍ مَوْقِفٌ".

ترجمه: دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ اوفرمائيل دواړه اختر ورځ هغه ده په کومه ورځ چه تاسو روژې ماتې کړئ اودلوی اختر ورځ هغه ده په کومه ورځ چه تاسو قربانی اوکړئ اوعرفات ټول داودريدو ځائې دې اومنی دحلالي ځائې دې اوپه مکه کښې چه خومره لارې دې هغه ټول دحلالو ځايونه دې اومزدلفه د ودريدو ځائې دې.

شرح السند :

دلته په سند کښې ﴿فی حديث ايوب﴾ راغلي دې د دې نه مخکښې د سند هم دغه شان تعبير په کتاب الطهارة کښې "باب البول فی الماء الراکد" کښې تير شوې دې، هلته داسې وو ﴿حدثنا

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٦٠٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصوم ١١ (٦٩٧)، سنن ابن ماجه/الصيام ٩ (١٦٦٠) (صحيح)

احمد بن یونس قال ثنا زائدة فی حدیث هشام الطویل ﴾یعنی زائده لره د هشام نه طویل حدیث راغلي وو د هغي يوه قطعه دا ده کوم چه اوس هغه دلته روایت کوی د هغي نه په ﴿من ﴾سره هم تعبیر کیدلي شی﴿ای من حدیث هشام الطویل﴾هم دغه شان په موجوده سند کښي به مطلب هم داوی چه حماد دایوب په حدیث کښي دا ټکړه ذکر کړي ده، کذا یستفاد من بذل المجهود.

توضیح الحدیث

"کذافی بذل المجهود"یعنی د ایوب په شاګردانو کښي حماد دا روایت مرفوعا ذکر کړي دي او غیر حماد موقوفا لکه چه د دارقطني د روایت نه معلومیږي.

په شرح حدیث کښي متعدد اقوال:

د دي حدیث په شرح کښي څو اقوال دی

۱: امور اجتهادیه کښي خطاء معفو دي لهذا که خلقو د اختر د میاشت لیدو کوشش اوکړو خو باوجود د کیدو د یو عارض د وجي نه په نظر رانغلو په دي وجه خلقو روژي پوره دیرش نیولي وی نو دا اخری روژه خو به فی الواقع خو د اختر په ورځ باندي واقع شوه کومه چه حرامه ده خو چونکه په اجتهادی خطاء سره داسي اوشو په دي وجه معاف دي، بیا چه وړاندي کوم اختر مانځلي شی هم هغه به د اختر ورځ ګڼړلي شی، هم دا خبره رسول اللهﷺ کوی ﴿فطرکم یوم تفطرون ﴾او د دي نه په وړاندي جمله کښي د غټ اختر ذکر دي، د هغي حکم هم دا دي، هم دا معنی اختیار کړي ده امام خطابی، او هم دا معنی تقریبا امام ترمذی هم د دي حدیث بیان کړي ده، حضرت په بذل کښي هم د دي معنی لیکلو نه پس فرمائی ﴿وهذا الحکم فیما عند الله سبحانه وتعالی واما الحکم فی الدنیا بالحکم بالاعادة فهو مبسوط فی کتب الفقه، ولیس هذا موضع تفصیله ﴾یعنی د دي عفو تعلق خو د اخرت په اعتبار سره دي خو د دنیوی حکم په اعتبار چه ایا د دي غلطئ سره چه کومه قربانی یا حج وغیره شوي وی د هغي اعاده به وی یا نه، دا څیز تفصیل طلب دي چه د هغي اصل محل کتب فقهیه دی. اهـ معلومه شوه په حدیث شریف باندي صحیح صحیح عمل د فقهاء کرامو د کلام په رڼړا کښي کیدي شی، ځکه چه اګر که د کتاب الله په مقابله کښي په سنت نبویه کښي ډیر تفصیل دي خو د دي باوجود د هغي نه اخر پوري ضرورت نه شی پوره کیدي، د دي دپاره الله پاک فقهاء کرام منتخب کړي دی، پس مواد پیش کونکی خو محدثین حضرات شو، خو د دي نه کمال اخذ او په دي باندي تفریعات دا د فقهاء کرامو منصب دي لکه چه امام اعمش امام ابوحنیفهؒ ته خطاب کولو سره فرمائیلي وو ﴿انتم الاطباء ونحن الصیادلة ﴾[1]

---

[1] لکه ملا علی قاریؒ د امام ابوحنیفهؒ په مناقب کښي فرمائی چه یو ځل امام ابوحنیفهؒ د امام اعمش په مجلس کښي وو نو د هغه نه یوه مسئله اوتپوسلي شوه او د امام ابوحنیفهؒ نه هم تپوس اوکړي شو چه تاسو څه جواب کوئ قال الامام اقول کذا وکذا، په دي باندي امام اعمشؒ اوفرمائیل: من این لك هذا؟ نو امام صاحب ورته جواب ورکړو چه هم تا مونږ ته فلاني حدیث په دي سند سره د ابوهریره او د عبدالله بن مسعود، او هم په دي سند سره د ابو مسعود انصاری بیان فرمائیلي دي. قال رسول الله صلي الله تعالي علیه واله وسلم کذا، د دي نه علاوه نور هم بعض روایات.....

لهذا په فن حديث کښې مشغول کيدونکی لره د خپل ځان مستغنی عن کلام الفقهاء نه دی ګڼړل پکار، والله الهادی الی سواء السبيل.

۲: يو قول د دې حديث په شرح کښې دا دې چه د صوم يوم الشک نفی مقصود ده چه يو سړې احتياطا د خپل طرف نه هغه ورځ روژه نه نيسی بلکه چه کله ټول خلق روژه نيسی نو بيا نيسی.

۳: په دې سره مقصود په دې خلقو باندې رد دې کوم چه داسې وائی چه کوم سړې د منازل قمر په حساب باندې پوهيږی او د دې خپل فن په ذريعه د طلوع قمر علم لری نو هغه له پکار دی چه هغه په صوم او افطار کښې په خپل حساب باندې چليږی او عام خلق چه کوم د دې حساب نه واقف نه وی هغه به د رويت قمر اعتبار کوی نو په دې حديث کښې دی چه د صوم او افطار کښې ټول په يو لائن باندې وی، واقف او نا واقف په دې کښې هيڅ فرق نه وی.

۴: که يو سړی مياشت اوليدې او نورو حضراتو ته په نظر نه وی راغلي او قاضی صاحب د شاهد واحد اعتبار نه وی کړې او په هغې ئې فيصله نه وی کړې نو دې شاهد واحد لره د خپل رؤيت اعتبار نه دی کول پکار بلکه د نورو خلقو سره دې وی. (تهذيب السنن لابن القيم)

تنبيه: د دې څلورمې معنی د لاندې هغه څيز په ذهن کښې ساتل پکار دی کوم چه په الکوکب الدری ۴۰ کښې دې، هغه دا چه موافقت د جماعت حکم سره دا صورت مستثنی دې، هغه دا چه يواځې يو سړې د رمضان د مياشت اوليده او د څه وجې نه امام د هغه قول قبول نه کړو او د روژې فيصله ئې اونکړه نو دې يواځې کتونکی لره روژه نيول پکار دی په دې کښې دې د جماعت موافقت نه کوی. اهـ دا دې هم واضح وی چه د جمهورو ومنهم الحنفية په هلال رمضان کښې شهادت واحد معتبر دې د دې د لاندې په هدايه کښې دا جزئيه ليکلې دې چه په شهادت واحد باندې چه کله امام د روژې فيصله اوکړی او ديرش روژې پوره شی خو د دې باوجود د اختر مياشت په نظر رانشی نو په دې کښې حسن بن زياد روايت د امام ابوحنيفه نه دې چه په دې صورت کښې د ديرشو نه پس خلق افطار اونکړی د احتياط د وجې نه، او د دې وجې نه هم چه د شهادت واحد نه هلال عيد نه ثابتيږی، او د امام محمد رحمه الله روايت دا دې چه (انهم يفطرون) چه د ديرش ورځو پوره کيدو نه پس که مياشت په نظر راشی نو يو ديرشمه روژه نه نيسی بلکه افطار اوکړی چه اګر چه ابتداء ثبوت فطر په شهادت واحد سره نه وی خو بناء کيدې شی.

وکل عرفة موقف وکل منی منحر وکل فجاج مکة منحر وکل جمع موقف.

←..... د بعض نورو صحابه کرامو نه نقل کړل نو د دې ټولو د اوريدلو نه پس امام اعمش اوفرمائيل چه کوم احاديث ما تاته په سلو ورځو کښې بيان کړې وو هغه تا په يو ساعت کښې بيان کړل، او بيا ئې اوفرمائيل يا معاشر الفقهاء انتم الاطباء ونحن الصيادلة وانت ايها الرجل اخذت بکلا الطرفين، يعنی فقهاء کرام خو په منزله د اطباء دی او مونږ محدثين په منزله د دوائی خرڅونکی يو او د امام صاحب طرف ته ئې خطاب کولو سره اوفرمائيل چه تاسو د دواړو څيزونو نه حصه اخستلې ده. (مقمدة اعلاء السنن في الفقه ج ۲ ص ۱۹)

شرح حديث:

د دې شرح په كتاب الحج كښې تير شوې دې، په كتاب الحج كښې باب الصلاة لجمع كښې په يو روايت كښې داسې تير شوې دى ﴿وكل فجاج مكة طريق ومنحر ﴾فجاج د فج جمع په معنى د الطريق الواسع (يعنى كهلاؤ لار)، صحابه كرام چونكه په هر يو څيز كښې د رسول الله ﷺ اتباع او نقش قدم باندې تلل غوښتل ځكه چه هغه د هغه د سهولت دپاره اوفرمائيل چه د مكه مكرمه چه څومره لارې دى كه د داخليدو په اعتبار سره يا د وتلو په اعتبار سره هغه ټولې لارې دى لهذا چاته چه په كومه لاره باندې سفر كولو كښې سهولت وى هغه دې هم دا اختيار كړى.

والحديث اخرجه الترمذى من حديث سعيد بن ابى سعيد المقبرى عن ابى هريرة رضى الله عنه قاله المنذرى، ورواه ابن ماجة من طريق حماد بن زيد عن ايوب عن محمد بن سيرين عن ابى هريرة رضى الله عنه وهذا اسناد صحيح جدا على شرط الشيخين (قاله احمد شاكر) اى الجملتان الاوليان كما فى تعليق محمد عوامة.

بَاب إِذَا أُغْمِيَ الشَّهْرُ

باب: كله چه (د وريځې په وجه) مياشت مشتبه شى نوڅه به كولې شى؟

د شهر نه مراد شهر رمضان، يعنى كه د رمضان مياشت په يو كم ديرشم باندې په نظر راشى نو ايا په ديرشم د شعبان به روژې نيسى يا نه نيسى د دې حكم په حديث الباب كښې راروان دې چه په ديرشم د شعبان به هغه روژه نه نيوله. بلكه د هغې نه روستو

[۲۳۲۵](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، تَقُولُ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَحَفَّظُ مِنْ شَعْبَانَ مَا لَا يَتَحَفَّظُ مِنْ غَيْرِهِ، ثُمَّ يَصُومُ لِرُؤْيَةِ رَمَضَانَ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْهِ عَدَّ ثَلَاثِينَ يَوْمًا ثُمَّ صَامَ".

ترجمه: دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام ته به د شعبان دمياشتې حساب داسې ياد وو چه دومره به ئې دنورو مياشتو دتاريخونو حساب يادنه وو كله چه به ئې درمضان دمياشتې سپوږمۍ وليدله نوروژې به ئې شروع كړې كه چرې په دې ورځ به وريځ وه نو بيابه ئې دشعبان دمياشتې ديرش ورځې پوره كړې اوبيابه ئې روژې نيول شروع كړل.

تشريح: ﴿يتحفظ من شعبان ما لا يتحفظ من غيره ﴾يعنى رسول الله ﷺ به د شعبان ايام او تاريخ ښه ياد ساتلو (د رمضان المبارك په اهتمام كښې)، دا مضمون حديث د ابوهريره رضي الله عنه په روايت كښې په نورو الفاظو كښې هم راغلې دې پس په ترمذى كښې دى ﴿عن ابى هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: احصوا هلال شعبان لرمضان ﴾او هم د دې وجه نه امام ترمذى رحمه الله ترجمه قائم كړې ده: ما جاء فى احصاء هلال شعبان لرمضان.

فائده: دا حديث امام ترمذى د امام مسلم صاحب الصحيح نه روايت كړې دې او زمونږ په علم كښې په ترمذى كښې د امام مسلم نه هم دا يو روايت نقل دې، د امام بخارى

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۸۳) (صحيح)

نه خو ډیر روایات هغوی اخستلي دي، خو امام ترمذی په دې روایت باندې کلام فرمائیلې دې او دې ته ئې غیر صحیح وئیلې دې فارجع الیه لوشئت.

[۲۳۲٦]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ الضَّبِّيُّ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُقَدِّمُوا الشَّهْرَ حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ أَوْ تُكْمِلُوا الْعِدَّةَ، ثُمَّ صُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ أَوْ تُكْمِلُوا الْعِدَّةَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ سُفْيَانُ وَغَيْرُهُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمْ يُسَمِّ حُذَيْفَةَ.

ترجمه: دحذیفه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی تاسو درمضان روژې نیول مه شروع کوئ ترڅو پورې چه سپوږمۍ مونه وي لیدلې (یعنی درمضان دشروع کیدونه مخکښې روژې نیول مه شروع کوئ) یا دشعبان دمیاشتې دیرش ورځې چه پوره نکړئ نو روژې نیول مه شروع کوئ ترڅو چه موسپوږمۍ نه وي لیدلې یادتیرې میاشتې دیرش ورځې نه وي پوره شوې.

توضیح الحدیث

قوله: عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُقَدِّمُوا الشَّهْرَ حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ أَوْ تُكْمِلُوا الْعِدَّةَ...الخ: د حدیث د اولې جملې تعلق د رمضان د روژې د ابتداء سره دې چه کله شروع کړې شي او د جمله ثانیه تعلق د روژو د انتهاء سره دې چه ترڅو پورې به نیولې شي، د دواړو مدار رسول الله ﷺ رؤیت هلال منلې دې، ﴿لا تقدموا﴾ دوه طریقو سره لوستلې شوې دې د باب تفعل نه او د باب تفعیل نه، په اول صورت کښې یو تاء محذوف منلې شي ای لا تتقدموا الشهر، د رمضان د میاشت نه مه مخکښې کیږئ او پیش قدمی مه کوئ (چه د میاشت د شروع کولو نه مخکښې روژې نیول شروع کړئ) او د تفعیل په صورت کښې به ئې ترجمه دا وی: د رمضان میاشت مه مقدم کوئ یعنی عملا د روژې نیولو په اعتبار سره.

په دې حدیث باندې زیات کلام په راروان باب کښې راځي. والحدیث اخرجه النسائی مسندا ومرسلا قاله المنذری.

باب مَنْ قَالَ فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَصُومُوا ثَلَاثِينَ

په رمضان کښې که چرې وریځ وی نو دیرش روژې پوره کړی

د اول باب تعلق د شهر رمضان سره وو او د دې د عید یعنی شهر شوال سره دې.

[۲۳۲۷]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُقَدِّمُوا الشَّهْرَ بِصِيَامِ يَوْمٍ وَلَا يَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ شَيْءٌ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ، وَلَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ، ثُمَّ صُومُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ حَالَ دُونَهُ غَمَامَةٌ فَأَتِمُّوا الْعِدَّةَ ثَلَاثِينَ ثُمَّ أَفْطِرُوا، وَالشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ حَاتِمُ بْنُ أَبِي صَغِيرَةَ وَشُعْبَةُ وَالْحَسَنُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ سِمَاكٍ، بِمَعْنَاهُ، لَمْ يَقُولُوا: "ثُمَّ أَفْطِرُوا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ حَاتِمُ بْنُ مُسْلِمٍ ابْنُ أَبِي صَغِيرَةَ، وَأَبُو صَغِيرَةَ زَوْجُ أُمِّهِ.

---

[1]: سنن النسائي/الصيام ٥ (۲۱۲۸، ۲۱۲۹)، (تحفة الأشراف: ۳۳۱٦)، وقد أخرجه: حم(۳۱٤/٤) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الصوم ٥ (٦۸۸)، سنن النسائي/الصيام ۷ (۲۱۳۱)، (تحفة الأشراف: ٦۱۰٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ۱(۳)، مسند احمد (۲۲۱/۱، ۲۲٦، ۲٥۸)، سنن الدارمي/الصوم ۱ (۱۷۲٥) (صحيح)

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی د يوې يادوه روژوپه نيولوسره درمضان استقبال مه کوئ مگر کله چه په تاسوکښې يوکس ددې ورځو روژې نيسي، اوتاسو روژې مه نيسئ ترڅوچه موميا‌شت نه وي ليدلي اوبيا روژې جاري وساتئ ترڅوچه مودشوال مياشت نه وي ليدلي که چرې په دغه ورځ ورېځ راشي نوتاسو ديرش روژې پوره کړئ او بيافطار اوکړئ او مياشت کله کله دنښه ويشتو ورځوهم وي. امام ابوداود فرمائيلي دي حاتم بن ابي صغيره اوشعبه اوحسن بن الصباح هم دسماك نه دا روايت د ړومبی حديث پشان بيان کړې دې اوددوی په روايت کښې ‹د ثلاثين نه روستو› د ثُمَّ أَفْطِرُوا لفظ نشته. امام ابوداؤد وائی داحاتم بن مسلم ابن أبی صغيره دې، او ابو صغيره دهغه دمور خاوند دې.

توضيح الحديث

د دې حديث مضمون هم د تير شوی حديث په شان دې چه د رمضان د مياشت شروع کولو نه مخکښې روژه نيول مه شروع کوئ، يو يا دوه روژې، مگر دا چه روژه داسې وی چه هغه په دې باندې د مخکښې نه عادت وی، مثلا يو سړې د ګل د ورځې د روژې نيولو عادت وی، او په دغه ورځ باندې تاريخ د شعبان ديرشم دې نو په دې حديث کښې ورته د دې نفل معتاد اجازت دې.

د تقديم صوم د منع حکمتونه :

د دې نه پس تاسو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه په احاديثو کښې د دې تقديم صوم چه کومه نهی راغلې ده د هغې حکمت څه دې، د دې شارحينو مختلف وجوه ليکلې دی، امام ترمذی رحمه الله د دې حديث نه روستو فرمائی ﴿والعمل على هذا عند اهل العلم، كرهوا ان يتعجل الرجل بصيام قبل دخول شهر رمضان لمعنى رمضان، وان كان رجل يصوم صوما فوافق صيامه ذلك فلا باس به عندهم﴾ يعنی په حديث کښې رمضان داخليدو نه مخکښې د روژې چه کوم ممانعت دې هغه احتياطا د رمضان په نيت باندې دې ‹ځکه چه کيدې شی چه د رمضان مياشت شروع شوې وی او مياشت ورته په نظر نه وی راغلې› او که يو سړې د مخکښې نه په دې ورځ باندې د روژې نيولو سره عادت وی نو بيا هيڅ باک نشته. اهـ او علامه سيوطی رحمه الله فرمائی : او صرف يو يا دوه ورځې قيد په روژه نيولو کښې په دې وجه دې چه شک د يو يا دوه ورځو په باره کښې کيدې شی چه هر کله مسلسل دوه يا درې مياشتو پورې د مياشت په اخر کښې د ورېځ سلسله وی، هغه فرمائی : او حکمت په دې منع کښې دا دې چه نفل روژه د فرض روژې سره نه مخلوط کيږی چه د زيادت فی الفرض شبهه نه وی، لکه چه نصاری به کول. اهـ حافظ هم په فتح الباری کښې د دې ډير حکمتونه ليکلې دی چه د هغې نه ئې بعض رد کړې هم دی. ۱ : يو حکمت ئې د دې افطار دا بيان کړې دې چه په رمضان کښې قوت او نشاط سره داخل شی ‹که يو يا دوه ورځې مخکښې روژه اونيسی نو د رمضان په مياشت کښې به بيدار نه وی› حافظ فرمائی ﴿وفيه نظر﴾ ځکه چه د حديث تقاضه خو هم دا ده چه که يو سړې د دوه په ځائې درې يا څلور روژې اونيسی نو هغه جائز

دي ۲: د نفل او فرض د اختلاط نه د بچ کیدو دپاره، حافظ په دې باندې هم اعتراض کړې دې نفل معتاد لره اخستلو سره بیا د دې اجازت هم نه دی کیدل پکار. ۳: په دې تقدیم صوم کنبې د شارع د حکم خلاف ورزی ده، ګویا په دې باندې طعن دې، ځکه چه په حدیث کنبې د روژې حکم معلق کړې شوې دې په رؤیت باندې، مختصر دا چه په دې کنبې تجاوز عن الحد الشرعي دې، وهذا هو المعتمد. هغه فرمائی چه د نفل معتاد چه کومه استثناء کړې شوې ده هغه د دې رعایت په وجه باندې چه په انسان باندې ترک مالوف ډیر ګران وی، او په دې کنبې د استقبال رمضان هیڅ معنی نشته. اهـ

والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی بنحوه، وقال الترمذی: حسن صحیح واخرج مسلم فی صحیحه، والنسائی وابن ماجة فی سننهما من حدیث سعید بن المسیب عن ابی هریرة قال... قاله المنذری.

بَابٌ فِي التَّقَدُّمِ

د رمضان د میاشتې د مخکښې کولو بیان

یعنی تقدم علی رمضان بصوم. لهذا دا باب د باب سابق خلاف شو، لکه چه وړاندې تلو سره به معلومه شی چه په دې کنبې روایات مختلف دی

[۲۳۲۸] (1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَسَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِرَجُلٍ: "هَلْ صُمْتَ مِنْ شَهْرِ شَعْبَانَ شَيْئًا؟" قَالَ: لَا، قَالَ: "فَإِذَا أَفْطَرْتَ فَصُمْ يَوْمًا" وَقَالَ أَحَدُهُمَا: "يَوْمَيْنِ".

ترجمه: د عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول پاک ﷺ ته اوفرمائیل ایا د شعبان د میاشتې آخری روژې دې اونیولې؟ هغه ووئیل نه، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل کله چه د رمضان میاشت تیره شې نو یوه روژه اونیسه، او په یوبل روایت کنبې د دوه روژو ذکر دې.

شرح السند:

اول د دې حدیث په سند باندې ځان پوهه کړئ، مصنف دا حدیث په دوه طریق سره روایت کړې دې.

۱: حماد عن ثابت عن مطرف عن عمر بن حصین، حماد عن سعید الجریری عن ابی العلاء عن مطرف عن عمران بن حصین، یعنی "وسعید الجریری" عطف په ثابت باندې کیږی لهذا د حماد یو سند ﴿عن ثابت﴾ شو الی اخره.

۲: او دویم عن سعید الجریری الی اخره، "احدهما" نه مراد، لکه چه حضرت په بذل کنبې لیکلی دی، "ثابت" دې، ګویا د سعید جریری په روایت کنبې "فصم یوما" دې، او د ثابت په روایت کنبې "صم یومین" دې.

(1): صحیح البخاري/الصوم ٦٢(١٩٨٣تعليقًا)، صحيح مسلم/الصوم ٣٧ (١١٦١)، (عندالجميع: «من سرر شعبان»)، تحفة الأشراف: ١٠٨٤٤، ١٠٨٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٣٢، ٤٣٤، ٤٤٢، ٤٤٣، ٤٤٦)، سنن الدارمي/الصوم ٣٥ (١١٨٣) (صحيح)

شرح حدیث:

په حدیث کښې لفظ "سرر" راغلې دې چه د هغې په شرح کښې درې اقوال دی، اول، اخر او اوسط، یعنی رسول الله ﷺ د یو سړی نه تپوس اوکړو چه تا د شعبان په شروع کښې څه روژه نیولې وه؟ یا په اوسط کښې یا په اخر کښې؟ هغه عرض اوکړو نه! وې فرمائیل: چه کله د افطار زمانه راشی یعنی رمضان تیر شی نو یوه روژه اونیسه، او په بل روایت کښې دی "دوه روژې اونیسه".

د سرر معانی ثلاثه کښې چه کومه معنی د ترجمة الباب سره مناسب وی هم هغه به اخستلې شی، او د ترجمة الباب مناسب دلته سرر شعبان یعنی اخر شعبان مراد دې د دې دپاره چه تقدم علی رمضان کوم چه مصنف بیانوی هغه ثابت شی، په دې صورت کښې به د حدیث مطلب دا وی چه شخص مذکور د رسول الله ﷺ نه هغه حدیث واوریدو چه په هغې کښې د تقدم علی رمضان نه منع کړې شوې ده، هغه صحابی هغه حدیث لره مطلق ګڼړلو سره په اخر شعبان کښې هغه روژه هم او نه نیوله کوم چه د عادت موافق وو، حال دا چه په بعض روایاتو کښې د نفل معتاد استثناء کولو سره د دې اجازت کړې شوې دې، په دې وجه ئې هغه صحابی ته دا هدایت اوفرمائیلو چه ته د دې روژې په کمی پوره کولو کښې په راروانه میاشت کښې روژه اونیسه. حافظ د جمهورو نه دا نقل کړی دی چه دسرر نه مراد دلته اخر شهر دې دې ته سرر په دې وجه وئیلې شی چه په دې کښې سپوږمۍ پټه اوسیږی، او بعض علماء کرامو سرر د دې حدیث په وسط معنی کښې اخستلې دې، او د هغې د ترجیح په وجه کښې ئې لیکلې دی چه سرر جمع د سرة ده، ﴿وسرة الشئ، وسطه﴾ او د دې تائید د دې نه هم کیږی چه د صیام بیض روایات کښې استحباب راغلې دې او وسط الشهر دې. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی قاله المنذری.

[۲۳۲۹](1) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْعَلَاءِ الزُّبَيْدِيُّ مِنْ كِتَابِهِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِي الْأَزْهَرِ الْمُغِيرَةِ بْنِ فَرْوَةَ، قَالَ: قَامَ مُعَاوِيَةُ فِي النَّاسِ بِدَيْرِ مِسْحَلٍ الَّذِي عَلَى بَابِ حِمْصَ، فَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّا قَدْ رَأَيْنَا الْهِلَالَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا، وَأَنَا مُتَقَدِّمٌ بِالصِّيَامِ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَفْعَلَهُ فَلْيَفْعَلْهُ، قَالَ: فَقَامَ إِلَيْهِ مَالِكُ بْنُ هُبَيْرَةَ السَّبَئِيُّ، فَقَالَ: يَا مُعَاوِيَةُ، أَشَيْءٌ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ أَمْ شَيْءٌ مِنْ رَأْيِكَ؟ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "صُومُوا الشَّهْرَ وَسِرَّهُ".

ترجمه: دابوالازهر مغیره بن فروة نه روایت دې فرمائی چه معاویه نه په دیرمسحل مقام کښې کوم چه باب حمص کښې واقع دې ودریدو اووئې فرمائیل اې خلقو مونږ په فلانئ ورځ سپوږمۍ لیدلې ده اوزه دشروع نه روژې نسم څوک چه روژې نیول غواړې هغوی دې هم روژې ونیسي، مالك بن هبیره اووئیل اې معاویه ایادا خبره دې دنبی علیه السلام نه اوریدلې ده اوکه دخپل طرف نه ئې کوې؟ هغه اووئیل مادنبی علیه السلام نه اوریدلې دې چه فرمائیل ئې درمضان په شروع کښې آودشعبان په آخرکښې روژې نیسئ.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱٤٤۱) (ضعیف)

شرح حدیث :

سیدنا معاویه رضی الله عنه په مقام دیر مسحل کښې کوم چه په باب حمص کښې واقع دې (حمص د ملک شام یو ښهر دې) هلته ئې خطبه ورکړه او په هغې کښې ئې دا اوفرمائیل چه مونږ خلقو د شعبان میاشت په فلانئ ورځ باندې لیدلې وه (په ظاهره کښې مطلب دا دې چه په دې لحاظ سره نن نهیشتم تاریخ دې یا د نهیشتم نه هم کم) زه د رمضان راتلو نه مخکښې روژه نیول غواړم په تاسو کښې چه د چا زړه غواړی هغه دې هم روژه اونیسی. وړاندې په روایت کښې دی چه د یو سړی په تپوس کولو باندې هغه د رسول الله ﷺ دا حدیث بیان اوفرمائیلو چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل هغه اوفرمائیل : ﴿صوموا الشهر وسره﴾ د شهر نه مراد په ظاهره کښې د شعبان میاشت ده، او د سر نه مراد اخر، یعنی د شعبان په میاشت کښې روژې نیسئ. (لکه چه خپله د رسول الله ﷺ نه په دې میاشت کښې روژې نیول ثابت دی) ﴿وسره﴾ او خاص کر د دې په اخر کښې، دا معنی چه واخستلې شی نو بیا دا حدیث د ترجمة الباب موافق دې یعنی تقدم علی رمضان، او دا هم احتمال دې چه په حدیث کښې د شهر نه مراد رمضان وی او د ﴿سر﴾ معنی اول واخستلې شی، نو مطلب به دا وی چه د رمضان روژې نیسئ او د هغې نه مخکښې هم، او ظاهره ده چه د رمضان نه مخکښې چه کوم شئ دې هغه د شعبان په اخر کښې هم دې.

[۲۳۳۰][1] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيُّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: قَالَ الْوَلِيدُ: سَمِعْتُ أَبَا عَمْرٍو يَعْنِي الْأَوْزَاعِيَّ، يَقُولُ: سِرُّهُ أَوَّلُهُ.

ترجمه: سلیمان بن عبد الرحمن دمشقي دولیدنه روایت کوی چه ما داوزاعي نه اوریدلي دي چه سِرّه، په معنی د .. أَوَّلُهُ ، سره دي.

[۲۳۳۱][2] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ، قَالَ: كَانَ سَعِيدٌ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، يَقُولُ: سِرُّهُ أَوَّلُهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ بَعْضُهُمْ: سِرُّهُ وَسَطُهُ. وَقَالُوا: آخِرُهُ.

ترجمه: سعید بن عبد العزیز وئیلي دي چه سِرُهُ ،، نه مراد أَوَّلُهُ، دي، امام ابوداود وائی بعضي علماو وئیلي دي چه سره په معنی د وسطه سره دې اوچاوئیلي دي چه په معنی د آخره سره دي.

په روایات مختلفه کښې تطبیق :

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د تقدم علی رمضان په باره کښې مختلف روایات راغلي دی لکه چه تاسو اوس اولیدل چه د دې نه منع هم راغلې ده او په بعض روایاتو کښې د دې ترغیب هم لکه چه په حدیث الباب کښې دی، هم په دې وجه باندې حضرات محدثین د دې مختلف توجیهات بیان فرمائیلي دی، الاول بان یحمل النهی علی التقدم بیوم او یومین والجواز فیما سواهما... یعنی د منع رمضان نه مخکښې صرف یو دوه روژې نیولو سره دې او که د

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۹۶۶) (شاذ مقطوع)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۹۶۶، ۱۸۶۹۳) (شاذ)

دي نه زياتي اونيسي، درې، څلور، پنځه د هغې اجازت دې، چه د هغې وجه دا کيدې شي چه ممانعت په اصل کښې د هغه روژو دې کوم چه په طور د احتياط اونيولې شي، يعنی د رمضان په روژو کښې احتياط، او احتياط کوم چه عامة کيدې شي په يو دوه روژو سره کيږي، لهذا که څوک زياتي روژې اونيسي نو د دې به اجازت وی د علت منع د مقصود کيدو د وجې نه، دويمه توجيه دا کړې شوې ده چه د نفی تعلق د نفل مطلق سره دې او د جواز تعلق د نفل معتاد سره دې، دريمه توجيه دا ده چه نفی په حيثيت د فرض ده، يعنی بنيت رمضان دې روژه او نه نيولې شي، او د اثبات تعلق د نفل په نيت سره دې.

باب إذا رُؤِيَ الهِلَالُ فِي بَلَدٍ قَبْلَ الآخَرِينَ بِلَيْلَةٍ

که په يو ښار کښې د بل ښار نه يوه شپه مخکښې سپوږمۍ وليدلې شي

مسئله اختلاف مطالع بحث او ائمه مذاهب :

يعنی مياشت په يو ښهر کښې په نظر راشي او په بل کښې رانشي، دا هم هغه مسئله ده کومه چه مشهوره ده، مسئله اختلاف المطالع سره، د مصنف ترجمه خو مطلق ده د دې حکم طرف ته پکښې هيڅ اشاره نشته نه نفيًا او نه اثباتًا، په خلاف د امام ترمذی رحمه الله چه هغه ترجمه قائم کړې ده "باب ما جاء ان لكل اهل بلد رؤيتهم" هغه په دې ترجمه کښې د مسئلې د حکم تصريح فرمائيلې ده چه د هر يو ښهر والا رؤيت هم د هغه ښهر والو په حق کښې معتبر دې، يعنی د دويم ښهر والو په حق کښې معتبر نه دې، يعنی اختلاف مطالع معتبر دې لهذا په کوم ښهر کښې چه مياشت اوليدې شوه هغه هم د هغوی دپاره ده او چرته چه او نه ليدې شوه نو دا نه ليدل د هغوی دپاره دی، يعنی د مطالع مختلف کيدل معتبر او صحيح دی، امام ترمذی چه کومه ترجمه قائم کړې ده هغه د شوافعو د مسلک موافق ده، د شوافعو راجح قول د جمهورو خلاف هم دا دې، هم دا قسم ترجمه امام نووی په شرح مسلم کښې قائم کړې ده هغه هم د مسلک شافعيه ترجمانی ده، پس امام نووی په شرح مسلم کښې ليکی : ففيه حديث كريب عن ابن عباس وهو ظاهر الدلالة للترجمة (او په ترجمة الباب کښې هم دا دی چه د يو ښهر رؤيت په بل ښهر کښې معتبر نه دې) والصحيح عند اصحابنا ان الروية لا تعم الناس بل تختص بمن قرب على مسافة لا تقصر فيها الصلاة، وقيل ان اتفق المطلع لزمهم، وقيل ان اتفق الاقليم والا فلا، وقال بعض اصحابنا تعم ا لروية في موضع جميع اهل الارض الى اخره... د امام نووی د کلام نه معلوميږی چه دا مشهوره ده چه د شوافعو په نزد اختلاف مطالع معتبر دې او دا چه د يو ښهر رويت د بل ښهر والو په حق کښې معتبر نه دې. لکه چه امام ترمذی رحمه الله په ترجمة الباب کښې فرمائيلې دی، دا د هغوی په نزد مطلقا نه دې بلکه د اختلاف مطالع معتبر کيدل د هغوی په نزد صرف په بلدان نائيه (د اطرافو کلی) کښې دی په بلاد قريبه کښې د هغوی په نزد هم اختلاف معتبر نه دې، بلکه د يو ځائې رويت به بل ځائې کښې معتبر وی او د قرب او بُعد (لرې والې) معيار د هغوی په نزد د اصح قول مطابق مسافة قصر دې چه که دواړو ښهرونو ترمينځه مسافة قصر موندلې شی يعنی د سفر شرعی تحقق وی نو بيا خو اختلاف معتبر دې او که دومره فاصله نه وی نو بيا اختلاف هم معتبر

نه دي بلکه د یو ښهر رویت به د بل ښهر په حق کښې معتبر نه وي، د دې نه علاوه امام نووي د شوافعو دوه اقوال نور لیکلي دي.

١. چه د کومو دوه ښهرونو مطلع متفق وي هلته اختلاف رؤیت معتبر نه دې او د کوم ځائې چه مطلع مختلف وي هلته اختلاف رؤیت معتبر دې. (١)

٢. د اتحاد اقلیم په صورت کښې د یو ځائې رؤیت به بل ځائې کښې معتبر وي ګینې نه، او دریم قول د بعض شوافعو دې چه د یو ځائې رؤیت هر ځائې کښې معتبر دې، د دې نه روستو تاسو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه په متون حنفیه کښې تصریح ده ﴿لا عبرة لاختلاف المطالع﴾ چه د هغې تقاضه دا ده چه د یو ښهر رویت په نورو ټولو ښهرونو کښې معتبر وي، حضرت شیخ په اوجزالمسالك کښې د نورو امامانو مسلکونه د شروح حدیث نه د نقل کولو نه پس بیا خپله د هغوی د کتب فقهیه نه نقل کړې دي، او په دې کښې شک نشته چه د ائمه اربعه د مذاهبو تحقیق خپله د هغوی د کتب فروع نه چه څومره کیدې شي هغه د شارحینو د کلام نه نه شي کیدې، بهرحال حضرت شیخ چه د نورو مذاهبو د کتابونو کوم عبارتونه رانقل کړې دي، د هغې نه روستو حضرت لیکي : فعلم مما سبق ان اختلاف المطالع لم يعتبره من الائمة الا الامام الشافعي، الا ما تقدم من ابن عبدالبر... معلومه شوه چه د شوافعو نه علاوه باقي ائمه ثلاث، چه په هغوی کښې احناف هم دي د هغوی ټولو مسلک هم دا دې چه اختلاف مطالع معتبر نه دې، خو دا هم په ذهن کښې ساتئ چه پورته د امام نووي رحمه الله په کلام کښې تیر شو چه اصح د شوافعو په نزد دا ده چه اختلاف مطالع معتبر نه دې، خو دا هم په ذهن کښې ساتئ چه اوس پورته د امام نووي رحمه الله په کلام کښې تیر شو چه اصح د شوافعو په نزد دا ده چه د اختلاف مطالع معتبر کیدل د شوافعو په نزد د بلدان نائیه نه دې، او په مواضع قریبه کښې د هغوی په نزد دلته هم اختلاف مطالع معتبر نه دې، او د قرب او بعد مصداق هم د هغوی د کلام نه اوس تیر شو یعني مسافة قصر.

د فخر الدین زیلعي رائې :

د دې نه ځان پوهه کړه چه اګر چه په کتب حنفیه کښې مشهور هم دا ده چه اختلاف مطالع معتبر نه دې او د یو ښهر رویت په نورو ټولو ښهرونو کښې معتبر دې، خو په دې باندې یو استدراک دې فخر الدین زیلعي شارح الکنز د طرف نه کوم چه مولانا انور شاه کشمیري رحمه الله او نور اهل درس په اهتمام سره نقل کړې دې هغه دا چه د مطالع اتحاد د احنافو په نزد په بلاد قریبه کښې دې، په بلدان نائیه کښې اتحاد نشته، هلته به اختلاف له اعتبار وي، ځکه چه په کومو بلادو کښې بون بعید (ډیر لرې والې) دې، د مشرق او

---

(١) او د مطالع مختلف او متحد کیدل دا د علم هیئت سره تعلق ساتي علم هیئت والو ټوله کره ارضیه په اوږدوالي او پلن والي کښې تقسیم کړې ده کوم خطوط چه د شمال او جنوب دي هغوی ته عرض بلد او د مشرق او مغرب خطوط ته طول بلد وئیلې شي کوم ښهر چه په عرض بلد باندې وي د هغوی مطالع متحد وي، او کوم چه په طول بلد باندې وي نو د هغوی مطالع مخصوص فاصلې نه پس مختلف کیږي. حبیب الله)

مغرب فرق دي، چرته چه په رؤيت هلال کښي د يو يا دوه ورځو فاصله وي د داسي بلاد د اختلاف منلو نه خلاصي نشته. په العرف الشذي کښي ليکي. د علامه زيلعي رحمه الله قول تسليم کول ضروری دی والا فيلزم وقوع العيد يوم السابع والعشرين او الثامن والعشرين او اليوم الحادی والثلاثين او الثاني والثلاثين الى اخر ما قال، يعني که د زيلعي قول لره تسليم نه کړې شي نو لازمه به شي چه کله اختر د اويشتو يا اتويشتو وی او بعض صورتونو کښي د يو ديرش دوه ديرشو، ځکه چه اکثر او بيشتر په بلاد قسطنطنيه کښي د هندوستان نه دوه ورځي مخکښي په نظر راځی، پس که د هغه ځائي نه مونږ ته په رمضان کښي خبر راشي د رويت هلال د څه معتبر ذريعي نه نو زمونږ اختر به دوه ورځي مقدم کيدو سره د اتويشتو ورځو شی. يا به د اختر تاخير لازم شی په داسي طريقه چه د هغه ځائي نه يو سړې رمضان کښي مونږ ته راشي نو هغه که اختر مونږ سره کوی نو په هغي کښي به د دوه ورځو تاخير د دوه ديرشو اختر وی په دې باندې يو سړې اوائی چه دومره کمي او زياتي څومره لازميږی بلکه په پورته ذکر شوې صورت کښي به دا کوی چه په دې بنياد باندې به مونږ خپل تاريخ بدل کړو او په يو صورت کښي د يو يا دوه ورځو قضاء، او په دويم صورت کښي به دا وايو چه د شروع روژه غلطه شوه هغه رمضان نه وو، د دې جواب حضرت مفتی محمد شفيع صاحب دا ورکړې دې چه کله د دې ځائي خلقو عام رويت يا ضابطه شهادت مطابق مياشت شروع کړه نو د لرې د شهادت په بناء باندې خپله مقامی شهادت يا رويت غلط يا دروغ وئيل عقلا معقول نه دی نه شرعا جائز، په دې وجه دا توجيه غلطه ده. (از هامش درس ترمذی ۵۳۴/۲)

[۲۳۳۲](۱)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حَرْمَلَةَ، أَخْبَرَنِي كُرَيْبٌ، "أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ ابْنَةَ الْحَارِثِ، بَعَثَتْهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بِالشَّامِ، قَالَ: فَقَدِمْتُ الشَّامَ فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا، فَاسْتَهَلَّ رَمَضَانُ وَأَنَا بِالشَّامِ، فَرَأَيْنَا الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ، فَسَأَلَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ، ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ، فَقَالَ: مَتَى رَأَيْتُمُ الْهِلَالَ؟ قُلْتُ: رَأَيْتُهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، قَالَ: أَنْتَ رَأَيْتَهُ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، وَصَامُوا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ وَرَآهُ النَّاسُ، قَالَ: لَكِنَّا رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ، فَلَا نَزَالُ نَصُومُهُ حَتَّى نُكْمِلَ الثَّلَاثِينَ أَوْ نَرَاهُ، فَقُلْتُ: أَفَلَا تَكْتَفِي بِرُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ؟ قَالَ: لَا، هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د کريب نه روايت دې فرمائي چه ام الفضل بنت حارث زه شام ته وليږلم چه هلته معاويه ته ورشه کريب وائی زه شام ته لاړم اودام الفضل چه کوم کار وو هغه مي اوکړو بيا درمضان مياشت وليدلې شوه اوزه په شام کښي وم مونږ مياشت دجمعي په شپه وليدله بيا چه کله دمياشتي په آخر کښي مديني ته راغلم نوابن عباس رضي الله عنه رانه تپوس اوکړو دمياشتي دليدو په باره کښي اووئي وئيل چه مياشت موکله ليدلې وه؟ ما ورته اووئيل مونږ دجمعي په شپه مياشت ليدلې وه ابن عباس اوفرمائيل اياتا پخپلو سترګو ليدلي وه ما ورته اووئيل هو، ماهم مياشت ليدلې ده اونورو خلقو هم ليدلې وو او ټولو خلقو روژې

(۱): صحيح مسلم/الصيام ۵ (۱۰۸۷)، سنن الترمذي/الصيام ۹ (۶۹۳)، سنن النسائي/الصيام ۵ (۲۱۱۳)، (تحفة الأشراف: ۶۳۵۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۰۶۱/۱) (صحيح)

ونیولي اومعاویه هم روژه اونیوله ابن عباس اووئیل مونږه خو سپوږمۍ دخالي په شپه باندې لیدلي وه مونږ خو ددې ورځې نه روژې نیولي دي او په دې طریقه به مونږ روژې پوره کوو یاخوبه دیرش روژې پوره شي یا به دشوال میاشت اولیدلي شي «نواختربه شي ماواوئیل آیا زمونږ دپاره دمعاویه میاشت لیدل اودهغه روژه کیدل کافي نه دي؟ هغه اووئیل نه مونږ ته نبی ﷺ په روئیت باندې دعمل کولو په حقله په همدې طریقه باندې حکم فرمائیلي دې.

مضمون حدیث:

قوله: قُلْتُ: نَعَمْ(١)، وَصَامُوا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ وَرَآهُ النَّاسُ:

مضمون حدیث دا دې چه د ابن عباس رضي الله عنه خادم کریب فرمائی چه د ابن عباس رضي الله عنه مور سیده ام الفضل رضي الله عنها زه د څه ضرورت په وجه باندې ملک شام ته د معاویه رضي الله عنه خواته اولیږلو، زه لاړم او د هغې کار مي اوکړو، بیا د رمضان میاشت زما په هلته تلو باندې راوختله بیا چه د شام نه مدینې منورې ته راواپس شوم نو ابن عباس رضي الله عنه زما نه تپوس اوکړو چه تا د رمضان میاشت کله لیدلې وه؟ ما اووې د جمعې په شپه، تپوس ئي اوکړو ایا تا خپله لیدلې وه؟ عرض مي اوکړو او! او نورو خلقو هم لیدلې وه، او بیا ټولو هم د هغې مطابق روژه اونیوله، حضرت ابن عباس رضي الله عنه دهغه په خبره اوریدلو باندې اوفرمائیل، خو مونږ یعنی اهل مدینه میاشت د خالی په شپه لیدلې وه او بیا ئي اوفرمائیل چه مونږ خو د خپل رویت په اعتبار سره روژه نیسو تردې چه مونږ دیرش روژې پوره کړو یا د هغې نه مخکښې میاشت وینو، کریب فرمائی ما عرض اوکړو چه ایا د اهل شام رویت باندې به تاسو اکتفاء نه کوئ؟ هغه اوفرمائیل: نه! مونږ ته رسول الله ﷺ هم دغه شان حکم کړې دې.

د دې حدیث د ظاهر نه د اختلاف مطالع معتبر کیدل مستفاد کیږی، دا هم نه شی وئیلې کیدې چه دا د ابن عباس رضي الله عنه فعل دې ځکه چه هغه خو د رسول الله ﷺ حواله ورکوی، شوافع کوم چه اختلاف مطالع لره اعتبار ورکوی هغوی ته د دې واقعې د توجیه هیڅ حاجت نشته، د هغوی د مسلک موافق دې، خو د جمهور علماء او ائمه ثلاث د مسلک مطابق د جواب حاجت دې، د دې جواب د خلاصې په طور بعض شروح او حواشی کتلو سره چه کوم د بنده په ذهن کښې راغلې دې هغه دا چه د ابن عباس رضي الله عنه په کلام کښې چه دا خبره راغلې ده چه: مونږ د اهل شام د رویت اعتبار نه ورکوو په دې کښې دوه احتمالات دی، یو دا چه د هغه مراد دا دې چه په دې صورت خاصه کښې د اهل شام د رویت اعتبار نه کوو هغه دا چه اګر چه د ابتداء په لحاظ سره د دې واقعې تعلق د هلال رمضان سره دې خو اوس فی الحال هر کله چه د رمضان اخر دې نو دا مسئله جوړه شوه د هلال عید، او د هلال رمضان په ثبوت کښې اګر چه د عدل واحد شهادت کافی دې خو د هلال عید د ثبوت دپاره شهادت عدلین بالاتفاق ضروری دې، د عدل واحد شهادت هلته معتبر نه دې.

---

(١) هکذا لفظ مسلم والنسائي والدار قطني، اما الترمذي ففيه فقلت رآه الناس، والظاهر ان فيه سقوطا، سقط عنه لفظ «نعم» من البذل.

دویم احتمال د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په جواب کښې دا دې چه د هغه مراد د نفی په اعتبار سره مطلقا او علی العموم دې (صرف په دې صورت خاصه کښې نه دې) نو بیا به مونږ دا وایو چه دا د ابن عباس رضی الله عنه خپله رائې ده هغه اګر چه دا منسوب کوی د رسول الله ﷺ د حدیث طرف ته، خو داسې هیڅ قسم صریح حدیث د احادیثو په موجوده ذخیره کښې نشته، پس غالب ګمان دا دې چه د هغه اشاره دې مشهور حدیث مرفوع طرف ته ده ﴿صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته﴾ او په دې حدیث کښې د اختلاف مطالع په معتبر کیدو باندې استدلال نه شی کیدې، ځکه چه جمهور علماء کرام دا فرمائی چه کله د یو ښهر خلقو میاشت اولیده نو جماعت المسلمین ګویا میاشت اولیده او رسول الله ﷺ مسلمانانو ته خطاب کولو سره هم دا فرمائی چه تاسو خلق میاشت لیدو سره روژه اونیسئ او هم دغه شان افطار اوکړئ، نو کله چه د مسلمانانو یو جماعت میاشت اولیده نو په ټولو خلقو باندې د صیام حکم عائد شو، ځکه چه د هر سړی رویت او د هغه میاشت لیدل دا خو بالاجماع ضروری نه دی. والله تعالی اعلم بالصواب. والحديث اخرجه مسلم والترمذي والنسائي، قاله المنذري، وزاد الشيخ احمد شاكر، مسند احمد ۲۷۹۰، وزاد في البذل الدارقطني.

[۲۳۳۳](1) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا الْأَشْعَثُ، عَنْ الْحَسَنِ، فِي رَجُلٍ كَانَ بِمِصْرٍ مِنَ الْأَمْصَارِ فَصَامَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ، وَشَهِدَ رَجُلَانِ أَنَّهُمَا رَأَيَا الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْأَحَدِ، فَقَالَ: "لَا يَقْضِي ذَلِكَ الْيَوْمَ الرَّجُلُ وَلَا أَهْلُ مِصْرِهِ، إِلَّا أَنْ يَعْلَمُوا أَنَّ أَهْلَ مِصْرٍ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ قَدْ صَامُوا يَوْمَ الْأَحَدِ، فَيَقْضُونَهُ".

ترجمه: دحسن نه روایت دې فرمائی چه په مصر کښې یو انصاري ددوشنبې په ورځ روژه ونیوله او نورو دوه کسانو داګواهي اوکړه چه مونږ دیکشنبې په شپه میاشت اولیدله نو وئې فرمائیل چه دغه کس به ددغه ورځې قضانه راوړي اونه به دده وطنداران ددغه ورځې قضاء راوړي مګرهله چه ورته معلومه شي چه دمسلمانانو په ښارونوکښې دیوښار والا دیکشنبې په ورځ روژه نیولې ده نوبیا به دوی ددغه ورځې قضاء راوړي

بَابُ كَرَاهِيَةِ صَوْمِ يَوْمِ الشَّكِّ

بیان د مکروه والی د شکی ورځې دروژې نیولو

یوم الشک یعنی دیرشم د شعبان ځکه چه په دې کښې احتمال وی د دې خبرې چه ممکنه ده د شپې میاشت راختلې وی او په نظر نه وی راغلې، کذا عند الجمهور. او د امام احمد په نزد په دې کښې یو قید دې چه دیرشم د شعبان یوم الشک هله دې چه کله د شپې مطلع صفا وی، د هغه مسلک په دې کښې د دې نه مخکښې "باب الشهر یکون تسعا وعشرین" کښې تیر شوې دې. فلیراجع

[۲۳۳۴](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ صِلَةَ، قَالَ: "كُنَّا عِنْدَ عَمَّارٍ فِي الْيَوْمِ الَّذِي يُشَكُّ فِيهِ فَأَتَى بِشَاةٍ فَتَنَحَّى بَعْضُ الْقَوْمِ"، فَقَالَ عَمَّارٌ: "مَنْ صَامَ

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۴۹۲) (صحيح)
(2): صحيح البخاري/الصوم ۱۱ (۱۹۰۶ تعليقا)، سنن الترمذي/الصوم ۳ (۶۸۶)، سنن النسائي/الصيام ۲۰ (۲۱۹۰)، سنن ابن ماجه/الصيام ۳ (۱۶۴۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۵۴)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصوم ۱ (۱۷۲۴) (صحيح)

هَذَا الْيَوْمَ فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: د صله نه روايت دې فرمائي چه مونږ د شك په ورځ باندې (يعني چه دا د شعبان آخر دې اوكه درمضان شروع ده) دعماره سره وو، عمار شته دچيلې غوښه راوړل شوه بعضوخلقو دغوښې خوړلونه ډډه اوكړله عمار اووئيل چاچه نن روژه اونيوله هغه دنبي ﷺ نافرماني اوكړله.

مسئلة الباب كښې مذاهب ائمه:

مسئلة الباب مختلف فيه ده، د امام شافعي رحمه الله په نزد كراهت صرف د دوه روژو دې نفل مطلق او په نيت د رمضان د دې نه علاوه باقي روژې په دې ورځ كښې جائز دی لكه نفل معتاد، قضاء او واجبات اخر، صوم كفاره ونذر وغيره، هم دا يو روايت د امام احمد نه دې، هسې د هغوی روايات ثلاثه په مخكښې باب كښې تير شو، او د امام مالك رحمه الله په نزد سوا د رمضان نه باقي روژې جائز دی او د احنافو په نزد نفل مطلق او نفل معتاد دا دوه قسمونه جائز دی، ولا يجوز غيرهما من الاقسام، په كوكب كښې ليكلي دی چه د دې صوم كراهت په هغه صورت كښې دې چه كله په داسې نيت سره وی كوم چه دائر بين الفرض والنفل وی، يعني كه په دې نيت سره اونيسی چه كه مياشت اوليدې شوه نو رمضان به راشي ګينې نفل، او كه په نيت جازمه سره وی يعني جزم بالنفل سره نو بغير د تردد نه خو كراهت نشته، او بيا په دې صورت كښې كه د مياشت ثبوت راشي نو دا روژه به د رمضان شي او د شوافعو په نزد به نه وی، او كه تردد وی بين الصوم والافطار، يعني كه مياشت اوليدې شوه نو زما روژه ده ګينې نه ده نو په دې صورت به دا عمل لغو وی او هيڅ قسم روژه به نه وی، او په نور الايضاح كښې ليكي چه عام خلقو لره پكار دی چه هغوی په يوم الشك كښې خو تلوم اوكړی يعني انتظار بغير د نيت نه، په زوال پورې نزدې روژې پورې، د هغې نه روستو دې افطار اوكړی، او علماء او خواص دې هغه ورځ روژه نيسی، يعني كوم خلق چه په استحكام نيت باندې قادر وی، په تردد كښې نه واقع كيږي.

باب فِيمَنْ يَصِلُ شَعْبَانَ بِرَمَضَانَ

كه څوك په شعبان كښې روژې و نيسی او په رمضان كښې ئې شامل كړي

[۲۳۳۵] (١) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَقَدَّمُوا صَوْمَ رَمَضَانَ بِيَوْمٍ وَلَا يَوْمَيْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ صَوْمٌ يَصُومُهُ رَجُلٌ فَلْيَصُمْ ذَلِكَ الصَّوْمَ".

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دی په تاسو كښې دې يو كس درمضان نه وړاندې يوه يا دوه روژې نه نيسي مګردچاچه دروژو نيولو عادت وي نو هغه دې دغه روژه اونيسي.

(١): صحيح البخاري/الصوم ١٤(١٩١٤)، صحيح مسلم/الصيام ٣ (١٠٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٢٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصوم ٢ (٦٨٥)، سنن النسائي/الصيام ٣١ (٢١٧١)، ٣٨ (٢١٨٩)، سنن ابن ماجه/الصيام ٥ (١٦٥٠)، مسند احمد (٢/٢٣٤، ٣٤٧، ٤٠٨، ٤٣٨، ٤٧٧، ٤٩٧، ٥١٣، ٥٢١)، سنن الدارمي/الصوم ٤ (١٧٣١) (صحيح)

[۲۳۳۶]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ تَوْبَةَ الْعَنْبَرِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ "لَمْ يَكُنْ يَصُومُ مِنَ السَّنَةِ شَهْرًا تَامًّا إِلَّا شَعْبَانَ يَصِلُهُ بِرَمَضَانَ".

ترجمه: دام سلمه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام درمضان نه علاوه يوکال هم پوره مياشت روژې نه دي نيولې مګر شعبان اودابه ئې درمضان سره پيوست کولې.

تشريح: يعنی کوم سرې چه د شعبان په اخر کښې دوه روژې نيولو سره هغه روژې د رضمان سره يوځائي کړي، په دې باب کښې مصنف دوه احاديث ذکر کړې دی، اول حديث د ابوهريره رضي الله عنه ﴿لا تقدموا صوم رمضان بيوم ولا بيومين﴾ دا حديث د ابن عباس رضي الله عنه په روايت نزدې تير شو، او دويم حديث د ام سلمه رضي الله عنها په دې لفظ : ﴿عن ام سلمة عن النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه لم يكن يصوم من السنة شهرا تاما الا شعبان يصله برمضان﴾ د حديث مفهوم واضح دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د کال د يوې مياشتې هم پوره روژې نه نيولې سوا د شعبان نه چه د هغې روژې به ئې د رمضان سره يوځائي کړې.

د ترجمة الباب غرض :

د مصنف غرض دې حديث لره دلته راوړلو کښې په ظاهره دا دې چه د تقدم على رمضان ممانعت په هغه صورت کښې دې چه کله د رمضان نه مخکښې صرف يو يا دوه روژې اونيولې شی لکه چه هم د دې باب په حديث اول کښې دی، خو که د دوه نه زياتې روژې اونيولې شی که هغه د اکثر مياشتې وی يا د پوره مياشت وی د هغې ممانعت نشته، وهذا ظاهر من صنيع المصنف. هم دا ترجمه تقريبا امام ترمذی رحمه الله هم قائم کړې ده، ما جاء في وصال شعبان برمضان، خو هغه په دې کښې صرف کثرت صوم شعبان والا روايت ذکر کړې دې، تقدم بصوم او يوم او يومين والا روايت ئې په دې کښې نه دې راوړې.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ ذَلِكَ

د شعبان په آخر کښې د روژې نيولو دمکروه والي بيان

[۲۳۳۷]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: قَدِمَ عَبَّادُ بْنُ كَثِيرٍ الْمَدِينَةَ، فَمَالَ إِلَى مَجْلِسِ الْعَلَاءِ، فَأَخَذَ بِيَدِهِ فَأَقَامَهُ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ إِنَّ هَذَا يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا انْتَصَفَ شَعْبَانُ، فَلَا تَصُومُوا"، فَقَالَ الْعَلَاءُ: اللَّهُمَّ إِنَّ أَبِي حَدَّثَنِي، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، وَشِبْلُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَأَبُو عُمَيْسٍ، وَزُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَانَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ لَا يُحَدِّثُ بِهِ. قُلْتُ لِأَحْمَدَ: لِمَ؟ قَالَ: لِأَنَّهُ كَانَ عِنْدَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَصِلُ شَعْبَانَ بِرَمَضَانَ، وَقَالَ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِلَافَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَيْسَ هَذَا عِنْدِي خِلَافَهُ، وَلَمْ يَجِئْ بِهِ غَيْرُ الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِيهِ.

[1]: سنن النسائي/الصيام ١٩ (٢١٧٨)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٣٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصوم ٣٧ (٧٣٦)، سنن ابن ماجه/الصيام ٤ (١٦٤٨)، مسند احمد (٦/٣٠٠، ٣١١)، سنن الدارمي/الصوم ٣٣ (١٧٨٠) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الصوم ٣٨ (٧٣٨)، سنن ابن ماجه/الصيام ٥ (١٦٥١)، (تحفة الأشراف: ١٤٠٥١)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصوم ٣٤ (١٧٨١) (صحيح)

ترجمه: دعبدالعزيز بن محمدنه روايت دي فرمائی چه عباد بن کثير مديني ته راغي اودعلاء خواته لاړو هغه دده لاس اونيولواودي ئي اودرولو اوددې نه پس ئې اووئيل اې الله دي دخپل پلارنه حديث بيانوي اوهغه دابوهريره نه چه هغه دنبي ﷺ نه اوريدلي دي چه کله دشعبان نيمه مياشت تيره شي نوبياروژې مه نيسئ ترڅوچه رمضان شروع شونه وي) علاء اووئيل يقينا زما پلار دابوهريره نه حديث بيان کړې دي اوهغه دنبي ﷺ نه.

ابوداؤد وائی چه داحديث ثوری، شبل بن علاء، ابوعبيس او زهير بن محمد هم د علاء نه روايت کړې دې، اوابوداؤد دا هم وئيلی دی چه عبدالرحمن به دا حديث نه بيانولو نو ما احمد ته اووئيل چه داسې ولې ده؟ نوهغه اووئيل ځکه چه هغه ته دامعلومه وه چه نبی عليه السلام به دشعبان روژې رمضان سره پيوسته کولې او دائې هم اووئيل چه نبی عليه السلام نه ددې خلاف هم نقل دی ابوداؤد وائی زما په نزد دا خلاف نه دې دا حديث د علاء نه علاوه بل چا دهغه دپلار نه نه دې نقل کړې.

توضيح الحديث

عبدالعزيز بن محمد فرمائی چه يو ځل عباد بن کثير مديني منورې ته راغلو او د علاء بن عبدالرحمن مجلس ته لاړو اود هغه لاس ئې اونيولو او په مجلس کښې ئې خلقو ته مخامخ هغه کينولو او بيا ئې د حاضرين مجلس په وړاندې هغوی ته دا خبره کيخودله چه اوګورئ علاء ماته دا حديث د خپل پلار نه روايت کړې دې ﴿اذا انتصف شعبان فلا تصوموا﴾ په دې باندې علاء د ټولو په وړاندې د هغه تصديق اوکړو چه بيشکه ما دا حديث د خپل پلار نه روايت کوم. عباد بن کثير داسې ولې اوکړل او د خپل استاذ نه ئې د هغه د بيان کړی حديث د تصديق کولو ضرورت ولې پيښ شو د دې وجه يو شارح هم نه ده ليکلې، ممکنه ده د دې وجه دا وی چه د دې حديث سره علاء بن عبدالرحمن متفرد دې، د دې حديث د روايت مدار هم په هغه باندې دې، او د هغه د دې روايت حديث مضمون په ظاهره کښې د نورو احاديث صحيحه خلاف دې [1] والله تعالی اعلم... او د دې نه غوره دا ده چه داسې اوئيلې شی لکه چه د مراجعت کتب نه معلومه شوه چه يو طعن په دې سند باندې کولې شی چه د علاء سماع د خپل پلار نه ثابته نه ده، پس هم په دې وجه عباد په ډک مجلس کښې په علاء باندې دا اعتراف اوکړو چه ما دا حديث د خپل پلار نه اوريدلې دې.

د نصف شعبان نه روستو د نهی عن الصوم والا حديث توجيه

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د دې حديث مضمون دا دې چه د نصف شعبان نه روستو تر اخره پورې هيڅ قسم نفلی روژه او نه نيولې شی، په فتح الباری کښې حافظ فرمائی ه د جمهور علماء کرامو په نزد د نصف شعبان نه روستو صوم تطوع جائز دې، او دا چه جمهور دا حديث ضعيف کړې دې، امام احمد او امام يحيی بن معين فرمائی : انه منکر، هم دغه شان په دې کښې دا دی چه ډير شوافع د نصف شعبان نه روستو د کراهت صوم قائل دی،

[1] د کوم نه چه د صيام شعبان فضيلت ثابتيږی، او هم دغه شان هغه مشهور حديث: لا يتقدمن احدکم رمضان بصوم يوم او يومين ﴾

هم د دې حديث العلاء په وجه باندې، او د رؤياني من الشافعيه مسلک دا دې چه تقدم بيوم او يومين خو حرام دې، او د نصف شعبان نه پس تقدم مکروه، بهرحال حديث الباب د مسلک جمهور خلاف دې چه د هغې دوه جوابونه کيدې شي. تضعيف لکه چه پورته ذکر شو، هم دغه شان بيهقي هم فرمائي چه حديث ﴿لا يتقدمن احدکم رمضان بصوم يوم او يومين﴾ کوم چه دلالت کوي د نصف شعبان په رخصت صوم باندې دا اصح دې د علاء بن عبدالرحمن د حديث نه يا تطبيق او جمع بين الحديثين چه د منع روايت په هغه سړي باندې محمول دې چه چاته د روژې نيولو نه د ضعف راتلو ويره وي، او دويم حديث چه په هغې کښې نهي راغلې ده تقدم بصوم يوم او يومين نه هغه د هغه سړي په حق کښې ده کوم چه په رمضان کښې په احتياط سره روژه اونيسي، کذا قال الطحاوی قال الحافظ : هو جمع حسن.

د حديث الباب په تصحيح او تضعيف کښې اختلاف :

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د حديث الباب تضعيف او تصحيح کښې د محدثينو اختلاف دې، يو جماعت د دې تضعيف کوي لکه امام احمد او يحيى بن معين کما قتدم انفا. او يو جماعت د دې تصحيح کوي، پس امام ترمذي رحمه الله د دې حديث تخريج کولو نه پس فرمائي : قال ابو عيسى: حديث ابی هريرة حديث حسن صحيح، او حافظ په فتح الباری جلد ۴ ص ۱۵۲ کښې ليکي : اخرجه اصحاب السنن وصححه ابن حبان وغيره، د حافظ منذری ميلان هم په مختصر السنن کښې د صحت حديث طرف ته دې، پس هغه د ناقدينو د نقد نقل کولو نه پس د دې جواب کړې دې، پس هغه فرمائي: قال ابو عيسى : حديث ابی هريرة حديث حسن صحيح، او حافظ په فتح الباری جلد ۴ صفحه ۱۵۲ کښې ليکي : اخرجه اصحاب السنن وصححه ابن حبان وغيره، د حافظ منذری ميلان هم په مختصر السنن کښې د صحت حديث طرف ته دې، پس هغه د ناقدينو د نقد نقل کولو نه پس د دې جواب دا ورکړې دې پس هغه فرمائي: حکى ابوداود عن الامام احمد انه قال : هذا حديث منکر، قال: وکان عبدالرحمن بن مهدی لا يحدث به، ([1]) په دې باندې منذری فرمائي. ممکنه ده امام احمد د دې حديث انکار د علاء بن عبدالرحمن د وجې نه کړې وي ځکه چه د هغه په باره کښې محدثين کلام کوي، او حال دادې چه هغه د دې حديث سره متفرد دې، منذری فرمائي چه: د علاء بن عبدالرحمن په باره کښې اگر چه کلام کړې شوې دې خو امام مالک د هغه نه دا حديث اخستلې دې سره د خپل سخت تحقيق نه او احتياط نه، هم دغه شان امام مسلم په صحيح مسلم کښې د هغه د حديث نه استدلال کړې دې او د هغه نه ئې ډير زيات روايات اخستلې

---

[1]) په دې باندې شيخ احمد شاکر په خپل تعليق على مختصر المنذري کښې د منذری په دې نقل باندې د تردد اظهار کړې دې چه امام ابوداود د امام احمد نه دا خبره چرته نقل کړې ده، نه دا په سنن کښې دې او د هغې دويم تصنيف مسائل ابوداود کښې دی هغه ليکي ﴿هکذا نقل المنذري عن ابي داود انه حکى عن الامام احمد انه قال : هذا حديث منکر، وما ادري من اين جاء به؟ فليس هو في السنن ولا في کتاب مسائل ابي داود الي اخر ما ذکر، قلت هذه الحکاية موجودة في الجزء الخامس من مسائل الامام احمد لابي داود ۳۱۵ فهذا مبني علي قلة تتبعه وتسرعه في الانکار. (حبيب الله مظاهري)

دی لهذا دا حدیث د مسلم په شرط باندې دې او کیدې شی چه امام مسلم د علاء دا حدیث پریخودلي وی د هغه د تفرد د وجې نه. اهـ

د حافظ ابن القیم رحمه الله میلان هم په تهذیب السنن کښې هم دې طرف ته معلومیږی، هغه په دې حدیث باندې وجوه طعن لره په تفصیل سره لیکلو نه پس د هغې جوابات ورکړې دی، د هغې نه یو طعن په دې باندې دا هم دې چه د علاء سماع د خپل پلار نه ثابت نه دې. ابن القیم رحمه الله د دې تردید کړې دې، اوداچه دعلاء سماع د خپل پلار نه ثابته ده الی اخر ما ذکر.

والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

بَاب شَهَادَةِ رَجُلَيْنِ عَلَى رُؤْيَةِ هِلَالِ شَوَّالٍ[1]

بیان د شهادت ورکولو د دوه کسانو په شروع کیدو د میاشت دشوال

د دې باب تعلق د هلال شوال یعنی د اختر د میاشتې د رؤیت سره دې، او د راتلونکی باب تعلق د هلال رمضان د رویت سره دې، دلته مصنف شهادت رجلین فرمائیلي دې، او په راتلونکی باب کښې ئې شهادة الواحدفرمائیلي دې، د دې نه په مخکښې باب کښې خو د ائمه اربعه اتفاق دې چه د اختر په میاشت کښې شهادة عدلین ضروری دې، یعنی د عدل واحد شهادت کافی نه دې سوا د ابو ثور نه چه د هغه په نزد جائز دې او په هلال رمضان کښې د عدل واحد شهادت لکه چه مصنف په ترجمة الباب کښې وئیلي دی د ائمه ثلاث په نزد کافی ده، خو دلته د امام مالک اختلاف دې د هغوی په نزد د هلال رمضان په ثبوت کښې هم شهادت عدلین ضروری دې کما فی الشرح الکبیر للدردیر. د دې اجمالی اختلاف ائمه نه پس د ائمه اربعه د مذاهبو تفصیل لاندې لیکلي شی.

د رمضان او اخترونو د هلال په ثبوت کښې د مذاهب اربعهٔ تفصیل

۱: **حنفیه** : فی هلال رمضان : عدل واحد ولو عبدا او انثی ولا یشترط لفظ الشهادة.

حنفیة : فی هلال شوال : شهادة حرین او حر او حرتین بشرط العدالة ولفظ الشهادة.

۲: **مالکیة** : رمضان وشوال : د کوم ځائي اوسیدونکی چه د رویت هلال اهتمام کوی، هلته شهادة عدلین، او چه کوم ځائي کښې اهتمام نه وی هلته شهادة عدل واحد مطلقا رمضان وی یا شوال.

۳: **شافعیه** : فی رمضان : شهادة عدل واحد حر ذکر علی الاصح وفی روایة ولو عبدا او امراءة.

فی العید : شهادة عدلین حرین.

۴: **حنابلة** : فی رمضان : شهادة عدل واحد، ولو عبدا او امراءة.

فی العید : شهادة عدلین حرین. (ملخصا من المنهل)

---

[1] ، وفي الهداية ج ۱ : في بيان هلال رمضان: وإذا كان بالسماء علة قبل الإمام شهادة الواحد العدل في رؤية الهلال رجلا كان أو امرأة حرا كان أو عبدا لأنه أمر ديني فأشبه رواية الأخبار (أي الاحاديث) ولهذا لايختص بلفظة الشهادة وتشترط العدالة لأن قول الفاسق في الديانات غير مقبول. وقال في بيان هلال الفطر: وإذا كان بالسماء علة لم تقبل في هلال الفطر إلا شهادة رجلين أو رجل وامرأتين لأنه تعلق به نفع العبد وهو الفطر فأشبه سائر حقوقه والأضحي كالفطر في هذا في ظاهر الرواية وهو الأصح خلافا لما روي عن أبي حنيفة رحمهالله أنه كهلال رمضان لأنه تعلق به نفع العباد وهوالتوسع بلحوم الأضاحي هذا تعليل ظاهر الرواية)

د مطلع په صفا کیدو او نه صفا کیدو کښې فرق :

بیا خان پوهه کړئ چه دلته د احنافو او جمهور ترمینځه یو بل اختلاف دې هغه دا چه جمهور د مطلع صفا کیدو او نه صفا کیدو هیڅ فرق نشته، په دواړو صورتونو کښې حکم یو شان دې، او احناف په ظاهر الروایة کښې د دواړو صورتونو حکم مختلف دې د هغوی په نزد د مطلع د نه صفا کیدو په صورت کښې خو حکم داسې دې کوم چه مذکور شو. خو د مطلع د صفا کیدو په صورت کښې د هغوی په نزد که هلال رمضان وی یا هلال عید د ثبوت رؤیت دپاره د جم غفیر کیدل ضروری دی. یعنی دومره لوئي جماعت چه قاضی ته د هغه په شهادت سره یقین حاصل شی. د دې جماعت هیڅ قسم تحدید نه دې کړې شوې. او یو روایت د امام ابویوسف رحمه الله نه دا دې چه هغه د عدد قسامت موافق تعداد پنځوس فرمائیلي دې، او بعض وئیلي دی چه په هر مسجد کښې د جماعت نه یو یا دوه کسان کیدل پکار دی، کذا فی البذل عن البدائع، او په هدایه کښې یو قول دا دې : قیل فی حد الکثیر اهل المحلة، هم دغه شان په هدایه کښې دی: ولا فرق بین اهل المصر ومن ورد من خارج المصر، او بیا په دې کښې د امام طحاوی قول دا لیکلي شوې دې چه که شهادتورکونکې د ښهر د بهر نه راغلي دې نو په دې صورت کښې د عدل واحد شهادت قبلولي شی لقلة الموانع، یعنی د ښهر نه بهر د میاشت په نظر راتلو موانع کم وی. (پس ظاهره هم دا ده چه هغه میاشت لیدلي ده) وکذا اذا کان علی مکان مرتفع فی المصر، او هم دغه شان که واحد عدل میاشت لیدو والا ښهر کښې دننه په څه اوچت ځائي باندې اوینه.

د صاحب بحر الرائق رائې :

د احنافو په نزد ظاهر الروایة خو هم دا دې یعنی د غیم (گرد وغبار) او غیر غیم فرق، او یو روایت په دې کښې د امام ابوحنیفه نه دا دې چه شهادت عدلین کافی دې اګر چه مطلع صفا وی، صاحب د البحر الرائق د دې روایت د لیکلو نه پس فرمائی : ولم ار من رجحها من المشائخ، او بیا وړاندې فرمائی چه : مناسب دا ده چه زمونږ په دې زمانه کښې هم په دې روایت باندې عمل اوکړې شی، لان الناس تکاسلوا عن ترائ الاهلة... ځکه چه خلقو د میاشت لیدو اهتمام د سستیا او ناراستئ د وجې نه پریخودلي دې، لهذا په دې صورت کښې د غلطئ اهتمام صرف د یو یا دوه کسانو په کتلو کښې غیر ظاهر دې. اهـ من المنهل.

د فرق بین الصحو والغیم دلیل :

خان پوهه کړه چه د پورته ذکر شوې مسلک "الفرق بین حال الغیم والصحو" عموما فقهاء احنافو په دې باندې استدلال په طریق نظر درایة کړې دې چه د مطلع د صفا کیدو باوجود د کتونکو په یو جماعت کښې صرف یو یا دوه کسانو ته میاشت ښکاره کیدل خلاف ظاهر دی، پس کیدې شی چه دې دواړو کسانو ته څه وهم شوې وی، په دې وجه هغوی په دې صورت کښې د یو یا دوه کسانو د رویت اعتبار نه دې کړې، هسې که اوکتلي شی نو روایات کښې غور کولو نه هم د دې ثبوت یا کم از کم د دې تائید ضرور ملاویږی لکه چه

په اعلاء السنن نهم جلد کښې دې طرف ته اشاره کړې شوې ده، د هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی، د دې نه علاوه هم دا خبره ذهن کښې ساتل پکار دی چه رویت هلال چه د هغې تعلق د فضاء سره دې د هغې دوه حالات دی، حالت صحو او حالت غیم، چه په هغې کښې اصل حال صحو دې او غیم د عوارض نه دې، دا مقدمه په ذهن کښې ساتلو نه پس په دې خان پوهه کړئ چه د دې سلسلې چه کوم مشهور حدیث دې یعنی ﴿صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته﴾ کوم چه ټولو اصحاب السنن د الفاظو د لږ شان فرق سره روایت کړې دې، د هغې الفاظ په سنن نسائی کښې داسې دې ﴿صوموا لرویته وافطروا لرویته وانسکوا لها، فان غم علیکم فاکملوا ثلاثین، فان شهد شاهدان فصوموا وافطروا﴾ په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ اول حال د صحو حکم بیان فرمائیلې دې، ﴿صوموا لرؤیته وافطروا لرویته﴾ چه په هغې کښې د جمع صیغه استعمال کړې شوې ده، او ظاهره هم ده چه هر کله مطلع صفا ده نو میاشت به ټولو ته په نظر راځی، د هغې نه روستو رسول الله ﷺ د حال غیم حکم بیان فرمائیلې دې، ﴿فان غم علیکم فاکملوا ثلاثین﴾ او بیا وړاندې هم د دې په باره کښې فرمائی ﴿فان شهد شاهدان فصوموا وافطروا﴾ پس د شهادت شاهدین حکم د غیر سره متعلق شو، په دې باندې علامه سندی په حاشیه د نسائی کښې دا فرمائیلې دی چه په ظاهره کښې دا حکم ثانی د غیم سره خاص نه دې ځکه چه وړاندې هم په دې حدیث کښې د صوم او افطار هر دواړو ذکر دې حال دا چه صوم کښې په حالت د غیم بالاجماع د عدل واحد شهادت کافی دې، خو د هغه د دې خبرې جواب دا کیدې شی چه د دې حدیث نه خو هم دا معلومیږی چه د غیم په حالت کښې د صوم دپاره هم د شاهدین شهادت کیدل پکار دی، خو دا ضروری نه ده چه پوره مسئله د یو حدیث نه معلومه شی لهذا مونږ به وایو چه په سنن ابی داود کښې امام ابوداود د شهادت اعرابی دوه قصې ذکر کړې دی په دوه مستقل بابونو کښ، چه په هغې کښې د صوم په باره کښې د اعرابی واحد شهادت مذکور دې چه په هغې کښې رسول الله ﷺ د صوم حکم فرمائیلې دې او د اختر په باره کښې د شهادت اعرابیین والا حدیث بیان کړې دې چه رسول الله ﷺ په شهادت اعرابیین باندې د افطار حکم فرمائیلې دې، لهذا د سنن ابی داود دا روایت د سنن نسائی د روایت دپاره مخصص کیږی. والله تعالی اعلم

اوسه پورې د ترجمة الباب د لاندې کلام روان وو، اوس حدیث الباب اوګورئ.

[۲۳۳۸]( ) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ أَبُو يَحْيَى الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبَّادٌ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ الْحَارِثِ الْجَدَلِيُّ مِنْ جَدِيلَةَ قَيْسٍ، "أَنَّ أَمِيرَ مَكَّةَ خَطَبَ، ثُمَّ قَالَ: عَهِدَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَنْسُكَ لِلرُّؤْيَةِ، فَإِنْ لَمْ نَرَهُ وَشَهِدَ شَاهِدَا عَدْلٍ، نَسَكْنَا بِشَهَادَتِهِمَا، فَسَأَلْتُ الْحُسَيْنَ بْنَ الْحَارِثِ: مَنْ أَمِيرُ مَكَّةَ؟ قَالَ: لَا أَدْرِي، ثُمَّ لَقِيَنِي بَعْدُ، فَقَالَ: هُوَ الْحَارِثُ بْنُ حَاطِبٍ أَخُو مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ، ثُمَّ قَالَ الْأَمِيرُ: إِنَّ فِيكُمْ مَنْ هُوَ أَعْلَمُ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ مِنِّي، وَشَهِدَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى رَجُلٍ، قَالَ الْحُسَيْنُ: فَقُلْتُ لِشَيْخٍ إِلَى جَنْبِي: مَنْ هَذَا الَّذِي أَوْمَأَ إِلَيْهِ الْأَمِيرُ؟ قَالَ: هَذَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَصَدَقَ كَانَ أَعْلَمَ بِاللَّهِ مِنْهُ، فَقَالَ: بِذَلِكَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

[۱]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۲۷۵) (صحيح)

ترجمه: حسين بن حارث جدلي حديث بيان کړي دي د جديله قيس (قبيلي والا) نه چه د مکې امير خطبه ورکړه اوبيا ئې اوفرمائيل چه نبي عليه السلام زمونږ نه لوظ واخستوچه دحج ارکان دسپوږمئ په ليدو سره اداکوئ که چرې مونږ مياشت ونه وينو اودوه معتبر عادلان کسان ګواهي ورکړي نومونږبه دهغوی دشهادت بناء باندې دحج ارکان ادا کړو، ابومالک ووئيل دحسين بن الحارث نه مې تپوس اوکړودامير مکه په باره کښې چه څوک ووهغه ووئيل چه حارث بن الحاطب د محمد بن حاطب ورور، بيا امير اووئيل چه په تاسوکښې هغه کس موجود دې څوک چه زمانه دالله اودرسول په احکاموښه پوهيږي، اوهمدي کس دنبي عليه السلام ددې خبرې ګواهي ورکړي ده او اميرمکه يوکس ته اشاره اوکړه، حسين وائی ماديوکس نه تپوس اوکړو څوک چه زماڅنګ ته ولاړ وو چه دا څوک دې چاته چه امير اشاره اوکړه؟ دغه کس عرض اوکړو چه دا عبدالله بن عمر رضي الله عنه ده او امير رښتياوئيلي وو چه عبدالله بن عمر د اميرنه زيات پوهيدو عبدالله اووئيل نبي عليه السلام مونږ ته همداسې فرمائيلي وو (چه دسپوږم په ليدوسره د حج مناسک اداکوي).

مضمون حديث:

مضمون حديث دا دې، حسين بن الحارث جدلي فرمائی چه يو ځل يو امير مکه خطبه ورکړه لکه چه د هغه نوم وړاندې په روايت کښې راروان دې الحارث بن حاطب دې. امير مذکور په دې خطبه کښې دا هم اووې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ نه دا لوظ اخستلي وو چه مونږ نسک يعني حج او اضحيه چه کله کوو نو په رويت هلال سره کوو، يعنی خپله مياشت ليدلو سره او هم په دې حساب سره، او که مونږ ئې خپله او نه وينو او دوه شاهد عدل ګواهي ورکړي نو مونږ د هغوی په شهادت باندې نسک ادا کړو. د دې نه روستو امير مذکور حاضرين مجلس ته اووې چه په تاسو کښې يو داسې سړې موجود دې چه هغه ته د الله پاک او د رسول الله صلى الله عليه وسلم معرفت زما نه زيات دې، او هغه دا مضمون خپله د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دې، او په دې اوريدلو سره ئې يو سړي ته اشاره اوکړه، حسين بن الحارث فرمايي چه ما د يو مشر سړي نه کوم چه زما خواته ناست وو تپوس اوکړو چه امير د يو سړي طرف ته اشاره اوکړه هغه څوک دې؟ نو هغه اووې چه هغه عبدالله بن عمر رضي الله عنه دې، او امير چه څه د هغه په باره کښې اووې هغه رشتيا دی، ابن عمر رضي الله عنه واقعی د امير په نسبت د الله پاک معرفت زيات لرلو، ﴿فقال بذلک امرنا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾ ابن عمر رضي الله عنه کوم چه هلته موجود وو هغه اوفرمائيل چه رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته هم دغه شان فرمائيلي دی څنګه چه امير اووې، يعنی د رؤيت هلال په باره کښې

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت:

د دې حديث تعلق په ظاهره د لوئي اختر سره دې ځکه چه په دې کښې د نسک لفظ راغلي دې ﴿ان ننسک للرؤية﴾ چه د هغې متبادر(مقابل) معنی د حج ده چه په هغې کښې دننه اضحيه او عيد اضحی هم راځي، ګويا مصنف د هلال عيد الاضحی د رويت نه استدلا ل کړې دې په رويت هلال عيد الفطر باندې، افاده السندی. او صاحب منهل د نسک لغوی

معنی د مطلق عبادت او قربت اخستلو سره صوم هم په دې کښې شامل کړې دې، په دې صورت کښې مطابقت د ترجمة الباب سره ظاهر دې، د مقايست حاجت نشته.

والحديث اخرجه الدارقطني.... واخرجه النسائي، نحوه قاله في المنهل.

[۲۳۳۹]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَخَلَفُ بْنُ هِشَامٍ الْمُقْرِئُ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اخْتَلَفَ النَّاسُ فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ، فَقَدِمَ أَعْرَابِيَّانِ فَشَهِدَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّهِ لَأَهَلَّا الْهِلَالَ أَمْسِ عَشِيَّةً، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ أَنْ يُفْطِرُوا". زَادَ خَلَفٌ فِي حَدِيثِهِ: "وَأَنْ يَغْدُوا إِلَى مُصَلَّاهُمْ".

ترجمه: ربعي بن خراش په صحابه کرامو کښې د يو کس نه روايت کوي فرمائي چه دخلقو په مينځ کښې درمضان د آخرى ورځ په باره کښې اختلاف پيداشو ددوه کلو (باندو) اوسيدونکي دنبى ﷺ په خدمت کښې حاضر شو دالله تعالى نوم ئې واخستو اوګواهي ئې ورکړه چه مونږه پرون شپه سپوږمئ ليدلې ده نو نبى ﷺ خلقوته دروژې ماتولو حکم اوکړو، او عيدګاه ته دتلو حکم ئې اوکړو. دخلف په روايت کښې دا اضافه ده چه نبى ﷺ ددې خبرې هم حکم فرمائيلې وو چه را روانه ورځ به تمام مسلمانان عيدګاه ته راځئ.

توضيح الحديث

د دې حديث د راوى صحابى نوم مبهم دې، نوم ئې ذکر نه دې په بذل کښې ليکى: لم اقف على تسميته، مضمون حديث دا دې چه يو ځل د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د رمضان د اخرى ورځ په باره کښې د خلقو تردد پيدا شو چه نن ديرشم رمضان دې يا يکم شوال؟ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې دوه اعرابى راغلل چا چه د دې خبرې شهادت ورکړو چه هغوى دواړو تيره شپه مياشت ليدلې وه، په دې باندې رسول الله ﷺ په خلقو باندې د روژې ماتولو حکم اوفرمائيلو او دا چه د صبا دې ټول خلق د اختر د مونځ دپاره عيدګاه ته ځان راورسوى. دې حديث کښې د شهادت عدلين نه دهلال شوال ثبوت کيږى.

د اختر د مونځ قضاء شته يا نه؟

هم دغه شان دا مسئله تري هم معلوميږى چه د اختر د مونځ په اول د شوال او نه لوستلې شى نو هغه دې په بله ورځ باندې اولوستلې شى.

دا مسئله او په دې کښې اختلاف علماء د کتاب الصلاة په ابواب العيدين کښې "باب اذا لم يخرج الامام للعيد من يومه يخرج من الغد" کښې تفصيل تير شوې دې.

والحديث اخرجه ايضا احمد والدارقطني وقال اسناده حسن ثابت. (قاله في المنهل)

بَابٌ فِي شَهَادَةِ الْوَاحِدِ عَلَى رُؤْيَةِ هِلَالِ رَمَضَانَ

بيان د ګواهئ د يو کس په ليدو دمياشت درمضان

په دې باب کښې مصنف د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت باندې د يو اعرابى د شهادت قصه چه په هغې باندې هغه د رمضان فيصله اوفرمائيله ذکر کړې دې، کوم چه د ترجمة الباب مطابق دې، د ائمه کرامو مذاهب په مخکښې باب کښې ذکر شو.

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٤/٤، ٣٦٢/٥) (صحيح)

[۲۳٤۰]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكَّارِ بْنِ الرَّيَّانِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ يَعْنِي ابْنَ أَبِي ثَوْرٍ ح وحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ يَعْنِي الْجُعْفِيَّ، عَنْ زَائِدَةَ الْمَعْنَى، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ الْهِلَالَ، قَالَ الْحَسَنُ فِي حَدِيثِهِ: يَعْنِي رَمَضَانَ، فَقَالَ: أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: "يَا بِلَالُ، أَذِّنْ فِي النَّاسِ فَلْيَصُومُوا غَدًا".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه يوبانده چې دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله مادرمضان مياشت اوليدله نبی عليه السلام اوفرمائيل چه ته ددې خبرې ګواهي ورکوې چه دالله تعالی نه علاوه بل حقدار دبندګۍ نشته، بيانبی عليه السلام تپوس اوکړو آيا ته ددې خبرې ګواهي ورکوې چه محمد دالله تعالی پيغمبر دې؟ ده عرض اوکړوهو، نبی عليه السلام بلال ته اوفرمائيل په خلقو کښې اعلان اوکړه چه دصبانه دې روژې ونيسي.

[۲۳٤۱]([2]) حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، "أَنَّهُمْ شَكُّوا فِي هِلَالِ رَمَضَانَ مَرَّةً، فَأَرَادُوا أَنْ لَا يَقُومُوا وَلَا يَصُومُوا، فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ مِنَ الْحَرَّةِ، فَشَهِدَ أَنَّهُ رَأَى الْهِلَالَ، فَأُتِيَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَشَهِدَ أَنَّهُ رَأَى الْهِلَالَ، فَأَمَرَ بِلَالًا، فَنَادَى فِي النَّاسِ أَنْ يَقُومُوا وَأَنْ يَصُومُوا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ جَمَاعَةٌ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، مُرْسَلًا. وَلَمْ يَذْكُرِ الْقِيَامَ أَحَدٌ إِلَّا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ.

ترجمه: د عکرمه رحمه الله نه روايت دې چه يوځل درمضان دمياشتې په ليدوکښې خلقو شک اوکړ ددې خلقودا اراده وه چه مونږ به نه دشپې قيام کوو (مونځ اونه به دورځې روژه نيسو بيا دحراء مقام نه يوکس راغې اوهغه دسپوږمۍ ليدو ګواهي ورکړه دغه کس نبی عليه السلام ته پيش کړې شو نوتپوس ئې ترې اوکړوچه ته ددې خبرې ګواهي ورکوې چه دالله تعالی نه علاوه بل حقدار د بندګۍ نشته، بيانبی عليه السلام تپوس اوکړو آيا ته ددې خبرې ګواهي ورکوې چه محمد دالله تعالی پيغمبر دې؟ ده عرض اوکړوهو، نبی عليه السلام بلال رضي الله عنه ته اوفرمائيل په خلقوکښې اعلان اوکړه چه دشپې دې قيام کوې او روژه دې ونيسي امام ابوداود فرمائی دسماک په واسطې سره يوجماعت دعکرمه رحمه الله نه داروايت مرسل نقل کړې دې اودحماد بن سلمه نه علاوه هيڅ چا د قيام لفظ نه دې ذکرکړې.

[۲۳٤۲]([3]) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ السَّمَرْقَنْدِيُّ، وَأَنَا لِحَدِيثِهِ أَتْقَنُ، قَالَا: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ هُوَ ابْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "تَرَاءَى النَّاسُ الْهِلَالَ، فَأَخْبَرْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي رَأَيْتُهُ، فَصَامَهُ وَأَمَرَ النَّاسَ بِصِيَامِهِ".

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه خلقو دسپوږمۍ دليدوکوشش شروع کړو

---

[1]: سنن الترمذي/الصوم ۷ (٦۹۱)، سنن النسائي/الصوم ٦ (۲۱۱٥)، سنن ابن ماجه/الصيام ٦ (۱٦٥۲)، (تحفة الأشراف: ٦۱۰٤، ۱۹۱۱۳)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصوم ٦ (۱۷۳٤) (ضعيف)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦۱۰٤، ۱۹۱۱۳) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸٥٤۳)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصوم ٦ (۱۷۳۳) (صحيح)

خونه ښکاريدله ما نبی علیه السلام ته خبر ورکړو چه ما سپوږمئ ليدلي ده نبی علیه السلام روژه ونيوله اوخلقوته ئي هم دروژې نيولو حکم اوکړو.

بَابٌ فِي تَوْكِيدِ السُّحُورِ

بابه د پيشمنۍ کولو د تاکيد بيان

سحور بالضم مصدر دې، پيشمنې کول، او بالفتح په معنی د پيشمنی، يعنی طعام سحر.

[٢٣٤٣](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ فَصْلَ مَا بَيْنَ صِيَامِنَا وَصِيَامِ أَهْلِ الْكِتَابِ أَكْلَةُ السَّحَرِ".

ترجمه: دعمرو بن العاص رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی داهل کتابو په روژوکښې اوزمونږه په روژوکښې فرق دادې چه هغوی به پيشمنې نه کولو او مونږئي کوو.

سحور د دې امت خصوصيت دې:

په حديث الباب کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي ﴿ان فصل ما بين صيامنا وصيام اهل الكتاب اكلة السحر﴾ د اهل کتاب او اهل اسلام د روژو ترمينځه فرق د پيشمنی په خوراک باندې دې او د صحيحين په روايت کښې دی، د سيدنا انس رضی الله عنه نه مرفوعا "تسحروا فان فی السحور برکة" او امر په دې کښې د استحباب دپاره دې، او ابن المنذر د دې په استحباب باندې اجماع نقل کړې ده، په منهل کښې دی چه سحور د دې امت د خصائص نه دې په خلاف د امم سابقه چه د هغوی په شريعت کښې خو طعام او شراب په نوم سره حراميږی لکه چه په ابتداء اسلام کښې زمونږ په شريعت کښې هم داسې وه. کما تقدم. د سحور په استحباب باندې د اهل سنت اجماع ده، اکلة السحر... بضم الهمزة بمعنى اللقمة او بفتح الهمزة مرة دپاره دې يعنی يو ځل خوراک کول اګر چه د هغې مقدار هر څومره وی، په حديث کښې په ظاهره دا د همزه په فتحې سره دې، او "سحر" بفتح السين والحاء... د شپې اخری حصه قبيل الصبح. والحديث اخرجه ايضا احمدومسلم والنسائی وابن ماجة والترمذی وقال حسن صحيح قاله فی المنهل.

بَابُ مَنْ سَمَّى السَّحُورَ الْغَدَاءَ

پيشمنی ته د سحر ناشته ونلي شوي ده

[٢٣٤٤](٢) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ النَّاقِدُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ الْخَيَّاطُ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ سَيْفٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي رُهْمٍ، عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، قَالَ: دَعَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّحُورِ فِي رَمَضَانَ، فَقَالَ: "هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ الْمُبَارَكِ".

ترجمه: دعرباض بن ساريه رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی - علیه السلام درمضان په مياشت کښې زه دپيشمنې خوراک دپاره راوغوښتلم اوراته ئي اووئې دسحرد ناشتې دخوراک

(١): صحيح مسلم/الصيام ٩ (١٠٩٦)، سنن الترمذي/الصوم ١٧ (٧٠٩)، سنن النسائي/الصيام ٢٧ (٢١٦٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٧٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٩٧، ٢٠٢)، سنن الدارمي/الصوم ٩ (١٧٣٩) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/الصيام ١٣ (٢١٦٥)، (تحفة الأشراف: ٩٨٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٢٦، ١٢٧) (حسن لغيره)

دپاره راشه په کومه کښې چه برکت اچولې شوې دې.

شرح حدیث:

سیدنا عرباض بن ساریه رضی الله عنه فرمائی چه یوه ورځ په رمضان کښې د پیشمنی په وخت باندې زه د رسول الله ﷺ مخې ته راوتلم (هغه دې وخت کښې په ظاهره پیشمنی کولو) نو رسول الله ﷺ زما په لیدو اوفرمائیل راشه د مبارک خوراک طرف ته.

حدیث د ترجمة الباب موافق دې چه په سحور باندې رسول الله ﷺ د غدا اطلاق اوفرمائیلو، اصل کښې غدا خو د سحر خوراک ته وئیلې شی کوم چه د ورځې په شروع کښې د زوال نه مخکښې اوخوړلې شی، او چونکه پیشمنې د روژه دار په حق کښې د غدا قائم مقام وی په دې وجه باندې په دې باندې هم دا اطلاق اوکړې شو. لکه چه په یو بل حدیث کښې د دې نه مخکښې په کتاب الصلاة کښې تیر شو، باب وقت الجمعة کښې "کنا نتغدی ونقیل بعد الجمعة" کما تقدم هناک فارجع الیه.

سحری مبارک خوراک دې:

او د پیشمنی مبارک کیدل ظاهر دی ځکه چه زمونږ د نبی سنت دې هم دغه شان د تیرو انبیاء کرام هم سنت وو، او بذل کښې حضرت لیکلې دی: ځکه چه هغه د روژې په حالت کښې د قوة ذریعه او د نشاط سبب دې یا دا چه په روژه نیولو کښې معین وی او د دې په برکت سره انسان ته د روژې نیولو توفیق کیږی او د روژې مشقت لره اسان کړی اهـ

او حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی. قال ابن العربی فی شرح الترمذی مبارک لخمسة اوجه. اهـ لهذا د دې دپاره عارضة الاحوذی اوګورئ، اذ لا یستطاع العلم براحة الجسم ومن طلب العلی سهر اللیالی. والحدیث ایضا النسائی وابن خزیمة وابن حبان قاله فی المنهل.

[۲۳۴۵](۱) حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ أَبُو الْمُطَرِّفِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "نِعْمَ سَحُورُ الْمُؤْمِنِ التَّمْرُ".

ترجمه: دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دمومنانوپه پیشمنی کښې اعلی شی کهجورې دې.

بَابُ وَقْتِ السُّحُورِ

باب: د پیشمنی کولو د وخت بیان

[۲۳۴۶](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَوَادَةَ الْقُشَيْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، سَمِعْتُ سَمُرَةَ بْنَ جُنْدُبٍ يَخْطُبُ، وَهُوَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَمْنَعَنَّ مِنْ سُحُورِكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ وَلَا بَيَاضُ الْأُفُقِ الَّذِي هَكَذَا حَتَّى يَسْتَطِيرَ".

ترجمه: عبدالله بن سوادة القشیري دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه رسول پاک ﷺ فرمائیلي ووچه خطبه ئې ورکوله منع دې نه کړي تاسو لره دپیشمنې نه اذان دبلال اوسپین

---

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۰۶۷) (صحیح)

۲): صحیح مسلم/الصیام ۸ (۱۰۹۴)، سنن الترمذي/الصوم ۱۵ (۷۰۶)، (تحفة الأشراف: ۴۶۲۴)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الصیام ۱۸ (۲۱۷۳)، مسند احمد (۷/۵، ۹، ۱۳، ۱۸) (صحیح)

والي د کنارو د اسمان ترڅو چه خورشوي نه وي

توضيح الحديث

رسول اللهﷺ فرمائی چه اذان بلال د سحور نه مانع نه دي ﴿فان كان يؤذن بليل كما تقدم فی ابواب الاذان﴾ او نه د افق هغه رنړا کوم چه داسې وی، کوم چه هغه په اشارې سره اوفرمائيلو يعنی طولا (څکه چه هغه فجر کاذب دي) ﴿حتی يستطير ای يظهر عرضا﴾ يعنی چه ترڅو پورې رنړا د افق په پلنو کښې خوره نه شی، کوم ته چه فجر صادق وئيلې شی.

په دې حديث کښې د سحور اخرې وقت بيان کړې شوې دې چه د هغې نه روستو خوراک څکاک ممنوع کيږی.

د پيشمنی اخری وخت:

د پيشمنی په اخری وخت کښې زمونږ د فقهاء کرامو دوه اقوال دی، اول طلوع فجر يعنی څنګه چه سحر راوخيژی، دويم قول تبين فجر، يعنی د سحر رنړا ښه خوره شی، په شامی کښې ليکلي دی والاول احوط، والثانی اوسع کما قال الحلوانی کما فی المحيط. اه من البذل.

د قول ثانی ماخذ دا آيت کريمه دې، ﴿كلوا واشربوا حتى يتبين لكم الخيط الابيض من الخيط الاسود من الفجر﴾، امام ترمذی باب قائم کړې دې، باب ما جاء فی تاخير السحور. چه په هغې کښې سيدنا انس رضی الله عنه دا حديث ذکر فرمائيلي دې: تسحرنا مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثم قمنا الى الصلاة قال: قلت كم كان قدر ذلک؟ (وفی رواية البخاری: كم كان بين الاذان والسحور) قال قدر خمسين اية. امام ترمذی رحمه الله فرمائی: وبه يقول الشافعی واحمد واسحاق، استحبوا تاخير السحور، وفی الباب عن حذيفة. اه زه وايم: د حذيفه رضی الله عنه د حديث تخريج مختلف طرق سره امام نسائی رحمه الله فرمائيلي دې، د هغې په يو طريق کښې دا دی، عن زرقانی قال قلنا لحذيفة: ای ساعة تسحرت مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قال هو النهار الا ان الشمس لم تطلع. د دې حديث نه د صبح صادق د راختلو نه پس د تسحر ثبوت دې کوم چه تقريبا د اجماع خلاف دې د دې جواب علامه عينی د امام طحاوی نه نقل کړې دې چه دا حديث د احاديث صحيحه کثيره خلاف دې چه په هغې کښې بعض متفق عليه دی لهذا هغې لره به اعتبار نه وی هغه فرمائی: او دا هم احتمال دې چه حديث حذيفه د شروع زمانه وی، آيت کريمه ﴿كلو واشرابو حتى يتبين﴾ آيت د نزول نه وړاندې، او علامه سندی په حاشيه د نسائی کښې د دې تاويل کړې دې پس هغه ليکی: قوله هو النهار الا ان الشمس لم تطلع "الظاهر ان المراد بالنهار هو النهار الشرعی، والمراد بالشمس الفجر، والمراد انه فی قرب طلوع الفجر، حيث يقال انه النهار، نعم ما كان الفجر طالعا. اه

اخر مستحب وخت:

هسې خو مستحب په پيشمنی کښې تاخير دې، پس په بذل کښې "بدائع" نه منقول دې: والسنة فيه التاخير فانه روی عنه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه من سنن المرسلين، وفی رواية من اخلاق المرسلين، حضرت شيخ "فضائل قران" کښې د پيشمنی فضيلت بيانولو سره ليکی: علامه

عيني د اولس صحابه كرامو نه د دې د فضيلت احاديث نقل كړي دى، او د دې په مستحب كيدو باندې ئې اجماع نقل كړې ده. ډير خلق د سنت والى د وجې نه د دې د فضيلت نه محروم شي او بعض تراويح لوستلو نه پس خوراک کولو سره اوده شي او هغوى د دې د ثواب نه محروم وى او بعض تراويح لوستلو سره اوده شي او د دې د ثواب نه محروم كيږى، ځكه چه په لغت كښې پيشمنى (سحور) هغه خوراک ته وئيلې شى كوم چه سحر ته نزدې اوخوړلې شى او هغوى د دې د ثواب نه محروم وى، ځكه چه په لغت كښې سحر (سحور) هغه خوراک ته وئيلې شى كوم چه سحر ته نزدې اوخوړلې شى لكه چه په قاموس كښې ليكلې دى، بعض وئيلې دى چه د نيمې شپې نه د دې وخت شروع كيږى. (مرقاة) صاحب كشاف اخرى شپږمه حصه شمار كړې ده... مثلا كه د نمر پريوتلو نه تر صبا راختلو پورې دولس گهنټې وى نو اخرى دوه گهنټې د پيشمنى وخت دې. اه والحديث اخرجه ايضا احمدومسلم والنسائى الترمذى وقال: حسن، واخرجه الدارقطنى وقال: اسناده صحيح. قاله في المنهل.

[۲۳۴۷]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ التَّيْمِيِّ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ مِنْ سُحُورِهِ، فَإِنَّهُ يُؤَذِّنُ، أَوْقَالَ: يُنَادِي، لِيَرْجِعَ قَائِمُكُمْ وَيَنْتَبِهَ نَائِمُكُمْ، وَلَيْسَ الْفَجْرُ أَنْ يَقُولَ هَكَذَا". قَالَ مُسَدَّدٌ: وَجَمَعَ يَحْيَى كَفَّيْهِ حَتَّى يَقُولَ هَكَذَا، وَمَدَّ يَحْيَى بِأُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَتَيْنِ.

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې فرمانې چه رسول پاك صلى الله عليه وسلم فرما ئيلي وو: منع دې نه كړي تاسو لره دپيشمنې خپل نه اذان دبلال ځكه چه دې اذان كوي، راوى وائى كه داسې ئې اوفرمائيل بلال دشپې اذان كوي ددې دپاره په تاسوكښې چه څوك دتهجد مونځ كوي هغه ارام اوكړى اوچه څوك أوده وي چه هغه دپيشمنې اودمونځ دپاره بيدارشي اودسحروقت هغه نه دې كوم چه داسې ظاهرشي، مسدد وائى چه راوى خپل دواړه ورغوي يوځاى كړل اوبره ئې كړل اووئې ښودل يعنى كومه چه كوږه او اوږده رڼړاوى دغه اول وخت دې سحرنه دې، نبى عليه السلام اوفرمائيل ترڅوچه داسې ظاهر نه شى اودشهادت ښئ اوگه گوته ئې خوره كړه.

شرح حديث :

راوى د فجر صادق او فجر كاذب ترمينځه د لاسو د گوتو په ذريعه اشاره كوى په ﴿ان يقول﴾ كښې دقول كلام معنى نشته بلكه قول حسب مواقع مختلف معانى كښې استعماليږى لكه چه وړاندې په ډيرو احاديثو كښې تير شو، مطلب دا دې چه يحيى د خپل لاس گوتې يوځائې كړې او مخامخ ئې د افق طرف ته طولا اشاره اوكړه او وې وئيل كه دا فجر نه دې نو دا فجر كاذب دې، او بيا ئې دوباره د خپلو دواړو لاسونو گوتې رايوځائې كړې او هغه ئې په پلنو باندې خورې كړې او وې وئيل چه ترڅو پورې داسې رڼړا نه وى

[1]: صحيح البخاري/الأذان ۱۳ (٦٢١)، الطلاق ۲٤ (٥٢٩٨)، أخبارالآحاد ۱ (٧٢٤٧)، صحيح مسلم/الصوم ۸ (۱۰۹۳)، سنن النسائي/الأذان ۱۱ (٦٤٢)، سنن ابن ماجه/الصوم ۲۳ (۱٦۹٦) (تحفة الأشراف: ۹۳۷٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸٦۷،۱/۳۹۲، ٤۳٥) (صحيح)

خوره شوي تر هغه وخته پورې فجر صادق نه وی، د دې حدیث د باقی مضمون شرح په کتاب الصلاة کښې په باب الاذان قبل الوقت کښې تیره شوې ده.

والحدیث اخرجه ایضا احمد والبخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة. (المنهل)

[۲۳۴۸]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُلَازِمُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ النُّعْمَانِ، حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ طَلْقٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا يَهِيدَنَّكُمُ السَّاطِعُ الْمُصْعِدُ، فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَعْتَرِضَ لَكُمُ الْأَحْمَرُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مِمَّا تَفَرَّدَ بِهِ أَهْلُ الْيَمَامَةِ.

ترجمه: دطلق رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی تاسوخورئ او څکئ اوتاسودې دخوراك څښاك نه هغه رڼرا منع نکړي کومه چه راخیژي صبح کاذب، بلکه تاسو خورئ اوڅکئ ترڅوچه سحرنه وي ظاهر شوې یعنی چه ښه رڼرا شوي نه وي.

توضیح الحدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه خوراک څکاک کوئ، او تاسو دې هغه رڼرا او نه یروی کومه چه پورته خیژی بلکه خوراک څکاک کوئ تردې چه رڼرا خوره شی. د احمر نه مراد ابیض دې یعنی فجر صادق، دې ته ئې احمر په دې وجه اووې چه د هغې نه روستو په افق کښې سرخی رابنکاره کیږی په خلاف د فجر کاذب چه هلته د رڼرا نه روستو بیا تیاره راشی. ﴿لا یهیدنکم ﴾دا د ﴿هاد یهید ﴾نه دې په مثل د باع یبیع. واهیده مثل ابیعه، وهدته کبعته، د دې معنی د خوزولو او پریشانه کولو ده، دا ماخوذ دې د "هید"بالکسر نه په معنی د حرکت. والحدیث اخرجه الترمذی وقال حسن غریب، واخرجه الدارقطنی، (المنهل)

[۲۳۴۹]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حُصَيْنُ بْنُ نُمَيْرٍ ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ الْمَعْنَى، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ سورة البقرة آية ۱۸۷، قَالَ: أَخَذْتُ عِقَالًا أَبْيَضَ وَعِقَالًا أَسْوَدَ فَوَضَعْتُهُمَا تَحْتَ وِسَادَتِي، فَنَظَرْتُ فَلَمْ أَتَبَيَّنْ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَضَحِكَ، فَقَالَ: "إِنَّ وِسَادَكَ لَعَرِيضٌ طَوِيلٌ، إِنَّمَا هُوَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ". وقَالَ عُثْمَانُ: "إِنَّمَا هُوَ سَوَادُ اللَّيْلِ وَبَيَاضُ النَّهَارِ".

ترجمه: دعدي بن حاتم نه روایت دې فرمائی چه کله آیت کریمه : «حتی یتبین لکم الخیط الأبیض من الخیط الأسود» نازل شو نوما داوښ دتړلو یوه توره رسئ او بله سپینه رسئ دیوبالخ لاندې کیخوده اوبیا دشپې په آخرکښې مې وکتل نوماته صفابنکاره نه شول په سحرکښې دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم اوددې عمل ذکرمې ورته اوکړو نبی علیه السلام وخاندل اووئې فرمائیل ستابالخ ډیر اوږد اوپلن دې (یعنی ته کم عقل ښکارې) دالله تعالی (سپین اوتور مزي نه مراد دشپې تیاره اورڼراده، دعثمان په روایت کښې دي چه ددې نه مراد دشپې توروالې اودورځې سپین والې دې.

[1]: سنن الترمذي/الصوم ۱۵ (۷۰۵)، (تحفة الأشراف: ۵۰۲۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳/۴) (حسن صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الصوم ۱۶(۱۹۱۶)، وتفسير البقرة ۲۸ (۴۵۰۹)، صحيح مسلم/الصيام ۸ (۱۰۹۰)، سنن الترمذي/تفسير البقرة ۱۷ (۲۹۷۰م)، (تحفة الأشراف: ۹۸۵۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷۷/۴)، سنن الدارمي/الصوم ۷ (۱۷۳۶) (صحيح)

توضیح الحدیث

مضمون حدیث خو واضح دې چه هغه صحابی خیط ابیض او اسود لره د دې په ظاهری معنی باندې محمول کولو سره په فجر صادق کښې په غلس کښې دوه تارونه یو تور او یو سپین د خپلې بسترې د لاندې کیخودل او څنګه څنګه چه تیاره ختمه شوه او رڼړا کیدله هغوی دې دواړو تارونو ته کتل چه کله خپل مینځ کښې ممتاز کیږی او دا امتیاز خیطین لره د پیشمنی د اخری وخت معیار اومنلو ﴿فنظرت فلم یتبین﴾یعنی د فجر صادق نه ډیر ساعت پس ماته په هغه دواړو کښې امتیاز او فرق ظاهر نه شو چه د هغې ذکر ما رسول الله ﷺ ته اوکړو، رسول الله ﷺ په هغې پورې اوخندل او وې فرمائیل چه ستا بالخت خو کافی اوږد او پلن دې چه د هغې د لاندې د شپې تیاره او د ورځې رڼړا هر څه ځائې کیږی.

د حدیث د دې جملې په شرح کښې د شارحینو نور هم اقوال دی، مونږ ته چه کومه معنی اقرب معلومه شوې وه هم هغه ئې اختیار کړه، بیا ئې ارشاد اوفرمائیلو : ﴿انما هو اللیل والنهار ﴾یعنی د خیط ابیض نه مراد بیاض النهار، او د خیط اسود نه مراد سواد اللیل دی، د خیط حقیقی معنی مراد نه ده، لهذا د آیت کریمه مطلب دا شو چه تاسو خوراک څکاک کوئ، تردې چه شپه پوره کیدو سره سحر شی او د یو بل نه ممتاز شی.

والحدیث اخرجه ایضا البخاری ومسلم والطحاوی وابن خزیمة والترمذی وقال: حسن صحیح، واخرجه الدارمی. (المنهل)

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَسْمَعُ النِّدَاءَ وَالْإِنَاءُ عَلَى يَدِهِ

په پیشمنی کښې چه کله اذان شروع شي او دچاپه لاس کښې لوښې وي

[۲۳۵۰] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا سَمِعَ أَحَدُكُمُ النِّدَاءَ وَالْإِنَاءُ عَلَى يَدِهِ، فَلَا يَضَعْهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَاجَتَهُ مِنْهُ".

ترجمه: دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کله چه په تاسوکښې یوکس دسحر اذان واوري اودده په لاس کښې دخوراك لوښی وي نو تر څو پورې چه ئې خپل ضرورت نه وي پوره کړې لوښې دې نه ګدي.

شرح حدیث :

متبادر معنی د حدیث دا ده چه د پیشمنی په اخری وخت کښې که د یو سړی په لاس کښې یو څیز وی چه د هغه اراده د هغې د خوړلو وی او هم په دې دوران کښې د سحر اذان شروع شی نو هغه دې د خوراک لوښې نه ږدی، یعنی د خوراک اراده دې نه ملتوی کوی بلکه هغه څیز دې اوخوری.

په دې معنی باندې اشکال ظاهر دې، ځکه چه د سحر اذان په فجر صادق باندې کیږی، هغه وخت خوراک څکاک کول ممنوع دی، په دې وجه د دې حدیث مختلف توجیهات کړې شوې دی، لهذا معنی مذکور اخستلو سره د دې دوه توجیهات کیدې شی. اول دا چه د رسول

(¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۰۲۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۲۳/۲، ۵۱۰) (حسن صحیح)

اللهﷺ مقصود په دې سره دا بیانول دی چه د پیشمنی بنیاد په طلوع فجر باندې دې په اذان فجر باندې نه دې، لهذا که د یو سړی ظن غالب دا دې چه طلوع فجر نه دې شوې نو سره د اذان نه خوراک کولې شی، دویمه توجیه دا کیدې شی چه د منتهاء سحر په باره کښې د بعض محققین حضراتو رائې دا ده چه هغه تبین فجر دې نه نفس طلوع فجر، او د اذان وخت شروع کیږی په نفس طلوع فجر باندې، او یا بیا دا اوئیلې شی چه په دې حدیث کښې د نداء نه نداء بلال مراد ده لکه چه اوس نزدې حدیث تیر شو چه اذان بلال د پیشمنی خوړلو نه مانع نه دې ځکه چه هغه د صبا راخنلو نه مخکښې وی، د تهجد وغیره مصالح دپاره، او یو توجیه دا هم کیدې شی چه د نداء نه مراد اذان مغرب دې، یعنی روژه دار چه کله روژه افطار کوی او د هغه په غوږ کښې د ماښام د اذان اواز پریوځی نو هغه دې د خپل افطار نه ځان نه بندوی، یعنی د مونځ په تیارئ کښې او یو قول دا دې چه دا حدیث ﴿اذا حضر العشاء والعشاء فابدؤا بالعشاء﴾ د قبیل نه دې، د صائم سره متعلق نه دې.

والحدیث اخرجه ایضا احمد والدارقطنی، والحاکم وقال : صحیح علی شرط مسلم. (المنهل)

بَابُ وَقْتِ فِطْرِ الصَّائِمِ

باب: د روژه ماتی د وخت بیان

[۲۳۵۱](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ هِشَامٍ الْمَعْنَى، قَالَ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ: عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا جَاءَ اللَّيْلُ مِنْ هَاهُنَا وَذَهَبَ النَّهَارُ مِنْ هَاهُنَا، زَادَ مُسَدَّدٌ: وَغَابَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ".

ترجمه: عاصم بن عمر د خپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کله چه د ماښام نه د شپې تیاره راخوره شی او ورځ د ماښام طرف ته روانه شی نو په دې وخت کښې دې روژه دار روژه ماته کړی، د مسدد په روایت کښې دا هم دی چه کله نمر پریوځي.

شرح حدیث

د اول ﴿ههنا﴾ اشاره مشرق طرف ته او د دویم ﴿ههنا﴾ د مغرب طرف ته دې، یعنی کله چه د مشرق د طرف نه تیاره راشی او د مغرب د طرف نه ورځ یعنی نمر راوخیژی نو انسان په افطار کښې داخل شو لکه چه وئیلې شی ﴿انجد اذا قام بنجد واتهم اذا اقام بتهامة﴾ لهذا هغه لره روژه ماتول پکار دی او په دې کښې ترغیب دې د تعجیل افطار او د ﴿افطر﴾ دویمه معنی دا لیکلې ده چه اوس هغه د مفطر یعنی روژه ماتولو والا په حکم کښې شو، یعنی اوس هغه په روژه کښې پاتې نه شو ځکه چه شپه د صیام شرعی ظرف نه دې خو راجح اوله معنی ده، ځکه چه د غرض حصول یعنی ترغیب فی تعجیل الافطار هم په دې معنی کښې دې.

والحدیث اخرجه ایضا البخاری ومسلم، والترمذی وقال حسن صحیح، والدارمی... قاله فی المنهل.

¹): صحيح البخاري/الصوم ٤٣(١٩٥٤)، صحيح مسلم/الصيام ١٠ (١١٠٠)، سنن الترمذي/الصوم ١٢ (٦٩٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٨، ٣٥، ٤٨)، سنن الدارمي/الصوم ١١ (١٧٤٢) (صحيح)

[۲۳۵۲]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ الشَّيْبَانِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى، يَقُولُ: "سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ صَائِمٌ، فَلَمَّا غَرَبَتِ الشَّمْسُ، قَالَ: "يَا بِلَالُ انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا"، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، لَوْ أَمْسَيْتَ؟ قَالَ: "انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا"، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ عَلَيْكَ نَهَارًا، قَالَ: "انْزِلْ فَاجْدَحْ لَنَا"، فَنَزَلَ فَجَدَحَ، فَشَرِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: "إِذَا رَأَيْتُمُ اللَّيْلَ قَدْ أَقْبَلَ مِنْ هَا هُنَا فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ"، وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ قِبَلَ الْمَشْرِقِ.

ترجمه: دعبدالله بن أبی أوفی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه مونږ دنبي علیه السلام سره روان شو اودهغه روژه وه کله چه نمر پریوتو نوبلال ته ئي اوفرمائيل اې بلاله دسورلۍ نه راکوز شه اوزمونږ دپاره ستوان تیار کړه هغه عرض اوکړو اې دالله رسوله که چرې انتظاردې کړې وې چه ښه ماښام شي نوښه به وه نبي علیه السلام ورته اوفرمائيل راکوز شه اوستوان تیارکړه بلال اووئيل اوس خولاورځ باقي ده نبي علیه السلام ورته اوفرمائيل راکوز شه اوستوان تیارکړه نوبیاهغه راکوز شو اوستوان ئي برابر کړل اونبي علیه السلام وڅکل بیائي اوفرمائيل کله چه تاسو اووینئ چه شپه ددې طرف نه شروع شوه نو تاسو پوهه شئ چه دروژه دار دروژې ماتولو وخت پوره شو اونبي علیه السلام پخپلې ګوتې مبارکې دمشرق طرف ته اشاره اوکړه.

شرح حديث :

عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه فرمائي چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر باندې روان وو، ظاهره ده دا ده چه دا سفر د غزوه فتح وو، ځکه چه د مسلم په روایت کښې تصریح ده چه دا سفر د رمضان د میاشتې وو، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په رمضان کښې سفر یا غزوه بدر دپاره فرمائيلې وو یا غزوه فتح دپاره یا د دې دواړو نه علاوه څه دریم سفر د هغه د رمضان په میاشت کښې نه وو شوې، او دا خبره معلومه شوه چه ابن ابی اوفی رضی الله عنه د هغه سره جنګ بدر کښې نه وو شریک شوې، لهذا دا سفر د غزوة الفتح شو. (المنهل) راوي وائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم دې وخت کښې روژه دار وو ځنګه چه نمر پریوتلو رسول الله صلی الله علیه وسلم بلال ته اوفرمائيل چه د سورلۍ نه کوز شه او ستوان تیار کړئ. ﴿اجدح﴾ د امر صیغه ده ﴿جدح﴾ چه د هغې معنی ده په ستوان په اوبو کښې اچول د هغه لرګی په ذریعه کوم ته چه مجدح وئيلې شي په دې باندې سیدنا بلال رضی الله عنه عرض اوکړو، یا رسول الله! که لږ نور مو ماښام کړې وې نو ښه وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل کوز شه او ستوان جوړ کړه، هغه عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم لا ورځ باقي ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: کوز شه شابه! او زمونږ دپاره ستوان جوړ کړه، د دې دریم ځل نه پس هغه فوري کوز شو او ستوان ئي جوړ کړل.

حافظ د دې حدیث په شرح کښې لیکي: چه د هغې حاصل دا دې چه سیدنا بلال رضی الله عنه ته لا د غروب شمس یقین نه وو راغلې یا خو د دې وجې نه چه د فضاء د بالکل صفا کیدو د وجې نه رڼا کافي وه، یا کیدې شي چه په اسمان باندې وریځ وغیره وي چه د هغې د وجې نه د هغه په غروب کښې شک پیدا کیږي، بهرحال هم په دې بنیاد باندې هغه د

[1]): صحیح البخاري/الصوم ۳۳ (۱۹۴۱)، ۴۳ (۱۹۵۵)، ۴۵ (۱۹۵۸)، والطلاق ۲۲ (۵۲۹۷)، صحیح مسلم/الصیام ۱۱(۱۱۰۱)، (تحفة الأشراف: ۵۱۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۳۸۰، ۳۸۲) (صحیح)

رسول اللهﷺ د حکم تعميل فوری اونکړو، او عرض ئي اوکړو ﴿لو امسيت﴾ يعنی ښه تياره کړئ او کوم چه په نفس حديث کښې دی ﴿فلما غربت الشمس﴾دا د راوی صحابی د طرف نه بيان واقع دې، او دا مطلب نه دې چه بلال هم دا خيال کولو چه نمر پريوتلې دې ځکه چه که داسې وې نو بيا هغه په تعميل ارشاد کښې توقف ځنګه کولې شو. اهـ من الفتح. او زمونږ په خيال کښې هم د دې ګنجائش دې چه په روايت ﴿فلما غربت الشمس﴾نه مراد د راوی قرب غروب وی چه رسول اللهﷺ د غروب نه مخکښې بلالؓ ته حکم اوفرمائيلو د ستوانو جوړولو او افطار انتظام کولو چه د افطار په وخت کيدو باندې تاخير افطار لازم نه شی، په دې وجه د بلالؓ دپاره ګنجائش دې د دې خبرې عرض کولو کوم چه هغه عرض کړو چه ښه طريقې سره ئي غروب کيدو ته پريږدئ.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ مِنْ تَعْجِيلِ الْفِطْرِ

بيان داستحباب د تعجيل په افطار کښې

[۲۳۵۳]()حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَزَالُ الدِّينُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ، لِأَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى يُؤَخِّرُونَ".

ترجمه: دابوهريره مينه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی دين به هميشه غالب وي ترڅوچه خلق په روژه ماتي کښې جلتي کوي ځکه چه عيسايان او يهوديان په روژه ماتي کښې تاخيرکوي.

توضيح الحديث

يعنی زمونږ دين اسلام به باقی ټولو دينونو باندې غالب وی تر هغه وخته پورې چه ترڅو پورې خلق په افطار کښې تعجيل کوی، ځکه چه يهود او نصاری تاخير کوی.
او د بخاری په يو روايت کښې داسې دی ﴿لا يزال الناس بخير الخ﴾د صحاح په روايت کښې خو هم داسې دی "ان اليهود والنصارى يؤخرون"او د ابن حبان او حاکم په يو روايت کښې من حديث سهل دا دې : "لا تزال امتی علی سنتی ما لم تنظرو بفطرها النجوم" يعنی زما امت به زما په سنت باندې قائم وی چه ترڅو پورې هغه په روژه ماتولو کښې د ستورو د راختلو انتظار نه کوی، ابن دقيق العيد فرمائی په دې حديث کښې رد دې په شيعه ګانو باندې ځکه چه هغوی افطار مؤخر کوی د ظهور نجوم پورې اهـ من المنهل. هم دغه شان د اهل تشيع په تاخير مغرب کښې اختلاف مشهور دې لکه چه په ابواب المواقيت کښې تير شو چه د هغوی په نزد مغرب نه داخليږی چه ترڅو پورې اشتباک نجوم نه وی.

والحديث اخرجه ايضا النسائی، وكذا الحاكم وابن ماجة بلفظ.... واخرجه الدارمی والبخاری بلفظ... (المنهل)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٠٢٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ٢٤ (١٦٩٨)، حم(٢/٤٥٠) (حسن)

[۲۳۵۴]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي عَطِيَّةَ، قَالَ: "دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَا وَمَسْرُوقٌ، فَقُلْنَا: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَحَدُهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ، وَالْآخَرُ يُؤَخِّرُ الْإِفْطَارَ وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ، قَالَتْ: أَيُّهُمَا يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ؟ قُلْنَا: عَبْدُ اللَّهِ، قَالَتْ: كَذَلِكَ كَانَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

ترجمه: دمسروق نه روايت دي فرمائي چه زه دام المومنين عائشه رضي الله عنها په خدمت كښې حاضر شوم اوعرض مي اوكړو اې ام المومنين په صحابه كرامو كښې دوه كسان داسې دي چه يوتن په دوى كښې په افطاركولوكښې جلتي كوي او په مونځ كښې هم جلتي كوي (يعنى اول وخت اودويم كس داسې دي چه هغه په روژه ماتي كښې هم تاخيركوي اوپه مونځ كښې هم تاخيركوي، ام المومنين عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل څوك چه په روژه ماتي كښې جلتي كوي او په مونځ كښې هم جلتي كوي هغه څوك دي ماعرض اوكړو عبدالله بن مسعود نه، ام المومنين عائشې رضي الله عنها اوفرمائيل نبى عليه السلام به هم داسې كول

بَابُ مَا يُفْطَرُ عَلَيْهِ

باب: روژه ماتې كوم څيز سره كول پكار دى؟

[۲۳۵۵]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنِ الرَّبَابِ، عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ عَمِّهَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ صَائِمًا فَلْيُفْطِرْ عَلَى التَّمْرِ، فَإِنْ لَمْ يَجِدِ التَّمْرَ فَعَلَى الْمَاءِ، فَإِنَّ الْمَاءَ طَهُورٌ".

ترجمه: دسلمان بن عامر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبى عليه السلام فرمائيلي دى كله چه ديو كس په تاسوكښې روژه وي نوپه كهجوروديې خپله روژه ماته كړي اوكه چرې كهجورې پيدانكړي نوپه اوبوديې روژه ماته كړي ځكه چه اوبه پاكونكي دى

توضيح الحديث

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چه روژه دار له پكار دى چه افطار په كهجورو سره اوكړى، كه هغه نه وى نو بيا په اوبو سره. او د هغې نه په روستو حديث كښې راځي چه خپله د رسول الله صلى الله عليه وسلم معمول په رطب باندې د افطار كولو وو يعنى تر كهجورې، او كه رطب نه وى نو بيا په تمر سره. او كه نه به وې نو بيا څو ګوټه اوبو سره

د افطار على التمر حكمت:

ملا على قارى رحمه الله ليكى چه په رطب يا تمر سره د افطار كولو حكمت كيدې شى چه دا وى چه هغه خوږ وى. او خوږ څيز د اعضاء رئيسه طرف ته طاقت زر رسوى. او په دې كښې اشاره ده د حلاوت ايمان طرف ته هم. او بعضو وئيلي دى چه د تمر د خوږ والى نه علاوه د خوراك قائم مقام هم دې. او چونكه نفس تولـه ورځ اوږې پاتې شوې دې په دې وجه د افطار

[1]: صحيح مسلم/الصيام ٩ (١٠٩٩)، سنن الترمذي/الصوم ١٣ (٧٠٢)، سنن النسائي/الصيام ١١ (٢١٦٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٨/٦، ١٧٣) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الزكاة ٢٦ (٦٥٨)، الصوم ١٠ (٦٩٥)، سنن ابن ماجه/الصيام ٢٥ (١٦٩٩)، (تحفة الأشراف: ٤٤٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨/٤، ٢١٤)، سنن الدارمي/الصوم ١٢ (١٧٤٣) (ضعيف)

دپاره داسې څيز خوبښ کړې شو کوم چه د خوږ والی سره سره خوراک هم دې. اه من البذل. او امام بخاری باب تړلې دې "باب ما يفطر بما تيسر بالماء وغيره"بيا ئې په دې کښې د عبدالله بن ابی اوفی هغه حديث ذکر کړې دې چه په هغې کښې دا دی چه رسول اللهﷺ سيدنا بلال رضی الله عنه ته اوفرمائيل : انزل فاجدح لنا. (کوم چه مونږ سره اوس نزدې تير شو) حافظ فرمائی : لعل البخاری اشار الی ان الامر فی قوله من وجد تمرا فليفطر عليه ومن لا فليفطر علی الماء، ليس علی الوجوب، وقد شذ ابن حزم فاوجب الفطر علی التمر والا فعلی الماء.اه بيا په حديث الباب کښې دی ﴿فان الماء طهور﴾چه په اوبو کښې الله پاک د تطهير صفت کيخودلې دې، ملا علی قاری رحمه الله فرمائی : پس ابتداء هم د دې نه کيدل پکار دی، تفاؤلا لا بطهارة الظاهر والباطن. والحديث اخرجه احمد والترمذی وابن ماجة والدارمی والحاکم وقال صحيح علی شرط البخاری. (المنهل)

[۲۳۵۶](1)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ عَلَى رُطَبَاتٍ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ رُطَبَاتٌ فَعَلَى تَمَرَاتٍ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ حَسَا حَسَوَاتٍ مِنْ مَاءٍ".

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام به په تازه کهجوروباندې افطار کولو مخکښې دمانځه نه اوکه تازه کهجورې به نه وې نوپه اوچوکهجورو به ئې افطار اوکړو اوکه دا به هم نه وې، نو د اوبويوڅوګوټونه به ئې اوکړل.

توضيح الحديث

قوله: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ عَلَى رُطَبَاتٍ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ...الخ:
چه نبی عليه السلام به د ماښام د مونځ نه مخکښې په څو کهجورو سره افطار کولو.

شرح حديث وما يستفاد منه :

شارحينو ليکلې دی چه په دې کښې اشاره ده د تعجيل افطار په مستحب کيدو باندې چه د فرض مونځ نه مخکښې به ئې افطار کولو، هم دغه شان به دا هم وئيلې شی چه په هغې کښې اشاره ده د تعجيل صلاة مغرب طرف ته هم، لکه چه ظاهر دې، ګينې باقاعده د تعشی نه پس به رسول اللهﷺ مونځ ادا فرمائيلو، پس په الدرالمنضود جلد اول ۲۲۴ کښې باب ما يصلی الرجل وهو حاقن... کښې د تقديم العشاء علی العشاء والا حديث باندې کلام کولو سره تير شوې دی چه علامه دسوقی فرمائی چه امام مالک رحمه الله د تقديم عشاء والا حديث لره اختيار کړې نه دې، د عمل اهل مدينه د وجې نه، پس هغه د تقديم عشاء قائل نه دې (بلکه د تقديم صلاة) البته په الشرح الکبير کښې ليکلې دی چه د صائم دپاره مستحب ده چه هغه د غروب نه روستو د صلاة مغرب نه په څو کهجورو سره افطار اوکړی او بيا باقاعده تعشی د ماښام د مونځ نه روستو اوکړی. اه

والحديث اخرجه ايضا احمد وابن ماجة والحاکم، والترمذی وقال حسن غريب. (قاله فی المنهل)

(1): سنن الترمذي/الصوم ۱۰ (۶۹۶)، (تحفة الأشراف: ۲۶۵) (حسن صحيح)

باب القول عند الافطار

د افطار په وخت کښې کومه دعا ويل پکار دی؟

[۲۳۵۷]([1])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى أَبُو مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ، أَخْبَرَنِي الْحُسَيْنُ بْنُ وَاقِدٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ يَعْنِي ابْنَ سَالِمٍ الْمُقَفَّعَ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقْبِضُ عَلَى لِحْيَتِهِ فَيَقْطَعُ مَا زَادَ عَلَى الْكَفِّ، وَقَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَفْطَرَ قَالَ: ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ".

ترجمه: دمروان بن سالم المقفع نه روايت دې فرمائی چه ما ابن عمر رضی الله عنه ليدلي ووچه خپله ږيره به ئي په موټی کښې ونيوله کومه چه به دموټي نه زياتي وه هغه به ئي کټ کړه اوفرمائيل به ئي چه نبي عليه السلام به کله روژه ماتوله نوداسي به ئي فرمائيل: «ذهب الظمأ وابتلت العروق وثبت الأجر إن شاء الله»يعنی تنده ماته شوه اورګونه تر اوتازه شول اوکه د الله تعالی خوښه وي ثواب ثابت شو.

توضيح الحديث

قوله: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ يَعْنِي ابْنَ سَالِمٍ الْمُقَفَّعَ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقْبِضُ عَلَى لِحْيَتِهِ فَيَقْطَعُ مَا زَادَ عَلَى الْكَفِّ، ..الخ".([2])

د ږيرې شرعی مقدار:

مروان بن سالم فرمائی: ما ابن عمر رضی الله عنه صحابی اوليدو چه هغه به خپله ګيره په خپل موټی سره نيولو او چه کومه حصه به د يو موټی نه بهر وه نو هغه به ئي پرې کړه.

مروان دې خپلې مشاهدې لره بيانولو سره ګويا اشاره اوکړه د خپل تابعی کيدو طرف ته، بيا چه وړاندې هغه ته کوم حديث بيانول غواړی هغه روايت کوی چه:

د روژه ماتی دعا:

ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَفْطَرَ، قَالَ: ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ".

او د هغې نه روستو والا په روايت مرسله کښې دا دعا را روانه ده، ﴿كان اذا افطر قال اللهم لک صمت وعلى رزقک افطرت﴾په كتاب الاذكار كښې د ابن سنی په حوالې سره د ابن عباس رضی الله عنه په حديث كښې دی: كان النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اذا افطر قال: اللهم لک صمنا وعلى رزقک افطرنا فتقبل منا انک انت السميع العليم... حضرت شيخ په حاشيه د بذل كښې د روضة المحتاجين نه نقل فرمائيلي دی چه په مذكوره دعا كښې "وبک امنت"او هم دغه شان "وعليک توكلت"د دې زيادت هيڅ اصل نشته اګر چه معنی د دې صحيح ده خو د دې كتاب نه يو بل ځائې كښې دا هم ظاهريږی چه دا زيادت په بل روايت كښې موجود دې. اهـ

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۴۴۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/اللباس ٦٤ (۵۸۹۲) (الشق الأول بسند آخر)، سنن النسائي/اليوم والليلة (۲۹۹) (حسن)

[2]) هكذا في اكثر النسخ بتقديم الفاء علي القاف، وهو تحريف من النساخ والصواب "المقفع" بتقديم القاف علي الفاء كما في التقريب وغيره. ١٢)

په دې روايت کښې دا چه د ابن عمر رضي الله عنه په باره کښې راغلې دی ﴿يقبض على لحيته فيقطع ما زاد على الكف ﴾د دې ذکر مونږ سره په کتاب الطهارت کښې "عشر من الفطرة" د لاندې تير شوې دې، په بخاری کښې دی تعليقا كان ابن عمر اذا حج او اعتمر قبض على لحيته فما فضل اخذه. حديث ابن عمر اخرجه ايضا النسائى والحاكم والبيهقى والدارقطنى.

والحديث الثانى اخرجه البيهقى من طريق المصنف، واخرجه الطبرانى فى الاوسط عن انس بن مالک قاله فى المنهل.

[۲۳۵۸]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ زُهْرَةَ، أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَفْطَرَ، قَالَ: اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ".

ترجمه: دمعاذبن زهره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه کله به نبی عليه السلام روژه ماتوله نودا دعا به ئې فرمائيله. «اللّهُمَّ لك صمت وعلى رزقك أفطرت» يعنى اې الله ماستادپاره روژه ونيوله اوستاپه رزق مې ماته کړه.

بَابُ الْفِطْرِ قَبْلَ غُرُوبِ الشَّمْسِ

بيان د روژه ماتی مخکښې د نمر پريوتلو نه

[۲۳۵۹]([2]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: أَفْطَرْنَا يَوْمًا فِي رَمَضَانَ فِي غَيْمٍ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ طَلَعَتِ الشَّمْسُ، قَالَ أَبُو أُسَامَةَ: قُلْتُ لِهِشَامٍ: "أُمِرُوا بِالْقَضَاءِ؟ قَالَ: وَبُدٌّ مِنْ ذَلِكَ".

ترجمه: داسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه يوه ورځ مونږ په رمضان کښې روژه ماته کړه او وريځ وه، په زمانه دنبی عليه السلام کښې اوبيانمر راوختو اسامه وائی ماهشام ته اووئيل ايا د قضاحکم ورته وشو؟ هغه اووئيل چه دروژې قضاخو لازمي ده.

توضيح الحديث

قوله: أَفْطَرْنَا يَوْمًا فِي رَمَضَانَ فِي غَيْمٍ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ طَلَعَتِ الشَّمْسُ:

يعنى يو ځل مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د وريځ په ورځ باندې روژه افطار کړه، (په دې خيال باندې چه نمر پريوتلې دې) خو بيا نمر راښکاره شو، په دې باندې شاګرد د استاذ نه تپوس اوکړو چه ايا بيا د دې روژې قضاء هم اوکړې شوه؟ هغه اوفرمائيل: ﴿وبد من ذلک ﴾ايا بغير د دې نه څه خلاصې وو يعنى قضاء ضروری وه.

د ائمه اربعه مذهب وجوب قضاء ده په دې کښې داود ظاهری، اسحاق بن راهويه وغيره اختلاف دې د هغوی په نزد قضاء نشته. حافظ هم په فتح البارى کښې ليکلې دی: وهى مسئلة خلافية، واختلف قول عمر فيها كما سيأتى.

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٤٤٤) (ضعيف)

[2]): صحيح البخاري/الصوم ٤٦ (١٩٥٩)، سنن ابن ماجه/الصيام ١٥ (١٦٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٤٦) (صحيح)

په حدیث الباب کښې اختلاف روایتین :

دا ترجمة الباب او حدیث هم دغه شان په روایت د ابو اسامه عن هشام په صحیح بخاری کښې هم دي، ولفظه : قیل لهشام فامروا بالقضاء؟ قال : بدّ من قضاء، وقال معمر : سمعت هشاما یقول: لا ادری اقضو ام لا، ګویا د هشام یو شاګرد یعنی اسامه خو د هغه نه دا نقل کړل چه بغیر د قضاء نه چاره کار نشته، یعنی قضاء ضروری ده.

د ائمه اربعه مذهب وجوب قضاء دې په دې کښې د داود ظاهری او اسحاق بن راهویه وغیره اختلاف دې د هغه په نزد قضاء نشته، حافظ هم په فتح الباری کښې لیکلي دي: وهي مسئلة خلافية، واختلف قول عمر فيها كما سياتي.

په حدیث الباب کښې اختلاف روایتین :

دا ترجمة الباب او حدیث هم دغه شان په روایت د ابو اسامه عن هشام په صحیح بخاری کښې هم دي، ولفظه : قیل لهشام فامروا بالقضاء؟ قال : بد من قضاء، وقال معمر سمعت هشاما یقول: لا ادری اقضوا ام لا.. ګویا د هشام یو شاګرد یعنی اسامه خو د هغه نه دا نقل کړي دي چه بغیر د قضاء نه خلاصي نشته، او د هغه بل شاګرد د معمر نه د هغه دا جواب نقل کړي دي چه ماته نه ده معلومه چه صحابه کرامو د دې قضاء راوړې وه یا نه؟ حافظ د دې توجیه دا کړې ده چه د هغه دا فرمائیل چه بغیر د قضاء نه خلاصي نشته، دا خبره هغه د څه دلیل په بنیاد باندې کړې ده یعنی من حیث المسئلة او د معمر په روایت کښې چه د هغه کوم جواب دې د هغې مطلب دا دې چه سیده اسماء رضی الله عنها چه کومه قصه بیانوی د رسول الله ﷺ د زمانې د هغې په باره کښې ماته علم نشته چه قضاء ثابته ده یا نه؟

په مسئلة الباب کښې د عمر رضی الله عنه مسلک :

حافظ په فتح الباری کښې د سیدنا عمر رضی الله عنه په واقعه کښې په داسې حال کښې چه هغه روژه ماته کړې وه او بیا نمر راښکاره شوې وو دې باره کښې دوه مختلف روایتونه د مصنف ابن ابی شیبه وغیره نه نقل کړي دی، پس په یو روایت کښې خو دا دی چه سیدنا عمر رضی الله عنه اوفرمائیل : لم نقض، والله ما تجانفنا الالم، یعنی په مونږ باندې د دې روژې قضاء نشته والله مونږ څه ګناه نه ده کړې، او په یو روایت کښې دی چه هغه اوفرمائیل : الخطب یسیر وقد اجتهدنا نقضی یوما. په دې کښې د ګناه هیڅ خبره نشته اجتهادی غلطی ده د یوې روژې قضاء به اوکړی، حافظ ابن حجر رحمه الله په دې مسئله کښې د علماء کرامو د اختلاف لیکلو نه پس د جمهور د مسلک تائید داسې کوی چه که په نهیشتم د شعبان باندې میاشت په نظر رانشی او د هغې په وجه خلق روژه او نه نیسی او بیا روستو دا ثابته شی چه دا میاشت د رمضان ده نو قضاء بالاتفاق واجب ده، پس دغه شان دا دویمه مسئله هم ده.

والحدیث اخرجه ایضا البخاری وابن ماجة والبیهقی والدارقطنی وقال اسناده صحیح ثابت،قاله فی المنهل.

باب فِي الوِصَالِ

د مسلسل روژو نیولو بیان

[۲۳٦۰](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْوِصَالِ، قَالُوا: فَإِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: "إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ، إِنِّي أُطْعَمُ وَأُسْقَى".

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روایت ئې فرمائی چه نبی عليه السلام دمسلسل روژونیولونه منع فرمائیلي ده داسې چه په مینځ کښې ئې افطارنه وي صحابه کرامو عرض اوکړو تاسو وصال کوئ یا رسول الله نبی کریم صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل: زه ستاسوپه شان نه یم ماته خوراك څښاك رارسيږي.

توضيح الحديث

امام بخاری رحمه الله په دې سلسله کښې دوه بابونه قائم کړې دی، اول "باب الوصال" چه په هغې کښې ئې هغه احادیث راوړې دی چه په هغې کښې مطلقاً د وصال نه منع کړې شوې ده لکه ﴿لا تواصلوا﴾ او ﴿نهى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن الوصال﴾ او دویم باب "باب الوصال الى السحر" امام ابوداود دا دواړه قسم روایات په دې یو باب کښې راوړې دی، په بذل کښې لیکی: وصال دا دې چه دوه ورځې یا د دې نه د زیاتو روژو تسلسل چه د شپې پکښې افطار نه وی. او په فتح الباری کښې د وصال په تعریف کښې لیکلې دی: د روژو په شپو کښې بالقصد هغه څیزونه ترک کول چه کوم د ورځې ترک کولې شی، لهذا که هغه څیزونه ئې اتفاقا پریخودل نو دا به وصال نه وی، خو په وصال کښې چه کوم ترک وی هغه عام دې د دې نه چه پوره شپه وی یا په بعض حصه کښې.

د صوم وصال حکم شرعي:

بیا د صوم وصال مسئله مختلف فیه ده، د جمهور علماء او ائمه ثلاث په نزد مکروه ده که ټوله شپه وی یا تر پیشمنی پورې وی، البته امام احمد او اسحاق او بعض شوافع لکه ابن المنذر او ابن خزیمه، او د مالکیانو د یو جماعت په نزد وصال الی السحر جائز دې، بیا د ائمه ثلاث په دې کښې اختلاف دې چه دا کراهت تحریمی دې یا تنزیهی، د احنافو په نزد مکروه تنزیهی دې کما فی الدر المختار، هم دغه شان د مالکیانو او حنابله په نزد هم او د شوافعو په نزد هم د تحریم دپاره دې، کما فی حاشیة شرح الاقناع. (الابواب والتراجم)

قوله: قَالُوا: فَإِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: "إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ، إِنِّي أُطْعَمُ وَأُسْقَى":

صحابه کرامو عرض اوکړو چه یا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خو هم وصال کوې، نو وې فرمائیل چه په دې کښې زه ستاسو په شان نه یم او په یو روایت کښې دی ﴿وایکم مثلی﴾ په تاسو کښې زما په شان څوک دې؟ په ما خو خوراك څکاك کولې شی.

(1): صحيح البخاري/الصوم ٢٠ (١٩٢٢)، ٤٨ (١٩٦٢)، صحيح مسلم/الصيام ١١ (١١٠٢)، (تحفة الأشراف: ٨٣٥٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ١٣ (٣٨)، مسند احمد (١١٢/٢، ١٢٨) (صحيح)

شرح حدیث:

د دې په شرح کښې د شارحينو ډير اقوال دی، بعض دا په حقيقت طعام وشراب باندې محمول کړې دې، او بيا په دې چه کوم اشکال راځی چه بيا دا وصال څنګه شو، چه دا طعام او شراب د جنت والا دې کوم چه مفسد صوم نه دې، خو د اکثر علماء کرامو رائې دا ده چه د طعام او شراب نه مراد د شراب او طعام لازم دې يعنی کوم طاقت چه په طعام او شراب سره حاصليږی هغه الله پاک ماته بغير د طعام او شراب نه راکوی، او وئيلې شوې دی چه مقصود په دې سره داحساس نفی ده، يعنی په رسول الله ﷺ چه د تجليات ربانيه او معارف الهيه کوم فيضان کيږی د هغې په وجه باندې ورته د لوږې او تندې احساس نه کيږی.

والحديث اخرجه ايضا احمد والبخاری ومسلم قاله فی المنهل.

[۲۳۶۱] ([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنَّ بَكْرَ بْنَ مُضَرَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تُوَاصِلُوا، فَأَيُّكُمْ أَرَادَ أَنْ يُوَاصِلَ فَلْيُوَاصِلْ حَتَّى السَّحَرِ"، قَالُوا: فَإِنَّكَ تُوَاصِلُ، قَالَ: "إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ، إِنَّ لِي مُطْعِمًا يُطْعِمُنِي وَسَاقِيًا يَسْقِينِي".

ترجمه: دابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې اوريدلی دې چه [۲۳۶۰] او يوه روژه دبلې روژې سره ديوځائې کولو اراده لری نوهغه دې دپيشمنې دوخته پورې يوځائې کړې صحابه کرامو عرض اوکړو اې دالله رسوله ته خوهم پرله پسې روژې نيسې؟ نبی علیه السلام اوفرمائيل زه تاسوپه شان نه يم زما دپاره خوراك څښاك راکونکې شته دې چه هغه په ماباندې خوروې اوڅکوې.

باب الْغِيبَةِ لِلصَّائِمِ

د روژې په حالت کښې د غيبت بيان

[۲۳۶۲] ([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ". وَقَالَ أَحْمَدُ: فَهِمْتُ إِسْنَادَهُ مِنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، وَأَفْهَمَنِي الْحَدِيثَ رَجُلٌ إِلَى جَنْبِهِ، أُرَاهُ ابْنَ أَخِيهِ.

ترجمه: دابوهريره نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی هريوکس چه دروژې په حالت کښې ئې بې فائدې خبرې اوبدکارونه کول پرې نږدې نوالله تعالى ته ددې ضرورت نشته چه هغه دې صرف خپل خوراك څښاك پريږدې، امام احمدفرمائی ما ددې حديث سند دابن ذوئيب نه معلوم کړې دې اوددې حديث متن ماده هغه کس نه معلوم کړې دې څوك چه دده په سنګ کښې ناست وو زماخيال دې چه هغه دده وراره وو.

شرح حدیث:

د زور معنی بعض باطل ليکلې ده، او بعض د دې تفسير په کذب او بهتان سره کړې دې چه

---

[1]: صحيح البخاري/الصوم ٤٨ (١٩٦٢)، ٥٠ (١٩٦٧)، (تحفة الأشراف: ٤٠٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٨٣، ٨٧)، سنن الدارمي/الصوم ١٤ (١٧٤٧) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الصوم ٨ (١٩٠٣)، سنن الترمذي/الصوم ١٦ (٧٠٧)، سنن ابن ماجه/الصيام ٢١ (١٦٨٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٣٢١)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/الصوم (٣٢٤٦)، مسند احمد (٢/٤٥٢، ٥٠٥) (صحيح)

کوم سړې ترک نه کړي قول زور او په هغې باندې عمل یعني د ناجائز او حرام کار ارتکاب، که قولا وي یا عملا نو الله پاک ته د داسې سړي د خوراک او څکاک پریخودلو حاجت نشته، د دې نه مراد عدم التفات او عدم مبالات دې چه دا کنایه ده د عدم قبول نه، هم دغه شان په دې حدیث کښې اشاره ده چه کوم سړې قول باطل او عمل حرام نه د روژې په حالت کښې ځان نه ساتی د هغه روژه د دې قابله نه ده چه د هغې نه په روژې سره تعبیر اوکړې شی، پس په حدیث کښې په ځائې د ﴿فلیس لله حاجة فی صومه﴾ د ترک طعام وشراب لفظ راغلي دې، لکه چه په یو بل حدیث کښې دی ﴿رب صائم لیس له من صیامه الا الجوع، ورب قائم لیس له من قیامه الا السهر﴾... رواه النسائی وابن ماجة عن ابی هریرة رضی الله عنه.

او وړاندې په بل حدیث کښې راځی ﴿اذا کان احدکم صائما فلا یرفث ولا یجهل فان امرء قاتله وشاتمه فلیقل انی صائم﴾.... ﴿یرفث﴾ د فاء په ضمې او کسرې سره دواړو طریقو سره صحیح ده، یعنی کلام فاحش، د بې حیایئ خبرې، او بې هوده خبرې ویطلق الرفث ایضا علی الجماع ومقدماته... او د جهالت کارونه دې نه کوی، د جهل معنی چه څنګه عدم علم راځی د جاهلانه حرکت هم راځی، کما فی قوله:

الا لا یجهلن احد علینا فنجهل فوق جهل الجهالینا

[۲۳٦۳] ()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الصِّيَامُ جُنَّةٌ، إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ صَائِمًا فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ، فَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ، فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ إِنِّي صَائِمٌ".

ترجمه: دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی روژې یو دال دې کله چه په تاسو کښې د چاروژه وي نوده لره پکاردې چه ئې فائدې خبرې نه کوي اونه دې دجهالت عملونه کوي که چرې څوك دده سره جنګ کوي یا ورته کنځل کوي نودې ورته اووائی چه زه روژه داریم

تشریح: بیا وړاندې په حدیث کښې دی چه که د روژه دار سره څوک جهګړې کوی او هغه ته کنځلې کوی نو هغه له پکار دی چه داسې اوائی چه زما روژه ده، د بعض رائې دا ده چه مراد دا دې چه هغه کنځلې کونکی ته اوائی چه زما روژه ده ما سره جهګړه مه کوه، او بعض دا وئیلي دی چه دا مراد دې چه خپل نفس ته اوائی او هغه دې پوهه کړي، حکی القولین الامام الخطابی، امام نووی رحمه الله اول مطلب ته راجح وئیلي دې په کتاب الاذکار کښې او په شرح مهذب کښې فرمائی والقول باللسان اقوی ولو جمعهما لکان حسنا. خو امام رافعی د اکثر ائمه کرامو نه دویمه معنی نقل کړې ده، او دریم قول دا دې چه که د رمضان روژه وی نو په ژبې سره دې اوائی او که نفلی وی نو په خپل زړه کښې دې اوائی. اهـ مختصرا من الاوجز.

[1]: صحیح البخاري/الصوم ۲ (۱۸۹٤)، ۹ (۱۹۰٤)، سنن النسائي/الصیام ۲۳ (۲۲۱۸)، سنن ابن ماجه/الصیام ۲۱ (۱٦۹۱)، (تحفة الأشراف: ۱۳۸۱۷)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الصیام ۳۰ (۱۱۵۱)، سنن الترمذي/الصوم ۵۵ (۷٦٤)، موطا امام مالك/الصیام ۲۲ (۵۷)، مسند احمد (۲/۲۳۲)، سنن الدارمي/الصوم ۵۰ (۱۸۱۲) (صحیح)

مصنف ترجمه قائم کړې وه په غیبت سره، په حدیث کښې اګرچه صریح لفظ غیبت مذکور نه دې خو ﴿قول زور﴾ یعنی قول باطل وحرام د خپل عموم په بناء باندې غیبت ته هم شامل دې.

ځان پوهه کړه چه په دې کښې خو د چا اختلاف هم نشته چه کلام فاحش او کنزلو سره د روژې ثواب کمیږی، خو په دې کښې اختلاف دې چه په دې څیزونو سره روژه فاسدیږی یا نه، د سفیان ثوری او اوزاعی نه نقل دی چه غیبت مفسد صوم دې.

الحديث الاول اخرجه ايضا احمد والبخاري وابن ماجة والترمذي والنسائي والبيهقي.

والحديث الثاني اخرجه ايضا مسلم والبيهقي، واخرجه مالك في الموطاء، والترمذي ومسلم والبخاري مطولا، قاله في المنهل.

بَابُ السِّوَاكِ لِلصَّائِمِ

باب دې په بیان د مسواک وهلو د روژه دار دپاره

[٢٣٦٤] () حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ وَهُوَ صَائِمٌ"، زَادَ مُسَدَّدٌ: مَا لَا أَعُدُّ وَلَا أُحْصِي.

ترجمه: عبید الله بن عامر بن ربیعه دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه ما نبی ﷺ د روژې په حالت کښې اولیدو چه مسواک ئې وهلو دمسدد په روایت کښې دا اضافه ده چه دومره پیرې ئې مسواک اووهلو چه زه ئې نه شم شمیرلې۔

توضيح الحديث

قوله: عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ وَهُوَ صَائِمٌ"، زَادَ مُسَدَّدٌ: مَا لَا أَعُدُّ وَلَا أُحْصِي: عامر بن ربیعه فرمائی چه ما ډیر کرته رسول الله ﷺ په مسواک کولو باندې لیدلې دې په داسې حال کښې چه هغه به روژه دار وو.

په سواک للصائم کښې مذاهب ائمه:

د دې حدیث نه د روژه دار دپاره د سواک استحباب معلومیږی مطلقا، که قبل الزوال وی یا بعد الزوال وی، په ائمه کرامو کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله هم دا مذهب دې، د نورو ائمه کرامو په دې کښې اختلاف دې............ د امام شافعی رحمه الله مشهور مذهب دا دې استحباب سواک قبل الزوال، او بعد الزوال کراهة، او د امام مالک رحمه الله په نزد د رطب او یابس فرق دې یعنی که مسواک تر وی نو مکروه او که اوچ وی نو مکروه نه دې، امام احمد دا دواړه مذاهب راجمع کړې دی، یعنی قبل الزوال کراهت دې صرف د تر مسواک او بعد الزوال مطلقا مکروه دې که تر وی او که خشک وی، او په احنافو کښې د امام ابویوسف رحمه الله رائې دا ده لکه چه په بذل کښې د "بدائع" نه منقول دی چه د هغوی په نزد استیاک بالسواک المبلول (یعنی کوم چه په اوبو کښې تر کړې شوې وی) مکروه دې چه د هغې وجه دا فرمائی: فيه ادخال الماء في الفم من غير حاجة، صاحب بدائع فرمائی: او زمونږ دلیل دا

(): سنن الترمذي/الصوم ٢٨ (٧٢٥)، (تحفة الأشراف: ٥٠٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤٥/٣، ٤٤٦) (ضعيف)

دي چه رسول اللهﷺ فرمائی ﴿خير خلال الصائم السواک ﴾چه په هغې کښې د مبلول او غیر مبلول هيڅ قيد نشته. اهـ

تنبيه : امام ترمذی رحمه الله د حديث الباب نه روستو فرمائی : **والعمل على هذا عند اهل العلم، لا يرون بالسواک للصائم باسا، الا ان بعض اهل العلم كرهوا السواک للصائم بالعود الراطب وكرهوا له السواک اخر النهار، ولم ير الشافعی بالسواک باسا اول النهار واخره، وكره احمد واسحاق اخر النهار.** اهـ امام ترمذی رحمه الله د امام شافعی رحمه الله مسلک مطلقا د استحباب مسواک نقل کړې دې خو دا خلاف مشهور دې، مشهور مذهب د هغه هم هغه دې کوم چه اوليکلې شو، په صحيح بخاری کښې دی امام ابن سيرين رحمه الله فرمائی چه په حالت صوم کښې په تر مسواک کښې هيڅ باک نشته، **قيل له طعم، قال : والماء له طعم وانت تمضمض به.** يعنی چا هغه ته اووې چه د لوند لرګی په مسواک کښې خو د لرګی خوند وی نو هغه ورته جواب ورکړو چه په اوبو کښې خو هم ذائقه وی او ته پرې د روژې په حالت کښې خوله کنګالوې.

په دې مسئله کښې د شوافع استدلال :

د شوافعو استدلال په قبل الزوال وبعد الزوال کښې د هغه مشهور حديث نه دې **لخلوف فی الصائم اطيب عند الله من ريح المسک**، د هغه طريق استدلال دا دې چه د روژې د وجې نه چه د روژه دار په خوله کښې کومه بدبوئی پيدا کيږی هغه بعد الزوال پيدا کيدل شروع شی، حال دا چه هغه د الله پاک په نزد خوښ او محبوب دې، او په مسواک سره هغه زائل کيږی، د دې مشهور جواب دا دې چه خلوف هغه بدبوئی ته وئيلې شی کوم چه د معدې د خالی کيدو د وجې نه پيدا کيږی چه د هغې ازاله په مسواک سره نه کيږی، په مسواک سره صرف د ظاهر فم د بوئی ازاله کيږی خپله حافظ هم د دې اعتراف کړې دې چه د شوافعو استدلال د دې حديث نه صحيح نه دې.

فائده : امام نسائی رحمه الله په ابواب السواک کښې يو باب په دې عنوان سره هم قائم کړې دې "**باب السواک للصائم بعد العشی**"د دې د لاندې ئې هغه حديث راوړې دې "**لولا ان اشق على امتی لامرتهم بالسواک عند کل صلاة**"دا د هغه يو لطيف استنباط دې ځکه چه په دې حديث کښې رسول اللهﷺ فرمائی چه د هر يو مونځ په وخت زما دپاره د امر بالسواک نه يو څيز هم مانع نه دې سوا د مشقت د ويرې نه، معلومه شوه چه صوم يو وخت هم د سواک نه مانع نه دې.

وحديث الباب اخرجه احمد والبيهقی وابن خزيمة فی صحيحه، والترمذی وقال حسن، والبخاری تعليقا قاله فی المنهل.

....

بَابُ الصَّائِمِ يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ مِنَ الْعَطَشِ وَيُبَالِغُ فِي الِاسْتِنْشَاقِ

باب: روژه دار د تندې په وجه ځان باندې اوبه واچوي او په پوزه کښې اوبه اچولو کښې مبالغه اوکړي نو ددې د حکم بيان

[۲۳۶۵]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ النَّاسَ فِي سَفَرِهِ عَامَ الْفَتْحِ بِالْفِطْرِ، وَقَالَ: "تَقَوَّوْا لِعَدُوِّكُمْ"، وَصَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، قَالَ أَبُو بَكْرٍ: قَالَ الَّذِي حَدَّثَنِي: لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ وَهُوَ صَائِمٌ مِنَ الْعَطَشِ أَوْ مِنَ الْحَرِّ.

ترجمه: سمي ځوک چه دابوبکر بن عبدالرحمن آزاد کړې شوې غلام دې په صحابه کرامو کښې ديوکس نه روايت کوي فرمائي چه ما نبي عليه السلام اوليدو په کوم کال چه مکه فتحه شوې وه خلقوته ئې دسفرپه دوران کښې دروژې ماتولوحکم کړې وو اوفرمائيلي ئې وو تاسو ددشمن مقابلې ته ځان طاقتور کړئ، أبوبکر رضي الله عنه اووئيل ماته دغه صحابي اوويل يقينا ما نبي عليه السلام اوليدوچه هغه په عروج مقام کښې دروژې په حالت کښې پخپل سرباندې اوبه اچولې ددې دپاره چه په تنده اودګرمۍ په شدت کښې کمې راشي.

توضيح الحديث

دلته دا حديث مختصر دې، وړاندې "باب الصوم في السفر" کښې سيدنا ابوسعيد خدري رضي الله عنه په يو روايت کښې داسې دی هغه فرمائي چه د فتح مکه په کال باندې د رمضان په مياشت کښې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کښې وو، هغه چه کله يو منزل ته اورسيدو په داسې حال کښې چه خپله ئې روژه وه خو صحابه کرامو ته ئې اوفرمائيل : ﴿انکم قد دنوتم من عدوکم والفطر اقوى لکم﴾ چه اوس تاسو دشمن ته نزدې شوئ (ګويا د مقابلې وخت راروان دې) په داسې صورت کښې افطار ستاسو دپاره د قوت سبب دې، بيا وړاندې په حديث الباب کښې دا دی صحابي فرمائي چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم اوليدو په مقام عرج کښې (دا د مکې او مدينې ترمينځه د يو منزل نوم دې) چه هغه په خپل سر مبارک باندې اوبه اچولې په داسې حال کښې چه هغه روژه دار وو، د تندې يا ګرمۍ د وجې نه.

د دې حديث نه معلومه شوه چه د روژه دار دپاره د روژې په حالت کښې د تندې او ګرمۍ د تخفيف دپاره غسل کول يا په سر باندې اوبه اچول يا تر کپړه په سر باندې کيخودل جائز دی، هم دا د جمهورو رائې ده، په احنافو کښې د امام ابويوسف هم دا رائې ده، او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد داسې کول مکروه تنزيهي دی. کما في البذل عن البدائع. پس دا حديث د هغه خلاف شو، د دې جواب دا کړې شوې دې چه د امام صاحب په نزد کراهت په هغه صورت کښې دې چه کله داسې کول اظهارا للضجر (د روژې نه تنګيدلو او ويريدلو سره) وی او د ضعف او عجز د اظهار په طور وی نو بيا مکروه نه دی.

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۸۸)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ۷ (۲)، مسند احمد (۴۷۵/۳، ۶۳/۴، ۳۷۶/۵، ۳۸۰، ۴۰۸، ۴۳۰) (صحيح)

والحديث اخرجه مالک فی الموطاء والشافعی فی مسنده، واحمد والنسائی والحاكم والبيهقی وصححه ابن عبدالبر، قاله فی المنهل.

[۲۳۶۶]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ لَقِيطِ بْنِ صَبْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ لَقِيطِ بْنِ صَبْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَالِغْ فِي الِاسْتِنْشَاقِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا".

ترجمه: لقيط بن صبره دخپل پلارنه روايت کوی فرماني چه نبی ﷺ فرمائيلی دی چه په پوزه کښې په اوبوا چولوکښې مبالغه کوئ ليکن که چرې ستاسو روژه وي نو مبالغه مه کوي (هسې نه چه په زورسره دماغوته ورسيږي)

توضيح الحديث

دا حديث تفصيلا په کتاب الطهارت کښې تير شوې دې، په دې حديث کښې په حالت صوم کښې د مبالغه فی الاستنشاق نه منع کړې شوې ده، په ترجمة الباب کښې دوه اجزاء وو د يو جزء مناسب د باب اولنې حديث دې، د دويم جزء مناسب دا حديث ثانی دې، د مبالغه فی الاستنشاق ممانعت په دې وجه دې چه په دې صورت کښې احتمال دې د وصول ماء الی الدما کوم چه مفسد صوم دې لهذا که يو سړی مبالغه اوکړه او د هغې د وجې نه ئې اوبه دماغو ته اورسيدې يعنی خطاء نو د احنافو او مالکيانو په نزد به ئې روژه فاسد شی او د هغه په ذمه باندې به قضاء وی، او د امام احمد، اسحاق او اوزاعی په نزد به فاسد نه وی، خطاء لره په نسيان باندې قياس کولو سره، او د امام شافعی نه دواړه روايتونه دی د فساد صوم او عدم فساد، مزنی د فساد قائل دې او نور اصحاب شافعی د عدم فساد.

اصل کلی مستفاد من الحديث :

د دې حديث نه زمونږ فقهاء کرامو دا قاعده مستنبط کړې ده چه د يو څيز جوف دماغ يا جوف بطن ته رسيدل مفسد صوم دی، او بيا په دې اصول باندې زمونږ د زمانې دوه مسئلې متفرع کيږی، مسئله شرب الدخان (تمباکو څکل، لکه چيلم او سګريټ وغيره) دويمه مسئله د انجکشن، په اوله مسئله کښې خو د فقهاء کرامو اتفاق دې چه هغه مفسد صوم دې، البته په مسئله ثانيه يعنی انجکشن کښې د علماء عصر اختلاف دې خو راجح او مفتی به هم دا ده چه هغه مفسد صوم نه دې، چه د هغې وجه دا ده چه روژه هغه وخت مفسد صوم وی چه کله يو څيز جوف بطن يا جوف دماغ ته د منافذ اصليه په ذريعه اورسولې شی، او د انجکشن حال دا دې چه بعض انجکشن خو داسې دی چه د هغې په ذريعه دوائی جوف دماغ يا جوف بطن ته نه رسيږی، او بعض اګر چه داسې دی چه هغې سره دوائی هلته اورسيږی خو دا رسيدل په منافذ اصليه سره نه دی بلکه عروق يعنی د رګونو په لاره باندې رسيږی او هغه د منافذه اصليه نه نه دی.

والحديث اخرجه ايضا النسائی وابن ماجة فی الوضوء، واخرجه الترمذی فی الصيام وللبيهقی نحو حديثه، قاله فی المنهل.

[1]: انظر حديث رقم: (۱۴۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۷۲) (صحيح)

بَابٌ فِي الصَّائِمِ يَحْتَجِمُ

د روژه دار لپاره د ښکر لګولو بیان

دلته دوه خیزونه دی، احتجام فی الصوم او په دې کښې مذاهب ائمه، دویم بحث دلیل مسئله.

بحث اول:

ځان پوهه کړه چه دې باره کښې روایات مختلف دی، د منع او جواز په اعتبار سره، هم دغه شان مصنف دلته دوه بابونه قائم کړې دی، په اول باب کښې د منع روایات، او په دویم باب کښې د رخصت او د جواز روایات ذکر کړې دی، ابن رشد په بدایة المجتهد کښ، په دې کښې د علماء کرامو درې مذاهب لیکلي دی.

۱: په حالت صوم کښې د حجامت نه بچ کیدل واجب دی، او هغه دا چه مفطر صوم دې، هم د دې قائل دی امام احمد، داود ظاهری، اوزاعی او اسحاق بن راهویه.

۲: دویم قول د کراهت دې او دا چه هغه مفطر صوم نه دې، د دې قائل دی امام مالک، امام شافعي او سفیان ثوري.

۳: عدم کراهت یعني بغیر د کراهت نه جائز دی، د دې قائل دی امام ابوحنیفه او د هغه اصحاب، وسبب اختلافهم تعارض الاثار الواردة فی ذلک الی اخره. (۱)

هم دغه شان امام ترمذی رحمه الله هم په دې باب دوه بابونه قائم کړې دی د منع او د جواز دواړو، امام ترمذی د امام شافعی نه اولا د هغه دا قول نقل کړې دې چه که یو سړې د روژې په حالت کښې ښکر اولګوی نو زه هغه مفطر نه ګنړم خو زما په نزد دې نه ځان ساتل غوره دی، امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه د امام شافعی رحمه الله دا رائې هغه وخت وه چه کله هغه په بغداد کښې وو او مصر ته د تلو نه پس هغه د رخصت طرف ته مائل شو او په دې کښې به ئې څه باک نه ګنړلو، او په دلیل کښې ئې دا اوفرمائیل چه د رسول الله ﷺ نه په حجة الوداع کښې د روژې په حالت کښې صوم احتجام ثابت دې او علامه طیبی شافعی په دې کښې درې مذاهب لیکلي دی، د امام احمد او اسحاق په نزد مفسد صوم کیدل، او مسروق، حسن بصری او ابن سیرین په نزد کراهت او د اکثر علماء کرامو په نزد چه په هغوی کښې ئې امام مالک، شافعي او ابوحنیفه هم شمار کړې دې عدم کراهت لیکلي دې، امام محمد رحمه الله په موطاء کښې د احنافو مسلک د عدم کراهت لیکلي دې په دې شرط چه د ضعف راتلو ویره نه وی ګینې مکروه دې اهـ مولانا عبدالحی صاحب د دې په تائید کښې په حواله د طحاوی د دې قسم ډیر روایات ذکر کړې دی چه د صائم دپاره د حجامت کراهت د ضعف د وجې نه دې، او بیا مولانا د حازمی نه د امام مالک او شافعی مسلک هم نقل کړې دې، او هم دغه شان مذاهب حضرت شیخ په اوجز کښې لیکلي دی، یعنی د احنافو (۲) او د مالکیانو په نزد کراهت عند خوف الضعف، پس حاصل دا شو چه د امام احمد په نزد مفسد صوم اود مسروق، حسن بصری او ابن سیرین په نزد کراهت مطلقا، او د احنافو او

---

(۱) ابن رشد چه کوم مذاهب لیکلي دی په هغې کښې غلطی ده لکه چه روستو به معلوم شی.

(۲) ففي كتاب الكافي لابن عبدالبر ۲۵۲/۱، ولا باس بالحجامة للصائم اذا لم يخش الضعف عن تمام صومه اهـ

مالکیانو په نزد د ضعف د وجې نه کراهت ګیني اباحت، او د امام شافعي رحمه الله مسلک د امام ترمذي رحمه الله په کلام کښې تیر شوې دی چه په شروع هغه د ترک د اولی کیدو قائل وو او روستو د رخصت.

[۲۳۶۷](۱)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ هِشَامٍ ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا حَسَنُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، جَمِيعًا عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ يَعْنِي الرَّحَبِيَّ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ". قَالَ شَيْبَانُ: أَخْبَرَنِي أَبُو قِلَابَةَ، أَنَّ أَبَا أَسْمَاءَ الرَّحَبِيَّ، حَدَّثَهُ أَنَّ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: دثوبان نه روایت دي فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه په روژه کښې ښکراولګولو نودده روژه ماته شوه او چاته چه ښکراولګیدو دهغه هم روژه ماته شوه، دابو قلابه په واسطه باندې ابو اسماء الرجی دثوبان نه داروایت مرفوع بیان کړې دې.

[۲۳۶۸](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا حَسَنُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ يَحْيَى، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو قِلَابَةَ الْجَرْمِيُّ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ شَدَّادَ بْنَ أَوْسٍ بَيْنَمَا هُوَ يَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ.

ترجمه: دشداد بن أوس رضی الله عنه نه راویت دي فرماني چه زه د نبی علیه السلام سره روان وم او پاتې روایت دتیر شوي روایت په شان دې.

[۲۳۶۹](۳)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ، عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى عَلَى رَجُلٍ بِالْبَقِيعِ وَهُوَ يَحْتَجِمُ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِي لِثَمَانِ عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ، فَقَالَ: "أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، بِإِسْنَادِ أَيُّوبَ، مِثْلَهُ.

ترجمه: دشداد بن أوس رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه نبی علیه السلام په بقیع مقام کښې یو کس ته ورغې اوهغه به خلقو ته ښکر لګول اونبی علیه السلام زمالاس نیولې وو، نبی علیه السلام اوفرمائیل دښکرلږونکي او چاته چه ښکرلږوي ددواړو روژه ماتیږي. دا واقعه داتلسم رمضان وه، امام ابوداود فرماني چه خالد الحذاء دابو قلابه نه اوهغه دایوب نه په خپل سند سره روایت نقل کړې دي.

[۲۳۷۰](۴)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي مَكْحُولٌ، أَنَّ شَيْخًا مِنَ الْحَيِّ، قَالَ عُثْمَانُ فِي حَدِيثِهِ: مُصَدَّقٌ أَخْبَرَهُ، أَنَّ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ".

---

۱): سنن ابن ماجه/الصيام ۱۸ (۱۶۸۰)، (تحفة الأشراف: ۲۱۰۴)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري (۳۱۳۵)، مسند احمد (۲۷۶/۵، ۲۷۷، ۲۸۰، ۲۸۲، ۲۸۳)، سنن الدارمي/الصوم ۲۶ (۱۷۷۴) (صحيح)

۲): سنن ابن ماجه/الصيام ۱۸ (۱۶۸۱)، (تحفة الأشراف: ۴۸۲۳)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري (۳۱۴۴)، مسند احمد (۱۲۳/۴، ۱۲۴، ۱۲۵)، سنن الدارمي/الصوم ۲۶ (۱۷۷۱) (صحيح)

۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۴۸۱۸)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري (۳۱۴۱)، مسند احمد (۱۲۲/۴، ۱۲۴) (صحيح)

۴): انظر حديث رقم: (۲۳۶۸)، (تحفة الأشراف: ۲۱۰۴) (صحيح)

ترجمه: دثوبان نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی ښکر لګونکی او چاته چه ښکرولري دواړو خپله روژه ماته کړه.

[۲۳۷۱]()حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا الْعَلَاءُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ الرَّحَبِيِّ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَفْطَرَ الْحَاجِمُ وَالْمَحْجُومُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ ابْنُ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَكْحُولٍ، بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ.

ترجمه: دثوبان نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی ښکر لګونکي او چاته چه ښکرولېږي دواړو خپله روژه ماته کړه، امام ابوداود فرمائیلي دي ابن ثوبان د خپل پلار په واسطه دمکحول نه داسې روایت نقل کړې دې

بحث ثانی : کلام علی الدلائل،

امام ابوداود په اول باب کښې ﴿افطر الحاجم والمحجوم﴾اولاً د حضرت ثوبان حدیث ثانیا شداد بن اوس رضی اللہ عنہ حدیث ذکر فرمائیلي دي، او امام ترمذی رحمہ اللہ هم دا حدیث ﴿افطر الحاجم والمحجوم﴾د رافع بن خدیج رضی اللہ عنہ د روایت ذکر کولو نه پس فرمائی : وفي الباب عن سعد وعلى وشداد بن اوس وثوبان واسامة بن زيد وعائشة ومعقل بن يسار وابى هريرة وابن عباس وابى موسى وبلال، قال ابو عيسى : حديث رافع بن خديج حديث حسن صحيح.

د دې نه پس امام ابوداود په بل باب کښې باب الرخصة في ذلک کښې اولاً د ابن عباس حدیث ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احتجم وهو صائم، او په بل طریق کښې ﴿احتجم وهو صائم محرم﴾ذکر کړې دي چه رسول الله ﷺ په حجة الوداع کښې ښکر اولګولو د صوم په حالت کښې، دا حدیث د باب اول د حدیث خلاف دې، د دې نه جواز حجامت فی الصوم معلومیږی، هم په دې وجه باندې مصنف په دې باندې د رخصت باب قائم فرمائیلي دې، اوس دلته دا کتل دی چه په دې دواړو احادیثو کښې کوم یو زیات صحیح دې.

حدیث ثوبان او حدیث ابن عباس تخریج :

پس ځان پوهه کړه چه باب اول والا حدیث، افطر الحاجم والمحجوم. دا د سنن روایت دې او په صحیحین کښې په یو کښې هم نشته، البته امام بخاری دا د ترجمة الباب د لاندې تعلیقا ذکر فرمائیلي دې او هغه هم په صیغه د تمریض یعنی "ویروی"او حدیث رخصت یعنی حدیث ابن عباس دا په څو طریقو سره نقل دي ۱ احتجم وهو محرم، واحتجم وهو صائم ۲: احتجم وهو صائم، ۳ احتجم وهو محرم. په صحیح بخاری کښې خو دا حدیث په دې ټولو طرقو سره مذکور دي، او په صحیح مسلم کښې صرف اخری صورت یعنی ﴿احتجم وهو محرم﴾دې، الحاصل د بخاری په روایت کښې د ابن عباس په حدیث کښې احتجام فی الصوم او احتجام فی الاحرام‌دواړه ذکر دی، هم په دې وجه باندې امام بخاری دا حدیث په کتاب الحج او کتاب الصوم دواړو ځایونو کښې راوړې دې، او د مسلم شریف په روایت کښې چونکه صرف احتجام مذکور دي په دې وجه هغه دا صرف په کتاب الحج کښې راوړې دې،

(): انظر حدیث رقم :(۲۳۶۸)، (تحفة الأشراف: ۲۱۰٤) (صحیح)

د دې تخريج نه معلومه شوه چه حديث ابن عباس، کوم چه په جواز باندې دلالت کوی هغه د بخاری حديث دې او حديث ﴿افطر الحاجم والمحجوم ﴾نه زيات صحيح دې.

تنبيه : په ترمذی کښې حديث داسې نقل دې ﴿عن ابن عباس قال احتجم رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وهو محرم صائم ﴾، قال ابو عيسى : هذا حديث صحيح، په دې باندې په تحفة الاحوذی کښې ليکلې دی واخرجه الشيخان. د پورته ذکر شوی تفصيل نه معلومه شوه چه د مسلم په روايت کښې ﴿احتجم وهو صائم ﴾موجود نه دې لهذا د شيخين طرف ته د دې نسبت کول صحيح نه دی.

د جمهورو د طرف نه د افطر الحاجم والمحجوم جوابات :

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه جمهور علماء او ائمه ثلاث په نزد کوم چه د جواز حجامت فی الصوم قائل دی د هغوی د طرف نه د ﴿افطر الحاجم والمحجوم ﴾والا حديث مختلف جواب ورکړې شوې دی، مولانا عبدالحئ صاحب په التعليق الممجد کښې د جمهورو د طرف نه د دې دوه جوابونه ورکړې دی،

(**رومبې جواب**): اول دا چه د منسوخ دې، ځکه چه د دې حديث په بعض رواياتو کښې د دې خبرې تصريح ده چه هغه دا حديث د فتح مکه په کال باندې ارشاد فرمائيلې وو، پس شداد بن اوس د چا د روايت حواله چه امام ترمذیﷺ وفی الباب د لاندې ورکړې ده د هغه روايت داسې دې : انه مر مع رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمن الفتح على رجل يحتجم لثمان عشرة خلت من رمضان فقال افطر الحاجم والمحجوم. نور هم ډير صحابه کرام کوم چه امام ترمذی د وفی الباب د لاندې ذکر فرمائيلې دی د هغوی په رواياتو کښې هم دغه شان دی، او د رسول اللهﷺ د احتجام قصه چه د هغې راوی ابن عباس دې هغه د حجة الوداع ده، لهذا حديث الافطار په وجه د تقدم منسوخ او حديث ابن عباس د هغه دپاره ناسخ شو.

(**دويم جواب**): بل جواب مولانا دا نقل کړې دې چه د رسول اللهﷺ ارشاد د حجامت د وجې نه نه وو بلکه څنګه چه د ابن مسعود وغيره صحابه نه نقل دی چه رسول اللهﷺ په داسې دوه کسانو باندې راتير شو چه په هغوی کښې يو بل لره ښکر لګولو، په هغوی کښې يو د بل چا غيبت کولو چه په هغې باندې دويم نکير اونکړو نو رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿افطر الحاجم والمحجوم ﴾ قال ابن مسعود ولا للحجامة ولكن للغيبة. اهـ په بذل المجهود کښې د شرح السنة نه دا نقل کړې دی چه ﴿افطر الحاجم والمحجوم ﴾معنى دا ده ای تعرضا للافطار، يعنی دې دواړو خپله روژه په خطره کښې واچوله، حاجم خو په دې وجه چه په دې کښې ويره ده چه د وينې يو څاڅکې د هغه حلق ته لاړ نه شی د وينې راښکلو د وجې نه، او محجوم په دې وجه چه ممکنه ده هغه ته څه ضعف اورسيږی چه د هغې د وجې نه هغه په افطار باندې مجبوره شی، او بله توجيه ئې هم هغه د غيبت والا نقل کړې ده، اوس دا دوه جوابونه شو اول د نسخ او دويم د تاويل،

(**دريم جواب**): دا کيدې شی کوم چه د دې مقام سره متعلق شروح حديث کتلو نه مستفاد

کیږی چه حدیث رخصت کوم چه جمهور فقهاء کرامو اختیار کړې دې هغه اقوی دې د حدیث منع نه، ځکه چه د حدیث رخصت (حدیث ابن عباس رضي الله عنه) تخریج امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې په ډیرو مواضع کښې کړې دې او د دې په سند کښې هیڅ اختلاف او اضطراب هم نشته، په خلاف د دویم حدیث چه هغه اګر چه د ډیرو صحابه کرامو نه نقل دې لکه چه د امام ترمذی د کلام نه پورته نقل کړې شو، خو په کومو مختلف طرق نه چه دا حدیث نقل دې په هغې کښې د بعض په بعض باندې ترجیح کښې د حضرات محدثینو سخت اختلاف موندلې شی بعض که یو ته ترجیح ورکوی نو بعض بل طریق ته، هم دغه شان امام بخاری دا حدیث اولا تعلیقا ذکر کړې دې په صیغه د تمریض سره بیا وړاندې تلو سره ئې اګر چه د هغې وصل هم کړې دې خو باقاعده نه بلکه د مذاکره په طور باندې، او په دې طریق موصول کښې هم راوی د حدیث په اخر کښې د رفع او وقف په لحاظ سره خپل تردد والله اعلم وئیلو سره ظاهر کړې دې، هم دغه شان حافظ په فتح الباری کښې په دې حدیث باندې د بحث د لاندې لیکلې دی : واطنب النسائی فی تخریج طرق هذا المتن وبیان الاختلاف فیه، او هم په دې مقام باندې وړاندې تلو سره لیکی :

وقال الشافعی فی اختلاف الحدیث... بعد ان اخرج حدیث شداد ولفظه. ثم ساق حدیث ابن عباس انه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احتجم وهو صائم قال وحدیث ابن عباس امثلهما اسنادا الی اخر ما ذکر.

وانما اطنبت فی هذا المقام لانی لم اراحدا ممن اجاب عن الجمهور انه اختار[1] طریق ترجیح حدیث ابن عباس علی حدیث ثوبان وغیره من حیث الاسناد صراحة بل اجابوا باجوبة اخری کما تقدم.

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَٰلِكَ

باب د روژې په حالت کښې د ښکر لګولو د اجازت بیان

[۲۳۷۲](۲) حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ وُهَيْبُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ، وَجَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ، وَهِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، مِثْلَهُ.

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ښکرولګولو اودهغه روژه وه، امام ابوداود سجستانی وئیلې دې وهیب بن خالد هم دایوب نه په خپل سند سره ددسې په شان روایت ذکرکړې دې. اوجعفربن ربیعه وهشام بن حسان هم دعکرمه اوهغه دابن عباس رضي الله عنه نه ددې په شان روایت نقل کړې دې.

[۲۳۷۳](۳) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ وَهُوَ صَائِمٌ مُحْرِمٌ".

---

[1]) کومو خلقو چه د جمهورو د طرف نه جوابات ورکړې دی هغوی طریق ترجیح نه دې اختیار کړې سوا د امام شافعی نه.

[2]): صحیح البخاري/الصوم ۳۲ (۱۹۳۸)، الطب ۱۲ (۵۶۹٤)، سنن الترمذي/الصوم ٦۱ (۷۷۵)، (تحفة الأشراف: ۵۹۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۱/۱) (صحیح)

[3]): سنن الترمذي/الصيام ٦۱ (۷۷۷)، سنن ابن ماجه/الصيام ۱۸ (۱٦۸۲)، (تحفة الأشراف: ٦٤۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۱۵/۱، ۲۲۲، ۲۸٦) (ضعیف)

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله عنه روایت دي فرمائي چه نبی ﷺ ښکرولګولو اودهغه روژه وه، اواحرام ئې هم ترلې وو.

[۲۳۷٤]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْحِجَامَةِ وَالْمُوَاصَلَةِ وَلَمْ يُحَرِّمْهُمَا إِبْقَاءً عَلَى أَصْحَابِهِ، فَقِيلَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّكَ تُوَاصِلُ إِلَى السَّحَرِ، فَقَالَ: "إِنِّي أُوَاصِلُ إِلَى السَّحَرِ وَرَبِّي يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِي".

ترجمه: عبدالرحمن بن أبی لیلي په صحابه کرامو کښې دیوکس نه روایت کوی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دحجامت (ښکرلګولونه اود وصال دروژو(پرله پسې)نه لیکن دشفقت دوجې نه ئې حرام نه دی ګرځولي خلقو عرض اوکړواي دالله رسوله ته خود پیشمنې سره وژه یوځای کوي؟نبی ﷺ اوفرمائیل زه خوداسې کوم لیکن ماته زما رب خوراک او ځکاك راکوي.

توضیح الحدیث

یعنی رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده: د حجامت یعنی ښکر لګولو نه او د صوم وصال نه، خو دې دواړو ته ئې حرام نه دی وئیلی، وړاندې راوی د دې ممانعت مصلحت بیانوی، ابقاء یعنی شفقة علی اصحابه. لهذا ﴿ابقاء﴾علت شو ددې نهی، او د دې تعلق د عدم تحریم سره نه دې.

په دې حدیث کښې دوه حکمونه ذکر شوې دی یو د منع عن الوصال او منع عن الحجامة. په دې روایت کښې خو دا منع اګر چه مطلقا ده خو مراد د دې نه مقید دې یعنی حجامة فی حال الصوم چه د هغې دوه قرینې دی اول دا چه مطلقا د حجامت نه منع په یو روایت کښې هم نه ده راغلې بلکه روایاتو کښې د دې ترغیب راغلې دې، بله قرینه داده چه هم دا روایت په بیهقی کښې دې (کما فی المنهل) چه د هغې الفاظ دا دی "نهی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن المواصلة والحجامة للصائم الخ"

والحدیث اخرجه ایضا احمد وعبدالرزاق فی المصنف، واخرجه البیهقی الخ قاله فی المنهل.

[۲۳۷۵]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ الْمُغِيرَةِ، عَنْ ثَابِتٍ، قَالَ: قَالَ أَنَسٌ: "مَا كُنَّا نَدَعُ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ إِلَّا كَرَاهِيَةَ الْجَهْدِ".

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت ئې فرمائي چه مونږ به روژه دارته ښکرنه لګولو په دې فکرباندې چه چرته روژه دار کمزوري نه شي (یعنی دروژې ماتولوته مجبوره نه شي).

توضیح الحدیث

قوله: عَنْ ثَابِتٍ، قَالَ: قَالَ أَنَسٌ: "مَا كُنَّا نَدَعُ الْحِجَامَةَ لِلصَّائِمِ إِلَّا كَرَاهِيَةَ الْجَهْدِ:

د دې نه د جمهورو د مذهب تائید کیږی چه په روژه کښې د حجامت ممانعت مطلقا نه دې بلکه د مشقت او ویرې د وجې نه دې. والحدیث اخرجه ایضا الطحاوی، والبخاری والبیهقی قاله فی المنهل.

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣١٤/٤، ٣١٥، ٣٦٣/٥، ٣٦٤) (صحيح)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٢٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصوم ٣٢ (١٩٤٠) (صحيح)

بَابٌ فِي الصَّائِمِ يَحْتَلِمُ نَهَارًا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ

باب دي په بيان د احتلام د روژه دار په ورځ د رمضان کښې

[۲۳۷۶]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُفْطِرُ مَنْ قَاءَ وَلَا مَنِ احْتَلَمَ وَلَا مَنِ احْتَجَمَ".

ترجمه: زيد بن اسلم په خپلو ملګروکښې ديوکس نه روايت کوی اوهغه په صحابه کراموکښې ديوکس نه روايت کړې دي چه څوك قې اوکړی نوروژه ئي نه ماتيږي اونه دهغه چاچه احتلام مسئله ورته پيښه شي اونه دهغه چا چه ښکرولګوي

توضيح الحديث

د ترجمة الباب والا مسئله اجماعی ده چه احتلام مفسد صوم نه دي

دې حديث کښې د قئ په باره کښې دی چه هغه مفطر نه دي، دا مسئله اتفاقی ده يعنی د قئ مفطر نه کيدل، د ائمه اربعه په نزد والجمهور حتى حکى عليه الاجماع لکن فيه خلاف لبعض السلف کالاوزاعی وابی ثور. (الابواب والتراجم) او بل ځيز دي استقاء يعنی قصدا قئ کول د هغې باب وړاندې مستقل راروان دي. والحديث أخرجه البيهقی والترمذی قاله فی المنهل.

بَابٌ فِي الْكُحْلِ عِنْدَ النَّوْمِ لِلصَّائِمِ

باب دې په بيان د اوده کيدو په وخت کښې د روژه دار دستر ګوتورولو

[۲۳۷۷]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ ثَابِتٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ النُّعْمَانِ بْنِ مَعْبَدِ بْنِ هَوْذَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ "أَمَرَ بِالْإِثْمِدِ الْمُرَوَّحِ عِنْدَ النَّوْمِ". وَقَالَ: "لِيَتَّقِهِ الصَّائِمُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ لِي يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ: هُوَ حَدِيثٌ مُنْكَرٌ يَعْنِي حَدِيثَ الْكُحْلِ.

ترجمه: دمعبدبن هوذة رضي الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام راته حکم اوکړوچه د داوده کيدو په وخت کښې د مشکوسره مکس شوي رانجه لګوه اودائي هم وفرمائيل چه روژه دار دې ددې نه بچ شي. امام ابوداود ديحيي بن معين نه نقل کوي چه دا - روايت منکردې.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

د ترجمة الباب والا مسئله يعنی اکتحال فی حال الصوم د جمهور علماء ائمه ثلاث په نزد بغير د کراهت نه جائز دی، البته د امام احمد يو روايت د کراهت دې، او دريم مسلک په دې کښې د ابن شبرمه او ابن ابی ليلی دې، د هغوی په نزد مفسد صوم دې، امام ترمذی رحمه الله د مسئلة الباب متعلق ليکی واختلف اهل العلم فی الکحل للصائم فکرهه بعضهم وهو قول سفيان وابن المبارك واحمد واسحاق ورخص بعض اهل العلم فی الکحل للصائم وهو قول الشافعی، د حديث الباب راوی معبد بن هوذة الانصاری د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل کوی چه هغه

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٧٠١) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٤٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٧٦/٣، ٤٩٩، ٥٠٠)، سنن الدارمي/الصوم ٢٨ (١٧٧٤) (ضعيف)

اثمد يعنى د اصفهان رانجه المروح يعنى مطيب بالمسك (د مشك خوشبوئى والا) د اوده كيدو په وخت د استعمالول حكم اوفرمائيلو او دا ئې هم اوفرمائيل چه روژه دار له پكار دى چه د دې نه دې ځان اوساتى، يعنى د ورځې.

دا حديث د امام احمد رحمه الله د يو روايت موافق دې، او اګر چه مصنف حنبلى دې على ما هو المشهور... خو مصنف په دې حديث باندې امام يحيى بن معين نه د نكارت حكم نقل كړې دې، هم په دې وجه بيا مصنف روايات داله على الاباحت ذكر فرمائيلې دى.

والحديث اخرجه ايضا احمد، والبخارى فى تاريخه، وقال ابن عدى انه موقوف. (المنهل)

[۲۳۷۸]([1])حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عُتْبَةَ أَبِي مُعَاذٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ كَانَ "يَكْتَحِلُ وَهُوَ صَائِمٌ".

ترجمه: دانس بن مالك رضى الله عنه نه روايت دې فرمائى چه مابه دروژې په حالت كښې رانجه استعمالول.

[۲۳۷۹]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمُخَرِّمِيُّ، وَيَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عِيسَى، عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِنَا يَكْرَهُ الْكُحْلَ لِلصَّائِمِ، وَكَانَ إِبْرَاهِيمُ يُرَخِّصُ أَنْ يَكْتَحِلَ الصَّائِمُ بِالصَّبِرِ".

ترجمه: داعمش نه روايت دې فرمائى چه ماپه عالمانو كښې ځوك هم داسې نه دې ليدلې چه دروزه دار دپاره رانجه استعمالول بدګڼړي اوابراهيم رحمه الله به ددې اجازت وركولوچه روزه داردې صبر (يوقسم رانجه) اولګوي.

تشريح: وكان ابراهيم يرخص ان يكتحل الصائم بالصبر

صبر (د صاد فتح او باء كسرې سره) كوم ته چه ايلوه وئيلې شى، كوم چه طبيبان په دوائى كښې استعمالوى، كوم چه په تريخ والى كښې ضرب المثل دې، كوم چه د رنجو په طور هم په سترګو كښې استعمالولې شى، صاحب منهل ليكلې دى : وقال قتادة : يجوز بالاثمد ويكره بالصبر، دغه شان هغوى د مالكيانو مذهب دا ليكلې دې چه كه د اكتحال نه روستو د كحل وصول په حلق كښې متحقق شى نو ناجائز او مفسد صوم دې، او كه صرف شك وى نو مكروه دې.

بَابُ الصَّائِمِ يَسْتَقِيءُ عَامِدًا

دروژه دار دپاره په قصد سره دقې كولوبيان

[۲۳۸۰]([3])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ ذَرَعَهُ قَيْءٌ وَهُوَ صَائِمٌ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَإِنِ اسْتَقَاءَ فَلْيَقْضِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ أَيْضًا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ هِشَامٍ، مِثْلَهُ.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۵) (حسن موقوف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۴۰۰، ۱۸۷۸۶) (حسن)

[3]: سنن الترمذي/الصوم ۲۵ (۷۲۰)، سنن ابن ماجه/الصيام ۱۶ (۱۶۷۶)، (تحفة الأشراف: ۱۴۵۴۲)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى (۳۱۳۰)، حم(۲/۴۹۸)، سنن الدارمي/الصوم ۲۵ (۱۷۷۰) (صحيح)

ترجمه: دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی په چاباندې چه دروژې په حالت کښې قې کول غالب شي نو په ده باندې دروژې قضاء راوړل لازمي نه دی اوڅوک چه په قصد سره قې اوکړی نوهغه لره پکاردي چه دروژې قضاء راوړی.آبوداؤد وائی چه حفص بن غیاث هم دهشام پشان نقل کړې دي

توضيح الحديث

یعنی په کوم سړی باندې چه قئ غالب راشي یعنی بغیر د هغه د ارادې نه وی د روژې په حالت کښې، نو په هغه باندې د هغه روژې قضاء نشته یعنی د هغه روژه صحیح سالم ده، او څوک چه قئ طلب کړی په خپل طبیعت سره یعنی قصدا قئ اوکړی نو دهغه په ذمه قضاء ده.

مسئلة الباب :

د قئ مسئله خو مخکښې تیره شوه، او د استقاء په صورت کښې د ائمه اربعه په نزد قضاء مطلقا واجب ده او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد په دې شرط چه په ډکه خوله وی وهو روایة عن احمد، او په دې مسئله کښې د ابن مسعود، ربیعه او عکرمه نه عدم الفطر منقول دې، یعنی روژه ئې باقی ده د قضاء حاجت نشته او د دې بالمقابل د عطاء او ابو ثور په نزد قضاء مع الکفارة واجب ده، وفی نور الایضاح فی بیان ما یفسد الصوم : او استقاء ولو دون ملا الفم فی ظاهر الروایة، وشرط ابویوسف ملا الفم وهو الصحیح. اه هم دغه شان د قئ بلا قصد په صورت کښې هم که هغه قئ دننه طرف ته قصدا واپس کړی او وی هم قئ ملا الفم نو بیا به روژه فاسده شي. والحدیث اخرجه ایضا احمد وابن ماجة والدارقطنی والحاکم وصححه، وابن حبان والطحاوی والبیهقی والترمذی. (المنهل)

[۲۳۸۱](1)حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ، عَنْ يَحْيَى، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَمْرٍو الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يَعِيشَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ هِشَامٍ، أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ، حَدَّثَنِي مَعْدَانُ بْنُ طَلْحَةَ، أَنَّ أَبَا الدَّرْدَاءِ حَدَّثَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَاءَ فَأَفْطَرَ"، فَلَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ، فَقُلْتُ: إِنَّ أَبَا الدَّرْدَاءِ حَدَّثَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاءَ فَأَفْطَرَ. قَالَ: صَدَقَ، وَأَنَا صَبَبْتُ لَهُ وَضُوءَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د ابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ کانګي اوکړی او روژه ئې ماته کړه بیازماسره ددمشق په جومات کښې ثوبان دنبی ﷺ آزاد کړې شوې غلام ملاو شو ما ترې تپوس اوکړو چه ماته ابو الدرداء حدیث بیان کړې دې چه نبی ﷺ قې اوکړو اوروژه ئې ماته کړه، هغه اووئیل ابو الدرداء رښتیا وئیلي دي ما په نبی ﷺ باندې په دغه وخت کښې داودس اوبه اچولي وي (یعنی نبی ﷺ ته مې اوبه اچولې کله چه هغه اودس کولو)

مضمون حدیث :

د ابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دې چه یو ځل رسول الله ﷺ باندې قئ راغلو چه هغې سره د هغه روژه ماته شوه، معدان بن طلحه فرمائی چه ماته دا حدیث ابو الدرداء رضی الله عنه بیان کړې وو، د

(1): سنن الترمذي/الطهارة ٦٤ (٨٧)، سنن النسائي/ الكبرى/ الصوم (٣١٢٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٤٣، ٤٤٩)، سنن الدارمي/الصوم ٢٤ (١٧٦٩) (صحيح)

هغې نه روستو چه زه د رسول الله ﷺ د مولی سیدنا ثوبان رضی الله عنه سره د دمشق په مسجد کښې ملاؤ شوم نو ما هغه ته اووې چه ماته ابوالدرداء رضی الله عنه د رسول الله ﷺ دا واقعه بیان کړې ده چه په رسول الله ﷺ باندې قئ راغلې وو پس هغه افطار اوکړو، نو هغه په دې اوریدلو سره اوفرمائیل چه ابوالدرداء رضی الله عنه صحیح وئیلي دی، او په دې موقع باندې د هغه د اودس د پاره اوبه ما برابر کړې وې.

په دې حدیث کښې دی (قاء فافطر) چه د هغې نه په ظاهره کښې د قئ مفطر صوم کیدل معلومیږي کوم چه د ائمه اربعه خلاف دې، امام ترمذی رحمه الله د جمهورو د طرف نه د دې حدیث توجیه دا کړې ده چه کله به هغه له قئ ورغلو نو د ضعف د راتلو د وجې نه ئې قصدا روژه ماته کړه، او دا مطلب نه دې چه د قئ کیدو د وجې نه افطار اوشو بلکه قصدا ئې افطار اوکړو، بله مسئله په دې حدیث کښې دا ده چه د دې نه په ظاهره کښې د قئ ناقض وضوء کیدل ثابتیږي لکه چه د احنافو او حنابله مذهب دې، شوافع د دې جواب دا ورکوی چه دلته د وضوء نه مراد وضوء لغوی دې، خوله کنګالول وغیره، یا په استحباب وضوء باندې محمول دې.

والحدیث اخرجه ایضا الترمذی والنسائی والدارمی والحاکم وابن حبان والدارقطنی والبیهقی والطبرانی وابن مندة وقال اسناده صحیح متصل. (المنهل)

بَابُ الْقُبْلَةِ لِلصَّائِمِ

باب دې په بیان د خکلولو د روژه دار

[۲۳۸۲] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ الْأَسْوَدِ، وَعَلْقَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُقَبِّلُ وَهُوَ صَائِمٌ، وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ، وَلَكِنَّهُ كَانَ أَمْلَكَ لِإِرْبِهِ".

ترجمه: دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به خکلول کول اودهغه به روژه وه او مباشرت به ئې کولو اودهغې به روژه وه داځکه چه دهغه په خپل ځان باندې اختیار وو (یعنی په خپل ځان باندې ئې باور وو).

تشریح: قوله: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُقَبِّلُ وَهُوَ صَائِمٌ:

مباشرت د تقبیل نه عام دې ځکه چه د دې معنی ده التقاء البشرتین یعنی د بدن سره بدن یوځائې کول، لهذا دا د قبیل ذکر العام بعد الخاص دې.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

د دې حدیث نه په حالت صوم کښې د تقبیل مراة او مباشرت جواز معلومیږي په دې کښې مشهوره دا ده چه د احنافو او شوافعو په نزد د شیخ په حق کښې اباحت او د شاب په حق کښې کراهت دې، د امام مالک رحمه الله په نزد مطلقا کراهت. دریم مذهب د اباحت علی الاطلاق دې، قاضی عیاض فرمائی چه هم دا مذهب اختیار کړې دې د صحابه کرامو او

---

(۱): صحیح مسلم/الصوم ۱۲ (۱۱۰۶)، سنن الترمذي/الصوم ۳۲ (۷۲۹)، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۰، ۱۵۹۳۲، ۱۷۴۰۷)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/الصوم ۲۴ (۱۹۲۸)، سنن ابن ماجه/الصیام ۱۹ (۱۶۸۴)، موطا امام مالك/الصیام ۶(۱۸)، مسند احمد (۲۳۰/۶)، سنن الدارمي/المقدمة ۵۳ (۶۹۸) والصوم ۲۱ (۱۷۶۳) (صحیح)

تابعینو یو جماعت، والیه ذهب احمد واسحاق وداود من الفقهاء وممنهم من کرهها علی الاطلاق وهو مشهور قول مالک، ومنهم من کرهها للشاب واباحها للشیخ وهو المروی عن ابن عباس، وهو مذهب ابی حنیفة والشافعی والثوری والاوزاعی ومنهم من اباحها فی النفل ومنعها فی الفرض وهی روایة ابن وهب عن مالک. اهـ من الاوجز

حافظ فرمائي "واباحها قوم مطلقا بل بالغ بعض اهل الظاهر فاستحبها" اهـ قاضي عیاض چه د امام احمد مسلک مطلقا د اباحت لیکلي دي په دي باندې حضرت شیخ په اوجز (ج ۴ ص ۲۲) کښې لیکي چه کیدې شي د هغه نه یو روایت داسي وی ګیني په الروض المربع کښې (چه د فقه حنبلی کتاب دې) کښې لیکلي دی : تکره القبلة ودواعی الوطی لمن تحرک شهوته لانه علیه السلام نهی عنها شابا ورخص للشیخ. رواه ابوداود.

ولکنه کان املک لاربه... ﴿ارب ﴾دوه طریقو سره ضبط کړې شوې دې، ﴿ارب ﴾ بفتحین په معنی د حاجات او ﴿ارب ﴾ بکسر الهمزة وسکون الراء، د دې معنی ده حاجت او عضو مخصوص دواړه لیکلي شوې دی.

شرح حدیث :

سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به د روژې په حالت کښې تقبیل او مباشرت فرمائیلو، خو هغه په خپل خواهش او حاجت باندې زیات قابو لرونکي وو ګویا په دې کښې اشاره ده دې طرف ته چه هغوی ځان په رسول الله ﷺ باندې قیاس نه کړی، او بله معنی د دې جملې دا هم کیدې شي چه کله هغه په خپل نفس باندې د قابو موندلو باوجود مباشرت کولو نو د نورو دپاره به په دې کښې ګنجائش په طریق اولی وی. اول معنی د جمهورو د مسلک مناسب ده، او دویمه معنی د هغه خلقو موافق ده کوم چه مطلقا د اباحت قائل دی. والحدیث اخرجه ایضا احمد والبخاری ومسلم والترمذی، واخرجه ابن ماجة ومسلم ایضا من طریق عبیدالله بن القاسم. (المنهل)

[۲۳۸۳](۱)حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُقَبِّلُ فِي شَهْرِ الصَّوْمِ".

ترجمه: دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به خکلول کول دروژې په میاشت کښې (یعنی رمضان کښې).

[۲۳۸٤](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ الْقُرَشِيَّ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُقَبِّلُنِي وَهُوَ صَائِمٌ وَأَنَا صَائِمَةٌ".

ترجمه: دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به زه خکلولم او دهغه به روژه وه اوزمابه هم روژه وه.

(۱): صحيح مسلم/الصوم ۱۲ (۱۱۰۶)، سنن الترمذي/الصيام ۳۱ (۷۲۷)، سنن ابن ماجه/الصيام ۱۹ (۱۶۸۳)، (تحفة الأشراف: ۱۷٤۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۳۰، ۲۲۰، ۲۵۶، ۲۵۸، ۲۶٤)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۶٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۱۳٤، ۱۶۲، ۱۷۵، ۱۷۹، ۲۹۶، ۲۷۰) (صحيح)

[۲۳۸۵](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ. ح وحَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: هَشَشْتُ فَقَبَّلْتُ وَأَنَا صَائِمٌ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، صَنَعْتُ الْيَوْمَ أَمْرًا عَظِيمًا، "قَبَّلْتُ وَأَنَا صَائِمٌ". قَالَ: أَرَأَيْتَ لَوْ مَضْمَضْتَ مِنَ الْمَاءِ وَأَنْتَ صَائِمٌ، قَالَ عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ فِي حَدِيثِهِ: قُلْتُ: "لَا بَأْسَ بِهِ". ثُمَّ اتَّفَقَا، قَالَ: فَمَهْ.

ترجمه: جابر بن عبد الله رضی الله عنه وائی چه عمربن الخطاب رضی الله عنه فرمائیلي دي چه زه خوشحاله وړم او بوسه مې واخستله اوبيا مې نبی علیه السلام ته عرض اوکړو اې د الله رسوله نن مايوه ډيره لويه غلطي کړې ده چه دروژې په حال کښې مې بوسه واخستله نبی علیه السلام ورته اوفرمائيل که چرې ته دروژې په حالت مضمضه اوکړې نوستاخه خيال دې؟ دعيسي بن حماد په روايت کښې دي ما ووئيل هيڅ قسم حرج نشته نبی علیه السلام اوفرمائيل بياخه اوشول؟

توضيح الحديث

سيدنا عمر رضی الله عنه فرمائی چه يو ځل زما طبعيت تازه وو پس باوجود د روژې ما تقبل اوکړو زه لاړم او ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه نن زما نه يو ډير بد کار اوشو، هغه اوفرمائيل: اوايه ته که په خپله خوله کښې اوبه اخستلو سره خوله کنګال کړې د روژې په حالت کښې (نو ايا په دې کښې څه باک شته؟) ما عرض اوکړو، نه، نو هغه اوفرمائيل نو دا څه دی؟ يعنی دا تقبيل هم داسې دې.

لفظ ﴿ مه ﴾ کښې دوه احتمالات دی يو دا چه دا په اصل کښې ﴿ما ﴾استفهاميه وو د دې الف حذف کولو سره هاء سکته د هغې په عوض کښې راوړلې شوه، دويم قول دا دې چه ﴿مه﴾کلمه زجرده کومه چه د بندولو په معنی ده ﴿ای اکفف عن السوال﴾يعنی داسوال مه کوه.

والحديث اخرجه ايضا احمد والطحاوی والنسائی وقال حديث منكر، واخرجه الحاكم وقال صحيح على شرط الشيخين، وقال البزار لا نعلمه يروى عن عمر الا من هذا الوجه وصححه ابن خزيمة وابن حبان. (المنهل)

بَابُ الصَّائِمِ يَبْلَعُ الرِّيقَ

د روژه دار دپاره د لاړو (توکانړو) تيرولوبيان

[۲۳۸٦](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دِينَارٍ، حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ أَوْسٍ الْعَبْدِيُّ، عَنْ مِصْدَعٍ أَبِي يَحْيَى، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ وَيَمُصُّ لِسَانَهَا"، قَالَ ابْنُ الْأَعْرَابِيِّ: هَذَا الْإِسْنَادُ لَيْسَ بِصَحِيحٍ.

ترجمه: دام المومنين عائشة رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به خکلولم اودهغه به روژه وه اوزما ژبه به ئې چوپله.

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٤٢٢)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ الصوم (٣٠٤٨)، مسند احمد (١/٢١، ٥٣)، سنن الدارمي/الصوم ٢١(١٧٦٥) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٦٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١٢٣، ٢٣٤) (ضعيف)

توضيح الحديث

... د دې حديث جزء اول خو ظاهر دې هغه په اول باب کښې تير شو.

په حديث باندې اشکال:

البته دا اخرى جزء يعنى مص لسان دا قابل اشکال دې ځکه چه په دې کښې ابتلاع ريق موندلې شى، يعنى د بل انسان لاړې تيرول، د خپلو لاړو تيرول د روژې په حالت کښې خو بالاتفاق جائز دى، زمونږ فقهاء کرامو ليکلې دى چه ابتلاع ريق مفسد صوم دې او په دې کښې د روژې قضاء واجب ده، او که هغه غير د هغه محبوب وى نو په دې صورت کښې به پرې کفاره هم واجب وى، بهرحال د دې حديث دا جزء قابل اشکال دې، د دې يو جواب خو دا دې چه دا حديث ضعيف دې، په دې کښې محمد بن دينار متفرد دې وهو ضعيف، هم دغه شان سعد بن اوس هم ضعيف دې، او د دې نه علاوه په بل حديث سره مص لسان ثابت نه دې، بل جواب دا کړې شوې دې چه ﴿ويمص لسانها﴾ مستقل جمله ده دا واو عاطفه نه دې بلکه استينافيه دې، په دې صورت کښې به د دې تعلق د ﴿وهو صائم﴾ سره باقى پاتې نه شى بلکه دا به يوه مستقل خبره وى چه په هغې کښې هيڅ اشکال نشته، او که د دې په ماقبل باندې عطف اومنلې شى نو بيا دا تاويل هم ممکن دې چه داسې اوئيلې شى چه رسول الله ﷺ به ريق عائشه تيرولو بالقصد. او کان قليلا لا يبلغ حد الابتلاع. اه من المنهل.

والحديث اخرجه ايضا البيهقى. (المنهل)

بَابُ كَرَاهِيَتِهِ لِلشَّابِّ

د ځوان د پاره مباشرت مکروه دې

[۲۳۸۷] ([1]) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ يَعْنِي الزُّبَيْرِيَّ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي الْعَنْبَسِ عَنِ الْأَغَرِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ فَرَخَّصَ لَهُ، وَأَتَاهُ آخَرُ فَسَأَلَهُ، فَنَهَاهُ. فَإِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ شَيْخٌ وَالَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ".

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه يوکس دنبى کريم ﷺ نه تپوس اوکړو په باره دمباشرت کښې دروژه دار دپاره نوهغه ته ئې اجازت ورکړو بيابل کس دنبى ﷺ په خدمت کښې حاضرشوهغه هم ترې همدا تپوس اوکړونوهغه ئې منع کړو، نو مونږ وليدل چه چاته ئې اجازت ورکړو هغه بوډا وواوڅوک چه ئې منع کړو هغه ځوان وو.

تشريح: ددې باب تعلق د تقبيل سره دې چه په هغې باندې کلام په مخکښې باب کښې ذکر شو، حديث الباب دترجمة الباب مطابق دې يعنى دتقبيل په باره کښې فرق بين الشاب والشيخ.

وحديث الباب اخرجه ايضا البيهقى... وابن ماجة عن ابن عباس، واخرجه احمد والطبرانى عن ابن عمر رضى الله تعالى عنهم.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۹۸) (حسن صحيح)

بَابُ فِيمَنْ أَصْبَحَ جُنُبًا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ

باب دي په بيان د رمضان کښې د سحر په وخت د جنابت په حالت کښې پاڅيدل

[۲۳۸۸]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ الْأَذْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ زَوْجَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُمَا قَالَتَا: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصْبِحُ جُنُبًا، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ الْأَذْرَمِيُّ فِي حَدِيثِهِ: فِي رَمَضَانَ مِنْ جِمَاعٍ غَيْرِ احْتِلَامٍ ثُمَّ يَصُومُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَمَا أَقَلَّ مَنْ يَقُولُ هَذِهِ الْكَلِمَةَ يَعْنِي يُصْبِحُ جُنُبًا فِي رَمَضَانَ، وَإِنَّمَا الْحَدِيثُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يُصْبِحُ جُنُبًا وَهُوَ صَائِمٌ".

ترجمه: دام المومنين عائشه اوام سلمه رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام په داسې حال سحر کړو چه هغه په جنابت کښې وو، عبدالله اذرمي په خپل حديث کښې وئيلي دي چه په رمضان کښې د جماع په وجه باندې نه چه داحتلام په وجه باندې، اوبيابه ئي روژه کړه.

شرح حديث:

دا حديث دلته مختصر دې، په بخاري کښې مطولا (اورد) دې چه د هغې خلاصه دا ده چه سيدنا ابوهريره رضي الله عنه په شروع کښې د دې خبرې قائل وو چه د کوم سړي اراده د روژې وي او په شپه کښې هغه ته جنابت اورسيږي نو د هغه دپاره د طلوع فجر نه مخکښې غسل کول واجب دی، د هغه دا رائې سيده عائشه او سيده ام سلمه رضي الله عنهما ته اورسيده، هغوي دواړو په دې باندې رد کولو سره اوفرمائيل کوم چه دلته په حديث الباب کښې دی يعنی بعض وخت به رسول الله صلى الله عليه وسلم د رمضان په شپه کښې جنبي وو او د صبا راختلو نه روستو به ئي غسل فرمائيلو.

دا مسئله اتفاقي ده، ابوهريره رضي الله عنه هم د دې حديث نه روستو د خپلې رائې نه رجوع کړې ده، البته ابن حزم دا وائي چه که يو داسې سړې چه هغه د جنابت په حالت کښې روژه نيولې ده په غسل کښې دومره تاخير اوکړي تردې چه نمر راوخيژي او د هغه د سحر مونځ قضاء شي نو د داسې انسان روژه به فاسده وی. په مسئلة الباب باندې امام نووي رحمه الله د علماء کرامو اجماع نقل کړې ده استقر عليه الاجماع. او ابن دقيق العيد فرمائي انه صار ذلک اجماعا او کالاجماع، امام بخاري رحمه الله هم دا ترجمه قائم کړې ده، باب الصائم يصبح جنبا. حضرت شيخ په الابواب والتراجم کښې ليکي: قال الحافظ ای هل يصح صومه ام لا، وهل يفرق بين العامد والناسي، او بين الفرض والتطوع، وفي کل ذلک خلاف للسلف، والجمهور على الجواز مطلقا، فصارت المسئلة کالاجماعية بعد ما کانت کثيرة الاختلاف، وذکر العلامة العيني فيها سبعة اقوال کما ذکر في هامش اللامع.

د دې حديث په اخر کښې دی ﴿من جماع غير احتلام﴾ شارحين حديث فرمائي چه په دې حديث

---

[1]): صحيح البخاري/الصوم ٢٢(١٩٢٥)، صحيح مسلم/الصيام ١٣ (١١٠٩)، سنن الترمذي/الصوم ٦٣ (٧٧٩)، سنن ابن ماجه/الصيام ٢٧(١٧٠٣)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٩٦، ١٨٢٢٨، ١٨١٩٠، ١٨١٩٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ٤(١٠)، مسند احمد (٢١١/١، ٣٤/٦، ٣٦، ٣٨، ٢٠٣، ٢١٣، ٢١٦، ٢٢٩، ٢٦٦، ٢٧٨، ٢٨٩، ٢٩٠، ٣٠٨)، سنن الدارمي/الصوم ٢٢(١٧٦٦) (صحيح)

کښې د رسول الله ﷺ نه د احتلام نفی کړې شوې ده ځکه چه هغه ته به احتلام نه کيدو ځکه چه هغه د شيطان د طرف نه وی او رسول الله ﷺ معصوم دې، او بعض شارحينو د دې په خلاف خبره ليکلې ده چه په ﴿من غير احتلام﴾ سره خو اشاره ده د جواز احتلام طرف ته، ګينې د استثناء څه ضرورت وو، د دې يو جواب دا کړې شوې دې چه د احتلام اطلاق کله په نفس انزال باندې هم کيږی بغير د دې نه چه په خوب کښې څه اوينی، حضرت شيخ په اوجز ۲۱/۳ کښې د حضرت ګنګوهی د تقرير نه نقل کړې دی چه محقق قول او معتمد دا دې چه انبياء علیهم السلام د دې قسم احتلام نه محفوظ وی کوم چه په جماع وغيره خوب کتلو سره وی، لکه چه عام وی، او؛ البته دا ممکنه ده چه هغوی ته انزال بغير د رؤية شئ نه وی د امتلاء اوعيه منی وغيره د وجې نه. اهـ دا بحث احتلام د ازواج مطهرات په باره کښې هم په کتاب الطهارة کښې د عائشې رضی الله عنها په قول ﴿تربت يمينک وهل ترى ذلک المراءة﴾ د لاندې تير شوې دې والحديث اخرجه ايضا مالک في الموطاء والبخارى والدارمي والنسائي والطحاوى. (المنهل)

[۲۳۸۹](۱)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ يَعْنِي الْقَعْنَبِيَّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَعْمَرٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي يُونُسَ مَوْلَى عَائِشَةَ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى الْبَابِ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أُصْبِحُ جُنُبًا وَأَنَا أُرِيدُ الصِّيَامَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَأَنَا "أُصْبِحُ جُنُبًا وَأَنَا أُرِيدُ الصِّيَامَ، فَأَغْتَسِلُ وَأَصُومُ". فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّكَ لَسْتَ مِثْلَنَا، قَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ. فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: وَاللهِ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَعْلَمَكُمْ بِمَا أَتَّبِعُ.

ترجمه: د ام المومنين عائشة رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه يوکس نبی علیه السلام ته اوفرمائيل اوهغه په دروازه کښې ولاړوو اې دالله رسوله زه دجنابت په حالت کښې سحرکوم اودروژې اراده مې هم وي نبی علیه السلام ورته اوفرمائيل زه هم دجنابت په حال کښې سحرکوم اودروژې اراده مې وي بيا غسل اوکړم او روژه شم، هغه عرض اوکړو اې دالله رسوله ته خوزمونږ په شان نه ئې تاته خوالله مخکنی او وروستنی ګناهونه معاف کړې دې، ددې په اوريدو سره نبی علیه السلام په غصه شواو وئې فرمائيل په الله قسم زما اميد دې چه زه په تاسو کښې دالله نه ډير ويدونکې يم اودځه چه تابعداري کوم په هغې ستاسونه ښه پوهيږم.

توضيح الحديث

سيده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه يو سړی د رسول الله ﷺ نه سوال اوکړو په داسې حال کښې چه هغه په دروازه باندې ولاړ وو،(۲) په ظاهره هغه کور ته تشريف اوړلو او لا په دروازه باندې وو، او دا هم ممکنه ده چه د څه ضرورت په بنياد باندې ئې دروازې ته

(۱): صحيح مسلم/الصيام ۱۳ (۱۱۱۰)، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۱۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ٤ (۹)، مسند احمد (۶/۶۷،۱۵۶، ۲٤۵) (صحيح)

(۲) په دې صورت کښې د وهو واقف ضمير د رسول الله ﷺ طرف ته راجع شو، او حضرت په بذل کښې او هم دغه شان صاحب منهل د ضمير مرجع رجل منلې ده، مونږ چه کومه شرح کړې ده د خپل استاذ محترم حضرت مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله د رائې مطابق کړې ده)

تشريف راوړلي وى، او عائشي رضي الله عنها دننه اوريدلو، هغه عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! بعض وخت داسي وى چه د صبح صادق په وخت باندې جنبى يم او زما د روژې نيولو هم اراده وى (يعنى دا صورت صحيح دې داسې روژه کيږى؟) په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د دې حاجت خو ماته هم راځي او زه د صبا راختلو نه روستو غسل کوم، په دې باندې هغه سړى عرض اوکړو يا رسول الله! (زمونږ خبره جدا ده او ستاسو جدا) تاسو زمونږ په شان خو نه يئ ستاسو خو الله پاک مخکښې روستو ټول ګناهونه معاف کړې دى، په دې خبره باندې رسول الله ﷺ خفه شو، ناراضتيا ئې په ظاهره کښې په دې وجه راغله چه د هغه سړى د کلام نه دا خبره ذهن ته راځي چه تا خو به الله پاک په دې باندې نه رانيسى په څه نامناسب فعل باندې، او مونږ پرې نيولي کيدې شو. اوس ظاهره خبره ده چه د هغه دا انداز د رسول الله ﷺ د شان نبوت خلاف وو، او که په دې کښې د هغه څه نقصان نه لازميدو خود ويوتکى خو په دې کښې ضرر کيدې شو. وقال: والله انى لا ارجوا ان اکون اخشاکم لله واعلمکم بما اتبع... چه والله زما اميد دې د دې خبرې چه زه تاسو ټولو نه زيات د الله پاک نه ويره کونکې يم او په تاسو کښې د ټولو نه زيات علم لرونکې يم د هغه کارونو کوم چه زه کوم، او کول پکار دى، علامه سندهى په دې باندې يو لطيف او غوره خبره ليکلې ده ﴿ولعل استعماله الرجاء من جملة الخشية والا فکونه اخشى واعلم متحقق قطعا﴾ يعنى د رسول الله ﷺ د خپل ځان اخشى (ډير ويريدونکې) او اعلم (ډير پوهه) کيدو په رجاء او اميد سره تعبير کول حال دا چه د هغه اخشى او اعلم کيدل يقينى دى دا هم د خشيت د وجې نه دى. والحديث اخرجه ايضا مالک واحمد ومسلم والنسائى وابن خزيمة والطحاوى والبيهقى. (المنهل)

بَابُ كَفَّارَةِ مَنْ أَتَى أَهْلَهُ فِي رَمَضَانَ

په رمضان کښې د جماع کولو د کفارې بيان

[۲۳۹۰]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ مُسَدَّدٌ: حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: هَلَكْتُ. فَقَالَ: مَا شَأْنُكَ؟ قَالَ: "وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي فِي رَمَضَانَ. قَالَ: فَهَلْ تَجِدُ مَا تُعْتِقُ رَقَبَةً؟ قَالَ: لَا. قَالَ: فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ؟ قَالَ: لَا. قَالَ: فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا؟ قَالَ: لَا. قَالَ: اجْلِسْ. فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ، فَقَالَ: تَصَدَّقْ بِهِ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنَّا. فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ ثَنَايَاهُ، قَالَ: فَأَطْعِمْهُ إِيَّاهُمْ"، وَقَالَ مُسَدَّدٌ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: أَنْيَابُهُ.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه يو کس د نبى عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه هلاک شوم نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل څه خبره ده؟ هغه ووئيل د خپلې ښځې سره مې په رمضان کښې جماع اوکړه، نبى عليه السلام ورته اوفرمائيل آيا يو غلام

[1]): صحيح البخاري/الصوم ۳۰ (۱۹۳٦)، الهبة ۲۰ (۲٦۰۰)، النفقات ۱۳ (۵۳٦۸)، الأدب ٦۷ (٦۰۸۷)، ۹۵ (٦۱٦٤)، كفارات الأيمان ۲ (٦۷۰۹)، ۳ (٦۷۱۰)، ٤ (٦۷۱۱)، صحيح مسلم/الصيام ۱٤ (۱۱۱۱)، سنن الترمذي/الصوم ۲۸ (۷۲٤)، سنن ابن ماجه/الصيام ۱٤ (۱٦۷۱)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۷۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ۹(۲۸)، مسند احمد (۲۰۸/۲، ۲٤۱، ۲۷۳، ۲۸۱، ۵۱٦)، سنن الدارمي/الصوم ۱۹ (۱۷۵۷) (صحيح)

ازادولي شي؟ نوده ووئيل نه نونبي ﷺ ورته اوفرمائيل : ايادوه مياشتي روژې نيولي شي؟نوده ووئيل نه نونبي ﷺ ورته اوفرمائيل اياشپيته مسکينانوته خوراك ورکولي شي؟نوده ووئيل نه نونبي ﷺ ورته اوفرمائيل : کينه نونبي ﷺ ته يوه بوجئ راوړلي شوه او په هغي کښې کهجورې وې ورته ئې اوفرمائيل دا کهجورې واخله اوضدقه ئې کړه ده عرض اوکړو اې دالله رسوله مديني په دواړوجانبوکښې زمانه څوك غريب نشته نبي ﷺ چه دا واوريدل نو اوئې خندل تردې چه دوه غاښونه مبارك ئې ښکاره شول، راوي وائي چه دغه کهجورې ئې بياهم ده ته ورکړې، دمسدد په بل روايت کښې دثنايا په ځائې باندې دانياب لفظ ذکرشوې دې

تشريح: يعنې کوم سړې چه د رمضان روژه د ورځې جماع کولو سره فاسد کړې د هغه د کفاره په بيان کښې.

(د رجل تعيين)

د دې رجل تعيين کښې د شارحينو اختلاف دې، بعض د دې مصداق سلمه بن صخر البياضي منلي دې چه د هغه قصه په باب الظهار کښې تيره شوې ده. خو حافظ په دې باندې اشکال کړې دې چه سلمه بن صخر صاحب قصه ظهار د جماع واقعه د شپې ده لکه چه په روايت کښې د دې تصريح ده. او په حديث الباب کښې د جماع واقعه د صوم په حالت کښې د ورځې ده، لهذا دواړه واقعې مختلف دې.

مضمون حديث دا دې چه يو سړې راغلو او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې ئې عرض اوکړو چه ما د روژې په حالت کښې جماع اوکړه، په دې باندې رسول الله ﷺ چه کوم څيزونه په کفاره کښې واجب کيږي هغه د هغه نه ترتيب وار اوتپوسل، چه ايا ته د دې طاقت لرې چه په کفاره کښې داسې اوکړې؟ هغه به په نفي کښې جواب کولو. په اخر کښې چه کله د اطعام خبره راغلله نو هغه د دې نه هم انکار اوکړو، هغه اوفرمائيل چه ښه کينه! (چه که د چرته نه غله راغله نو د دې بندوبست به اوکړې)..........

پس رسول الله ﷺ ته د چرته نه يو لوئې زنبيل د کهجورو راغلو، دغه زنبيل ئې هغه ته حواله کړو چه لاړ شه او دا صدقه کړه په دې باندې هغه عرض اوکړو يا رسول الله! د مديني منورې پوره کلي کښې زمونږ د کورنۍ نه زيات څوك هم ضرورت مند نشته، په دې باندې رسول الله ﷺ دير اوخندل، اخر هغه ته ئې اوفرمائيل چه دا يوسه او د خپل کور په خلقو باندې ئې اوخروه.

په دې حديث کښې د کفارې په باره کښې چه کوم درې څيزونه ذکر شوې دی په هغې کښې د پورته ذکر شوې ترتيب رعايت د ائمه ثلاثه په نزد واجب دې او د امام مالک په نزد په دې کښې تخيير دې، د اطعام ستين مسکين په مقدار کښې چه د ائمه کرامو کوم اختلاف دې هغه په باب الظهار کښې تير شوې دې، يعنی ﴿مد من کل شئ عند الشافعي ومدان من کل شئ عند مالک وقيل مالک مع الشافعي، وعند الحنفية مقداره مثل مقدار صدقة الفطر لکل مسکين وعند احمد من البر مد، ومن التمر وغيره مدان﴾.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

ځان پوهه کړه چه که یو سړې د جماع په ذریعه فرض روژه فاسد کړی نو په دې باندې د ائمه اربعه په نزد کفاره مع القضاء واجب ده، په دې کښې دوه مذاهب نور دی کوم چه شاذ دی یو دا چه په دې صورت کښې صرف قضاء صوم واجب دې یعنی یو د روژې په قضاء روژه، او دویم مذهب دا چه صرف کفاره واجب دې دون القضاء.

افساد صوم بالاکل والشرب کښې اختلاف ائمه :

بل یو مشهور اختلاف دلته دا دې چه د امام ابوحنیفه او مالک په نزد چه کوم حکم د افساد صوم بالجماع دې هم هغه د افساد صوم بالاکل والشرب دې، او د امام احمد، شافعی او ظاهریه په نزد دا کفاره صرف د جماع په صورت کښې ده د اکل وشرب په صورت کښې نه ده، ځکه چه د کفاره ذکر په حدیث کښې صرف د جماع سره راغلې دې، او د افساد صوم بالاکل والشرب هیڅ قصه په هیڅ حدیث کښې نه ده راغلې، په دې وجه د دې حضراتو په نزد کفاره مختص ده د جماع سره، هغوی وائی چه په جماع کښې د کفاره وجوب بالنص دا خلاف قیاس دې، ځکه چه کفاره د اسقاط اثم دپاره وی او هغه سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې تائبا او نادما حاضر شوې وو، په توبه او پښیمانتیا سره ګناه معاف کیږی خو د دې باوجود رسول الله ﷺ په هغه باندې کفاره واجب کړه لهذا دا حکم خلاف قیاس شو، او مشهوره قاعده ده چه کوم حکم خلاف قیاس په نص سره ثابت وی هغه په خپل مورد پورې منحصر وی، زمونږ علماء کرام فرمائی چه په بعض صحیح روایاتو کښې هم دغه شان راغلی، ﴿ان رجلا افطر فی رمضان فامره علیه السلام ان یعتق رقبة﴾ رواه مسلم وابوداود، او لفظ ﴿افطر﴾ د خپل عموم د وجې نه جماع او غیر جماع ټولو ته شامل دې، کذا قال الزیلعی فی شرح الکنز، زه وایم دا حدیث هم د دې سیاق سره په موطاء کښې هم دې، ان رجلا افطر فی رمضان فامر رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان یکفر الحدیث، په موطاء محمد کښې امام محمد د دې حدیث نه روستو فرمائی ﴿وبهذا ناخذ اذا افطر الرجل متعمدا فی شهر رمضان باکل او شرب او جماع فعلیه قضاء یوم مکانه وکفارة الظهار، وهی ان یعتق رقبة الی اخره﴾ د امام محمد رحمه الله استدلال هم د عموم الفاظ د وجې نه دې د قیاس نه نه دې، باقی دا خو جدا خبره ده چه په دې روایت کښې په ظاهره د دې رجل نه مراد هم هغه سړې دې کوم چه په روایات مفصله کښې راغلی چه د هغې تعلق د جماع سره دې، د دې نه علاوه یو روایت په دې سلسله کښې د صریح اکل په باره کښې هم ملاویږی کوم چه مولانا عبدالحی صاحب په حاشیه د موطاء کښې نقل کړې دې چه د هغې الفاظ دا دی ﴿عن ابی هریرة ان رجلا اکل فی رمضان فامره النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان یعتق رقبة﴾ الحدیث، اخرجه الدارقطنی، اګر چه دا حدیث سندا ضعیف دې خو اول خو د بعض صحیح روایاتو د سیاق عموم، دویم احتیاط، د دې مجموعې د وجې نه دا حجت صحیح دې.

[۲۳۹۱]( )حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، بِهَذَا الْحَدِيثِ بِمَعْنَاهُ، زَادَ الزُّهْرِيُّ: وَإِنَّمَا كَانَ هَذَا رُخْصَةً لَهُ خَاصَّةً، فَلَوْ أَنَّ رَجُلًا فَعَلَ ذَلِكَ الْيَوْمَ لَمْ يَكُنْ لَهُ بُدٌّ مِنَ التَّكْفِيرِ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، وَالْأَوْزَاعِيُّ، وَمَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ، وَعِرَاكُ بْنُ مَالِكٍ، عَلَى مَعْنَى ابْنِ عُيَيْنَةَ، زَادَ فِيهِ الْأَوْزَاعِيُّ: وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ.

ترجمه: معمر دزهري نه همدا روايت نقل کړي دي مګر دا اضافه ئي کړي ده چه دا اجازت دهمدغه کس دپاره مخصوص وو، اوس کچيرې څوك داسې اوکړي نو دکفارې نه نه شي بچ کيدلې، امام ابوداود فرمائي چه دا روايت ليث بن سعد داوزاعي اوهغه دمنصوربن معمرنه اوهغه دعراك بن مالك نه اوهغه دابن عينه په شان روايت بيان کړي دي او اوزاعي داستغفرالله دلفظ اضافه کړې ده.

تشريح: قال الزهری : وانما کان هذا رخصة له خاصة فلو ان رجلا فعل ذلک اليوم لم يکن له بد من التکفير. زهری فرمائی چه مذکوره شخص چه کله د خپل فقر اظهار اوکړو نو د رسول الله ﷺ هغه ته دا فرمائيل ﴿اطعمه اهلک﴾ د دې مطلب دا شو چه رسول الله ﷺ د هغه کفاره ساقط کړه ګينې په کفاره کښې اطعام په کور والا چرته کيږي، لهذا دا د اعسار (تنګدستئ) د وجې نه د کفارې ساقط کيدل د هغه سرې خصوصيت شو.

خان پوهه کړه چه دا خو صحيح ده چه د جمهور او ائمه اربعه په نزد د فقر د وجې نه خو کفاره نه ساقط کيږي خو په دې حديث کښې د رسول الله ﷺ مراد دا دې چه دې وخت کښې خو ته دا غله په خپل کور والو تقسيم کړه د هغې نه روستو چه دې کله قدرت پيدا شي نو کفاره ورکړه، په دې صورت کښې به دا حديث په خصوصيت باندې د محمول کولو حاجت نه وی، لهذا زهری چه کومه خبره کوی دا د هغه خپله رائې ده.

[۲۳۹۲]( )حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَجُلًا أَفْطَرَ فِي رَمَضَانَ، فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعْتِقَ رَقَبَةً أَوْ يَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ أَوْ يُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا. قَالَ: لَا أَجِدُ. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اجْلِسْ. فَأُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ، فَقَالَ: خُذْ هَذَا فَتَصَدَّقْ بِهِ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا أَحَدٌ أَحْوَجُ مِنِّي. فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ، وَقَالَ لَهُ: كُلْهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَلَى لَفْظِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا أَفْطَرَ، وَقَالَ فِيهِ: أَوْ تُعْتِقَ رَقَبَةً، أَوْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ، أَوْ تُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه يو کس په رمضان کښې روژه ماته کړه نونبی عليه السلام ورته حکم اوکړو چه غلام آزاد کړه اويابه دوه مياشتې پرله پسې روژې نيسې اويابه شپيته مسکينانو ته خوراك ورکوې نوده ووئيل هيڅ هم راسره نشته نونبی عليه السلام ورته او فرمائيل :کېنه نونبی عليه السلام ته يوه بوجی راوړلې شوه او په هغې کښې کهجورې وې ورته ئې اوفرمائيل دا کهجورې واخله اوصدقه ئې کړه ده عرض اوکړو اې دالله رسوله زمانه بل زيات غريب نشته، نبی عليه السلام چه دا واوريدل نو اوئې خندل تردې چه دوه غاښونه مبارك ئې

---

[۱]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۷۵) (صحيح)

[۲]: انظر حديث رقم: (۲۳۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۷۵) (صحيح)

ښکاره شول، او ورته ئي اوفرمائيل چه خوره ئي، امام ابوداود وائي چه ابن جريج دزهري نه دمالك په شان الفاظ نقل کړي دي چه يوکس روژه ماته کړه.او په دې روايت کښې داسې الفاظ مروي دي او په دې روايت کښې داسې الفاظ مروي دي «أو تعتق رقبة أو تصوم شهرين أو تطعم ستين مسكينا»

[۲۳۹۳](١)حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْطَرَ فِي رَمَضَانَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ. قَالَ: فَأُتِيَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ قَدْرُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا، وَقَالَ فِيهِ: كُلْهُ أَنْتَ وَأَهْلُ بَيْتِكَ وَصُمْ يَوْمًا وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت داسې فرمائي چه يوکس دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شواو په رمضان کښې ئي روژه ماته کړې وه اوباقي حديث ئي دتير شوي روايت په شان بيان کړو مګردډې اضافي سره چه: نبي عليه السلام ته يوه بوجئ راوړلي شوه او په هغې کښې دپنځلس وسقو په قدرکهجورې وې، او پکښې دا الفاظ هم دي چه په خپله ئي خوره - او په خپله کورنۍ ئي خوره او يوه ورځ روژه ونيسه اودا لله تعالى نه بخښنه اوغواړه.

تشريح: ﴿حدثنا جعفر بن مسافر ﴾... د دې روايت په اخر کښې دی ﴿وصم يوما واستغفر الله ﴾چه د هغې د ظاهر نه معلوميږي چه په هغه سړي باندې صرف د يوې ورځې قضاء ده او استغفار، يعنی کفاره واجب نه ده، حال دا چه د جمهورو په نزد قضاء مع الكفارة واجب ده د دې جواب دا کړې شوې دې چه په دې حديث کښې دا زيادت د هشام بن سعد راوی د طرف نه دې کوم چه ضعيف دې.

يو تحقيق انيق :

اعلم ارشدک الله! د رجل مجامع چه کومه قصه په متعدد طرق سره تر اوسه پورې تيره شوې ده په هغې کښې دا دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائيل ﴿اطعمه اهلک ﴾چه هر کله ته فقير ئي نو هغه طعام کفاره د خپل کور په خلقو باندې خرچ کړه چه د هغې معنی جمهور علماء کرامو دا کړې ده چه د فقر په وجه دې في الحال داسې اوکړي بيا د قدرت په وخت کفاره ورکړه. (کما في شرح الخطابي وابن القيم) خو د دې تيرو رواياتو نه په يو روايت کښې د قضاء صوم ذکر نشته چه د هغې په وجه باندې بعض علماء صرف د کفارې د وجوب قائل دی نه د قضاء، خو د جمهورو په نزد د کفارې سره د يوې ورځې هم واجب ده خو په دې يو طريق کښې د قضاء صوم زيادت هم مذکور دې کوم چه د جمهورو د مسلک عين موافق دې، لهذا اوس د دې مجموعي روايت حاصل دا شو چه کفاره ستا په ذمه باندې واجب شوه او د يوې روژې قضاء دې هغه وخت اوکړې، پس ابن قدامه او علامه زرقاني په وجوب قضاء باندې استدلال هم ددې روايت نه کړې دې، په دې صورت کښې د دې زيادت والا روايت د څه قسم توجيه او تاويل حاجت نشته، خو که د مجموعه روايت مطلب دا واخستلي شی چه کفاره ستا نه د فقر په وجه باندې ساقط ده صرف د يوې روژې قضاء دې

(١): تفرد به أبو داود، وانظر حديث رقم :(۲۳۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۵۳۰٤) (صحيح)

اوکړي نو بيا به دا زيادت يقينا د جمهورو خلاف وي، اوس چه کوم حضرات شارحينو چه په هغې کښې صاحب بذل هم دې او په دې زيادت باندې کلام کوی او دا چه په دې کښې هشام بن سعد راوی ضعيف دې او دا زيادت ثابت نه دې بلکه وهم دې دا حضرات کيدې شی چه د دې زيادت هم دا معنی مراد اخلی، والله تعالی اعلم بيا روستو د مزيد غور کولو نه پس په دې پوهه شوم چه کوم حضرات په دې زيادت باندې کلام کوی هغه د نفس ثبوت په اعتبار سره نه دې بلکه صحيح دا ده چه دا زيادت مرسلا ثابت دې لکه چه د موطاء په روايت کښې دی، او د ابوداود په دې روايت کښې هشام بن سعد دا زيادت په دې حديث کښې مسندا روايت کړې دې. فزال الخلجان فلله الحمد والمنة.

[۲۳۹٤](١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْقَاسِمِ، حَدَّثَهُ أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، حَدَّثَهُ أَنَّ عَبَّادَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُولُ: أَتَى رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فِي رَمَضَانَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، احْتَرَقْتُ. فَسَأَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَأْنُهُ. قَالَ: "أَصَبْتُ أَهْلِي. قَالَ: تَصَدَّقْ. قَالَ: وَاللَّهِ مَا لِي شَيْءٌ وَلَا أَقْدِرُ عَلَيْهِ. قَالَ: اجْلِسْ. فَجَلَسَ، فَبَيْنَمَا هُوَ عَلَى ذَلِكَ أَقْبَلَ رَجُلٌ يَسُوقُ حِمَارًا عَلَيْهِ طَعَامٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيْنَ الْمُحْتَرِقُ آنِفًا؟ فَقَامَ الرَّجُلُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَصَدَّقْ بِهَذَا. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعَلَى غَيْرِنَا؟ فَوَاللَّهِ إِنَّا لَجِيَاعٌ مَا لَنَا شَيْءٌ. قَالَ: كُلُوهُ".

ترجمه: د ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې چه فرمائيل ئې نبی عليه السلام ته يوکس راغې اوهغه په جومات کښې وو اوعرض ئې اوکړو چه اې دالله رسوله اوسوزيدم نبی عليه السلام دهغه دحال تپوس اوکړونو اوئې وئيل چه دخپلې ښځې سره مې جماع کړې ده نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل صدقه ورکړه هغه عرض اوکړو هيڅ راسره نشته او په صدقه باندې قادرنه يم، نبی عليه السلام ورته اوفرمائيل کينه نوهغه کيناستو، نبی عليه السلام لا په دې حال کښې ووچه يوکس خر را روان کړې وو او راروان وو اودخوراك غله ئې ورباندې بارکړې وه نبی عليه السلام تپوس اوکړو هغه سوزيدلې څه شو؟نوهغه پاځيدونبی عليه السلام ورته اوفرمائيل داواخله اود الله په لاره کښې ئې خرچ کړه ده عرض اوکړو اې د الله رسوله ايازه بل چاته صدقه ورکړم په الله قسم مونږ په خپله وږی يونبی عليه السلام ورته او فرمائيل خوره ئې

[۲۳۹۵](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: فَأُتِيَ بِعَرَقٍ فِيهِ عِشْرُونَ صَاعًا.

ترجمه: عباد بن عبدالله دام المومنين عائشې رضي الله عنها نه ددې روايت په شان روايت نقل کړې دې چه نبی عليه السلام ته يوه بوجۍ دخوراك مال پيش کړې شوه په کومه کښې چه شل صاعه دخوراك سامان وو.

(١): صحيح البخاري/الصوم ٢٩ (١٩٣٥)، صحيح مسلم/الصيام ١٤ (١١١٢)، (تحفة الأشراف: ١٦١٧٦)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى/الصوم (٣١١٠)، مسند احمد (٦/١٤٠، ٢٧٦)، سنن الدارمي/الصوم ١٩ (١٧٥٩) (صحيح)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٦١٧٦) (منكر)

بَابُ التَّغْلِيظِ فِي مَنْ أَفْطَرَ عَمْدًا

په قصد سره د روژې ماتولو د سزا بيان

[۲۳۹۶](۱) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ مُطَوِّسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ ابْنُ كَثِيرٍ: عَنْ أَبِي الْمُطَوِّسِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا مِنْ رَمَضَانَ فِي غَيْرِ رُخْصَةٍ رَخَّصَهَا اللَّهُ لَهُ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صِيَامُ الدَّهْرِ".

ترجمه: دابو المطوس پلار دابوهريره عنه نه روايت كوى فرمائى چه نبى عليه السلام ارشاد فرمائيلي دي څوک چه په رمضان کښې يوه ورځ روژه ماته کړي بغيرد هغه رخصتونونه کوم چه الله تعالى رااليږلي دي نو چه تمام عمر روژې اونيسي ددې جبيره به ادا نکړې شي.

توضيح الحديث

يعنى كوم سړي چه بغير د عذر او رخصت نه د رمضان يوه روژه ترک کړي نو روستو که هغه ټول عمر روژه اونيسى نو د هغې کمي نه شي پوره كيدې يعنى د فضيلت په لحاظ سره، ګيني د يوې روژې قضاء په يوې روژې سره كيږي، خو د حديث د ظاهر نه مطلقا د قضاء نفى كيږى فهذا من باب التغليظ والتشديد، دا د ائمه اربعه او جمهور علماء د مسلک په اعتبار سره دي ګيني د نورو علماء كرامو په دې کښې اختلاف دې، فقد قال ربيعة لا يحصل القضاء الا باثنى عشر يوما وقال بن المسيب يصوم عن كل يوم شهرا وقال النخعي لا يقضى الا بالف يوم، وقال على وابن مسعود لا يقضيه صوم الدهر، كذا فى الميزان للشعرانى، من هامش البذل.

والحديث اخرجه ايضا ابن ماجة والدارمي والبيهقي والدارقطني واخرجه البخارى معلقا. (المنهل)

[۲۳۹۷](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي حَبِيبٌ، عَنْ عُمَارَةَ، عَنِ ابْنِ الْمُطَوِّسِ، قَالَ: فَلَقِيتُ ابْنَ الْمُطَوِّسِ فَحَدَّثَنِي، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَ حَدِيثِ ابْنِ كَثِيرٍ وَسُلَيْمَانَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَاخْتُلِفَ عَلَى سُفْيَانَ وَشُعْبَةَ عَنْهُمَا ابْنُ الْمُطَوِّسِ وَأَبُو الْمُطَوِّسِ.

ترجمه: عماره دابن مطوس نه اوهغه دخپل پلارنه اوهغه دابوهريره نه مرفوع روايت په مثل دابن كثير اوسليمان نقل کړې دي، امام ابوداود فرمائى چه چه دشعبه اوسفيان په مينځ کښې اختلاف دې چه دراوى نوم ابن المطوس دي اوكه ابو المطوس دې.

بَابُ مَنْ أَكَلَ نَاسِيًا

په هيره سره د روژه دارد خوراک څښاک كولو بيان

اكل وشرب ناسيا (په هيره خوراک څکاک) دجمهور په نزد مفسد صوم نه دې، په دې کښې امام مالک او د ابن ابى ليلى اختلاف دې، د هغوى په نزد مفسد دې، او عطاء او سفيان ثورى د دې دواړو اكل وشرب او جماع ترمينځه فرق کړې دې چه جماع ناسيا مفسد دې اكل وشرب مفسد نه دې.

(۱): سنن الترمذي/الصوم ۲۷ (۷۲۳)، سنن ابن ماجه/الصيام ۱۵ (۱۶۷۲)، (تحفة الأشراف: ۱۴۶۱۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۸۶، ۴۴۲، ۴۵۸، ۴۷۰)، سنن الدارمي/الصوم ۱۸ (۱۷۵۶) (ضعيف)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۴۶۱۶) (ضعيف)

[٢٣٩٨](١)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، وَحَبِيبٍ، وَهِشَامٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَكَلْتُ وَشَرِبْتُ نَاسِيًا وَأَنَا صَائِمٌ. فَقَالَ: "اللَّهُ أَطْعَمَكَ وَسَقَاكَ".

ترجمه: ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یو کس دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله روژه رانه هیره وه اوخوراک څښاك مې اوکړو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل داخوراك اوڅناك دربانديې الله تعالی کړې دې (یعنی په هیره سره په روژه کښې دخوراك څښاك کولو په وجه باندې روژه نه ماتیږي).

توضیح الحدیث

د ﴿ رجل ﴾نه مراد خپله ابوهریره رضی الله عنه قاله الحافظ. مضمون حدیث واضح دې، والحدیث اخرجه ایضا البخاری ومسلم والترمذی والنسائی والدارقطنی والحاکم وابن خزیمة والدارمی والبیهقی من طرق بالفاظ متقاربة. (المنهل)

بَابُ تَأْخِيرِ قَضَاءِ رَمَضَانَ

د رمضان د روژو په قضاء راوړلو کښې د تاخیر بیان

[٢٣٩٩](٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ سَمِعَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا تَقُولُ: "إِنْ كَانَ لَيَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَهُ حَتَّى يَأْتِيَ شَعْبَانُ".

ترجمه: دام المومنین عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه په ما باندې درمضان دروژو قضا واجب شوې وه اوما اونه نیول شوې تردې چه دشعبان میاشت راغله

شرح حدیث :

سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی زما په ذمه چه د رمضان کومې روژې وې پوره کال د هغې د ساتلو حاجت نه راتلو تردې چه شعبان به راغلو په دې کښې به هغه روژې نیولې، د دې تاخیر وجه هغه ده چه د هغې طرف ته اشاره د بخاری ومسلم په روایت کښې دی، ففی البخاری الشغل بالنبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولفظ مسلم لمکان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، یعنی خپل خاوند د رسول الله ﷺ په رعایت کښې د دې دپاره چه د هر نوع د خدمت دپاره تیار اوسی او په شعبان کښې د ساتلو ضرورت به په دې وجه راتلو اول خو په دې وجه چه اوس د مزید تاخیر ګنجائش نشته، دویم دا چه په دې میاشت کښې به رسول الله ﷺ خپله په کثرت سره روژې نیولې.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٤٣٠، ١٤٤٦٠، ١٤٤٧٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصوم ٢٦(١٩٣٣)، صحيح مسلم/الصيام ٣٣ (١١٥٥)، سنن الترمذي/الصوم ٢٦ (٧٢١)، سنن ابن ماجه/الصيام ١٥ (١٦٧٣)، مسند احمد (٣٩٥/٢، ٥١٣، ٤١٥، ٤٩١)، سنن الدارمي/الصوم ٢٣ (١٧٦٧) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الصوم ٤٠ (١٩٥٠)، صحيح مسلم/الصيام ٢٦ (١١٤٦)، ن الصيام ٣٦ (٢٣٢١)، سنن ابن ماجه/الصيام ١٣ (١٦٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٧٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصيام ٦٦ (٧٨٣)، موطا امام مالك/الصيام ٢٠ (٥٤)، مسند احمد (١٢٤/٦، ١٧٩) (صحيح)

د رمضان ثانی پورې که ئې تاخیر اوکړو :

که د یو سړی په ذمه باندې د رمضان د روژو قضاء وی او هغه دومره تاخیر اوکړو بغیر د عذر نه چه رمضان ثانی راغلو نو بیا په دې باندې جمهور علماء او ائمه ثلاث په نزد قضاء مع الفدیة واجب ده، او حنفیه، حسن بصری او نخغی په نزد صرف قضاء ده فدیه نه ده، او سعید بن جبیر اوقتاده مذهب دا دې چه په دې صورت کښې صرف فدیه ده قضاء نشته، کذا قال الخطابی وابن القیم،اوپه دې کښې علامه عینی رحمه الله د امام طحاوی میلان د جمهور د مسلک طرف ته لیکلې دې. والحدیث اخرجه ایضا البخاری ومسلم وابن ماجة والبیهقی. (المنهل)

بَاب فِيمَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ

د چا په ذمه چه روژې وې او مړشی

[۲٤۰۰](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا فِي النَّذْرِ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ.

ترجمه: دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څوك چه په داسې حال کښې مړ شي چه په ده باندې دروژو قضالازم شوې وې نودده وارث به دده دطرف نه روژې نیسي. امام ابوداود وائی داحکم دنذرپه باره کښې ئې اوهمدا د امام احمد بن حنبل قول دې.

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :

که یو سړې وفات شی او حال دا چه د هغه په ذمه باندې د روژې قضاء وی نو د مړی د ولی د طرف نه روژه نیولې شی یا نه؟ په دې مسئله کښې حافظ ابن القیم رحمه الله درې مذاهب نقل کړې دی. ۱: لا مطلقا... یعنی ولی د هغه د طرف نه روژه نه شی نیولې برابره خبره ده که واجب اصلی وی لکه قضاء رمضان یا غیر اصلی لکه صوم منذور، دا مذهب دې د امام مالک، ابوحنیفه او ظاهر مذهب شافعی. ۲: نعم، مطلقا، دا مذهب دې د ابوثور او امام شافعی یو روایت. ۳: واجب غیر اصلی یعنی صوم منذور نیولې شی نه فرض اصلی، دا مذهب دې د ابن عباس او امام احمد کوم چه د هغوی نه صراحة منصوص دې، او هم دا منقول دی د لیث بن سعد نه. اهـ امام ابن القیم رحمه الله چه د امام شافعی رحمه الله کوم قول ته ظاهر مذهب وئیلې دې هغه د هغه قول قدیم دې کوم چه هغه په صحت حدیث باندې معلق کړې وو لکه چه د هغه وصیت مشهور دې، او امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې هم هغه قول قدیم ته الصحیح المختار لیکلې دې هغه فرمائی : وهو الذی صححه محققوا اصحابنا الجامعین بین الفقه والحدیث لقوة الاحادیث الصحیحة الصریحة. اهـ من المنهل، په بذل کښې د ملا علی قاری نه د داود ظاهری مذهب هم هغه نقل کړې دې کوم چه د امام احمد مذهب منصوص دې.

---

(۱): صحیح البخاري/الصوم ٤۲(۱۹۵۲)، صحیح مسلم/الصیام ۲۷ (۱۱٤۷)، (تحفة الأشراف: ۱٦۳۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦۹/٦)، ویأتي هذا الحدیث في الأیمان (۳۳۱۱) (صحیح)

د جمهورو د طرف نه د حديث توجيه :

په دې پورته ذکر شوې مذاهبو د وجې نه دا حديث د جمهور بلکه د ائمه اربعه خلاف دې، البته د ابوثور او امام شافعی د يو روايت موافق دې، لهٰذا دا حديث د جمهورو په نزد مؤول دې، صام عنه وليه کښې د صوم نه بدل صوم يعنی فديه مراد ده، د جمهورو دليل د عائشې رضي الله عنها حديث دې : لا تصوموا عن موتاکم واطعموا عنهم... هم دغه شان په موطاء کښې د ابن عمر رضي الله عنه اثر دې ﴿لا يصوم احد عن احد﴾

په کومو عباداتو کښې نيابة عن الغير جائز دې؟

د پورته ذکر شوی اختلاف نه معلومه شوه چه د امام احمد او ظاهريه په نزد په صوم منذور کښې نيابة عن الغير جائز دې خلافا للجمهور. زمونږ په نزد دا مسئله په کومو عباداتو کښې نيابة عن الغير جائز دې او په کومو کښې جائز نه دې، کتاب الحج کښې باب الحج عن الغير د لاندې تير شوې دې. والحديث اخرجه ايضا البخاری ومسلم والترمذی وابن ماجة والنسائی والدارقطني والبيهقي. (المنهل)

[۲۴۰۱] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي حُصَيْنٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "إِذَا مَرِضَ الرَّجُلُ فِي رَمَضَانَ ثُمَّ مَاتَ وَلَمْ يَصُمْ أُطْعِمَ عَنْهُ وَلَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ قَضَاءٌ، وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ نَذْرٌ قَضَى عَنْهُ وَلِيُّهُ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی کله چه يوکس په رمضان کښې مريض شي اوبيا مرشي اوروژې ئې نيولې نه وې نودده دطرف نه به مسکينانوته خوراك ورکولې شي اوپه ده باندې قضا نشته دې اوکه چرې په ده باندې دنذر روژې پاتې وې نودهغې قضابه دده وارث راوری.

توضيح الحديث

هم دا دې د ابن عباس رضي الله عنه هغه قول منصوص کوم چه د ابن قيم په کلام کښې تير شو، يعنی فرق بين الواجب الاصلی وغير الاصلی.

اختلاف نسخ او د صحيح نسخه تحقيق :

د دې نه پس پوهه شه چه د ابوداود زمونږ په نسخه کښې هم دغه شان دی، ﴿ثم مات ولم يصح﴾ بلکه په اکثر نسخ هنديه کښې دی هم دغه شان دی او دا تصحيف دې، کما فی البذل. بيا وړاندې حضرت ليکی والصواب ما فی النسخة المصرية. ﴿لم مات لم يصم﴾ هم په دې وجه زه وايم چه په سبق کښې ﴿لم يصح﴾... لم يصح (٢) د دې وجه دا ده چه د اکثر اهل علم په دې باندې اتفاق دې چه که يو سړې د مرض يا سفر د وجې نه روژه نه نيسی او بيا د هغه د طرف نه په قضاء کښې څه تفريط نه وی موندلې شوې تردې چه وفات شو نو په دې صورت کښې به په هغه باندې يو څيز هم واجب نه وی، او ا که د هغه د طرف نه په قضاء کښې تفريط بيا موندلې شی يعنی د مرض نه وتلو سره صحت مند شی او په قضاء باندې هغه ته قدرت

(١): تفرد به أبو داود (صحيح)
(٢) يعنی دا لفظ لم يصح صحيح نه دې.

حاصل شی او بیا بغیر د قضاء نه مړ شی نو بیا د هغه د طرف نه فدیه وغیره واجب وی.
والاثر اخرجه ایضا البیهقی فی سننه (المنهل)

ایا په ولی باندې د مړی د طرف نه فدیه ورکول واجب دی :

پورته دا مسئله تیره شوه چه ﴿صام عنه ولیه﴾ نه مراد د جمهورو په نزد بدل صوم یعنی فدیه ده، اوس دا چه په ولی باندې د مړی د طرف نه فدیه واجب ده یا غیر واجب، په دې کښې د احنافو مذهب دا دې چه په ولی باندې د وجوب فدیه دپاره ایصاء میت شرط دې که وصیت اونکړی نو بیا واجب نه دې، که تبرعا ئې فدیه ورکړه نو کافی به شی ان شاء الله تعالی. بله دا چه د وصیت نفاذ هم په ثلث مال کښې دې د دې نه په زیات کښې واجب نه دې، کذافی الدرالمختار. ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه په وارث باندې د لزوم فدیه دپاره زمونږ په نزد ایصاء من المیت ضروری ده خلافا للشافعی. اوجز ۶۲/۳. د کتب شافعیه نه هم دا معلومیږی چه د هغوی په نزد وصیت ضروری نه دې، د هغوی په کتابونو کښې دی ﴿یخرج من ترکته لکل یوم مد طعام﴾ (مغنی المحتاج ۴۳۸/۱) او هم دا مذهب د امام احمد رحمه الله دې. (کما یظهر من المغنی ۸۲/۳) ففیه : الحال الثانی ان یموت بعد امکان القضاء فالواجب ان یطعم عنه لکل یوم مسکین. اه په دې کښې هم د وصیت څه قید نشته.

بَابُ الصَّوْمِ فِي السَّفَرِ

د سفر په دوران کښې د روژو نیولو او نه نیولو د اختیار بیان

دې باره کښې هم په روایاتو کښې مجموعی لحاظ سره اختلاف دې او د فقهاء کرامو ترمینځه هم، هم په دې وجه باندې مصنف درې ابواب قائم کړې دی او په هر یو باب کښې ئې د هغې مناسبت سره روایات راوړې دی، اولنې باب الصوم فی السفر، دویم باب اختیار الفطر، دریم باب اختیار الصیام.

صوم فی السفر کښې مذاهب ائمه :

او په دې کښې مذاهب داسې دی:
۱: د ظاهریه په نزد صوم فی السفر ناجائز دې که چا اونیوه نو هم صحیح به نه وی.
۲: حنفیه شافعیه مالکیه، د دې ائمه ثلاث په نزد چه کوم سړې بغیر د مشقت نه روژه نیولې شی نو د هغه دپاره افضلیت صوم، ګینې افطار اولی دې.
۳: د امام احمد او اوزاعی وغیره په نزد مطلقا افطار افضل دې.
۴: افطار او صوم دواړه برابر دی، یو ته هم په بل باندې ترجیح نشته، روایة عن الشافعی.

[۲۴۰۲]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ حَمْزَةَ الْأَسْلَمِيَّ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي رَجُلٌ أَسْرُدُ الصَّوْمَ، أَفَأَصُومُ فِي السَّفَرِ؟

[1]): صحيح مسلم/الصيام ۱۷ (۱۱۲۱)، (تحفة الأشراف: ۱۶۸۵۷)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصوم ۳۳ (۱۹۴۲)، سنن الترمذي/الصوم ۱۹ (۷۱۱)، سنن النسائي/الصيام ۳۱ (۲۳۰۸)، ۴۳ (۲۳۸۶)، سنن ابن ماجه/الصيام ۱۰ (۱۶۶۲)، موطا امام مالك/الصيام ۷ (۳۴)، مسند احمد (۶/۴۶، ۹۳، ۲۰۲، ۲۰۷)، سنن الدارمي/الصوم ۱۵ (۱۷۴۸) (صحيح)

قَالَ: صُمْ إِنْ شِئْتَ، وَأَفْطِرْ إِنْ شِئْتَ".

ترجمه: دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه حمزه اسلمي به دنبي ﷺ نه تپوس اوکړو عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله زه يو داسې سړې يم چه متواترې روژې نيسم نو آيا په سفرکښې ئې هم ونيسم؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل که دې خوښه وې نو اونيسه اوکه دې خوښه وې نو ماتې ئې کړه.

[۲۴۰۳](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ الْمَدَنِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ حَمْزَةَ بْنَ مُحَمَّدِ بْنِ حَمْزَةَ الْأَسْلَمِيَّ، يَذْكُرُ أَنَّ أَبَاهُ، أَخْبَرَهُ عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي صَاحِبُ ظَهْرٍ أُعَالِجُهُ أُسَافِرُ عَلَيْهِ وَأُكْرِيهِ، وَإِنَّهُ رُبَّمَا صَادَفَنِي هَذَا الشَّهْرُ يَعْنِي رَمَضَانَ، وَأَنَا أَجِدُ الْقُوَّةَ وَأَنَا شَابٌّ وَأَجِدُ بِأَنْ أَصُومَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ أَنْ أُؤَخِّرَهُ فَيَكُونُ دَيْنًا، أَفَأَصُومُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْظَمُ لِأَجْرِي، أَوْ أُفْطِرُ؟ قَالَ: أَيُّ ذَلِكَ شِئْتَ يَا حَمْزَةُ".

ترجمه: حمزه بن عمرو اسلمي دخپل پلار نه اوهغه دده دنيکه نه روايت کوي فرمائي چه ماعرض اوکړو اې دالله سوله زه دسورلئ خاروو والايم اودوي بوخم اوسفرونه کوم په کرايه باندې بعضې وخت دسفرپه دوران کښې درمضان مياشت شروع شي اوزما دروژو نيولو طاقت وي اوحال دادې چه زه ځوان يم ماته روژې نيول اسان ښکارې په نسبت دقضا راوړلو باندې ځکه چه هغه دقرض په شان په سرباندې يوبوج وي نو آيازه په سفرکښې روژې اونيسم په کوم کښې چه اجرهم زيات دې اوکه اونه نيسم؟ نبي ﷺ اوفرمائيل اې حمزه ښنګه چه دې زړه غواړي کوه.

شرح حديث :

حمزه بن عمرو الاسلامي رضي الله عنه فرمائي چه ما رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ! زه سورلئ والا يم، يعنې ما سره اوښه شته چه په هغې کښې مشغول يم او په هغې سفر کوم او هغه په کرايه باندې بوځم، ډير کرته هم دې دوران کښې د رمضان مياشت راشي او زه ځوان سړې يم او طاقت ور يم، زه د خلقو سره د رمضان روژه اونيسم دا زما دپاره زياته اسان ده د دې په نسبت چه هغه وخت خو ئې افطار کړم د سفر د وجې نه او بيا ئې د رمضان تيريدو نه پس په واپسئ باندې اونيسم، يعنې د ټولو سره ئې په رمضان کښې اونيسم اګر چه سفر وی دا زما دپاره ډير اسانه ده، هغه وائي چه ما رسول الله ﷺ ته د دې صورت حال د عرض کولو نه پس اووې چه يا رسول الله! په داسې صورت کښې د روژې زيات ثواب دې يا د افطار؟ هغه اوفرمائيل چه څه ته غواړې هغه شان کوه.

﴿اى ذلک شئت يا حمزة ﴾نه په ظاهره کښې تخيير بين الامرين معلوميږي، يعنې په صوم او افطار دواړو کښې مساوات لکه چه په دې مذاهب اربعه مذکوره کښې څلورم مذهب دې، ځکه چه پورته ذکر شوې صورت حال اوريدلو نه پس هم رسول الله ﷺ هغه ته هم دا فرمائي چه څه غواړې کوه، صوم يا افطار، دويم احتمال په دې کښې دا هم دې چه داسې اوئيلې شي چه په دې صورت کښې رسول الله ﷺ صوم ته ترجيح ورکړه په دې لحاظ سره چه وې فرمائيل چه په دې صورت کښې چه ته څه غواړې هغه اوکړه، او دا ظاهره ده چه

(١): تفرد المؤلف بهذا السياق، وانظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ٣٤٤٠) (ضعيف)

هغه روژه نیول غوښتل لهذ هم دې نه ترجيح شوه.

والحديث اخرجه ايضا الحاكم والبيهقي. (المنهل)

[۲۴۰۴]( )حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ حَتَّى بَلَغَ عُسْفَانَ، ثُمَّ دَعَا بِإِنَاءٍ فَرَفَعَهُ إِلَى فِيهِ لِيُرِيَهُ النَّاسَ وَذَلِكَ فِي رَمَضَانَ. فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ: قَدْ "صَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَفْطَرَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ".

ترجمه: د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی علیه السلام دمديني نه مکې ته روان شو تردې چه عسفان ته ورسیدو بیائې اوبه راوغوښتلې اوخولې ته ئې پورته کړې ددې دپاره چه خلق ئې ووينې اودا واقعه په رمضان کښې پيښه شوې وه ابن عباس به فرمائيل چه نبی علیه السلام دسفرپه دوران کښې روژه نيولې وه اودسفرپه دوران کښې ئې روژې ماتې کړې هم دې نودچاږه چه غواړې روژې دې اونيسې اودچاږه چه غواړې نه دې نيسې.

توضيح الحديث

سيدنا ابن عباس رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د يو سفر حال بيان فرمائي چه کوم د رمضان په مياشت کښې د مديني نه مکې طرف ته شوې وو، يعنى د فتح مکې والا کال لکه چه په راتلونکې حديث کښې به راشي، په دې سفر کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مديني منورې نه د روژې په حالت کښې روان وو تردې چه کله مکې مکرمې ته نزدې مقام عسفان ته اورسيدو، د دې ځائې نه ئې افطار شروع کړو، او په قافله والو باندې د افطار ظاهرولو دپاره يو لوښې کښې اوبه راوغوښتلو سره ئې هغه لږ لوړ اونيولو او هغه اوبه ئې اوڅکلې.

امام نووی رحمه الله په دې حديث باندې ليکې: په دې کښې دليل دې د مذهب جمهور چه په سفر کښې صوم او افطار دواړه جائز دی او دا هم چه د مسافر دپاره دا هم جائز دی چه په بعض ورځو کښې روژه اونيسي او په بعض کښې افطار اوکړي.

تنبيه: پورته په حديث کښې د ﴿عسفان﴾ذکر راغلې دې، دا د مکې او مدينې ترمينځه د يو مشهور قريه او منزل نوم دې، د مکې نه د شپږ ديرشو ميلو په فاصله باندې دې، ملا علی قاری رحمه الله فرمائي او هغه چه ابن الملک وئيلې دی چه دا د يو ځائې نوم دې کوم چه مدينې ته نزدې دې نو يا خو دا د هغه د قلم خطائی ده يا واقعی غلطی ده. اهـ زه وايم او د دې نه هم زياته هغه خبره ده کومه چه د دې حديث په شرح کښې امام نووی رحمه الله ليکلې ده چه د بعض علماء کرامو نه د دې حديث په مفهوم کښې غلطی شوې ده چه ﴿كديد﴾ او ﴿كراع الغميم﴾ ([2]) راو هم دغه شان عسفان) مدينې منورې ته نزدې يوځائې دې، او دا چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژې ماتولو دا واقعه هم د دې ورځې ده چه په کومه ورځ باندې هغه د مدينې منورې نه روان شو، يعنی هغه د مدينې نه روژه نيولو سره روان شو بيا د هغه

[1]): صحيح البخاري/الصوم ۳۸ (۱۹۴۸)، صحيح مسلم/الصيام ۱۵ (۱۱۱۳)، سنن النسائي/الصيام ۳۱ (۲۲۹۳)، (تحفة الأشراف: ۵۷۴۹)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ۱۰(۱۶۶۱)، موطا امام مالك/الصيام ۷ (۲۱)، مسند احمد (۲۴۴/۱، ۳۵۰)، سنن الدارمي/الصوم ۱۵ (۱۷۴۹) (صحيح)

[2]) دا دوه نومونه د مسلم په روايت کښې دي،

راني بدله شوه او دا روژه ئي كراع الغميم ته رسيدو سره افطار كړه، هغه ليكي : او مزيد په دې باندې دې قائل د دې نه دا مسئله مستنبط كړې ده چه كه يو سړې د روژې نيت كولو نه پس د طلوع فجر نه پس سفر شروع كړى نو د داسې مسافر دپاره روژه نيولو سره افطار كول جائز دي، حال دا چه د جمهورو په نزد داسې جائز نه دي، او د مسافر دپاره جائز دي چه كه هغه د ورځې په شروع كښې د روژې نيت اوكړى نو روستو افطار كولې شي. (يعني مقيم ..... كه د روژې نيت اوكړى د فجر صادق په وخت او بيا سفر شروع كړى نو اوس د هغه دپاره افطار جائز نه دې) اهـ. والحديث اخرجه ايضا البخارى ومسلم والنسائى والطحاوى والبيهقى والدارمى بالفاظ متقاربة (المنهل)

[۲۴۰۵](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: سَافَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ، فَصَامَ بَعْضُنَا وَأَفْطَرَ بَعْضُنَا. "فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ وَلَا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ".

ترجمه: د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ په رمضان كښې د نبى عليه السلام سره سفر اوكړو په مونږ كښې بعضو كسانو روژه نيولې وه او بعضو نه وه نيولې، نه به روژه نيونكو په روژه نه نيونكو باندې اعتراض كولو او نه به روژه نه نيونكو په نيونكو باندې اعتراض كولو.

[۲۴۰۶](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَوَهْبُ بْنُ بَيَانٍ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ عَنْ قَزَعَةَ، قَالَ: أَتَيْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ وَهُوَ يُفْتِي النَّاسَ وَهُمْ مُكِبُّونَ عَلَيْهِ، فَانْتَظَرْتُ خَلْوَتَهُ. فَلَمَّا خَلَا سَأَلْتُهُ عَنْ صِيَامِ رَمَضَانَ فِي السَّفَرِ. فَقَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ عَامَ الْفَتْحِ. فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ وَنَصُومُ حَتَّى بَلَغَ مَنْزِلًا مِنَ الْمَنَازِلِ، فَقَالَ: "إِنَّكُمْ قَدْ دَنَوْتُمْ مِنْ عَدُوِّكُمْ وَالْفِطْرُ أَقْوَى لَكُمْ". فَأَصْبَحْنَا مِنَّا الصَّائِمُ وَمِنَّا الْمُفْطِرُ. قَالَ: ثُمَّ سِرْنَا فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا، فَقَالَ: "إِنَّكُمْ تُصَبِّحُونَ عَدُوَّكُمْ وَالْفِطْرُ أَقْوَى لَكُمْ، فَأَفْطِرُوا". فَكَانَتْ عَزِيمَةً مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: ثُمَّ لَقَدْ رَأَيْتُنِي أَصُومُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ ذَلِكَ وَبَعْدَ ذَلِكَ.

ترجمه: د قزعة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه زه د ابوسعيد خدرى نه په خدمت كښې حاضر شوم او هغه خلقو ته فتوې وركوله او خلق په ده باندې راټول شوي وو، زه د فرصت په انتظار كښې وم چه كله هغه يواځې شي نو زه به ترې د مسئلې تپوس اوكړم كله چه يواځې شو ما ترې تپوس اوكړو چه د سفر په دوران كښې د رمضان روژې نيول څه حكم لري؟ هغه اوفرمائيل د فتح مكې په كال مونږ د نبى عليه السلام سره يو ځائې روان شو د هغه هم روژه وه او مونږ هم روژې نيولې وې تردې چه نبى عليه السلام يو ځائې ته ورسيدو نبى عليه السلام اوفرمائيل اوس ستاسو دشمن ته رانزدې شوئ روژې مه نيسئ په روژو ماتولو كښې ستاسو دپاره طاقت

(١): صحيح البخاري/الصوم ٣٧ (١٩٤٧)، صحيح مسلم/الصيام ١٥ (١١١٨)، (تحفة الأشراف: ٦٦٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ٧ (٢٣) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الصيام ١٦ (١١٢٠)، (تحفة الأشراف: ٤٢٨٣)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الصيام ٣١ (٢٣١١)، مسند احمد (٣/٣٥) (صحيح)

دې نوصبا له په مونږ کښې بعضې کسان روژه شول او بعضې کسان روژه نه شول او مونږه روان شو يوبل ځائې ته لاړو نبی ﷺ اوفرمائيل سحربه تاسو د دشمن سره مخامخ شئ اوس روژه مه نيسئ نو مونږ ټولو روژه اونه نيوله ځکه چه دنبی ﷺ حکم، ابوسعيد خدری په اوفرمائيل ماددې نه مخکښې هم دنبی ﷺ سره روژې نيولې وې اوددې نه پس مې هم ورسره روژې نيولې دي.

توضيح الحديث

يعنې چه کله رسول الله ﷺ په پورته ذکر شوی سفر کښې مکې مکرمې ته اورسيدو نو وې فرمائيل چه نزدې تاسو دشمن سره ملاقات کولو والا يئ (د مقابلې وخت راروان دې) لهذا اوس روژه بنده کړئ.

فائده : د دې حديث د لاندې په بذل المجهود کښې يوه بله مسئله ليکلې ده هغه دا چه په دې حديث کښې رسول الله ﷺ صحابه کرامو لره د لقاء عدو په بنياد باندې د افطار صوم حکم فرمائيلې دې، يعنی د سفر د وجې نه ئې نه دی فرمائيلی بلکه د دشمن سره د مقابلې په بنياد باندې، لهذا دلته دا سوال پيدا کيږی چه.

مصلحت حرب د وجې نه روژه افطار کول :

ايا د مصلحت مذکوره د وجې نه په حضر کښې هم د رمضان روژه افطار کولې شی؟ دا سوال قائمولو سره حضرت د دې جواب د البحر الرائق نه دا نقل فرمائيلې دې، صاحب بحر ليکی چه فقهاء کرام فرمائی چه کله غازی ته د دې خبرې يقين راشی چه د رمضان په مياشت کښې د دشمن سره مقابله کول دی او د هغه دا خيال دې چه د رمضان روژه ئې نه ده افطار کړې نو ضعف به راشی نو د هغه دپاره جائز دی دا خبره چه د جنګ شروع کيدو نه مخکښې روژه افطار کړی اګر چه لا سفر ئې شروع کړې هم نه وی. اهـ زه وايم چه دا مسئله اګر چه امام ابوداود په خپل سنن کښې نه ده بيان کړې خو امام ترمذی په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې. باب ما جاء فی الرخصة للمحارب فی الافطار... او هغه د دې د لاندې دا حديث راوړې دې "عن ابن المسيب انه ساله عن الصوم فی السفر فحدث ان عمر بن الخطاب قال غزونا مع رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فی رمضان غزوتين يوم بدر والفتح فافطرنا فيهما" امام ترمذی رحمه الله فرمائی : وقد روی عن عمر بن الخطاب انه رخص فی الافطار عند لقاء العدو وبه يقول بعض اهل العلم. والحديث اخرجه مسلم والطحاوی والبيهقی. (المنهل)

بَابُ اخْتِيَارِ الْفِطْرِ

باب دې چه د سفر په دوران کښې روژې نه نيول اختيارول

[۲۴۰۷](۱) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ سَعْدِ بْنِ زُرَارَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَسَنٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يُظَلَّلُ عَلَيْهِ

[۱]: صحيح البخاري/الصوم ۳٦ (۱۹٤٦)، صحيح مسلم/الصيام ۱۵ (۱۱۱۵)، سنن النسائي/الصيام ۲۷ (۲۲٦٤)، (تحفة الأشراف: ۲٦٤۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۹/۳، ۳۱۷، ۳۱۹، ۳۵۲، ۳۹۹) (صحيح)

وَالزِّحَامُ عَلَيْهِ. فَقَالَ: "لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصِّيَامُ فِي السَّفَرِ".

ترجمه: د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام یو کس اولیدو چه سوری ورباندې شوي وو او ډیره ګڼره ورباندې جوړه شوي وه (او روژه ئې هم وه نو په دې وخت کښې نبی علیه السلام اوفرمائیل: د سفر په حالت کښې روژه نیول نیک کار نه دې.

توضیح الحدیث

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو سفر کښې یو روژه دار صحابی اولیدو چه د هغه د روژې او ګرمئ د وجې نه بد حال وو او خلق ورته راجمع وو، هغوی لره د دهوپ نه د بچ کولو دپاره په هغوی باندې سورې کړې وو، چه کله ئې دا صورت حال اولیدو نو وې فرمائیل چه په سفر کښې روژه ساتل هیڅ قسم نیکی نه ده.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والدارمی والبیهقی بالفاظ متقاربة، واخرجه النسائی من طریق یحیی بن ابی کثیر... واخرج الطحاوی نحوه، واخرجه ایضا عن ابن عمر رضی الله عنهما. (المنهل)

[٢٤٠٨] (١) حَدَّثَنَا شَيْبَانُ بْنُ فَرُّوخَ، حَدَّثَنَا أَبُو هِلَالٍ الرَّاسِبِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ سَوَادَةَ الْقُشَيْرِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، رَجُلٍ مِنْ بَنِي عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ إِخْوَةِ بَنِي قُشَيْرٍ، قَالَ: أَغَارَتْ عَلَيْنَا خَيْلٌ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْتَهَيْتُ، أَوْ قَالَ: فَانْطَلَقْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَأْكُلُ. فَقَالَ: اجْلِسْ فَأَصِبْ مِنْ طَعَامِنَا هَذَا. فَقُلْتُ: إِنِّي صَائِمٌ. قَالَ: اجْلِسْ أُحَدِّثْكَ عَنِ الصَّلَاةِ وَعَنِ الصِّيَامِ "إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى وَضَعَ شَطْرَ الصَّلَاةِ أَوْ نِصْفَ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمَ عَنِ الْمُسَافِرِ وَعَنِ الْمُرْضِعِ أَوِ الْحُبْلَى وَاللَّهِ لَقَدْ قَالَهُمَا جَمِيعًا أَوْ أَحَدَهُمَا". قَالَ: فَتَلَهَّفَتْ نَفْسِي أَنْ لَا أَكُونَ أَكَلْتُ مِنْ طَعَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: انس بن مالک ونه (څوک چه دبني کعب بن عبد الله قبیلې والادې، هغه انس بن مالک مراد نه دې کوم چه مشهور دې او خادم الرسول دې) نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام شهسوارانو په مونږ باندې حمله اوکړه دې وائی زه لاړم او درسول الله په خدمت کښې حاضر شوم او هغه خوراک کولو ماته ئې اوفرمائیل کینه زمونږ ددې خوراک نه څه وخوره کوم چه دادې ما ورته اووئیل زما روژه ده راته ئې اوفرمائیل دروژې او مونځ متعلق درته څه وایم الله جل جلاله نیم مونځ او روژه مسافر ته معاف کړې ده او همدا رنګې روژه کې هم معاف کړې ده تې ورکونکې او حاملې ښځې ته په الله مې دې قسم وې نبی علیه السلام ددواړو نوم واخستو (حامله اوتې ورکونکې) یائې د یوې ذکر وکړو انس وائی ماته افسوس راغې او بیاې دنبی علیه السلام دخوراک نه خوراک وکړو (یعنی روژه خونفلې وه دا بیا هم نیولې کیدې شوه خو دا برکت او سعادت بیا نه شی ملاویدې نو په دې وجه مې دنبی علیه السلام سره خوراک وکړو.

توضیح الحدیث

دا انس بن مالک کعبی القشیری دې لکه چه د هغه د دې نسب مذکور نه هم معلومیږی، او کوم انس رضی الله عنه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مشهور خادم دې، هغه انس بن مالک بن النضر الانصاری الخزرجی دې، د دې انس رضی الله عنه په باره کښې لیکلې دی: من رجال الاربعة

(١): سنن الترمذي/الصوم ٢١ (٧١٥)، سنن النسائي/الصيام ٢٨ (٢٢٧٦)، سنن ابن ماجه/الصيام ١٢ (١٦٦٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٧/٤، ٢٩/٥) (حسن صحيح)

ليس له الا هذا الحديث الواحد.

بهرحال دا فرمائی چه زمونږ په قوم باندې د رسول اللهﷺ لښکر حمله اوکړه، او هغه خپله اسلام قبول کړې وو په دې وجه هغه د خپل قوم نه جدا کيدو سره وائی چه زه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شوم په داسې حال کښې چه هغه خوراک کولو، هغه فرمائی چه رسول اللهﷺ ماته اوفرمائيل چه راشه کينه ته هم مونږ سره په خوراک کښې شريک شه، ما عرض اوکړو زما روژه ده، رسول اللهﷺ اوفرمائيل ته کينه راځه (زه تاته د مسافر د روژې حکم بيانوم) بيا ئې اوفرمائيل : الله پاک مسافر ته د سفر په حالت کښې روژه معاف کړې ده، او د هغه په حق کښې ئې مونځ نيم کړې دې، او د مرضع او حبلی (پئ ورکونکې او اميدواره زنانه) په باره کښې ئې هم فرمائيلې دی چه د هغوی روژه ئې معاف کړې ده، هغه وائی چه والله دا ماته ياد پاتې نه شو چه مرضع او حبلی دواړه ئې فرمائيلې وو يا په دوی کښې يو (د روايت د سياق نه معلوميږی چه د دې باوجود هم رسول اللهﷺ سره په خوراک کښې شريک نه شو لکه چه هغه وړاندې فرمائی) ﴿فتهلفت نفسى﴾او د ترمذی په روايت کښې دی ﴿فيا لهف نفسى﴾چه زه افسوس کوم په ځان باندې رسول اللهﷺ سره په خوراک نه کولو باندې.

په دې روايت کښې دا دی چه ﴿فانطلقت الى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾چه کله مسلمانانو زمونږ په قوم باندې حمله اوکړه نو زه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر شوم، دلته سوال دا دې چه هغه د رسول اللهﷺ په خدمت کښې دې وخت کښې ولې راغلو، حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه د مسند احمد په روايت کښې دی ﴿فى ابل لجار لى اخذت﴾، او د نسائی په روايت کښې دی ﴿فى ابل كان لى اخذت﴾يعنی دې لښکر زما په اوښانو باندې قبضه کړې وه يعنی هغه لره مال غنيمت جوړولو سره، ځکه چه لښکر ته خو د هغوی په باره کښې معلومه نه وه چه دوی مسلمانان شوی دی، لهذا په دې سلسله کښې هغه رسول اللهﷺ ته راغلې وو.

يو بل سوال او د هغې جواب:

په دې حديث باندې دا سوال پيدا کيږی چه دا د رمضان د مياشتې قصه ده يا د غير رمضان، که د رمضان ده نو رسول اللهﷺ څنګه خوراک کولو؟ هغه خو مسافر نه وو، او که د غير رمضان ده نو په غير رمضان کښې د مسافر نه د روژې د معاف کيدلو څه معنی؟ اوس يا خو به دا وئيلې شی چه کيدې شی خپله رسول اللهﷺ هم په سفر کښې وی، په يو منزل باندې ايسار شوې وی، او د لښکر دا دسته ئې وړاندې ليږلې وی يا داسې اوئيلې شی چه دا واقعه د غير رمضان ده، رسول اللهﷺ په مدينه منوره کښې وو او دې صحابی نفلی روژه نيولې وه نو رسول اللهﷺ هغه ته اوفرمائيل، چه د هغې حاصل دا ده چه د مسافر نه خو د رمضان فرض روژه هم معاف ده او تا خو نفلی روژه نيولې ده. والله تعالى اعلم ولم يتعرض لهذا احد من الشراح.

والحديث اخرجه ايضا احمد وابن ماجة والترمذى....... والبيهقى (المنهل)

بَابُ فِيمَنِ اخْتَارَ الصِّيَامَ

د سفر په دوران کښې د روژو نیولو بیان

[۲۴۰۹] ()حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، حَدَّثَتْنِي أُمُّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ غَزَوَاتِهِ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ حَتَّى إِنَّ أَحَدَنَا لَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ أَوْ كَفَّهُ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ، مَا فِينَا صَائِمٌ إِلَّا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ".

ترجمه: دابوالدرداء رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه مونږ دنبی ﷺ سره اووتو په بعضو غزاګانو دهغه کښې اوسخته ګرمي وه تردي چه په مونږ کښې به یوکس پخپل سرباندي لاس کیخودو اویابه ئي ورغوي کیخودو په سرباندي په وجه دسختوالي دګرمي اوپه مونږ کښې دنبی ﷺ اوعبدالله بن رواحه نه علاوه دبل چاروژه نه وه ددي حدیث نه معلومه وشوه که چرې دچا طاقت وي نوروژه نیول افضل دي.

[۲۴۱۰] ()حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ ح وحَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَزْدِيُّ، حَدَّثَنِي حَبِيبُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ سِنَانَ بْنَ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبِّقِ الْهُذَلِيَّ، يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَتْ لَهُ حَمُولَةٌ تَأْوِي إِلَى شِبَعٍ فَلْيَصُمْ رَمَضَانَ حَيْثُ أَدْرَكَهُ".

ترجمه: دسنان بن سلمه رضی الله عنه نه روایت دي فرماني چه نبی ﷺ اوفرمائیل دچاسره چه داسې سورلئ وي چه په اسانئ سره منزل ته رسیږي او په مړه خیټه ورته خوراك ملاویږي هغه لره پکاردي چه کله درمضان میاشت راشي روژې دي ونیسي.

شرح حدیث:

د دې حدیث دوه مطلبونه کیدې شي، اول دا چه د کوم سړی سره سورلی وی او مختصر شان د هغه سفر وی، او د مابنام پورې خپل منزل ته رسیدو سره په خپل وخت باندې خوراک څکاک کولې شی او څه مشقت هغه ته نه وی نو هغه له پکار دی چه د رمضان روژه اونیسی چه کله هم د رمضان میاشت شروع شی، دې مطلب ته ئې په بذل کښې بعید وئیلې دی، په ظاهره کښې دې وجه باندې چه هر کله د هغه سړی سفر قصیر دې نو بیا په هغه باندې روژه واجب ده که هغه سره سورلئ وی یا نه وی، لهذا صحیح مطلب دا دې چه کوم سړې مسافر شرعی وی اګر چه د هغه مسافت هر څومره اوږد وی او هغه سره سورلئ هم وی چه د هغې د وجې نه په لاره کښې په منزل باندې د خوراک څکاک کولو په وخت رسیدلې شی نو په داسې سړی باندې چه چرته هم د رمضان میاشت راشی نو هغه له روژه نیول پکار دی، یعنی اګر چه جائز افطار هم دې خو د عدم مشقت د وجې نه هغه له روژه نیول پکار دی.

[1]: صحيح البخاري/الصوم ۳۵(۱۹۴۵)، صحيح مسلم/الصيام ۱۷(۱۱۲۲)، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۷۸)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ۱۰ (۱۶۶۳)، مسند احمد (۱۹۴/۵، ۱۴۴/۶) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۴۵۶۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۷۴/۳، ۴۷۶، ۷/۵) (ضعيف)

[۲۴۱۱](¹)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ حَبِيبٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ سِنَانِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبَّقِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَدْرَكَهُ رَمَضَانُ فِي السَّفَرِ، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: حبیب رضي الله عنه دسنان بن سلمه رضي الله عنه نه اوهغه دسلمه بن المحبق نه دنبی عليه السلام نه دتیر شوي روایت په شان روایت بیان کړې دې مګر په دې کښې دا الفاظ دي: « من أدركه رمضان في السفر، ، فذكر معناه.

بَابُ مَتَى يُفْطِرُ الْمُسَافِرُ إِذَا خَرَجَ

مسافر چه کله سفر شروع کړی نودکوم ځائې نه به افطارکوي

د ترجمة الباب شرح :

په ظاهره کښې د ترجمة الباب مطلب دا دې چه کوم سړې د خپل کور نه د سفر دپاره اوځی او میاشت د رمضان وی نو هغه لره کوم وخت خوراک څکاک کول پکار دی، یعنی که د روژې نیولو اراده ئې نه وی، د دې جواب دا کیدې شی چه کله د خپل کلی نه اوځی هغه وخت دې خوراک څکاک اوکړی د مبارکې میاشت په رعایت کښ، خو دا څه د خاص مسئلې خبره نه شوه، دويم مطلب د ترجمة الباب دا کیدې شی چه یو سړې لا په کور باندې دې خو د هغه اراده په سفر باندې د تلو ده یعنی تر اوسه پورې ئې سفر نه دې شروع شوې نو هغه په دې صورت کښې روژه ماتولې شی یا نه؟ جواب دا دې چه د دې مدار په طلوع فجر باندې دې که هغه سړې د طلوع فجر په وخت په خپل کور کښې مقیم وی او د صبا راختلو نه پس د هغه سفر شروع شو نو بیا خو افطار کولې شی، د دې نه روستو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه :

ایا د مسافر دپاره د روژې د نیت کولو نه پس افطار کول جائز دی؟

دلته یوه اختلافی مسئله بله ده، هغه دا چه که مسافر سړې د روژې نیت اوکړی نو ایا د نیت کولو نه پس هم د هغه دپاره افطار جائز دې؟ هم دغه شان که په شروع کښې یو سړې مقیم وو او هغه د روژې نیت کړې وو بیا د ورځې دوران کښې هغه سفر شروع کړو نو په دې دواړو صورتونو کښې په یو صورت کښې د روژې د نیت کولو نه پس هغه دپاره روژه ماتول جائز دی یا نه؟ جواب دا دې چه د احنافو په نزد په دواړو صورتونو کښې افطار ناجائز دې، (²) اود امام احمد په نزد په دواړو صورتونو کښې جائز دې، او د باقی دواړو یعنی امام مالک او امام شافعی په نزد په اول صورت کښې افطار جائز دې، په دويم صورت کښې ناجائز، د دې نه روستو حدیث الباب واخلئ.

[۲۴۱۲](³)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ. ح وحَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَحْيَى الْمَعَافِرِيُّ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، وَزَادَ جَعْفَرٌ، وَاللَّيْثُ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ أَبِي حَبِيبٍ، أَنَّ كُلَيْبَ بْنَ

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٥٦١) (ضعيف)

²) ففي الخسامي : اذا اصبح صائما وهو مسافر او مقيم فسافر لا يباح له الفطر)

³): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣٤٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٧، ٣٩٨) سنن الدارمي /الصوم ١٧(١٧٥٤) (صحيح)

ذُهْلِ الْحَضْرَمِيِّ، أَخْبَرَهُ عَنْ عُبَيْدٍ، قَالَ جَعْفَرٌ ابْنُ جَبْرٍ، قَالَ: "كُنْتُ مَعَ أَبِي بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفِينَةٍ مِنَ الْفُسْطَاطِ فِي رَمَضَانَ، فَرُفِعَ ثُمَّ قُرِّبَ غَدَاهُ. قَالَ جَعْفَرٌ فِي حَدِيثِهِ: فَلَمْ يُجَاوِزِ الْبُيُوتَ حَتَّى دَعَا بِالسُّفْرَةِ. قَالَ: اقْتَرِبْ. قُلْتُ: أَلَسْتَ تَرَى الْبُيُوتَ؟ قَالَ أَبُو بَصْرَةَ: أَتَرْغَبُ عَنْ سُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟". قَالَ جَعْفَرٌ فِي حَدِيثِهِ: فَأَكَلَ.

ترجمه: دجعفربن جبیرنه روایت دي چه زه دابوبصره غفاري سره درمضان په میاشت کښې دفسطاط نه دروانیدو په وخت کښې په یوه کیشتۍ کښې سور وم مونږ چه کله دفسطاط نه روان شو نود کشتۍ لنگر (زنځیرونه) پورته شو مونږ ته دسحر ناشته راغله او مونږ دښاردکورونو دحدونونه لانه وو وتلي چه یودسترخوان ئي راوغوښتو اوماته ئي ووئيل راشه خوراك وکړه ماورته اووئيل اياته دښارداکورونه نه ويني ابوبصره راته اووئيل آيا ته دنبي ﷺ د سنتونه نفرت کوي؟ اوبيائي خوراك شروع کړو.

شرح حديث:

﴿عن عبيد قال جعفر : ابن جبر ﴾عبيد کوم چه د کليب استاذ دي د هغه په باره کښې د مصنف يو استاذ يعني عبيدالله بن عمر خو دومره وئيلي دی، او د مصنف دويم استاذ جعفر بن مسافر عبيد بن جبر وئيلي دی.

قوله: قَالَ: "كُنْتُ مَعَ أَبِي بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفِينَةٍ مِنَ الْفُسْطَاطِ فِي رَمَضَانَ، فَرُفِعَ ثُمَّ قُرِّبَ غَدَاهُ. قَالَ جَعْفَرٌ فِي حَدِيثِهِ: فَلَمْ يُجَاوِزِ الْبُيُوتَ حَتَّى دَعَا بِالسُّفْرَةِ. قَالَ: اقْتَرِبْ. قُلْتُ: أَلَسْتَ تَرَى الْبُيُوتَ؟

ابو بصره صحابی، د هغه نوم حميل بن بصرة دي.

عبيد بن جبر فرمائی چه ما يو ځل د ابو بصرة الغفاری رضي الله عنه سره سفر کولو په کشتۍ کښې د فسطاط يعني مصر نه سواره شوې وو (تلل وو اسکندريه ته) د رمضان په مياشت کښې، چه کله په کشتۍ کښې کيناستلو او لنگر ئي پاسولي شو دلته ﴿رفع ﴾ضمير د غير مذکور طرف ته راجع دې ای رفع مرساها يعني د کشتۍ لنگر، که د اوبو جهاز وی يا کشتي چه کله هغه په ساحل باندې اودرولي شی نو هغه کشتۍ لره د ايسارولو دپاره يو ايسارونکي (د لرگی نه جوړ شوې موگي وغيره) وی هغه پکښې واچولي شی هم هغه ته لنگر وئيلي شی.
بيا چه کله روانيږی نو هغه ترې لرې کړې شی لکه چه دلته په روايت کښې دی چه کله د کشتۍ لنگر اوچت کړې شو، بل احتمال دا دې چه د ﴿رفع ﴾ضمير د ابوبصره طرف ته راجع دې يعنی کله چه ابو بصره اوچتولو سره په کشتۍ کښې کينولي شو، راوی وائی چه په کشتۍ کښې فورا د کيناستلو نه پس د هغوی خوراک ورنزدې کړې شو لا ئي د هغه علاقې د کورونو نه تجاوز هم نه وو کړې چه هغوی دسترخوان راوغوښتلو او ماته ئي اوفرمائيل چه خوراک ته رانزدې شه، ما عرض اوکړو چه ايا بيوت مصر ته نه گورئ تاسو؟ هغه اوفرمائيل ايا د رسول الله ﷺ د سنت نه اعراض کوی ﴿فاکل ﴾يعنی دا فرمائيلو سره هغوی خوراک شروع کړو يعنی ما هم د هغوی سره خوراک اوکړو، لکه چه حضرت په بذل کښې ليکلي دی د مسند احمد د روايت د وجې نه، نو دا مضمون حديث شو.

په حديث باندې كلام من حيث الفقه :

چه د هغې نه په ظاهره معلوميږي چه دې صحابی د روژې نيولو نه پس افطار اوكړو خو مونږ ته د دې خبرې معلومات نشته چه هغه په فسطاط كښې مقيم وو يا مسافر، په دې كښې دوه احتمالات دی او د باب په شروع كښې چه كومه مسئله بيان كړې شوې ده چه په هغې كښې د احنافو دا مذهب بيان كړې شوې دې چه انسان مسافر وی يا مقيم د روژې د نيت كولو نه پس د دواړو دپاره افطار ناجائز دې، نو دا صحابی ابو بصره فسطاط كښې مقيم وو يا مسافر، په دې كښې دواړه احتمالات دی، په دواړو صورتونو كښې د هغه دپاره افطار جائز نه وو د احنافو په نزد، او د شوافعو او مالكيانو په نزد د هغه دپاره په يو صورت كښې افطار جائز وو او په يو صورت كښې ناجائز، يعنی كه په فسطاط كښې مسافر وو او د روژې نيت ئې كړې وو نو بيا خو ورله افطار كول جائز وو او كه په فسطاط كښې مقيم وو او د روژې نيت ئې كړې وو نو په دې صورت كښې ناجائز وه، حاصل د حديث دا شو چه د احنافو په دواړو صورتونو كښې او د شافعيه او مالكيه په يو صورت كښې خلاف راځی، البته د امام احمد په دواړو صورتونو كښې موافق دې.

لهذا د دې حديث توجيه به د احنافو د مسلک مطابق كولې شی چه دا صحابی په فسطاط كښې مقيم وو او دې د فسطاط نه طلوع فجر نه مخكښې بغير د روژې د نيت كولو نه روان شو او په كشتئ كښې د سوريدو نه پس چه كله مسافر شو او بيوت مصر نه واوختل نو بيا ئې روژه افطار كړه يعنی د افطار اظهار، ځكه چه د روژې نيت خو ئې كړې نه وو، كه په دې باندې دا اشكال وی چه په روايت كښې خو دا دی ﴿فلم يجاوز البيوت﴾ د دې جواب دا دې چه وړاندې هم په دې روايت كښې دی ﴿الست ترى البيوت﴾ معلومه شوه چه صورت حال دا وو چه ﴿تجاوز عن البيوت﴾ خو شوې وو خو هغه بيوت په كشتئ كښې د كيناستلو نه پس تر اوسه پورې په نظر راتلل. فلا اشكال. او كه دا فرض كړې شی چه دا صحابی په فسطاط كښې مسافر وو نو په دې صورت كښې به صرف دا توجيه كافی وی چه هغوی په دې ورځ باندې د روژې نيولو نيت نه وو كړې، او يوه عام توجيه كومه چه په دواړو صورتونو كښې كيدې شی كه هغه مقيم وی يا مسافر دا دې چه ممكنه ده د هغه صحابی مسلک هم دا وی كوم چه د امام احمد دې، او دا چه د هغه په نزد د يو حديث نه ثابت وی چه د هغې په بناء هغوی اوفرمائيل : اترغب عن سنة رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كينې فی الواقع خو په دې مسئله كښې هيڅ صريح حديث نه دې نقل شوې. اهـ من المنهل.

والحديث اخرجه ايضا احمد والبيهقی والدارمی (المنهل)

....

بَابُ قَدْرِ مَسِيرَةِ مَا يُفْطِرُ فِيهِ

بيان د مقدار د مسافې د روژې پريخودلو دپاره

[۲۴۱۳]()حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ مَنْصُورٍ الْكَلْبِيِّ، "أَنَّ دِحْيَةَ بْنَ خَلِيفَةَ خَرَجَ مِنْ قَرْيَةٍ مِنْ دِمَشْقَ مَرَّةً إِلَى قَدْرِ قَرْيَةِ عُقْبَةَ مِنَ الْفُسْطَاطِ وَذَلِكَ ثَلَاثَةُ أَمْيَالٍ فِي رَمَضَانَ. ثُمَّ إِنَّهُ أَفْطَرَ وَأَفْطَرَ مَعَهُ نَاسٌ، وَكَرِهَ آخَرُونَ أَنْ يُفْطِرُوا. فَلَمَّا رَجَعَ إِلَى قَرْيَتِهِ، قَالَ: وَاللَّهِ لَقَدْ رَأَيْتُ الْيَوْمَ أَمْرًا مَا كُنْتُ أَظُنُّ أَنِّي أَرَاهُ، إِنَّ قَوْمًا رَغِبُوا عَنْ هَدْيِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ". يَقُولُ ذَلِكَ لِلَّذِينَ صَامُوا. ثُمَّ قَالَ عِنْدَ ذَلِكَ: اللَّهُمَّ اقْبِضْنِي إِلَيْكَ.

ترجمه: دمنصور کلبي نه روايت دې فرمائي چه يوځل دحيه بن خليفه رمضان کښې د دمشق دکلي نه په دومره فاصله لرې تلې وو څومره فاصله چه دفسطاط نه عقبه پورې ده اودا درې ميله فاصله ده نوهغه روژه اونه نيوله اودده نورو ملګروهم اونه نيوله ليکن ډيرو عالمانو دفاصلې دکم والې په وجه روژه ماتول مکروه وګڼل، کله چه دحيه خپل کلي ته واپس راغې هغه اووئيل په الله قسم نن ما يوه داسې خبره ليدلې ده دکومې دليدلوچه زما ګمان نه وو، چه خلقو دنبي ﷺ دطريقي نه اودصحابه کرامودطريقې نه نفرت کړې دې ددې نه هغه کسان مراد وو چاچه په سفرکښې روژه نيولې وه ددې نه پس هغه دعا وغوښتله اې ربه ماخپل ځان ته دروليږه (وفات مې کړې).ر

شرح حديث :

منصور کلبي وائي چه دحيه بن خليفه رضي الله عنه مشهور صحابي يو ځل د دمشق په يوه کوڅه کښې (چه د هغې نوم مزه دې) روان وو او لا دومره لرې نه وو تلې چه څومره فاصله د قريه عقبه او فسطاط ترمينځه ده کومه چه درې ميله ده، راوي فرمائي او دا د رمضان مياشت وه، بيا وړاندې په روايت کښې دي چه تقريبا درې ميله رسيدلو نه پس هغه روژه افطار کړه او د هغه په اصحابو کښې بعض خو افطار کړه او بعض نه ده افطار کړې، بيا چه کله دا صحابي واپس کيدو سره خپلې کوڅې ته راغلو نو وې وئيل چه ما نن د خپلو خلقو نه داسې څيز اوليدو چه د هغې زما د هغوی نه توقع نه وه، د خلقو عجب حال دې چه د رسول الله ﷺ د طريق نه اعراض کوی، د هغه خلقو طرف ته اشاره وه چا چه افطار نه وو کړې، او بيا ئې دعا اوکړه : **اللهم اقبضنى اليک**، يعنى اوس زه په دې دنيا کښې اوسيدل نه غوارم.

په ترجمة الباب سره د مصنف غرض چه په کوم سفر کښې افطار کولې شي د هغې مقدار مسافت بيانول وو، د ائمه اربعه په نزد د افطار مسافت هم هغه دې کوم چه د قصر فى الصلاة دې کوم ته چه سفر شرعي وئيلې شي چه د هغې په مقدار کښې ائمه ثلاث او د احنافو څه نه څه اختلاف دې، او د ظاهريه په نزد صرف درې ميله مسافت دې، او په دې حديث کښې هم صرف درې ميله مذکور دي، پس دا حديث د ظاهريه موافق او د جمهورو خلاف شو، جواب دا دې چه په دې حديث کښې خو دا دی چه درې ميله سفر کولو نه پس

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۵۳۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۹۸/٦) (ضعيف)

هغه افطار اوکړو د منتهاء سفر خو په دې حديث کښې بالکل ذکر نشته کيدې شي چه هغه وړاندې ځي، او دا افطار د سفر دوران کښې وي لکه چه په هغه حديث کښې راځي کوم چه په کتاب الصلاة کښې تير شوې دې چه رسول الله ﷺ د مدينې منورې نه روان شو او ذوالخليفه ته رسيدو سره ئې قصر مونځ اوکړو، دلته خو هم دا وئيلې شي چه دا د سفر دوران وه او سفر منزل وو. والحديث اخرجه ايضا احمد والطحاوى والبيهقى. (المنهل)

[٢٤١٤]([1])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ "يَخْرُجُ إِلَى الْغَابَةِ فَلَا يُفْطِرُ وَلَا يَقْصِرُ".

ترجمه: دنافع نه روايت دې چه عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به غابه (ځنګل) ته تلو اونه به ئې روژه پريخودله اونه به ئې په مونځ کښې قصر کولو.

بَابُ مَنْ يَقُولُ صُمْتُ رَمَضَانَ كُلَّهُ

باب دې چه که څوک اووائی ما د رمضان ټولې روژې ونيولې

[٢٤١٥]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ الْمُهَلَّبِ بْنِ أَبِي حَبِيبَةَ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ إِنِّي صُمْتُ رَمَضَانَ كُلَّهُ وَقُمْتُهُ كُلَّهُ". فَلَا أَدْرِي أَكَرِهَ التَّزْكِيَةَ، أَوْ قَالَ: لَابُدَّ مِنْ نَوْمَةٍ أَوْ رَقْدَةٍ.

ترجمه: دابوبکر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام اوفرمائيل په تاسو کښې دې يو کس داسې نه وائی چه مادټول رمضان روژې نيولې دې اوعبادت مې کړې دې، راوی وائی چه نبی علیه السلام خپل تعريف کؤل بدګڼرلې دې ځکه چه په دې موده کښې خوبه لږ اوده شوې هم وي (نوپه دې وجه باندې داسې وئيل خلاف واقع هم دي).

توضيح الحديث

رسول الله ﷺ فرمائی چه په تاسو کښې دې يو سړې دا خبره نه کوی چه ما د پوره رمضان روژې اونيولې او ټول رمضان مې قيام ليل اوکړو، د دې علت وړاندې راوی د خپل طرف نه بيانوی چه ممکنه ده چه رسول الله ﷺ د دې نه په دې وجه باندې منع فرمائيلې وی چه په دې کښې د خپل نفس تزکيه مونډلې شی قال تعالى: فلا تزكوا انفسكم هو اعلم بمن اتقى... او يا ئې په دې وجه منع فرمائيلې وی چه څه نه څه غفلت او خوب مونډلې شی بيا ټول رمضان وئيل څنګه صحيح کيدې شی.

يو ادب خو دا شو کوم چه په دې حديث کښې مذکور دې او مصنف په دې باندې ترجمه قائم کړې ده.

رمضان وئيل پکار دی يا شهر رمضان:

د لفظ رمضان متعلق په حديث کښې وړاندې يو بل ادب هم راځی چه په هغې باندې امام بخاری ترجمه قائم کړې ده، باب هل يقال رمضان او شهر رمضان؟ يعنی مطلق رمضان وئيلې

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:) (صحيح موقوف)

[2]: سنن النسائي/الصيام ٤ (٢١١١)، (تحفة الأشراف: ١١٦٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٤٠، ٤١، ٤٨، ٥٢) (ضعيف)

شو یا شهر رمضان وئیل پکار دی؟ ځکه چه په یو ضعیف حدیث کښې راځي ﴿لا تقولوا رمضان فان رمضان اسم من اسماء الله تعالى، ولكن قولوا شهر رمضان ﴾امام نسائی رحمه الله هم د دې دپاره یوه ترجمه قائم کړې ده چه په هغې کښې هغوی جواز ثابت کړې دې، په هغې کښې داسې دی "باب الرخصة فى ان يقال لشهر رمضان، رمضان" او بیا ئې د هغې د لاندې د ابوداود والا حدیث کوم چه پورته ذکر شو ﴿لا يقولن احدكم صمت رمضان الخ ﴾ذکر کړې دې، چه د هغې نه بغیر د اضافت نه د شهر رمضان استعمال ثابتیږی. حافظ فرمائی چه د اصحاب مالک نه په دې کښې کراهت منقول دې، او اکثر شوافعو په قرینه باندې مدار ساتلې دې یعنی که په شهر باندې قرینه موجود وی نو هلته لفظ رمضان بغیر د اضافة شهر وئیلې شی او که داسې مقام دې چه هلته رمضان لره په دواړو معنو باندې محمول کیدې شی نو بیا مناسب نه ده. خو جمهور علماء کرام مطلقا د جواز قائل دی. اهـ

والحديث اخرجه ايضا احمد من عدة طرق والنسائي (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ الْعِيدَيْنِ

داخترونو په ورځ د روژې نیولو بیان

یعنی په عید الفطر او عید الاضحی دواړو کښې روژه نیول بالاتفاق حرام دی، البته صحت نذر کښې اختلاف دې چه که یو سړې د عیدین د روژې منخته اوکړی نو د احنافو په نزد جائز دې نذر به منعقد شی خو په دې ورځو کښې روژه نیول حرام دی بلکه قضاء به واجب وی. او د جمهورو په نزد نذر نه منعقد کیږی لهذا قضاء به هم واجب نه وی.

[۲٤۱٦] (۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَزُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَهَذَا حَدِيثُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ، قَالَ: شَهِدْتُ الْعِيدَ مَعَ عُمَرَ فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ صِيَامِ هَذَيْنِ الْيَوْمَيْنِ، أَمَّا يَوْمُ الْأَضْحَى فَتَأْكُلُونَ مِنْ لَحْمِ نُسُكِكُمْ، وَأَمَّا يَوْمُ الْفِطْرِ فَفِطْرُكُمْ مِنْ صِيَامِكُمْ".

ترجمه: دابوعبید نه روایت دې چه زه داختر په ورځ دعمرفاروق سره عیدګاه ته راغلم نوهغه داخترمونځ دخطې نه مخکښې ورکړو اوبیایې اوفرمائیل یقینًا نبی ﷺ منع فرمائیلې ده دروژو نیولو نه په دې دوه ورځو کښې هرچه دلوې اختر ورځ ده نوتاسو به په دې کښې خپلې قربانۍ غوښې خورئ او هر چه دواړه اختر ورځ ده دادروژو د ماتولو ورځ ده.

توضيح الحديث

رسول الله ﷺ علت منع بیان فرمائی په عیدین کښې د روژې نیولو ،هغه دا چه یوم الاضحی د الله پاک د طرف نه د میلمستیا ورځ ده چه په هغې کښې د قربانۍ غوښه خوړلې شی، په دې ورځ باندې روژه نیولو کښې اعراض عن الضيافة لازم دې، او په یوم الفطر کښې منع په دې وجه ده چه هغه شرعا د افطار ورځ ده، څنګه چه په رمضان کښې صوم مامور به دې هم دغه شان د دې ورځې وظیفه د صوم ضد یعنی افطار دې او روژه نیول په دې کښې فعل

(۱): صحيح البخاري/الصوم ٦٦ (۱۹۹۰)، الأضاحي ١٦ (٥٥٧١)، صحيح مسلم/الصيام ۲۲ (۱۱۳۷)، سنن الترمذي/الصوم ٥٨ (۷۷۱)، سنن ابن ماجه/الصيام ٣٦ (۱۷۲۲)، (تحفة الأشراف: ۱۰۶٦۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/العيدين ۲ (٥)، مسند احمد (۲٤/۱، ۳٤، ٤٠) (صحیح)

شیطان دي.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة والبیهقی والترمذی وصححه. (المنهل)

[۲۴۱۷](¹)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِ يَوْمَيْنِ يَوْمِ الْفِطْرِ وَيَوْمِ الْأَضْحَى، وَعَنْ لِبْسَتَيْنِ الصَّمَّاءِ، وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ، وَعَنِ الصَّلَاةِ فِي سَاعَتَيْنِ بَعْدَ الصُّبْحِ وَبَعْدَ الْعَصْرِ".

ترجمه: دابوسعید خدری رضي الله عنه نه روایت دي فرمائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلي ده دروژونیولونه په دوه ورځوکښې یودواړه اختر ورځ ده اوبله دلوي اختر ورځ ده او منع ئې فرمائیلي ده دځان نه دجامود رانغښتلو، او داحتبا کولونه په یوه جامه کښې احتبادي ته وائی چه ځنګنونه او ملا په یوڅادر وتړي اودمونځ کولونه په دوه وختونوکښې دسحردمونځ نه پس اودمازیګردمونځ نه پس.

بَابُ صِيَامِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ

په ایام تشریق کښې دروژونیولوبیان

تحریم صوم د عیدین سره مخصوص نه دې، بعض ایام نور هم دی چه په هغې کښې روژه ممنوع ده یعنی ایام تشریق خو د صوم عیدین تحریم خو متفق علیه دې.

مذاهب ائمه :

او د ایام تشریق نهی مختلف فیه دې، په دې کښې علامه عینی د علماء کرامو نهه اقوال ذکر کړې دی، چه په هغې کښې مشهور درې دی.

۱: لا یجوز مطلقا عندنا والشافعی فی الجدید.

۲: عند مالک واحمد یجوز للمتمتع والقارن وبه قال الشافعی فی القدیم.

۳: یجوز مطلقا عند ابی اسحاق من الشافعیة وبعض اهل العلم، دا مذاهب په کتاب الحج کښې تیر شوي دی هغه دې اوکتلې شی.

د ایام تشریق وایام نحر تعیین :

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د ایام تشریق تعداد او تعیین کښې د علماء کرامو فی الجمله اختلاف دې او د ناقلین مذاهب د هغوی نه زیات کما یظهر ذلک بالرجوع الی شروح الحدیث. ومنها فی الاوجز، خو تحقیق دا دې کما فی الابواب والتراجم چه د ایام تشریق مصداق د جمهورو ومنهم الائمة الاربعة کما فی الاوجز عن کتب فروعهم درې ورځې دی، یولسمه. دولسمه او دیارلسمه من ذی الحجة. اهـ او د ایام نحر مصداق د جمهورو په نزد درې دی لسمه ورځ او دوه ورځې د هغې نه روستو، لهذا لسم تاریخ د ذی الحجة په ایام نحر کښې داخل دې په ایام تشریق کښې غیر داخل، او دیارلسم د ذی الحجه د ایام تشریق نه دې نه د ایام نحر نه، او په مینځ کښې د دواړو شمار په دواړو کښې دې، خو د شوافعو د

---

¹): صحیح البخاري/الجمعة ٦ (٨٨٤)، وجزاء الصید ٢٦ (١٨٦٤)، والصوم ٦٨ (١٩٩٦)،صحیح مسلم/الصوم ٢٢ (٨٢٧)، سنن الترمذي/الصوم ٥٨ (٧٧٢)، (تحفة الأشراف: ٤٤٠٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصیام ٣٦ (١٧٢٢)، مسند احمد (٣/٣٤، ٩٦)، سنن الدارمي/الصوم ٤٣ (١٧٩٤) (صحیح)

ایام نحر په تعداد کښې اختلاف دې د هغوی په نزد هغه څلور ورځې دی دیارلسم د ذی الحجه هم په دې کښې داخل دی.

[۲۴۱۸]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْهَادِ، عَنْ أَبِي مُرَّةَ مَوْلَى أُمِّ هَانِئٍ، أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَلَى أَبِيهِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ فَقَرَّبَ إِلَيْهِمَا طَعَامًا، فَقَالَ: "كُلْ. فَقَالَ: إِنِّي صَائِمٌ. فَقَالَ عَمْرٌو: كُلْ، فَهَذِهِ الْأَيَّامُ الَّتِي كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِإِفْطَارِهَا وَيَنْهَانَا عَنْ صِيَامِهَا. قَالَ مَالِكٌ: وَهِيَ أَيَّامُ التَّشْرِيقِ".

ترجمه: دام هاني دازاد کړې شوي غلام ابومره نه روایت دې چه هغه د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دهغه پلار عمرو بن العاص ته لاړل هغه مونږ دواړوته خوراك پیش کړو عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما ته ئې اووئیل خوره زما پلار اووئیل زماروژه ده عمرو اووئیل اوخوره داهغه ورځې دي چه نبی علیه السلام به مونږ ته په دې کښې دروژو ماتولوحکم کولو او په دې ورځوکښې به ئې مونږ دروژو نیولونه منع کولو مالك وائی دا دایام التشریق ورځې وي.

د ایام تشریق وجه تسمیه :

د ایام تشریق په وجه تسمیه کښې څو اقوال دی:

۱: شرق په معنی د نشر فی الشمس ځکه چه په دې ورځو کښې د قربانۍ غوښې خلق په ګرمۍ کښې خوروی د اوچولو دپاره،

۲: دویم قول ایام تشریق ورته په دې وجه وئیلې شی چه د قربانۍ د ځاروی نحر د شروق شمس نه روستو وی.

۳: دا تسمیه د صلاة عید په اعتبار سره ده کوم چه د شروق شمس په وخت باندې وی.

۴: تشریق په معنی د تکبیر کومه چه په دې ورځو کښې د فرض مونځونو نه روستو وئیلې شی. اهـ من الابواب والتراجم، والحدیث اخرجه مالك وابن خزیمة والحاکم وصححاه، والنسائی وابن المنذر والبیهقی والدارمی. (المنهل)

[۲۴۱۹]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا وَهْبٌ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَلِيٍّ ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَلِيٍّ، وَالْإِخْبَارُ فِي حَدِيثِ وَهْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، أَنَّهُ سَمِعَ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ عِيدُنَا أَهْلَ الْإِسْلَامِ وَهِيَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ".

ترجمه: دعقبة بن عامر نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام اوفرمائیل د عرفې ورځ اودلوئې اختروځ اودتشریق ورځې دمسلمانانو داختر ورځې دي اوداورځې دخوراك څښاك دپاره دي.

صوم عرفه باره کښې اختلاف روایات ومذاهب علماء :

په دې حدیث کښې د یوم النحر او ایام تشریق سره یوم عرفه هم په ایام منهیه کښې شمار

[1]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۵۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك /الحج ٤٤(۱۳۷)، مسند احمد (۱۹۷/٤)، سنن الدارمي /الصوم ٤٨ (۱۸۰۸) (صحیح)

[2]): سنن الترمذي /الصوم ٥٩ (۷۷۳)، سنن النسائي /المناسك ۱۹۵ (۳۰۰۷)، (تحفة الأشراف: ۹۹٤۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱٥۲/٤)، سنن الدارمي /الصوم ٤٧ (۱۸۰٥) (صحیح)

کړې شوې ده، د بعض اهل علم مذهب خو هم دا دې هغوی دا وائی چه په دې ورځ باندې رسول اللهﷺ په حجة الوداع کښې روژه نه وه نيولې ځکه چه دا د اهل موقف د اختر ورځ ده، د دې قول تائيد د هغه حديث نه کيږي، او د بعض رواياتو نه د دې ورځې د روژې کراهت ثابتيږي خاص په عرفات کښې يعنی د حاجی دپاره، پس امام ترمذی رحمه الله باب تړلې دې، ما جاء فی کراهية صوم يوم عرفة بعرفة... او په هغې کښې ئې دا حديث ذکر کړې دې (عن ابن عباس ان النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افطر بعرفة الحديث. امام ترمذی رحمه الله فرمائی : والعمل علی هذا عند اکثر اهل العلم يستحبون الافطار بعرفة ليتقوی به الرجل علی الدعاء وقد صام بعض اهل العلم يوم عرفة بعرفة. اه ترديې چه د يحيی بن سعيد انصاری مذهب ئې دا ليکلې دې چه د هغوی په نزد د حاجی دپاره يوم عرفه کښې افطار واجب دې او د بعض رواياتو نه مطلقا د دې روژې استحباب معلوميږي لکه چه مشهور حديث دې "ان النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال صيام يوم عرفة انی احتسب علی الله ان يکفر السنة التی بعده والسنة التی قبله)..... اخرجه الترمذی من حديث ابی قتادة واخرجه مسلم مطولا،

معلومه شوه چه د صوم يوم عرفه په باره کښې درې قسم روايات دی:

۱: مطلقا استحباب، ۲: مطلقا کراهت، ۳: کراهة للحاج،

د ائمه اربعه تقريبی طور باندې مذهب په دې مسئله کښې دا دې چه د غير حاجی دپاره مستحب ده مطلقا، او د حاجی دپاره استحباب دې خو په شرط د عدم ضعف، خو ضعف خو څه نه څه راځی، لهذا د دې حاصل عدم استحباب للحاج شو،

ثم رايت الابواب والتراجم ۱۵۴/۳ : ففيه فی کتاب الحج قال ابن الهمام : صوم عرفة لغير الحاج مستحب وللحاج ان کان يضعفه عن الوقوف والدعوات فالمستحب ترکه، وقيل يکره وهی کراهة تنزيهية. اه وقال ابن حجر صومه للحاج خلاف الاولی. اه ای وان لم يضعف کما قال النووی وهو الاصح عند الشافعية، ومکروه عند المالکية کما قال الدردير وقال الموفق ترکه افضل (ای عند احمد) لحديث ام الفضل. اه وفيه فی کتاب الصوم ۲۲۰/۳ وتقدم اختلاف الائمة الاربعة فی صوم عرفة للحاج، واما لغير الحاج فاتفقت الائمة الاربعة علی ندبه بل قال الامام الشافعی بتاکده کما فی الاوجز.

اوس زمونږ په وړاندې درې مختلف روايات دی، حديث ابی قتاده تکفير سنتين والا حديث، حديث عقبه د کوم چه بيان شروع دې، او حديث ابی هريره "نهی رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن صوم يوم عرفة بعرفات" اخرجه احمد وغيره، وذکره الترمذی بقوله وفی الباب، يعنی د يو حديث نه مطلقا استحباب او د دويم نه مطلقا منع او د دريم حديث نه جمع بين الروايتين صورت معلوم شو يعنی د حاجی دپاره منع او د غير حاجی دپاره استحباب. کذا فی البذل عن الشوکانی.

والحديث اخرجه ايضا النسائی والحاکم والبزار والبيهقی والدارمی والترمذی. (المنهل)

بَابُ النَّهْيِ أَنْ يُخَصَّ يَوْمُ الْجُمُعَةِ بِصَوْمٍ

باب دې په بيان د روژې نيولو دپاره د جمعې د ورځې د خاص کولو د مما نعت کښې

صوم جمعه بانفراده کښې مذاهب ائمه :

د ترجمة الباب تعلق د صوم يوم الجمعة منفردا سره دې چه د هغې د حکم تصريح مصنف په ترجمة الباب کښې خپله ذکر فرمائيلې دې يعنی کراهت او منع، د شوافعو راجح قول هم دا دې او هم دغه شان د امام احمد هم، (مصنف هم حنبلی دې د شيخ په نزد) او د امام مالک په نزد تخصيص يوم جمعة د روژې سره بغير د کراهت نه جائز بلکه مستحسن ده، د اکثر فروع حنفيه نه هم دا معلوميږی (١) وفی بعض کتبنا الکراهة، قال مالک فی الموطاء : لم اسمع احدا من اهل العلم والفقه ومن يقتدی به ينهی عن صيام يوم الجمعة وصيامه حسن. اهـ البته امام ابويوسف رحمه الله صرف د جمعې ورځې روژې ته خلاف احتياط وئيلې ده، د احنافو او مالکيانو استدلال د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د حديث نه دې(٢) : کان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يصوم من کل شهر ثلاثة ايام وقلما کان يفطر يوم الجمعة، رواه النسائی والترمذی وحسنه، وابن حبان وصححه وفی المنهل قال النووی: السنة مقدمة علی ما راه مالک وقد ثبت النهی عن صوم يوم الجمعة، ومالک معذور فی انه لم يبلغه النهی.

[٢٤٢٠] (٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَصُمْ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَّا أَنْ يَصُومَ قَبْلَهُ بِيَوْمٍ أَوْ بَعْدَهُ".

ترجمه: دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه پيغمبر پاک صلی الله عليه وسلم فرمائيلې دې روژه دې نه نيسي يوکس په تاسو کښې په ورځ دجمعې باندې مگر هغه چه يوه ورځ مخکښې ددې نه روژه اونيسي يايوه ورځ وروسته ددې نه روژه اونيسي.

توضيح الحديث

دا حديث په کراهة تخصيص باندې دال دې لکه چه د مصنف په ترجمة الباب کښې دی، امام ترمذی رحمه الله اولا ما جاء فی صوم الجمعة... ترجمه قائم کولو سره په دې کښې هغه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه هغه حديث ذکر فرمائيلې دې د کوم نه چه مالکيانو او احنافو استدلا ل کړې دې کوم چه اوس پورته ذکر شو، د دې په باره کښې امام ترمذی رحمه الله فرمائی : حديث عبدالله حديث حسن غريب، او بيا بله ترجمه ما جاء فی کراهية صوم يوم الجمعة وحده، قائم کولو سره د ابوهريره رضی الله عنه دا حديث زيات قوی دې او کيدل هم پکار دی ځکه چه دا حديث متفق عليه دې، د علامه عينی ميلان هم د نهی طرف ته دې، او هغه د احنافو او

(١) لکه در مختار، شامی، بحر الرائق، خانيه او صاحب بدائع فرمائی، کره بعضهم صوم يوم الجمعة بانفراده وکذا صوم يوم الاثنين والخميس وقال عامتهم انه مستحب لان هذه الايام من الايام الفاضلة، فکان تعظيما بالصوم مستحبا. اهـ من الاوجز ٩٨/٣،

(٢) خو په دې استدلال باندې اشکال دې کما سياتی)

(٣): صحيح مسلم/الصيام ٢٤ (١١٤٤)، سنن الترمذي/الصوم ٤٢ (٧٤٣)، سنن ابن ماجه/الصيام ٣٧ (١٧٢٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٠٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصوم ٦٣ (١٩٨٥)، مسند احمد (٤٥٨/٢) (صحيح)

مالکیانو په استدلال باندې (د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حدیث نه) رد کړې دې چه د دې نه تخصیص یوم باندې استدلال صحیح نه شی کیدې، هغه به د جمعې نه یوه ورځ مخکښې یا روستو شاملولو، په کوکب کښې د حضرت ګنګوهی رائې په دې باره کښې دا ده چه د یوم جمعه تخصیص د صوم سره مکروه خو نه دې خو خلاف اولی دې مناسب نه دې، او په الحل المفهم (د حضرت ګنګوهی افادات په صحیح مسلم باندې) کښې دا دې، د کومو ورځو تخصیص چه د رسول الله ﷺ نه ثابت دې لکه یوم الاثنین، یوم الخمیس، یوم عرفه، یوم عاشوراء هغه خو مشروع او مستحب دی، او د کومو ورځو تخصیص چه د هغه نه ثابت نه دې یا ئې د هغې د تخصیص نه منع فرمائیلې ده د هغې تخصیص مکروه دې، پس که د جمعې د ورځې روژه څوک د خصوصیت جمعه د وجې نه نیسی نو دا مکروه ده، خو که خصوصیت د وجې نه نه وی بلکه یوم من الایام په حیثیت سره ئې یا ئې د خپل څه سهولت او مصلحت د وجې نه نیسی نو هیڅ باک نشته. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم وابن ماجة واحمد والحاکم والبیهقی والترمذی وقال حدیث حسن صحیح. (المنهل)

باب النَّهي أَنْ يُخَصَّ يَوْمُ السَّبْتِ بِصَوْمٍ

د روژې نیولو دپاره د خالی د ورځې دخاص کولو ممانعت بیان

په صوم یوم السبت کښې د مذاهب ائمه تحقیق:

په درمختار کښې دی، والمندوب کایام البیض من کل شهر ویوم الجمعة ولو منفردا او عرفة ولو کان لم یضعفه، والمکروه تحریما کالعیدین، وتنزیها کعاشوراء وحده، وسبت وحده. اه د دې نه معلومه شوه چه زمونږ په نزد د یوم السبت تخصیص د روژې سره مکروه تنزیهی دې، هم دغه شان د شافعیه په نزد دلته هم مکروه دې ففی شرح الاقناع ۲۲۶/۱ ویکره افراد یوم الجمعة بالصوم لقوله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا یصم احدکم یوم الجمعة الا ان یصوم یوما قبله او یوما بعده وکذا افراد السبت او الاحد لخبر "لا تصوموا یوم السبت الا فیما افترض علیکم" ولان الیهود تعظیم یوم السبت والنصاری یوم الاحد. اه او هم دغه شان د حنابله په نزد هم مکروه دې، پس په الروض المربع ۱۸۷ کښې دی "وکره افراد یوم الجمعة لقوله ﷺ لا تصوموا یوم الجمعة الا قبله یوم او بعده یوم. متفق علیه... وافراد یوم السبت لحدیث لا تصوموا یوم السبت الا فیما افترض علیکم. رواه احمداه د دې نقلونو نه معلومه شوه چه د ائمه ثلاث په نزد د یوم السبت تخصیص مکروه دې، په فروع مالکیه کښې مونږ ته دا مسئله ملاؤ نه شوه البته په منهل کښې د ائمه ثلاثه مذهب کراهت لیکلو نه پس فرمائی: وقال مالک وجماعة لا یکره صومه ولو منفردا، وقالوا حدیث عبدالله بن بسر منسوخ، وعلی تقدیر عدم نسخه هو ضعیف لا تقوم به حجة فان مالکا قال: هذا الحدیث کذب، الی اخر ما ذکر. (۱)

---

(۱) وفیه اعل بالاضطراب: فانه روي عن عبدالله بن بسر عن اخته الصماء کما في المصنف وروي عن عبدالله عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عند ابن حبان، الي ان قال: لکن لا دلیل علي النسخ، وان ارادوا ان ناسخه حدیث ام سلمة المتقدم فلیس بمسلم لما علمت من ان النهي عنه محمول علي صومه مفرداً والجمع متي امکن کان المصیر الیه ۹۶

[۲۴۲۱]()حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ. ح وحَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ قُبَيْسٍ مِنْ أَهْلِ جَبَلَةَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، جَمِيعًا عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ السُّلَمِيِّ، عَنْ أُخْتِهِ، وَقَالَ يَزِيدُ الصَّمَّاءِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَصُومُوا يَوْمَ السَّبْتِ إِلَّا فِي مَا افْتُرِضَ عَلَيْكُمْ، وَإِنْ لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا لِحَاءَ عِنَبَةٍ أَوْ عُودَ شَجَرَةٍ فَلْيَمْضُغْهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا حَدِيثٌ مَنْسُوخٌ.

ترجمه: دعبدالله بن بسرسلمي نه روايت دې فرمائي چه مادخپلي خورنه اوريدلي دي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی تاسو د شنبی (خالي) په ورځ روژه مه نيسئ مګرفرض روژه او که چرې په تاسوکښې يوکس ته دهغې په ورځ څه ملاونشي نو د انګورو پانړې يا لرګي دې اوجويوي (اوروژه دې ماته کړي)، امام ابوداود فرمائی چه دا حديث دجويريه په حديث باندې کوم چه راروان دې منسوخ شوې دې.

توضيح الحديث

عبدالله بن بصر د خپلي خور صماء بنت بسر نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د يوم السبت روژه مه نيسئ سوا د فرض روژې نه، لکه صوم رمضان يا صوم نذر وکفاره وغيره، او وې فرمائيل چه که په تاسو کښې چاته څه څيز ملاؤ نه شی د روژې د ماتولو دپاره سوا د انګور د پوستکی نه يا د يو اونې د پوستکی نه پس پکار ده چه هم هغه دې اوژوی او تير دې کړي. (د دې دپاره چه که روژه ئې نيولي هم وی نو چه باقی پاتې نه شي)

قال ابوداود : هذا الحديث منسوخ

حديث الباب کوم چه د جمهورو دليل دې په هغې باندې د مصنف او امام مالک نقد :

د دې حديث نه د يوم السبت د روژې کراهت معلوميږی لکه جمهور علماء او ائمه ثلاث مذهب دې چه په هغې کښې احناف هم دی خو مصنف په دې مسئله کښې د جمهورو سره نه دې هغه د جواز تخصيص قائل دې هم په دې وجه مصنف په دې حديث باندې نقد کړې دې، يو دا چه دا منسوخ دې، بل نقد په وړاندې باب کښې د امام مالک رحمه الله نه نقل کړې دې (قال ابوداود قال مالک هذا کذب) مونږ په خپله عربی حاشيه کښې دا خبره ليکلې ده چه دا دواړه نقدونه صحيح نه دی، امام ترمذی رحمه الله د دې حديث نه روستو فرمائی : هذا حديث حسن ومعنى الكراهية في هذا ان يختص الرجل يوم السبت. اهـ امام ترمذی رحمه الله د علت کراهت طرف ته اشاره فرمائی چه په دې کښې تشبه باليهود ده ځکه چه هغوی د يوم السبت د تعظيم قائل دی او هغه ورځ په روژه نيولو کښې د دې تعظيم دې، علامه شامی هم علت کراهت هم دا ليکلې دې، کوم خلق چه دې حديث ته منسوخ وائی لکه امام ابوداود او امام مالک کيدې شی چه د هغوی استدلال د ام سلمه رضي الله عنها د هغه حديث نه دې چه د هغې نسائی

لـه ....اولي من النسخ، وقول مالك "انه كذب لم يتبين وجهه واما اضطرابه بهذه الكيفية فلا يقدح في صحة الحديث" لانه دائر بين الصحابة وكلهم عدول، على ان الحديث قد صححه ابن السكن والحاكم وقال على شرط البخاري اذا علمت هذا التعلم ان القول بكراهة صيامه مفردا هو الراجح. اهـ

(): سنن الترمذي/الصوم ۴۳ (۷۴۴)، سنن ابن ماجه/الصيام ۳۸ (۱۷۲۶)، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۱۰، ۱۸۹۶۴، ۱۹۲۵۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۶۸/۶)، سنن الدارمي/الصوم ۴۰ (۱۷۹۰) (صحيح)

او بیهقي وغیره تخریج کړې دې چه د هغې مضمون دا دې : کریب فرمائي چه بعض صحابه کرامو زه ام سلمه ﷺ ته اولیږلم د دې معلومات دپاره چه په کومو ورځو کښې به رسول الله ﷺ په کثرت سره روژې نیولې، نو هغوی اوفرمائیل یوم السبت والاحد، او دا چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا دواړه د مشرکانو اخترونه دی فانا ارید ان اخالفهم، خو د دې حدیث نه استدلال صحیح نه دې ځکه چه جمهور کوم چه د کراهت قائل دی هغه د کراهة منفردا قائل دی د مطلقا کراهة قائل نه دی، هغه د کراهة منفردا قائل دی د مطلقا کراهة قائل نه دی، او په دې حدیث کښې افراد نشته بلکه د یوم السبت سره یوم الاحد هم دې، لهذا د دې حدیث نه د امام مالک وغیره استدلال صحیح نه دې.

خو یو څیز بل دې قابل تامل هغه دا چه حدیث ام سلمه ﷺ نه دا مستفاد کیږي چه د اهل کتاب مخالفت روژه نیولو کښې دې چه د هغې مطلب دا شو چه د هغوی موافقت او تشبه وترک صوم کښې دې، وهکذا یستفاد من کلام بعض الفقهاء... هغوی وائي د اختر خو دا حکم دې چه په دې کښې روژه کینخودلې شي، لهذا تشبه ترک صوم کښې موندلې شي نه په صوم کښې. فتدبر. وحدیث الباب اخرجه ایضا احمد والنسائی والدارمی وابن ماجة والحاکم وصححه وقال علی شرط البخاری، واخرجه البیهقی وابن حبان والطبرانی وابن السکن، وصححه الترمذی وقال حدیث حسن. (المنهل)

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي ذَٰلِكَ

باب د خیالی دورځې د روژې نیولو د اجازت بیان

د باب د امام مالک په تائید کښې دې :

یعنې یواځې د خالی د ورځې د روژې جواز چه د هغې په ائمه کرامو کښې صرف امام مالک قائل دې، د مصنف میلان هم دې طرف ته دې، وقد اشرنا الیه فی الباب السابق، بیا د دې باب د لاندې مصنف دوه احادیث راوړې چه د هغې نه مخکښې دا دې :

[۲٤۲۲](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ. ح وحَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ حَفْصٌ الْعَتَكِيُّ، عَنْ جُوَيْرِيَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "دَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَهِيَ صَائِمَةٌ. فَقَالَ: أَصُمْتِ أَمْسِ؟ قَالَتْ: لَا. قَالَ: تُرِيدِينَ أَنْ تَصُومِي غَدًا؟ قَالَتْ: لَا. قَالَ: فَأَفْطِرِي".

ترجمه: دجویریه بنت حارث نه روایت دې فرمائي چه نبی ﷺ دجمعې په ورځ زمونږ کره راغې اودهغې روژه وه جویریه ﷺ ته ئې اوفرمائیل آیا پرون دې هم روژه نیولې وه هغې عرض اوکړونه نبی ﷺ ورته اوفرمائیل آیا صبادې دروژې نیولو اراده شته هغې اووئیل نه، نبی ﷺ ورته اوفرمائیل روژه ماته کړه.

¹): صحیح البخاري/الصوم ٦٣ (١٩٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٨٩)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ (٢٧٥٤)، مسند احمد (٦/٣٢٤، ٤٣٠) (صحيح)

د حدیث د ترجمة الباب سره عدم مطابقة او د هغې تحقیق:

په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ سیده جویریه رضي الله عنها له یواځې د جمعې د ورځې د روژې نه منع فرمائیلې ده مګر دا چه وړاندې ورځ یعنی د خالی په ورځ باندې هم روژه اونیسی، په دې صورت کښې رسول الله ﷺ هغه ته د روژې اجازت ورکړو.

د دې مضمون حدیث نه واضحه شوه چه دا حدیث په دې باب کښې نه دی کیدل پکار بلکه باب النهی ان یخص یوم الجمعة بصوم کښې کیدل پکار دی لکه امام بخاری رحمه الله هم داسې کړې دی یا بیا باب سابق چه په هغې کښې منع راغلې ده په هغې کښې کیدل پکار دی نه د رخصت په باب کښ، او حضرت په بذل کښې لیکلې دی. او په بعض نسخو کښې دی هم دغه شان، لهذا په دې باب کښې د دې حدیث ذکر فی غیر محله دې، د دې نه روستو په دې باب کښې دوه مستقل ﴿حدثنا﴾ نور راروان دی خو په هغې کښې مصنف بل یو نوې حدیث نه دې ذکر کړې بلکه په باب سابق کښې چه د صماء بنت بسر حدیث تیر شوې دې هم په هغې باندې ئې کلام کړې دې پس په هغې باندې ئې دوه نقدونه ذکر کړې دی یو د ابن شهاب د طرف نه چه دا حدیث، حدیث حمصی دې، دویم د امام مالک د طرف نه، قال مالک : هذا کذب... یو دریم نقد هم دې کوم چه اوزاعی نقل کړې دې چه ما دا حدیث د خلقو نه قصدا پټولو (یعنی باوجود ما سره د کیدو به ما دا نه روایت کولو) تردې چه ما اوکتل چه دا حدیث خو هر ځائې کښې خور شوې دې.

[۲۴۲۳](1)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ اللَّيْثَ، يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، "أَنَّهُ كَانَ إِذَا ذُكِرَ لَهُ أَنَّهُ نُهِيَ عَنْ صِيَامِ يَوْمِ السَّبْتِ، يَقُولُ ابْنُ شِهَابٍ: هَذَا حَدِيثٌ حِمْصِيٌّ".

ترجمه: دوهب بن لیث نه روایت دې فرمائی چه کله به ابن شهاب ته اوونیلې شول چه دهفتې په ورځ دروژونیولونه منع راغلې ده نوهغه به وئیل داحدیث حمصي یعنی کمزورې دې اوددې حدیث نه اهل مدینه خبر نه دي.

[۲۴۲۴](2)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، قَالَ: مَا زِلْتُ لَهُ كَاتِمًا حَتَّى رَأَيْتُهُ انْتَشَرَ يَعْنِي حَدِيثَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ هَذَا فِي صَوْمِ يَوْمِ السَّبْتِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ مَالِكٌ: هَذَا كَذِبٌ.

ترجمه: اوزاعي نه روایت دې فرمائی چه مابه دعبدالله بن بسر حدیث پټ ساتلو تردې چه ماولیدل هغه حدیث مشهور شو مالك وئیلې دي چه داحدیث دروغ دي.

د "هذا حدیث حمصی" شرح:

دا چه ابن شهاب فرمائی: هذا حدیث حمصی... د دې په شرح کښې مختلف اقوال دی په دې باندې خو ټول متفق دی چه د ابن شهاب غرض په دې سره تضعیف حدیث دې اوس دا چه د ضعف څه وجه ده، صاحب عون المعبود لیکلې دی چه د دې حدیث په سند کښې دوه راویان حمصی دی ثور بن یزید، خالد بن معدان او دا دواړه متکلم فیه دی، حضرت په بذل

(1): تفرد به أبو داود، انظر حدیث (۲٤۲۱)، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۱۰) (صحیح)
(2): تفرد به أبو داود، انظر حدیث (۲٤۲۱)، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۱۰) (صحیح)

کښې دا خبره رد کړې ده وتبعه صاحب المنهل چه دا خبره صحیح نه ده چه دا دواړه راویان متکلم فیه دی، بلکه دواړه ثقه دی، علامه سندهی فرمائی چه د ضعف وجه دا ده چه په دې حدیث کښې چه کومه نهی راغلې ده د هغې وجه فهم ته نه راځی څه ده، هم دغه شان بعض دې حدیث ته منسوخ وائی او بعض ضعیف. اهـ زما په دې باندې دا اشکال دې چه د نهی وجه خو معلومه ده چه په دې کښې تشبه بالیهود دې، زه په دې پوهه شوې یم چه د ابن شهاب غرض دا دې چه د دې حدیث شهرت د حمص خلقو کړې دې په دې وجه دا حدیث مشهور شو ګینې اهل عراق او اهل حجاز وغیره دا نه پیژندلو، د دې معنی فی الجمله تائید د اوزاعی په کلام کښې دې ﴿ما زالت له کاتما حتی رایته انتشر﴾نو دا شهرت او اشاعت دهغوی اهل حمص کړې وو،اوزاعی هم شامی دې اوحمص دشام یو ښهردې.والله تعالی اعلم

والحدیث اخرجه ایضا احمد والبخاری والنسائی وابو نعیم والبیهقی. (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ الدَّهْرِ تَطَوُّعًا

باب دې دهمیشه د نفلی روژو نیولو په بیان کښې

مصنف په دې باب کښې د منع روایات ذکر کړې دی، پس احناف د صوم الدهر د کراهت قائل دی او هم دغه شان اسحاق بن راهویه او ظاهریه، او ابن حزم خو د حرمت قائل دی، خو جمهور علماء کرام د دې د کراهت قائل نه دی، هغوی د صوم الدهر د جواز قائل دی، هغوی وائی: په احادیثو کښې چه کومه نهی راغلې ده هغه د ایام خمسه د شمول په صورت کښې مطلقا نه ده.

[۲۴۲۵](۱)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ غَيْلَانَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدٍ الزِّمَّانِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ تَصُومُ؟ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَوْلِهِ. فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ عُمَرُ، قَالَ: رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ غَضَبِ اللَّهِ وَمِنْ غَضَبِ رَسُولِهِ. فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَدِّدُهَا حَتَّى سَكَنَ غَضَبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ الدَّهْرَ كُلَّهُ؟ قَالَ: لَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ. قَالَ مُسَدَّدٌ: لَمْ يَصُمْ وَلَمْ يُفْطِرْ، أَوْ مَا صَامَ وَلَا أَفْطَرَ، شَكَّ غَيْلَانُ. قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ يَوْمَيْنِ وَيُفْطِرُ يَوْمًا؟ قَالَ: أَوَيُطِيقُ ذَلِكَ أَحَدٌ؟ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا؟ قَالَ: ذَلِكَ صَوْمُ دَاوُدَ. قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَكَيْفَ بِمَنْ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمَيْنِ؟ قَالَ: وَدِدْتُ أَنِّي طُوِّقْتُ ذَلِكَ. ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ثَلَاثٌ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ، فَهَذَا صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ، وَصِيَامُ عَرَفَةَ إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ، وَصَوْمُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ".

ترجمه: دابوقتاده ده نه روایت دې فرمائی چه یو کس دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او تپوس ئې اوکړو چه ته په کومه ورځ روژه نیسې ددې په اوریدوسره نبی علیه السلام غصه شو کله چه عمر فاروق نه دنبی علیه السلام غصه اولیدله نو وئې وئیل راضي یو مونږ دالله تعالی نه چه

۱): صحيح مسلم/الصيام ٣٦ (١١٦٢)، سنن الترمذي/الصوم ٥٦ (٧٦٧)، سنن النسائي/الصيام ٤٢ (٢٣٨٥)، سنن ابن ماجه/الصيام ٣١ (١٧٣٠)، (تحفة الأشراف: ١٢١١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٥/٥، ٢٩٦، ٢٩٧، ٢٩٩، ٣٠٣، ٣٠٨، ٣١٠) (صحيح)

هغه زمونږه رب دې او په اسلام باندې چه هغه زمونږه دين دې اوپه محمد باندې چه هغه زمونږ نبی د پناه غواړوپه الله باندې دغضب دالله نه اودغضب درسول دهغه نه او عمر به دا كلمات بيا بيا تكرارول تردې چه دنبنبی ﷺ غصه ختمه شوه نوده اووئيل اې دالله رسوله دهغه كس متعلق څه حكم دې څوک چه هميشه روژې نيسي نبی ﷺ اوفرمائيل ده خونه افطار اوكړو اونه ئې روژه اونيوله، اودمسدد په روايت كښې لم يصم اولم يفطر الفاظ ذكر شوی دی بياعمر رضی الله عنه اووئيل اې دالله رسوله دهغه كس په باره كښې څه حكم دې څوک چه دوه ورځې روژې نيسي اويوه ورځ ئې نه نيسي نبی ﷺ اوفرمائيل اياڅوک دداسې عمل طاقت لري؟ عمر رضی الله عنه عرض اوكړو اې دالله رسوله دداسې كس په باره كښې څه حكم دې څوک چه يوه ورځ روژه نيسي اويوه ورځ ئې نه نيسي؟ نبی ﷺ اوفرمائيل دا د داود ﷺ روژه ده بياعمر فاروق عرض اوكړو اې دالله رسوله دهغه كس په باره كښې څه حكم دې څوک چه يوه ورځ روژه نيسي اودوه ورځې نه نيسي؟ نبی ﷺ اوفرمائيل داسې روژې زماهم خوښې دې چه زه ددې دپاره قوت حاصل كړم بيانبی ﷺ اوفرمائيل چه په هره مياشت كښې درې روژې نيول ديورمضان نه دبل رمضانه پورې دروژو نيولو برابر اجرلري نودا داسې ده لكه چاچه ټول عمر روژې نيولې وي اود عرفې په ورځ روژه دالله نه زه اميدارم چه دده ديوكال مخكنی اوديوكال وروستني ګناهونه به معاف شي اود عاشورې دورځې روژه نيول ديوكال تير شوو ګناهونودپاره كفاره.

توضيح الحديث

يو صحابي د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو چه ته تاسو روژه څنګه نيسئ؟ يعني ستاسو د نفلي روژو په باره كښې څه معمول دې؟ د هغه سړی په سوال كولو باندې رسول الله ﷺ خفه شو، هلته عمر رضی الله عنه موجود وو، چه كله هغه د رسول الله ﷺ غصه محسوس كړه نو د رسول الله ﷺ په وړاندې ئې د هغې لوستل شروع كړل كوم چه دلته په كتاب كښې مذكور دې چه په هغې كښې الله پاک او د هغې رسول په ناراضګئ سره پناه طلب كړې شوې ده هغه دا بار بار لوستلو تردې چه د رسول الله ﷺ ناخوښی ختمه شوه، شارحينو ليكلي دی چه رسول الله ﷺ د هغه په تپوس باندې غصه په دې وجه راغله چه د هغه سوال خلاف ادب او خلاف قاعده وو، څكه چه هغه لره خو دا سوال كول پكار وو چه زه به روژه څنګه نيسم نه دا چه د هغه نه تپوس اوكړی چه ستاسو په روژه نيولو كښې څه معمول دې، څكه چه د هر سړی احوال او مصالح جدا جدا وی، رسول الله ﷺ به د خپل حالت مطابق روژې نيولې په يوه مياشت كښې كمې او په بله مياشت كښې زياتې، څنګه چه به موقع وه، او بيا د انبياء ﷺ مصالح هغه د هغوی شايان شان وو، امام نووی رحمه الله فرمائی هم په دې وجه باندې چه كله بعض صحابه كرامو د رسول الله ﷺ نه هم دغه شان تپوس اوكړو چه تاسو فلانې عبادت څنګه كوئ او فلانې څنګه كوئ؟ نو د هغه په جواب باندې هغه صحابه كرامو دا مقدار كم اوګڼړلو چه د هغې خبر رسول الله ﷺ ته اوشو او په دې باندې ئې د خفګان اظهار اوفرمائيلو.

بيا په حديث الباب كښې وړاندې داسې دی چه كله د رسول الله ﷺ خفګان ختم شو

نو بیا سیدنا عمر ﷺ خپله د رسول اللهﷺ نه د نفلی روژو باره کښې مناسب انداز کښې تپوس اوکړو.

﴿ فقال یا رسول الله! کیف بمن یصوم الدهر کله؟ قال: لا صام ولا افطر ﴾او په دویم روایت کښې دی لم یصم ولم یفطر... سیدنا عمر ﷺ ترتیب وار تپوس اوکړو، اول د صوم الدهر په باره کښې اوبیا دهغې نه کم او بیا د هغې نه کم، هغه د صوم الدهر په باره کښې اوفرمائیل : لا صام ولا افطر... چه داسې سړی نه روژه اونیوله او نه ئې افطار اوکړو، افطار نه کول خو ظاهر دی چه ټوله ورځ د خوراک څکاک نه بند وو، او د صوم نفی د کمال او فضیلت په اعتبار سره دې، یعنی څنګه روژه چه انسان له نیول پکار دی هغه دغه شان روژه او نه نیوله، دا روژه ولې کامل نه ده؟ یا خو په دې وجه چه د دې نه په حدیث کښې منع راغلې ده.

نو په دې کښې د حدیث مخالفت دې او یا په دې وجه چه د عبادت حقیقت چه په هغې کښې روژه هم داخله ده په مخالفت نفس کښې دې، او په صوم الدهر کښې د روژې د عادی کیدو په وجه باندې روژه د هغه عادت جوړ شی چه په هغې کښې د نفس مخالفت او مشقت باقی نه پاتې کیږی، او وئیلې شوې دی چه دا جمله دعائیه ده یعنی خیرې چه څوک داسې اوکړی الله پاک دې هغه ته نه د روژې موقع ورکړی او نه د افطار.

﴿قال یا رسول الله! کیف بمن یصوم یومین ویفطر یوما؟ ﴾سائل تپوس اوکړو چه که یو سړې مسلسل د دوه ورځو روژه او یوه ورځ افطار کوی نو څنګه ده؟ رسول اللهﷺ دا خبره هم خوښه نه کړه او وې فرمائیل چه که په چا کښې د دې طاقت او همت وی نو هغه دې داسې اوکړی.

بیا سائل تپوس اوکړو ﴿فکیف بمن یصوم یوما ویفطر یوما؟ ﴾که یوه ورځ روژه او یو ورځ افطار کوی نو دا څنګه ده؟ رسول اللهﷺ د دې تعریف افرمائیلو ﴿ذلک صوم داود ﴾چه دا روژه داودی روژه ده، په بذل کښې لیکلې دی : په یو روایت کښې راغلې دی "افضل الصیام صیام داود ﷺ"او دا چه د روژې دا طریقه ډیر مناسب او معتدل ده، خیر الامور اوساطها وشرها تفریطها وافراطها، ولذا قال بعض العلماء اجتهد فی العلم بحیث لا یمنعک من العمل، واجتهد فی العمل بحیث لا یمنعک من العلم. اه

بیا سائل تپوس اوکړو ﴿فکیف بمن یصوم یوما ویفطر یومین؟ ﴾رسول اللهﷺ اوفرمائیل : دا طریقه خو داسې ده چه د دې په باره کښې زه خپله غواړم چه ماته دې الله پاک د دې توفیق او طاقت راکړی.

اوسه پورې خو رسول اللهﷺ سیدنا عمر ﷺ چه څنګه تپوس کولو د هغې مطابق ئې جواب ورکولو، اوس هغه د خپل طرف نه د روژې کیفیت تعلیم او تلقین فرمائی څنګه چه امت لره کیخودل پکار دی او ظاهره ده کومه طریقه د تعلیم چه رسول اللهﷺ فرمائیلې ده هغه د ټولو نه افضل هم ده او اسانه هم ده، د هغې نه مخکښې چه کومې طریقې ذکر شوې په هغې کښې دا دواړه صفات یوځائې نه شی موندلې کیدې، یعنی د افضل کیدو سره اسانیدل او هغه دا دې.

﴿ثلاث من كل شهر، ورمضان الى رمضان﴾ چه د رمضان د مياشتې پوره روژې او باقي يولس مياشتې كښې هره مياشت درې روژې، بيا ئې اوفرمائيل چه دا كيفيت او طريقه د روژو د صوم الدهر برابر ده چه د هغې وجه مشهوره ده ﴿الحسنة بعشرة امثالها﴾، په هره مياشت كښې درې روژې گويا د پوره مياشتې روژې شوې، بيا د هغې نه پس رسول اللهﷺ د كال په مياشتو كښې د بعض مخصوص روژو فضيلت بيان اوفرمائيلو، يو صوم عرفه چه د هغې په باره كښې رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه زه اميد لرم چه په دې سره به د دوه كالو گناه معاف شي، تير كال او راروان كال، دويم يوم عاشوراء يعنى د لسم محرم روژه، او دا چه زه اميد لرم چه الله پاک به د دې د وجې نه د يو كال گناهونه معاف كړي.

امام نووی رحمه الله فرمائي چه د ذنوب نه مراد صغائر دى، او كه د چا صغائر نه وى او صرف كبائر وى نو اميد كولې شى د هغې د تخفيف اوكړو، او كه دواړه قسم نه وى نو اميد كيدې شى د رفع درجات.

د راروان كال د گناهونو د معاف كيدو مطلب چه لا صدور ئې هم نه وى شوې؟ وئيلې شوې دى چه د تكفير نه مراد حفظ دې، يعنى په راروان كال كښې د گناهونو نه محفوظ كيدل، او وئيلې شوې دى : د مخكښې او راروان كال د گناهونو معاف كيدو مطلب دا دې چه الله پاک هغه ته د خپل رحمت او ثواب دومره لويه حصه وركوى كوم چه د راروان كال د گناهونو د كفارې دپاره كافى شى، د دې حديث نه ﴿صوم ثلاثة ايام من كل شهر﴾ يعنى هره مياشت د درې روژو نيولو فضيلت ثابتيږى برابره خبره ده كه هغه اول وى يا اخر يا په مينځ كښې درې روژې كومو ته چه ايام بيض وئيلې شى، او بل قول دا دې چه د دې درې روژو نه د ايام بيض روژې مراد دى. والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجة مختصرا ومطولا، وكذا البيهقي من طريق ابان بن يزيد الخ. (المنهل)

[۲۴۲۶]([1])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مَهْدِيٌّ، حَدَّثَنَا غَيْلَانُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَعْبَدٍ الزِّمَّانِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، زَادَ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، "أَرَأَيْتَ صَوْمَ يَوْمِ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمِ الْخَمِيسِ؟ قَالَ: فِيهِ وُلِدْتُ وَفِيهِ أُنْزِلَ عَلَيَّ الْقُرْآنُ".

ترجمه: عبدالله بن معبد زماني دابوقتاده نه دتيرشوي روايت په شان روايت بيان كړې دې مگر دا اضافه ئې كړې ده چه عمرفاروق په اووئيل اې دالله رسوله د دوشمبې اودزيارت په ورځ دروژې نيولو څه حكم دې نبى ﷺ اوفرمائيل ددوشمبې په ورځ زه ا پيدا شوې يم او په همدې ورځ باندې په ما باندې قرآن كريم نازل شوې دې (يعنى په دې كښې روژه نيول بهتر دي).

تشريح: هم د دې حديث په دويم طريق كښې دى : ﴿ارايت صوم يوم الاثنين ويوم الخميس؟ قال فيه ولدت وفيه انزل على القران﴾ په بذل كښې ليكلې دى چه په دې سوال كښې دوه احتمالات دى يا خو مطلقا په دې دواړو كښې روژه معلومول دى يا د سوال مقصد دا دې چه تاسو چه

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۱۷) (صحيح)

په دې ورځو کښې په کثرت سره روژې نيسئ د دې څه وجه ده؟ د دې په جواب کښې رسول الله ﷺ اوفرمائيل ﴿فيه اى فى يوم الاثنين﴾ چه د ګل په ورځ زما پيدائش دې، او هم په دې ورځ باندې په ما د نزول قران ابتداء ده، يعنى دا ورځ زما دپاره د كمال صورى او كمال معنوى دواړو د ظاهريدو ورځ ده.

ځان پوهه کړه چه سوال د دوه ورځو په باره کښې او د جواب تعلق صرف د يوم الاثنين سره دې د دې تحقيق صاحب منهل داسې کړې دې چه په دې روايت کښې د ﴿يوم الخميس﴾ زيادت وهم دې.

[۲۴۲۷]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: لَقِيَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "أَلَمْ أُحَدَّثْ أَنَّكَ تَقُولُ لَأَقُومَنَّ اللَّيْلَ وَلَأَصُومَنَّ النَّهَارَ؟ قَالَ: أَحْسَبُهُ، قَالَ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ قُلْتُ ذَاكَ. قَالَ: قُمْ وَنَمْ وَصُمْ وَأَفْطِرْ وَصُمْ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَذَاكَ مِثْلُ صِيَامِ الدَّهْرِ. قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: فَصُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمَيْنِ. قَالَ: فَقُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: فَصُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمًا وَهُوَ أَعْدَلُ الصِّيَامِ وَهُوَ صِيَامُ دَاوُدَ. قُلْتُ: إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ".

ترجمه: د عبدالله بن عمر بن العاص نه روايت دې فرمائى چه زما سره د نبى ﷺ ملاقات اوشو اوراته ئې اوفرمائيل زه خبرشوې يم چه ته وائى چه زه به ټوله شپه عبادت کوم او ټوله ورځ به روژه نيسم عبدالله اووئيل هو، بې شکه اې د الله رسوله ما هم داسې وئيلي وو نبى ﷺ اوفرمائيل ته عبادت هم کوه او اوده کيږه هم، روژه هم نيسه او کوچه (خوراک څکاک) هم کوه او په هرمياشت کښې درې روژې نيسه د دې ثواب د هميشه روژو برابر دې ما عرض اوکړو اې د الله رسوله زه د دې نه د زياتو طاقت لرم نبى ﷺ اوفرمائيل يوه ورځ روژه نيسه او يوه ورځ ناغه (خوراک څکاک) کوه او دا بهترينې روژې دي او دا د داود ﷺ روژه و ما عرض اوکړو زه د دې نه هم د زياتو طاقت لرم نبى ﷺ اوفرمائيل د دې نه افضل نشته.

والحديث اخرجه ايضا مسلم والبيهقى مختصرا. (المنهل)

توضيح الحديث

رسول الله ﷺ عبدالله بن عمرو رضى الله عنه ته يوه ورځ د ملاقات په وخت اوفرمائيل: ايا ماته ستاسو متعلق دا خبره نه ده رارسيدلې؟ (يعنى رارسيدلې ده) چه تاسو دا وايئ چه زما اراده دا ده چه ټوله شپه به ويخ يم، قيام ليل به کوم، او د ورځې به روژه نيسم؟ نو هغوى د دې خبرې اعتراف اوکړو چه بيشکه ما داسې وئيلي دى رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د شپې قيام هم کوئ او ارام هم، او د ورځې روژه هم نيسئ او افطار هم، او وې فرمائيل چه هره مياشت درې روژې نيسئ، په دې باندې هغوى عرض اوکړو يا رسول الله! په ما کښې د دې نه د زياتو روژو طاقت دې (افضل په معنى د اکثر ګڼې بيا به اشکال دا وى چه افضل

---

[1]): صحيح البخاري/الصوم ٥٦ (١٩٧٦)، وأحاديث الأنبياء ٣٨ (٣٤١٨)، /النكاح ٩٠ (٥١٩٩)، صحيح مسلم/الصيام ٣٥ (١١٥٩)، (تحفة الأشراف: ٨٦٤٥، ٨٩٦٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصوم ٥٧ (٧٧٠)، سنن النسائي/الصوم ٤٥ (٢٣٩٤)، سنن ابن ماجه/الصيام ٣١ (١٧٢١)، مسند احمد (١٦٠/٢، ١٦٤)، سنن الدارمي/الصوم ٤٢ (١٧٩٣) (صحيح)

خو هغه طریقه کیدل پکار دی کومه چه رسول الله ﷺ اختیاروی نه هغه کومه چه صحابی بیانوی، رسول الله ﷺ په دې باندې اضافه کولو سره اوفرمائیل چه بیا داسې اوکړئ چه یوه ورځ روژه او دوه ورځې افطار کوه، یعنی پوره میاشت داسې کوه، په دې صورت کښې به په یوه میاشت کښې روژې لس او افطار به شل شی، بیا ئې د هغه په سوال باندې اضافه کولو سره یوه ورځ روژه او یوه ورځ د افطار حکم اوکړو او دا چه دا اعدل الصیام دې او هم دا صوم داودی دې.

والحديث اخرجه ايضا البخاری فی عدة مواضع، ومسلم والنسائی وابن ماجة، وكذا البيهقی من طريق يحيى. (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ أَشْهُرِ الْحُرُمِ

باب دې د حرمت په میاشتو کښې د روژو نیولو په بیان کښې

د اشهر حرم تعارف:

اشهر الحرم څلور دی درې یوځائې او یوه یواځې، (ذی قعده، ذی الحجة او محرم دا درې یوځائې دی یعنی مسلسل او رجب دا فرد ده یعنی د هغه درې واړو نه جدا، په تسلسل کښې شامل نه ده، د اشهر حرم ذکر په قران کریم کښې هم دې:

﴿إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَاللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ﴾: د دې مفرد الشهر الحرام دې لکه چه په بل آیت کریمه کښې دی ﴿الشهر الحرام بالشهر الحرام والحرمات قصاص﴾ حرام په معنی د حرمت والا، دې میاشتو ته اشهر حرم په دې وجه وئیلې شی چه دا حرمت والا دی، او هم په دې وجه په زمانه جاهلیت کښې او ابتداء اسلام کښې په دې څلورو میاشتو کښې قتال حرام وو، بیا روستو د قتال حرمت منسوخ شو د جمهور په نزد وقال عطاء بعدم النسخ.

[۲٤۲۸] [1] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي السَّلِيلِ، عَنْ مُجِيبَةَ الْبَاهِلِيَّةِ، عَنْ أَبِيهَا أَوْ عَمِّهَا، أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ انْطَلَقَ. فَأَتَاهُ بَعْدَ سَنَةٍ وَقَدْ تَغَيَّرَتْ حَالُهُ وَهَيْئَتُهُ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَمَا تَعْرِفُنِي؟ قَالَ: وَمَنْ أَنْتَ؟ قَالَ: أَنَا الْبَاهِلِيُّ الَّذِي جِئْتُكَ عَامَ الْأَوَّلِ. قَالَ: فَمَا غَيَّرَكَ وَقَدْ كُنْتَ حَسَنَ الْهَيْئَةِ؟ قَالَ: مَا أَكَلْتُ طَعَامًا إِلَّا بِلَيْلٍ مُنْذُ فَارَقْتُكَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِمَ عَذَّبْتَ نَفْسَكَ؟ ثُمَّ قَالَ: "صُمْ شَهْرَ الصَّبْرِ وَيَوْمًا مِنْ كُلِّ شَهْرٍ". قَالَ: زِدْنِي فَإِنَّ بِي قُوَّةً. قَالَ: صُمْ يَوْمَيْنِ. قَالَ: زِدْنِي. قَالَ: صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ. قَالَ: زِدْنِي. قَالَ: صُمْ مِنَ الْحُرُمِ وَاتْرُكْ، صُمْ مِنَ الْحُرُمِ وَاتْرُكْ، صُمْ مِنَ الْحُرُمِ وَاتْرُكْ". وَقَالَ بِأَصَابِعِهِ الثَّلَاثَةِ، فَضَمَّهَا ثُمَّ أَرْسَلَهَا.

ترجمه: مجیبه الباهلیه دخپل پلار یاتره نه روایت کوی فرمائی چه هغه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وو بیا لاړو اوبیا یوکال پس بیا اوږغې اودهغه حالت تبدیل شوې وو بل قسم شکل ئې وو اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله آیا ما پیژنې؟ نبی ﷺ تپوس اوکړو نه

[1]: سنن ابن ماجه/(۱۷٤۱)، (تحفة الأشراف: ٥٢٤٠)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبرى/ الصيام (۲۷٤۳)، مسند احمد (۲۸/٥) (ضعيف)

څوک ئي هغه اووئيل زه هم هغه باهلي يم کوم چه دلته يو کال مخکښې راغلې وم نبي ﷺ ورته اوفرمائيل ستاشکل ولې بدل شوې دې په هغه وخت کښې خو ستاشکل ښه وو هغه اووئيل کله چه زه ستانه رخصت شوم نوما به صرف دشپې ډوډئ خوړله (يعنی مسلسل روژې مې نيولې دې) نبي ﷺ ورته اوفرمائيل تا ولې خپل ځان په تکليف کښې مبتلا کړې دې؟ اوددې نه پس ئي ورته اوفرمائيل دټول رمضان روژې نيسه اوبيا په هره مياشت کښې يوه يوه روژه نيسه هغه عرض اوکړو ددې نه ئي راته زيات کړه نبي ﷺ ورته اوفرمائيل په هره مياشت کښې دوه دوه نيسه، هغه اووئيل چه ددې نه زيات طاقت لرم نبي ﷺ ورته اووئيل: درې درې روژې نيسه هغه اووئيل ددې نه ئي هم راته زيات کړه نبي ﷺ ورته اوفرمائيل دحرمت په مياشتوکښې (ذي القعده ذي الحجه محرم رجب) کښې روژې نيسه او پريږده، نيسه او پريږده، نيسه او پريږده او په درې ګوتوسره ئي اشاره اوکړه اول ئي موټې بند کړو اوبيائي کولا و کړو (مراد دادې چه ته درې ورځې روژې نيسه اودرې ورځې چټې کوه).

مضمون حديث:

قوله: عن مجيبة الباهلية عن ابيها او عمها: مجيبه باهليه د خپل پلار نه روايت کوی چه د هغه نوم عبدالله بن الحارث ﷺ دې، يا دخپل تره نه چه د هغه نوم معلوم نه دې چه د هغې پلار يا تره يو ځل مدينې منورې ته د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، څو ورځې ايساريدو سره وطن ته واپس لاړو، دوباره يو کال پس بيا حاضر شو (وقد تغيرت حاله وهيئته) يعنی دې ځل د هغوی حالت ډير خراب او متغير شوې وو (چه د هغې د وجې نه رسول الله ﷺ او نه پيژندلې شو چه دا هم هغوی دی) هغوی عرض اوکړو چه زه هم هغه باهلي يم کوم چه تاسو ته مخکښې کال راغلې وو، رسول الله ﷺ ترې تپوس اوکړو چه ستا دا حالت متغير شوې ولې دې ته خو د دې نه په غوره حالت کښې وې؟ هغه ورته اووئيل چه ما مسلسل روژې نيولې دی ځکه بيا نبي ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه داسې کوه چه رمضان او د دې نه علاوه په هره مياشت کښې يوه روژه نيسه، هغوی عرض اوکړو چه نور راته څه زيات کړئ، بيا ئي اوفرمائيل چه په هره مياشت کښې دوه روژې نيسه، هغه بيا عرض اوکړو چه لږې زياتې ئي کړه، نو وې فرمائيل چه هره مياشت درې روژې نيسه، هغه ترې نوره اضافه طلب کړه نو په دې باندې ئي اوفرمائيل، (صم من الحرم واترک، صم من الحرم واترک، صم من الحرم واترک) وې فرمائيل چه په اشهر حرم کښې درې روژې نيسه او بيا درې پريږده، هم دغه شان رسول الله ﷺ فرمائی چه په اشهر حرم کښې درې روژې نيولو سره درې پريږده، بيا درې نيولو سره درې پريږده، هر ځل رسول الله ﷺ په خپلو درې ګوتو سره اشاره فرمائيله او هغه ئي بندوله بيا ئي هغه پرانستلې.

ددې اخری حکم نه مخکښې رسول الله ﷺ هغوی ته هره مياشت ددرې روژو حکم فرمائيلې وو، بيا چه کله هغوی نور هم زيادت طلب کړو نو دا اخری خبره ئي اوفرمائيله، اوس دلته دوه احتمالا تدی يا خو دا چه صرف په دې اخری حکم باندې عمل کوه، او يا مطلب دا دې

چه د دې اخرې نه چه مخکښې کومه مشوره ورکړې وه يعنې هره مياشت د درې روژو نيولو هغه او دا دواړه راجمع کړه، په اول صورت کښې يعنې د انفراد په صورت کښې د نفلي روژو تعداد به شپيته وي او رمضان يوځائې کولو سره به نوى (۹۰) شي، او دويم صورت يعنې جمع والا احتمال کښې به صيام تطوع يو اتيا شي او د رمضان سره يو سل يولس.

والحديث اخرجه النسائي والبيهقي وكذا ابن ماجة عن ابي مجيبة الباهلي واحمد. (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ الْمُحَرَّمِ

باب دې په محرم کښې د روژې نيولو په بيان کښې

محرم هم د اشهر حرم نه دې چه د هغې بيان اوس تير شو.

[۲٤۲۹] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ شَهْرُ اللَّهِ الْمُحَرَّمُ، وَإِنَّ أَفْضَلَ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَفْرُوضَةِ صَلَاةٌ مِنَ اللَّيْلِ". لَمْ يَقُلْ قُتَيْبَةُ: شَهْرُ، قَالَ: رَمَضَانُ.

ترجمه: دابوهريره نه روايت دې فرمائي چه رسول الله فرمائيلي دي يقيناغوره دروژونه پس دمياشتې درمضان دالله تعالى دمحرم مياشتې روژې نيول دي او يقينا غوره په مونځونوکښې پس دفرضونه دتهجدو مونځ دې، دقتيبه په روايت کښې شهرلفظ نشته دې هغه درمضان لفظ ذکرکړې دې۔

توضيح الحديث

د دې حديث نه معلوميږي چه د رمضان نه پس د ټولو نه غوره مياشت د روژه دپاره د محرم مياشت ده، دا حديث په صحيح مسلم کښې هم دې، او په دې باندې امام نووى "فضل صوم المحرم" باب تړلې دې.

د حديث الباب متعلق بعض سوال او جواب:

امام نووى رحمه الله د دې حديث نه پس فرمائي: فيه تصريح بانه افضل الشهور للصوم... د دې نه روستو بيا د يو اشکال جواب ورکوى هغه دا چه بيا رسول الله ﷺ د شعبان په مياشت کښې د روژو نيولو کثرت ولې کولو، پس په ابوداود کښې وړاندې باب راروان دې د صوم شعبان په باب کښې ﴿كان احب الشهور الى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يصومه شعبان ثم يصله برمضان﴾، امام نووى رحمه الله فرمائي چه: "وقد سبق الجواب عن اكثار النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من صوم شعبان دون المحرم، وذكرنا فيه جوابين" هغه دوه جوابونه دا دي: اول دا چه ممکنه ده چه رسول الله ﷺ ته د صوم محرم د افضليت علم د ژوند په اخرى حصه کښې شوې وى په دې وجه ورته په دې کښې د اکثار صوم موقع ملاؤ نه شوه، بل جواب دا دې چه ممکنه ده د محرم په مياشت کښې د روژې نيولو نه څه عذرونه پيښيږي، سفر يا مرض وغيره. اهـ

¹): صحيح مسلم/الصيام ۳۸ (۱۱٦۳)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۰۷ (٤۳۸)، الصوم ٤۰ (۷٤۰)، سنن النسائي/قيام الليل ٦ (۱٦۱٤)، سنن ابن ماجه/الصيام ٤۳ (۱۷٤۲)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۹۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۰۲/۲، ۳۲۹، ۳٤۲، ۳٤٤، ۵۳۵) (صحيح)

هسې خو د صوم شعبان فضيلت هم په يو حديث کښې راغلې دې کوم چه په ترمذی شريف کښې په کتاب الزکاة... باب ما جاء فی فضل الصدقة کښې د انس رضی الله عنه په روايت باندې دې ﴿سئل رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ای الصوم افضل بعد رمضان؟ قال شعبان لتعظيم رمضان﴾ خو دا حديث ضعيف دې، لکه چه امام ترمذی فرمائی هذا حديث غريب وصدقة بن موسى ليس عندهم بذلک القوی. هم دا جواب ورکړې دې حافظ عراقی چه د ترمذی دا روايت د صحيح مسلم د روايت معارض نه شی کيدې، او علامه ابو الطيب سندی د دې تعارض يوه بله توجيه کړې ده هغه دا چه علی الاطلاق خو افضل الصيام بعد رمضان صيام محرم دی، او د تعظيم رمضان په حيثيت افضل الصيام صيام شعبان دی.

د فضيلت په لحاظ سره د مياشتو ترتيب :

فائده: د فضيلت په لحاظ سره د مياشتو ترتيب څنګه دې؟ د دې په باره کښې حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې مختلف کتب فقه نه عبارتونه نقل فرمائيلې دی کوم چه لاندې ليکلې شی، وفی الانوار الساطعة (من مسلک الشافعية) رمضان افضل الشهور ثم المحرم ثم رجب ثم ذو الحجة ثم ذو القعده ثم شعبان، ثم باقی الشهور انتهى، ويخالفه ما فی شرح الاحياء من النووی، افضلها بعدرمضان المحرم ويليه شعبان، وقال الغزالی:افضلها ذی الحجة،وفی الشرح الکبير للدردير افضلها المحرم فرجب فذوی قعده وذوی الحجة. اه حضرت شيخ هم په دې حاشيه د بذل کښې يوې بلې خبرې ته توجه پيدا کړې ده هغه دا چه په حديث کښې راځی ﴿افضل الصيام صوم داود﴾ او بيا ئې د دې په باره کښې د امام طحاوی د مشکل الآثار نه نقل کړې دی چه دا افضليت د شهور په لحاظ سره نه دې بلکه د کيفيت صيام په لحاظ سره دې يعنی د دوام په مقابله کښې، وړاندې په حديث کښې دی : وان افضل الصلاة بعد المفروضة صلاة من الليل.

په رواتب او تهجد کښې افضل څه دی؟

د دې حديث نه په ظاهره معلوميږی چه د قيام ليل او تهجد مونځ رواتب يعنی د سنن مؤکده نه هم افضل دې، پس ابو اسحاق مروزی او بعض علماء کرام هم د دې قائل دی، خو اکثر علماء د رواتب د افضليت قائل دی چه د فرائضو سره چه کوم سنن مؤکده لوستلې شی هغه د تهجد د مونځ نه غوره دی، او هغه فرمائی چه دا حديث د دې رائې خلاف نه دې، ځکه چه رواتب د صلاة مفروضه ملحقات نه دې لهذا د تهجد مونځ د ټولو نوافل مطلقه نه غوره شو نه د هغه نوافلو نه کوم چه ملحق بالفرائض دی (من البذل والمنهل)

والحديث اخرجه ايضا مسلم والدارمی والبيهقی، وکذا ابن ماجة والترمذی مقتصرين فيه على الصيام. (قاله فی المنهل)

[٢٤٣٠] (١)حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ يَعْنِي ابْنَ حَكِيمٍ، قَالَ: سَأَلْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنْ صِيَامِ رَجَبٍ. فَقَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لَا

(١): صحيح مسلم/الصيام ٣٤ (١١٥٧)، (تحفة الأشراف: ٥٥٥٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الصيام ٤١ (٢٣٤٨، ٢٣٤٨)، سنن ابن ماجه/الصيام ٣٠ (١٧١١)، مسند احمد (٢٢٦/١، ٢٢٧، ٢٣١، ٣٢٦) (صحيح)

يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتّٰى نَقُولَ لَا يَصُومُ".

ترجمه: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبي ﷺ به دومره روژې نيولې تردې چه مونږ به وئيل چه دې هډو افطار نه کوي اودومره افطار به ئې کولو تردې چه مونږ به وئيل دې دو روژې نه نيسي..

شرح حديث:

قوله: قَالَ: سَأَلْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنْ صِيَامِ رَجَبٍ. فَقَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لَا يَصُومُ".

د دې باب دويم حديث دې، خو باب خو متعلق دې د صوم محرم سره او د دې حديث تعلق دې د رجب سره، لهذا حديث د ترجمة الباب سره متعلق نه دې، او صاحب منهل چه کومه نسخه اختيار کړې ده په هغې کښې په دې حديث باندې د صوم رجب ترجمه ده.

اوس دا چه د دې حديث نه د صوم رجب فضيلت ثابتيږي يا نفی فضيلت په دې کښې دواړه احتمالات دی ځکه چه راوی وائي چه رسول الله ﷺ به بعض وخت د رجب په مياشت کښې مسلسل روژې نيولې، او بعض وخت به ئې مسلسل افطار کولو نو په دې کښې دواړه جهتونه موندلې شی د اثبات هم او د نفی هم، صاحب منهل د نفی طرف اختيار کړې دې، او زمونږ حضرت په بذل کښې د اثبات اړخ اختيار کړې دې.

خو حضرت په بذل کښې د حديث د ترجمة الباب سره د غير مطابق کيدو نه تعرض نه دې کړې، په ظاهره کښې به د حضرت په ذهن کښې هم دا وی چه ترجمة الباب د صوم رجب سره متعلق دې. فتامل

د صوم رجب په فضيلتٌ کښې حديث شته يا نه؟

اوس دا چه د صوم رجب د فضيلت په باره کښې يو حديث ثابت دې يا نه؟ نو د دې متعلق د حافظ ابن حجر يو مستقل تصنيف دې، تبيين العجب بما ورد في فضل رجب... چه د هغې په شروع کښې هغه ليکلې دی چه د رجب د مياشتې يا د صيام رجب په باره کښې يو صحيح حديث کوم چه قابل حجت وی ثابت نه دې، او وړاندې ليکی : خو دا خبره مشهوره ده چه د فضائلو په باره کښې اهل علم مسامحت کوی او په دې کښې احاديث ضعيفه اخلی په دې شرط چه موضوع نه وی، كذا في "الحل المفهم" ۳۱۰، والحديث اخرجه ايضا مسلم، واخرجه البخاری وابن ماجة والترمذی بدون ذكر رجب. (قاله في المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ شَعْبَانَ

باب دې په شعبان کښې د روژې نيولو په بيان کښې

[۲٤٣۱] (1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ، سَمِعَ عَائِشَةَ تَقُولُ: كَانَ "أَحَبُّ الشُّهُورِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَصُومَهُ شَعْبَانَ ثُمَّ يَصِلُهُ بِرَمَضَانَ".

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٨٠)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ الصيام (٢٦٥٩) (صحيح)

ترجمه: ام المومنین عائشة رضي الله عنها روایت دي فرمائی چه دشعبان دمیاشتي روژي نیول دنبی عليه السلام ډیر خوښ وو او بیا به ئي د شعبان دمیاشتي روژي درمضان سره متصل کولي.

توضیح الحدیث

په دي حدیث باندي کلام په مخکښي باب کښي تیر شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دي میاشت کښي په کثرت سره روژي ولي نیولي حافظ د دي په حکمت کښي مختلف اقوال لیکلي دی، او بیا ترجیح هغه قول ته ورکړي ده کوم چه خپله د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه منقول دي لکه چه په نسائی کښي دی د اسامه بن زید رضي الله عنه د حدیث نه چه هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چه زه وینم چه تاسو څومره په کثرت سره د شعبان روژي نیسئ په بل میاشت کښي دومره نه نیسئ نو په دي باندي رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل چه دا داسي میاشت ده چه په دي کښي خلق غافل وی، دا داسي میاشت ده چه په دي کښي د خلقو اعمال الله رب العالمین ته پیش کیږی په دي وجه زه دا غوارم چه زما عمل هلته په داسي حال کښي اورسیږی چه زه روژه دار یم، ﴿فاحب ان یرفع عملي وانا صائم﴾

تنبیه: د فتح الباری په نسخه کښي ئي دا حدیث د نسائی، ابوداود او ابن خزیمه طرف ته منسوب کړي دي، خو د حافظ نه علاوه علامه عینی، قسطلانی وغیره دا حدیث د ابوداود طرف ته نه دي منسوب کړي. فالظاهر انه سبق قلم من الحافظ.

والحدیث اخرجه ایضا النسائي والحاکم والبیهقي (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ شَوَّالٍ

باب دي د روژي نیولو په بیان کښي

[۲۴۳۲]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ مُوسَى، عَنْ هَارُونَ بْنِ سَلْمَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ الْقُرَشِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَأَلْتُ أَوْ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صِيَامِ الدَّهْرِ، فَقَالَ: "إِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، صُمْ رَمَضَانَ وَالَّذِي يَلِيهِ وَكُلَّ أَرْبِعَاءَ وَخَمِيسٍ، فَإِذَا أَنْتَ قَدْ صُمْتَ الدَّهْرَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَافَقَهُ زَيْدٌ الْعُكْلِيُّ وَخَالَفَهُ أَبُو نُعَيْمٍ. قَالَ: مُسْلِمُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ.

ترجمه: عبیدالله بن مسلم القرشي دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه دنبی عليه السلام نه مي تپوس اوکړو اوکه دنبی عليه السلام نه تپوس اوشو دهمیشه روزر نیولو متعلق نوونئي فرمائیل یقینا ستاداهل په تاباندي حق دي درمضان روژي نیسه اوکوي چه ددي سره متصل دي اودهرچارشمبي اودزیارت په ورځ روژه نیسه کله چه دي داسي اوکړل نودا داسي ده لکه چه تا تمام عمر روژي نیولي وي، امام ابوداود وائی مسلم بن عبیدالله وئیلي دي چه ددي سره موافقت کړي دي زید. عکلي اوددي مخالفت کړي دي ابونعیم

توضیح الحدیث

د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د صوم الدهر په باره کښي تپوس اوکړي شو نو هغه اجازت ورنکړو او دا ئي اوفرمائیل چه په رمضان کښي روژي نیسه، او په هغه میاشت کښي کومه چه ورسره

---

[1]: سنن الترمذي/الصوم ٤٥ (٧٤٨)، (تحفة الأشراف: ٩٧٤٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤١٦/٣، ٧٨/٤) (ضعيف)

متصل ده او د هرې ګل او زیارت په ورځ بس هم دا دې ستا دپاره صوم الدهر. ﴿والذی یلیه﴾ مصداق په ظاهره کښې شوال دې، خو ترجمة الباب خو د شعبان په باره کښې دې پس کیدې شی چه مصنف د دې نه شعبان مراد کړې وی چه په هغې کښې هیڅ اشکال نشته، د رمضان په یو طرف کښې شوال دې، او په بل طرف کښې شعبان، خو په بعض نسخو کښې په دې حدیث باندې مستقل د شوال ترجمة الباب قائم دې په دې صورت کښې به د دې نه مراد شوال وی.

ځان پوهه کړه ﴿صم رمضان والذی یلیه﴾ د دې سیاق نه دا فهمیږی چه د رمضان سره چه کومه متصل میاشت ده د دې نه پوره مراد ده، خو په یو حدیث کښې صراحة د شوال د پوره میاشت روژو مطلوب کیدل نه دی وارد شوی، په خلاف د شعبان د هغه په باره کښې داسې روایات دی لهذا راجح هم دا ده چه ﴿والذی یلیه﴾ نه پوره میاشت نه ده مراد کړې بلکه د شوال صرف شپږ روژې ځکه چه د نورو احادیثو نه هم د دې مطلوب کیدل ثابت دی، خو په دې صورت کښې به اشکال دا وی چه د شوال د شپږو روژو ترجمه مستقل وړاندې راروانه ده. والحدیث اخرجه الترمذی (المنهل) وزاد المنذری النسائی ایضا.

بَابٌ فِي صَوْمِ سِتَّةِ أَيَّامٍ مِنْ شَوَّالٍ

باب دې په شوال کښې د شپږو روژو نیولو په بیان کښې

د شوال د شپږو روژو متعلق د علماء کرامو اختلاف:

د دې روژو په باره کښې مشهوره دا ده چه جمهور علماء کرام د دې د استحباب قائل دی په خلاف د امام مالک چه هغه د دې انکار کړې دې په موطاء کښې، امام مالک رحمه الله فرمائی: ما رایت احدا من اهل العلم یصومها، امام نووی رحمه الله د امام مالک سره امام ابوحنیفه رحمه الله هم ذکر کړې دې هغه لیکی: وقال مالک وابوحنیفه یکره ذلک، ([1]) او حضرت په بذل کښې لیکلې دی واما مذهب الحنفیة فی ذلک فقال فی نور الایضاح وشرحه مراقی الفلاح "واما القسم الرابع وهو المندوب فهو صوم ثلاثة ایام من کل شهر، ویندب کونها الایام البیض، ومن هذا القسم صوم یوم الاثنین ویوم الخمیس ومنه صوم ست من شهر شوال، قال الطحطاوی فی شرحه: قوله وصوم ست من شهر شوال : قال فی البحر الست من الشوال صومها مکروه عند الامام متفرقة او متتابعة، لکن عامة المتاخرین لم یروا به باسا.

دویم بحث دلته دا دې چه په دې روژو کښې توالی او تتابع اولی دې یا تفریق؟ د شوافعو په نزد د عید الفطر نه روستو علی التوالی نیول مستحب دی، قال النوویفان فرقها او اخرها عن اوائل شوال الی اواخره حصلت فضیلة المتابعة، لانه یصدق انه اتبعه ستا من شوال. اهـ او د احنافو په نزد دلته په دې کښې دواړه اقوال دی، قیل الظاهر وصلها الظاهر قوله "فاتبعه" (ځکه چه فاء د تعقیب بلا فصل دپاره راځی) وقیل تفریقها، اظهارا لمخالفة اهل الکتاب فی التشبیه بالزیادة علی المفروض. اهـ من المراق. او په در مختار کښې دی وندب تفریق صوم الست من شوال صومها

[1]) د امام مالک د مسلک تحقیق وړاندې راروان دې.

مکروه عند الامام متفرقة او متتابعة لکن عامة المتاخرین لم رووا به بأسًا ولا یکره التتابع علی المختار خلافا للشافعي. اهـ یعنې زمونږ په نزد تفریق د هغه روژو اولی دي خو تسلسل هم مکروه نه دي په قول راجح کښې، البته د امام ابویوسف رحمه الله په نزد مکروه دي او د امام احمد رحمه الله مذهب په منهل کښې دا لیکلي دي: وقال احمد: لا فرق بین المتتابع وعدمه في الفضل، هم دغه شان صاحب منهل دا هم لیکلي دی چه فقهاء مالکیه هم د دې روژو د استحباب قائل دی خو متفرقا. او اوجز ۹۶/۳ کښې حضرت شیخ لیکی: د شوافعو په نزد دا روژې بالاتفاق مستحب دی بلکه تاکد سره، او هم دغه شان د حنابله په نزد هم سنت دی لکه چه د هغوی په کتابونو کښې دی، او د امام مالک رحمه الله مسلک د شرح حدیث او د کتب خلافیات لکه "بدایة المجتهد" وغیره کښې مشهور دې چه د هغوی په نزد مطلقا مکروه دی خو "الشرح الکبیر" او په دسوقی کښې دی چه د امام مالک په نزد کراهة امور خمسة سره مقید دې که په دې کښې یو مفقود شي نو کراهت نشته، او هغه قیودیه دی. ۱: کیخودلو والا مقتدی به او د وخت پیشوا وی. ۲: د رمضان نه روستو متصلا، ۳: تسلسل سره بغیر د تفریق نه، ۴: دا روژې علانیه طور نیول. ۵: د سنیة اتصال قائل کیدل. اهـ

[۲۴۳۳]([1]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، وَسَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ بِسِتٍّ مِنْ شَوَّالٍ فَكَأَنَّمَا صَامَ الدَّهْرَ".

ترجمه: د ابوایوب نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه درمضان روژې اونیولې اوبیائې وریسې دشوال شپږ روژې اونیولې نوداداسې ده لکه ده چه تمام عمر روژې نیولې وي.

د دې روژو په مشروعیت کښې مصلحت:

د دې روژو په مشروعیت کښې مصلحت او حکمت علماء کرامو دا بیان کړې دې چه دا په منزله د سنن رواتب دې کوم چه د فرض مونځونو سره مشروع دې چه د هغې فائده د نقصان کمې پوره کول دی کوم چه د فرض مونځ نه روستو واقع شوې وی، علی هذا القیاس د دې روژو مشروعیت په صیام رمضان کښې د نقص کمې پوره کولو دپاره ده. اهـ من المنهل. زه وایم او هم دا مصلحت په حدیث شریف کښې د صدقة الفطر د مشروعیت په باره کښې راغلې دې کما تقدم في کتاب الزکاة عن ابن عباس قال: فرض رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زکاة الفطر طهرة للصیام من اللغو والرفث وطعمة للمساکین الحدیث.

....

[1]): صحیح مسلم/الصیام ۲۹ (۱۱۶۴)، سنن الترمذي/الصوم ۵۳ (۷۵۹)، سنن ابن ماجه/الصیام ۳۳ (۱۷۱۶)، (تحفة الأشراف: ۳۴۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۱۷/۵، ۴۱۹)، سنن الدارمي/الصوم ۴۴ (۱۷۹۵) (صحیح)

باب كَيْفَ كَانَ يَصُومُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم

باب دې چې نبی علیه السلام به په څه طريقه روژې نيولې

د مصنف يو عادت:

د مصنف يو عادت شريفه دې چه هغه د رسول الله ﷺ طرف ته منسوب كولو سره هم مستقل تراجم قائموی پس په كتاب الصلاة كښې د ابواب المواقيت په ضمن كښې يوه ترجمه ده "باب في وقت صلاة النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"هم دغه شان د دې نه مخكښې په كتاب الطهارة كښې "باب صفة وضوء النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"او هم دغه شان په كتاب الحج كښې "باب صفة حجة النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"خو په كتاب الزكاة كښې ئې داسې څه باب نه دې تړلې، په ظاهره كښې دې وجه باندې چه د اكثر علماء كرامو په نزد په انبياء عليهم السلام باندې زكاة نه واجب كيږي، بهرحال په دې باب سره د مصنف غرض په نفل روژو كښې د رسول الله ﷺ معمول بيانول دی، ځكه چه نفلی روژې خو اختيارى دی د هغوی داسې څه ضابطه او قانون خو دې نه چه د هغې رعايت واجب وی د خلقو د حال مطابق دې.

[۲۴۳۴]([1])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ لَا يُفْطِرُ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ لَا يَصُومُ، وَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَكْمَلَ صِيَامَ شَهْرٍ قَطُّ إِلَّا رَمَضَانَ. وَمَا رَأَيْتُهُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ صِيَامًا مِنْهُ فِي شَعْبَانَ".

ترجمه: دام المومنين عائشه رضی الله عنها روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به روژې نيولې تردې چه مونږ به گمان اوكړو چه دې هډو افطار نه كوي او افطار به ئې هم كولو تردې چه مونږ به گمان اوكړو چه دې هډو روژې نه نيسي او مونږ هيڅ كله نبی علیه السلام نه دې ليدلې چه پوره مياشت روژې ئې نيولې وي علاوه د رمضان نه او ما نه دې ليدلې نبی علیه السلام چه په بله مياشت كښې ئې د شعبان نه زياتې روژې نيولې وي.

مضمون حديث:

يعنى رسول الله ﷺ به په بعض مياشتو كښې روژې دومره په كثرت سره نيولې چه زمونږ به دا خيال راغلو چه كيدې شی په دې مياشت كښې به روژه بالكل افطار كوی نه، او په بعض مياشتو كښې به ئې صرف افطار كولو تردې چه زمونږ خيال پيدا شو چه دې مياشت كښې به بالكل يوه روژه هم نه نيسی، بيا وړاندې فرمائی او دا خبره هم متعين وه چه رسول الله ﷺ به د رمضان نه علاوه د يوې مياشتې پوره روژه نه ساتله، بيا وړاندې فرمائی او د ټولو نه زياتې روژې به ئې د شعبان په مياشت كښې نيولې، د دې نه پس مصنف هم دا مضمون د ابوهريره رضی الله عنه په روايت سره ذكر كړې دې او په هغې كښې د شعبان د روژې په

[1]: صحيح البخاري/الصوم ۵۲ (۱۹۶۹)، صحيح مسلم/الصيام ۳۴ (۱۱۵۶)، سنن الترمذي/الصوم ۳۷ (۷۳۶)، سنن النسائي/الصيام ۱۹ (۲۱۷۹)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۱۰)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ۳۰ (۱۷۱۰)، موطا امام مالك/الصوم ۲۲ (۵۶)، مسند احمد (۳۹/۶، ۸۰، ۸۴، ۸۹، ۱۰۷، ۱۲۸، ۱۴۳، ۱۵۳، ۱۶۵، ۱۷۹، ۲۳۳، ۲۴۲، ۲۴۹، ۲۶۸) (صحيح)

باره کښې دومره زائد دی : وكان يصومه الا قليلا بل كان يصومه كله... يعنی بس په دې ځان پوهه کړئ چه د شعبان خو به رسول اللهﷺ پوره میاشت روژې نیولې.

تنبیه : حضرت په بذل کښې دا لیکلي دی چه په صحیح مسلم کښې دا زیادت کوم چه مصنف د ابوهریرهؓ طرف ته منسوب کړې دې هم په دې حدیث کښې ذکر کړې دې کوم چه دلته په ابوداود کښې د دې نه مخکښې تیر شوې دې یعنی حدیث ابی سلمة عن عائشة، حضرت لیکی چه دا زیادت ما په کتب حدیث کښې د ابوهریرهؓ نه من طریق ابی سلمة چرته اوموندلو او نه من غیر طریق ابی سلمة. والله تعالی اعلم

[۲۴۳۵][1]حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ. زَادَ: كَانَ يَصُومُهُ إِلَّا قَلِيلًا، بَلْ كَانَ يَصُومُهُ كُلَّهُ.

ترجمه: ابوهریره دتیرشوی روایت په شان روایت بیان کړې دې مګرپه دې روایت کښې دا اضافه ده چه په شعبان کښې به ئې لږې روژې نیولې بلکه ټوله میاشت به ئې هم نیولې.

تشریح: په دې دویم روایت کښې دی ﴿بل كان يصومه كله﴾ دې باره کښې امام ترمذی د حضرت ابن المبارک نه نقل کړې دی چه داسې په کلام عرب کښې جائز دی چه کله یو سړې د میاشتې اکثره حصه کښې روژه نیسی نو هغه ته وئیلې شی چه ﴿صام الشهر كله﴾ او هم دغه شان وئیلې شی ﴿قام فلان ليلة اجمع﴾ چه فلانې سړې ټوله شپه د تهجد په مونځ باندې ولاړ وو ﴿ولعله تعشى واشتغل ببعض امره﴾ یعنی کیدې شی هغه دې دوران کښې بل څه کار هم کړې وی، خوراک ئې کړې وی یا ئې بل داسې قسم کار کړې وی، خو علامه طیبی د دې رائې سره اتفاق نه کوی چه هر کله په لفظ د ﴿کل﴾ سره راوی تصریح کوی کوم چه د تاکید شمول دپاره دې نو بیا ئې په اکثریت باندې محمول کول صحیح نه دی، لهذا داسې وئیل پکار دی چه بعض وخت د شعبان هغه پوره روژې اونیولې او بعض وخت اکثر روژې، او بعض د ﴿کله﴾ مطلب دا بیان کړې دې چه روژې خو به ئې د اکثر شعبان نیولې، د ټول شعبان نه، خو د دې صورت به دا وو چه کله به ئې د میاشتې د شروع نه اکثر نیولې او کله د میاشتې د اخر په اعتبار سره اکثر، او کله د میاشتې د مینځ په اعتبار سره اکثر نیولې، په داسې طریقه روژې پوره میاشتې ته شامل شوې، خو حافظ دې ته تکلف وئیلې دې او د ابن المبارک رائې ته ئې ترجیح ورکړې ده.

بَابٌ فِي صَوْمِ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ

باب دې د دوشنبې (زیارت) په ورځ دروژې نیولوبیان

[۲۴۳۶][2]حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي الْحَكَمِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ مَوْلَى قُدَامَةَ بْنِ مَظْعُونٍ، عَنْ مَوْلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، أَنَّهُ انْطَلَقَ مَعَ أُسَامَةَ إِلَى وَادِي الْقُرَى فِي طَلَبِ مَالٍ لَهُ، فَكَانَ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۰۱۶) (حسن صحيح)

[2]: سنن النسائي/الصيام ٤١ (۲۳٦۰)، (تحفة الأشراف: ۱۲٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۲۰۰، ۲۰۱)، سنن الدارمي/الصوم ٤١ (۱۷۹۱) (صحيح)

يَصُومُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ. فَقَالَ لَهُ مَوْلَاهُ: لِمَ تَصُومُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ وَأَنْتَ شَيْخٌ كَبِيرٌ؟ فَقَالَ: إِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَصُومُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ. وَسُئِلَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: إِنَّ أَعْمَالَ الْعِبَادِ تُعْرَضُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا قَالَ هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ: عَنْ يَحْيَى، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي الْحَكَمِ.

ترجمه: د اسامه بن زید رضی الله عنه دازاد کړي شوي غلام نه روايت دي فرمائي چه زه د اسامه بن زيد سره وادي القرى مقام ته لاړم دپاره دلټولو دمال دده اوهغه به روژه نيوله د دوشنبې او د زيارت په ورځ خپل غلام ورته اووئيل ددوشنبي اودزيارت په ورځ ولي روژې نيسي اوحال دادي ته کمزوري اوبوډايي؟ هغه اوفر مائيل يقينا عملونه دانسانانو پيش کيږي په ورځ ددوشنبي اودزيارت امام ابوداود وائي همدارنګې روايت بيان کړي هشام دستوائی ديحي نه اوهغه دعمربن ابي الحكم نه.

مضمون حديث :

د اسامه بن زيد رضی الله عنه د مولى نه روايت دي يعنى د هغه د خادم او ازاد کړی غلام نه چه يو ځل هغه دخپل اقا اسامه بن زيد سره د وادي القرى طرف ته روان وو د خپل مال د طرف کولو دپاره، د اسامه مولى وائی چه په دې سفر کښې ما اوليدل چه اسامه به د ګل او د زيارت په ورځ باندې روژه نيوله، ما هغه ته اووې چه ته دومره بوډا شوې او بيا په سفر کښې دوه روژې نيسې، د دې څه وجه ده؟ نو هغه اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ به دا روژې نيولې او چه کله د هغه نه تپوس اوکړې شو نو د دې وجه ئې دا بيان اوفرمائيله چه په دې دواړو ورځو کښې د بندګانو اعمال الله پاک ته پيش کيږي.

د دې حديث په سند کښې دوه راويان دی چه د هغوی حال معلوم نه دې، مولى قدامه او مولى اسامه، وادی القراى يوه وادی ده د مدينې او شام ترمينځه (د تبوک په سړک باندې راځی) د خيبر نه روستو په ۷ هجری کښې رسول الله ﷺ دا عنوة فتح کړې وه بيا په جزيه باندې مصالحت شوې وو. (بذل)

د رفع العمل الى السماء په باره کښې مختلف روايات :

ابن الملک فرمائی : دا حديث د هغه حديث منافى نه دې چه په هغې کښې دی ﴿يرفع عمل الليل قبل عمل النهار وعمل النهار قبل عمل الليل﴾ځکه چه په يوځائې کښې د رفع ذکر دې او په بل ځائې کښې د عرض، يعنى روزانه اعمال د رفع نه روستو هلته جمع کيږی او بيا په دې دوه ورځو کښې هغه پيش کولې شی، او هم دغه شان هغه حديث کوم چه اوس نزدې تير شو چه په هغې کښې دا وو چه د اعمالو رفع الى السماء د شعبان په مياشت کښې وی، په دې دواړو کښې هيڅ منافات نشته، ځکه چه ممکنه ده اسبوع يعنى د ټولې هفتې د اعمالو رفع مفصلا وی، او د پوره کال د اعمالو په شعبان کښې مجملا. (من المنهل)

د يوم الاثنين او يوم الخميس د روژو مندوب کيدل،د صوم ستة ايام من شوال په باب کښې تير شو.

والحديث اخرجه ايضا احمد (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ الْعَشْرِ

د لسم ذی الحجې پورې د روژې نیولو بیان

یعنی عشر ذی الحجة، یعنی یکم ذی الحجة نه تر د نهم ذی الحجة پورې د روژو د فضیلت بیان.

[۲۴۳۷](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنِ الْحُرِّ بْنِ الصَّبَّاحِ، عَنْ هُنَيْدَةَ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ امْرَأَتِهِ، عَنْ بَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَصُومُ تِسْعَ ذِي الْحِجَّةِ وَيَوْمَ عَاشُورَاءَ وَثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ أَوَّلَ اثْنَيْنِ مِنَ الشَّهْرِ وَالْخَمِيسَ".

ترجمه: هنیده بن خالد دخپلی ښځی نه روایت کوی اوهغه دنبی علیه السلام د یوې بی بی نه روایت کوی وائی چه نبی علیه السلام به روژه نیوله په نهم ذي الحجه باندې اوپه ورځ دعاشوراء اودرې ورځې روژې به ئې په هره میاشت کښې نیولې او دمیاشتې اولنی پیر اودزیارت په ورځ.

شرح حدیث:

د بعض ازواج نه مراد ام المومنین ام سلمه رضی الله عنها ده لکه چه په نسائی کښې روایت دې، په دې حدیث کښې د درې قسم نفلی روژو ذکر دې، تسع ذی الحجة، یعنی د یکم ذی الحجة نه تر نهم ذی الحجه پورې، ځکه چه یوم العاشر خو د اختر ورځ ده، او یوم عاشوراء یعنی د لسم محرم روژه، او په هره میاشت کښې درې روژې داسې چه د میاشتې ړومبنې ګل او جمعرات خو دا خو دوه روژې شوې، لهذا په دې دواړو ورځو کښې یو لړه مکرر کول دی یعنی دوه د ګل او یو د زیارت، یا د دې عکس یعنی دوه د زیارت او یو ګل، پس د مسند احمد په روایت کښې دی ﴿اول اثنين والخميسين﴾او د نسائی په روایت کښې دی ﴿اول خميس والاثنين والاثنين﴾د دې دواړو روژو مندوبیت "صوم ستة ايام من شوال" والا باب کښې د فقهاء کرامو په کلام کښې تیر شوې دې.

والحديث اخرجه احمد والنسائي والبيهقي (المنهل)

[۲۴۳۸](۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، وَمُجَاهِدٍ، وَمُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ يَعْنِي أَيَّامَ الْعَشْرِ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی الله تعالی په نورو ورځو کښې اعمال دومره نه خوښوي څومره چه په دې ورځو کښې خوښوي یعنی لس ورځې ړمبنې د ذی الحجه صحابه کرامو عرض اوکړو اې دالله رسوله اونه جهاد هم دالله په

---

[1]): سنن النسائي/الصيام ٤١ (٢٣٧١)، ٥١ (٢٤١٩)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧١/٥)، ويأتي هذا الحديث برقم (٢٤٥٢) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/العيدين ١١ (٩٦٩)، سنن الترمذي/الصوم ٥٢ (٧٥٧)، سنن ابن ماجه/الصيام ٣٩ (١٧٢٧)، (تحفة الأشراف: ٥٦١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٤/١، ٣٣٨، ٣٤٦)، سنن الدارمي/الصيام ٥٢ (١٨١٤) (صحيح)

لاره کښې؟ نبی ﷺ اوفرمائيل اونه جهادهم په لاره دالله کښې مګرهغه سړې چه دخپل مال اوجان سره ووتلی وي اودهغې نه هيڅ واپس رانوړي.

توضيح الحديث

رسول اللهﷺ فرمائی، داسې ورځې نشته چه په هغې کښې نيک عمل کول الله پاک ته زيات محبوب وی د دې لسو ورځو نه، يعنی د ذی الحجه د شروع لس ورځې، يعنی د دې ورځو اعمال صالحه د باقی ټولو ورځو د اعمالو نه افضل دی. د دې حديث نه معلومه شوه چه د ذی الحجه عشره اولی د ټولو مياشتو د عشرو نه غوره ده، چه د هغې تقاضه دا ده چه که يو سړې نذر اومنی چه په ټولو عشرو کښې د ټولو نه افضل عشره کښې فلانې نيک عمل کوم نو دهغه د نذر ايفاء به په دې عشره کښې د عمل نه وی، پس علامه عينی فرمائی که يو سړی نذر اومنلو په افضل الايام کښې د عمل کولو پس که د هغه مراد يوه ورځ ده نو په دې صورت کښې به عشره ذی الحجة کښې يوم عرفه متعين وی ځکه چه د دې عشرې په ورځو کښې د ټولو نه افضل هم داده او که دهغه مراد افضل ايام اسبوع دې نو د جمعې ورځ به متعين وی، حديث ابی هريرة خيريوم طلعت فيه الشمس يوم الجمعة د وجې نه (من المنهل)

التفضيل بين العشرة الاولى من ذی الحجة والعشرة الاخيرة من رمضان:

په مرقاة کښې دی چه د علماء کرامو په دې کښې اختلاف دې، چه د ذی الحجه په عشره اولی او د رمضان په عشره اخير کښې کومه ورځ افضل ده، د بعض رائې د دې حديث د وجې نه دا ده چه عشره ذی الحجه افضل ده او بعض وائی چه عشره رمضان افضل ده د روژو د وجې نه او د ليلة القدر د وجې نه، او قول مختار دا دې چه ايام خو د عشره ذی الحجه افضل دی د عشره رمضان د ايام نه، او ليالی عشره د رمضان افضل دی د عشره ذی الحجه د ليالی نه، ځکه چه په ټولو ايام کښې يوم عرفه افضل ده، او په ټولو ليالی کښې ليلة القدر افضل ده. والحديث اخرجه ايضا البخاری وابن ماجة والبيهقی والترمذی وقال حديث حسن غريب، واخرجه ابو عوانة وابن حبان من حديث....

بَابٌ فِي فِطْرِ الْعَشْرِ

د لسم ذی الحجې پورې دروژو نه نيولوبيان

يعنی د هغه حديث بيان چه په هغې کښې د عشره ذی الحجة د افطار يعنی ترک صوم مضمون راغلې دې.

[۲٤۳۹]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَائِمًا الْعَشْرَ قَطُّ".

ترجمه: دام المومنين عائشة ﷞ نه روايت دې فرمائی چه ما نبی ﷺ دلوې اختر دلسو ورځو په روژونيولوباندې کله هم نه دې ليدلې.

[1]: صحيح مسلم/الاعتكاف ٤ (١١٧٦)، سنن الترمذي/الصوم ٥١ (٧٥٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٤٩)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ٣٩ (١٧٢٩)، مسند احمد (٤٢/٦، ١٢٤، ١٩٠) (صحيح)

د حدیث تشریح او توجیه :

پورته حدیث کوم چه د ام سلمه رضي الله عنها نه روایت شوې وو په هغې کښې تیر شوې دی چه رسول الله ﷺ به د تسع ذی الحجه روژې نیولې، خو د عائشې رضي الله عنها په دې حدیث کښې د دې خلاف دی چه ما کله هم رسول الله ﷺ د عشره ذی الحجة په روژو نیولو نه دې لیدلې، په دې حدیث کښې چه د نفی کوم انداز دې د دې نه دا معلومیږی چه ګویا په عشره ذی الحجة کښې روژې ساتل مکروه دی، حال دا چه داسې نه ده بلکه په دې عشره کښې خو د اعمال صالحه ډیر فضیلت راغلې دې، او روژه نیول هم د رسول الله ﷺ نه ثابت دی، لهذا دا روایت بیشکه تاویل او توجیه ته محتاج دې.

یوه توجیه دا کولې شی چه سیده عائشه رضي الله عنها د صوم نفی نه فرمائی چه رسول الله ﷺ به په دې عشره کښې روژه نه نیوله بلکه د خپل رویت نفی کوی، عقلا خو دا توجیه صحیح ده خو عادة فهم کښې نه راځی چه د هغې علم کښې ولې دا مسئله رانغله چه رسول الله ﷺ به په دې عشره کښې روژې نیولې، بله توجیه دا کولې شی چه عائشه رضي الله عنها د روژې نفی د کامل عشره په اعتبار سره فرمائی او دا صحیح ده ځکه چه رسول الله ﷺ خو به صرف د نهو ورځو روژې نیولې، خو دا توجیه هم صرف منطقی شان ده، لهذا د دې حدیث څه تسلی بخش جواب په ظاهره کښې نشته. والله تعالی اعلم

والحدیث اخرجه ایضا مسلم والنسائی وابن ماجة والبیهقی والترمذی. (المنهل)

بَاب فِي صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ

په عرفات کښې د عرفې په ورځ د روژې نیولو بیان

[۲٤٤٠]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَوْشَبُ بْنُ عُقَيْلٍ، عَنْ مَهْدِيٍّ الْهَجَرِيِّ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي بَيْتِهِ، فَحَدَّثَنَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَرَفَةَ بِعَرَفَةَ".

ترجمه: د عکرمه رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه مونږ د ابوهریرة سره د هغه په کور کښې ناست وو مونږ ته ئې حدیث بیان کړو چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده د روژې د ورځې د عرفې نه په عرفات کښې.

په بخاری کښې د صوم عرفه حدیث شته یا نه؟

په صوم یوم عرفه باندې تفصیلی کلام په باب صیام ایام التشریق کښې تیر شو، مصنف مطلق د صوم عرفه په باره کښې څه مستقل ترجمه نه ده قائم کړې البته د دې ذکر د نورو ابوابو په احادیثو کښې راتلو، د صوم عرفه په باره کښې مستقل ترجمه مصنف بس هم دا قائم کړې ده کومه چه د عرفات سره مقید ده، یعنی د حاجی دپاره امام بخاری ترجمه قائم کړې ده، باب صوم یوم عرفة... په دې باندې حافظ لیکی ای ما حکمه وکانه لم تثبت الاحادیث الواردة فی الترغیب فی صومه علی شرطه،واصحها حدیث ابی قتادة انه یکفر الس[illegible] الاتیة والسنة الماضیة اخرجه مسلم وغیره. اهـ کوم چه وړاندې هم په دې باب کښې راروان دې او د دوه کالو د ګناه معاف

[1]: سنن ابن ماجه/الصیام ٤٠ (١٧٣٢)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٠٤،٤٤٦) (ضعیف)

کیدو والا حدیث په صحیح مسلم کښې دې، امام بخاری رحمه الله هغه نه دې ذکر کړې لعدم کونه علی شرطه.والحدیث اخرجه ایضا النسائی وابن ماجة والحاکم والبیهقی وصححه ابن خزیمة (المنهل)

[۲۴۴۱]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ، "أَنَّ نَاسًا تَمَارَوْا عِنْدَهَا يَوْمَ عَرَفَةَ فِي صَوْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: هُوَ صَائِمٌ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَيْسَ بِصَائِمٍ. فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَعِيرِهِ بِعَرَفَةَ فَشَرِبَ".

ترجمه: د ام الفضل بنت الحارث رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چه خلقو دده سره جګړه شروع کړه په باره دروژه دنبی علیه السلام کښې په ورځ د عرفې، بعضو اووئیل چه نبی علیه السلام د عرفې په ورځ روژه نیولې وه اوبعضو اووئیل چه نه ئې وه نیولې .نوما نبی علیه السلام ته دشودو یوه پیاله ورولیږله اوهغه وخت هغوی علیه السلام پخپل اوښ باندې وقوف کړې وو په عرفه کښې او وئې څکل

توضیح الحدیث

د حدیث مضمون واضح دې، ام الفضل رضي الله عنها د عباس رضي الله عنه زوجه او د رسول الله ﷺ چاچې فرمائی چه په حجة الوداع کښې په میدان عرفات کښې د څه خلقو په دې خبره کښې تردد او اختلاف پیدا شو چه نن د رسول الله ﷺ روژه ده یا نه؟ (د روایاتو نه معلومیږی چه خپله هغې ته هم معلومه نه وه په دې وجه هغې د دې مناسب تدبیر اختیار کړو) پس هغې په یوه پیاله کښې پئ د هغه په خدمت کښې اولیږل او هغه په خپله سورلئ باندې سوریدو سره وقوف کولو، یعنی وقوف عرفه، او په یو روایت کښې دی چه هغه خطبه ورکوله، چه کله قاصد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راورسیدو او پئ ئې په هغه باندې پیش کړل نورسول الله ﷺ هغه اوڅکل، د بخاری په یو روایت کښې دی والناس ینظرون چه رسول الله ﷺ تولو خلقو په څکلو باندې اولیدو (دې سره ټولو ته دا خبره معلومه شوه چه دې وخت کښې رسول الله ﷺ روژه نه دې) په دې روایت کښې د استاذی تصریح نشته چه دچا په لاس باندې هغې پئ ورلیږلې وو، حافظ فرمائی چه د نسائی د یو روایت نه معلومیږی چه هغه ابن عباس وو.

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه امام بخاری د صوم یوم عرفه په باب کښې پرلپسې دوه احادیث ذکر کړې دی اولا هم دا یعنی د ام الفضل او د دویم د سیده میمونه رضي الله عنها، من طریق کریب عن میمونة، چه په هغې کښې دا دی چه سیده میمونه رضي الله عنها د خلقو په اختلاف باندې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې پئ اولیږل، دواړه روایتونه په صحیح بخاری کښې دی په دې کښې د تعارض څه خبره نشته تعدد واقعه کیدې شی چه دواړو ته جدا جدا د داسې کولو موقع ملاؤ شوې وی او بل احتمال دا دې چه دې دواړو خویندو خپل مینځ کښې چه کله یوځائې کښې وې او هغوی ته د رسول الله ﷺ په روژه کښې تردد پیدا شو نو دواړو یوحائې پئ ورلیږلې وی لهذا دواړو ته د ارسال نسبت صحیح دې. (قاله الحافظ)

وحدیث الباب اخرجه ایضا البخاری فی عدة مواضع، واخرجه مسلم والبیهقی(المنهل)

(): صحیح البخاري/الحج ۸۵ (۱۶۵۸)، الصوم ۶۵ (۱۹۸۸)، الأشربة ۱۲ (۵۶۰۴)، صحیح مسلم/الصیام ۱۸ (۱۱۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۵۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۴۳ (۱۳۲)، مسند احمد (۶/۳۳۸، ۳۴۰) (صحیح)

بَابٌ فِي صَوْمِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ

په لسم محرم باندې د روژې نيولو بيان

هم دغه شان دا ترجمه په صحيح بخاري كښې هم ده.

[۲۴۴۲]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ "صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ هُوَ الْفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ".

ترجمه: دام المومنين عائشة رضي الله عنها روايت دي فرمائي چه عاشوره هغه ورځ وه په كومه چه دجاهليت په زمانه كښې به هم خلقو روژه نيوله اونبى عليه السلام به هم په دې ورځ دجاهليت په زمانه كښې روژه نيوله، كله چه نبى عليه السلام مدينې منورې ته راغې نود عاشورې روژه ئې اونيوله اونوروخلقوته ئې هم په دې ورځ دروژې نيولوحكم اوكړو، ددې نه پس چه كله درمضان روژې فرض شوې نودرمضان روژې فرض پاتې شوې اود عاشورې روژه نبى عليه السلام پريخوده اوس كه دچازړه غواړي نود عاشورې په ورځ دې روژه اونيسې اوكه دچازړه غواړي نه دې نيسي.

توضيح الحديث

سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه يوم عاشوراء يعنى د لسم محرم ورځ داسې ورځ وه چه په هغې كښې به قريشو روژه نيوله په زمانه جاهليت كښې، او رسول الله ﷺ به هغه ورځ روژه نيوله هم په دغه زمانه كښې يعنى د هجرت نه مخكښې، بيا چه كله رسول الله ﷺ هجرت فرمائيلو سره مدينې منورې ته تشريف راوړلو نو دلته راتلو سره هم رسول الله ﷺ هغه ورځ دا روژه اونيوله او صحابه كرامو ته ئې هم د هغه روژې حكم اوفرمائيلو (استحبابا يا وجوبا، استحبابا كما عند الشافعي ووجوبا عند الحنفية) بيا چه كله د رمضان روژه فرض شوه نو فرض روژه صرف هم هغه شوه او د عاشوراء روژه ترك شوه چه د چا زړه غواړي هغه دې اونيسي چه د چا زړه نه غواړي نه دې نيسي.

شرح حديث:

د دې حديث په شرح كښې حافظ وغيره ليكلي دی چه په دې ورځ باندې به قريشو روژه ولې نيوله؟ پس كيدې شي چه هغوی دا څيز حاصل كړې وی د څه قديم شريعت نه، او هم دغه شان د هغه خلقو دا فعل چه هغوی د دې ورځې تعظيم كولو، د كسوة كعبه په ذريعه، يعنى كعبه باندې به ئې غلاف خيژولو او هم دغه شان بعض نور كارونه، او د حضرت گنگوهي تقرير "الحل المفهم" او هم دغه شان "الكوكب الدري" كښې دا دی چه څنگه يهود په دې ورځ كښې روژه د الله پاك د بعض انعاماتو د وجې نه (چه د هغې ذكر په حديث كښې

[1]: صحيح البخاري/الحج ٨٥ (١٦٥٨)، الصوم ٦٥ (١٩٨٨)، الأشربة ١٢ (٥٦٠٤)، صحيح مسلم/الصيام ١٨ (١١٢٣)، (تحفة الأشراف: ١٨٠٥٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٤٣ (١٣٢)، مسند احمد (٦/٢٣٨، ٣٤٠) (صحيح)

دي نيوله هم دغه شان کيدي شي، د قريشو په تيرو لويو خلقو باندې هم د الله پاک څه انعام شوې وی چه د هغې په شکريه کښې هغوی هم په دې ورځ باندې روژه نيسی.

اوس پاتې شوه دا خبره چه رسول الله ﷺ مکه کښې قبل الهجرة ولې نيوله؟ دې باره کښې د حضرت ګنګوهی تقرير په "الحل المفهم" کښې دا دې چه رسول الله ﷺ به دا روژه نيوله د قريشو په موافقت کښې په داسې امورو کښې چه کوم طاعت محموده او د عبادت د قبيل نه دی، او قرطبی هم دې ته نزدې خبره کړې ده، يعنی په حيثيت د موافقت فی امور الخير، کما فی الحج، يعنی څنګه چه به رسول الله ﷺ حج کولو، د نورو خلقو په شان، او يا دا چه الله پاک هغه ته د دې اجازت ورکړې وی په دې اعتبار سره چه هغه فعل خير دې، او د هغې نه په روستو روايت کښې دی:

لما قدم النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المدينة وجد اليهود يصومون عاشوراء فسئلوا عن ذلک فقالوا هو اليوم الذی اظهر الله فيه موسى على فرعون ونحن نصومه تعظيما له، فقال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نحن اولى بموسى منكم وامر بصيامه».

د دې مقام مکمل توضيح وتنقيح من کلام الشراح والشيخ الجنجوهی:

د دې روايت مضمون دا دې چه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه کله رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت فرمائيلو سره راورسيدو نو هلته ئې اوکتل يعنی معلومه شوه چه يهودو به د عاشوراء روژه نيوله، رسول الله ﷺ د هغوی نه د دې د نيولو وجه اوتپوسله نو هغوی ورته اووې چه دا داسې ورځ ده چه په هغې کښې الله پاک زمونږ نبی موسى عليه السلام ته د هغه د دشمن فرعون باندې غلبه ورکړې وه نو چونکه دا د فتح او غلبې ورځ ده په دې وجه مونږ د دې ورځ په تعظيم کښې روژه نيسو، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه موسى عليه السلام ته مونږ ستاسو نه زيات نزدې يو، او رسول الله ﷺ هغه ورځ د روژې نيولو حکم اوفرمائيلو، په کوکب الدری کښې ليکلې دی چه د دې نه دې دا خيال اونکړې شی چه دا د روژې حکم د موافقت يهود په بناء وو بلکه د روژې امر خو د رسول الله ﷺ د طرف نه د مخکښې نه وو، دا جدا خبره ده چه يهودو هم په دې ورځ باندې روژه نيوله او هغه ته په دې معامله کښې د هغوی مخالفت کول نه وو، لهذا امر سابق هم باقی پاتې شو او دا مزيد وجه هم مخې ته راغله د اتباع موسى عليه السلام والا، هم دغه شان د دې دوارو احاديثو د يوځائې کولو نه معلومه شوه چه صوم عاشوراء چه څنګه په زمانه جاهليت کښې قريشو نيوله، په څه وجه باندې، چه هر څه وجه وی، نو هم دغه شان به يهودو هم نيوله چه د هغې سبب هغه وو کوم چه خپله هغوی بيان کړو، لهذا په نفس روژه نيولو کښې خو د فريقينو سره موافقت اوشو اګر چه سبب د دوارو مختلف دې، لهذا په دوارو روايتونو کښې خپل مينځ کښې هيڅ تعارض نشته، ښه ځان پوهه کړئ.

[۲۴۴۳]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا نَصُومُهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا يَوْمٌ مِنْ أَيَّامِ اللَّهِ فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ"

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه عاشوره هغه ورځ وه په کومه چه دجاهليت په زمانه کښې به مونږ روژه نيوله، بياچه کله درمضان روژې فرض شوې نونبی ﷺ اوفرمائيل دا ورځ هم دالله تعالی په ورځوکښې يوه ورځ ده که څوك غواړي نو په دې ورځ دې روژه اونيسي اوکه څوك غواړي نوپريخودلې دې شي.

[۲۴۴۴]()حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا أَبُو بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ، فَسُئِلُوا عَنْ ذَلِكَ. فَقَالُوا: هَذَا الْيَوْمُ الَّذِي أَظْهَرَ اللَّهُ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ، وَنَحْنُ نَصُومُهُ تَعْظِيمًا لَهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ. "وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ".

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي کله چه نبی ﷺ مدينې منورې ته راغي نو يهوديان ئې اوليدل چه د عاشورې روژه ئې نيوله نبی ﷺ ددوينه ددې دوجې تپوس اوکړو نويهوديانو اووئيل چه په دې ورځ باندې الله تعالی په فرعون باندې موسیٰ ته غلبه ورکړې وه اومونږ دهغه دتعظيم دوجې نه په دې ورځ روژه نيسو نبی ﷺ اوفرمائيل موسی ﷺ ته مونږه ستاسونه زيات نزدې يو اونبی ﷺ په دې ورځ باندې د عاشورې دروژې نيولو حکم اوکړو.

تشريح: د دې نه پس څان پوهه کړئ چه ﴿لما قدم المدينة وجد اليهود يصومون عاشوراء﴾ په دې باندې دا اشکال کولې شی چه راوی خو وائی چه رسول الله ﷺ چه کله مدينې منورې ته اورسيدو نو هلته تلو سره ئې يهوديان اوليدل چه هغوی به د عاشوراء په ورځ باندې روژه نيوله، د دې نه په ظاهره دا معلوميږی چه يهود په دې ورځ (چه په کومه ورځ رسول الله ﷺ مدينې ته اورسيدو) روژه نيولې وه، حال دا چه د رسول الله ﷺ قدوم مدينې منورې ته د ربيع الاول په مياشت کښې شوې وو نه د محرم په مياشت کښې، يا په يوم عاشوراء کښې. د دې جواب دا کړې شوې دې چه د راوی مراد دا دې چه رسول الله ﷺ ته د دې خبرې علم (د يهودو د يوم عاشوراء د روژې نيولو) د قدوم مدينه نه روستو اوشو د دې نه مخکښې ورته د دې علم نه وو، او يا دې زيات نه زيات دا اومنلې شی چه دلته څه عبارت مقدر دې چه کله رسول الله ﷺ مدينې منورې ته اورسيدو او د رسيدو نه پس يوم عاشوراء راغله او په دې کښې ئې يهود په روژه نيولو باندې اوليدل، بيا ترې رسول الله ﷺ تپوس اوکړو، يا بيا

[۱]): صحيح البخاري/الصوم ۶۹ (۲۰۰۲)، والتفسير ۲۴ (۴۵۰۱)، صحيح مسلم/الصيام ۲۰ (۱۱۲۶)، (تحفة الأشراف: ۸۱۴۶)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ۴۱ (۱۷۳۷)، مسند احمد (۵۷/۲)، سنن الدارمي/الصوم ۴۶ (۱۸۰۳) (صحيح)

[۲]): صحيح البخاري/الصوم ۶۹ (۲۰۰۴)، أحاديث الأنبياء ۲۴ (۳۳۹۷)، المناقب ۵۲ (۳۹۴۳)، التفسير ۲ (۴۷۳۷)، صحيح مسلم/الصيام ۱۹ (۱۱۳۰)، (تحفة الأشراف: ۵۴۵۰)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصوم ۴۹ (۷۵۳)، سنن ابن ماجه/الصيام ۴۱ (۱۷۳۴)، مسند احمد (۲۳۶/۱، ۳۴۰)، سنن الدارمي/الصوم ۴۶ (۱۸۰۰) (صحيح)

داسې اوئيلې شي که دا حديث د دې په ظاهر باندې اوساتلې شي چه ممکنه ده يهود په يوم عاشوراء کښې د سنين شمسيه حساب کوی ا و د هغوی په دې حساب سره يوم عاشوراء په هغه ورځ باندې واقع شوې وی چه په کومه ورځ باندې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته اورسيدو، حافظ فرمائی چه قابل اعتماد اوله توجيه ده. (من البذل)

دلته يو اختلاف دا هم دې چه ﴿وامر بصيامه﴾ کښې د امر نه مراد امر وجوبی دې يا استحبابی، احناف د وجوب قائل دی چه په شروع کښې صوم عاشوراء واجب وه، او د شوافعو په اشهر القولين کښې دا امر د استحباب دپاره وو، خو دا به منلې شي چه د دې صوم وجوب يو کال پورې وو بيا هم په دې کال باندې منسوخ شو. په دې وجه د رسول الله ﷺ قدوم مدينه کښې د کال په شروع کښې د محرم د تيريدو نه پس په ربيع الاول کښې شوې دې، بيا چه کله د هجرت په دويم کال شروع کښې چه کله د محرم مياشت راغله په دې کښې د دې فرضيت بيا موندلې شو بيا هم د دې کال په اخر يعنی شعبان ۲ هجری کښې نزول رمضان کيدو سره د دې روژې وجوب منسوخ شو. وحديث الباب اخرجه ايضا البخاری ومسلم والنسائی والبيهقی والدارمی والترمذی وقال حديث صحيح. (المنهل)

بَاب مَا رُوِيَ أَنَّ عَاشُورَاءَ الْيَوْمُ التَّاسِعُ

باب دې په بيان ددې چه عاشوره په نهم محرم باندې ده

د عاشوراء متعلق څو بحثونه:

ځان پوهه کړه ه په صوم عاشوراء کښې ډير بحثونه دی، په اوجز المسالک کښې حضرت شيخ پنځه بحثونه بالتفصيل ذکر کړې دی، الاول لغة هل هو بالمداو بالقصر، واختلفوا فی مصداقه ايضا هل هو اليوم العاشر کما قال به الجمهور او اليوم التاسع او الحادی عشر، والثانی فی وجه التسمية بذلک، والمشهور انه سمی به لانه عاشر المحرم، وقيل سمی به لانه تعالی اکرم فيه عشرة من الانبياء، بعشر کرامات ذکرت فی الاوجز. ([1]) يعنی دې ورځې ته عاشورا په دې وجه وئيلې شی چه چونکه هغه د محرم لسم تاريخ او لسمه ورځ ده او يا په دې وجه چه الله پاک مختلف زمانو کښې مختلف لس انبياءعليهم السلام باندې يو نبی باندې يو خاص انعام اوفرمائيلو په دې ورځ کښې يعنی د محرم په يوم عاشر کښ، په دې وجه دې ته يوم عاشوراء وئيلې شی. هغه لس انبياء کوم کوم دی او په هغوی کښې په هر يو باندې انعام

[1]) ففيه الصواب المشهور عند اهل اللغة والحديث انه سمي بذلك لانه عاشر المحرم، وقيل لان الله تعالي اکرم فيه عشرة من الانبياء عليهم السلام بعشر کرامات.. يعنی الله پاک په دې ورځ کښې په لس انبياء عليهم السلام باندې لس انعام او اکرام اوفرمائيل، په هر يو نبی باندې يو خاص انعام. الاول موسی عليه السلام اذا نصره فيه وغرق فرعون، والثاني نوح عليه السلام اذا استوت فيه سفينة علي الجودي، والثالث يونس عليه السلام انجي فيه من بطن الحوت، الرابع تاب الله فيه علي ادم عليه السلام الخامس اخرج فيه يوسف عليه السلام من الجب، السادس عيسي عليه السلام اذ ولد فيه ورفع فيه، السابع تاب الله علي داود عليه السلام الثامن ولد فيه ابراهيم عليه السلام التاسع يعقوب عليه السلام رد فيه بصره، العاشر نبينا سيد ولد ادم محمد صَلَّي اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غفر له فيه ما تقدم من ذنبه وما تاخر، الي اخر ما في الاوجز والزيادة عليه، اللهم صل علي سيدنا محمد واله وعلي جميع اخوانه من الانبياء والمرسلين)

کړې شوې دې هغه په حاشیه کښې اوګورئ. البحث الثالث فی اعمال ذلک الیوم غیر الصوم، الرابع هل کان صومه واجبا فی الاسلام او مستحبا؟ الخامس فی حکم صومه الان، وبسط الکلام علی هذه الابحاث فی الاوجز. اهـ من هامش اللامع (الحل المفهم)

د پورته ذکر شوې مضمون نه معلومه شوه چه یو بحث دلته دا دې چه د یوم عاشوراء مصداق کومه ورځ ده لسم محرم یا نهم؟ پس جمهور علماء د صحابه او تابعین نه او هم په دوی کښې ائمه اربعه هم دی، د هغوی په نزد د دې مصداق الیوم العاشر یعنی د محرم لسمه ورځ ده، قال الخلیل هو الیوم العاشر والاشتقاق یدل علیه، او د ابن عباس رضی الله عنهما نه مشهوره دا ده چه هغه الیوم التاسع یعنی د نهم محرم ورځ ده او دریم قول په دې کښې دا دې چه د دې مصداق یولسم محرم دې نقله العینی عن تفسیر ابی اللیث السمرقندی، امام ترمذی رحمه الله باب تړلې دې "ما جاء فی عاشوراء ای یوم هو" او د هغې د لاندې ئې دا روایت راوړې دې، حکم بن الاعرج فرمائی چه زه ابن عباس رضی الله عنهما ته لاړم، هغه د زمزم کوهی ته نزدې د خپل څادر تکیه جوړه کړې ملاست وو، ما هغه ته عرض اوکړو ﴿اخبرنی عن یوم عاشوراء ای یوم اصومه، چه د عاشوراء د ورځې په باره کښې ماته بیان اوکړئ چه د دې روژه زه په کومه ورځ باندې اونیسم، نو هغه جواب راکړو چه کله ته د محرم میاشت وینې نو ورځې شماره. ﴿ثم اصبح من یوم التاسع صائما﴾ بیا نهم تاریخ لره صبا کړه ته د روژې په حالت کښې، هغه وائی ما د هغه نه تپوس اوکړو چه ایا رسول الله ﷺ به دا روژه هم دغه شان نیوله؟ نو هغوی اوفرمائیل او جی!

د دې روایت نه په ظاهره کښې هم دا معلومیږی چه د هغه په نزد د دې مصداق یوم تاسع دې، د دې نه پس امام ترمذی رحمه الله بل روایت دا ذکر کړې دې عن الحسن عن ابن عباس قال امر رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بصوم عاشوراء یوم العاشر... بیا د دې نه روستو امام ترمذی رحمه الله په دې ورځ کښې د اهل علم اختلاف نقل کړې دې قال بعضهم یوم التاسع، وقال بعضهم یوم العاشر، وروی عن ابن عباس انه قال صوموا التاسع والعاشر وخالفوا الیهود وبهذا الحدیث یقول الشافعی واحمد واسحاق. اهـ

د بعض حضراتو رائې د ابن عباس رضی الله عنهما په باره کښې دا ده چه هغه په دې کښې د جمهورو سره دې او د ترمذی په اول روایت چه د هغې نه په ظاهره معلومیږی چه د هغه په نزد یوم التاسع دې د هغې تاویل هغه دا کوی چه هغه د یوم عاشوراء مصداق نه بیانوی بلکه د سائل په سوال کښې دی لفظ یوم عاشوراء نه پس "ای یوم اصومه" که زه د صوم عاشوراء روژه نیسم نو څنګه او په کومه ورځ اونیسم؟ نو هغه د دې په جواب کښې اوفرمائیل چه د محرم په نهم تاریخ باندې اونیسه یعنی د نهم محرم نه ئې شروع کړه، یعنی د یوم عاشوراء سره د نهم تاریخ روژه هم شامل کړه، بیا وړاندې د سائل په سوال کښې دی چه ایا رسول الله ﷺ به هم داسې روژه نیوله نو هغه اوفرمائیل او! د دې مطلب دا دې چه او رسول الله ﷺ هم دا غوښتل چه دا روژه داسې اونیولې شی، ځکه چه د ابوداود په حدیث الباب کښې دی چه کله صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه د هغه ورځ تعظیم کښې

خو به يهودو نصارى روژه نيوله نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه كله بل كال راشي نو مونږ به د نهم تاريخ روژه هم نيسو، خو په هغه باندې د راروان كال د روژو نيولو موقع رانغله بلكه د هغې نه مخكښې وفات شو، نو د رسول الله ﷺ مراد هم دا وو چه د يوم عاشر سره به د يوم تاسع روژه هم نيسي د دې دپاره چه تشبه باليهود لازم نه شي

هم دغه شان د جمهورو تائيد د دې ورځې د وجه تسميه نه هم كيږي لكه چه پورته د خليل په كلام كښې تير شو، هو اليوم العاشر والاشتقاق يدل عليه. زمونږ استاذ محترم مولانا محمد اسعد الله صاحب رحمه الله تعالى به فرمائيل چه كه د يوم عاشوراء مصداق يوم العاشر وى نو بيا خو په دې تسميه كښې لحاظ كړې شوې دې د ليله ماضيه، او كه د دې مصداق يوم التاسع اومنلې شى نو په دې صورت كښې په تسميه كښې لحاظ كړې شوې دې د ليلة اتيه. هم دغه شان علماء كرامو ليكلې دى چه درې مراتب دى، ادنى درجه دا ده چه صرف يوم العاشر باندې روژه اونيولې شى او د دې نه غوره دا ده چه د دې سره دې تاسع هم شامل كړې شى، او د دې نه هم غوره دا ده چه د دې سره نهم او يولسم دواړه شامل كړې شى.

[۲۴۴۵]([1])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، أَنَّ إِسْمَاعِيلَ بْنَ أُمَيَّةَ الْقُرَشِيَّ، حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا غَطَفَانَ يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ: حِينَ صَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَأَمَرَنَا بِصِيَامِهِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ يَوْمٌ تُعَظِّمُهُ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَإِذَا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ صُمْنَا يَوْمَ التَّاسِعِ". فَلَمْ يَأْتِ الْعَامُ الْمُقْبِلُ حَتَّى تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د عبد الله بن عباس رضي الله عنه روايت دې كله چه نبى عليه السلام د عاشورې په ورځ روژه ونيوله او مونږ ته ئې په دې ورځ دروژې نيولو حكم اوكړو نوصحابه كرامو عرض اوكړو اې د الله رسوله دا خو هغه ورځ ده د كومې چه يهوديان اونصارې تعظيم كوې نبى عليه السلام اوفرمائيل كه چرې زه دبل كال پورې ژوندې پاتې شوم نوپه نهم تاريخ به روژه نيسم بياراروان كال دشروع كيدو نه مخكښې نبى عليه السلام وفات شو.

توضيح الحديث

جمهور علماء كرام خو د دې معنى دا اخلى اى مع العاشر، خو دلته چونكه ترجمة الباب د اليوم التاسع دې په دې وجه به دا ونيلې شى چه د مصنف په ذهن كښې دا دى چه د ابن عباس رضي الله عنه په نزد په دې حديث كښې صرف يوم التاسع مراد دې او دا نه شى وئيلې كيدې چه خپله د مصنف رائې هم دا ده. والحديث اخرجه ايضا مسلم والبيهقى.

[۲۴۴۶]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ غَلَّابٍ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنِي حَاجِبُ بْنُ عُمَرَ، جَمِيعًا الْمَعْنَى عَنِ الْحَكَمِ بْنِ الْأَعْرَجِ، قَالَ: أَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ رِدَاءَهُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ. فَقَالَ: "إِذَا رَأَيْتَ هِلَالَ الْمُحَرَّمِ فَاعْدُدْ، فَإِذَا كَانَ يَوْمُ

[1]: صحيح مسلم/الصيام ۲۰ (۱۱۳۴)، (تحفة الأشراف: ٦٥٦٦) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/الصيام ۲۰ (۱۱۳۳)، سنن الترمذي/الصوم ٥٠ (٧٥٤)، (تحفة الأشراف: ٥٤١٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۳۹/۱، ۲٤٦، ۲۸۰، ۳٤٤، ۳٦۰) (صحيح)

التَّاسِعِ فَأَصْبِحْ صَائِمًا". فَقُلْتُ: كَذَا كَانَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ؟ فَقَالَ: كَذٰلِكَ كَانَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ.

ترجمه: دحکم بن اعرج نه روایت دي فرمائی چه زه ابن عباس ته لاړم اوهغه پخپل څادرکښي ډډه وهلي وه اوپه مسجد حرام کښي ناست وو ما ترې د عاشورې دروژې په باره کښي تپوس اوکړو هغه اوفرمائيل کله چه دمحرم میاشت اووینی نوشمیرشروع کړه کله چه نهم تاریخ شي نوروژه اونیسه ماعرض اوکړو چه آیا نبی ﷺ به په دې ورځ باندې روژه نیوله هغه اوونیل او، نبی ﷺ به هم په دې ورځ باندې روژه نیوله.

توضيح الحديث

دا حدیث د ترمذی په حوالې سره مخکښي تیر شوې دې، واخرجه ایضا مسلم والنسائی، واخرجه البیهقی. (المنهل)

بَابٌ فِي فَضْلِ صَوْمِهِ

باب د عاشوره د روژې د فضیلت بیان

د صوم عاشوراء متعلق په مباحث خمسه کښي بحث خامس دا وو چه د دې روژې حکم فی الحال څه دې، حافظ فرمائی: ابن عبدالبر په دې خبره باندې اجماع نقل کړې ده چه صوم عاشوراء اوس د چا په نزد هم واجب نه ده، بلکه اجماع ده د دې په استحباب باندې، البته د ابن عمر ﷺ منقول دی چه هغه به بالقصد د دې ورځې په تعیین سره روژه نیول مکروه ګڼړل، اوس د دې قول هم قائل څوک پاتې نه شو.

صوم عاشوراء به څنګه نیولې شی؟

په اوجز ۵۹/۳ کښې د درمختار نه نقل کړې دی چه صرف د عاشوراء روژه نیول مکروه تنزیهی دی څکه چه په دې کښې تشبه بالیهود ده، او "مراقی الفلاح" کښې صوم عاشوراء مع الصوم التاسع ته مسنون وئیلې ده، طحطاوی فرمائی: یا د لسم سره د یولسم تاریخ روژه اونیولې شی، یو ورځ مخکښې یا یو ورځ روستو روژو ي، څائې کولو سره کراهت منتفی کیږی، او د نورو ائمه کرامو مذاهب دې په دې سلسله کښې په اوجز کښې اوکتلې شی، د پورته حدیث په شرح کښې هم د دې درې طریقې تیرې شوې.

[۲۴۴۷] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَسْلَمَةَ، عَنْ عَمِّهِ، أَنَّ أَسْلَمَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "صُمْتُمْ يَوْمَكُمْ هَذَا؟ قَالُوا: لَا. قَالَ: فَأَتِمُّوا بَقِيَّةَ يَوْمِكُمْ وَاقْضُوهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي يَوْمَ عَاشُورَاءَ".

ترجمه: مسلمه دخپل تره نه روایت کوی فرمائی چه داسلم قبیلې خلق دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شول نبی ﷺ تپوس اوکړو ایاتاسو په دې نن ورځ روژه نیولې ده خلقو اوونیل نه نبی ﷺ اوفرمائيل دننئ ورځې چه څومره حصه باقی پاتې ده ددې روژه پوره کړئ او بیا ددې قضا راوړئ. ابوداؤد وائی یعنی د عاشورې د ورځ.

(۱): سنن النسائی/الصیام ۳۶ (۲۳۲۰) (تحفة الأشراف: ۱۵۶۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹/۵، ۳۶۷، ۴۰۹) (ضعیف)

توضیح الحدیث

قوله: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَسْلَمَةَ(۱)، عَنْ عَمِّهِ أَنَّ أَسْلَمَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "صُمْتُمْ يَوْمَكُمْ هَذَا؟ قَالُوا: لَا. قَالَ: فَأَتِمُّوا بَقِيَّةَ يَوْمِكُمْ وَاقْضُوهُ:

اسلم چه د یوې قبیلې نوم دې، د دې قبیلې بعض خلق د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلل او د عاشوراء ورځ وه. تپوس ئې ترې ارفرمائیلو چه ستاسو هم روژه ده؟ هغوی عرض اوکړو چه نه جی! نو وې فرمائیل چه څومره ورځ باقي پاتې شوې ده دا د روژې په شان پوره کړئ یعنې بغیر د خوراک او څکاک نه د تشبه بالصائمین دپاره. او وې فرمائیل چه روستو د دې روژې قضاء راوړئ.

صوم عاشوراء ابتداء واجب وه:

د دې حدیث نه د احنافو د قول تائید کیږي چه صوم عاشوراء په شروع کښې واجب وه. خطابی د شوافعو د طرف نه د دې تاویل دا کړې دې چه دا امر بالقضاء د استحباب دپاره دې د ایجاب دپاره نه دې، ځکه چه د طاعت او عبادت چه کوم وختونه وی هغه قابل احترام وی چه د هغې رعایت کولې شی. هم په دې چه رسول الله ﷺ اوغوښتل چه د هغوی د یو داسې څیز طرف ته رهنمائی اوکړې شی چه په هغې کښې فضیلت او ثواب دې، د دې دپاره چه کله د بیا دپاره د دې وخت راشی نو چه غفلت اونکړی. والحدیث اخرجه ایضا النسائی، واخرجه البخاری والبیهقی والدارمی نحوه عن سلمة بن الاکوع رضی الله عنه (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ يَوْمٍ وَفِطْرِ يَوْمٍ

یوه ورځ روژه نیول او یوه ورځ روژه نه نیول

[۲۴۴۸](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَمُسَدَّدٌ، وَالْإِخْبَارُ فِي حَدِيثِ أَحْمَدَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمْرًا، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ أَوْسٍ، سَمِعَهُ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى صِيَامُ دَاوُدَ، وَأَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى صَلَاةُ دَاوُدَ، كَانَ يَنَامُ نِصْفَهُ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ، وَكَانَ يُفْطِرُ يَوْمًا وَيَصُومُ يَوْمًا".

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ماته اوفرمائیل یقینا محبوبې په روژوکښې الله تعالی ته روژې دداود علیه السلام دي اویقینا محبوب مونځ په مونځونوکښې الله تعالی ته د داود علیه السلام دې هغه به نیمه شپه اوده کیدو او په دریمه حصه کښې به پاڅیدو او په شپږمه حصه کښې به بیا اوده کیدو او یوه ورځ به ئې روژه وه او یوه ورځ به نه وه.

توضیح الحدیث

دا د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه د حدیث یو بل طریق سره "باب فی صوم الدهر" په یو بل سیاق

(۱) ویقال: ابن سلمة: ویقال ابن المنهال بن سلمة الخزاعي اهـ من البذل (ج ۲ ص ۲۸۸) وللمزيد ارجع اليه.

(۲) صحيح البخاري/قيام الليل ۷ (۱۱۳۱)، صحيح مسلم/الصيام ۳۵ (۱۱۵۹)، سنن النسائي/الصيام ۴۰ (۲۳۴۶)، سنن ابن ماجه/الصيام ۳۱ (۱۷۱۲)، (تحفة الأشراف: ۸۸۹۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۰۶/۲)، دي/الصوم (۴۲ (۱۷۹۳) (صحيح)

کښې تیر شوې دی، په هغې کښې د صیام داودی ذکر وو د صلاة داودی ذکر پکښې نه وو، په دې کښې د داود علیه السلام د صلاة تهجد دا معمول بیان کړې شوې دې چه هغه به په شروع کښې نیمه شپې پورې آرام فرمائیلو، بیا باقی یو ثلث کښې به ئې مونځ کولو او په سدس اخیر کښې به ئې ارام فرمائیلو. والحدیث اخرجه ایضا مسلم والنسائی وابن ماجة، واخرجه الدارمی یرفعه..... واخرجه البیهقی (المنهل)

بَابٌ فِي صَوْمِ الثَّلَاثِ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ

په هره میاشت کښې د درې ورځو نیولو د فضیلت بیان

[٢٤٤٩](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ أَنَسٍ أَخِي مُحَمَّدٍ، عَنِ ابْنِ مِلْحَانَ الْقَيْسِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَأْمُرُنَا أَنْ نَصُومَ الْبِيضَ: ثَلَاثَ عَشْرَةَ وَأَرْبَعَ عَشْرَةَ وَخَمْسَ عَشْرَةَ". قَالَ: وَقَالَ: هُنَّ كَهَيْئَةِ الدَّهْرِ.

ترجمه: ابن ملحان قیسي دخپل پلار نه روایت کوی هغه فرمائی چه نبی علیه السلام به خلقو ته حکم کولو چه دایام بیض یعنی، ١٣، ١٤، ١٥ تاریخونو روژی نیسئ یقینا ددې ورځو روژې نیول دتمام عمر د روژو نیولو برابر دي.

تشریح: د ابن ملحان نوم عبدالملک بن قتاده بن ملحان دې، هغه د خپل پلار یعنی قتاده رضی الله عنه نه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به مونږ ته حکم فرمائیلو په ایام بیض یعنی د هرې میاشتې په دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاریخ باندې د روژې نیولو.

دې درې تاریخونو ته ایام بیض په دې وجه وئیلې شی چه د دې ورځو شپې روښانه وی دا د لیالی مقمره ورځې دی کوم ته چه نحوی صفت بحال متعلق موصوف وائی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هره میاشت درې روژې نیول د صوم الدهر برابر دی.

[٢٤٥٠](٢) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَصُومُ يَعْنِي مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ".

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به دهرې میاشتې په شروع کښې درې ورځې روژې نیولې یعنی ١، ٢، ٣، تاریخونو روژی به ئې نیولې.

توضیح الحدیث

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه هر میاشت د درې روژو استحباب په ډیرو روایاتو کښې راغلې دې. رسول الله صلی الله علیه وسلم به هره میاشت درې روژې خپله هم د نیولو اهتمام فرمائیلو، او خپلو اصحابو ته به ئې هم د دې د نیولو ترغیب ورکولو، خو د دې درې ورځو تعیین او مصداق کښې روایات مختلف دی، په بعض روایاتو کښې د دې ایامو مصداق

(١): سنن النسائي/الصيام ٥١ (٢٤٣٤)، سنن ابن ماجه/الصيام ٢٩ (١٧٠٧)، (تحفة الأشراف: ١١٠٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٥/٤، ٢٧/٥، ٢٨) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الصوم ٤١ (٧٤٢)، سنن ابن ماجه/المناسك ٣٧ (١٢٧٥)، (تحفة الأشراف: ٩٢٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠٦/١) (حسن)

ایام بیض ته وئیلي شوي دي، او د بعض روایاتو نه معلومیږي چه د هري میاشت په شروع کښي دري ورځي لکه چه د دې باب په دوه احادیثو کښي د دې دواړو ذکر دې، او په بعض روایاتو کښي د دې نه علاوه د نورو ورځو تعیین راغلي دې، پس مصنف وړاندې هم دا اختلاف په نورو بابونو کښي بیانوی، د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه امام بخاری د صیام البیض باب تړلي دې خو حدیث ئي په دې کښي د صیام البیض نه دې راوړي بلکه صوم ثلاثه ایام من کل شهرئي راوړي دې او دا په دې وجه چه هغه حدیث د سنن دې، د امام بخاری د شرط مطابق نه وو د دې په سند کښي اختلاف دې، ذکره الدارقطني. البته امام بخاری دې حدیث شریف طرف ته اشاره کولو سره ترجمه هم ددې قائم کړې ده، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه زمونږ شیخ حافظ عراقي د ترمذي په شرح کښي فرمائي چه د ایام بیض په تعیین کښي نهه اقوال دی (تسعة اقوال) دا اقوال تسعه حضرت شیخ په الابواب والتراجم کښي نقل فرمائیلي دي هم دغه شان دا اقوال د بخاری په حاشیه کښي هم منقول دی او بیا د هغه محشي په دې کښي د یو بل قول اضافه کولو سره پوره لس اقوال کړل.

دلته یو څیز په ذهن کښي د ساتلو دې چه دا پورته چه ذکر شو چه د ایام بیض په تعین کښي نهه یا لس اقوال دی په دې تعبیر کښي غلطي ده بلکه داسې وئیل پکار دی چه صوم ثلاثة ایام من کل شهر په تعیین کښي دومره اقوال دی، او د هغې نه یو قول دا هم دې چه د دې مصداق ایام بیض دی، افاده شیخنا رحمه الله تعالی فی درس البخاری علی ما اتذکر.

بَابٌ مَنْ قَالَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ

باب: د دوشنبې (پیر) او جمعرات (زیارت) د ورځو د روژو بیان

د ترجمة الباب تشریح:

یعنی د هغه روایاتو ذکر چه په هغې کښي د ایام ثلاثه مصداق یوم الاثنین والخمیس بیان کړې شوې دې.

[٢٤٥١] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، عَنْ سَوَاءٍ الْخُزَاعِيِّ، عَنْ حَفْصَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَصُومُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنَ الشَّهْرِ: الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسَ وَالِاثْنَيْنِ مِنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى".

ترجمه: دام المومنین حفصة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام به په میاشت کښي دري روژې نیولې ددوشنبې په ورځ اود زیارت په ورځ او په بله هفته کښي ددوشنبې په ورځ.

توضیح الحدیث

په دې روایت کښي سیده حفصه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا معمول بیانوی چه هغه به په میاشت کښي دري روژې نیولې، د میاشتې په اول کل او اول زیارت او د دویمې هفتې د کل ورځ. مونږ سره په صوم ستة ایام من شوال په باب کښي د احنافو په نزد چه کومې روژې مستحب

١): سنن النسائي/الصیام ٤١ (٢٣٦٨)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٨٧، ٢٨٨)، وانظر ما تقدم برقم: (٢٤٣٧) (حسن)

او مندوب دی د هغې بیان تیر شوې دې هلته هره میاشت دا درې روژې هم تیرې شوې دی، او دا چه د دې ایام بیض کښې مندوب کیدل لهذا چه کوم سړې درې روژې غیر ایام بیض کښې نیسی هغه ته به د یو مندوب ثواب ملاویږی او که دا درې روژې ئې په ایام بیض کښې اونیولې حصل له اجر مندوبین. (کذا فی البذل) وفیه ایضا : چه د ایام بیض د روژو استحباب مستقل دې او صوم ثلاثه ایام من کل شهر استحباب د دې نه علاوه جدا دې اهـ او دا هم تیر شو... چه د دې دواړو تداخل کیدې شی.

والحدیث اخرجه ایضا البیهقی. (المنهل)

[٢٤٥٢]([1])حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ هُنَيْدَةَ الْخُزَاعِيِّ، عَنْ أُمِّهِ، قَالَتْ: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ فَسَأَلْتُهَا عَنِ الصِّيَامِ، فَقَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَأْمُرُنِي أَنْ أَصُومَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، أَوَّلُهَا الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ".

ترجمه: دام سلمه رضی الله عنها روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به ماته په هره میاشت کښې ددرې ورځوروژونیولو حکم کولو، اولنۍ به ددوشنبې په ورځ وه اودویمه به دزیارت په ورځ.

بَابُ مَنْ قَالَ لَا يُبَالِي مِنْ أَيِّ الشَّهْرِ

باب دې په بیان د جواز د روژې نیولو د میاشتې په هره حصه کښې

دا ترجمه بلفظ الحدیث ده، هم دا الفاظ په حدیث الباب کښې راروان دی.

[٢٤٥٣]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ يَزِيدَ الرِّشْكِ، عَنْ مُعَاذَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ. قُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَهْرٍ كَانَ يَصُومُ؟ قَالَتْ: "مَا كَانَ يُبَالِي مِنْ أَيِّ أَيَّامِ الشَّهْرِ كَانَ يَصُومُ".

ترجمه: دمعاذة رضی الله عنها روایت دې فرمائی چه دام المومنین عائشة رضی الله عنها مې تپوس اوکړو چه آیانبی علیه السلام به په هره میاشت کښې درې روژې نیولې؟ هغې اوفرمائیل او، او د ورځو او تاریخونوخیال به ئې نه ساته کله چه به ئې زړه اوغوښتل روژه به شو.

توضیح الحدیث

سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به هره میاشت د درې روژو اهتمام فرمائیلو، تپوس کونکې تپوس اوکړو چه د میاشتې په کومه حصه کښې نو هغې جواب ورکړو چه د دې به ئې څه خاص پرواه نه کوله چه په کومه حصه کښې اونیولې شی.

د دې سلسلې یو حدیث د عائشې رضی الله عنها نه په ترمذی کښې منقول دې چه په هغې کښې داسې دی چه په یوه میاشت کښې به ئې دا روژې په خالی، اتوار او کل باندې نیولې، او په بله میاشت کښې به ئې په نهه، چارشنبه او زیارت کښې نیولې، او په یو بل روایت کښې راځی چه ﴿ قلما کان یفطر یوم الجمعة ﴾ په دې صورت کښې د هفتې په ټولو

---

[1]: سنن النسائي/الصيام ٥١ (٢٤٢١)، (تحفة الأشراف: ١٨٢٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٩/٦، ٣١٠) (منكر)

[2]: صحيح مسلم/الصيام ٣٦ (١١٦٠)، سنن الترمذي/الصوم ٥٤ (٧٦٣)، سنن ابن ماجه/الصيام ٢٩ (١٧٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٥/٦) (صحيح)

ورځو کښې يعنى دوه مياشتې يوځائې کولو سره د روژې ثبوت راځى، او د هرې ورځې په حصه کښې روژه راځى يوه ورځ هم د دې عبادت نه محروم نه پاتې کيږى.

والحديث اخرجه مسلم وابن ماجة والبيهقى، والترمذى وقال: حديث حسن صحيح (المنهل)۱

بَابُ النِّيَّةِ فِي الصِّيَامِ

بيان د نيت په روژو نيولوکښې

[۲۴۵۴](۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ لَهِيعَةَ وَيَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ لَمْ يُجْمِعِ الصِّيَامَ قَبْلَ الْفَجْرِ، فَلَا صِيَامَ لَهُ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ اللَّيْثُ، وَإِسْحَاقُ بْنُ حَازِمٍ أَيْضًا جَمِيعًا عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، مِثْلَهُ، وَوَقَفَهُ عَلَى حَفْصَةَ مَعْمَرٌ وَالزُّبَيْدِيُّ وَابْنُ عُيَيْنَةَ وَيُونُسُ الْأَيْلِيُّ، كُلُّهُمْ عَنِ الزُّهْرِيِّ.

ترجمه: دام المومنين حفصة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى چاچه دسحرنه مخکښې دروژې نيت اونکړو نو دهغه روژه درسته نه ده. ابوداود وائى چه دې لره ليث اوعبدالله بن حازم دعبدالله بن أبى بكر نه ددې په مثل (يعنى مرفوعاً) روايت نقل کړې دې، اودې روايت لره معمر، زبيدي، ابن عيينه او يونس ايلى په ام المؤمنين حفصه رضى الله عنها باندې موقوف کړې دې. دوى ټول د زهرى نه روايت کوى.

توضيح الحديث

﴿ يجمع ﴾ د باب افعال نه دې، اجماع په معنى د عزم، يعنى کوم سړې چه د طلوع فجر نه مخکښې د روژې نيت اونکړى د هغه روژه صحيح نه ده.

مسئله ثابته من الحديث کښې مذاهب ائمه :

د دې حديث نه د روژې د صحت دپاره د تبييت وجوب ثابتيږى دا مذهب د امام مالک دې مطلقا، او امام احمد او امام شافعى فرق کوى په فرض او نفل کښې، يعنى په فرض روژه کښې تبييت ضرورى دې نه په نفلو کښې، په نفل کښې د زوال نه مخکښې نيت کول کافى دى، د احنافو په نزد په دې کښې تفصيل دې هغوى وائى چه په درې قسم روژو کښې تبييت ضرورى دې او هغه دا دى: ۱: صوم قضاء، ۲: نذر مطلق، ۳: او کفارات، په دې کښې د شپې نه نيت ضرورى دې، او په اداء رمضان، صوم نفل، نذر معين کښې تبييت ضرورى نه دې، زمونږ علماء کرامو په دې مسئله کښې چه د روژو کوم تفصيل او اختلاف حکم بيان کړې دې د هغې د دليل دپاره کتب فقه هدايه وغيره طرف ته دې رجوع اوکړې شى. صاحب هدايه د حديث الباب ﴿ لا صيام لمن لم ينو الصيام من الليل ﴾ چه د هغې نه معلوميږى چه مطلقا د شپې نه نيت کول ضرورى دى او د صبا راختلو نه روستو نيت معتبر نه دې، د دې ئې دوه توجيهات ذکر کړې دى، يو دا چه دا نفى، نفى د کمال ده، کامل روژه

۱: سنن الترمذي/الصوم ۳۳ (۷۳۰)، سنن النسائي/الصيام ۳۹ (۲۳۳۳)، سنن ابن ماجه/الصيام ۲۶ (۱۷۰۰)، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۰۲)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصيام ۲ (۵)، مسند احمد (۲۷۸/۶)، سنن الدارمي/الصوم ۱۰ (۱۷۴۰) (صحيح)

د هم سړی ده کوم چه د مخکښې نه د هغه دپاره مستعد وی او نیت او کړی، بله توجیه دا ده "معناه لم ینو انه صوم من اللیل" یعنی کوم سړې چه د صبا راختلو نه پس نیت او کړی هغه له نیت داسې کول پکار دی چه زه روژه نیسم د هغه د ابتداء وقت نه یعنی د صبا راختلو نه او که دا نیت ئې ن وی چه زه د هغه وخت نه روژه نیسم یعنی د وقت حاضر نه او مثلا یوه ګهنټه تیره شوې وی نو دا نیت معتبر نه دې لهذا روژه هم صحیح نه ده، ځکه چه د روژې وخت متجزی نه دې، په خلاف د مونځ چه د هغې وخت د هغه دپاره ظرف دې او د روژې وخت د روژې دپاره معیار دې کما تقرر فی اصول الفقه.

معلومه شوه چه د دې حدیث په ظاهره باندې صرف د مالکیانو عمل دې او باقی ائمه ثلاثه په دې کښې د تخصیص قائل دی. والحدیث اخرجه ایضا احمد والنسائی وابن ماجة، والدارقطنی وابن خزیمة، وابن حبان وصححاه، والترمذی. (المنهل)

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

باب دې په بیان د روژې د نیت نه کولو د جواز کښې

په دې باب کښې مصنف هغه احادیث راوړې دی چه د هغې نه د ترک تبیت جواز او رخصت معلومیږی.

[۲٤۵۵](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، جَمِيعًا عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ عَلَيَّ، قَالَ: "هَلْ عِنْدَكُمْ طَعَامٌ؟ فَإِذَا قُلْنَا: لَا. قَالَ: إِنِّي صَائِمٌ". زَادَ وَكِيعٌ: فَدَخَلَ عَلَيْنَا يَوْمًا آخَرَ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، "أُهْدِيَ لَنَا حَيْسٌ فَحَبَسْنَاهُ لَكَ. فَقَالَ: أَدْنِيهِ. قَالَ طَلْحَةُ: فَأَصْبَحَ صَائِمًا وَأَفْطَرَ".

ترجمه: دام المومنین عائشة ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ به کله ماته تشریف راوړو اوونې فرمائیل ایادخوراك څه شي درسره شته؟ مونږچه کله ووئیل چه نشته نوهغه اوفرمائیل چه زماخو روژه ده. دوکیع به روایت کښې ورسره دا اضافه ده چه یوه بله ورځ زمونږ خوانه راغې مونږ ورته ووئیل چه اې دالله رسوله مونږته چا حلوا هدیه کړې وه او مونږ تاله ساتلې ده، نبی ﷺ اوفرمائیل رانزدې ئې کړئ دطلحه په روایت کښې ورسره دا اضافه ده چه دسحرنه ئې دروژې نیت کړې وولیکن بیا ئې ماته کړه.

توضیح الحدیث

سیده عائشه ﷺ فرمائی دیر کرته به رسول الله ﷺ د بهر نه کور ته تشریف راوړلو د سحر په وخت او تپوس به ئې کولو چه د خوراک څکاک څه څیز شته؟ که مونږ به عرض اوکړو چه نه نو رسول الله ﷺ به اوفرمائیل چه ښه زه د روژې نیت کوم.

د دې حدیث نه ترک تبییت ثابت شو، وړاندې په روایت کښې دی چه یو ځل رسول الله ﷺ تشریف راوړلو نو مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! مونږ ته د یوځائې نه د هدیه

(1): صحیح مسلم/الصیام ۳۲ (۱۱۵٤)، سنن الترمذی/الصوم ۳۵ (۷۳٤)، سنن النسائی/الصیام ۳۹ (۲۳۲۷)، سنن ابن ماجه/الصیام ۲٦ (۱۷۰۱)، (تحفة الأشراف: ۱۷۸۷۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤۹/٦، ۲۰۷) (حسن صحیح)

په طور حيس (١) راغلي دي، وي فرمائيل چه ماته ئي رانزدي كړئ او هغه ئي اوخوړولو، فاصبح صائما وافطر... صبا كړي ئي د روژې په نيت وو او بيا ئي افطار اوكړو، بلـه مسئله په دي حديث كښي نفل روژه شروع كولو سره د هغي د افطار كولو ده چه په دي صورت كښي به قضاء واجب وى يا نه؟ په دي باندي مستقل وړاندي باب راروان دي، حيس يعنى د كهجورو پنير او غوړو شيره. والحديث اخرجه احمد والنسائى وابن ماجة والدارقطنى والبيهقى، واخرجه الترمذى من طريقين (المنهل)

[٢٤٥٦](٢)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، قَالَتْ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ، جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَجَلَسَتْ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمُّ هَانِئٍ عَنْ يَمِينِهِ. قَالَتْ: فَجَاءَتِ الْوَلِيدَةُ بِإِنَاءٍ فِيهِ شَرَابٌ فَنَاوَلَتْهُ فَشَرِبَ مِنْهُ، ثُمَّ نَاوَلَهُ أُمَّ هَانِئٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ. فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، "لَقَدْ أَفْطَرْتُ وَكُنْتُ صَائِمَةً. فَقَالَ لَهَا: أَكُنْتِ تَقْضِينَ شَيْئًا؟ قَالَتْ: لَا. قَالَ: فَلَا يَضُرُّكِ إِنْ كَانَ تَطَوُّعًا".

ترجمه: دام هاني رضي الله عنها نه روايت دي فرمائى چه دفتح مكي په ورځ فاطمة رضي الله عنها راغله اودنبى عليه السلام كس طرف ته كيناسته او ام هاني ئي ښي طرف ته ناسته وه ام هاني وائى چه يوه ماشومه راغله اوپه يولوښي كښي ئي دڅكلوڅه شي راوړل اونبى عليه السلام ته ئي پيش كړل نونبى عليه السلام دهغي نه اوڅكل اونبى عليه السلام بيا ام هاني ته وركړل هغي هم وڅكل او وئي وئيل اي دالله رسوله ماخو روژه ماته كړه اوما روژه نيولي وه نبى عليه السلام ورته او فرمائيل آيا تاددي قضا راوړله هغي ووئيل نه نبى عليه السلام اوفرمائيل كه چري نفل وي نوڅه حرج نشته.

توضيح الحديث

د حديث مضمون واضح دي، چه په هغي كښي دا دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله جوته ام هانى رضي الله عنها ته وركړه هغي هغه فورا اوڅكله او بيا ئي عرض اوكړو يا رسول الله صلى الله عليه وسلم زما روژه وه. رسول الله صلى الله عليه وسلم تري تپوس اوكړو چه نفلي وه كه د يوې روژې قضاء وه؟ هغي عرض اوكړو نه! قضاء نه وه، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل : فلا يضرك ان كان تطوعا.

د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت :

د دي حديث د ترجمة الباب سره هيڅ مناسبت نشته، بيا دا حديث په دي باب كښي د راوړلو توجيه صرف دا كيدي شى چه د دي نه مخكښي حديث كوم چه د ترجمة الباب مطابق وو د هغه حديث يو جزء د افطار نه پس الشروع فى الصوم وو كومه چه اختلافى مسئله ده او بل حديث كښي هم دا مسئله ده، پس د دي قرب معنى د وجي نه ئي دا دلته راوړي دي او په دي وجه هم چه وړاندي مصنف هم په دي مسئله باندي كلام كول غواړي.
والحديث اخرجه ايضا احمد والدارمى والدارقطنى والبيهقى والطبرانى، واخرجه الترمذى من طريق اخر. (المنهل)

(١) هو طعام متخذ من تمر واقط وسمن اهـ من البذل ٣/٣٩١
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٠٠٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصوم ٣٤ (٧٣٢)، مسند احمد (٦/٣٤٢) (صحيح)

بَابُ مَنْ رَأَى عَلَيْهِ الْقَضَاءَ

باب دې په بيان د قول دهغه چا څوک چه د نفلي روژې د قضا د وجوب قائل دي

[۲۴۵۷](۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ زُمَيْلٍ مَوْلَى عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: أُهْدِيَ لِي وَلِحَفْصَةَ طَعَامٌ وَكُنَّا صَائِمَتَيْنِ فَأَفْطَرْنَا، ثُمَّ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْنَا لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا أُهْدِيَتْ لَنَا هَدِيَّةٌ فَاشْتَهَيْنَاهَا فَأَفْطَرْنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا عَلَيْكُمَا صُومَا مَكَانَهُ يَوْمًا آخَرَ".

ترجمه: دام المومنين عائشي رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه ما اوحفصي ته دخوراك څه شي هديه کړې شو او مونږ دواړو روژه نيولي وه نو په دې وخت کښې مونږ روژه ماته کړه کوروچه نبي عليه السلام راغي مونږ ورته وويل مونږ ته دخوراك څه شي هديه کړې شوې دې زمونږ ورته زړه شوي وو او روژه مو ماته کړه، نبي عليه السلام اوفرمائيل څه حرج نشته ددې په عوض کښې يوه بله روژه بله ورځ ونيسئ

تشريح: په تير باب کښې د حديث نه په ظاهره دا معلوميږي چه صوم تطوع که پوره نه کړې شي نو د دې قضاء نشته، هم په دې وجه ئې اوس د دې خلاف باب قائم کړې دې.

توضيح الحديث

سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه يو ځل په هديه کښې ما او حفصه ته د يوځائي نه خوراک راغلو، مونږ دواړو هغه وخت روژه نيولي وه، مونږ هغه روژه ماته کړه (ضرورة د لوږې د وجې نه) بيا چه کله رسول الله صلى الله عليه وسلم کور ته تشريف راوړلو نو مونږ هغه ته خپله قصه بيان کړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې اوريدلو سره اوفرمائيل ﴿لا عليكما﴾ يعنى لا باس عليكما. هيڅ باک نشته په تاسو دواړو باندې، او وې فرمائيل ﴿صوما﴾دا د امر صيغه دپاره د تثنيه ده، يعنى تاسو دواړه روژه اونيسئ په بل ورځ باندې د اولې روژې په بدله کښې کومه چه تاسو ماته کړې ده.

مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

دا مسئله اختلافي دې، شافعيه، حنابله د قضاء قائل نه دي او احناف مطلقا د قضاء قائل دي، او امام مالك رحمه الله فرمائي: نفل روژه ساتلو نه پس که افطار ئې قصداء بغير د عذر نه کړې دې، بيا خو د دې قضاء واجب ده ګينې نه، امام ترمذى په دې مسئله باندې دوه بابونه تړلي دي: ما جاء فى افطار الصائم المتطوع. چه په هغې کښې ابوداود والا روايت نه علاوه يو بل حديث هم ذکر کړې دې: قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الصائم المتطوع امين نفسه... او په يو روايت کښې دى: امير نفسه... ان شاء صام وان شاء افطر، دا خو د شافعيه او حنابله دليل شو، پس امام ترمذى رحمه الله فرمائي: وهو قول سفيان الثورى واحمد واسحاق والشافعى. بل باب ئې قائم کړې دې "ما جاء فى ايجاب القضاء عليه، او په هغې کښې ئې هم هغه حديث ذکر

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۳۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصوم ۳۶ (۷۳۵)، موطا امام مالك/الصيام ۱۸ (۵۰) (ضعيف)

کړې دې کوم چه په ابوداود کښې دی او بیا د هغې نه روستو فرمائي : وقد ذهب قوم من اهل العلم من اصحاب النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وغیرهم الی هذا الحدیث فراوا علیه القضاء اذا افطر وهو قول مالک بن انس. اهـ، وحدیث الباب اخرجه ایضا مالک فی الموطاء، والنسائی وابن حبان والطبرانی وابن ابی شیبة... واخرجه البیهقی والترمذی. (المنهل)

بَابُ الْمَرْأَةِ تَصُومُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا

باب دې د ښځې دپاره د خاوند د اجازت نه بغیر د نفلی روژو نیولو په بیان کښې

[۲۴۵۸][1] حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَصُومُ الْمَرْأَةُ وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ غَيْرَ رَمَضَانَ، وَلَا تَأْذَنُ فِي بَيْتِهِ وَهُوَ شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ".

ترجمه: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی مناسب نه دی د ښځې دپاره چه خاوند ئې په کور کښې موجود وي او دا روژې نیسي مګر که په اجازت د هغه سره وي علاوه د روژو د رمضان نه، او کورته د راتلو اجازت به چاته نه ورکوي کله چه د دې خاوند په کور کښې موجود وي مګر ددې په اجازت سره.

توضیح الحدیث

د دې حدیث نه معلومه شوه چه د کومې زنانه خاوند په کور کښې موجود وی (سفر کښې نه وی) نو هغه لره نفل روژه بغیر د خاوند د اجازت نه جائز نه دی، علامه عینی فرمائي : د علماء کرامو د دې په حرمت باندې اتفاق دې، او امام نووی رحمه الله په شرح مهذب کښې لیکی چه د بعض شوافعو په نزد دا مکروه دی، او صحیح دا ده چه حرام دې. اهـ من هامش البذل والمنهل.

او دویم جزء د دې حدیث دا دې چه د کومې ښځې خاوند حاضر وی نو هغه دې د هغه په کور کښې چاته هم د داخلیدو اجازت نه ورکوی بغیر د خاوند د اجازت نه، په دې جزء کښې ﴿ وهو شاهد ﴾ قید احترازی نه دې بلکه اتفاق دی، ځکه چه که خاوند غائب وی نو په دې صورت کښې د داخلیدو اجازت ورکول بطریق اولی ناجائز دی، پس د ترمذی په روایت کښې دی د جابر رضی الله عنه نه مرفوعا ﴿ لا تلجوا علی المغیبات فان الشیطان یجری من احدکم مجری الدم ﴾ مغیبات جمع د مغیبة ده بضم المیم وکسر الغین وسکون الیاء، هغه زنانه چه د هغې خاوند غائب وی، په سفر کښې وی.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم، واخرجه البیهقی والدارمی الجزء الاول من الحدیث. (المنهل بتصرف)

[1]: صحیح البخاري/ البیوع ۱۲ (۲۰۶۶)، النکاح ۸۴ (۵۱۹۲)، النفقات ۵ (۵۳۶۰)، صحیح مسلم/الزکاة ۲۶ (۱۰۲۶)، سنن الترمذي/الصوم ۶۵ (۷۸۲)، سنن ابن ماجه/الصیام ۵۳ (۱۷۶۱)، (تحفة الأشراف: ۱۴۶۹۵، ۱۴۷۹۳)، وقد أخرجه: مسند أحمد (۲/۳۶۱)، سنن الدارمي/الصوم ۲۰ (۱۷۶۱) (صحیح) دون ذکر رمضان

[۲۴۵۹]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَهُ. فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ زَوْجِي صَفْوَانَ بْنَ الْمُعَطَّلِ يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ، وَيُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ، وَلَا يُصَلِّي صَلَاةَ الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ. قَالَ وَصَفْوَانُ عِنْدَهُ: قَالَ: فَسَأَلَهُ عَمَّا قَالَتْ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَمَّا قَوْلُهَا يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ، فَإِنَّهَا تَقْرَأُ بِسُورَتَيْنِ وَقَدْ نَهَيْتُهَا، قَالَ: فَقَالَ: لَوْ كَانَتْ سُورَةً وَاحِدَةً لَكَفَتِ النَّاسَ. وَأَمَّا قَوْلُهَا يُفَطِّرُنِي، فَإِنَّهَا تَنْطَلِقُ فَتَصُومُ وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَا أَصْبِرُ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ: "لَا تَصُومُ امْرَأَةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا". وَأَمَّا قَوْلُهَا إِنِّي لَا أُصَلِّي حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَإِنَّا أَهْلُ بَيْتٍ قَدْ عُرِفَ لَنَا ذَاكَ، لَا نَكَادُ نَسْتَيْقِظُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ. قَالَ: "فَإِذَا اسْتَيْقَظْتَ فَصَلِّ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ أَوْ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ.

ترجمه: دابي سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوه زنانه دنبي عليه السلام په خدمت كښې حاضره شوه، او مونږ ورسره ناست وو، هغې ووئيل اې دالله رسوله يقينا زما خاوند صفوان بن معطل ما وهي كله چه زه مونځ كوم او روژه رابانديږ ماتوي كله چه زما روژه وي اودسحر مونځ نه كوي ترڅوچه نمر نه وي ختلي، راوي وائي چه ددې خاوند صفوان دنبي عليه السلام سره موجود وو وائي چه نبي عليه السلام تري دهغه دښځې دوينا متعلق تپوس اوكړو، نوهغه ووئيل اې دالله رسوله هرچه ددې داخبره ده چه كله مونځ كوم نو وهي مې داپه مونځ كښې دوه دوه سورتونه وائي او ماددې نه منع كړې ده وائي چه نبي عليه السلام ووئيل كه چرې ديوسورت قرأت وي نوهغه هم دخلقونه كافي كيږي او هرچه ددې داخبره ده چه كله مې روژه وي نو رابانديږ ئې ماتوي ددې داحالت دې چه ډيري روژې نيسي اوزه ځوان سړې يم صبر نشم كولې، نبي عليه السلام اوفرمائيل دنن نه پس به يوه ښځه نفلي روژې نه نيسي كله چه ددې خاوند په كوركښې موجود وي مګرپه اجازت دهغه سره، هرچه ددې داخبره ده چه زه مونځ نه كوم دسحر ترڅوچه نمر نه وي ختلې، نو حقيقت دادې چه زه د داسې كورنۍ سره تعلق لرم چه دهغې باره كښې هرچاته پته ده (يعني زه محنت كار سړې يم دشپې كاروباري مصروفيت ته اشاره ده) سحروختى نه شم ويخيدلې ترڅوچه نمرنه وي ختلي، نبي عليه السلام اوفرمائيل كله چه ويخ شې مونځ كوه. ابوداود وائي چه حماد يعني ابن سلمه دحميد نه يا د ثابت نه او هغوى د ابوالمتوكل نه هم داسې روايت نقل كړې دې.

شرح حديث :

د حديث مضمون دا دې، ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمائي چه يوه زنانه (چه د هغې نوم خو معلوم نه دې خو دا معلومه ده چه د صفوان بن معطل رضي الله عنه زوجه وه لكه چه وړانديږ په روايت كښې دي) د رسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت كښې حاضره شوه او هغه ته ئې د خپل خاوند دريږ شكايتونه اوكړل چه) زما خاوند صفوان بن معطل رضي الله عنه چه كله زه مونځ كوم نو ما وهي، او چه كله روژه نيسم نو هغه رابانديږ ماتوي، او د سحر مونځ نه كوي مګر دا چه نمر راوخيژي (ګويا قضاء ئې كوي) راوي وائي : د دې شكاياتو په وخت صفوان هم هلته موجود وو، پس

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۴۰۱۲)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الصيام ۵۳ (۱۷۶۲)، مسند احمد (۳/۸۰، ۸۴)، سنن الدارمي/الصوم ۱۲۰ (۱۷۶۰) (صحيح)

رسول الله ﷺ د دې شکايتونو متعلق د هغه نه تپوس اوکړو چه د دې څه اصليت دې؟ هغه د هر شکايت ترتيب وار جواب ورکړو، عرض ئې اوکړو يا رسول الله! بهرحال دا خبره چه زه دا په مونځ کولو باندې وهم نو د دې وجه دا ده چه دا په هر رکعت کښې دوه سورتونو لولي حال دا چه ما دا منع کړې ده د داسې کولو نه، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: که د ټولې دنيا قراءت په مونځ کښې يو سورت وي نو د دې ټولو دپاره به کافي شي، يعنی د ټولې دنيا دپاره خو يو مونځ کښې يو سورة لوستل کافي کيږي ستا دپاره نه کافي کيږي؟ ګويا رسول الله ﷺ د زنانه شکايت غلط اومنلو، او خاوند ئې معذور اوګڼړلو په وهلو کښ، دا مطلب په هغه صورت کښې دې چه کله دلته په روايت کښې ﴿ فانها تقراء بسورتين ﴾ وی لکه چه په بعض نسخو کښې دی او هم دا ظاهره هم ده. او په بعض نسخو کښې داسې دی ﴿ فانها تقرأ بسورتی ﴾ [1] باضافة سورة الى ياء المتكلم په دې صورت کښې کښې به مطلب دا وی چه دا په مونځ کښې زما سورة لولي يعنی کوم سورة چه زه لولم، [2] په دې صورت کښې به د رسول الله ﷺ د خبرې مطلب دا وی چه بيا په دې کښې څه نقصان دې که ستا سورة لولي (د الله بنده! که په ټول قران کښې يو سورت وي نو هم هغه به د ټولو دپاره کافي وو، يعنی ظاهره ده چه بيا به هم هغه ټولو لوستلو) د دې مطلب دا شو چه رسول الله ﷺ د زنانه شکايت صحيح اوګڼړلو او خاوند ته ئې تنبيه ورکړه.

د دې نه روستو صفوان د دويم شکايت جواب ورکړو چه دا زما موجودګی کښې يعنی زما په کور کښې د موجودګئ باوجود مسلسل نفلی روژې نيسی حال دا چه زه ځوان سړې يم زما نه صبر نه کيږي په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: يوې زنانه لره بغير د خاوند د اذن نه نفلی روژه نه دی نيول پکار، د هغې نه روستو د دريم شکايت هغوی دا جواب ورکړو يا رسول الله! زما د ښځې دا خبره صحيح ده چه زه ورځ راختلو سره د سحر مونځ کوم اصل خبره دا ده چه زمونږ د پوره کورنئ دا حال دې کوم چه معروف دې چه زمونږ سترګې د نمر ختلو نه مخکښې نه غړيږي، رسول الله ﷺ هغه په دې کښې هم معذور اوګڼړلو او وې فرمائيل چه کله بيدار شې نو هغه وخت ئې کوه، رسول الله ﷺ ګويا د زنانه درې وارو شکايتونه غلط اوګڼړل. امام خطابی د دې حديث په اخری جزء باندې فرمائی چه د رسول الله ﷺ د صفوان د مونځ په باره کښې په دې کوتاهی باندې د زجر او تنبيه ترک کول دا عجيبه مهربانی ده د الله پاک په خپلو بندګانو باندې او د هغه د رسول نرمی ده د خپل امت سره، او بيا وړاندې ليکی: ظاهره دا ده چه هغه په دې خپل حالت کښې مغلوب او معجوز عنه شوې وو لکه چه يو مغمی عليه وی په دې وجه رسول الله ﷺ هغه ته تنبيه

[1] او حضرت ګنګوهی رحمه الله د ابوداود په غير مطبوعه تقرير کښې دی چه د ﴿سورتي﴾ يا د متکلم نه ده بلکه دا په اصل کښې ﴿سورتين﴾ وو نون خلاف قياس تخفيفا ساقط شو لهذا دا به ﴿سورتي﴾ د تاء په فتحې سره لوستلې شی.

[2] د حضرت شيخ په حاشيه بذل کښې دی چه د دې تائيد د هغې نه کيږی کوم چه د ابن الجوزی په تلقيح کښې دی قال ان معي سورة ليس معي غيرها تقرؤها، چه ماته يو سورت ياد دې او د هغې نه علاوه راته يو سورة هم ياد نه دې دا هم هميشه هم هغه لولي.

اونکړه، او دا هم ممکنه ده چه دا د مونځ قضاء کیدل هم کله کله وی نه دائم الاوقات چه کله څوک هغه ځائې کښې هغه لره بیدارونکې نه وی. اهـ او د حضرت ګنګوهی په تقریر کښې دی ﴿حتی تطلع الشمس﴾ په طور د مبالغې دې چه د هغې نه مراد اسفار او غایت اسفار دې.

په حدیث باندې اشکال او د هغې جواب :

ځان پوهه کړه چه دا صفوان بن معطل ﷺ هم هغه صحابی دې چه د چا ذکر په حدیث الافک کښې راغې چه د چا په باره کښې منافقانو په حضرت عائشه ﷺ باندې تهمت لګولې وو، په هغه حدیث الافک کښې دی چه د هغه په باره کښې منافقینو په حضرت عائشه ﷺ باندې تهمت لګولې وو، په دې حدیث الافک کښې دا دی چه کله هغه صحابی ته دا خبره اورسیده چه خلق په هغوی باندې دا الزام لګوی نو هغه فرمائیلې وو ﴿سبحان الله والله ما کشفت انثی قط﴾ چه ما خو تر اوسه پورې د یوې زنانه ازار نه دې پرانستلې، او دلته په دې حدیث کښې هغه فرمائی. ﴿ وانا رجل شاب فلا اصبر ﴾د دې یو جواب خو دا کړې شوې دې چه حدیث الافک د دې په مقابله کښې زیات صحیح دې، هغه د صحیحین حدیث دې او دا د سنن، او دویمه توجیه دا کړې شوې ده چه دواړه خبرې په خپل ځائې باندې صحیح دې، د افک د واقعې پورې هغه واده نه وو کړې، هغه خبره د هغه وخت ده، او دا واقعه د واده نه روستو ده لهذا هیڅ تعارض نشته او دا چه کوم یو جواب ورکړې شوې دې چه ﴿ ما کشفت﴾کښې د مطلق کشف نفی نشته بلکه د کشف حرام نفی ده، حافظ فرمائی چه په یو روایت کښې دی ﴿ لا حلا ولا حراما ﴾خو دا روایت ضعیف دې.، والحدیث اخرجه ایضا احمد وابن ماجة والبیهقی بلفظ المصنف واخرجه ایضا بلفظ اخر. (المنهل ملخصا)

بَابٌ فِي الصَّائِمِ يُدْعَى إِلَى وَلِيمَةٍ

باب دې په بیان د هغه روژه دار چه د ولیمې دعوت ورته ورکړې شی

[۲٤٦٠]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ، فَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ، وَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ". قَالَ هِشَامٌ: وَالصَّلَاةُ الدُّعَاءُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، أَيْضًا عَنْ هِشَامٍ.

ترجمه: دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کله چه چاته دخوراك دپاره دعوت ورکړې شی نو پکارده چه دعوت قبول کړي که چرې دده کوژه وي نوخوراك دي اوکړي اوکه چرې روژه ئې وي نومونځ دي اوکړي. هشام وائي چه دصلاة نه مراد دعا ده. ابوداود وائي چه همدارنګې دا اضافه په دې روایت کښې حفص بن غیاث هم د هشام نه نقل کړې ده.

توضیح الحدیث

د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه کله په تاسو کښې چاته د خوراک دعوت ورکړې شی نو هغه ورله قبلول پکار دی یعنی منظورول پکار دی، بیا ئې هلته تلو سره که روژه نه وی نو

(۱): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱٤۵۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲٤۲/۲)، سنن الدارمي/الصوم ۳۱(۱۷۷۸) (صحيح)

خوراک دې اوکړي، او که روژه ئې وي نو دعوت کونکي ته دې په دعا باندې اکتفاء اوکړي، او د دې نه په روستو روايت کښې دي چه کله په تاسو کښې د چا دعوت اوکړې شي او د هغه روژه وي نو هغه له پکار دي چه اوائي چه زما روژه ده.

د باب په حديثين کښې تعارض او د هغې توجيه:

په ظاهره دواړه احاديثو کښې اختلاف دې، اصل کښې په دواړو روايتونو کښې اختصار دې او د جمع بين الحديثين شکل دا دې چه کله دعوت اوکړې شي پس که روژه دار وي نو د روژې عذر دې اوکړي، که هغه ئې عذر قبول کړي نو صحيح ده، او که قبول نه کړي نو د هغه کور ته حاضريدو سره دې د هغه دپاره دعا اوکړي، كذا في البذل، او د کوکب نه معلوميږي چه دعوت خو دې په دواړو صورتونو کښې منظور کړي او د هغه کور ته د تلو نه روستو ئې روژه نه وي نو خوراک دې اوکړي، او که روژه وي نو د خوراک نه دې عذر اوکړي او د هغه دپاره دې دعا اوکړي، فليجب کښې امر د جمهورو په نزد د استحباب دپاره دې، او وئيلې شوې دي چه د وجوب دپاره دې، او بهرحال د اجابت حکم د هغه سړي په حق کښې دې چه هغه ته هيڅ قسم عذر نه وي، او کوم سړي چه معذور وي مثلا خائي لرې وي چرته چه رسيدو کښې مشقت لاحق کيږي نو هلته په عذر کولو کښې هيڅ باک نشته، او دا چه پورته ذکر شو چه که روژه دار وي نو خوراک کولو نه دې عذر اوکړي دا په هغه صورت کښې دي چه کله هغه ته د هغه په انکار سره اذيت نه کيږي، او که هغه په خوراک کولو باندې اصرار اوکړي او نه خوراک کولو سره هغه ته تکليف وي نو بيا ورله روژه افطار کول پکار دي او بيا دې روستو د هغې قضاء اوکړي. كذا في الكوكب. د دې زيات تحقيق دې د کتب فقه نه اوکتلې شي.

﴿قال هشام : والصلاة الدعاء﴾ يعنې د صلاة نه مراد صلاة عرفي نه دې بلکه د دې لغوي معنی دعا مراد ده، او شارحينو ليکلي دي چه د صلاة عرفي معنی هم مراد کيدې شي اى فليصل ركعتين، او د معنيين په جمع کولو کښې هم هيڅ مانع نشته يعنې دوه رکعته دې هم اوکړي او د هغه دپاره دې دعا هم اوکړي لکه چه د رسول الله ﷺ نه ثابت دي، په بيت ام سليم کښې چه هلته رسول الله ﷺ د صوم عذر کولو سره د هغوی په کور کښې مونځ اوکړو او هغوی ته ئې دعا هم اوکړه. كما في البخاري

وحديث الباب اخرجه مسلم والنسائي وكذا الترمذي مختصرا. (المنهل ملخصاً)

بَابُ مَا يَقُولُ الصَّائِمُ إِذَا دُعِيَ إِلَى الطَّعَامِ

روژه دار له د خوراک د دعوت په وخت کښې څه وئيل پکار دي؟

[۲٤٦۱] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ وَهُوَ صَائِمٌ، فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ".

---

۱): صحيح مسلم/الصيام ۲۸ (۱۱۵۰)، سنن الترمذي/الصوم ٦٤ (۷۸۱)، سنن ابن ماجه/الصيام ٤۷ (۱۷۵۰)، (تحفة الأشراف: ۱۳٦۷۱)، وقد أخرج: مسند احمد (۲/۲٤۲)، دي/المناسك ۳۱ (۱۷۷۸) (صحيح)

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کله چه چاته دخوراك دپاره دعوت ورکړې شی اوددہ روژه وي نو اودي وائی چه زما روژه ده.

باب الاعتكاف

باب دې په بيان داحكامو داعتكاف كښې

مصنف رحمه الله د کتاب الصوم د تکمیل دپاره په اخر کښې د اعتکاف باب قائم کړې دې ځکه چه ځنګه د صوم تعلق د رمضان د میاشت سره دې هم دغه شان اعتکاف هم د دې میاشت په اخری عشره کښې سنت دې، او امام ترمذی د کتاب الصوم په اخره کښې درې څیزونه بیان کړې دی اعتکاف او د هغې احکام، د لیلة القدر باب او قیام شهر رمضان یعنی تراویح، چونکه د څلور واړه څیزونه د خصائص رمضان نه دی، خو امام ابوداود لیلة القدر او صلاة تراویح لره د کتاب الصلاة په اخر کښې بیان کړې دی، ولکل وجهة هو مولیها وللناس فیما یعشقون مذاهب.

(د اعتكاف لغوی او اصطلاحی معنی)

د اعتکاف لغوی معنی لزوم الشئ وحبس النفس علیه، یو څیز لازمی نیول او خپل نفس په هغې باندې مضبوطول، او شرعی معنی د دې کما فی الهدایة هو اللبث فی المسجد مع الصوم ونیة الاعتكاف. یعنی په مسجد کښې ایساریدل د اعتکاف په نیت سره د روژې سره، او د هغې په حاشیه کښې دی چه د صوم شرط په ظاهر الروایة کښې د اعتکاف واجب دپاره دې نه د نفل اعتکاف دپاره.

د اعتكاف اقسام ثلاثه او احكام :

ځان پوهه کړه چه د اعتکاف درې قسمونه دی، واجب، سنت موکده او مستحب. د واجب نه مراد اعتکاف منذور کوم چه د نذر د وجې نه واجب شوې وی او هم دغه شان شروع کولو نه هم، او سنت مؤکده، د رمضان د اخری عشرې اعتکاف، یعنی سنت علی الکفایة، او دریم قسم یعنی مستحب هغه مطلق اعتکاف دې چه په هغې کښې د یوې زمانې قید نشته، چه کله ئې اوغواړی کوی دې. (کذا فی الدر المختار ۱۷۷/۲) دلته یوه مسئله دا هم اختلافی ده چه که یو سړې اعتکاف شروع کړی او هغه قطع کړی نو بیا په هغه باندې قضاء واجب ده یا نه؟ دا مسئله وړاندې په حدیث الباب کښې راروانه ده. وړاندې په کتاب کښې ﴿المعتكف یعود المریض﴾ کښې د عائشې رضی الله عنها حدیث موقوف راروان دې، ﴿ولا اعتكاف الا بصوم ولا اعتكاف الا فی مسجد جامع﴾ او د هغې نه روستو په یو بل حدیث مرفوع کښې دی چه رسول الله ﷺ د عمر رضی الله عنه په دې سوال باندې چه ما د زمانه جاهلیت په یوه شپه کښې د اعتکاف نذر منلې وو نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: ﴿اعتكف وصم﴾ دا دواړه مسئلې یعنی اشتراط صوم او اشتراط جامع اختلافی دی.

المسئلة الاولی :

د صوم په باره کښې پورته د احناقو دوه روایتونه تیر شوې دی او دا چه ظاهر الروایة دا دې

چه د صوم شرط په اعتکاف منذور کښې دې نه په نفلی کښې، په حاشیه د بذل کښې په حواله د العرف الشذی کښې دی چه د شیخ ابن الهمام میلان د بل روایت طرف ته دې یعنی مطلقا وجوب صوم، اوس پاتې شوه دا مسئله د اعتکاف مسنون نو د دې نه متون احناف خو ساکت دی د فقهاء کرامو په دې کښې اختلاف دې، ابن عابدین اشتراط لره ترجیح ورکړې ده، او ابن نجیم صاحب البحر عدم اشتراط ته، او د باقی ائمه کرامو مسلک دا دې چه امام مالک په دې کښې مطلقا د اشتراط صوم قائل دې نفل او واجب په دې کښې د هغه په نزد تول برابر دی تردې چه که یو سړې د یو عذر د وجې نه روژه او نه نیولې شی نو د هغه اعتکاف صحیح نه دې او د دې په خلاف د شوافعو او حنابله په نزد د راجح او مشهور قول مطابق مطلقا شرط نه دې. اهـ من الابواب والتراجم. د امام بخاری میلان هم د دې طرف ته معلومیږی.

المسئلة الثانية:

ځان پوهه کړه چه د اعتکاف الرجال دپاره د ائمه اربعه په نزد مسجد کیدل شرط دی او په دې کښې د بعض نورو علماء کرامو اختلاف دې پس محمد بن لبابه مالکی په نزد د صحة اعتکاف دپاره مسجد کیدل ضروری نه دی بل یجوز فی کل موضع. او یو قول په دې کښې دا دې لا یجوز الا فی المساجد الثلاثة. مسجد حرام، مسجد نبوی، بیت المقدس دا د حضرت حذیفه بن الیمان رضی الله عنه نه منقول دی. وروی عن عطاء انه لا یجوز الا بمسجد مکة والمدینة، وابن المسیب بمسجد المدینة.

بیا د ائمه اربعه په دې خبره کښې اختلاف دې چه کوم یو مسجد ضروری دې، د امام ابوحنیفه او امام احمد په نزد مسجد جماعت یعنی چه د هغه دپاره امام او مؤذن متعین وی، که پنځه وخته مونځ یکښې ادا کیږی یا نه ادا کیږی په دې کښې دواړه اقوال دی، او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد مسجد جماعت د اعتکاف واجب دپاره ضروری دې، د اعتکاف نفل دپاره مطلق مسجد کافی دې او د امام شافعی او مالک په نزد مطلق مسجد، خو د دې دواړو امامانو په نزد که د اعتکاف دوران د جمعې ورځ راشی نو بیا د مسجد جامع کیدل ضروری دی ځکه چه خروج لصلاة الجمعة د دې دواړو امامانو په نزد قاطع اعتکاف دې په خلاف د احنافو او حنابله چه د هغوی په نزد قاطع اعتکاف نه دې، د شوافعو او مالکیانو په کتابونو کښې ئې لیکلې دی چه که یو سړې غیر جامع کښې چه په هغې کښې د جمعې مونځ نه کیږی اعتکاف اوکړی او هم په دې کښې د جمعې ورځ راشی نو دا سړې که د جمعې دپاره د مسجد نه بهر لاړ نه شی بلکه په مسجد کښې وی نو فی نفسه به د هغه اعتکاف صحیح شی خو د ترک جمعه گناه به پرې وی.

دا اختلاف خو دې د اعتکاف الرجال متعلق، او د اعتکاف النساء په باره کښې د احنافو او جمهور علماء کرامو اختلاف دې، د امام احمد، امام مالک او امام شافعی فی الجدیدپه نزد د زنانه د اعتکاف دپاره مسجد شرط دې، او د امام شافعی قول قدیم او د احنافو مذهب دا دې چه د زنانه اعتکاف په مسجد بیت کښې صحیح دې، د مسجد بیت نه مراد د کور هغه حصه ده کومه چه هغه د خپل مونځ دپاره متعین کړی، خو یو فرق دا دې چه

د امام احمد په نزد د اعتکاف الرجل دپاره مسجد جماعت ضروري دي خو د زنانه دپاره د مسجد جماعت قيد نشته مطلق مسجد کافی دي، د احنافو په نزد په دې کښې خو هيڅ اختلاف نشته چه د زنانه دپاره په مسجد بيت کښې اعتکاف اولی دې يا په مسجد جماعت کښ، خو په دې کښې اختلاف دې چه په مسجد جماعت کښې د هغې اعتکاف صحيح هم دې يا نه؟ په دې کښې زمونږ په نزد دواړه قسم اقوال دی د جواز هم او د عدم جواز هم. اهـ ملخصاً من الاوجز... ۱۲۷/۳، په اوجز کښې ئې دا ټول مذاهب او اختلافات د کتب فروع په حوالې سره ليکلې دی.

توضيح الحديث

د دې حديث نه کوم چه متفق عليه دې د رسول الله ﷺ د رمضان په اخری عشره کښې د اعتکاف اهتمام او په هغې باندې مواظبت ثابتيږی، ځکه چه په حديث کښې تصريح ده ﴿حتى قبضه الله﴾ چه د وفات د کال پورې رسول الله ﷺ دا عمل کړې دې، ابن الهمام رحمه الله فرمائی: د رسول الله ﷺ دا مواظبت فرمائيل بغير د نکير نه په هغه صحابه کرامو باندې چا چه دا ترک کړې دې دا دليل دې د دې اعتکاف د سنيت، او که مواظبت سره انکار علی الترک هم موندلې شی نو بيا به دا دليل وی د وجوب.

د اعتکاف په باره کښې يو روايت د امام مالک:

په دې سلسله کښې د امام مالک نه د هغه بعض شاګردانو دا نقل کړې دی چه کله زه د اعتکاف په باره کښې دا وينم چه د اکثر صحابه کرامو نه د دې ترک ثابت دې سره د دې د هغوی شديد حرص وو په سنت باندې د عمل کولو نو زما په ذهن کښې راځی چه د دې حال د صوم وصال په شان دې انتهى کلامه. او د هغه د دې کلام نه د هغه بعض اصحابو دا اخذ کړې ده چه اعتکاف صرف جائز دې خو په دې باندې نور علماء مالکيه ابن العربی او ابن بطال وغيره رد کړ دې او دا د رسول الله ﷺ د مواظبت دليل دې د دې د سنت مؤکده کيدو، امام ابوداود د امام احمد رحمه الله نه نقل کړې دی چه په علماء کرامو کښې د چا اختلاف د دې په مسنون کيدو کښې زما په علم کښې نشته.

د رسول الله ﷺ د اعتکاف په باره کښې روايات مختلفه او په هغې کښې تطبيق:

ځان پوهه کړه چه دلته په باب الاعتکاف کښې چه کوم روايات مصنف ذکر کړې دی په هغې ټولو کښې صرف د اعتکاف عشره اخيره ذکر شوې دې او امام بخاری رحمه الله د دې نه علاوه يو بل حديث ذکر فرمائيلې دې په روايت د ابو سعيد خدری رضی الله عنه چه ﴿ان النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يعتكف فى عشر الاواخر من رمضان﴾ الحديث. دا روايت مونږ سره په ابوداود کښې په کتاب الصلاة کښې په ليلة القدر کښې تير شوې دې چه د هغې مضمون دا دې چه رسول الله ﷺ به د رمضان په عشره وسطی کښې اعتکاف فرمائيلو يو ځل ئې د عشره وسطی په اخير کښې اوفرمائيل چه کومو خلقو ما سره اعتکاف کړې دې نو هغه دې د عشره اخيره اعتکاف هم اوکړی ځکه چه تر اوسه پورې ليلة القدر نه دې راغلې، ځکه چه ماته د دې علامت دا بيان کړې شوې دې چه کله په دې کال باندې شب قدر وی نو په هغه

شپه باندې به باران وی چه د هغې د وجې د مسجد نبوی چهت راوسسیږی او د هغې د سحر مونځ به زه په ختو او اوبو کښې کوم، پس ټول خلق د عشره اخیره د اعتکاف په نیت سره ایسار شو، راوی فرمائی چه بیا په اوله شپه یعنې یویشتمه باندې دا علامت ظاهر شو کوم چه رسول الله ﷺ فرمائیلي وو، د باران وغیره کیدل. د بخاري او ابوداود په روایت کښې خو هم دغه شان دی او د صحیح مسلم په روایت کښې داسې دی، ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعتكف العشر الاول من رمضان ثم اعتكف العشر الاوسط الحديث، په دې روایت کښې د عشره اول د اعتکاف زیادت دې، دغه شان د مسلم په دې روایت کښې د اعتکف لفظ دې، ﴿كان يعتكف﴾ نه دې، هم دغه شان امام مسلم دا قسم ټول روایات په ابواب لیلة القدر کښې ذکر کړې دی، او په باب الاعتکاف کښې ئې نه دې ذکر کړې، د دې مجموعه روایاتو نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ چه اول اول کوم اعتکاف فرمائیلي وو (د لیلة القدر په لټون کښې) هغه ئې د عشره اولی فرمائیلي وو بیا چه ئې په هغې کښې لیلة القدر بیا نه موندلو نو په عشره وسطی کښې ئې اعتکاف اوکړو، په عشره وسطی کښې دا هغه ته خبر ملاؤ شو چه لیلة القدر د کوم په لټون کښې چه تاسو یئ دا به په اخری عشره کښې ملاویږی پس بیا هم داسې اوشوه لکه چه په حدیث کښې دی، او بیا د هغې نه روستو هغه همیشه په عشره اخیره کښې اعتکاف فرمائیلو، غالبا هم په دې وجه باندې امام مسلم او امام ابوداود وغیره حضرت په باب الاعتکاف کښې هم هغه روایات ذکر کړې دی چه په هغې کښې صرف د عشره اخیره اعتکاف مذکور دې او هم په دې وجه باندې فقهاء کرامو هم د عشره اخیره اعتکاف ته سنت وئیلي دي.

د پوره رمضان د میاشتې د اعتکاف حیثیت:

خو ځان پوهه کړئ چه د عبادات او طاعات د مشروعیت په اعتبار سره مختلف درجات دی، فرض، واجب، سنت، مستحب، چه د هغې تعریفات په اصول فقه او فقه کښې مذکور دی، سنت خو د رسول الله ﷺ معمول دائمی یا کم از کم اکثری ته وئیلي شی او کوم کار چه ئې د طاعت په حیثیت کښې کله کله کړې وی هغې ته مستحب وئیلي شی، علی هذا علی الظاهر د پوره میاشتې اعتکاف هم دې کوم چه هغه په شروع کښې یو ځل کړې دې [1] د هغې نه روستو ئې بالالتزام خو د عشره اخیره فرمائیلي دې خو کله کله د یو عارض او مصلحت د وجې نه لکه چه په روایاتو کښې راځی د دوه عشرو ئې هم کړې دې لهذا د رمضان د پوره میاشت اعتکاف ته خلاف سنت یا بدعت وئیل غلط دی، اوګورئ د دې احادیثو نه ثابتیږی چه د اعتکاف یو لوئې غرض د لیلة القدر حصول دې او د لیلة القدر د تعیین په باره کښې مختلف اقوال دی په عشره اخیره کښې د دې انحصار نه دې، د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مشهور قول دې چه دا په ټول کال کښې وی، دویم قول ئې دا دې چه په پوره رمضان کښې وی، د دې نه علاوه اصل اعتکاف عبادت دې، اوس پورته تیر شو چه فقهاء کرامو د دې درې قسمونه بیان کړې وو، یو اعتکاف مسنون کوم چه د عشر اخیر سره

[1] کما تقدم تقریره قریبا)

خاص دي، يو اعتکاف منذور کوم چه د نذر تابع دي برابره خبره ده که د يو ورځې نذر وی يا د يوې هفتې وی يا د يوې مياشتې وی، د دې مودې پوره کول واجب دی، ضروری دی، دريم قسم د هغه نفل اعتکاف دې چه د هغې په باره کښې د فقهاء کرامو تصريح ده چه هغه په زمانې پورې مقدر نه وی اګر چه يو ساعت وی يا يو مياشت يا يو کال، په پوره مياشت اعتکاف باندې د بدعت يا خلاف سنت کيدو اطلاق چه خلاف تحقيق نه شی نو نور څه دی.
والله الموفق وهو الملهم للصدق والصواب.

والحديث اخرجه ايضا البخاری ومسلم والترمذی والنسائی والدارقطنی، وكذا البيهقی من غير هذا الطريق. (المنهل ملخصا)

[۲۴۶۳](۱)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ فَلَمْ يَعْتَكِفْ عَامًا، فَلَمَّا كَانَ فِي الْعَامِ الْمُقْبِلِ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ لَيْلَةً".

ترجمه: د ابی بن کعب رضی الله عنه نه روايت دې نبی عليه السلام به درمضان په آخری لسو شپو کښې اعتکاف کوو نو يو کال ئې اعتکاف ونکړونو چه بل کال راغې نو شل ورځې اعتکاف ئې اوکړو.

توضيح الحديث

يعنی د رسول الله صلی الله عليه وسلم معمول د رمضان په اخری عشره کښې د اعتکاف وو، يو کال ئې د څه وجې نه اعتکاف اونکړې شو نو چه کله راروان کال راغلو نو دوه عشرې اعتکاف ئې اوکړو. رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه کال اعتکاف ولې اونکړې شو د هغې په باره کښې د ابن ماجه په روايت کښې دی ﴿فسافر عاما﴾ چه يو کال رسول الله صلی الله عليه وسلم په رمضان کښې په سفر کښې وو، علماء کرامو ليکلي دی چه دا سفر د فتح مکه سفر وو.

والحديث اخرجه ايضا النسائی وابن ماجة والبيهقی واخرجه الترمذی عن انس رضی الله عنه، وصححه ابن حبان والحاكم. (المنهل ملخصا)

[۲۴۶۴](۲)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، وَيَعْلَى بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْتَكِفَ صَلَّى الْفَجْرَ ثُمَّ دَخَلَ مُعْتَكَفَهُ. قَالَتْ: وَإِنَّهُ أَرَادَ مَرَّةً أَنْ يَعْتَكِفَ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، قَالَتْ: فَأَمَرَ بِبِنَائِهِ فَضُرِبَ. فَلَمَّا رَأَيْتُ ذَلِكَ أَمَرْتُ بِبِنَائِي فَضُرِبَ، قَالَتْ: وَأَمَرَ غَيْرِي مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَائِهِ فَضُرِبَ. فَلَمَّا صَلَّى الْفَجْرَ نَظَرَ إِلَى الْأَبْنِيَةِ، فَقَالَ: مَا هَذِهِ آلْبِرَّ تُرِدْنَ؟ قَالَتْ: فَأَمَرَ بِبِنَائِهِ فَقُوِّضَ، وَأَمَرَ أَزْوَاجُهُ بِأَبْنِيَتِهِنَّ فَقُوِّضَتْ، ثُمَّ أَخَّرَ الِاعْتِكَافَ إِلَى الْعَشْرِ الْأُوَلِ يَعْنِي مِنْ شَوَّالٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ إِسْحَاقَ، وَالْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، نَحْوَهُ. وَرَوَاهُ مَالِكٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ: اعْتَكَفَ عِشْرِينَ مِنْ شَوَّالٍ.

ترجمه: دام المومنين عائشې رضی الله عنها نه روايت دې نبی عليه السلام به چه کله اوغوښتل چه اعتکاف

---

(۱): سنن ابن ماجه/الصيام ۵۸ (۱۷۷۰)، (تحفة الأشراف: ۱۶۵۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۱/۵) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الاعتكاف ۶ (۲۰۳۳)، ۷ (۲۰۳۴)، ۱۴ (۲۰۴۱)، ۱۸ (۲۰۴۵)، صحيح مسلم/الاعتكاف ۲ (۱۱۷۲)، سنن الترمذي/الصوم ۷۱ (۷۹۱)، سنن النسائي/المساجد ۱۸ (۷۱۰)، سنن ابن ماجه/الصوم ۵۹ (۱۷۷۱)، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۳۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاعتكاف ۴ (۷)، مسند احمد (۸۴/۶، ۲۲۶) (صحيح)

اوکړی نو دسحرمونځ به ئي اوکړو او اعتکاف خاني ته به داخل شو، فرمائي چه يوځل نبي ﷺ داعتکاف اراده اوکړه درمضان په آخری لسو شپو کښې نومونږ ته ئي داعتکاف خاني دجوړولو حکم اوکړو، نوجوړه کړي شوه، نوماچه کله دهغه داعتکاف خائي وليدو نوما هم ووئيل چه زما دپاره دي هم جوړ کړي شي نوزما دپاره هم اعتکاف خانه جوړه کړي شوه، فرمائي چه په امهات المومنين کښې زمانه علاوه نوروبيبيانوهم ددې دجوړيدو دخواهش اظهاروکړو نوددوی دپاره هم جوړي کړي شوي، نبي ﷺ چه کله دسحرمونځ اوکړو نووي ليدل چه خيمي لګيدلی دي نوتپوس ئي اوکړوچه داڅه دی؟ آيا دائي دنيکئ په نيت جوړي کړي دي؟ نونبي ﷺ دخپلي خيمي د ورانولوحکم اوکړو هغه ورانه کړي شوه او امهات المومنين هم خپلي خيمي راټولي کړي اوبيانبی ﷺ خپل اعتکاف دشوال داولي عشري پورې موخرکړو. ابوداود وائی داروايت ابن اسحاق او اوزاعي ديحي بن سعيد نه هم داسې نقل کړي دي، اوامام مالك ديحي بن سعيد نه نقل کړي دي چه نبي ﷺ په شوال کښې شل ورځې اعتکاف اوکړو.

د اخري عشرې د اعتکاف ابتداء به څه وخت کيږی؟:

په دې حديث کښې سيده عائشه رضي الله عنها د عشره اخيره د اعتکاف د وخت ابتداء بيان فرمائي چه نبي ﷺ به د سحر مونځ ادا کولو سره خپل معتکف کښې داخليدو، په معتکف کښې يعنی دمسجد هغه خاص اړخ چه په هغې کښې به هغه د اعتکاف دپاره تشريف فرما کيدو.

د دې حديث نه په ظاهره دا معلوميږی چه د عشره اخيره د اعتکاف ابتداء د يويشتم تاريخ د سحر نه کيږی بعض علماء لکه امام اوزاعی او ليث بن سعد مذهب هم دا دې، حال دا چه د جمهور علماء او ائمه اربعه مذهب دا دې چه د کوم انسان د عشره اخيره د اعتکاف اراده وی نو هغه له پکار دی چه د يويشتم شپې نه د اعتکاف ابتداء اوکړی لهذا په شلم تاريخ دې د ماښامې احتياطا د غروب شمس نه مخکښې مسجد ته داخل شی، امام ترمذی امام احمد لره د امام اوزاعی سره ذکر کړې دې، کيدې شی چه دا د هغه يو روايت وی ګينې حافظ وغيره شارحينو په دې کښې د ائمه اربعه اختلاف نه دې ليکلې، بهرحال دا حديث په ظاهره د ائمه اربعه خلاف دې.

جمهور علماء کرامو د دې حديث دا تاويل کړې دې چه مراد دا دې چه رسول الله ﷺ به خپل خاص معتکف او د خلوت ځائې ته هغه وخت (د سحر د مونځ نه پس) رسيدلو، د اعتکاف د وخت ابتداء لره بيانول مقصود نه دی، مسجد ته خو به هغه د ماښام نه رسيدو خو شپه چونکه خپله د خلوت زمانه ده په هغې کښې معتکف ته د تلو حاجت نه وو، او په دې کښې د تاويل يوه خاص وجه دا ده چه په اعتکاف کښې چه کوم اهم مقصود دې يعنی د ليلة القدر ادراک او د هغې د حصول په يويشتمه شپه غالب ګمان دې ترديې چه د امام شافعی خو مشهور قول هم دا دې، ارجی الليالی ليلة احدی وعشرين... چه د ټولو نه زياته د شب قدر توقع هم په دې شپه باندې دې.

د جمهورو د قول یو لطیف دلیل :

علامه ابو الطیب سندی رحمه الله د دې یوه بله معقول وجه بیان کړې ده هغه دا چه د رمضان د عشره اخیره په باره کښې دوه احادیث دی دواړه د بخاری دی، یو حدیث عائشه ﴿کان النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یعتکف فی العشر الاواخر من رمضان﴾: د دې حدیث نه د اعتکاف موده لس شپې معلومیږی، ځکه چه د عشر نه مراد لیالی مراد دی کوم چه د ﴿لیلة﴾جمع ده او مونث دې او د اسماء عدد قاعده دا ده چه د مذکر دپاره مونث او مونث دپاره مذکر استعمالیږی (په حدیث کښې العشر بغیر د تاء تانیث نه ده لهذا د عشر نه لیالی عشره مراد شوه) او بل حدیث دې د ابوهریره رضی الله عنه دې کان النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یعتکف فی رمضان عشرة ایام، د دواړو احادیثو د جمع کولو نه ثابتیږی چه د عشره اخیره په اعتکاف کښې لیالی او ایام تعداد برابر کیدل پکار دی د دواړو که لس وی یا نهه، او دا هم په هغه صورت کښې کیدې شی چه کله یویشتمه شپه په اعتکاف کښې داخله کړې شی ګینې په یو صورت کښې به د ورځو تعداد نهه او شپې اته پاتې شی، او په کوم صورت کښې چه د ایام تعداد لس وی په هغه صورت کښې به شپې نهه پاتې شی. اه او بعض علماء کرامو د حدیث الباب دا توجیه کړې ده چه په ﴿صلی الفجر﴾کښې د فجر نه مراد ﴿فجر عشرین﴾مراد دې یعنی د شلم تاریخ سحر، ګویا یو ورځ مخکښې به هلته اورسیدو، اختار هذا التوجیه القاضی ابو یعلی من الحنابلة کما فی المنهل.

د رسول الله ﷺ د نقض او د اعتکاف روایت او د هغې تشریح :

د دې حدیث په مخکښې حصه کښې خپله د رسول الله ﷺ د اعتکاف د معمول بیان وو اوس د دې ځائې نه حضرت عائشه خپل او بعض نورو ازواج مطهرات د اعتکاف یوه واقعه بیانوی، هغه داسې چه رسول الله ﷺ د خپل اعتکاف دپاره د خیمې د قائمولو حکم کړې وو پس هغه قائمه کړې شوه، او د بخاری په یو بل روایت کښې دی، عائشه رضی الله عنها فرمائی ﴿فکنت اضرب له خباء﴾چه د هغه دپاره به هغه پرده او خیمه ما قائموله، هغه فرمائی : چه کله د رسول الله ﷺ خیمه قائم کړې شوه نو ما هم د خپل اعتکاف دپاره یوه خیمه او پرده قائم کړه او زما نه علاوه نورو ازواجو هم خیمې قائم کړې، حافظ فرمائی چه د دې نه ټولې ازواج او د هغوی خیمې نه دی مراد لکه چه د هغه روایت نه (کوم چه په مسلم او ابوداود کښې دې) وهم راځی بلکه د نورو ازواجو مصداق صرف حفصه او زینب رضی الله عنهما دی لکه چه د بخاری په یو روایت کښې د دې تصریح ، لهذا څلور خیمې شوې یو رسول الله ﷺ دپاره او درې حفصه، عائشه او زینب رضی الله تعالی عنهن دې. اه هم دغه شان د بخاری په روایت کښې معلومیږی چه حضرت عائشه رضی الله عنها خپله خیمه د رسول الله ﷺ نه د اعتکاف د اجازت اخستلو نه پس او حفصه په واسطه د عائشې رضی الله عنها د هغه نه د اعتکاف د اجازت خیمه قائم کړې وو ، او حضرت زینب رضی الله عنها د خپل طرف نه بغیر د اجازت نه، د هغوی د اجازت اخستلو ذکر په هیڅ روایت کښې نه دې، بلکه په یو روایت کښې د هغه په باره کښې کښې دا دی

﴿وكانت امرأة غيوراء﴾ چه د هغې په مزاج كښې غيرت نسبة زيات وو، ګويا د هغوی نه د هغوی دواړه خيمې نه دی ليدلې او د كتلو سره د خپل ځان دپاره هم خيمه قائم كړه، او چونكه د هغه معمول په دې خيمه كښې يعنې معتكف خاص او پرده كښې د داخليدو، د سحر د مونځ نه پس وو، هم په دې وجه وړاندې روايت كښې دې چه كله د سحر مونځ اوكړو يعنې خپله خيمه كښې د داخليدو اراده اوفرمائيله نو د هغه نظر باقی درې واړو خيمو باندې پريوتلو، نو هغه تپوس اوكړو چه دا څه دی، د بخاری په يو روايت كښې دی چه چا هغه ته عرض اوكړو چه دا ستاسو د ازواجو خيمې دی نو په دې باندې هغه اوفرمائيل: البر تردن... چه ايا د هغوی د نيكئ اراده ده، ګويا هغه د دې فعل د فعل بر كيدو باندې تردد فرمائی، ځكه چه ئې ته په دې كښې د مباهات او تنافس ويره شوه، داسې تنافس كوم چه غيرت طبعی نه پيدا كيږی چه په هغې سره د اعتكاف مقصد فوت كيږی، او يا د نكير مقصد دا وو چه زينب بغير د اجازت نه خپل اعتكاف نظم كړو د هغه دپاره پرده قائم كړه نو ويره ئې پيدا شوه د دې سلسلې د زياتيدو صرف دوه پورې خبره اسانه وه چاته چه رسول الله ﷺ اجازت وركړې وو، او بيا په دې صورت كښې يعنې جمله ازواج په اعتكاف كولو او پرده قائم كولو كښې په خلقو باندې د مسجد د تنګسيا قوی امكان وو.

پس د پورته ذكر شوې وجوه په بناء هغه د خپلې خيمې د ماتولو حكم وركړو، پس هغه لرې كړې شوه، او بيا ئې ازواج مطهرات هم خيمې لرې كړې.

ما يستفاد من الحديث:

شارحين حديث فرمائی چه د دې حديث نه په مسجد كښې د خيمو د قائمولو جواز معلوميږی پس د بخاری مستقل ترجمه ده "باب الاخبية فی المسجد" او دا هم ثابته شوه چه د زنانو دپاره مسجد كښې اعتكاف افضل نه دې، بلكه دا چه كه زنانه په مسجد كښې اعتكاف اوكړی نو د هغې دپاره اولی ده چه د خپل ځان دپاره پرده رازوړنده كړی، او د امام شافعی رحمه الله نه منقول دی چه هغوی د زنانو دپاره مسجد جماعت كښې اعتكاف ته مكروه وئيلې دې، هم د دې حديث نه استدلال كولو سره.

ثم اخر الاعتكاف الى العشر الاول يعنى من شوال.

يعنې په دې كال رسول الله ﷺ په عشره اخيره كښې اعتكاف او نه فرمائيلو بيا ئې د دې په قضاء كښې د شوال د يوې عشرې اعتكاف اوفرمائيلو.

ايا په اعتكاف قطع كولو سره د هغې قضاء لازميږی؟

په دې حديث كښې دا مسئله موندلې شی اعتكاف د قضاء، پس امام مالك په خپل موطاء كښې په دې حديث باندې، "قضاء الاعتكاف" ترجمه قائم كړې ده، ابن قدامه د امام مالك دا مذهب نقل كړې دې چه "يلزمه بالنية مع الدخول فيه" چه كه د اعتكاف نيت كولو سره هغه شروع كړی نو په شروع كولو سره واجب كيږی لهذا د دې اتمام ضروری دې، او كه قطع ئې كړو نو قضاء لازم ده، او هغوی د امام احمد او امام شافعی مذهب دا ليكلې دې چه د هغوی دواړو په نزد شروع كولو سره نه لازميږی، د شروع كولو نه پس اختيار دې، د

اتمام او ترک اتمام، او د احنافو مسلک ظاهر الروایة کښې دا دې چه اعتکاف نفل خو چونکه مقدر بالزمان نه دې نو د دې قضاء لازم نه ده، او د عشره اخیره اعتکاف چونکه مقدر بالزمان دې نو د دې قضاء واجب ده، د امام ابویوسف په نزد بقیه عشره یعنی څومره ورځې باقی پاتې شوې وی او د طرفین مسلک دا دې چه د کومې ورځې اعتکاف شروع کولو نه قطع کړې دې صرف د هغه ورځې قضاء به واجب وی، د باقی عشرې نه. اهـ (ملخصاً من الابواب والتراجم) او هغه چه دریم قسم دې د اعتکاف د هغې قضاء خو به بالاتفاق واجب وی، او حافظ ابن حجر رحمه الله کوم چه شافعی المذهب دې په حدیث الباب کښې لیکلې دی چه د رسول الله ﷺ دا قضاء کول استحبابا وو. او په دې حدیث کښې دلیل دې په دې خبره باندې چه د یو سړی نه څه نفل معتاد فوت شی نو هغه لره استحبابا د هغې قضاء کول پکار دی.

قال ابوداود : رواه ابن اسحاق الاوزاعی عن یحی بن سعید ونحوه... الخ.

د مصنف رائې او په دې د محدثینو نقد :

مصنف د دې حدیث په متن کښې چه کوم د راویانو اختلاف دې هغه بیانوی هغه دا چه د یحیی بن سعید په شاګردانو کښې ابن اسحاق او اوزاعی هم دغه شان بیان کړې دې څنګه چه دلته کتاب والا سند کښې ابو معاویه او یعلی بن عبید روایت کړې دې یعنی په شوال کښې د عشرې قضاء، په خلاف د امام مالک چه کله هغه دا د یحیی بن سعید نه روایت کړو نو په ځائې د ﴿عشر من شوال﴾، ﴿عشرین من شوال﴾ روایت کړې دې.

د امام ابوداود په دې قول باندې د ټولو اشکال جوړ شوې دې ځکه چه د امام مالک روایت یحیی بن سعید په بخاری کښې او هم دغه شان په موطاء کښې موجود دې چه په هغې کښې ﴿عشرا من شوال﴾ دې نه ﴿عشرین من شوال﴾، او! یو بل اختلاف خو دې چه بعض دا د امام مالک نه مرسلا او بعض مسندا روایت کړې دې چه د هغې طرف ته امام ترمذی هم اشاره کړې ده، خو دا اختلاف کوم چه امام ابوداود بیانوی داسې بل یو ځائې کښې هم نشته. (من البذل والمنهل)

وحدیث الباب اخرجه ایضا البخاری ومسلم وابن ماجة والنسائی، وکذ البیهقی بسنده الی عمرة عن عائشة. (المنهل)

بَابُ أَيْنَ يَكُونُ الِاعْتِكَافُ

اعتکاف چرته کول پکار دی؟

[٢٤٦٥] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، أَنَّ نَافِعًا، أَخْبَرَهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ". قَالَ نَافِعٌ: وَقَدْ أَرَانِي عَبْدُ اللَّهِ الْمَكَانَ الَّذِي كَانَ يَعْتَكِفُ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَسْجِدِ.

[1]: صحيح البخاري/الاعتكاف ١ (٢٠٢٥) (دون قوله : قال نافع—)، صحيح مسلم/الاعتكاف ١ (١١٧١)، سنن ابن ماجه/الصيام ٦١ (١٧٧٣)، (تحفة الأشراف: ٨٥٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٣/٢) (صحيح)

ترجمه: د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دي نبی ﷺ به د رمضان په آخری لسو شپو کښې اعتکاف کوو. نافع وائی چه عبدالله ماته په مسجد کښې د نبی ﷺ د اعتکاف ځائې ښودلې وو.

د رسول الله ﷺ د معتکف د محل تعیین:

نافع فرمائی چه زما استاذ عبدالله بن عمر رضی الله عنه ماته د مسجد هغه ځائې چرته به چه رسول الله ﷺ اعتکاف کولو، د ابن عمر په یو روایت کښې دی (کوم چه په سنن ابن ماجه کښې دې) چه رسول الله ﷺ به چه کله د اعتکاف اراده فرمائیله نو د هغه درې به خوره کړې شوه یا به ئې کټ واچولې شو، د اسطوانه توبه شاته او د بیهقی په روایت کښې د وراء اسطوانة التوبه په ځائې ﴿ الی اسطوانة التوبة مما یلی القبلة یستند الیها ﴾ یعنی د اسطوانه توبه سره یوځائې کولو باندې د قبلې طرف ته چه هغې ته تکیه اولګولې شی (قبلې طرف ته مخ کولو سره) اهـ من البذل.

په مسجد نبوی شریف کښې بعض اسطوانات د نومونو د تعیین سره د تاریخ په کتابونو او د خلقو ترمینځه مشهور دی، د دې اسطوانات چه کوم اولنې صف دې د محراب نبوی سره متصل هلته چه د محراب ګس طرف ته کومه اسطوانه ده هغه د اسطوانه عائشه رضی الله عنها په نوم باندې ده، د هغې نه پس د روضې طرف ته چه کومه اسطوانه ده هم د هغې نوم اسطوانه توبه ده. (۱) په هغې باندې اسطوانه ابی لبابه او اسطوانه توبه لیکلې شوې دی، د رسول الله ﷺ د دې معتکف د تعیین نه معلومه شوه چه دا اسطوانه حجره عائشه رضی الله عنها ته ډیره نزدې وه په ظاهره هم په دې وجه باندې د مسجد دې کټ رسول الله ﷺ د اعتکاف دپاره منتخب اوفرمائیلو د دې دپاره چه د ضرورت په وخت حجرې ته د تلو راتلو سهولت وی، پس وړاندې روایت کښې سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی ﴿یدنی الی راسه فارجله ﴾رسول الله ﷺ به په خپل معتکف کښې په ناسته ناسته باندې خپل سر مبارک ماته نزدې کړو، پس ما به د هغه ویښته ګومنځ کړل.

اعتکاف چرته او په کوم مسجد کښې صحیح دې مع اختلاف ائمه

په بذل المجهود کښې حضرت د دې حدیث او د مصنف د ترجمة الباب په مناسبت سره دلته دا مسئله چه اعتکاف چرته او په کوم مسجد کښې صحیح دې او په هغې کښې چه د علماء کرامو کوم اختلاف دې هغه ئې د امام نووی رحمه الله نه نقل کړې دې اګر چه دا مسئله مونږ سره د باب الاعتکاف په شروع کښې بالتفصیل راغلې ده، د امام نووی رحمه الله کلام

(۱) دې ته اسطوانه توبه په دې وجه ونیلې شی چه په غزوه بنو قریظه کښې چه یهود کله په قلعه کښې محصور شو او سعد بن معاذ رضی الله عنه د هغوی د قتل فیصله اوفرمائیله چه د هغې قصه د حدیث په کتابونو کښې مشهور ده نو په دې موقع باندې سیدنا ابو لبابه بن المنذر رضی الله عنه د یهودو طرف ته په خپل ستې باندې لاس راښکلو سره د فیصلې اشاره اوکړه یعنی د قتل فیصله شوې ده بیا فورا د هغه خیال راغلو چه دا خو یو قسم خیانت شو چه د رسول الله ﷺ په موجودګئ کښې زه مخکښې شوم، او خلاف مصلحت یو کار اوشو نو هغه د هغه ځان نه واپس راغلو او خپل ځان ئې په مسجد نبوی کښې په یوې ستنې پورې اوتړلو، خوارلس ورځې پس چه کله د هغه توبه نازله شوه نو بیا رسول الله ﷺ پرانستلو، دا ده د هغې وجه تسمیه. حبیب الله.

چونکه مختصر او جامع دي په دې وجه د هغې خلاصه نقل کولې شي.

اعتکاف چرته او په کوم مسجد کښې صحيح دې :

امام نووي رحمه الله فرمائي : د دې احاديثو نه معلوميږي چه اعتکاف که د هر چا وي برابره خبره ده که سړې وي يا ښځه په غير د مسجد نه صحيح نه دې، رسول الله ﷺ او د هغه ازواج او اصحاب چه کله هم اعتکاف کړې دې نو په مسجد کښې ئې کړې دې، پس که اعتکاف په کور کښې جائز وې نو هغه به ئې کم از کم يو ځل کړې وې، خصوصا د زنانو مسئله، پس د جمهور علماء او ائمه ثلاثه مسلک هم دا دې، او د امام ابوحنيفه په نزد د زنانه اعتکاف مسجد بيت کښې صحيح دې، هغه فرمائي چه د امام ابوحنيفه د مذهب په شان د امام شافعي قول قديم هم دې کوم چه د اصحاب شافعي په نزد ضعيف دې، او په دې کښې يو دويم مذهب دې کوم چه بعض اصحاب مالک او بعض اصحاب شافعي اختيار کړې دې چه سړې وي يا زنانه د دواړو اعتکاف دکور په مسجد کښې صحيح دې، بيا جمهور علماء کوم چه د مسجد عام (يعني مسجد شرعي) د اشتراط قائل دي په هغې کښې د امام شافعي او امام مالک په نزد اعتکاف په هر يو مسجد کښې صحيح دې، او د امام احمد او ابوحنيفه په نزد صرف په مسجد جماعت کښې، او د امام زهري او بعض نورو علماء کرامو په نزد اعتکاف صحيح دې په مسجد جامع کښې يعني چرته چه د جمعې مونځ کيږي، او د سيدنا حذيفه بن يمان رضي الله عنه مشهور صحابي نه منقول دې د اعتکاف اختصاص د مساجد ثلاثه سره، المسجد الحرام ومسجد المدينة والمسجد الاقصى.اه

والحديث اخرجه ايضا مسلم وابن ماجة والبيهقي بزيادة نافع، واخرجه البخاري بدونها. (المنهل)

[۲۴۶۶](¹) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِي حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَعْتَكِفُ كُلَّ رَمَضَانَ عَشَرَةَ أَيَّامٍ، فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ اعْتَكَفَ عِشْرِينَ يَوْمًا".

ترجمه: د ابوهريره نه روايت دې نبي ﷺ به په تمام رمضان کښې لس ورځې اعتکاف کوو او دوفات په کال ئې شل ورځې اعتکاف اوکړو.

رسول الله ﷺ په خپل اخري رمضان کښې دوه عشره اعتکاف اوکړو :

قوله: قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَعْتَكِفُ كُلَّ رَمَضَانَ عَشَرَةَ أَيَّامٍ..الخ:

يعني رسول الله ﷺ به هر رمضان کښې د هغې په اخري عشره کښې اعتکاف کولو او چه کله هغه کال راغلو کوم چه د هغه د وفات کال وو د هغې په رمضان کښې هغه دوه عشره اعتکاف اوفرمائيلو.

علماء کرام او شارحين حديث د دې مختلف مصلحتونه ليکلې دي يو دا چه رسول الله ﷺ ته د وفات د قرب علم شوې وو په دې وجه ئې اوغوښتل چه په اعمال خير کښې اضافه کيدل پکار دي او په دې کښې د امت تعليم هم مقصود دې چه کله انسان عمر طبعي ته اورسيږي نو هغه لره په عمل کښې مزيد مجاهده کول پکار دي د دې دپاره چه غوره نه

¹): صحيح البخاري/الاعتكاف ١٧ (٢٠٤٤)، فضائل القرآن ٧ (٤٩٩٨)، سنن ابن ماجه/الصيام ٥٨ (١٧٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٢٨٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٨١، ٣٣٦، ٣٥٥، ٤١٠)، سنن الدارمي/الصوم ٥٥ (١٨٢٠) (حسن صحيح)

غوره حالت کښې د الله پاک سره ملاقات اوکړې شي، يوه بله وجه هم د دې مشهوره ده چه د سيدنا جبرائيل علیه السلام معمول رسول الله ﷺ سره په هر رمضان کښې يو ځل د قران کريم د دور کولو وو، بيا چه کله د عمر اخرې کال راغلو نو هغه کال په رمضان کښې سيدنا جبرائيل علیه السلام د هغه سره د قران کريم دوه کرته دور اوکړو نو هم په دې مناسبت سره رسول الله ﷺ د اعتکاف موده هم دوچند کړه، حافظ نورې هم يو دوه وجې ليکلو نه پس ليکلي دي چه د دې ټولو وجوه نه زيات قوي دا وجه معلوميږي چه په کوم کال باندې ئې دوه عشرې اعتکاف کړې وو دا هغه کال دې چه د هغې نه مخکښې کال په رمضان کښې رسول الله ﷺ مسافر وو چه د هغې د وجې نه اعتکاف نه وو کړې شوې، د دې دليل کښې حافظ د ابوداود هغه روايت پيش کړې دې کوم چه مونږ سره د باب الاعتکاف دويم حديث دې کوم چه د ابی بن کعب رضی الله عنه نه نقل دې چه د هغې حاصل دا شو چه په دې دوه عشرې والا اعتکاف کښې يوه عشره قضاء اعتکاف وو کوم چه د سفر د وجې نه قضاء راغلې وه. اهـ

خو د حافظ په دې توجيه کښې دا اشکال دې چه په کوم کال باندې د رسول الله ﷺ اعتکاف د سفر د عذر د وجې نه پاتې شوې وو هغه د هجرت د اتم کال والا رمضان وو او دا دوه عشرو والا اعتکاف د هغې نه روستو نه دې بلکه د هجرت د لسم کال والا قصه ده. کيدې شي چه د دې نه غوره د ابن العربي رحمه الله دا توجيه ده چه هر کله يو ځل رسول الله ﷺ د ازواج مطهرات د طرف نه د ناراضګئ د واقعې راتلو نه پس اعتکاف ترک کړو او د هغې قضاء په عشره شوال کښې وو نو د هغې کما حقه کمې نه پوره کيدو د وجې نه په وجه د غير رمضان کښې د کيدو اوس دوباره د هغې قضاء په اصل وخت کښې رسول الله ﷺ اوکړه، په دې صورت کښې به دا تسليم کولې شي چه دا د ناراضتيا والا کال د هجرت نهم کال وو د دې دپاره چه حديث الباب پرې منطبق شي.

والحديث اخرجه ايضا البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجة والدارمي والبيهقي. (المنهل)

بَابُ الْمُعْتَكِفِ يَدْخُلُ الْبَيْتَ لِحَاجَتِهِ

اعتکاف کونکې د ضرورت دپاره کورته تلې شي

[۲۴۶۷] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا اعْتَكَفَ يُدْنِي إِلَيَّ رَأْسَهُ فَأُرَجِّلُهُ، وَكَانَ لَا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ".

ترجمه: دام المومنين عائشې رضی الله عنها نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به په اعتکاف کښې وو اوخپل سربه ئې ماته رانزدې کړو اومابه ګومنزولو، اوکورته به نه راتلو مګر دانسانی ضرورتونودپاره.

توضيح الحديث

قوله: قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِذَا اعْتَكَفَ..الخ:

(۱): صحيح مسلم بالحيض ۳ (۲۹۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۰۸)، وقد أخرجه: موطا امام مالك بالطهارة ۲۸ (۱۰۲)، الاعتكاف ۱ (۱)، ۷ (۷)، مسند احمد (۱۰۴/۶، ۲۰۴، ۲۳۱، ۲۴۷، ۲۶۲، ۲۷۲، ۲۸۱)، سنن الدارمي بالطهارة ۱۰۷ (۱۰۸۵) (صحيح)

سیده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه رسول الله ﷺ چه به کله په اعتکاف کښې وو نو په خپل معتکف کښې به وو ماته به ئې خپل سر مبارک رانزدې کړو، او زه به د خپلې حجرې په دروازه باندې اوم (او دا مخکښې ذکر شو چه د رسول الله ﷺ معتکف د عائشې رضي الله عنها د حجرې سره یوځائې وو) نو ما به ورله د سر مبارک ویښتنه ګومنځ کړل (ځکه چه رسول الله ﷺ ذو وفره وو) بیا وړاندې فرمائي : او هغه به د انساني حاجت نه علاوه د بل یو کار دپاره هم د مسجد نه حجرې ته نه داخلیدو.

د حاجت انسانیه تفسیر په بعض روایاتو کښې په بول وبراز سره راغلې دې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د دې دواړو په استثناء باندې خو ټول علماء کرام متفق دي، او د دې دواړو نه علاوه نور ضروریات لکه خوراک او څکاک نو دې باره کښې اختلاف دې او وړاندې لیکي او د بول وبراز سره قئ او فصد چاته چه د دې ضرورت راشي ملحق دي الی اخر ما ذکر فی البذل.

د ګومو ګومو حاجتونو دپاره معتکف د مسجد نه وتلې شي:

په کتب حنفیه کښې په نور الایضاح او د هغه شرح مراقی الفلاح کښې دي : ولا یخرج منه الا لحاجة شرعیة کالجمعة والعیدین، او حاجة طبعیة کالبول والغائط وازالة نجاسة واغتسال من جنابة باحتلام، او حاجة ضروریة کانهدام المسجد واداء شهادة تعینت علیه، او بیا وړاندې هم په دې کښې دي : او د معتکف خوراک څکاک او د خپل ضرورت د څیز اخستل او خرڅول د دې ټولو څیزونو په مسجد کښې کیدل ضروري دي، د دې څیزونو دپاره خروج عن المسجد مفسد اعتکاف دې او وئیلې شوې دي چه د خوراک څکاک دپاره د غروب نه روستو وتلې شي، یعنې کله چه څوک خوراک رسولو والا نه وي ځکه چه په دې صورت کښې به دا وتل د حوائج ضروریه نه وي. اهـ بزیادة من الطحاوی ۵۸۰،او هدایه ۲۲۵ کښې دي : ولو خرج من المسجد ساعة بغیر عذر فسد اعتکافه عند ابی حنیفة وهو القیاس وقالا لا یفسد حتی یکون اکثر من نصف یوم وهو الاستحسان، لان فی القلیل ضرورة. اهـ او په کتب شافعیه کښې دي چه که یو سړې په اعتکاف منذور کښې د خوراک څکاک د کولو د ضرورت د وجې نه، یا هم دغه شان د بول وبراز یا حیض او مرض د وجې نه د مسجد نه بهر راشي نو اعتکاف به باطل نه وي. التبینة للشیرازی) او په کتب مالکیه کښې طلب غذا په مستثنیات کښې شمار کړې شوې ده خو خوري به ئې مسجد ته داخلیدو سره هم دغه شان په الروض المربع (فی فقه الحنابلة) کښې طعام او شراب لره مسجد ته راوړلو دپاره د ضرورت په وخت وتل جائز لیکلې شوې دي، ففیه : ولا یخرج المعتکف الا لما لا بد منه کاتیانه بماکل ومشرب لعدم من یاتیه بهما. اهـ

په راروان باب کښې د عائشې رضي الله عنها حدیث موقوف راروان دې ﴿السنة علی المعتکف ان لا یعود مریضا ولا یشهد جنازة ﴾ حافظ لیکي چه د نخغي او حسن بصري نه نقل دي چه که معتکف عیادة المریض یا د صلاة جنازه دپاره د مسجد نه اوځي نو د هغه اعتکاف به باطل شي او هم د دې قائل دي کوفیان او امام شافعي او اسحاق او ثوري فرمائي چه د دې

ځیزونو دپاره د وتلو شرط د اعتکاف په شروع کښې اولګوی نو بیا به په خروج سره اعتکاف باطل نه وی او هم دا خبره په یو روایت کښې د امام احمد نه نقل ده، حضرت شیخ په الابواب والتراجم کښې لیکی چه امام احمد ابتداء په اعتکاف کښې د جواز اشتراط قائل دې خو امام مالک د دې انکار کړې دې چه د هغې تصریح په موطاء کښې ده، خو دا مسئله ما په فروع حنفیه کښې نه ده موندلې بلکه په بعض عبارتونو کښې اشاره ملاویږی د دې د عدم جواز طرف ته، او! که د نذر په وخت شرط اولګوی د عیادت مریض یا د صلاة جنازه دپاره د خروج نو بیا جائز ده، کما فی الدر المختار وغیره. اھ معلومه شوه چه امام شافعی او امام احمد د جواز اشتراط قائل دی لهذا د شرط لګولو په صورت کښې به وتل جائز وی، او احناف او مالکیان د دې قائل نه دی، او! احناف د نذر د منلو په وخت د جواز اشتراط قائل دی لهذا په دې صورت کښې به وتل جائز وی، او دا مسئله ابتداء اعتکاف د باب الاعتکاف په شروع کښې تیره شوې ده چه داحناف او حنابله په نزد خروج للجمعة قاطع اعتکاف نه دې په خلاف د شافعیه او مالکیه، مونږ دا څو ضروری مسائل هم په دې ځائې کښې رایوځائې کړل اګر چه په دې کښې د بعض متعلق ترجمه مصنف وړاندې تلو سره خپله قائم کړې ده.

والحدیث اخرجه ایضا مالک فی الموطاء ومسلم بعنعنته عروة عن عمرة (فی کتاب الحیض) ورواه الترمذی (المنهل)

[۲۴۶۸](¹)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَلَمْ يُتَابِعْ أَحَدٌ مَالِكًا عَلَى عُرْوَةَ، عَنْ عَمْرَةَ. وَرَوَاهُ مَعْمَرٌ وَزِيَادُ بْنُ سَعْدٍ وَغَيْرُهُمَا، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ.

ترجمه: دام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت دې دنبی علیه السلام نه دتیر روایت په شان روایت بیان کړې دې، ابوداود وائی چه همدا رنګې یونس دزهری نه په واسطه دعروه، عمره، نه په نقل کولو کښې دمالک څوک متابع نشته، اومعمر اوزیاد بن سعدهم دزهری نه هغه دعروه نه هغه دعائشې نه نقل کړې دې.

[۲۴۶۹](²)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَكُونُ مُعْتَكِفًا فِي الْمَسْجِدِ، فَيُنَاوِلُنِي رَأْسَهُ مِنْ خَلَلِ الْحُجْرَةِ فَأَغْسِلُ رَأْسَهُ". وَقَالَ مُسَدَّدٌ: فَأُرَجِّلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ.

ترجمه: دام المومنین عائشې رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به په جومات کښې په اعتکاف کښې ناست وو اوخپل سربه ئې ماته رانزدې کړو دخیمې په سوری کښې اومابه وینځلو اومسدد وائی چه مابه ګومنزولو اوزه به حائضه وم.

¹): صحيح البخاري/ الاعتكاف ٣ (٢٠٢٩)، صحيح مسلم/الحيض ٣ (٢٩٧)، سنن الترمذي/الصيام ٨٠ (٨٠٥)، سنن النسائي/ الكبرى/ الاعتكاف (٣٣٧٥)، سنن ابن ماجه/الصوم ٦٣ (١٧٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٦/٦) (صحيح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٨٧٠) (صحيح)

[۲۴۷۰]( )حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ شَبُّوَيْهِ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ صَفِيَّةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعْتَكِفًا، فَأَتَيْتُهُ أَزُورُهُ لَيْلًا فَحَدَّثْتُهُ ثُمَّ قُمْتُ، فَانْقَلَبْتُ فَقَامَ مَعِي لِيَقْلِبَنِي"، وَكَانَ مَسْكَنُهَا فِي دَارِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. فَمَرَّ رَجُلَانِ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَلَمَّا رَأَيَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْرَعَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَلَى رِسْلِكُمَا، إِنَّهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ. قَالَا: سُبْحَانَ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ، فَخَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا، أَوْقَالَ: شَرًّا.

ترجمه: دام المومنین صفیة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام په اعتکاف کښې وو اوزه دشپې دهغه دملاقات دپاره ورغلم چه خبرې اترې مې ورسره اوکړې بیا پاڅیدم روانه شوم نونبی علیه السلام هم ماسره زما د رسولو دپاره پاڅیدو، اود صفیه رهائش ګاه داسامه بن زید په کورکښې وه نو یودوه انصاریان په لاره تیریدل هرکله چه نبی علیه السلام ولیدل. نوهغوی په منډه شول نبی علیه السلام اوفرمائیل په خپل رفتار لاړشئ داصفیة بنت حیي ده هغوی ووئیل سبحان الله اې دالله رسوله نبی علیه السلام اوفرمائیل شیطان دانسان په رګونوکښې چلن کوي دوینې په شان زه ویریدم چه ستاسو په زړونوکښې څه بدګمانې پیدا نه شی. دراوي شك دې یا داسې ئی ووئیل چه ستاسو په زړونو کښې شر پیدا نه شی.

شرح حدیث :

سیده صفیه رضی الله عنها فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ خواته چه کله هغه په مسجد کښې معتکف وو د هغه د لیدو دپاره لاړم، لږ ساعت ورسره ما خبرې اوکړې او بیا چه راروانه شوم نو هغه زما د رخصت کولو دپاره ما سره اودریدو او ما سره لږ شان لاړو نو هم په دې دوران کښې دوه انصاری کسان د مسجد مخې ته تیر شو چه کله هغوی زمونږ طرف ته اوکتل نو په تیزئ سره وړاندې لاړل چه کوم طرف ته روان وو یعنی د رسول الله ﷺ د خاطره او په دې خیال سره چه دې وخت کښې مونږ له دې طرف ته کتل نه دی پکار. رسول الله ﷺ هم په دې خبره پوهه شو په دې وجه ئې هغوی د تیز تلو نه منع کړو او وې فرمائیل ﴿علی رسلکما﴾ یعنی په خپل رفتار باندې ځائې د تیز تلو ضرورت نشته، ځکه چه دا زنانه په چا پسې چه زه روان اوم زما زوجه صفیه ده. ﴿قالا سبحان الله یا رسول الله﴾ یعنی هغوی په دې باندې عرض اوکړو چه سبحان الله! توبه توبه یا رسول الله! یعنی الله دې نه کړی زمونږ څه بدګمانی نه ده پیدا شوې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ان الشیطان یجری من ابن ادم مجرم ادم. شیطان چونکه د انسان سره هر وخت لګیدلې وی په دې وجه زما شك پیدا شو چه هغه ستاسو په زړه کښې څه وسوسه پیدا نه کړی، په روایت کښې دی ﴿وکان مسکنها دار اسامة بن زید﴾ چه د سیده صفیه رضی الله عنها استوګنه د اسامه بن زید رضی الله عنه په کور کښې وه، د دې نه مراد دا دې کما قال الشراح چه په هغه کور کښې وه کوم چه روستو اسامه ته ملاؤ شوې وو ځکه چه د کوم

[1]): صحيح البخاري/الاعتكاف ١١ (٢٠٣٨)، ١٢ (٢٠٣٩)، بدء الخلق ١١ (٣٢٨١)، الأحكام ٢١ (٧١٧١)، صحيح مسلم/السلام ٩ (٢١٧٥)، سنن ابن ماجه/الصيام ٦٥ (١٧٧٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٩٠١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٦/٣، ٢٨٥، ٣٠٩، ٣٣٧/٦)، سنن الدارمي/الصوم ٥٥ (١٨٢١)، ويأتي هذا الحديث في الأدب (٤٩٩٤) (صحيح)

وخت دا واقعه ده هغه وخت د اسامه خه مستقل کور نه وو، په ظاهره کښې مطلب دا دې چه رسول اللهﷺ د هغه ځائې پورې د رخصت کولو دپاره راغلو) او د دې نه په روستو روایت کښې دا دی، حتی اذا کان عند باب المسجد الذی عند باب ام سلمة مر بهما رجلان... یعنی چه کله رسول اللهﷺ د مسجد هغه دروازې ته نزدې راورسیدو کوم چه د ام سلمه باب ته نزدې ده نو هغه وخت هغه دوه کسان د رسول اللهﷺ خوا کښې تیر شو، یعنی رسول اللهﷺ او صفیه خو ئې پیژندلې وو د دار اسامه پورې چرته چه هغه اوسیدلو خو لا هلته نه وو رسیدلې بلکه باب ام سلمه پورې تلې وو نو هغه وخت دا دوه کسان د رسول اللهﷺ په لیدو باندې هغه ځائې کښې تیر شو. امام بخاریؒ په دې حدیث باندې ترجمه قائم کړې ده. ﴿هل یخرج لحوائجه الی باب المساجد﴾ د دې ترجمة الباب تقاضه دا ده چه رسول اللهﷺ د سیده صفیه د رسولو دپاره د مسجد نبوی د هغه دروازې پورې تشریف یوړلو کومه چه د باب صفیه په محاذاة کښې وه او د مسجد نه بهر وتل مراد نه دی ځکه چه د امهات المومنین بیوت د مسجد نبوی د دروازو په حوالی کښې وو. هکذا افاد الحافظ فی الفتح. او زمونږ حضرت هم په بذل کښې هم دا خبره مختصرا لیکلې ده، خو بعض شارحین چه په هغې کښې خطابی هم دې او د صاحب منهل په کلام کښې هم دی چه په دې موقع باندې رسول اللهﷺ د مسجد نه بهر هغې له د رسولو دپاره راوتلې وو، او دا چه دا واقعه دلیل دې په دې خبره باندې چه که یو سړې په اعتکاف کښې د یو ضروری امر واجب دپاره بهر راوځی نو په دې سره اعتکاف نه فاسد کیږی، حضرت شیخ هم په حاشیه د بذل کښې دا لیکلې دی چه صاحب رسائل الارکان د دې حدیث نه استدلال کولو سره د صاحبینو مسلک ثابت کړې دې لکه چه اوس نزدې د صاحبین او امام صاحب اختلاف د جواز خروج په باره کښې د هدایه نه تیر شوې دې.

والحدیث اخرجه احمد والبخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه والبیهقی. (المنهل)

[۲۴۷۱]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا، قَالَتْ: حَتَّى إِذَا كَانَ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ الَّذِي عِنْدَ بَابِ أُمِّ سَلَمَةَ، مَرَّ بِهِمَا رَجُلَانِ، وَسَاقَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: شعیب د زهري نه دهغه په سند سره روایت بیان کړې دې مګرددې اضافي ستره چه هغې ووئیل چه کله مونږ دام سلمه ددروازې سره دجومات دروازې ته ورسیدو کومه چه د ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها د دروازې سره ده نوهغوی ته نزدې دوه سړی تیرشو، اوباقی حدیث ئې دتیر شوی حدیث په شان بیان کړو.

بَابُ الْمُعْتَكِفِ يَعُودُ الْمَرِيضَ

د معتکف دبیمار د پوښتنې په بیان کښې

[۲۴۷۲]([2]) حَدَّثَنَا عبد الله بن محمد النفیلی، وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ النُّفَيْلِيُّ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۵۹۰۱) (صحیح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۱۵) (ضعیف)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَمُرُّ بِالْمَرِيضِ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ، فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ وَلَا يُعَرِّجُ يَسْأَلُ عَنْهُ"، وَقَالَ ابْنُ عِيسَى: قَالَتْ: إِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُ الْمَرِيضَ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ.

ترجمه: دام المومنين عائشي رضي الله عنها نه روايت دي فرمائی چه نبی عليه السلام به په مريض تيريدواوهغه به په اعتكاف كښې وو او پوښتنه به ئي اوكړه او متوجه كيدوبه ورته نه. ابن عيسي وئيلي دي چه نبی عليه السلام به په اعتكاف كښې دمريض بيمار پرسی كوله.

توضيح الحديث

يعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به د ضرورت انسانيه دپاره بهر تشريف اوړلو نو د مريض تپوس او د هغه د حال تپوس به ئي په تلو تلو كښې كولو او هغه سره به ايساريدلو نه، او په بل روايت كښې دی چه ﴿يعود المريض وهو معتكف﴾، هلته به هم دا وئيلي شی كوم چه پورته ليكلي شوي دي، او كه هغه مستقل د عيادت مريض دپاره خروج باندې محمول كړې شی نو دا هم صحيح ده خو په دې صورت كښې به دا په نفلی اعتكاف باندې محمول وی. اهـ من البذل ملخصاً، په دې مسئله كښې د نورو ائمه كرامو مذاهب او اختلاف علماء په مخكښې باب كښې تير شو. والحديث اخرجه ايضا البيهقي وهو ضعيف. (المنهل)

[۲۴۷۳]([1]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "السُّنَّةُ عَلَى الْمُعْتَكِفِ أَنْ لَا يَعُودَ مَرِيضًا وَلَا يَشْهَدَ جَنَازَةً وَلَا يَمَسَّ امْرَأَةً وَلَا يُبَاشِرَهَا وَلَا يَخْرُجَ لِحَاجَةٍ إِلَّا لِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ، وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا بِصَوْمٍ، وَلَا اعْتِكَافَ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: غَيْرُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، لَا يَقُولُ فِيهِ: قَالَتْ: السُّنَّةُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: جَعَلَهُ قَوْلَ عَائِشَةَ.

ترجمه: دام المومنين عائشي رضي الله عنها نه روايت دي فرمائی چه دمعتكف دپاره سنت طريقه داده چه دچا بيمار پرسي دي نه كوي اوجنازوته به نه ځي، اونه به ښځي مسحه كوي اونه به ورسره مباشرت كوي اودخپل ځائي نه به نه اوځي مگردهغه حاجت دپاره دكوم نه چه خلاصي نه وی اواعتكاف بغيردروژې نه نشته اواعتكاف دجامع مسجدنه بغير صحيح نه دي. ابوداود وائی دعبدالرحمان بن اسحاق نه علاوه چاداجمله (قالت السنة) نه ده وئيلي، ابوداود وائی راوی دي لره دعائشې قول گرځولي دي.

توضيح الحديث

په اوجز المسالک كښې د ﴿ولا تباشروهن وانتم عاكفون فی المساجد﴾ د لاندې ليكلي شوې دی چه د مباشرت نه مراد جماع ده. علامه عينی رحمه الله فرمائی چه ابن المنذر په دې باندې د علماء كرامو اجماع نقل كړې ده او د بعض علماء كرامو نه نقل دی چه د دې نه مراد مس بالشهوة دې او په شرح احياء كښې ليكلی دی چه د اعتكاف په حالت كښې كه مس مراة بغير د شهوت نه وی نو دا د اعتكاف منافی نه ده بغير د خلاف نه، خو كه په شهوت سره وی نو هغه حرام دې خو په دې كښې اختلاف دې چه په دې سره اعتكاف فاسد كيږی يا نه، د امام مالک په نزد فاسد كيږی اگر چه انزال نه وی شوی، او د باقی ائمه ثلاث په

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۳۵۴) (حسن صحيح)

نزد د انزال په صورت کښي فاسد کيږي ګيني نه، او د جماع په باره کښي د ائمه ثلاث مذهب دا دې چه هغه مطلقا مفسد اعتکاف دې، که عمدا وي يا نسيانا، او د امام شافعي په نزد جماع ناسيا مفسد اعتکاف نه ده. اهـ

﴿ ولا اعتكاف الا في بصوم ولا عتكاف الا في مسجد جامع ﴾ په دې باندې کلام په مخکښي ابواب کښي تير شوې دې. والحديث اخرجه ايضا البيهقي والدارقطني (المنهل)

[۲٤۷٤][1] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ بُدَيْلٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جَعَلَ عَلَيْهِ أَنْ يَعْتَكِفَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ لَيْلَةً أَوْ يَوْمًا عِنْدَ الْكَعْبَةِ، فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "اعْتَكِفْ وَصُمْ".

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې چه عمر رضي الله عنه په جاهليت کښي نذرمنلي وو چه اعتکاف به کوم يوه شپه يايوه ورځ دکعبي سره، نو دنبي عليه السلام نه ئي تپوس اوکړو نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل اعتکاف اوکړه او روژه ونيسه.

مضمون حديث :

ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چه زما والد سيدنا عمر رضي الله عنه په زمانه جاهليت کښي نذر منلي وو د دې خبرې چه هغه به يوه ورځ اعتکاف کوي په مسجد حرام کښ، پس د دې نذر په باره کښي ئي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چه پوره کول پکار دي يا نه؟ دا سوال عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په مقام جعرانه کښي کړې وو د غزوه حنين نه روستو، چرته چه غنائم حنين راجمع کړې شوې وو او هلته د هغه په خدمت کښي وفد هوازن حاضر شوې وو د قيديانو د ازادولو د درخواست دپاره، د دې قرينه وراندې روايت دې کوم چه د دې نه روستو راروان دې، په دې حديث کښي دوه مسئلي دي يو نذر جاهليت، ايا د دې پوره کول واجب دي يا نه؟ دويمه مسئله صوم معتکف، دا دويمه مسئله د دې نه مخکښي تيره شوه.

د جاهليت د نذر پوره کول واجب دي يا نه؟

پاتې شوه دا مسئله پس په دې باندې امام بخاري مستقل باب قائم کړې دې، باب اذا نذر في الجاهلية ان يعتكف لم اسلم... د هغې د لاندې هغه هم دا حديث ذکر فرمائيلي دې. الابواب والتراجم کښي ليکلي دي چه د حنابله په نزد نذر جاهليت صحيح دې (د هغه په نزد صحت د نذر دپاره اسلام د ناذر شرط نه دې) او د ائمه ثلاث په نزد دا نذر معتبر نه دې، لهذا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طرف نه د نذر پوره کولو حکم د جمهورو په نزد په استحباب باندې محمول دې وعند احمد للوجوب. اهـ د صوم په باره کښي د علماء کرامو مذاهب تير شوې دي چه د مالکيانو په نزد مطلقا شرط دې او شافعيه او حنابله په نزد مطلقا شرط نه دی، او د احنافو په نزد اعتکاف منذور او غير منذور کښي فرق دې د منذور دپاره صوم شرط دې د

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۳٥٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الاعتكاف ١٦ (۲۰٤۳)، صحيح مسلم/الأيمان والنذور ۷ (١٦٥٦)، سنن الترمذي/الأيمان والنذور ١١ (١٥٣٩)، سنن النسائي/الكبرى/ الاعتكاف (۳۳٥٥)، كلهم رووا هذا الحديث بلفظ: «أوف بنذرك». (صحيح) دون قوله: «أو يومًا» وقوله: «وصم»

غير منذور دپاره نه، امام بخاری رحمه الله باب ترلي دې، باب الاعتكاف ليلا... او په هغې كښې ئې هم دا د عمر رضي الله عنه حديث ذكر فرمائيلي دې چه د هغې الفاظ په بخارى كښې دا دى ﴿ان اعتكف ليلة ﴾د دې نه شوافع او حنابله استدلال كړې دې په صحت اعتكاف بلا صوم باندې، ځكه چه ليل محل د صوم نه دې، زمونږ د طرف نه د دې جواب وركړې شوې دې چه په دې قصه د عمر كښې روايات مختلف دى پس په بخارى كښې "ليلة" دې او صحيح مسلم كښې ﴿يوما ﴾دې، په ځائې د ﴿ليلة ﴾او دلته په ابوداود كښې ﴿ليلة ﴾او ﴿يوما ﴾شك سره لهذا دشافعيه وغيره استدلال د دې نه صحيح نه دې، او بله وجه دا هم ده چه ډير كرته عرب د ليل اطلاق په نهار باندې كوى، علامه عينى رحمه الله فرمائى : د بخارى په روايت كښې صرف ﴿ليلة ﴾دې او د مسلم په روايت كښې ﴿يوما ﴾او د نسائى په روايت كښې دى ﴿فامره رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يعتكف ويصوم ﴾لهذا د رواياتو د مجموعې نه معلوميږى چه د هغه نذر يوم او ليل د دواړو سره متعلق وو. اهـ من هامش اللامع مختصرا،زه وائم د نسائى په شان دلته د ابوداود په روايت كښې هم امر بالصوم مذكور دې. والحديث اخرجه ايضا الدارقطنى واخرجه البيهقى ورواه الحاكم ومسلم بدون ذكر الصيام (المنهل ملخصاً)

[٢٤٧٥](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ يَعْنِي الْعَنْقَزِيَّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُدَيْلٍ، بِإِسْنَادِهِ نَحْوَهُ، قَالَ: فَبَيْنَمَا هُوَ مُعْتَكِفٌ إِذْ كَبَّرَ النَّاسُ، فَقَالَ: مَا هَذَا يَا عَبْدَ اللهِ؟ قَالَ: سَبْيُ هَوَازِنَ، أَعْتَقَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: وَتِلْكَ الْجَارِيَةُ فَأَرْسَلَهَا مَعَهُمْ.

ترجمه: عبدالله بن بديل هم داروايت په خپل سند سره دتير روايت په شان نقل كړې دې مګردې اضافې سره چه عمر رضي الله عنه په اعتكاف كښې ووكله چه خلقو تكبير ووئيلو نوهغه تپوس اوكړواې عبدالله داڅه دى؟ هغه جواب وركړوچه دهوازن قيديان نبى عليه السلام آزاد كړې دې نوعمر رضي الله عنه ووئيل هغه وينځه هم دهغوى سره پريږده.

توضيح الحديث

سيدنا ابن عمر رضي الله عنه فرمائى چه كوم وخت زما والد محترم عمر رضي الله عنه معتكف وو يعنى په مسجد حرام كښې (دا هم هغه اعتكاف دې چه د هغې ذكر پورته روايت كښې راغلې دى يعنى نذر جاهليت والا) هغه فرمائى : ناڅاپه د خلقو اوازنه اوچت شو او د تكبير وئيلو اواز راغلو، نو زما والد محترم زما نه تپوس اوكړو چه دا څنګه اواز دې؟ ما عرض اوكړو چه د قبيله هوازن قيديان دى كوم چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ازاد كړې دى (د صحابه كرامو سره مشوره كولو نه پس) چه د هغې بيان راروان باب فداء الاسير بالمال كتاب الجهاد كښې راشى) عمر اووې: او چه كومه وينزه دلته ده هغه هم زر پريږده هم د دې سره، دا وينزه هم هغوى سره د هوازن د وينزو نه وه او چونكه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوى د ازادئ فيصله كړې وه نو عمر رضي الله عنه د دې فيصلې په اوريدو باندې چه كومه په هغه قيديانو كښې يوه وينزه وه هغه ئې هم ازاده كړه.

(١): تفرد به أبو داود، وانظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٣٥٤) (صحيح)

بَابٌ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ تَعْتَكِفُ

استحاضې ته د اعتکاف کولو د اجازت بیان

[۲۴۷۶](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "اعْتَكَفَتْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةٌ مِنْ أَزْوَاجِهِ، فَكَانَتْ تَرَى الصُّفْرَةَ وَالْحُمْرَةَ، فَرُبَّمَا وَضَعْنَا الطَّسْتَ تَحْتَهَا وَهِيَ تُصَلِّي".

ترجمه: دام المومنين عائشې رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام سره دهغه په ببيانو کښې يوې بی بی اعتکاف کړې وو دهغې نه زيړوالي ته مائله ياسره وينه تله نومونږ به ورته لاندې کله کله خانك هم ايخودو اوهغې به مونځ کوو.

شرح حديث:

دا خو مخکښې ذکر شو چه زنانه په مسجد کښې اعتکاف کولې شي بلکه د جمهور علماء او ائمه ثلاث مذهب دا دې چه سړې او زنانه دواړه د اعتکاف دپاره د مسجد کيدل شرط دی، او د هغه په زمانه کښې زنانه مسجد کښې اعتکاف کولو، خو که اعتکاف هغه د کور په مسجد کښې اوکړی لکه چه د احنافو مذهب دې په دې کښې خو هيڅ د اشکال خبره نشته، البته که په مسجد کښې کوی لکه چه د جمهورو مسلک دې نو چونکه په دې کښې د تلويث مسجد احتمال دې چه د هغې د وجې نه دا شبهه کيدې شي چه کيدې شي اعتکاف د مستحاضه مسجد کښې جائز نه وی د دې ايهام د لرې کولو دپاره مصنف او امام بخاری هم اعتکاف مستحاضه باب تړلې دې.

مضمون حديث دا دې: سيده عائشه رضي الله عنها فرمائی چه دهغه د ازواج نه يوې زوجې محترمې په مسجد کښې هغه سره اعتکاف اوکړو (يعنی کومه چه مستحاضه وه کما فی رواية البخاری او په دې روايت کښې هم وراندې راروان دی) پس هغې به د مختلف رنګونو وينه ليده په حالت اعتکاف کښې، زيړ هم او سور هم، يعنی کله دا او کله دا. او فرمائی چه بعض وخت به مونږ د هغې د لاندې خانک کيخودلو په داسې حال کښې چه هغه به په مونځ کښې وه د دې دپاره چه که بالفرض وينه راشی نو په هغې کښې به پريوځی، حافظ د سنن سعيد بن منصور په حوالې سره ليکلې دی چه دا زوجه سيده ام سلمه رضي الله عنها وه.

د معذور صاحب حدث اعتکاف صحيح دې:

صاحب منهل ليکی : دا حديث دلالت کوی په دې خبره باندې چه د مستحاضه اعتکاف او د هغې مونځ او په هغه مسجد کښې ايساريدل جائز دی په دې شرط چه مسجد ملوث نه شی او هم دغه شان هغه سړې کوم چه دائم الحدث وی يعنی د چا چه اودس باقی نه پاتې کيږی، او هم دغه شان هغه صاحب قروح چه د هغې نه پيپ وغيره بهيږی. اهـ لهذا دا خيال دې اونکړې شی چه عين د سيلان دم په وخت باندې به مونځ څنګه صحيح وی.

¹): صحيح البخاري/الحيض ١٠ (٣٠٩)، سنن ابن ماجه/الصيام ٦٦ (١٧٨٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٣٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣١/٦)، سنن الدارمي/الطهارة ٩٣(٩٠٦) (صحيح)

زمونږ په نزد د الدر المنضود په ابواب الاستحاضه کښې دا خبره تیره شوې ده چه په ازواج مطهرات کښې د چا مستحاضه کیدل ثابت دی یا نه دی، د اکثر علماء کرامو په نزد ثابت دی، په روایات حدیثیه کښې راغلې دی خو ابن الجوزی د دې انکار کړې دی دا پوره حدیث هلته تیر شوې دې، او د حدیث الباب نه هم د جمهورو تائید کیږی، د بخاری په یو روایت کښې راغلې دی. ﴿اعتکف معه بعض نسائه﴾ نو د دې تشریح ابن الجوزی دا کړې ده چه د عائشې ﷞ مراد د ﴿من نسائه﴾ نه د رسول الله ﷺ ازواج نه دی بلکه د رسول الله ﷺ د کورنۍ زنانه دی، خو خپله په بخاری کښې بل ځائې [۱] او دلته په ابوداود کښې ﴿امراءة من ازواجه﴾ تصریح ده، په دې وجه د ابن الجوزی تاویل صحیح نه دې، هغه د هغه خپله رائې ده. والحدیث اخرجه ایضا البخاری والنسائی وابن ماجة والبیهقی. (المنهل)

﴿اخر کتاب الصیام والاعتکاف﴾ والحمد لله علی ما وفقنا لاتمامه والصلاة والسلام علی سیدنا ومولانا محمد واله وصحبه اجمعین. (کذا فی البذل، والحمد لله اولا واخرا)

الی ههنا بلغ التسوید لیلة... ۱۰ ذی قعدة ۱۴۲۱ ھ فی المدینة المنورة والبلدة الطاهرة علی صاحبها الف صلاة وتحیة.

کتاب الجهاد

جهاد سره د متعلق احکامو بیان

د کتاب النکاح په شروع کښې مونږ بیان کړې دی چه د اسلام ارکان اربعه مشهوره نه پس دوه څیزونه دعباداتو دقبیل نه بیانوی، یعنی جهاد او نکاح وغیره، هم دغه شان د محدثین او مصنفین طرز عمل د دې د ترتیب په باره کښې دا دې چه بعض مصنفینو په نکاح باندې جهاد مقدم کړې دې لکه چه امام مالک په موطاء کښ، او امام نسائی په سنن صغری او بعضو چه په هغوی کښې امام ابوداؤد هم دې هغه نکاح مقدم کړې ده په جهاد باندې.

د جهاد متعلق درې مباحث

دلته د کتاب الجهاد په شروع کښې مونږ درې بحثونه مختصرا بیانول غواړو، اول د جهاد لغوی او شرعی معنی او د هغې قسمونه، دویم د جهاد حکم، دریم د جهاد فضیلت، د جهاد مشروعیت لکه چه په تفصیل سره په راروان باب کښې به راشی د صفر په میاشت ۲ هجری کښې شوې دې.

بحث اول : د جهاد لغوی اوشرعی معنی

امام بخاری ﷫ په صحیح بخاری کښې دا سرخی قائم کړې ده ﴿کتاب الجهاد والسیر﴾ او بیا ئې د ټولو نه اول د جهاد د فضیلت په باره کښې آیاتونه او روایات ذکرکړی دی اوپه دې باره کښې څو ابواب قائم کړې دی د جهاد متعلق، بیا ئې بل عنوان قائم کړې دې، ابواب فضائل الجهاد چه د هغې د لاندې ئې ډیر ابواب د فضیلت جهاد په باره کښې قائم کړې دی،

[۱] د بخاری په ابواب الحیض کښې د «بعض نسائه» لفظ دې او په ابواب الاعتکاف» کښې «امرأة مستحاضة من ازواجه» لفظ دې.

دریم عنوان ئې قائم کړې دې : ابواب الجهاد عن رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او بیا ئې د هغې د لاندې ډیر ابواب بعض احکام د جهاد متعلق، او د هغې مناسبات، هم دغه شان د رسول اللهﷺ د غزوات د تعداد باب هم ذکر کړې دې.

حافظ رحمه الله فرمائی د جهاد لغوی معنی د مشقت ده، او په قاموس کښې د (ج، هـ، د) په ماده کښې لیکلې دی چه د ﴿ جهد ﴾ بالفتح معنی د طاقت ده او کله په دې باندې ضمه هم راځی یعنی ﴿ جهد ﴾ او بله معنی ئې د جهد بالفتح مشقت لیکلې ده، هم دغه شان د جهد بالفتح معنی د مبالغې او رعایت هم لیکلې ده، او بیا ئې وړاندې لیکلې دی چه جهد، یجهد، جهدا، د باب فتح نه د دې معنی ده اجتهاد او کوشش، او بیا د دې نه وړاندې لیکی، والجهاد بالكسر القتال مع العدو كالمجاهده، قال الله تعالى ﴿ وجاهدوا فى الله ﴾ يقال جاهد العدو ومجاهدة وجهادا قاتله.

د جهاد قسمونه، جهاد اصغر او جهاد اکبر

او بیا امام راغب رحمه الله نقل کړې دی چه د جهاد حقیقت خپل طاقت او کوشش لره خرچ کول د دشمن نه په دفاع کولو کښ، او دا چه د دې درې قسمونه دی، د ښکاره دشمن سره مجاهده کول او د شیطان سره، او د نفس سره، او دا چه د الله پاک قول ﴿وجاهدوا فى الله حق جهاده﴾ کښې درې واړه قسمونه داخل دی. (تاج العروس) حضرت شیخ په اوجز څلورم جلد کښې د امام راغب د کلام نه پس لیکی، پس حدیث مرفوع : ﴿ المجاهد من جاهد نفسه ﴾ کما فى المشكاة بروایت شعب البیهقی، ابن العربی په شرح ترمذی کښې فرمائی : ﴿ هذا هو مذهب الصوفية ان الجهاد الاكبر هو جهاد العدو الداخل، یعنی نفس اماره كما فى قوله تعالى : ﴿ والذين جاهدوا فينا لنهدينهم سبلنا ﴾ ولذا قال النبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وقد رجع من غزاة، رجعنا من الجهاد الاصغر الى الجهاد الاكبر... مختصرا... دا حدیث د صوفیاء په نزد معروف دې، امام غزالی رحمه الله په احیاء العلوم کښې په ډیرو مواضع کښې ذکر کړې دې، علامه زبیدی رحمه الله د حافظ عراقی رحمه الله نه نقل کوی، رواه البیهقی من حدیث جابر وقال هذا اسناد فيه ضعف! بزيادة من حاشية اللامع. (ج ۲ ص ۴۷۲) بله دا چه په حاشیه د لامع کښې په دې حدیث باندې نور هم کلام کړې شوې دې فارجع اليه لو شئت (۱) او حافظ فرمائی : وشرعا بذل الجهد فى قتال الكفار، ويطلق ايضا على مجاهدة النفس والشيطان والفساق. او د مجاهده نفس په تشریح کښې لیکلې دی چه اول د امور دین واقفیت حاصلول او زده کول، د دې نه پس په هغې باندې د عمل مشقت برداشت کول، د هغې نه روستو د هغوی په تعلیم باندې مشقت برداشت کول، الى اخر ما ذکر، او ملا علی قاری رحمه الله لیکلې دی : ﴿ الجهاد لغة المشقة وشرعا، بذل المجهود

---

(۱) وفیه، قال الغزالی فی موضع اخر، وقال نبینا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لقوم قدموا من الجهاد، مرحبا بكم قدمتم من الجهاد الاصغر الى الجهاد الاكبر، قيل يا رسول الله وما الاكبر؟ قال جهاد النفس، قال العراقى، رواه البيهقى فى الزهد، وقال صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المجاهد من جاهد نفسه فى طاعة الله تعالى قال العراقى، رواه الترمذى فى اثناء حديث وصححه وابن ماجة من حديث فضالة بن عبيد، قال صاحب الاتحاف، وكذلك اخرجه ابن حبان فى الصحيح)

فی قتال الکفار مباشرة او معاونة بالمال او بالرای او بتکثیر السواد او غیر ذلک ﴾ یعنی د کفارو سره په قتل او قتال کښې کوشش کول او خپل طاقت خرچ کول که هغه بدنی وی یا مالی وی یا په رايې او مشورې سره وی یا صرف په تکثیر سواد سره، او شیخ ابن الهمام د دې تعریف داسې کړې دې: ﴿ هو دعوتهم الی الدین الحق وقتالهم ان لم یقبلوا، او حاصله بذل اعز المحبوبات وادخال اعظم المشقات علیه وهو نفس الانسان، ابتغاء مرضات الله تعالی وتقربا بذلک الیه تعالی ﴾ اهـ یعنی کفارو ته د دین حق دعوت ورکول او د هغې د نه قبلولو په صورت کښې هغوی سره قتال کول چه د هغې حاصل دا دې چه د انسان خپل د ټولو نه زیات محبوب ترین څیز قربانول او په دې باندې زبردست مشقت اچول صرف د الله پاک د رضا او تقرب حاصلولو د پاره.

د مامور به قسمونه حسن لعینه او لغیره

ځان پوهه کړئ چه اصولیینو د امر په بحث کښې بیان کړې دې چه د مامور به دوه قسمونه دی، حسن لعینه او حسن لغیره، او بیا د حسن لغیره دوه قسمونه دی یو دا چه هغه غیر چه د هغه د وجې نه په دې کښې حسن پیدا شوې دې یا خو به هغه د نفس مامور به په ادا کولو سره ادا کیږی یا نه بلکه هغه به مستقل کولې شی، د دویم مثال اودس دې چه هغه مامور به حسن لغیره دې چه په هغې کښې د غیر د وجې نه حسن پیدا شوې دې او د غیر نه مراد مونځ دې، پس په اودس کښې بذات خود د عبادت هیڅ معنی نشته، بلکه هغه خو فی ذاته تبرید او تنظیف اعضاء دې بلکه دا هم وئیلې کیدې شی چه په دې کښې د مال ضائع کول دی، په دې کښې چه کوم حسن راغلې دې هغه د غیر یعنی مونځ د وجې نه راغلې دې چه په هغې کښې سراسر د الله پاک تعظیم او د خپلې بندګئ اظهار او اعتراف دې، خو اودس داسې حسن لغیره دې چه هغه غیر په نفس وضوء سره نه حاصلیږی بلکه هغه قصدا جدا کول وی، پس د اودس نه روستو مونځ کولې شی، او د اول مثال جهاد دې چه دا هم حسن لغیره دې پخپله په دې کښې هیڅ خوبی او خیر نشته، بلکه د تعذیب عباد او د تخریب بلاد د قبیل نه دې، په دې کښې چه کوم حسن پیدا شوې دې هغه د غیر یعنی اعلاء کلمة الله تعالی، او د دین حق حمایت او حفاظت، خو دلته دا غیر په نفس مامور به سره حاصلیږی یعنی دا جدا نه شی کولې. (نورالانوار) په ابوداود کښې وړاندې په یو اوږد حدیث کښې راروان دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿ من قاتل حتی تکون کلمة الله هی اعلی فهو فی سبیل الله عزوجل ﴾ په دې حدیث کښې تصریح ده د دې خبرې چه د جهاد او قتال نه مقصود اعلاء کلمة الله ده. (چه د الله پاک دین اوچت شی).

بحث ثاني: د جهاد حکم

په حاشیه د ابن عابدین کښې دی چه د جهاد حکم تدریجا نازل شوې دې، د هجرت د ابتداء نه مخکښې به رسول الله ﷺ صرف تبلیغ دین او انذار او په صبر علی اذی الکفار باندې مامور وو، پس د اویا نه زیاتو آیتونو کښې هغه د قتال او مقابلې نه منع کړې شوې وو بیا

د هجرت نه روستو هغه ته د جهاد اجازت ورکړې شو په طور د دفاع او جوابي کار روائي، يعني کله چه د دې ابتداء د کفارو د طرف نه وی لکه ﴿ اذن للذين يقاتلون بانهم ظلموا ﴾ الاية.... په ذريعه، او دا د ټولو نه اولنۍ آيت کريمه دې کوم چه د قتال د اجازت په باره کښې نازل شوې دې، د دې نه پس بيا ابتداء هم د قتال اجازت ورکړې شو، خو په غير د اشهر حرم نه، ﴿ فاذا انسلخ الاشهر الحرم فاقتلوا المشركين ﴾، بيا د دې نه روستو په ۲ هجری کښې د جهاد حکم على الاطلاق ورکړې شوې دې. (من حاشية ابن عابدين والبجيرمی)

د عهد نبوی نه روستو زمانو کښې د جهاد حکم

په درمختار کښې دی، جهاد فرض کفايه دې، پس واجب دی په امام باندې چه دار الحرب ته هر کال يو ځل يا دوه کرته د مجاهدينو دسته ليږی، او په رعيت باندې واجب دی دې باره کښې د امام مدد کول، پس که هغه ئې او نه ليږی نو د دې وبال به هم په هغه باندې وی، او دا هله ده چه کله د امام غالب ګمان وی چه هغه د کفارو مقابله کولې شی ګينې (د تردد په صورت کښې) هغوی سره قتال کول مباح نه دی په خلاف د امر بالمعروف، يعنی هغه په هرحال کښې واجب دې د هغې دپاره د څه خاص قيد ضرورت نشته اهـ بزيادة من الشامی، او په بدائع کښې دی چه هر کله جهاد فرض کفايه دې نو د امام دپاره د دې خبرې ګنجائش نشته چه په اسلامی سرحدونو کښې يو سرحد لره د مجاهدينو د جماعت نه خالی پريږدی، دومره لوئې جماعت کوم چه د دشمن د قتال دپاره کافی شی. پس چه کله دا ټول سرحدونه د مجاهدينو نه ډک شی نو بيا به د باقی خلقو نه جهاد ساقط شی، او په عنايه شرح هدايه کښې دی چه جهاد فرض على الکفاية دې، د اکثر اهل علم په نزد سوا د ابن المسيب نه چه هغه فرمائی چه فرض عين دې د آيتونو او رواياتو د عموم د وجې نه، او د دې په خلاف ابن شبرمه او ثوری نه نقل دی چه دا غير واجب دې، هم دغه شان د ابن عمر نه هم نقل دی، ابن قدامه د ابن المسيب د مسلک دليل کښې کوم چه ورته فرض عين وائی د الله پاک قول ﴿ انفروا خفافا وثقالا وجاهدوا باموالکم وانفسکم ﴾ ذکر کړې دې او هم دغه شان ﴿ ان لم تنفروا يعذبکم عذابا اليما ﴾ او هم دغه شان ﴿ کتب عليکم القتال ﴾ او د ابوهريره رضي الله عنه مرفوع حديث: ﴿ من مات ولم يغزو ولم يحدث نفسه بالغزو مات على شعبة من النفاق ﴾ او بيا ئې وړاندې د جمهورو د قول په دليل کښې دا آيتونه پيش کړې دی ﴿ لا يستوی القاعدون من المومنين غير اولی الضرر والمجاهدون فی سبيل الله ﴾ هم دغه شان د الله پاک قول ﴿ ما کان المومنون لينفروا کافة ﴾ او د کوم آيت کريمه نه چه ابن المسيب استدلال کړې دې د هغې په باره کښې فرمائی: ﴿ قال ابن عباس نسخها قوله تعالى : ما کان المومنون لينفروا کافة ﴾ او بل جواب دا دې چه ممکن ده دا آيت د غزوه تبوک متعلق وی چه د هغې په باره کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طرف نه نفير عام شوې وو، او د نفير عام په وخت جهاد بالاتفاق فرض عين وی.

پورته د ابن عابدين نه نقل کړې شو د جهاد په باره کښې چه په امام باندې واجب دې چه په کال کښې يو يا دوه کرته لښکر روان کړی د دار الحرب د طرف نه، تقريبا هم دا د

نورو کتابونو په مذاهبو کښې دی د شوافعو او حنابله ؤ، پس په اعانة الطالبین (فقه شافعی) کښې دی چه جهاد فرض کفایه دې په هر کال کښې اګر چه په کال کښې یو ځل وی او کفار په خپلو ښهرونو کښې وی، او که زمونږ ښهر ته داخل شی نو بیا په هر یو سړی باندې جهاد متعین دې، وړاندې لیکی، په کال کښې یو ځل جهاد د دې اقل درجه ده لقوله تعالی: ﴿ اولا یرون انهم یفتنون فی کل عام مرة او مرتین ﴾ امام مجاهد رحمه الله فرمائی چه دا آیت کریمه د جهاد په باره کښې نازل شو او دویمه وجه دا چه جزیه د جهاد په بدله کښې واجب کیږی او هغه په هر کال کښې یو ځل واجب کیږی پس هم دغه شان د دې بدل هم. او هم دا خبره ابن قدامه په مغنی کښې لیکلې ده، هغه لیکی: ﴿ فیجب فی کل عام مرة الا من عذر مثل ان یکون بالمسلمین ضعف فی عدد او عدة الخ ﴾ یعنی په هر کال کښې یو ځل واجب دې مګر دا چه څه عذر او مجبوری وی مثلا دا چه د مسلمانانو په تعداد کښې کمی وی، یا اسلحه او انتظام وغیره کمې یا دا چه د مدد انتظار وی (د بهر نه د فوج راتلو) یا په لاره کښې څه څیز مانع وی.

په عهد نبوی کښې د جهاد حکم

ځان پوهه کړه چه دا پورته ذکر شوې حکم او تفصیل د روستو زمانې په اعتبار سره دې د عهد نبوی په اعتبار سره نه دې، ځکه چه د دواړو زمانو په حکم کښې فرق دې، پس حافظ په فتح الباری کښې لیکی: کما فی البذل، وللناس فی الجهاد حالان احدهما فی زمن النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والاخرى بعده، د اول په باره کښې فرمائی چه په شروع کښې جهاد فرض عین وو یا کفایه؟ د علماء کرامو دواړه اقوال مشهور دی او په مذهب شافعی کښې هم دواړه دی، ماوردی فرمائی: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې صرف د مجاهدینو په حق کښې فرض عین وو، او د دې تائید د دې نه کیږی چه د فتح مکه نه مخکښې د هر اسلام راوړونکی په حق کښې واجب وو د هجرة الی المدینه او نصرت اسلام دپاره، او د دې بالمقابل سهیلی داسې فرمائی چه صرف د انصارو په حق کښې فرض عین وو، چه د هغې تائید د لیلة العقبة د بیعت نه کیږی، چه په هغې کښې انصارو د رسول الله ﷺ سره بیعت علی الایواء والنصرة وو، په دې باندې حافظ رحمه الله فرمائی که دا دواړه اقوال یوځائې کړې شی نو د هغې حاصل به دا وی چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې جهاد د مهاجرین او انصارو په حق کښې فرض عین وو او د هغوی دواړو نه علاوه د باقی خلقو په حق کښې فرض کفایه. مختصراً، زه وائم چه د دې حاصل دا شو چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د جهاد په باره کښې پنځه اقوال شو:

۱: قیل فرض عین مطلقا، ۲: وقیل فرض کفایة مطلقا،
۳: وقیل عین فی حق المهاجرین کفایة فی غیرهم.
۴: وقیل عین فی حق الانصار کفایة فی غیرهم.
۵: او پنځم قول د دریم او څلورم مجموعه ده یعنی: فرض عین علی المهاجرین والانصار وفی حق غیرهما کفایة،

د رسول الله ﷺ په زمانه کښې مطلقا د فرض عين کيدو قول علامه باجي د سحنون مالکی نه نقل کړې دې هغه فرمائی چه جهاد په ابتداء د اسلام کښې په ټولو مسلمانانو باندې فرض عين وو، والآن هو مرغب فيه، كذا في الاوجز، بيا د پنځم قول نه روستو حافظ ليکی، خو د دې باوجود دا نه شی وئيلې کيدې چه د طائفين (مهاجرين او انصار) په حق کښې فرض عين على العموم وو بلکه د انصارو په حق کښې صرف هغه وخت وو چه کله يو دشمن په مدينه منوره باندې حمله اوکړې، او د مهاجرينو په حق کښې به هغه وخت وو چه کله د کفارو سره د قتال اراده بهر تلو سره وی لکه چه د دې تائيد د هغه واقعې نه کيږی کوم چه د بدر په قصه کښې راپيښه شوه[1] (حافظ وړاندې يو قول بل ليکلو سره بيا خپل تحقيق ليکلې دې) او وئيلې شوې دی چه جهاد فرض عين وو چه په کومه غزوه کښې خپله رسول الله ﷺ اوتلو، د دې نه علاوه کښې نه، او تحقيق دا دې چه د هغه په زمانه کښې جهاد فرض عين وو د هغه سړی په حق کښې کوم چه هغه معين کړی اګر چه په هغې کښې رسول الله ﷺ او نه اوځي. اهـ من البذل.

دريم بحث : د جهاد فضيلت

امام بخاری رحمه الله د کتاب الجهاد په شروع کښې د ټولو نه اول د فضيلت جهاد باب قائم کړې دې بلکه ډير بابونه ئې تړلې دی، د اولنی باب د لاندې ئې د سورة توبه د شروع آيت ذکر فرمائيلې دې : ﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ يقينا دا آيت کريمه د جهاد د فضيلت دپاره کافی او وافی دې، او نص قطعی دې چه مجاهد د الله پاک سره تد خپل نفس معامله کړې ده جنت په بدله کښ، ګويا الله پاک د دې خبرې تصريح فرمائی چه مجاهد خپل ځان او

---

[1] د حافظ صاحب اشاره دې طرف ته ده کومه چه په سيرة کښې راځی چه کله رسول الله ﷺ ته دا خبره اورسيده چه قريش د خپلې قافلې د حفاظت دپاره د مکې مکرمې نه روان شو، په دې باندې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره مشوره اوکړه چه اوس مونږ له څه کول پکار دی يعنی مدينې ته واپس شو يا د راتلونکی دشمن مقابله اوکړې شی، نو په دې باندې به مهاجرينو کښې د ټولو نه اول صديق اکبر رضي الله عنه اودريدو او بيا عمر فاروق او بيا نور حضرات مهاجرين او ټولو په يوه ژبه باندې رسول الله ﷺ ته هم دا عرض اوکړو چه په دې کښې چه څه ستاسو رائې وی او څه چه تاسو کوئ مونږ تاسو سره يو، رسول الله ﷺ په دې باندې د خوشحالۍ اظهار اوفرمائيلو او هغوی ته ئې د خير دعا اوکړه خو د هغې باوجود رسول الله ﷺ بيا هم هغه خبره اوکړه چه اې خلقو ماته مشوره راکړئ چه اوس څه کول پکار دی، اصل کښې رسول الله ﷺ دا غوښتل چه په دې موقع باندې انصار اودريږی او هغوی قتال ته د تيارۍ اظهار اوکړی ځکه چه په ليلة العقبة کښې انصارو د هغه سره لوظ کړې وو چه کوم دشمن په تا باندې حمله کوی د هغې دفاع به مونږ ستا نه کوو يعنی د مدينې نه بهر تلو سره د نصرت کولو د هغوی د طرف نه هيڅ وعده نه وه، الغرض چه کله په دويم دريم ځل هغه دا خبره اوفرمائيله نو په دې باندې سعد بن معاذ انصاری رضي الله عنه پوهه شو چه د رسول الله ﷺ د خبرې اشاره زمونږ طرف ته ده، هغه اودريدو او عرض ئې اوکړو : ﴿ والله لكانك تريد لنا يا رسول الله قال اجل ﴾ په دې باندې هغه د خپلې پوره پوره جانثارۍ اظهار اوکړو.... مونږ هر طرف ته تا سره يو، که سمندر ته هم د دې مقصد دپاره دا ننګل وی نو مونږ به اودانګو، رضي الله عنهم وارضاهم اجمعين)

مال ټول ماته حواله کړې دی، او بیا د دې نه روستو الله پاک انتهائی په تاکید سره د هغه دپاره د جنت وعده او د هغې د حصول زیرې ورکړې د، د دې نه روستو امام بخاری رحمه الله دا حدیث ذکر فرمائیلې دې په روایت د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ﴿ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ قَالَ الصَّلَاةُ عَلَى مِيقَاتِهَا قُلْتُ : ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ قُلْتُ : ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾ او د هغې نه روستو دویم باب دا دې : ﴿ أَفْضَلُ النَّاسِ مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ ﴾ او د دې په دلیل کښې دا آیت کریمه ذکر اوفرمائیلو : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ په دې آیت کریمه کښې د ایمان بالله والرسول نه پس د جهاد فضیلت او په هغې باندې د مرتب کیدونکی اجر عظیم بیان کړې شوې دې، او بیا د دې نه روستو امام بخاری د سیدنا ابوسعید خدری رضي الله عنه حدیث مرفوع ﴿ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ ﴾، ذکر فرمائیلې د هغې نه پس پیژندل پکار دی چه :

د افضل الاعمال په باره کښې روایات مختلفه

په دې مقام کښې شراح حدیث په افضل الاعمال کښې چه کوم روایات مختلفه وارد شوې دې د هغې ترمینځه تطبیق بیانوی، حضرت اقدس گنګوهی په افادات بخاری المعروف بلامع الدراری کښې دی چه په دې حدیث کښې چه د مجاهد کوم فضیلت ذکر شوې دې هغه فضیلت جزئیه دې (یو خاص لحاظ سره) او هغه د مجاهد مشغولیدل دی شپه او ورځ د بیدارئ په حالت کښې هم او د اوده کیدو په حالت کښې هم، په غفلت کښې هم او د حضور قلب په حالت کښې هم، په دې کار کښې چه د کوم دپاره هغه وتلې دې هم په دې وجه د هغه دپاره اجر لیکلې شوې دې په هر هغه کار کښې کوم چه هغه د سفر جهاد دوران کښې کوی، خپله ئې هغه کوی او که د هغه مزدور او خادم ئې کوی یا ئې د هغه سورلی او څاروې کوی، لکه چه په حدیث کښې د دې تصریح ده او واقعی دا فضیلت د جهاد نه علاوه په بل طاعت کښې نشته، ځکه چه مثلاً روژه نیولو والا او هم دغه شان روژه نیولو والا هغه ته اجر ملاویږی، ترڅو پورې چه دې په مونځ کښې دی او د روژې په حالت کښې دی د هغې نه روستو نه، خو د مونځ فضیلت او بعض نور طاعات فی نفسه د جهاد د فضیلت نه زائد دی، لهذا په دې روایت کښې او هغه روایت کوم چه مخکښې تیر شوې دی چه په اعمالو کښې د ټولو نه افضل ﴿ الصلاة لوقتها ﴾ دې، هیڅ منافات نشته. اهـ د لامع په حاشیه کښې ابن عابدین نه نقل کړې دې چه په دې خبره کښې هیڅ تردد نشته چه فرض مونځونو لره د هغې په وختونو کښې ادا کولو باندې همیشوالې دا د جهاد نه افضل دې ځکه چه مونځ فرض عین دې، بل دا چه جهاد د ایمان او د اقامت صلاة د تحصیل دپاره وی بذات خود مقصود نه دې، پس هغه حسن لغیره شو او مونځ حسن لعینها شو، او مقصود بالجهاد هم هغه دې الی ما اخر ذکر، علامه عینی رحمه الله فرمائی د افضل الاعمال په باره کښې

د احاديثو اختلاف د سائلين او د هغوی د احوالو د وجي نه دي، او يا د وخت او زماني د اختلاف په اعتبار سره او يا داسې اوايه چه د بعض خيزونو په اعتبار سره، يعنی فضيلت جزئی، خرقی د امام احمد نه نقل کړې دی ﴿ لااعلم شيئا من العمل بعدالفرض افضل من الجهاد ﴾ او صاحب د فيض الباری مولانا محمد انور شاه کشميری رحمه الله فرمائی چه د امام ابوحنيفه او امام مالک په نزد اشتغال علمی افضل دې د اشتغال بالنوافل نه په خلاف د امام شافعی چه د هغه په نزد د دې برعکس دې، او د امام احمد رحمه الله نه دوه روايتونه دی په يو کښې هغه علم افضل ګڼړلې دې او په بل کښې ئې جهاد کما ذکره ابن تيمية فی منهاج السنة، او دا اختلاف په جهاد نفلی کښې دې نه په هغه جهاد کښې کوم چه فرض الوقت وی، يعنی په کوم حالت کښې چه جهاد فرض کيږی هغه وخت هم هغه د ټولو نه افضل دې، حضرت شيخ فرمائی، خو د امام شافعی مسلک ملا علی قاری په مرقاة کښې د شرح السنة نه، خپله د امام شافعی رحمه الله نه دا نقل کړې دې چه ﴿ طلب العلم افضل من صلاة النافلة ﴾، ملا علی قاری رحمه الله فرمائی څکه چه.... علم بعض داسې دی کوم چه فرض عين دی او بعض هغه دی کوم چه فرض کفايه دی، او دا دواړه افضل دی د نفلو نه، دا بحث زمونږ په نزد په کتاب الصلاة کښې په باب فی المحافظة علی الصلوات کښې تير شوې دې، الحمد لله ابتدائی درې بحثونه پوره شو،

(څلورم بحث:)

دلته يو بل بحث دې ګويا څلورم بحث چه د جهاد حکم په ظاهره باندې د آيت کريمه ﴿ لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ﴾ خلاف دې، د دې جواب به مونږ ان شاء الله چه کله په کتاب کښې دا باب راشی ﴿ باب الاسير يکره علی الاسلام ﴾ هلته ورکوو.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْهِجْرَةِ وَسُكْنَى الْبَدْوِ[1]

د هجرت بيان او په باندو (کلو) کښې د اوسيدو بيان

هجرت چونکه مبدا الجهاد دې او د هجرت نه روستو جهاد مشروع شو په دې مناسبت مصنف دا باب د کتاب الجهاد په شروع کښې ذکر فرمائيلې دې، پس په سنن ترمذی کښې سعيد بن جبير د ابن عباس نه روايت کوی "لما اخرج النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من مکة قال ابوبکر اخرجوا نبيهم ليهلکن فانزل الله تعالی ﴿ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴾ يعنی کله چه رسول الله صلی الله عليه وسلم کفار مکه په هجرت او وطن پريخودلو باندې مجبوره کړو نو په دې موقع باندې سيدنا صديق اکبر رضی الله عنه فرمائيلې وو او دا خپل تاثر ئې ظاهر کړې وو چه دې بدبختو خپل نبی په وتلو باندې مجبور کړو اوس به دوی تباه کيږی پس نزدې دا آيت کريمه نازل شو کوم چه پورته ذکر شو، د دې په نزول باندې صديق اکبر اوفرمائيل ﴿ لقد علمت انه سيکون قتال ﴾، چه مونږ خو د مخکښې نه پوهه شوې وو چه اوس د جهاد حکم کيدو والا دې.

[1] وفي بعض النسخ بعده وسكنى البدو

اول اية نزلت فی القتال

علماء کرامو ليکلي دی چه دا اولنۍ آيت کريمه دې کوم چه د قتال په باره کښې نازل شوې دې چه د هغې نزول د صفر په دولسم تاريخ ۲ هجری کښې اوشو او د دې نه وړاندې دوه اويا ايتونه داسې نازل شوي وو چه په هغې کښې د صبر او برداشت حکم او د قتال نه منع وه، د دې آيت کريمه په نزول سره هغه دوه اويا آيتونه منسوخ شو خو چونکه هغه آيتونه خو ابتدائی دی او صرف اباحة د قتال په باره کښې دی د هغې نه روستو ډير داسې آيتونه نازل شو چه په هغې کښې دا وو چه ابتداء قتال کول ستاسو دپاره جائز نه دی، که شروع د کفارو د طرف نه شوې وی نو بيا د قتال اجازت شته او په بعض کښې د اشهر حرم استثناء کړې شوې ده دا د روستو او مخکښې ټولو آيتونو مجموعه يو سل شل ايتونه علماء کرامو ليکلي دی، دا ټول د آيت السيف د نزول يعنی د سورة براءة دې آيت ﴿ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ﴾ الاية،منسوخ کړل. (بذل القوة فی حوادث سنی النبوة للسندی)

[۲۴۷۷]([1])حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ يَعْنِي ابْنَ مُسْلِمٍ، عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ: أَنَّ أَعْرَابِيًّا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْهِجْرَةِ، فَقَالَ: وَيْحَكَ إِنَّ شَأْنَ الْهِجْرَةِ شَدِيدٌ فَهَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: "فَهَلْ تُؤَدِّي صَدَقَتَهَا؟" قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: "فَاعْمَلْ مِنْ وَرَاءِ الْبِحَارِ فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا".

ترجمه: دابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دې چه يو باندچی دنبی عليه السلام نه دهجرت په باره کښې تپوس اوکړو، ورته ئې اوفرمائيل په تا افسوس دې هجرت خو سخت عمل دې، آيا ستا اوښان شته؟ هغه ووئيل آو شته، نبی عليه السلام اوفرمائيل، آيا ته ئې زکوة ورکوې؟ هغه اووئيل آو، نبی عليه السلام اوفرمائيل: د دريابونونه پورې غاړه کار کوه الله به ستا په عمل کښې هيڅ کمی نه راولی.

شرح حديث

قوله: فَإِنَّ اللَّهَ لَنْ يَتِرَكَ ([2]) مِنْ عَمَلِكَ شَيْئًا":

يو باندچی يعنی د باندې اوسيدونکی چا چه لا تر اوسه پورې مدينې منورې ته هجرت نه وو کړې، هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د هجرت په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه ورته اوفرمائيل هلاک شې د هجرت مسئله ډيره سخته ده د هر چا د وس نه ده، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه نه تپوس اوکړو چه تا سره اوښان شته، هغه عرض اوکړو چه او! رسول الله صلی الله عليه وسلم تپوس

[1]): صحيح البخاري/الزكاة ٣٦ (١٤٥٢)، والهبة ٣٥ (٢٦٣٣)، ومناقب الأنصار ٤٥ (٣٩٢٣)، والأدب ٩٥ (٦١٦٥)، صحيح مسلم/الإمارة ٢٠ (١٨٦٥)، سنن النسائي/البيعة ١١ (٤١٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٥٣، ١٥٥٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤/٣، ٦٤) (صحيح)

[2]) دا د وتر يتر وترا نه دې ددې معنی نقص ده، کما قال الله تعالي: والله معكم ولن يتركم اعمالكم،"يتر" په اصل کښې يوتر وو، داعلال نه پس يتر شو، يوځای په حديث کښې د اعلال نه بغير هم راغلی دې لکه په ابوداؤد کښې په صلاة الليل کښې تير شوی دی چه: ولم يكن يوتر.

اوکړو چه د هغې زکاة صدقه ادا کوی هغه اووې او جې (او چه کله زکاة ادا کوې کوم چه په نفس باندې ډير ګران دې نو مونځ او روژه خو به ئې ظاهره خبره ده چه کول) په دې باندې رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه ته په خپلو اعمالو کښې مصروف اوسيږه او چرته چه غواړې اوسيږه، يعنی تاته د وطن د پريخودلو ضرورت نشته، اعمال خير او فرائض ادا کوه اګر چه ته د مقام هجرت نه ډير لرې اوسيږې، بحار د بحر جمع ده په معنی د بلده، زيات لرې والی چه کله زمونږ په اردو محاوره کښې بيانولې شی نو وئيلې شی چه "سات سمندر پار" دلته هم دا ترجمه اوکړئ، خو په دې کښې دې دا شبه پيدا نه شی چه په دې جمله کښې د بحار نه سمندر مراد (١) ، بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل الله پاک به ستا د يو عمل ثواب هم نه کموی يعنی د ترک هجرت د وجې نه، دلته دا اشکال راځی چه د اسلام په شروع کښې خو هجرت فرض وو بيا ئې دې سړی ته د ترک هجرت اجازت څنګه ورکړو نو جواب دا دې چه دا جواز هم د دې اعرابی سره خاص دې د رسول الله ﷺ د دې خصوصی اجازت په بناء باندې کوم چه مبنی وو د دې اعرابی په حال باندې حکاه (ص ٥ ج ٩) العينی عن القرطبی او يا به دا وئيلې شی چه دا اعرابی د غير اهل مکه نه وو چه د هغوی په حق کښې هجرت صرف مستحب وو واجب نه وو، کما حکی العينی عن بعضهم، حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه ممکنه ده چه رسول الله ﷺ د هغه اعرابی په باره کښې دا اندازه لګولې وی چه د هغه سړی نه به د شدائد هجرت او د هغې سختو تحمل اونشی، والله تعالی اعلم وله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يخص من شاء بما شاء. او حافظ په فتح الباری کښې د دې جواب دا کړې دې چه دا واقعه د فتح مکه نه روستو ده ځکه چه د فتح مکه نه مخکښې خو هجرت فرض وو بيا روستو دا حکم منسوخ شو، د رسول الله ﷺ په ارشاد ﴿ لا هجرة بعد الفتح ﴾ سره. اهـ

خو د حافظ په رائې باندې به دا اشکال راځی چه دا اعرابی خو د اهل مکه نه نه وو کما جزم به بعض الشراح او د فتح مکه نه پس د نسخ هجرة تعلق خپل اهل مکه سره دې ﴿ لا من غيرهم فتامل ﴾ او د دې په خلاف د علامه عينی رحمه الله رائې د دې قصې په باره کښې د فتح مکه نه مخکښې ده او هغه د مهلب نه هم دا نقل کړې دی او دا چه که دا د فتح مکه نه پس واقعه وی نو بيا خو به رسول الله ﷺ هغه اعرابی ته هم دا جواب فرمائيلې وې ﴿ لا هجرة بعد الفتح كما قاله لغيره الى اخر ما فی العينی، والحديث اخرجه البخاری فی عدة مواضع الزكاة، الهبة، مناقب الانصار، ومسلم والنسائی، قاله المنذری)

[٢٤٧٨](٢)حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُثْمَانُ ابْنَا أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنها عَنِ الْبَدَاوَةِ، فَقَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْدُو إِلَى هَذِهِ التِّلَاعِ وَإِنَّهُ أَرَادَ الْبَدَاوَةَ مَرَّةً فَأَرْسَلَ إِلَيَّ نَاقَةً مُحَرَّمَةً مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ فَقَالَ لِي: "يَا عَائِشَةُ ارْفُقِي فَإِنَّ الرِّفْقَ لَمْ يَكُنْ فِي شَيْءٍ

١) اګر چه يو قول په دې کښې دا هم دې کم چه علامه عينی ذکر کړې دې بلکه هغه اول هم دا معنی اخستلې ده ثم قال وقيل المراد من البحار البلاد)

٢): تفرد به أبو داود، ويأتي هذا الحديث في الأدب (٤٨٠٨)، (تحفة الأشراف: ١٦١٥٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/البر والصلة ٢٣ (٢٥٩٤)، مسند احمد (٦/٥٨، ٢٢٢) (صحيح)

قَطُّ إِلَّا زَانَهُ وَلَا نُزِعَ مِنْ شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا شَانَهُ".

ترجمه: مقدام بن شریح دخپل پلار نه روایت کوي فرمائي چه دام المومنین عائشې رضی الله عنها نه مې په کلو اوباندو کښې درهائش متعلق تپوس اوکړو، او یوځل هغه دبهرتلو اراده کړې وه اوماته ئې دصدقې داوښانونه یوه اوښه راولیګله چه په هغې باندې سوریدل نه وو شوی، او ماته ئې اوفرمائیل اې عائشې رضی الله عنها ددې سره نرمي کوه ځکه چه نرمي په یوشي کښې نه ده راغلې مګرهغه ئې ښائسته کړې اودیو څیز نه نه ده ویستلې شوې مګرهغه ئې عیب ژن کړې دې.

د حدیث تفصیلی تشریح

شریح بن هانی رحمه الله فرمائي چه ما د ام المومنین عائشې رضی الله عنها نه تپوس اوکړو د بداوت په باره کښې (بداوة کښې د باء فتحه او کسره دواړه دی یعنی خروج الی البادیة چه هغې ته صحرا کښې ګرځیدل او سیاحت هم وئیلې شی) نو عائشې رضی الله عنها دبعضی غونډو طرف ته اشاره کولو سره اوفرمائیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دې طرف ته تلو او بیا هغې یوه واقعه واوروله چه یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د بداوة اراده اوفرمائیله.... نو ما ته یوه اوښه چه هغه غیر تربیت یافته یعنی په سورلئ کښې د تلو سره عادت نه وه رااولیږله، غالبا کته وغیره به ئې په هغې باندې د اچولو دپاره رالیږلې وه، په ظاهره کښې هغه اوښې شوخي اوکړه، چه د هغې په وجه باندې عائشې رضی الله عنها په هغې باندې سختی اوکړه، په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه اې عائشې د نرمئ معامله کوه، ځکه چه په کوم څیز کښې نرمی موندلې شی نو هغه نرمی هغې لره ډولی کوی او ښائسته کوی، او د کوم یو څیز نه چه نرمی واخستلې شی یعنی د نرمئ په ځائې د سختئ معامله کولې شی نو دا سختی هغه څیز لره عیب ژن کړی، د ﴿ شان یشین شینا ﴾ معنی د عیب دار کولو ده، شین په معنی د عیب، د مجمع البحار نه معلومیږی چه کومه اوښه تربیت یافته او منقاد وی هغې ته ناقه منوقه وئیلې شی، د محرمه مقابل په دې حدیث کښې دی چه دا اوښه د صدقې د اوښانو نه وه، په دې باندې دا اشکال پیدا کیږی چه د نبی علیه السلام دپاره خو د صدقې استعمال جائز نه وو او نه به ئې د د صدقې څیز استعمالولو..... حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی چه د دې اشکال جواب د حضرت ګنګوهی د تقریر نه مستفاد کیږی چه دا د صدقې اوښه رسول الله صلی الله علیه وسلم عائشې رضی الله عنها ته ورکړې وه، بیا چه کله د هغې په ملک کښې داخل شوه د دې نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه استعمال اوفرمائیله، هم دغه شان د حضرت په تقریر کښې دا هم دی چه په دې حدیث کښې دلالت دې په دې خبره باندې چه د ازواج مطهرات دپاره مال صدقه او د دې نه انتفاع جائز وه لهذا هغوی ته زکاة ورکول هم جائز شو. اهـ د ازواج مطهرات دپاره د صدقې د جواز بحث زمونږ په نزد په کتاب الزکاة کښې په باب الصدقة علی بنی هاشم کښې تیر شوې دې.

ځان پوهه کړه چه مصنف دا حدیث په ﴿ باب ما جاء فی الهجرة وسکنی البدو ﴾.... کښې ذکر فرمائیلې دې، د سائل سوال د عائشې رضی الله عنها نه د بداوت په باره کښې وو، یعنی سکنی البادیة او هلته مستقل اقامت اختیارول، په دې باندې هغې اوفرمائیل چه نبی علیه السلام کله کله سورلئ

باندې سوریدو سره بعض صحرائی غونډو طرف ته تشریف اوړلو، په ظاهره کښې د جواب حاصل دا شو چه نبی علیه السلام به مستقل قیام صحراء او غیر ابادی کښې ثابت نه دې سوا د هغې نه کوم چه حضرت عائشې رضی الله عنها هغه سرې ته بیان کړو، په دې باندې حضرت په بذل کښې لیکی : ولعله یفعل ذلک احیانا لیخلو بنفسه ویبعد عن الناس... یعنی کیدې شی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې خلوت اختیارول غوښتل او د خلقو نه ئې د یواځې والی حاصلولو دپاره کله کله داسې کول، هم دا مصلحت صاحب د مجمع د یو بل حدیث د لاندې لیکلې دې : ﴿ کان اذا اهتم لشئ بدا ﴾ خو صاحب مجمع په ص ۳۷۲، ج ۵ په تکمله کښې د حدیث الباب د لاندې لیکلې دی، وفیه انه لا باس بالخروج الی البادیة حینا للتنزه اهـ... یعنی کله کله د ځنګل طرف ته د سیل او تفریح دپاره تلو کښې هیڅ باک نشته. کوم مصلحت چه صاحب مجمع د حدیث الباب د لاندې لیکلې دې یعنی خروج للتنزه احیانا هغه هم مناسب دې بلکه زیات مناسب او زمونږ د مشائخ او اکابر نه ثابت هم دې، او کوم مصلحت چه حضرت سهارنپوری رحمه الله لیکی هغه ځیز په خپل ځائې صحیح دې، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دې چه د هغې ذکر د صحیح بخاری په حدیث وحی کښې دې ﴿ ثم حبب الیه الخلاء وکان یخلو بغار حرا ﴾ والله اعلم

دا حدیث په صحاح کښې صرف په مسلم کښې ملاؤ شوې دې، هغه هم مختصرا، چه په هغې کښې د بداوة ذکر نشته خو په هغې کښې یو لفظ زیات دې چه هغې سره د حدیث په شرح کښې مدد ملاویږی، ولفظه : رَكِبَتْ عَائِشَةُ بَعِيرًا فَكَانَتْ فِيهِ صُعُوبَةٌ فَجَعَلَتْ تُرَدِّدُهُ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- « عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ » یعنی یو ځل سیده عائشه رضی الله عنها په یو اوښ باندې سوره شوه چه په هغې کښې سختی او شوخی وه او عائشه رضی الله عنها هغه شاته مخې ته کولو (د هغې د اصلاح دپاره) په دې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته اوفرمائیل عائشې! نرمی اختیار کړه، دا حدیث امام مسلم په کتاب البر والصلة کښې ذکر کړې دې.

په حدیث الباب کښې چه په هغې کښې د بداوة ذکر دې د دې هم معنی یو مستقل باب په کتاب کښې راروان دې "باب النهی عن السیاحة" ځان پوهه کړئ چه هره اوښه راحله نه وی یعنی د سورلئ لائقه نه وی، د سورلئ لائقه مخصوص اوښې وی او د سورلئ نه مخکښې هغې ته هم تربیت او مشق ورکولې شی، ډیر اسونه هم داسې وی چه ډیر د محنت او کوشش نه پس هغه سورلئ په شا باندې پریږدی، النَّاسُ كَإِبِلٍ مِائَةٍ لاَ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً... هسې د بار اوړلو دپاره خو ټولې قابلې وی

بَابٌ فِي الْهِجْرَةِ هَلِ انْقَطَعَتْ

آیا د هجرت حکم ختم شوې دې؟

[۲۴۷۹](۱) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنْ حَرِيزِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَوْفٍ، عَنْ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ، وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا".

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۹۹)، دي /السير ۷۰ (۲۵۵۵) (صحیح)

ترجمه: دمعاوية ﷺ نه روايت دې فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې دهجرت حکم ترهغې نه شی ختميدلي ترڅوچه دتوبې دقبليدوحکم نه وي ختم شوي اودتوبې حکم ترهغې نه شی ختميدلي ترڅوچه نمر دمغرب نه نۀ وي ختلي.

تشريح: يعنی د هر دارالکفر نه دار اسلام طرف ته د هجرت کولو سلسله هميشه جاری وی چه ترڅو پورې د توبې دروازه نه وی بند شوې، اود توبې دروازه به بالکل قيامت ته نژدې بنديږی، کله چه نمر د مغرب د طرفه راوخيجی، ليکن دا هجرت د کوم چه په دې حديث کښې ذکردې مندوب هجرت دې واجب نه دې په خلاف د هجرة من مکة الی المدينة، چه دا په طريقه د وجوب وو کوم چه د مکې د فتح نه پس مطلقًا منسوخ شو. لا وجوبًا ولا استحبابًا،والحديث أخرجه النسائي (المنذري).

[۲۴۸۰]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَوْمَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ لَا هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا".

ترجمه: دابن عباس ﷺ نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی دفتح مکې په ورځ دنن نه پس هجرت کول نشته ليکن دجهاد حکم باقی پاتې دي کله چه درنه دجهاد دپاره دتلو غوښتنه اوشي نولاړ شئ.

شرح حديث

قوله:﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمَ الْفَتْحِ فَتْحِ مَكَّةَ « لاَ هِجْرَةَ وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ ﴾ يعنی د فتح مکه په ورځ باندې رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه اوس د مکې مکرمې نه هجرت ختم شو، يعنی مطلقا لا وجوبا ولا استحبابا ځکه چه اوس هغه دار الاسلام جوړ شو، بيا وړاندې رسول اللهﷺ فرمائی : ﴿ ولکن جهاد ونية ﴾ يعنی هجرت کوم چه يو عظيم الشان عمل وو او د اجر عظيم سبب وو اوس هغه اګر چه باقی پاتې نه شو خو د طالب اخرت او د طالب ثواب دپاره نور لوئې لوئې اعمال موجود دی لکه جهاد او په هر يو کار کښې خالص نيت، ګويا جهاد هم يو قسم هجرت دې يعنی هجرت په سبب د جهاد او هجرت په سبب د خالص نيت، ظاهره خو هم دا ده چه په دې حديث کښې چه په کوم کښې د هجرت نفی ده هغه هجرت دې د مکې نه ځکه چه د فتح مکه په ورځ باندې فرمائی، لهذا په دې حديث کښې او په حديث سابق کښې هيڅ منافات نشته، په اول حديث کښې د هجرت نه مطلق هجرت من دار الکفر الی دار الاسلام مراد وو چه د هغې اثبات دې او د کوم چه نفی کولې شی هغه هجرت خاصه دې، هکذا فی الشروح او دا هم ممکنه ده چه داسې اوئيلې شی چه که په دې حديث کښې هم مطلق هجرت مراد کړې شی نو بيا په دې صورت کښې به د نفی تعلق د وجوب سره وی نه د استحباب سره()، والله تعالی اعلم،

---

[۱]): انظر حديث رقم :(۲۰۱۸)،(تحفة الأشراف:۵۷۴۸) (صحيح)

[۲]) امام نووی ﷺ د دفع تعارض دپاره د دې حديث دوه تاويلونه کړې دی اول هم دا دی......←

وراندې په حديث كښې دى ﴿ واذا استنفرتم فانفروا ﴾ او چه كله ستاسو نه د وتلو مطالبه اوكړې شى يعنى د امام د طرف نه نو تاسو اوځئ، نفير په معنى د خروج الى الجهاد وكذا قال الحافظ وغيره، او د قاموس نه معلوميږى چه نفر او نفير دواړه يو دى، يعنى سفر كول او جدا كيدل، خو په حج كښې لفظ د نفر استعماليږى او په جهاد كښې لفظ د نفير، د دې حديث نه معلوميږى چه كوم خلق د خروج الى الجهاد دپاره امام متعين كړى د هغوى په حق كښې خروج واجب لعينه وى، وهو التحقيق كما قال فيما سبق، والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى (قاله المنذرى)

[٢٤٨١](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَامِرٌ، قَالَ: أَتَى رَجُلٌ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو وَعِنْدَهُ الْقَوْمُ حَتَّى جَلَسَ عِنْدَهُ، فَقَالَ أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ".

ترجمه: دعامر شعبى نه روايت دې فرمائى چه عبدالله بن عمرو ﷺ ته يو كس راغې اودهغه سره خلق ناست وو اودې هم كيناستو، اوعرض ئې اوكړوچه كه چرې دنبى ﷺ نه دې څه اوريدلي وي نوراته ئې واوروه نوده ورته ووئيل چه دنبى ﷺ نه مې اوريدلي دي فرمائيل ئې : كامل مسلمان هغه كس دې څوك چه بچ كوي مسلمانانولره دضرردخپلې ژبې نه اودضرردخپل لاس نه، او مهاجرهغه كس دي څوك چه پرېږدي هغه څيزونه كوم چه الله پاك منعه كړي دي.

بَابٌ فِي سُكْنَى الشَّامِ

په شام كښې داوسيدلو بيان

يعنى په شام كښې د اوسيدلو د فضيلت په بيان كښې.

د باب د كتاب الجهاد سره مناسبت

كه څوك دا اوائى چه د دې باب د كتاب الجهاد سره څه مناسبت دې؟ جواب دا دې چه د دې نه مخكښې دوه بابونه د هجرت متعلق تير شوې دى، او دا مخكښې تير شوې دى چه د هجرت ذكر په كتاب الجهاد كښې په دې حيثيت سره دې چه هجرت د جهاد ابتداء ده، د دې دريم باب مناسبت په دې اعتبار سره دې چه دا بيانول مقصود دى لكه چه په احاديثو كښې راغلې دى چه په اخره زمانه كښې بهترين مقام د هجرت هغه به ملك شام وى.

.... چه په دې حديث كښې د هجرت خاصه نفى ده، يعنى د مكې نه مدينې طرف ته، او دويم تاويل كوم ته چه هغوى اصح وئيلې دى هغه دا دې چه په دې حديث كښې د هجرت ممدوحه فاضله نفى ده يعنى اصل هجرت خو هغه دې كوم چه د فتح مكې نه مخكښې وو كوم چه د اسلام او مسلمين د ضعف زمانه وه او د فتح مكه نه پس خو چونكه اسلام ته عزت او غلبه حاصله شوې وه په دې وجه د هغه وخت د هجرت هغه درجه نه ده)

(١): صحيح البخاري/الإيمان ٤ (١٠)، (تحفة الأشراف: ٨٨٣٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الإيمان ٩ (٤٠)، مسند احمد (١٦٠/٢، ١٦٣، ١٩٢، ١٩٣، ٢٠٥، ٢١٢، ٢٢٤)، سنن الدارمي/الرقاق ٨ (٢٧٨٥) (صحيح)

شرح حديث

د دې حديث په شرح کښې دوه اقوال دي:

۱: هغه فرمائی، د دې هجرت نه روستو يعنی کوم چه د هغه په زمانه کښې من مكة الى المدينة اوشو اويو به بل هجرت وی، يعنی اخيره زمانه کومه چه د فتنو زمانه به وی او دا هجرت به د مختلف ملکونو نه د نورو ملکونو طرف ته وی، مسلمانان به د خپل دين د حفاظت دپاره خپل وطن پريخودلو سره بل طرف ته ځی د دې په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائی چه هغه وخت کښې دا په ټوله دنيا کښې اوسيدونکو نه غوره خلق دی کوم چه د هجرت دپاره د سيدنا ابراهيم عليه السلام د هجرت ځائې اختياروی، يعنی ملک شام، سيدنا ابراهيم عليه السلام عراق پريخودلو او د شام طرف ته ئې هجرت اوکړو.

۲: او دويم مطلب ئې دا ليکلې دې چه د هجرت نه روستو به هجرت وی، يعنی د هجرت سلسله به هميشه روانه وی او کله به هم نه منقطع کيږی، او بيا وړاندې هغه هم دا اوفرمائيل چه د هجرت کونکو دپاره غوره دا ده چه هغه د هجرت دپاره د ابراهيم عليه السلام د هجرت ځائې اختيار کړی.

د دې حديث د ترجمة الباب سره مطابقت ظاهر دې چه هر کله په حديث کښې د هجرت الى الشام ترغيب ورکولې شی نو د دې نه د شام د استوګنې فضيلت معلوم شو.

[٢٤٨٢](١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "سَتَكُونُ هِجْرَةٌ بَعْدَ هِجْرَةٍ فَخِيَارُ أَهْلِ الْأَرْضِ أَلْزَمُهُمْ مُهَاجَرَ إِبْرَاهِيمَ وَيَبْقَى فِي الْأَرْضِ شِرَارُ أَهْلِهَا تَلْفِظُهُمْ أَرَضُوهُمْ تَقْذَرُهُمْ نَفْسُ اللَّهِ وَتَحْشُرُهُمُ النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ".

ترجمه: دعبدالله بن عمرونه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام نه مې اوريدلې دې چه فرمائيل ئې نزدې ده چهددې هجرت نه پس بل هجرت راشي خوپه دغه وخت کښې به دزمکې په مخ بهترين خلق هغه وي څوك چه دابراهيم عليه السلام هجرت اختيارکړي، اوددوی نه به بدخلق پاتې شي، ددوی مرې به ددوی زمکې را اوغورځوي اودالله پاك به هم خوښ نه وي او اوربه دوی لره دشادوګانو اوخنزيرانوسره جمع کړي.

تشريح: ﴿ وَيَبْقَى فِي الْأَرْضِ شِرَارُ أَهْلِهَا تَلْفِظُهُمْ أَرَضُوهُمْ تَقْذَرُهُمْ نَفْسُ اللَّهِ وَتَحْشُرُهُمُ النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ ﴾ : يعنی کوم خلق چه ديندار وی او هغوی سره د خپل دين فکر وی نو هغوی به خپل وطنونه پريخودلو سره ملک شام ته لاړ شی او د هغوی نه علاوه چه کوم بې دينه وی، فاسقان او فاجران او د دنيا حرص کونکی هغوی به د خپل وطن په خلقو کښې باقی پاتې شی د مهاجرينو سره به هجرت نه کوی او په خپلو وطنونو کښې به يوه خوا بل خوا حيران او سرګردان ګرزی يا خو د دنيا د ګټلو دپاره يا دفتنی د اور نه تختيدو دپاره او هغه به داسې سپک او ذليل وی چه الله پاک هم ګويا د هغوی نه نفرت او کرکه کوی، الغرض د فتنی د اور نه تيختنه به هغوی ګرځوی د کفارو سره، د بيزوګانو او خنزيرانو سره،

١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٨٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٠٩، ١٩٨) (حسن)

د اول نه مراد صغار کفار او د ثاني نه کبار کفار، صاحب مشکاة دې حديث ته د مشکاة بالکل په اخر کښې باب ذکر اليمن والشام کښې ذکر کړې دې، والحديث عزاه صاحب المشكاة الى ابى داؤد فقط.

[٢٤٨٣](١) حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنِي بَحِيرٌ، عَنْ خَالِدٍ يَعْنِي ابْنَ مَعْدَانَ، عَنْ أَبِي قُتَيْلَةَ، عَنِ ابْنِ حَوَالَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَيَصِيرُ الْأَمْرُ إِلَى أَنْ تَكُونُوا جُنُودًا مُجَنَّدَةً جُنْدٌ بِالشَّامِ وَجُنْدٌ بِالْيَمَنِ وَجُنْدٌ بِالْعِرَاقِ"، قَالَ ابْنُ حَوَالَةَ: خِرْ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ أَدْرَكْتُ ذَلِكَ فَقَالَ: "عَلَيْكَ بِالشَّامِ فَإِنَّهَا خِيرَةُ اللَّهِ مِنْ أَرْضِهِ يَجْتَبِي إِلَيْهَا خِيرَتَهُ مِنْ عِبَادِهِ فَأَمَّا إِنْ أَبَيْتُمْ فَعَلَيْكُمْ بِيَمَنِكُمْ وَاسْقُوا مِنْ غُدُرِكُمْ فَإِنَّ اللَّهَ تَوَكَّلَ لِي بِالشَّامِ وَأَهْلِهِ".

ترجمه: دحضرت عبدالله بن حواله نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي: نزدې ده چه داسې وخت به راشي چه تاسو به ډلي ډلي شئ يولښکربه په شام کښې وي بل به په يمن اوبل به په عراق کښې وي ابن حواله وائي ماعرض اوکړوچه اې دالله رسوله دا راته اووايه چه زه که چرې داحالات بيامومم نوزما دپاره څه کول پکاردي؟ نبي ﷺ اوفرمائيل شام اختيارکړه يقينا په زمکه کښې داعلاقه الله پاك ته محبوب ده او الله پاك به خان ته نزدې خلق دلته راجمع کوي اوکه چرې دا درته ميسره نه وي نويمن اختيارکړه اودخپلو تالاوونو نه په خلقو اوبه څکئ، يقينا الله ماته دشام اودشاميانو دحفاظت ضمانت راکړي دي.

شرح حديث

قوله: جُنْدٌ بِالشَّامِ وَجُنْدٌ بِالْيَمَنِ وَجُنْدٌ بِالْعِرَاقِ":(٢)

دلته په سند کښې ابن ابى قتيله، د ابوداؤد په ټولو نسخو کښې دغسې دې. حضرت په بذل کښې دکتب رجال نه ددې تحقيق کړې دې اوهغه داچه صحيح دلته عن ابى قتيله دې دده نوم مرثد بن وداعة دې.

---

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٨٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٠/٤) (صحيح)

(٢) والحديث سكت عن تخريجه المنذري قلت اخرجه الامام ابن المبارك في كتاب الجهاد-ص ١٥١ برقم ١٩٠ مختصرا، والامام احمد في المسند (طبعة عالم الكتب) ج٥ ص ٧٩٩ رقم ١٧١٣٠ مختصرا، ج١ ص ٨١٠ مختصرا رقم ٢٠٦٢٥ مختصرا ج٧ ص ٤٨١ رقم ٢٢٨٥٤ وفي فضائل الصحابة-له ايضا ج٢ ص ٨٩٧ رقم ١٧٠٧ موصولا وص ٩٠٤ رقم ١٧٢٥ مرسلا، والامام الطحاوي في شرح مشكل الآثار ج٣ ص ١٤٧، ١٤٨ برقم ١١١٤ مطولا (طبعة الرسالة، وفي الطبعة الهندية ج٢ ص ٣٥ و٣٦، وفي تحفة الأخيار ج٨ ص ٥٧٧، رقم تمييز ٦٢٥٥، والامام ابن حبان في الصحيح، الاحسان ج١٢ ص ٢٩٥ رقم ٧٣٠٦ والامام يعقوب بن سفيان الفسوي في المعرفة والتاريخ، ج٢ ص ٢٨٨ و٢٨٩ من طريقين مختصرا ومطولا والامام ابن ابي عاصم في الآحاد والمثاني ج٢ ص ٢٧٣ رقم ٢٢٩٥ مطولا، والامام البزار في المسند ينظر كشف الاستار ج٢ ص ٣٢٣ رقم ٢٨٥١ و٢٨٥٢ والامام الطبراني في "المعجم الكبير" ج١٨ ص ٢٥١ رقم ٢٢٨ وج٢ ص ١٣٠ وفي مسند الشاميين "له ايضا ج١ ص ١٤٣ رقم ٢٢٨ و١٧٢ وص ١٩٢ رقم ٣٣٧ وص ٣٢٣ وص ٣٢٤، رقم ٥٧٠، وج٢ ص ١٣٣ رقم ١٠٥٤ وص ١٩٣ رقم ١١٧٢ وج٢ ص ٣٤٥ و٣٤٦ رقم ٣٥١٥ والامام ابونعيم في الحيلة ج٢ ص ٣ والامام البيهقي في الدلائل ج٦ ص ٣٢٧، ٣٢٦، من طرق مختصرا ومطولا والامام ابن عساكر في تاريخ دمشق - المجلدة الاولى في مواضع من طرق كثيرة وفي ترجمة عبدالله بن حواله رضي الله تعالى عنه والامام السمعاني في "فضائل الشام-ص ٣٢، ٣٣ والامام الربعي في فضائل الشام، وانظر المختصر، والامام حارث بن اسامة في المسند ينظر بغية الباحث ج٢ ص ١٤٤ رقم ١٠٤١ والامام الحاكم في المستدرك ج٤ ص ٥٥٥ رقم ٨٥٥٦. حبيب الله.

عبدالله بن حواله رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی چه زما د امت انجام به وړاندې تلو سره دا وی (چه هغه به په مختلف ډلو کښې منقسم کیږی په اعتبار د هجرت) چه تاسو به مختلف ډلې او مختلف لښکرې، یو جماعت او لښکر به شام ته لاړ شی او یو لښکر یمن، او ډیر په عراق کښ، ابن حواله رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه یا رسول الله! که جرې زه دغه زمانه او حال لره نو بیا موم زما دپاره په دې خایونو کښې یو ځائې خوښ کړئ یعنی د هجرت دپاره هغه اوفرمائیل ﴿ علیک بالشام ﴾ چه لازم اونیسه ملک شام لره، یعنی هلته لاړ شه ځکه چه هغه د الله پاک منتخب او خوښه زمکه ده، الله پاک د هغه دپاره په خپلو بندګانو کښې هم دوی خوشوی کوم چه به بهترین خلائق وی ﴿ واما اذاابیتم ﴾ "پس که ته د دې نه انکار اوکړې یعنی که دا او نه شی چه هلته هجرت کولو سره لاړ شی ﴿ فعلیکم بیمنکم ﴾ نو لازم اونیسه خپل یمن لره بیا دوئمه درجه د هجرت الی الیمن دې او د هغه ځائې د تالابونو نه اوبه څکئ او نورو ته ئې ورکوئ، ظاهره ده چه کله هجرت کولو سره هلته لاړ شی نو د هغه ځائې د تالابونو اوبه به استعمالوی، دا په ماقبل باندې تفریع دې په طور د تاکید ،اوتا په ځائې د ﴿ من غدرکم ﴾...﴿ من غدر الیمن ﴾ اوفرمائی ځکه چه د دې نه مخکښې ئې د یمن په باره کښې فرمائیلې وو ﴿ یمنکم ﴾ نو هر کله چه یمن زمونږ شو نو د هغه ځائې د اوبو تالابونه هم زمونږ شو، دا هم د تعبیر یو طرز دې بیا وړاندې رسول الله ﷺ د شام وجه د ترجیح بیان فرمائیلې ده ﴿ فان الله توکل لی بالشام واهله ﴾ ځکه چه الله پاک زما دپاره یعنی زما د خاطره او زما په رعایت کښې د شام او اهل شام د حفاظت ذمه داری اخستلې ده.

د دې حدیث نه د ملک شام ډیر فضیلت معلومیږی پس ډیر احادیث د دې په فضیلت کښې راغلې دی د بعض محدثین په فضائل شام کښې [1] مستقل تصنیفات هم شته د دې نه علاوه د سمعانی یو تصنیف "فضائل الشام" په نوم دې، چه په دې کښې هغوی متعدد احادیث او روایات په اسانید معتبره سره روایت کړې دی، خپله په قران کریم کښې ارشاد دې ﴿ وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ ﴾ د دې ارض مبارکه نه مراد د ملک شام زمکه ده، په معارف القران کښې لیکلې دی چه د ملک شام زمکه د خپل ظاهری او باطنی حیثیتونو په وجه باندې د ډیرو برکتونو مجموعه ده، باطنی برکت خو پکښې دا دې چه دا زمکه د انبیاء کرامو مخزن دې، ډیر انبیاء کرام هم په دې زمکه باندې پیدا شوې دی او ظاهری برکات ئې د اب وهوا اعتدال، د نهرونو او چینو ډیر والې، د میوو، ګلونو او هر قسم نباتاتو غیر معمولی راتوکیدل دی. اهـ

....

[1] بلاد شام د یوې ډیر وسیع منطقه (ملک او علاقې) نوم دې چه د هغې د روستو زمانې د تغیراتو د وجې نه مختلف حصې شوې کوم چه د هغه زمانې دلحاظه مستقل ملک جوړ شو لکه اردن، سوریه، لبنان، فلسطین، مستعمره، اسرائیل او د سعودی عرب یوه لویه علاقه د وادی القری نه وړاندې په قدیم زمانه کښې به په ټولو باندې د شام اطلاق کیدلو. حبیب الله)

بَابٌ فِي دَوَامِ الْجِهَادِ
جهاد به همیشه جاري وي

[٢٤٨٤]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ حَتَّى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ".

ترجمه: دعمران بن حصین نه روایت دي فرمائي چه نبي ﷺ فرمائیلي دي. زما په امت کښې به یوه ډله داسې همیشه وي چه په حق به جنګیږي اودچاسره به ئې مقابله راخي نودوي به پرې غالب کیږي، اوددوی اخیرې ډله به دجال وژني.

تشریح

د حدیث مضمون واضح دې رسول الله ﷺ فرمائي چه همیشه به زما په امت کښې یو جماعت داسې موندلې شي چا چه به د جهاد دپاره ملا تړلې وی او همیشه به د دین حق دپاره جنګ کوی، او الحمد لله هغه به په خپل دشمن باندې غالب وی، او دا د قتال او جهاد سلسله به د دجال پورې باقي وی، بیا به د جهاد سلسله منقطع شي په دې حدیث کښې د اخرهم نه مراد امام مهدی او سیدنا عیسی ﷺ دی، د امام مهدی په زمانه کښې به د دجال خروج کیږی او خلق به د هغه د مقابلې دپاره تیاروی، هلته به د مانځه وخت شي، چه په هغې کښې دوه روایتونه دی په بعض کښې د مازیګر د مونځ ذکر دې او په بعض کښې د سحر، د حضرت ګنګوهی په تقریر مسلم کښې دی چه د مازیګر د مونځ دپاره به اقامت شوې وی او امام مهدی به مونځ شروع کونکې وی چه ناځاپه به د سیدنا عیسی ﷺ نزول اوشی، امام مهدی به شاته کیږی او عیسی ﷺ ته به عرض اوکړی چه تاسو مونځ ورکړئ، سیدنا عیسی ﷺ به اوفرمائي ﴿لا ان بعضکم علی بعض امراء﴾ (مسلم ج ص ٨٧) پس دا اولنې مونځ خو به امام مهدی ورکړی او سیدنا عیسی ﷺ به د هغه اقتداء اوکړی، د هغې نه روستو به د مونځونو امامت سیدنا عیسی ﷺ کوی، د دې نه روستو به بیا سیدنا عیسی ﷺ د امام مهدی او مسلمانانو سره یوځائې کیدو باندې د هغه سره قتال کوی، او باب لد ته رسیدلو سره به هغه ختم کړی د دې نه روستو حضرت په بذل المجهود کښې لیکلې دی چه د قتل دجال نه روستو به جهاد باقي پاتې نه شی، خکه چه د دې واقعې نه روستو به بیا د یاجوج او ماجوج فتنه راشی او د هغوی خروج به اوشی، هغوی سره خو به قتال نه شي کولې په هغوی باندې د قدرت او طاقت د نه کیدو په وجه باندې بلکه خپله به ئې الله پاک هلاک کړی، د هغوی د هلاکت نه پس به په زمکه باندې یو کافر هم پاتې نه شی، ترڅو پورې چه سیدنا عیسی ﷺ ژوندې وی...... بیا چه کله د هغه د مرګ نه روستو کفر خور شی او د چا په مقدر کښې چه کفر وی هغه به کافر شی نو هغه وخت به یوه ډیره پاکه او مزیداره هوا اولګی کومه چه به د هر یو مومن روح قبض کړی او چه کوم کافر وی

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠٨٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٩/٤، ٤٣٣، ٤٣٧) (صحیح)

هغه به باقي پاتې شي او چه کله په زمکه باندې يو فرد الله الله وئيلو والا باقي پاتې نه شي سوا د کفارو نه، په هغوی باندې به قيامت قائم شي، حضرت فرمائی، لهذا چه په کوم روايت کښې دی ﴿ لا تزال طائفة من امتی ظاهرين علی الحق حتی تقوم الساعة ﴾ په دې حديث کښې د قيام ساعت نه مراد قرب قيامت دې. اه پس په حديث الباب کښې دی چه ﴿ حتی يقاتل اخرهم مع المسيح الدجال ﴾ دا حديث په خپل ظاهر باندې دې په دې کښې د تاويل حاجت نشته.

بَاب فِي ثَوَابِ الْجِهَادِ

د جهاد د ثواب او فضيلت بيان

[٢٤٨٥]() حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سُئِلَ أَيُّ الْمُؤْمِنِينَ أَكْمَلُ إِيمَانًا، قَالَ: "رَجُلٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ، وَرَجُلٌ يَعْبُدُ اللَّهَ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ قَدْ كُفِيَ النَّاسُ شَرَّهُ".

ترجمه: دابوسعيد خدردی رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی عليه السلام نه تپوس اوکړې شو چه کامل ايمان والا په مومنانو کښې څوک دې؟نبی عليه السلام اوفرمائيل هغه کس څوک چه دالله په لاره کښې په خپل نفس اومال سره جهاد کوي او بل هغه کس دي چه ديو غرپه دره کښې دالله په عبادت کښې مشغول وي أو مخلوق دده دشرنه محفوظ وي.

تشريح

د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه تپوس اوکړې شو د کامل مومن په باره کښې چه هغه څوک دې؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه مجاهد سړې کوم چه د الله پاک په لاره کښې خپل نفس او مال خرچ کړي، او بل هغه سړې کوم چه د يو غر په دره کښې د الله پاک په بندګئ کښې مشغول شی، څوک چه د خلقو دپاره کافی شوې وی د خپل شر نه، يعنی هغې ئې د خپل شر نه بچ کړې وی، ګويا په دې کښې اشاره ده چه کوم سړې د الله پاک د بندګئ دپاره ابادی پريخودلو سره په ځنګل کښې اوسيدو هغه لره دا نيت کول پکار دی چه خلق زما د شر نه محفوظ شی، ﴿ شعب ﴾ شعب وئيلې شی د دوه غرونو ترمينځه چه کومه فراخي وی، يا په يو غر کښې چه کومه لاره وی، او مقصود په حديث کښې د دې نه اعتزال او يواځې والي اختيارول دی چه په هر ځائې کښې وی.

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه (قاله المنذری)

عزلت اولی دې يا اختلاط؟

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا په هغه سړی باندې محمول دې کوم چه په جهاد باندې قدرت نه لری نو د داسې سړی په باره کښې عزلت غوره دې چه هغه د نورو نه په سلامتئ

[1]): صحيح البخاري/الجهاد ٢ (٢٧٨٦)، والرقاق ٣٤ (٦٤٩٤)، صحيح مسلم/الإمارة ٣٤ (١٨٨٨)، سنن الترمذي/فضائل الجهاد ٢٤ (١٦٦٠)، سنن النسائي/الجهاد ٧ (٣١٠٧)، سنن ابن ماجه/الفتن ١٣ (٣٩٧٨)، (تحفة الأشراف: ٤١٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١٦، ٣٧، ٥٦، ٨٨) (صحيح)

کښې وی او نور خلق د هغه نه په سلامتئ کښې پاتې شی، او ظاهره دا ده چه دا محمول دې د عهد نبوی نه پس باندې. اهـ من البذل، امام بخاری په کتاب الرقاق کښې په دې باندې باب تړلې دې، باب : العزلة راحة من خلاط السوء... بیا امام بخاری د ابو سعید خدری رضی الله عنه یعنی حدیث الباب ذکر فرمائیلې دې او هم د دې روایت په یو بل طریق کښې دی "يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ تَكُونُ الْغَنَمُ فِيهِ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ، أَوْ سَعَفَ الْجِبَالِ – وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ" او د کتاب الفتن په "باب التعرف فی الفتنة" کښې د سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه په حدیث کښې په لفظ د ﴿ یوشک ان یکون خیر مال المسلم غنم ﴾ الخ... وارد دې، علامه قسطلانی فرمائی، په دې حدیث کښې د عزلت ترغیب دې دا په اخره زمانه باندې محمول دې په زمان فتن باندې، حافظ فرمائی دا الفاظ صریح دی په دې خبره کښې چه د عزلت خیریت او فضیلت په اخر زمانه کښې دې، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې جهاد مطلوب وو او بیا وړاندې لیکی، په مسئله د عزلت کښې د سلفو اختلاف پاتې شوې دې، د جمهورو رائې دا ده چه اختلاط اولی دې د اعتزال نه، ځکه چه په دې کښې د فوائد دینیه اکتساب دې او د شعائر اسلامیه قیام او د سواد المسلمین تکثیر او د هغوی اعانت او عیادت وغیره، او د یو جماعت رائې دا ده چه عزلت اولی دې، ځکه چه په دې کښې سلامتی ده، په دې شرط چه د کومو څیزونو نه واقفیت ضروری دې هغه حاصل وی، هم دغه شان امام نووی رحمه الله فرمائی چه قول مختار د مخالطت د فضیلت دې د هغه سړی دپاره د چا چه په معصیت کښې د واقع کیدو غالب ګمان نه وی، او د چا چه تردد وی د هغه په حق کښې عزلت اولی دې، او حافظ فرمائی چه د امام نووی رحمه الله نه علاوه د نورو حضراتو رائې دا ده چه په دې کښې د اختلاف اشخاص او احوال فرق دې، د بعض په نزد عزلت متعین دې او د بعض په حق کښې اختلاط، او د بعض په حق کښې به ترجیح ته کتلې شی الی اخر ما ذکر.

په دې مسئله باندې اګر چه امام بخاری مستقل باب تړلې دې لکه چه پورته تیر شو او علامه قسطلانی او حافظ ابن حجر او هم دغه شان امام نووی دې حضراتو په دې مسئله باندې بحث کولو سره د جمهورو مسلک د افضلیت اختلاط لیکلې دې.

په دې مسئله کښې د جمهورو دلیل

خو په دې حضراتو کښې چا هغه حدیث چه په هغې کښې افضلیت اختلاط ذکر دې او د جمهورو هغه دلیل دې، هغه ئې نه دې ذکر کړې، هغه زمونږ علامه عینی رحمه الله ذکر کړې دې، چه د هغې الفاظ دا دی ﴿ الْمُؤْمِنُ الَّذِي يُخَالِطُ النَّاسَ، وَيَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ، أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لاَ يُخَالِطُ النَّاسَ، وَلاَ يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ ﴾ رواه الترمذی فی ابواب الزهد وابن ماجة. اهـ امام ترمذی دا حدیث په باب بلا ترجمه کښې ذکر کړې دې او ابن ماجه په ابواب الفتن کښې "باب الصبر علی البلاء" کښې دا څیز هم قابل غور دې چه حضرت امام بخاری د جمهورو د مسلک برعکس د عزلت په فضیلت باندې باب تړلې دې. فتامل

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ السِّيَاحَةِ
باب دې د سياحت نه د ممانعت په بيان کښې

[٢٤٨٦](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ التَّنُوخِيُّ أَبُو الْجَمَاهِرِ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنِي الْعَلَاءُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ائْذَنْ لِي فِي السِّيَاحَةِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ سِيَاحَةَ أُمَّتِي الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى".

ترجمه: دابوامامه رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوکس دنبي عليه السلام په خدمت کښې عرض اوکړوماته دسياحت اجازت راکړه، نبي عليه السلام اوفرمائيل زما دامت سياحت جهادفي سبيل الله دې.

شرح حديث

د سياحت معنى په قاموس کښې ليکلې ده چه ﴿ الذهاب فى الارض للعبادة، ومنه المسيح بن مريم ﴾ يعنى د عبادت په غرض سره د ښهرونو استوګنه ترک کول او د الله پاک ملک کتل د عبادت په نيت سره، نو رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته د دې اجازت نه دې ورکړې، ځکه چه په دې کښې د جمعې او جماعت ترک لازميږي او د خير د مجلسونو د شرکت نه محرومي او هم دغه شان ترک جهاد وغيره امور، صاحب د مجمع البحار په دريم جلد کښې د دې د لاندې يو حديث ليکلې دې چه: ﴿ لا سياحة فى الاسلام ﴾ او هم دغه شان دا روايت چه ﴿ سياحة هذه الامة الصيام ﴾ او صائم ته هم سائح وئيلې شي، ځکه چه کوم سړې په زمکه کښې سيل کوي د عبادت په نيت سره هغه سره هم د خوراک او څکاک نظم نه وي، توښه ورسره نه وي چه چرته ورته ملاؤ شوه هلته ئې اوخوړله ګينې لوږه ئې تيره کړه لکه چه د روژه دار پوره ورځ بغير د خوراک او څکاک نه تيريږي ګويا تشبيها صائم ته سائح وئيلې شي. اه هم دغه شان رسول الله ﷺ جهاد ته سياحت وئيلې دې هم دغه شان په جهاد کښې هم سير فى الارض او د ابادئ نه لرې والې مونډلې شي.

بَابٌ فِي فَضْلِ الْقَفْلِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى
د جهاد فضيلت او ددې نه د واپس راتلو بيان

[٢٤٨٧](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ عَنِ ابْنِ شُفَيٍّ، عَنْ شُفَيِّ بْنِ مَاتِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ هُوَ ابْنُ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ".

ترجمه: عبدالله بن عمرو دنبي عليه السلام نه روايت کوي چه فرمائيلې ئې دي دجهاد نه دواپسئ اجر داسې دې لکه چه جهادته دتلو دې.

شرح حديث

قفله: او قفول په معنى د رجوع، د دې حديث ئې دوه معنى ليکلې دى:

١: د جهاد نه واپس کيدل په منزله د جهاد دى يعنى مجاهد چه کله د جهاد نه فارغه شي نو د هغه په واپس کيدو کښې هم اجر او ثواب دې څنګه چه ئې په تلو کښې وو، ځکه چه واپس

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٩٠١) (حسن)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٨٨٢٦)، وقد أخرجه مسند احمد (٢/١٧٤) (صحيح)

راتلو سره به په نورو فرائضو کښې مشغول کيږي، او په دې کښې خپل نفس ته ارام رسوي او قوت حاصلول او دوباره د جهاد تياري، هم دغه شان د خپل اهل وعيال د حقوقو ادا کول.
۲: د دې نه مراد تعقيب دې کوم چه بعض وخت مجاهد اختيار وي او هغه دا دې چه څنګه مجاهد واپس کيږي يعنی د دشمن د طرف نه بيا د لارې نه دوباره د هغه طرف ته واپس کيدل کوم ته چه مجاهدين په دوه مصلحتونو سره کوي يو دا چه کله دشمن دا ګوري چه د مسلمانانو لښکر واپس لاړو نو اوس هغه مطمئن کيدو سره ټول بهر راشي نو په داسې صورت کښې هغه مجاهد ته په هغوی باندې د حملې کولو ښه موقع ملاويږي او کله په دې قفول کښې دا مصلحت او هوښيارتيا وي چه اسلامي لښکر چه کله د دار الحرب نه د دار الاسلام طرف ته واپس کيږي نو بعض وخت داسې وي چه دشمن دوباره د حملې کولو سوچ کوي او ناڅاپه د شاته نه راورسيږي نو د دشمن د دې چالاکئ نه د بچ کيدو دپاره بعض وخت مجاهدين د لارې په مينځ کښې د دشمن طرف ته واپس کيږي چه چرته دشمن په مونږ پسې شاته خو نه دې راروان، نو رسول الله ﷺ فرمائي چه غازی ته په لاره باندې واپس کيدو سره هم دومره ثواب ملاويږي څومره چه ابتداء په تلو کښې وو، برابره خبره ده که دشمن سره مخامخ شي يا نه شي. اه من البذل نقلا عن النهاية

بَابُ فَضْلِ قِتَالِ الرُّومِ عَلَى غَيْرِهِمْ مِنَ الْأُمَمِ

د نورو قومونو په نسبت د روميانو سره د جنګ کولو فضيلت

د حديث ترجمة الباب سره مطابقت:
په هغه زمانه کښې د روم اوسيدونکی نصاري وو خو په حديث کښې دهغه صحابی ذکر دې کوم چه د يهودو مقتول وو يعنی د خيبر يهودو هغه قتل کړې وو، اوهم دهغه فضيلت په حديث کښې ذکر دې، لهذا دا به وئيلې شي چه په ترجمة الباب کښې د روم نه مطلق اهل کتاب مراد دی چه يهود هم په دې کښې داخل شي او حديث د ترجمة الباب سره مطابق شي.

[۲۴۸۸]() حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَلَّامٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ فَرَجِ بْنِ فَضَالَةَ، عَنْ عَبْدِ الْخَبِيرِ بْنِ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهَا أُمُّ خَلَّادٍ وَهِيَ مُنْتَقِبَةٌ تَسْأَلُ عَنِ ابْنِهَا وَهُوَ مَقْتُولٌ، فَقَالَ لَهَا بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: جِئْتِ تَسْأَلِينَ عَنِ ابْنِكِ وَأَنْتِ مُنْتَقِبَةٌ، فَقَالَتْ: إِنْ أُرْزَأَ ابْنِي فَلَنْ أُرْزَأَ حَيَائِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ابْنُكِ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ" قَالَتْ: وَلِمَ ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "لِأَنَّهُ قَتَلَهُ أَهْلُ الْكِتَابِ".

ترجمه: قيس بن شماس دخپل پلار نه روايت کوي فرمائي چه يوه زنانه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه کومه چه په ام خلاد مشهوره وه اونقاب ئې اچولې وو اودخپل ځوی په باره کښې ئې پوښتنه کوله کوم چه شهيد شوې وو، په صحابه کرامو کښې ورته يو کس ووئيل دخپل ځوی تپوس هم کوې اونقاب دې هم اغوستې دې (يعنی په غمونو کښې اکثر خلک دومره پرده نه کوي) هغې ووئيل ځوې مې ورک شوې دې حيا خو مې نه ده ورکه کړې، نبی ﷺ ورته اوفرمائيل ستا د ځوی دپاره ددوه شهيدانو اجر دې، هغې ووئيل دا ولې اې

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٦٨) (ضعيف)

دالله رسوله ﷺ ، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل ځکه چه اهل کتابو وژلي دي.

شرح حديث

يوه زنانه چه د هغې نوم ام خلاد دې، په داسې حال کښې چه هغه باقاعده په پرده کښې وه، د خپل ځوئي په باره کښې ئې تپوس کولو کوم چه قتل شوې وو نو ﴿ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ابْنُكِ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ ﴾ نو رسول الله ﷺ هغه زنانه ته زيرې ورکړو چه ستا د ځوئي دپاره د دوه شهيدانو ثواب دې، هغه عرض اوکړو يا رسول الله! ځنګه او ولې؟ نو هغه اوفرمائيل چه هغه قتل کړې دې اهل کتابو، د هغه زنانه د مقتول ځوئي نوم خلاد وو، د يهود بنو قريظه يوه زنانه د هغه د شهادت سبب جوړ شو هغه کمبختې په هغې د لوړې نو يو کانړې راګزار کړې وو چه په هغه سره ختم شوې وو، د هغه يهوديه نوم بعض علماء کرامو "بنانة" ليکلې دی دا حديث د ترجمة الباب عين مطابق دې، د کوم نه چه د مقتول اهل کتاب فضيلت ثابتيږی د مشرکينو د مقتول په مقابل کښې، د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دی چه ابن قدامه د دې حديث نه استدلال کړې دې په دې باندې چه د اهل کتاب سره جهاد او قتال افضل دې په نسبت د غير اهل کتاب سره قتال کولو، په دې حديث کښې دا هم مذکور دی چه کله ام خلاد د هغه په خدمت کښې ډير په صبر او سکون سره چه د هغې اندازه حاضرينو ته د هغې د هيئت نه اوشوه باقاعده پرده کښې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه باوجود د دومره لوئې مصيبت رسيدلو نو د يو صحابی نه صبر اونشو، او وې وئيل چه ته په دې حالت کښې هم پرده کښې راغلې ئې (ګينې عام طور خو د داسې مصيبت او پريشانئ په موقع باندې زنانو سره د پردې وغيره خيال نه وی) نو هغه وخت چه دې زنانه د هغه صحابی د سوال جواب ورکړو هغه د هغې د موجوده غوره هيئت نه هم زيات قيمتي دې، هغې اوفرمائيل ﴿ إِنْ أُرْزَإِ ابْنِي فَلَنْ أُرْزَأَ حَيَائِي ﴾ که ما خپل ځوئې ورک کړې دې نو څه اوشو! د خپلې حياء د ورکيدو په مصيبت خو نه يم اخته شوې؟ يعنی که زه د پردو سرو مخې ته بغير د پردې نه راغلې اوم نو زما په حق کښې به دا مصيبت زيات لوئې معلوميدو د موجوده مصيبت نه، په صبر او استقلال باندې ليکلو والا مصنفين ددې صحابيه دا جمله په طور دمثال پيش کوی. رضی الله تعالی عنها ورضی عن ابنها.

بَابٌ فِي رُكُوبِ الْبَحْرِ فِي الْغَزْوِ

په سمندر کښې د جهاد په نيت سره د سفر کولو د فضيلت بيان

[٢٤٨٩] (١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّا، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ بِشْرٍ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَرْكَبُ الْبَحْرَ إِلَّا حَاجٌّ أَوْ مُعْتَمِرٌ أَوْ غَازٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنَّ تَحْتَ الْبَحْرِ نَارًا وَتَحْتَ النَّارِ بَحْرًا".

ترجمه: دعبدالله بن عمرو نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی دحج اوعمرې اوجهادنه دې علاوه د بل غرض دپاره په سمندرکښې سفراونه کړې شي ځکه چه دسمندر دلاندې اور دې او هغه اور دلاندې سمندردې.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٠٩) (ضعيف)

تشریح

د حدیث مضمون دا دي چه د سمندر سفر د دري کسانو نه علاوه بل چا لره نه دی کول پکار، حج کونکي، عمره کونکي، او جهاد کولو والا، یعنی د دریاب سفر د انسان په حق کښې د خشکۍ د سفر په مقابله کښې خطرناک دې، هم په دې وجه باندې بغیر د ځه اهم ضرورت او دینی کار نه نه دی کول پکار، پس مشهور ده چه!

بدریامنافع بیشاراست اگرخواهی سلامت برکناراست

وړاندې په حدیث کښې د دریابی سفر خطرناک کیدل فهم کړې شوې دی چه د سمندر د لاندې اور دې او بیا د هغه اور د لاندې اوبه دی، د دې حدیث شرح او بعض نور فوائد مونږ سره په کتاب الطهارة کښې د باب الوضوء بماء البحر د لاندې تیر شوې دی هلته دې رجوع اوکړې شی. اخرج البخاری فی التاریخ الکبیر فی ترجمة بشیر بن مسلم.

بَابُ فَضْلِ الْغَزْوِ فِي الْبَحْرِ[1]

په سمندر کښې د جهاد کولو دفضیلت بیان

[۲۴۹۰] ([2]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي أُمُّ حَرَامٍ بِنْتُ مِلْحَانَ أُخْتُ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عِنْدَهُمْ فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَضْحَكَكَ؟ قَالَ: "رَأَيْتُ قَوْمًا مِمَّنْ يَرْكَبُ ظَهْرَ هَذَا الْبَحْرِ كَالْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ" قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ: "فَإِنَّكِ مِنْهُمْ"، قَالَتْ: ثُمَّ نَامَ فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَضْحَكَكَ فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، قَالَ: "أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِينَ" قَالَ: فَتَزَوَّجَهَا عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ فَغَزَا فِي الْبَحْرِ فَحَمَلَهَا مَعَهُ فَلَمَّا رَجَعَ قُرِّبَتْ لَهَا بَغْلَةٌ لِتَرْكَبَهَا فَصَرَعَتْهَا فَانْدَقَّتْ عُنُقُهَا فَمَاتَتْ.

ترجمه: انس بن مالك دام حرام بنت ملحان (څوك چه دانس دمور ام سلیم خورده یعنی دانس دمورطرفه ترور) نه روایت کوی چه یوځل نبی ﷺ زمونږ په ځائې کښې قیلوله (دغرمې خوب کولو چه رابیدارشو نوخندل ئې ام حرام وائی چه ما ترې پوښتنه اوکړه چه اې دالله رسوله ولې خاندې؟نبی ﷺ اوفرمائیل ماپه خوب کښې ولیدل چه زما دامت یوه ډله په سمندرکښې سفرکوي لکه بادشاهان چه په تختونوباندې وي ام حرام عرض اوکړوچه اې دالله رسوله زما دپاره دالله تعالی نه اوغواړه چه ماهم دهغوی نه اوګرځوی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل ته په هغوی کښې شوې، ددې نه پس بیا اوده شوکله چه رابیداشونوخندل ئې ام حرام وائی چه ما ترې بیا پوښتنه اوکړه چه اې دالله رسوله ولې خاندې؟ نبی ﷺ هم هغه

[1] په الدر المنضود کښې او بعض درسی نسخو کښې دلته د باب دا عنوان موجود نه دې بلکه دا احادیث په باب سابق کښې ذکر کړې شوې دي. ابو عمار عبدالمالك

[2]): صحيح البخاري/الجهاد ۳ (۲۷۸۸)، ۸ (۲۷۹۹)، ٦۳ (۲۸۷۷)، ۷۵ (۲۸۹٤)، ۹۳ (۲۹۲٤)، الاستئذان ٤۱ (٦۲۸۲)، والتعبير ۱۲ (۷۰۰۱)، صحيح مسلم/الجهاد ٤۹ (۱۹۱۲)، سنن الترمذي/فضائل الجهاد ۱۵ (۱٦٤۵)، سنن النسائي/الجهاد ٤۰ (۳۱۷٤)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۱۰ (۲۷۷٦)، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۰۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجهاد ۱۸(۳۹)، مسند احمد (۳/۲٦٤، ٦/۳٦۱، ٤۲۳، ٤۳۵)، دي/الجهاد ۲۹ (۲٤٦۵) (صحيح)

خبره بیا اوفرمائیله ام حرام عرض اوکړو چه اې دالله رسوله زما دپاره دالله تعالٰی نه اوغواړه چه ماهم دهغوی نه اوګرځوی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل ته په هغه مخکنو کسانو کښې ئې، انس رضی الله عنه وائی چه بیا وروسته ورسره عباده بن صامت رضی الله عنه نکاح اوکړه، اودجهاد دپاره دسمندر په سفر روان شو او ام حرام ئې هم دځان سره بوتله کله چه واپس راتلل نود یوې قچري نه اوغورځیدله څټ ئې مات شو او وفات شوه. [۲۴۸۹]

د حدیث دوه مطلبونه

سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی چه زما د مور ام سلیم رضی الله عنها خور یعنی ام حرام رضی الله عنها ماته بیان اوکړو چه یو ځل رسول الله ﷺ د هغې په خوا کښې قیلوله اوفرمائیله، لږ ساعت پس مسکې کیدونکي بیدار شو هغه فرمائی چه ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ تاسو څه څیز اوخندولې؟ وړاندې رسول الله ﷺ د دې په جواب کښې جمله ارشاد اوفرمائیله د هغې دوه مطلبونه علماء کرامو بیان کړې دی : ۱: چه زما نه روستو چه کوم خلق د جهاد دپاره د دریاب سفر کوی هغوی ما ته وخت کښې په خوب کښې داسې شان وشوکت سره په کشتئ کښې ناست اولیدل (د جهاد د سفر دپاره) لکه چه بادشاهان په خپلو تختونو باندې کیناستلو سره بادشاهت کوی. ۲: ما هغه خلق کوم چه به زما نه روستو جهاد دپاره په دریاب کښې سفر کوی ما هغوی په جنت کښې داسې په تختونو باندې ناست اولیدل، چه په کوم شان وشوکت سره بادشاهان کینی، په اول مطلب کښې په دنیا کښې کیناستل مراد وی، او په دویم مطلب کښې په اخرت او جنت کښې.

د دې حدیث نه دا هم واضحه شوه چه رسول الله ﷺ یا د هغه ملګرو د رسول الله ﷺ په ژوند باندې د دریاب سفر نه دې کړې لکه چه فی الواقع هم داسې ده.

قالت﴿ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ ﴾ ام حرام رضی الله عنها د رسول الله ﷺ خبره اوریدلو سره د هغه نه درخواست اوکړو چه زما دپاره دعا اوکړئ چه الله پاک ما هم په هغه جماعت کښې داخل کړی، رسول الله ﷺ چه دا واوریدل نو وې فرمائیل : ته هم په هغوی کښې ئې، یعنی هغه دعا اوفرمائیله لکه چه په یو روایت کښې دی... او هغه ته به د دې دعا د قبولیت علم شوې وی، ام حرام فرمائی چه د دې نه روستو هغه بیا اوده شو، او لږ ساعت پس په خندا باندې بیا بیدار شو، هغه فرمائی چه ما بیا د رسول الله ﷺ نه هم دا تپوس اوکړو چه چه تاسو ولې اوخندل؟ دې ځل هم رسول الله ﷺ ماته هم هغه شان جواب راکړو، فرمائی چه ما دې ځل هم عرض اوکړو چه زما دپاره دعا اوکړئ، چه الله پاک ما هم د هغوی نه کړی، هغه اوفرمائیل : ستا خو د اول خلقو نه کیدل متعین شوې دی، وړاندې راوی فرمائی (چه د رسول الله ﷺ د پیشنګوئی ظهور داسې اوشو) چه د دې واقعې نه روستو ام حرام د عبادة بن الصامت رضی الله عنه سره واده اوکړو، او د واده نه پس ئې هغه ځان سره غزوه ته بوتله یعنی اوله بحری غزوه، بیا چه کله عباده د هغه ځائې نه راواپس شو نو په واپسئ کښې ام حرام د هغه سره وه، د هغې د سورلئ دپاره خچر هغې ته نزدې کړې شو خو هغه سورلئ هغه راوغورځوله چه هغې سره ئې سټ مات شو او وفات شوه.

په حديث کښې دوه سمندري غزواتو ذکر

په دې حديث کښې د دوه سمندري غزواتو ذکر دې چه د هغې نه اوله غزوه په ۲۸ هجرى کښې پيښه شوې وه د سيدنا عثمان رضي الله عنه د خلافت په زمانه کښې د سيدنا امير معاويه رضي الله عنه په امارت کښې، هغه وخت امير معاويه رضي الله عنه د شام امير وو، دا غزوه په قبرص کښې پيښه شوې وه، په دې وجه دې ته غزوه قبرص وئيلې شي، قبرص يوه جزيره ده په بحر روم کښې هم په دې غزوه کښې د ام حرام رضي الله عنها شهادت شوې دې او د هغې قبر او مزار هم هلته جوړ شو، او دويمه غزوه کومه چه په دې حديث کښې ذکر شوې ده هغه هم د امير معاويه رضي الله عنه په زمانه کښې شوې ده چه په هغې کښې د لښکر امير يزيد بن معاويه وو، د بخاري شريف په يو روايت کښې د دې دواړو غزواتو تذکره داسې شوې ده ﴿ قَالَ عُمَيْرٌ فَحَدَّثَتْنَا أُمُّ حَرَامٍ أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَوَّلُ جَيْشٍ مِنْ أُمَّتِي يَغْزُونَ الْبَحْرَ قَدْ أَوْجَبُوا قَالَتْ أُمُّ حَرَامٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَا فِيهِمْ قَالَ : أَنْتِ فِيهِمْ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ جَيْشٍ مِنْ أُمَّتِي يَغْزُونَ مَدِينَةَ قَيْصَرَ مَغْفُورٌ لَهُمْ فَقُلْتُ أَنَا فِيهِمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ : لاَ ﴾ د بخاري په دې حديث کښې د غزوه ثانيه هم تعيين دې، د مدينه ثانيه نه مراد قسطنطنيه ده، کوم چه د بلاد روم دار السلطنت وو، هم په دې وجه امام بخاري رحمه الله دا حديث په کتاب الجهاد کښې په "باب ما قيل فى قتال الروم" کښې ذکر فرمائيلې دې، دا غزوه ثانيه په ۵۲ هجرى کښې پيښه شوې وه، هم په دې غزوه کښې سيدنا ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وفات شوې دې، قال الحافظ وفى تلک الغزاة مات ابو ايوب الانصارى فاوصى ان يدفن عند باب القسطنطنيه وان يعفى قبره ففعل به ذلک فيقال ان الروم صاروا بعد ذلک يستسقون به، د بخاري په دې حديث کښې د هر دوه غزواتو په باره کښې ﴿ اول جيش من امتى يغزون البحر ﴾ فرمائيلې شوې دې، د اول اوليت په اعتبار د صحابه کرامو دې او د ثاني اوليت په اعتبار د تابعين يعنى په اعتبار د اکثريت، ګينې په دواړو کښې د صحابه او تابعينو شرکت موندلې شوې دې، امام بخاري رحمه الله دا حديث په خپل صحيح کښې په ډيرو ځايونو کښې راوړې دې.

کتاب الجهاد، کتاب الاستئذان وغيرهما، فتح البارى شپږم جلد صفحه ۱۲۰ کښې دى چه مهلب شارح بخاري فرمائى چه په دې حديث کښې د سيدنا معاويه رضي الله عنه منقبت دې ځکه چه هغه اول من غزا البحر دې يعنى د جهاد دپاره د ټولو نه اول دريابى سفر کولو والا (د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې هيڅ دريابى سفر نه دې شوې) او هم دغه شان منقبت دې د هغه د خوئى يزيد ځکه چه هغه د ټولو نه اولنې سړې وو چا چه د قيصر د ښهر غزوه اوکړه. اهـ

ايا د يزيد په باره کښې د مغفرت زيرې ثابت دې؟

پورته د بخاري په روايت کښې د غزوه ثانيه کونکو دپاره د ﴿ مغفور لهم ﴾ زيرې راغلې دې خو په دې غزوه کښې شرکت کولو والا يزيد بن معاويه هم دې بلکه امير الجيش هم هغه دې په دې باندې د اهل سير وتاريخ اتفاق دې، اوس يو طرف ته خو د هغه دپاره د مغفرت زيرې او بل طرف ته د هغه فسق او فجور او غلطې کارنامې، نو په دې کښې تطبيق ګرانيږى چه په هغې کښې د حديث د شارحينو رائې مختلفې دى لکه چه شروح حديث کتلو نه

معلومیږی، مهلب وئیلي وو چه په دي حدیث کښي د یزید منقبت او فضیلت دي، په دي باندي ئي ابن التین او ابن المنیر تعاقب کړي دي چه د یزید په دي عموم مغفرت کښي د داخلیدو نه دا نه لازمیږی چه هغه دي د څه خاص دلیل د وجي نه د دي حکم نه خارج نه شی، ځکه چه هر یو حکم مشروط وی د وجود شرائط او انتفاء موانع سره لهذا چه د کومو خلقو په باره کښي رسول الله ﷺ ﴿ مغفور لهم ﴾ فرمائیلي دی هغه حکم مقید دي د دي قید سره "په دي شرط چه هغوی د مغفرت اهل وی" ابن التین دا احتمال هم بیان کړي دي چه ممکنه ده چه یزید د دي لښکر سره حاضر شوي نه وی، حافظ فرمائی دا خبره غلطه ده مګر دا چه د هغه مراد د عدم حضور نه عدم مباشرت قتال وی نو دا ممکن ده، باقی د هغه په دي لښکر کښي شرکت کول بلکه امیر جیش کیدل متفق علیه خبره ده، د حضرت شیخ په حاشیه بذل کښي دی چه د حضرت شاه ولی الله میلان د تراجم بخاری په شرح کښي دا دي چه د دي حدیث نه د یزید مغفور له کیدل ثابتیږی د تیرو احوالو په اعتبار سره ځکه چه جهاد د کفاراتو نه دي او د مکفرات تعلق د ذنوب سابقه سره وی نه د هغه ګناهونو سره کوم چه د هغي نه روستو پیښ شوي دی، او! که دي حدیث کښي د ﴿ مغفور له ﴾ سره سره د ﴿ الی یوم القیامة ﴾ لفظ هم وي نو بیشکه دا به د یزید په نجات باندي دال وي. واذ لیس فلیس بل امره مفوض الی الله تعالی فیما ارتکبه من القبائح بعد هذه الغزوة من قتال الحسین وتخریب المدینة والاصرار علی شرب الخمر ان شاء عفا عنه وان شاء عذبه الی اخره. اه من هامش اللامع

هل یجوز لعن یزید؟

بیا د دي نه روستو په حاشیه لامع کښي د لعن یزید د جواز او عدم جواز بحث کوم چه د علماء کرامو ترمینځه اختلافی دي ډیر په تفصیل سره بیان کړي شوي دي او په اخر کښي د حضرت ګنګوهی رحمه الله رائي هم د فتاوی رشیدیه نه نقل کړي شوي ده چه د هغي په اخر کښي دی چه ﴿ لکن الاحتیاط فی السکوت ﴾ ځکه چه که لعن یزید مباح وي نو د هغي په ترک کښي خو هیڅ حرج نشته ځکه چه لعنت واجب او مستحب د چا په نزد هم نه دي، او که غیر مباح وی نو په دي صورت کښي د لعنت د لاعن طرف ته د واپس راتلو خطره ده. اه والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۴۹۱]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَهَبَ إِلَى قُبَاءٍ يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ وَكَانَتْ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمًا فَأَطْعَمَتْهُ وَجَلَسَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ وَسَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَمَاتَتْ بِنْتُ مِلْحَانَ بِقُبْرُصَ.

ترجمه: ابو طلحه وائی چه ما د انس بن مالک رضی الله عنه نه اوریدلي دي چه کله به نبی علیه السلام مسجد قباء ته تلو نو دام حرام کره به ورتلوا وداد عباده بن صامت بی بی وه، یوه ورځ نبی علیه السلام

[1]: صحيح البخاري/الجهاد ٣ (٢٧٨٨)، الاستئذان ٤١ (٦٢٨٢)، التعبير ١٢ (٧٠٠١)، صحيح مسلم/الجهاد ٤٩ (١٩١٢)، سنن الترمذي/الجهاد ١٥ (١٦٤٥)، سنن النسائي/الجهاد ٤٠ (٣١٧٣)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٨ (٣٩)، (تحفة الأشراف: ١٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٤٠) (صحيح)

ورغې اوهغې ورباندې خوراك اوكړو، اوپه سركښې ئې ورله سپكې لټول شروع كړل، اوباقى حديث ئې دتير شوى حديث په شان بيان كړو. ابوداود وائى چه ام حرام په قبرص كښې وفات شوه.

شرح حديث

دا د اولنى حديث دويم طريق دې، په اولنى روايت كښې صرف دا وو ﴿ قال عندهم ﴾ چه رسول الله ﷺ د ام حرام په كور كښې قيلوله اوكړه، په دې روايت كښې د رسول الله ﷺ د هغې په كور كښې خوراک كولو او په سر مبارک كښې د سپږې موندلې كيدو اضافه ده. ﴿وساق هذا الحديث ﴾ يعنى وړاندې بيا هم هغه حديث دې كوم چه پورته ذكر دې يعنى د غزوة البحر ذكر.

د حديث متعلق څو سوالونه او د هغې جوابات

په دې حديث كښې څو سوالونه دى:

رومبى اشكال اودهغې جواب: ١: په اولنى حديث كښې وو چه ﴿ فتزوجها عبادة بن الصامت﴾ چه د ام حرام نكاح د سيدنا عبادة رضی الله عنه سره د خوب د قصې نه روستو شوې وه، او په دې روايت كښې دى چه ﴿ وكانت تحت عبادة ﴾ چه د دې نه معلوميږى چه هغه د هغه په نكاح كښې د مخكښې نه وه، د دې تاويل دا كړې شوې دې چه په دې كښې اصل خو اولنې روايت دې، او په دې دويم روايت كښې د مال اعتبار كولو سره ﴿ كانت تحت عبادة ﴾ وئيلې شوې دې يعنى چه روستو د هغه په نكاح كښې راغلې وه. ٢: دويم اشكال په دې حديث باندې د حجاب متعلق دې، د رسول الله ﷺ ام حرام كره تلل او هلته قيلوله كول وغيره كوم چه په حديث كښې ذكر دى، د دې په توجيه كښې اقوال مختلف دى، امام نووى رحمه الله فرمائى چه په دې باندې د علماء كرامو اتفاق دې چه ام حرام د رسول الله ﷺ محرم وه خو د دې په كيفيت كښې اختلاف دې، وئيلې شوې دى چه هغه ئې رضاعى ترور وه يا رضاعى مور، او د دې په مقابل كښې دمياطى دې چا چه على وجه المبالغه رد كړې دې په هغه خلقو باندې كوم چه د محرميت دعوى كوى، او ابن العربى د بعض علماء كرامو نه نقل كړې دى چه ﴿كان النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معصوما ﴾ چه رسول الله ﷺ معصوم وو لهذا په نامحرم باندې داخليدل د هغه د خصوصياتو نه دى، يو جواب دا هم كړې شوې دې چه كيدې شى دا د نزول حجاب نه مخكښې واقعه وى، نورو حضراتو د دې جواب ترديد كړې دې چه دا واقعه د حجاب نه د روستو ده، او قاضى عياض د خصوصيت وجه رد كړې ده څكه چه د خصوصيت ثبوت بغير د دليل نه نه كيږى، خو حافظ فرمائى چه زما په نزد احسن الاجوبه صرف خصوصيت دې، پاتې شوه دا خبره چه خصوصيت بغير د دليل نه نه ثابتيږى نو زه وايم چه دليل په دې باندې واضح دې. اهـ مختصرا من المنهل وبزيادة. ٣: دريم سوال د "تفلى راسه" سره متعلق دې چه ايا د رسول الله ﷺ په سر مبارک كښې به سپږې كيدې؟ په بذل كښې ليكلې دى چه د تفتيش قمل نه دا نه لازميږى چه د هغه په سر مبارک كښې دې سپږې هم وى څكه چه داسې بعض وخت د سر د راحت دپاره هم كولې شى چه دا يو قسم سر مالش

کول دی، او په کوکب جلد ۱ صفحه ۴۲۷ کښې لیکلې دی، چه سپږې د رسول اللهﷺ په سر مبارک کښې نه وې ځکه چه هغه خو د عدم نظافت او خیرو نه پیدا کیږی، او د خیرو وجود هلته نه وو بلکه کیدې شی چه صرف د راحت دپاره داسې کړې شوې وی، یا ممکنه ده چه د سپږې موندل په دې وجه وی چه چرته د بل چا سپږه د هغوی سره مبارک ته نه وی رسیدلې، په حاشیه د بذل کښې دی، د علامه مناوی او بجیرمی رائې په شرح د شمائل کښې هم دا ده چه ﴿ لم یکن فی راسه قمل ﴾، او ملا علی قاری په شرح د شمائل کښې لیکلې دی چه ازاله قمل د هغې د وجود د کراهت د وجې نه وه نه دا چه رسول اللهﷺ ته د هغې نه تکلیف وو، ﴿ ولم یکن القمل یوذیه تکریما له ﴾ اهـ د دې مطلب دا شو چه عدم قمل خو د رسول اللهﷺ خصوصیت نه وو البته عدم ایذاء قمل د هغه خصوصیت وو. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، وقال الترمذی : حسن صحیح، قال المنذری)

[٢٤٩٢]([1]) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أُخْتِ أُمِّ سُلَيْمٍ الرُّمَيْصَاءِ، قَالَتْ: نَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَيْقَظَ وَكَانَتْ تَغْسِلُ رَأْسَهَا فَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتَضْحَكُ مِنْ رَأْسِي؟ قَالَ: لَا، وَسَاقَ هَذَا الْخَبَرَ يَزِيدُ وَيَنْقُصُ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: الرُّمَيْصَاءُ أُخْتُ أُمِّ سُلَيْمٍ مِنَ الرَّضَاعَةِ.

ترجمه: ام سلیم دخور رمیصاء رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ دخوب نه رابیدارشو اوما سر وینځلو اوهغه خندل هغې عرض اوکړوچه اې دالله رسوله زما په سر پورې خاندې نبی ﷺ اوفرمائیل نه، اوبیا ئې روایت دکمې اوزیاتې سره تراخیره بیان کړو، ابوداؤد وائی: رمیصاء د ام سلیم رضاعی خور وه.

[٢٤٩٣]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكَّارٍ الْعَيْشِيُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ الْجَوْبَرِيُّ الدِّمَشْقِيُّ الْمَعْنَى، قَالَ: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ، أَخْبَرَنَا هِلَالُ بْنُ مَيْمُونٍ الرَّمْلِيُّ، عَنْ يَعْلَى بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ أُمِّ حَرَامٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ وَالْغَرِقُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ".

ترجمه: دام حرام رضی الله عنها نه مروي دي چه نبی ﷺ اوفرمائیل: په دریاب کښې دسفر کونکی دپاره په چاچه دسر چکر کیدو په وجه قې ولګی دیو شهید برابر اجر دې، اوهغه کس څوک چه په دریاب کښې ډوب شي مستحق د اجر ددوه شهیدانو برابر دي.

شرح حدیث

﴿ الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ وَالْغَرِقُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ ﴾ د رسول اللهﷺ ارشاد دې چه کوم سړی ته د دریابی سفر د وجې نه د سر چورلیدل او قئ راشی (یعنی د چا دریابی سفر چه د عبادت دپاره وی، حج، عمره او جهاد وغیره) د هغه دپاره د یو شهید اجر دی، او که غرق شی په دې کښې د هغه دپاره اجر شهیدین دې.

په حاشیه د بذل کښې د علامه عینی نه نقل کړې دې چه دا حدیث دلیل دې د هغه خلقو چه وائی چه شهید البحر افضل دې د شهید البر نه.

[1]: انظر حدیث رقم: (٢٤٩٠)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٠٧) (صحیح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٠٩) (حسن)

[۲۴۹۴] () حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ عَتِيقٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ سَمَاعَةَ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "ثَلَاثَةٌ كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ رَجُلٌ خَرَجَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُ، فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرُدَّهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيمَةٍ، وَرَجُلٌ رَاحَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُ، فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرُدَّهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيمَةٍ، وَرَجُلٌ دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

ترجمه: ابو امامة باهلی د نبی ﷺ نه روایت کوی چه فرمائی ددې ددرې کسانوذمه وار الله تعالی دې یوهغه کس دې چه دجهاد په اراده دالله تعالی په لاره کښې اوځي، یاخوبه ئې دمرګ نه پس جنت ته بوځي اویابه ئې ژوندې سلامت داجرا وثواب اوغنیمت سره خپل اهل ته واپس راولي، او بل هغه کس دې چه دجومات طرف ته روان شی، یاخوبه ئې جنت ته بوځي اویابه ئې د اجر اوثواب اوغنیمت سره خپل اهل ته واپس راولي، او بل هغه کس دې چه خپل کورته په سلام وئیلوسره داخلیږي نو دده ضامن هم الله تعالی دې.

شرح حدیث

قوله: ﴿ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ ثَلَاثَةٌ كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ ﴾ د رسول الله ﷺ ارشاد دې چه درې سړی داسې دی کوم چه د الله پاک په ضمان یعنی ضامن په معنی د مضمون دی:

۱: په جهاد کښې تلونکي سړي د الله پاک په ضمان کښې دې، ترديې چه که هغه وفات شی نو هغه الله پاک جنت کښې داخلوی، یا دا چه هغه واپس کوی د جهاد نه اجر او غنیمت سره، (یعنی په دې دواړو خبرو کښې یوه ذمه داری ده).

۲: چه کوم سړې د مونځ یا عبادت دپاره د مسجد طرف ته روان شی هغه هم د الله پاک په ضمان کښې دې ترديې چه الله پاک ئې وفات کړی نو هغه به جنت ته ځی یا به هغه راواپس کړی. (د وفات نه کیدو په صورت کښې) اجر او غنیمت سره.

۳: کوم سړې چه خپل کور ته داخل شی د سلام سره، یعنی د داخلیدو چه کومه مسنون طریقه ده، نو دا سړې هم د الله پاک په ضمان کښې دې، په قران کریم کښې دی ﴿ فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً ﴾ او په ترمذی کښې د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل ﴿ یا بنی اذا دخلت علی اهلک فسلم تکن برکة علیک وعلی اهل بیتک ﴾ او په ابوداؤد کښې روایت دې کوم چه به په کتاب الادب کښې راشی چه په هغې کښې د دخول بیت دا دعا ذکر شوې ده: ﴿ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا ثُمَّ لْيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ ﴾ یعنی دروازې ته د داخلیدو په وخت به دا دعا اولولی او د کور خلقو ته کتلو سره سلام اوکړی بلکه علماء کرامو خو دا لیکلې دی چه که په کور کښې یو کس نه وی نو نو بیا هم سلام کول پکاردی، د پورته ذکر شوی آیتونو د عموم د وجې نه کما قال النووی فی الاذکار د دې

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۴۸۷۵) (صحيح)

نه معلومه شوه چه د دخول بیت په وخت سلام کول په دې کښې ډیر فضیلت او برکت دې، په قران او حدیث دواړو کښې د دې امر راغلې دې، لهذا د دې هر سړی لره اهتمام کول پکار دی او دا معمولی کار نه دی ګنړل پکار، عادت که نه وی نو د دې عادت اچول پکار دی، والله الموفق، ما اوریدلې دی چه دلته (١) په عربو کښې دا سنت الحمد لله ژوندې دې.
والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

بَاب فِي فَضْلِ مَنْ قَتَلَ كَافِرًا

باب دې په بیان د فضیلت دهغه چا کښې چه کافر مړ کړي

[٢٤٩٥](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، عَنِ الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَجْتَمِعُ فِي النَّارِ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ أَبَدًا".

ترجمه: دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی: هیڅ کله به نه جمع کیږي کافر اودهغه قاتل په اوردوزخ کښې

شرح حدیث

په دې حدیث کښې د هغه مسلمان دپاره ډیر زیرې دې چه د هغه په لاس سره یو کافر قتل شی، هغه دا چه د همیشه دپاره د جهنم نه محفوظ شو، دا ډیر فضیلت دې، خو شارحین حدیث دا په خپل عموم باندې نه دې پریخودلې، په نورو ایتونو او احادیثو باندې نظر ساتلو سره، په دې کښې څو قوله دی. ١: د دې نه باقاعده جهاد ته تلو سره قتل کول مراد دی. ٢: مطلب دا دې چه د اور د عذاب نه به محفوظ شی که د ګناهونو د وجې نه په عذاب شو هم نو بغیر د اور نه به وی، مثلا په اعراف کښې پاتې کیدل په جنت کښې د دخول اولی نه. ٣: که د څه وجې نه د اور عذاب اوشی نو بیا هم هغه طبقه نار کښې به نه داخلیږی کومه چه د کفارو دپاره ده. من البذل، یا خاص د دې کافر مقتول طبقه مراد ده چه دواړه به په یو طبقه کښې جمع نه شی. والحديث اخرجه مسلم قاله المنذری.

بَاب فِي حُرْمَةِ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ

په کورونو کښې په ناستو خلقو باندې د مجاهدینو د ښځو د عزت ساتلو بیان

[٢٤٩٦](٣) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ قَعْنَبٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِينَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِينَ فِي أَهْلِهِ إِلَّا نُصِبَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ"، فَقِيلَ لَهُ: هَذَا قَدْ خَلَفَكَ فِي أَهْلِكَ، فَخُذْ مِنْ حَسَنَاتِهِ مَا شِئْتَ، فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَا ظَنُّكُمْ؟، قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ قَعْنَبٌ رَجُلًا صَالِحًا وَكَانَ ابْنُ أَبِي لَيْلَى أَرَادَ قَعْنَبًا عَلَى الْقَضَاءِ فَأَبَى عَلَيْهِ، وَقَالَ: أَنَا أُرِيدُ الْحَاجَةَ بِدِرْهَمٍ فَأَسْتَعِينُ عَلَيْهَا بِرَجُلٍ قَالَ: وَأَيُّنَا لَا يَسْتَعِينُ فِي حَاجَتِهِ قَالَ: أَخْرِجُونِي حَتَّى أَنْظُرَ فَأُخْرِجَ، فَتَوَارَى قَالَ سُفْيَانُ: بَيْنَمَا

---

(١) د لفظ "دلته" نه مراد مدینه منوره ده، ځکه چه د دې جزء تسوید په مدینه منوره کښې دی.
(٢): صحيح مسلم/الإمارة ٣٦ (١٨٩١)، (تحفة الأشراف: ١٤٠٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٣/٢، ٣٦٨، ٣٧٨) (صحيح)
(٣): صحيح مسلم/الإمارة ٣٩ (١٨٩٧)، سنن النسائي/الجهاد ٤٧ (٣١٩١)، (تحفة الأشراف: ١٩٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٢/٥، ٣٥٥) (صحيح)

هُوَمُتَوَارٍإِذْوَقَعَ عَلَيْهِ الْبَيْتُ فَمَاتَ.

ترجمه: ابن بریده رضي الله عنه د خپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی دمجاهدینو دښځو عزت په کورونو کښې په ناستو خلقو، په شان دعزت د میندو ددوئ دې اونشته یوکس په پاتې شوو خلقوکښې چه دمجاهدینود ښځوسره پاتې شي (که چرې خیانت اوکړی ددوی سره) نوداکس به دقیامت په ورځ باندې اودرولې شي او مجاهد ته به اووئیلې شي چه ده تاسره ستادښځې په باره کښې خیانت کړې دې اوس چه څومره غواړې دده دنیکونه واخله ددې نه پس نبی عليه السلام مونږ ته متوجه شو اووئې فرمائیل چه اوس ستاسو څه خیال دې؟ ابوداؤد وائی: قعنب یو نیک سړې وو. ابن ابی لیلی د قعنب د قاضی جوړلو اراده اوکړه نوهغوی ددې نه انکار اوکړو، اووې وئیل چه زه په یو درهم کښې خپل ضرورت پوره کول غواړم چه زه په دې کښې د یوسړی مدد حاصل کړم. بیا ئې اووئیل: څوک دې چه هغه دخپل ضرورت دپاره دچا نه مدد نه اخلی، بیا ئې عرض اوکړو: تاسو ما اوباسئ تردې چه زه اوګورم (چه څنګه زما ضرورت پوره کیږی) نو هغوی اوویستلی شو، بیا هغه په یوکور کښې پټ شو. سفیان وائی: په دغه دوران کښې چه هغه پټ شوې وو هغه کور راپرېوتلو اومړشو.

شرح حدیث

﴿ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- « حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ الخ ﴾ د رسول الله ﷺ ارشاد دې، په جهاد کښې د تلونکو سړو د کور د ښځو احترام په قاعدین باندې د خپلو میاندو د احترام په شان دې، وړاندې فرمائی چه په قاعدینو کښې چه کوم سړې د یو مجاهد د کور زنانو سره خیانت اوکړی نو هغه به د قیامت په ورځ باندې د هغه مجاهد په وړاندې اودرولې شی، او هغه مجاهد ته به وئیلې شی چه دې سړی ستا د ښځې سره د خیانت معامله کړې وه پس ته د هغه د نیکو نه چه څومره غواړې واخله، د حدیث راوی فرمائی، رسول الله ﷺ دومره فرمائیلو سره زمونږ طرف ته اوکتل او وې فرمائیل ﴿ ما ظنكم؟ ﴾ ستاسو څه خیال دې، یعنی دا چه هغه سړې د هغه په حسنات کښې څه حسنه پرېږدی یا نه، ظاهره ده چه هلته به هر سړی ته د حسنات بیحد ضرورت وی، بیا به ئې چرته پرېږدی. والحديث اخرجه مسلم والنسائی قال المنذری.

بَابٌ فِي السَّرِيَّةِ تُخْفِقُ

باب دې په بیان د هغه مجاهدینو کښې چه د مال غنیمت نه بغیر واپس راشي

تشریح: ﴿ تحفق ﴾ د مضارع صیغه ده د اخفاق نه چه د هغې معنی د عدم حصول غنیمت ده، دا خو ظاهره ده چه په هر جهاد کښې مال غنیمت نه حاصلیږی

[٢٤٩٧] (١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ، وَابْنُ لَهِيعَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُوهَانِئٍ الْخَوْلَانِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

[1]: صحيح مسلم/الإمارة ٤٤ (١٩٠٦)، سنن النسائي/الجهاد ١٥ (٣١٢٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٣ (٢٧٨٥)، (تحفة الأشراف: ٨٨٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٩/٢) (صحيح)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ غَازِيَةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ فَيُصِيبُونَ غَنِيمَةً إِلَّا تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أَجْرِهِمْ مِنَ الْآخِرَةِ وَيَبْقَى لَهُمُ الثُّلُثُ فَإِنْ لَمْ يُصِيبُوا غَنِيمَةً تَمَّ لَهُمْ أَجْرُهُمْ".

ترجمه: دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي دمجاهدينو هره يوه ډله چه دالله په لاره کښې دکافرانوسره جنګ اوکړي او دکافرانو مال حاصل کړي نودي خلقو دخپلې مزدورئ دوه حصې حاصلې کړې او يوه حصه ئې آخرت ته پاتې شوه اوکه چرې دوی غنيمت نه وي حاصل کړې نوددوئ پوره بدله به په آخرت کښې ملاويږي.

تشريح: ﴿ غازية ﴾ صفت دې،د ﴿ جماعة ﴾ يعنى غزوه کونکي چه کوم جماعت په جهاد کښې مال غنيمت حاصلوی نو په دې باندې ځان پوهه کړئ چه د دې جماعت خلقو د خپل ثواب اخرت کښې دوه ثلثه په دنيا کښې حاصل کړل، او د اخرت دپاره صرف يو ثلث باقي پاتې شو ، او کوم خلق چه غنيمت نه حاصلوی د هغوی پوره اجر د اخرت دپاره باقي پاتې کيږی، معلومه شوه چه که په يو جهاد کښې مجاهدين لره مال غنيمت حاصل نه وی نو دا د هغوی په حق کښې د ناکامئ ؛ افسوس خبره نه ده بلکه مزيد د خوشحالئ خبره ده چه ټول ثواب به په اخرت کښې ملاويږی، وثواب الاخرة خير وابقى. والحديث اخرجه مسلم والنسائي قاله المنذري.

بَابٌ فِي تَضْعِيفِ الذِّكْرِ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى

په جهاد کښې د ذکر کولو دوچند اجر او ثواب بيان

د ترجمة الباب شرح :

د عبارت تقدير داسې دې : ﴿ في تضعيف ثواب الذكر على النفقة في سبيل الله ﴾ يعنى د انفاق في سبيل الله په مقابله کښې د ذکر الله د ثواب د زيادت په بيان کښې.

[٢٤٩٨](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، وَسَعِيدِ بْنِ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ زَبَّانَ بْنِ فَائِدٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الصَّلَاةَ وَالصِّيَامَ وَالذِّكْرَ تُضَاعَفُ عَلَى النَّفَقَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ بِسَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ".

ترجمه: سهل بن معاذ رضي الله عنه د خپل پلارنه روايت کوی فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دي دجهاد په دوران کښې د مونځ او روژې اوذکر ثواب دالله په لاره کښې د مال خرچ کولو دثواب نه اووه سوه چنده زيات دې.

تشريح: حديث د ترجمة الباب مطابق دې، په دې کښې صلاة او صيام او د ذکر ثواب اووه سوه چنده زيادت مذکور دې په انفاق في سبيل الله باندې.

د دې حديث نه مطلق د ذکر فضيلت په انفاق باندې ثابتيږی که هغه ذکر هر چرته وی، په حضر کښې يا سفر کښې وی او د مسند احمد په روايت کښې دا لفظ دې چه : ﴿ إِنَّ الذِّكْرَ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى يُضَعَّفُ فَوْقَ النَّفَقَةِ بِسَبْعِ مِئَةِ ضِعْفٍ ﴾ په دې روايت کښې مقيد کړې شوې دې د هغه ذکر سره کوم چه د الله پاک په لاره يعنى جهاد کښې وی، د ذکر فضيلت په انفاق في سبيل الله باندې په نورو هم ډيرو رواياتو کښې راغلې دې، حافظ ابن قيم د دې حديث د

١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٢٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣٨/٣، ٤٤٠) (ضعيف)

لاندې يو ډيره ښه خبره ليکلې ده هغه فرمائي، تحقيق دې باره کښې دا دې چه دلته مراتب درې دی. ۱: ذکر مع الجهاد، ۲: ذکر بغير د جهاد نه، ۳: جهاد بغير د ذکر نه، د ټولو نه اعلی مرتبه اولنئ ده، او دويمه د اولنی نه کمه ده، او دريمه درجه د اولنو دواړو نه کمه ده، او د مرتبه ثالثه په مقابله کښې ذاکر افضل دې.

بَابٌ فِيمَنْ مَاتَ غَازِيًا

باب دې په بيان د هغه مجاهد کښې چه په ميدان جنګ کښې په خپل مرګ مرشی

[۲۴۹۹](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنِ ابْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ يَرُدُّ إِلَى مَكْحُولٍ إِلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ الْأَشْعَرِيِّ، أَنَّ أَبَا مَالِكٍ الْأَشْعَرِيَّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ فَصَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمَاتَ أَوْ قُتِلَ فَهُوَ شَهِيدٌ أَوْ وَقَصَهُ فَرَسُهُ أَوْ بَعِيرُهُ أَوْ لَدَغَتْهُ هَامَّةٌ أَوْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ أَوْ بِأَيِّ حَتْفٍ شَاءَ اللَّهُ فَإِنَّهُ شَهِيدٌ وَإِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ".

ترجمه: د ابو مالك اشعری رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه د نبی عليه السلام نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې څوك چه د الله په لاره کښې اوځي په خپل مرګ مړ شي يا اووژلې شي نو دا شهيد دې يا ئې خپل اس او اوښ د خپو لاندې کړی، او يا ئې مار لړم وغيره اوچيچی، اويا مړ شی په خپله بستره باندې، يا په کومه بله طريقه باندې څنګه چه د الله تعالی خوښه وي مړ شی نو يقينا دې شهيد دې او د ده پاره جنت دې.

شرح حديث

د حديث حاصل دا دې چه کوم سړې د جهاد نيت کولو سره د خپل کور نه اووتلو نو اوس هغه له مرګ پکار دې چه هر څنګه وی که صرف زخمی کيدو سره وفات شی يا په لاره کښې سورلی هغه لره راوغورځوی او هغه وفات شی يا ئې يو زهريله حيوان اوخوری يا په خپله بستره باندې هغه ته مرګ راشی يا هغه قتل شی بهر حال هغه شهيد دې او د هغه دپاره جنت دې، په دې حديث کښې ﴿ مات ﴾ نه مونږ ﴿ مات بجراحته ﴾ مراد اخستلې ده د دې دپاره چه ﴿او مات على فراشه ﴾ کوم چه وړاندې راروان دې په هغې کښې او په دې کښې تکرار رانشی.

بَابٌ فِي فَضْلِ الرِّبَاطِ

د سرحداتو د حفاظت کولو د فضيلت بيان

﴿ رباط ﴾ په کسرې د راء سره په معنی د مرابطه، د باب مفاعله مصدر، په قاموس کښې دی "ربط" په معنی دشد، تړل، او رباط المواظبة على الامر... يو کار لره په اهتمام سره هميشه کول، وملازمة ثغر العدو... يعنی د دشمن په سرحد باندې پړاؤ اچول، او ليکلي دی چه هم دا معنی د مرابطه ده او بله معنی ئې د مرابطه دا ليکلې ده چه فريقين کښې هر يو په خپلو اسونو باندې خپل خپل سرحد ته بوتلو سره اوتړی او هر يو په دوی کښې د خپل مقابل دپاره تيار وی، او هم د دې نوم رباط هم دې، او هم دې نه دې د الله پاک قول ﴿ وصابروا ورابطوا ﴾ هم دغه شان د دې معنی انتظار الصلاة بعد الصلاة ده، لکه چه په حديث کښې دی : فذلكم الرباط. اهـ

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢١٦٥) (ضعيف)

[٢٥٠٠]()حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي أَبُو هَانِئٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَالِكٍ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كُلُّ الْمَيِّتِ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ إِلَّا الْمُرَابِطَ فَإِنَّهُ يَنْمُو لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَيُؤَمَّنُ مِنْ فَتَّانِ الْقَبْرِ".

ترجمه: د فضاله بن عبيده رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي : نبی عليه السلام فرمائيلی دی چه د هريو مړکيدونکي عمل دمرګ نه روستو ختمؤلی شي ليکن د دسرحد د حفاظت کونکی اجر تر قيامته پورې زياتيږی اوهغه به دقبر دعذاب نه محفوظ وی.

شرح حديث

رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د هر مړ کيدونکی د عمل سلسله د هغه په مرګ باندې ختميږی سوا د مرابط نه (يعنی د اسلامی سرحد حفاظت کولو والا مجاهد سړی) پس بيشکه د هغه عمل زياتيږی تر قيامته پورې، يعنی د هغه د دې عمل سلسله نه ختميږی (لهذا د ثواب سلسله هم نه ختميږی).

﴿ ويومن من فتان القبر ﴾ ﴿ فتان ﴾ که بفتح الفاء (وتشديد التاء) دې نو دا د مبالغې صيغه ده، او که بضم الفاء دې نو جمع ده د فاتن کوم چه ماخوذ دې د فتنې نه، د دې نه مراد منکر نکير دې، ګويا د عذاب قبر نه محفوظ شي.

په دوه متعارض حديثونو کښې دفع د تعارض

په يو بل حديث کښې کوم چه د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه په صحيح مسلم کښې مرفوعا نقل دې او خپله د سنن ابی داود په کتاب الوصايا کښې ﴿ ما جاء فی الصدقة عن الميت ﴾ کښې راروان دې، ﴿ إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةِ أَشْيَاءَ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ ﴾ په دې حديث کښې د درې کسانو استثناء ده، او په حديث الباب کښې صرف د يو په باره کښې راغلې دی، خو په دې حديث کښې، ﴿ امن من عذاب القبر ﴾ اضافه ده لهذا دې ته وجه د تخصيص وئيلې کيدې شي د دې يو دپاره، لهذا اوس په دواړو احاديثو کښې هيڅ تعارض پاتې نه شو، هم دغه شان د دې دواړو احاديثو د مجموعې نه دا قسم خلق ټول څلور شو چه د هغوی د اعمالو انقطاع په مرګ سره نه کيږی بلکه برابر ورته ثواب رسيږی، حضرت په بذل المجهود کښې اولا دفع د تعارض بين الحديثين هم دغه شان فرمائيلې دې او د هغې نه روستو فرمائی ﴿ والاحسن عندی فی الجواب ان يقال الخ ﴾ چه د هغې حاصل دا دې چه د اجر او ثواب زيادت کوم چه په احاديثو کښې ذکر شوې دې د دې زيادت دوه صورتونه دی يو دا چه د مړی د عمل په اجر کښې اضافه اوشی، د بل يو انسان د عمل په واسطه او دويم صورت دا دې چه د هغه د عمل په اجر کښې اضافه اوشی براه راست بغير د واسطې نه او بغير د عمل نه، په مرابط کښې اضافه د نوع ثانی په لحاظ سره ده ، او په باقی کښې د نوع اول په اعتبار سره. اه والحديث اخرجه مسلم والنسائی وابوداؤد ايضا کلهم فی الوصايا، والترمذی فی الاحکام، واخرج ابن ماجة معناه عن ابی قتادة وابی هريرة فی السنة، والبخاری فی الادب المفرد (المرعاة بتصرف)

[1]: سنن الترمذي/فضائل الجهاد ٢ (١٦٢١)، (تحفة الأشراف: ١١٠٣٢)، وقد أخرجه: (حم ٦/٢٠، ٢٢) (صحيح)

بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَرْسِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى

باب: د الله تعالى په لاره کښې د څوکۍ ورکولو د فضيلت بيان

"حرس" د راء په سکون سره مصدر دې په معنى د حراست او چوکيدارۍ. او کوم ﴿ حرس ﴾ چه بفتح الراء دې هغه دحارس جمع ده په معنى دچوکيدار. اوحرسى هم په معنى دحارس راځي.

[٢٥٠١]()حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، عَنْ زَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ سَلَّامٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَلَّامٍ قَالَ: حَدَّثَنِي السَّلُولِيُّ أَبُو كَبْشَةَ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ سَهْلُ ابْنُ الْحَنْظَلِيَّةِ أَنَّهُمْ سَارُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ، فَأَطْنَبُوا السَّيْرَ حَتَّى كَانَتْ عَشِيَّةً، فَحَضَرْتُ الصَّلَاةَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَ رَجُلٌ فَارِسٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي انْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ حَتَّى طَلَعْتُ جَبَلَ كَذَا وَكَذَا فَإِذَا أَنَا بِهَوَازِنَ عَلَى بَكْرَةِ آبَائِهِمْ بِظُعُنِهِمْ وَنَعَمِهِمْ وَشَائِهِمْ اجْتَمَعُوا إِلَى حُنَيْنٍ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "تِلْكَ غَنِيمَةُ الْمُسْلِمِينَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ قَالَ: مَنْ يَحْرُسُنَا اللَّيْلَةَ، قَالَ: أَنَسُ بْنُ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيُّ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟، قَالَ: فَارْكَبْ، فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ فَجَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَقْبِلْ هَذَا الشِّعْبَ حَتَّى تَكُونَ فِي أَعْلَاهُ وَلَا نُغَرَّنَّ مِنْ قِبَلِكَ اللَّيْلَةَ، فَلَمَّا أَصْبَحْنَا خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مُصَلَّاهُ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: هَلْ أَحْسَسْتُمْ فَارِسَكُمْ؟، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَحْسَسْنَاهُ فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي وَهُوَ يَلْتَفِتُ إِلَى الشِّعْبِ حَتَّى إِذَا قَضَى صَلَاتَهُ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَبْشِرُوا فَقَدْ جَاءَكُمْ فَارِسُكُمْ، فَجَعَلْنَا نَنْظُرُ إِلَى خِلَالِ الشَّجَرِ فِي الشِّعْبِ فَإِذَا هُوَ قَدْ جَاءَ حَتَّى وَقَفَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي انْطَلَقْتُ حَتَّى كُنْتُ فِي أَعْلَى هَذَا الشِّعْبِ حَيْثُ أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا أَصْبَحْتُ اطَّلَعْتُ الشِّعْبَيْنِ كِلَيْهِمَا فَنَظَرْتُ فَلَمْ أَرَ أَحَدًا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ نَزَلْتَ اللَّيْلَةَ؟، قَالَ: لَا، إِلَّا مُصَلِّيًا أَوْ قَاضِيًا حَاجَةً، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَدْ أَوْجَبْتَ فَلَا عَلَيْكَ أَنْ لَا تَعْمَلَ بَعْدَهَا".

ترجمه: دکبشه رضي الله عنه نه روايت دي چه سهل بن حنظليه واته وئيلي دي چه مونږ دنبى عليه السلام سره په غزوه حنين کښې شريك شو او اوږد مزل مو اوکړو تردې چه ماښکر شو اودمونځ وخت راغې اوزه دنبى عليه السلام سره په مونځ کښې شريك شوم نو په دې وخت کښې يو اس سوار راغې اوعرض ئې اوکړو اې دالله رسوله زه چه ستاسو نه مخکښې چه لاړم يوغرته وختلم نودقبيله بنو هوازن خلق مې اوليدل چه ټولو خپلې ښځې بچي اواوښان او چيلئ جمع کړي دي نبى عليه السلام چه داخبره واوريده نومسکې شو او وې فرمائيل چه صبا به انشاء الله دغه ټول خلق دمسلمانانو مال غنيمت جوړشي، اوبيائې اوفرمائيل چه نن شپه به په مونږ باندې څوك پهره اوکړي؟ انس بن ابى مرثد غنوى رضي الله عنه عرض اوکړو چه اې دالله رسوله زه به پهره اوکړم نبى عليه السلام اوفرمائيل ته په اس سورشه نودې په خپل اس باندې سورشو اودنبى عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو نبى عليه السلام ورته او فرمائيل چه دغه مخامخ غونډئ ته لاړشه تردې چه سر ته ئې اوخيژې خو هسې نه چه نن شپه مونږ ستا د موجودګۍ په وجه باندې دهوکه اوخورو، (اودشمن راباندې راشى) هرکله چه صباشو نونبى عليه السلام مونځ ته روان شو اودوه رکعته مونځ ئې اوکړو بيائې اوفرمائيل چه آيا تاسو خپل شهسوار هم ليدلې دې؟ هغوى او وئيل اې دالله رسوله مونږ نه دې ليدلې ددې نه پس تکبير اوشو نونبى عليه السلام شروع شو چه

() : تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٥٠)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى/ السير (٨٨٧٠) (صحيح)

مونځ ئې کولو لیکن دسترګو په ګوټونو کښې به ئې غونډئ طرف ته کتل هرکله چه مونځ ئې پوره کړو او سلام ئې اوګرځوو نوويې فرمائیل تاسو خوشحاله شئ چه ستاسو شهسوار راغې مونږ د غونډئ اونوته کتل چه په دې وخت کښې انس بن ابو مرثد غنوی راښکاره شو اودنبی عليه السلام مخامخ اودریدو دسلام نه پس ئې عرض اوکړو اې دالله رسوله زه لاړم تردې چه دغونډئ سر ته اورسیدم دکوم په باره کښې چه تا راته حکم کړې وو کله چه سحر شو زه دواړه غونډو ته اوختم اومې کتل لیکن څوک په نظر رانغلل نبی عليه السلام اوفرمائیل چه آیا ته د شپې د آس نه کوز شوې وې هغه اووئیل نه صرف دمونځ او اودس ماتی دپاره کوزشوې وم، نبی عليه السلام اوفرمائیل تا دخپل ځان دپاره جنت واجب کړو اوس که ته بل کوم عمل اونکړې نوتاته څه نقصان نه شی رسیدلې۔

د حدیث مضمون

د حدیث مضمون دا دې، سیدنا سهل بن الحنظلیه رضی الله عنه فرمائی چه هغه صحابه کرام چه په هغوی کښې هغه خپله هم شامل دې، کوم چه د رسول الله ﷺ سره غزوه حنین ته روان وو چه په هغې کښې ډیر زیات مزل وو تردې چه د ماښام وخت شو، پس ما د ماسپخین د مونځ په وخت (ما فی نسخة تصریح الظهر) د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم، یو سړې په اس باندې سور د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلو، هغه عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ستاسو نه وړاندې طرف ته لاړم تردې چه په فلانی فلانی غر باندې اوختلم او ناڅاپه ما د قبیله هوازن خلق اولیدل چه هغوی خپلې زنانه، څاروی اوښان، بچی او د څاروو پورې د خپل ځان سره د جنګ په موقع باندې راوستلې دی چه د هغې مطلب دا شو چه ښه تیارئ سره راغلې دی او وو هم دا خلق ماهر غشی ویشتونکی، نو د دې خبر ورکونکی په خبر باندې په ځائې د دې چه هغه سره څه فکر او پریشانی لګیدلې وې نو رسول الله ﷺ مسکې شو او دا ئې اوفرمائیل ﴿تلک غنیمة المسلمین غدا ان شاء الله﴾ چه دا ټول څیزونه به ان شاء الله د صبا له د مسلمانانو دپاره مال غنیمت وی هغه وخت خو چونکه ماښام شوې وو او دا مقابله په بله ورځ کیدونکې وو رسول الله ﷺ ترې د معمول مطابق تپوس اوکړو چه د شپې به بیدار اوسیدو سره زمونږ چوکیداری څوک کوی، سیدنا انس بن ابی مرثد غنوی رضی الله عنه عرض اوکړو چه دا خدمت به زه پوره کوم، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ښه سور شه! هغه لاړو او فورا په خپل اس باندې سوریدو سره په خدمت کښې حاضر شو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دا چه مخامخ کوم غر دې د دې طرف ته منډه کړه، تردې چه هغې ته پ،رته اورسې، یعنی ټوله شپه په هغه غر باندې اوسیدو سره چوکیداری اوکړه، او وې فرمائیل : ﴿ولا نغرن من قبلک اللیلة﴾ دا د غرور نه دې غره او غرور معنی ده دهوکه، او ګوره هسې نه چه تاسو دطرف ته دشمن زمونږ د غفلت په حالت کښې حمله اوکړی، یعنی هسې نه چه ته اوده شې او چوکیداری اونکړې شې او دشمن په مونږ باندې ناڅاپه حمله اوکړی، څکه چه صحابه کرام به هغه وخت اوده وی، هغه صحابی د حدیث راوی فرمائی.

....

د رسول الله ﷺ په مانځه کښې التفات فرمائيل

چه کله مونږ صبا کړو نو رسول الله ﷺ مصلی يعنی د مونځ ځائې ته تشريف يوړلو او دوه رکعته سنت کولو نه پس ئې تپوس اوکړو چه تاسو خپل شهسوار ليدلې دی؟ يعنی په راتلو درته په نظر راځي، صحابه کرامو عرض اوکړو چه نه جی، په نظر نه راځي، په دې کښې د مانځه دپاره اقامت اوشو، راوی فرمائي چه رسول الله ﷺ د مونځ د نيت تړلو نه پس به مخامخ غر ته هم کتل، تردې چه کله مونځ پوره شو او هغه سلام واړولو نو وې فرمائيل چه خوشحاله شه ستاسو شهسوار په خيريت سره راغلو (رسول الله ﷺ هغه په راتلو باندې د لرې نه ليدلې وو) هم په دې وجه وړاندې راوی فرمائي چه د رسول الله ﷺ د فرمائيلو نه پس مونږ هم د هغه د کتلو دپاره په هغه غر کښې چه کومې اونې وې کتل پس مونږ هم اوليدو چه هغه راروان دې، تردې چه راغلو او د رسول الله ﷺ مخې ته اودريدلو او د سلام کولو نه پس هغه صحابی اوئيل يعنی خپله قصه ئې واوروله چه د دې ځائې نه تلو سره د دې غر سر ته اوختلم کوم ځائې ته د تلو چه تاسو ماته حکم کړې وو، پس چه کله شپه شوه او صبا شو نو په دواړو غرونو باندې ختلو سره مې اوکتل (چه چرته دشمن خو راروان نه دې) نو ما څوک او نه ليدل، رسول الله ﷺ د هغه صحابی تپوله خبره اوريدلو تپوس اوکړو چه د شپې د سورلئ نه کوز شوې وې؟ نو هغه عرض اوکړو چه نه! مگر د مونځ او قضاء حاجت دپاره، رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه تا د خپل ځان دپاره جنت واجب کړو. پس اوس په تا باندې بل يو عمل کول ضروری نه دی، اوس هيڅ باک نشته په تا باندې په تا باندې په هغې کښې چه ته يو عمل نه کوی، مراد اعمال تطوع دی، مستحب او نفلی کارونه کوم چه سرې ثواب د اخرت دپاره کوی د دې حديث نه ند رسول الله ﷺ د جهاد په سلسله کښې کامل تياری او مستعدی د هغه انتظام او د خپلو اصحابو پوره پوره خبر تردې چه مونځ په شان اهم عبادت کښې د دې خيال او فکر، کما هو ظاهر د دې نه دا مستفاد کيږی هم په دې وجه امام ابوداؤد دا حديث مختصرا په کتاب الصلاة کښې ابواب الالتفات فی الصلاة د لاندې ذکر فرمائيلې دې، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وشرف وكرم، په دې حديث کښې يو لفظ راغلې دې ﴿ فاذا انا بهوازن على بكرة ابالهم ﴾... ﴿ بكرة ﴾ ځوانې اوښې ته هم وئيلې شی او د اوښو راښکلو گرگرې ته هم وئيلې شی چه په هغې کښې د بوقې راښکلو دپاره رسئ اچوی، اهل لغت او شارحين حديث ليکلې دی چه د دې نه کثرت او استيعاب بيانول مقصود دی، وئيلې شی : ﴿ جاؤوا على بكرة ابيهم، اى جاؤوا باجمعهم ﴾ يعنی هغوی ټول راغلل هيڅ څوک باقی پاتې نه شو، علامه طيبی رحمه الله ليکلې دی چه په دې جمله کښې ﴿ على ﴾ په معنی د ﴿ مع ﴾ دې، "اى مع بكرة ابيهم" د دې اصل دا دې چه د يوځائې خلقو باندې يو خل ويره راغله نو هغه خلق د هغه ځائې نه خپل ټول سامان اخستلو سره منتقل شو تردې چه د پلار نيکه د زمانې پخوانئ گرگرې هم د ځان سره يوړه (بذل بزيادة) زه وايم چه راوی دلته هم دا وائی چه قبيله هوازن ټول په ټول د سره د زنانو او ماشومانو او ټولو څاروو په ميدان کښې راجمع شو. والحديث اخرجه النسائى قاله المنذرى.

بَاب كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ
د جهاد پرېښودو د مذمت بيان

[۲۵۰۲][1] حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْمَرْوَزِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا وُهَيْبٌ، قَالَ عَبْدَةُ يَعْنِي ابْنَ الْوَرْدِ، أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ".

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه دنبي عليه السلام نه روايت كوي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي هرڅوك چه په داسې حال كښې مړشي چه په جهاد كښې شريك نه شي اونه ئې په زړه كښې دجهاد اراده وي نودې په يوقسم نفاق كښې مړشو.

شرح حديث

رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيل چه په كوم سړي باندې مرګ راشي په دې حال كښې چه نه كله هغه جهاد كړې وي او نه ئې د جهاد اراده او خيال په زړه كښې راغلې وي نو د هغه مرګ دا منافقانه مرګ دې.

د دې حديث نه په ظاهره د جهاد فرض عين كيدل معلوميږي، هم په دې وجه بعض دا وائي چه دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زمانې سره خاص دې چه هم هغه وخت كښې جهاد فرض عين وو، على قول، او وئيلې شوي دي چه دا عام دې د هر زمانې د لحاظ سره، او اګر چه جهاد په هر چا باندې واجب بعينه نه دې خو كم از كم د جهاد نيت خو په هر مسلمان باندې ضروري دې يعنى ضرورت پيښ راتلو باندې، والحديث اخرجه مسلم والنسائى قاله المنذرى

[۲۵۰۳][2] حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، وَقَرَأْتُهُ عَلَى يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ الْجُرْجُسِيِّ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ الْقَاسِمِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللَّهُ بِقَارِعَةٍ"، قَالَ يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ رَبِّهِ فِي حَدِيثِهِ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ.

ترجمه: ابوامامة د نبي عليه السلام نه روايت كوي چه فرمائيلي ئې وو څوك چه په جهاد كښې شريك نه شي اونه ئې دكوم مجاهد په تيارولوكښې مددكړې وي او نه ئې دكوم مجاهد دكورخبراخستې وي نوده ته به الله تعالى دقيامت نه مخكښې سخت تكليف ورسوي، يزيدبن عبدربه په خپل روايت كښې د قبل موته اضافه كړې ده.

شرح حديث

په دې حديث كښې درې څيزونه ذكر شوې دي، خپله جهاد ته تلل، يعنى غزوه بنفسه، او تجهيز غازى يعنى جهاد كښې د تلونكو دپاره اسباب برابرول، او دريم څيز جهاد كښې د تلونكو د كور والو خير خبر ساتل، او دا چه كوم سړي په دې درې كارونو كښې يو كار هم اونكړو نو الله پاك به هغه لره د هغه د مرګ نه مخكښې په څه لوئي مصيبت كښې اخته كوي. والحديث اخرجه ابن ماجة قاله المنذرى

[1]: صحيح مسلم/الإمارة ۴۷ (۱۹۱۰)، سنن النسائي/الجهاد ۲ (۳۰۹۹)، (تحفة الأشراف: ۱۲۵۶۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۷۴) (صحيح)

[2]: سنن ابن ماجه/الجهاد ۵ (۲۷۶۲)، (تحفة الأشراف: ۴۸۹۷)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الجهاد ۲۶ (۲۴۶۲) (حسن)

[٢٥٠٤] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ".

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي جهاد کوئ د مشرکينو سره په مالونو خپلو او په نفسونو خپلو او په ژبو خپلو سره.

بَابٌ فِي نَسْخِ نَفِيرِ الْعَامَّةِ بِالْخَاصَّةِ

جهاد ته د ټولو خلقو د تلو د حکم منسوخ کيدو بيان

نفير عام دا دې چه ټول خلق په جهاد کښې شرکت اوکړي، او نفير خاصه دا دې چه بعض خلق شرکت اوکړي او بعض په کور باندې پاتې شي نو مصنف په دې ترجمة الباب کښې دا فرمائي چه اول حکم د نفير عام وو، ګويا جهاد فرض عين وو د ټولو په حق کښې، روستو هغه منسوخ کيدو سره د نفير خاص حکم باقي پاتې شو، د جهاد حکم او په هغې کښې اختلاف، د کتاب الجهاد په شروع کښې بالتفصيل تير شوې دې.

[٢٥٠٥] (٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: ﴿إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا﴾ سورة التوبة آية ٣٩، ﴿وَمَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ﴾ إِلَى قَوْلِهِ ﴿يَعْمَلُونَ﴾ سورة التوبة آية ١٢٠-١٢١ نَسَخَتْهَا الْآيَةُ الَّتِي تَلِيهَا ﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً﴾ سورة التوبة آية ١٢٢.

ترجمه: د عکرمه رضي الله عنه نه روايت دې چه ابن عباس فرمائيلي دي چه د الله تعالى دا قول چه ﴿إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا﴾ که چرې جهاد ته نه ځئ نو تاسو ته به دردونکي عذاب درکړې شي او د مدينې والؤ دپاره نه دي ښکار چه پيغمبر يواځې پرېږدي او پخپله شاته پاتې شي يعنى د هغه سره دې ټول خلق جهاد له لاړ شي دا حکم په دې آيت کريمه سره منسوخ شوې دې چه ﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً﴾ ټول مسلمانان دې په يوځائې جهاد له نه ځي.

شرح حديث

په اولنو دوارو آيتونو کښې د نفير عام حکم دې، سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي دې حکم له آيت کريمه منسوخ کړو، د ابن عباس دا رائې د هغه نه روايت کونکي زمونږ په دې سند کښې عکرمه دې، د حسن روايت هم د هغه نه هم دا دې، او بعض نورو حضراتو د ابن عباس نه د دې خلاف نقل کړې دې، چه د هغې حاصل دا دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم بعض خلقو ته جهاد کښې د تلو دپاره متعين فرمائيلي وو، د روايت الفاظ دا دي "حيا من احياء العرب" نو هغه خلق د جهاد دپاره او نه وتل، پس د هغه په باره کښې دا اولني آيت کريمه نازل شو "إِلَّا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا" او دا متفق عليه مسئله ده چه رسول الله صلى الله عليه وسلم خو رسول الله صلى الله عليه وسلم دې که د مسلمانانو امير يو جماعت متعين کړي نو په هغوى باندې خروج واجب کيږي، لهذا دا آيت کريمه منسوخ نه دې، او کوم چه دريم آيت کريمه دې ﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا

(١): سنن النسائي/الجهاد ١ (٣٠٩٦)، (تحفة الأشراف: ٦١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٤/٣، ١٥٣، ٢٥١)، سنن الدارمي/الجهاد ٣٨ (٢٤٧٥) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٥٨) (حسن)

کَافَّةً ﴾ په دې کښې د يو عام قاعدې او ضابطې خبره بيان کړې شوې ده چه دا مناسب نه ده چه د يو ښهر ټول خلق د جهاد دپاره اوځي او د هغوی د تلو نه پس په هغه ښهر کښې يو مومن سړې باقي پاتې نه شي بلکه پکار ده چه بعض جهاد ته لاړ شی کوم چه امام مقرر کړی او بعض نور هلته ايسار شی. اهـ بذل عن الطبری.

د دې نه زوستو حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه امام ابوداؤد رحمه الله هم دلته د ابن عباس رضی الله عنه نه دوه مختلف روايتونه ذکر کړې دی، اول هغه کوم لره چه د هغه نه روايت کونکې عکرمه دې، او دويم هغه چه د هغې راوی نجدة بن نفيع دې کوم چه د دې اولنی روايت نه روستو راروان دې، په هغې کښې د نسخ هيڅ ذکر نشته بلکه د هغې د ظاهر نه عدم نسخ معلوميږی. اهـ

[٢٥٠٦] (¹) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، عَنْ عَبْدِ الْمُؤْمِنِ بْنِ خَالِدٍ الْحَنَفِيِّ، حَدَّثَنِي نَجْدَةُ بْنُ نُفَيْعٍ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ إِلا تَنْفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا سورة التوبة آية ٣٩، قَالَ: فَأُمْسِكَ عَنْهُمُ الْمَطَرُ وَكَانَ عَذَابَهُمْ.

ترجمه: دنجدة بن نفيع نه روايت دې فرمائی چه دابن عباس رضی الله عنه نه مې ددې ايت (﴿إلا تنفروا يعذبكم عذابا أليما﴾) په باره کښې تپوس اوکړو نووئې وئيل چه باران په دوی باندې بند شوې وو او دا ددوی دپاره عذاب وو (دا دوی دپاره قحط وو چه د ولږې د وجې نه به خلق مړه کيدل).

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي الْقُعُودِ مِنَ الْعُذْرِ

د عذر په وجه په جهاد کښې د نه شريکيدلو داجازت بيان

[٢٥٠٧] (²) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: كُنْتُ إِلَى جَنْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَغَشِيَتْهُ السَّكِينَةُ، فَوَقَعَتْ فَخِذُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي فَمَا وَجَدْتُ ثِقْلَ شَيْءٍ أَثْقَلَ مِنْ فَخِذِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَقَالَ: "اكْتُبْ، فَكَتَبْتُ فِي كَتِفٍ لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ سورة النساء آية ٩٥، وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ سورة النساء آية ٩٥ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، فَقَامَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ وَكَانَ رَجُلًا أَعْمَى لَمَّا سَمِعَ فَضِيلَةَ الْمُجَاهِدِينَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ فَكَيْفَ بِمَنْ لَا يَسْتَطِيعُ الْجِهَادَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ؟ فَلَمَّا قَضَى كَلَامَهُ غَشِيَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّكِينَةُ، فَوَقَعَتْ فَخِذُهُ عَلَى فَخِذِي وَوَجَدْتُ مِنْ ثِقَلِهَا فِي الْمَرَّةِ الثَّانِيَةِ كَمَا وَجَدْتُ فِي الْمَرَّةِ الْأُولَى، ثُمَّ سُرِّيَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: اقْرَأْ يَا زَيْدُ، فَقَرَأْتُ لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ سورة النساء آية ٩٥ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ سورة النساء آية ٩٥ الْآيَةَ كُلَّهَا، قَالَ زَيْدٌ: فَأَنْزَلَهَا اللَّهُ وَحْدَهَا فَأَلْحَقْتُهَا، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مُلْحَقِهَا عِنْدَ صَدْعٍ فِي كَتِفٍ".

ترجمه: دزيد بن ثابت رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه دنبی عليه السلام په خنګ کښې ناست وم چه ناګهانه په هغه باندې وحي نازليدل شروع شول اودنبی عليه السلام پتون زما په پتون باندې ود

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٥٢٣) (ضعيف)

(²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣٧٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٤/٥، ١٩٠، ١٩١) (حسن صحيح)

مادنبی ﷺ دپټون نه درونډ بل شی نه دی لیدلی بیانبی ﷺ نه داکیفیت ختم شو اوونی فرمائیل اولیکه نوماد چیلی په وولی باندې دا آیت «لا یستوي القاعدون من المؤمنین والمجاهدون في سبیل الله» تراخره پورې اولیکلوعبدالله بن ام مکتوم یو ړوند صحابي چه کله دمجاهدینو فضائل واوریدل نوونی وئیل اې دالله رسوله دهغه مومنانو به څه حال وي څوک چه جهاد نه شي کولی نوچه هرکله هغوی خپله خبره پوره کړه نوبیابه رسول الله ﷺ وحي نازلیدل شروع شول اودهغه ورون زمایه ورون باندې راغې مادومره وزن محسوس کړو څومره چه مخکښې محسوس کړې وو، بیا ددې نه پس وحي نازلیدل اودریدل نونبی علیه السلام اوفرمائیل اې زید اووایه ما آیت کریمه اولوستلو نبی ﷺ اوفرمائیل «غیر أولي الضرر» آیت تراخره پورې، زید اووئیل بیادا «غیر أولي الضرر» جمله یواځې نازله شوه لیکن مادهغې سره یو ځائی اولګوله په الله مې دې قسم وي ګویا کښې اوس هم زه ددې هډوکی سورې وینم په کوم ځائي کښې چه مادا لګولې وو.

مضمون حدیث

﴿ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ : كُنْتُ إِلَى جَنْبِ رَسُولِ اللَّهِ –صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ– فَغَشِيَتْهُ السَّكِينَةُ الخ ﴾

د حدیث مضمون واضح دې هغه دا چه سیدنا زید بن ثابت ﷺ فرمائی چه په رسول الله ﷺ باندې ناڅاپه د سکینه او سکون کیفیت راغلو لکه چه د وحی په وخت باندې به وو، هغه وخت رسول الله ﷺ خپل پټون زما په پټون باندې کیخودلې وو، چه کله په هغه باندې د وحی نزول شروع شو نو د هغه د هغه خپې ډیر وزن په ما باندې محسوس شو، بیا چه کله هغه کیفیت د هغه نه لرې شو (د وحی د نازلیدو نه پس) نو رسول الله ﷺ ماته د لیکلو دپاره اوفرمائیل نو ما د یو څاروی په هډوکی باندې اولیکل : ﴿ لاَ يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ الی اخر الایة، په دې آیت کریمه کښې د مجاهدینو فضیلت ذکر شوې دې، او ابن ام مکتوم کوم چه په جهاد کښې د خپل عذر د وجې نه نه وو شریک شوې، هغه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه کوم سړې د جهاد طاقت نه لرې د هغه څه حکم دې؟ د هغه د سوال نه روستو په رسول الله ﷺ باندې دوباره د وحی کیفیت راغلو او بیا د هغه کیفیت د ختمیدو نه روستو رسول الله ﷺ اولنې آیت په سیدنا زید ﷺ باندې اولوستلو نو رسول الله ﷺ په دې آیت کریمه کښې ﴿ غیر اولی الضرر ﴾ اضافه اوکړه یعنی الله پاک دوباره د مستقل وحی په ذریعه د دې لفظ اضافه اوفرمائیله

شرح حدیث

﴿ ملحق ﴾ په معنی د الحاق د ځائې او ﴿ صدع ﴾ په معنې د چاودنې، سیدنا زید ﷺ فرمائی چه والله کوم ځائې کښې چه ما په هډوکی باندې هغه آیت کریمه لیکلې وو ماته ښه یاد دې، هلته هډوکی کښې لږ شان چاودې وو، او هغه منظر ګویا زما د سترګو په وړاندې دې، د دې حدیث نه معلومه شوه چه عمی یعنی ړوندوالې دا په جهاد کښې د شرکت نه عذر دې، قال تعالی : ﴿ لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ ﴾ (الایة) اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی من حدیث ابی اسحاق السبیعي عن البراء بن عازب بنحوه، قال المنذری)

[۲۵۰۸]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَقَدْ تَرَكْتُمْ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا وَلَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقَةٍ، وَلَا قَطَعْتُمْ مِنْ وَادٍ، إِلَّا وَهُمْ مَعَكُمْ فِيهِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يَكُونُونَ مَعَنَا وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟ فَقَالَ: حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ".

ترجمه: دانس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی ﷺ فرمائیلی دی: یقینا تاسو پریښودلی دی په مدینه کښې داسې کسان څوك چه ستاسو سره په سفرکښې او به يوه مسافه قطع کولوکښې یا مال خرچ کولو کښې تاسو سره دی، صحابه کراموعرض اوکړو اې دالله رسوله داڅنګه کیدې شي چه هغوی دې زمونږسره په ثوابونوکښې شامل ری اوحال دا چه هغوی دې په مدینه کښې وی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل هغوی عذر ایسار کړی دی.

شرح حدیث

یو ځل رسول الله ﷺ په یو جهاد کښې خپلو اصحابو ته خطاب کولو سره اوفرمائیل چه بیشکه تاسو به په مدینه کښې څه داسې خلق پریخودلي دی چه تاسو چه څه کوئ، په زمکه کښې تلل او یوه وادی قطع کول یا خرچ کول وی هغه خلق په دې ټولو څیزونو کښې تاسو سره شریک دی یعنی د اجر او ثواب په اعتبار سره صحابه کرامو د دې وجه اوتپوسله نو هغه اوفرمائیل ﴿ حسبسهم العذر ﴾ چه چونکه د هغوی دا راتلل مجبوری او عذر د وجې نه دی، یعنی که هغوی باندې دا مجبوری نه وې نو هغوی به تاسو سره ضرور راتلې د ښه نیت د وجې نه.

معلومه شوه چه که په جهاد کښې عملا شرکت نه شی کولې نو کم از کم نیت خو کول پکار دی، وهذا کما سبق من قوله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولكن جهاد ونية. والحديث اخرجه البخاري تعليقا، واخرجه مسلم وابن ماجة عن جابر رضي الله عنه بنحوه قاله المنذري. (مخلصا)

بَابُ مَا يُجْزِءُ مِنَ الْغَزْوِ

باب د جهاد په بدله کښې کوم څیز کافی دې؟

د ترجمې حاصل دا دې چه کوم یو عمل د جهاد بدل او د هغې قائم مقام کیدې شی، د حدیث الباب نه معلومه شوه چه تجهیز غازی او هم دغه شان د غازی د کور والو نګرانی او خیر خبر قائم مقام د جهاد دې، دا مضمون اوس نزدې هم تیر شو.

[۲۵۰۹]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ، حَدَّثَنِي يَحْيَى، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ، حَدَّثَنِي بُسْرُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ الْجُهَنِيُّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَهُ فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا".

ترجمه: د زیدبن خالد جهني رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله فرمائیلي دي چاچه دمجاهد په تیارولوکښې تعاون اوکړو نویقینا ده جهاد اوکړو اوچاچه دمجاهد د اهل او عیال حفاظت

[1]: صحيح البخاري/الجهاد ٣٥ (٢٨٣٩ تعليقًا)، (تحفة الأشراف: ١٦١٠)، وقد أخرجه: حم(١٦٠/٣، ٢١٤) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الجهاد ٣٨ (٢٨٤٣)، صحيح مسلم/الإمارة ٣٨ (١٨٩٥)، سنن الترمذي/فضائل الجهاد ٦ (١٦٢٨)، سنن النسائي/الجهاد ٤٤ (٣١٨٢)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٣ (٢٧٥٩)، (تحفة الأشراف: ٣٧٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٥/٤، ١١٦، ١١٧، ١٩٢/٥، ١٩٣)، سنن الدارمي/ الجهاد ٢٧ (٢٤٦٣) (صحيح)

اوکړو نویقینا ده جهاد اوکړو.

[۲۵۱۰](۱)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ مَوْلَى الْمَهْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ إِلَى بَنِي لَحْيَانَ وَقَالَ: لِيَخْرُجْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ رَجُلٌ، ثُمَّ قَالَ: لِلْقَاعِدِ أَيُّكُمْ خَلَفَ الْخَارِجَ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ بِخَيْرٍ، كَانَ لَهُ مِثْلُ نِصْفِ أَجْرِ الْخَارِجِ".

ترجمه: ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دي فرمائی چه نبی ﷺ بنی لحيان ته يو لښکر اوليږلو او ورته ئې فرمائيل: چه په هرو دوو کسانوکښې دې يوکس خامخا لاړشي، او بيا ئې دجهادنه پاتې شوو خلقوته اوفرمائيل که چرې تاسو د مجاهدينو دکورونو سرپرستی اوکړئ نو ستاسو دپاره به د مجاهد د نيم اجر برابر اجروی.

شرح حديث

﴿ لِيَخْرُجْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ رَجُلٌ ». ثُمَّ قَالَ لِلْقَاعِدِينَ ﴾ رسول الله ﷺ فرمائی چه په هر دوه سړو کښې دې يو د جهاد دپاره اوځی، ګويا د هر کوراو هرې محلې نه دې نيم سړی د جهاد دپاره لاړ شی او نيم دې هلته ايسار شی، د اولنی حديث نه معلومه شوه چه د خارج او خالف بخير دواړو اجر برابر دې، او د دې حديث نه معلوميږی چه د خارج دپاره پوره اجر او د خالف دپاره نيم اجر دې، د دې جواب دا دې د نصف نه د مجموعه اجر نصف مراد دې او دا مطلب نه دې چه د هغه دپاره د اجر خارج نصف دې، او کله چه يو څيز په دوه حصو کښې تقسيم کړې شی نو هلته تنصيف کولې شی،

كذا فی البذل عن الحافظ، والحديث اخرجه مسلم قاله المنذری.(۲)

بَابٌ فِي الْجُرْأَةِ وَالْجُبْنِ

دبهادرئ اوبزدلئ بيان

د جهاد ابواب شروع دی چه د هغې دپاره جرأت او همت پکار دې هم په دې مناسبت سره مصنف دا باب قائم کړې دې.

[۲۵۱۱](۳)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَرَّاحِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مَرْوَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "شَرُّ مَا فِي رَجُلٍ شُحٌّ هَالِعٌ وَجُبْنٌ خَالِعٌ".

ترجمه: دعبدالعزيز بن مروان نه روايت دې فرمائی چه دابوهريره رضی الله عنه نه مې اوريدلي دي فرمائيل ئې چه دنبی ﷺ نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې: چه دانسان په بدو عادتونو کښې دوه ډيربد اولوئی بدعادتونه دي يوبخل کول او بل بزدلي کول.

(۱): صحيح مسلم/الإمارة ۳۸(۱۸۹۶)، (تحفة الأشراف: ۴۴۱۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۵/۳، ۴۹، ۵۵) (صحيح)

(۲) قلت ونص الحديث يابي هذا التوجيه اذ فيه تصريح بنصف اجر الخارج، نعم يجري هذا التوجيه في الحديث الذي مضي في كتاب الزكاة، باب تصدق المراة من بيت زوجها فقد مر هذا التوجيه هناك فارجع اليه)

(۳): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۴۱۰۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۰۲/۲، ۳۲۰) (صحيح)

شرح حديث

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه حديث مرفوع دي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو، د انسان په بدترين عادتونو کښې يو سخت بخل دې کوم چه ويرونکې وی، او دويم بدترين صفت بزدلی ده چه د هغې د وجې نه ئې زړه بهر راوځی، اعاذنا الله تعالى من شح هالع وجبن خالع، بل من الجبن مطلقا، وفی الحديث : اللهم انی اعوذبک من الجبن والبخل.

بَابٌ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى {وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ}

د الله تعالی ددې قول د مفهوم بيان چه: («ولا تلقوا بأيديكم الى التهلكة»)

د مصنف غرض په دې باب سره د دې آيت کريمه تفسير بيانول دی چه په هغې کښې د جهاد ترغيب ورکړې شوې دې او په ترک جهاد باندې وعيد راغلې دې، د ترک جهاد په باره کښې د دې نه مخکښې "باب کراهية ترک الغزو" کښې تير شوې دې او هم دغه شان وړاندې کتاب البيوع کښې : ﴿ باب فی النهی عن العينة ﴾ کښې راروان دې، ﴿ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ « إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلاًّ لاَ يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ »﴾

[٢٥١٢](1)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، وَابْنِ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَسْلَمَ أَبِي عِمْرَانَ، قَالَ: غَزَوْنَا مِنَ الْمَدِينَةِ نُرِيدُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةَ، وَعَلَى الْجَمَاعَةِ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، وَالرُّومُ مُلْصِقُو ظُهُورِهِمْ بِحَائِطِ الْمَدِينَةِ، فَحَمَلَ رَجُلٌ عَلَى الْعَدُوِّ، فَقَالَ النَّاسُ: مَهْ مَهْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يُلْقِي بِيَدَيْهِ إِلَى التَّهْلُكَةِ، فَقَالَ أَبُو أَيُّوبَ: إِنَّمَا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِينَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ لَمَّا نَصَرَ اللَّهُ نَبِيَّهُ وَأَظْهَرَ الْإِسْلَامَ قُلْنَا: هَلُمَّ نُقِيمُ فِي أَمْوَالِنَا وَنُصْلِحُهَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ سورة البقرة آية ١٩٥، فَالْإِلْقَاءُ بِالْأَيْدِي إِلَى التَّهْلُكَةِ أَنْ نُقِيمَ فِي أَمْوَالِنَا وَنُصْلِحَهَا وَنَدَعَ الْجِهَادَ، قَالَ أَبُو عِمْرَانَ: فَلَمْ يَزَلْ أَبُو أَيُّوبَ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى دُفِنَ بِالْقُسْطَنْطِينِيَّةِ.

ترجمه: دحضرت اسلح ابوعمران رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ دجهاد په اراده دمدينې نه قسطنطنيه ته روان شو اوروميان مدينې ته نزدې رارسيدلي وو، نوچه په خلقو کښې به يو کس په دشمن حمله اوکړه نو خلقو به ورته اووئيل مه کوه مه کوه لا إله إلا الله، ته خو خپل ځان په خپلو لاسونوپه هلاکت کښې اچوې، ابوايوب اووئيل يقينادا آيت زمونږ دانصارو په باره کښې نازل شوې دې، هرکله چه الله تعالی دخپل نبی ﷺ مدد اوکړو او اسلام ئې غالب کړو نومونږ په خپلو زړونو کښې اووئيل (اوس دجهاد څه ضرورت دې) اوس خوبه مونږ د خپلو مالونوسره پاتې کيږو او حفاظت به ئې کوو بيا الله تعالى دا آيت نازل کړو (وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ) د الله په لاره کښې خرچ کوئ اوخپل ځان په هلاکت کښې مه اچوئ (سورة البقره: ١٩٥) خپل ځان په هلاکت کښې اچول دادی چه مونږ په خپلو مالونو کښې مشغول شو، دهغې فکر کوو اوجهاد پريږدو،، ابوعمران اووئيل ابوايوب به هميشه دالله په لاره کښې جهاد کولو تردې چه په قسطنطنيه

(1): سنن الترمذي/التفسير ١٩ (٢٩٧٢)، (تحفة الأشراف: ٣٤٥٢) (صحيح)

کښې دفن کړې شو.

شرح حديث

ابو عمران فرمائی چه مونږ د قسطنطنيه د فتح کولو دپاره د مدينې منورې نه روان شو او زمونږ په جماعت باندې امير د سيدنا خالد بن وليد رضی الله عنه ځوئې عبدالرحمن وو، او د جنګ په وخت دشمن يعنی اهل روم حائط المدينه يعنی قسطنطنيه ښهر کښې پناه اخستلو سره خپلې ملا ګانې يوځائې کړې وې، لا جنګ شروع شوې نه وو چه په مسلمانانو کښې يو سړی مجاهد اول حمله اوکړه (يعنی په حمله کولو کښې ئې سبقت اوکړو، نورو خلقو لا سوچ کولو) نو د هغه په حمله کولو باندې مسلمانانو اووې ﴿ مه مه لا اله الا الله ﴾ چه اودريږه ځه کوې، خپل ځان په هلاکت کښې اچوې، سيدنا ابو ايوب انصاری رضی الله عنه هلته موجود وو هغه فورا خبرې اوکړې او په منع کونکو ئې رد اوکړو او د کوم آيت نه چه منع کونکو ګويا استدلال کړې وو هغه د دې صحيح تفسير او شان نزول بيان اوفرمائيلو، چه د هغې حاصل دا دې چه په اصل کښې دا آيت کريمه زمونږ يعنی انصارو په باره کښې نازل شوې دې، هغه دا چه کله اسلام خور شو او الله پاک هغه ته غلبه ورکړه نو مونږ خلقو سوچ اوکړو چه اوس مونږ له د خپلې زميندارئ خبر اخستل پکار دی نو په دې باندې دا ايت کريمه نازل شو، پس خپلو لاسونو لره په هلاکت کښې د اچولو مطلب خو دا دې چه مونږ په خپلو پټو کښې مشغول کيدو سره جهاد پريږدو نه دا چه دا تاسو کوم خيال کوئ او حمله کونکې منع کوئ، وړاندې راوی فرمائی چه د دې نه پس ابو ايوب انصاری رضی الله عنه په دې غزوه کښې جنګ کولو تردې چه وفات کيدو سره هم هلته د قسطنطنيه په حدود کښې دفن کړې شو رضی الله عنه، په دې حديث کښې چه د کومې غزوې ذکر دې دا هم هغه غزوه ثانيه ده د غزوة البحر نه چه د هغې ذکر اوس نزدې تير شوې دې، چه د هغې په باره کښې دا تير شوې دی چه د هغې امير يزيد بن معاويه وو، او دلته په روايت کښې د عبدالرحمن بن خالد بن يزيد رحمه الله په باره کښې دی چه هغه امير وو او حضرت په بذل کښې د تاريخ طبری نه په دې باندې مزيد نقل کړې دې چه ﴿ وعلى اهل مصر عقبة بن عامر، وعلى اهل الشام فضالة بن عبيد ﴾ او په يو کښې دا دی ﴿ وعلى الجماعة عبدالرحمن بن خالد ﴾، اصل کښې د مختلف ملکونو په اعتبار سره دا امارت دې، د اهل مدينه د جماعت امير عبد الرحمن بن خالد بن الوليد دې، او د پوره لښکر امارت عامه د يزيد بن معاويه دپاره وو.

فائده: د فتح قسطنطنيه ذکر په کتاب الفتن من اشراط الساعة د لاندې هم په حديث کښې راغلې دې، پس د ترمذی په روايت کښې دی:

قوله ﴿ الْمَلْحَمَةُ الْعُظْمَى وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ ﴾ امام ترمذی رحمه الله فرمائی: ﴿ وَالْقُسْطَنْطِينِيَّةُ هِيَ مَدِينَةُ الرُّومِ تُفْتَحُ عِنْدَ خُرُوجِ الدَّجَّالِ وَالْقُسْطَنْطِينِيَّةُ قَدْ فُتِحَتْ فِي زَمَانِ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اهـ ﴾ د امام ترمذی رحمه الله اشاره هم د دې فتح طرف ته ده کومه چه په حديث الباب کښې ذکر شوې ده چه د هغې په باره کښې فرمائی چه د بعض صحابه کرامو په زمانه کښې فتح شوې ده، خو د حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم په زمانه

کښې اگر چه هغه فتح شوې ده خو هلته اسلامی حکومت قائم نه شو بلکه د هغوی سره په اداء جزیه باندې مصالحت اوشو، په حاشیه د کوکب ص ۹۵ ج ۲ کښې حضرت شیخ لیکی چه د دې اولې فتح نه روستو دوباره رومیان په هغې باندې قابض شو، بیا د یوې ډیرې اوږدې مودې نه پس په ۸۵۷ھ کښې مسلمانانو دا دوباره فتح کړه، تقریبا پنځوس ورځو پورې مسلمانانو د هغې محاصره کړې وه، بیا مسلمانانو ته انتهائی شاندار او ښکاره فتح حاصله شوه، چه په هغې کښې ورته بیشماره مال غنیمت حاصل شو. اهـ دا نوم په دوه طریقو سره ضبط کړې شوې دې قسطنطنیه د طاء نه روستو یاء تحتانیه بیا نون، قال النووی وهو المشهور، دویم دا چه د نون نه پس بیا یاء مشدده قسطنطنیه. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی (قال المنذری) ملخصا.

بَابٌ فِي الرَّمْيِ

د نښې ویشتلو دفضیلت بیان

[۲۵۱۳](۱)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَّامٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ الْجَنَّةَ صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ وَالرَّامِيَ بِهِ، وَمُنْبِلَهُ وَارْمُوا وَارْكَبُوا، وَأَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا، لَيْسَ مِنَ اللَّهْوِ إِلَّا ثَلَاثٌ: تَأْدِيبُ الرَّجُلِ فَرَسَهُ، وَمُلَاعَبَتُهُ أَهْلَهُ، وَرَمْيُهُ بِقَوْسِهِ وَنَبْلِهِ، وَمَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَ مَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ فَإِنَّهَا نِعْمَةٌ تَرَكَهَا أَوْ قَالَ كَفَرَهَا".

ترجمه: دعقبة بن عامر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې اورېدلي دي چه فرمائیل ئې یقینا الله تعالی دیوغشي په وجه باندې درې کسان جنت ته داخلوي یو ددې جوړونکی چه دثواب په اراده ئې جوړوي اوبل ددې ویشتونکې دې او بل هغه کس دې څوک چه نښې ویشتونکي ته په لاس کښې غشې ورکړي پس تاسو دغشو ویشتلو زدکړه اوکړئ اوپه اسونوباندې سورلي کوئ لیکن ماته په اسونوباندې دسورلۍ کولوپه نسبت غشی ویشتل ډیر محبوب دي اودین چاته دلوبوکولو اجازت نه ورکوي مگر (ددرې څیزونو) یو خپل اس ته تربیت ورکول دویم دخپل اهل سره توقې کول او په خپله لینده باندې غشی ویشتل اوڅوک چه غشی ویشتل هیرکړي پس دهغه نه چه زده ئې کړي په وجه دبې زاره کیدو نویقینا ده یونعمت پریخودو اویا راوی داسې اووئیل چه ډیونعمت ناشکري ئې اوکړه.

شرح حدیث

یعنی الله پاک د یو غشی د وجې نه درې کسان جنت ته داخلوی، د غشی جوړولو والا کاریگر کوم چه د دې په جوړولو کښې د خیر او ثواب نیت کوی، دویم غشی جوړونکی لره، دریم منبل یعنی غشی ورکونکی ته، نبل غشی ته وائی، که هغه ورکونکې ئې د خپل ملکیت نه ورکړی، یا ئې د تیکی نه راویستلو سره ورکړی، او د منبل نه مراد هغه هم کیدې شی چه کوم ځائې په نخښه باندې غشی لگیدلې دې یو سړې هغه د هغه ځائې نه

(۱): سنن النسائي/الجهاد ٢٦ (٣١٤٨)، والخيل ٨ (٣٦٠٨)، (تحفة الأشراف: ٩٩٢٢) (ضعيف)

اوچت کړي او غشي ويشتونکي ته ئي ورکړي.
﴿وارموا واركبوا﴾ يعني د جهاد د تيارئ دپاره د غشو ويشتلو فن هم زده کړئ او شه سوارى هم او دا چه تاسو په غشو ويشتلو کښې مهارت حاصل کړئ، زما په نزد زياته غوره دا ده په نسبت د رکوب کښې مهارت حاصلولو دپاره (ځکه چه د رمى نفع زياته عامه ده په نسبت د رکوب) بيا وړاندې فرمائى چه د لهو ولعب يو قسم هم مباح نه دې سوا د درې قسمونو نه، يو اس ته تاديب ورکول يعنى هغه ته ترينګ ورکول او د هغه اصلاح (چه هغه د سورلئ قابل شى)، او د خپلې ښځې سره ملاعبت کول، او دريم غشى ويشتل، د دې غشى ويشتلو نه مراد هغه غشى ويشتل دى کوم چه د نخښې د ويشتلو د مشق په طور کولې شى، يعنى نخښه ويشتل زده کول. والحديث اخرجه النسائى، واخرجه مسلم مختصرا (المنذرى ملخصا)

[۲۵۱۴]([1]) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي عَلِيٍّ ثُمَامَةَ بْنِ شُفَيٍّ الْهَمْدَانِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ الْجُهَنِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ: "وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ سورة الأنفال آية ٦٠، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ".

ترجمه: دعقبة بن عامر نه روايت دې فرمائى چه دنبى عليه السلام نه مې اوريدلې دي چه په منبرئې فرمائيل يقينا دالله تعالى ددې قول مراد: «وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة» دادې چه نبى عليه السلام اوفرمائيل خبردار ددشمن دمقابلې دپاره قوت حاصلول غشى ويشتل دي أوخبردار غشى ويشتل قوت دې اوخبردار غشى ويشتل قوت دې اوخبردار غشى ويشتل قوت دې.

تشريح

﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ﴾ په دې باندې رسول الله ﷺ درې کرته اوفرمائيل چه ﴿لا ان القوة الرمى﴾ يعنى الله پاک چه دا فرمائى چه د کفارو سره د مقابلې تيارى اوکړئ ترڅو چه کيدې شى، د دې تيارئ نه مراد غشې ويشتل دى يعنى په دې کښې انسان لره ښه مهارت حاصلول پکار دى، يعنى د طاقت يو خاص او اهم رکن دا دې، مراد انحصار نه دې، کما فى قوله ﴿الحج عرفة والندم توبة﴾ هسې ددې په تفسيرکښې په بذل کښې دتفسيرکبيرنه درې خلوراقوال ذکر کړې شوې دى، په بذل کښې ليکلې دى چه آيت کريمه دال دې په دې خبره باندې چه د جهاد دپاره استعداد او تيارى، غشې ويشتل اود وسلې استعمال د فروسيت (مهارت) په ذريعه فرض دې خو فرض کفايه دې، والحديث اخرجه مسلم وابن ماجة قاله المنذرى.

......

[1]): صحيح مسلم/الإمارة ٥٢ (١٩١٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٩ (٢٨١٣)، (تحفة الأشراف: ٩٩١١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/تفسير القرآن ٩ (٣٠٨٣)، مسند احمد (٤/١٥٧)، سنن الدارمي/الجهاد ١٤ (٢٤٤٨) (صحيح)

بَابٌ فِي مَنْ يَغْزُو وَيَلْتَمِسُ الدُّنْيَا

بيان دهغه كس چه جهاد د مال حاصلولو دپاره كوى

[٢٥١٥] ([1]) حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنِي بَحِيرٌ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ أَبِي بَحْرِيَّةَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "الْغَزْوُ غَزْوَانِ فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللَّهِ، وَأَطَاعَ الْإِمَامَ، وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ، وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ، فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ، وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً وَعَصَى الْإِمَامَ وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ".

ترجمه: معاذ بن جبل رضي الله عنه دنبى عليه السلام نه روايت كوى چه فرمائيلي يسې دي جهاد په دوه قسمه دې يوخو هغه جهاد دې چه دالله درضاد پاره كيږي، او په دې كښې دغسوره نه غوره مال خرچ كړې شي اود خپل مسلمان ورور سره همدردي اوكړې شي او د شر او فساد نه پرهيز اوكړې شي نو په داسې جهاد كښې اوده كيدل ويښيدل ټول عبادت دې، اوڅوك چه جهاد د خپلې لويئ ښكاره كولو د پاره او د خپلې مرتبې ظاهرولو دپاره او د شهرت حاصلولو د پاره كوى او دخپل اميرنافرمانى كوي او په زمكه كښې شر اوفساد خوروي نوداسې كس به دقيامت په ورځ دځان سره هيڅ نيكي رانه وړى.

شرح حديث

يعنى د غزوه دوه قسمونه دى د غازى په لحاظ سره، پس د كوم سړى غرض چه په غزوه سره د الله پاک د رضا حصول وى، او د امام هم هغه تابعدارى كوى او خپل محبوب څيز يعنى نفس او مال لره خرچ كړى او د خپل ملګرى سره نرمه معامله ساتى (ياسر د ماضى صيغه ده په وزن د قاتل، چه د هغې مصدر المياسرة دې يعنى مساهله نرم سلوک) او د جهګړې او فساد نه پرهيز كوى نو د داسې غازى اوده كيدل پاسيدل ټول د اجر باعث دى، وړاندې په حديث كښې د دې مقابل ذكر شوې دې چه د هغې په باره كښې دى ﴿ فانه لم يرجع بالكفاف ﴾ چه داسې غازى برابر هم نه واپس كيږى، يعنى چه څنګه تلې وو هغه شان هم واپس نه شو بلكه د نقصان سره واپس شو، والحديث اخرجه النسائى قاله المنذرى.

[٢٥١٦] ([2]) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنِ ابْنِ مِكْرَزٍ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا أَجْرَ لَهُ"، فَأَعْظَمَ ذَلِكَ النَّاسُ وَقَالُوا لِلرَّجُلِ: عُدْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَعَلَّكَ لَمْ تُفَهِّمْهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا، فَقَالَ: لَا أَجْرَ لَهُ، فَقَالُوا لِلرَّجُلِ: عُدْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ: الثَّالِثَةَ، فَقَالَ لَهُ: لَا أَجْرَ لَهُ.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې يوسړي اووئيل اې دالله رسوله څوک چه دالله په لار

---

[1]): سنن النسائي/الجهاد ٤٦ (٣١٠)، والبيعة ٢٩ (٤٢٠٠)، (تحفة الأشراف: ١١٣٢٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجهاد ١٨ (٤٣) موقوفاً، مسند احمد (٢٣٤/٥)، سنن الدارمي/الجهاد ٢٥ (٢٤٦١) (حسن)

[2]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٤٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٠/٢، ٣٦٦) (حسن)

کښې دمال حاصلولو دپاره جهاد کوي نودده څه حکم دي نبي ﷺ اوفرمائيل دده دپاره به هيڅ اجرنه وي خلقو داخبره ډيره لويه اوګڼړله اوهغه کس ته ئې اووئيل چه درسول الله نه دوباره تپوس اوکړه کيدې شي چه ته نه ئې پوهه شوي نوهغه کس بيا ووئيل اې دالله رسوله څوك چه دالله په لار کښې دمال حاصلولو دپاره جهاد کوي نودده څه حکم دي نبي ﷺ اوفرمائيل دده دپاره به هيڅ اجرنه وي نودوئ بيا هغه کس ته اووئيل چه درسول الله نه بيا تپوس اوکړئ نوده ترې په دريم ځل تپوس اوکړو نوورته ئې اوفرمائيل چه دده دپاره به هيڅ اجرنه وي.

شرح حديث

د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه کوم سړې جهاد ته لاړ شي او حال دا وی چه هغه د دنيوی مال او متاع هم طالب وی؟ نو هغه اوفرمائيل ﴿لا اجر له﴾ پس خلقو د رسول الله ﷺ دا جواب ډير عظيم او دروند اوګڼړلو يعنی دا خبره ډيره سخته ده، د هغوی يقين رانغلو چه د رسول الله ﷺ هم دا مراد دي بلکه خيال ئې دا راغلو چه سائل تپوس صحيح نه دي کړې او رسول الله ﷺ ئې په خپله خبره باندې پوهه کړې نه دې، په دې وجه رسول الله ﷺ داسې جواب ورکړو، لهذا خلقو هغه تپوس کونکی ته اووې چه ته د رسول الله ﷺ نه دوباره تپوس اوکړه، پس هغه دوباره تپوس اوکړو، رسول الله ﷺ دې ځل هم هم هغه جواب اوفرمائيلو، خلقو په هغه باندې اصرار اوکړو چه يو ځل بيا تپوس اوکړه، هغه په دريم ځل تپوس اوکړو نو رسول الله ﷺ دې ځل هم هغه جواب ورکړو، حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه د سائل په سوال کښې دوه احتمالات دی، يو دا چه يو سړې په صورة جهاد کښې روان دې او د جهاد په نوم باندې د کور نه وتلې دې خو مقصود اصلی د هغه دنيا ګټل دی، بل احتمال دا دې چه مقصود خو جهاد دې خو ورسره ئې د مال د حصول نيت دې، په اول صورت کښې به د رسول الله ﷺ په کلام کښې نفی د مطلق ثواب وی، او په دويم صورت کښې به نفی د کمال اجر وی. اهـ

بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا

باب دې په بيان د فضيلت د هغه کس کښې چه د دين دغالب کيدو دپاره جنګيږي

[٢٥١٧](1) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى، أَنَّ أَعْرَابِيًّا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّ الرَّجُلَ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ، وَيُقَاتِلُ لِيُحْمَدَ، وَيُقَاتِلُ لِيَغْنَمَ، وَيُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَاتَلَ حَتَّى تَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ أَعْلَى، فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ".

ترجمه: دابوموسی رضی الله عنه نه روايت دې يوبانده چې دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه يوسړې ددې دپاره جهاد کوي چه زه دې په خلقو کښې ياد کړې شم

(1): صحيح البخاري/العلم ٤٥ (١٢٣)، الجهاد ١٥ (٢٨١٠)، الخمس ١٠ (٣١٢٦)، التوحيد ٢٨ (٧٤٥٨)، صحيح مسلم/الإمارة ٤٢ (١٩٠٤)، سنن الترمذي/فضائل الجهاد ١٦ (١٦٤٦)، سنن النسائي/الجهاد ٢١ (٣١٣٨)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٣ (٢٧٨٣)، (تحفة الأشراف: ٨٩٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٢/٤، ٣٩٧، ٤٠٢، ٤٠٥، ٤١٧) (صحيح)

اووديږ دپاره چه زما دي تعريف اوکړې شي اووديږ دپاره چه غنيمت حاصل کړم اووديږ دپاره چه زمامرتبه په خلقوکښې او پيژندلې شي، نبی ﷺ اوفرمائيل څوک چه دديږ دپاره جنګيږي چه دالله دين بلند اوبالا شي نودا جهاد فی سبيل الله دی۔

شرح حديث

﴿ يری ﴾ د مضارع معروف صيغه ده د ﴿ اراءة ﴾ نه، په معنی د ښودلو، او د مکان معنی ده منزلت او مرتبه، يعنی قتال کوی د دي دپاره چه د خپل شجاعت او بهادرئ مرتبه خلقو ته اوښائی نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کوم سړي قتال د دي دپاره کوی چه د الله پاک کلمه اوچته شی، دا قتال په اصل کښې د الله پاک دپاره دی، او په صحيح معنی کښې جهاد دی، په بذل کښې حافظ نقل کړی دی چه د کلمة الله نه مراد دعوة الله الی الاسلام دی، او عينی په (ص ١٢٨ ج ١) په شرح د بخاری کښې په دي باندي اضافه ده، وقيل : هی قوله لا اله الا الله.

د اخلاص فی العمل مراتب

بيا علامه عينی د ﴿ ما يستفاد من الحديث ﴾ د لاندي ليکلي دی چه د دي حديث نه معلومه شوه چه د عبادت د معتبر کيدو دپاره اخلاص شرط دی، پس چه د کوم سړی د عمل باعث چه صرف دنيا وی نو د داسي سړی په عمل باطليدو کښې هيڅ شک نشته، او د کوم سړی د عمل مقصد چه دواړه وی دينی هم او دنيوی هم، پس که باعث دينی اقوی وی نو په دي صورت کښې د جمهورو په نزد هغه عمل معتبر دی، او د حارث محاسبی رائې دا ده چه دا عمل هم باطل دی د حديث الباب نه استدلال کولو سره، او دريمه رائې په دي کښې د محمد بن جرير طبری رحمه الله ده چه که عمل ابتداء او بناء د اخلاص سره وی نو هغه معتبر دی بيا که روستو په دي کښې عجب وغيره دنيوی غرض راشی نو هغه مضر نه دی. اهـ

دعوة الی الاسلام ئې په دي وجه اووې چه په اصل کښې د اسلام طرف ته دعوت ورکونکی خو الله پاک دي خو براه راست نه بلکه علی لسان الانبياء عليهم السلام، انبياء عليهم السلام الله پاک هم د دي دپاره مبعوث کړي وو ، وفی التنزيل العزيز ﴿ والله يدعو الی دار السلام ﴾.

[٢٥١٨](1) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَمْرٍو، قَالَ: سَمِعْتُ مِنْ أَبِي وَائِلٍ حَدِيثًا أَعْجَبَنِي فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: دعمرو نه روايت دي فرمائی چه ما دخپل پلار وائل نه يو حديث واوريدو چه زه ئې په تعجب کښې واچولم اوباقی حديث ئې دتير شوي روايت په شان بيان کړو.

[٢٥١٩](2) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ حَاتِمٍ الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي الْوَضَّاحِ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ حَنَانِ بْنِ خَارِجَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو: يَا

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٩٩٩) (صحيح)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦١٩) (ضعيف)

رَسُولَ اللَّهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْجِهَادِ وَالْغَزْوِ، فَقَالَ: "يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو إِنْ قَاتَلْتَ صَابِرًا مُحْتَسِبًا بَعَثَكَ اللَّهُ صَابِرًا مُحْتَسِبًا، وَإِنْ قَاتَلْتَ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا بَعَثَكَ اللَّهُ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا، يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو عَلَى أَيِّ حَالٍ قَاتَلْتَ أَوْ قُتِلْتَ بَعَثَكَ اللَّهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ.

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله جهاد اوعزوه څه ته وائی نبی عليه السلام اوفرمائیل اې عبدالله جهاد دادې چه ته په داسې حال کښې جنګیدونکې یې چه صبرکونکې یې دثواب په اراده باندې نوالله تعالی به دې صبرکونکی او دثواب دطلب ګار په حالت کښې راپورته کړي اوکه چرې ته جنګ کوې دځان ښودلو دپاره اودمال ډیرولو دپاره نوالله تعالی به دې راپورته کړي په همدغه حال باندې، اې عبدالله ته چه په کوم حال کښې هم جنګ اوکړې او یا شهید شې نوالله تعالی به دې په همدغه حال کښې راپورته کړي.

بَابٌ فِي فَضْلِ الشَّهَادَةِ

د شهادت د فضیلت بیان

[۲۵۲۰]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ بِأُحُدٍ جَعَلَ اللَّهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ، تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ"، فَلَمَّا وَجَدُوا طِيبَ مَأْكَلِهِمْ وَمَشْرَبِهِمْ وَمَقِيلِهِمْ قَالُوا: مَنْ يُبَلِّغُ إِخْوَانَنَا عَنَّا أَنَّا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ نُرْزَقُ لِئَلَّا يَزْهَدُوا فِي الْجِهَادِ وَلَا يَنْكُلُوا عِنْدَ الْحَرْبِ، فَقَالَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ: أَنَا أُبَلِّغُهُمْ عَنْكُمْ، قَالَ: فَأَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا سورة آل عمران آية ١٦٩ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ.

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائي چه نبی عليه السلام فرمائیلي دی هرکله چه ستاسو مسلمانانو ورونړه په احدکښې شهیدان شول نوالله تعالی دهغو روحونه دشنو مرغوپه ججورو کښې واچول چه دجنت نهرونوته ورځی اودجنت میوې خوری اودعرش دسورې لاندې په قندیلونوکښې اوسی دوی چه کله دخپل خوراك څښاك اوسکون خوشحالي حاصله کړه نووئې وئیل آیا څوك شته داسې چه زمونږه خبر زمونږه پاتې شوو رونړوته ورسوي چه مونږ په جنت کښې ژوندی یو اوخوراك ګوو ترڅوچه هغوی هم دجنت په حاصلولوکښې بې پرواهي اونکړي اودجهاد په وخت کښې سستي اونکړي الله تعالی اوفرمائیل چه دغه خلقو ته به خبر زه اورسوم اودا آیت نازل شو «وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا» څوک چه دالله تعالی په لاره کښې شهید کړې شوهغوی مړ مه ګڼړئ،، (سورة آل عمران: ۱۶۰)

د حدیث مضمون

په دې حدیث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته خطاب فرمائیلو سره الله پاک چه کومه معامله د احد د شهیدانو سره کړې وه هغه بیان فرمائیلې ده، او رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو سره د دې څیز ذکر خپله د هغه شهداء احد په خواهش او فرمائش باندې کړې دې،

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۵٦١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٦٧١) (حسن)

لکه چه وړاندې به د حديث د ترجمه نه معلومه شي بهرحال! رسول الله ﷺ فرمائي چه کوم خلق په احد کښې شهيدان شو نو الله پاک د هغوی روحونه د جنت د شنو مارغانو په ججورو کښې کيخودل چه هغوی د جنت په باغونو او نهرونو کښې سيل اوکړي، د هغې د ميوو نه فائده اوچته کړي، هغه داسې مارغان دی چه د هغې د قيام ځائې ډير ښکلی د سرو زرو قنديلونه دی کوم چه د عرش د لاندې رازوړند دی، وړاندې په حديث کښې دی چه کله هغه د احد شهيدانو يعنی د هغوی روحونو هلته په جنت کښې د خوراک څکاک او ارام کولو، هر قسم سهولت او خوشگوار حالت اوکتلو نو د هغوی زړه دا اوغوښتله چه زمونږ د دې خوشحالئ او راحت خبر زمونږ رونړو ته هم څوک اورسوی، يعنی تر اوسه پورې په دنيا کښې دی، د دې دپاره چه هغوی جهاد او قتال فی سبيل الله لره، چه د هغې په وجه باندې مونږ ته دا خوشحالی او نيک انجام نصيب شوې دې په دې کښې سستی او بې رغبتی اونکړي چه کله د هغه شهيدانو په زړه کښې دا خيال راغلو، په جنت کښې کيدو سره، نو الله پاک اوفرمائيل چه ستاسو دا خبره به زه هغوی ته اورسوم، يعنی ستاسو د نبی په ذريعه، پس الله پاک په خپل نبی باندې دا ايتونه نازل کړل : ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ () فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾

د حديث نه د ملحدينو استدلال او د هغې جواب

د دې حديث نه بعض ملحدينو کوم چه د تناسخ او انتقال ارواح قائل دی (کوم ته چه اوا گون او جنم بدلی هم وئيلې شی) چه د هغې حاصل دا دې چه ثواب او عقاب صرف د انتقال ارواح نوم دې که انسان نيک وی نو د هغه روح کښې د يو ښه حيوان په شکل کښې دنيا ته راوليږلې شی او د بدکار روح د يو بد حيوان په شکل کښې دنيا ته راليږلې شی، يعنی هغه عقيده کومه چه د اهل اسلام په نزد قطعا باطل د دې د علماء حقه د طرف نه دا جواب ورکړې شوې دې چه په دې حديث کښې يعنی ﴿ جَعَلَ اللَّهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ ﴾ کښې شارحينو دوه احتمالات ليکلې دی، يو دا چه په جنتی مارغانو کښې د هغوی په خيټو کښې د هغوی روحونو لره محفوظ کول مراد دی لکه يو څيز په ډبی کښې محفوظ کولې شی، بل احتمال دا دې چه هغه روحونو لره د هغه مرغانو په بدن کښې دننه پوکلې شی چه په هغې سره هغوی جاندار شی، که اول احتمال واخستلې شی نو بيا خو د تناسخ سره د دې هيڅ تعلق نشته او هيڅ د اشکال خبره پکښې نشته، او که احتمال ثانی اختيار کړې شی نو په دې کښې اگر چه انتقال د روح د يو بدن نه بل بدن ته دې خو په دې عالم کښې نه بلکه په عالم اخرت کښ، لهذا استدلال بې محله دې، ځکه چه ملحدين خو د اخرت قائل نه دی. **والحديث اخرجه احمد، والطبری فی التفسير، والحاکم فی المستدرک، وزاد فی الدر المنثور، لهناد وعبد بن حميد، وابن المنذر والبيهقی فی الدلائل، واخرجه مسلم معناه (ملخصا من المنذری واحمد شاکر)**

....

[۲۵۲۱](۱)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا عَوْفٌ حَدَّثَتْنَا حَسْنَاءُ بِنْتُ مُعَاوِيَةَ الصَّرِيمِيَّةُ، قَالَتْ: حَدَّثَنَا عَمِّي، قَالَ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ فِي الْجَنَّةِ؟ قَالَ: النَّبِيُّ فِي الْجَنَّةِ وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ وَالْوَئِيدُ فِي الْجَنَّةِ".

ترجمه: حسناء بنت معاویه دخپل تره نه روایت کوی فرمائی چه مادنبی ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړو چه اې دالله رسوله جنت ته به څوک داخليږي؟ نبی ﷺ اوفرمائيل په جنت کښې به پيغمبران وي اوجنت ته به شهيدان داخليږي اوجنت ته به هغه ماشومان داخليږي څوک چه دپيدائش (ماشوموالی) په وخت کښې مړه شي اوجنت ته به هغه کسان داخليږي څوک چه ژوندي ښخ کړې شوي وي.

تشریح

د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه جنت ته به څوک څوک ځی؟ هغه اوفرمائيل "نبی" مراد جنس دې يعنی انبياء او شهيدان، د دې نه مراد مومن دې کما قال تعالی ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ ﴾ هغه به جنت کښ دي او مولود په جنت کښ، د دې نه مراد هر هغه ماشوم دې کوم چه د بلوغ او حنث نه مخکښې وفات شی او وې فرمائيل چه وئيد به هم په جنت کښې وی يعنی کوم چه ژوندي ښخ کړې شوې وی.

علامه قرطبی فرمائی چه ظاهره ده چه د دې نه هر هغه ماشوم مراد دې کوم چه قريب العهد من الولادة وی، که اولاد المسلمين نه يا کفارو نه وی. اه من البذل، زه وايم، د اولادکفار مسئله مشهوره اختلافی ده، د سنن ابی داؤد په اخير کښې دکتاب شرح السنة د لاندې "باب فی ذراری المشرکين" په عنوان سره راروان دې، په دې حديث کښې "وئيد" ته جنتی وئيلې شوې دې په دې کښې دا اشکال دې چه دا د حديث خلاف دې کوم چه وړاندې خپله هم په دې کتاب کښې راروان دی، الوائدة والموؤدة فی النار... د دې يو جواب دا ورکړې شوې دې چه د ﴿ الموؤدة ﴾ صله محذوف ده د دې نه مراد ﴿ الموؤدة لها ﴾ ده چه د هغې نه مراد د ﴿ مؤودة ﴾ مور ده، لهذا وائده يعنی قابله (دائی) چه څنګه به هغه د کفر د وجې نه جهنم ته ځی، يعنی ژوندئ دفن کونکې، هم دغه شان ﴿ مؤودة لها ﴾ يعنی د چا دپاره او د چا په حکم سره چه هغه ښخه کړې شوې ده يعنی د هغه ماشومې مور کافره هغه به هم جهنم ته ځی.

بَابٌ فِي الشَّهِيدِ يُشَفَّعُ

د شهيد د شفاعت قبليدو بيان

[۲۵۲۲](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ رَبَاحٍ الذِّمَارِيُّ، حَدَّثَنِي عَمِّي نِمْرَانُ بْنُ عُتْبَةَ الذِّمَارِيُّ، قَالَ: دَخَلْنَا عَلَى أُمِّ الدَّرْدَاءِ، وَنَحْنُ أَيْتَامٌ فَقَالَتْ: أَبْشِرُوا فَإِنِّي سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُشَفَّعُ الشَّهِيدُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: صَوَابُهُ رَبَاحُ بْنُ الْوَلِيدِ.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۹۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۵۸، ۴۰۹) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۹۹) (صحيح)

ترجمه: دنمران بن عتبه ذماري نه روايت دې فرمائي. چه مونږ دام الدرداء كره لاړو او مونږه يتيمان وو هغې اووئيل خوشحاله شي يقينًا مادابوالدرداء نه اوريدلي دی چه وئيل ئې نبي ﷺ فرمائيلي دي دشهيد شفاعت به داويا كسانودباره قبلولی شي دده د كورنئ نه. ابوداود وائی صحيح لفظ رباح بن وليد دې.

تشريح

﴿ يُشَفَّعُ الشَّهِيدُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ ﴾ يعنی د شهيد په سفارش باندې د هغه كورنئ د اويا كسانو مغفرت كولې شی.

بَابٌ فِي النُّورِ يُرَى عِنْدَ قَبْرِ الشَّهِيدِ

دشهيدانو په قبرونود نُورليدو بيان

[٢٥٢٣](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ رُومَانَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا مَاتَ النَّجَاشِيُّ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ لَا يَزَالُ يُرَى عَلَى قَبْرِهِ نُورٌ.

ترجمه: دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه كله نجاشي دحبشي بادشاه وفات شو نوخلقو به مونږ ته وئيل چه دهغه په قبرباندې هميشه نور ليدلې شی.

تشريح

په حديث الباب كښې دی، سيده عائشه رضي الله عنها فرمائی چه كله شاه حبشه سيدنا نجاشی رضي الله عنه وفات شو، ښخ كړې شو نو په مونږ خلقو كښې تر ډيرو ورځو پورې دا خبره مشهوره وه چه د هغوی په قبر باندې يو نور او رڼړا ښكاره كيږی.

د دې حديث په ظاهره كښې د ترجمه سره مطابقت نشته ځكه چه نجاشی شهيد شوې خو نه دې، پس كيدې شی هغه شهيد حكمی وی، د دې نجاشی ذكر او څه حال زمونږ په نزد دلته "كتاب الطهارة" د "مسح على الخفين" په باب كښې تير شوې دې.

[٢٥٢٤](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رُبَيِّعَةَ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ خَالِدٍ السُّلَمِيِّ، قَالَ: آخَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ فَقُتِلَ أَحَدُهُمَا، وَمَاتَ الْآخَرُ بَعْدَهُ بِجُمُعَةٍ أَوْ نَحْوِهَا فَصَلَّيْنَا عَلَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا قُلْتُمْ فَقُلْنَا: دَعَوْنَا لَهُ، وَقُلْنَا: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَأَلْحِقْهُ بِصَاحِبِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَأَيْنَ صَلَاتُهُ بَعْدَ صَلَاتِهِ وَصَوْمُهُ بَعْدَ صَوْمِهِ؟" شَكَّ شُعْبَةُ فِي صَوْمِهِ وَعَمَلُهُ بَعْدَ عَمَلِهِ إِنَّ بَيْنَهُمَا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ.

ترجمه: دعبيد بن خالد السلمي رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ ددوه كسانو په مينځ كښې اخوت قائم كړونوپه دوی دواړوكښې يو كس ووژلې شو اويوه هفته پس بل هم مړشو مونږ ورباندې جنازه اوكړله نونبی ﷺ اوفرمائيل تاسوڅه ووئيل؟ مونږ ورته ووئيل چه مونږ دې مړي ته دعا اوكړه اوداموووئيل چه اې الله ده ته مغفرت اوكړې اودخپل ملګري سره ئې يو ځائې كړې نونبی ﷺ اوفرمائيل تاسوداووئيل چه ددې كس مونځونه څه شول

---

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٣٥٦) (ضعيف)

٢): سنن النسائي/الجنائز ٧٧ (١٩٨٧)، (تحفة الأشراف: ٩٧٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٠٠/٣، ٢١٩/٤) (صحيح)

کوم چه دخپل ملګري دشهادت نه پس ادا کړي دي؟ اودده روژې څه شوي کوي چه ده دخپل ملګري دشهادت نه پس نیولې دي اودده نور اعمال څه شول کوم چه ده دهغه دمرګ نه پس کړي دي؟ یقینا په دوی دواړو کښې دومره فرق دي څومره چه په زمکه او اسمان کښې فرق دي.شعبه ته په (صومه بعد صومه) اوپه (عمله بعد عمله) کښې شک شوې دې.

تشریح: د حدیث مضمون واضح دې چه رسول اللهﷺ د دوه صحابه کرامو ترمینځه عقد مواخاة او رورولی قائم کړې وه چه د هغوی نه یو خو د الله پاک په لاره کښې قتل کړې شو او بل یوه هفته پس په خپله بستره باندې طبعي مرګ باندې مړ شو، چه کله مونږ په هغه بل سړي باندې د جنازې مونځ اوکړو هغه مونږ نه د جنازې نه پس تپوس اوکړو چه تاسو د هغه دپاره څه دعا اوکړه ﴿ قلنا اللهم اغفر له والحقه بصاحبه ﴾ "چه مونږ په مونځ کښې د هغه دپاره دعا مغفرت اوکړه او دا چه الله پاک هغه لره د خپل ملګری درجې ته اورسوی، کوم چه شهید وو او دې د هغه سره ملاؤ شی، په دې اوریدلو سره هغه دا اشکال اوفرمائیل ﴿ فَأَيْنَ صَلَاتُهُ بَعْدَ صَلَاتِهِ وَصَوْمُهُ بَعْدَ صَوْمِهِ ». شَكَّ شُعْبَةُ فِي صَوْمِهِ : « وَعَمَلُهُ بَعْدَ عَمَلِهِ إِنَّ بَيْنَهُمَا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ ﴾ چه دا تا څنګه دعا اوکړه! د هغه روستو سړي مونځونه او روژې به چرته ځی، او د هغه هغه اعمال کوم چه هغه په یوه هفته کښې کړي دی، د دې دواړو ترمینځه د زمکې او اسمان فرق دې.

د دې حدیث نه د مونځ او روژې وغیره اعمال فضیلت اندازه لګولې شی، بله دا چه د عمل صالح سره د طول عمر فضیلت ثابتیږی پس د ترمذی په روایت کښې دی ﴿ خیر الناس من طال عمره وحسن عمله ﴾

د حدیث الباب په شان نور روایات مختلفه

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه دا قسم روایات مختلف طور راغلي دی، د موطاء په روایت کښې د سعد بن ابی وقاص نه روایت دې ﴿ کان رجلان اخوان فهلک احدهما قبل صاحبه باربعین لیلة ﴾ بیا وړاندې روایت کښې دی چه د رسول اللهﷺ په وړاندې د اولنی فضیلت ذکر کړې شو چه د هغه وفات څلویښت ورځې مخکښې شوې وو (د هغه د څه خاص نیکئ او صلاح د وجې نه) نو رسول اللهﷺ د اولنی فضیلت بیانونکو باندې نکیر اوفرمائیلو هغه دا چه تاسو ته څه معلومه ده هغه بل سړی چه څلویښت ورځو پورې کوم مونځونه کړي دی هغې د هغه مرتبه چرته اورسوله، او د مسند احمد په روایت کښې یوه بله واقعه ذکر شوې ده چه حضرت طلحه بن عبیدالله په نزد دوه یمنی سړی میلمانه شو چه په هغې کښې یو د رسول اللهﷺ سره په جهاد کښې شهید شو، په هغوی کښې دویم سړې یو کال پس پورې ژوندې پاتې کیدو سره په خپله بستره باندې مړ شو، سیدنا طلحهؓ په خوب کښې اولیدل چه دا بل سړې غیر شهید د هغه بل سړی نه جنت ته ډیره زمانه مخکښې داخل شو، هغوی د دې خپل خوب ذکر رسول اللهﷺ ته اوکړو، رسول اللهﷺ اوفرمائیل چه دې دویم سړی په یو کال کښې اتلس سوه مونځونه اوکړل، او د یو رمضان روژې ئې اونیولې. اهـ من الاوجز (ص ٢٢٢ جـ ٢)وحدیث الباب اخرجه النسائی قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْجَعَائِلِ فِي الْغَزْوِ

په اجرت باندې د جهاد کولو بيان

﴿ جعائل﴾ جمع د جعيله جعاله، يعني اجرت او مزدوري، يعني اجرت اخستلو سره جهاد کول.

[۲۵۲۵]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا. ح حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا وَأَنَا لِحَدِيثِهِ أَتْقَنُ، مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ الْمَعْنَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ سُلَيْمَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَابِرٍ الطَّائِيِّ، عَنِ ابْنِ أَخِي أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الْأَمْصَارُ، وَسَتَكُونُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ تُقْطَعُ عَلَيْكُمْ فِيهَا بُعُوثٌ فَيَكْرَهُ الرَّجُلُ مِنْكُمُ الْبَعْثَ فِيهَا فَيَتَخَلَّصُ مِنْ قَوْمِهِ ثُمَّ يَتَصَفَّحُ الْقَبَائِلَ يَعْرِضُ نَفْسَهُ عَلَيْهِمْ يَقُولُ مَنْ أَكْفِيهِ بَعْثَ كَذَا مَنْ أَكْفِيهِ بَعْثَ كَذَا أَلَا وَذَلِكَ الْأَجِيرُ إِلَى آخِرِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهِ".

ترجمه: دابوايوب انصاري رضي الله عنه نه روايت دی چه نبي عليه السلام نه ئې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې، نزدې ده چه تاسوبه ډير ښارونه فتح کړئ او لښکرونه به جمع کړې شي او په دې لښکرونوکښې به په تاسو باندې فوجونه مقررکړې شي يعني هر څوك به د خپل قوم نه په لښکر کښې حصه ورکوي، نويوکس به بغيراجرته جهاد ته تلل نه خوښوي نودغه کس به ددې قبلې نه تختيدوته مجبورشي يعنی دجهاد نه به او تختي اودنورو قبيلوسره به په داسې حال کښې يو ځائې شي چه دې به وائی اياڅوك شته داسې چه ماته دلښکرد خدمت په بدل کښې اجرت راکوي او ما مزدور اوساتی؟ څوک به ما دځان سره مزدور اوساتی چه زه دهغه په لښکر کښې کار کوم اوهغه به زما خرچ برداشت کوی؟ خبردار دغه کس به د خپلې وينې د آخرى لمحې پورې مزدور وی.

شرح حديث

رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيش ګويئ په طور فرمائی چه په تاسو باندې به ډير ښهرونه او مقامات فتح کولې شی، يعنی مسلمانان به په مزه مزه جهاد کولو سره ښهرونو لره فتح کوی د هغوی تعداد به زياتيږی لکه چه وړاندې فرمائی، او موندلې به شی لوئې لوئې لښکرې او لوئې لوئې جماعتونه او قبائل د مسلمانانو چه په هغې کښې به د جهاد تلو دستې مقرر کولې شی، مثلاً فلانی ښهر چه په هغې کښې دومره خلق اوسيږی په هغې کښې به جهاد ته تلو دپاره دومره خلق نومونه ليکی، او په فلانی ښهر کښې دومره مسلمانان اباد دی په دې کښې دومره سړی جهاد ته د تلو دپاره نومونه ليکی، وړاندې فرمائی چه بعض خلق به داسې هم وی بعض قبائل کښې هغه بغير د اجرت نه جهاد کښې تلل نه غواړی (اوس که هغه سړې خپل ښهر ته اوسيدل غواړی او هلته اوسيدو سره د هغه نوم راغلو نو ظاهره خبره ده چه هغه به بغير د اجرت نه ځی) په دې وجه هغه سړې دا کوی چه د خپلې قبيلې او ابادئ نه وتلو سره بلې ابادئ کښې خپل ځان پيش کوی او وائی چه ﴿ من اکفه بعث کذا ﴾ چه د هغې مطلب دا دې چه که په تاسو کښې د چا جهاد ته د تلو دپاره نوم راغلو او هغه جهاد کښې تلل نه غواړی نو زه دهغه د طرف نه کافی کيدې شم، يعنی د هغه نه اجرت اخستلو سره د هغه په ځائې جهاد کښ، زه

---

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۴۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۱۳/۵) (ضعيف)

تلې شم د داسې سړی په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائی: ﴿الا وذلک الاجیر الی اخر قطرة من دمه﴾ داسې سړې به د خپلې وینې د اخری ځاڅکی پورې (یعنی که وفات شی) د اجیر بللو مستحق وی نه شهید، په دې حدیث کښې اجرت اخستلو سره په جهاد کښې تلونکی سړی نه د فضیلت او ثواب نفی ده او په دې باندې هیڅ وعید نشته.

اخذ الاجرة علی الجهاد کښې مذاهب ائمه

او مسئله د اجرت علی الجهاد مختلف فیه ده، عند الحنفیة والمالکیة یجوز الاخذ مع الکراهة، ویجوز مطلقا عند احمد، ولا یجوز مطلقا عند الشافعی، یوه مسئله خو دا شوه: یعنی اخذ الاجرة علی الجهاد، بله مسئله دلته د غنیمت د حصې ده چه د داسې سړی دپاره کوم چه معاوضه اخستلو سره په جهاد کښې شرکت کوی د هغه دپاره به په مال غنیمت کښې حصه وی یا نه؟ د امام احمد په نزد به نه وی د هغه په نزد اجرت اخستل جائز دی او هغه ورته ملاؤ شو، د امام شافعی رحمه الله په نزد به د دې سړی دپاره حصه مطلقا وی، او چونکه د هغوی په نزد اجرت اخستل جائز نه دی، لهذا په هغه باندې به اجرت لره واپس کول واجب وی او د احنافو او مالکیانو مسلک دا دې چه د اجیر دوه قسمونه دی، ﴿اجیر للخدمة، اجیر للقتال﴾ د اجیر للخدمة مطلب دا دې چه یو سړې جهاد ته تلونکې یو بل سړی لره د خپل ځان سره د جهاد دپاره بوځی د خپل خدمت دپاره، هم د دې نه د اجیر للقتال مطلب فهم شو چه د خپل خدمت دپاره نه بلکه کفارو سره د جهاد دپاره.... ئې د خپل ځان سره بوځی یا اجرت ورکولو سره ئې په خپل ځائې باندې لیږی، پس که اجیر للخدمة دې د هغه دپاره به د احنافو او مالکیانو په نزد په غنیمت کښې حصه وی او که اجیر للقتال وی نو د هغه دپاره حصه نشته.

بَابُ الرُّخْصَةِ فِي أَخْذِ الْجَعَائِلِ

په جهاد باندې د اجرت اخستلو د جواز بیان

[۲۵۲۶][1] حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ. ح وَحَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنِ ابْنِ شُفَيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لِلْغَازِي أَجْرُهُ وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ وَأَجْرُ الْغَازِي".

ترجمه: دعبدالله بن عمرونه روایت دې چه نبی ﷺ فرمائیلی دی دغازي او مجاهد دپاره دده دجهاد اجردې او دجهاد دپاره مال ورکونکي کس او مجاهد دواړه داجر مستحق دی.

د شرح حدیث تحقیق

په دې حدیث کښې د "جاعل" شرح بذل کښې معین للغازی سره کړې ده یعنی په جهاد کښې د تلو دپاره مدد کونکې، د سفر ساز وسامان، اسباب جهاد وغیره د نظم په ذریعه لهذا د حدیث مطلب دا شو چه د غازی دپاره خو د هغه د غزا ثواب او جاعل یعنی د بندوبست کونکی دپاره د هغه خپل اجر یعنی اجر انفاق او د غازی اجر هم ځکه چه دا جاعل د غازی د غزوه سبب جوړ شوې دې، لهذا د جاعل دپاره دوه اجرونه شو او د غازی

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۸۸۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۷۴/۲) (صحيح)

دپاره يو اجر، خو په دې مطلب کښې دا اشکال دې چه دا ابواب خو د اخذ اجرت په سلسله کښې دی، په دې صورت کښې اخذ اجرت چرته بيا موندلې شو بلکه په دې صورت کښې يو غازی دې او بل د غازی اعانت کولو والا چه د هغه دپاره د بيان رخصت حاجت نشته، لهذا دا دې اوئيلې شی چه د جاهل نه مراد دلته په جهاد کښې تلونکی ته اجرت ورکولو والا، او د غازی نه مراد د جاعل مقابل مجتعل يعنی اجرت اخستلو والا، او په اول ځائې کښې د اجر نه مراد اجر دنيوی او په دويم ځائې کښې د اجر نه مراد اجر اخروی دې، لهذا د حديث مطلب دا شو د اجرت دپاره په جهاد کښې د تلو والا دپاره د دې هغه اجرت دې او د اجرت ورکونکی دپاره دوه اجرونه دی، يو اجر انفاق، بل د غازی د غزوه ثواب ځکه چه هغه سبب جوړ شوې دې د غازی د غزوې په دې صورت کښې دا حديث به د ترجمة الباب مطابق شی، د حديث نه د اخذ اجرت جواز ثابتيږی خو د ثواب نفی، والله تعالی اعلم.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَغْزُو بِأَجِيرٍ لِيَخْدُمَ

باب په جهاد کښې د ځان سره د خدمت دپاره څوک بوتلل

په دې باب کښې د اجير للخدمة بيان دې او په تيرشوی باب کښې د اجير للقتال بيان وو، ځرنګه چه د تقابل نه معلوميږی.

[٢٥٢٧] (1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَاصِمُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي عَمْرٍو السَّيْبَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ، أَنَّ يَعْلَى ابْنَ مُنْيَةَ، قَالَ: آذَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْغَزْوِ وَأَنَا شَيْخٌ كَبِيرٌ لَيْسَ لِي خَادِمٌ، فَالْتَمَسْتُ أَجِيرًا يَكْفِينِي وَأُجْرِي لَهُ سَهْمَهُ، فَوَجَدْتُ رَجُلًا فَلَمَّا دَنَا الرَّحِيلُ أَتَانِي فَقَالَ: مَا أَدْرِي مَا السُّهْمَانِ وَمَا يَبْلُغُ سَهْمِي فَسَمِّ لِي شَيْئًا؟ كَانَ السَّهْمُ أَوْ لَمْ يَكُنْ فَسَمَّيْتُ لَهُ ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ، فَلَمَّا حَضَرَتْ غَنِيمَتُهُ أَرَدْتُ أَنْ أُجْرِيَ لَهُ سَهْمَهُ فَذَكَرْتُ الدَّنَانِيرَ، فَجِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ لَهُ أَمْرَهُ فَقَالَ: "مَا أَجِدُ لَهُ فِي غَزْوَتِهِ هَذِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا دَنَانِيرَهُ الَّتِي سَمَّى".

ترجمه: دعبدالله بن ديلمي نه روايت دې چه يعلى بن منية وئيلي دي چه نبی ﷺ خلقوته دجهاد دتلود پاره اعلان اوکړو اوزه ډير بوډا اوم اوزما سره دخدمت دپاره څوك خادم هم نه وو نوزه ديومزدور په تلاش کښې شوم څوك چه به زما ضرورتونه پوره کوي اوزه به دخپل غنيمت دحصې نه هغه ته يوه حصه ورکوم بهرحال ماته يومزدور ملاوشو کله چه دروانيدو وخت راغې نوهغه مزدور ماته راغې اووئې وئيل ماته معلومه نه ده چه دمال غنيمت حصه به څومره وي اوزماپه حصه کښې به څه راځي نه زما دپاره اجرت مقررکړه که غنيمت ملاوشي اوکه ملاو نه شي، نومادهغه دپاره درې ديناره مقررکړل کله چه مال غنيمت حاصل شو نومادې مزدورته دهغه حصه ورکول اوغوښتل خوبيا مادافکراوکړو چه دده مزدوري خودرې ديناره مقررشوي وه زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او پوره واقعه مې ورته بيان کړه نبی ﷺ اوفرمائيل چه په دنيا اوآخرت کښې ددغه سړي دجهاد بدله صرف همدغه درې دينارونه دي.

---

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٨٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٢٣) (صحيح)

د حديث مضمون

يعلى بن منيه رضي الله عنه کوم چه مشهور صحابی دې چه رسول الله ﷺ د يوې غزوې اعلان اوفرمائيلو يعنی د دې دپاره د وتلو (چه په هغې کښې ما هم د وتلو اراده اوکړه خو) زه بوډا اوم او يو خادم ما سره وو نه، نو ما يو داسې اجير لټولو کوم چه زما د کارونو دپاره کافی شی په حيثيت د خادم کيدو په داسې طريقه چه زه خپله حصه هغه ته ورکړم، نو ماته يو سړې ملاؤ شو او چه کله د تلو وخت رانزدې شو نو هغه ماته راغلو او وې وئيل چه دا خبره خو بالکل شوې نه ده چه په غنيمت کښې په زما څه حصه وی، لهذا ته ما سره اجرت متعين کړه، که په غنيمت کښې حصه حاصله شی يا نه شی، نو ما هغه سره درې دنياره متعين کړل، (پس داسې د معاملې د کيدو نه پس هغه جهاد له لاړو او په دې جهاد کښې مال غنيمت هم حاصل شو) پس چه کله مال غنيمت مخې ته راغلو نو ما اراده اوکړه چه د هغه د غنيمت حصه هغه ته ورکړم، بيا ماته رایاد شو چه روستو معامله په دنانير باندې اوشوه نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلم او ټوله خبره ورته رایاده شوه، رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د هغې حاصل دا دې چه ته هغه ته هم دا درې ديناره ورکړه، د هغه دپاره په دنيا او اخرت کښې د دې دينارونو نه علاوه نوره هيڅ حصه نشته.

يو اشکال او د هغې توجيه

په دې واقعه کښې دا اشکال دې چه دا سړې اجير للخدمت وو او د اجير للخدمت دپاره د احنافو او مالکيانو په نزد په غنيمت کښې حصه وی، په حديث کښې په ظاهره کښې د دې نفی ده، حضرت په بذل کښې دې طرف ته هيڅ تعرض نه دې کړې او نه مې د يو بل شارح په کلام کښې دا مضمون ليدلې دې، په غور کولو سره د دې يو توجيه خو دا ذهن ته راځی چه په دې حديث کښې د دې مزدور د غنيمت د حصې سره متعلق هيڅ تعرض نشته بلکه په دی کښې صرف د خدمت د اجرت ذکر دې، دې سړی که خدمت په اخلاص سره کړې وې نو سره د اجرت اخستلو به هغه ته ان شاء الله ثواب ملاؤ شوې وې خو چونکه هغه سړې د هغه بوډا سره دا قسم معامله اوکړه لکه چه تاجرانه وی، او په کوم کښې چه د بې صبرئ او حرص بوئی دې په دې وجه نبی ﷺ د دې شيخ په تپوس کولو باندې اوفرمائيل چه د هغه په حصه کښې به صرف درې ديناره راځی، هغه سړی د خدمت ثواب ضائع کړو، پاتې شوه مسئله د اجير د غنيمت د حصې نو د هغې دلته نفی نشته، بله توجيه دا هم ممکن ده چه که په دې کښې دا نفی عام اوساتلې شی چه دا نفی د خدمت د ثواب او د غنيمت د حصو دواړو متعلق ده نو د دې دا تاويل اوکړې شی چه رسول الله ﷺ دا نفی زجرا او توبيخا فرمائيلې ده د هغه سړی د طرز عمل په بنياد باندې، هذا ما عندی ولعل عند غيری احسن من هذا.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَغْزُو وَأَبَوَاهُ كَارِهَانِ

د مور او پلار د خفګان باوجود د جهاد کولو بيان

[٢٥٢٨]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: جِئْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَتَرَكْتُ أَبَوَيَّ يَبْكِيَانِ، فَقَالَ: "ارْجِعْ عَلَيْهِمَا فَأَضْحِكْهُمَا كَمَا أَبْكَيْتَهُمَا".

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه يوکس دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو چه اې دالله رسوله زه ستا په خدمت کښې ددې دپاره حاضر شوی يم چه په هجرت کولو درسره بيعت اوکړم او مور او پلار مې په ژړا پريخودلي اوراغلې يم، نبي عليه السلام اوفرمائيل ته ددوی دخدمت دپاره واپس لاړ شه اودوي اوخندوه لکه څنګه چه تا دوی ژړولي دي.

تشريح

يو سړې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو چه زه د هغه په خدمت کښې د بيعت على الهجرة دپاره راغلې يم، او ما خپل والدين په داسې حال کښې پريخودلي يم چه زما په جدائئ باندې ئې ژړل، هغه صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل واپس شه، او څنګه چه تا هغه ژړولي دی، هم دغه شان تلو سره هغوی اوخندوه، په ترجمة الباب کښې غزوه مذکور ده او په حديث کښې هجرت، اوس يا خو به داسې وئيلې شی چه په حديث کښې د هجرت سره غزوه هم مراد ده، او يا به دا وئيلې شی چه په دې مسئله کښې د هجرت او غزوه حکم د دواړو يو شان دې، چه کله د ﴿ احدهما ﴾ حکم معلوم شو نو د بل حکم هم معلوم شو.

د حديث نه معلومه شوه چه جهاد بغير اذن والدين جائز نه دې، خو دا جهاد په تطوع کښې دې، او په فرض جهاد کښې د اذن حاجت نشته، والحديث اخرجه النسائي وابن ماجة قاله المنذري.

[٢٥٢٩]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي الْعَبَّاسِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أُجَاهِدُ؟ قَالَ: "أَلَكَ أَبَوَانِ؟" قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: "فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو الْعَبَّاسِ: هَذَا الشَّاعِرُ اسْمُهُ السَّائِبُ بْنُ فَرُّوخَ.

ترجمه: دعبدالله بن عمرونه روايت دې فرمائي چه يوکس دنبي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو چه اې دالله رسوله ايازه جهاد اوکړم؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل آيا ستا مور او پلارژوندې دي؟ ده اونيل او، نبي عليه السلام اوفرمائيل ته ددوی خدمت کوه داجهاد دې. ابوداود وائی دابو العباس شاعر دې ددوی نوم سائب بن فروخ دې.

---

[1]: سنن النسائي/الجهاد ٥ (٣١٠٥)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٢(٢٧٨٢)، (تحفة الأشراف: ٨٦٤٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٠/٢، ١٩٤، ١٩٧، ١٩٨، ٢٠٤) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الجهاد ١٣٨ (٣٠٠٤)، والأدب ٣ (٥٩٧٢)، صحيح مسلم/البر ١ (٢٥٤٩)، سنن الترمذي/الجهاد ٢ (١٦٧١)، سنن النسائي/الجهاد ٥ (٣١٠٥)، (تحفة الأشراف: ٨٦٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٥/٢، ١٧٢، ١٨٨، ١٩٣، ١٩٧، ٢٢١) (صحيح)

[٢٥٣٠]([1])حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، أَنَّ دَرَّاجًا أَبَا السَّمْحِ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَجُلًا هَاجَرَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْيَمَنِ فَقَالَ: "هَلْ لَكَ أَحَدٌ بِالْيَمَنِ، قَالَ: أَبَوَايَ، قَالَ: أَذِنَا لَكَ، قَالَ: لَا، قَالَ: ارْجِعْ إِلَيْهِمَا فَاسْتَأْذِنْهُمَا، فَإِنْ أَذِنَا لَكَ فَجَاهِدْ وَإِلَّا فَبِرَّهُمَا".

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه يوكس ديمن نه نبي عليه السلام ته په هجرت كولوسره راغي نبي عليه السلام ورته اوفرمائيل آيا په يمن كښې دي څوك شته؟ نو ده اووئيل مور او پلارې مې شته نبي عليه السلام تپوس اوكړو هغوى درته اجازت كړې دې ده اووئيل نه نبي عليه السلام اوفرمائيل واپس ورته ورشه او اجازت ترې اوغواړه كه چرې اجازت ئې اوكړو نوجهاد كوه اوكه اجازت اونكړي نو ددوى په خدمت كولوسره) دهغوى سره نيكي كوه.

بَابٌ فِي النِّسَاءِ يَغْزُونَ

د ښځو دپاره په جهاد كښې دشريكيدوبيان

[٢٥٣١]([2])حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ لِيَسْقِينَ الْمَاءَ وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى.

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام به جهاد ته دځان سره ام سليم اونورې انصاري زنانه بوتلې ددې دپاره چه مجاهدينوته اوبه وركړي او د زخميانو علاج اوكړي

مضمون حديث

په حديث الباب كښې دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به ام سليم (د انس رضي الله عنه مور) او بعض نورې انصاري زنانه ځان سره غزواتو ته بوتلې، د دې دپاره چه دا زنانه په ترږو باندې اوبه اوڅكوى او د مريضانو او زخميانو علاج اوكړى، د زنانو دپاره د قتال په نيت سره جهاد ته تلل جائز نه دى، خو كه د امام په اذن باندې د مجروحين او معذورينو د خدمت دپاره ځى نو دا ثابت ده، هم په دې وجه باندې د هغوى دپاره باقاعده په غنيمت كښې حصه هم نه وى، رضخ يعنى وركړه او عطيه په طور معمولى شان وركولې شى، لكه چه وړاندې په ابواب الغنيمة كښې به راشى، امام نووى رحمه الله فرمائي چه كومې زنانه جهاد ته د خدمت دپاره ځى د دوائى دارو دپاره، د دې نه مداوات (علاج) مراد دې كوم چه د هغوى د محارم او ازواج دپاره وى، او د غير محرم دپاره چه كوم خدمت وى هغه به داسې وى چه په بې پردګئ سره به نه وى او نه ئې د بدن سره مس لازم شى، الا فى موضع الحاجة، والحديث اخرجه مسلم والترمذى والنسائى قاله المنذرى.

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٠٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٧٦) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/الجهاد ٤٧ (١٨١٠)، سنن الترمذي/السير ٢٢ (١٥٧٥)، (تحفة الأشراف: ٢٦١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ٦٥ (٢٨٨٠)، والمغازي ١٨ (٤٠٦٤ مطولاً) (صحيح)

بَابٌ فِي الْغَزْوِ مَعَ أَئِمَّةِ الْجَوْرِ

د ظالم امير سره جهاد ته د تللو بيان

[٢٥٣٢]()حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ بُرْقَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي نُشْبَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثٌ مِنْ أَصْلِ الْإِيمَانِ، الْكَفُّ عَمَّنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَلَا تُكَفِّرْهُ بِذَنْبٍ وَلَا تُخْرِجْهُ مِنَ الْإِسْلَامِ بِعَمَلٍ، وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ بَعَثَنِي اللَّهُ إِلَى أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ أُمَّتِي الدَّجَّالَ، لَا يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ وَلَا عَدْلُ عَادِلٍ وَالْإِيمَانُ بِالْأَقْدَارِ".

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي درې څيزونه جرړې د ايمان دي،(۱) د لا اله الا الله ويونکو دژلو او ازارولونه ځان ساتل،(۲) اوپه يو مسلمان باندې دکومې ګناه په وجه دکفرد فتوي نه ځان ساتل، اوجهاد سلسله به دهغه وخت نه جاري وي دکله نه چه زه الله تعالى په وصف درسالت سره راليږلې يم ترديې چه زما دامت آخرى کس به ددجال سره جهاد کوي اوجهاد لره ديو ظالم ظلم يادعادل عدل نه شي ختمولې.(۳) په تقدير باندې ايمان راوړل

شرح حديث

د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دې چه درې څيزونه په اسلام کښې اساسي او بنيادي دي، يو خو دا چه د کلمه توحيد ﴿ لا اله الا الله ﴾ قائل او معتقد وي، او د علماء کرامو د تصريح مطابق ټول ضروريات دين په دې کښې داخل دي، مثلا تصديق بالرسالة، حشر او نشر، ثواب او عقاب، او وړاندې هم په دې باب کښې دي، د داسې سړي تکفير نه کول د څه ګناه د وجې نه، بل څيز دوام او استمرار جهاد دې چه دا تر اخره پورې کيدل پکار دي او دا به وي که د وخت امام عادل وي يا غير عادل، يعني که امام المسلمين غير عادل سړې دې د هغه رائې د جهاد ده نو د هغه غير عادل کيدل د جهاد نه مانع نه دي بلکه د هغه اطاعت واجب دې، او دريم څيز ايمان بالقدر دې چه د هغې نه بغير نه د انسان ايمان معتبر او نه د هغه يو عبادت او عمل مقبول دې.

[٢٥٣٣]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ أَمِيرٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا، وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا، وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا، وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ".

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: په تاسو باندې جهاد فرض دې د يو امير په ملګرتيا کښې برابره خبره ده چه هغه نيک وي اوکه فاسق يافاجروي، اومونځ کول په هريومسلمان پسې فرض دې برابره خبره ده چه هغه نيک وي اوکه بد اګر که هغه دکبيره ګناه ارتکاب هم اوکړي او مونځ کول په هر مسلمان پسې واجب دې برابره خبره ده که هغه نيک وي اوکه بد وي اګرکه هغه دلوي ګناهونو مرتکب وي.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٠٤) (ضعيف)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٦١٩) (ضعيف)

شرح حدیث

د دې نه د جماعت د مونځ واجب کیدل معلومیږي که مونځ ورکولو والا فاسق وی یا فاجر وی، په دې باندې به دا اشکال راځی چه د فاسق امامت ته خو فقهاء کرامو مکروه وئیلې دې، جواب دا دې چه د فقهاء کرامو د کلام مطلب دا دې چه مقتدیانو لره په خپل اختیار سره فاسق لره امام نه دی جوړول پکار، که د امامت مسئله په خپل اختیار کښې نه وی مثلاً د مونځ ورکونکی امیر المومنین فاسق دې یا هم دغه شان د هغه نائب، یا د مسجدونو نظم د حکومت د طرف نه دې هغوی په خپل اختیار سره چه څوک غواړی امام جوړوی، دا صورتونه په دې کښې داخل نه دی ﴿ والصلاة واجبة علیکم خلف کل مسلم برا کان او فاجرا ﴾ دلته د مونځ نه صلاة جنازه مراد دې هم په دې وجه دلته د ﴿ علی ﴾ لفظ دې ﴿ علی کل مسلم ﴾، په خلاف د سابق یعنی د امامت په مسئله کښې هلته ﴿ خلف کل مسلم ﴾ دې، بهرحال د جنازې مونځ په هر مسلمان باندې واجب علی الکفایه دې اګر چه هغه فاسق وی، خو د دې مسلم نه مراد پاک مړې دې یعنی طهارة بالغسل، د غسل نه مخکښې د مړی د جنازې مونځ صحیح نه دې، غیر معتبر دې ﴿ وان عمل الکبائر ﴾ معلومه شوه چه د کبائرو په ارتکاب سره انسان نه د اسلام نه خارجیږی لکه چه معتزله وائی او نه کافر کیږی لکه چه خوارج وائی.

بَابُ الرَّجُلِ يَتَحَمَّلُ بِمَالِ غَيْرِهِ يَغْزُو

د بل چا په سورلۍ باندې د جهاد کولو بیان

د ترجمة الباب شرح

یعنی یو سړې جهاد دپاره روان دې، په سفر جهاد کښې دې او د هغه سره سورلی هم ده نو هغه په خپله سورلۍ باندې د چا یا د خپل ملګری سامان راچولو سره روان وی، بل مطلب د ترجمة الباب دا کیدې شی چه د مال نه مراد حیوان او سورلی ده، او د تحمل نه مراد سوریدل دی، یعنی یو سره د جهاد د تلو دپاره سورلی نشته، او د هغه د ملګری سره سورلی ده نو د ملګری په سورلۍ باندې سوریدو کښې هیڅ باک نشته او دا دویمه معنی دلته ظاهره ده لکه چه په حدیث الباب کښې دی.

[۲۵۳۴] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ نُبَيْحٍ الْعَنَزِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَرَادَ أَنْ يَغْزُوَ فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ إِنَّ مِنْ إِخْوَانِكُمْ قَوْمًا لَيْسَ لَهُمْ مَالٌ وَلَا عَشِيرَةٌ، فَلْيَضُمَّ أَحَدُكُمْ إِلَيْهِ الرَّجُلَيْنِ أَوِ الثَّلَاثَةَ فَمَا لِأَحَدِنَا مِنْ ظَهْرٍ يَحْمِلُهُ إِلَّا عُقْبَةٌ كَعُقْبَةٍ يَعْنِي أَحَدِهِمْ، قَالَ: فَضَمَمْتُ إِلَيَّ اثْنَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، قَالَ: مَا لِي إِلَّا عُقْبَةٌ كَعُقْبَةِ أَحَدِهِمْ مِنْ جَمَلِي".

ترجمه: جابر بن عبدالله د نبی ﷺ نه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ د جهاد اراده اوکړه اووئې فرمائیل ای د مهاجرینو او انصارو ډلو ستاسو بعضې ورونړه داسې دي چه د چا نه خاندان شته او نه ورسره مال شته په تاسو کښې هرکس د ځان سره دوه دوه یا درې درې کسان د جهاد په سفر کښې شریك کړئ په دې شان سره چه مونږ کښې د چا سره سورلۍ نه وي

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۱۱۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۸/۳) (صحیح)

نوهغه به په نمبر نمبر باندې سوريږي جابر اووئيل مادخان سره دوه يادرې كسان ملګري كړل اوزه به صرف په خپل نمبركښې په اوښ سوريدم لكه څرنګه چه به نور كسان په خپل نمركښې سوريدل.

مضمون حديث

د حديث مضمون دا دې چه د يوې غزوې په سفر كښې هغه ﷺ دا اعلان اوفرمائيلو ﴿ يا معشر المهاجرين والانصار ان من اخوانكم قوما ﴾ چه اې د مهاجرين او انصارو جماعته! بيشكه ستاسو په رونړو كښې بعض خلق داسې دى چه هغه سره نه مال دې نه د هغوى د قبيلې او عشيرې دې، لهذا په تاسو كښې چه د چا سره سورلى وى هغه له پكار دى چه د خپل ځان سره په سورلئ كښې دوه يا درې ملګرو لره نور شامل كړي، دا مضمون د رسول الله ﷺ د اعلان دې، بيا په دې باندې چه د صحابه كرامو د طرف نه كوم عمل شوې دې وړاندې راوى هغه بيانوى. ﴿ فما لاحدنا من ظهر يحمله الا عقبة كعقبة يعنى احدهم ﴾ يعنى د هغه ﷺ په دې اعلان باندې خلقو چا دوه او چا درې ملګرى په خپله سورلئ كښې يوځائې كړل كوم چه به په نمبر نمبر په هغې باندې سوريدل انصاف او برابرئ سره ﴿ الا عقبة كعقبة احدهم ﴾ مطلب دا دې يعنى د سورلئ مالک ته به ئې ترجيح نه وركوله، د سورلئ په حاصلولو كښې بلكه مالک او غير مالک ټول برابر.

فائده : په كتاب الحج كښې يو باب تير شوې دې، "باب الكرى" د دې باب او موجوده باب مضمون په ظاهره ملاويږى خو په دواړو كښې فرق دې په تير باب كښې په سفر حج كښې حاجيانو لره په خپله سورلئ باندې په كرايه باندې بوتلل مراد وو او دلته په كتاب الجهاد كښې د غزوه په سفر كښې چه كوم صورت دې هغه صرف د اعانت دې په كرايه باندې بوتلل مراد نه دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَغْزُو يَلْتَمِسُ الأَجْرَ وَالْغَنِيمَةَ

د مال غنيمت او ثواب دپاره د جهاد كولو بيان

[٢٥٣٥](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا أَسَدُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنِي ضَمْرَةُ، أَنَّ ابْنَ زُغْبٍ الإِيَادِيَّ حَدَّثَهُ، قَالَ: نَزَلَ عَلَيَّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَوَالَةَ الأَزْدِيُّ، فَقَالَ لِي: بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَغْنَمَ عَلَى أَقْدَامِنَا فَرَجَعْنَا، فَلَمْ نَغْنَمْ شَيْئًا وَعَرَفَ الْجَهْدَ فِي وُجُوهِنَا فَقَامَ فِينَا فَقَالَ: "اللَّهُمَّ لَا تَكِلْهُمْ إِلَيَّ فَأَضْعُفَ عَنْهُمْ، وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَيَعْجِزُوا عَنْهَا، وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى النَّاسِ فَيَسْتَأْثِرُوا عَلَيْهِمْ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِي أَوْ قَالَ: عَلَى هَامَتِي، ثُمَّ قَالَ: يَا ابْنَ حَوَالَةَ إِذَا رَأَيْتَ الْخِلَافَةَ قَدْ نَزَلَتْ أَرْضَ الْمُقَدَّسَةِ، فَقَدْ دَنَتِ الزَّلَازِلُ وَالْبَلَابِلُ وَالْأُمُورُ الْعِظَامُ وَالسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنَ النَّاسِ مِنْ يَدَيَّ هَذِهِ مِنْ رَأْسِكَ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَوَالَةَ حِمْصِيٌّ.

ترجمه: دابن زُغب ايادى رحمه الله نه روايت دې فرمائي چه عبدالله بن حواله ازدي ماته په ميلمستياراغې اوماته ئې اووئيل چه نبي ﷺ مونږه غنيمت حاصلولو دپاره پياده ليږلى يو مونږ واپس راغلو خو غنيمت موحاصل نكړو، نبي ﷺ زمونږ په مخونوباندې د سترې توب اثار اوليدل نواودريدو اووئې فرمائيل اې الله ته دوى ماته په دې شان سره حواله

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٥٢٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٨/٥) (صحيح)

نکړي چه زه ددوی دپرورش نه عاجزشم اونه دوی خپل ځان ته حواله کړي چه دوی ترې عاجز شي اونه دوی بل چاته حواله کړي چه هغه به په دوی باندې خپل ځانونه مخکښې کوي، بیانبی علیه السلام زما په سر باندې خپل لاس مبارك کیخودو او ونې فرمائیل اې ابن حواله کله چه ته په شام کښې خلافت اووینې نوپوهه شه چه زلزلې اومصیبتونه او حادثات رانژدې شوی دی او په دغه وخت کښې به قیامت خلقو ته ددې نه هم ډیر نژدې وي څومره چه زما دا لاس ستا سرته نژدې دې۔

د حدیث مضمون

مضمون حدیث دا دې، عبدالله بن زغب وائی یو ځل ما سره عبدالله بن حواله الازدی راکوز شو، یعنی زما میلمه جوړ شو نو هغه د رسول الله ﷺ د زمانې یوه واقعه د غریبۍ او فقر واوروله چه یو ځل رسول الله ﷺ مونږ یوځائې ته د جهاد دپاره اولیږلو، او پیدل ئې اولیږلو د دې دپاره چه مونږ ته مال غنیمت حاصل شی، پس مونږ لاړو خو مال غنیمت وغیره هیڅ هم حاصل نه شو او مونږ د هغې نه بغیر راواپس شو، هغه زمونږ حالت اولیدلو، د مشقت اثار هغه زمونږ د مخونو نه محسوس کړل نو هغه مونږ ته تشریف راوړلو او زمونږ په مینځ کښې اودریدو سره ئې دا دعا اوفرمائیله . ﴿ اللهم لا تكلهم الى فاضعف عنهم ولا تكلهم الى انفسهم فيعجزوا عنها الخ ﴾ چه یا الله دا خلق ماته مه سپاره ګینې زه خو به ئې اوچت نه کړې شم او نه هغوی خپلو نفسونو ته سپاره نو دوی به د خپلو نفسونو سره عاجز شی، یعنی خپل ضرورتونه په خپل محنت سره نه شي پوره کولې (بغیر ستا د فضل نه) او نه هغه نورو خلقو ته حواله کوه ځکه چه هغوی خو به خپل ځان ته ترجیح ورکوی په هغوی باندې، یعنی د هغوی اعانت به نه کوی، لهذا مطلب دا شو چه هم ته د هغوی کارسازی اوکړه، ستا نه علاوه بل کارساز نشته.

﴿ ثم وضع يده على راسى ﴾ یعنی د دې دعا نه روستو رسول الله ﷺ زما په سر باندې خپل لاس مبارک کیخودلو او وې فرمائیل چه اې ابن حواله! چه کله ته اوګورې چه د مسلمانانو خلافت ارض مقدسه ته لاړو یعنی په ملک شام کښې نو زلزلې، نور مصیبتونه، فکرونه او غمونه او لوئې لوئې فتنې او فسادونه نژدې شوې دی، او بس هغه وخت دا خیال اوکړه چه قیامت نژدې شوې دې، او زما لاس چه ستا سره ته څومره نژدې دې نو هغه قیامت د دې نه هم زیات نژدې راغلو په دې سره اشاره ده امارت وخلافت د بنو امیه طرف ته، پس ارض مقدسه یعنی ملک شام لره دار الخلافه جوړولو والا سیدنا معاویه رضی الله عنه دې چه د هغه نه د خلافت اموی تسلسل شروع شوې دې، خاص په دې موقع باندې د رسول الله ﷺ د دې فتنو او واقعات طرف ته اشاره کول ګویا دا د صحابه کرامو د تسلی دپاره دې کوم چه دې وخت کښې د تنګسیا وو، ګویا مطلب دا شو چه موجوده زمانه خیر او سکون او د عافیت زمانه ده اګر چه تنګدستی او فقر او لوږه ده، د دې بالمقابل چه کومه زمانه راتلو والا دې چه په هغې کښې فقر او لوږه نشته، د فتوحاتو زمانه به وی خو دغه وخت کښې به د فتنو دور وی، والله تعالی اعلم، بمراد نبیه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ الَّذِي يَشْرِي نَفْسَهُ

بيان د فضيلت دهغه کس څوک چه خپل ځان په الله پاک خرڅ کړي

تشريح: ﴿ يشرى ﴾ په معنى د ﴿ يبيع ﴾ يعنى کوم سړي چه د خپل نفس بيع او د هغې معامله د الله پاک سره اوکړي، کما فى قوله تعالى : ﴿ ان الله اشترى من المومنين انفسهم واموالهم بان لهم الجنة ﴾ وکما فى قوله تعالى : ﴿ ومن الناس من يشرى نفسه ابتغاء مرضات الله ﴾

[٢٥٣٦](1)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَجِبَ رَبُّنَا عَزَّ وَجَلَّ مِنْ رَجُلٍ غَزَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَانْهَزَمَ يَعْنِي أَصْحَابَهُ، فَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ فَرَجَعَ حَتَّى أُهَرِيقَ دَمُهُ، فَيَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى لِمَلَائِكَتِهِ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي رَجَعَ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِي وَشَفَقَةً مِمَّا عِنْدِي حَتَّى أُهَرِيقَ دَمُهُ".

ترجمه: د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دي فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى: الله تعالى دهغه سړي نه تعجب کوي چه دالله تعالى په لار کښې جهاد ته لاړ شي اوودده ټول ملګري اوتښتي اودي دخپلې ذمه وارى دپوره کولو په اراده واپس راشي تردې چه دده وينه اوبهيولې شي نوالله تعالى خپلو فرشتوته اووائى زما دې بنده ته اوګورئ چه زمانه دثواب داميد په وجه اوزمادعذاب نه ديريدوپه وجه واپس راغې تردې چه شهيد شو.

تشريح: رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائى چه الله پاک تعجب فرمائى په داسې سړى باندې يعنى خوښوى هغه جهاد ته لاړو، د مسلمانو لښکر ته شکست اوشو هغوى ټول راواپس شو، په هغه واپس کيدونکې مجاهدينو کښې يو ته د خپلې تيختې احساس اوشو، ﴿ فعلم ما عليه ﴾ مطلب هم دا دې يعنى د الله پاک حقوق په دې حالت کښې کوم چه په هغه باندې دى هغوى ته رسول، کذافى البذل، او ممکنه ده چه مطلب ئې دا وى چه هغه سره د تيختې د وبال فکر وى، بهرحال چه هر څه شوې دى، وړاندې په حديث کښې دى چه هغه دوباره راواپس کيدو سره ميدان جهاد ته لاړو تردې چه د هغه وينه توئې کړې شوه، په دې باندې الله پاک د فخر په طور ملائکو ته فرمائى چه اوګورئ بنده څه ښه کار اوکړو چه دې د اخرت د ثواب په رغبت کښې د اخرت د عذاب د ويرې نه د جهاد طرف ته واپس شو. والحديث اخرجه الحاكم قاله الشيخ محمد عوامه.

بَابٌ فِيمَنْ يُسْلِمُ وَيُقْتَلُ مَكَانَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ

فضيلت دهغه کس چه د اسلام قبلولو نه پس سمدست شهيد شي

[٢٥٣٧](2)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ أُقَيْشٍ، كَانَ لَهُ رِبًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَكَرِهَ أَنْ يُسْلِمَ حَتَّى يَأْخُذَهُ فَجَاءَ يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ: أَيْنَ بَنُو عَمِّي؟ قَالُوا: بِأُحُدٍ، قَالَ: أَيْنَ فُلَانٌ؟ قَالُوا: بِأُحُدٍ، قَالَ: فَأَيْنَ فُلَانٌ؟ قَالُوا: بِأُحُدٍ، فَلَبِسَ لَأْمَتَهُ وَرَكِبَ فَرَسَهُ ثُمَّ تَوَجَّهَ قِبَلَهُمْ فَلَمَّا رَآهُ الْمُسْلِمُونَ قَالُوا: إِلَيْكَ عَنَّا يَا عَمْرُو قَالَ: إِنِّي قَدْ آمَنْتُ، فَقَاتَلَ حَتَّى جُرِحَ، فَحُمِلَ إِلَى أَهْلِهِ جَرِيحًا فَجَاءَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٥٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤١٦١) (حسن)
(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٠١٧) (حسن)

فَقَالَ لِأُخْتِهِ: سَلِيهِ حَمِيَّةً لِقَوْمِكَ أَوْ غَضَبًا لَهُمْ أَمْ غَضَبًا لِلَّهِ، فَقَالَ: بَلْ غَضَبًا لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ فَمَاتَ، فَدَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَا صَلَّى لِلَّهِ صَلَاةً.

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه عمرو بن اقيش به دخلقونه دجاهليت دوخت سودونه اصول كول اواسلام ئې بدګنړلو ترهغه وخته چه ده دخلقونه خپل سودونه نه وو وصول كړي نوداحد په ورځ راغې اووئې وئيل زمادتره ځامن څه شول خلقو ورته اووئيل چه په غزوه احدكښې مصروف دي بيائې اووئيل فلانې څه شو هغوی ورته اووئيل چه په احدكښې د بيائې اووئيل فلانې څه شو هغوی ورته اووئيل چه په احدكښې دي نوده خپله زغره واغوستله او په خپل اس سور شو او بيا دهغوی طرف ته روان شو هركله چه ده لره مسلمانانو اوليدووئې وئيل چه ته زمونږ نه جدا اوسيږه ده اووئيل ما ايمان راوړې دې، بيائې دكافرانوسره دومره جنګ اوكړو چه زخمي شو اوخلقو راپورته كړو او رائې وړو نودلته سعد بن معاذ راغې اووده خور ته ئې اووئيل دده نه تپوس اوكړه چه آيا په خپل قوم باندې دغيرت په وجه دې جنګ كړې دې اوكه په الله پاك باندې دغيرت كولو دپاره دې جنګ كړې دې؟ هغه اووئيل دالله تعالى اودهغه درسول دپاره مې جنګ كړې دې بيا ددې نه پس هغه وفات شو اوجنت ته داخل شو اوحال دادې چه هغه ديو وخت مونځ هم نه وو كړې.

شرح حديث

يعنى سيدنا عمرو بن اقيش رضي الله عنه د الله پاك په توفيق سره د اسلام قبلولو اراده اوكړه خو د جاهليت د زمانې د معاملاتو د وجې نه د سود څه پيسه د خلقو سره ايساره شوې وه چه د هغه اراده د هغې د اخستلو وه چه د اسلام راوړلو نه مخكښې هغه پيسې وصول كړم، د اسلام قبلولو نه روستو خو به د هغې وصول كول جائز نه وی، بل طرف ته جنګ احد شروع شوې وو، هغه د خپل باقی مال د اخستلو دپاره د خپل تره ځامنو ته لاړو چه هغوی سره د مخكښې نه دا معامله وه نو د كوم سړی په باره كښې به چه هم هغوی تپوس كولو نو د هغوی د خوا نه به ورته هم دا معلوميده چه هغه خو د احد جنګ له تلې دې، بس هغه هم خپله زغره واچوله او په خپل اس باندې سوريدو سره د احد طرف ته روان شو چرته چه قتال كيدلو او د مشركينو د فوج طرفته د تلو په ځائې د مسلمانانو طرف ته روان شو، مسلمانانو هغه پيژندلو چه هغه لا تر اوسه پورې اسلام نه دې قبول كړې، په دې وجه هغوی هغه لره په راتلو باندې ليدو سره اووې ﴿ اليک عنا يا عمرو ﴾ چه اې عمرو! زمونږ د طرف نه واپس شه! د مشركانو د قتال هغه بل طرف ته دې هغه طرف ته لاړ شه، هغه اووې ما اسلام قبول كړې دې په دې وجه دلته راغلې يم او په دې وينا باندې قتال كښې شريک شو تردې چه زخمي شو، هغه خپل كور ته راوړلې شو، نو د هغه د تپوس دپاره سيدنا سعد بن معاذ رضي الله عنه راغلو او هغه د عمرو رضي الله عنه خور ته اووې چه د هغه نه دا تپوس اوكړه چه ﴿ حمية لقومک او غضبا لهم الخ ﴾ يعنى دا ستا جنګ كول د خپل قوم د حمايت دپاره وو كه د هغوی د طرف نه غصه او انتقام وو ﴿ ام غضبا لله ﴾ يا كه ستا جنګيدل د الله پاک په غصه باندې بناء وو، يعنى كفار دې د الله پاک د شمنان ګنړل او هغوی سره دې جنګ كړې وو، هغه اووې چه

نه! بلکه د الله پاک د پاره په انتقام کښې، د ﴿حمية لقومک﴾ معنی دا ده چه د خپلو مسلمانانو همدردی او د هغوی په مدد کښې، د هغه ډیر رشته داران د هغوی نه مخکښې مسلمانان شوې وو چه د چا سره کفارو جنګ کولو نو د هغوی نه ئې دا تپوس اوکړو چه دا ستا جنګیدل د خپلو خلقو د حمایت په نیت باندې وه که دا نیت دې نه وو بلکه بل نیت دې وو؟ هغه دا چه زمونږ په مقابل کښې د الله پاک او د هغه د رسول دشمن ئې. ﴿فمات فدخل الجنة وما صلى لله صلاة﴾ یعنی اسلام کښې داخلیدو سره ئې د کفارو سره جهاد شروع کړو چه په هغې کښې شهید کیدو سره جنت ته داخل شو حال دا چه یو مونځ ئې هم نه دې کړې، معلومه شوه چه اسلام راوړل د تیرو ګناهونو د معاف کیدو سبب دې. "الاسلام یهدم ما کان قبله"

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَمُوتُ بِسِلَاحِهِ

بیان دهغه کس څوک چه په خپله وسله مړ شي

[٢٥٣٨](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ أَحْمَدُ كَذَا قَالَ: هُوَ يَعْنِي ابْنَ وَهْبٍ، وَعَنْبَسَةُ يَعْنِي ابْنَ خَالِدٍ جميعا، عَنْ يُونُسَ، قَالَ أَحْمَدُ: وَالصَّوَابُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ قَاتَلَ أَخِي قِتَالًا شَدِيدًا فَارْتَدَّ عَلَيْهِ سَيْفُهُ فَقَتَلَهُ، فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ وَشَكُّوا فِيهِ رَجُلٌ مَاتَ بِسِلَاحِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَاتَ جَاهِدًا مُجَاهِدًا، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: ثُمَّ سَأَلْتُ ابْنًا لِسَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، فَحَدَّثَنِي عَنْ أَبِيهِ بِمِثْلِ ذَلِكَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَذَبُوا مَاتَ جَاهِدًا مُجَاهِدًا فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ".

ترجمه: دسلمه بن اکوع نه روایت دې فرمائی هرکله چه د خیبر ورځ راغله نوزما ورور دشدید جنګ کولونه پس اتفاقا په خپله توره باندې اونکیده اومړشو نوبعضې صحابه کرامو دده په باره کښې خبرې اوکړې او دده شهادت ئې ونه منلو بلکه دائې ووئیل چه دې یوداسې کس وو چه په خپله وسله باندې مړ شونبی ﷺ چه دا واوریدل نو وئې فرمائیل: داسې نه ده دې دیو کوشش کونکې مجاهد په مرګ باندې مړدې. ابن شهاب وائی چه مادسلمه بن اکوع په ځامنوکښې دیوکس نه معلوم کړل اوهغوی دخپل پلارنه داسې قسم حدیث بیان کړو ،لیکن دومره ئې ووئیل چه نبی ﷺ اوفرمائیل چه خلقوغلطه وینا کړې ده هغه په جهادکښې مړدې او مجاهد مړدې اودهغه دپاره دوچند اجردې.

تشریح

یعنی په جنګ کښې که یو انسان د خپلې وسلې نه هلاک شی نو د هغې څه حکم دې؟ په حدیث الباب کښې دی چه سلمه بن الاکوع رضی الله عنه فرمائی چه په جنګ خیبر کښې زما رور چه د هغه نوم عامر بن الاکوع دې په ډیر قوت او شدت سره ئې قتال کولو، هم په دې کښې د هغه توره واپس کیدو سره ماته شوه چه په هغې سره هغه شهید شو، بعض صحابه کرامو د هغه په باره کښې شک کول شروع کړلو. ﴿رجل مات بسلاحه﴾ دا خو په خپلې وسلې سره مړ

(1): صحيح مسلم/الجهاد ٤٣ (١٨٠٢)، سنن النسائي/الجهاد ٢٩ (٣١٥٢)، (تحفة الأشراف: ٤٥٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٧، ٥٢) (صحيح)

شو، چه کله رسول الله ﷺ ته د دې علم اوشو نو هغه د خلقو شک او شبهه لرې کړه او وې فرمائيل: ﴿ مات جاهدا مجاهدا ﴾ دا لفظ خو ئې يا د تاکيد دپاره مکرر کړې دې يا د دې دپاره چه د دواړه الفاظو په معنی کښې فرق اوکړې شی، د ﴿ جاهد ﴾ معنی ده ﴿ مجتهدا فی طاعة الله ﴾ واخستلې شی، وړاندې روايت کښې هم دا قسم واقعه د يو بل صحابی مذکور ده چه د هغه نوم معلوم نه شو، په دې روايت کښې دا هم دی ﴿ وصلی عليه ودفنه ﴾ يعنی په دې کښې د شهيد د جنازې مونځ ذکر شوې دې چه د هغې اکثر علماء کرام خو قائل نه دی، احناف قائل دی.

[٢٥٣٩] (¹) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سَلَّامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي سَلَّامٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَغَرْنَا عَلَى حَيٍّ مِنْ جُهَيْنَةَ فَطَلَبَ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ رَجُلًا مِنْهُمْ فَضَرَبَهُ، فَأَخْطَأَهُ وَأَصَابَ نَفْسَهُ بِالسَّيْفِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَخُوكُمْ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ فَابْتَدَرَهُ النَّاسُ فَوَجَدُوهُ قَدْ مَاتَ، فَلَفَّهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثِيَابِهِ وَدِمَائِهِ وَصَلَّى عَلَيْهِ وَدَفَنَهُ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَشَهِيدٌ هُوَ؟ قَالَ: نَعَمْ وَأَنَا لَهُ شَهِيدٌ".

ترجمه: ابوسلام په صحابه کرامو کښې ديوکس نه روايت کوی چه هغه به وئيل: چه مونږ د جهينه قبيلې په يوکلي باندې حمله اوکړه نو په مسلمانانو کښې يوکس په هغوی کښې د يوکس د وهلو قصد اوکړو، نو د توري ګذارئې وربانديې اوکړو ليکن ګذار خطا شواودې پخپله، په خپله توره باندې ولګيدو، نبی ﷺ اوفرمائيل اې مسلمانانو دخپل وروړخبر واخلئ نوخلقو په تيزئ سره هغه ته ورمنډه کړل نومړ ئې بيامونډو نونبی ﷺ په خپلو وينو اوجامو کښې راتاوکړو اوجنازه ئې وربانديې اوکړه اودفن ئې کړو، صحابه کرامو عرض اوکړو چه اې دالله رسوله آيا دې شهيد دې؟ نبی ﷺ اوفرمائيل او، زه دده دپاره ګواه يم

بَابُ الدُّعَاءِ عِنْدَ اللِّقَاءِ

د دښمن سره د مخامخ کيدو په وخت کښې د دعا د قبليدو بيان

[٢٥٤٠] (²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ يَعْقُوبَ الزَّمْعِيُّ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثِنْتَانِ لَا تُرَدَّانِ أَوْ قَلَّمَا تُرَدَّانِ الدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ، وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِينَ يُلْحِمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا، قَالَ مُوسَى، وَحَدَّثَنِي رِزْقُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَوَقْتَ الْمَطَرِ".

ترجمه: د سهل بن سعد نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمايلي دي: دوه دعاګانې نه رد کيږی يا ډيرې کمې رد کيږې يو هغه دعاده چه داذان په وخت کښې اوغوښتلې شي اوبله هغه دعاده چه د جنګ په وخت کښې اوغوښتلې شي کله چه فريقين ديوبل سره مخامخ شي. او په بل روايت کښې ورسره دا اضافه هم ده چه د باران په وخت کښې چه دعا اوکړې شي.

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٧٧) (ضعيف)
²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٧٦٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ١ (٧)، سنن الدارمي/الصلاة ٩ (١٢٣٦) (صحيح) (ليكن «وقت المطر» حسن ده، ملاحظه: صحيح ابي داود: ٢٩٤/٧، والصحيحة: ١٤٧٩)

تشريح

يعنی د جنګ په شروع کښې د الله پاک نه دعا غوښتل، په حديث الباب کښې دی چه دوه دعاګانې نه رد کيږی يو دعا ﴿ عند الاذان ﴾ او دويمه ﴿ عند الباس حين يلحم بعضهم بعضا ﴾ يعنی د جنګ په وخت چه کله يو بل لره قتل کوی ﴿ لحم يلحم ﴾ د باب سمع نه په معنی د ﴿ قتل ﴾، او دا د باب افعال نه هم کيدې شی، ﴿ يلحم ﴾ چه د هغې معنی ﴿ يختلط ﴾ دې، يعنی سخت جنګ شروع وی، په يو بل کښې ننوتلې وی، او هم د دې نه دې ﴿ الملحمة ﴾ چه د هغې جمع ملاحم راځی ملحمه په معنی د حرب يا موضع الحرب، ميدان جنګ، يا دا خو د لحم نه ماخوذ دې ﴿ لكثرة لحوم القتلى ﴾ يا ﴿ لحمة الثوب ﴾ نه اخستلې شوې دې، لکه د کپړې په جوړولو کښې چه د ﴿ لحمه ﴾ د ﴿ سدی ﴾ سره اختلاط راځی، کوم تا چه تانا، بانا (ولاړ او پراته تارونه) وئيلې شی، او په بل روايت کښې د ﴿ وقت المطر ﴾ اضافه هم شته او په يو نسخه کښې ﴿ تحت المطر ﴾ دې يعنی کومه دعا چه په باران کښې اوريدو سره اوکړې شی هغه هم نه رد کيږی او په بعض رواياتو کښې دا هم راځی چه کله به باران شروع شو نو رسول الله ﷺ به د خپل بدن مبارک نه کپړه لرې کړه او هغې ته به د لږ ساعت دپاره اودريدلو د باران اوبه په خپل بدن باندې د اچولو دپاره او يو صحابی د هغه نه د دې وجه اوتپوسله نو وې فرمائيل: ﴿ حديث عهد بربه ﴾ چه دا اوبه تازه تازه د خپل رب د خوا نه راروانې دی.

بَابٌ فِيمَنْ سَأَلَ اللَّهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ

د الله پاک نه د شهادت د سوال کولو د فضيلت بيان

[٢٥٤١] (١) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ خَالِدٍ أَبُو مَرْوَانَ، وَابْنُ الْمُصَفَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ ابْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ يَرُدُّ إِلَى مَكْحُولٍ إِلَى مَالِكِ بْنِ يُخَامِرَ، أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ حَدَّثَهُمْ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فُوَاقَ نَاقَةٍ فَقَدْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَمَنْ سَأَلَ اللَّهَ الْقَتْلَ مِنْ نَفْسِهِ صَادِقًا ثُمَّ مَاتَ أَوْ قُتِلَ فَإِنَّ لَهُ أَجْرَ شَهِيدٍ"، زَادَ ابْنُ الْمُصَفَّى مِنْ هُنَا: "وَمَنْ جُرِحَ جُرْحًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ نُكِبَ نَكْبَةً فَإِنَّهَا تَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَغْزَرِ مَا كَانَتْ لَوْنُهَا لَوْنُ الزَّعْفَرَانِ وَرِيحُهَا رِيحُ الْمِسْكِ، وَمَنْ خَرَجَ بِهِ خُرَاجٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ طَابَعَ الشُّهَدَاءِ".

ترجمه: د معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه د نبی عليه السلام نه مې اوريدلې دي چه فرمائيل ئي: هر مسلمان چه اوښې د دوه ځله لوشلو د درميانی مودې هومره وخت د الله په لار کښې اوجنګيدو نو دده دپاره جنت واجب شواوچاچه دزړه په خلوص سره د الله په لارکښې د شهادت سوال اوکړواوبيا په خپل مرګ مړشي نو دي شهيد دي اوڅوک چه د الله په لارکښې کوم تکليف برداشت کړي يازخمي شي نودقيامت په ورځ به په داسې حال کښې راشي چه وينه به تري بهيږي اودويني رنګ به ئي دزعفرانو او بوئی به ئې د مشکوپه شان وي! او په چا چه د الله په لاره کښې دانې (پولئ) راوختلې نو په ده باندې به دشهيدانو مهر لګيدلې وی.

تشريح: په حديث الباب کښې دی چه کوم سړې د الله پاک نه په رشتينی زړه سره شهادت طلب

---

(١) سنن الترمذي/فضائل الجهاد ١٩ (١٦٥٤)، ٢١ (١٩٥٦)، سنن النسائي/الجهاد ٢٥ (٣١٤٣)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٥ (٢٧٩٢)، (تحفة الأشراف: ١١٣٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٣٠/٥، ٢٣٥، ٢٤٣، ٢٤٤) سنن الدارمي/الجهاد ٥ (٢٤٣٩) (صحيح)

کوی نو الله پاک هغه ته د شهادت ثواب ورکوی اګر چه هغه په خپل مرګ باندې وفات شي.

شرح حديث

یعنی کوم سړي چه د لږ ساعت دپاره هم د الله پاک په لاره کښې قتال اوکړی د هغه دپاره جنت واجب کیږی، د ﴿ فواق ناقة ﴾ په مطلب کښې دوه اقوال دی ﴿ ما بين الحلبتين ﴾ یعنی د اوښې دوه کرته د پئ لشلو ترمینځه چه کوم وخت او فصل وی، د اوښې پئ چه کله لشلې شي او یو ځل د پئ لشلو مقدار پوره شي نو په مینځ کښې دوباره بیا هغه بچې دې اوښې ته ور پریخودلې شي چه هغې سره ئې غلانزې ته باقی پئ هم راکوز شي چه هغه دوباره لشلې شي، او دویم قول دا دې چه لشلو والا چه غلانزې لره زور ورکولو سره موجوده پئ راوباسی نو فورا موټې پرانیزی د دې دپاره چه پئ د پورته نه راښکته شي، هغه بار بار داسې کوی، نو ګویا د دې موټې د پرانستلو او بندولو ترمینځه چه څومره وخت خرچ کیږی هغه مراد دې ﴿ ومن جرح جرحا في سبيل الله او نكب نكبة فانها تجئ يوم القيامة كاغزر ما كانت ﴾ "یعنی د کوم سړی په بدن کښې چه څه زخم راشی د الله پاک په لاره کښې یا څه زخم راشی په کاڼړی وغیره سره یا ننوتل مراد دی شوکه یعنی ازغنه، او د هغې نه وینه وتل شروع شی نو هغه زخم به د قیامت په ورځ باندې راشی یعنی د هغه سړی په بدن کښې به ظاهر وی، اغزر په معنی د اکثر، غزارة په معنی د کثرة، یعنی په قیامت کښې هغه زخم ا ود هغې وینه په کامل او پوره شکل کښې ظاهریږی، چه کله ازغې وغیره لاړ شی یا زخمی کیدو سره وینه راوځی نو په شروع کښې د هغې بهیدل ډیر شدت او زور سره وی، بیا روستو د هغې رفتار کم شی نو هلته به د کثرت په شکل کښې ظاهریږی د هغه مجاهد کارنامې لره د الله پاک د طرف نه چه اوګورئ دې سړی زمونږ په لاره کښې دومره مشقتونه اوچت کړې دی، د هغې کارنامه ښکاره کولې شی ﴿ لونها لون الزعفران ﴾ یعنی په کتلو کښې خو به هغه وینه وینه وی خنګه چه د وینې رنګ وی د زغفران په شان سور، په بعض روایاتو کښې دا دی ﴿ اللون لون الدم ﴾، او خوشبوئی به ئې د مشک په شان وی دا ټول هر څه د هغه مجاهد په اعزاز کښې دی ﴿ ومن خرج به خراج في سبيل الله فان عليه طائع الشهداء ﴾ "طائع" بکسر الباء وبفتح الياء دواړه قسم راغلې دې، او خراج په معنی دنبل دانه یعنی د هغه په بدن کښې په سفر جهاد کښې دانه راوځی نو په هغه باندې به د شهداء مهر او د هغوی علامت وی.

والحديث رواه بقية اصحاب السنن، وهو عند الترمذي وابن ماجة مختصرا، وقال الترمذي صحيح، قاله الشيخ محمد عوامه.

بَابٌ فِي كَرَاهَةِ جَزِّ نَوَاصِي[1] الْخَيْلِ وَأَذْنَابِهَا

داس د تندی او د لکئ د ویښتو د پریکولو د مما نعت بیان

[٢٥٤٢] (¹) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، عَنِ الْهَيْثَمِ بْنِ حُمَيْدٍ. ح وَحَدَّثَنَا خُشَيْشُ بْنُ أَصْرَمَ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ جَمِيعًا، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ نَصْرٍ الْكِنَانِيِّ، عَنْ رَجُلٍ، وَقَالَ أَبُو تَوْبَةَ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ شَيْخٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ، عَنْ عُتْبَةَ بْنِ

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٧٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٤/٤) (صحيح)

عَبْدٍ السُّلَمِيِّ وَهَذَا لَفْظُهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا تَقُصُّوا نَوَاصِيَ الْخَيْلِ وَلَا مَعَارِفَهَا وَلَا أَذْنَابَهَا فَإِنَّ أَذْنَابَهَا مَذَابُّهَا وَمَعَارِفَهَا دِفَاؤُهَا وَنَوَاصِيَهَا مَعْقُودٌ فِيهَا الْخَيْرُ".

ترجمه: د عتبه بن عبد سلمی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام نه مې اوریدلي دي چه فرمائیل ئې: مه کټ کوئ داسونودتندو ویښته اونه ددوی د څټ ویښته اونه ددوی دلکئ ویښته ځکه چه ددوی لکئ دمچانو دشړلو ذریعه ده اوددوی دڅټ ویښته ددوی دګرم ساتلوسبب دې او ددوی د تندی په ویښتوکښې خیر کیخودلی خوی دې.

شرح حدیث

په حدیث الباب کښې دی، هغه ﷺ د اسونو په باره کښې کوم چه په الات جهاد کښې دی د هغوی په باره کښې څه هدایات فرمائی چه څنګه د هغوی خبر اوساتلې شی او خدمت اوکړې شی، پس فرمائی د اسونو د ویښتو د تندی ویښته مه کټ کوئ او نه د سټ ویښتو لره، او نه د هغوی دلکئ ویښتو لره ځکه چه د هغوی پکی دی. ځکه چه د پکی په ذریعه مچ وغیره لرې کولې شی اس په خپله لکئ سره هم دا کار کوی، او د هغوی معارف یعنی د سټ ویښته د هغوی دپاره د ګرمائش ذریعه ده، یعنی د هغې په ذریعه هغوی ته تاؤ رسیږی، یعنی څنګه چه سړې د څادر نه ګرمائش حاصلوی، هغوی د دې نه دا فائده حاصلوی او د تندی په باره کښې فرمائی چه د هغوی سره خو خیر تړلې شوې دې او لازم کړې شوې دې، په بعض حدیثونو کښې د خیر تفسیر په اجر او مغنم سره کړې شوې دې.

حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه د دې تفسیر نه معلومه شوه چه د اس نه هغه اس مراد دې کوم چه د جهاد دپاره تیار کړې شوې دې، لهذا دا حدیث به د هغه حدیث خلاف نه وی چه په هغې کښې راځی: ﴿ انما الشؤم فی ثلاثة فی الفرس والدار والمرأة ﴾ د دې نه دویم قسم اس مراد دې یعنی کوم چه د جهاد دپاره نه وی.

بَابٌ فِيمَا يُسْتَحَبُّ مِنْ أَلْوَانِ الْخَيْلِ

په اسونو کښې کوم رنګ مزیداروی؟

اس کوم چه په جهاد کښې ډیره په کار راتلونکې سورلی ده او د کومې د سورلئ زده کولو چه په حدیث کښې حکم راغلې دې تردې چه په مال غنیمت کښې د اس یو مستقل حصه شریعت مطهره مقرر کړې ده، د دې ډیر قسمونه دی چه د هغې د پیژندګلو دپاره څه مخصوص رنګونه او علامات دی چه د هغې نه د اس قسم معلومولې شی، د دې ټولو رنګونو او قسمونو بیان په حدیث کښې راغلې دې چه د جهاد دپاره په هغه انواع کښې چه کوم غوره نه غوره وی هغه حاصل کړې شی.

[٢٥٤٣](1) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعِيدٍ الطَّالْقَانِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُهَاجِرِ الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنِي عَقِيلُ بْنُ شَبِيبٍ، عَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكُمْ بِكُلِّ كُمَيْتٍ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَشْقَرَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَدْهَمَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ".

(1): سنن النسائي/الخيل ٢ (٣٥٩٥)، ويأتي برقم (٢٥٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٥٥١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٤٥) (حسن)

ترجمه: د ابو وهب جشمي رضي الله عنه نه روايت دې اودې صحابي دې، فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: ستاسو د پاره کميت (برګ) اس سپين تندی والا ضروري دې، اودڅلورو واړو سپينو خپووالا، اويا سپينو خپو والا سور اس سپين تندی والا او دسپينو لاسونو خپو والا يا دتورو خپو والا اوسپين تندی والا اودسپينو متهو والاهم بهتردي.

شرح حديث

قوله: حَدَّثَنِي عَقِيلُ بْنُ شَبِيبٍ، عَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ..الخ:

اوپه بل سند کښې راځي: (حَدَّثَنِي عَقِيلٌ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په دې دواړو سندونو کښې فرق لکه څرنګه چه حضرت په بذل کښې د مسند احمد په روايت کښې ثابت کړې دې هغه دادې چه په ړومبی سند کښې ابووهب الجشمي دې چه دهغه دصحابي کيدو په خپله په سند کښې تصريح ده اوپه دويم سند کښې د ابو وهب نه ابووهب الکلامي مراد دې کوم چه تابعي دې، لهذا ړومبی روايت مسند او دويم روايت مرسل شو.

قوله: "عَلَيْكُمْ بِكُلِّ كُمَيْتٍ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَشْقَرَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ أَدْهَمَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ..الخ:

په دې حديث کښې د اسونو درې قسمونه ذکر شوې دی چه د هغې د استعمال رسول الله صلی الله علیه وسلم ترغيب ورکړې دې، ﴿ عليكم ﴾ يعني لازم اونيسئ او اختيار کړئ، کميت، اشقر، ادهم او د هر يو سره ئې دا قيد لګولې دې يعنی د ﴿ اغر محجل ﴾ کيدو، په دې ترتيب کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم کميت د ټولو نه مقدم ساتلې دې او اشقر ئې په دويمه درجه کښې او ادهم په دريمه درجه کښې. ﴿ کميت ﴾ هغه اس کوم چه احمر وی شديد الحمرة هغه مائل دې د تور والی طرف ته، او اشقر هغه اس کوم چه خالص احمر وی، او ادهم کوم چه خالص تور وی، ﴿ اغر ﴾ هغه اس کوم چه ابيض الجبهه وی چه دهغه په تندی باندې سپينه پټئ وی، او ﴿ محجل ﴾ په معنی د ابيض القوائم چه د هغې څلور واړه لاسونه او خپې د کونډو پورې سپين وی، زمونږ په نزد داسې اسونو ته کوم چه ﴿ اغر محجل ﴾ وی برګی وئيلې شی، دا د اسونو يو غوره قسم دې، او هم د دې قسم ترجمة الباب امام ترمذی هم قائم کړې دې چه په هغې کښې هغوی دوه احاديث ذکر کړې دی يو هغه کوم چه ابوداؤد د دې باب دويم حديث دې يعنی ﴿ يمن الخيل في شقرها ﴾ او بل حديث په روايت د ابوقتاده مرفوعا دا ذکر کړې دې "خير الخيل الادهم الاقرح الارثم ثم الاقرح المحجل طلق اليمين فان لم يكن ادهم فكميت على هذه الشيه ﴾

د حديث ترمذی شرح

په دې حديث د ترمذی کښې دوه قسمونه مذکور دی اولا ادهم، ثانيا کميت، او بيا ئې دا ادهم دوه قسمونه بيان کړې دې يو ﴿ الاقرح الارثم ﴾ او دويم ﴿ الاقرح المحجل طلق اليمين ﴾، اقرح هم تقريبا هم هغه دې کوم ته چه اغر وئيلې شی، خو د اغر د تندی سپين والې نسبة زائد وی د اقرح نه. او ﴿ ارثم ﴾ هغه اس دې چه د هغه پوزه او شفة عليا پورته شونډه سپينه وی، د محجل معنی خو مخکښې تيره شوې ده خو د ترمذی په روايت کښې ﴿ محجل ﴾ سره د ﴿ طلق اليمين ﴾ قيد دې يعنی څلور لاسونو او خپو کښې ښې لاس يا د خپې نه علاوه باقي

درې سپین وی څلور واړه خپې سپین نه وی، او قسم ثانی په دې روایت کښې هغه ﴿ادهم﴾ نه پس کمیت دې ﴿علی هذه الشبه﴾ مطلب دې هم دغه شان صفت والا کوم چه پورته مذکور شو، یعنی ﴿الاقرح الارثم﴾.

[۲۵۴۴](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُهَاجِرٍ، حَدَّثَنَا عَقِيلُ بْنُ شَبِيبٍ، عَنْ أَبِي وَهْبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكُمْ بِكُلِّ أَشْقَرَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ أَوْ كُمَيْتٍ أَغَرَّ"، فَذَكَرَ نَحْوَهُ قَالَ مُحَمَّدٌ يَعْنِي ابْنَ مُهَاجِرٍ سَأَلْتُهُ: لِمَ فُضِّلَ الْأَشْقَرُ؟ قَالَ: لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ سَرِيَّةً فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ جَاءَ بِالْفَتْحِ صَاحِبُ أَشْقَرَ.

ترجمه: دابو وهب نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی لازم دې په تاسو باندې ساتل دسور اس چه دا سپین تندی والا او سپینو خپو اومتهووالاوي یاکمیت سپین تندی اوخپو والاوي، اوباقی روایت ئې دتیر روایت په شان بیان کړو، او محمد بن مهاجر وائی مادعقیل نه تپوس اوکړو چه دسور اس دفضیلت څه وجه ده هغه اووئیل ځکه چه نبی ﷺ یولښکر اولیږو نودهغولونه مخکښې چه کوم شهسوار دفتح خبر راوړو هغه په سور اس باندې سور وو.

تشریح: وړاندې په ابوداؤد کښې دا راغې چه راوی د خپل استاذ نه تپوس اوکړو چه تا اشقر ته ولې ترجیح ورکړه غیر اشقر باندې نو استاد جواب ورکړو ځکه چه رسول الله ﷺ یو ځل د جهاد دپاره یو لښکر لیږلې وو د هغوی نه اول چه کوم سړی د فتح خبر راوړلو هغه صاحب اشقر وو، زه وایم چه دا د هغوی خپله رائې ده اصل څیز په دې کښې تجربه ده، د تجربې نه چه کوم څیز ثابت شو هغه ته هم هغه درجه ورکړې شوه، او د دې احادیثو نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ ته د علوم وحی نه علاوه نور علوم او معلومات په زیات مقدار کښې حاصل وو، یعنی هغه معلومات چه د هغې تعلق د احکام شرعیه او د رب د رسالت سره دې چه د احکامات الهیه رسول په طریقه د کمال اوشی. صلی الله تعالی علیه وسلم وشرف وکرم والحدیث رواه النسائی، قاله المنذری.

[۲۵۴۵](۲) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ عِيسَى بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُمْنُ الْخَيْلِ فِي شُقْرِهَا".

ترجمه: د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی: په اسونو کښې دسور رنګ والا برکتي وي.

تشریح: ﴿یمن الخیل فی شقرها﴾ د اسونو خاص برکت په هغه اسونو کښې موندلې شی کوم چه اشقر وی، والحدیث رواه الترمذی.

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۱۹) (حسن)

(۲): سنن الترمذي/الجهاد ۲۰ (۱۶۹۵)، (تحفة الأشراف: ۶۲۹۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۷۲) (حسن)

بَابٌ هَلْ تُسَمَّى الْأُنْثَى مِنَ الْخَيْلِ فَرَسًا

باب: آیا اسپۍ (ماده) له داس (نر) نوم ایخودلې شي؟

[٢٥٤٦] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ مَرْوَانَ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ أَبِي حَيَّانَ، حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسَمِّي: "الْأُنْثَى مِنَ الْخَيْلِ فَرَسًا".

ترجمه: دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبي عليه السلام به ښځې اسپې ته فرس وئیلو.

تشریح

یعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم به په اسپې باندې هم د فرس اطلاق کولو. په قاموس کښې هم دا لیکلې دی چه د فرس اطلاق په نر او ښځه دواړو باندې کیږي. هم دغه شان اسپې ته ﴿ فرسة ﴾ هم وئیلې شي. اهـ په دې حدیث باندې به شرعي مسئله دا متفرع کیږي چه کوم حکم په جهاد کښې د نر اس دې هم هغه ئې د ښځې هم دې، لهذا د غنیمت حصه به د دواړو دپاره وی د نر سره به خاص نه وی. (بذل).

بَابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ الْخَيْلِ

کوم قسم رنګ والا اسونه ساتل فائده مند نه دی ګڼړلې شوي؟

دا د تیر شوی باب مقابل دې، هلته د ﴿ ما یستحب ﴾ بیان وو یعنی غوره او دلته د ﴿ ما یکره ﴾ یعنی هغه چه غوره نه دی.

[٢٥٤٧] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَلْمٍ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَكْرَهُ الشِّكَالَ مِنَ الْخَيْلِ". وَالشِّكَالُ يَكُونُ الْفَرَسُ فِي رِجْلِهِ الْيُمْنَى بَيَاضٌ وَفِي يَدِهِ الْيُسْرَى بَيَاضٌ أَوْ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى وَفِي رِجْلِهِ الْيُسْرَى، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَيْ مُخَالِفٌ.

ترجمه: دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبي عليه السلام به شکال (یوقسم اسونه دي نه خوښول اشکال هغه اسونه دي دکوم چه په ښې خپه اوچپ لاس کښې سپین والې وي اویاګسه خپه اوښي لاس کښې سپین والې وي.

شرح حدیث

یعنی د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اسونو هغه قسم چه په هغې کښې شکال موندلې شي خوښ نه وو. وړاندې په روایت کښې د شکال تفسیر ذکر دې هغه دا چه د اس په شاته ښئ خپه کښې سپین والې وی او د هغې سره په وړاندې ګسه خپه کښې سپین والې وی. یا د دې برعکس یعنی ید یمنی کښې سپین والې وی او په رجل یسری کښې. شاته خپې ته په حدیث کښې په ﴿ رجل ﴾ سره تعبیر کړې شوې دې او وړاندې خپې لره په ید سره.

د شکال یو تفسیر خو دا شو دوه تفسیرونه ئې نور راغلې دی یو دا چه د اسپې په قوائم اربعه کښې درې محجل وی او یو مطلق یعنی غیر محجل، او یو د دې برعکس یعنی

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٩٣٢) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الإمارة ٢٧ (١٨٧٥)، سنن الترمذي/الجهاد ٢١ (١٦٩٨)، سنن النسائي/الخيل ٤ (٣٥٩٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ١٤ (٢٧٩٠)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٩٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٥٠، ٤٣٦، ٤٦١، ٤٧٦) (صحيح)

په قوائم اربعه کښې يو محجل او باقي درې محجل، والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

باب مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الْقِيَامِ عَلَى الدَّوَابِّ وَالْبَهَائِمِ

د څاروو په بهترې طريقې سره د خبر اخستلو بيان

د قيام نه مراد خبر ساتل او (من) بيانيه دې، يعنی د څاروو خيال ساتل کوم چه مامور به دې د دې بيان ګويا د دې باب په حديث کښې د څاروو د حقوق بيان دې.

[٢٥٤٨](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مِسْكِينٌ يَعْنِي ابْنَ بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُهَاجِرٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي كَبْشَةَ السَّلُولِيِّ، عَنْ سَهْلِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ، قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعِيرٍ قَدْ لَحِقَ ظَهْرُهُ بِبَطْنِهِ، فَقَالَ: "اتَّقُوا اللَّهَ فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ فَارْكَبُوهَا وَكُلُوهَا صَالِحَةً".

ترجمه: دسهل بن حنظليه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام يو اوښ اوليدوچه شاه ئې دخيټې سره لګيدلې وه نو خلقوته ئې اوفرمائيل دالله ويره اوکړئ دڅاروو په باره کښې کوم چه بې زبانه دي په دوی باندې په مناسبې طريقې سره سورلې کوې او په دوی باندې ښه طريقه خورئ څکئ.

تشريح

يو ځل رسول الله ﷺ په داسې اوښ باندې تير شو چه د هغه شا د خيټې سره لګيدلې وه د خيټې د خالی کيدو د وجې نه نو رسول الله ﷺ تنبيه اوفرمائيله چه د الله پاک نه ويره کوئ، د دې بې ژبې حيواناتو په باره کښې کوم سړې چه قادر علی الکلام نه وی هغه ته اعجم وئيلې شی او هم دغه شان معجم هم.

وړاندې رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم څاروی د سورلئ دی د هغې نه سورلی هم په داسې حال کښې اخستل پکار دی چه هغه ښه مزيدار وی خوشحال وی، تروتازه او څورب وی، او کوم چه په دې کښې د خوراک وی، ذبح کولو سره خوړلې شی خوراک هم هغه ته په ښه حالت کښې پکار دی.

[٢٥٤٩](2) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مَهْدِيٌّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ سَعْدٍ مَوْلَى الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ: أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَهُ ذَاتَ يَوْمٍ فَأَسَرَّ إِلَيَّ حَدِيثًا لَا أُحَدِّثُ بِهِ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ، وَكَانَ أَحَبَّ مَا اسْتَتَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَتِهِ هَدَفًا أَوْ حَائِشَ نَخْلٍ، قَالَ: فَدَخَلَ حَائِطًا لِرَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَإِذَا جَمَلٌ، فَلَمَّا رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَنَّ وَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ ذِفْرَاهُ فَسَكَتَ فَقَالَ: مَنْ رَبُّ هَذَا الْجَمَلِ لِمَنْ هَذَا الْجَمَلُ؟ فَجَاءَ فَتًى مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ لِي: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: "أَفَلَا تَتَّقِي اللَّهَ فِي هَذِهِ الْبَهِيمَةِ الَّتِي مَلَّكَكَ اللَّهُ إِيَّاهَا فَإِنَّهُ شَكَى إِلَيَّ أَنَّكَ تُجِيعُهُ وَتُدْئِبُهُ".

ترجمه: دعبدالله بن جعفر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه يوه ورځ زه نبی عليه السلام په ځان پسې

---

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨١/٤) (صحيح)

(2): صحيح مسلم/الحيض ٢٠ (٣٤٢)، سنن ابن ماجه/الطهارة ٢٣ (٣٤٠)، (ليس عندهما قصة الجمل) (تحفة الأشراف: ٥٢١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٠٤/١، ٢٠٥)، سنن الدارمي/الطهارة ٥ (٦٩٠) (صحيح)

شاته سورکړم او یوه پټه خبره ئې راته اوکړه کومه چه به هیڅ کله چاته ونه وایم، اودنبی ﷺ به داودس ماتې په پټو ځایونو کښې دوه ځایونه ډیر خوښ وو یوخوهغه ځائې دې چه لوړوې او بل هغه ځائي دې چرته چه دونو ځنګل وې، یوځل نبی ﷺ دیوانصاري باغ ته تشریف یوړونو مخامخ یو اوښ په نظر راغې اوژړل شي اودسترګونه ئې اوښکې روانې شوې، نبی ﷺ دهغه طرف ته ور روان شو او په سرباندې ئې ورته دشفقت لاس راښکلو اوهغه خاموش شو ،بیاددې نه پس نبی ﷺ تپوس اوکړوچه دا اوښ دچادې اوددې مالک څوك دې؟نوپه انصاروکښې یوځوان راغې اوونې وئیل چه د ازما دې اې دالله رسوله نبی ﷺ ورته اوفرمائیل ته ددې ځاروی په باره کښې دالله پاك نه ویره نه کوې دکوم چه ته الله پاك مالك جوړ کړې ئې دې اوښ ستانه ماته شکایت اوکړوچه ته ده لره اوږې ساتې اوپه ستړې توب کښې ئې وهې.

د حدیث مضمون

د دې حدیث حاصل دا دې چه عبدالله بن جعفر رضي الله عنه فرمائی کوم چه د رسول الله ﷺ د تره ځوئې دې، چه رسول الله ﷺ یو ځل زه په خپل ځان پسې په سورلئ باندې سور کړم د هغې نه روستو ئې ماته غلې غلې یو داسې حدیث بیان کړو کوم چه به زه چاته هم نه بیانوم دا خو جمله معترضه شوه، وړاندې چه کوم مضمون هغه ته بیانول دی هغه دا دې چه د رسول الله ﷺ دا خبره خوښه وه چه د قضاء حاجت په وخت د یو بناء مرتفع نه پناه شی (څه دیوال یا کهنډر یا هغه ریګ) یا د ځو اونو مجموعه (بڼ) نه، پس یو ځل هغه د یو انصاری باغ ته تشریف یوړلو (ممکنه ده چه داتلل د اونو نه پناه د قضاء حاجت دپاره وی) بهرحال چه کله هغه دغه باغ ته اورسیدو نو هلته یو اوښ تړلې شوې وو، چه کله اوښ رسول الله ﷺ اولیدو نو هغه په برړیدو شو او د هغه په سترګو کښې اوښکې راغلې، رسول الله ﷺ د هغه خواته راغلو او د هغه په سټ باندې ئې خپل لاس راښکلو په دې باندې هغه خاموش شو، بیا ئې اوفرمائیل چه د دې اوښ مالك څوك دې؟ نو یو انصاری ځوان راغلو، هغه عرض اوکړو یا رسول الله! دا زما دې، رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته د دې ځاروو په باره کښې د الله پاك نه نه ویریږې، یقینا دې اوښ ماته ستا شکایت کړې دې چه ته دې اوږې ساتې، ستړې ئې کړې، یعنی کار ترې زیات اخلې اوبیا ئې هم موړ نه ساتې، والحدیث اخرجه مسلم وابن ماجة دون قصة الجمل، کما ان مسلما روى قصة ارداف عبدالله بن جعفر فی المناقب.

[٢٥٥٠](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيهَا فَشَرِبَ، ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ، فَقَالَ الرَّجُلُ: لَقَدْ بَلَغَ هَذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِي كَانَ بَلَغَنِي، فَنَزَلَ الْبِئْرَ فَمَلَأَ خُفَّهُ فَأَمْسَكَهُ بِفِيهِ حَتَّى رَقِيَ، فَسَقَى الْكَلْبَ، فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ لَأَجْرًا؟ فَقَالَ: فِي كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ".

(١): صحيح البخاري/الوضوء ٣٣ (١٧٣)، والمساقاة ٩ (٢٣٦٣)، والمظالم ٢٣ (٢٤٦٦)، والأدب ٢٧ (٦٠٠٩)، صحيح مسلم/السلام ٤١ (٢٢٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٧٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الجماعة ٢ (٦)، مسند احمد (٣٧٥/٢، ٥١٧) (صحيح)

ترجمه: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي یو ځل یو کس په یوه لاره روان وو او ډیر تږي شوي وو نو په یو کوهي تیریدو ورته ورکوزشو او اوبه ئې اوڅکلې کله چه راوختو نو یو سپې ئې اولیدو چه ژبه ئې راویستلي وه او ختي ئې څټلي د تندې نه، نو هغه کس وونیل زما خیال دې چه دا سپې هم زما په شان تږي شوي دې نو کوهي ته دوباره ورکوزشو او خپله موزه ئې ورته داوبو ډکه رااوویستله او په خپله خوله کښې ئې ټینګه کړې وه تردې چه راوختو او په سپي ئې اوبه اوڅکلې او دالله تعالی شکرئې اداکړو نو الله ورته ددغه عمل په وجه مغفرت اوکړو، صحابه کرامو عرض اوکړو چه اې دالله رسوله چه آیا زمونږ دپاره په څاروکښې هم اجرشته دې؟ نبي علیه السلام اوفرمائیل یقیناً دهرساه لرونکي په خدمت کښې اجردې۔

تشریح

په دې حدیث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بني اسرائیلو د یو سړي واقعه بیان کړې ده چه هغه روان وو او په لاره کښې ډیر سخت تږې شو، لږ ساعت پس هغه ته یو کوهي ملاؤ شو هغه هغې ته ورکوز شو، او اوبه څکلو سره چه کله بهر راغلو نو یو سپې ئې اولیدو چه هغه د تندې د وجې نه لونده ختمه ستټله نو هغه سړي سوچ اوکړو چه دې به هم دومره تږې شوې وي څومره چه زه تږې شوې اوم، پس هغه دوباره کوهي ته کوز شو، او د خپلې څرمنې په موزه کښې ئې اوبه ډکې کړې او هغه ئې په خپلو غاښونو سره کلکه اونیوله او د کوهي نه بهر راغلو او هغه اوبه کومې چه په موزې کښې وې په هغه ئې اوڅکلې الله پاک د هغه د دې عمل قدر اوکړو او هغه ئې اوبخښلو، په دې باندې صحابه کرامو رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چه ایا زمونږ دپاره د څاروو په خدمت کښې هم ثواب دې؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ﴿ فی کل ذات کبد رطبة اجر ﴾ چه د هر لوند جګر والا په خدمت کښې ثواب دې، د هر ژوندي څاروي جګر لوند وي.

په دې حدیث کښې د موعظت او عبرت نه علاوه یو عملي بحث هم دې پس داودي رحمه الله فرمائي چه دا حدیث ټولو حیواناتو ته شامل دې، او ابو عبدالملک فرمائي چه په دې حدیث کښې چه کومه واقعه ذکر ده هغه د بني اسرائیلو ده او په اسلام کښې داسې نه ده، په اسلام کښې خو د سپو د قتل کولو حکم راغلې دې او حدیث ﴿ فی کل ذات کبد الخ ﴾ دا مخصوص دې د بعض بهائم سره چه په هغې کښې ضرر نه وي، او هم دا خبره امام نووي رحمه الله هم فرمائیلې ده چه د حدیث عموم مخصوص دې د حیوان محترم سره چه د هغه د وژلو حکم نه وي ورکړې شوې د دې په مقابله کښې د ابن التین رائې دا ده چه دا حدیث په خپل عموم باندې ساتلې کیدې شي په دې کښې هیڅ استبعاد نشته، لهذا که سپې یا د هغې په شان حیوان وي نو د هغه تنده ختمولو سره، په هغه باندې اوبه څکولو سره که هغه قتل کول وي نو هغه دې قتل کړې، ﴿ لانا امرنا ان نحسن القتلة ونهینا عن المثلة ﴾ (من البذل). والحدیث اخرجه البخاری ومسلم، قاله المنذری.

بَابٌ فِي نُزُولِ الْمَنَازِلِ (١)

خپل منزل ته د رسيدو بيان

[٢٥٥١](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حَمْزَةَ الضَّبِّيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، قَالَ: كُنَّا إِذَا نَزَلْنَا مَنْزِلًا لَا نُسَبِّحُ حَتَّى نَحُلَّ الرِّحَالَ.

ترجمه: د حمزة الضبي نه روايت دې فرمائي چه دانس بن مالك ﷛ نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې كله چه به مونږ كوم منزل (ارامګاه) ته اورسيدو نوترهغې به مومونږ نه كولوترڅو چه به مونږ داوښانونه كجاوي نه وي كوزي كړي.

تشريح

سيدنا انس ﷛ فرمائي چه زمونږ صحابه كرامو دا معمول وو چه كله به په يو سفر كښې يو منزل ته كوزيدلو نو مونځ او نفلونه به مو نه كول ترڅو چه به مو د اوښانو نه د هغوی كيجاوې او سامان وغيره نه وو كوز كړې. دا د رسول اللهﷺ د هم هغه تعليم اثر وو كوم چه به ئې د څاروو د حقوق په باره كښې فرمائيلو. والله تعالى الموفق

بَابٌ فِي تَقْلِيدِ الْخَيْلِ بِالْأَوْتَارِ

د اسونو په غاړه كښې د نظر ماتی دپاره ځرمنو (غاړكى) د زوړندولو ممانعت

اوتار جمع د وتر (بفتحين) ده، يعنې پيزوان كوم چه د څاروی نرئ او اوچه پټئ (غاړكئ) وی كومه چه په تړلو او پرانستلو كښې پكار راځي.

[٢٥٥٢](٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، أَنَّ أَبَا بَشِيرٍ الْأَنْصَارِيَّ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ: حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ: وَالنَّاسُ فِي مَبِيتِهِمْ لَا يَبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ، وَلَا قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ، قَالَ مَالِكٌ: أَرَى أَنَّ ذَلِكَ مِنْ أَجْلِ الْعَيْنِ.

ترجمه: دابوبشير انصاري نه روايت دې فرمائي چه زه دنبی ﷺ سره په سفر كښې ملګري وم نونبی ﷺ يوكس اوليږلو، عبدالله بن ابي بكر ﷛ وائي چه زماخيال دې چه هغه داسې اووئيل چه خلق په خپلو ځايونو كښې اوده وو، چه نه به پريږدي دهيڅ يواوښ په غاړه كښې زوړند شوي د ځرمن تار (پټئ) اونه هيڅ قسم اميل مګرشلوي به ئې. مالك وائي چه زما خيال دې چه دابندونه به د بد نظر نه دبچ كيدو دپاره زوړندولي شو.

تشريح

د پوره حديث مضمون دا دې، ابو بشير انصاری ﷛ فرمائي چه زه د رسول اللهﷺ سره په يو سفر كښې اوم نو په كوم ځائې كښې چه مونږ ايسار شوې وو د شپې د تيرولو دپاره،

---

(١) الدر المنضود كښې او بعض درسی نسخو كښې دلته د باب دا عنوان موجود نه دې، بلكه دا حديث په باب سابق كښې ذكر كړې شوې دې. ابو عمار عبدالمالك

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٥٧) (صحيح)

(٣): صحيح البخاري/الجهاد ١٣٩ (٣٠٠٥)، صحيح مسلم/اللباس ٢٨ (٢١١٥)، (تحفة الأشراف: ١١٨٦٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صفة النبي ١٣ (٣٩)، مسند احمد (٥/٢١٦) (صحيح)

رسول اللهﷺ هلته یو قاصد راولیږو چا چه راتلو سره مونږ ته د هغه ﷺ هدایت واورولو چه د یو اوښ په څټ کښې د څرمن تار دې باقی پاتې نه کړې شی، او نه مطلق امیل (غاړکئ)، بلکه هغه دې پرې کړې شی.

د دې حدیث په راویانو کښې امام مالک هم دې هغه د دې حدیث په شرح کښې فرمائی چه دا پرې به هغه وو کوم چه به خلقو د بد نظر نه د بچ کولو دپاره استعمالولو او د څاروی په غاړه کښې به ئې اچولو.

زمونږ په نزد په کتاب الطهارة کښې په ابواب الاستنجاء کښې یو حدیث تیر شوې دې چه په هغې کښې داسې دی چه ﴿ اخبر الناس ان من عقد لحیته او تقلد وترا ﴾ الحدیث د حدیث مزید تشریح دې هلته اوکتلې شی چه تقلید وتر به د څه دپاره وو او د دې نه مراد څه دې، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

بَاب إِكْرَامِ الْخَيْلِ وَارْتِبَاطِهَا وَالْمَسْحِ عَلَى أَكْفَالِهَا[1]

باب: د اسونو مناسب خیال ساتل (پالنه کول) او د هغې په پټهو (بدن) باندې د لاس راښکلو بیان

[٢٥٥٣]([2]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعِيدٍ الطَّالْقَانِيُّ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، حَدَّثَنِي عُقَيْلُ بْنُ شَبِيبٍ، عَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ارْتَبِطُوا الْخَيْلَ وَامْسَحُوا بِنَوَاصِيهَا وَأَعْجَازِهَا، أَوْ قَالَ أَكْفَالِهَا وَقَلِّدُوهَا، وَلَا تُقَلِّدُوهَا الْأَوْتَارَ".

ترجمه: دابو وهب جشمی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: اسونه تړلي ساتي اوددوی په شا او تندی باندې لاس راکاږئ. راوی وائی چه زماشك دې چه (اعجازها) لفظ ئې فرمائیلي دې (او که اکفالها) اوددوي لره تړئ اوددوي ته غاړه څه شي مه زوړندوئ.

تشریح

رسول اللهﷺ فرمائی، د اسونو ښه ساتنه کوئ، او د هغوی ښه خدمت کوئ (چه د هغې ذکر وړاندې راروان دې) د هغوی په تندو او شا ګانو باندې ښه لاس راکاږئ، یعنی هغه مالش کوئ، او امیل هم ورته اچوئ خو دڅرمن تار ورته مه اچوئ، دا مطلب په هغه صورت کښې دې چه هر کله اوتار د وتر جمع وئیلې شوې وی، او بل قول په دې کښې دا دې چه دا اوتار د وتر بالکسر جمع ده، چه د هغې معنی حقد او دشمنی ده، دغه شان د دې معنی د دم او طلب ثار یعنی د وینې انتقام او بدله هم ده، په دې صورت کښې به د حدیث معنی دا وی چه اس ضرور اوپالئ خو د جهاد او د دشمنانو د مقابلې دپاره، نه د جاهلیت د زمانې د دشمنو او د وینې د بدلې اخستلو دپاره، د جاهلیت د زمانې دشمنئ ډیر اوږده او په مودو مدو باندې باقی پاتې کیدونکې وه، د اسلام قبلولو نه پس د هغې نه منع کولې شی چه د دې جنګونو بدلې اوس په اسلام کښې داخلیدو سره مه اخلئ، او دا ختمې کړئ. والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

---

[1] په الدر المنضود کښې او بعض درسی نسخو کښې دلته د باب دا عنوان موجود نه دې بلکه دا حدیث په تیر باب کښې ذکر کړې شوې دې. ابو عمار عبدالمالك)

[2]). انظر رقم (٢٥٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٢٠) (حسن)

باب فِي تَعْلِيقِ الأَجْرَاسِ

ځاروو ته د جرس (ګنګرو) رازوړندولو د ممانعت بيان

[۲۵۵۴]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِي الْجَرَّاحِ مَوْلَى أُمِّ حَبِيبَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا جَرَسٌ".

ترجمه: د ام المومنين ام حبيبه رضی الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: د رحمت فرښتې د هغه کسانو سره ملګرتيانه کوي چاچه په مرئ کښې جرس (ګونګرو) زوړند کړې وي.

تشريح: **قوله**: عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا جَرَسٌ"...الخ: د سفر دې ملګرو سره ملائک نه وي چه په هغې کښې جرس وي، د ځاروو په غاړه کښې چه کومه ټلۍ اچولې شي کومه چه په حرکت سره اواز کوی هغې ته جرس ونيلې شي. په بدل کښې کيدې شي چه د ملائکه نه مراد غير الحفظة والكتبه وی. د کراهت جرس په علت کښې ډير اقوال دی. انه شبيه بالنواقيس، چه د هغې اواز د ناقوس د اواز مشابه وی. لكراهة صوته لانه مزمار الشيطان. يعنی د هغې د اواز د کراهت د وجې نه چه هغه د شيطان باجه ده لکه چه هم د دې باب په دريم روايت کښې را روان دی. ﴿ وقيل لانه يدل على صاحبه بصوته وكان عليه السلام يحب ان لا يعلم العدو حتي ياتيهم بغتة ﴾ يعنی د هغه قافلې د راتلو معلومات کيږی چه يو جماعت راروان دې چه د هغې نه دشمن خبر شی حال دا چه هغه به د غزوه په سفرونو کښې دا غوښتل چه دشمن خبر نه شی چه په دې بې خبرئ کښې په هغه باندې حمله کول اسان شی. (عون).

وراندې په دويم روايت کښې د جرس سره د کلب اضافه هم ده. حديث ام حبيبة اخرجه النسائی وحديث ابي هريرة الاول اخرجه مسلم والترمذی، وحديث الثاني اخرجه مسلم والنسائي قاله المنذری.

[۲۵۵۵]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ أَوْ جَرَسٌ".

ترجمه: د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: فرښتې د هغه کوروالا کسانو سره ملګرتيانه کوي په کوم کښې چه سپې وي يا جرس وي.

[۲۵۵۶]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ، حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "فِي الْجَرَسِ مِزْمَارُ الشَّيْطَانِ".

ترجمه: د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: جرس دشيطان سورنې (باجې) دی.

---

[۱]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۲۶/۶، ۳۲۷، ۴۲۶، ۴۲۷) (صحيح)
[۲]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۶۵۵)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ۲۷ (۲۱۱۳)، سنن الترمذي/الجهاد ۲۵ (۱۷۰۳)، مسند احمد (۲۶۲/۲، ۳۲۷، ۵۳۷)، سنن الدارمي/الاستئذان ۴۴ (۲۷۱۸) (صحيح)
[۳]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۴۰۲۵)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ۲۷ (۲۱۱۴)، مسند احمد (۳۶۶/۲) (صحيح)

بَابٌ فِي رُكُوبِ الْجَلَّالَةِ

په مرداری (ګندګۍ) خورونکي څاروی باندې د سورلۍ کولو دمما نعت بیان

﴿ جلالة ﴾ هغه څاروې کوم چه پلیتی او ګندګی خوری، د ﴿ جله ﴾ نه اخستلې شوې دې، بتثليث الجيم، البعرة... پچې ته وئیلې شی، ﴿ جلت الدابة الجلة ﴾ چه کله هغه پلیتی اوخوری، او داسې څاروی ته جالته او جلاله وئیلې شی، وړاندې په حدیث الباب کښې دی چه هغه د جلاله د سورلۍ کولو نه منع فرمائیلې ده، په شرح کښې لیکی چه دا هغه وخت دې چه کله د هغه د خوراک غالبه حصه نجاست وی تردې چه د هغې د بوئې اثر ظاهر شی د هغه په غوښه کښې او د هغه په پیو کښې، په داسې صورت کښې د هغه اکل او رکوب حرام وی، مګر دا چه هغه د څو ورځو پورې تړلې اوساتلې شی چه هغې سره نجاست او نه خوړلې شی. (بذل من مجمع البحار)

[٢٥٥٧] (١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نُهِيَ عَنْ رُكُوبِ الْجَلَّالَةِ".

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول پاک ﷺ منع فرمائیلې ده دسورلۍ کولونه په مردارخور څاروی باندې.

[٢٥٥٨] (٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي سُرَيْجٍ الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْجَهْمِ، حَدَّثَنَا عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَلَّالَةِ فِي الْإِبِلِ أَنْ يُرْكَبَ عَلَيْهَا".

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دسورلۍ کولونه په هغه اوښ باندې کوم چه مرداري خوري.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُسَمِّي دَابَّتَهُ

خپل څاروی په یو نوم سره نامداره کول

[٢٥٥٩] (٣)حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ مُعَاذٍ، قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عُفَيْرٌ.

ترجمه: دمعاذ رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زه په نبی علیه السلام پسې شاته په یوخرباندې سوراوم کوم ته چه به عفیر وئیلې شو.

تشریح

یعنی که یو سړې د خپل څاروی یو نوم کیخودل غواړی نو دا جائز ده د رسول الله ﷺ د زمانې نه دا خبره را روانه ده، پس په حدیث الباب کښې سیدنا معاذ رضي الله عنه فرمائی چه زه په

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٥٨٩) (صحيح)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٧٥٨٩) (حسن صحيح)

(٣): صحيح البخاري/الجهاد ٤٦ (٢٨٥٦)، صحيح مسلم/الإيمان ١٠(٣٠)، سنن الترمذي/الايمان ١٨ (٢٦٤٣)، (تحفة الأشراف: ١١٣٥١)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/العلم (٥٨٧٧)، مسند احمد (٢٢٨/٥) (صحيح)

رسول الله ﷺ پسې شاته سور اوم په يو خر باندې چه د هغه نوم عفير وو.

په صحيح بخاری کښې هم دا قسم يو باب دې "باب اسم الفرس والحمار" د حضرت ګنګوهی په تقرير ابوداود کښې دی چه د مصنف غرض جواز تسميه دې چه څوک دا خيال اونکړی چه د ځاروو نوم کيخودل د رسوم جاهليت نه دې. والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی مختصرا ومطولا قاله المنذری.

بَابٌ فِي النِّدَاءِ عِنْدَ النَّفِيرِ يَا خَيْلَ اللهِ ارْكَبِي

د روانيدو په وخت کښې داسې آواز کول چه اې الله سوارو ! سواره شئ !

يعنې چه کله د جهاد لښکر روانيږی نو هغوی ته "خيل الله" وئيلو سره اواز کول چه اې د الله شهسوارانو! سواره شئ او کوچ اوکړئ! په بذل کښې ليکلي دی چه دا اواز د تولو نه مخکښې په غزوة الغابة کښې موندلې شوې ده کومې ته چه غزوه ذی قرد هم وئيلې شی.

[٢٥٦٠] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى أَبُو دَاوُدَ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ سُلَيْمَانَ بْنِ سَمُرَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمَّى خَيْلَنَا خَيْلَ اللهِ إِذَا فَزِعْنَا، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا إِذَا فَزِعْنَا بِالْجَمَاعَةِ وَالصَّبْرِ وَالسَّكِينَةِ، وَإِذَا قَاتَلْنَا.

ترجمه: د سمره بن جندب رضی الله عنه نه روايت دې هغه د حمد او صلاة نه پس فرمائی چه نبی علیه السلام به زمونږ ډلې ته (تسلی راکولو دپاره) په خيل الله نوم سره اواز کوو اوکله چه به مونږ يريدو نو رسول الله به مونږ ته حکم کولو دويرې په وخت کښې ديوځائې کيدو او د صبرکولو اوتحمل. اوهمدارنګې دابه ئې دجنګ په وخت کښې هم فرمائيل (دې دپاره چه زمونږ حوصلې اوچتې شی.)

تشريح

د سيدنا سمره بن جندب رضی الله عنه چه څومره روايات په "اما بعد" سره شروع دی د هغې تعارض زمونږ په نزد د دې نه مخکښې راغلې دې. د دې حديث مضمون دا دې چه رسول الله ﷺ زمونږ د لښکر نوم خيل الله کيخودلو او حال دا چه مونږ ويريدو. په ظاهره مطلب دا دې چه ويرې په وخت باندې ترې رسول الله ﷺ په خيل الله سره تعبير اوفرمائيلو. د هغوی همت ئې اوچت کړو او د تسلئ ورکولو دپاره ئې د دې عظيم نسبت د وجې نه چه تاسو خدائی لښکر يئ د الله پاک مدد تاسو سره دې، وړاندې په روايت کښې دی چه رسول الله ﷺ به مونږ ته د ويرې په وخت هدايت فرمائيلو د اجتماع، يوځائې کيدو او د صبر او سکون، او هم دغه شان به ئې هدايت فرمائيلو مونږ ته د قتال په وخت هم. والحديث سکت عن تخريجه المنذری.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦١٩) (ضعيف)

بَابُ النَّهْيِ عَنْ لَعْنِ الْبَهِيمَةِ
په څاروو باندې د لعنت وئيلو د ممانعت بيان

[٢٥٦١] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ، فَسَمِعَ لَعْنَةً فَقَالَ: "مَا هَذِهِ؟" قَالُوا: هَذِهِ فُلَانَةُ لَعَنَتْ رَاحِلَتَهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ضَعُوا عَنْهَا فَإِنَّهَا مَلْعُونَةٌ، فَوَضَعُوا عَنْهَا، قَالَ عِمْرَانُ: فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهَا نَاقَةً وَرْقَاءَ".

ترجمه: د عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دې فرماني چه نبي عليه السلام په يو سفر کښې د چانه دلعنت لفظ واوريدو نبي عليه السلام اوفرمائيل داڅه دی؟ خلقو ورته اووئيل دافلانئ ده په خپلې سورلئ لعنت وائي نبي عليه السلام اوفرمائيل ددې اوښې نه کجاوه کوزه کړئ ځکه چه دا ملعون دې نوخلقو هغه کوزه کړه عمران راوی وائی ګوياکښې چه زه ئې اوس هم وينم چه توربخنه اوښه وه.

تشريح

يعنې څاروی ته د بد دعا کولو نه ممانعت دې، پس په حديث الباب کښې دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو سفر کښې وو نو هغه د لعنت اواز ئې واوريدو، هغه صلى الله عليه وسلم تپوس اوکړو چه دا څه دی، صحابه کرامو عرض اوکړو چه يوې زنانه په خپله سورلئ باندې لعنت اوکړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه هغه زنانه د هغې د سورلئ نه راکوزه کړئ، ځکه چه هغه د هغې په قول ملعونه ده، پس هغه د هغې نه راکوزه کړې شوه، سيدنا عمران رضي الله عنه فرمائي چه ما هغه اوښه ليدلې وه چه د خړ رنګ اوښه وه. والحديث اخرجه مسلم والنسائي قاله المنذري.

بَابٌ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ
د ځناورو او څاروو د جنګولو د ممانعت بيان

[٢٥٦٢] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ قُطْبَةَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ سِيَاهٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي يَحْيَى الْقَتَّاتِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ".

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده د ځناورو جنګولو نه په خپل مينځ کښې.

تشريح

يعنې رسول الله صلى الله عليه وسلم څاروو لره خپل مينځ کښې جنګولو نه منع فرمائيلې ده، لکه چه د اوښانو والا بعض وخت د دوه اوښانو ترمينځه مقابله کوی په جنګ کولو کښې، هم دغه شان د دوه ګډورو ترمينځه او د دوه چرګانو ترمينځه، (بين الجمال والكباش والديوک) او د منع وجه ظاهره ده لانه من الملاهي، يعنې دا د لهو او لعب نه دی وفيه ايلام الدواب واهلاكهم، يعنې څاروو ته بغير د وجې نه اذيت ورکول او که دا حرکت دواړو طرفونو ته شرط تړلو سره اوکړې

(١): صحيح مسلم/البر ٢٤ (٢٥٩٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٢٩، ٤٣١)، سنن الدارمي/الأستئذان ٤٥ (٢٧١٩) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الجهاد ٣٠ (١٧٠٨)، (تحفة الأشراف: ٦٤٣١) (ضعيف)

شي نو بيا دا جواري هم ده. (بذل) والحديث اخرجه الترمذى مرفوعا ومرسلا قاله المنذرى.

بَابٌ فِي وَسْمِ الدَّوَابِّ

په څارووباندې د نخوجوړولوبيان

[٢٥٦٣] (١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَخٍ لِي حِينَ وُلِدَ لِيُحَنِّكَهُ فَإِذَا هُوَ فِي مِرْبَدٍ يَسِمُ غَنَمًا أَحْسِبُهُ قَالَ: فِي آذَانِهَا.

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام ته مې خپل ورور يوړو كله چه هغه پيداشو دتحنيك (څه شي جول او چاته په خوله كښې اچول) دپاره. نوچه ورغلم او مې ليدل چه نبي عليه السلام دڅاروو په څائي كښې وو او په چيلو ئې نښې (داغونه) جوړول، هشام وائي زما خيال دي چه انس اووئيل: دهغوی په غوږونو ئې داغونه لګول

شرح حديث

سيدنا انس رضي الله عنه فرمائي چه كله زما وړوكي رور پيدا شو نو ما هغه د تحنيك دپاره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوړلو، چه كله هلته اورسيدم نو ما اوكتل چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ګډو بيزو په غوجل كښې وو او د داغ په ذريعه ئې په بيزو باندې نخښې لګولې، امام شعبه رحمه الله فرمائي چه زه په خپل استاد هشام باندې ګمان كوم چه هغه په دې روايت كښې ﴿ فى اذانها ﴾ وئيلې وو، يعنى نخښې ئې د ګډو بيزو په غوږونو باندې لګولې

مربد د څاروو غوجل ته وئيلې شي چرته چه هغوی تړلې شي او د كهجورو د اوچولو ځائي ته هم وئيلې شي او د ﴿ يسم ﴾ د ﴿ وسم ﴾ نه اخستلې شوي دي چه د هغې معنى د نشان او علامت لګولو ده، اوسپنه ګرمولو سره لګولې شي، د كوم څيز په ذريعه چه لګولې شي هغه ته ﴿ ميسم ﴾ وئيلې شي.

په وسم الدواب كښې مذاهب ائمه

د جمهور علماء شافعيه په نزد د زكاة او جزيه اوښان او ګډو بيزو كښې دا نخښې لګول مستحب دی، خو په غير وجه كښې (يعنى د مخ نه علاوه د بدن په څه بل څه حصه كښې) او وسم فى الوجه بالاتفاق ناجائز دې، او د احنافو په نزد وسم فى غير الوجه مباح دې، او د حافظ د كلام نه معلوميږی چه دا حديث د احنافو خلاف دې، يعنى د هغوی په نزد وسم البهائم جائز نه دې، حال دا چه داسې نه ده. زمونږ په نزد هم دا وسم جائز دې، پس په در مختار كښې دی چه ﴿ لا باس بكى البهائم للعلامة وثقب اذن الطفل من البنات ﴾ لهذا د جمهورو او احنافو مذهب په دې كښې يو دې. زيات نه زيات دا وئيلې كيدې شی چه د جمهورو په نزد مستحب دې او د احنافو په نزد مباح

او دا ﴿ وسم فى الحيوان ﴾ په باره كښې دی، او په انسان باندې ﴿ وسم ﴾ په مخ كښې كول بالاجماع حرام دی، او بغير د مخ نه مكروه دی (هامش اللامع ج٣ ص ٣١٢)

---

(١): صحيح البخاري/الزكاة ٦٩ (١٥٠٢)، والذبائح ٣٥ (٥٥٤٢)، صحيح مسلم/اللباس ٣٠ (٢١١٩)، الأداب ٥ (٢١٤٥)، سنن ابن ماجه/اللباس ٤ (٣٦٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٩/٣، ١٧١، ٢٥٤، ٢٥٩) (صحيح)

امام بخاري رحمه الله هم په دې موضوع باندې باب تړلې دې په كتاب الزكاة كښې ﴿ باب وسم الامام ابل الصدقة ﴾ او بيا د هغې نه روستو په كتاب الذبائح والصيد كښې په "باب العلم والوسم فى الصورة" والحديث اخرجه البخارى ومسلم (قاله المنذرى)

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ وَالضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ

په مخ د داغ جوړولو او ګذار وركولو نه د ممانعت بيان

[٢٥٦٤] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرَّ عَلَيْهِ بِحِمَارٍ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ: "أَمَا بَلَغَكُمْ أَنِّي قَدْ لَعَنْتُ مَنْ وَسَمَ الْبَهِيمَةَ فِي وَجْهِهَا أَوْ ضَرَبَهَا فِي وَجْهِهَا"، فَنَهَى عَنْ ذَلِكَ.

ترجمه: د جابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه د نبي عليه السلام په خوا كښې يو خر تيركړې شو چه په مخ باندې ئې داغ وه نبي عليه السلام اوفرمائيل آيا تاسو خبرنه يئ چه ما لعنت ويلې دې په هغه چا باندې چه د ځاروي په مخ داغ جوړه كړي او يا ګذار وركړي په مخ باندې، بيا نبي عليه السلام د دې نه منع اوفرمائيله.

تشريح

په دې حديث كښې په وسم فى الوجه باندې وعيد دې او هم دغه شان په ضرب فى الوجه باندې هم كوم چه بالاجماع مكروه دې لكه چه اوس پورته تير شو. والحديث اخرجه مسلم والترمذى بمعناه، قاله المنذرى.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ الْحُمُرِ تُنْزَى عَلَى الْخَيْلِ

د خرونو داسپو سره د جوتې كولو (ملاوولو) د كراهيت بيان

[٢٥٦٥] (٢) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنِ ابْنِ زُرَيْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَغْلَةٌ فَرَكِبَهَا، فَقَالَ عَلِيٌّ: لَوْ حَمَلْنَا الْحَمِيرَ عَلَى الْخَيْلِ فَكَانَتْ لَنَا مِثْلُ هَذِهِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا يَفْعَلُ ذَلِكَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ".

ترجمه: د علي بن أبي طالب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام ته يو خچر په هديه كښې وركړې شو نو هغه ورباندې سور شو، حضرت علي رضي الله عنه اووئيل كه چرې مونږ په خرونو سره اسپې جوتې كړو نو زمونږ به هم داسې خچرې وي نبي عليه السلام په دې اوريدو سره اوفرمائيل داسې خو هغه كسان كوي څوك چه نه پوهيږي.

د حديث مضمون

سيدنا علي رضي الله عنه فرمائي چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې د چرته نه يوه بغله[3] يعنې ښځه

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٧٥٧)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/اللباس ٢٩ (٢١١٧)، سنن الترمذي/الجهاد ٣٠ (١٧١٠)، مسند احمد (٣/٣٢٣) (صحيح)

[2]): سنن النسائي/الخيل ٨ (٣٦١٠)، (تحفة الأشراف: ١٠١٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٩٨، ١٠٠، ١٥٨) (صحيح)

[3]) بغل د ځناورو هغه قسم دې چه دا د اس او خرې، يا بالعكس اجتماع نه پيدا كيږي، زمونږ استاذ مولانا صديق احمد صاحب به فرمائيل چه قچر د اس خورنې دې.

خچره په طور د هديه راغله چه په هغې باندې رسول اللهﷺ سور هم شو، سيدنا علیؓ فرمائی چه ما رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو چه که مونږ خلق هم خره په اسپو باندې اوخيژوو نو دلته به هم خچر پيدا کيدل شروع شی، نو هغهﷺ اوفرمائيل چه دا کارونه هغه خلق کوی کوم چه ناپوهه او بيوقوفه دی ځکه چه په دې کښې استبدال الادنی بالخير دې، يعنی د ښه څيز په بدله کښې کمزوری څيز اختيارول دی، ځکه چه بغل ادنی دې د خيل نه، او خيل اعلی دې.

په ترجمة الباب والا مسئله کښې فقهی بحث

د دې نه پس ځان پوهه کول پکار دی چه انزاء الحمير علی الخيل فقهاء کرامو جائز ليکلې دی، پس د جمهور او ائمه اربعه مذهب هم دا دې، او بعض فقهاء کرامو لکه عمر بن عبدالعزيز او عامر شعبی رحمة الله عليهم ورته جائز وئيلې دی [1] د جواز دليل ئې دا دې چه د رسول اللهﷺ نه رکوب البغل ثابت دې، بله دا چه الله پاک د دې شمير په نعمتونو کښې کړې دې او په طور د احسان ئې ذکر کړې دی پس فرمائی ﴿ والخيل والبغال والحمير لتركبوها وزينة ﴾ باقی په دې حديث کښې چه رسول اللهﷺ دې ته ناپوهی وئيلې ده نو دا د اتخاذ بغال کراهت په عدم جواز باندې دال نه دې بلکه په دې سره مقصود ترغيب دې د تکثير خيل ځکه چه په دې کښې ثواب دې، او د ﴿ والذين لا يعلمون ﴾ مطلب هم دا دې چه کومو خلقو ته د دې ثواب نه دې معلوم هغوی داسې کوی، حکاه الحافظ عن الطحاوی، هم دغه شان خطابی فرمائی چه د اس په ذريعه جهاد کولې شی او باقاعده د هغه په مال غنيمت کښې حصه وی ځنګه چه د فارس (سور) وی، هم دغه شان د هغه غوښه هم ماکول ده او د دې نه يو فضيلت هم د بغل دپاره ثابت نه دې، خو علامه طيبی يوه خبره ليکلې ده (کما فی البذل) هغه دا چه په رکوب بغل او د هغې په ذريعه زينت حاصلول اگر چه جائز دی او هم دې سره د احسان ذکر هم راغلې دې خو کيدې شی چه سره د انزاء جائز نه وی، لکه چه بعض تصويرونه داسې دی چه د هغې استعمال په فراش او بساط وغيره کښې مباح دې، خو د تصوير عمل حرام دې

د بغله مذکوره فی الحديث متعلق کلام

د دې بغله په باره کښې روايت دې کوم چه رسول اللهﷺ ته په هديه کښې راغلې وه، د رسول اللهﷺ په خدمت کښې د اهداء بغله ذکر هم په دې کتاب کښې په "باب احياء الموات" کښې راغلې دې په لفظ د ﴿ فَأَتَيْنَا تَبُوكَ فَأَهْدَى مَلِكُ أَيْلَةَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ –صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ– بَغْلَةً بَيْضَاءَ وَكَسَاهُ بُرْدَةً وَكَتَبَ لَهُ بِبَحْرِهِ ﴾ "يعنی د غزوه تبوک په سفر کښې چه کله هغهﷺ تبوک ته اورسيدو نو د ايله بادشاه د هغهﷺ په خدمت کښې راتلو سره سپين خچر پيش شو، او رسول اللهﷺ هغه ملک ايله ته د دې په بدله کښې يو قيمتی څادر او شال هديه

[1]) ذکر تلك المذاهب العلامة العيني في شرح الطحاوي انظر حاشية الطحاوي المطبوع بحاشية والدي مولانا حکيم محمد ايوب المظاهري رحمه الله)

کړو، وئیلې شوې دی چه هم د دې بغله بیضاء نوم دلدل دې او یو بغله بیضاء هغه ده چه د هغې ذکر د بخاری په "کتاب الجهاد "باب بغلة النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ البيضاء" په ضمن کښې د غزوه حنین په ذکر کښې راغلې دې ﴿ فلقيهم هوازن بالنبل والنبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بغلته البيضاء ﴾ د دې په شرح کښې حافظ لیکی چه په کومه بغله بیضاء باندې رسول اللهﷺ په غزوه حنین کښې وو هغه د دې بغله بیضاء نه علاوه ده کومه چه ملک ایله هغه ﷺ ته هدیه کړې وه، ځکه چه هغه په غزوه تبوک کښې وو او غزوه حنین د دې نه مخکښې شوې ده، او د مسلم په یو روایت کښې دی چه په کومه بغله باندې رسول اللهﷺ په حنین کښې وو هغه ورته فروه بن نفاثه پیش کړې وه، هم دغه شان د ملک ایله د اهداء حدیث په صحیح بخاری کتاب الزکاة کښې هم شته (فتح الباری ص ۸۸، ج ۶) والحديث رواه النسائی (قاله الشيخ محمد عوامة).

بَابٌ فِي رُكُوبِ ثَلَاثَةٍ عَلَى دَابَّةٍ

د درې کسانو په یو ځاروی باندې د سورلئ کولو بیان

[٢٥٦٦](١) حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُوَرِّقٍ يَعْنِي الْعِجْلِيَّ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ، اسْتُقْبِلَ بِنَا فَأَيُّنَا اسْتُقْبِلَ أَوَّلًا جَعَلَهُ أَمَامَهُ فَاسْتُقْبِلَ بِي فَحَمَلَنِي أَمَامَهُ، ثُمَّ اسْتُقْبِلَ بِحَسَنٍ أَوْ حُسَيْنٍ، فَجَعَلَهُ خَلْفَهُ فَدَخَلْنَا الْمَدِينَةَ وَإِنَّا لَكَذَلِكَ".

ترجمه: دعبدالله بن جعفر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به کله د سفرنه راتلو نومونږ به د استقبال دپاره ورتلو نو په مونږ کښې چه به کوم یو مخکښې ور ورسیدو هغه به ئې د ځان سره سور کړو نوزه یو ځل داستقبال دپاره ړومبې ورسیدم نوزه ئې د ځان سره سور کړم او بیا ئې حسن یاحسین استقبال ته را ورسیدو نوهغه ئې د ځان نه وروسته سور کړو، مونږ په همدې حالت ناست وو چه مدینې ته داخل شو (یعنی درې کسان په یوه سورلئ)

شرح حدیث

د جعفر طیار رضی الله عنه ځوئې عبدالله فرمائی، د خپل ماشومتوب قصه اوروی چه کله به رسول اللهﷺ د یو سفر نه واپس راتلو نو مونږ به هم د هغه د استقبال دپاره بوتلې شو، یعنی کله چه به زمونږ مشران د مدینې منورې نه بهر د استقبال دپاره تلل نو مونږ به ئې هم بوتلو، د "مونږ" نه مراد د هغه د کور واړه ماشومان دی، نو وړاندې هغه فرمائی چه کوم ماشوم به د هغه خواته اول اورسیدو نو هغه به ئې د ځان سره په سورلئ باندې مخکښې سور کړو، او کوم چه به روستو اورسیدو نو هغه به ئې روستو سور کړو، یو ځل داسې اوشو چه زه اول اورسیدم نو زه ئې د ځان نه مخکښې کینولم، د دې نه روستو د حسنین نه یو تن رااورسیدو نو هغه ئې په ځان پسې کینولو ﴿ فدخلنا مدينة وانا لكذلک ﴾ نو مونږ او رسول اللهﷺ

---

(١): صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٣٥ (٢٤٢٨)، سنن ابن ماجه/الأدب ٣٣ (٣٧٧٣)، (تحفة الأشراف: ٥٢٣٠)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الاستئذان ٣٦ (٢٧٠٧)، مسند احمد (١/٢٠٣) (صحيح)

مدینې ته هم په دې حالت کښې داخل شو، د دې حدیث نه معلومه شوه چه په یوه سورلئ باندې د درې کسانو سوریدل جائز دی، په دې شرط چه سورلی ئې اوچتولې شی. (بذل) او دلته خو د عدم تحمل خو سوال نه پیدا کیږی ځکه چه دوه په دې کښې ماشومان وو، بهرحال په ترجمة الباب کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه سوریدونکو له د سورلئ د تحمل خیال ساتل ضروری دی، قلت ويستفاد منه بالطريق الاولى انه لا ينبغي ان يركب على ركشا، عدة اشخاص زائدا على المعتاد، والمعتاد هو الاثنان، ولا سيما لاهل العلم والوقار. والحديث اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجة، قاله المنذري.

بَابٌ فِي الْوُقُوفِ عَلَى الدَّابَّةِ

په ځاروی باندې د بې ضرورته کیناستو ممانعت بیان

[۲۵٦۷] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي عَمْرٍو السَّيْبَانِيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِيَّاكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا ظُهُورَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ فَإِنَّ اللَّهَ إِنَّمَا سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُبَلِّغَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ وَجَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فَعَلَيْهَا فَاقْضُوا حَاجَتَكُمْ".

ترجمه: د ابوهریره ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی خبردار دځاروو دشاګانو نه دمنبرجوړولونه ځان بچ وساتئ ځکه چه دوی الله تعالی ددې دپاره ستاسو تابع کړي دي چه تاسو اورسوي دیوښارته بل ښارته کوم ته چه تاسونشئ رسیدلې مګر په مشقت سره، اوالله تعالی ستاسو دپاره زمکه پیدا کړي،نو هم په دې باندې خپل حاجتونه پوره کوئ

شرح حدیث

په دې باب کښې د مخکښې باب په شان د سورلئ د حق رعایت په یوه بله طریقه سره بیان شوې دې لکه چه په حدیث الباب کښې دی چه د سورلئ سره دې د ممبر په شان معامله اونکړې شی چه په سورلئ باندې په ناسته په لاره کښې اودریدو سره په بل څه کار کښې مشغول شی سوا د مزل نه، مثلاً چا سره خبرو کولو کښې د ډیر ساعته پورې مشغول شی، رسول الله ﷺ فرمائی چه ګورئ الله پاک دا ځاروی ستاسو د سورلئ دپاره مسخر کړې دی چه تاسو د یو ښهر نه بل ښهر طرف ته چه د هغې طرف ته تاسو بغیر د مشقت نه نه شئ تلې په سهولت سره رسوی. ﴿ وجعل لكم الارض فعليها فاقضوا حاجتكم ﴾ او د مزل او سفر نه علاوه د نورو کارونو دپاره الله پاک ستاسو دپاره زمکه جوړه کړې ده په دې باندې هغه کار کوئ.

په اصل کښې د شارع ﷺ مقصد دا دې ﴿ اعطاء كل ذى حق حقه ﴾ او دا چه د هر یو څیز استعمال د هغې د وضع او حال مناسب وی، د نعمت صحیح استعمال هم د دې قدردانی او د دې شکر دې، سبحان الله! زمونږ د شریعت څه غوره تعلیمات دی.

په دې حدیث کښې لفظ ﴿ ایای ﴾ راغلې دې دا د تحذیر د قبیل نه دې، مشهور خو په تحذیر کښې دا دې چه هغه ېّ ضمیر د مخاطب سره وی لکه ﴿ اياك والاسد ﴾، هم دغه شان دلته هم په بعض نسخو کښې د ﴿ ایای ﴾ په ځائې ﴿ اياكم ان تتخذوا ﴾ دې.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۴۵۹) (صحيح)

بهرحال د دې حديث نه معلومه شوه چه تحذير په ضمير د متكلم هم صحيح دې اګر چه قليل دې، او بعض په دې باندې د شذوذ حكم لګولې دې.

باب في الجنائب

صرف د زيب او زينت دپاره د اوښانو ساتلو بيان

جنائب جمع د جنيبة ده او جنيبة په معنى د مجنوبة ده، كوم چه د جنب نه ماخوذ دې په معنى د اړخ، كوم څيز چه انسان په خپل اړخ كښې او ځان سره ساتى هغې ته به مجنوب وئيلې شى، لكه چه د حماسه په دې شعر كښې دى.

جناب سعيد بن ابى هند به فرمائيل: زما دا خيال دې چه د شيطان په كور كښې هم دا كتې او كيجاوې دى كوم چه خلقو په ريښمى كپړو كښې اينغښتلې دى.

هواى مع الركب اليمانين مصعد جنيب وجثمانى بمكة موثق

(ترجمه: زما محبوب د يمنى شهسوارانو سره په لرې سفر باندې روان دې او هغه مجنوب دې يعنى خلق په هغه پسې شاته روان دى او زما بدن په مكه مكرمه كښې مقيد دې.

د كوم جنيبه ذكر چه په ترجمة الباب كښې دې هغې ته كوتل وائى، كوتل اس يا بله سورلى (يعنى د نمائش او زينت دپاره ساتلې شوې اس يا سورلى).

[٢٥٦٨] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي يَحْيَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَكُونُ إِبِلٌ لِلشَّيَاطِينِ وَبُيُوتٌ لِلشَّيَاطِينِ، فَأَمَّا إِبِلُ الشَّيَاطِينِ فَقَدْ رَأَيْتُهَا يَخْرُجُ أَحَدُكُمْ بِجُنَيْبَاتٍ مَعَهُ قَدْ أَسْمَنَهَا فَلَا يَعْلُو بَعِيرًا مِنْهَا، وَيَمُرُّ بِأَخِيهِ قَدِ انْقَطَعَ بِهِ فَلَا يَحْمِلُهُ، وَأَمَّا بُيُوتُ الشَّيَاطِينِ فَلَمْ أَرَهَا"، كَانَ سَعِيدٌ يَقُولُ: لَا أُرَاهَا إِلَّا هَذِهِ الْأَقْفَاصَ الَّتِي يَسْتُرُ النَّاسُ بِالدِّيبَاجِ.

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى: بعضې اوښان داسې دې چه هغه دشيطانانوې اوبعضې كورونه داسې وى چه هغه د شيطانانوې، پس كوم اوښان چه د شيطانانودې هغه ليدلى دى چه په تاسو كښې څوك دزينت دپاره دځان سره اوښان ګرځوې اوخاربه كړې ئې وې او په دې اوښانوباندې سورلې نه كوې، اوكه چرې په لاره كښې خپل يو مسلمان ورور اووينې چه دتلونه عاجزه شوې وې ليكن دوى هغه نه سور وې اومادشيطانانو كورونه هم اوليدل، سعيد وائى چه زه خودشيطانانو كورونه هم ددغه اوښانو كجاوته وايم كوموته چه دريښمو پردې اويزان دې.

شرح حديث

سيدنا ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به د پيشنګوئى په طور فرمائيل چه يوه زمانه به راشى چه په هغې كښې به څه اوښان (د سورلۍ اوښان) به د شياطينو دپاره وى او څه كورونه (هم) به داسې وى كوم چه به د شيطانانو دپاره وى، اوس وړاندې راوى حديث ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چه په هغې كښې چه په دې دواړو كښې اولنې څيز خو ما اوليدو، يعنى ابل الشياطين لره، بيا وړاندې وضاحت فرمائى چه په تاسو كښې يو تن د كور نه اوځى چرته د تلو دپاره څو څو سورلۍ خپل ځان سره بوځى كومې چه ئې ښه څربې او خوشحاله ساتلې

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٣٧٨) (ضعيف)

دی، پس نه سوريږی په هغې کښې په څه باندې او تيريږی د خپل زور په خوا کښې چه د هغه حال دا دې چه د هغه نه مزل نه کيږی د خپلو ملګرو نه منقطع شوې دې (د سورلئ نه کيدو وجې نه) خو هغه دا د جنيباتو خاوند په خپله يوه سورلئ باندې نه سوروی.

په حديث کښې د دې جنيباتو د مذمت دپاره د شيطان سورلئ وئيلې شوې دې، ځکه چه دا سورلئ هغه سړې ځان سره د فخر او رياکارئ دپاره بوځی، او د خپل رياست ښودلو دپاره ئې د ځان سره ساتی، او ظاهره ده چه دا شيطانی حرکت دې په دې وجه ئې دې ته ﴿ للشياطين ﴾ وئيلې دې، او بله خبره دا ده چه هر کله د هغې مالک په هغې باندې يو معذور انسان هم نه سوروی نو هم دا به وئيلې شی چه هغه دا د شيطان دپاره ساتلې دې.

﴿ واما بيوت الشياطين فلم ارها ﴾ سيدنا ابوهريره رضی الله عنه فرمائی چه دويمه نخښه يعنی بيوت الشياطين ما تر اوسه پورې نه دی ليدلی، کيدې شی چه وړاندې په يوه زمانه کښې بيا موندلې شی، په دې باندې د ابوهريره رضی الله عنه شاګرد سعيد بن ابی هند رحمه الله فرمائی چه زمونږ استاذ خو هغه نه وو ليدلې (خو ما اوليدل) بيا وړاندې خپل خيال ظاهروی چه زه ګمان نه کوم د شياطين د کورونو مګر په هغه ښکلې پنجرو کوم چه په پرده باندې پټ ساتلې شی، يعنی ريښمی ځادرې په هغې باندې اچولې شی او هغه ډولی کولې شی، په دې سره اشاره د مالدارانو او رئيس خلقو د هغه سورلو طرف ته ده کوم چه انتهائی ډولی کولې شی.

باب في سرعة السير والنهي عن التعريس في الطريق

د تيز رفتار کولو او په لاره کښې دشپې تيرولو نه دمنع بيان

[٢٥٦٩] (¹) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَقَّهَا، وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْجَدْبِ، فَأَسْرِعُوا السَّيْرَ فَإِذَا أَرَدْتُمُ التَّعْرِيسَ، فَتَنَكَّبُوا عَنِ الطَّرِيقِ".

ترجمه: د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی: کله چه تاسو دفراخئ په وخت کښې سفر کوئ نو اوښانوته خپل حق ورکړئ او کله چه دقهط په ورځو کښې سفر کوئ نو په تيزئ سره ځئ او کله چه چرته شپه تير وئ نو دلارې نه بچ کيږئ.

تشريح: ﴿ خصب ﴾ يعنی د ګيا او شينکو زيات کثرت او ډير والې ﴿ جدب ﴾ د دې په مقابل کښې چه کوم وړاندې حديث راروان دې يعنی د باران د نه کيدو د وجې نه خشک سالی، مطلب دا دې چه خلقو له پکار دی چه کله د ګيا په زمانه کښې سفر کوی نو هغه سورلئ ته دې د ګيا نه د منتفع کيدو موقع ورکړی، په هر يو منزل باندې دې نزول کوی، هلته دې لږ ساعت ايسار شی او هغه سورلئ ته دې د ګيا خوړلو موقع ورکړی، پس په وړاندې روايت کښې دی ﴿ ولا تعدوا المنازل ﴾ يعنی په منزلو باندې تيريدو سره لاړ نه شئ، بلکه هلته دمه کوئ، او د دې په خلاف چه کله د خشک سالئ په موسم کښې سفر کوئ نو سفر لره زر د ختمولو کوشش کوئ بغير د ضرورت نه په لاره کښې مه ايساريږئ د دې دپاره

---

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٦٢٦)، وقد اخرجه: صحيح مسلم/الإمارة ٥٤ (١٩٢٦)، سنن الترمذي/الأدب ٧٥ (٢٨٥٨)، مسند احمد (٢/٣٣٧) (صحيح)

چه زر منزل مقصود ته اورسيږئ، د دې نه پس د يو عام قاعدې خبره بيانوي چه کله په منزل باندې کوز شو نو د خلقو د لارې نه لرې جدا، چه تيريدونکو د تيريدو وخت تکليف نه وي.
والحديث اخرجه مسلم والنسائي والترمذی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الدُّلْجَةِ(١)

په تياره کښې د سفرکولو بيان

[٢٥٧٠](٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هِشَامٌ، عَنْ الْحَسَنِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا قَالَ، بَعْدَ قَوْلِهِ: "حَقَّهَا وَلَا تَعْدُوا الْمَنَازِلَ.

ترجمه: دجابر بن عبد الله رضي الله عنه نه دتير روايت په شان روايت منقول دې مګر ددې اضافي سره چه نبي عليه السلام د حقها دلفظ نه وروسته ولا تعدو المنازل اوفر مائيل يعنى تاسو دخپل منزل نه مخکښې مه ځئ (ددې دپاره چه دسورلي ځاروو ته تکليف اونه رسيږي).

[٢٥٧١](٣) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ، عَنْ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوَى بِاللَّيْلِ".

ترجمه: د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلی دی: لازم دي په تاسو باندې سفرکول دشپې په تياره کښې ځکه چه زمکه دشپې رانغښتلې کيږي.

شرح حديث

﴿ دلجة ﴾ يعنى شپه تيرول دا اسم مصدر دې ﴿ ادلاج ﴾ نه، (بسكون الدال ﴾ چه د هغې معنى د شپې په ابتداء کښې تلل، او يو دې ﴿ ادلاج ﴾ (تشديد دال سره) يعنى د شپې په اخره کښې تلل، او د ادلاج معنى د مطلق سير فى الليل هم راځى، او په ظاهره کښې په حديث کښې هم دا مراد دې، مطلب دا دې چه مسافر له پکار دی چه په سفر پوره کولو کښې صرف د ورځې په تلو کښې اکتفاء اونکړی بلکه د شپې هم تلل پکار دی ځکه چه د شپې سفر په سهولت سره او زر پوره کيږی ﴿ فان الارض تطوى بالليل ﴾ پس مشهوره ده چه په عربو کښې په اوښانو باندې د سورو قافلې د شپې مزل کوی او بيا د شپې په اخر کښې د ارام کولو دپاره يو منزل باندی کوزيږی کوم ته چه تعريس وئيلې شی.

بَابُ رَبِّ الدَّابَّةِ أَحَقُّ بِصَدْرِهَا

د ځاروی مالک په هغې باندې د مخکښې کيناستلو حقدار دې

د سورلۍ مالک په صدر الدابة يعنى د سورلۍ په وړاندې حصه باندې د کيناستلو زيات مستحق دې، لهذا بل سړی له په هغه پسې شاته کيناستل پکار دی او غير مالک دې د هغه رديف وی، خو که د مالک دابه خواهش وی چه هغه بل سړې دې وړاندې کينی نو دا امر اخر

---

١) دا باب دکتاب په حاشيه کښې د يوې نسخې په حواله سره موجود دې (مترجم)
٢): سنن ابن ماجه/الأدب ٤٧ (٣٧٧٢)، سنن النسائي/اليوم والليلة (٩٥٥) (تحفة الأشراف: ٢٢١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٠٥، ٣٨١) (صحيح)
٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٢٩) (صحيح)

دي، نو بيا په وړاندې کيناستلو کښې هيڅ باک نشته، لکه چه په حديث الباب کښې دي.

[٢٥٧٢](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي بُرَيْدَةَ يَقُولُ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي جَاءَ رَجُلٌ وَمَعَهُ حِمَارٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ارْكَبْ وَتَأَخَّرَ الرَّجُلُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا أَنْتَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ مِنِّي إِلَّا أَنْ تَجْعَلَهُ لِي"، قَالَ: فَإِنِّي قَدْ جَعَلْتُهُ لَكَ فَرَكِبَ.

ترجمه: دبريده رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام روان وو اويوكس ورته راغي اوخر ورسره وو عرض ئي اوکړو اې دالله رسوله سورشه او هغه کس شاته شونبي عليه السلام اوفرمائيل مه روستوکيږه زما په نسبت ته پخپله سورلي باندې دمخکښې کيناستو زيات حقدار ئي مگر که چرې دا ته ماته راکړې نوبيا خيردې نو هغه اووئيل دامې تاته درکړو نبي عليه السلام ورباندې شورشو (يعنى مخکښې).

تشريح: ددې حديث په سند کښې دی ﴿حدثني عبدالله بن بريدة قال سمعت بريدة﴾ "عبدالله بن بريده وائی چه ما واوريدل د خپل پلار يعنى بريده نه، دا بريده بدل واقع شوې دې د ﴿ابی﴾ نه، لهذا د ﴿ابی﴾ ياء د متکلم دپاره ده، دا دې کنيت او نه ګڼړلې شی، که دا کنيت وې نو بيا به داسې وې "سمعت ابا بريدة" كما هو ظاهر، وحديث الباب رواه الترمذی ايضا قاله المنذری.

بَابٌ فِي الدَّابَّةِ تُعَرْقَبُ فِي الْحَرْبِ

باب: په جنګ کښې د سورلئ د خپو پرېکولو بيان

د ترجمة الباب شرح

يعنی دا باب دې د هغه سورلئ په بيان چه د هغې عراقيب پرې کړې شی په جنګ کښې "عراقيب جمع ده عرقوب" ده د خپو د ګيټو د لاندې چه کومه پټهه وی هغې ته وئيلې شی، بعض وخت چه کله غازی د خلورو وارو طرفونو نه ګيرشی او هغه سره د خپلې جدايئ خطره پيدا شی نو هغه دا سوچ کوی چه زما نه روستو هسې نه چه زما دا سورلی د دشمن په کار رانشی نو هغه په خپل لاس باندې خپله سورلی ختمه کړی، د هغې خپې پرې کړی، امام بخاری رحمه الله هم دا قسم ترجمه قائم کړې ده ﴿باب من لم ير كسر السلاح وعقر الدواب﴾ امام بخاری رحمه الله خو د دې د نفی طرف ته اشاره فرمائيلې ده، حافظ فرمائی چه امام بخاری رحمه الله اشاره کوی دې خبرې طرف ته چه په بعض موقعو باندې صحابه کرامو داسې کړې دی خو اصل په دې کښې عدم جواز دې "لانه يفعل امرا محققا لامر غير محقق" يعنی په دې کښې ضرر محقق لره اختيارول دی د ضرر غير محقق نه د بچ کيدو دپاره. لهذا دا څه ډيره د پوهې خبره نه ده، او امام ابوداؤد هم د حديث الباب د ذکر کولو نه پس فرمائيلې دی لکه چه په بعض نسخو کښې دی، ﴿وقد جاء فيه نهی كثير عن اصحاب النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾ د بعض صحابه کرامو نه چه داسې شوې دی هغه په حديث الباب کښې دی.

(١): سنن الترمذي/الأدب ٢٥ (٢٧٧٣)، (تحفة الأشراف ١٩٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٥٣) (حسن صحيح)

[۲۵۷۳]()حَدَّثَنَا عَبْدُاللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ أَبُو دَاوُد وَهُوَ يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ، حَدَّثَنِي أَبِي الَّذِي أَرْضَعَنِي وَهُوَ أَحَدُ بَنِي مُرَّةَ بْنِ عَوْفٍ، وَكَانَ فِي تِلْكَ الْغَزَاةِ غَزَاةِ مُؤْتَةَ قَالَ: وَاللهِ لَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى جَعْفَرٍ حِينَ اقْتَحَمَ عَنْ فَرَسٍ لَهُ شَقْرَاءَ فَعَقَرَهَا ثُمَّ قَاتَلَ الْقَوْمَ حَتَّى قُتِلَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه: د يحي بن عبادنه روايت دي فرمائی چه ماته زما رضاعي پلار دچاچه دبنومره بن عوفت سره تعلق وو روايت بيان کړي دي فرمائيل ئي چه زه په غزوه موته (په شام کښې ديو ځائي نوم دي کښې شريك وم، دې وائی قسم په الله لکه چه اوس زه جعفر وينم چه هغه دخپل سور اس نه راټوپ کړل اوزخمي ئي کړو اوبياتردي اوجنګيدو چه شهيد کړې شو. ابوداود وائی چه داحديث قوی نه دې.

شرح حديث

عباد بن عبدالله بن زبير فرمائی چه ماته زما رضاعی پلار بيان اوکړو کوم چه په غزوه موته کښې شريک وو هغه د خپلو سترګو ليدلو واقعه بيانوی ﴿ والله لكانی انظر الی جعفر حين اقتحم عن فرس له شقراء فعقرها الخ ﴾ يعنی قسم په الله پاک داسې معلوميږی چه ګويا زه دې وخت کښې ګورم هغه منظر لره چه جعفر بن ابی طالب په دې غزوه کښې د خپل اس نه لاندې راکوز شو کوم چه اشقر وو او د راکوزيدو سره ئې د هغه خپې پرې کړې او بيا ئې د دشمن سره قتال اوکړو تردې چه شهيد شو.

غزوه موته مشهوره غزوه ده چه په هغې کښې د درې اميرانو نه يو امير سيدنا جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه هم وو چا چه داسې اوکړل کوم چه دلته ذکر شوې دې کوم چه د حديث الباب د ترجمې مطابق دې، خو امام ابوداؤد فرمائی ﴿ هذا الحديث ليس بالقوی ﴾ او د مصنف يوه جمله د دې نه مخکښې مونږ ليکلې ده، حضرت په بذل کښې ليکلې دی، وجه د ضعيف فهم کښې رانغله چه څه ده الی اخر ما ذکر، شيخ احمد شاکر هم په خپل تعليق کښې هم دا وئيلې دی چه حديث د خپل سند په لحاظ سره صحيح دې هيڅ علت پکښې نشته، زما فهم کښې دا راغلې ده چه د مصنف په دې حديث باندې نقد په اعتبار د سند او ثبوت نه دې، سنداً خو اګر چه صحيح دې، غالبان مصنف دا وئيل غواړی چه من حيث الحكم والعمل، دا حديث غير قوی دې، پس د دې نه پس بعض نسخو کښې داسې دی : وقد جاء فيه نهی كثير عن اصحاب النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.... لکه چه حافظ چرته چه امام ترمذی رحمه الله فرمائی ﴿هذا حديث حسن صحيح ﴾ هلته فرمائی چه مراد د امام ترمذی دا دې چه دا حديث د سند په اعتبار سره حسن دې او په اعتبار د حکم سره صحيح دې. والله تعالى اعلم

د جمهورو د مسلک تائيد د يوې واقعې نه

هغه چه حافظ د جمهورو د مسلک په تائيد کښې فرمائيلې وو چه په داسې کولو کښې ضرر يقينی لره اختيارول دی صرف د ضرر محتمل نه د بچ کيدو دپاره، لهذا داسې نه دی

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۰۲) (حسن)

کول پکار، د دې تائید د هغه واقعې نه کیږي کومه چه په غزوة الغابه کښې راپیښه شوې ده کومه چه په ابوداود کښې هم وړاندې د یو باب په ضمن کښې راروانه ده، باب فی السریة ترد علیٰ اهل العسکر... په دې باب کښې مصنف غزوة الغابة والا حدیث هم ذکر کړې دې چه د هغې اخری مضمون دا دې، سلمه بن الاکوع فرمائی چه کله ما ته اخرم اسدی رضی الله عنه په طور د مدد راورسیدو نو په هغه کښې او عبدالرحمن بن عیینه مشرک کښې مقابله اوشوه نو اولا اخرم اسدی صحابی په عبدالرحمن باندې وار اوکړو خو د هغه نخښنه خطاء شوه، د هغه توره د عبدالرحمن په ښائې د هغه په اس باندې پریوتله چه د هغې نه عبدالرحمن بچ شو خو د هغه اس مړ کړې شو، بیا د هغې نه پس چه کله عبدالرحمن په هغه باندې وار اوکړو نو دهغه نخښنه برابر شوه چه په هغې سره اخرم شهید شو، او د هغه اس بچ شو چه په هغې باندې عبدالرحمن مشرک سور شو (اوس اوګورئ د دې واقعې نه خو د هغه صحابی تائید کیږي چا چه عقر الدابة کړې وه یعنی سیدنا جعفر) بیا دهغې نه روستو داسې اوشوه چه د سلمه بن اکوع د مدد دپاره یو بل صحابی راغلو ابو قتاده رضی الله عنه، دې ځل په ابو قتاده او عبدالرحمن کښې مقابله اوشوه خو دلته معامله برعکس شوه چه اول عبدالرحمن په ابو قتاده باندې وار اوکړو اودهغه نخښنه خطاء شوه چه په هغې سره د ابوقتاده سورلی هلاکه شوه او خپله بچ شو بیا د هغې نه روستو ابو قتاده حمله کولو سره عبدالرحمن لره ختم کړو خو د هغه اس بچ شو کوم چه د هغه سره د اخرم اسدی صحابی وو، اوس د ابو قتاده هغه اس پکار راغلو، د دې قصې د دې جزء نه د جمهورو تائید کیږي چه خپل اس په خپل لاس باندې قتل کول نه دی پکار ځکه چه ممکنه ده چه روستو د بل سړی په کار راشی.

بَابٌ فِي السَّبْقِ

د ځاروو په مسابقه کښې د شرط لګولو بیان

﴿ سبق ﴾ که په سکون د باء سره دې، نو بیا خو دا مصدر دې چه د هغې معنی مسابقت یعنی په اسونو کښې مقابله، او که ﴿ سبق ﴾ بفتح الباء دې نو د دې معنی هغه انعام کوم چه سابق ته ملاویږی.

[٢٥٧٤] ([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ أَبِي نَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا سَبَقَ إِلَّا فِي خُفٍّ أَوْ فِي حَافِرٍ أَوْ نَصْلٍ".

ترجمه: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی. په مقابله کښې نمبر اوړل جائز نه دی مګر د اوښ او د اس مخکښې کیدل اود ننبې ویشتل.

شرح حدیث

ځنګه چه اعداد للقتال والجهاد دپاره په حدیث کښې د رمی او رکوب ترغیب راغلې دې لکه چه تیر شو. الا ان القوة الرمی... الا ان القوة الرمی... هم دغه شان دا مسابقت چه د هغې ذکر په دې باب کښې دې هغه هم د دې قبیل او لائن څیز دې، لهذا کوم ځاروی چه په جهاد کښې د

[1]): سنن الترمذي/الجهاد ٢٢ (١٧٠٠)، سنن النسائي/ الخيل ١٣(٣٦١٥) (تحفة الأشراف: ١٤٦٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٧٤/٢) (صحيح)

سورلئ کار کوی لکه اوښ، اس او خچر، د هغوی ترمينځه په حديث کښې د مسابقت ثبوت دي، لکه چه په حديث الباب کښې مذکور دی ﴿ خف ﴾ سره اشاره د ﴿بعير ﴾ طرف ته ده او مراد ﴿ ذی خف ﴾ دي، هم دغه شان د حافر نه مراد ﴿ ذی حافر ﴾ لکه فرس وبغل په اصل کښې خف وئيلې شی د ځاروی داسې خپې ته چه په مينځ کښې څيزی وی لکه اوښ، ميښه، بيزه، او حافر هغه نوکې ته وئيلې شی کوم چه غير مشقوق وی لکه د اس، خچر او خر. وړاندې په حديث کښې يو بل لفظ راغلې دې ﴿ نصل ﴾ د دې نه مراد هم ﴿ ذی نصل ﴾ دې، نصل وئيلې شی تيره نوکه يعنی په غشی کښې چه وړاندې طرف ته کومه اوسپنه تيره وتلې وی، هم دغه شان د نيزې او تورې وړاندې تيره حصه، دې ته هم نصل وئيلې شی، ﴿نصل السهم، نصل الرمح، نصل السيف ﴾، يعنی په دې درې واړو څيزونو کښې هم مسابقت او مقابله کيدل پکار دی، د حديث مطلب دا دې چه کوم څيزونه په جهاد کښې پکار راتلونکی دی او الات جهاد دی په هغې کښې مسابقت مشروع او مرغوب فيه دې، د دې نه علاوه په نورو څيزونو کښې فعل عبث او لهو ولعب دې، په ځاروو کښې چه کوم په جهاد کښې په کار راتلونکی دی هغه دا دی بعير، فرس، بغل، حمار، علماء کرامو فيل هم په دې کښې شامل کړې دې، فانه انفع للقتال من الابل، او کوم څيزونه چه د جهاد د الاتو نه نه دی په هغې کښې مسابقت مشروع نه دې، فلا تجوز المسابقة فی الطيور مثل الحمام (کوتر بازی) كذا في اشعة اللمعات. (ص ٣۶۶ ج ٣) علماء کرامو ليکلې دی چه مسابقت رياضت محمودی دې کوم چه معين دې د مقاصد جهاد په حصول کښې، علامه باجی فرمائی، مسابقت بين الخيل مشروع دې ځکه چه په دې کښې د اسونو تدريب دې په منډه وهلو کښې او خپله د فارس هم تدريب دې ځکه چه په مسابقت کښې انسان په بل انسان باندې د غالب راتلو کوشش کوی چه د هغې د وجې نه محنت زيات کوی په خلاف د دې چه يو کار ځانله اوکړی. اهـ (اوجزج ٢ ص ۶)

په کومو کومو څيزونو کښې مسابقت جائز دې

په دې کښې د ائمه کرامو مذاهب بالتفصيل والتحقيق

مسابقت په کومو کومو څيزونو کښې جائز دې په دې باندې تفصيلی کلام او اختلاف ائمه په اوجز المسالک ص ٩٢ جلد ۴ کښې ذکر شوې دې، پس په اوجز کښې د امام شافعی او د امام مالک مسلک د حافظ نه دا نقل کړې دې چه د هغوی په نزد د دې جواز منحصر دې په خف او حافر او نصل کښې، او بعض علماء کرامو دا خاص کړې دې د خيل سره او امام عطاء جائز کړې دې په هر يو څيز کښې او په منهاج مع مغنی المحتاج ص ٣١٢ ج ۴ فی فقه الشافعيه کښې ليکلې دی، وتصح المسابقة علی خيل وكذا فيل وبغل وحمار فی االاظهر... او د دی په شرح کښې دی، تصح المسابقة عليها بعوض وغيره، هم دغه شان ئې په دی کښې د ابل اضافه هم کړې ده او د ماتن په دې باندې د سکوت اظهار کولو سره ئې تعجب هم کړې دې. او د حنابله مذهب شرح العمدة ص ٢۶٣ کښې دا ليکلې دی : ﴿تجوز المسابقة بغير جعل في

الأشياء كلها" الدواب والأقدام والسفن والمزاريق وغيرها، ولا تجوز بجعل الا في الخيل والابل والسهام لقول رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لا سبق الا في خف او في حافر او نصل ﴾ اهـ او هم دا مذهب د مالكيانو دي ففي الاوجز(ص ٩٢ ج٤) قال الدردير المسابقة بجعل جائزة في الخيل والابل والسهم، فجاز فيما عداها مجانا،، اود احنافو مذهب كما في الأوجز عن الدر المختار، جازت المسابقة بالفرس والابل والارجل والرمي، ولا يجوز في غير هذه الاربعة كالبغل بالجعل، واما بلا جعل فيجوز في كل شئ، وفي العيني ولا تجوز المسابقة في البغال والحمير، وبه قال الشافعي في قول، ومالک واحمد، وعن الشافعي في قول تجوز. خو پورته د حنابله مذهب خپله د هغوي د كتابونو نه دا تير شو چه د هغوي په نزد مسابقة في البغال والحمير بغير د جعل نه جائز دي، البته جعل سر جائز نه دي، او هم دغه شان د شوافعو اظهر القولين بغال او حمير كنبي مطلقا جواز بجعل وبلا جعل تير شوي دي، او مسابقت بالاقدام د احنافو په نزد بالجعل جائز دي، د امام شافعي هم يو قول هم دا دي، او قول منصوص د هغه دا دي چه جائز نه دي او هم دا رائي د امام مالک او امام احمد ده، كذا في الاوجز عن العيني، هم دغه شان په دي مقام باندي په شروع كنبي ليكلي دى چه د هغه اشياء مخصوصه نه علاوه د دشمن په مقابله كنبي چه كوم څيزونه معين وى په هغه ټولو كنبي مسابقت جائز دي په دوه شرطونو سره، يو دا چه بغير د جعل نه وى، دويم دا چه په دي سره مقصود په دشمن باندي حصول غلبه وى، او كه مقصود صرف فخر او رياء او ښودنه وى او په خپل ملگرى باندي غالب راتلل وى نو بيا غير مشروع او د اهل فسق په عادتونو كنبي دى.

تنبيه : زمونږ په دي زمانه كنبي يو بل قسم د مسابقت جارى دي كوم چه ورته واره ترقى كوى يعنى مسابقت في القراءة والتجويد، ځكه چه دا د ترغيب في تجويد القران يوه كاميابه طريقه او ذريعه ده خصوصا په موجوده دور كنبي حال دا چه د تجويد قران نه عام طور غفلت كولي شى وغيره وغيره فوائد او محاسن خو دا طريقه قابل غور ده اول خو په دي وجه چه په سلفو كنبي د تجويد دا طريقه نه وه، دويمه دا چه د احاديثو او كلام فقهاء نه د مسابقي جواز صرف په هغه څيزونو كنبي ثابت دي كوم چه په جهاد كنبي په كار راتلونكي دى كله چه هم په هغه نيت سره هغه اختيار كړي شى او د رياء او د فخر بوئى پكنبي رانشى، په اصل كنبي مسابقه مظنه د فخر او رياء ده او د دى نه علاوه دا هم ده چه كوم حضرات علماء او مفتيان د دي مسابقت په حق كنبي نه دى هغوى په دي طريقه كار كنبي چه كوم مفاسد او تعليمى ضررونو باندي رڼا اچولي ده هغه هم په خپل ځائي صحيح دى، والله اعلم بالصواب، والحديث رواه الترمذى والنسائى وابن ماجة، قاله المنذرى بزيادة.

[٢٥٧٥](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى

1. صحيح البخاري/الصلاة ٤١ (٤٢٠)، والجهاد ٥٦ (٢٨٦٨)، ٥٧ (٢٨٦٩)، ٥٨ (٢٨٧٠) والاعتصام ١٦ (٧٣٣٦)، صحيح مسلم/الإمارة ٢٥ (١٨٧٠)، سنن النسائي/الخيل ١٢ (٣٦١٤)، (تحفة الأشراف: ٨٣٤٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجهاد ٢٢ (١٦٩٩)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٤٤ (٢٨٧٧)، موطا امام مالك/الجهاد ١٩ (٤٥)، مسند احمد (٢/٥، ٥٥، ٥٦)، سنن الدارمي/الجهاد ٣٦ (٢٤٧٣) (صحيح)

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي قَدْ ضُمِّرَتْ مِنَ الْحَفْيَاءِ، وَكَانَ أَمَدُهَا ثَنِيَّةَ الْوَدَاعِ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضَمَّرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ، وَإِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ كَانَ مِمَّنْ سَابَقَ بِهَا.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام په مدينه کښې دحفياء مقام نه ترثنية الوداع پورې په تيارو شوو اسونوباندې شرط ولګولو، اوکوم اسونه چه نه وو تيارشوي ددوی دپاره ئې حد دثنية الوداع نه د بني زريق د مسجد پورې کړلوعبدالله بن عمر رضي الله عنه هم داسونو په دې مقابله کښې شريك وو.

شرح حديث

په دې حديث کښې د اضمار خيل ذکر دې، امام بخاري رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې، د مطلق مسابقت باب ئې جدا قائم کړې دې او د دې ئې ځانله باب "اضمار الخيل للسبق" حافظ ليکي چه په دې ترجمه کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه د مسابقت غوره طريقه دا ده چه د دې نه مخکښې اضمار خيل اوکړې شي اګر چه د خيل غير مضمر مسابقت هم ممنوع نه دې، اضمار اوتضمير اس لره د مضبوطولو او د هغه د وازګو ختمولو نوم دې، او هغه دا دې چه په شروع کښې په اس باندې ښه ګيا او دانه اوخوړلې شي تردې چه ښه قوي او مضبوط شي او بيا د هغې نه روستو په قلاره قلاره د هغه په ګيا کښې کمې اوکړې شي تردې چه په قوت لا يموت باندې اکتفاء اوکړې شي، او بيا هغه په يو وړوکی شان کور کښې اوساتلې شي او په هغه باندې ښه کپړې او ګرم څيزونه واچولې شي چه هغه پرې ګرم شي او خوله ئې اوځی، څه موده پس به هغه په دې سره نرې او تيز رفتار به شي.

د سيدنا ابن عمر رضي الله عنه په دې حديث کښې دا دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په خيل مضمر او غير مضمر دواړو قسم اسونو سره مسابقت کړې دې خو د دواړو په منتهاء مسافت کښې ئې فرق ساتلې دې، پس د خيل مضمر ميدان ئې د اسونو منډه کوم ته چه مضمار هم وئيلې شی د حفياء نه تر ثنية الوداع پورې کيخودلو چه د هغې مسافت شپږ ميله دې او د خيل غير مضمر ميدان ئې د ثنية الوداع نه د مسجد بنی رزيق پورې کيخودلو چه د هغې د مسافت مقدار صرف يو ميل دې.

مراهنه على المسابقة

حافظ ليکي چه په دې حديث کښې د نفس مسابقه ذکر خو شته خو د مراهنة على المسابقه ذکر نشته، د مراهنه نه مراد جعل او انعام مقرر کول دی کوم چه چا سره په طور د ګټنړې کيخودلې شي، سابق ته د ورکولو دپاره، او قسطلانی دا هم وائي بلکه په صحاح سته کښې په يو کتاب کښې هم د مراهنه ذکر نشته، البته امام ترمذي رحمه الله ترجمه قائم کړې ده "باب المراهنة على الخيل" کيدې شی چه د هغه اشاره د مسند احمد د روايت طرف ته وی چه په هغې کښې دا دی "عن نافع عن ابن عمر ان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سابق بين الخيل وراهن" د دې نه روستو حافظ د مراهنه تفصيل د جائز او ناجائز په اعتبار سره بيان کړې دې چه د هغې حاصل دا دې چه مسابقت بغير د عوض نه خو بالاتفاق جائز دې هم دغه شان (بعوض من احدالمتسابقين)، يعنی کوم عوض چه د دريم سړی د طرف نه وی، د امام يا بل

چا د طرف نه او هم دغه شان ﴿بعوض من غير المتسابقين﴾ هم جائز دي، او څلورم قسم دي بعوض من الجانبين، دا د جوارئ كيدو د وجې نه بالاجماع ناجائز دي، خو په يو صورت كښې جائزدي، يعنې ادخال محلل بين المتسابقين چه دهغې ذكربه په راروان باب كښې راشي.

[٢٥٧٦]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُضَمِّرُ الْخَيْلَ يُسَابِقُ بِهَا".

ترجمه: دابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دي چه نبي عليه السلام به اسونه دزغلولو دپاره تيارول.

[٢٥٧٧]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَبَّقَ بَيْنَ الْخَيْلِ وَفَضَّلَ الْقُرَّحَ فِي الْغَايَةِ".

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام داسونو مسابقه كړې وه او كوم اس چه په پنځم كال كښې داخل شوې وو دهغه دپاره ئې دحد اضافي فاصله مقرر كړې وه.

تشريح: ﴿سبق بين الخيل وفضل القرح فى الغاية﴾ ﴿قرح﴾ جمع د قارح دې هغه اس چه د څلورو كالو وى په پنځم كال كښې داخل شى، د حديث معنى دا ده چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په اسونو كښې مسابقت اوفرمائيلو او كوم اسونه چه قارح وو د هغوى د مسافت مقدار ئې زيات كيخودلو ځكه چه هغوى په منډه وهلو كښې ډير قوى وى، د دې نه معلومه شوه چه د څاروودحال رعايت كول پكاردى، په چاكښې چه څومره تحمل وى هغې ته دې اوكتلې شى.

بَابٌ فِي السَّبْقِ عَلَى الرِّجْلِ

په پيدل منډه كښې د مخكښې كيدلو بيان

يعنې مسابقه على الاقدام او پيدل منډه وهلو كښې مسابقت كول.

[٢٥٧٨]()حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ الْأَنْطَاكِيُّ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ يَعْنِي الْفَزَارِيَّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ قَالَتْ: فَسَابَقْتُهُ فَسَبَقْتُهُ عَلَى رِجْلَيَّ فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهُ فَسَبَقَنِي، فَقَالَ: هَذِهِ بِتِلْكَ السَّبْقَةِ.

ترجمه: دام المومنين عائشه رضی الله عنها نه روايت دي فرمائي چه زه دنبي عليه السلام سره په يوسفركښې وم اوداهم فرمائي چه ماورسره په منډه كښې مقابله اوكړه نوزه دهغه نه پخپلو خپو باندې مخكښې شوم نوهركله چه په غوښه درنه شوم نوبيا مې ورسره منډه كښې مقابله اوكړه خو داځل راڼه هغه مخكښې شو او وئې فرمائيل زمادامخكښې كيدل ستا دهغه مخكښې ځل مخكښې كيدلو په بدل كښې شو

تشريح: سيده عائشه رضی الله عنها فرمائي چه زه په يو سفر كښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره اوم، ما هغه سره په پيدل منډه وهلو كښې مقابله اوكړه نو زه ترې مخكښې شوم، بيا د څه مودې نه پس

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨١٢٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٦/٢) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٠٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦١/٢، ٩١، ١٥٧) (صحيح)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٧٣٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/النكاح ٥٠ (١٩٧٩)، مسند احمد (١٢٩/٦، ٢٨٠) (صحيح)

چه کله زما بدن د مخکښې په نسبت عتې شوې وو ما بیا د هغه ﷺ سره مقابله اوکړه نو دې ځل هغه مخکښې شو، ﴿ فقال هذه بتلک السبقة ﴾ یعنی بدله دې خلاصه شوه، حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی اوګورئ څومره اوچت اخلاق او د حسن معاشرت او بې تکلفئ اعلی انداز دې، نن صبا یو ملا داسې کولې شی، نن صبا خو ملیان ځان سره د وقار پنډ ګرځوی.
والحدیث أخرجه النسائی وابن ماجة قاله المنذری.

باب في المُحَلِّل

د دوه اسونو په مینځ کښې د بل اس د د ننه کولو بیان

[٢٥٧٩]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حُصَيْنُ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حُسَيْنٍ. ح وحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ بْنُ حُسَيْنٍ الْمَعْنَى، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ يَعْنِي وَهُوَ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يَسْبِقَ فَلَيْسَ بِقِمَارٍ، وَمَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ وَقَدْ أَمِنَ أَنْ يَسْبِقَ فَهُوَ قِمَارٌ".

ترجمه: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: څوك چه ددوه اسونو په مینځ کښې یو بل اس ورداخل کړي اوهغه اس داسې وی چه دهغه دمخکښې کیدو یقین نه وي بلکه دهغه شاته پاتې کیدو احتمال وي نو دا جواري نه ده، څوك چه ددوه اسونو په مینځ کښې یو بل اس ورداخل کړي اوهغه اس داسې وی چه دهغه دمخکښې کیدو یقین وي نو دا جواري ده.

شرح حدیث

یعنی کله چه متسابقین په مسابقت کښې یو ثالث لره شامل کړی او حال دا وی چه د هغه دریم مسبوق کیدل یا سابق کیدل یقینی نه وی بلکه دواړه احتمال لری نو بیا به دا معامله جواری نه وی، او که هغه دریم اس داسې داخل کړې شو چه د هغه مسبوق کیدل یا سابق کیدل یقینی وی نو دا معامله به صرف جواری وی (٢) یعنی په دې ادخال ثالث سره به هیڅ فائده نه وی بلکه د دې کیدل او نه کیدل به برابر وی، بلکه هغه ثالث د کفو او سیال وی د جانبین چه په هغې کښې سابق او مسبوق دواړو کیدو احتمال وی، د دې شرح نه دا هم معلومه شوه چه لفظ ﴿ ان یسبق ﴾ په دواړو ځایونو کښې معروف او مجهول دواړو طریقو سره لوستلې کیدې شی، د دې حدیث په بنیاد جمهور علماء او ائمه ثلاثه د عوض من الجانبین د جواز قائل شوې دی هم په دې وجه دې ثالث ته محلل وئیلې شی لکه چه د مصنف په ترجمة الباب کښې دی، خو د مالکیانو په نزد مسابقت بشرط العوض من

(١): سنن ابن ماجه/الجهاد ٤٤ (٢٨٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٣٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٠٥/٢) (ضعیف)

(٢) حضرت په بذل کښې لیکلې دی چه په کوم صورت کښې مسبوق کیدل یقینی وی نو په هغه صورت کښې خو به دا یقینی جواری وی ځکه چه په دې صورت کښې ثالث ﴿ کان لم یکن ﴾ دې او په کوم صورت کښې چه سابقت یقینی وی نو په هغه صورت کښې به قمار خو نه وی البته تعلیق د تملیک المال به علی خطر وی او دا هم ناجائز ده او په کوم صورت کښې چه ثالث کفو وی تعلیق التملیک علی خطر خو هلته هم موندلې شی خو دا د مصلحت دینیه د وجې نه قابل ناخوښه منلې شوې دې اهـ، بنه ځان پوهه شئ.

الجانبين په يو صورت کښې هم جائز نه دي، او د دي ادخال ثالث صورت علماء کرامو دا ليکلې دي چه په متسابقين کښې هر يو د عوض شرط اولګوی او دريم سړی لره په مينځ کښې اچولو د دې نه معاهده اوکړې شي چه که ستا اس سابق اوتلو ﴿ فالمالان لک ﴾ نو بيا به مونږ مقرر کړې انعام تاته درکوو، خو که ستا اس مسبوق شو نو بيا به ستا نه هيڅ هم نه شي اخستلې خو مونږ به دواړه په خپل شرط باندې يو. لهذا په مونږ کښې چه د چا اس سابق وی، بل به هغه ته انعام ورکوی په دې صورت کښې شرط من الجانبين جائز کيږی او دا معامله د جوازئ د صورت نه خارج کيږی.

د قمار تعريف

د قمار تعريف دا کړې شوې دې "هو استواء الجانبين في احتمال الغرامة" يعنی هغه معامله چه په هغې کښې د متعاقدين نه په هر يو باندې د ضمان راتلو امکان وی...... په دواړو کښې په يو باندې ضمان راتلل ضروری وی، أوس اوګورئ د محلل نه کيدو په صورت کښې به په ضمان متسابقين کښې په يو تن باندې ضرر راځي، يعنی صرف په يو باندې، او د ادخال محلل نه روستو يو شق داسې راوتلو چه په هغې کښې ضمان په هغه دواړو باندې دې صرف په يو باندې نه دې، د دې تشريح نه دا خبره معلومه شوه چه قمار د داسې قسم معاملې نوم دې چه په هغې کښې د جانبين نه ﴿ لا على التعين ﴾ د يو نفع د بل ضرر لره مستلزم وی يعنی چه د هغې يوه هم نفع وی هغه به په خپل ځان کښې د بل ضرر اخستلې وی، خومره د تکليف او خبيثه معامله ده د دې حرمت د شريعت په محاسنو کښې دې، زمونږ په شريعت کښې خو صرف محاسن دی، عبادت وی يا معاملات، خو خلق لالچ او د مال حرص، په طمع کښې د موهوم نفع خاطر په دې جوازئ کښې اخته کيږی، عصمنا الله تعالى وجميع المسلمين من المحرمات الشرعية، والحديث رواه ابن ماجة قاله المنذری.

[٢٥٨٠](١)حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ عَبَّادٍ وَمَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ مَعْمَرٌ، وَشُعَيْبٌ، وَعَقِيلٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ رِجَالٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ وَهَذَا أَصَحُّ عِنْدَنَا.

ترجمه: په دې سند سره هم د زهری نه د عباد والا په طريق سره ددې مفهوم حديث نقل دې، ابوداؤد وائی: دې لره معمر، شعيب او عقيل د زهری نه او زهری د اهل علم د يو جماعت نه روايت کړې دې او دا زمونږ په نزد زيات صحيح دې.

بَابٌ فِي الْجَلَبِ عَلَى الْخَيْلِ فِي السِّبَاقِ

په مسابقه کښې د اسونو مخې ته د ورتلو بيان

[٢٥٨١](٢)حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ جَمِيعًا، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣١١٨) (ضعيف)
[2]: حديث يحيى بن خلف، قد تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ١٠٨٠٠) وحديث مسدد، قد أخرجه: سنن الترمذي/النكاح ٢٩ (١١٢٣)، سنن النسائي/النكاح ٦٠ (٣٣٣٧)، الخيل ١٥ (٣٦٢٠)، سنن ابن ماجه/الفتن ٣ (٣٩٣٧)، مقتصراً علي قوله: من انتهب، (تحفة الأشراف: ١٠٧٩٣)، مسند احمد (٤٣٨/٤، ٤٣٩، ٤٤٣، ٤٤٥) (صحيح)

وَسَلَّمَ قَالَ: "لَاجَلَبَ وَلَاجَنَبَ، زَادَيَحْيَى فِي حَدِيثِهِ فِي الرِّهَانِ.

ترجمه: دعمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی په اسلام کښې نه جلب شته اونه جنب. اويحي په خپل روايت کښې د ﴿ فی الرهان ﴾ لفظ اضافه کړې ده.

تشريح: دا حديث په کتاب الزكاة کښې هم راغلې دې خو هلته ﴿ فی الرهان ﴾ قيد نه دې ذکر شوې، د دې پوره شرح مونږ په هغه ځائې کښې ليکلې ده، ﴿ فارجع اليه، حديث عمران اخرجه الترمذی والنسائی قاله المنذری ﴾

[٢٥٨٢]([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: الْجَلَبُ وَالْجَنَبُ فِي الرِّهَانِ.

ترجمه: دقتاده نه روايت دې فرمائي چه جلب اوجنب داسونو زغلولو په مقابله کښې وي.

بَابٌ فِي السَّيْفِ يُحَلَّى

د توري په موټي د سپينو زروخول دجوړولو بيان

[٢٥٨٣]([2]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِضَّةً.

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام د تورې د موټې خول دسپينو زرونه جوړ وو.

تشريح: د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تورې قبيعه د سپينو زرو وه، قبيعه وئيلې شی د توری موټې باندې د سپينو زرو يا د اوسپنې چه کومه غوټه وی، ﴿ قبيعة السيف ﴾ که د سپينو زرو وی نو دا جائز ده ﴿ ولا يجوز من الذهب كما فی الشامی ﴾، د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دی چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تورې په حليه کښې روايات مختلف دی لکه چه په جمع الوسائل کښې دی، په دې کښې يو روايت دذهب هم دې. والحديث اخرجه الترمذی والنسائی قاله المنذری.

[٢٥٨٤]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ، قَالَ: كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِضَّةً، قَالَ قَتَادَةُ: وَمَا عَلِمْتُ أَحَدًا تَابَعَهُ عَلَى ذَلِكَ.

ترجمه: دسعيد بن أبی الحسن نه روايت دې فرمائي چه دنبي عليه السلام د تورې د موټې خول دسپينو زرونه جوړ وو. قتاده وائي ماته معلومه نه ده چه چا دسعيد بن أبی الحسن مطابعت کړې وي په دې روايت کښې.

[٢٥٨٥]([4]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ أَبُو غَسَّانَ الْعَنْبَرِيُّ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَتْ فَذَكَرَ مِثْلَهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: أَقْوَى هَذِهِ الْأَحَادِيثِ حَدِيثُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ، وَالْبَاقِيَةُ ضِعَافٌ.

ترجمه: هم په دی سند سره دانس بن مالك رضي الله عنه نه دا مخکښې حديث روايت دې ابوداود

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٢١٧) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الجهاد ١٦ (١٦٩١)، والشمائل ١٣ (٩٩)، سنن النسائي/الزينة ٦٦ (٥٣٧٦)، (تحفة الأشراف: ١١٤٨، ١٨٦٨٨)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/السير ٢١ (٢٥٠١) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٤٦، ١٨٦٨٨) (صحيح)

[4]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٨٨) (صحيح) بما قبله

وائي په دې باب کښې قوي حديث د سعيد بن ابي الحسن دې او باقي ضعيف روايات دي.

باب في النبل يدخل به المسجد

جومات ته د غشو د داخلولو بيان

نبل په معنی د غشي ﴿لا واحد له من لفظه﴾ او وئيلې شوې دي چه دا د ﴿نبلة﴾ جمع ده، او د دې جمع انبال او نبلان هم راځي، او نابل او نبال صاحب نبل او صانع نبل ته وئيلې شي.

[٢٥٨٦]([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ: أَمَرَ رَجُلًا كَانَ يَتَصَدَّقُ بِالنَّبْلِ فِي الْمَسْجِدِ "أَنْ لَا يَمُرَّ بِهَا إِلَّا وَهُوَ آخِذٌ بِنُصُولِهَا".

ترجمه: جابر رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه روايت نقل کوي چه نبي عليه السلام يو کس ته حکم اوکړو چاچه په مسجد کښې غشي تقسيمول چه غشي به په جومات کښې په داسې طريقې سره ګرځوي چه د تيرو څوکونه به دې نيولې وي (احتياطا چه چاته ضرر اونه رسيږي).

تشريح: د حديث مضمون دا دې سيدنا جابر رضي الله عنه فرمائي چه يو ځل يو سړي په مسجد کښې په طور د تصدق غشي تقسيمول نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته حکم اوفرمائيلو چه د دې غشو سره دې په مسجد کښې داسې تير شي چه هغه ئې د څوکو نه نيولې وي، يعنې څوکه ئې خپل طرف ته اوساتي، ځکه چه که داسې اونشي نو د خلقو د خوږيدو ويره ده، يعنې غشي دې د څوکې د حصې نه اونيسي او روان دې شي، او دا مطلب نه دې چه څوکه دې اونيسي ځکه چه په دې کښې د نيونکي ضرر دې. والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذري

[٢٥٨٧]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا مَرَّ أَحَدُكُمْ فِي مَسْجِدِنَا أَوْ فِي سُوقِنَا وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ عَلَى نِصَالِهَا أَوْ قَالَ: فَلْيَقْبِضْ كَفَّهُ أَوْ قَالَ: فَلْيَقْبِضْ بِكَفِّهِ أَنْ يُصِيبَ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ".

ترجمه: د ابوموسى رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: څوک چه تيريږي زمونږه جومات سره يا زمونږه بازار سره او د هغه سره غشي وي نو د هغې سوکه دې په لاس کښې اونيسي، يا ئې اوفرمائيل په موټي کښې دې اونيسي، يا ئې اوفرمائيل هغه دې په موټي کښې مضبوطه اونيسي هسې نه چه څوک مسلمان پرې اولګي.

باب في النهي أن يتعاطى السيف مسلولا

د پرېنډې توري چاله د ورکولو د مما نعت بيان

[٢٥٨٨]([3]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى أَنْ يُتَعَاطَى السَّيْفُ مَسْلُولًا".

---

[1]: صحيح مسلم/البر ٣٤ (٢٦١٤)، (تحفة الأشراف: ٢٩١٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٦٦ (٤٥١)، والفتن ٧ (٧٠٧٣)، سنن النسائي/المساجد ٢ (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الصلاة ٦٧ (٤٥٢)، والفتن ٦ (٧٠٧٥)، صحيح مسلم/البر (٢٦١٥)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥١ (٣٧٧٨)، (تحفة الأشراف: ٩٠٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩١/٤، ٣٩٢، ٣٩٧، ٤١٠، ٤١٣) (صحيح)

[3]: سنن الترمذي/الفتن ٥ (٢١٦٣)، (تحفة الأشراف: ٢٦٩٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٠٠/٣، ٣٦١) (صحيح)

ترجمه: د جابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده دبربنډې تورې چالره دورکولو نه.

باب فِي النَّهْيِ أَنْ يُقَدَّ السَّيْرُ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ

باب: څرمن د دوه ګوتو په مینځ کښې ایخودلو سره کټ کول منع دی

[۲۵۸۹](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا قُرَيْشُ بْنُ أَنَسٍ، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى أَنْ يُقَدَّ السَّيْرُ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ".

ترجمه: د سمرة بن جندب رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام منع فرمائیلې ده ددوه ګوتویه مینځ کښې د چمړې دپریکولو نه.

شرح حدیث

سیر په معنی د څرمن چه د هغې جمع سیور هم راځی یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده د دې خبرې نه چه د څرمنې یوه ټکړه په داسې طریقه پرې کړې شی چه هغه د دوه دوه ګوتو په مینځ کښې وی، یعنی د څرمنې پرې کونکې یو سړی ته أوائی چه د کوم ځائې نه هغه څرمن پرې کول دی هغه په خپلو دواړو ګوتو سره زور کړی، او بیا هغه پرې کونکې په هغه څرمنه باندې خپله اله اوچلوی د دې دپاره چه هغه څرمن په سهولت سره پرې شی د هغې د زورلو په وجه سره، نو په دې حدیث کښې د دې نه منع کړې شوې ده، ځکه چه په دې صورت کښې کیدې شی چه څرمنې لره زورلو سره د هغه ګوته هم پرې شی.
سبحان الله! د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیمات څومره جامع دی چه د هر هر څیز ادب بیان کړې شوې دې، لکه چه په ابواب الاستنجاء کښې تیر شوې دی، ﴿لقد علمکم نبیکم کل شئ﴾ الحدیث.

باب فِي لُبْسِ الدُّرُوعِ

[۲۵۸۲] د ډیرو زغرو د اغوستو بیان

[۲۵۹۰](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: حَسِبْتُ أَنِّي سَمِعْتُ يَزِيدَ بْنَ خُصَيْفَةَ يَذْكُرُ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ رَجُلٍ قَدْ سَمَّاهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ظَاهَرَ يَوْمَ أُحُدٍ بَيْنَ دِرْعَيْنِ أَوْ لَبِسَ دِرْعَيْنِ".

ترجمه: سائب بن یزید دداسې یوکس نه روایت کړې دې چه ده دهغه نوم اخستې وو چه نبی علیه السلام دغزوه احد په ورځ دوه زغرې لاندې باندې اغوستې وې.

تشریح: او امام بخاری رحمه الله باب تړلې دې ﴿ باب لبس البیضة ﴾ په دې باندې په لامع کښې لیکلې دی یعنی د دې استعمال د توکل منافی نه دې، او هم دا خبره دلته په دې باب کښې حضرت په بذل کښې لیکلې ده، په حدیث الباب کښې دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په جنګ احد کښې نه صرف یو بلکه دوه زغرې اچولې وې په یوې دپاسه ئې بله اچولې وه، زغره یو قسم اوسپنه وی کومه چه د دشمن د ضرب نه د حفاظت دپاره اچولې شی، دا خو یوه هم اچول د بهادر انسان کار دې پاتې لا دا چه دوه واچولې شی، دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کمال بهادرئ

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٥٧٧) (ضعیف)
(۲): سنن ابن ماجه/الجهاد ١٨ (٢٨٠٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٤٩) (صحیح)

باندې دلالت کوی، او هم دغه شان په دې کښې کمال استعداد للجهاد هم دې چه که بالفرض یوه زغره د دشمن په ضرب سره پرې کړې شوه نو بله به ئې په کار راشی، ګویا د اخره پورې به مقابله کوی، سبحان الله! څه شان دې د انبیاء علیهم السلام، جزی الله سیدنا محمدا عنا ما هو اهله، والحدیث اخرجه الترمذی فی الشمائل (قاله الشیخ محمد عوامه)

باب فِي الرَّايَاتِ وَالْأَلْوِيَةِ

د بیرغ (جهنډې) او د علامې (نښې) کیفیت

﴿ رایات ﴾ جمع ده د ﴿ رایة ﴾ او ﴿ الویة ﴾ جمع د لواء ده په حدیث کښې دی ﴿ وبیدی لواء الحمد یوم القیامة ولا فخر ﴾

په رایه او لواء کښې فرق

په لواء او رایه کښې څه فرق دې په دې کښې مختلف اقوال دی بعض وائی چه ﴿ کلاهما واحد ﴾ او دا چه دې ته علم هم وئیلې شی، او وئیلې شوې دی چه نه، فرق دې، یو په دې کښې صغیر وی او بل کبیر، بیا په دې کښې هم اختلاف دې چه په دې کښې کوم یو صغیر وی او کوم کبیر؟ په دې کښې دواړه اقوال دی، او بعض وائی چه د دواړو په نوعیت کښې فرق دې، لواء خو دا وی چه د نیزې د لرګی په سر باندې یوه کپړه اوتړلې شی، دې ته لواء وئیلې شی، او رایه دې ته وئیلې شی چه د نیزې په لرګی کښې دننه یوه کپړه اوتړلې شی او هغه هم داسې زورنده پریخودلې شی د دې دپاره چه په هوا سره خوزیږی، هوا ګانې ئې خوزوی، په فتح الباری کښې دی چه په جهنډه کښې اصل دا ده چه هغه امیر الجیش سنبهال کړی او د هغه په لاس کښې وی، ثم صارت تحمل علی راسه. یعنی بیا داسې اوشو چه د امیر په ځائې د لښکر د امیر په لاس کښې یو سړې په دې باندې معین کړې شی کوم چه ئې د هغه امیر سره اوچتوی چرته چه هم امیر لاړ شی، او دې ته علم هم وئیلې شی ځکه چه هغه علامت وی د محل امیر، یعنی د کوم ځائې نه چه جهنډه په نظر راشی، دا علامت دې د دې چه د لښکر امیر هم هغه ځائې کښې دې

[۲۵۹۱] (1) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، أَخْبَرَنَا أَبُو يَعْقُوبَ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنِي يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ رَجُلٌ مِنْ ثَقِيفٍ مَوْلَى مُحَمَّدِ بْنِ الْقَاسِمِ، قَالَ: بَعَثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْقَاسِمِ إِلَى الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يَسْأَلُهُ عَنْ رَايَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا كَانَتْ، فَقَالَ: كَانَتْ سَوْدَاءَ مُرَبَّعَةً مِنْ نَمِرَةٍ.

ترجمه: یونس بن عبید وائی چه محمد بن قاسم زه براء بن عازب رضی الله عنه ته ولیږلم او د هغه نه ئې د نبی علیه السلام د جهنډې معلومات کول غوښتل چه هغه څنګه وه نو براء رضی الله عنه اووئیل څلور ګوټې توره لکیرداره دوړی وه

شرح حدیث

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جهنډې رنګ تور وو، یعنی غالب رنګ ئې تور وو هم په دې وجه باندې وړاندې راځی "من نمرة" یعنی د کربښو والا وړئ والا کپړه چه په هغې کښې تورې کربښې وې

(1): سنن الترمذي/الجهاد ۱۰ (۱۶۸۰)، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۷/۴) (صحيح)

او هغه چوکور وه، نمر وئیلې شی پړانګ ته د هغه د بدن څرمن چونکې کرښې کرښې وی په دې وجه کرښې والا کپړې ته نمره وئیلې شی او وړاندې په بل روایت کښې راروان دی.
﴿ کان لواءه یوم دخل مکة ابیض ﴾ او په دریم روایت کښې راځی چه هغه صفراء وه، حافظ په فتح الباری (ص ۱۴۷ ج ۲) کښې دا روایات مختلفه ذکر کولو نه پس لیکلې دی ﴿ ویجمع بینها باختلاف الاوقات، وحدیث البراء اخرجه الترمذی وابن ماجة، وحدیث جابر اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۵۹۲]([1])حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَرْوَزِيُّ وَهُوَ ابْنُ رَاهَوَيْهِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَمَّارٍ الدُّهْنِيِّ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ لِوَاؤُهُ يَوْمَ دَخَلَ مَكَّةَ أَبْيَضَ.

ترجمه: دجابر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام مکې ته داخل شو او د جهنډې رنګ ئې سپین وو.

[۲۵۹۳]([2])حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ الشَّعِيرِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ قَوْمِهِ، عَنْ آخَرَ مِنْهُمْ، قَالَ: رَأَيْتُ رَايَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفْرَاءَ.

ترجمه: سماك دخپل قوم دیو کس نه روایت کوی چه دنبی علیه السلام جهنډه مالیدلې وه او هغه زیړ رنګ والاوه.

بَابٌ فِي الِانْتِصَارِ بِرَذْلِ الْخَيْلِ وَالضَّعَفَةِ

د کمزورو او بې اسرې خلقو په ذریعه د مدد غوښتلو بیان

﴿ رذل ﴾ په معنی دردی، او د خیل اطلاق په اس باندې سور او په لښکر باندې هم کیږی د رذل الخیل نه مراد ضعیف او کمزوری خلق دی، د انتصار دوه معنی راځی، یو انتقام، دویم طلب نصرت، دلته دواړه کیدې شی، یعنی د کفارو نه انتقام اخستل او د هغوی سره مقابله کول د ضعفاء او غیر اقویاء په ذریعه، او په بل صورت کښې به ئې معنی دا وی چه د الله پاک نه نصرت طلب کول د کمزورو او ضعفاء په وسیلې سره، په لښکر کښې ټول بهادر نه وی په دې کښې هر قسم مجاهدین وی، شباب او قویاء هم، مشائخ او کمزوری هم، نو مطلب دا شو چه دا کمزوری او ضعیفان سپک نه دی ګڼړل پکار بلکه د دوی په وجه باندې د الله پاک مدد راځی.

[۲۵۹۴]([3])حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا ابْنُ جَابِرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْطَاةَ الْفَزَارِيِّ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ الْحَضْرَمِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "ابْغُونِي الضُّعَفَاءَ فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ وَتُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: زَيْدُ بْنُ أَرْطَاةَ أَخُو عَدِيِّ بْنِ أَرْطَاةَ.

---

[1]: سنن الترمذي/الجهاد ٩ (٢٨٦٦)، سنن النسائي/الحج ١٠٦ (٢٨٦٩)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٢٠ (٢٨١٧)، (تحفة الأشراف: ٢٨٨٩) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٧٠٣) (ضعيف)

[3]: سنن الترمذي/الجهاد ٢٤ (١٧٠٢)، سنن النسائي/الجهاد ٤٣ (٣١٨١)، (تحفة الأشراف: ١٠٩٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٨/٥) (صحيح)

ترجمه: د ابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې اوريدلي دي چه فرمائيل ئې ولټوئ ماله په قيامت کښې ضعيفان خلق ځکه چه رزق درکولې شي تاسو ته او ستاسو مدد کولی شي ستاسو دضعيفانو په وجه، ابوداود وائی زيد بن - ارطات دعدي بن ارطات ورور دې.

شرح حديث

رسول الله ﷺ فرمائی اې خلقو زما دپاره ضعيف او کمزوری قسم خلق اولټوئ، يعنی مونږ نه د دې ضرورت دې په جهاد کښې فتح او کاميابی دپاره، ځکه چه د الله پاک د طرف نه رزق او نصرت هم د دې په وجه باندې راکوزيږی، او د ترمذی د حديث الفاظ دا دی ﴿ ابغونی ضعفائکم ﴾ چه ما په خپلو ضعيفانو کښې اولټوئ يعنی که په ميدان جنګ کښې اتفاقی طور په خپل ځائې باندې ملاؤ نه شم نو ما د لښکر په کمزورو او ضعيفانو ملګرو کښې ګورئ، زه به هلته ملاويږم، په دې حديث باندې امام ترمذی رحمه الله ترجمه قائم کړې ده، "باب ما جاء في الاستفتاح بصعاليک المسلمين" يعنی د نادار او کمزوری مسلمانانو په ذريعه د الله پاک نه فتح طلب کول.

والحديث اخرجه الترمذی والنسائی.... وقد اخرج البخاری بنحوه قاله المنذری (ملخصا).

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُنَادِي بِالشِّعَارِ

په خاص علاموسره چاته دآوازکولوبيان

د ترجمة الباب تشريح

د شعار لغوی معنی خو علامت ده، او دلته يعنی په جهاد کښې د دې نه مراد هغه مخصوص اصطلاحی لفظ دې کوم چه د علامت په طور تجويز کولې شی چه په هغې سره فوج والا يو بل اوپيژنی، د دې زيات ضرورت د شپې په جنګ کښې پيښيږی، په دې وجه دې ته سرا الليل هم وئيلې شی، چونکه د شپې د تيرې د وجې نه په ښه طريقې سره پته نه لګی چه په چا باندې مونږ حمله کول غواړو هغه دشمن دې يا خپل سړې دې په دې موقع باندې دا لفظ په کار راځی، يعنی که يو مجاهد خپل سړې دشمن اوګڼړی او په هغه باندې حمله شروع کړی نو هغه ناځاپه دا لفظ استعمالوی چه د هغې نه معلومات کيږی چه دا خپل سړې دې په هغه باندې حمله نه دی کول پکار. دا لفظ کوم ته چه شعار وئيلې شی د هميشه دپاره متعين نه وی بلکه دا بدلولې شی هم په دې وجه باندې په يوه غزوه کښې يو لفظ راغلې وی او په بله کښې بل ... لکه چه د احاديث الباب نه معلوميږی

[٢٥٩٥] (١) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: كَانَ شِعَارُ الْمُهَاجِرِينَ عَبْدَ اللَّهِ، وَشِعَارُ الأَنْصَارِ عَبْدَ الرَّحْمَنِ.

ترجمه: دسمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه د مهاجرينو نښه عبدالله وه اودانصارو نښه عبد الرحمن وه.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٠١) (ضعيف)

[۲۵۹۶]([1])حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زَمَنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ شِعَارُنَا أَمِتْ أَمِتْ.

ترجمه: ایاس بن سلمه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه مونږ دابوبکر ﷛ سره جهاد ته تلي وو دنبی ﷺ په زمانه کښې اوزتونره علامه امت امت لفظ وو.

تشريح: ﴿ فكان شعارنا امت امت ﴾ يعنی په یوه غزوه کښې د صحابه کرامو شعار دا لفظ پاتې شوې دې يعنی چه کله یو مجاهد په بل مجاهد باندې غلطئ سره حمله کوی نو هغه ته ئې دا اوئیل چه ﴿ امت امت ﴾ يعنی دشمن مړ کړه ما ولې وژنې، او دا ضروری نه ده چه د شعار دې هم دا فائده وی بلکه د دې په متعین کولو کښې نور اغراض هم وی چه په هغې کښې د دې لفظ نه کار اخستلې شی، مثلا دا لفظ وئیلو سره بعض وخت دا بیانول دی چه زه ستاسو سرې دلته موجود یم، چه په هغې سره یو بل ته تقویت ملاویږی وغیره وغیره.([2]) والحديث رواه النسائی قاله المنذری.

[۲۵۹۷]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ الْمُهَلَّبِ بْنِ أَبِي صُفْرَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنْ بُيِّتُّمْ فَلْيَكُنْ شِعَارُكُمْ حم لَا يُنْصَرُونَ".

ترجمه: د مهلب بن ابی صفرة نه روایت دې فرمائی چه ماته خبر راکړې دې هغه چا، چاچه دنبی ﷺ نه اوریدلي دي چه فرمائيل ئې که چرې په تاسو باندې دشپې ددشمن دحملې خطره وي نوستاسو دپاره به نښه حم لاينصرون وي.

تشريح: ﴿ ان بيتم فليكن شعاركم حم لا ينصرون ﴾ رسول الله ﷺ یو جهاد ته د تلو په وخت لښکر ته اوفرمائيل چه که په تاسو باندې د شپې حمله اوکړې شی يعنی د شپې په وخت که د جنګ حالت راشی نو په دغه وخت ستاسو شعار ﴿ حم لا ينصرون ﴾ پکار دي، والحديث رواه الترمذی والنسائی، قاله المنذری.

---

[1]): سنن ابن ماجه/ الجهاد ٣٠ (٢٨٤٠)، (تحفة الأشراف: ٤٥١٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٦/٤)، سنن الدارمي/السير ١٥(٢٤٩٥)، ويأتي هذا الحديث برقم (٢٦٣٨) (حسن صحيح)

[2]) او په دې زمانه کښې خو ټول نقل وحرکت په دې باندې موقوف وی، مثلا مختلف دستې او د هغه دستو امراء او د هغوی خایونه د ټولو دپاره مختلف شعار ته (کوډ) متعین کولې شی او په فوجیانو کښې چه څوک چرته لیږل وی یا استعمالول وی هم د دې شعار په ذریعه هغه استعمالولې شی په دې زمانه کښې چه هر کله وائرلیس وغیره الات عام شوې دی دا ټول شعارات (کوډ) خپل او دشمنان د یو بل اوری خو د حقیقت د نه معلومیدو د وجې نه فریق مخالف په هغې باندې نه پوهیږی، د جواسپس (جاسوس) یو اهم کار په دې زمانه کښې د دې شعار مصادیق معلومول او د هغې لټون کول هم دی، په دې وجه عام فوجیانو ته هم عین په محاذ باندې ونیلې شی څکه چه په فتح او شکست کښې د شعار محفوظ ساتلو او د هغې افشاء کولو ته ډیر دخل دې. حبیب الله.

[3]): سنن الترمذي/الجهاد ١١ (١٦٨٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٦٧٩)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ السير (٨٨٦١)، اليوم والليلة (٦١٧)، مسند احمد (٦٥/٤، ٣٧٧/٥) (صحيح)

باب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا سَافَرَ

په سفر کښې کومه دعا غوښتل پکار دي؟

په دې باب کښې مصنف د سفر بعض دعاګانې جمع کړې دی لهذا هغه په کتاب کښې کتلو سره یادې کړئ.

[٢٥٩٨]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ، حَدَّثَنِي سَعِيدٌ الْمَقْبُرِيُّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ قَالَ: "اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ وَسُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ، اللَّهُمَّ اطْوِ لَنَا الْأَرْضَ وَهَوِّنْ عَلَيْنَا السَّفَرَ".

ترجمه: د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله به نبی علیه السلام په سفرتلو نو دادعابه ئې وئیله: - قال « «اللَّهُمَّ أنت الصاحب في السفر والخليفة في الأهل اللَّهُمَّ إني أعوذ بك من وعثاء السفر وكآبة المنقلب وسوء المنظر في الأهل والمال اللَّهُمَّ اطو لنا الأرض وهون علينا السفر» » اې الله ته زما دپاره په دې سفرکښې ملګرې ئې او زما د اهل او عيال دپاره محافظ ئې، اې الله زه په تا باندې ددې سفردشرنه پناه غواړم او په سختئ سره دواپسئ نه اودمال اودعيال دنظره کيدونه، اې الله مونږ ته زمکه راونغاړې اوپه مونږ سفر آسان کړه.

[٢٥٩٩]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَلِيًّا الْأَزْدِيَّ، أَخْبَرَهُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ عَلَّمَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ إِذَا اسْتَوَى عَلَى بَعِيرِهِ خَارِجًا إِلَى سَفَرٍ كَبَّرَ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ۝ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ ۝ سورة الزخرف آية ١٣-١٤، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا، اللَّهُمَّ اطْوِ لَنَا الْبُعْدَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ، وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيهِنَّ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجُيُوشُهُ إِذَا عَلَوْا الثَّنَايَا كَبَّرُوا وَإِذَا هَبَطُوا سَبَّحُوا فَوُضِعَتِ الصَّلَاةُ عَلَى ذَلِكَ.

ترجمه: علی ازدي دابن عمر رضی الله عنهما نه روايت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام به کله سفر شروع کولو او بس په شاه به کيناستو نو درې ځله به ئې تکبير ووئيلو او بيا به ئې دا دعاء وئيله: « «{ سبحان الذي سخر لنا هذا وما كنا له مقرنين * وإنا إلى ربنا لمنقلبون } اللَّهُمَّ إني أسألك في سفرنا هذا البر والتقوى ومن العمل ما ترضى اللَّهُمَّ هون علينا سفرنا هذا اللَّهُمَّ اطو لنا البعد اللَّهُمَّ أنت الصاحب في السفر والخليفة في الأهل والمال» » اوچه کله به واپس کيدو نوهم به ئې دا کلمات وئيل اودا کلمات به ئې پکښې زيات کړل: « «آيبون تائبون عابدون لربنا حامدون» » او نبی علیه السلام اودهغه لښکرې چه به کله په لوړ ځائې ختل نو الله اکبربه ئې وئيلواوچه کوزيدل به نوسبحان الله به ئې وئيلو ، اوبيامونځ هم په دې قاعده باندې بناء کړې شو.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٠٣٢)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ٧٥ (١٣٤٢)، سنن الترمذي/الدعوات ٤٢ (٣٤٣٨)، سنن النسائي/الاستعاذة ٤٣ (٥٥١٦)، مسند احمد (٢/٤٠١، ٤٣٣) (حسن صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الحج ٧٥ (١٣٤٢)، سنن الترمذي/الدعوات ٤٧ (٣٤٤٧)، (تحفة الأشراف: ٧٣٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٤٤، ١٥٠)، سنن الدارمي/الاستئذان ٤٢ (٢٧١٥) (صحيح)

تشریح: ﴿ فوضعت الصلاة علی ذلک ﴾ د حدیث مضمون دا دي چه رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب او جیوش سفر کښې دا معمول وو چه کله به هغوی لوړ ځائې ته ختل نو تکبیر به ئې وئیلو، او چه کله به د لوړې نه ښکته تلل نو تسبیح به ئې وئیلو یعنی ﴿ سبحان الله، سبحان الله ﴾ وئیلو سره به لاندې کوزیدل، د دې نه روستو راوی په پورته ذکر شوې جمله کښې دا وائی چه مونځ هم په دې نهج باندې کیخودلې شوې دې، پس د قیام په حالت کښې تکبیر وئیلې شی او په رکوع او سجود کښې کوم چه د پستئ حالت دې په دې کښې تسبیح وئیلی شی، سبحان ربی العظیم، سبحان ربی الاعلی، والحدیث رواه مسلم والترمذی والنسائی، واخر حدیثهم، "حامدون" قاله المنذری.

بَابٌ فِي الدُّعَاءِ عِنْدَ الْوَدَاعِ

دچا د رخصتولو په وخت کښې د دعا بیان

[۲۶۰۰](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ قَزَعَةَ، قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عُمَرَ: هَلُمَّ أُوَدِّعْكَ كَمَا وَدَّعَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ.

ترجمه: د قزعة نه روایت دې فرمائی چه ابن عمر رضی الله عنه راته ووئیل راشه چه رخصت دې کړم لکه څنګه چه نبی علیه السلام زه رخصت کړې وم زه ستادین اوستا امانت اوستاد کار انجام الله تعالی ته سپارم.

[۲۶۰۱](۲) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ السَّيْلَحِينِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ الْخَطْمِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ الْخَطْمِيِّ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَسْتَوْدِعَ الْجَيْشَ، قَالَ: "أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيمَ أَعْمَالِكُمْ".

ترجمه: عبدالله خطمی رضی الله عنه وائی چه نبی کریم ﷺ به کله د یو لښکر رخصتولو اراده کوله نو فرمائیل به ئې: «أستودع الله دینکم وأمانتکم وخواتیم أعمالکم» "زه ستاسو دین، ستاسو امانت او ستاسو انجام الله تعالی ته سپارم

تشریح: یعنی په سفر باندې د رخصت کولو دعا، په حدیث الباب کښې دا دعا ذکر شوې ده ﴿ استودع الله دینک وامانتک وخواتیم عملک ﴾ دا دعا خو هغه ده کوم چه مقیم په سفر باندې د تلونکی دپاره کوی او د دې په مقابل کښې به په سفر کښې تلو والا چه د مقیم دپاره کومه دعا کوی هغه دا ده ﴿ استودعک الله الذی لا تضیع ودایعه ﴾ دا دعا دلته په کتاب کښې ذکر شوې نه ده، په بل ځائې کښې ده، وحدیث الباب اخرجه النسائی، قاله المنذری.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۳۷۸)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الدعوات ٤٤ (۳٤٤۳)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۲٤ (۲۸۲٦)، مسند احمد (۲/۷، ۲۵، ۳۸، ۱۳٦) (صحیح)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹٦۷۳)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الیوم واللیلة (۵۰۷) (صحیح)

بَابُ مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا رَكِبَ

په سورلۍ باندې د سوريدو په وخت کښې د دعا بيان

[۲۶۰۲](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ، قَالَ: شَهِدْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَأُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا، فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ، ثُمَّ قَالَ: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ۝ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ ۝ سورة الزخرف آية ۱۳-۱۴، ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ قَالَ: "سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ"، ثُمَّ ضَحِكَ فَقِيلَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ؟ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ كَمَا فَعَلْتُ ثُمَّ ضَحِكَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ؟ قَالَ: إِنَّ رَبَّكَ يَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِي".

ترجمه: دعلی بن ابي ربيعه نه روايت دې فرمائي چه دعلی نه په خدمت کښې حاضرشوم اوهغه ته يوځاروې دخورلئ دپاره پيش کړې شو نوچه هرکله ئې خپه په رکاب کښې کېخوده نو وئې وئيل بسم الله هرکله چه دهغه په شاباندې کيناستو نووئې وئيل يعنی ثناده هغه ذات لره چاچه دا زما دپاره تابع کړو اوزه ددې قابوکونکې نه وم او مونږه الله پاك ته ورتلونکې يو اوبيائې درې ځله الحمدلله اووئيل اوبيائې الله اکبردرې ځله اووئيل اوبيائې دادعا اووئيله پاکي ده تالره اې ربه ماظلم کړې دې په خپل نفس باندې ماته بخنه اوکړې يقينا هيڅوك ګناهونه نه شي بخښلې مګر صرف ته، اوبيائې اوخندل تپوس ورنه اوشو چه اې اميرالمومنين په څه وجه دې اوخندل هغه اووئيل نبی عليه السلام مې ليدلې وو چه داسې ئې کړې وو لکه څنګه چه ما اوکړل اوبيائې اوخندل ماورته اووئيل اې دالله رسوله ولې دې اوخندل هغه اوفرمائيل چه الله تعالی په خپل بنده تعجب کوي کله چه هغه دګناهونو بخنه غواړي څکه چه دې په دې پوهيږي چه زمانه علاوه بل څوك ګناهونه نه شي بخلې.

تشريح: د سوريدو په وخت چه کومه دعا وئيلی شی هغه په کتاب کښې د سيدنا علی رضی الله عنه نه نقل ده هغه ياده کړئ، مشهوره دعا ده ﴿ سبحان الذی سخر لنا هذا وما كنا له مقرنين ﴾ الی اخر الحديث، وحديث الباب اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری.

بَابُ مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا نَزَلَ الْمَنْزِلَ

خپل منزل ته د رسيدو په وخت کښې د دعا بيان

[۲۶۰۳](٢)حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنِي صَفْوَانُ، حَدَّثَنِي شُرَيْحُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْوَلِيدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ فَأَقْبَلَ اللَّيْلُ قَالَ: "يَا أَرْضُ رَبِّي وَرَبُّكِ اللَّهُ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّكِ وَشَرِّ مَا فِيكِ وَشَرِّ مَا خُلِقَ فِيكِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَدِبُّ عَلَيْكِ، وَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ أَسَدٍ وَأَسْوَدَ وَمِنَ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَمِنْ سَاكِنِ الْبَلَدِ وَمِنْ وَالِدٍ وَمَا وَلَدَ".

[1]: سنن الترمذي/الدعوات ٤٧ (٣٤٤٦)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٤٨)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري / (٨٧٩٩)، اليوم والليلة (٥٠٢)، مسند احمد (١/٩٧، ١١٥، ١٢٨) (صحيح لغيره) (ملاحظه هو: صحيح ابي داود ٣٥٤٧/٧)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٧٢٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٣٢، ٣/١٢٤) (ضعيف)

ترجمه: د عبدالله بن عمر ﷠ نه روایت دې فرمائي چه نبي ﷺ به کله سفر کولو اوشپه به راغله نودا دعا به ئې وئيله اې زمکې زما رب او ستا رب الله دی زه پناه غواړم په الله باندې ستا دشر نه او دهغه شرنه کوم چه په تاکښې دې اودشر دهغه څيز نه چه پيداشوې دې په تاکښې اودشر دهغه څيز نه چه ګرځي په تاکښې او پناهي غواړم په الله باندې دليوه نه اودتور مار نه اودمار نه اودلړم نه او په زمکه داوسيدونکو د شر نه اودپيدا کونکودضرر نه اود پيدا کړې شوو دضرر نه.

شرح حديث

دا ټوله دعا ډيره مسجع ده لکه چه تاسو اوکتله او د رسول الله ﷺ اکثر دعاګانې مسجع دی، خو د رسول الله ﷺ دا تسجيع قصدا او تکلفا نه وه بلکه بغير د قصد او اختيار نه د هغه د کمال بلاغت او فصاحت په بناء باندې کوم چه الله پاک په هغه کښې وديعت کړې وو، ګينې په دعا کښې خو د سجع کولو نه هغه منع فرمائيلې ده. ﴿ اسود ﴾ وئيلې شي اژدها ته يعنې لوئې قسم مارته او حيه کوم چه په حديث کښې دې هغه مطلق مار او ﴿ساکني البلد ﴾ نه مراد ثقلين يعنې انس او جن دی، ﴿ لانهم يسکنون البلاد غالبا او لانهم بنوا البلدان واستوطنوها، او المراد بالبلد الارض کما قال الله تعالى والبلد الطيب يخرج نباته ﴾ او وړاندې په حديث کښې دی ﴿ من والد وما ولد ﴾ وئيلې شوې دی چه د دې نه مراد ادم ﷺ او د هغه اولاد دې، او يو احتمال دا ليکلې دې چه د والد نه مراد ابليس او د ﴿ وما ولد ﴾ نه نور شياطين مراد دی کوم چه د هغه د لاندې دی، والحديث رواه النسائي قاله المنذري.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ السَّيْرِ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ

د شپې په شروع کښې د سفر شروع کولو دممانعت بيان

[٢٦٠٤] ([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُرْسِلُوا فَوَاشِيَكُمْ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ، فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ تَعِيثُ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ الْعِشَاءِ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الْفَوَاشِي مَا يَفْشُو مِنْ كُلِّ شَيْءٍ.

ترجمه: د جابر ﷠ نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ فرمائيلي دی: مه خوشي کوئ څاروی خپل چه کله نمر په پريوتو شي ترڅو چه د ماسخوتن ابتدائي تياره نه وي خوره شوې ځکه چه شيطانان د نمر د ډوبيدو نه پس فساد خوروی تردې چه د ماسخوتن ابتدائي تياره خوره شي.

شرح حديث

فواشي هغه څاروو ته وئيلې شي کوم چه ښکاره ګرځي اوښان او بيزې وغيره، او ﴿ فحمه ﴾ وئيلې شي هغه تيرې ته کومه چه د ماښام او ماسخوتن ترمينځه وی، او کومه تياره چه د ماسخوتن او صبا ترمينځه وی هغې ته ﴿ عسعسه ﴾ وئيلې شي، ﴿ قال تعالى والليل اذا عسعس﴾ او د ﴿ عاث يعيث عيثا ﴾ معنى ده فساد کول، د حديث مطلب دا شو چه د ورځې د

[1]): صحيح مسلم/ الأشربة ١٢ (٢٠١٣)، مسند احمد (٣/١ ٠ ٣، ٣١٢، ٣٦٢، ٣٧٤، ٣٨٦، ٣٩٥)، (تحفة الأشراف: ٢٧٢٣) (صحيح)

پټيدو نه پس خپل څاروی ازاد مه پرېږدئ بلکه هغه ترلی ساتئ ترڅو پورې چه ﴿ فحمة العشاء ﴾ باقي پاتې وی، د دې غايت تقاضه دا ده چه د هغې نه روستو ئې بيا پرانستلې شی يعنی په اباديځ کښې او داسې ځائې کښې چرته چه خواته پټی او فصلونه نه وی ګينې د شپې به ئې هم ترل ضروری وی لکه چه په هغه حديث کښې دی کوم چه وړاندې په ابوداؤد کښې په خپل محل کښې راروان دی چه د پټی او باغ والو په ذمه دا خبره ده چه هغوی د خپل پټی او باغ حفاظت د ورځې خپله کوی او د شپې د څاروو په خاوندانو باندې ضروری ده چه هغه خپل څاروی د شپې ترلې ساتی، دا فيصله رسول الله ﷺ هغه وخت فرمائيلې وه چه کله يو پټی والا هغه ته شکايت کړې وو چه د فلانی سړی څاروو زما فصل خراب کړې ، پس د دې حديث په بنياد باندې د جمهورو علماء کرامو مذهب دا دې چه د کوم څاروی سره سائق نه وی او هغه د ورځې د چا نقصان اوکړی نو په دې صورت کښې ضمان نشته او که د شپې په وخت څاروی نقصان اوکړی نو په دې صورت کښې بيا د څاروی په مالک باندې ضمان شته، وهذا ما عندی ولم يتعرض له احد من الشراح.[1]

د دې نه پس تاسو ځان پوهه کړئ چه د مصنف د ترجمة الباب حاصل دا دې چه د شپې په شروع کښې د سفر ابتداء نه ده پکار او د هغې په دليل کښې دا حديث پيش کولې شی، حضرت په بذل کښې په دې باندې دا اشکال کړې دې، هذا الاستنباط بعيد، والحديث اخرجه مسلم، قاله المنذری.

بَابٌ فِي أَيِّ يَوْمٍ يُسْتَحَبُّ السَّفَرُ
د سفر شروع کول په کومه ورځ مستحب دی؟

[۲۶۰۵][2] حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ فِي سَفَرٍ إِلَّا يَوْمَ الْخَمِيسِ.

ترجمه: د کعب بن مالک رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه ډيرکم به د زيارت دورځې نه علاوه نبی عليه السلام په سفر وتلې وي

[1] دا حديث په صحيح مسلم ص ۱۷۱ ج ۲ کښې په دوه طريق سره په مختلف سياق سره راغلې دې کوم طريق چه په ابوداؤد کښې دې ﴿ ابو الزبير عن جابر ﴾ د هغې الفاظ دا دی ﴿ لا ترسلو فواشيکم وصبيانکم ﴾ په دې کښې د صبيان زيادت دې کوم چه په ابوداود کښې نشته، او بل طريق د عطاء عن جابر دې د هغې الفاظ دا دی ﴿ اذا کان جنح الليل او امسيتم لکفوا صبيانکم فان الشيطان ينتشر حينئذ فاذا ذهب ساعة من الليل فخلوهم ﴾ په دې طريق کښې صرف صبيانکم دې د فواشی په دې کښې ذکر نشته او بيا په دې کښې دا دی چه کله ﴿ فحمة العشاء ﴾ تير شی نو بيا هغه بهر وتلې شی، لهذا معلومه شوه چه د ابوداؤد په روايت کښې اختصار دې لهذا د مجموعه رواياتو د سياق په وجه باندې وئيلې کيدې شی چه ﴿ حتي تذهب فحمة العشاء ﴾ د دې غايت تعلق د صبيان سره دې د فواشی سره نه دې، وهذا تحقيق انيق يزول به الاشکال والخلجان

[2]: صحيح البخاري/الجهاد ۱۰۳ (۲۹۵۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۴۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۴۵۴، ۴۵۵، ۳۸۶۶، ۳۸۷، ۳۹۰) (صحيح)

تشریح: یعني اکثر او به رسول الله ﷺ د سفر ابتداء د زیارت په ورځ کولو خو همیشه نه، پس د حافظ ابن قیم د رائې مطابق هغه ﷺ د حجة الوداع سفر په یوم السبت کښې فرمائیلې وو، خو د ابن حزم تحقیق هم دا دې چه د هغه ﷺ دا سفر د زیارت په ورځ شوې وو. والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْابْتِكَارِ فِي السَّفَرِ

سحر وختی د سفر شروع کولو د فضیلت بیان

﴿ ابتکار ﴾ او ﴿ تبکیر د بکرة ﴾ نه دې، یعني سحر وختی څه کار کول، هم دغه شان یو کار د هغې په اول وخت کښې کولو ته هم وئیلې شي، اګر که د لږ وخت دپاره وی، خو په ترجمة الباب کښې اوله معنی مراد ده.

[۲۶۰۶](١)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ عَطَاءٍ، حَدَّثَنَا عُمَارَةُ بْنُ حَدِيدٍ، عَنْ صَخْرٍ الْغَامِدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اللَّهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا"، وَكَانَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً أَوْ جَيْشًا بَعَثَهُمْ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ، وَكَانَ صَخْرٌ رَجُلًا تَاجِرًا وَكَانَ يَبْعَثُ تِجَارَتَهُ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ فَأَثْرَى وَكَثُرَ مَالُهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ صَخْرُ بْنُ وَدَاعَةَ.

ترجمه: د صخر غامدي رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلي دی: اې الله برکت واچوي زما دامت دپاره ددوی دسحر په وخت کښې، راوی وائی چه کله به نبی علیه السلام یو لښکر لیږلو نو دورځې دشروع نه به ئې لیږلو، اوصخر یو کاروباری سړې وو خپل روزګار به ئې دورځې دسر نه شروع کولو نودې دولت مند شو او مال ئې زیات شو.

تشریح: ﴿ اللهم بارک لامتی فی بکورها الخ ﴾ "صخر بن وداعة الغامدی د رسول الله ﷺ نه نقل کوی چه هغه دا دعا اوفرمائیله چه په هغې کښې دا دی چه رسول الله ﷺ د الله پاک نه د خپل امت دپاره د سحر په وخت کښې برکت طلب کړو او وړاندې په روایت کښې دی چه د هغه معمول د جیوش او سرایا په باره کښې هم دا وو کوم چه به رسول الله ﷺ د ورځې په شروع کښې روانول، وړاندې په روایت کښې دی چه صخر غامدی یعنی د حدیث راوی یو سوداګر سړې وو، هغه به خپل د تجارت مال دورځې په شروع کښې لیږلو چه په هغې سره مالداره شو، د هغه په مال کښې ډیر برکت راغلو، والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يُسَافِرُ وَحْدَهُ

د یواځې سفر کولو د ممانعت بیان

[۲۶۰۷](٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَرْمَلَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الرَّاكِبُ شَيْطَانٌ وَالرَّاكِبَانِ شَيْطَانَانِ وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ".

---

[1]: سنن الترمذي/البیوع ٦ (١٢١٢)، سنن ابن ماجه/التجارات ٤١ (٢٢٣٦)، (تحفة الأشراف: ٤٨٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤١٦، ٤١٧، ٤٣٢، ٤/٣٨٤، ٣٩٠، ٣٩١)، دي/السیر ١(٢٤٧٩) (صحیح)

[2]: سنن الترمذي/الجهاد ٤ (١٦٧٤)، (تحفة الأشراف: ٨٧٤٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاستئذان ١٤ (٣٥)، مسند احمد (٢/١٨٦، ٢١٤) (حسن)

ترجمه: عمرو بن شعیب د خپل پلار نه اوهغه ده د نیکه نه روایت کوی فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی یوسور یو شیطان وي اودوه سواره دوه شیطانان وي اودرې سواره ډله ده

د ځانله سفر په باره کښې مختلف روایات او د هغې توجیه

د دې حدیث نه معلومه شوه چه صرف د یو یا دوه کسانو سفر کول ممنوع دې، او که د دوه نه زائد وی نو جائز دې، امام بخاری رحمه الله په دې سلسله کښې څو بابونه تړلې دی "باب السیر وحده" او "باب هل یبعث الطلیعة وحده" او په "باب السفر الاثنین" کښې هغه د مالک بن الحویرث حدیث ذکر اوفرمائیلو په کوم کښې چه د هغه او د هغه د ملګری سفر ذکر شوې دې چاته چه رسول الله ﷺ فرمائیلې وو ﴿ اذنا واقیما ولیؤکما اکبرکما ﴾ د دې باب د لاندې حافظ لیکی چه کیدې شی مصنف د دې حدیث تضعیف طرف ته شاره کړې وی چه د کوم تخریج اصحاب السنن کړې دې یعنی هم دا حدیث د ابوداؤد والا، خو حافظ فرمائی چه هغه حدیث قوی دې، بهرحال روایات په دې سلسله کښې مختلف دی جوازا ومنعا اوس یا خو دې داسې اوئیلې شی چه د منع روایات منسوخ دی په ابتداء باندې محمول دی، چه کله د کفارو غلبه وه، یا دا اوئیلې شی چه د منع روایات په عدم ضرورت باندې محمول دی یا د ویرې په حال باندې، لهذا د حاجت او ویرې نه کیدو په وخت باندې جائز دې، پس د جنګ مصلحت چه کوم دې چه د هغې په ضروریاتو کښې جاسوسی هم ده هلته په انفراد کښې هیڅ باک نشته بلکه هغه مصلحت صرف د انفراد نه حاصلیږی، هسې د منع روایت په بخاری کښې هم شته،﴿ لویعلم الناس ما فی الوحدة ما اعلم ما سار راکب بلیل وحده، اخرجه البخاری من حدیث ابن عمر مرفوعا فی باب السیروحده،وحدیث الباب اخرجه النسائی قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْقَوْمِ يُسَافِرُونَ يُؤَمِّرُونَ أَحَدَهُمْ

کله چه درې کسان یا زیات په سفر روان شی نو یو کس دې امیر کړی

[۲۶۰۸](١)حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرِ بْنِ بَرِّيٍّ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا خَرَجَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ".

ترجمه: د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کله چه درې کسان یازیات په سفر روان شی نویوکس دې امیر مقررکړي

تشریح: یعنی په سفر کښې که کم از کم د درې کسانو جماعت وی نو هغوی له پکار دی چه یو تن پکښې امیر کړی چه د سفر دوران د امورو په انتظام کښې سهولت راشی اختلاف نه پیدا کیږی، په دې حدیث کښې امر د استحباب دپاره دې، اصل کښې اختلاف پیدا کیږی د تکبر او لویئ نه، او کله چه دوه کسان دریم لره امیر جوړوی نو د دې بناء خو په تواضع باندې ده او د تواضع په صورت کښې اتفاق باقی پاتې کیږی.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٤٢٩) (حسن صحیح)

[٢٦٠٩] (١) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ"، قَالَ نَافِعٌ: فَقُلْنَا لِأَبِي سَلَمَةَ: فَأَنْتَ أَمِيرُنَا.

ترجمه: د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی: کله چه درې کسان یازیات په سفر روان شی نویوکس دې امیر مقررکړي. نافع رضي الله عنه وائی مونږه ابو سلمه رضي الله عنه ته اووئیل ته زمونږ امیر شوې.

بَابٌ فِي الْمُصْحَفِ يُسَافَرُ بِهِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ

دارحرب ته د قرآن کریم د وړلو بیان

انسان په سفر باندې د تلو په وخت د خپل ضرورت څیزونه ځان سره اخلی، مسواک، لوټه، مصلی وغیره، اوس ظاهره ده چه د قران کریم د تلاوت دپاره د مصحف ضرورت دې نو ایا د جهاد په سفر کښې به انسان د ځان سره مصحف اوړی یا نه؟ په حدیث الباب کښې د دې نه منع راغلې ده.

[٢٦١٠] (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ"، قَالَ مَالِكٌ: أُرَاهُ مَخَافَةَ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ.

ترجمه: عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی عليه السلام منع فرمائیلې ده دقرآن پاک دوړلونه د دشمن ملك ته. مالك وائی منع ئې ځکه فرمائیلی ده چه چرته داسې اونه شی چه دشمن دقرآن بې عزتي اوکړی.

تشریح: امام مالک رحمه الله کوم چه د حدیث راوی دې هغه فرمائی چه دا ممانعت د دې دپاره دې چه چرته دشمن ئې بې حرمتی اونکړی، پس د امام مالک مسلک هم دا دې، د هغوی په نزد دا نهی مطلقا ده، او د احنافو مذهب دا دې چه چه عسکر صغیر کښې اوړل خو خلاف احتیاط او مکروه دی او که د مسلمانانو لوئې لښکر وی نو هیڅ باک نشته، د امام شافعی رحمه الله په نزد د دې بنیاد د ضیاع په ویره باندې دې، والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

بَابٌ فِيمَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الْجُيُوشِ وَالرُّفَقَاءِ وَالسَّرَايَا

د لښکر او ملګرو او د سریه د تعداد بیان چه کوم مستحب دی

[٢٦١١] (٣) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ أَبُو خَيْثَمَةَ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "خَيْرُ الصَّحَابَةِ

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٣٤٩) (حسن صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الجهاد ١٢٩ (٢٩٩٠)، (وليس عنده قول مالك)، صحيح مسلم/الإمارة ٢٤ (١٨٦٩)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٤٥ (٢٨٧٩)، (تحفة الأشراف: ٨٣٤٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجهاد ٢ (٧)، مسند احمد (٢/٦، ٧، ١٠، ٥٥، ٦٣، ٧٦، ١٢٨) (صحيح)

(٣): سنن الترمذي/السير ٧ (١٥٥٥)، (تحفة الأشراف: ٥٨٤٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/السرايا (٢٧٢٨)، سنن الدارمي/السير ٤ (٢٤٨٢)، مسند احمد (١/٢٩٤، ٢٩٩) (ضعيف) (الصحيحة: ٩٨٦، وتراجع الألباني: ١٥٢)

أَرْبَعَةٌ، وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُ مِائَةٍ، وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ، وَلَنْ يُغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ مُرْسَلٌ.

ترجمه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: غوره ملګرتيا د څلوروکسانوده اوغوره سريه دڅلور سوه کسانوده اوغوره لښکر دڅلور زره کسانو وي، اودولس زره کسان هيڅ کله دکم والي په وجه باندې نه شي مغلوب کيدې.
ابوداود وائي صحيح خبره داده چه داروايت مرسل دې.

تشريح: سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث نقل کوي چه هغه اوفرمائيل د سفر بهترين ملګري څلور ملګري دي، چه د هغې وجه شارحينو دا ليکلې ده چه که ملګري صرف څلور وي او په هغوی کښې يو تن مريض شي او يو ملګری لره خپل وصي جوړ کړي نو اوس د وصي د شهادت دپاره به صرف يو سړې وي، او ضرورت د شاهدين دې، لهذا که څلور وي نو دا مصلحت به پوره شي.
سرايا جمع د سرية ده يعنې عسکر صغير، او د لښکر يوه دسته، او جيوش جمع ده د جيش يعنې عسکر کبير، وړاندې په روايت کښې دي چه د دولسو زرو لښکر د قلت په بنياد مغلوب کيدې نه شي، يعنې که د بل څه عارض د وجې نه وي نو بيله خبره ده. پس په غزوه حنين کښې د مسلمانانو د لښکر تعداد دولس زره وو د دې باوجود د يو عارض د وجې نه د جنګ په شروع کښې هغوی د شکست سره مخ شو ﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ﴾ الاية، والحديث اخرجه الترمذي قاله المنذري.

بَابٌ فِي دُعَاءِ الْمُشْرِكِينَ

مشرکانو ته د دعوت ورکولو بيان

يعنې د قتال نه مخکښې مشرکينو ته د اسلام دعوت ورکول، په دې کښې څلور مذاهب مشهور دي.
۱: وجوب مطلقا: يو جماعت هم د دې قائل دې، منهم عمر بن عبدالعزيز.
۲: الفرق بين من بلغته الدعوة وبين من لم تبلغه، هم دا مذهب دې د احنافو او د شوافعو.
۳: الفرق بين اهل الکتاب وغيرهم، يعنې د اهل کتاب دپاره د دعوت حاجت نشته، يعنې يهود او نصارى او مجوس، او د هغوی نه علاوه چه کوم مشرکين دي په هغې کښې ذکر شوی فرق ته اوکتلې شي، يعنې بلوغ دعوة او عدم بلوغ دعوة، دا مذهب دې د امام احمد.
۴: د امام مالک مذهب په معالم السنن کښې امام خطابي خو مطلقاً وجوب ليکلې دې کوم چه د عمر بن عبدالعزيز مذهب دې، او حافظ د امام مالک مذهب دا ليکلې دې چه کوم مشرکان دار الاسلام ته نزدې اوسيږي هلته د دعوت حاجت نشته، او کوم چه د دار الاسلام نه بعيد دي هلته دعوت اقطع للشک دې. اهـ

[٢٦١٢]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَعَثَ أَمِيرًا عَلَى سَرِيَّةٍ أَوْ جَيْشٍ أَوْصَاهُ بِتَقْوَى اللَّهِ فِي خَاصَّةِ نَفْسِهِ وَبِمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا، وَقَالَ: "إِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَادْعُهُمْ إِلَى إِحْدَى ثَلَاثِ خِصَالٍ أَوْ خِلَالٍ فَأَيَّتُهَا أَجَابُوكَ إِلَيْهَا فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ، وَأَعْلِمْهُمْ أَنَّهُمْ إِنْ فَعَلُوا ذَلِكَ، أَنَّ لَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ وَأَنَّ عَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُهَاجِرِينَ فَإِنْ أَبَوْا وَاخْتَارُوا دَارَهُمْ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ يَجْرِي عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللَّهِ الَّذِي يَجْرِي عَلَى الْمُؤْمِنِينَ، وَلَا يَكُونُ لَهُمْ فِي الْفَيْءِ وَالْغَنِيمَةِ نَصِيبٌ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ، فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَادْعُهُمْ إِلَى إِعْطَاءِ الْجِزْيَةِ، فَإِنْ أَجَابُوا فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ، فَإِنْ أَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ تَعَالَى وَقَاتِلْهُمْ، وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تُنْزِلَهُمْ عَلَى حُكْمِ اللَّهِ تَعَالَى فَلَا تُنْزِلْهُمْ، فَإِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ مَا يَحْكُمُ اللَّهُ فِيهِمْ وَلَكِنْ أَنْزِلُوهُمْ عَلَى حُكْمِكُمْ ثُمَّ اقْضُوا فِيهِمْ بَعْدُ مَا شِئْتُمْ"، قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: قَالَ عَلْقَمَةُ: فَذَكَرْتُ هَذَا الْحَدِيثَ لِمُقَاتِلِ بْنِ حَيَّانَ، فَقَالَ: حَدَّثَنِي مُسْلِمٌ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هُوَ ابْنُ هَيْصَمٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ.

ترجمه: د بریده رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه کله به نبي عليه السلام په یوه سریه یا لښکر کښې څوك امير مقرر کړو نوهغه ته به ئې وصيت اوکړو دالله نه په ويرې کولوسره د خپل ځان په باره کښې اودخلقو په باره کښې اوفرمائيل به ئې کله چه دخپلو دشمنانو مشرکانو سره مخامخ شئ نوهغوی ته ددرې خبرو دعوت ورکړه که چرې مشرك په دې درې څيزونو کښې يوقبول کړي نوته هم ددوی نه قبول کړه او ددوی سره جنګ مه کوه يعنې اول ورته داسلام دعوت ورکړه که چرې داسلام دعوت قبول کړی نوته ددوی اقرار قبول کړه او ددوی دقتل نه ځان وساته اوکه چرې اسلام قبول نه کړی نو دوی لره دخپل ملك نه دارالاسلام ته راوبله او ددې خبرې خبر ورته ورکړه که چرې دوی داخبرې اومنی نو دوی ته به دمهاجرينو د حقوقو برابر حقوق ورکولې شی او په دوی به هغه ذمه وارياني وي کومې چه په مهاجرينو باندې لازم وی نوکه چرې دوی دخپل ملك نه وتل قبول نه کړی نو دوی ته خبر ورکړه چه دوی به داسې وی لکه دمسلمانانو پښان او په دوی به دالله هغه حکم جاری کولې شی کوم چه په مومنانو باندې جاری کيږي او ددوی دپاره به په مال فئ اومال غنيمت کښې حصه نه وی خومګرهله چه داخلق دمسلمانانو سره يوځائې جهاداوکړي اوکه چرې داسلام قبلولو نه انکاراوکړي نوددوی نه جزيه طلب کړه نوکه چرې دوی دا منظور کړی نوته هم ددوی نه جزئيه قبول کړه او ددوی سره جنګ مه کوه اوکه چرې دوی جزئيه قبول نه کړی نودالله نه امداد اوغواړه اوجنګ ورسره شروع کړه کله چه تاسو مشرکان په يوه قلعه کښې محاصره کړئ اوهغوی دا غواړی چه تاسودوی لره دالله په حکم سره راکوز کړئ نوتاسوبه ددوی خبره نه منئ ځکه چه معلومه نه ده چه په دې باره کښې دالله تعالی حکم څه دې؟ بلکه تاسودوی لره په خپل حکم راکوز کړئ بياچه تاسو څنګه غواړئ ددوی فيصله اوکړئ.

[1]): صحيح مسلم/الجهاد ٢ (١٧٣١)، سنن الترمذي/السير ٤٨ (١٦١٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٣٨ (٢٨٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٩٢٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٢/٥، ٣٥٨)، سنن الدارمي/السير ٥ (٢٤٨٣) (صحيح)

سفیان بن عیینه وائی چه علقمه وئیلی دی چه دا حدیث مې مقاتل بن حیان ته ذکر کړو هغه او وئیل داحدیث ماته مسلم بیان کړې دې، ابوداود وائی مسلم دهیصم خوې دې هغه دنعمان بن مقرن نه او هغه دنبی ﷺ نه دسلیمان بن بریده دروایت په شان روایت بیان کړې دې.

د اوږد او جامع حدیث مکمل او جامع تشریح

دا ډیر اوږد حدیث دې، مونږ د دې د هر هر ټکړې جدا جدا شرح کوو، یعنی چه کله به رسول الله ﷺ یو سرې د یوې سریه یا لښکر امیر جوړولو نو هغه امیر ته به ئې خاص د خپل ذات په باره کښې د تقوی حکم کولو یعنی دا چه ته د خپل ځان متعلق ډیر د احتیاط او تقوی نه کار اخله، او هغه امیر ته به ئې فرمائیل چه د خپلو ما تحتو سره د خیر خواهئ معامله کوه، په دې کښې اشاره ده چه امیر له پکار دی چه د خپل ذات په باره کښې خو دې پوره پوره په احتیاط سره عمل کوی، او د ملګرو سره دې معامله نرمه ساتی، لکه چه په یو حدیث کښې دی. ﴿ یسروا ولا تعسروا ﴾ (بذل)

﴿ إِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَادْعُهُمْ إِلَى إِحْدَى ثَلَاثِ خِصَالٍ ﴾ په شروع کښې به رسول الله ﷺ د اهم خبرو د بیان نه پس، او د دې ځائې نه د قتال د کیفیت او د هغې تفصیل بیان فرمائی هغه دا چه د قتال نه مخکښې د مشرکینو په وړاندې دوه څیزونه نور دی کوم چه به ترتیب وار ذکر کولې شی یعنی د قتال درجه به په دریم نمبر باندې وی، او د شروع دوه دا دی، اول دې هغوی ته د عوت الی الاسلام ورکړې شی، پس که هغوی دا قبول کړی نو تاسو هغه تسلیم کړئ، او د هغې نه خپل لاس بند کړئ، دا امر اول دې، د دې امر اول یوه تکمله او تتمه ده کومه چه وړاندې بیان فرمائی : ﴿ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ ﴾ هغه دا چه هر کله دې کلی والو ټولو اسلام قبول کړو نو هغوی ته دعوت ورکړه د خپلو کورونو نه د مهاجرینو د کور طرف ته او هغوی د دې خبرې نه باخبر کړئ چه که هغوی داسې اوکړل یعنی هجرت ئې اختیار کړو نو د هغوی دپاره به هم هغه ثواب او سهولیات وی کوم چه د مهاجرینو دپاره وی، او ورسره ورسره به ذمه داریٔ هم وی کومې چه په مهاجرینو باندې وی، پس که هغوی دغه انتقال لره قبول کړی نو صحیح ده ﴿فان ابو او اختاروا دارهم ﴾ یعنی که هغه په دې انتقال مکانیٔ باندې راضی نه شی او خپله علاقه پریخودل نه غواړی نو بیا هغوی په دې باندې پوهه کړه چه په دې صورت کښې د هغوی حال او حکم د اعراب المسلمین په شان دې، کوم حکم چه د اعراب المسلمین دې هم هغه به د هغوی وی، وړاندې د دې لږ شان وضاحت دې، هغه دا چه ﴿ وَلاَ يَكُونُ لَهُمْ فِي الْفَيْءِ وَالْغَنِيمَةِ نَصِيبٌ إِلاَّ أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ یعنی د عدم انتقال په صورت کښې به د هغه خلقو دپاره په مال فئ کښې او غنیمت یعنی په خمس د مال غنیمت کښې حصه نه وی مګر دا چه هغه د مسلمانانو سره یوځائې کیدو باندې جهاد اوکړی، تردې ځائې هغه تکمله پوره شوه، په دې کښې بعض څیزونه تشریح ته محتاج دی هغه دا چه ﴿ لَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ وَأَنَّ عَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُهَاجِرِينَ ﴾ څه مطلب دې؟ پس پوهه شه چه کوم خلق اسلام راوړلو سره انتقال مکانی لره اختیار نه کړی، بلکه په خپله ابادیٔ کښې اوسیږی دې ته اعراب

المسلمين وئيلې شي او كوم خلق چه اسلام قبلولو سره او خپل وطن پريخودلو سره د مدينې طرف ته هجرت كولو سره لاړ شي هغوی ته مهاجرين وئيلې شي، هغه وخت د مهاجرينو حكم كوم چه په هغوی باندې عائد كيدو هغه دا وو چه كله هم د جهاد ضرورت راشي او هغوی جهاد ته ليږلې شي د هغوی دپاره هغې ته تلل ضروری وو، برابره خبره ده كه هغه مسلمانان كوم چه دشمن ته نزدې اوسيږی چا سره چه جهاد كول دی او هغوی سره د جنګ كولو دپاره كافي وی يا نه وی، په خلاف د اعراب المسلمين چه د هغوی دپاره خروج للجهاد په هر صورت كښې ضروری نه وو، صرف په هغه صورت كښې ضروری وو چه كله هغه مسلمانان د جهاد دپاره كافي نه وی كوم چه دشمن ته نزدې اوسيږی، او كه په هغې كښې كفايت وی نو بيا په دې صورت كښې د هغه اعرابو دپاره په جهاد كښې تلل ضروری نه وو، دا خو مطلب شو د دويمې جملې ﴿ وعليهم ما على المهاجرين ﴾ او د جمله اولى ﴿ لهم ما للمهاجرين ﴾ چه ستاسو دپاره به هم هغه وی كوم چه د مهاجرين دپاره وی د دې نه مراد ثواب، يعنی ثواب هجرت او د مال فئ استحقاق، كوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه كښې وو، چه رسول الله ﷺ به د مال فئ نه خرچ كولو په مهاجرينو باندې.

په مال فئ كښې د اعراب المسلمين حصه شته يا نه؟

په خلاف د اعراب المسلمين چه د هغوی دپاره به په مالئ فئ كښې حصه نه وه، په اصل كښې دا مذهب دې د شوافعو، پس امام نووی رحمه الله د دې حديث په شرح (ص ٨٢ ج ٢) كښې ليكلې دی چه مال فئ او غنيمت كښې صرف د مهاجرينو حصه ده د اعراب المسلمين يعنی غير مهاجرينو په دې كښې حصه نشته، بلكه د اعراب المسلمين حصه په مال صدقات كښې وی په دې شرط چه هغه د صدقې مستحق وی، مسكين او فقير وی، او په مال صدقات كښې د مهاجرينو هيڅ حصه نه وی، نو ګويا په بيت المال كښې دوه قسمه مالونه او دوه قسمه فنډونه وی، اول صدقات او زكاة، دا خو حصه ده د فقيرانو او مسكينانو وغيره، او دويم قسم د مال فئ دې چه د هغې نه مراد د جزيه او خراج وغيره مال دې، او خمس د غنيمت، دا حصه وی صرف د مهاجرينو، مهاجرينو ته د قسم اول نه هيڅ نه ملاويږی، او اعراب يعنی غير مهاجرينو ته په دې قسم ثانی كښې هيڅ نه شی وركولی خو دا صرف د شوافعو مذهب دې، پس امام نووی رحمه الله خپله ليكی : وقال مالک وابو حنيفة المالان سواء يجوز صرف كل واحد منهما الى النوعين ﴾ اهـ

د احنافو د طرف نه د حديث توجيه

لهذا دا حديث د احنافو خلاف شو، يا خو به د هغوی دواړو د طرف نه دا جواب كولې شی چه دا حديث منسوخ دې، لكه چه وړاندې تلو سره امام نووی رحمه الله د ابو عبيد نه نقل كړې دې، ﴿ قال ابو عبيد هذا الحديث منسوخ، وانما كان هذا الحكم فى اول الاسلام لمن لم يهاجر، ثم نسخ ذلک بقوله تعالى : واولوا الارحام بعضهم اولى ببعض ﴾ اهـ او زمونږ بعض استاذانو د دې جواب دا كړې دې چه ﴿ لا يكون لهم فى الفئ والغنيمة نصيب ﴾ دلته د نصيب نه مراد مطلق نصيب نه دې مراد بلكه د مخصوص نصيب نفی ده اى نصيب المجاهدين،

يعنى خومره حصه چه د مال فئ او غنيمت نه مجاهدينو ته ورکولې شي دومره به غير مجاهدينو ته ورکولې شي، د نفس عطاء نفي نشته ګيني دا حديث به د نصوص قرانيه خلاف شي. لکه چه د دې تفصيل په بذل المجهود کښې دې، خو په بذل کښې حضرت د دې حديث صرف د نصوص قرانيه خلاف کيدل ليکلې دی، د احنافو او شوافعو د مذهب اختلاف يا نسخ وغيره چه کوم جواب موثر ليکلې دې دې ته حضرت تعرض نه دې کړې بلکه اشکال کولو سره ئې پريخودلې دې، د طالبانو د متوجه کولو دپاره چه هغوى دې د دې جواب اولټوى، والله تعالى اعلم

په حديث باندې اشکال او د هغې جواب

دلته يو اشکال دا باقى پاتې کيږى هغه دا چه په دې حديث کښې دى ﴿ فان ابوا واختاروا دارهم ﴾ چه که هغوى د اسلام راوړلو نه پس د هجرت دپاره تيار نه شي نو بيا هغوى ته اوايه چه د هغوى به دا حکم وى، اشکال دا دې چه هجرت خو په شروع کښې واجب وو نو په دې کښې دا ولې معاف کړې شو؟ د دې جواب په شروع کښې خو چرته هم ملاؤ نه شو خو حضرت ګنګوهى په کوکب کښې فرمائى چه د هغې حاصل دا دې چه د کوم هجرت ذکر په دې حديث کښې دې هغه هجرت اصطلاحى نه دې کوم چه په شروع کښې واجب وو ځکه چه کوم هجرت واجب وو هغه وو کوم چه د دار الکفر نه د دار الاسلام طرف ته وو. او دلته چه کوم کلى والو ټولو اسلام قبول کړو نو هغه دار الکفر چرته پاتې شو؟ بيا هم هغوى ته دا وئيلې شوې دى چه که تاسو ترک وطن او انتقال مکانى کوئ نو ستاسو دپاره به دا فوائد وى که نه کوئ نو نه به وى، د دې نه علاوه د دې حديث بل څه توجيه موثر نه د بل چا په کلام کښې ملاؤ نه شوه.

﴿ فان هم ابوا فادعهم الى اعطاء الجزية ﴾ دا امر ثانى دې، امر اول دعوة الى الاسلام وو او د هغې متعلقات او امر ثانى دا دې چه که هغوى د اسلام راوړلو نه انکار اوکړى نو د هغوى په وړاندې به د جزيه خبره کيخودلې شي پس که هغوى جزيه ورکول منظور کړى نو تاسو دا تسليم کړئ. او د هغوى نه خپل لاس منع کړئ د جزيه په باره کښې دا اختلاف مشهور دې لکه چه په کتاب الزکاة کښې تير شوې دى د سيدنا معاذ ﷺ د حديث د لاندې چه جزيه د کومو کومو کفارو نه اخستلې شى. د شوافعو او حنابله په نزد اهل کتاب يعنى د يهودو او نصارى او مجوسو سره خاص دې. او د احنافو او مالکيانو په نزد د اهل کتاب سره خاص نه دې بلکه د مشرکانو نه هم اخستلې شى، د مالکيانو په نزد بالعموم د ټولو مشرکانو نه. او د احنافو په نزد به سوا د مشرکين عرب نه باقى د ټولو مشرکانو نه، دا حديث د خپل اطلاق د وجې نه د احنافو او مالکيانو دليل دې ﴿ فان ابوا فاستعن بالله تعالى وقاتلهم ﴾ دا امر ثالث دې چه کله د شروع دواړه امرونه او نه مونډلې شي نو دريمه درجه به هغه کفارو سره د قتال وى ﴿ واذا حاصرت اهل حصن فارادوک ان تنزلهم على حکم الله تعالى فلا تنزلهم الخ ﴾ په جهاد کښې چونکه بعض وخت داسې وى چه ډير کرته د مسلمان فوج نه بچ کيدو سره دشمن قلعه کښې پناه اخلى او په داسې صورت کښې مسلمان فوج د هغه قلعه

په محاصره باندې مجبور کيږي، په هفتو باندې ئې هلته پړاؤ اچولې وی بيا دشمن فوج عاجز کيدو سره د مسلمان فوج سره خبرې کوی چه مونږ ته د بهر راتلو اجازت راکړې مونږ به ستاسو اطاعت کوو نو په دې کښې بعض وخت دشمن دا وائی چه کومه صحيح صحيح فيصله د الله پاک د رسول زمونږ په باره کښې وی نو مونږ په هغه فيصله باندې کوزيدل غواړو که تاسو دپاره دا منظور وی نو مونږ به د قلعه نه لاندې راکوز شو نو د دې په باره کښې رسول الله ﷺ په دې حديث کښې مجاهدينو ته دا هدايت فرمائيلې دې چه دا د الله پاک او د هغه د رسول په حکم باندې بالکل مه راکوزوئ يعنی داسې شرط مه منظور کوه بلکه داسې د هغوی سره معاهده پکار ده چه هغه فيصله به زمونږ يعنی د مجاهدينو وی که تاسو ته منظور وی نو لاندې راکوز شئ، رسول الله ﷺ فرمائی چه په اولنی شرط منظور کولو سره مونږ په دې وجه منع کوو چه تاسو ته څه خبر دی يقينی طور باندې چه د الله پاک او د هغه د رسول فيصله د هغوی په باره کښې څه ده ﴿ واذا حاصرت اهل حصن فارادوک ان تنزلهم علی حکم الله تعالی فلا تنزلهم ..الخ﴾ په جهاد کښې چونکه بعضې وخت داسې کيږي بلکه ډيرځل دمسلمان فوج نه بچ کيدو دپاره دشمن په قلعه کښې پناه واخلی اوپه داسې صورت کښې مسلمان فوج ددغې قلعه په محاصره کولو باندې مجبوره شی په هفتو هفتو ئې هلته ګيره اچولې وی، بيا دشمن عاجزه شی اود مسلمان فوج سره خبرې اترې (مذاکرات) کوی چه مونږ ته د بهر راتلو اجازت راکړې شی مونږ به ستاسو اطاعت کوو نوپه دې کښې بعضې وخت دشمن دا وائی چه کوم صحيح صحيح فيصله الله تعالی اودهغه د رسول زمونږ باره کښې وی مونږ په هغه فيصله باندې راتلل غواړو که تاسو ته دا منظوره وی مونږ د قلعه نه لاندې راځو. نوپه دې باره کښې نبی کريم ﷺ په دې حديث مبارک کښې مجاهدينو ته دا هدايت ورکوی چه هغوی د الله تعالی اود رسول په حکم باندې بالکل مه راکوزوئ يعنی داسې شرط ئې مه منئ بلکه دهغوی سره داسې معاهده اوکړئ چه کومه فيصله زمونږ د مجاهدينو وی که تاسو ته هغه منظوره وی نو د قلعه نه بهر راوځئ. نبی کريم ﷺ فرمائی چه د رومبی شرط د منلو نه مونږ ځکه منع کوو چه تاسوته يقينی طورباندې څه پته ده چه د الله تعالی اودهغه د رسول فيصله دهغوی باره کښې څه ده.(فَإِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ مَا يَحْكُمُ اللَّهُ فِيهِمْ وَلَكِنْ أَنْزِلُوهُمْ عَلَى حُكْمِكُمْ) او بيا وړاندې دا دی ﴿ ثم اقضوا فيهم بعد ما شئتم ﴾ چه کله هغوی ستاسو شرط داسې منظور کولو سره لاندې راکوز شی نو تاسو د خپلې خوښې مطابق چه د هغوی په باره کښې څه فيصله کوئ اوکړئ.

[٢٦١٣](١)حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ الْأَنْطَاكِيُّ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اغْزُوا بِاسْمِ اللَّهِ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ اغْزُوا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تَغُلُّوا وَلَا تُمَثِّلُوا وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا".

ترجمه: سلمان بن بريده د خپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی دالله په نوم سره غزا شروع کوئ او د الله په لاره کښې غزاکوئ اوجنګ کوئ دهغه چاسره څوک چه

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٩٢٩) (صحيح)

دالله نه انکارکوي، غزا کوئ او غداري مه کوئ اودغنیمت دمال نه غلامه کوئ او څوك مُثله کوئ مه یعنی غوږ پوزه پریکول، او ماشومان مه قتل کوئ

[۲۶۱۴]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ حَسَنِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ الْفِزْرِ، حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللَّهِ وَبِاللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ، وَلَا تَقْتُلُوا شَيْخًا فَانِيًا وَلَا طِفْلًا وَلَا صَغِيرًا وَلَا امْرَأَةً وَلَا تَغُلُّوا وَضُمُّوا غَنَائِمَكُمْ وَأَصْلِحُوا وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ".

ترجمه: د انس بن مالك نه روایت دي فرمائي چه نبي ﷺ فرمائیلی دی: دالله په نوم سره ځئ او دالله په مددسره ځئ اودپیغمبر په دین باندې قائم اوسئ او څوك چه ډیر بوډا وي هغه مه وژنئ اوبڅې او ماشومان مه وژنئ او په مال غنیمت کښې خیانت مه کوئ او مال غنیمت یوځائې کوئ اودخپل حالت اصلاح کوی او نیکی کوئ ځکه چه الله تعالی نیکی کونکی خوښوی.

تشریح: ﴿ حدثني انس بن مالک ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴾... دا ډیر جامع حدیث دې د جهاد د سلسلې په دې کښې هغه ﷺ د ابتداء د خروج نه د اختتام قتال پورې ډیر هدایات ارشاد فرمائیلې دی لکه چه په حدیث کښې غور کولو سره هر څه فهمیږی، د ټولو نه اول خبره خو دا ده چه د الله پاك نوم اخستلو سره او هم د هغه نه طلب د اعانت کولو سره د کور نه لاړ شی بلکه په پوره شریعت باندې پابند کیدو سره لاړ شی، لکه چه فرمائی ﴿ علی ملة رسول الله ﴾.

په دې حدیث کښې د شیخ فاني د قتل نه منع کړې شوې ده او هم دغه شان د نابالغ ماشوم او د زنانه د قتل نه، او په دې کښې پورته حدیث ﴿ لا تمثلوا ﴾ مذکور دې، یعنی نهی عن المثلة، د دې حدیث بعض اجزاء باندې وړاندې په کتاب کښې مستقل باب رراروان دې، د ﴿ نهی عن المثلة ﴾ باب، د قتل النساء باب هم دغه شان د قتل شیوخ متعلق د موجوده حدیث خلاف یو حدیث هلته راروان دې، بلفظ: ﴿ اقتلوا شیوخ المشرکین واستبقوا شرخهم ﴾ لهذا په دې ټولو باندې به کلام هم په هلته ځائې کښې ان شاء الله راشي.

بَابٌ فِي الْحَرْقِ فِي بِلَادِ الْعَدُوِّ

د دشمن علاقې ته د اور اچولو بیان

په ترجمة الباب والا مسئله کښې اختلاف د علماء کرامو او د ائمه کرامو مذاهب

هم دا ترجمه په بخاری کښې هم ده ﴿ باب حرق الدور والنخیل ﴾ حافظ رحمه الله لیکی چه جمهور علماء کرام د دشمن په ښهرونو کښې د تحریق او تخریب د جواز قائل دی، امام اوزاعی، لیث او ابوثور دې ته مکروه وئیلې دی، د هغوی استدلال د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د فعل نه دې چه هغه خپلو لښکرو ته وصیت کړې وو چه ﴿ ان لا یفعلوا شیئا من ذلک ﴾ امام طبری د دې جواب دا کړې دې چه د صدیق اکبر مقصود قصداً او اصالةً د تحریق او تخریب

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۲٤) (ضعيف)

نه منع کول دي، په خلاف د دې چه دې څيزونو ته حاجت راشي د قتال دوران پس د دې نه منع نشته. حافظ رحمه الله فرمائي چه د طبري نه علاوه بعض نورو علماء کرامو دا جواب ورکړې دې چه صديق اکبر په هغه بلادو کښې د داسې کولو نه منع کړې وه د کومو باره کښې چه هغوي ته دا توقع وه چه مسلمانان به دا ټول فتح کولو سره حاصل کړي نوځکه ئې منع فرمائيلې وه چه هغه د مسلمانانو په کار راشي. امام قسطلاني فرمائي د جمهورو استدلال د حديث الباب نه دې اهـ مختصرا من الابواب والتراجم، په حاشيه د لامع کښې د اوجز نه د دې مسئلې تفصيل ليکلې دې چه د کومو اونو پرې کول جائز دي او د کومو ناجائز، هم دغه شان په کوم صورت کښې جائز دي او په کوم صورت کښې ناجائز، لهذا د تفصيل معلومولو دپاره دې هغې ته رجوع اوکړې شي.

[۲۶۱۵]( )حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَقَطَعَ وَهِيَ الْبُوَيْرَةُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا سورة الحشر آيه ۵.

ترجمه: نافع دابن عمر رضي الله عنه نه روايت کوي فرمائي چه نبي عليه السلام په بويره مقام کښې دبنونضير قبيلې دکجورو ونې سوزولې اوپريکړې وې نو الله تعالى دا آيت نازل کړو ﴿مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا﴾(سورة الحشر آية ۵) دکجورو کومې ونې چه تاسو پريکړې يا موهغه په خپلو جرړو باندې ولاړې پريښودې، دا هرڅه دالله په حکم سره وو.

شرح حديث

خبر د بنو نضير يو مستقبل باب وړاندې په کتاب کښې راروان دې، غزوه د بنو نضير په ۴ هجرى کښې شوې ده، دا د يهودو مشهوره قبيله ده کومه چه مدينې منورې ته نزدې کلى کښې اباده وه، د دې تفصيل به خپله په ابوداؤد کښې په باب مذکور کښې راشي، ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په غزوه بنو نضير کښې د بنو نضير بعض کهجورې سيزلې او بعض پرې کړې وې، بويره د هغه ځائې نوم دې چرته چه د يهوديانو قبيله اباده وه چه په هغې کښې د کهجورو لوئې لوئې باغونه وو، وړاندې په روايت کښې دا دي چه الله پاک دا آيت کريمه نازل کړو ﴿ ما قطعتم من لينة ﴾ د ترمذي په روايت کښې دي چه صحابه کرامو ته اول په شروع کښې د قطع نخل حکم ورکړې شوې وو، او بيا د هغې نه منع کړې شوه نو د بعض صحابه کرامو دې باره کښې تردد پيدا شو او وې وئيل چه مونږ خو اونې پرې کړې او بعض ئې پريخودلې، مونږ به دې باره کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس کوو چه کومې اونې مونږ پرې کړې دي په دې کښې زمونږ دپاره اجر دې، او کوم چه مونږ پريخودل په هغې کښې گناه خو نشته؟ نو په دې باندې دا آيت کريمه نازل شو دا چه څه شوي دي د بعض اونو پرې کول او د بعض پريخودل دا ټول د الله پاک په ارادې او د هغه په حکم سره اوشو، په ترمذي کښې د ابن عباس رضي الله عنه روايت دې هغه فرمائي: ﴿ اللينة النخلة ﴾ د دې په

( ): صحيح البخاري/المزارعة ٤ (٢٣٥٦)، الجهاد ١٥٤ (٣٠٢٠)، المغازي ١٤ (٤٠٣١)، صحيح مسلم/الجهاد ١٠ (١٧٤٦)، سنن الترمذي/التفسير ٥٩ (٣٣٠٢)، والسير ٤ (١٥٥٢)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٣١ (٢٨٤٤)، (تحفة الأشراف: ٨٢٦٧)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/السير ٢٣ (٢٥٠٣)، مسند احمد (١٢٣/٢، ١٤٠) (صحيح)

باره کښې امام ترمذي رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله دا حديث زما نه اوريدلې دې، هم دغه شان امام ترمذي د يو بل حديث په باره کښې فرمائي کوم چه د ترمذي په کتاب المناقب کښې دې، د ابو سعيد رضي الله عنه په حديث مرفوع کښې ﴿يا علي لا يحل لاحد يجنب في هذا المسجد غيري وغيرک﴾ د دې حديث په باره کښې هم امام ترمذي رحمه الله فرمائي ﴿سمع مني محمد بن اسماعيل هذا الحديث﴾ د دې حديث ذکر په الدر المنضود کتاب الطهارة باب الجنب يدخل المسجد لاندې راغلې دې، دا د بنو نضير د قطع نخل ذکر په حديث الباب کښې دی د دې په باره کښې سيدنا حسان بن ثابت رضي الله عنه يو شعر وئيلې دې:

وهان على سراة بني لوی :: حريق بالبويرة مستطير

والحديث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی النسائي وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۶۱۶] (۱) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ أَبِي الْأَخْضَرِ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، قَالَ عُرْوَةُ فَحَدَّثَنِي أُسَامَةُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَهِدَ إِلَيْهِ فَقَالَ: أَغِرْ عَلَى أُبْنَى صَبَاحًا وَحَرِّقْ.

ترجمه: عروه داسامه نه روايت کوی چه نبی عليه السلام ورته وصيت فرمائيلی وو چه په ابنی مقام (په فلسطين کښې دعسقلان او رملا په مينځ کښې واقع دې) دسحر په وخت کښې حمله اوکړه او اور ورته واچوه.

شرح حديث

سيدنا اسامه رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته وصيت فرمائيلې وو چه په مقام د ﴿ابنى﴾ باندې على الصباح حمله اوکړه ځکه چه د سحر په وخت کښې خلق اوده وی او دا د ارام او غفلت وخت دې، او دا ئې هم فرمائيلې وو چه د هغوی کورونو او پټو وغيره ته اور اولګوه، بذل کښې حضرت ليکلې دی چه د مسند احمد د روايت نه معلوميږی چه سيدنا اسامه رضي الله عنه چه دا خبره پورته ذکر کړې ده دا ئې د صديق اکبر په سوال باندې کړې ده يعنی د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات نه پس صديق اکبر د سيدنا اسامه رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه کله ته رسول الله صلى الله عليه وسلم د مقام ابنى طرف ته د قتال دپاره اوليږلې نو تاته ئې د هغه ځائې په باره کښې څه هدايت فرمائيلې وو، نو هغه په جواب کښې هغه خبره عرض کړه کومه چه دلته په روايت کښې ذکر ده،

دا دی هم واضحه وی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د صفر په مياشت ۱۱ هـ کومه چه د هغه د وفات کال دی په هغې کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه لره د سريه امير جوړولو سره د روميانو د مقابلې دپاره ليږلی وو، خو بيا د هغه صلى الله عليه وسلم د بيمارئ د سختئ خبر اوريدلو سره مدينې منورې ته واپس شوې وو، بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات نه پس چه کله صديق اکبر رضي الله عنه خليفه شو نو اولنې کار ئې دا اوکړو چه دا د اسامه رضي الله عنه لښکر کوم چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات د حادثې په وجه باندې راوا پس شوې وو، دوباره اوليږلو، هم په دې موقع باندې ابوبکر صديق رضي الله عنه هغه نه دا تپوس هم کړې وو کوم چه پورته د مسند احمد په روايت کښې ذکر شو، د باب د دوارو

(۱): سنن ابن ماجه/الجهاد ۳۱ (۲۸۴۳)، (تحفة الأشراف: ۱۰۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۲۰۵، ۲۰۹) (ضعيف)

احاديثو نه د تحريق في بلاد العدو ثبوت معلوميږي، امام بخاري رحمه الله په باب حرق الدور کښې د ابن عمر رضي الله عنه يعنى د ابوداود حديث اول او د هغې نه علاوه يو بل حديث چه په هغې کښې دا دى چه رسول الله ﷺ سيدنا جرير بن عبدالله البجلى رضي الله عنه ته فرمائيلي وو ﴿الا تريحنى من ذى الخلصة﴾ ذکر فرمائيلي دي، چه په هغې کښې دا دى ﴿فانطلق اليها فکسرها وحرقها﴾ دا حديث مختصرا مونږ سره د ابوداود د کتاب الجهاد په اخر کښې په باب في بعثة البشراء کښې راروان دي.

[۲۶۱۷](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو الْغَزِّيُّ، سَمِعْتُ أَبَا مُسْهِرٍ قِيلَ لَهُ: أُبْنَى، قَالَ: نَحْنُ أَعْلَمُ هِيَ يُبْنَى فِلَسْطِينَ.

ترجمه: حضرت عبدالله بن عمرو غزى وائي چه د ابو مسهر مخې ته د ابنى تذکره راغله نو ما دهغه نه واؤريدل چه: مونږ ته معلومه ده چه دا يُبنى ده په فلسطين کښې ده.

تشريح: قوله: سَمِعْتُ أَبَا مُسْهِرٍ قِيلَ لَهُ: أُبْنَى، قَالَ: نَحْنُ أَعْلَمُ هِيَ يُبْنَى فِلَسْطِينَ: يعنى د ابو مسهر په وړاندې چا د ابنى لفظ استعمال کړو، نو هغه اووې چه شش (تعجب دي چه دا نوم) ابنى نه دې، بلکه صحيح ﴿يبنى﴾ دې په دې باندې مونږ زيات پوهيږو دا هغه په دې وجه وئيلي وو چه هغه د شام اوسيدونکې وو او دا مقام په ملک شام کښې دې، لهذا د صحيح نوم تحقيق به هم هغه ته وى. والحديث اخرجه ابن ماجة قاله المنذرى.

باب بَعْثِ الْعُيُونِ

د دشمن په طرف د جاسوس ليږلو بيان

[۲۶۱۸](۲) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ الْمُغِيرَةِ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: بَعَثَ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُسْبَسَةَ عَيْنًا يَنْظُرُ مَا صَنَعَتْ عِيرُ أَبِي سُفْيَانَ.

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائى چه نبى عليه السلام بسيسه رضي الله عنه د جاسوسئ دپاره اوليږلو ددې دپاره چه معلوم کړي چه دابوسفيان قافلې څه اوکړل؟

تشريح: په جهاد کښې د معلومات کولو دپاره چونکه د جاسوس هم ضرورت وى لهذا د دې مشروعيت د بيانولو دپاره مصنف دا باب قائم کړې دې، د بخارى ترجمه دا ده باب الجاسوس، چه په هغې کښې هغه د حاطب بن ابى بلتعه والا قصه ذکر کړې ده، په حديث الباب کښې چه د کوم جاسوس ذکر دې د هغه نوم بسيسه دې او په دې کښې بسبس او بسبسه هم منقول دې، کوم چه رسول الله ﷺ د ابوسفيان د قافلې کوم چه د ملک شام د طرف نه مال تجارت راوړلو د هغې د حال معلومولو دپاره ليږلې وو.

والحديث اخرجه مسلم قاله المنذرى.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۹۴۹) (مقطوع)

(۲): صحيح مسلم/الإمارة ٤١ (۱۹۰۱)، مسند احمد (۳/۱۳۶)، (تحفة الأشراف: ٤۰۸) (صحيح)

بَابٌ فِي ابْنِ السَّبِيلِ يَأْكُلُ مِنَ التَّمْرِ وَيَشْرَبُ مِنَ اللَّبَنِ إِذَا مَرَّ بِهِ

که مسافر د کجورو یا د لنګو څاروو سره تیریږی نو دهغې نه کجورې خوړلې شي او پئ څکلې شي

[۲۶۱۹]()حَدَّثَنَا عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيدِ الرَّقَّامُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ عَلَى مَاشِيَةٍ فَإِنْ كَانَ فِيهَا صَاحِبُهَا فَلْيَسْتَأْذِنْهُ فَإِنْ أَذِنَ لَهُ فَلْيَحْلِبْ وَلْيَشْرَبْ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهَا، فَلْيُصَوِّتْ ثَلَاثًا فَإِنْ أَجَابَهُ فَلْيَسْتَأْذِنْهُ وَإِلَّا فَلْيَحْتَلِبْ وَلْيَشْرَبْ وَلَا يَحْمِلْ".

ترجمه: د سمرة بن جندب نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی. که چرې په تاسوکښې څوک دڅاروو په خواتیریږی نوکه چرې ددې مالك موجود وي نو اجازت دې ترې اوغواړی که چرې اجازت ورته اوشی نوودې لوشی او ودې څکې اوکه چرې مالك ئې موجود نه وی نودرې آوازونه دې اوکړی که چرې مالك جواب ورکړو نو اجازت دی اوغواړی اوکه چرې ورته دمالك جواب ملاو نه شی نو اودې لوشی او ودې څکي اودځان سره دې نه وړې.

د حدیث په شرح کښې اشکال او جواب

د باب په اول حدیث کښې د ترجمې جزء ثانی مذکور دې، د حدیث مضمون واضح دې چه که د بیزې مالک موجود وی نو د هغه د اجازت نه بعد ئې لشلې شی، او که مالک موجود نه وی نو بیا دې درې کرته اواز اولګوی که چا اووې نو د هغه نه دې اجازت واخلی، او که څوک او نه وائی، یعنې موجود د نه موجود کیدو په وجه نو هغه له پکار دی چه د هغه بیزې پئ راولشی او هغه اوڅکی، او د خپل ځان سره دې نه اوړی، یعنی د یو ځل څکلو په قدر دې هغه هلته اوڅکی، او دا جائز نه دی چه د ځان سره هم څه یوسی.

دا حدیث ډیر قابل اشکال دې چه د مالک نه کیدو په صورت کښې بغیر د اجازت نه د احتلاب اجازت ورکړې شوې دې حال دا چه د غیر مال خوړل بغیر د اجازت نه د دې ممانعت په کتاب الله کښې او په راتلونکی باب باب فی من قال لا یحلب کښې راروان دې، په دې وجه د دې حدیث مختلف توجیهات کړې شوې دی. ۱: دا په مضطر باندې محمول دې په حالت اضطرار کښې داسې کول جائز دی، وعلیه الضمان بعد ذلک، روستو به ضمان ادا کوی. ۲: دا حدیث په عرف باندې محمول دې یعنی چرته چه عرف عام دا وی چه د ګډو بیزو د مالکانو د طرف نه د مسافرو دپاره د پئ لشلو اجازت وی. ۳: دا حدیث منسوخ دې په هغه حدیث سره کوم چه به په راروان باب کښې راشی. د دې جواباتو ضرورت د جمهور علماء او ائمه ثلاثه د مسلک د وجې نه دې، د اسحاق بن راهویه او امام احمد د مشهور قول مطابق کما قال الحافظ ابن القیم د هیڅ تاویل حاجت نشته. د هغوی په نزد داسې کول مطلقا جائز دی، که حالت اضطرار وی یا نه وی، امام ترمذی رحمه الله هم دغه شان فرمائیلې دی: حدیث سمرة حدیث حسن صحیح غریب والعمل علی هذا عند بعض اهل العلم، وبه یقول احمد واسحاق، اهـ والحدیث اخرجه الترمذی قاله المنذری.

(): سنن الترمذي/البیوع ۶۰ (۱۲۹۶)، (تحفة الأشراف: ۴۵۹۱) (صحیح)

[٢٦٢٠]([1])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ شُرَحْبِيلَ، قَالَ: أَصَابَتْنِي سَنَةٌ فَدَخَلْتُ حَائِطًا مِنْ حِيطَانِ الْمَدِينَةِ، فَفَرَكْتُ سُنْبُلًا فَأَكَلْتُ، وَحَمَلْتُ فِي ثَوْبِي، فَجَاءَ صَاحِبُهُ فَضَرَبَنِي وَأَخَذَ ثَوْبِي فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ: مَا عَلَّمْتَ إِذْ كَانَ جَاهِلًا، وَلَا أَطْعَمْتَ إِذْ كَانَ جَائِعًا، أَوْ قَالَ: سَاغِبًا وَأَمَرَهُ فَرَدَّ عَلَيَّ ثَوْبِي وَأَعْطَانِي وَسْقًا أَوْ نِصْفَ وَسْقٍ مِنْ طَعَامٍ.

ترجمه: دعباد بن شرحبیل نه روایت دې فرمائی چه دقحط نه تنګ شوې وم نودمدینې په باغونوکښې یوباغ ته داخل شوم نویوغونچك مې را وشوکولو څه مې دهغې نه اوخوړل اوباقی مې دخان سره په کپړه کښې واغستل نوکله چه ددې مالك راغې زه ئې اووهلم اوزمانه ئې زماکپړه واخستله نوزه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نبی ﷺ دباغ مالك ته اوفرمائیل دی کس ته دشریعت حکم معلوم نه وو تاده ته دشریعت مسئله نه ده بیان کړې اودې اوږې وو اوتاپه ده باندې خوراك نه دې کړې نبی ﷺ ده ته حکم اوکړو هغه ماته خپله کپړه واپس راکړه او ماته ئې شپیته صاع یا نیم وسق یعنی دیرش صاع خوراکی مواد هم راکړل.

تشریح: د حدیث مضمون واضح دې د ﴿ سنة ﴾ معنی ده لوږه، ﴿ ففركت سنبلاً ﴾ یعنی ما د چا په پټی کښې د اوربشو څو وږی راوشوکول او د هغې نه مې بوس لرې کړل او هغه دانې مې میده کولو سره اوخوړلې او څه مې ځان سره یوړلې ﴿ فقال له : ما علمت اذ كان جاهلا ﴾ کوم صحابی چه هغه نیولې وو او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې ئې د شکایت دپاره حاضر کړې وو نو رسول الله ﷺ خپله هغه صحابی ته تنبیه اوفرمائیله چه دا اوږې وو تا د هغه د خوراك څکاك خیر خبر وانخستلو او دې ناخبره وو تا دې پوهه نه کړواو نه دې ورته مسئله اوخودله. والحديث اخرجه النسائي وابن ماجة قاله المنذري.

[٢٦٢١]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ قَالَ: سَمِعْتُ عَبَّادَ بْنَ شُرَحْبِيلَ رَجُلًا مِنَّا مِنْ بَنِي غُبَرَ بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: حضرت ابوبشر رحمه الله وائی چه ما د عبید بن شرحبیل نه چه دې زمونږ د قبیله بنوغبر یو سړې وو، ددې مفهوم حدیث واوریدلو.

بَابُ مَنْ قَالَ إِنَّهُ يَأْكُلُ مِمَّا سَقَطَ

باب په بیان د قول د هغه علماؤ چه هغوی وائی چه په زمکه غورځیدلی څیزونه خوړلې شی

یعنی د مسافر دپاره خو دا جائز ده چه د یوې اونې د لاندې راغورځیدلې څیز اوخوری، خو د اونې نه ئې راشوکول جائز نه دی د جمهورو مذهب هم دا دې.

[٢٦٢٢]([3])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ، وَأَبُو بَكْرٍ ابْنَا أَبِي شَيْبَةَ وَهَذَا لَفْظُ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ مُعْتَمِرِ بْنِ سُلَيْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ

[1]: سنن النسائي/آداب القضاة ٢٠ (٥٤١١)، سنن ابن ماجه/التجارات ٦٧ (٢٢٩٨)، (تحفة الأشراف: ٥٠٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٦٦) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٠٦١) (صحيح)

[3]: سنن الترمذي/البيوع ٥٤ (١٢٨٨)، سنن ابن ماجه/التجارات ٦٧ (٢٢٩٩)، (تحفة الأشراف: ٣٥٩٥) (ضعيف)

أَبِي حَكَمٍ الْغِفَارِيَّ يَقُولُ: حَدَّثَتْنِي جَدَّتِي، عَنْ عَمِّ أَبِي رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْغِفَارِيِّ، قَالَ: كُنْتُ غُلَامًا أَرْمِي نَخْلَ الْأَنْصَارِ، فَأُتِيَ بِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "يَا غُلَامُ لِمَ تَرْمِي النَّخْلَ؟" قَالَ: آكُلُ، قَالَ: فَلَا تَرْمِ النَّخْلَ وَكُلْ مِمَّا يَسْقُطُ فِي أَسْفَلِهَا ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ فَقَالَ: اللَّهُمَّ أَشْبِعْ بَطْنَهُ".

ترجمه: دابورافع بن عمرو غفاري دتره نه روايت دي فرمائي چه مابه په ماشوم والي كښې دانصارو دكجورو ونې په لوټو ويشتلې نونبی علیه السلام ته بوتلې شوم هغه اوفرمائيل اې هلكه دكجورو ونې ولې اُولې؟ ما اووئيل چه خورم ئې نبی علیه السلام اوفرمائيل اُوله ئې مه، كومې چه پخپله لاندې غورزيږي هغه خوره اوبيا ئې زما په سر باندې لاس راښكو اووئې فرمائيل اې الله د ده خيټه مړه كړې

تشريح: ابن ابی حكم فرمائي چه ماته زما نيا بيان اوكړو هغې به نقل كولو زما د پلار د تره رافع بن عمرو غفاری نه.

د سند تحقيق

رافع بن عمرو بدل واقع شوې دې د ﴿ عم ﴾ نه. په دې روايت كښې خو هم داسې دی، او په اكثر رواياتو كښې داسې دی. او اكثر روايات كښې داسې دی ﴿ عن عم ابيها رافع بن عمرو ﴾ يعنی زما نيا روايت كوی د خپل پلار د تره رافع بن عمرو غفاری نه. لهذا زمونږ د سند په اعتبار سره رافع بن عمرو، ابن ابی الحكم د پلار تره شو او په بل صورت كښې رافع بن عمرو، د ابن ابی الحكم د نيا د پلار تره شو، هغه وائی چه كله زه غلام يعنی نابالغ هلك اوم نو د بعض انصارو باغ ته تلو سره به مې هغه اونې په څه باندې اووهلې او هغه كهجورې به مې راؤشوكولې يوځل هغه خلقو زه اُونيولم اود حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت كښې ئې بوتلم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل داسې ئې مه شوكوه او كومې چه د اونو د لاندې پرتې وی د هغې نه خوره.

دا حديث بعض علماء كرامو په دې باندې محمول كړې دې چه په دې قسم ميوه كښې عام طور د مالكانو د طرف نه اجازت وی او بعض فقهاء كرامو دا هم په حالت اضطرار باندې محمول كړې دې. والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة قاله المنذری

بَابٌ فِيمَنْ قَالَ لَا يَحْلِبُ

بيان د قول د هغه علماؤ د چا په نزد چه څاروی لوشل بغير اجازته جائز نه دی

[٢٦٢٣] (١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحْلِبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ أَحَدٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تُؤْتَى مَشْرُبَتُهُ فَتُكْسَرَ خِزَانَتُهُ فَيُنْتَثَلَ طَعَامُهُ، فَإِنَّمَا تَخْزُنُ لَهُمْ ضُرُوعُ مَوَاشِيهِمْ أَطْعِمَتَهُمْ، فَلَا يَحْلِبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِهِ".

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائيلی دی نه دې لوشی يوكس ستاسو دچا څاروې بغيرد اجازت دمالك نه، اياخوښوې يوكس ستاسو چه دده ګودام ته دې څوك راشي اودده خزانه دې ماته كړی اودده خوراك دې يوړلې شي، يقيناجمع كوي

(١): صحيح البخاري/اللقطة ٨ (٢٤٣٥)، صحيح مسلم/اللقطة ٢ (١٧٢٦)، (تحفة الأشراف: ٨٣٠٠، ٨٣٥٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/التجارات ٦٨ (٢٣٠٢)، موطا امام مالك/الاستئذان ٦ (١٧)، مسند احمد (٢/٤، ٦، ٥٧) (صحيح)

ددوی دپاره غلانځې دځاروو ددوی خوراك ددوی دپاره نوڅوك دې دچا ځاروې نه لوشی بغیر د اجازت دهغه نه.

د حدیث شرح

رسول الله ﷺ فرمائی چه څوک دې هر گز د چا د ځاروی پئ نه اخلی بغیر د هغه د اجازت نه، ایا په تاسو کښې څوک دا خبره غواړی چه د هغه بالاخانې ته لاړ شی او د هغه د سامان ځائې مات کړې شی یعنی پرانستلې شی او بیا چه هلته د خوراک کوم څیزونه کیخودلې شوې دی هغه اوچت کړې شی؟ د دې جواب ظاهر دې چه څوک هم دا خبره نه غواړی، وړاندې هغه فرمائی چه د خلقو د ځاروو چه کومې غلانزې دی د هغوی د خوراک څکاک د څیزونو محفوظ کیخودلو ځایونه دی، لهذا یوسړې دې د چا د ځاروی پئ بغیر د هغه د اجازت نه نه راوباسی.

په دې حدیث کښې د ځاروو غلانزو لره بالا خانه کښې دننه د سامان د محفوظ ساتلو ځائې سره تشبیه ورکړې شوې ده. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم قاله المنذری.

بَاب فِي الطَّاعَةِ

د تابع دارئ بیان

د دې نه مخکښې په یو باب کښې د سفر ملگرو ته هدایت کړې شوې وو چه سفر ته په تلو باندې څوک خپل امیر جوړ کړئ په دې باب کښې د امیر د اطاعت بیان دې.

[٢٦٢٤] (١) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، قَالَ: قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ سورة النساء آية ٥٩، فِي عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسِ بْنِ عَدِيٍّ بَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ أَخْبَرَنِيهِ يَعْلَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: حجاج وائی چه ابن جریج وئیلی دی چه آیت (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ) (سورة النساء آية ٥٩) دعبدالله بن قیس بن عدي په باره کښې نازل شوې دې کله چه ده لره نبی عليه السلام په یوه سریه کښې لیږلې وو اوخبر راکړې دې ماته یعلي په دې روایت سره دسعید بن جبیرنه اوهغه دابن عباس رضي الله عنهما نه.

د حدیث شرح

﴿ عبدالله بن قیس ﴾ په ترکیب کښې مبتداء دې او ﴿ بعثه النبی ﴾ د دې خبر، د روایت مطلب دا شو چه عبدالله بن قیس رضي الله عنه لره رسول الله ﷺ یوه سریه ته اولیږلو، یعنی د هغې امیر ئې کړو، د دې جملې نه وړاندې ابن جریج دا آیت کریمه ذکر کړو، لهذا مطلب دا شو چه دا آیت کریمه د هغه په باره کښې نازل شوې دې یعنی د عبدالله بن قیس په باره کښې کوم چه رسول الله ﷺ امیر لیږلې وو، ﴿ اخبرنیه یعلی الخ ﴾ ابن جریج چه په ماقبل کښې کوم مضمون بیان کړې وو اوس دلته هغه د هغې سند بیانوی چه دا مضمون ماته یعلی بیان

[1]: صحيح البخاري/تفسيرسورة النساء ١١ (٤٥٨٤)، صحيح مسلم/الإمارة ٨ (١٨٣٤)، سنن الترمذي/الجهاد ٣ (١٦٧٢)، سنن النسائي/البيعة ٢٨ (٤١٩٩)، (تحفة الأشراف: ٥٦٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٣٧/١) (صحيح)

کړې دې او يعلی روايت کوی د سعيد بن جبير نه او هغه د ابن عباس نه.
دا خو د دې روايت مطلب او حل شو او د دې عبارت د حل کولو زيات ضرورت په دې وجه راپيښ شو چه په ابوداؤد کښې د دې عبارت سياق غير واضح دې، د بخاری د دې نه واضح دې په هغې کښې داسې دی، ﴿ عن ابن عباس : واطيعوا الله واطيعو الرسول واولى الامر منكم ﴾ قال نزلت فی عبد الله بن حذافة بن قيس اذ بعثه النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فی سرية.

د ايت کريمه د نزول مقصد

خو سوال دا باقی پاتې کيږی چه د عبدالله بن قيس په باره کښې دا آيت کريمه ولې نازل شو؟ د دې جواب دا دې چه د دې آيت کريمه د نزول مقصد هغه دی کوم چه د ابوداود په راروان روايت کښې کومه چه د سيدنا علی رضی اللہ عنہ نه روايت ده، راروان دې هغه دا چه هغه صحابی رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم چه کله امير ليږلو نو لښکر ته د دې خبرې هم حکم کړې وو چه د هغوی اطاعت کوه، نو چه کله دا لښکر روان شو نو په لاره کښې دا قصه راپيښه شوه چه هغه امير د خپل لښکر والو حکم ورکړو په څه خبره باندې ناراضه کيدو سره (او د بعض رواياتو نه معلوميږی چه داسې هغه په ټوقو کښې کړې وو) چه لرګی راجمع کړئ، چه کله لرګی راجمع شو نو په هغې باندې ئې اور بل کړو او هغوی ته ئې هغې ته د ننګلو حکم اوکړو چه په هغې باندې ملګرو کښې اختلاف پيدا شو، د بعض رائې دا شوه چه داخليدل پکار دی، لکه چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د امير د اطاعت حکم کړې وو، او بعض ملګرو د دې رائې مخالفت اوکړو چه د الله او رسول اطاعت خو د اور نه د بچ کيدلو دپاره کولې شی نه اور ته د داخليدو دپاره، بيا چه کله دا لښکر واپس شو او رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ته دا واقعه ذکر کړې شوه نو رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د هغه خلقو د چا رائې چه د نه داخليدو وه تصويب اوفرمائيلو او په دې موقع باندې دا آيت کريمه نازل شوې وو، او د دې واقعې متعلق د دې آيت کريمه اخری حصه دا ده : ﴿ فان تنازعتم فی شیء فردوه الی الله والرسول ﴾ لهذا د آيت کريمه مطلب دا شو چه که په يوه معامله کښې د اولو الامر د اطاعت په باره کښې د خلقو خپل مينځ کښې اختلاف پيدا شی نو په هغې کښې د الله پاک او د هغه د رسول صلی اللہ علیہ وسلم حکم ته کتل پکار دی چه څه دې؟ يعنی فورا اطاعت نه دی کول پکار د امير بلکه د امير د حکم په باره کښې دې دا اوکتلې شی چه په دې کښې الله پاک او رسول صلی اللہ علیہ وسلم څه فرمائی، او د الله پاک او د هغه د رسول حکم څه دې؟ ﴿ لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق ﴾ او ظاهره ده چه اور ته داخليدل دا معصيت دې لهذا د دې آيت کريمه د نزول د دې واقعې سره مناسبت ظاهر شو. هكذا شرح هذا المقام الحافظ فی فتح البارى، كتاب التفسير (ص ۱۰۲، ج ۸)
په واقعه مذکوره او د آيت کريمه په نزول کښې چه کله داودی رحمہ اللہ شارح بخاری ته څه وجه د مناسبت ښکاره نه شوه نو هغه اووې چه ابن عباس رضی اللہ عنہ ته دلته وهم راغلې دې يعنی د دې آيت کريمه د شان نزول په باره کښې، حافظ فرمائی چه موږ چه د آيت کريمه په نزول او په دې واقعه کښې کوم ربط بيان کړې دې په هغې سره د داودی رحمہ اللہ اشکال رفع کيږی ﴿ فقال : لو دخلوها فيها لم يزالوا فيه ﴾ يعنی کومو خلقو چه داخليدل غوښتل په هغه

اور کښې کوم چه امير بل کړې وو نو په هغه اور کښې به سوځيدل، يعنى هغه اور به د هغوى په حق کښې يخ او سلامتى نه وو، چه چرته داخليدونکى په دې خيال کښې وو چه دا اور خو به زمونږ په حق کښې يخ شى او ضرر به نه راکوى ځکه چه مونږ خو د امير اطاعت کوو، نو د دې اطاعت په برکت سره به مونږ د دې اور نه ضرور محفوظ يو. رسول الله ﷺ فرمائى داسې نه ده، محفوظ به نه وو، بلکه سوځيدل به ځکه چه ﴿ لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق ﴾، د حديث د دې جملې په شرح کښې يو قول هم دا دې کوم چه مونږ اوليکه، د دې نه علاوه د دې نور هم مطلبونه بيان کړې شوې دى، کوم چه په بذل کښې مذکور دې که څوک غوارى هلته دې اوګورى

حديث ابن عباس اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائى وحديث على أخرجه البخارى ومسلم والنسائى قاله المنذرى.

[۲۶۲۵](١)حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ زُبَيْدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ جَيْشًا وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَسْمَعُوا لَهُ وَيُطِيعُوا فَأَجَّجَ نَارًا، وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَقْتَحِمُوا فِيهَا فَأَبَى قَوْمٌ أَنْ يَدْخُلُوهَا، وَقَالُوا: إِنَّمَا فَرَرْنَا مِنَ النَّارِ وَأَرَادَ قَوْمٌ أَنْ يَدْخُلُوهَا فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "لَوْ دَخَلُوهَا أَوْ دَخَلُوا فِيهَا لَمْ يَزَالُوا فِيهَا، وَقَالَ: لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ".

ترجمه: د على رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى ﷺ يو لښکر اوليږو او يو کس ئې ددوى مشر مقرر کړو او لښکرته ئې حکم اوکړو چه دده خبره به منئ اودې چه څه وائى هغه به اورئ نو په دې وخت کښې دغه مشر اور بل کړو اودوى ته ئې حکم اوکړو چه دې اور ته ورټوپ کړئ نو څه کسانو اور ته د دانګلو نه انکار اوکړو اووئې وئيل مونږ خو داور نه راتښتيدلي يو، او څه کسانو اراده اوکړه چه اور ته ورودانګي هرکله چه ددې واقعي خبر نبى ﷺ ته ورسيدو نوونې فرمائيل که چرې دوى وردانګلي وې اويا وردننه شوي وې نوپه دې کښې به دوى هميشه وې اودائې هم اوفرمائيل دخلقو تابعدارى دخالق په نافرمانۍ کښې په کار نه ده يقيناً خبره منل خو په ښه کارونو کښې پکار ده.

[۲۶۲۶](٢)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ".

ترجمه: د عبدالله بن عمر دنبى ﷺ نه روايت کوى فرمائى چه نبى ﷺ فرمائيلى دى په مسلمان باندې د امير حکم منل واجب دى په هغه څه کښې چه دده خوښ وي اوکه خوښ نه

(١): صحيح البخاري/المغازي ٥٩ (٤٣٤٠)، والأحكام ٤ (٧١٤٥)، وأخبار الآحاد ١ (٧٢٥٧)، صحيح مسلم/الإمارة ٨ (١٨٤٠)، سنن النسائي/البيعة ٣٤ (٤٢١٠)، (تحفة الأشراف: ١٠١٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٢/١، ٩٤، ١٢٤) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الجهاد ١٠٨ (٢٩٥٥)، والأحكام ٤ (٧١٤٤)، صحيح مسلم/الإمارة ٨ (١٨٣٩)، (تحفة الأشراف: ٨١٥٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجهاد ٢٩ (١٧٠٧)، سنن النسائي/البيعة ٣٤ (٤٢١٧)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٤٠ (٢٨٦٤)، مسند احمد (١٧/٢، ٤٢) (صحيح)

وي خوترخوپورې چه دوي ته حکم نه وي شوې دګناه کولو، اوکله چه حکم اوکړې شي په ګناه کولوباندې نوبيا اطاعت کول نه دي پکار.

تشريح: ﴿فاذا امربمعصية فلاسمع ولاطاعة﴾ اخرجه البخاري ومسلم والترمذي وابن ماجة قاله المنذري.

[۲۶۲۷] (¹) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ هِلَالٍ، عَنْ بِشْرِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ مَالِكٍ مِنْ رَهْطِهِ، قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً فَسَلَحْتُ رَجُلًا مِنْهُمْ سَيْفًا، فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ: لَوْ رَأَيْتَ مَا لَامَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَعَجَزْتُمْ إِذْ بَعَثْتُ رَجُلًا مِنْكُمْ، فَلَمْ يَمْضِ لِأَمْرِي أَنْ تَجْعَلُوا مَكَانَهُ مَنْ يَمْضِي لِأَمْرِي".

ترجمه: دعقبه بن مالک رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دجهاددپاره يوه سريه اوليږله ماپه کښې يوکس له خپله توره ورکړې وه هرکله چه هغه واپس راغي نووئي وئيل کاش چه تاليدلي وي چه مونږ نبي عليه السلام خومره ملامته کړو؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل ستاسونه دومره هم اونه شوه چه ماپه تاسو باندې يوکس مشر کړې وو ستاسونه اوهغه زماحکم نه پوره کوو نوچه تاسو دهغه په ځائې باندې بل مقرر کړې وي داسې کس چه هغه زماحکم پوره کولې.

تشريح: عقبه بن مالک فرمائي چه يو ځل رسول الله ﷺ يوه سريه اوليږله په هغوی کښې يو سړې ما مسلّح بالسّيف کړو، يعنی هغه سره توره نه وه ما هغه ته توره ورکړه نو عقبه فرمائي چه کله هغه سړې د هغه جهاد نه واپس راغلو او بيا زما هغه سره څه وخت ملاقات اوشو نو هغه ماته اووې چه زمونږ په واپسئ باندې چه رسول الله ﷺ مونږ څنګه ملامته کړو که تاسو هغه ليدلي وې نو تاسو به تعجب کړې وې، اوس دا ملامته په څه څيز باندې وه د هغې معلومات د وړاندې جملې نه کيږي، چه د هغې مضمون دا دې، ايا تاسو د دې خبرې نه عاجز يئ (يعنی ستاسو نه دومره نه کيږي؟) چه کله زه په تاسو کښې يو داسې سړې امير مقرر کړم کوم چه د امارت خدمت په ښه طريقه سره نه شي کولې چه تاسو د هغه په ځائې بل څوک امير کړئ؟ يعنی کوم چه د امارت لائق وي؟

بَابُ مَا يُؤْمَرُ مِنِ انْضِمَامِ الْعَسْكَرِ وَسِعَتِهِ

د ټول لښکر افراد په يو ځائې کښې دراجمع ساتلو بيان

[۲۶۲۸] (²) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ الْحِمْصِيُّ، وَيَزِيدُ بْنُ قُبَيْسٍ مِنْ أَهْلِ جَبَلَةَ سَاحِلِ حِمْصٍ وَهَذَا لَفْظُ يَزِيدَ قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْعَلَاءِ، أَنَّهُ سَمِعَ مُسْلِمَ بْنَ مِشْكَمٍ أَبَا عُبَيْدِ اللَّهِ يَقُولُ: حَدَّثَنَا أَبُو ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيُّ، قَالَ: كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلُوا مَنْزِلًا، قَالَ عَمْرٌو: كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلًا تَفَرَّقُوا فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ، إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ"، فَلَمْ يَنْزِلْ بَعْدَ ذَلِكَ مَنْزِلًا إِلَّا انْضَمَّ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ حَتَّى يُقَالَ لَوْ بُسِطَ عَلَيْهِمْ ثَوْبٌ لَعَمَّهُمْ".

ترجمه: د ابوثعلبة الخشني رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه صحابه کرام به کله يوځائې ته ورغلل نوپه دروا و خوړونو کښې به خواره شول نبي عليه السلام اوفرمائيل يقيناستاسوجدا والې

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۱۰/٤) (حسن)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۷۱)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبرى/ السير (۸۸۵٦)، مسند احمد (۱۹۳/٤) (صحيح)

په دې درو اوخوړونوکښې دشيطان دطرف نه دې نوددې نه پس بيا يوځائې ته نه دې ورغلې مګردوی به ټول په يوځائې راجمع وو داسې به ښکاريدل که چرې په دوی باندې يوه کپړه خوره کړې شي نو دوی ټول به پرې پټ شي.

شرح حديث

يعنې بعض وخت به داسې کيدل چه رسول اللهﷺ به په يو منزل باندې د سفر دپاره کوز شو نو خلق به راکوزيدلو سره مختلف واديانو کښې منتشر شو، يعنې يوځائې کښې به نه راجمع کيدل، چه کله رسول اللهﷺ د هغوی دا کيفيت اوليدو نو هغه په دې باندې نکير اوفرمائيلو، او دا ئې اوفرمائيل چه داسې منتشر کيدو سره راکوزيدل د شيطان د طرف نه دی، وړاندې راوی فرمائی چه د رسول اللهﷺ د دې تنبيه نه روستو خلق منزل ته داسې کوزيدل ﴿لو بسط عليهم ثوب لعمهم﴾ چه په داسې لړ شان ځائې کښې به راغلل چه ټوله قافله به په يو څادر او تنبو کښې هم ځائې کيدله، د دې حديث نه معلومه شوه چه د مجاهدينو لښکر لره پکار دی چه کله هغوی د سفر دوران کښې يو منزل باندې کوز شي نو ټول خلق دې يوځائې او جخت وی د دې دپاره چه په کتونکو باندې د مجمع اثر او د هغوی هيبت پريوځي، والحديث اخرجه النسائی قاله المنذری.

[۲۶۲۹](١)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَسِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْخَثْعَمِيِّ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ مُجَاهِدٍ اللَّخْمِيِّ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ كَذَا وَكَذَا، فَضَيَّقَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ وَقَطَعُوا الطَّرِيقَ، فَبَعَثَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنَادِيًا يُنَادِي فِي النَّاسِ "أَنَّ مَنْ ضَيَّقَ مَنْزِلًا أَوْ قَطَعَ طَرِيقًا فَلَا جِهَادَ لَهُ".

ترجمه: سهل بن معاذ بن انس رضی الله عنه دخپل پلارنه روايت کوی فرمائی چه دنبی عليه السلام سره په فلانې فلانې جهاد کښې شريك شوې وو نوخلقو يوخل يوبل ته ځايونه تنګ کړل اولارې ئې تنګې کړې نونبی عليه السلام يواعلان کونکی اوليږلو چه په خلقو کښې اعلان اوکړې چه څوك چاته ځائې تنګ کړی يالاره بنده کړی نودده جهاد قبول نه دی.

تشريح: د حديث مضمون واضح دې، يو صحابی معاذ بن انس رضی الله عنه فرمائی چه زه د رسول اللهﷺ سره په يو غزوه کښې شريک شوم نو خلقو په يو منزل کښې کوزيدو سره لاره بنده کړه، يعنې د هغوی د تيريدو او تلو راتلو لاره ئې پرينخودله، هم دا مطلب دې د قطع طريق، چه کله رسول اللهﷺ دا منظر اوليدو نو هغه يو سړې اوليږلو چه لښکر ته زما دا پيغام ورکړه چه کوم سړې منزل باندی داسې کوز شی چه په هغې سره د خلقو لاره تنګه شی يا بنده شی نو د هغوی جهاد معتبر نه دې بلکه کالعدم دې.

معلومه شوه چه يو عبادت که هغه هر څومره عظيم وی که هغه بې قاعدې او بې اصولئ سره اوکړې شی نو هغه به په دې سره کالعدم او باطل شی، د هر يو کار د قاعدې مطابق کيدل ضروری دی، په بې پرواهئ سره کار کولو باندې مقصود نه حاصليږی، کوم کار چه د الله پاک نه په ويره او د قاعدې مطابق وی، هم هغه معتبر دې او د عبادت بللې

١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٣٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤١/٣) (حسن)

کیدو مستحق، رزقنا الله تعالی موافقة الاصول والاخلاص فی العمل.

[۲۶۳۰] (1) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ أُسَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ مُجَاهِدٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: حضرت معاذ بن انس رضی الله عنه وائی چه مونږ د الله د نبی صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کښې غزوه اوکړه، بیا راوی د تیر شوي روایت په شان حدیث بیان کړو.

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ تَمَنِّي لِقَاءِ الْعَدُوِّ

دشمن سره دمقابلې کولو آرزو دمما نعت بیان

[۲۶۳۱] (2) حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ مَعْمَرٍ، وَكَانَ كَاتِبًا لَهُ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي أَوْفَى حِينَ خَرَجَ إِلَى الْحَرُورِيَّةِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ قَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللَّهَ تَعَالَى الْعَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ".

ترجمه: دعمرو بن عبیدالله یعنی دابن معمر دغلام نه روایت دې فرمائی چه عبدالله بن أبی أوفی ماته اولیکل کله چه هغه دخوارجو مقابله کوله اولیکل چه کله به نبی علیه السلام دیو دشمن سره مقابله کوله نوووی وئیل ای خلقو ددشمن سره دمقابلې کولو ارمان مه کوئ اودالله پاك نه دعافیت سوال اوکړئ خوکه چرې ددشمن سره مخامخ شوئ نوبیاصبرکوئ او پوهه شئ چه جنت دتورو دسورې لاندې دې اوبیا ئې دادعا اووئیله: اې الله چه نازلونکی دکتاب ئې اوچلونکې دوریځوئې اوشکست ورکونکې ئې لښکروته ددې کفارو ډلې ته شکست ورکړې او زمونږ مدد اوکړې په دوی باندې.

تشریح: ﴿ کتب الیه عبد الله بن ابی اوفی حین خرج الی الحروریة ﴾ یعنی عمر بن عبیدالله چه کله خوارجو سره د جنګ دپاره روان وو نو سیدنا عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه هغه ته اولیکل، په بعض شروح کښې دی چه عمر بن عبیدالله د خوارجو په جنګ کښې امیر وو، د خوارجو سره یو جنګ خو د سیدنا علی رضی الله عنه په زمانه کښې شوې وو. په ابوداود کتاب شرح السنة کښې د باب قتل الخوارج د لاندې چه د کوم جنګ ذکر راروان دې، یعنی جنګ نهروان، چه په هغې کښې سیدنا علی رضی الله عنه شانداره فتح حاصله کړې وه، او دا عمر بن عبیدالله به په بل یو جنګ کښې کوم چه د هغوی سره شوې وو امیر وی

﴿ لا تتمنوا لقاء العدو وسلوا الله العافیة ﴾ یعنی جنګ او جهاد د مشرکانو سره وی دا جنګ د ارمان کولو څیز نه دې چه د هغې غوښتنه دې اوکړې شی. قتال خو مجبورا کولې شی چه

1): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۰۳) (حسن)

2): صحيح البخاري/الجهاد ۹۸ (۲۹۳۳)، والمغازي ۲۹ (۴۱۱۵)، والدعوات ۵۷ (۶۳۹۲)، والتمني ۸ (۷۲۳۷)، والتوحيد ۳۴ (۷۴۸۹)، صحيح مسلم/الجهاد ۷ (۱۷۴۲)، (تحفة الأشراف: ۵۱۶۱)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجهاد ۸ (۱۶۷۸)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۱۵ (۲۷۹۶)، مسند احمد ۴/۳۵۴) (صحيح)

کله څوک اسلام ته د داخلیدو نه انکار اوکړی، او په خپله خبره باندې مضبوط شی، بلکه د الله پاک نه عافیت غوښتل پکار دی، شارحینو لیکلي دی چه د لقاء عدو غوښتنه کول دا د عجب او خپل طاقت باندې د فخر کولو د قبیلې نه دې، په جهاد کښې چه کومه فتح ملاویږی هغه په انابت الی الله سره او د هغه نه په نصرت طلب کولو سره وی، مجاهدینو لره جهاد د خپل طاقت په زور نه دی کول پکار، پس په حدیث شریف کښې دی چه رسول الله ﷺ به د قتال په ابتداء کښې دا دعا کوله "اللهم بک احول وبک اصول وبک اقاتل ﴾ وړاندې په حدیث کښې دا دی چه کله جنګ ته خبره اورسیږی نو بیا مقابله مضبوطه او په همت سره کول پکار دی ﴿ فاذا لقیتموهم فاصبروا ﴾ او د جنګ نه تیختنه کول نه دی پکار.

د حدیث شرح

﴿ ان الجنة تحت ظلال السیوف ﴾ امام ابن الجوزی رحمه الله فرمائی، یعنی جنت په جهاد او قتال سره حاصلیږی، په جهاد کښې چه کله فریقین یو بل ته نزدې کیږی بلکه داسې اوایئ چه د یو بل په سر باندې خیژی توره اخستلو سره نو په دواړو کښې هر یو د بل د تورې د لاندې وی، رسول الله ﷺ فرمائی، د تورې د سورې د لاندې جنت دې، او د تورې په سوری کښې انسان وی په سخت جنګ کښې. لهذا مطلب دا شو چه په جهاد کښې حصول جنت دې، د دې نه معلومه شوه چه د ظل یعنی سوری نه دلته مراد د دشمن د تورې سورې دې کوم چه د مجاهد په سر باندې وی، د جهاد بالسیف په وخت، شارحینو د دې حدیث د فصاحت او بلاغت ډیر داد ورکړې دې، او مقصود په دې سره د جهاد ترغیب ورکول دی چه د جهاد په ذریعه د جنت د حصول کوشش کوئ. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم قاله المنذری.

بَابُ مَا يُدْعَى عِنْدَ اللِّقَاءِ

د دشمن سره د مقابلې په وخت کښې کومه دعا غوښتل پکاردی؟

یعنی د عین جنګ شروع کیدو په وخت څه دعا کول پکار دی، دې وخت کښې د رسول الله ﷺ نه کومه دعا نقل ده، د دې باب د لاندې هم هغه دعا ده کومه چه مونږ سره پورته ذکر شوه،

[۲۶۳۲] (۱) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الْمُثَنَّى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا غَزَا قَالَ: "اللَّهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي وَنَصِيرِي بِكَ أَحُولُ وَبِكَ أَصُولُ وَبِكَ أُقَاتِلُ".

ترجمه: د انس بن مالک نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به کله جهاد کولو نو داسې به ئې فرمائیل: اې الله ته زما متې او مددګار ئې، ستا په مدد سره ګرځم راګرځم او ستا په مدد سره حمله کوم او ستا په مدد سره جنګیږم.

والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی قاله المنذری.

---

(۱): سنن الترمذي/الدعوات ۱۲۲ (۳۵۸۴)، سنن النسائي/اليوم والليلة (۶۰۴)، (تحفة الأشراف: ۱۳۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۴/۳) (صحيح)

بَابٌ فِي دُعَاءِ الْمُشْرِكِينَ

د جهاد په موقعه باندې کفاروته د اسلام دعوت ورکول

یعنی د قتال نه مخکښې دعوت الی الاسلام، بعینه دا ترجمه څو بابونه مخکښې تیره شوې ده هلته د دعوت قبل القتال حکم سره د اختلاف ائمه نه تیر شوې دې، اوس به اشکال تکرار فی الترجمه وی، جواب دا دې چه مسئله خو په دواړو ځایونو کښې یوه ذکر شوې ده خو غرض د دواړو بابونو مختلف دې، په اول ځائې کښې مقصود وجوب دعوت او د هغې اثبات وو، او په دې ترجمة الباب کښې مقصود رخصت فی ترک الدعوة دې لکه چه په حدیث الباب کښې امام نافع رحمه الله فرمائیلې دی د سوال په جواب کښې ﴿ ان ذلک کان فی اول الاسلام ﴾ چه د دعوت وجوب د اسلام په شروع کښې وو.

[۲۶۳۳] (۱) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ، قَالَ: كَتَبْتُ إِلَى نَافِعٍ أَسْأَلُهُ عَنْ دُعَاءِ الْمُشْرِكِينَ عِنْدَ الْقِتَالِ، فَكَتَبَ إِلَيَّ أَنَّ ذَلِكَ كَانَ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ وَقَدْ أَغَارَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ وَهُمْ غَارُّونَ وَأَنْعَامُهُمْ تُسْقَى عَلَى الْمَاءِ، فَقَتَلَ مُقَاتِلَتَهُمْ وَسَبَى سَبْيَهُمْ، وَأَصَابَ يَوْمَئِذٍ جُوَيْرِيَةَ بِنْتَ الْحَارِثِ، حَدَّثَنِي بِذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ وَكَانَ فِي ذَلِكَ الْجَيْشِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيثٌ نَبِيلٌ رَوَاهُ ابْنُ عَوْنٍ، عَنْ نَافِعٍ وَلَمْ يُشْرِكْهُ فِيهِ أَحَدٌ.

ترجمه: دعون دځوی نه روایت دې فرمائی چه دنافع نه مې دخط په ذریعه تپوس کولو په باره د دعوت ورکولو مشرکانوته دجنګ په وخت کښې نوهغه راته په جواب کښې اولیکل چه داکار په ابتداء داسلام کښې وو، او یقینا حمله کړې وه نبی ﷺ په بنی المصطلق باندې اوهغوی اوده وو اوڅاروونې اوبه څکلې، نبی ﷺ ددوی نه هغه کسان مړه کړل څوک چه په دوی کښې دجنګ قابل وو اوباقی خلق ئې په قید کښې راوستل اوجویریة بنت حارث نبی ﷺ په دې ورځ حاصله کړې وه، اودا روایت ماته عبدالله بیان کړې دې څوک چه پخپله په دغه لښکر کښې موجود وو. ابوداؤد وائی: دا یوښه حدیث دې، دې لره ابن عون د نافع نه روایت کړې دې اوپه دې کښې دهغه سره هیڅوک شریک نه دی.

شرح حدیث

پس رسول الله ﷺ په بنوالمصطلق باندې داسې وخت کښې حمله اوکړه ﴿ وهم غارون ﴾ چه هغوی بې خبره او غافل وو، ﴿ غارون ﴾ د ﴿ غرور ﴾ او ﴿ غرة ﴾ په معنی د غفلت نه ماخوذ دې. ﴿ وانعامهم تسقی علی الماء ﴾ او هغوی په ارام باندې خپلو څاروو ته اوبه ورکولې ﴿فقتل مقاتلتهم وسبی سبیهم ﴾ مقاتلة په کسرې د تاء سره د مقاتل جمع ده، مقاتل جنګ کونکې، چه په چا کښې د قتال صلاحیت وی یعنی سړې عاقل او بالغ، ځکه چه په جهاد کښې هم داسې کفار قتل کولې شی نه زنانه او نابالغ ماشومان د کوم نه چه په سبی سره تعبیر کړې شوې دې، هغوی صرف قید کولې شی، هم دا خبره راوی بیانوی ﴿ واصاب یومئذ جویریة ﴾

(۱): صحیح البخاري/العتق ۱۳(۲۵۴۱)، صحیح مسلم/الجهاد ۱ (۱۷۳۰)، (تحفة الأشراف: ۷۷٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۱، ۳۲، ۵۱) (صحیح)

یعنی په دې جنګ کښې رسول الله ﷺ ته سیده جویریه بنت الحارث رضی الله عنها ملاؤ شوې وه کومه چه رسول الله ﷺ ازاده کړه او په نکاح ئې واخستله.

د سیده جویریه د عتق او نکاح واقعه

د هغوی پوره حال په ابواب العتق کښې راروان دې چه په هغې کښې دا دی چه په غزوه د بنو المصطلق کښې جویریه رضی الله عنها د سیدنا ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه په حصه کښې راغلې وه، جویریه رضی الله عنها هغه سره د مکاتبت معامله کړې وه، ﴿ وکانت امرأة ملاحة تاخذها العین ﴾ سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی کومه چه د دې قصې روایت کوی چه جویریه رضی الله عنها ډیره ملیحه او ښکلې وه، داسې ښکلې چه نظر به ئې راښکلو، یعنی داسې چه انسان ورته بس هم داسې ګوری، هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغله د بدل کتابت په سلسله کښې د دې دپاره چه هغه ئې په دې سلسله کښې مدد اوکړی، عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله هغه په دروازه باندې اودریدله او ما هغه اولیده نو په ما باندې د هغې کتل ډیر ګران شو، یعنی د هغې د حسن او ښکلا د وجې نه، او زما په زړه کښې دا خیال راغلو چه کله دا د رسول الله ﷺ سره خبرې اوکړی نو هغه به هم د هغې د حسن او جمال نه خبر شی، غرض دا چه هغې رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه زه جویریه یم او خپل حال ئې بیان کړو او دا چه زه د کتابت په سلسله کښې ستاسو نه مدد اخستل غواړم نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه که ته غواړې نو زه به تاته د دې نه غوره مشوره درکړم؟ هغې اووې هغه څه یا رسول الله! رسول الله ﷺ اوفرمائیل زه به ستا بدل کتابت ادا کړم او تا سره به نکاح اوکړم، هغې اووې زه د دې دپاره تیاره یم، پس بیا هم داسې اوشو او رسول الله ﷺ د هغې سره نکاح اوکړه، چه کله خلقو ته د دې خبر اوشو نو په صحابه کرامو کښې چه چا چا سره د بنو المصطلق نه قیدیان راغلې وو هغوی هغه په دې وینا پریخودل او آزاد ئې کړل چه دا د رسول الله ﷺ سخرګنئ ده، عائشه رضی الله عنها فرمائی چه مونږ د هغې نه زیاته یوه زنانه هم د خپل قوم په حق کښې برکتی نه ده لیدلې، په دې بنیاد چه د بنو المصطلق سل کورنئ ازادې شوې.

﴿ حدثنی بذلک عبد الله وکان فی ذلک الجیش ﴾ دا د نافع مقوله ده، هغه دا مضمون په شروع کښې د خپل طرف نه بیان کړې وو بغیر د حوالې نه کوم ته چه د محدثینو په اصطلاح کښې تعلیق وئیلې شی، اوس نافع دا بیان فرمائی چه دا حدیث ماته عبدالله بن عمر بیان فرمائیلې وو کوم خپله په دې لښکر کښې موجود وو. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

[۲٦۳٤](1) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ يُغِيرُ عِنْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ، وَكَانَ يَتَسَمَّعُ فَإِذَا سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ وَإِلَّا أَغَارَ.

ترجمه: د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام به د سحر د مونځ په وخت کښې حمله کوله او اذان ته به ئې هم غوږ اینښودلې وو، کله چه به ئې اذان واوریدو نو د جنګ نه

(1): صحیح مسلم/الصلاة ٦ (۳۸۲)، سنن الترمذي/السیر ٤۸ (۱٦۱۸)، (تحفة الأشراف: ۳۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۳۲/۳، ۲۲۹، ۲٤۱، ۲۷۰، ۳۵۳) (صحیح)

به بند شو او که اذان به ئې نه اوریدو نو حمله به ئې اوکړه.

تشریح: ﴿ وکان یغیر عند صلاة الصبح وکان یتسمع فاذا سمع اذانا امسک والا اغار ﴾ یعنی د رسول الله ﷺ معمول په شپه کښې د حمله کولو او قتال کولو نه وو، یعنی مثلاً که دار الحرب ته نزدې د شپې یا ماښام په وخت باندې راورسیږی نو دا نه چه هم هغه وخت قتال شروع کړی، بلکه د شپې تیریدو او د سحر کیدو انتظار به ئې کولو او د سحر په وخت به ئې اذان ته غوږ کیخودلو، که د هغه کلی نه به د اذان اواز راتلو نو د قتال نه به منع شو ګینې قتال به ئې شروع کړو.

د قتال نه د منع کیدو مطلب دا نه دې چه هغه به ئې ترک کړو بلکه مطلب به دا وو چه د اذان په اوریدو سره به چونکه دا معلومیده چه په دې کلی کښې مسلمانان هم دی په دې وجه به فی الوقت منع شو د دې دپاره چه روستو تحقیق کولو سره قتال اوکړې شی، د امام شافعی رحمه الله نه منقول دی چه د رسول الله ﷺ د قتال شروع کولو دپاره د سحر انتظار کول په دې وجه نه وو چه د شپې قتال ممنوع دې بلکه د دې دپاره وو چه هغه اوګوری چه صحابه کرام څنګه قتال کوی یعنی د دې دپاره چه نګرانی ئې ښه اوشی وغیره وغیره مصالح، او بعض وخت به د قتال په کولو سره دا خطره هم وه چه د مسلمانانو په لاس سره خپل ملګری قتل نه شی. اهـ والحدیث اخرجه مسلم والترمذی، قاله المنذری

[۲۶۳۵] (۱) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ نَوْفَلِ بْنِ مُسَاحِقٍ، عَنِ ابْنِ عِصَامٍ الْمُزَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَقَالَ: "إِذَا رَأَيْتُمْ مَسْجِدًا أَوْ سَمِعْتُمْ مُؤَذِّنًا فَلَا تَقْتُلُوا أَحَدًا".

ترجمه: ابن عصام مزنی د خپل پلار نه روایت کوی فرمائی موږ نبی علیه السلام په یوه سریه کښې ولیږلو او وئې فرمائیل کله چه جومات ووینئ یا اذان واورئ نو په دغه وخت کښې هیڅوک مه وژنئ.

بَابُ الْمَكْرِ فِي الْحَرْبِ

په جنګ کښې د چل کولو بیان

[۲۶۳۶] (۲) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْحَرْبُ خُدْعَةٌ".

ترجمه: د جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی جنګ د دهوکې او چل ول نوم دې.

شرح حدیث

دا لفظ په درې طریقو سره ضبط کړې شوې دې، ﴿ خدعة ﴾ په ضمې د خاء او فتحې د دال سره، ﴿ خدعة ﴾ او سکون دال سره، ﴿ خدعة ﴾ په فتحې د خاء او سکون دال سره، هم دې

(۱): سنن الترمذي/السير ۲ (۱۵۴۹)، (تحفة الأشراف: ۹۹۰۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۴۸/۳) (ضعيف)

(۲): صحيح البخاري/الجهاد ۱۵۷ (۳۰۳۰)، صحيح مسلم/الجهاد ۵ (۱۷۳۹)، سنن الترمذي/الجهاد ۵ (۱۶۷۵)، (تحفة الأشراف: ۲۵۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۰۸/۳) (صحيح)

اخیر ته افصح وئیلې شوې دې، په دې صورت کښې به دا په وزن د ﴿ فعلة ﴾ وی او ﴿ فعله د مرة ﴾ دپاره راځی، یعنی په جنګ کښې که چال نه کار واخستلې شی په دې شرط چه هغه چال کامیاب هم شی نو په یو ځل کښې ټول کار تمام شی او ډیره زر فتح حاصلیږی لکه چه وئیلې شی یا ار پار، او په دویم صورت کښې په ﴿ خدعة ﴾ کښې معنی به دا وی چه جنګ د دهوکې څیز دې یعنی په دې کښې چالبازی ډیره پکار راځی او په دریم صورت کښې یعنی د ﴿ خدعة ﴾ معنی به دا وی چه جنګ ډیر د دهوکې ورکولو څیز دې او مکار دې لهذا په دې کښې دې بې پرواهی او بې فکری اونکړې شی بلکه ښه د هوښیارتیا او احتیاط نه کار اخستل پکار دی لکه چه مشهور دی چه دشمن به کله هم سپک نه ګنړې.

په جنګ کښې د دهوکې ورکولو یو مضبوط مثال دا کیدې شی، مثلا ستا طرف ته یو کافر منډه وهلو سره د حملې دپاره راروان دې او ته یواځې ئې نو دلته د دهوکې نه کار اخستلو ضرورت دې هغه دا چه ته هغه اویروې او ډیر په تندئ سره دا اوایه چه اوګوره په تا پسې شاته څوک دی هغه به په ویره باندې شاته اوګوری په دې کښې به ته هغه قتل کړې، هکذا افهمنی حضرة الشیخ عند الدرس، کوم چه په حدیث کښې دی چه جنګ د دهوکې څیز دې، په دې باندې یعنی په جواز خداع فی الحرب باندې د ټولو علماء کرامو اتفاق دې، د خداع چه کوم صورت هم اختیار کړې شی په دې شرط چه هغه د معاهدې خلاف نه وی ګینې دا به غدر وی چه د هغې په شریعت کښې اجازت نشته، هم په دې وجه ذمیانو سره هیڅ قسم تعرض نه شی کولې، د مسلمانانو په شان د هغوی سره معامله کولې شی، هم د دې عهد د وجې نه، هم دا مطلب دې د هغه حدیث کوم چه به وړاندې په یو باب کښې راشی، ﴿ الایمان قید الفتک لا یفتک مومن، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی، قاله المنذری.

[٢٦٣٧](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ ثَوْرٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ غَزْوَةً وَرَّى غَيْرَهَا، وَكَانَ يَقُولُ: "الْحَرْبُ خَدْعَةٌ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَجِئْ بِهِ إِلَّا مَعْمَرٌ يُرِيدُ قَوْلَهُ الْحَرْبُ خَدْعَةٌ بِهَذَا الْإِسْنَادِ إِنَّمَا يُرْوَى مِنْ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرٍ، وَمِنْ حَدِيثِ مَعْمَرٍ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: عبدالرحمن بن کعب بن مالك دخپل پلارنه روایت کوی چه کله به نبی عليه السلام دجنګ اراده اوکړه نو کوم طرف ته چه به تلو دهغې نه دعلاوه توریه به ئې کوله او فرمائیل به ئې: جنګ دچل ول نوم دې. ابوداود وائی دمعمر نه بغیر بل چا دې سند سره نه دې روایت کړې (یعنی معمر په دې روایت کښې متفرد دې)، اوپه دې سره به ئې د نبی ﷺ قول" الحرب خدعة" مراد اخستلو. دا لفظ صرف د عمرو بن دینار په واسطې سره دجابر رضي الله عنه نه نقل دی یا دمعمرپه واسطې سره دهمام ب منبه نه نقل دی کوم چه هغه د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت کوی.

تشریح: قوله ﴿ کان اذا اراد غزوة ورى غيرها ﴾ دا هم د خدعة د قبیل نه دې، یعنی دا چه د غزوه

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١١٥١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ١٠٣ (٢٩٤٧)، والمغازي ٧٩ (٤٤١٨)، سنن الدارمي/السير ١٤ (٢٤٨٤) (صحيح) دون الشطر الثاني

دپاره توریه اختیار کړې شی مثلاً کوم طرف ته چه د جنګ دپاره تلل دی، د هغې په ځائې د بل جهت په باره کښې ظاهری طور معلومات ورکړې شی، چه اصل ځائې چه کوم د جنګ دې د هغې چاته پته او نه لګی.

باب فِي الْبَيَاتِ

د شپې د حملې کولو بیان

د بیات مطلب دا دې چه د شپې وخت د غفلت وخت وی په دې کښې په دشمن باندې ناڅاپه حمله کول چه د هغې بعض وخت ضرورت وی، په فارسئ کښې دې ته شب خون ونیلې شی، په حدیث الباب کښې د بیات ذکر دې کومې ته چه تبییت هم ونیلې شی. سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائی چه په دې شپه باندې ما په خپل لاس سره د مشرکینو اووه کورنئ ختمې کړې

[۲۶۳۸]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ، وَأَبُو عَامِرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا إِيَاسُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَمَّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا أَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَغَزَوْنَا نَاسًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَبَيَّتْنَاهُمْ نَقْتُلُهُمْ وَكَانَ شِعَارُنَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ أَمِتْ أَمِتْ، قَالَ سَلَمَةُ: فَقَتَلْتُ بِيَدِي تِلْكَ اللَّيْلَةَ سَبْعَةَ أَهْلِ أَبْيَاتٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ.

ترجمه: ایاس بن سلمه دخپل پلارنه روایت کوی فرمائي: چه نبی علیه السلام په مونږه ابوبکر رضی الله عنه امیر مقرر کړو اودمشرکانوسره موجنګ اوکړو اودشپې پرې مونږه حمله اوکړه اوهغوی موقتل کړل او په دغه شپه باندې زمونږه ننبه (کوډ) امت امت وه سلمه وائی په دغه شپه مې د مشرکانو داووه کورونو کسان په خپل لاس مړه کړل.

تشریح: په دې حدیث کښې د شعار ذکر هم دې کوم چه مخکښې په مستقل باب کښې تیر شوې دې. والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجة قاله المنذری.

باب فِي لُزُومِ السَّاقَةِ

د ساقه سره د امام د پاتې کیدو بیان

[۲۶۳۹]([2]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ شَوْكَرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَلَّفُ فِي الْمَسِيرِ، فَيُزْجِي الضَّعِيفَ وَيُرْدِفُ وَيَدْعُو لَهُمْ.

ترجمه: ابوالزبیر فرمائی چه جابر بن عبدالله رضی الله عنه مونږه ته حدیث بیان کړو چه نبی علیه السلام به دسفرپه دوران کښې وروسته پاتې کیدو ددې دپاره چه کمزوری به ئې دځان سره روانول او په سورلی به ئې دځان سره شاته سوروول اودعابه ئې ورته کوله.

تشریح: د ﴿ساقه﴾ نه مراد ساقة الجیش دې، د مقدمة الجیش مقابل، یعنی د لښکر هغه دسته کومه چه د ټولو نه شاته روانه وی، او د ټولو نه وراندې تلونکی ته مقدمه او بنی او

[1]: سنن ابن ماجه/الجهاد ۳۰ (۲۸۴۰)، (تحفة الأشراف: ۴۵۱۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۴۶)، سنن الدارمي/السير ۱۵ (۲۴۹۵) (حسن)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۶۸۳) (صحیح)

کس طرف ته تلونکی ته میمنه او میسره او په مینځ کښې تلونکی ته قلب وئیلې شی، ګویا د لښکر پنځه حصې کولې شی، هم په دې وجه باندې دې ته خمیس هم وئیلې شی، د لزوم الساقه مطلب دا دې چه انسان په هغه دسته کښې روان وې لکه چه په حدیث الباب کښې د رسول اللهﷺ په باره کښې راځی. ﴿ كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يتخلف في المسير ﴾ رسول اللهﷺ به په لښکر پسې شاته شاته روان وو ﴿ فيزجي الضعيف ويردف ويدعو لهم ﴾ راوی درسول الله ﷺ د شاته تلو مصلحت بیانوی چه که د چا سورلئ به سسته او کمزورې وه نو هغه به ئې شړله، او د ضرورت مطابق به ئې څوک په خپله سورلئ باندې ردیف جوړ کړو، او بل مصلحت دا دې چه د لښکر دپاره به چه څوک د هغه په وړاندې وو د هغه دپاره به ئې دعا کوله.

بَاب عَلَى مَا يُقَاتَلُ الْمُشْرِكُونَ
د مشرکانو سره په څه وجه جهاد اوکړې شی؟

[٢٦٤٠]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَإِذَا قَالُوهَا مَنَعُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ تَعَالَى".

ترجمه: دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دي حکم شوې دې ماته چه جنګ وکړم دخلقوسره تردې چه : اشهد ان لا اله الاالله اووائی، کله چه دوی دا اووئیل نو دوی خپلې وینې اومالونه زمانه بچ کړل مګردڅه شرعي حق په وجه باندې او ددوی حساب الله تعالی ته سپارلی شوې دې،

تشریح: یعنی د مشرکانو سره قتال په کوم بنیاد باندې کول پکار دی او په کوم صورت کښې کول پکار دی، او د دې مقصد څه کیدل پکار دی؟ دا ټولې خبرې په احادیث الباب کښې غور کولو سره فهم ته راځی. ﴿ امرت ان اقاتل الناس حتى يقولوا لا اله الا الله ﴾ معلومه شوه چه په قتال سره مقصود اعلاء کلمة الله، او ابطال کفر، یعنی د کفر ختمول دی، کفار که بالفرض د قتال دوران کلمه اووائی نو دا خو جدا خبره ده چه هغوی ئې د زړه نه لولی یا د ځان د بچ کولو دپاره، خو بهرحال د کلمې د وئیلو په وخت به د هغوی نه لاس راښکلې شی، ﴿ وحسابهم على الله ﴾ مطلب هم دا دې یعنی مونږ د ظاهر مکلف یو په ظاهره کښې به د هغوی د کلمې وئیلو په وجه باندې هغوی سره قتال نه شی کولې، د باطن حال مفوض الی الله دې.

د دې نه روستو په حدیث د انس رضی الله عنه کښې زیادت دې ﴿ وان يستقبلوا قبلتنا وان ياكلوا ذبيحتنا وان يصلوا صلاتنا ﴾

[1]): سنن الترمذي/الإيمان ١ (٢٦٠٦)، سنن النسائي/المحاربة ١ (٣٩٨١)، سنن ابن ماجه/الفتن (٣٩٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٠٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ١٠٢ (٢٩٤٦)، صحيح مسلم/الإيمان ٨ (٢٦١٠)، مسند احمد (٢/ ٣١٤، ٣٧٧، ٤٢٣، ٤٣٩، ٤٧٥، ٤٨٢، ٥٠٢) (صحيح متواتر)

[۲۶۴۱]()حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَأَنْ يَسْتَقْبِلُوا قِبْلَتَنَا وَأَنْ يَأْكُلُوا ذَبِيحَتَنَا وَأَنْ يُصَلُّوا صَلَاتَنَا فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ حَرُمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا لَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ".

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی ماته حکم شوې دې چه جنګ اوکړم دخلقو سره تردې چه لااله الاالله وان محمدا عبده ورسوله اووائی، او زمونږه قبلې ته مخ کوي او زمونږه حلاله خوري اوزمونږ په شان مونځ کوي کله چه دوی دا کارونه اوکړي نوپه مونږه باندې ددوی وينې او مالونه حرام شول مګر په حق دشريعت باندې چه ددوی دپاره دې په شان دهغه کوم چه دمسلمانانو دپاره دې اودهغه حق په وجه کوم چه په دوي باندې دې په شان دهغه کوم چه په مسلمانانوباندې دې.

شرح حديث

دا ټول څيزونه هم د اسلام ظاهری علامات دی، نو مطلب دا شو چه کوم سړی کلمه وائی او کلمه لوستونکو ته کوم چه ظاهری اعمال دی هغه اختياروی نو هغه به مسلمان ګڼړلي شی، د دې نه معلومه شوه چه د اسلام په معتبر کيدو کښې به د شعائر اسلام اعتبار وی، پس د مسلمانانو قبله اختيارول او د هغې خپلول، او د مسلمانانو د لاس ذبيحه جائز ګڼړل دې ټولو څيزونو لره به اعتبار وی، يو سړې کلمه خو وائی خو کعبه خپله قبله نه منی، يا د مسلمان ذبيحه ناجائزه ګڼړی، يا د مونځ نه انکار کوی، دا ټول څيزونه د هغه د کفر په علاماتو کښې دی لکه يو سړې چه کلمه خو وائی خو د هغې سره زنار هم په غاړه کښې اچوی کوم چه د کفر په شعائرو کښې دې نو د هغه ظاهر اسلام هم معتبر نه دې.

دا د ﴿ امرت ان اقاتل الناس ﴾ والا حديث دکتاب الزكاة په شروع كښې تير شوې دې ،وحديث انس اخرجه البخاری تعليقا، واخرجه الترمذی والنسائی قاله المنذری.

[۲۶۴۲]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ الْمُشْرِكِينَ بِمَعْنَاهُ".

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی ماته حکم شوې دې چه جنګ اوکړم دمشرکانوسره اوباقی روايت دتير روايت په شان دې.

[۲۶۴۳]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ المعنى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ عُبَيْدٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي ظَبْيَانَ، حَدَّثَنَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى الْحُرَقَاتِ فَنَذِرُوا بِنَا فَهَرَبُوا، فَأَدْرَكْنَا رَجُلًا فَلَمَّا غَشِينَاهُ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ فَضَرَبْنَاهُ حَتَّى قَتَلْنَاهُ، فَذَكَرْتُهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[۱]): صحيح البخاري/الصلاة ۲۸ (۳۹۲)، سنن الترمذي/الايمان ۲ (۲۶۰۸)، سنن النسائي/تحريم الدم ۱ (۳۹۷۲)، والإيمان ۱۵ (۵۰۰۶)، (تحفة الأشراف: ۷۰۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹۹/۳، ۲۲۴) (صحيح)

[۲]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۸۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/ الصلاة ۲۸ (۳۹۳ تعليقًا) (صحيح)

[۳]): صحيح البخاري/المغازي ٤٥ (٤٢٦٩)، والديات ۲ (٦٨٧٢)، صحيح مسلم/الإيمان ٤١ (٩٦)،سنن النسائي/الكبري (٨٥٩٤)، (تحفة الأشراف: ٨٨) (صحيح)

فَقَالَ: "مَنْ لَكَ بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّمَا قَالَهَا مَخَافَةَ السِّلَاحِ، قَالَ: أَفَلَا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ حَتّٰى تَعْلَمَ مِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ قَالَهَا أَمْ لَا مَنْ لَكَ بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟". فَمَا زَالَ يَقُولُهَا حَتّٰى وَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أُسْلِمْ إِلَّا يَوْمَئِذٍ.

ترجمه: د اسامه بن زید رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام مونږه په یووړوکي لښکر کښې حرقات طرف ته اولیږلو کله چه هغوی زمونږ دراتګ نه خبر شول نو اوتښتیدل نومونږه دهغوی یوکس ګیرکړو هغه لااله الاالله اووئیل او مونږ دې وهلو تردې چه مړ مو کړو، بیا مې دا واقعه نبی علیه السلام ته ذکرکړه تبې علیه السلام اوفرمائیل دلااله الاالله په مقابل کښې به دقیامت په ورځ ستا څوك امدادکوي ماعرض اوکړواي دالله رسوله هغه خوکلمه دوسلې دویرې دوجې نه وئیلې وه نبی علیه السلام اوفرمائیل آیاتا دده زړه سیري کړې وو چه تاته دا معلومه شوه چه دویرې نه ئې کلمه وئیلې وه اوکه نه دلااله الاالله په مقابل کښې به دقیامت په ورځ ستا څوك امدادکوي داخبره به ئې باربارکوله ما ارمان اوکړو چه کاش چه هم دانن زه مسلمان شوې وې

تشریح: سیدنا اسامه بن زید رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ په یوه سریه کښې مقام حرقات ته اولیږلو، هغوی ته زمونږ د ورتلو په څه طریقه خبر اوشو هغوی خپل کلې پریخودلو او اوتختیدل خو بیا هم مونږ په هغوی کښې یوکس دوه ګیر کړل، چه کله مونږ هغوی ګیر کړل نو هغوی ﴿ لا اله الا الله ﴾ اووې، مونږ هغوی د دې باوجود قتل کړل (په دې خیال چه دوی په دې کلمه ځان خلاصوی) په واپسئ کښې ما د دې ذکر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوکړو نو هغه ډیر ناراضه شو او وې فرمائیل ﴿ من لک بلا اله الا الله یوم القیامة؟ ﴾ چه کله د قیامت ورځ شی نو ته به د هغه د ﴿ لا اله الا الله ﴾ څه جواب ورکوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم بار بار دا جمله وئیله، هغه فرمائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې سختې ناراضتیا د وجې نه ما په خپل زړه کښې ارمان اوکړو چه ارمان ما د دې حرکت نه مخکښې اسلام نه وو قبول کړې، بلکه د دې نه روستو مې قبول کړې وې، او کومه ګناه چه زما نه شوې ده دا زما نه د اسلام نه بلکه د کفر په حالت کښې شوې وې، او بیا په اسلام راوړلو سره هغه ختمه شوې وې. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

[٢٦٤٤] (١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ اللَّيْثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ، عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ فَقَاتَلَنِي، فَضَرَبَ إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ ثُمَّ لَاذَ مِنِّي بِشَجَرَةٍ، فَقَالَ: أَسْلَمْتُ لِلّٰهِ أَفَأَقْتُلُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا؟ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقْتُلْهُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ قَطَعَ يَدِي، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَقْتُلْهُ فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَأَنْتَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ".

ترجمه: مقداد بن اسود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام به خدمت کښې مې عرض اوکړو چه اې دالله رسوله ستاسو څه راې ده که چرې زه دیومشرك سره مخامخ شوم اوهغه

(١): صحیح البخاري/المغازي ١٢ (٤٠١٩)، والدیات١ (٦٨٦٥)، صحیح مسلم/الإیمان ٤١ (٩٥)، (تحفة الأشراف: ١١٥٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣، ٤، ٥، ٦) (صحیح)

ماسره جنګ شروع کړي اويولاس مې په توره پرې کړي او ددې نه پس دې دوني شاته پټ شي او اووائي چه مادالله دپاره اسلام قبول کړو، نواياددې خبرې نه پس ئې زه قتل کړم؟ نبي ﷺ اوفرمائيل نه، دې مه وژنه ماعرض اوکړو اې دالله رسوله ده چه زمالاس پرې کړې دې نبي ﷺ اوفرمائيل دې به نه وژنې که چرې ته دې مړ کړې نودې به ستا په هغه حالت باندې شي کله چه دې تانه وو وژلې اوته به دده په هغه حالت باندې شي کله چه ده کلمه نه وه وئيلې.

تشريح: سيدنا مقداد بن اسود ﷺ فرمائی چه يو ځل ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه که زه يو کافر ته مخامخ شم او بيا زما او د هغه ترمينځه قتال شروع شي، او هغه زما لاس په توره باندې پرې کړي، او بيا زه د هغه طرف ته متوجه شم. يعنی د قتل کولو دپاره نو هغه زما نه بچ کيدو سره د يوې اونې شاته پټ شي او چه کله زه په هغه باندې وار کوم نو هغه اوائی چه ﴿ اسلمت لله ﴾ نو ايا په دې حالت کښې زه هغه قتل کولې شم؟ نو هغه زه منع کړم چه نه دی قتل کول پکار. وړاندې روايت کښې دا دی.

فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ وَأَنْتَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ.

شرح حديث

د دې حديث په مطلب باندې لږ په غور سره ځان پوهه کړئ، د دې ترجمه دا ده چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه که تا د دې باوجود هغه قتل کړو نو (ياد ساته) هغه خو به داسې شی ځنګه چه ته وې، د هغه د قتل کولو نه مخکښ، او ته به داسې شی ځنګه چه هغه وو د کلمې وئيلو نه مخکښ.

په دې کښې دا اشکال دې چه هغه دشمن د کلمې وئيلو نه مخکښې کافر وو نو د دې مطلب دا شو چه دا مسلمان به د هغه د قتل کولو په وجه باندې د هغه دشمن په شان کافر شي، حال دا چه د مسلمان په قتل سره څوک کافر کيږی نه، او؛ فاسق فاجر کيږي، دا خو د خوارج او معتزله مسلک دې چه د کبيره ګناه د وجې نه انسان د دائره اسلام نه خارج کيږي، په دې وجه اهل سنت د دې حديث توجيه داسې کړې ده چه په دې حديث کښې تشبيه د کفر او اسلام په اعتبار سره نه ده بلکه د لازم کفر او لازم اسلام په اعتبار سره ده او هغه دې مباح الدم او غير مباح الدم کيدل. لهذا مطلب دا شو چه د هغه د قتل کولو نه روستو به ته هم هغه شان مباح الدم شې ځنګه چه هغه دشمن د کلمې وئيلو نه مخکښې مباح الدم وو خو د کافر اباحت دم د هغه د کفر په وجه باندې دې او د دې مسلمان قاتل قصاصا، کذا فی البذل نقلا عن القاری، او که هيڅ قسم توجيه اونکړې شی او دا په ظاهر باندې اوساتلې شی نو دا هم ممکن ده چه په دې صورت کښې به دا په مبالغه فی الزجر والتوبيخ باندې محمول وی، يوه توجيه خو په دې کښې دا هم کړې شوې ده چه دا حديث په خپل ظاهر باندې دې خو د استحلال قتل په صورت کښې، يعنی چه د کلمه ګو قتل حلال ګڼړلو سره اوکړې شی، والحديث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ قَتْلِ مَنِ اعْتَصَمَ بِالسُّجُودِ[1]

بيان د ممانعت د قتل دهغه چا چه په سجده باندې پناه حاصل کړي

[٢٦٤٥] (٢) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى خَثْعَمٍ فَاعْتَصَمَ نَاسٌ مِنْهُمْ بِالسُّجُودِ فَأَسْرَعَ فِيهِمُ الْقَتْلَ، قَالَ: فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُمْ بِنِصْفِ الْعَقْلِ وَقَالَ: "أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لِمَ؟ قَالَ: لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا"، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ هُشَيْمٌ، وَمَعْمَرٌ، وَخَالِدٌ الْوَاسِطِيُّ، وَجَمَاعَةٌ لَمْ يَذْكُرُوا جَرِيرًا.

ترجمه: دجرير بن عبدالله نه روايت دې فرمائي چه خثعم قبيلې ته نبي ﷺ يو وړوکې لښکر اوليږلو، په دوی کښې څه کسانو (چاچه اسلام قبول کړې وو اودويرې نه دمشرکانوسره اوسيدل) په سجده پريوتل اودقتل نه ئې ځان بچ کول غوښتل نومجاهدينو دوی لره کافر اوګڼرل اوقتل ئې کړل کله چه نبي ﷺ ته ددې واقعې خبراورسيدو نونبي ﷺ دوژلې شوو وارثانوته دنيم ديت ورکولو حکم اوکړو اووئې فرمائيل زه دهغه مسلمان نه بيزار يم څوک چه دکافرو په مينځ کښې اوسيږي چاعرض اوکړو په څه وجه باندې اې دالله رسوله؟ نبي ﷺ اوفرمائيل په دې وجه چه داسلام اور اودکفر اور په يوځائې کښې نه شي پاتې کيدې، ابوداود وائي داروايت هشيم، معمر، اوخالد واسطي او يوې ډلې نقل کړې دې اوجرير ئې په کښې نه دې ذکرکړې۔

شرح حديث

رسول الله ﷺ يوه سريه اوليږله خثعم قبيلې طرف ته نو کله چه دا سريه هلته اورسيده او مقابله شروع شوه نو په هغوی کښې بعض خلقو د خپل اسلام ثابتولو دپاره د سجدو په ذريعه پناه اوغوښتله يعنې د مونځ په شان سجده کول ئې شروع کړل، يعنې په ځائې د دې چه هغوی په ژبې سره اوائي چه مونږ مسلمانان يو او اسلام مو قبول کړې دې، د اسلام دليل ئې د هغوی په وړاندې ظاهر کړو، (چه دعوی مع الدليل شي) خو سريه د هغوی د دې فعل طرف ته التفات اونکړو، او په تيزئ سره ئې قتل کول، چه کله رسول الله ﷺ ته د دې واقعې اطلاع اوشوه نو رسول الله ﷺ د هغه مقتولينو دپاره، يعنې د هغوی د وارثانو دپاره په قاتلينو باندې د نيم ديت فيصله اوکړه، او دا ئې هم اوفرمائيل چه زه د داسې مسلمان نه بري يم (يعنې د هغه ذمه دار نه يم) کوم چه د مسلمانيدو باوجود د مشرکانو ترمينځه اوسيږي.

يعنې دا څو افراد کوم چه د قبيله خثعم وو او اسلام ئې قبول کړې وو او د اسلام راوړلو باوجود په خپل خپل ځائې کښې مقيم وو او نه د هغه ځائې نه منتقل شو او نه ئې رسول الله ﷺ ته د خپل اسلام خبر ورکړو حال دا چه په دې دوه خبرو کښې يوه ضروري وه، نو د

---

[1] په الدر المنضود کښې او بعض درسی نسخو کښې دلته د باب دا عنوان موجود نه دې بلکه دا احاديث په باب سابق کښې ذکر کړې شوې دی. ابو عمار عبدالمالک.

[2] سنن الترمذي/السير ٤٢ (١٦٠٥)، سنن النسائي/القسامة ٢١ (٤٧٨٤) (عن قيس مرسلا)، (تحفة الأشراف: ٣٢٢٧) (صحيح)

هغوی په مقتول کیدو کښې خپله د هغوی فعل ته هم دخل شو، هم په دې وجه باندې رسول الله ﷺ د هغوی دپاره د نصف دیت فیصله اوفرمائیله.

﴿ قالوا : یا رسول الله! لم؟ قال: لا ترائی ناراهما ﴾ ﴿ تراءی ﴾ په اصل کښې ﴿تتراءی ﴾ وو یوه تاء تخفیفا حذف کولې شی، او نار په ترکیب کښې فاعل دې دپاره د فعل، د رؤیت نسبت د نار طرف ته مجازی دې مراد اهل نار دی، صحابه کرامو د هغه ﷺ نه تپوس اوکړو چه داسې ولې ده؟ رسول الله ﷺ د دې وجه بیان اوفرمائیله چه داسې پکار وو چه په فریقین (یعنی مسلم او کافر کښې) د یو اور د بل اور نه وینی، یعنی په مسلمین او مشرکین کښې دومره فاصله کیدل پکار دی چه په هغوی کښې که هر یو په خپل کور کښې اور بل کړی، روښانه کړی نو د هغې رڼړا د بل چا کور ته او نه رسیږی، یعنی که په یو کلی کښې بعض خلق اسلام قبول کړی نو هغوی له پکار دی چه اوس هغوی هلته پاتې نه شی بلکه د هغه ځائې نه هجرت کولو سره لاړ شی هله خو به د یو اور د بل اور نه وینی، او په دې ذکر شوې واقعه کښې هغوی داسې کړې نه دی په دې وجه د هغوی نیم دیت واجب کړې شو، په ځائې د کامل.

دا چه صحابه کرامو په ﴿ لم ﴾ سره تپوس کړې دې د دې تعلق د ماقبل دواړو جملو سره کیدې شی ﴿ امر لهم بنصف العقل ﴾ سره هم او د ﴿ انا بریئ ﴾ سره هم. والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي التَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ

د کفارو د مقابلې نه د تختیدلو بیان

یعنی د جنګ په ورځ باندې د جنګ نه واپس تلل چه حرام دی، په وخت د وجود د شرائطو، په حدیث کښې دا د کبائرو نه شمار کړې شوې ده.

[۲٦٤٦](١) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ خِرِّيتٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: نَزَلَتْ إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ سورة الأنفال آية ٦٥، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ حِينَ فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ أَنْ لَا يَفِرَّ وَاحِدٌ مِنْ عَشَرَةٍ، ثُمَّ إِنَّهُ جَاءَ تَخْفِيفٌ فَقَالَ: الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنْكُمْ سورة الأنفال آية ٦٦، قَرَأَ أَبُو تَوْبَةَ إِلَى قَوْلِهِ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ سورة الأنفال آية ٦٦، قَالَ: فَلَمَّا خَفَّفَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمْ مِنَ الْعِدَّةِ نَقَصَ مِنَ الصَّبْرِ بِقَدْرِ مَا خَفَّفَ عَنْهُمْ.

ترجمه: عکرمه دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کوی چه فرمائیل ئې چه کله دا ذکرشوې آیت نازل شو نومسلمانانو داحکم ګران اوګنړلو چه یوکس مسلمان دې دلسوکسانو دمقابلې نه نه تښتي نو په دې حکم کښې اسانې راغله اوالله تعالی بل حکم نازل کړو کله چه الله تعالی اولیدل چه تاسو کمزوری ئې یعنی که چرې تاسو سل کسان ئې نوپه دوه سووکسانوبه غالب کیږئ اوکه چرې زر کسان ئې نوپه دوه زروبه غالب کیږئ راوې وائی کله چه الله تعالی په تعداد کښې کمې راوستو نو دخلقو په صبرکښې هم دومره کمې راغې.

(١): صحیح البخاري/التفسیر ٧(٤٦٥٣)، (تحفة الأشراف: ٦٠٨٨) (صحیح)

شرح حديث

په دې آيت کريمه کښې د جهاد متعلق يو خاص حکم ذکر شوې دې، هغه دا چه د دوه سوو کفارو د مقابلې دپاره شل مسلمانان کافي دي، يعنی کفار که د مسلمانانو په نسبت لس چنده وی، نو د مسلمانانو مقابله واجب ده تيختنه ترې جائز نه ده، ګويا په شروع کښې مصابرة الواحد بالعشره او مصابرة العشرة بالمائة واجب وه، وړاندې په آيت کريمه کښې دی ﴿ الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُمْ أَلْفٌ يَغْلِبُوا أَلْفَيْنِ بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ الله پاک فرمائی، اوس مونږ په دې حکم کښې تخفيف اوکړو ستاسو د ضعف د وجې نه، لهذا اوس زمونږ فيصله دا ده چه سل مسلمانان په دوه سوه کفارو باندې د غلبې دپاره کافي دی، او زر مسلمانان په دوه زره کفارو باندې د غلبې دپاره کافي دی، ګويا اول د لس چنده سره مقابله واجب وه، روستو صرف دو دوچنده سره وجوب باقی پاتې شو، مصابرة الواحد بالعشرة... په ځائې مصابرة الواحد بالاثنين شو.

په دې حديث کښې ابن عباس رضی الله عنه هم دا فرمائی چه حکم اول چونکه په مسلمانانو باندې ګران وو هم په دې وجه دا تخفيف اوکړې شو.

﴿ قال : فلما خفف الله تعالى عنهم من العدة نقص من الصبر بقدر ما خفف عنهم ﴾ ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه الله پاک چه څومره تخفيف د تعداد په اعتبار سره فرمائيلې وو هم د هغې په اندازه د هغوی په صبر او استقلال کښې هم کمې راغلو، نو ګويا معامله هم هغه شان پاتې شوه، معلومه شوه چه د مشقت او مصيبت په اندازه الله پاک په هر يو مومن کښې صبر او استقلال پيدا کوی، والحديث اخرجه البخاری، قاله المنذری.

[٢٦٤٧] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي لَيْلَى، حَدَّثَهُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، حَدَّثَهُ أَنَّهُ كَانَ فِي سَرِيَّةٍ مِنْ سَرَايَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَحَاصَ النَّاسُ حَيْصَةً فَكُنْتُ فِيمَنْ حَاصَ، قَالَ: فَلَمَّا بَرَزْنَا قُلْنَا كَيْفَ نَصْنَعُ وَقَدْ فَرَرْنَا مِنَ الزَّحْفِ وَبُؤْنَا بِالْغَضَبِ، فَقُلْنَا: نَدْخُلُ الْمَدِينَةَ فَنَتَثَبَّتُ فِيهَا وَنَذْهَبُ وَلَا يَرَانَا أَحَدٌ، قَالَ: فَدَخَلْنَا فَقُلْنَا لَوْ عَرَضْنَا أَنْفُسَنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنْ كَانَتْ لَنَا تَوْبَةٌ أَقَمْنَا، وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ ذَهَبْنَا، قَالَ: فَجَلَسْنَا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ فَلَمَّا خَرَجَ قُمْنَا إِلَيْهِ فَقُلْنَا: نَحْنُ الْفَرَّارُونَ، فَأَقْبَلَ إِلَيْنَا فَقَالَ: "لَا بَلْ أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ"، قَالَ: فَدَنَوْنَا فَقَبَّلْنَا يَدَهُ، فَقَالَ: "إِنَّا فِئَةُ الْمُسْلِمِينَ".

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه زه په يو سريه لښکر کښې وم درسول الله دسرايا نه، فرمائی چه دمشرکانو د مقابلې نه خلق اوتښتيدل په دغه خلقو کښې زه هم شامل وم څوک چه تښتيدلې وو، مونږه چه کله اودريدو نو په خپل مينځ کښې مو مشوره اوکړه چې اوس مونږ له څه کول پکاردي مونږ خود مشرکانودقابلې نه اوتښتيدو او دالله دغضب مستحق شو بيا مونږ په خپل مينځ کښې اووئيل چه مدينې ته به لاړ شو اوهلته به اوسيږو کله چه بل ځل دجهاد حکم اوشی نوجهاد ته به او خو په داسې حال کښې چه څوک

¹): سنن الترمذي/الجهاد ٣٦ (١٧١٦)، سنن ابن ماجه/ الأدب ١٦ (٣٧٠٤)، (تحفة الأشراف: ٧٢٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/ ٢٣، ٥٨، ٧٠، ٨٦، ٩٩، ١٠٠، ١١٠) ويأتي هذا الحديث في الأدب (٥٢٢٣) (ضعيف)

مو اونه وینې بهرحال مونږ مدینې ته راورسیدو اوهلته مونږ اووئیل کاش چه مونږه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر وې اوخپل ځانونه موهغه ته پیش کړی وې که چرې زمونږ توبه قبوله شي نومونږ به پاتې شو او که توبه موقبوله نه شی نولاړ به شو دې وائی بهرحال مونږ واپس لاړو اود نبی ﷺ سره کیناستونبی ﷺ ته مودسحر دمونځ نه مخکښې انتظارکولو نوهرکله چه را اووتلو نومونږ اودریدو او ورته ورغلو او عرض مواوکړو چه اې دالله رسوله مونږه تښتیدلي خلق یو نبی ﷺ زمونږ طرف ته متوجه شو اووئې فرمائیل هیڅ کله داسې نه ده تاسو جنګ ته دوباره راتلونکی خلق یئ عبدالله وائی مونږ چه دا واوریدل نوخوشحاله شواونبی ﷺ ته نور ورنزدې شو او دهغه لاسونه مونښکل کړل، نبی ﷺ اوفرمائیل زه دمسلمانانو دپناه ځائې یم

تشریح: سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما خپله یوه واقعه عبدالرحمن بن ابی لیلی ته بیانوی چه یو ځل زه په یوه سریه کښې اوم د رسول الله ﷺ د سرایا نه، زمونږ د سریه والا د انهزام او شکست د وجې نه د جنګ نه اوتختیدل، زه هم په تیخته کونکو کښې اوم، پس چه کله مونږ د میدان جنګ نه راوتلو نو مونږ سوچ اوکړو بلکه خپل مینځ کښې مو یو بل ته اووې چه اوس څه اوکړو مونږ خو د جنګ نه تختیدلي یو، او واپس شوې یو د الله پاک په غضب سره، یعنی داسې کار مو کړې دې کوم چه د الله پاک او د هغه د رسول د غضب باعث وی، نو مونږ د هغه سره دا صلاح او مشوره اوکړه چه مدینې منورې ته داخل شو، په ظاهره کښې مراد دا دې چه د شپې په وخت پټې طریقې سره، بیا ایسار وو یعنی په خپلو کورونو کښې، د دې دپاره چه د هغه ځائې نه لاړو شو د هغه په خدمت کښې یعنی د ورځې، یعنی په مدینه کښې د شپې په وخت داخلیدو سره خپلو خپلو کورونو ته اورسیږو نو د شپې به مو څوک وینی هم نه، بیا د سحر په وخت به د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، هغه فرمائی، پس مونږ مدینې ته داخل شو بیا به د تجویز او ارادې مطابق سحر د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د تلو اراده اوکړه په دې خیال چه که زمونږ قصور معاف کیږی نو په مدینه منوره کښې به ایسار شو، او که داسې نه وی نو د مدینې منورې نه به چرته لرې لاړ شو، پس هم دا ټول مضمون مونږ په ذهن کښې ساتلو سره د سحر د مانځه نه مخکښې د هغه د حجرې په دروازه باندې کیناستلو، چه کله رسول الله ﷺ بهر تشریف راوړلو نو مونږ د هغه په لیدو باندې اودریدو، او د خپل جرم اعتراف کولو سره مو هغه ته عرض اوکړو ﴿ نحن الفرارون ﴾ چه مونږ ټول میدان جنګ نه تیخته کونکی یو، رسول الله ﷺ زمونږ طرف ته متوجه شو او وې فرمائیل ﴿ لا بل انتم العکارون ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائیل نه بلکه تاسو واپس کیدو سره دوباره حمله کونکی یئ (د رسول الله ﷺ دا طرز عمل او کلام اوریدلو سره په مونږ کښې ساه راغله او په هغه باندې مو ځان قربان کړو، پس وراندې په روایت کښې دی) پس مونږ هغه ته نور هم نزدې شو او مونږ ټولو د هغه لاس مبارک ښکل کړو، رسول الله ﷺ مونږ ته نوره هم توجه پیدا کړه او وې فرمائیل ﴿ انا فئة المسلمین ﴾ چه زه د مسلمانانو پناه ګاه یم او د مرکزی فوج قائم مقام یم، رسول الله ﷺ هغوی ته ﴿ عکارون ﴾

اوفرمائیلو، یعنی ﴿ متحیزون ﴾ او دا اشاره ده د آیت کریمه طرف ته ﴿ وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ﴾ یعنی کوم سړي چه میدان جنګ پریخودلو سره اوتختی هغه د الله پاک د غضب مستحق وی، خو د دې حکم نه دوه مستثنی دی، یو متحرف لقتال، او یو متحیز الی فئة، یعنی دا دوه کسان د فرار من الزحف په وعید کښې داخل نه دی، او رسول الله ﷺ د ابن عمر رضي الله عنه دې سریه ته ﴿ متحیزا الی فئة ﴾ نه شمار کړل، د دې مطلب دا دې چه که مسلمان فوجی د مختصر او ناکافی کیدو د وجې نه د میدان جنګ نه په دې وجه واپس شی چه د مرکزی فوج نه تعاون حاصل کړی نو بیا دا په دې وعید کښې داخله نه ده، او دا فرار، فرار نه دې، په داسې طریقه چه رسول الله ﷺ هغه خلقو ته فرمائی او تسلی ورکوی چه ستاسو دا تیخته فرار نه دې بلکه تحیز الی فئة دې، مدینه منوره او رسول الله ﷺ په منزله د مرکزی فوج دی، لهذا تاسو دوباره د مقابله کولو دپاره دلته ماته د مدد اخستلو دپاره راغلی یئ، ابن ابی حاتم هم دا حدیث رایت کړې دې، د هغه په روایت کښې دا زیادت دې، ﴿ وقرا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هذه الایة، او متحیزا الی فئة، کذا فی تفسیر ابن کثیر ﴾ حافظ ابن کثیر فرمائی چه په یوه موقع باندې سیدنا عمر رضي الله عنه هم داسې فرمائیلې وو، چه کله په جنګ جسر کښې ابو عبید شهید کړې شو د مجوس دلښکر د کثرت د وجې نه نو سیدنا عمر رضي الله عنه اوفرمائیل ﴿ لو انحاز الی کنت له فیة ﴾ چه که هغه زما طرف ته راغلې وې یعنی په طور د مدد طلب کولو نو زه به د هغوی دپاره ﴿ فئة ﴾ ثابت شوې وې په آیت کریمه کښې بله استثناء د هغه سړی دپاره ده کوم چه متحرف لقتال وی یعنی د څه جنګی مصلحت په وجه باندې فوج خپل شکست ظاهرولو سره شاته شی، لکه چه بعض وخت په قتال کښې داسې هم کولې شی په دشمن باندې د فتح حاصلولو دپاره، والحدیث اخرجه الترمذی وابن ماجة، قاله المنذری.

[٢٦٤٨](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ هِشَامٍ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: نَزَلَتْ فِي يَوْمِ بَدْرٍ ﴿وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ﴾ سورة الأنفال آية ١٦.

ترجمه: دابوسعید خدری رضي الله عنه نه روایت دې چه دا ایت: «ومن یولهم یومئذ دبره» دغزوه بدر په ورځ نازل شوې دې.

تشریح: یعنی دا آیت شریفه د جنګ بدر په باره کښې نازل شوې وو، د یوم اطلاق د حرب په معنی کښې هم وی لکه چه وئیلې شی ایام العرب حروبها.

(**د تولی یوم الزحف حکم**): ځان پوهه کړه چه تولی یوم الزحف د جمهورو علماء کرامو په نزد، چه په هغې باندې د اکثرو اتفاق دې حرام دې، او دا حکم د هغوی په نزد دائمی دې، د همیشه دپاره د جنګ بدر سره خاص نه دې، په جنګ بدر کښې د «تولی» په باره کښې نص قطعی دې او په دې باندې سخت وعید دې، په قران کریم کښې مذکور دې، لهذا دې باره کښې خو د چا اختلاف بالکل نشته، که اختلاف دې نو د جنګ بدر نه علاوه په باقی

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٣١٦) (صحیح)

جنګونو کښې دې، د جمهورو مسلک خو هم دا دې چه کوم حکم د بدر دې هم هغه حکم د روستو جنګونو دې، خو بهرحال جائز دې، اوس نزدې تير شو مصابرة الواحد بالعشرة او مصابرة الواحد بالاثنين بيان، او په دې کښې دويم قول دا دې چه د تولي يوم الزحف حرمت خاص دې د جنګ بدر سره چه د هغې څو قرائن دی، مثلاً څپله په آيت کريمه کښې تصريح ده د ﴿ يومئذ ﴾ د دې نه مراد جنګ بدر دې، دويم دا چه د جنګ بدر نه پس په جنګ احد کښې د صحابه کرامو تيښته موندلې شوې ده او په دې باندې هيڅ وعيد او تعنيف اونکړې شو، هم دغه شان په يوم حنين کښې هم تولی بيا موندلې شوې ده، کما قال تعالی ﴿ثم وليتم مدبرين ﴾ د دې دويمې رائې په قائلينو کښې د صحابه کرامو نه ابو سعيد خدري او تابعينو کښې نافع، حسن، قتاده وغيره حضرات دی، دا خلق د دې خبرې قائل دی چه دا آيت کريمه کوم چه د جنګ بدر په باره کښې نازل شوې دې چه په هغې کښې په فرار من الزحف باندې سخت وعيد دې، منسوخ الحکم دې او آيت الضعف دا منسوخ کړو: ﴿ الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا ﴾، د دې جماعت په نزد د دې دويم آيت کريمه د نزول نه پس اول حکم منسوخ شو او فرار من الزحف کبيره ګناه پاتې نه شوه، جمهور وائی چه د جنګ بدر والا آيت منسوخ نه دې بلکه هغه د هميشه دپاره دې، خو په شرط د ضعف يعنی که مشرکين د دوچند نه زيات نه وی، او د آيت وعيد د نه منسوخ کيدو دليل دا دې چه د آيت وعيد نزول انقضاء حرب او قتال نه پس شوې دې، بيا منسوخ کيدې څنګه شی، امام قرطبی رحمه الله فرمائی ﴿ والي هذا ذهب مالک والشافعی اکثر العلماء وفی صحيح مسلم عن ابی هريرة ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال اجتنبوا السبع الموبقات ﴾ او په دې حديث کښې د دغه اووه موبقات نه يو تولی عن الزحف هم دې، قال القرطبی وهذا نص فی المسئلة. پاتې شوه دا خبره چه په جنګ احد کښې تيښته موندلې شوې وه، نو جواب دا دې چه هلته فراراً اکثر من الضعف نه وو ﴿ ولا خلاف فی جوازه ﴾، او دا وئيل هم صحيح نه دی چه په هغه باندې تعنيف نه دې کړې شوې، او هم دا حال د فرار يوم حنين دې، او دا چه وئيلې شی چه ايت وعيد د يوم بدر سره خاص دې څکه چه په آيت کريمه کښې د ﴿ يومئذ ﴾ تصريح ده، نو جمهور دا جواب ورکوی چه د دې نه مراد يوم بدر نه دې بلکه مطلق يوم الزحف دې چه په هغې باندې د الله پاک قول ﴿ اذا لقيتم الذين کفروا زحفا ﴾ دال دې، لهذا د تخصيص بنياد ختم شو، او دا چه په حديث الباب کښې د ابن عمر د فرار واقعه ذکر ده نو په د ي کښې دواړه احتماله دا کيدې شی چه د هغوی فرار من الضعف وی، دويم دا چه د اکثر من الضعف نه وی ([1])، که دويم دې، نو بيا خو هيڅ اشکال نشته او که اولنې صورت دې نو د

[1]) د شارحينو ميلان هم دې طرف ته معلوميږی چه د صحابه کرامو چه کومې د فرار قصې پيښې شوې وې هغه اکثر د ضعف د وجې نه دی کومې چه اصولاً جائز دی بيا به په دې باندې دا اشکال وی چه اکثر د من الضعف نه فرار خو هسې هم جائز دې تحيز الي فئة وی يا نه وی، رسول الله ﷺ دا په تحيز الی فئة باندې ولې محمول کوی؟ د دې جواب دا دې چه د صحابه کرامو حال ته کتلو سره په دې وجه چه هغوی خو به د دوچند او درې چند نه هم تيښته عام طور سره نه کوله، لهذا د هغوی د تسلی دپاره)

حضرت ګنګوهی په تقریر کښې دی چه چونکه دلته قصه کښې د هغوی ندامت بلکه شدت ندامت مذکور دې کوم چه په حقیقت کښې توبه ده نو په دې وجه دا خلق په وعید کښې داخل نه شو، او رسول اللهﷺ هم هغوی معاف کړل، امام قرطبی د دې د لاندې د بعض علماء کرامو چه په هغوی کښې ابن الماجشون هم دې نه دا نقل کړې دی چه په مسئله د فرار کښې د ضعف، قوت او عدة لحاظ هم ضروری دې لهذا د مسلمین او مشرکین تعداد برابر کیدو په صورت کښې هم که د قوة او عدة په لحاظ سره مشرکین د مسلمانانو نه دوچند وی نو بیا هم فرار جائز دې، هغه فرمائی خو د جمهورو په نزد چه ترڅو پورې مشرکین د دوچند نه زیات نه وی فرار جائز نه دې، او د زیادت په صورت کښې هم صبر او استقلال اولی دې، بیا د دې نه روستو هغوی د صحابه کرامو بعض جنګونه په مثال کښې پیش کړل لکه په غزوه موته کښې د مسلمانانو لښکر چه د هغوی تعداد صرف درې زره وو او هغوی د دوه لاکهو په مقابله کښې مضبوط ولاړ وو، چه په هغې کښې یو لاکهه خو رومیان وو یعنی عجمی، او یو لاکهه د قبیله لخم او جزام عرب وو، الی اخر ما ذکر والحدیث اخرجه النسائی قاله المنذری.

وهذا اخر ما اردت ایراده فی هذا الباب، والی هنا تم الجزء الثالث من بذل المجهود، ونسأ الله تعالی التوفیق والتسدید فی جمیع الخیرات واتمام هذا الشرح، وما ذلک علی الله بعزیز.

بَابٌ فِي الْأَسِيرِ يُكْرَهُ عَلَى الْكُفْرِ

بیان د هغه مسلمان قیدی چه په کفر کولو باندې مجبوره کړې شی

د اسیر نه مراد مسلمان قیدی دې لکه چه ظاهره ده. د هغه ترجمة الباب نه چه څو صفحات پس راځی ﴿ باب فی الاسیر یکره علی الاسلام ﴾ هلته د اسیر نه مراد کافر قیدی دې، لهذا دا دواړه ترجمة الباب په خپل مینځ کښې متقابلین دی، دغه شان د کفر نه مراد دلته د کفر حقیقت نه دې مراد بلکه اجراء کلمة الکفر علی اللسان مراد دې، یعنی دا جائز ده یا ناجائز؟ جواب دا دې چه په دې کښې تفصیل دې په دې کښې به دا کتلې شی چه د اکراه دپاره ذریعه او صورت څه اختیارولې شی، پس که اکراه علی الکفر د داسې څیز په ذریعه وی چه په هغې سره ئې د قتل کیدو خطره وی یا ئې په اندامونو کښې د یو اندام د ضائع کیدو خطره وی نو د هغه دپاره ګنجائش شته د کفر د اظهار کولو، او هغه له پکار دی چه توریه اوکړی، پس که هغه داسې اوکړل او حال ئې دا وی چه د هغه زړه په ایمان باندې مطمئن وی نو ﴿ فلا اثم علیه ﴾، او که د صبر او استقلال نه کار واخلی او د کفر اظهار اونکړی تردې چه قتل کړې شی نو ﴿ کان ماجورا ﴾ کذا فی الهدایة، د دې نه معلومه شوه چه د کفر د اظهار ګنجائش او د هغې رخصت په داسې قسم اکراه کښې دې چه په هغې کښې د ساه د تلو یا کم از کم د یو اندام د ضائع کیدو خطره وی د کومې نه چه اصولین په اکراه ملجئ سره تعبیر کوی یعنی داسې اکراه چه په هغې کښې د الجاء او اضطرار معنی بیا موندلې شی، او که اکراه د دې نه د کمې درجې څیز وی مثلا ضرب، حبس وغیره نو بیا د اظهار کفر اجازت نشته.

[٢٦٤٩]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، وَخَالِدٌ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ خَبَّابٍ، قَالَ: أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ فَقُلْنَا: أَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا أَلَا تَدْعُو اللَّهَ لَنَا فَجَلَسَ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ، فَقَالَ: "قَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ يُؤْخَذُ الرَّجُلُ فَيُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ، ثُمَّ يُؤْتَى بِالْمِنْشَارِ فَيُجْعَلُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُجْعَلُ فِرْقَتَيْنِ مَا يَصْرِفُهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ، وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ عَظْمِهِ مِنْ لَحْمٍ وَعَصَبٍ مَا يَصْرِفُهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ اللَّهُ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مَا بَيْنَ صَنْعَاءَ وَحَضْرَمَوْتَ مَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ تَعَالَى، وَالذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ وَلَكِنَّكُمْ تَعْجَلُونَ".

ترجمه: د خباب رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو اوهغه په یوڅادر کښې د کعبې سورې ته ډډه وهلې وه مونږ ورته شکایت اوکړو دمشرکینودطرف نه اوعرض مو ورته اوکړو چه ایا زمونږ دپاره دالله پاك نه امداد نه غواړې؟ آیا تاسو دالله تعالى نه زمونږ دپاره دعا نه غواړې؟ نبی علیه السلام چه دا واوریدل نوکیناستو او مخ ئې دغصې نه سور شو او وئې فرمائیل ستاسونه مخکښې په تیرو شوو امتونوکښې د دین داریٔ په وجه باندې به یوسړې اونیولې شو او په زمکه کښې به خښ کړې شو اوبیابه اره راوړل شوه اودده په سرباندې به کیخود شوه اوهغه به په ریبلوسره دوه ځائې کړې شو اوحال دادې چه ددې عمل ویرې به ده لره دخپل دین نه نه منع کوو اود اوسپنې ګمنزې به راوړلې شوې دهغه غوښه اوپلې به دهډوکې نه او تراشلې شوه او دهغه به دخپل دین نه نه اوریدو په الله مې دې قسم وې الله تعالى به داخپل دین خامخا پوره کوې تردې چه یوسړې به دصنعاء مقام نه دحضرموت پورې لاړشې اودالله نه به علاوه دبل څیزته نه ویریږې یادا چه پخپلو ګډو او چیلوبه دیو درنده نه نه ویریږي، خو تاسو جلدبازی کوئ.

تشریح: د دې حدیث راوی سیدنا خباب رضی الله عنه دې کوم چه د قدیم الاسلام صحابه کرامو نه دې، د رسول الله ﷺ د هجرت نه مخکښې په اسلام قبلونکو کښې دې، چاته چه د اسلام د خاطره د کفارو د لاس نه ډیر مصیبتونه رسیدلې دی، کوم مضمون چه هغه دې وخت کښې بیانوی هغه هم د دې قسم دې، هغه فرمائی مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلو او هغه د کعبة الله په سوری کښې د خپل څادر نه تکیه جوړه کړې وه او ملاست وو، مونږ هغه ته خپل حال عرض کړو او دا عرض مو هم ورته اوکړو چه تاسو د الله پاک نه زمونږ نصرت ولې نه غواړئ، زمونږ دپاره د الله پاک نه دعا ولې نه غواړئ، د هغه صحابی د سوال دا طرز د رسول الله ﷺ سره د هغه د هغه شفقت او رافت په بناء باندې وو چه د هغې به دې حضراتو مشاهده کوله څنګه چه اولاد پریشانه کیدو سره د مصیبت په وخت خپل مور او پلار ته ګله کوی، او د هغه ﷺ شفقت خو په امت باندې د مور او پلار نه ډیر زیات وو.

﴿فجلس محمرا وجهه﴾ د دې سوال په جواب کښې د هغه طرز عمل هم هغه وو کوم چه د یو شفیق، مربی او مرشد کیدل پکار دی، پس رسول الله ﷺ غصه کیناستلو، مخ مبارک ئې سور شو او وې فرمائیل چه ستا نه مخکښې د تیرو امتونو بعض مومنان داسې تیر شوې

(): صحیح البخاري/المناقب ٢٢ (٣٤٦٦) ٢٥ (٣٨٢٩)، والإكراه ١ (٦٥٤٤)، (تحفة الأشراف: ٣٥١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٩/٥، ١١٠، ١١١، ٣٩٥/٦) (صحیح)

دی چه هغه به دشمنانو نیول بیا به ئې ورله کنده ویستله او په هغې کښې به ئې اودرول، او بیا به اره راوړلې شوه او د هغه په سر باندې به هغه چلولې شوه چه په هغې سره به د هغه د سر دوه ټکړې شو، دې مصیبت به هم هغه د خپل دین نه نه شو ستنولې، او هم دغه شان د بعض خلقو په بدنونو باندې به د اوسپنې گومنځې راښکلې شوې چه هغې به د هډوکې نه علاوه باقي ټوله غوښه پرې کړله، هغه سړې به دې مصیبت هم د هغه د دین نه نه شو لرې کولې، دا خو د تیرو شوو اهل ایمان د صبر او استقلال بیان وو، د صحابه کرامو د تشجیع او د هغوی د حوصله افزائی دپاره، وړاندې ورته رسول اللهﷺ د پیشن گویئ په طور د هغوی د تسلئ دپاره یقین ورکوی چه والله الله پاک به زمونږ دا دین داسې خوروی چه یو اخې به یو سور د صنعاء او حضرموت ترمینځه مزل کوی چه هغه ته به د هیڅ قسم کافر او دشمن ویره نه وی، سوا د الله پاک د ویرې نه او سوا د لیوه د ویرې نه په خپلو گډو بیزو باندې، ﴿ولکنکم تعجلون﴾ خو تاسو تندی کوئ، شارحینو لیکلې دی چه د صنعاء نه مراد په ظاهره کښې صنعاء الیمن دې چه د هغې او د حضر موت ترمینځه د پنځو ورځو لاره ده ځکه چه حضرت موت په اقصاء یمن کښې دې او کیدې شی چه د صنعاء نه صنعاء الشام مراد وی.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت هم ظاهر دې ځکه چه په حدیث کښې د تیرو امتونو د اهل ایمان چه کومه اکراه ذکر کړې شوې ده د هغې بیان دې، والحدیث اخرجه البخاری والنسائی قاله المنذری.

بَابٌ فِي حُكْمِ الْجَاسُوسِ إِذَا كَانَ مُسْلِمًا

دهغه مسلمان حکم چه د کافرانو دپاره جاسوسی اوکړی

یعنی که یو سړې سره د مسلمان کیدو باوجود، د مسلمانانو خلاف جاسوسی کوی نو د هغه څه حکم دې؟

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه

جواب دا دې چه د جمهورو په نزد چه په هغوی کښې احناف او شوافع هم دی نو داسې سړی ته به تعزیر کولې شی او هغه به قتل کولې نه شی، او د امام مالکؒ رائې دا ده چه په دې کښې امام ته اختیار دې چه څنګه هغه مناسب گڼړی گویا د هغه په نزد قتل کولې هم شی، امام خطابیؒ په معالم السنن کښې د امام شافعیؒ په دې کښې تفصیل نقل کړې دې چه که یو سړې صاحب حیثیت او مخوریز وی او په ناپوهې کښې هغه داسې کړې وی لکه چه د حضرت حاطبؓ نه د دې صدور شوې وو، نو زه غوره گڼړم چه هغه معاف کړې شی، او که هغه سړې مخوریز نه وی نو امام ته د هغه د تعزیر اختیار دې.

اهـ علامه عینیؒ (ج ۱۲ ص ۷۵) کښې د داودی نه نقل کړې دی چه د امام شافعی او د یو جماعت مسلک دا دې چه د مسلمان جاسوس دې تعزیر اوکړې شی، ولا یجوز قتله، او که مخوریز وی نو هغه دې معاف کړې شی د قصه «حاطبؓ» د وجې نه، او د امام ابوحنیفه او اوزاعی نه منقول دی چه هغوی ته دې سخته سزا ورکړې شی، او تر ډیر وخته پورې دې په قید کښې اوساتلې شی او د بعض علماء کرامو نه منقول دی چه که د هغه عادت هم دا

وی نو هغه دې قتل کړې شی ﴿ وبه قال ابن الماجشون ﴾ اهـ مختصرا، امام شافعي رحمه الله چه په دې کښې کوم د هیئت او غیر ذی الهیئة فرق کړې دې غالبا د هغه حدیث په وجه باندې کوم چه به ابوداود کښې روستو راشي.

[٢٦٥٠]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو، حَدَّثَهُ الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ، أَخْبَرَهُ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي رَافِعٍ، وَكَانَ كَاتِبًا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُولُ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ فَقَالَ: انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ مِنْهَا، فَانْطَلَقْنَا تَتَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى أَتَيْنَا الرَّوْضَةَ فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ، فَقُلْنَا: هَلُمِّي الْكِتَابَ فَقَالَتْ: مَا عِنْدِي مِنْ كِتَابٍ فَقُلْتُ: لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَأَتَيْنَا بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى نَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "مَا هَذَا يَا حَاطِبُ؟ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ فَإِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا وَإِنَّ قُرَيْشًا لَهُمْ بِهَا قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ بِهَا أَهْلِيهِمْ بِمَكَّةَ، فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذَلِكَ أَنْ أَتَّخِذَ فِيهِمْ يَدًا يَحْمُونَ قَرَابَتِي بِهَا، وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا كَانَ بِي مِنْ كُفْرٍ وَلَا ارْتِدَادٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَدَقَكُمْ فَقَالَ عُمَرُ: دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ: اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ.

ترجمه: دعلی رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام زه اوزبیر اومقداد اولیږلو او وئې وئیل: تاسو لاړ شئ تردې چه روضه خاخ ته اورسئ اوهلته داوښ په کجاوه کښې یوه ښځه ناسته ده اودهغې سره یوخط دی هغه دهغې نه واخلئ، مونږه خپل اسونه وزغلول تردې چه روضه خاخ ته اورسیدو او په کجاوه کښې موهغه ښځه اوموندله مونږورته اووئیل خط را اوباسه هغې اووئیل ماسره هیڅ خط نشته ماورته اووئیل خامخا به خط راوباسې اوکه نه نو مونږ به دې بربنډه کړو نوهغې دخپلو کمڅونه خط راوویستو اوهغه خط مونږه نبی علیه السلام ته راوړو او په هغه خط کښې د حاطب رضي الله عنه بن أبی بلتعه دطرف نه دمکې مشرکینوته دنبی علیه السلام دجنګې حالاتو معلومات لیکلې شوې وو نونبی علیه السلام حاطب راوغوښتو او ورته ئې اووئیل دا څه دې اې حاطب حاطب اووئیل اې دالله رسوله ماته په سزارا کولو کښې جلتې اونه کړې زه یوداسې سړې یم چه دقریشو حلیف یم اودهغوی په مذهب نه یم کوم خلق چه قریش دې په مکه کښې دهغوی رشته دار اوسیږي دمکې مشرکان دهغوی درشته داریٔ په وجه باندې ددوی دمال او داهل عیال نګراني کوي چونکه زم ددوی سره څه رشته داري نشته نوما اوغوښتل چه زه ددوی دپاره څه داسې کار اوکړم چه دهغې په وجه باندې دمکې مشرکان زمادښځې اوبچو حفاظت اوکړي اې دالله رسوله په الله مې دې قسم وي ماداکار دکفر اودمرتد کیدو په وجه باندې نه دې کړي نبی علیه السلام چه دا واوریدل نوئې فرمائیل حاطب رښتیا اووئیل عمر رضي الله عنه عرض اوکړو چه ماته ددې منافق دختې دوهلو اجازت راکړه نبی علیه السلام اوفرمائیل دې خو په غزوه بدر کښې شریك شوې وو تاته څه پته ده چه الله تعالی د

[1]: صحيح البخاري/الجهاد ١٤١ (٣٠٠٧)، والمغازي ٩ (٣٩٨٣)، وتفسير الممتحنة ١ (٤٨٩٠)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٣٦ (٢٤٩٤)، سنن الترمذي/تفسيرالقرآن ٦٠ (٣٣٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٧٩/١، ٢٩٦٧/٢) (صحيح)

اهل بدر په باره کښې فرمائيلی دی چه څه موخوښه وي هغه کوئ ماتاسو ته بخښنه کړي ده.

شرح حديث

قوله:حَتّٰى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ..الخ:

مصنف په دې باب کښې د سيدنا حاطب بن ابی بلتعه رضي الله عنه واقعه ذکر فرمائيلې ده چه د هغې راوی سيدنا علی رضي الله عنه دی.

هغه فرمائی چه رسول الله ﷺ زه زبير او مقداد رضي الله عنهم اوليږلو او ورته ئې اوفرمائيل چه د مکې طرف ته لاړ شئ تردې چه کله تاسو روضه خاخ ته اورسيږئ نو تاسو به هلته يوه زنانه بيا مومئ چه هغه به په کجاوه کښې ناسته وی چه هغې سره يو ليک دې او هغه ترې راوړئ، سيدنا علی رضي الله عنه فرمائی چه مونږ دې طرف ته لاړو، زمونږ اسونو مونږ په منډه کړې وو، تردې چه کله مونږ هغه مقام ته اورسيدو کومې ته چه روضه خاخ وئيلې شی نو مونږ هلته د رسول الله ﷺ د خبر مطابق يوه زنانه اوليده چه په کيجاوه کښې ناسته وه، نو مونږ هغې ته اووې چه تا سره چه کوم خط دې هغه راکړه، هغې انکار اوکړو چه ما سره هيڅ قسم خط نشته، ما ورته اووې چه يا خو ته هغه خط راکړه ګينې مونږ به ستا نه جامې اوباسو، يعنی د تلاشئ دپاره ﴿ فاخرجته عن عقاصها ﴾ نو هغې د خپلې کمسئ نه هغه خط راوايستلو، او په يو روايت کښې دی ﴿ فاخرجته من حجزتها ﴾ يعنی هغې د خپل لنګ نه راوايستلو، او جمع بين الروايتين داسې کړې شوې ده چه ممکنه ده چه هغې اولا دا خط د خپلې کمسئ په ول کښې داخل کړې وی او د هغې کمسئ چونکه اوږده وه نو په دې وجه ئې هغه په خپله بډه کښې پټه کړې وی، وړاندې په روايت کښې دی علی رضي الله عنه فرمائی چه د هغه خط سره مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو چه د هغې په شروع کښې دا ليکلې شوې وو ﴿ من حاطب بن ابی بلتعه الی ناس من المشرکين ﴾ او بيا چه وړاندې رسول الله ﷺ د غزوة الفتح کومه اراده کړې وه د هغې خبر ورکړې شوې وو، او د دې نه روستو روايت کښې د دې خط دا الفاظ منقول دی. ان محمدا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قد سار اليکم، او په يو روايت کښې دی، کما فی البذل.أن رسول الله ﷺ قد توجه اليکم بجيش کالليل يسير کالسيل،، يعنی محمد ﷺ په مکه باندې حمله کونکې دې دخپل لوئې لښکرسره کوم چه د شپې په شان دې يعنی دهغوی په تلو سره زمکه داسې تياره شی لکه چه شپه وی، اوکوم چه په تيز رفتارئ او تيز تلو کښې د اوبو د بهيدو پشان دی.

او په الابواب والتراجم (ص ۲۵۸، ج ۴) کښې حضرت شيخ د علامه عينی رحمه الله نه د دې خط د الفاظ نقل کړي دی، ﴿ يا معشر قريش فان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جاءکم بجيش کالليل يسير کالسيل فوالله لو جالکم وحده نصره الله عليکم وانجز له وعده فانظروا لانفسکم والسلام ﴾ اه امام بخاری رحمه الله دا قصه په کتاب الجهاد کښې په باب الجاسوس وغيره کښې او په کتاب المغازی کښې په باب غزوة الفتح وما بعث حاطب بن ابی بلتعة الی اهل مکة کښې ذکر کړې ده او په کتاب التفسير وغيره کښې هم.

د حديث مضمون

﴿ فقال : ما هذا يا حاطب فقال : يا رسول الله! لا تعجل على الخ ﴾ چه کله رسول الله ﷺ ته دا خط راورسيدو نو هغه حاطب راوغوښتلو او تپوس ئې ترې اوکړو چه دا تا څه اوکړل؟ نو هغه عرض اوکړو چه يا رسول الله! تاسو په خپله يوه فيصله کښې هم تندی مه کوئ اول زما خبره صفا صفا واورئ هغه دا چه تاسو سره چه کوم صحابه د قريشو د خاندان نه دی نو چونکه په مکه مکرمه کښې د قريشو خاندان موجود دې، لهذا ستا د صحابه کرامو بعض خپلوان په مکه کښې موجود دی نو هغه د هغوی د دې خپلولئ په وجه باندې د هغوی د اهل وعيال حمايت او حفاظت کوی او بنده خو اصالة د قريشو نه نه دې بلکه زه خو د هغوی سره د حليف کيدو په حيثيت باندې يوځائې شوې اوم نو زما چه کوم خپلوان په مکه کښې دی نو د هغوی د حمايت او حفاظت دپاره ما دا سوچ اوکړو چه په کفار قريش باندې څه احسان اولرم چه د هغې د وجې نه هغوی زما د خپلوانو خيال اوساتی، او هغه قسم کولو سره عرض اوکړو چه والله يا رسول الله! د دې نه علاوه بله خبره هم د کفر او ارتداد په ما کښې موجود نه ده، رسول الله ﷺ د هغه خبره په غور سره واوريدله او صحابه کرامو ته ئې اوفرمائيل ﴿ صدقکم ﴾ دې چه څه وائی دا رشتيا دی، ګويا رسول الله ﷺ هغه معذور اوګنړلو او معاف ئې کړو.

د حديث شارحينو د دې حديث نه چه کوم احکام او فوائد مستفاد کيږی هغه په تفصيل سره ليکلې دی که شوک غواړی نو هلته دې اوګوری. (ينظر العينی ص ۷۵ ج ۱۲)

باب الجاسوس)

شرح حديث

قوله: ﴿ فَقَالَ عُمَرُ: دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ.........وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ[1] اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ: اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ.﴾

په دې باندې سيدنا عمر رضی الله عنه د چا شدت چه د دين په امورو کښې معروف او مشهور دې اوريدو او هغه عرض اوکړو چه ماته اجازت راکړئ چه زه د دې منافق دا سټ اووهم او قتل ئې کړم، په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دې په جنګ بدر کښې شريک شوې دې او تاته خبر هم شته چه الله پاک په څه شان سره په اهل بدر باندې متوجه شوې دې او د هغوی په باره کښې ئې فرمائيلې دی چه ﴿ اعملوا ما شئتم فقد غفرت لکم ﴾ په دې جمله باندې چه کوم اشکال راځی هغه ظاهر دې څکه چه په دې سره د اهل بدر دپاره د هر قسم عمل اباحت معلوميږی، کوم چه د منشاء شارع خلاف دې، د دې يوه توجيه دا کړې شوې ده چه د حديث تعلق د تيرو اعمالو سره دې چه هغه ټول معاف کړې شوې دی او د دې تائيد دې نه هم کيږی چه که د دې تعلق د زمانه مستقبل سره هم وی نو د لفظ ماضی په ځائې به داسې وئيلې کيدل ﴿ فاغفره لکم ﴾، خو په دې توجيه باندې يو قوی اشکال دا دې چه که دا

[1]) ولفظ لعلّ، وان كان للترجي لكن قال العلماء ان الترجي في كلام الله وكلام رسوله للوقوع (بذل) قوله: اطلع بتشديد الطاء، أي اقبل عليهم ونظر اليهم نظر الرحمة والمغفرة (عون).

حکم صرف د ماضی سره متعلق وي نو بیا په د قصه دحاطب کښې د دې نه استدلال څنګه صحیح دي ځکه چه قصه د حاطب خو د بدر نه تقریبا شپږ کاله روستو د فتح مکه نه مخکښې پیښه شوې ده، بله توجیه دا ده چه دا خصوصیت دې د اهل بدر او الله پاک نه اختیار حاصل دې په خپلو وعیدونو نافذ کولو او نه نافذ کولو کښې، ﴿ لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ ﴾ ففي العيني وفيه الحجة لترك انفاذ الوعيد من الله تعالى لمن شاء ذلك اهـ يعنى د اهل بدر د دې عظیم کارنامې د وجې نه د هغوی تیر شوی ګناهونه معاف کړې شوې دی او راروان وخت کښې هم که وقوع راشي نو هغوی د دې اهل او مستحق دی چه هغه هم معاف کړې شی لکه چه په دنیوی حکومتونو کښې هم د بعض خلقو د کارنامو د وجې نه د هغوی په حق کښې په طور د انعام د وفادارئ په حق کښې بعض وینې (قتلونه) معاف کولې شی، یعنی بالفرض که د هغوی نه داسې اوشی نو هغوی به رانیولې نه شی او دا مقصد نه دې چه هغه ته د قتل اجازت یا ترغیب ورکولې شی، نور هم بعض توجیهات په بذل وغیره شروحات کښې ذکر دی. والحديث اخرجه البخارى ومسلم والترمذى والنسائي، قاله المنذرى.

[٢٦٥١]()حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ قَالَ: انْطَلَقَ حَاطِبٌ فَكَتَبَ إِلَى أَهْلِ مَكَّةَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ سَارَ إِلَيْكُمْ وَقَالَ: "فِيهِ، قَالَتْ: مَا مَعِي كِتَابٌ، فَانْتَحَيْنَاهَا فَمَا وَجَدْنَا مَعَهَا كِتَابًا فَقَالَ عَلِيٌّ: وَالَّذِي يُحْلَفُ بِهِ لَأَقْتُلَنَّكِ أَوْ لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ"، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: د علی رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه حاطب بن أبی بلتعه دمکې مشرکینوته دنبی علیه السلام دجنګې حالاتو معلومات لیکلې وو چه نونبی علیه السلام په تاسوباندې حمله کونکی دي اوپه دې روایت کښې داهم دي چه هغه ښځې ووئیل ماسره خو خط نشته نومونږ ددې اوښ کینولو اوخط مو ورسره پیدانه کړو، علي رضي الله عنه فرمائي چه ماورته ووئیل په هغه ذات مې دې قسم وی په چاچه قسم خوړلې شي که خط نه را اوباسې نوقتل به دې کړم یا خط راکړه، اوباقی روایت ئې دتیر روایت په شان بیان کړو.

تشریح: د سیدنا حاطب بن ابی بلتعه رضي الله عنه څه حال په بذل کښې ذکر دې هم د هغه په باره کښې دا آیت کریمه نازل شوې دې ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ ﴾

بَابٌ فِي الْجَاسُوسِ الذِّمِّيِّ

بیان د ذمی چه د کافرانو دپاره جاسوسی وکړی

د جاسوسی کونکی حکم

ذمی که د مسلمانانو خلاف جاسوسی کوی نو د هغه دا فعل به نقض عهد کښې شمارلې کیږی یا نه؟ د جمهورو په نزد نه شمارلې کیږی، د امام مالک رحمه الله په نزد دا نقض عهد دې لهذا د هغوی په نزد په دې بناء باندې د هغه قتل جائز دې او د جمهورو په نزد د

(): صحيح البخاري/ الجهاد ١٩٥ (٣٠٨١)، المغازي ٩ (٣٩٨٣)، الاستئذان ٢٣ (٦٢٥٩)، صحيح مسلم/ فضائل الصحابة ٣٦ (٢٤٩٤)، (تحفة الأشراف: ١٠١٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٠٥، ١٣١) (صحيح)

هغه قتل جائز نه دي، كذا في البذل عن النووى، وړاندې امام نووي رحمه الله فرمائي چه په دې صورت کښې د شوافعو په نزد هم په جاسوسئ سره انتقاض عهد کیږی یعنی که د دې شرط لګولې شوې وی، او که کافر جاسوس حربی وی نو د هغه قتل بالاجماع جائز دی، د مسلمان جاسوس حکم خو د باب په شروع کښې تیر شوې دې. ذكر هذه الاحكام الامام نووى لكن لم يتعرض لحكم الجاسوس المستامن والظاهر والله تعالى اعلم عدم الجواز فانه اشبه بالذمى.

[۲۶۵۲](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ مُحَبَّبٍ أَبُو هَمَّامٍ الدَّلَّالُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ، عَنْ فُرَاتِ بْنِ حَيَّانَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَتْلِهِ، وَكَانَ عَيْنًا لِأَبِي سُفْيَانَ وَكَانَ حَلِيفًا لِرَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَمَرَّ بِحَلْقَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: إِنِّي مُسْلِمٌ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهُ يَقُولُ إِنِّي مُسْلِمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْكُمْ رِجَالًا نَكِلُهُمْ إِلَى إِيمَانِهِمْ مِنْهُمْ فُرَاتُ بْنُ حَيَّانَ".

ترجمه: دفرات بن حیان رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه نبی علیه السلام دده قتلولو حکم کړې وو اودې دابوسفیان جاسوس وو اودیو مسلمان انصاري په پناه کښې وو، یوځل دانصارو په یوه ډله باندې تیریدو اووئې وئیل چه زه مسلمان یم نوپه انصاروکښې یوکس ووئیل اې دالله رسوله دې خووائی چه زه مسلمان یم، نبی علیه السلام اوفرمائیل په تاسوکښې بعضې کسان داسې دي چه مونږئې خپلو ایمانونوته حواله کوویو دهغوی نه فرات بن حیان دې.

تشریح: فرات بن حیان کومه چه په دې واقعه مذکوره فی الحدیث نه پس اسلام قبول کړې وو هغه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زما د قتل حکم کړې وو او حال دا چه زه د ابو سفیان د طرف نه د جاسوس په شکل راغلې اوم، او دې هغه وخت د یو انصاری صحابی حلیف وو، پس د انصارو په یو جماعت باندې هغه راتیر شو نو وې وئیل زه مسلمان یم، نو یو انصاری سړی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو اې دالله رسوله صلی الله علیه وسلم ! دې خو داسې وائی چه زه مسلمان یم،حال دا چه تاسو د هغه د قتل حکم کړې دې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اوریدلو سره اوفرمائیل چه بیشکه په تاسو کښې بعض سړی داسې دی چه مونږ هغوی ته معامله سپارو د هغوی د ایمان طرف ته، یعنی د هغوی د ایمان دعوی قبلوو، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هم په هغوی کښې یو فرات بن حیان هم دې.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت

دا حدیث په ظاهره کښې د ترجمة الباب سره مطابقت نه خوری، ځکه چه فرات بن حیان ذمی چرته وو، هغه خو به د ابو سفیان د طرف نه جاسوسی کوله، لهذا کافر حربی شو، د دې توجیه دا کیدې شی چه دلته په روایت کښې تصریح ده د دې خبرې چه هغه بعض انصارو حلیف وو، لهذا په منزله د ذمی شو.

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۲۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۳۶/۴) (صحيح)

بَابٌ فِي الْجَاسُوسِ الْمُسْتَأْمَنِ

بيان دهغه جاسوس کافر چه د مسلمانانو نه امن وغواړي او جاسوسي کوي

قوله:《 حدثنی ابی قال : غزوت مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هوازن 》 رسول الله ﷺ چه کله د غزوه حنین دپاره تشریف اوړلو نو د هغه د سفر ترمینځه دا واقعه ده کومه چه د سلمه بن الاکوع رضی الله عنه خوئي اياس بن سلمه بیانوي.

[۲۶۵۳]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا، قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا أَبُو عُمَيْسٍ، عَنِ ابْنِ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَيْنٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَهُوَ فِي سَفَرٍ فَجَلَسَ عِنْدَ أَصْحَابِهِ ثُمَّ انْسَلَّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اطْلُبُوهُ فَاقْتُلُوهُ"، قَالَ: فَسَبَقْتُهُمْ إِلَيْهِ فَقَتَلْتُهُ وَأَخَذْتُ سَلَبَهُ فَنَفَّلَنِي إِيَّاهُ.

ترجمه: سلمة بن الاکوع فرمائی چه نبی علیه السلام ته دمشرکانو یوجاسوس راغي اوهغه ﷺ د سفر په دوران کښې وو هغه جاسوس دصحابه کرامو سره کیناستو، څه وخت پس بیا پټ شان اووتو نبی علیه السلام اوفرمائیل اوئي لټوئ اوقتل ئې کړئ، راوي وائی چه زه دنورو صحابه کرامو نه مخکښې شوم او دې مې اوموندو اوقتل مې کړو اودده سامان مې واخستو، نو نبی علیه السلام دهغه سامان ماته راکړو.

[۲۶۵۴]([2]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ هَاشِمَ بْنَ الْقَاسِمِ، وَهِشَامًا حَدَّثَاهُمْ، قَالَا: حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، قَالَ: حَدَّثَنِي إِيَاسُ بْنُ سَلَمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَوَازِنَ قَالَ: فَبَيْنَمَا نَحْنُ نَتَضَحَّى وَعَامَّتُنَا مُشَاةٌ وَفِينَا ضَعَفَةٌ، إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ أَحْمَرَ فَانْتَزَعَ طَلَقًا مِنْ حَقْوِ الْبَعِيرِ فَقَيَّدَ بِهِ جَمَلَهُ ثُمَّ جَاءَ يَتَغَدَّى مَعَ الْقَوْمِ فَلَمَّا رَأَى ضَعَفَتَهُمْ وَرِقَّةَ ظَهْرِهِمْ خَرَجَ يَعْدُو إِلَى جَمَلِهِ فَأَطْلَقَهُ ثُمَّ أَنَاخَهُ، فَقَعَدَ عَلَيْهِ ثُمَّ خَرَجَ يَرْكُضُهُ وَاتَّبَعَهُ رَجُلٌ مِنْ أَسْلَمَ عَلَى نَاقَةٍ وَرْقَاءَ هِيَ أَمْثَلُ ظَهْرِ الْقَوْمِ قَالَ: فَخَرَجْتُ أَعْدُو فَأَدْرَكْتُهُ وَرَأْسُ النَّاقَةِ عِنْدَ وَرِكِ الْجَمَلِ، وَكُنْتُ عِنْدَ وَرِكِ النَّاقَةِ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتَّى كُنْتُ عِنْدَ وَرِكِ الْجَمَلِ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتَّى أَخَذْتُ بِخِطَامِ الْجَمَلِ فَأَنَخْتُهُ فَلَمَّا وَضَعَ رُكْبَتَهُ بِالْأَرْضِ اخْتَرَطْتُ سَيْفِي، فَأَضْرِبُ رَأْسَهُ فَنَدَرَ فَجِئْتُ بِرَاحِلَتِهِ وَمَا عَلَيْهَا أَقُودُهَا فَاسْتَقْبَلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ مُقْبِلًا فَقَالَ: "مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ؟ فَقَالُوا: سَلَمَةُ بْنُ الْأَكْوَعِ فَقَالَ لَهُ: سَلَبُهُ أَجْمَعُ"، قَالَ هَارُونُ: هَذَا لَفْظُ هَاشِمٍ.

ترجمه: حضرت سلمه بن الاکوع فرمائی چه زه دنبی علیه السلام په ملګرتیا کښې دهوازن قبیلې په جهاد کښې شریك شوي وم، یوه ورځ مونږ دڅاښت په وخت کښې ډوډی خوړله او په مونږ کښې اکثر کسان پیدل تلونکي وو او څه ضعیفان وو، نوپه سور اوښ باندې یوکس سور راغې خپل اوښ ئې او تړلو اومونږسره ئې خوراك شروع کړونوچه کله ده زمونږ د ملګرو کمزوري اودسورلوکم والی اولیدونوخپل اوښ ته په منډه ورغې او راپرائې نستوار وربانديې سورشو او په تیز رفتارئ سره لاړو، مونږ ته معلومه شوه چه دا جاسوس دي نوپه انصارو کښې یوکس په خپله غنم رنګه اوښه باندې سورشوکومه چه زمونږ د تولوپه سورلوکښې ښه سورلئ وه، دې شروع شوچه په اوښه سورپه منډه ورخلاص وو

---

[1]: صحيح البخاري/الجهاد ۱۷۳ (۳۰۵۱)، (تحفة الأشراف: ٤٥١٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجهاد ۱۳ (۱۷۵٤) مطولاً، سنن ابن ماجه/الجهاد ۲۹ (۲۸۳٦)، مسند احمد (٤/٥٠)، سنن الدارمي/السير ۱۵ (۲٤۹۵) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/الجهاد ۱۳ (۱۷۵٤)، (تحفة الأشراف: ٤٥١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٩، ٥١) (حسن)

وړپسې روان وو، او دا دخلقو په سورلوکښې دټولو نه ښه وه، بیا زه ورمخکښې شوم تردې چه هغه مې راواړولو .او حال دا چه داوښې سر د اوښ کوناټو سره وو اوزه د اوښې په شا ووم زه ورمخکښې شوم تردې چه ما داوښ مهار ونیولو او اوښ مې کینولوهرکله چه اوښ په زمکه خپل زنګون کیخودو نوماخپله توره را وویستله دهغه سرمې ووهلو اوپرې مې کړونومادهغه سورلی اودهغه سامان نبی ﷺ ته راوړو، نبی ﷺ ماته مخې له راغې او وئې فرمائیل هغه کښې چامړ کړو؟ خلقو ورته ووئیل چه سلمه بن اکوع نبی ﷺ اوفرمائیل دهغه ټول سامان به ده ته ورکولې شي. نبی کریم ﷺ چه کله د غزوه حنین دپاره تشریف اوړلو نو دهغه سفر په دوران کښې دا واقعه وه کومه چه سلمه بن الاکوع بیانوی

شرح حدیث

په دې غزوه کښې چه د قبیله هوازن سره شوې وه، د رسول الله ﷺ سره زه هم اوم، د یوې ورځې واقعه ده چه مونږ ټول قافلې والا د سحر خوراک کولو، اکثر په مونږ کښې خپې ابله وو او ډیر په مونږ کښې ضعیف او کمزوری خلق وو (ضعفة جمع ده د ضعیف، او کیدې شي چه دا لفظ ﴿ ضعفة ﴾ وی په سکون د عین سره، ای حالته الضعف) نو څاپاپه یو سړې کافر، په سور اوښ باندې سور راورسیدو، او په هغې بادې د کوزیدو نه پس هغه د هغې اوښ کتې نه د خرمنې یوه تسمه راویستله، د هغې په ذریعه ئې خپل اوښ اوتړه، بیا راغلو او مونږ سره په خوراک کښې شریک شو (د خوراک درمیان هغه په پوره لښکر باندې نظر واچولو سره) د خلقو د ضعف حالت او د هغوی د سورلو د کمی اندازه ئې اولګوله، بیا پاسیدو سره په منډه باندې لاړو د خپل اوښ طرف ته، پس په هغې باندې سور شو او هغې ته پوندې ورکولو سره په تیخته شو، سیدنا سلمه بن الاکوع ﷺ فرمائی چه د قبیله اسلم یو سړی په خپله اوښه باندې سوریدو سره په هغه پسې شو، او دا اوښه د پوره لښکر په اوښو کښې د ټولو نه افضل وو، یعنی په تیزه منډه وهلو کښ، سلمه فرمائی، زه هم د هغې په تعاقب کښې روان شوم پیدل منډې وهلو سره (هغه په تیز رفتارئ کښې ډیر مشهور او معروف وو په پیدل منډه وهلو کښې به ئې شهسواران روستو پریخودل) پس وړاندې هم دا خبره بیانوی ﴿ فادرکته ورأس الناقة عند ورک الجمل وکنت عند ورک الناقة ﴾ سلمه چه کوم صورت حال بیانوی هغه دادې چه په منډه کښې خودټولو نه مخکښې هغه مشرک وو کوم چه په اوښ باندې سور وو، اوپه هغه پسې د قبیله اسلم دغه صحابی وو کوم چه په خپله اوښه باندې سور وو، سلمه فرمائی چه په منډه منډه کښې ددغه صحابی د اوښې سر د مشرک د اوښ کوناټو سره نزدې رسیدلې وو او زه ددغه صحابی د اوښې کوناټو ته په منډه منډه اورسیدم، (ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتّٰى كُنْتُ عِنْدَ وَرِكِ الْجَمَلِ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ حَتّٰى أَخَذْتُ بِخِطَامِ الْجَمَلِ) یعنی ما همت کولو سره یو ټوپ بل او وهلو تردې چه زه د هغه صحابی ځائې ته اورسیدم یعنی د اوښ شاته طرف ته نزدې، بیا زه په قوت سره نور هم ور وړاندې شوم تردې چا ما د هغه مشرک سور نه وړاندې وتلو سره د هغه د اوښ واړې اونیولې او هغه اوښ ما په زمکه بادې کینولو او هم دې دوران کښې ما خپله توره د تیکی نه راویستله او هغه کافر مې پرې

اووهلو چه په هغې سره د هغه سر کټ شو او هغه مشرک د سورلۍ نه راپرېوتلو، بیا زه د هغه سورلۍ سره د هغه د ساز وسامان سره روان اوم پس ما رسول الله ﷺ اولیدو چه هغه سره د خپلو څو ملګرو زما طرف ته راروان دي، او چه راغلو نو تپوس ئې اوکړو چه دا مشرک چا قتل کړې دې خلقو ورته زما نوم واخستلو چه سلمه بن الاکوع رضی الله عنه قتل کړې دې، په دې باندې هغه اوفرمائیل چه ﴿ له سلبه اجمع ﴾ چه د هغه کافر سلب ټول د ابن الاکوع دپاره دي.

د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت

په دې حدیث باندې هم د ترجمة الباب سره د عدم مطابقت اشکال کیږي ځکه چه د جمل احمر والا مشرک مستامن چرته وو، پس په دې حدیث باندې امام بخاری رحمه الله باب تړلې دې ﴿ باب الحربی اذا دخل دار الاسلام بغیر امان ﴾ د دې زیات نه زیات توجیه کیدې شی چه په روایت کښې دا دی چه دا مشرک صحابه کرامو سره په خوراک کښې اخر شریک شو، او ظاهره ده چه هغه چا تږکلې نه دې ګویا دا یو قسم استیمان شو خو دا هم په ذهن کښې ساتئ چه دا توجیه په حدیث او ترجمة الباب کښې د مناسبت د پیدا کولو دپاره ده.

خو د دې نه دا نه لازمیږي چه د دواړو حکم یو دې، ای حکم الجاسوس الحربی والمستامن، په دې حدیث کښې د سلب مقتول ذکر دې چه هغه د قاتل دپاره دې، کما فی الحدیث، من قتل قتیلا فله سلبه، خو دا د سلب مسئله اختلافی او وسیع الذیل ده یعنی د دې د لاندې ډیر زیات مسائل او جزئیات دی کوم چه به عنقریب په خپل محل کښې په کتاب الجهاد کښې راشی، حدیث الباب المختصر اخرجه البخاری والنسائی، والمفصل اخرجه مسلم، قاله المنذری.

بَابٌ فِي أَيِّ وَقْتٍ يُسْتَحَبُّ اللِّقَاءُ

د دشمن سره د مخامخ کیدو دپاره کوم وخت بهتر دې؟

یعنی کوم وخت په دشمن باندې حمله کول او مقابله کول غوره دی.

[۲٦٥٥] (١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَنِيِّ، عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ النُّعْمَانَ يَعْنِي ابْنَ مُقَرِّنٍ، قَالَ: شَهِدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ أَخَّرَ الْقِتَالَ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ وَتَهُبَّ الرِّيَاحُ وَيَنْزِلَ النَّصْرُ.

ترجمه: معقل بن یسار دنعمان بن مقرن نه روایت نقل کوي چه هغه وئیلي وو چه زه دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شوم چه هغه د ورځې دشروع نه ددشمن سره نه جنګیدو بلکه تاخیر به ئې کولوتردې نمر به زائله شو اوباد به راوالوتو اونصرت الهی به شروع شو.

مضمون حدیث

نعمان بن مقرن رضی الله عنه فرمائی چه زه د رسول الله ﷺ په بعض مغازی کښې شریک اوم نو ما اوکتل که هغه به د څه وجې نه د ورځې په شروع قتال اونکړې شو نو بیا به ئې قتال موخر کولو د زوال شمس پورې.

(١): صحيح البخاري/الجزية ١ (٣١٦٠)، سنن الترمذي/السير ٤٦ (١٦١٣)، (تحفة الأشراف: ١١٦٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٤٤٤) (صحيح)

بَابٌ فِيمَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الصَّمْتِ عِنْدَ اللِّقَاءِ

دجنګ په وخت کښې خاموش کيدل ياذکرالهی کول بهتر دی

[۲٦٥٦](۱)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ ح وحَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ، قَالَ: كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْرَهُونَ الصَّوْتَ عِنْدَ الْقِتَالِ.

ترجمه: دقيس بن عباد رحمه الله نه روايت دي فرمائی چه د نبی عليه السلام صحابه کراموبه دجنګ په وخت کښې شور بد ګڼړلو.

تشريح: يعنی صحابه کرامو به د حملې په وخت باندې شور او غوغا کول نه خوښول. بلکه په خاموشئ سره به ئی قتال کولو، شارحينو ليکلې دی چه په دې وخت کښې په شور او غوغا سره شبه راځی د ويرې اوبی صبرئ، په خلاف د متانت او خاموشی چه هغه دليل دې د ثبات او پوخ والي، په بذل کښې دی چه ملا علی قاری دلته د ذکر الله استثناء کړې ده خو د دې استثناء وجه فهم کښې نه راځی ځکه چه د جنګ په وخت ذکر الله سره اواز اوچتول چرته ثابت دی.

[۲٦٥٧](۲)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، عَنْ هَمَّامٍ، حَدَّثَنِي مَطَرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ ذَلِكَ.

ترجمه: ابوبرده د خپل پلار نه دتيرشوی روايت په شان روايت بيان کړې دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَتَرَجَّلُ عِنْدَ اللِّقَاءِ

د جنګ په وخت کښې د سورلئ نه د کوزيدو اوپيدل تلو بيان

يعنی دا چه غازی د مخکښې نه خو سور وی او بيا عين د جنګ او حملې په وخت د خپلې سورلئ نه لاندې راکوزيدو سره قتال اوکړی مطلب دا دې چه که په دې کښې مصلحت ګڼړی نو داسې کولې شی. لکه چه په حديث الباب کښې دی (لَمَّا لَقِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَانْكَشَفُوا نَزَلَ عَنْ بَغْلَتِهِ فَتَرَجَّلَ).

[۲٦٥٨](۳)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: لَمَّا لَقِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَانْكَشَفُوا نَزَلَ عَنْ بَغْلَتِهِ فَتَرَجَّلَ.

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی کله چه نبی عليه السلام دمشرکانو سره مخامخ شو په ورځ دحنين اومسلمانان اوتښتيدل نونبی عليه السلام دخپلې قچرې نه راکوزشو اوپياده روان شو.

شرح حديث

په غزوه حنين کښې چه کله صحابه کرام رضی الله عنهم د مشرکانو د غشو په ډير والی سره منتشر شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپلې سورلئ نه لاندې راکوز شو او پيدل د دشمن طرف ته روان شو، په

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۱۲۸) (صحيح)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۱۲۸) (ضعيف)

(۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۰)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجهاد ۱۵ (۱٦۸۸) (صحيح)

داسې کولو کښې ډېر مصلحتونه وو، مثلا دا چه د مشرکانو د غشو د وجې نه د هغوی سورلۍ ویریدو سره شاته نه شی، او بله دا چه رسول الله ﷺ په کفارو باندې خپله ثابت قدمی ظاهروله، او هم دغه شأن ئې د صحابه کرامو حوصله افزائی اوکړه، چه کوم په هغوی کښې منتشر شوي وو رسول الله ﷺ لره پیاده د دشمن طرف ته په وړاندې کیدو باندې لیدلو سره راجمع شی وغیره، او د دې نه د هغه ﷺ د کمال شجاعت ثابتیدل خو ظاهر دی؟ چه هغه ﷺ د خپلې سورلۍ نه راکوزیدو سره، د صحابه کرامو د منتشر کیدو باوجود ﴿ انا النبی لا کذب انا ابن عبد المطلب ﴾ وئیلو سره وړاندې لاړو، وشرف وکرم وعلی اله وصحبه اجمعین، والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی اتم منه فی اثناء الحدیث الطویل، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الْخُيَلَاءِ فِي الْحَرْبِ

په جنګ کښې د تکبر اوغرور کولو بیان

[٢٦٥٩](١) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وموسى بن إسماعيل، المعنى وَاحِدٌ قَالَا: حَدَّثَنَا أَبَانُ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "مِنَ الْغَيْرَةِ مَا يُحِبُّ اللَّهُ وَمِنْهَا مَا يُبْغِضُ اللَّهُ، فَأَمَّا الَّتِي يُحِبُّهَا اللَّهُ فَالْغَيْرَةُ فِي الرِّيبَةِ وَأَمَّا الْغَيْرَةُ الَّتِي يُبْغِضُهَا اللَّهُ فَالْغَيْرَةُ فِي غَيْرِ رِيبَةٍ وَإِنَّ مِنَ الْخُيَلَاءِ مَا يُبْغِضُ اللَّهُ وَمِنْهَا مَا يُحِبُّ اللَّهُ، فَأَمَّا الْخُيَلَاءُ الَّتِي يُحِبُّ اللَّهُ فَاخْتِيَالُ الرَّجُلِ نَفْسَهُ عِنْدَ الْقِتَالِ وَاخْتِيَالُهُ عِنْدَ الصَّدَقَةِ وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُ اللَّهُ فَاخْتِيَالُهُ فِي الْبَغْيِ"، قَالَ مُوسَى: وَالْفَخْرِ.

ترجمه: دجابر بن عتیك نه روایت دې چه نبی ﷺ به فرمائیل غیرت په دوه قسمه دې یو هغه غیرت دې کوم چه دال، مالې خوښ دې دویم هغه غیرت دې کوم چه د الله تعالی خوښ نه دې پس هغه غیرت کوم چه دالله تعالی خوښ دې هغه غیرت کول دې دشك او قرینو دموجود کیدو په وخت کښې اوکوم غیرت چه دالله خوښ نه د هغه دادې چه بغیردشك او قرینونه غیرت اوکړې شي همدارنګې تکبرهم دې بعضې هغه تکبر دې کوم چه دالله تعالی خوښ دې اوبعضې هغه تکبردې کوم چه دالله تعالی خوښ نه دې پس هغه تکبر کوم چه دالله تعالی خوښ د هغه غرور کول دې په کافرانوباندې دجهاد په وخت کښې اوغرور کول دې دصدقې ورکولو په وخت کښې. اوکوم غرور چه دالله خوښ نه دې هغه دادې چه دظلم په وخت کښې تکبر کول اود موسی په روایت کښې دی چه: په نسب باندې دفخر په وخت کښې غرور اوکړې شي.

شرح حدیث

په دې حدیث کښې دوه اجزاء دی، یو د غیرت متعلق او بل د فخر او خیلاء متعلق د دویم جزء د ترجمة الباب سره مطابقت دې، هغه دا چه رسول الله ﷺ فرمائی چه بعض قسمونه د تکبر داسې دی کوم چه د الله پاک په نزد ناخوښه او مبغوض دی، او بعض قسمونه داسې هم دی کوم چه د الله پاک خوښ دی، د قسم ثانی مصداق د فخر او تکبر هغه اظهار دې کوم چه د دشمن مخکښې د جنګ په وخت اوکړې شی، دشمن لره د مرعوب کولو دپاره خپله بهادری اوښائی، په ژبې سره هم او په نقل وحرکت سره هم، او هم دغه شان هغه خیلاء کومه

(١): سنن النسائی/الزکاة ٦٦ (٢٥٥٩)، (تحفة الأشراف: ٣١٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤٥/٥، ٤٤٦) (حسن)

چه د صدقې او خیرات په وخت وی، او په صدقه کښې خیلاء دا ده چه که هر څومره مقدار دصدقې وی هغه کثیر اونه ګڼړی بلکه دهغې دقلت اظهار اوکړی، بله داچه ډیرپه خوشحالئ سره او فراخه تندی سره صدقه اوکړی، او د اختیال قسم اول کوم چه د الله پاک په نزد مبغوض دې هغه دانسان تکبرکول او مستیدل دی او په نورو باندې ظلم او زیاتې کول دی.

او د حدیث دویم جزء کوم چه د غیرت سره متعلق دې د هغې په باره کښې رسول اللهﷺ فرمائی چه د دې هم دوه قسمونه دی یو د الله پاک په نزد خوښ، او دویم مبغوض، غیرت وئیلې شی ﴿ کراهة المشارکة فی امر محبوب ﴾ یعنی د انسان په خپل محبوب او خوښ څیز کښې د بل سړی شرکت نه خوښول، لکه چه عاشق د خپل معشوق په باره کښې دا نه غواړی چه بل څوک د هغه سره تعلق قائم کړی، او دا چه هغه معشوق دې د بل چا طرف ته متوجه شی، علی هذا القیاس، خپله ښځه ئې ده، دا به څوک غواړی چه بل سړې هغې طرف ته اوګوری یا رغبت اوکړی، پس رسول اللهﷺ فرمائی چه کوم صفت د غیرت د الله پاک خوښ دې نو هغه داسې غیرت دې کوم چه واقعی په محل د شک او په محل د تهمت کښې وی کوم چه په دې الفاظو بیانوی ﴿ فالغیرة فی غیر ریبة ﴾ او هغه غیرت کوم چه مبغوض دې نو هغه هغه دې چه بې محله وی، هیڅ بې هیڅه او بغیر د څه وجې نه، دا خبره بالکل صحیح ده چه کوم غیرت بغیر د څه وجې نه او بې محله وی هغه خو سراسر بدګمانی ده، لهذا د دې نه بچ کیدل ضروری دی هم په دې وجه باندې ئې دې ته مبغوض وئیلې دې او کوم غیرت چه واقعی په محل د شک کښې وی هغه مطلوب او غوره دې،[1] والحدیث اخرجه النسائی، قاله المنذری.

باب فِي الرَّجُلِ يُسْتَأْسَرُ

باب: مجاهد چه قیدی جوړکړې شی (نوڅه به کوی؟)

د ترجمة الباب شرح:

﴿ یستاسر ﴾ لره معروفًا او مجهولاً دواړو طریقو سره لوستلې کیدې شی، مطلب دا دې چه که یو مسلمان په جنګ وغیره کښې د کفارو سره ګیر شی نو هغه لره څه کول پکار دی، خپل ځان دې هغه ته حواله کړی، او د هغوی قید دې قبول کړی، یا دا چه د هغوی سره دې مزاحمت اوکړی، او د هغوی قید قبولولو ته دې نه تیاریږی، امام بخاری رحمه الله هم په دې مضمون باندې باب ترلې دې ﴿ باب هل یستاسر الرجل، ومن لم یستاسر ﴾ زما ذوق دا وائی چه امام بخاری په ترجمة الباب کښې جزء ثانی ﴿ ومن لم یستاسر ﴾ لره زیاتولو سره عدم استیسار ته افضل وئیلې دې، یعنی اګر چه په داسې سخت وخت کښې د کفارو قید قبول جائز دی، خو اولی هم دا ده چه د کفارو په خبره دې اعتماد اونکړی، او د هغوی قید دې نه قبلوی.

[1]) مثلا که یو سړی ته د خپلې ښځې په باره کښې په دې وجه باندې غصه او غیرت راشی چه هغه فلانی پردی سړی ته ګوری یا یو پردې سړې هغې ته ګوری نو دا خبره که د څه قرینې په وجه باندې ده نو بیا خو دا غیرت محبوب دې او که بغیر د څه وجې نه وی نو مبغوض دې.

[٢٦٦٠]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ جَارِيَةَ الثَّقَفِيُّ حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةً عَيْنًا، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ فَنَفَرُوا لَهُمْ هُذَيْلٌ بِقَرِيبٍ مِنْ مِائَةِ رَجُلٍ رَامٍ فَلَمَّا أَحَسَّ بِهِمْ عَاصِمٌ لَجَئُوا إِلَى قَرْدَدٍ فَقَالُوا لَهُمْ: انْزِلُوا فَأَعْطُوا بِأَيْدِيكُمْ وَلَكُمُ الْعَهْدُ وَالْمِيثَاقُ أَنْ لَا نَقْتُلَ مِنْكُمْ أَحَدًا، فَقَالَ عَاصِمٌ: أَمَّا أَنَا فَلَا أَنْزِلُ فِي ذِمَّةِ كَافِرٍ، فَرَمَوْهُمْ بِالنَّبْلِ فَقَتَلُوا عَاصِمًا فِي سَبْعَةِ نَفَرٍ، وَنَزَلَ إِلَيْهِمْ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ عَلَى الْعَهْدِ وَالْمِيثَاقِ مِنْهُمْ خُبَيْبٌ وَزَيْدُ بْنُ الدَّثِنَةِ وَرَجُلٌ آخَرُ، فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوا مِنْهُمْ أَطْلَقُوا أَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ فَرَبَطُوهُمْ بِهَا، فَقَالَ الرَّجُلُ الثَّالِثُ: هَذَا أَوَّلُ الْغَدْرِ وَاللَّهِ لَا أَصْحَبُكُمْ إِنَّ لِي بِهَؤُلَاءِ لَأُسْوَةً فَجَرُّوهُ، فَأَبَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ فَقَتَلُوهُ فَلَبِثَ خُبَيْبٌ أَسِيرًا حَتَّى أَجْمَعُوا قَتْلَهُ فَاسْتَعَارَ مُوسَى يَسْتَحِدُّ بِهَا فَلَمَّا خَرَجُوا بِهِ لِيَقْتُلُوهُ، قَالَ لَهُمْ خُبَيْبٌ: دَعُونِي أَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ: وَاللَّهِ لَوْلَا أَنْ تَحْسَبُوا مَا بِي جَزَعًا لَزِدْتُ".

ترجمه: ابوهریره دنبی عليه السلام نه روایت کوی فرمائی چه نبی عليه السلام لس کسان د معلوماتو حاصلولو دپاره اولیږل او عاصم بن ثابت ئې په دوی باندې امیر مقرر کړو نودوی سره دجنګ دپاره دهزیل قبیلې تقریبا سل کسان غشي ویشتونکي را اووتل عاصم چه کله دوی اولیدل نو په یوه پناه ګاه کښې ئې ځان پټ کړو لیکن کافران ددوی نه چاپیر شول او ورته ئې اووئیل راکوز شئ اوزمونږ خبره اومنئ مونږه دا اقرارکوو چه په تاسو کښې به هیڅوک نه وژنو عاصم اووئیل زما خو دکافر په امان کښې کوزیدل خوښ نه دی نو په دې وجه باندې ده لره کافرانو په غشو اوویشتو عاصم اودده اووه ملګري شهیدان شول اوباقي درې کسان د کافرانو سره په لوظ اودهغوی په اقرارباندې په اعتبار کولو سره لاندې راکوز شول یوپه دوی کښې خبیب اوبل زید بن دثنه اویوکس بل وو چه نوم ئې عبدالله بن طارق وو دا خلق چه کله دکافرانو په لاس کښې راغلل نودخپلو لیندو په مزوباندې ددوی لاسونه او تړل په دوی کښې چه دریم کس وو هغه اووئیل داخو اوله دهوکه ده (یعنی اقرار خوداسې شوې وو چه مونږ به څوك نه وژنونوبیا دتړلو څه مطلب دې) په الله قسم چه زه خوتاسو سره نه ځم زما په خپلو ملګرو پسې تلل خوښ دي (شهادت ته ئې ترجیح ورکوله) اوکافرو دې رابښکلو اوده دتلونه انکار اوکړو بهرحال کافرانو دې هم شهید کړو اوس خبیب ددوی په لاس کې قیدي پاتې شو دوی تولو دده قتلول هم اوغوښتل نوده دکافرانو نه اوغوښتل چه ماته لږ مهلت راکړئ چه زه دوه رکعته مونځ اوکړم، بیا ئې اووئیل په الله مې دې قسم وي که چرې تاسو دا ګمان نه کولې چه زه دویرې په وجه اوږد مونځ کوم نومابه دوه رکعته نورهم کړي وو.

د حدیث الباب شرح

مصنف په دې باب کښې د سریة الرجیع واقعه ذکر کړې ده، دا اصحاب سریه لس کسان وو کوم چه رسول الله ﷺ عین یعنی جاسوس جوړولو سره د قریشو د خبر راوړلو دپاره مکې مکرمې ته لیږلي وو، چه د هغې امیر رسول الله ﷺ عاصم بن ثابت مقرر کړې وو لکه چه دلته په حدیث کښې تصریح ده.

(١): صحیح البخاري/الجهاد ١٧٠ (٣٠٤٥)، والمغازي ١٠ (٣٩٨٩)، والتوحید ١٤ (٧٤٠٢)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٧١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٩٤، ٣١٠) (صحیح)

قوله: ﴿ فنفروا لهم هذيل بقريب من مائة رجل رام ﴾ يعنی كله چه دا سريه د مكې طرف ته تله نو په لاره كښې د هغوی طرف ته د قبيله هذيل سل سړی غشی ويشتلو والا د هغوی مقابلې دپاره راغلل، او ظاهره خبره ده چه دا اصحاب سريه نو خالی لاس وو، غير مسلح، ځكه چه دا خو صرف د جاسوسئ دپاره روان وو نه د جنګ دپاره، اوس چه كله ناڅاپه غشی ويشتونكی د هغوی د مقابلې دپاره راغلل نو دې خلقو د خپل ځان د بچ كولو دپاره يوې غونډئ ته اوختل، چه د هغې په باره كښې راوی فرمائی ﴿ فلما احس بهم عاصم لجأوا الى قردد ﴾ الحاصل چه كله دا خلق غونډئ ته اوختل نو هغه غشی ويشتونكی مشركانو دوی ته اووې چه راكوز شئ او خپل ځان مونږ ته اوسپارئ په داسې طريقه چه مونږ تاسو سره معاهده كوو، يعنی په دې خبره چه په تاسو كښې به څوک هم نه قتل كوو، په دې باندې امير سريه عاصم بن ثابت اوفرمائيل ﴿ اما انا فلا انزل فی ذمة كافر ﴾ چه زه خو د يو كافر په ذمه باندې اعتماد كولو سره نه راكوزيږم (چه تاسو څه كولې شئ هغه اوكړئ) په دې باندې هغه مشركانو په غشو ويشتلو سره عاصم امير سريه او د هغه سره اووه ملګری ختم كړل.

﴿ونزل اليهم ثلاثة نفر ﴾ اوس چه كوم درې كسان باقی پاتې شو هغوی د هغوی لوظ قبلولو سره لاندې راكوز شو، هغوی دا دی يو خبيب بن عدی، زيد بن الدثنه او يو بل سړې (عبدالله بن طارق) چه كله دې مشركانو هغه درې واړه قابو كړل نو د خپلو ليندو مزی ئې پرانستل او په هغې باندې ئې د هغوی تړل شروع كړل، خبيب او زيد خو هغوی اوتړل، چه كله ئې دريم كس تړلو نو هغه اووې ﴿ هذا اول الغدر والله لا اصحبكم ﴾ چه دا خو د غدر او لوظ ماتولو ابتداء ده يعنی تړئ مو ولې، قسم په الله زه به تاسو سره هرګز لاړ نه شم، او دا چه زمونږ ملګری شهيدان كړې شوې دی دا زما دپاره بهترينه اسوه او نمونه ده، مشركانو هغه په راښكلو باندې په زبردستئ د ځان سره بوتلو خو هغه د تلو نه انكار اوكړو نو هغوی دې هم قتل كړو. اوس دوه كسان باقی پاتې شو خبيب او زيد ابن الدثنه، دا دواړه هغه مشركانو اوتړل او د ځان سره ئې بوتلل، ﴿ فلبث خبيب اسيرا ﴾ په روايت كښې اختصار دې، صرف د خبيب ذكر كړې شوې دې ﴿ حتى اجمعوا قتله ﴾ دلته هم اختصار دې، د بخاری په روايت كښې تفصيل دې، پس په هغې كښې داسې دی ﴿ فَانْطَلَقُوا بِخُبَيْبٍ وَابْنِ دَثِنَةَ حَتَّى بَاعُوهُمَا بِمَكَّةَ بَعْدَ وَقْعَةِ بَدْرٍ فَابْتَاعَ خُبَيْبًا بَنُو الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ نَوْفَلِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ، وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الْحَارِثَ بْنَ عَامِرٍ يَوْمَ بَدْرٍ فَلَبِثَ خُبَيْبٌ عِنْدَهُمْ أَسِيرًا فَأَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عِيَاضٍ أَنَّ بِنْتَ الْحَارِثِ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهُمْ حِينَ اجْتَمَعُوا اسْتَعَارَ مِنْهَا مُوسَى ﴾ يعنی هغه مشركانو خبيب او زيد بن الدثنه دواړه بوتلل، او هغوی دواړه ئې په مكه مكرمه كښې خرڅ كړل، په هغوی دواړو كښې خبيب د حارث بن عامر ځامنو واخستلو، او حال دا وو چه خبيب په جنګ بدر كښې حارث بن عامر لره قتل كړې وو، اوس ظاهره ده چه خبيب اوس د داسې سړی لاس ته راغلو چه د هغه د پلار قاتل خبيب دې نو هغه به د هغه سره څه معامله كوی، كومه هم چه د سخته نه سخته معامله كوی كمه ده، بهرحال په روايت كښې دی چه دا خبيب د هغوی سره څو ورځې وو، اخر دا چه بنو الحارث چه كله د خبيب د قتل اراده اوكړه نو هغه د خپل مرګ او

د شهادت په تیارئ کښې د هغه کور والو نه چاره اوغوښتله د نامه نه لاندې ویښته صفا کولو دپاره، ﴿ فلما خرجوا به ليقتلوه ﴾ دلته هم اختصار دې، د دې روایت باقي حصه کومه چه خپله په ابوداؤد کتاب الجنائز کښې د "باب المريض يأخذ من اظفاره وعانته" کښې راروان دې، هلته دا دی چه ﴿ فاعارته فدرج بنى لها وهى غافلة ﴾ یعنی کوم وخت چه خبیب استحداد کولو نو یو وړوکې ماشوم په لوبو لوبو کښې هغه ته راغلو، کوم چه هغه په خپل پتون باندې کینولو، اتفاقاًچه دا منظر د هغه ماشوم مور اولیدو هغه په دې لیدو سره اویریده، خبیب چه کله هغه اولیده نو هغه یې پوهه کړه چه ولې ویریږې الله دې نه کړی زه به دې قتل کړم، د بخاری په روایت کښې د دې نه روستو مزید تفصیل دې ﴿ فلما خرجوا به ليقتلوه ﴾ الحاصل چه کله بنو الحارث هغه د قتل دپاره بوتلو نو خبیب رضي الله عنه هغوی ته اوفرمائیل چه ماته لږ شان مهلت راکړئ د دوه رکعته نفل کولو، پس هغوی ورته مهلت ورکړو، هغه دوه رکعته مختصر شان کولو سره سلام واړولو او وې وئیل چه والله که زما دا خیال نه وې چه تاسو به زما په باره کښې د مرګ د ویرې ګمان کوئ نو ما به دا مونځ اوږد کړې وې، په روایت کښې دی چه هغه دې خلقو ته بعض خیرې اوکړې ﴿ اللهم احصهم عددا، واقتلهم بددا ﴾ یا الله دا ټول یو یو هلاک کړه، په روایت کښې دی، راوی وائی چه هغه کال له پوره شوې نه وو چه هغوی ټول هلاک کړې شو، مصنف په دې باب کښې د سرية الرجيع واقعه ذکر فرمائیلې ده، دا اصحاب سریه لس اضحاب وو کوم چه رسول الله ﷺ جاسوسان جوړولو سره د قریش مکه طرف ته لیږلې وو، چه د هغوی امیر هغه ﷺ عاصم بن ثابت رضي الله عنه مقرر کړې وو، لکه چه دلته په حدیث کښې تصریح ده.

په دې موقع باندې حضرت خبیب رضي الله عنه څو اشعار هم وئیلې وودشهادت په ذوق اوشوق کښې:

ولست ابالي حين اقتل مسلما — على اى شق كان لله مصرعي

وذلک فى ذات الاله وان يشاء — يبارک على اوصال شلو ممزع

په صحیح بخاری کښې خو هم دا دواړه بیتونه دی باقي قصیده اوړده ده، کومه چه د سیرت په کتابونو کښې ذکر ده کومه چه زمونږ حضرت شیخ رحمه الله بتمامها لامع الدراری په حاشیه کښې د اردو ترجمې سره د طالبانو د سهولت دپاره لیکلې ده، هغه دې ضرور اوکتلې شي.

د سیدنا خبیب رضي الله عنه قصیده

مونږ د کتونکو د سهولت دپاره دلته نقل کوو، د اصل قصیدې شروع داسې ده او په حاشیه د لامع کښې د هر هر بیت نه روستو د هغې ترجمه ذکر شوې ده.

۱: لقد جمع الاحزاب حولي والبوا — قبائلهم واستجمعوا كل مجمع

زما نه چاپیره دیرې ډلې راجمع کیږی او هغوی ډیر زیات قبائل راجمع کړې دی، او زیات نه زیات مجمع راجمع کیږی

۲: وكلهم مبدى العداوة وجاهد — على لانى فى وثاق بمضيع

هر یو په دوی کښې دشمنی کولو والا دې، او زما خلاف کوشش کونکې دې ځکه

چه زه په رسو کښې تړلې شوې یم، او د بربادۍ په خاتې باندې پروت یم.

۳: وقد جمعوا ابناءهم ونسائهم وقربت من جذع طويل ممنع

او دې خلقو (زما د تماشې کتلو دپاره) خپلې ټولې زنانه او ماشومان راجمع کړې دی او (په سولۍ کولو دپاره) نزدې راوړلې شوې یم د یوې ډیرې لوئې اونې خواته کومه چه محفوظ ده یا ډیره زیاته اوږده ده.

۴: الى الله اشكو غربتى ثم كربتى وما ارصد الاحزاب لى عند مصرعى

صرف الله پاک ته ګله کوم د خپې بې وسۍ او د خپل مصیبت او د هغه څیز کوم چه دې کافر جماعتونو زما د قتل په وخت زما دپاره تیار کړې دی.

۵: فذا العرش صبرنى على ما يراد بى فقد بضعوا لحمى وقد ياس مطمعى

پس اې د عرش مالکه! ته ماته صبر راکړه په هغه څیز باندې د کومې چه خلق زما باره کښې اراده لرې او دې خلقو زما د غوښو ټکړې ټکړې کړې دی او زه د هر هغه څیز نه مایوسه شوې یم چه د هغې زما خواهش وی (لوئې خواهش خو د قید نه خلاصیدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضریدل دی او د ژوند خواهش هم په دې کښې داخلیدې شی)

۶: وذلک فى ذات الاله وان يشاء يبارک على اوصال شلو ممزع

او دا ټول هر څه د الله پاک د پاک ذات په سلسله کښې کیږی او که الله پاک اوغواړی نو برکت به اوکړی په ټکړو زما او په هغه بدن کوم چه ټکړې ټکړې کړی شوې دې.

۷: وقد خيرونى الكفر والموت دونه وقد هملت عيناى من غير مجزع

او دې خلقو ماته اختیار راکړې دې د کفر، او بغیر د دې نه د مرګ (یعنی یا به کفر اختیاروم ګینې مرګ) او زما د دواړو سترګو نه اوښکې روانې دی بغیر د څه ویرې نه (او د ویرې نه کیدلو وجه وړاندې راروانه ده).

۸: وما بى حذا الموت انى لميت ولكن حذارى جحم نار ملفع

ماته د مرګ ویره نشته ځکه چه (زه به بهرحال یوه ورځ) ضرور مړ کیږم خو زما ویره د هغه اور د جسامت ده کوم چه د ډیرو شغلو والا دې (یا انسانانو لره) خوړونکې دې، مراد د جهنم اور دې

تنبیه: د اور جسامت دا ترجمه په دې بناء ده چه حجم حاء مهمله مقدم کړې شی په جیم باندې، خو صحیح "جحم" په تقدیم الجيم على الحاء دې کوم چه د جحیم ماخذ دې، په دې صورت کښې به ترجمه دا وی (خو ما سره ویره د هغه بل شوی اور ده).

۹: فوالله ما ارجو اذا مت مسلما على اى جنب كان لله مصرعى

پس قسم په الله! که زه د اسلام په حالت کښې قتل کړې شم نو زما لره شان پرواه هم نشته چه زه د الله پاک دپاره په هر یو اړخ پریوتلم

۱۰: فلست بمبد للعد وتخشعا ولا جزعا انى الى الله مرجعى

پس نه یم ظاهرونکې د دشمن په وړاندې هیڅ قسم عاجزی او نه څه قسم ویره، ځکه چه د الله پاک طرف ته زما واپس کیدل دی، د ﴿انا لله وانا اليه راجعون﴾ طرف ته اشاره

ده، په بعض نسخو کښې داسې دی چه ﴿ فلست ابالي حين اقتل مسلما، على اى جنب كان في الله مصرعي ﴾

د بخاري په روايت کښې دی ﴿ فكان خبيب هو سن الركعتين لكل مسلم قتل صبرا ﴾ چه سيدنا خبيب رضي الله عنه اولنې هغه سړې دې چا چه د قتل صبرا په وخت د اداء رکعتين سنت جاري کړو دا د سرية الرجيع قصه د جنګ بدر نه پس په ۳ هجري کښې پيښه شوې وه، د دې قصې نه معلومه شوه چه د سريه امير عاصم بن ثابت رضي الله عنه د مشرکانو قيد قبول نه کړو بلکه په هغې ئې شهادت ته ترجيح ورکړه، البته باقي دوه صحابه کرامو د هغوی قيد قبول کړو، علامه عيني د دې حديث د فوائدو د لاندې ليکي چه د سيدنا خبيب رضي الله عنه او د هغه د دواړو ملګرو نزول د دې خبرې دليل دې چه په داسې وخت کښې د کافرانو قيد قبلول جائز دی، مهلب فرمائي چه که يو سړې د خپل ځان د بچ کولو دپاره په رخصت باندې عمل کول غواړي نو کولې شي، د حضرت حسن نه هم نقل دی چه په دې کښې هيڅ پاک نشته، او د امام اوزاعي رحمه الله نه د فعل عاصم ترجيح منقول ده، يعنی په داسې وخت کښې د کفارو د قيد په ځائې شدت اختيارول اولی دی. (بذل) والحديث اخرجه البخاري والنسائي، قاله المنذري.

[٢٦٦١]([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ، أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي سُفْيَانَ بْنِ أَسِيدِ بْنِ جَارِيَةَ الثَّقَفِيُّ وَهُوَ حَلِيفٌ لِبَنِي زُهْرَةَ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ أَبِي هُرَيْرَةَ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ.

ترجمه: دعمرو بن سفيان روايت دې کوم چه د بنو زهره حليف او دابوهريره رضي الله عنه په ملګروکښې دې، بيا راوی پوره روايت بيان کړو.

بَابٌ فِي الْكُمَنَاءِ

څوک چه په کمين (څوکۍ) کښې پټ کيناستل شي

کمناء جمع ده د کمين، کمين هغه سړې کوم چه دشمن ته پټ ناست وی چه موقع راشی او په هغه باندې ناڅاپه حمله اوکړي، د کمين اطلاق په اردو او فارسۍ کښې په هغه ځائې باندې هم کيږي چرته چه انسان پټ ناست وی يعنی مورچه باندې کومې ته چه په فارسۍ کښې دامګاه وئيلې شی، په اصل کښې دا اخستلې شوې دې د کمون نه کوم چه مقابل دې د بروز، په ظاهره کښې د مصنف مقصد دا دې چه د جنګ په تدبيرونو کښې يو تدبير په مورچه کښې کيناستل هم دی لکه چه په غزوه احد کښې اوشو کوم چه په حديث الباب کښې ذکر دې.

[٢٦٦٢]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ يُحَدِّثُ، قَالَ: جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الرُّمَاةِ يَوْمَ أُحُدٍ وَكَانُوا خَمْسِينَ رَجُلًا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جُبَيْرٍ وَقَالَ: إِنْ رَأَيْتُمُونَا تَخْطَفُنَا الطَّيْرُ فَلَا تَبْرَحُوا مِنْ مَكَانِكُمْ هَذَا حَتَّى أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ، وَإِنْ رَأَيْتُمُونَا هَزَمْنَا الْقَوْمَ وَأَوْطَأْنَاهُمْ فَلَا تَبْرَحُوا حَتَّى أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ قَالَ: فَهَزَمَهُمُ اللَّهُ قَالَ: فَأَنَا وَاللَّهِ رَأَيْتُ النِّسَاءَ يَشْتَدِدْنَ عَلَى الْجَبَلِ فَقَالَ: أَصْحَابُ عَبْدِ

---

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٤٢٧١) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الجهاد ١٦٤ (٣٠٣٩)، والمغازي ١٠ (٣٩٨٦)، والتفسير ١٠ (٤٥٦١)، (تحفة الأشراف: ١٨٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٩٤) (صحيح)

اللهِ بنِ جُبَيْرٍ: الْغَنِيمَةَ أَيْ قَوْمِ الْغَنِيمَةَ ظَهَرَ أَصْحَابُكُمْ فَمَا تَنْتَظِرُونَ، فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ جُبَيْرٍ: أَنَسِيتُمْ مَا قَالَ لَكُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: وَاللهِ لَنَأْتِيَنَّ النَّاسَ فَلَنُصِيبَنَّ مِنَ الْغَنِيمَةِ فَأَتَوْهُمْ فَصُرِفَتْ وُجُوهُهُمْ وَأَقْبَلُوا مُنْهَزِمِينَ.

ترجمه: دابواسحق نه روایت دې فرمائی چه دبراء بن عازب نه مې حدیث اوریدلې دې چه نبی ﷺ په غزوه احد کښې په پنځوسو غشي ویشتونکو باندې عبیدالله بن جبیر امیر مقرر کړو اودوی ته ئې اوفرمائیل که چرې تاسو اووینې چه مارغان زمونږ په سرونو باندې ټونګې وهی (قتل کیدوته اشاره ده) نوبیا به هم تاسو د خپل ځائې نه نه خوزئ ترڅو چه تاسو رابلل شوې نه ئې اوکه تاسو اووینئ چه مونږه کافرانوته شکست ورکړو نوبیابه هم دخپل ځائې نه نه ځئ ترڅو چه را اونه غوښتلې شی، راوې وائی الله تعالی کافرانوته شکست ورکړو او مادمشرکانو ښځې اولیدلې چه غرونوته دپناه دپاره تښتیدلې دعبدالله بن جبیر ملګرو سوچ اوکړو چه مال غنیمت به واخلو زمونږ ملګرې کامیاب شوپه دې باندې عبدالله بن جبیر اووئیل نبی ﷺ چه درته څه وئیلې وو هغه مو هیرشول؟ بهرحال الله تعالی ددوی خونه واړول او مسلمانانو شکست خوړونکې لاړل.

شرح حدیث

یعنی رسول الله ﷺ د جنګ احد په موقع باندې پنځوس داسې صحابه کرام کوم چه غشی ویشتونکی وو په یوه غونډئ (جبل رماة کوم چه جبل احد ته مخامخ دې) باندې کینولو سره عبدالله بن جبیر لره په هغوی باندې امیر جوړ کړو او هغه ته ئې په تاکید سره دا هدایت اوفرمائیل چه که تاسو دا هم اوګورئ چه مونږ یعنی د مسلمانانو لښکر لره مارغان د ځان سره اوړی نو بیا هم تاسو د خپل ځائې نه بیرته نه شئ ترڅو چه ما تاسو ته یو قاصد نه وی رالیږلې، او که مونږ مشرکانو ته شکست هم ورکړو تاسو به د دې ځائې نه خوزئ نه. ﴿فهزمهم الله، قال فانا والله رایت النساء﴾ راوی وائی چه الله پاک کفارو ته شکست ورکړو او ما اولیدې د مشرکانو زنانه غر ته په ختلو باندې، دې صورت حال ته کتلو سره د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه ملګرو اووې ﴿ای قوم الغنیمة﴾ اې ملګرو! ځائې چه غنیمت راټول کړو، زمونږ لښکر غالب شو بیا د څه څیز انتظار کوې، په دې باندې ورته عبدالله بن جبیر رضی الله عنه اوفرمائیل چه تاسو هغه خبره هیره کړه کومه چه تاسو ته رسول الله ﷺ کړې وه، خو هغوی د هغې باوجود ایسار نه شو او لاندې راکوز شو. ﴿ فصرفت وجوههم واقبلوا منهزمین ﴾ د هغوی د راکوزیدو نه پس ټول خلق حیران او پریشانه شو، ځکه چه د بل طرف نه هم کفارو حمله اوکړه او مسلمانان په مینځ کښې ګیر شو او د شکست صورت پیدا شو. والحدیث اخرجه البخاری والنسائی، قاله المنذری.

بَابٌ فِي الصُّفُوفِ

د مجاهدینو دپاره د صفونو جوړولو بیان

یعنی د قتال دپاره د مخکښې نه صفونه تړل، د امام ترمذی رحمه الله ترجمه په دې کښې زیاته صفا او واضحه ده، باب الصف والتعبیة عند القتال. تعبه یعنی ترتیب... د لښکر په دستو

کښې د هرې یوې دستې دپاره مناسب ځائې تجویز کول او هغوی لره د دې نه خبرول د دې دپاره چه د قتال د شروع کولو په وخت هره یوه دسته خپل متعین ځائې ته اورسیږی، امام ترمذی رحمه الله د دې باب د لاندې د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دا حدیث ذکر کړې دې. ﴿ عبانا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ببدر لیلا ﴾ یعنی د جنګ په موقع باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ د ټولو ځایونه د شپې متعین کړل.

[٢٦٦٣]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سِنَانٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سُلَيْمَانَ بْنِ الْغَسِيلِ، عَنْ حَمْزَةَ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ اصْطَفَفْنَا يَوْمَ بَدْرٍ: "إِذَا أَكْثَبُوكُمْ يَعْنِي إِذَا غَشُوكُمْ فَارْمُوهُمْ بِالنَّبْلِ وَاسْتَبْقُوا نَبْلَكُمْ".

ترجمه: حمزه بن او اوسید دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائیلی دی دبدر په ورځ چه کله مونږه صفونه جوړ کړل نونبی عليه السلام اوفرمائیل کله چه کافران تاسو ته نزدې راورسیږي نوپه غشو ئې اولئ اوخپل غشی بچ هم کړئ.

تشریح: قوله: "إِذَا أَكْثَبُوكُمْ ([2]) يَعْنِي إِذَا غَشُوكُمْ فَارْمُوهُمْ بِالنَّبْلِ وَاسْتَبْقُوا نَبْلَكُمْ":

سیدنا ابو اسید صحابی فرمائی چه کله په جنګ بدر کښې مونږ خلق په خپلو خپلو صفونو کښې راغلو نو هغه صلى الله عليه وسلم دا هدایت اوفرمائیلو چه کله دا کفار تاسو ته نزدې راشی نو بیا غشی ورول شروع کړئ، یعنی په تاسو او مشرکانو کښې چه کله دومره فاصله پاتې شی چه ستاسو غشی هغوی ته رسیدلې شی نو بیا غشی ویشتل شروع کړئ، او که د دې نه مخکښې مو غشی ورول شروع کړل نو ظاهره ده چه غشی به مو ضائع شی، ځکه به دشمن ته رسیږی او ځه به نه رسیږی هم په دې وجه باندې وراندې فرمائی چه خپل غشی محفوظ ساتئ، د محفوظ ساتلو مطلب هم دا دې چه د لرې نه ویشتلو سره دې هغه ضائع نه کړې شی. والحدیث اخرجه البخاری، قاله المنذری.

بَابٌ فِي سَلِّ السُّيُوفِ عِنْدَ اللِّقَاءِ

دشمن چه کله را نزدې شی نو تورې راویستل پکاردی

[٢٦٦٤]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَجِيحٍ وَلَيْسَ بِالْمَلْطِيِّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ حَمْزَةَ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ السَّاعِدِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ: "إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ بِالنَّبْلِ وَلَا تَسُلُّوا السُّيُوفَ حَتَّى يَغْشَوْكُمْ".

ترجمه: مالك بن حمزه بن أبی اسید ساعدي دخپل پلارنه اوهغه دده دنیکه نه روایت کوی چه نبی عليه السلام دغزوه بدر په ورځ او فرمائیل کله چه درته مشرکان رانزدې شي نوپه غشوئې اوولي أوترځوچه درته دوې ښه رانزدې شوي نه وی نوخپلي توري مه راوباسئ.

---

[1]): صحیح البخاري/الجهاد ٧٨ (٢٩٠٠)، والمغازي ١٠ (٣٩٨٤)، (تحفة الأشراف: ١١١٩٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٩٨/٣) (صحیح)

[2]) أي قربوكم، من كثب واكثب اذا قارب والكثب القرب، وفي نسخة اذا كثبوكم. (بذل)

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١١٩٠) (ضعيف)

تشريح: ﴿ اذا اكثبوكم فارموهم بالنبل ولا تسلوا السيوف حتى يغشوكم ﴾ دا د اولني حديث دويم طريق دې، په دې کښې د سل سيوف زيادت دې کوم چه په اول طريق کښې نه وو، په دې کښې د تورې د استعمال طريقه بيان کړې شوې ده، او دا مطلب دې چه کله مشرکان لږ شان رانژدې شي نو بيا خو دې غشي ويشتلې شي، او چه کله زيات رانژدې شي نو هغه وخت دې د تورو استعمال اوکړې شي، دا د رسول الله ﷺ د طرف نه صحابه کرامو ته د وسلې د استعمال په باره کښې ضروري هدايات دي.

بَابٌ فِي الْمُبَارَزَةِ
د جنګ کونکو د مقابلې بيان

د ترجمة الباب شرح او مذاهب ائمه:

د قتال او مقابلې دوه صورتونه وي، يو اجتماعي او بل انفرادي يعنى پوره جماعت، په جماعت باندې حمله اوکړي او يا مقابله فردا فردا وي، فردا فردا د مقابلې دپاره راتلو ته مبارزه وئيلې شي، يعنى د قتال د صف نه يو بهادر راوځي او ميدان ته راشي او اوائي چه ﴿هل من مبارز؟ ﴾ څوک شته زما مقابله کولو والا؟ په دې باب کښې مصنف رحمه الله هم دا خبره بيان کړې ده چه ايا داسې کول جائز دي يا ناجائز، که مبارزه د امام په اذن وي نو بيا خو د دې په جواز کښې هيڅ کلام نشته، عند الاكثر ومنهم الائمة الاربعة سوى الحسن فانه لم يجزها مطلقا، او که بغير د امام د اذن نه وي نو بيا هم د جمهورو په نزد چه په هغوى کښې امام مالک او امام شافعي هم دي جائز دې، ففي المغنى (ص ۳۹۴ ج ۱۰) واما المبارزة فجوز باذن الامير فى قول عامة اهل العلم الا الحسن فانه لم يعرفها وكرهها الى اخر ما ذكر... خو په دې کښې د حنابله اختلاف دې د هغوى په نزد په دې کښې تفصيل دې، ابن قدامه د دې درې صورتونه ليکلي دي په يو صورت کښې مستحب دې، په يو کښې مباح او په بل کښې مکروه، مستحب په هغه صورت کښې دې چه کله د دې ابتداء د کفارو د طرف نه وي، او د مقابلې دپاره راتلونکي قوي او بهادر وي د امام په اجازت، او مباح په هغه صورت کښې دې چه کله د دې ابتداء د داسې مسلمان سړي د طرف نه اوشي کوم چه شجاع او قوي وي، او مکروه په هغه صورت کښې چه کله د هغې ابتداء د مسلمان ضعيف د طرف نه وي.

[۲۶۶۵] (۱) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: تَقَدَّمَ يَعْنِي عُتْبَةَ بْنَ رَبِيعَةَ، وَتَبِعَهُ ابْنُهُ، وَأَخُوهُ فَنَادَى مَنْ يُبَارِزُ فَانْتَدَبَ لَهُ شَبَابٌ مِنَ الأَنْصَارِ، فَقَالَ: مَنْ أَنْتُمْ فَأَخْبَرُوهُ فَقَالَ: لاَ حَاجَةَ لَنَا فِيكُمْ إِنَّمَا أَرَدْنَا بَنِي عَمِّنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قُمْ يَا حَمْزَةُ قُمْ يَا عَلِيُّ، قُمْ يَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْحَارِثِ"، فَأَقْبَلَ حَمْزَةُ إِلَى عُتْبَةَ وَأَقْبَلْتُ إِلَى شَيْبَةَ وَاخْتُلِفَ بَيْنَ عُبَيْدَةَ وَالْوَلِيدِ ضَرْبَتَانِ فَأَثْخَنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ، ثُمَّ مِلْنَا عَلَى الْوَلِيدِ فَقَتَلْنَاهُ وَاحْتَمَلْنَا عُبَيْدَةَ.

ترجمه: د علي رضي الله عنه نه روايت دې چه زمونږ طرف ته عطبه بن ربيعه اودده ځوی رامخکښې شول اودده ورور هم ور پسې وو بيا آواز عتبه اوکړو چه څوک په تاسو کښې ميدان ته

(۱): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۱۷/۱) (صحيح)

راوځي؟ نوپه انصاروکښې يوځو ځوانانو جواب ورکړو يعنی دصف نه په ميدان کښې دجنګ کولو دپاره عتبه اووئيل تاسو څوك يئ؟ نوانصاري ځوانانو ورته خپل ځانونه اوخودل نوده اووئيل زما ستاسو سره څه کار نشته دې زمونږه دخپل تره ځامنونه علاوه دبل چاسره دجنګ کولو اراده نشته يعنی قريش اومهاجرين ئې مراد وو نونبی ﷺ اوفر مائيل اې حمزه اودريږه او اې علي اودريږه او اې عبيده بن حارث اودريږه نوحمزه خود عتبه طرف ته دجنګ دپاره متوجه شو اوهغه ئې په توره اووهلو اوزه دشيبه طرف ته متوجه شوم اودې مې اووهلو په هغه وخت کښې عبيده اووليد په خپل مينځ کښې يوبل زخمي کړل او مونږه هم په وليد باندې حمله اوکړه اوهغه مو قتل کړو او عبيده مورااپورته کړو دجنګ دځائې نه مو راوستلو.

شرح حديث

د سيدنا علی رضی الله عنه نه روايت دې (چه په جنګ بدر کښې) درې کفار عتبه بن ربيعه او د هغه نه روستو د هغه ځوئې وليد بن عتبه، او د عتبه رور شيبه بن ربيعه، دا درې واړه ميدان ته رامخکښې شو او هر يو چغه کړې چه ﴿من يبارز؟﴾ نو د هغې په جواب کښې درې انصاری ځوانان ميدان ته راغلل (عبدالله بن رواحه، عوف بن عفراء، معوذ بن عفراء) چه کله دوی مقابلې ته راغلل نو عتبه ترې تپوس اوکړو: ﴿من انتم؟﴾ هغوی ورته اووې چه مونږ فلانې فلانې يعنی د انصارو نه يو، نو هغه ډير په فخر او تکبر سره اووې چه مونږ ته ستاسو ضرورت نشته ﴿انما اردنا بنی عمنا﴾ مونږ ته خو د مقابلې دپاره د خپل خاندان قريشو سړی پکار دی، رسول الله ﷺ او مسلمانانو دا ټول منظر ليدلو، پس هغه وې فرمائيل: ﴿قم يا حمزة، قم يا علی، قم يا عبيدة ابن الحارث﴾ پس دا درې واړه حضرات ميدان ته راغلل چونکه مقابله فردا فردا وه په دې وجه سيدنا حمزه رضی الله عنه د عتبه طرف ته متوجه شو، علی رضی الله عنه فرمائی چه زه د شيبة طرف ته متوجه شوم (دې دواړو خو خپل مقابل الحمد الله ختم کړل) وراندې علی رضی الله عنه فرمائی ه د عبيده او د هغه د مقابل وليد ترمينځه مقابله اوشوه، هر يو بل له زخمی کړو (مونږ چونکه فارغ شوې وو نو مائل شو د وليد طرف ته) او هغه مو قتل کړو، او خپل ملګرې عبيده مو د ميدان نه راوچت کړلو، حافظ ليکلې دی چه دا د ټولو نه اولنئ مبارزه ده کومه چه په اسلام کښې پيښه شوې ده، ابن قدامه په جواز مبارزه باذن الامام کښې دا واقعه هم پيش کړې ده د دې نه علاوه هم بعض نور مثالونه د دې ليکلې شوې دی چه د هغې نه په بعض کښې د امام اذن هم ثابت نه دې، که څوک غواړی هلته دې اوګوری، د حديث الباب نه معلوميږی چه مبارزه باذن الامام او بغير د اذن الامام دواړه جائز دی لکه چه دا د جمهورو مسلک دې، ځکه چه د حمزه او علی مبارزه خو بالاذن وه خو د انصارو مبارزه بغير د امام د اذن نه وه، لم ينكر عليهم النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قاله الخطابی، دلته يوه مسئله بله اختلافی ده، هغه دا چه د مبارز اعانت جائز دې يا نه؟ د قياس تقاضه خو دا ده چه جائز نه وی ځکه چه مقابله د کافر سره ده، پس د امام اوزاعی او سحنون مالکی په نزد دا اعانت مکروه دې. لکن عند الجمهور تجوز لهذا الحديث. (اوجز) په

دې حديث باندې منذری سکوت کړې دې او د دې تخريج ئې نه دې کړې، په صحيح بخاری کښې مختصرادا دی، قيس بن عباد فرمائی چه دا آيت کريمه ﴿ هذان خصمان اختصموا فی ربهم ﴾ د هغه خلقو په باره کښې نازل شوې دې چا چه په جنګ بدر کښې مبارزه کړې وه، حمزه او علی او عبيد. اهـ فتح الباری (ص ۴۶ ج ۷) کښې حافظ ليکی چه په دې روايت کښې د مبارزه تفصيل نه دې ذکر شوې او بيا د دې نه روستو حافظ د سيرة ابن اسحاق وغيره نه د دې مبارزې تفصيل ذکر کړې دې.

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْمُثْلَةِ

په جنګ کښې د غوږ او پوزې وغيره د پريکولو د ممانعت بيان

﴿ مثله ﴾ اسم مصدر دې، د دې مصدر ﴿ مثل ﴾ دې، يقال مثلت بالحيوان مثلا بالقتيل، او ﴿ مثلت ﴾ بالتشديد د مبالغې دپاره دې، يو انسان يا حيوان په بده طريقه قتل کول، اندامونو لره جدا جدا کولو سره، خو په روايت کښې مجردا راغلې دې. (مجمع البحار)

مثله د اسلام په ابتداء کښې جائز وه روستو په دې باندې نهی راغله او د دې جواز منسوخ شو لکه چه د احاديث الباب نه به معلومه شی.

[٢٦٦٦](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَزِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، قَالَا: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا مُغِيرَةُ، عَنْ شِبَاكٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ هُنَيِّ بْنِ نُوَيْرَةَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعَفُّ النَّاسِ قِتْلَةً أَهْلُ الْإِيمَانِ".

ترجمه: علقمه دعبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت کوی فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی: چه په بهترين طريقې سره قتل کونکی مومنان دې.

تشريح: ﴿ اعف الناس قتلة اهل الايمان ﴾ يعنی په قتل کولو کښې د ټولو نه زيات عفيف او محتاط اهل ايمان وی په دې حديث کښې ګويا اشاره ده دې خبرې طرف ته چه اهل ايمان د چا په قتل کولو کښې مثله نه کوی او د دې نه په روستو حديث کښې د مثله نه صراحة نهی راغلې ده. ﴿ كان نبی الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يحثنا على الصدقة وينهانا عن المثلة ﴾ يعنی رسول الله صلی الله عليه وسلم به مونږ ته د صدقې ترغيب راکولو او د مثله کولو نه به ئې منع کولو او په در مختار کښې دی چه مثله ممنوع ده.

[٢٦٦٧](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ الْهَيَّاجِ بْنِ عِمْرَانَ، أَنَّ عِمْرَانَ أَبَقَ لَهُ غُلَامٌ، فَجَعَلَ لِلَّهِ عَلَيْهِ لَئِنْ قَدَرَ عَلَيْهِ لَيَقْطَعَنَّ يَدَهُ، فَأَرْسَلَنِي لِأَسْأَلَ لَهُ، فَأَتَيْتُ سَمُرَةَ بْنَ جُنْدُبٍ فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ، فَأَتَيْتُ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ.

ترجمه: دهياج بن عمران نه روايت دې چه دده دپلار عمران غلام او تختيد ونوده دالله تعالی

(١): سنن ابن ماجه/الديات ٣٠ (٢٦٨٢)، (تحفة الأشراف: ٩٤٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩٣/١) (ضعيف)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٦٣٧، ١٠٨٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٨/٤، ٤٢٩)، سنن الدارمي/الزكاة ٢٤ (١٦٩٧) (صحيح)

په نوم نذر او منلو که چرې زه ددې غلام په نیولو قادرشوم نودده لاس به پرېکړم، بیاعمران زه سمره بن جندب ته اولیږلم چه دده دپاره ترې مسئله معلومه کړم نومادهغه نه تپوس اوکړوهغه ووئیل چه نبی ﷺ به مونږ ته دصدقې ورکولوترغیب راکولواو دمثلې کولونه به ئې منع کولونوزه عمران بن حصین ته واپس راغلم اوتپوس مې ترې اوکړوددې حدیث متعلق نوهغه (دمذکوره روایت په تصدیق کښې)ووئیل یقینا چه نبی ﷺ به مونږ ته دصدقې ورکولوترغیب را کولواودمثلې کولونه به ئې منع کولو.

تشریح: اوپه در مختار کښې دی چه مثله ممنوع ده د کفارو سره بعد الظفر بهم واما قبله فلا باس بها.یعنې د یو کافر مثله کول په هغه باندې د قابو موندلو نه پس ناجائز ده، او د قابو موندلو نه مخکښې په هغه باندې د قابو موندلو دپاره چه هر څنګه ممکن وی هغه قتل کولی شی، په دې باندې علامه شامی رحمه الله فرمائی: قال الزیلعی : وهذا حسن ونظیره الاحراق بالنار... یعنی د احراق بالنار حال هم دغه شان دې چه د یو کافر سوزول په هغه باندې د قابو موندلو نه پس ناجائز دې،او دقابو موندلو نه مخکښې جائزدې.کولې شی،دتعذیب بالاحراق مسئله مستقل راروانه ده،حدیث عبدالله اخرجه ابن ماجة،قاله المنذری،وحدیث سمرة سکت علیه المنذری.

بَابٌ فِي قَتْلِ النِّسَاءِ

په جنګ کښې د ښځود وژلود ممانعت بیان

په جهاد کښې د زنانو، ماشومانو او شیخ فانی قتل کول جائز نه دی، فقهاء احنافو د دې تصریح کړې ده خو په بعض صورتونو کښې ئې قتل کول جائز دی هغه دا چه دا زنانه یا ماشوم په قتال کښې شریک وی یا هغه زنانه د مشرکانو مشره وی، هم دغه شان صبی مالک، او هم دغه شان هغه شیخ فانی کوم چه تجربه کار او د رائې خاوند وی څکه چه منقول دی چه رسول الله ﷺ حکم کړې وو د درید بن الصمة د قتل په غزوه حنین کښې د هغه د ذو رائې کیدو د وجې نه، حال دا چه د هغه عمر یو سل او شل کاله وو، خو په دې کښې د امام مالک او امام اوزاعی اختلاف دې د هغوی په نزد د نساء او صبیان قتل مطلقا ناجائز دې، د داسې شیوخ په باره کښې د شوافعو اختلاف دې کوم چه په راروان حدیث کښې راتلونکې دې، تردې چه که مشرکان خپلې زنانه او بچی د ډهال په طور استعمالوی نو بیا هم په هغوی باندې غشی ورول جائز نه دی، حتی لو تترس اهل الحرب بالنساء والصبیان لم یجز رمیهم. (کذافی الابواب والتراجم ص ۱۱۶ ج ۴ عن الحافظ)

[۲۶۶۸] (۱) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ، وَقُتَيْبَةُ يَعْنِي ابْنَ سعيدَ قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ امْرَأَةً وُجِدَتْ فِي بَعْضِ مَغَازِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْتُولَةً، فَأَنْكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَتْلَ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ".

(۱): صحیح البخاري/الجهاد ۱۴۷ (۳۰۱۴)، صحیح مسلم/الجهاد ۸ (۱۷۴۴)، سنن الترمذي/الجهاد ۱۹ (۱۵۶۹)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۳۰ (۲۸۴۱)، (تحفة الأشراف: ۸۲۶۸)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجهاد ۳ (۹)، مسند احمد (۱۲۲/۲، ۱۲۳)، سنن الدارمي/السیر ۲۵ (۲۵۰۵) (صحیح)

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دې چه د نبي عليه السلام په بعضې غذاګانو کښې يوه قتل شوې ښځه اوموندلې شوه نو نبي عليه السلام بد اوګڼل وژل د ښځو او ماشومانو په جنګونو کښې.

[۲۶۶۹]([1])حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ الْمُرَقَّعِ بْنِ صَيْفِيِّ بْنِ رَبَاحٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّهِ رَبَاحِ بْنِ رَبِيعٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَيْءٍ، فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ: انْظُرْ عَلَامَ اجْتَمَعَ هَؤُلَاءِ؟ فَجَاءَ فَقَالَ: عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ، فَقَالَ: مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ قَالَ: وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ: قُلْ لِخَالِدٍ لَا يَقْتُلَنَّ امْرَأَةً وَلَا عَسِيفًا.

ترجمه: درباح بن ربيع رضی الله عنه نه روايت دې فرمائي چه مونږ د نبي عليه السلام سره په يوه غزوه کښې شريك وو نوخلق ئې اوليدل چه په يوشې باندې جمع كيدل نويوكس ئې اوليږلو چه لاړشه چه داخلق دځه دپاره راجمع شوي دي نو هغه كس لاړو كله چه واپس راغې نووئې وئيل د يوې ښځې په مړي باندې نبي عليه السلام اوفرمائيل داخو نه جنګيدله نودا ولې قتل شوې ده خلقو اووئيل دفوج په مخكښې حصه كښې خالد بن وليد دې نونبي عليه السلام ورته يوكس ورولیږلو او ورته ئې اووئيل خالد ته اووايه چه ښځې او مزدور مه وژنه.

تشريح: ﴿كنا مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في غزوة الخ﴾ رباح بن ربيع رضی الله عنه فرمائي چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په يوه غزوه كښې وو (فتح مكه) هغه بعض خلق يوځائې كښې راجمع شوى اوليدل، نو يو سړې ئې ور اوليږو چه اوګورى چه دا خلق ولې مجتمع دى، هغه راغلو او جواب ئې وركړو چه يوه كافره مقتوله پرته ده نو وې فرمائيل ﴿ما كانت هذه لتقاتل﴾ چه زنانه خو قتال نه كوى، مطلب دا چه بيا دا قتل ولې كړې شوه؟ د دې نه معلومه شوه كه زنانه قتال كوى نو د هغې قتل كول جائز دى لكه چه جمهور وائى خلافا للامام مالك، قاله الحافظ.

﴿قل لخالد لا يقتلن امراة ولا عسيفا﴾ عسيف يعنى اجير او خادم كوم چه د مجاهد سره د هغه د خدمت دپاره وى، د اجير په باره كښې حضرت په بذل كښې دا ليكلې دى چه ﴿لم ار له ذكر فى كتب فقه الاحناف﴾ زه وايم چه په مغنى المحتاج شرح المنهاج ص ۲۲۳ ج ۴ كښې د شوافعو په دې كښې دوه روايتونه ليكلې دى جواز قتل او عدم جواز، ولفظه: ويحل قتل راهب واجير وشيخ واعمى وزمن لا قتال فيهم ولا راى فى الاظهر... او د دې په شرح كښې دى لعموم قوله تعالى: اقتلوا المشركين، والثانى المنع لانهم لا يقاتلون فاشبهوا النساء والصبيان.

[۲۶۷۰]([2])حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْتُلُوا شُيُوخَ الْمُشْرِكِينَ وَاسْتَبْقُوا شَرْخَهُمْ".

[1]: سنن ابن ماجه/الجهاد ۳۰ (۲۸۴۲)، (تحفة الأشراف: ۳۴۴۹، ۳۷۰۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۸۸/۳، ۱۷۸/۴، ۳۴۶) (حسن صحيح)

[2]: سنن الترمذي/السير ۲۹ (۱۵۸۳)، (تحفة الأشراف: ۴۵۹۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲/۵، ۲۰) (ضعيف)

ترجمه: د سمره بن جندب رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه نبی علیه السلام فرمائیلي دي د مشرکینو بوډاګان (چه کوم د جنګ قابل وي) قتل کړئ او د کمو عمرونو والا باقي پرېږدئ.

شرح حديث او مذاهب ائمه

شرخ د شارخ جمع ده یعنی ماشوم، د دې حدیث نه د شیوخ او صبیان د حکم ترمینځه فرق مستفاد کیږي چه د اول قتل جائز دې او د دویم ناجائز خو د احنافو او مالکیانو په نزد د دواړو حکم یو شان دې لکه چه مخکښې هم تیر شو، یعنی عدم جواز، لهذا حدیث د احنافو او مالکیانو خلاف شو، او د شوافعو موافق شو په دې وجه د هغوی قول اصح جواز قتل شیوخ دې لکه چه اوس د مغنی المحتاج نه پورته تیر شو، وکذا قال النووی، زمونږ د طرف نه د حدیث جواب دا دې چه د شیخ استعمال کله د شاب په مقابله کښې وي او کله د صغیر او صبی په مقابله کښې، لکه چه دلته په حدیث کښې د صغیر په مقابله کښې شوې دې او کله چه د شیخ استعمال د صغیر په مقابله کښې وي نو د دې نه مراد شاب وي، لهذا مطلب دا شو چه د مشرکانو مشرانو لره یعنی ځوانان به قتل کولې شي، او ماشومان به نه شي قتل کولې، دا خبره مشهوره ده چه د شیخ اطلاق کله په کبیر یعنی بوډا او ضعیف باندې کیږي، او کله د دې اطلاق په کامل فی الرجولية باندې یعنی ځوان او بهادر او کله په کامل فی العلم یعنی استاد او ماهر فی العلم باندې کیږي، او زمونږ دلیل د سیدنا انس رضی الله عنه هغه مرفوع حدیث دې کوم چه په "باب فی دعاء المشرکین" کښې تیر شوې دې "لا تقتلوا شیخا فانیا، ولا طفلا ولا صغیرا ولا امراة الحدیث وفی الاوجز ص ١٧ ج ٤ قوله : ولا صبیا ولا کبیرا هرما، قال الباجی یرید الشیخ الهرم الذی بلغ من السن ما لا یطیق القتال ولا ینتفع به فی رای ولا مدافعة، فهذا مذهب جمهور الفقهاء ان لا یقتل، وبه قال ابو حنیفه ومالک، وللشافعی قولان احدهما مثل قول الجماعة، والثانی یقتل، والدلیل علی ما نقوله قول ابی بکر هذا، ولا مخالف له فثبت انه اجماع. اه په دې کښې د حنابله مذهب رانغلو، هغه هم په دې کښې د جمهورو سره دې ففی شرح العمدة ص ٥٨٩ ولا یقتل منهم صبی ولا مجنون ولا امراءة ولا راهب ولا شیخ فان ولا زمن ولا اعمی، ولا من رای لهم، الا ان یقاتلوا الخ، حدیث عبدالله بن عمر اول حدیث الباب اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی واما حدیث رباح بن ربیع فاخرجه النسائی وابن ماجة والحدیث الثالث حدیث سمرة بن جندب اخرجه الترمذی، قاله المنذری.

[٢٦٧١](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمْ يُقْتَلْ مِنْ نِسَائِهِمْ تَعْنِي بَنِي قُرَيْظَةَ إِلَّا امْرَأَةٌ إِنَّهَا لَعِنْدِي تُحَدِّثُ تَضْحَكُ ظَهْرًا وَبَطْنًا، وَرَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم یقتل رجالهم بالسیوف، إذ هتف هاتف

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٦٣٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٧/٦) (حسن)

باسمها أين فلانة؟ قالت: أنا، قلتُ: وَمَا شَأنُكِ؟ قالَتْ: حَدَثٌ أحْدَثْتُهُ، قالَتْ: فَانْطَلَقَ بِهَا فَضُرِبَتْ عُنُقُهَا فَمَا أنسَى عَجَبًا مِنْهَا أنَّهَا تَضْحَكُ ظَهْرًا وَبَطْنًا وَقَدْ عَلِمَتْ أنَّهَا تُقْتَلُ".

ترجمه: دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه دبنی قریظه په ښځو کښې يوه هم نه ده وژل شوې مګر يوه ښځه چه ماسره به کيناستله او داسې خبرې به ئې کولې توقې اوخندل به ئې چه په خيټه او ملا کښې به ئې غوټې جوړې شوې اونبی عليه السلام به ددوی سړی په تورو قتلول تردې پورې چه يو آواز کونکی ددې نوم واخستو او آواز ئې اوکړو چه فلانې چرته ده؟ هغې اووئيل زه دلته يم ماورته اووئيل په تاځه شوي دي يعنی تاته ولې آوازونه کيږی تاځه نقصان کړې دې هغې اووئيل ما يونوې کار کړې دې ام المومنين حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه دغه آواز کونکی دا ښځه بوتله او ددې څټ ئې اووهلو دهغه وخت تعجب زه اوس هم نه هيروم کوم چه به ماته دهغې په هرحالت کښې دخندلو په وجه وو، چه دهغې په شا اوخيټه کښې به ښېې چاودی جوړشو، حالانکه هغې ته معلومه وه چه زه به اوس قتل کيږم

شرح حديث

په دې حديث کښې د قتل بنو قريظه ذکر دې کومه چه مشهوره واقعه ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم د يهود بنی قريظه رجال قتل کړې وواو زنانه او ماشومان ئې قتل کړې وو، خو يوه زنانه چه د هغې ذکر سيده عائشه رضي الله عنها فرمائی، هغه فرمائی چه د يهود بنو قريظه يوه زنانه (قيل اسمها نباتة) ما سره ئې خبرې کولې او د خبرو کولو په وخت ئې داسې خندل چه ډير زيات! لکه خلق وائی د خندا نه شنه وه، حال دا چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوی سړی بهر قتل کول، هم په دې دوران کښې يو اواز کونکی د هغه زنانه نوم واخستلو چه ﴿اين فلانة﴾ هغې اووې ﴿ انا ﴾ يعنی او! زه موجود يم، عائشه رضي الله عنها فرمائی ما د هغې نه تپوس اوکړو چه څه خبره ده؟ (تاته ولې اواز کوی؟) نو هغې اووې چه ﴿ حدث احدثته ﴾ چه ما يو حرکت کړې دې، هغه فرمائی چه هغه زما د خوا نه بوتلې شوه او د هغې سټ اووهلې شو، عائشه رضي الله عنها فرمائی چه زه په دې باندې هميشه تعجب کوم چه هغه دومره بې اختياره کيدو سره خاندی حال دا چه هغې ته معلومه وه چه زما د قتل نمبر راتلونکې دې) وئيلې شوې دی چه هغه زنانه خلاد بن سويد رضي الله عنه قتل کړې وو، کمبختې په هغه باندې د جرند پل راګزار کړې وو، وقيل کانت شتمت النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، د شاتم نبی صلى الله عليه وسلم مسئله مونږ سره دلته په کتاب الحدود کښې د يو باب د لاندې ان شاء الله راشی، او په بذل کښې دلته ذکر شوې ده، کتلې ئې شئ

[٢٦٧٢](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الصَّعْبِ ابْنِ جَثَّامَةَ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّارِ مِنَ الْمُشْرِكِينَ يُبَيَّتُونَ فَيُصَابُ مِنْ ذَرَارِيِّهِمْ وَنِسَائِهِمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هُمْ مِنْهُمْ"، وَكَانَ عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ دِينَارٍ يَقُولُ: هُمْ مِنْ آبَائِهِمْ، قَالَ الزُّهْرِيُّ: ثُمَّ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ "عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ".

ترجمه: ابن عباس ﷺ دصعب بن جثام ﷺ نه روایت کوی فرمائی چه دنبی ﷺ نه مې تپوس اوکړو په باره د مشرکانو دکورونو کښې چه دشپې په دوی باندې حمله اوکړې شي اودحملې په وخت کښې ددوی ښځې او ماشومان قتل کړې شي نبی ﷺ اوفرمائیل هغوی هم ددوینه دی عمرو بن دینار اووئیل چه دوی د خپلو پلارونو اولاد دې زهري وائی بیاددې نه پس نبی ﷺ منع اوفرمائیله دقتل کولودښځو او ماشومانونه.

شرح حدیث

د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو د مشرکانو د اهل خانه په باره کښې چه په هغوی باندې د شپې حمله کولې شی او په هغه حمله کښې د هغوی زنانه او ماشومان قتل کړې شی، د سوال حاصل دا دې چه د مشرکانو د زنانو ا ود هغوی د بچو د قتل خو اصالة ممانعت دې، او د شپې په جنګ کښې ظاهره ده چه د زنانو او د ماشومانو د قتل کیدو قوی امکان دې، نو د رسول الله ﷺ نه د دې حکم اوتپوسلې شو نو هغه په جواب کښې اوفرمائیل: ﴿هم منهم﴾ یعنی د مشرکانو زنانه او ماشومان په دې صورت کښې د رجال مشرکین په حکم کښې دی، یعنی ممانعت خو بالقصد د هغوی د وژلو نه دې ﴿قال الزهری ثم نهی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾ زهری د حدیث راوی فرمائی چه بیا روستو رسول الله ﷺ د زنانو او ماشومانو د قتل نه منع اوفرمائیله، دا د زهری خپله رائې ده، د زنانو او ماشومانو د قتل نه ممانعت خو د مخکښې نه دې هم په دې وجه سائل ته د سوال ضرورت راپیښ شو، خو د دې نه معلومیږی چه ممانعت اګر چه دې خو په دې صورت کښې نشته، بلکه دا صورت معفو عنه دې. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[الحمد لله پنځم جلد ختم شو]

١): صحيح البخاري/الجهاد ١٤٦ (٣٠١٢)، صحيح مسلم/الجهاد ٩ (١٧٨٥)، سنن الترمذي/السير ١٩ (١٥٧٠)، سنن ابن ماجه/الجهاد ٣٠ (٢٨٣٩)، (تحفة الأشراف: ٤٩٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨/٤، ٧١، ٧٢، ٧٣) (صحيح)